تسهيلات

پښتو شرح

مشکوٰة

تاليف **مولانا شاه فيصل**

فاضل دار العلوم اسلاميه چارسده و امداد العلوم پښاور

د اووېشت (۲۷) خصوصياتو سره چې يوولس (۱۱) په کښې دا دي

۱. پېښوري پښتو سره بين القوسين د قندهاري پښتو د ګرانو ټکو اضافه
۲. د مشکاة د عربي او اردو متنونو او ټولو شروحاتو مجموعه
۳. په ترجمه کښې بين القوسين د مرقاة المفاتيح د اضافي قيوداتو ترجمه
۴. د حديث هرې جملې او دغې ترجمې ته د آسانتيا د پاره نمبرې ورکول
۵. د فقهي اختلافي مسئلو مدلل او آسان حل
۶. د اوږدو احاديثو د متن او ترجمې تقسيم
۷. د هر حديث د صحاح ستة ونورو کتبو نه تخريج
۸. د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتيح نه د مشکلو لغاتو حل
۹. د قوله په عنوان سره [illegible] مشکلاتو بيان تشريح
۱۰. د هر باب په اول کښې [illegible] خلاصه
۱۱. د هر کتاب په اول کښې [illegible] مقدمه



تسهيلات

پښتو شرح

مشکوٰة

تاليف - مولانا شاه فيصل فاضل دارالعلوم اسلاميه چارسده

نهم جلد (۹)

د شلو (۲۰) خصوصياتو سره چې لس (۱۰) په کښې دا دي

① پېښوري پښتو سره بين القوسين د قندهاري پښتو د ګرانو ټکو اضافه
② د مشکاة د عربي او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
③ په ترجمه کښې بين القوسين د مرقاة المفاتيح داضافي قيوداتو ترجمه
④ دحديث هرې جملې ته اود هغې ترجمې د آسانتيا دپاره نمبرې ورکول
⑤ په فهقي اختلافي مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث
⑥ د اوږدو احاديثو د متن او ترجمې تقسيم
⑦ د هرحديث د صحاح سته وغيره څخه تخريج
⑧ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتيح څخه د مشکلو لغات حل
⑨ دقوله په عنوان سره دحديث د هرې مشکلې جملې تشريح
⑩ د هرباب په اول کښې دهغې د احاديثو خلاصه
⑪ د کتاب په اول کښې د علوم الحديث مفيده مقدمه

خورنکي
فيصل کتب خانه محله جنګي پېښور
موبائل ۰۳۱۵-۹۵۹۵۷۱۷

اجمالی فہرست

د احادیثو د عنواناتو فهرست

فهرست اختلافِ مذاهب

.....

[۸] بَابُ فِي الْإِنْذَارِ وَالتَّحْذِيرِ

دَ ويرولو او دَ نصيحت كولو بيان

خلاصة الباب

فيه سبعة أحاديث مشتملة على خمس مسائل:

① الانذار بالخطبة: ۱.

② انذار الأقربين: ۲، ۳.

③ الانذار من الفتن: ۴.

④ التحذير من استحلال الحرمات: ۵، ۶، ۷.

⑤ التحذير من إنقلاب الأحوال : ۵ .

دنسخو اختلاف: دَمشكوة شريف په عامو نسخو كښې دلته صرف باب ذِكر دې دكوم نه چه اشاره ملاويږي چه دا باب دَ مخكيني باب دَ ملحقاتو نه دې. مگر ابن ملك رحمه الله دلته هم هغه عنوان ترلې دې كوم چه مونږ پورته ذكر كړې دې.

په انذار او تحذير كښې فرق: انذار دَ ويرولو په معنى كښې دې او تحذير دَ نصيحت معنى كښې دې

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۳۷۱] په انسانی فطرت كښې د الله تعالى تابعدارى

۵۳۷۱-(۱) [۱] ۱ عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ الْمُجَاشِعِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ۲ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ فِي خُطْبَتِهِ: ۳ " أَلَا إِنَّ رَبِّي أَمَرَنِي أَنْ أُعَلِّمَكُمْ مَا جَهِلْتُمْ مِمَّا عَلَّمَنِي يَوْمِي هَذَا، ۴ كُلُّ مَالٍ نَحَلْتُهُ عَبْدًا حَلَالٌ، ۵ وَإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ، ۶ وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ ۷ وَحَرَّمَتْ عَلَيْهِمْ مَا أَحْلَلْتُ لَهُمْ، ۸ وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بِي مَا لَمْ أُنْزِلْ بِهِ سُلْطَانًا،

ترجمه: ۱ حضرت عياض ابن حمار مجاشعي رضي الله عنه روايت كوي ۲ يوه ورځ رسول الله ﷺ د خپلي جمعي وغيره خطبه كې يا د څه وعظ په دوران كې وفرمايل ۳ خلقو واورى ځما رب ما ته حكم كړى دى. چې زه تاسو ته هغه خبري وښايم كومي چې تاسو ته نه دى معلومي او ما ته يي نن ښودلي دي. ۴ دي نه پس حضور ﷺ د هغه خبرو په سلسله كې داسې بيان فرمائيل شروع كړل. الله جل جلاله فرمايلي دي، چې كوم مال ما خپل يو بنده ته وركړى دى. هغه حلال دى الله جل جلاله دا فرمايلي دي. ۵ چې ما خو خپل ټول بندګان د باطل

---

[۱]) اخرجه مسلم فى كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب الصفات التى يعرف بها فى الدنيا أهل الجنة وأهل النار (رقم- ۶۳ - (۲۸۶۵) واحمد فى المسند: ۴/ ۲۶۶

خلاف، حق طرف ته مائل پيدا کړه، [۶] ليکن دا شيطانان هغه بنده ګانو ته راغلل او هغوئ يي د خپل دين نه ګرځولو سره ګمراهي کې واچول [۷] او په هغوئ يي هغه څيزونه حرام کړل کوم چې ما د هغوئ د پاره حلال کړي وه [يعني شياطينو هغه خلق داسې ګمراه کړل چې هغوئ په ځان باندې حلال څيزونه حرام کړل] [۸] او دغه شان شياطينو هغوئ ته حکم ورکړي [يعني د هغوئ په زړونو کې دا ګمراه کن وسوسه واچوله] چې هغوئ هغه شي زما سره شريك کړي چې د هغه په کارساز کيدو هيڅ دليل نه دی نازل شوی. [يعنی کوم خلق چې د بتانو عبادت کوي او داسې په عبادت کې نور شريکوي. د هغوئ سره د هغوئ په دي فعل هيڅ معقول دليل او استحقاق نشته. داصرف د شياطينو د ګمراه کولو اثر دی، چې هغوئ داسې ناروا کار کې مبتلا وي.]

حل اللغات:- ① نَحَلْتُهُ: هديه يا عطيه ورکول. ② حُنَفَاءَ: جمع د حنيف ده. دَ اسلام په فطرت باندې نې پيدا کړل. ③ فَاجْتَالَتْهُمْ: دَ اجتيال نه دې، اړولو او بې لارې کول ④ سُلْطَانًا: دليل.

[۱] وَإِنَّ اللَّهَ نَظَرَ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ فَمَقَتَهُمْ، عَرَبَهُمْ وَعَجَمَهُمْ، إِلَّا بَقَايَا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ، [۲] وَقَالَ: إِنَّمَا بَعَثْتُكَ لِأَبْتَلِيَكَ وَأَبْتَلِيَ بِكَ [۳] وَأَنْزَلْتُ عَلَيْكَ كِتَابًا لَا يَغْسِلُهُ الْمَاءُ، تَقْرَؤُهُ نَائِمًا وَيَقْظَانَ،

ترجمه: [۱] او الله تعالى ماته حکم کړې دې. زمکي والو باندې نظر واچولو، نو هغوئ يي په کفر وشرك باندې متفق او ضلالت او ګمراهي کې مستغرق اوليدل نو الله هغوئ ټول خپل مبغوض او ناخوښه وګرځول، که هغوئ عرب دي ياعجم. [۲] او الله ﷻ وفرمايل چې ما ته اې محمد ﷺ پيغمبر جوړولو سره دنيا ته ځکه راليږلی يې، چې زه تا اوازمائم، او په تاسره ستاقوم هم وازمائم [۳] او ماپه تا يوداسې کتاب نازل کړو، چې اوبه يي وينځلي او خرابولی نشي، ته به داکتاب په خوب او وينبه هروقت وايې

[۱] وَإِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أُحَرِّقَ قُرَيْشًا [۲] فَقُلْتُ: رَبِّ! إِذًا يَثْلَغُوا رَأْسِي، فَيَدَعُوهُ خُبْزَةً، [۳] قَالَ: اسْتَخْرِجْهُمْ كَمَا أَخْرَجُوكَ وَاغْزُهُمْ نُغْزِكَ، [۴] وَأَنْفِقْ فَسَنُنْفِقُ عَلَيْكَ، وَابْعَثْ جَيْشًا نَبْعَثْ خَمْسَةً مِثْلَهُ، [۵] وَقَاتِلْ بِمَنْ أَطَاعَكَ مَنْ عَصَاكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او الله ﷻ ماته دا حکم کړی دی، چې زه قريش وسوزوم [۲] ما عرض وکړو، اې خما پروردګاره! قريش خو به خماسرراماټ کړي، او ماتولو سره د ډوډئي په شان پلن به يي کړي، [۳] او الله تعالى ماته حکم کړې دې چې ته هغوئ د وطن نه وباسه څرنګه چې هغوئ ته دوطن نه ويستلی وي. او د هغوئ سره جهاد وکړه، مونږ به ستا د جهاد د سامان انتظام وکړو [۴] ته خپل لښکر والو باندې مال واسباب خرچ کړه که ستاسره مال واسباب نه وي، نو مونږ به درکړو. او د هغه انتظام به وکړو. ته د هغوئ دښمنانو خلاف لښکر وليږه، مونږ به د دښمن د لښکر نه پنځه چنده زيات طاقت سره ستا مدد وکړو [۵] او

د هغه چا په مدد سره چې ستا تابعدار دی د هغه چا سره او جنګیږه څوک چې ستا نافرمانی کوی

حل اللغات: - ⑤فَمَقَتَهُمْ: مبغوض او ناخوښه. ⑥يَثْلَغُوا: دَ ثلغ نه دې سر په دروند کانړی باندې چقنړی کول ⑦اغْزُهُمْ: غزا اوکړه دهغوی سره، ⑧جَيْشًا: لښکر

تسهيلات:

توله قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ فِي خُطْبَتِهِ:

د خطبې په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَ جمعې او اخترونو په خطبو کښې ② دَخه وعظ په خطبه کښې حضورپاك عام ارشاد اوفرمائيلو چه ماته زما رب چه ښن څه خودلی دی کوم چه تاسو نه پيژنی هغه زه تاسو ته ښايم

توله: كُلُّ مَالٍ نَحَلْتُهُ عَبْدًا حَلَالٌ،

په جائزه طريقه د مال ګټلو حلال والې: الله ﷻ فرمايلي دي، چې کوم مال ما خپل يوبنده ته ورکړی دی، هغه حلال دي يعنی کوم سړي ته چې څه مال او اسباب جائز ذرائع سره حاصل شوی دی هغه د هغه په حق کې حلال دی هيڅوك يې د خپل طرف نه حرام نشي ګرځولی څرنګه چې په زمانه جاهليت کې طريقه وه چې خلقو به بعضې صورتونو کې اوښان خامخا ځان باندې حرام کول،

توله: وَإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ،

په فطرت انسانی کښې دالله تعالی تابعداری:

الله ﷻ دافرمايلي دي، چې ما خو خپل ټول بندګان د باطل خلاف، حق طرف ته مائل پيدا کړه،

توله: وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ

د شيطانانو په وجه د انسانانو ګمراهی: دا شيطانان هغه بنده ګانو ته راغلل او هغوئ يې د خپل دين نه ګرځولو سره ګمراهي کې واچول او په هغوئ يې هغه څيزونه حرام کړل کوم چې ما د هغوئ د پاره حلال کړي وه يعنی شياطينو هغه خلق داسې ګمراه کړل چې هغوئ په ځان باندې حلال څيزونه حرام کړل او دغه شان شياطينو هغوئ ته حکم ورکی يعنی د هغوئ په زړونو کې دا ګمراه کن وسوسه واچوله چې هغوئ هغه شی زما سره شريك کړي چې د هغه په کارساز کيدو هيڅ دليل نه دی نازل شوی، يعنی کوم خلق چې د بتانو عبادت کوي او داسې په عبادت کې نور شريکوي، د هغوئ سره د هغوئ په دې فعل هيڅ معقول دليل او استحقاق نشته، داصرف د شياطينو د ګمراه کولو اثر دی، چې هغوئ داسې ناروا کار کې مبتلا وي،

قوله وَإِنَّ اللّٰهَ نَظَرَ إِلٰى أَهْلِ الْأَرْضِ فَمَقَتَهُمْ عَرَبَهُمْ وَعَجَمَهُمْ:

د ټولو خلقو ګمراه کیدل: هرکله چې د دنیا ټول خلق کفر او شرك کې مبتلا وو او د رسول الله ﷺ بعثت پورې ټول ګمراهي باندې متفق او مجتمع وو. چې د موسی علیه السلام قوم خو عیسی علیه السلام منلو نه انکار وکړو او د عزیر علیه السلام عبادت کول یې شروع کړی. د عیسی علیه السلام قوم د دریو خدایانو قائیل او د دې مشرکانه عقیدې حامل شو چې عیسی علیه السلام د الله خوی دی. وغیره وغیره. نو الله ﷻ هغوئ ټول مبغوض ترین بندګان وګرځول

قوله إِلَّا بَقَايَا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ:

د اهل کتابو د یوې ډلې په هدایت قائم پاتې کیدل: علاوه د اهل کتابو د هغه جماعت نه چې مشرکان نه شوه، بلکې موسی او عیسی علیهما السلام باندې ایمان لرلو سره اصل دین باندې قائم او ثابت قدم پاتې شوه. د دې جماعت خلقو نه خو په خپل اسماني کتابونو کې تحریف وکړی، او نه یې د خپل دین احکامو کې د خپلې مرضۍ مطابق څه تبدیلي وکړله. تردې چې کوم وخت حضرت محمد ﷺ دې دنیا ته پیغمبر رالی نو هغوئ باندې یې هم ایمان راوړی او د اسلام په کړی کې داخل شوه. نو الله ﷻ داسې خلق مبغوض غضب وهلي ونه ګرځول،

داد ریمه خبره ده. "مقت" غصه کول مبغوض ګنړل "بقایامن أهل الکتاب" دې نه مراد هغه یهود اونصاریٰ دی کومو ته چه دَحضورپاك دعوت نه وی رسیدلې اوکله چه ورسیدلو نوهغوی فوری قبول کړو اودَې نه مخکښې یهودو ته او نصاری ته دعوت نه وی رسیدلې اونصاریٰ دَ موسیٰ علیه السلام انکارنه وی کړې. غرض دا چه اول داخلق په خپل دین باندې قائم وی اوبیائی دَ حضورپاك دعوت قبول کړو نودوی ته به دوه اجرونه ملاویږی لکه څنګه چه په کتاب الایمان کښې یوحدیث دې. "وقال" دا څلورمه خبره ده

قوله: وَقَالَ: إِنَّمَا بَعَثْتُكَ لِأَبْتَلِيَكَ وَأَبْتَلِيَ بِكَ

د نبی علیه السلام په بعثت کښې دوه قسمه امتحانات: اې محمد ﷺ پیغمبر جوړولو سره دنیا ته ځکه رالیږلی یې، چې زه تا اوازمائم، (چې ته د خپل قوم په ایذا رساني څرنګه صبر کوې) او په تا سره ستا قوم هم وازمائم (چې ایا هغوئ په تا ایمان راوړی یا په تا سره کفر اختیار وي)

قوله: وَأَنْزَلْتُ عَلَيْكَ كِتَابًا لَا يَغْسِلُهُ الْمَاءُ،

د قرآن پاک حفاظت: او ما په تا یو داسې کتاب نازل کړو. چې اوبه یې وینځلي او خرابولی نشي، (یعنې عام طور سره په کاغذباندې لیکل شوی کتاب چې اوبو سره وینځلي شي، نو هغه ختم شي، لیکن دا کتاب چې تاباندې نازل شوی دی، یعنی قرآن

کریم داسې نه دی، چې څه اوبه یې وو ینځي نو ختم شي بلکې دا د هرقسم تحریف او تغیر وتبدل نه محفوظ دی په دې طور چې دا ترقیامته پورې د خلفو په زړونو کې محفوظ شوی دی او د دې احکام همیشه همیشه د پاره باقي او جاري دی.

قوله. تَقْرَؤُهُ نَائِمًا وَيَقْظَانَ:

په ویښه اواوده د قرآن لوستلو مطلب: په اودو او په ویښه باندې لولې یعنی په ویښه باندې په ژبه اوزړه دواړو باندې جاري وی او د اوده کیدو په حالت صرف په قلبی توګه باندې جاري وی څکه چه دنبی سترګې اوده کیږی زړه ئی ویښ وی

قوله: وَإِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أُحَرِّقَ قُرَيْشًا

د قریشو د هلاکولو حکم: یعنی اهل قریشو نه چې کوم خلق ایمان نه راوړي، او د کفر حالت باندې قائم دی، هغوئ داسې تباه او برباد کړم، چې د هغوئ نوم نښان باقي پاتې نشي وإن الله امرني "دا ینځمه خبره ده چه دَ قریشو کوم خلق په کفرباندې قائم اودائم وی ماته حکم دي چه زه هغوی داسې ختم کړم لکه چه یو څیز سوزولو سره ایره کولې شي

قوله: فَقُلْتُ: رَبِّ! إِذًا يَثْلَغُوا رَأْسِي، فَيَدَعُوهُ خُبْزَةً،

یعني چه کله زما سرچقنړې کړې شي نوسربه داسې خورشی لکه چه روټئی خوریږی څکه چه ماسره وسائل خوشته نه.

قوله: قَالَ: اسْتَخْرِجْهُمْ كَمَا أَخْرَجُوكَ

د مشرکانو د مکې څخه د ویستلو حکم: الله تعالی اوفرمائیل چه ته دوی دَمکې نه اوباسه لکه څنګه چه هغوی ته ویستلي وې اودوی سره جنګیږه مونږ به دَ اسبابو نصرت او دَ امداد په حوالې سره ستاسو امدادکوو اوستاسو به دَهرقسم مقابلې دَپاره تیاروو.

اشکال: په دې حدیث کښې الله تعالی نبی ﷺ ته حکم کړې دې چې اهل مکه د مکې څخه اوباسه حالانکه نبی ﷺ چې کله مکه مکرمه فتح کړه نودوي ټول ئې معاف کړل او د مکې څخه ئې اونه ویستل.

د اشکال جواب: د اهل مکه د مکې څخه د ویستلو حکم د عدم ایمان په صورت کښې وو. اوکله چې نبی ﷺ مکه مکرمه فتح کړه او هغوی ټولو ته ئې معافی اوکړه نو هغوی مسلمانان شو ددې وجې د هغوی د ویستلو جواز پاتې نشو

قوله: وَأَنْفِقْ فَسَنُنْفِقُ عَلَيْكَ،

په اسلامی لښکرباندې د خرچ کولو حکم: او په خپل لښکرباندې خرچ کوه که چرې تاسره نه وی نو مونږ به انتظام کوو اوخرچه به درکوو. ته خپل لښکراولیږه مونږ به ستادَ لښکرامدادکوو اودَ کافرانو دَلښکرنه به پنځه چنده زیات لښکر درکو. اوهغه مسلمانان

و خله کوم چه ستاسو زيات حکم منونکي دي او دهغوي په ذريعه دغه کافران او وهه کوم چه ستاسو نافرمان دي

قوله وَابْعَثْ جَيْشًا نَبْعَثْ خَمْسَةً مِثْلَهُ،

دجنګ بدرپه صورت کښې وعده پوره کول: يعني تاته او ستا ملګرو ته به داسې غيبي ضعف او همت ورکړو، چې د اهل اسلام يوموټي برابر جماعت به د هغوئ په لښکر جرابندې غالب راشي نو د بدرجنګ وشو او مسلمانان صرف درې سوه ديارلس کسان وه د کفارو يو هزار لښکر سره يې جنګ وکي، رواياتو کښې راغلي دي. چې د پنځه زرو فرشتو لښکري دمسلمانانو مدد د پاره رالي، او کومو خلقو چې په تاسو ايمان راوړی دی و ستاسو اطاعت ګذار وي، هغوئ د ځان سره آخستو سره د هغوئ خلاف جنګ وکي کومو چې ستا نافرماني او ستا نه سرکشي کړي ده او کافر وي (مسلم)

[۵۳۷۲] خپلوانو ته دَاسلام دعوت

(۲) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: «لَمَّا نَزَلَتْ: ﴿وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ [الشعراء: ۲۱۴] [۲] صَعِدَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الصَّفَا فَجَعَلَ يُنَادِي: [۳] "يَا بَنِي فِهْرٍ! يَا بَنِي عَدِيٍّ!" بُطُونِ قُرَيْشٍ حَتَّى اجْتَمَعُوا [۴] فَقَالَ: "أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا بِالْوَادِي تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ [۵] أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ؟" قَالُوا: نَعَمْ، مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا،

ترجمه: [۱] و حضرت ابن عباس وايي، هرکله چې دا آيت نازل شو، وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ، يعنی خپل رشته داران کعبي والا اويروه، [۲] نو حضرت محمد ﷺ کوه صفا چې خانه کعبې ته نزدې دي ته تشريف يووړی او د هغه ځای نه يې داويل شروع کړل [۳] اې دفهراولاده! اې بني عدي! يعنی د قريشود ټولو ښاخونو نوم په نوم بلل يې شروع کړل نو د قريشو د ټولو ښاخونو خلق راجمع شوه، [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل تاسو خلق مخکې ماته دا ووبنايي که زه تاسو ته داخبر درکړم، چې جنګل کې يو لښکر راتلو سره خکته شوی دی. او تاسو تباه کول غواړي، [۵] نو آيا تاسو به مارينتني وګڼی هغه ټولو په يوه ژبه اوويل بيشکه ځکه چې زمونږ داهميشه نه داتجربه ده، چې کله تاڅه خبره کړي ده، نو رينتيادي کړي ده. ستا د ژبي نه مونږ هيڅ کله شوا د رښتيا نه بله خبره نه ده اوريدله

حل اللغات: - (۱) عَشِيرَ: خاندان. قبيله. (۲) صَعِدَ: اوختلو. (۳) بُطُونِ: د بطن نه دې، خيټې ته وائی، دلته ترې خاندان او قبيلې مراد دی. (۴) تُغِيرَ: حمله کوی.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب {وأنذر عشيرتک الأقربين واخفض جناحک} [الشعراء: ۲۱۵] ألن جانبک (رقم-۴۷۷۰) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب فی قوله تعالی: {وأنذر عشيرتک الأقربين} [الشعراء: ۲۱۴] (رقم-۳۵۵ - (۲۰۸) واحمد فی المسند: ۱/۳۰۷

[۱] قَالَ: " فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ". [۲] فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ: تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ، أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا؟! [۳] فَنَزَلَتْ: ﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾ [المسد:۱]. » مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۴] وَفِي رِوَايَةٍ: نَادَى: " «يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ! إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُكُمْ كَمَثَلِ رَجُلٍ رَأَى الْعَدُوَّ [۵] فَانْطَلَقَ يَرْبَأُ أَهْلَهُ، فَخَشِيَ أَنْ يَسْبِقُوهُ، فَجَعَلَ يَهْتِفُ: يَا صَبَاحَاهُ!» ".

ترجمه: [۱] حضور ﷺ وفرمایل، کـه تاسو مارښتنی ګڼی نـو واورئ، زه د الله د طرف نـه تاسو د هغه سخت ترین عذاب نازلیدو نه مخکې بیرونکی مامور شوی یم یعنی زه د الله د رسول په حیثیت سره ستاسو مخکې د اسلام دعوت پیش کوم، هغه قبول کی کـه تاسو دا دعوت قبول نه کی، او په مابانديې ایمان رانه وړی نو بیا زه تاسو ته داخبر درکوم چې په تاسو باندې د الله یـودیر سخت عذاب نازلیدونکی دی. [۲] ابولهب چې د حضور ﷺ اکـاوو او د هغـه نـوم عبـد العزّٰی وو، دې خبرې اوریـدو سره وویـل. تولـه ورځ دې سـتا تباهي وي، آیا دې د پاره تـامونږ راجمع کړي یو، چې مونږ دومره خرابي خبري واورو. [۳] په دې داسورت نازل شو، تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ، یعنی د ابولهب دواړه لاسونه دي مـات شي. او هغه دې برباد شي، او حقیقت دادی چې هغه درسول الله ﷺ د ګستاخي کولـو په وجه تباه او برباد سو (بخاري، مسلم) [۴] او په یوه روایت کې داسې بیـان شـوی دی. چې حضور ﷺ اواز کولو سره قریش راجمع کړل او وې فرمایل اې د عبد المناف خـامنو! خما او ستاسو د حالت مثال د هغه سړي په شان دی چې هغه د دښمن لښکر خپـل قوم بانـدې حمله آور کیدو د پاره راتلونکی ولیدی [۵] نو هغه خپـل قوم د هغـه دښمن د قتـل وغـارت ګیرې نه دبچ کولو د پاره لا رو، چې یوې غنډۍ باندې ختلو سره د اوچت اواز په ذریعـه د قوم خلق د دښمن د خطرې نه آګاه کړي، لیکن د دې خوف نه چې چیرتـه د دښمن لښکر د هغه نه مخکې هغه قوم تـه ونـه رسیږي نوځکـه هغـه د هغـه ځای نـه پـه چغـه چغـه دا وئیـل شروع کړل یا صباحاه یاصباحاه اې قومه دهغه لښکر نه ویریږي کوم چې د سهار پـه غفلت کی حمله کوی اې قومه دهغه لښکر نه ویریږي کوم چې دسهار په غفلت کی حمله کوی

حل اللغات: -⑤ نَذِيرٌ: ویرونکې. ⑥ تَبًّا: تباه دې شی، ⑦ يَرْبَأُ: حفاظت اوتربیت کوی. ⑧ يَهْتِفُ: پـه تیز آواز سره ئې وئیل ⑨ يَاصَبَاحَاهُ: اې خلقو دسحر په غفلت کښې حمله کونکی دښمن نه اویریږئ. خان ترې بچ کړئ.

تسهیلات:

قوله: أَهْلَهُ: أي قومه "أن يسبقوه"

یعنی دغـه محـافظ اونګران تـه خطره محسوس شوه کـه یخپلـه لاړشم اوقوم بیـدارکړم نودښمن به اول اورسیږی اوهغوی به هلاك کړی لهـذا هغـه هم دَهغـه ځـائی نـه اوچت آواز اوکړو چه "يَاصباحاه" اې زما قومه دَ سحرپه وخت دښمن حمله کونکې دې تاسـو خپـل ځـان

بچ کړئی حضورپاك یوځل د قریشو اهم سرداران په دعوت باندې راوغوښتل مګر د دین خبره اونه شوه بیانی دعوت اوکړو اوخبره نی ښکاره کړه مګر خپلوان نی اوتختیدل په دریم ځل نی عام اعلان سره خلق د صفاغونډئی ته راوغوښتل دعربو دعادت مطابق نی د یاصباحاه الفاظو سره راوغوښتل ټول راغله که څوك پخپله رانغلو نو خپل نمائنده نی راولیږلو حضورپاك اول د خپلې تیرشوی ژوند او سیرت سره متعلق تپوس اوکړو ټولو اووئیل تاسو صادق او آمین یئی نوبیا حضورپاك خپل عام دعوت ورکړو نوخلق اونختیدل ابولهب په حضورپاك باندې د کانړو غوزارونه اوکړل نو په سورت للهب کښې د هغې جواب راغلو

[۵۳۷۲] د نبی علیه السلام قریشو ته دعوت ورکول

٥٣٧٣-(٢)[٣] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ «لَمَّا نَزَلَتْ: ﴿وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ [الشعراء: ٢١٤] [٢] دَعَا النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قُرَيْشًا، فَاجْتَمَعُوا، [٣] فَعَمَّ وَخَصَّ، فَقَالَ: "يَا بَنِي كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ! أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، [٤] يَا بَنِي مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ! أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، [٥] يَا بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ! أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، [٦] يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ! أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ،

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي کوم وخت چې دا آیت نازل شو . وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ، یعنی خپل نزدې خاندان والا اویروه، [٢] نو رسول الله ﷺ قریش خلقو ته اواز ورکولو سره وبلل کوم وخت چې هغوئ جمع شوه، [٣] نو حضور ﷺ خطاب تعمیم هم وکی، او تخصیص هم یعنی هغوئ یې د لرې جدّاعلی د نومونو په ذریعه هم مخاطب کړل چې خاص خاص خلقو سره مخصوص خطاب هم اوسي، [٤] نو حضور ﷺ هغه ټولو ته داسې خطاب ورکی اې د کعب بن لوی ځامنو! خپل ځان د دوزخ د اور نه وساتی، یعنی ایمان قبول کی نیك عمل کوئ چې د دوزخ د اور نه نجات پیدا کې [٥] اې د مره بن کعب ځامنو! خپل ځان د دوزخ د اور نه محفوظ کړي [٦] اې د عبد شمس ځامنو! خپل ځان د دوزخ د اور نه محفوظ کړي، اې د عبدمناف ځامنو! خپل ځان ددوزخ د اورنه محفوظ کړي،

[١] يَا بَنِي هَاشِمٍ! أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، [٢] يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ! أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، [٣] يَا فَاطِمَةُ! أَنْقِذِي نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ، [٤] فَإِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا، [٥] غَيْرَ أَنَّ لَكُمْ رَحِمًا سَأَبُلُّهَا بِبَلَالِهَا» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [٦] وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ قَالَ: "يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ! اشْتَرُوا أَنْفُسَكُمْ، لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا، [٧] وَيَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا،

[٢]) اخرجه البخاري في كتاب الوصايا/باب: هل يدخل النساء والولد في الأقارب؟ (رقم-٢٧٥٣) ومسلم في كتاب الإيمان/باب في قوله تعالى: {وأنذر عشيرتک الأقربين} [الشعراء: ٢١٤] (رقم-٣٤٨ - (٢٠٤) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ومن سورة الشعراء (رقم-٣١٨٥)والنسائي في كتاب الوصايا/باب باب: إذا أوصى لعشيرته الأقربين (رقم-٣٦٤٤) واحمد في المسند:٢/٣٣٣

ترجمه: [۱] اې د هاشم خامنو خپل ځان د دوزخ د اور نه محفوظ کړي. [۲] اې د عبد المطلب خامنو خپل ځان د دوزخ د اور نه محفوظ کړی [۳] او اې ځما د ځګر ټکړې. فاطمې! خپل ځان د دوزخ د اور نه محفوظ کړه. [۴] ځکه زه ستاسو په حق کې د الله د طرف نه د عذاب له قسم نه د هیڅ شي مالك نه یم یعنی زه په تاسو کې هیڅوك د الله د عذاب نه نه شم محفوظ کولی. [۵] البته په ما باندې ستاسو د قرابت حق دی. چې هغه زه د صله رحمي په اوبو سره لندوم. یعنی ځما او ستاسو په منځ کې چې کوم قرابت دی. او د هغه چې په ماکوم حق دی هغه بس دومره دی. چې زه د دې دنیا په معاملاتو کې ستاسو نګراني وکړم ستاسو سره نیك سلوك وکړم. او ستاسو څه ضرورت وي. نو زه په صله رحمي او حسن سلوك او احسان سره د هغه ضرورت پوره کولو کوشش وکړم دا روایت مسلم نقل کړی دی [۶] او کوم روایت چې بخاري او مسلم دواړو نقل کړیدی. په هغه کې دا الفاظ دي. چې حضور ﷺ وفرمایل اې د قریش ډلې! خپل ځانونه واخلئ یعنی په ماباندې ایمان راوړی او د الله د اطاعت او فرمانبرداري په ذریعه کفران نعمت ناشکري ترك کولو سره خپل ځان د دوزخ د اور نه محفوظ کړي، زه ستاسو نه د الله د عذاب نه هیڅ لرې کولی نشم. [۷] اې د عبد مناف خامنو! زه تاسو هم د الله د عذاب نه لرې کولی نشم

حل اللغات:- ① أَنْقِذُوا: ځان بچ کړئ. ② رَحِمًا: قرابت. خپلولی. ③ سَأَبُلُّهَا: بل او بلال لوندوالی ته وائی. زه به ددې لوندوالې قائم ساتم. یعنی د رشته دارئ حق به قائم ساتم

[۱] يَا عَبَّاسُ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ! لَا أُغْنِي عَنْكَ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا، [۲] وَيَا صَفِيَّةُ عَمَّةَ رَسُولِ اللَّهِ! لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا، [۳] وَيَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ! سَلِينِي مَا شِئْتِ مِنْ مَالِي، لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا".

ترجمه: [۱] اې عباس دعبد المطلب زویه! زه تا هم د الله د عذاب څخه لرې کولی نشم [۲] او اې د رسول الله ترور د پلار خور صفیی زه ستا نه هم د الله عذاب لرې کولی نشم [۳] او اې د پلار د ځګر ټکړې فاطمې! بنت محمد ځما دمال نه چې ته څه غواړې او غواړه زه به در کړم. لیکن د الله د عذاب نه زه تا هم محفوظ کولی نشم

تسهیلات:

قوله: فَعَمَّ وَخَصَّ

په عام او عام خاص خطاب سره راوبلل: یعنی حضور پاك دَ صفا په غونډئ باندې اودریدو او دوه قسمه خطاب سره ئې خلق راوبلل

① **عام خطاب**: عام خطاب پې دا وو یابنی کعب بن لوئی! او یا بنی عبد المطلب

② **خاص خطاب**: خاص خطاب ئې دا وو. یا فاطمه

قوله سَأَبُلُّهَا بِبَلَالِهَا:

دمذكوره جملې مطلب: يعنى زه به صله رحمى دَهغې دَلوند والى سره لوند ساتم يعنى دَ خپلولئ حق به قائم ساتم عرب تعلق ساتل لوندوالى سره تعبيركوى لكه څنګه چه يُبس او خشكى الفاظو سره خپلولى ماتول مراد اخلى

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۳۷٤] په امت محمدى په آخرت كښې عدم عذاب

[۳]-(¹) ۱ عَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «أُمَّتِي هَذِهِ أُمَّةٌ مَرْحُومَةٌ، ۳ لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الْآخِرَةِ، ۴ عَذَابُهَا فِي الدُّنْيَا: الْفِتَنُ وَالزَّلَازِلُ وَالْقَتْلُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوموسى ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ څما دا امت امت مرحومه دى يعنى د نورو امتونو په نسبت څما د امت خلقو باندې د الله ﷻ رحمت ډير زيات دى څكه د دوئ د نبي شان هم رحمة للعالمين دى، ۳ په دې امت به په آخرت كې عذاب نه وي، ۴ د دې امت عذاب هغه په دنيا كې فتنې، زلزلې او ناحق قتل دى (ابوداؤد)

حل اللغات: - ۱ مَرْحُومَةٌ: رحم پرې شوې دې. ۲ الْفِتَنُ: دَ فتنة جمع ده اودَ فتنه څو معانې راځى مثلاً ازميښت، امتحان، ابتلاء،

تسهيلات:

قوله: لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الْآخِرَةِ:

اشكال: دا جمله دَ هغه احاديثو او آياتونو معارض ده په كوم كښې چه دَ دې امت دَ كبيره ګناه كونكودَپاره دَعذاب ذكر دې

داشكال دوه جوابونه: ۱ دَدې جملې تعلق دَ صحابه كرامو دَ ډلې سره دې صحابه سره ددې چه معصوم نه دى مګر دَعذاب نه محفوظ دى دريم جواب دادې چه دې نه هغه خلق مراد دى دَچاچه ګناه نه وى.

۲ دا امت مرحومه دې په دې باندې به په آخرت كښې داسې عذاب نه راځى چه دوى هميشه په دې عذاب كښې دكافرانو په شان په دوزخ كښې راګيرشى بلكه دَدې عذاب عارضى دې چه په دنياكښې به په هغوى باندې زلزلې راځى دَ قتلونو اوتباهئى فتنې به راځى دَدې سزاګانو تيرولونه پس به آخرت كښې پاك صفا جنت ته ځى

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الترجل /باب ما يرجى فى القتل (رقم-۴۲۷۸)وابن ماجه فى كتاب الشفعة /باب من باع رباعًا فليؤذن شريكه (رقم-۲۴۹۲) واحمد فى المسند: ۴/۴۱۰

[۵۳۷۵] دامت محمدي د مختلفو بادشاهانو پيښنيدونکي

۵۳۷۵-۵۳۷۶-(٥)[٥] [۱] وَعَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ [۲]: " «إِنَّ هَذَا الْأَمْرَ بَدَأَ نُبُوَّةً وَرَحْمَةً، [۳] ثُمَّ يَكُونُ خِلَافَةً وَرَحْمَةً، ثُمَّ مُلْكًا عَضُوضًا، [۴] ثُمَّ كَائِنٌ جَبْرِيَّةً وَعُتُوًّا وَفَسَادًا فِي الْأَرْضِ، [۵] يَسْتَحِلُّونَ الْحَرِيرَ وَالْفُرُوجَ وَالْخُمُورَ، [۶] يُرْزَقُونَ عَلَى ذَلِكَ وَيُنْصَرُونَ، حَتَّى يَلْقَوُا اللَّهَ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] او حضرت عبيده بن جراح او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنهما چي دواړه د اوچتي درجي صحابه وو کې دي، د رسول الله ﷺ نه روايت کوي حضور ﷺ وفرمايل. [۲] دا امر يعنى دين اسلام، نبوت او رحمت سره ښکاره شو، يعنى دين اسلام چې د ټولو نه مخکې کومه زمانه کې ښکاره شو، او هغه زمانه د نزول وحي او د رحمت او نورانيت زمانه ده [۳] بيا د دې دين اسلام چې کومه زمانه راځي هغه به د خلافت او رحمت زمانه وي بيا چې د دې دين اسلام کومه زمانه راځي هغه به د زبردستي بادشاهت زمانه وي [۴] او بيا چې د دې دين اسلام کومه زمانه راځي هغه به د ظلم زور او قهر وتکبر او زمکه باندې د فتنې او فساد زمانه وي، [۵] هغه وخت چې خلق به ريښمي کپړې جائز ګڼلو سره سره استعمالوي هم، د ښځو شرمګاهونه، او د شرابو ټول انواع واقسام به حلال ګرځوي.
[۶] ليکن د دې خيزونو باوجود هغوئ ته به رزق ورکولى شي، او کفارو او د هغوئ د مخالفينو په مقابله کې به د هغوئ مدد کولى شي، تردې چې هغوئ روز جزاء کې الله ﷻ سره يوځاى شي. ايعنى هغه خلق اګر که په دومره بدعمليو او د الله ﷻ په نافرمانيو کې مبتلا وي. او دې اعتبار نه هغوئ د عذاب خداوندي مستوجب، او د هلاکت او تباهي مستحق وي. خو حق تعالى د هغه شي په سبب کوم چې امت مرحومه سره مخصوص دى. هغوئ به دلته په عذاب کې نه مبتلا کوي، او په دې کې شايد د حق تعالى څه حکمت پټ وي. مثلاً داچې هغوئ نه به د مخلوق خداوندي د نظم ونسق او د انتظام مملکت هغه کار اخستل مقصود وي، چې د هغه اهميت او صلاحيت په هغوئ لرې. يا دا اګر که هغه خلق خپله فاسق او بدکار وي. ليکن د هغوئ په لاسونو د دين د اصلاح او درستي څه کار سرته رسول مقدر وي ا دا روايت بهيقي په شعب الايمان کې نقل کړى دى

حل اللغات:- ① عَضُوضًا: پرې کونکې. سخته. ② كَائِنٌ: وى به مسلسل. ③ جَبْرِيَّةً: ظلم او سختى.
④ عُتُوًّا: سرکشى. ظلم.

تسهيلات:

دحديث د بعضي جملو وضاحت:

① إِنَّ هَذَا الْأَمْرَ بَدَأَ نُبُوَّةً وَرَحْمَةً: يعنى دا دين اسلام اودې دنياوى او اخروى احکام په

[٥] اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ٥٦١٦ والدارمي في السنن رقم الحديث ٢١٠١

شروع کښې داسې ظاهر شو چه دا دَ نبوت رحمت او شفقت په صورت کښې وو

④ ثُمَّ يَكُونُ خِلَافَةً وَرَحْمَةً: یعنی دَ نبوت دَ دور نه پس به دَ خلافت زمانه راځی چه دیرش کالو پورې به چلیږی او دَحضرت حسن رضي الله عنه په دور باندې به ختمیږی

⑤ ثُمَّ مُلْكًا عَضُوضًا: یعنی بیا به خلقو لره پرې کونکې د ملوکیت دور راځی په کوم کښې چه به ظالمان حکمرانان په خلقو باندې ظلم کوی سره ددې چه ددې نه به خاص خاص عادلان بادشاهان مستثنی وی لیکن هغه به نادر وی لکه چه حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله عادل بادشاه وو.

قوله: ثُمَّ كَائِنٌ جَبْرِيَّةً وَعُتُوًّا:

د ظالمانو بادشاهانو بادشاهی: یعنی دَ ملك عضوض نه پس خوبه داسې ظالم سرکښ او مفسد بادشاهان راځی چه استمرار اودوام سره به په فسق اوفجور اوظلم کښې مشغول وی په دوی کښې به څوك عادل نه وی.

هرچاته رزق ورکول: دَ حدیث په آخره کښې دی چه داسې ظالمانوته به هم الله تعالی رزق ورکوی اودَهغوی په خاص خاص مقصدونو کښې به دَهغوی امداد کوی ځکه چه الله تعالی رب العالمین دې صرف رب الصالحین نه دې.

[۵۳۷۷] دشرابو د حلال کنړلو باره کې یوه پیشنګوئی

٥٣٧٧ —( ) [٦]: [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٢] «إِنَّ أَوَّلَ مَا يُكْفَأُ» - قَالَ زَيْدُ بْنُ يَحْيَى الرَّاوِيُّ: يَعْنِي الْإِسْلَامَ - "كَمَا يُكْفَأُ الْإِنَاءُ" يَعْنِي الْخَمْرَ، [٣] قِيلَ: فَكَيْفَ يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَقَدْ بَيَّنَ اللَّهُ فِيهَا مَا بَيَّنَ؟ [٤] قَالَ: "يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا فَيَسْتَحِلُّونَهَا». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] او بی بی عائشه رضي الله عنها وایی، ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل [٢] د تولو نه مخکې چې کوم کار به اړولی شي، د حدیث راوي حضرت زید ابن یحیی رحمه الله وضاحت وکی یعنی اسلام کې چې د تولو نه مخکې کوم کار اړولی شی څرنګه چې لوښی اړولی شي. هغه به شراب وي، [٣] عرض وشو یارسول الله داسې به ولې کیږي هرکله چې د شرابو متعلق د الله هغه احکام بیان شوی دی، چې تولو باندې ظاهر شوی هم دی. یعنی هرکله چې د شرابو حرمت نازل شوی دی، او دیرسختی سره مسلمانانو ته د دې نه د پرهیز کولو حکم ورکول شوی دی او د دې حرمت او پرهیز حکم دومره واضح، دومره عام او دومره په تاکید سره دي چې تول مسلمانان واقف او آګاه شوي دي، نو بیا داسې به څرنګه وي چې د دې حکم به بدل شي، او هغه به مسلمانان د اسلام د مخالفت په لار بوځي؟ [٤] حضور ﷺ وفرمایل [خلق به د حیلو او بهانو په ذریعه هغه څکل شروع کړي.

( ) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ٢١٠٠

او طريقه به دا اختياروي چې د دې نوم به بدل کړي او دا به حلال وګرځوي. (دارمي)

حل اللغات: - ① يُكْفَأُ: دَ الټه کولو په معنى کښې دې.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ أَوَّلَ مَا يُكْفَأُ

په تحليل الحرام کښې اوله تبديلي: مطلب دا چه په اسلام کښې دَ تولو نه اول چه کوم خيز الټه کولو سره اړولې شي هغه به شراب وی چه خلق به شراب څکی او نوم به ورله يا دَ نبيذ يامثلث يا آب جو ايږدي چنانچه نن صبا هم دغه کيږی لهذا يوحرام څيزبه حلال ونيلوسره استعمالوی قصداً سره دَ پوهې حرام ته حلال وائی نو کافر به شی او که چرته تاويل کوی نو فاسق به جوړشی بهرحال دَدې حديث تعليم دادې چه خلق به پخپله نه بدليږی بلکه دَ خپل دين بدلولو کوشش به کوی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۳۷۸] دَمسلمانانو دمختلفو حکمرانانو پيشنګوئی

۵۳۷۸-(۷) [۷] ① عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«تَكُونُ النُّبُوَّةُ فِيكُمْ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ③ ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللَّهُ تَعَالَى، ④ ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ⑤ ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللَّهُ تَعَالَى، ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا عَاضًّا، فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ⑥ ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللَّهُ تَعَالَى،

ترجمه: ① حضرت نعمان ابن بشير د حضرت حذيفه نه روايت کوي، هغه اوويل رسول الله ﷺ وفرمايل. ② ستاسو په منځ کې د نبوت وجود او د هغه نور به هغه وخته پورې باقي وي ترخوپورې چې الله غواړي ③ بيابه الله ﷻ نبي خپل خان ته د بللو په ذريعه نبوت پورته کړي ④ د دې نه پس به د نبوت په طريقه خلافت قائم کېږي، او هغه به هغه وخته پورې قائم وي ترخوپورې چې الله ﷻ غواړي. يعنی ديرش کاله پورې. ⑤ بيابه الله ﷻ خلافت هم پورته کړي د دې نه پس به د زبردستی د بادشاهت حکومت قائم شي يعنی د داسې خلقو د بادشاهت زمانه به راشي، چې په خپلو کې به يوبل داسې چيچي خرنګه چې سپی چيچل کوي، او هغه بادشاهت به هغه وخته پورې قائم وي. ترخوپورې چې الله غواړي ⑥ بيابه الله ﷻ هغه بادشاهت هم دې دنيا نه پورته کړي.

حل اللغات: - ① مِنْهَاجِ: لاره. ② عَاضًّا: پريکونکې.

① ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً، فَيَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ② ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللَّهُ تَعَالَى، ③ ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ نُبُوَّةٍ"، ثُمَّ سَكَتَ»، ④ قَالَ حَبِيبٌ: فَلَمَّا قَامَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ كَتَبْتُ إِلَيْهِ بِهَذَا الْحَدِيثِ أُذَكِّرُهُ إِيَّاهُ، ⑤ وَقُلْتُ:

[۷]) اخرجه احمد فى المسند ۴/۲۷۳

أَرْجُو أَنْ تَكُونَ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ بَعْدَ الْمُلْكِ الْعَاضِّ وَالْجَبْرِيَّةِ، ⑥فَسُرَّ بِهِ وَأَعْجَبَهُ، يَعْنِي عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ).

ترجمه: ①د دې نه پس به د قهر تکبر او زور زبردستۍ والا د بادشاهت حکومت قائم شي، او هغه به هغه وخته پورې قائم وي ترڅو پورې چې الله ﷻ غواړي ②بیابه الله ﷻ هغه بادشاهت هم ختم کړي، ③د دې نه پس به د نبوت په طریقه یعنی عدل وانصاف پوره طور سره جاري کونکی خلافت قائم کړي او د خلافت نه مراد د حضرت عیسیٰ علیه السلام او مهدي علیه السلام زمانه ده دومره فرمایلو سره هغه خاموش سو. ④حضرت حبیب ابن سالم چې د دې حدیث د راویانو نه یوراوي دی او د حضرت نعمان بن بشیر ازاد کرده غلام او د هغه کاتب وو، او هغوئ نه حضرت قتاده وغیره روایتونه نقل کوي، بیان یې وکی چې کوم وخت عمر بن عبد العزیز خلیفه مقرر شو، او هغوئ د نبوت په طریقه حکومت قائم کی نو مادې حدیث طرف ته د هغوئ توجه راګرځولو د پاره داحدیث لیکلی هغوئ ته ولیږی ⑤او د خپل دې احساس اظهار مې وکی چې زه دا امید کوم، چې تاسو هغه امیر المؤمنین یعنی خلیفه یې چې د هغه ذکر دې حدیث کې د چیچونکی بادشاهت او قهر وتکبر او زور زبردستۍ والا بادشاهت نه پس راغلی دی. ⑥حضرت عمر بن عبد العزیز دې خبرې سره ډیر خوشحاله او دې شرح هغه ډیر خوشحاله کې [یعنی د دې خبرې امید او ارزو هغه ډیر خوشحاله کې چې په حدیث کې د کوم آخري خلافت ذکر شوی دی، شاید د هغه اطلاق څما زمانه خلافت باندې وي] دا روایت امام احمد خپل مسند کې او بیهقي دلائل النبوة کې نقل کړی دی.

حل اللغات: - ⑦ جَبْرِيَّةً: ظلم زیاتې کونکې.

تسهیلات:

قوله: ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ:

د خلافت علی منهاج النبوة دوه قسمونه: ① خلافت علی منهاج النبوة په طریق خاص سره دې دذې مصداق صدیق اکبر او فاروق اعظم رضي الله عنهما دی.

② خلافت علی منهاج النبوة په طریق عام سره دې. دې کښې حضرت عثمان رضي الله عنه حضرت علی رضي الله عنه اوحضرت معاویه رضي الله عنه اوحضرت حسن رضي الله عنه داخل دی (قاله الشیخ ولی الله في ازالة الخفاء عن خلافة الخلفاء)

د خلافت نه پس مختلف ادوار: ①دَ خلافت نه پس په دې حدیث کښې ملك عضوض ذکر دې ② بیا دَدې نه پس دَ ظلم اوستم اودَ جبریه دَ دور ذکر دې

③ دې نه پس بیا خلافت علی منهاج النبوة ذکر دې دَ کوم نه چه اندازه کیږی چه په دې

کښې دَحضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله دَدور خلافت طرف ته اشاره ده چنانچه هغوی علماؤ په خلفاء راشدین کښې شمیر کړې دې

قوله: قَالَ حَبِيبٌ: فَلَمَّا قَامَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ كَتَبْتُ إِلَيْهِ بِهَذَا الْحَدِيثِ

یعنی حضرت حبیب بن سالم چه دَ نعمان بن بشیر آزاد کړې شوې غلام او د هغه سیکریټری وو فرمائی چه کله حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله خلیفه جوړ شو نوما دا بشارت لیکلو سره دَهغه طرف ته اولیږلو او توجه مې ورکړه چه کیدې شی تاسو دَدې حدیث مصداق یئی نو هغه ډیر خوشحال شو او هغه له خوشحالیدل پکاروو ځکه چه په دې کښې دَهغه ډیر لوئی منقبت دې

[۲۷] كِتَابُ الفِتَنِ

دَ فتنو بیان

خلاصة الباب

فيه أحد وثلاثون حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① إخبار النبي ﷺ بإتيان الفتن وأقسامها: ۱، ۲، ۳، ۴، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۸، ۲۹، ۳۰.

② أقسام الناس في الفتن: ۲، ۵، ۲۵.

③ مصداق بعض الفتن: ۳۱.

④ التجنب عن الفتن واللزوم مع الجماعة: ۴، ۶، ۷، ۸، ۱۳، ۱۴، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۶، ۲۷، ۲۸.

دفتنة اطلاقات: الفتن "دَ فتنة جمع ده او دَ فتنه په ګڼړو ځیزونو باندې اطلاق کیږی مثلاً مال اولاد. ابتلاء ازمیښت. امتحان، . اوجنون.عذاب. . بیماری ګمراهی شرك وغیره تولو باندې موقع په موقع دَ فتنې اطلاق کیږی خو ددې غالب استعمال په هغه فتنه کښې دې کوم چې د الله تعالی د طرفه په چا باندې نازل شی

دآفتونو دوه ښکاره قسمونه: ① هغه آفته دَ کوم علت او سبب چه دَ یو حد پورې معلوم وی دَفتنې په دې قسم کښې ابهام نه وی

② هغه آسمانی آفت دَ کوم علت او سبب وجه چه معلومه نه وی. سبب او علت ئې بالکل پټ وی په ظاهره هیڅ هم نه ښکاری صرف آفت ښکاری دَ فتنې او آفت دې ته قسم ته "فتنة عمیاء" وائی په کوم کښې چه یو سړې دا تمیزنه شی کولې چه حق کوم طرف ته دې او باطل کوم طرف ته دې لکه بغیردَ څه وجې قتل اوتباهی کول چه نه قاتل ته معلوم وی چه

هغه ولي قتل او کړو او نه مقتول ته پته وي چه هغه ولې قتل کړې شو

دفتنې خطرناکي: په اکثرو ختونو کښې حضورپاك په خپله پیشنګوئی کښې دَ يو حادثې طرف ته اشاره کوي په ظاهره هغه معمولي شان خبره معلوميږي خو چه کله هغه حادثه اوفتنه مخې ته راشي نو هغه پوره معاشره په خپله ګيره کښې اخلي او په هر خاص اوعام باندې دَنيمې ورځې دَ نمر په شان واضح کيږي نو بيا معلومه شي چه په علمي اعتبار سره داخبره څومره وړه او پټه وه مګر په عملي توګه داڅومره مشهوره او لويه ده

دفتنوپه تعين کښې احتياط: دَ فتنو تعين اودَ هغې مصداق خودل ډير مشکل کار دې دَدې اصل وجه داده چه دَ فتنو يوه اوږده سلسله ده. دَ حضورپاك يو پيشنګوئي په يو خاص فتنه اوخاص واقعه اوحادثه باندې ورلګول اوهغې سره په خاص توګه يو ځائي کول نه دي پکار ډيرکرتې داسې اوشي چې د يوې واقعه په څرګنديدو سره حديث په هغې باندې چسپان کړي خو بيا هغه چسپانول غلط اوخيژي.

اشکال: صاحب مشکوة په عنوان کښې "کتاب الفتن" عنوان ذکر کړې دې اودَ کتاب دَ آخره پورې ئې ټول ابواب هم دَدې عنوان لاندې درج کړي دی حالانکه په دې ابوابو کښې دَ بعضې تعلق دَ فتنوسره نه دې. خاص کردَ مناقبو، معجزاتو او دَ فضائلو ابواب دَ کتاب الفتن لاندې څنګه درج کړې شوي دی؟

داشکال دوه جوابونه: فتن اوغيرفتن په مينځ کښې دَ فرق دَ پاره دا ضروري نه دی چه دَ کتاب الفتن نه پس کتاب المناقب قائم کړې شي. دواړه مضمونونه جدا کولودَپاره دَ باب په ذريعه هم فرق راځي نوترکومې پورې چه دَ فتن بيان دې ترهغه ځائي پورې دَ کتاب الفتن ممتاز کولو احاطه ده اودَ کوم ځائي نه چه دَ فتن ابواب ختم شوي دی دَهغه ځائي نه وړاندې دَ ابواب په عنوان سره جدا ځيزونه ذکر کړې شوي دی کوم چه مناقب وغيره دی بهرحال په مضامينو کښې دَ فرق کولودَپاره دکتاب دَ عنوان په شان دَ باب عنوان هم کافي شافي کيږي دَ اعتراض ضرورت نشته دې.

② صاحب مشکوة ترکومې پورې چه دَ فتنو ابواب کيخودوسره دَ فتنو بيان کړې دې نودَ هغه ځائي پورې خوهم دَ فتنو بيان دې ليکن دَ کوم ځائي نه چه دَ فتنو ابواب ختم شوي دی هلته کيدې شي چه صاحب مشکوة دکتاب عنوان کيخودوسره څه جدا عنوان ليکلې وومګردکاتبينو دَ غفلت دَ وجې نه هغه کتاب پاتې شو لهذا دَدغه غفلت دَ وجې نه ټول ابواب دَ کتاب الفتن لاندې راغله.

اَلفَصْلُ الاَوَّلُ

[۵۳۷۹] دَ قیامته پورې دَ راتلونکی فتنو پیشنحکولی

۵۳۷۹-(۸) [۱] ⓵عَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ⓶: «قَامَ فِينَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَقَامًا، ⓷مَا تَرَكَ شَيْئًا يَكُونُ فِي مَقَامِهِ ذٰلِكَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا حَدَّثَ بِهِ، ⓸حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ، وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ، ⓹قَدْ عَلِمَهُ أَصْحَابِي هٰؤُلَاءِ، وَإِنَّهُ لَيَكُونُ مِنْهُ الشَّيْءُ، قَدْ نَسِيتُهُ، ⓺فَأَرَاهُ فَأَذْكُرُهُ، كَمَا يَذْكُرُ الرَّجُلُ وَجْهَ الرَّجُلِ إِذَا غَابَ عَنْهُ، ثُمَّ إِذَا رَآهُ عَرَفَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

توجمه: ⓵حضرت حذیفه ﷛ وايي، ⓶يوه ورځ رسول الله ﷺ زمونږ په منځ کې ودرېدی ځرنګه چې دوعظ او خطبي د پاره ودرېږي، او حضور ﷺ خطبه ارشاد وفرمايه او وعظ يې وکړ چې د هغه په دوران کې حضور ﷺ دهغه فتنو نه آګاهي وفرمايله کومي چې ظاهريدونکی دی ⓷او د فتني له قسمه چې کوم څیزونه چې هغه وخت يعنی زمانه نبوت نه واخله ترقيامته پورې واقع کيدونکی وو هغه ټول يې ذکر کړل او په هغه کې يې هيڅ شی بيانولو نه پرې نه ښووی ⓸هغه خبري ياد ساتونکو يادي کړي. او څوك چې هيرونکی وو، هغوئ هيري کړي يعنی حضور ﷺ چې د فتنو ذکر وفرمايه بعضې خلقو خو هغه يادي کړي او بعضې خلقو هيري کړي، ⓹حضرت حذيفه ﷛ داهم وفرمايل ځما دا دوستان يعنی صحابه ﷡ چې دا وخت ژوندی دی دي واقعي نه چې رسول الله ﷺ په هغه ورځ خپله خطبه کې چې ترقيامته پورې د ظاهريدونکو فتنو ذکر يې فرمايلی وو واقف دی. ليکن په دوئ کې بعضې حضراتو ته د حضور ﷺ بيان کړه خبري ورته يادي وي، او بعضې حضراتو ته هغه خبري تفصيل سره ياد نه دي پاتې شوي. ځکه چې د وخت په تيريدو سره نشيان هيره د انسان د خواصو نه ده، او ځرنګه چې بيان وشو زه هم د هغه خلقو نه يم چې هغه خبري مي پوره طور سره ياد نه وي ساتلي. ⓺ليکن حقيقت دادی چې حضور ﷺ د کومي خبري خبر ورکړی وو، او کومي خبري چې زما نه هيري شوي وي که دهغه نه څه خبره پيښه شي، نو زه په هغه ليدو سره خپله حافظه تازه کوم ځرنګه چې يوسړي ته يوغائب سړی په مخ په نظر ورسي، نو هغه دمخ په ليدو سره هغه سړي پيژندی شي يعنی عام طور سره داسې کېږي چې يوسړی ډيري مودي پورې غائب وي نو د هغه شخصيت د ذهن نه غائب شي، او خلق هغه هيرکړي، ليکن کله چې هغه

[۸] اخرجه البخاري في كتاب القدر/باب {وكان أمر الله قدراً مقدوراً} [الأحزاب: ٣٨] (رقم-٦٦٠٤) ومسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب إخبار النبي صلى الله عليه وسلم فيما يكون إلى قيام الساعة (رقم-٢٣ - (٢٨٩١) وابوداود في كتاب الترجل /باب ذكر الفتن ودلائلها (رقم-٤٢٤٠) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ما أخبر النبي صلى الله عليه وسلم أصحابه بما هو كائن إلى يوم القيامة (رقم-٢١٩١) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب ذهاب الأمانة (رقم-٤٠٥٣) واحمد في المسند:٣٨٥/٥

حاضر شي، او د هغه مخ سترګو ته مخامخ راشي. نو د هغه هیرکړي شخصیت سمدستي یاد کې راشي. او هغه سړی وپیژندل شي. دغه شان څما معامله هم داده چې په کومه ورځ رسول الله ﷺ کومې خبرې بطور پیشنګوئي کړي وې هغه تفصیلي طور سره څما په ذهن کې نه دي پاتې شوي لیکن هرکله چې د هغه خبرو نه څه خبره پېښه شي. او حضور ﷺ چې د کومو خبرو خبر ورکړی وو، هغه نه څه خبره واقع شي، نو د هغه په لیدو سره زه سمدستي لیدو سره وپیژنم چې داهغه خبره ده د کومې چې حضور ﷺ خبر ورکړی وو «بخاري»

تسهيلات:

قوله قَدْعَلِمَهُ أَصْحَابِي هَؤُلَاءِ:

دمذکوره جملې مطلب: یعنی زما ملګروته ښه معلومه ده چه حضورپاك تولو ته خودلی وو اوکه چرې په دوی کښې بعضو ملګرو نه هیرشوي وی هغه جدا خبره ده زه هم د ډیرې مودې او هیرې د وجې نه بعضې څیزونه هیروم لیکن چه کله هغه واقعه ښکاره کیږي نوماته پوره نظاره داسې یاده شی لکه چه یوسړې د یوې مودې پورې یو سړی سره د ملاقات نه پس غائب شی نو داسړې هغه بالکل هیرکړي خوچه کله ناڅاپي ملاقات اوشی نو هغه دې په لیدو سره فوری پیژنی چه داخوهم هغه سړې دې څوك چه ما ډیر مخکښې لیدلې وو او بیامې هیرکړې وو.

[۵۳۸۰] دَ خلقو په زړونو باندې دَ فتنو اثر

[۵۳۸۰-(۲)] ⓵وَعَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ⓶ "«تُعْرَضُ الْفِتَنُ عَلَى الْقُلُوبِ كَالْحَصِيرِ عُودًا عُودًا، ⓷فَأَيُّ قَلْبٍ أُشْرِبَهَا نُكِتَتْ فِيهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ، وَأَيُّ قَلْبٍ أَنْكَرَهَا نُكِتَتْ لَهُ نُكْتَةٌ بَيْضَاءُ، حَتَّى يَصِيرَ عَلَى قَلْبَيْنِ: ⓸أَبْيَضُ مِثْلُ الصَّفَا، فَلَا تَضُرُّهُ فِتْنَةٌ مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ، ⓹وَالْآخَرُ أَسْوَدُ مِرْبَادًا كَالْكُوزِ مُجَخِّيًا لَا يَعْرِفُ مَعْرُوفًا وَلَا يُنْكِرُ مُنْكَرًا ⓺إِلَّا مَا أُشْرِبَ مِنْ هَوَاهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⓵او حضرت حذیفه رضي الله عنه وایي ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل ⓶د خلقو په زړونو کې به فتنې داسې واچول شي، څرنګه چې د چټائي لخې وي، یعنی څرنګه چې چټائي کې لخې یوبل پسې لګول کیږي دغه شان زړونو باندې هم یوې نه پس بله فتنه اچول کیږي، ⓷نو کوم زړه چې هغه فتنې قبولې کړي په هغه کې توره نکته پیدا شي، او کوم زړه چې هغه فتنو قبلولو نه انکار وکړي په هغه کې سپینه نکته پیدا کول کیږي، نو انسان د هغه فتنو پیښیدو، او د هغوئ زړونو باندې د هغه فتنو د تاثیر او عدم تاثیر د

---

[۱] اخرجه مسلم في كتاب الإيمان/باب بيان ان الإسلام بدا غريبًا وسيعود غريبًا، وانه يأرز بين المسجدين -۲۳۱- (۱۴۴) واحمد في المسند: ۴۰۵/۵

اعتبار نه د هغوئ زړونه دوه قسمونو کې تقسيم شي، يا دا چې د انسانانو زړونه د مذکوره اعتبار مطابق دوه قسمه شي. ④يو خوسپين په مثل د سنګ مرمر. چې په هغه هيڅ اثر انداز کېږي نه، واضحه دي وي، چې دي تشبيه کې محض سفيدي مراد نه ده، بلکې د سختئ او قوت د اعتبار هم لحاظ ساتل شوى دى، نو دغه شان زړه باندې هم هيڅ فتنه اثر انداز او ضرر رسان کېږي نه ترڅو پورې چې زمکه او آسمان قائم او باقي وي، يعنى د دې زړه دا کيفيت هميشه باقي وي، ⑤او دويم د ايرې په شان تور زړه د اړول شوى لوښي پشان چې په هغه کې څه هم وي هغه ترې تويې شي، مطلب دا چې داسې زړه د ايرې په شان تور او د نسکور لوښي په شان د ايمان او معرفت د نور نه خالي وي، نو داسې زړه څنه خونيك ښه او مشروع کارونه پيژني، او نه خراب کارونه بد ګڼي، ⑥د هغه خوبس هغه شي سره مطلب وي، چې د خواهشاتو له قسمه په هغه کې ځاى شوى دى، او د هغه د محبت هغه اسير قيدي جوړ شوى دى، يعنى هغه طبعي طور سره د انساني خواهشاتو غلام وي، او د ښه او بد تميز کولو بغير هرهغه شي پسې ورزغلي کوم چې د هغه نفس ته مرغوب وي. (مسلم)

حل اللغات:- ① الْحَصِيرِ: پوزکې، ② عُودًا عُودًا: نيغ په نيغه، يوبل پسې، ③ أُشْرِبَهَا: اوئې څکى، يعنى قبوله ئې کړى، ④ نُكِتَتْ: داغ لګى، ⑤ مِرْبَادًا: أي صار كلون الرماد يعنى دَ ايرو په شان به تور شى ⑥ الْكُوزِ: کوزه، لوټه، ⑦ مُجَخِّيًا: التِه لوښى ته وائى. دلته سرښکته او اولټه کوزه مراد ده.

تسهيلات:

قوله: تُعْرَضُ الْفِتَنُ عَلَى الْقُلُوبِ كَالْحَصِيرِ عُودًا عُودًا،

د فتنو د کثرد پوزکې د ميزرو سره تشبيه: يعنى چه کله فتنې ډيرزياتې وى نو په انسانى زړونو کښې به فتنې داسې اچولې شى لکه څنګه چه دَ پوزکى ميزرې يوبل پسې پوزکى سره يوځائى کولې شى. نوکوم زړه چه دا فتنې قبولې کړې نو په هغې کښې به يوتور داغ جوړشي اوکوم زړه چه دغه فتنې قبولې نه کړى په هغې کښې به سپين داغ جوړيږى.

قوله: فَأَيُّ قَلْبٍ أُشْرِبَهَا نُكِتَتْ فِيهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ:

دفتنو د اثر په اعتبار سره د ړړونو دوه قسمونه: ① يو زړه به دَ سنګ مرمر په شان صفا اوتك سپين وى کوم ته چه يو فتنه هم نقصان نه شى رسولې

② دويم زړه به دَ ايرو په شان تك تورشى.

قوله: وَالْآخَرُ أَسْوَدُ مِرْبَادًا كَالْكُوزِ مُجَخِّيًا لَا يَعْرِفُ مَعْرُوفًا

د تورزړه دالټه کوزې سره تشبيه ورکول: دا لفظ حال واقع دې مطلب دا دې چه اوس دا زړه داسې لوټه جوړه شوې ده چه نيغه نه شى اودريدې او سرښکته کيدوسره په دې کښې څه څيز حصاريدې نه شى. اوس دَ اولټه لوټې په شان په دې کښې دَ خير اونيکئى څه خبره نه

راځي بلکه اوس دا زړه د خواهشاتو داسې غلام جوړشوي دي چه په دي کښې د نېـه او بد فرق ختم شوي دي اوس د نیکئي اوبدئي فرق کولونه بغیردا زړه خپلو خواهشاتو پسې منډې وهي اوهره یوه فتنه څکي

[۵۳۸۱] د خلقو په زړونوکښې د امانت راتلل او بیا وتل

۵۳۸۱-(۳)[۳] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَدِيثَيْنِ، [۲] رَأَيْتُ أَحَدَهُمَا وَأَنَا أَنْتَظِرُ الْآخَرَ: [۳] حَدَّثَنَا: " «إِنَّ الْأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ، ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ الْقُرْآنِ ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ» ". [۴] وَحَدَّثَنَا عَنْ رَفْعِهَا [۵] قَالَ: " «يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الْأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ، فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْوَكْتِ،

ترجمه: [۱] او حضرت حذیفه رضی الله عنه وايي، یوه ورځ رسول الله ﷺ مونږ ته د امانت باره کې او د فتنې د زماني د حوادثو په سلسله کې دوه حدیثونه یعنی دوه خبري بیان کړي په [۲] هغه کې یوه خو زه وینم اودبلي منتظریم ، [۳] حضور ﷺ مخکښی خبره داوفرمایل چې امانت د خلقو د زړونو ګهرائي (ژوروالی) کې خکته شوی دی. بیا هغوئ د دې امانت په نور سره قرآن وپیژندی او بیا هغوئ سنت وپیژندی [۴] د دې نه پس د امانت پورته کیدو یعنی د ایماني ثمراتو او برکاتو دختمیدو اوپه هغه کې د نقص راتلو حدیث یې بیان کی، [۵] نو وي فرمایل سړی به حسب معمول اوده شي او امانت به د هغه دزړه نه وویستل شي یعنی د هغه د ایمان بعضې ثمرات او انوار به ناقص او کم شي، نو د امانت اثر یعنی نښه چې د ایمان ثمره ده د داغ په شان به پاتې شي حاصل داچې د ایمان دنور اثر او ثمره به ناقص شي،

حل اللغات: —① جَذْر: جرړې او اصل ته وائي. ② فَيَظَلُّ: نو اوبه ګرځي. جوړه به شي ③ الْوَكْت: اثر. نشان.

[۱] ثُمَّ يَنَامُ نَوْمَةً فَتُقْبَضُ، فَيَبْقَى أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْمَجْلِ كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ عَلَى رِجْلِكَ، [۲] فَنَفِطَ، فَتَرَاهُ مُنْتَبِرًا وَلَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ، [۳] وَيُصْبِحُ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ وَلَا يَكَادُ أَحَدٌ يُؤَدِّي الْأَمَانَةَ، [۴] فَيُقَالُ: إِنَّ فِي بَنِي فُلَانٍ رَجُلًا أَمِينًا، [۵] وَيُقَالُ لِلرَّجُلِ: مَا أَعْقَلَهُ! وَمَا أَظْرَفَهُ! وَمَا أَجْلَدَهُ! [۶] وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بیا چې هغه دوباره اوده شي، او زیات غفلت وربانديې خورسي نو د هغه د امانت هغه حصه به هم ناقصه شي، او اوبه ویستل شي. کومه چې باقي پاتې شوي وه نو دهغه په زړه کې به د یوې تناکي په شان به داغ پاتې شي، څرنګه چې تاسو د اورسکروټه خپلې پښې باندې ورغړوي [۲] او هغه سره تناکه راووخي چې په ظاهره پړسیدلې پورته ښکاري، لیکن په هغه کې دننه د خرابو او ګنده اوبو نه علاوه نور هیڅ نه وي، [۳] بیا ددي

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الدعوات/باب الدعاء للمشرکین (رقم-۶۳۹۷) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب رفع الأمانة والإیمان من بعض القلوب. وعرض الفتن علی القلوب (رقم-۲۳۰ - (۱٤۳) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب ذهاب الأمانة (رقم-٤٠٥٣) واحمد فی المسند:۵/۳۸۳

صورت حال نه پس هر كله چې خلق سهارپورته شي نو حسب معمول خپلو كې به خريد و فروخت اخستون او خرخون كوي، او په هغوئ كې به يو سړى هم داسې نه وي چې امانت اداء كړي، يعنې د شريعت حقوق اداكونكى د فرائضو او واجباتو تكميل كونكى او د خلقو په حق كې څه خيانت او بد ديانتي نه كونكى به چيرته لږ لږ هم په نظر نه راځي، ④تردې چې امانت او ديانت كې د كمۍ دراتلو په سبب به داويل كيږي چې د فلانى قبيلې يا فلانى ښار او ابادۍ كې د خلقو د كثرت باوجود بس يو سړى دى چې امانت دار يعنې كامل الايمان دى، ⑤ او په هغه زمانه كې به د يو سړي په حقله چې د نورو دنيادارو په مقابله كې به زيات هوښيار او چالاك وي د مال وجاه حاصلولو زيات صلاحيت به لري د اوچتې درجې شاعر او فصيح او بليغ او اديب په شان به وي د زيات طاقت او قوت حامل او شجاع به وي او زبردست سياسي مهارت چالاكي او د دنياوي شان وشوكت حامل به وي داويل كيږي چې هغه په خپل دنياوي كاروبار او معاملاتو كې څومره عقلمند او هوښيار څومره خوبصورت او دانا خوشگوار اوژبه وردي او څومره چست و چالاك دى ⑥حالانكې دهغه په زړه كې به دذرې ددانې برابرهم ايمان نه وي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ⑦اَلْمَجْلِ: دَ لاس اثر اونخښې ته وائې كوم چه دسخت كار په وجه پيدا شوې وى. ⑤ جَمْر: سكروټه. ⑥دَحْرَجْتَهُ: اورغړوى. ⑦نَفِطَ: په اورسره دَ سوزيدو دَ وجې نه په بدن كښې پولئ پيدا اكيدو ته نفط وائې. ⑧مُنْتَبِرًا: دَ منبر په شان به اوچت او رابهرشوې وى. ⑨مَا أَعْقَلَهُ: څومره عقلمند دې. ⑩مَا أَظْرَفَهُ: څومره هوښيار دې. ⑪مَا أَجْلَدَهُ: څومره چالاكه دې. ⑫خَرْدَلٍ: د اُورى، غوښت دانه، د سپيلنى دانه،

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ:

دامانت څخه مراد: دَ امانت نه دلته دَ حق دَ قبلولو هغه طاقت مراد دې چه دَ پيدا اكيدو په وخت دَ هربچى په زړه كښې اچولې شى. دَ انسان په زړه كښې دننه دَ حق دَ قبلولو دَ طاقت دا تخم كرل يوې ديوې په شان وو چه تردغه وخته پورې لا لگولې شوې نه وه.

قوله: ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ الْقُرْآنِ ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ

په قرآن اوسنت سره د هدايت څوريدل؛ اوس دَ آسمان نه قرآن پاك نازل شو اودَ نبى كريم ﷺ سنت راغله. دغه دواړو څيزونو هغه ديوه روښانه كړه. اوس په دې زړه كښې دَ هدايت هغه نور روښانه شو په كوم سره چه اخواديخوا هدايت خور شو. په دې حديث كښې دَهدايت دَ خوريدو و داړومبې مرحله بيان كړې شوه.

قوله: وَحَدَّثَنَا عَنْ رَفْعِهَا

د امانت پورته كيدل او ختميدل: يعنې دَ هدايت او امانت دَ كوزيدو او خوريدو نه پس

دَهغې دَ اوچتيدو او دَ هدايت دَ نوردَ ثمراتو دَ ختميدو ذكرئې اوفرمائيلو چه سړې به دَمعمول مطابق اوده كيږي. په داسې حالت كښې به دَهغه دَ زړه نه دَ دغه امانت ثمرات اوچتولې شي. اوس به په زړه كښې صرف يوه نښه باقې پاتې شي هم دغه نشان او دغه اثرته، الوكت: وئيلې شوې دې.

قوله: قَالَ: "«يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الْأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ:

دنوم په مصداق كښې دوه اقوال: ① د نوم څخه حقيقي اوده كيدل مراد دى
② ددې څخه دَ غفلت ژوندون مراد دې

قوله: فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْوَكْتِ:

په زړه كښې د ايمان كمزورې كيدل: يعنې په رومبى ځل دَ دغه امانت اوچتيدو نه پس چه كله دوباره داسرې اوده شي نودَ هغه امانت باقې حصه به هم دَ دغه سړي دَ زړه نه اوچته كړې شي. اوس به دا زړه دَ ايمان او امانت نه خالى پاتې شي او په زړه باندې به دَ پولئى په شان نخښنه پاتې شي.

قوله: فَيَبْقَى أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْمَجْلِ

د ايمان د كمزورې څخه روسته د زړه حالت: ميم باندې زبر دې جيم ساكن دې دَ لاس اثر اونخښې ته وائې په كوم كښې چه دَ زيات سخت كاردَ وجې نه څرمن سختيدو سره توره شي. يعنې دوباره دَ ايمان او امانت اوچتيدو سره به اوس زړه دَ ايمان نه خالى شي اودَ سختې پولئى په شان به سخت نخښنه باقې پاتې شي كوم چه المجل يعنې اثرالعمل سره ياد كړې شوې دې.

قوله: كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ عَلَى رِجْلِكَ، فَنَفِطَ، الخ

دجمر وضاحت: دادَ المجل دَ وضاحت دَپاره دَ مثال په توګه بيان كړې شوې دې. "أي كتأثيرالجمر" يعنې څنګه چه يوسړې په خپله خپه وغيره باندې سروټكه كيږدى او ګدوډ شى په كوم سره چه هغه ځائې سوزيدو سره پولئى جوړه شى بيا هغه اوپړسيږى اودننه په كښې سخا اوبه اوشى نولكه څنګه چه دا پولئى پړسيدلې ده اودننه هيڅ هم نشته دې دغه شان دَ دې سړى زړه دَايمان اوامانت نه خالى كيږى سره دَدې چه سړې دَ بهر نه ايماندارښكارى مګر دننه به هيڅ هم نه وى

قوله: وَيُصْبِحُ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ وَلَا يَكَادُ أَحَدٌ يُؤَدِّي الْأَمَانَةَ،

په خلقو كښې دامانتدارۍ فقدان: يعنې خلق به سحروختې راپاسى اوخرخول او اخستل به كوى ګرما ګرمى به وى مګر په دوى كښې به يو سړې هم دَ امانت او ديانت والا نه وى. تردې چه خلق به تذكره كوى چه فلانكې قبيله كښې يوديانتدار سړې دې.

قوله: مَا أَعْقَلَهُ! وَمَا أَظْرَفَهُ:

ظاهر د باطن خلاف: بیا به دَ یوسړی باره کښې په یو آواز سره خلق وائی چه واه واه څومره عقل مند دې څومره هوښیاردې څومره تیز دې دَدې تعریفونو باوجودبه دَ دغه سړی په زړه کښې دَ اوری دَ دانې برابر ایمان نه وی

دامانت د زوال درې مراحل: ① په اوله مرحله کښې به څه امانت لاړشی اومعمولی اثربه پاتې شو

② په دویمه مرحله کښې به لږ شان زیات امانت لاړشی او کم اثربه ئی پاتې شی

③ په دریمه مرحله کښې به ټول هرڅه لاړشی

[۵۲۸۲] دَ فتنوپه زمانه کښې دعزلت نشینی ترغیب

۵۳۸۲-(۱)[۳] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: «كَانَ النَّاسُ يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ الْخَيْرِ، [۲] وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ; مَخَافَةَ أَنْ يُدْرِكَنِي، [۳] قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّا كُنَّا فِي جَاهِلِيَّةٍ وَشَرٍّ، فَجَاءَنَا اللَّهُ بِهَذَا الْخَيْرِ، فَهَلْ بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ؟ [۴] قَالَ: " نَعَمْ "، [۵] قُلْتُ: وَهَلْ بَعْدَ ذَلِكَ الشَّرِّ مِنْ خَيْرٍ؟ [۶] قَالَ: " نَعَمْ، وَفِيهِ دَخَنٌ "،

ترجمه: [۱] و حضرت حذیفه ﷺ وایي، خلقو به اکثره د رسول الله ﷺ نه د نیکي او خیر ښیګړی باره کي پوښتنه کوله. [۲] او مابه د حضور ﷺ نه د شر او بدي باره کي د ریافت کوی د دي خوف د وجي نه چي چیرته په څه فتنه کي مبتلا نشم! ① یعنی نورو صحابه وو خو به دعبادت او اطاعت باره کي پوښتنه کوله چي زیات نه زیات نیک عمل او ښه کارونه وکړي. لیکن د هغوئ برخلاف څما معمول برعکس وو مابه د حضور ﷺ نه د ګناه او بدو باره کي د ریافت کوی، چي هغه نه پرهیز وشي. ② یاداچي هغه خلقو حضور ﷺ ته په خپل رزق کي دوسعت او د خوشحالی استدعا کوله.چي هغوئ ته اطمینان او فراغت حاصل شي او خپله دنیا د آخرت د فلاح او کامیابي ذریعه جوړه کي او ما به د هغه فتنو باره کي به مي پوښتنه کوله. کومي چي دي دنیا کي واقع کیدي شي. چي نه صرف اخروي ژوند باندي اثر انداز کېږي بلکي د هغه خراب اثرات دنیاوي خوشحالی او د رزق وسعت باندي هم راځي او د پوښتني بناء داخوف وو چي چیرته زه دي فتنو کي مبتلا نشم. یا د هغه خراب اثرات او اسباب ماته ونه رسیږي، نود اهل علم نه د بدیو خرابیو واقفیت حاصلولو سره هغه نه د بچ کیدو تدبیر اختیارول یوه بهترینه طریقه ده. څکه حکماء او اطباء بلکي بعضي فضلاؤ داطریقه بطور اصول اختیار کړي

---

(۱) اخرجه البخاري كتاب المناقب/باب علامات النبوة في الإسلام (رقم-۳۶۰۶) في ومسلم في كتاب الإمارة :باب الأمر بلزوم الجماعة عند ظهور الفتن وتحذير الدعاة إلى الكفر (رقم-۵۱ - (۱۸٤۷) وابن ماجه في كتاب الفتن باب العزلة (رقم-۳۹۷۹)

ده، چې د ازاله مرض کې هم ددې اصولو طرف ته اشاره ده. چې مخکې د ماسوی الله نفي شوی ده، هغه نه پس الوهیت ثابت شو]

۳حضرت حذیفه بیان وکی چې د خپل مذکوره عادت مطابق یوه ورځ ما عرض وکړو. یارسول الله مونږ خلق د اسلام نه قبل جاهلیت او بدي کې مبتلا وو. بیا الله ﷻ ستاسود پیغمبری صدقه کې، مونږته دا هدایت او خیر یعنی د اسلام رڼا راکړله چې د هغه په وجه مونږ د کفر او ضلالت دتیارو نه لرې شو چې د ګمراهیو او خرابیو او بدې پیښیدونکې وه، نوآیاددې خیرنه پس بیا بدې پیښیدونکې ده ۴حضور ﷺ وفرمایل. دې خیر نه پس هم بدې پیښیدونکې ده ۵ما عرض وکړو نو هغه بدې نه پس به بیا د هدایت او خیر ظهور وي، چې د هغه په وجه دین او شریعت به بیا سربالا کیدل وي. ۶حضور ﷺ وفرمایل هو دې بدې نه پس به بیا د خیر ظهور وي، لیکن دې بدې نه پس چې کوم خیر راځي، په هغه کې به کدورت خیرن والی وي،

حل اللغات:- ① دَخَنٌ: خرابی،

> ۱قُلْتُ: وَمَا دَخَنُهُ؟ ۲قَالَ: "قَوْمٌ يَسْتَنُّونَ بِغَيْرِ سُنَّتِي، وَيَهْدُونَ بِغَيْرِ هَدْيِي، ۳تَعْرِفُ مِنْهُمْ وَتُنْكِرُ"، ۴قُلْتُ: فَهَلْ بَعْدَ ذٰلِكَ الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ؟ ۵قَالَ: "نَعَمْ، دُعَاةٌ عَلَى أَبْوَابِ جَهَنَّمَ، ۶مَنْ أَجَابَهُمْ إِلَيْهَا قَذَفُوهُ فِيهَا"، ۷قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ! صِفْهُمْ لَنَا، ۸قَالَ: "هُمْ مِنْ جِلْدَتِنَا، وَيَتَكَلَّمُونَ بِأَلْسِنَتِنَا"، ۹قُلْتُ: فَمَا تَأْمُرُنِي إِنْ أَدْرَكَنِي ذٰلِكَ؟ ۱۰قَالَ: "تَلْزَمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَإِمَامَهُمْ"،

ترجمه: ۱ما عرض وکړو، د هغه خیر خیرن والی به څه وي؟ ۲حضور ﷺ وفرمایل ماچې د کدورت خیره کړې ده هغه نه دا مراد دی، چې داسې خلق به پیدا شي چې څما طریقه او څما د سنت خلاف به طریقه او سنت اختیار کړي خلق به څما د ښودلې لارې خلاف لار باندې روان کړي. او څما د سیرت او کردار خلاف به سیرت او کردار خپل کړي. ۳ته به په هغوئ کې دیندار هم ووینې، او بې دینه هم ما عرض وکړو. ۴آیا د دې خیر نه پس به بله څه بدي پیښیږي. ۵نو حضور ﷺ وفرمایل هو داسې خلق به پیدا شي. چې د دوزخ په دروازو ودریدو سره مخلوق به خپل طرف ته بلې ۶کوم سړی چې د هغوئ بلنه قبلولو سره دوزخ طرف ته تلل غواړي. هغوئ به هغه دوزخ طرف ته ور دیکه کړي یعنی کوم سړی چې د هغوئ په دهوکه کې راتلو سره هغه ګمراهي کې اونخلې. چې د دوزخ د عذاب مستوجب وي. نو هغه به په دوزخ کې وغورځول شي. ۷ما عرض وکړو د هغوئ باره کې وضاحت وفرمایې. هغه به کوم خلق وي، آیا مسلمانان به وي، یا غیر مسلم ۸حضور ﷺ وفرمایل هغه به زمونږ [قوم یا زمونږد ابناء دجنس او زمونږا د ملت خلق وي او زمونږ په ژبه کې به خبرې کوي [یعنی هغوئ به عربي ژبه ویونکې وي، یا دا مراد چې د هغوئ خبرې به د قرآن او حدیث حوالو سره مزین او پندو نصائح سره ښائسته وي،

او په ظاهره به د هغوئ په ژبه د دين او مذهب خبري وي! خو د هغوئ زړونه به د نيکي او خير نه خالي وي ۹ ما عرض وکړو، بيا څما باره کښ ستاسو څه حکم دی، يعنی که زه هغه خلق پيداکرم نو هغه وخت ماته څه کول پکار دی. ۱۰ حضور ﷺ وفرمايل کتاب وسنت باندې عمل کونکو د مسلمانانو جماعت لازم ونيسه او د هغوئ د امام اطاعت کوه يعنی د اهل سنت لار اختيار وه او د اهل سنت چې کوم امام او مقتداء وي. د هغه د طاعت او رعايت خيال ساته.

حل اللغات:- ۞ يَسْتَنُّونَ: سنت به نه اختياروی. ۞ دُعَاةٌ: رابلونکی.

۱ قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ جَمَاعَةٌ وَلَا إِمَامٌ؟ ۲ قَالَ: "فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الْفِرَقَ كُلَّهَا، وَلَوْ أَنْ تَعَضَّ بِأَصْلِ شَجَرَةٍ حَتَّى يُدْرِكَكَ الْمَوْتُ وَأَنْتَ عَلَى ذَلِكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ۳ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: قَالَ: "«يَكُونُ بَعْدِي أَئِمَّةٌ لَا يَهْتَدُونَ بِهُدَايَ، وَلَا يَسْتَنُّونَ بِسُنَّتِي، ۴ وَسَيَقُومُ فِيهِمْ رِجَالٌ، قُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الشَّيَاطِينِ فِي جُثْمَانِ إِنْسٍ"، ۵ قَالَ حُذَيْفَةُ: قُلْتُ كَيْفَ أَصْنَعُ يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنْ أَدْرَكْتُ ذَلِكَ؟ ۶ قَالَ: "تَسْمَعُ وَتُطِيعُ الْأَمِيرَ، وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ وَأُخِذَ مَالُكَ فَاسْمَعْ وَأَطِعْ»".

ترجمه: ۱ ما عرض وکړو، که د مسلمانانو څه متفق جماعت نه وي، او نه دهغوئ څه متفقه امير او مقتداء وي، بلکي مسلمانان مختلف جماعتونو کښ منقسم وي او جدا جدا مقتداء پسي روان وي، نو هغه صورت کښ ماته څه کول پکار دی. ۲ حضور ﷺ وفرمايل داسې صورت کښ تاته د دې ډلونه جداکيدل پکاردي اگر که چرې د يوي ونی بيخ کښ پناه اخستل راشي، اوپه جنگلوکي پټيدل ولي نه وي، او د دې په وجه سخت نه سخت مصائب او شدائد برداشت کول ولي نه وي، او په هغه جنگلو کښ دونومانو خوړلو پورې نوبت ولي رانشي، تردې چې د تنهايي حالت کښ مرگ درته راشي (بخاري . مسلم) ۳ او د مسلم په يوه روايت کښ داسې دي، حضور ﷺ وفرمايل زما نه پس به داسې امام يعنی امير، بادشاه قائد او رهنما وي، چې د عقيدې فکر او علم د اعتبار نه څما په لار به نه ځي، او د کردار او عمل د اعتبار نه به څما سنت، او څما طريقه نه خپلوي، يا دا معنی ده چې هغوئ به کتاب او سنت باندې عمل نه کوي ۴ او په هغه زمانه کښ به داسې خلق پيدا شي، چې شکل او بدن به يي خود سړو په شان وي، ليکن د هغوئ زړونه به د شيطانانو په شان وي، يعنی هغه خلق به فسق او گمراهي شقاوت او سخت والي شکوك او شبهات پيداکونکی، دهوکه ورکونکی په عقل ناقص او فاسد خواهشات لړلو کښ د انسانيت ټول حدودونه به بهر ووځي، او دې اعتبار نه د هغوئ شکل وصورت دسړو په شان کيدو باوجود د هغوئ زړه او باطن به د شيطان په شان وي ۵ حضرت حذيفه ﷺ وايي په دې اوريدو سره ما عرض وکړو يارسول الله که زه هغه زمانه پيداکرم. نو څه وکړم ۶ حضور ﷺ وفرمايل د مسلمانانو امير او مقتداء چې څه

وایي د هغه اوره او د امیر اطاعت کوه په شرط د دې چې د هغه تعلق دګه ګناه سره نه وي، اګر که ته په ملا ووهل شي، او مال در نه په زبردستی واخستل شي، بیاهم اوره او اطاعت کوه.

حل اللغات: - ④ فَاعْتَزِلْ: جدا اوسیږه. ⑤ الفِرَقَ: د فرقة جمع ده، ډلې. ⑥ تَعَضَّ: چک لګول. ⑦ أَصْل: بیخ، ⑧ جُثْمَانِ: بدنونه، شکل اوصورت.

تسهیلات:

قوله: وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ:

دخیر اوشر څخه مراد: په دې حدیث کښې دَ خیرلفظ نه اسلام ایمان او اطاعت مراد اخستې شوې دې اودَ شردَ لفظ نه کفر او فتنه مراد اخستې شوې ده.

قوله: فَهَلْ بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ؟ قَالَ: "نَعَمْ":

د شر مصداق: یعنی دَ اسلام ایمان او دَهدایت دَنور نه پس یارسول الله! اوس په دې امت باندې څه فتنه راتلې شی؟نونبی ﷺ جواب ورکړو چې او. دَ اسلام دَ دې امن او هدایت نه پس به فتنه اوشر راځی. شارحینو لیکلی دی چه دَ دغه شر نه مراد دَ حضرت عثمان دَ وخت فتنه ده په کومه کښې چه هغوی شهید کړې شوې وو.

قوله: وَهَلْ بَعْدَ ذَلِكَ الشَّرِّ مِنْ خَيْرٍ؟ قَالَ: "نَعَمْ:

دخیر مصداق: یعنی دَ دغه بدعت، ضلالت اوشرفساد نه پس به دوباره بیا څه خیر راځی؟ نونبی ﷺ راته اوفرمائیل اودهغې څخه روسته به خیر راځی. علماء لیکی چه دې نه دَ حضرت عمربن عبد العزیز رحمه الله دَدور دَ امن، عدل او دَ انصاف خیرمراد دې.

قوله: وَفِيهِ دَخَنٌ: یعنی بعضې خلق به دَ سنت تابعداری کوی اوبعضې به په خپلو خواهشاتو باندې تګ کوی او په بدعاتو کښې به اخته وی.

د مذکوره حدیث د مصداقاتو ترتیب: ① دَاسلام اوسلامتئی نه پس به دَ حضرت عثمان رضی الله عنه دَ قتل فتنه راځی.

② دَدې شر نه پس چه به کوم خیرراځی دادَ حضرت حسن رضی الله عنه اوحضرت معاویه رضی الله عنه دَ صلح طرف ته اشاره ده. داصلح خو به کیږی مګر زړونه به په پوره توګه باندې صفا نه وی. څه فسادیان خلق به په مینځ کښې وی لکه چه دَخوارجو وجود وو اودَ عبد الله بن زیاد فساد وو اودَ بعضې نورو بې کاره امیرانو وجود وو.

قوله: هُمْ مِنْ جِلْدَتِنَا، وَيَتَكَلَّمُونَ بِأَلْسِنَتِنَا:

د من جلدتنا څخه مراد اودې مصداق: یعنی هم زمونږ دَ خپلو څخه به وی دَخپل خاندان څخه به وی هم زمونږ ژبه به وائی مګر فساد به کوی. صحابی تپوس اوکړو چه بیابه مونږ

هغوی سره څه کوو جنګیږو به که پریږدو به ئی؟ حضور پاك اوفرمائیل چه اهل حق سره اوسیږئی او دَ کور په ګوټ کښې کینئ. دادَ خوارجو، روافضو او معتزلؤ دَ فتنو طرف ته اشارې دی

[۵۳۸۳] دَ فتنو دَ راتلو نه مخکښې دَ نیکو اعمالو اختیارول

۵۳۸۳-(۱۲)[۵] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، ۳ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، ۴ يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره ﷺ وايي، چی رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ اعمال صالحه کې تادي کوئ قبل د دې نه چې هغه فتنې ظاهري شی چې د توري شپې د ټکرو په شان وي، او د هغه فتنو اثر به داوي ۳ چې سړی به په سهار کې د ایمان په حالت کې وي. او ماښام ته به کافر جوړ شي، او په ماښام کې به مؤمن وي، خو سهار کې به د کفر حالت کې پورته کیږي، ۴ او خپل دین او مذهب به د دنیا د لږ متاع په عوض کې خرڅ خوي (مسلم)

حل اللغات: - ① بَادِرُوا: جلتی کوئ، ② فِتَنًا: دَ فتنة جمع ده اودَ فتنه څو معانې راځی مثلاً ازمیښت، امتحان، ابتلاء،

تسهیلات:

قوله: بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا:

د نیکو اعمالو ترغیب: یعنی په اعمالو کښې وړاندیوالې کوئی دَ فتنو دَ راتلو نه مخکښې مطلب دا چه دَ نیکو اعمالو څومره توفیق ملاویږی دَ هغې په اندازه سره نیك اعمال کوئی کیدې شی چه روستو ستاسو نظریات اوتفکرات بدل شی او نیك اعمال اونه کړې شئ

قوله: كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ:

دفتنو تشبیه د تیرو سره: په حدیث شریف کښې ئی دَ فتنو نه په توري شپې سره تعبیر کړې دی وجه داده چه چاته معلومه نه ده چه هغه فتنې به کله او څنګه راښکاره کیږی اودَ هغې نه به دَ خان خلاصی څه صورت وی لهذا دَ راتلونکې فتنونه مخکښې دَ نیکو اعمالو په ذریعه خپل ژوند مستحکم او دَمضبوط جوړولو تاکیدی حکم دې.

[۱۲]) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب الحث علی المبادرة بالأعمال قبل تظاهر الفتن (رقم-۱۸۶ - (۱۱۸) وابوداود فی کتاب الترجل /باب فی النهی عن السعی فی الفتنة (رقم-۴۲۵۹) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء ستکون فتن کقطع اللیل المظلم (رقم-۲۱۹۵) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب ما یکون من الفتن (رقم-۳۹۵۴) واحمد فی المسند:۲/۳۰۴

قوله: يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا دَدې جملې ډير مطلبونه كيدې شي
د حديث په مفهوم کښې څلور اقوال: دَ حديث دَ ظاهري الفاظو نه معلوميږي چه كله سحر شي نو انسان به په ايمان سره متصف وي يعنې مسلمان به وي ليكن ماښام كيدوسره به دكفر تيارو ته رسيدلې وي. پاتې شوه دا خبره چه دكفر نه څه مراد دې؟
① په حديث کښې اصل كفرمراد دې يعنې هغه به حقيقتًا په كفركښې داخل شوې وي. يوكس چه سحر راپاخي نو هغه به هغه څيز حلال ګڼړي كوم چه الله تعالى حلال كړې دې او هغه څيز به حرام ګڼړي كوم چه الله تعالى حرام ګرځولې دې ليكن ماښام كيدوسره به دَ هغه ذهن، فكر اوعقيده بدله شوې وي نو هغه به حلال حرام او حرام به حلال ګڼړي دا مطلب زيات راجح دې ځكه چه په حديث الباب کښې كافردَ مؤمن په مقابله کښې راغلې دې
② كفرانِ نعمت مراد دې چه هغه به ناشكرا شي.
③ هغه به دكافرانو مشابهت اختيارونكې شي.
④ هغه به دكافرانو والا كاركوي.

[۵۲۸٤] دفتنوڅخه دلرې اوسيدو تاكيد

۵۳۸۳-(۳)[٦] ⌈۱⌉ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⌈۲⌉ "«سَتَكُونُ فِتَنٌ، الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ، وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي، وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي، ⌈۳⌉ مَنْ تَشَرَّفَ لَهَا تَسْتَشْرِفْهُ، ⌈۴⌉ فَمَنْ وَجَدَ مَلْجَأً أَوْ مَعَاذًا فَلْيَعُذْ بِهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، ⌈۵⌉ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: قَالَ: "«تَكُونُ فِتْنَةٌ، النَّائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْيَقْظَانِ، وَالْيَقْظَانُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ، وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي، ⌈٦⌉ فَمَنْ وَجَدَ مَلْجَأً أَوْ مَعَاذًا فَلْيَسْتَعِذْ بِهِ» ".

ترجمه: ⌈۱⌉ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⌈۲⌉ ډير نزدې فتنې به پيدا شي، [يعنې زر يوه غټه فتنه مخې ته راتلونكې ده، يا داچې پرله پسې يا لړ لړ وقفې سره زياتې فتنې ظاهريدونكې دي]، دې فتنو كې به ①ناست د ولاړ نه ښه وي، ②او ولاړ به د ګرځيدونكي نه ښه وي، ③او ګرځيدونكى به د منډې وهونكى [يعنې د څه سورلى په ذريعه يا پياده د زغليدونكي او زر تلونكي نه ښه وي] ⌈۳⌉ او كوم سړى چې فتنو طرف ته ګوري فتنه به هغه خپل طرف ته راځكي، ⌈۴⌉ نو كوم سړى چې دې فتنو نه د خلاصون څه ځاى ياد هغه نه د تيښتې څه لار يا پناه ګاه پيدا كي، يايوداسې سړى هغه پيدا كي، چې د هغه په لمن كې هغه د هغه فتنو نه نجات پيدا كي، نو هغه سړي ته پكار دى، چې د هغه په ذريعه پناه حاصله كړي، كه هغه فتنو نه د تيښتې څه لار پيدا كي، نو د

[۱۳]) اخرجه البخارى فى كتاب المناقب/باب علامات النبوة فى الإسلام(رقم-۳۶۰۱) ومسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب نزول الفتن كمواقع القطر (رقم-۱۰ - (۲۸۸۶) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أنه تكون فتنة القاعد فيها خير من القائم (رقم-۲۱۹٤)واحمد فى المسند: ۲/۲۸٤

فتنو د ځای نه دي ووځي، یا څه داسې ځای که هغه ته معلوم وي، چې هلته به د پټیدو په وجه د هغه فتنو نه پناه پیدا شي نو هلته ورتلو سره دي پټ شي، یا که یو سړی خپلې ساتې کې پناه ورکونکی پیدا شي نو هغه ته ورتلو سره دي پناه واخلي (بخاري ، مسلم)
⑥او د مسلم په یوه روایت کې داسې دي، چې حضور ﷺ وفرمایل هرکله چې یوه فتنه ښکاره شي، نو هغه فتنه کې اوده سړي چې هغه دفتنې نه غافل او بې خبروي، او د هغه باره کې اطلاعات نه اوري، دویښ یعنی په هغه فتنې پوهیدونکی او د هغه خبر لرونکي نه به ښه وي، ویښ سړی که هغه پروت وي یا ناست وي، دولاړسړي نه به ښه وي. او په فتنه کې ولاړسړی به په هغه فتنه کې د سعي او کوشش کونکي نه ښه وي دلته د سعي لفظ دمشي یعنی د تلونکي په معنی کې دی، اود یوشي طرف ته تلل ګویا د هغه شي په حق کې د سعي او کوشش کولو برابر دی، په صراح کې لیکلي دي، چې د سعي معنی وي زغلیدل تادي کول، او د څه شي په حق کې محنت او عمل کول نو هغه فتنه کې سعي کونکي نه مراد هغه فتنه کې مدد او تعاون ورکول او دهغه په حق کې سعي او کوشش کول دي، ⑥نو کوم سړی چې دهغه فتنې نه د تښتیدو لار یا دهغه نه د پناه ځای پیدا کي. نو هغه ته پکار دی، چې هلته تلو سره پناه حاصله کړي.

حل اللغات:- ①اَلْقَاعِدُ: ناست، ②اَلْمَاشِي: روان، تلونکې، ③اَلسَّاعِي: کوشش او محنت کونکې، ④تَشَرَّفَ: چا چه سر وراوچت کرودا فتنه ئی اوکتله. ⑤مَلْجَأً: ځایٔ دپناه،

تسهیلات:

قوله: سَتَکُونُ فِتَنٌ، اَلْقَاعِدُ فِیهَا خَیْرٌ مِنَ الْقَائِمِ:

دفتنې هغه د لرې او سیدو مراحل: یعنی چه کوم سړې څومره دَ دې فتنونه لرې وی هم دومره به ښه وی.

① دَدې فتنې نه لرې ناست یو سړې دَولاړ سړی نه بهتر دې

② څوك چه ولاړ دې هغه دَ تلونکی سړی نه بهتردې.

③ څوك چه تلونکې دې هغه دَ منډې وهونکی نه بهتردې

دَدې طرف ته منډې وهونکې چونکه دَتولو نه زیات فتنې ته ډیرنیزدې دې په دې وجه دَ تولو نه زیات بد دې. څوك چه څومره لرې دې هغه هم دومره بهتردې

قوله: مَنْ تَشَرَّفَ لَهَا تَسْتَشْرِفْهُ:

د مذکوره جملې وضاحت: یعنی فتنه دې خپل طرف ته ښه مائل کولو سره راکاږی. مطلب دادې چه کوم سړې په دې فتنو کښې دَمعلوماتو دَ حده پورې زړه لګوی نودا فتنې به هغه په خپله ګیره کښې واخلی

په ګناه کښې د راښکلو اثر: دغه شان حال د عامو ګناهونو هم دې مثلاً که زيد د زينب په باره کښې واوريدلو چې هغه ډيره ښکلې ده چې د ښائست ئې ثاني نشته خوبدچلنده هم ده اوس ددې په اوريدو سره دې ته نه دی متوجه کيدل چې دې ته په څخه طريقه ورنزدې شم او وعظ نصيحت ورته اوکړم چې زنا مه کوه الله تعالی درته حسن او جمال درکړې دې ددې شکر ادا کړه څکه چې کيدې شي شيطان په دې سوچ باندې دا زيد هغې ته ورنزدې کړی او په خپله د هغې د حسن او فد فعلي په جال کښې ګرفتار شي نو څکه چې څومره کيدې شي د ګناهونو او د فتنونو د ځايونو څخه لرې اوسيدل پکار دی

[۵۲۸۵] دمسلمانانو خپل مينځ کښې د جګړې صورت کښې ځان له کيدل

۵۲۸۵-(۳)[۷] ①وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتَنٌ، أَلَا ثُمَّ تَكُونُ فِتَنٌ، أَلَا ثُمَّ تَكُونُ فِتْنَةٌ، ③الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي فِيهَا، وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي إِلَيْهَا، ④أَلَا فَإِذَا وَقَعَتْ فَمَنْ كَانَ لَهُ إِبِلٌ فَلْيَلْحَقْ بِإِبِلِهِ، وَمَنْ كَانَ لَهُ غَنَمٌ فَلْيَلْحَقْ بِغَنَمِهِ، وَمَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَلْحَقْ بِأَرْضِهِ"،

ترجمه: ①او حضرت ابوبکره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②په دې کې شک نشته. چې ډير نزدې د فتنو ظهور به کېږي يادلرئ بيابه فتنې پيدا شي او ياد لرئ هغه فتنو نه يوه ډيره لويه فتنه يعنی د مسلمانانو خپلو کې محاذ آرائي د خونريزي حادثه به پيښه شي. ③دې فتنه کې به ناست د تلونکي سړي نه ښه وي او تلونکی به هغه فتنې ته دزغليدونکی سړي نه ښه وي، ④نو آګاه اوسئ کله چې هغه فتنه پيښه شي، نو کوم سړي سره چې په جنګل کې اوښان وي، هغه دې د هغه اوښانو سره يوځاي شي او د چاسره چې بزې (چيلۍ) وي زمکه او مکان وغيره وي، هغه دې خپلې هغه زمکې يا هغه مکان ته لاړ شي. حاصل دا چې کوم ځای چې هغه فتنه ښکاره شي. هلته دې نه حصاريږي، بلکې هغه ځای پريخودلو سره چيرته لرې دې لاړ شي او د عافيت يوکونج دې ونيسي. يا دهغه فتنې نه غير متوجه کيدو سره دې خپل کارو بار کې مشغول شي.

①فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَرَأَيْتَ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ إِبِلٌ وَلَا غَنَمٌ وَلَا أَرْضٌ؟ ②قَالَ: " يَعْمِدُ إِلَى سَيْفِهِ فَيَدُقُّ عَلَى حَدِّهِ بِحَجَرٍ، ثُمَّ لِيَنْجُ إِنِ اسْتَطَاعَ النَّجَاءَ، ③اللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ؟ " ثَلَاثًا، ④فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَرَأَيْتَ إِنْ أُكْرِهْتُ حَتَّى يُنْطَلَقَ بِي إِلَى أَحَدِ الصَّفَّيْنِ، فَضَرَبَنِي رَجُلٌ بِسَيْفِهِ أَوْ يَجِيءُ سَهْمٌ فَيَقْتُلُنِي؟ ⑤قَالَ " يَبُوءُ بِإِثْمِهِ وَإِثْمِكَ، وَيَكُونُ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①يو سړي په دې اوريدو سره عرض وکړو يارسول الله! ماته دا وښايې که يو سړي

[11]) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب نزول الفتن کمواقع القطر(رقم-۱۲ - (۲۸۸۶) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب التثبت فی الفتنة (رقم-۳۹۵۸) واحمد فی المسند:۴۸/۵

سره نه اوښان وي او نه بزې (چيلۍ) وي، او نه يو ځاى يې زمکه او مکان وي چې هلته تلو سره ګوشه عافيت اختيار کړي، او دهغه فتنې دځاى نه لرې شي، نو هغه ته څه کول پکار دي، ۲ حضور ﷺ وفرمايل هغه ته پکار دى، چې هغه خپلې تورې طرف ته متوجه شي او هغه دې په کانړي سره ماته کړي يعنې دهغه سره چې څه دجنګ الات او هتيار وي هغه دې بيکاره، او ناقابل استعمال جوړ کړي، چې د هغه په زړه کې د جنګ خيال پيدا نشي او هغه د مسلمانانو د په خپل منځ کې دجنګ وجدال په فتنه کې شريک نشي. داحکم څکه دى چې په دې جنګ کې چې دواړو طرف ته مسلمانان په جنګ وي، او د يوبل خون ريزي کول وي په هغه کې شريکيدل نه دي پکار او بيا هغه سړي ته پکار دى که هغه د فتنې د ځاى نه تښتيدى شي، نو ژردى د هغه ځاى نه ووځي، چې د هغه فتنې د اثراتو نه محفوظ پاتې شي ۳ د دې نه پس حضور ﷺ وفرمايل اې الله ما ستا احکام ستا بنده ګانو ته ورسول، دا الفاظ حضور ﷺ درې ځلې وفرمايل ۴ يو سړي عرض وکړو يارسول الله! ماته دا وښايې که زه مجبورولو سره يعنې په زبردستې سره جنګ کونکو دواړو فريقو کې ديو فريق په صف کې ودرول شم، او هلته زه د يو سړي تورې سره ووژل شم، يا دچا تير راتلو سره ماته ولګيږي چې ما د مرګ غيږې ته ورسوي، نو په دې صورت کې به د قاتل او مقتول څه حکم وي ۵ حضور ﷺ وفرمايل ستا هغه قاتل به دخپلې او ستاد ګناه سره اونخلې. او په دوزخيانو کې به شمار کړل شي (مسلم)

حل اللغات: - ① فَيَدُقُّ: اودې ټکوى، ماته دې کړى، ② حَدِّهِ: تيره طرف د تورې. ③ لِيَنْجُ: تيزې تيزې منډې دې اووهى. ④ النَّجَاءَ: تيزې تيزې منډې وهل

تسهيلات:

قوله: يَعْمِدُ إِلَى سَيْفِهِ فَيَدُقُّ عَلَى حَدِّهِ بِحَجَرٍ:

دتورې ماتولو څخه مقصود: يعنې دَ خپلې تورې طرف ته متوجه کيدو سره دا په لاس کښې واخلى اودَ هغې تيره مخ دې په يو کانړى باندې وهلو سره مات کړى کله چه توره ماته شى نو دا سړې به اوس څه فتنه کښې نه ورځى.

قوله: ثُمَّ لِيَنْجُ إِنِ اسْتَطَاعَ النَّجَاءَ:

د مذکوره جملې مطلب: مطلب دادې چه که يو سړې دَدې جنګ نه ويزاره دې او زر زر جدا کيدو سره تختى مګر چامجبوره په جنګ کښې په زور باندې ورديکه کړو او هغه اووژلې شو نودَ هغه څه حکم دې؟ نو حضورپاك اوفرمائيل چه وژونکې به دوزخ ته خى اودا مجبوره به جنت ته خى.

د فيما بين المسلمين د قتال په صورت کښې په دې کښې شرکت اوعدم شرکت کښې مذاهب:

په دې حديث کښې دَمسلمانانو په خپل مينځ کښې دَ افتراق او انتشار اورد داستان

طرف تـه اشـاره ده. دَ مسلمانانو پـه خپل مینځ کښې جنګونوکښې حصه اخستو اونـه اخستو سره متعلق د عالمانو اختلاف دې.

① دَبعضې صحابه کرامو مسلك دَ دې ظاهری احادیثو مطابق دې چه پـه دغـه جنګونوکښې بالکل ځان غاړې تـه کول پکاردی. دا مسلك دَحضرت ابوبکر رضی الله عنه او ځه نورو صحابه کرامو دې دَدې مسلك تائیددَ ډیرو احادیثونه کیږی

② دویم مسلك دَحضرت عمر رضی الله عنه اودَ هغوی پـه شان خیال لرونکوصحابه کرامو دې چه که فتنه دروازې ته راؤرسی نوبیا دَ دفاع پـه توګه جنګیدل اودفاع کول جائز دی. پخپله ورتلل جائز نه دی بعضې روایانو نه دَدې مسلك تائید کیږی

③ دریم مسلك دَ جمهور صحابه او جمهور علماؤ دې هغه دادې چه کوم صف دَاهل حق دې دَهغې ملګرتیاکولوسره دَ اهل باطل پـه مقابله کښې ښه جنګیدل پکاردی

د دریم فریق دلیل:دَ قرآن کریم آیت دې ﴿ وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ۖ فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ ۚ﴾ [سورة الحجرات:۹]

دا آیت دَدې حضراتو دلیل دې. دَ صحابه کرامو پـه مینځ کښې جنګونو کښې عام صحابو رضی الله عنهم هم دَدې آیت پـه رنړاکښې دَحق ملګرتیا کړې وه.

د صحابؤ په خپل مینځ کښې د جنګونو حیثیت:دَحضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم پـه مینځ کښې چه کوم جنګونـه شوی دی هغـه دَمشاجرات پـه نـوم سره مشهور دی. دَدواړو طرفـو نـه اجتهادی معامله وه نیتونه صفا وو جنګونه دَ هغوی پـه تقدیرکښې وو

د صحابؤ په مینځ کښې دوه جنګونه:① دَ حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت عائشه رضی الله عنها پـه مینځ کښې جنګ جمل شوې وو.

② دَحضرت علی رضی الله عنه اوحضرت معاویه رضی الله عنه پـه مینځ کښې جنګ صفین وی شوې وو پـه کوم کښې چه پـه زرګونو انسانان وژلې شوی وو

دمشاجرات وجه تسمیه؛دَمشاجرات مطلب دادې چه شجر یـو دې او ښاخونه جدا جدا کیدوسره تلی دی. جرړه ئی هم یو اسلام دې. مونږ لـه پکاردی چه کلمه الله تعالی دَ دغـه مقدس وینونه زمونږ لاسونه بچ کړی دی نوچه مونږ خپلې ژبې هم بچ کړو او پخپله جج او قاضی جوړیدو سره صحابه کرام دَ خپل عدالت پـه کچهرو کښې راوستلوسره اونـه دروو. لکه څنګه چه مودودی صاحب خلافت اوملوکیت کښې بې ځایـه دَ جج جوړیدو کوشش کړې دې او صحابه کرام ئی پـه خپل عدالت کښې پیش کړی دی نو پـه هغوی باندې ئی قلم چلولې دې.

[۵۲۸۶] د فتنو په زمانه کښې د ځان له اوسيدو فضيلت

۵۲۸۶-(۳)[۸] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: قَالَ-قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ [۳] يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ، [۴] يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو سعيد رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] ډير نزدې داسې زمانه راتلونکې ده، چې د يو مسلمان د پاره د هغه بهترين مال به بزې (چيلۍ) وي [۳] چې هغه اخستو سره غره ته يا د باران وريدو ځاى ته لاړ شى [۴] او د فتنونه په تښتيدو سره خپله لمن بچ کړي (بخاري)

حل اللغات:- ① يُوشِكُ: دَ افعال مقاربه نه دي دَ قريب او نزدې په معنى کښې دې ② شَعَف: دَ شعفة جمع ده دَغر څوکې ته وائى مراد ترې نه غارې ته کيدل دى. ③ الْقَطْر: باران.

تسهيلات:

قوله: يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ:

خير مال المسلم په نحوى ترکيب هرې اقوال: ① دلته «خيرمال المسلم» منصوب دې.کوم چه د «يكون» خبر واقع شوې دې. او «غنم...» اسم دې.ددې وجې مرفوع دې.

② دبخارى د اصيلى په نسخه کښې ددې عکس دې. يعنى «خير» د اسم په وجه مرفوع دې.او«غنماً» منصوب دې.ځکه چه د «يكون» دپاره خبر واقع شوې دې.

③ ابن مالك فرمائى چه دلته «خير» او«غنم» دواړه مبتدا او خبر دى.او مرفوع هم ونيلى شى.په دې صورت کښې به د «يكون» ضمير ،ضميرشان وى.

حافظ رحمه الله فرمائى چه دا نحوى توجيه خو کيدې شى.خوداسې روايت منقول نه دى.(۱۶)

قوله: وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ:

دغنم دتخصيص وجه: دچيلۍ تخصيص ددې وجې شوې دې.چه چيلۍ يو داسې ځناور دې. چه «سهل الانقياد» وى.په دې کښې عاجزى وى.چه دې سره تعلق ساتى. په ده کښې به عاجزى پيدا کيږى. اوچيلۍ په بوتلو کښې هم سپکه ده.اوانسان که دا اوچته کړى. نو غرته لاړ شى.اوخلوت نشينى اختيارولې شى.بيا په چيلۍ کښې خصوصى خبره دا ده.چه

(۱۵) اخرجه البخارى فى كتاب الإيمان/باب: من الدين الفرار من الفتن (رقم-۱۹) وابوداود فى كتاب الأدب/باب فى قتل الذر (رقم-۵۲۶۷) والنسائى فى كتاب الإيمان وشرائعه/باب الفرار بالدين من الفتن (رقم-۵۰۳۶) وابن ماجه فى كتاب الفتن/باب العزلة (رقم-۳۹۸۰) واحمد فى المسند:۲/۶

(۱۶) المصدرالسابق)_

دا «کثیرالمنفعة»ده.او «قلیل المؤنة»ده.که دې دپاره ته د دانې او ګیاه انتظام اونکړې شي.نو هم دا اخواه دیخواه ګرځي.او ګذاره کوي.بیا ددې پې د غذا او د مشروب دواړه کار ورکوي. اوددې ویخته په جامو کښې په کارراځي .ددې نه علاوه د چیلۍ نسل هم زیات وي.دغذا دپاره دیوې چیلۍ ذبح کول هم آسان دی.په خلاف د اوښ .ځکه چه په دې کښې آساني نشته.(۱۷)

قوله: يَفِرُّبِدِينِهِ مِنْ الْفِتَنِ:

د بدينه من الفتن ترکیب: «بدینه» کښې «باء» سببیه ده.او «من الفتن» کښې «من» ابتدائیه دي.(۱۸)او مطلب دا دې.چه کوم کس د دین د حفاظت دپاره اوتختي.

د فتن څه مراد: دا خبره یاد ساتل پکار دی.چه د «فتن» نه مراد په عرف د شریعت کښې دادې.چه د دیني امورو مخالفت عام شي.اود دین حفاظت ګران شي. اوددې اسباب او ذرائع مفقود شي.نو کمزورو ته اجازت دې.چه هغوی د دین د حفاظت دپاره اوتختي.(۱۹)

تنبیه: دا خبره ضرور په ذهن کښې کینوئ.چه دلته د رهبانیت تعلیم نشي ورکولي .ځکه چه دا رهبانیت خو یو بدعت وو.کوم چه نصاراؤ پخپله ایجاد کړې وو.خو بیا ئې د هغې صحیح حق ادا نکړلو، .اوهغه ئې پوره نکړې شو.

رهبانیت په حقیقت کښې د حضرات انبیاء علیهم السلام د اسوه حسنه نه خلاف دې. پیغمبرانو علیهم السلام به په آبادوکښې ژوند تیرول.اوپه آبادوکښې به اوسیدل.اودخلقو د اصلاح کوشش به ئې کول.هغوی نه دځنګل لار اختیار کړې وه .اونه ئې د غر سوکه خپل د استوګنې ځائې جوړ کړې وو.

بیا دا رهباینیت د تخلیق عالم د حکمت سره هم منافي دې.الله تعالی چه انسان پیدا کړې دې. نودې ئې د تجرد ژوند تیرولو اود مخلوق خدا نه د جدا اوسیدو دپاره نه دې پیدا کړې. ځکه چه په دې کښې د نسل انقطاع ده.اونظام عالم درهم برهم کول دی.نو رهبانیت کوم چه نصاری د بدعت په صورت کښې ایجاد کړې وو.د اسلام په نیز خوښ نه دې.دلته چه څه ذکر کولې شي.نو دا وختی او د هنګامي صورت په مناسبت سره دی.که حالات داسې راشي.چه سړې په آبادۍ کښې دخپل دین حفاظت نشي کولې.نو بیا ده ته دعذر او مجبورۍ په وجه اجازت ورکړې شوې دې.چه هغه د دین د حفاظت دپاره «شعف الجبال»یا«مواقع القطر»طرف ته لاړ شي.

---

(۱۷) امداد الباری(۱۴/۴۵۲)_

(۱۸) فتح الباری(۱/۶۹)_

(۱۹) درس بخاری از شیخ الاسلام علامه عثمانی رحمه الله (۱/۱۸۱)_

دفتنې په وخت کښې د عزلت اوجلوت دوه صورتونه: ددې نه پس پوهه شئ چه په حديث باب کښې په دې خبره استدلال شوې دې. چه عزلت او خلوت نشنی د جلوت او اختلاط نه غوره اوبهتره ده.

① که فتنې واقع کيږی.اويوسړې د فتنو په لرې کولو قادر نه وی.نو دده په ذمه د حالاتو په مناسبت سره د فتنو مغلوبه کول او لرې کول فرض عين يا فرض کفايه ده.

②که سړې د هغې په مغلوبه کولوباندې قادر نه وی.نودهغه دپاره تنهائی او خانلوالې اختيارول غوره او افضل دی.(۲۰)

دفتنې نه بغير په عامو حالاتو کښې د عزلت اوجلوت په افضليت کښې مذاهب:

① امام شافعی اود نورو عالمانو ﷺ دا رائې ده.

② دويمه ډله په دې ده.چه عزلت او خانلوالې غوره دې.

داول فريق دلائل: ① دحضرت ابن عمر ﷺ نه مرفوعاً نقل دی.((**المؤمن الذی يخالط الناس ويصبرعلى أذاهم أعظم أجراً من المؤمن الذی لايخالط الناس ولايصبرعلى آذاهم**))(۲۱) يعنی چه په خلقو کښې اوسيدل.اودهغوی تکليف زغمل.اودهغوی اصلاح کول،دا غوره دی.ددې خبرې نه چه انسان تنهائی اختيار کړی.

② په جلوت کښې د مسلمانانو جمع ډيره وی.او د ډيرو فوائدو د حاصلولوموقع په ورته ملاؤ شی.او ډيرداسې د نيکئ کارونه دی.کوم چه په تنهائې او خانلوالی کښې ګران وی.(۲۲)

ددويم فريق دليل:①چه انسان خانله والې اختيار کړی.نوددې په وجه دې د ډيرو ګناهونو نه نجات بيا مومی.د غلط نظرنه بچ شی.د غيبت، الزام ،اوغلطوخبرو کولونه ورته حفاظت ملاؤ شی.دغه شان د ګناه په مجلسونوکښې شرکت او ددې د زياتولود ګناه نه بچ کيږی.يعنی د ګناهګارانو د ډلې د زيادت سبب نه ګرځی.(۲۳)

معتدل قول اودې کښې د عالمانواقوال: ① علامه نووی ﷺ فرمائی.((**والمختار تفضيل الخلطة لمن لايغلب على ظنه الوقوع فی المعاصی**))(۲۴)يعنی چه په خپل دين کښې ورته دنقصان

---

(۲۰) عمدة القاری(۱۱\۱۶۳)_

(۲۱) سنن ابن ماجه كتاب الفتن باب الصبر على البلاء رقم ۴۰۴۳ وجامع الترمذی كتاب صفة القيامة باب ۵۵ رقم ۲۵۰۷)_

(۲۲) المصدرالسابق)_

(۲۳) عمدة القاری(۱۱\۱۶۳)_

(۲۴) فتح الباری(۱۳\۴۳) کتاب الفتن باب التعرب فی الفتنة)_

ويره نه وي.نو اختلاط غوره او افضل دي.

② علامه كرماني رحمه الله فرمائي: ((والمختار في عهدنا تفضيل الإنعزال لندور خلو المحافل من المعاصي))[۲۵] يعني زمونږ په زمانه كښې عزلت اوخانلوالي غوره اوافضل دي.ځكه چه عام مجالس ډير شاذ او نادر د ګناهونو او معاصي نه خالي وي.

③ علامه عيني رحمه الله فرمائي: ((أنا موافق له فيما قال فإن الإختلاط مع الناس في هذا الزمان لا يجلب إلا الشرور))[۲۶] والله أعلم وعلمه أتم وأحكم.

قوله: مَوَاقِعَ الْقَطْرِ:

د مواقع القطر څخه مراد: په غرونوباندې په عام توګه باران كيږي يعني د بارانونو د پريوتلو ځايونه، دا تعميم بعدتخصيص دي. په دې حديث كښې هم د فتنو نه د ځان اومال بچ كولو صورت هم دغه خودلې دې چه دعامو خلقو نه ځان غاړې ته كړې شي

[۵۳۸۷] نبي عليه السلام ته د فتنو متشكل كيدل

۵۳۸۷-(۲۷)[۹] [۱] وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ [۲]: «أَشْرَفَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى أُطُمٍ مِنْ آطَامِ الْمَدِينَةِ، [۳] فَقَالَ: "هَلْ تَرَوْنَ مَا أَرَى؟" [۴] قَالُوا: لَا. [۵] قَالَ: "فَإِنِّي لَأَرَى الْفِتَنَ تَقَعُ خِلَالَ بُيُوتِكُمْ كَوَقْعِ الْمَطَرِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت اسامه ابن زيد وايي، [۲] يوه ورځ رسول الله ﷺ د مديني په يو بلند مقام غونډي باندې وختى او بيا صحابه رضي الله عنهم مخاطب كولو سره [۳] وي فرمايل آيا تاسو هغه شى ويني كوم چې زه يې وينم [۴] صحابه ووجواب وركړو چې نه. [۵] نو حضور ﷺ وفرمايل، حقيقت دادى چې زه هغه فتني وينم چې ستاسو دكورونو په منځ كې داسې وريږي، څرنګه چې باران وريږي. (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: - ① أُطُم: امفرد دې دډې جمع آطام ده. اوچت غر او اوچتې قلعې ته وائى ② خِلَالَ: مينځ. يعنى كورونو كښې دننه

تسهيلات:

قوله: أَشْرَفَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى أُطُمٍ مِنْ آطَامِ الْمَدِينَةِ

د اطام څخه مراد: دلته دا لفظ د يو خاص عمارت دپاره وئيلې شوې دې. دعربو قبائلو دستور وو چه اوس هم د صوبه سرحدد قبائلو دستور دې چه يو اوچت كور جوړوى. په

[۲۵] شرح كرماني (۱۱۱/۱۱)_
[۲۶] عمدة القاري (۱۶۳/۱۱)_
[۲۷]) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب آطام المدينة (رقم-۱۸۷۸) ومسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب نزول الفتن كمواقع القطر (رقم-۹ - (۲۸۸۵) واحمد في المسند:۲۰۰/۵

هغې کښې واړه واړه سوري وي. دا اوچت کور دَ مورچو په توګه استعماليږي. دَ لرې نه دښمن ښکاري نود دغه سورو نه په هغه باندې ډزې کوي. دې ته په پښتو ژبه کښې شنګرئی وائي دَدې پورتنئ حصه دَ پټکي په شان وي.

شيخ عبد الحق رحمه الله دَدې عمارت تعارف اشعة اللمعات کښې داسې کړې دې.

"قصر بلند و بر حصن که بسنگ بنا کرده باشد" يعنې اوچته مانړئي او هره هغه قلعه چه دَ کاڼړو نه جوړه شوې وي. دَمدينې منورې په اطرافو کښې يهوديانو داقسم کورونه جوړ کړي وو. حضورپاك يوه ورځ دَ دغه قلعه ګانو په يوچت باندې لاړو او پوره مدينه ئې اوکتله. [اشعة اللمعات]

قوله: فَإِنِّي لَأَرَى الْفِتَنَ تَقَعُ خِلَالَ بُيُوتِكُمْ كَوَقْعِ الْمَطَرِ:

نبی علیه السلام ته د فتنو ښکاره کيدل: يعنې په کورونو کښې دننه داسې فتنې وينم لکه څنګه چه تيز باران وي يعنې په کثرت سره به فتنې راځي. حضورپاك ته الله تعالی دَ معجزه په توګه دَمستقبل ټولې فتنې اوخودلې.

[۵۲۸۸] دَ قريشو د څو هلکانو په وجه دامت د هلاکيدو پيشنګوئي

۵۲۸۸-(۲۸)[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«هَلَكَةُ أُمَّتِي عَلَى يَدَيْ غِلْمَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وي، يوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] څماد امت هلاکت به د قريشو د څو ځلميانو د لاسه وي.

حل اللغات:- ① غِلْمَةٍ: دَ غلام جمع ده کم عمر لونډان (هلکان).

تسهيلات:

قوله: هَلَكَةُ أُمَّتِي عَلَى يَدَيْ غِلْمَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ:

د هلمان څخه مراد: دې نه مراد هم هغه واقعات دی چه دَ صحابه کرامو په دور کښې شوی وې. لهذا دَامتی نه مراد دَ صحابه کرامو جماعت دې. هم دَ دغه کم عقل هلکانو دَ لاسه حضرت عثمان حضرت علی اوحضرت حسن و حسين رضي الله عنهم شهيدان شوی وو حالانکه هغوی چه دَدې امت په خپله زمانه کښې دَ ټولو نه غوره خلق وو. يزيد، عبيدالله بن زيادو سليمان بن عبدالملك، فاسقان او دَدې قسم نور ناتجربه کار کم عمره هلکانو دَدې امت دَ ټولو نه ښه خلق اووژل.

[۲۸]) اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب علامات النبوة في الإسلام (رقم-۳۶۰۵) واحمد في المسند: ۲/ ۲۸۸

[۵۳۸۹] د قيامت پنځه ورې نښې

۵۳۸۹ -(۲۱) [۱۱] ①وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ، وَيُقْبَضُ الْعِلْمُ، وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ، وَيُلْقَى الشُّحُّ، وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ" ③قَالُوا: وَمَا الْهَرْجُ؟ قَالَ: "الْقَتْلُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②هغه وخت راتلونکی دی کله چې زماني به يوبل ته نزدې شي، علم به پورته کړل شي، فتنې به رابنکاره شي، په سينو کې به بخل واچول شي او هرج به زيات شي. ③صحابه رضي الله عنهم په دي اوريدو سره عرض وکړو، چې هرج څه څيز دی حضور ﷺ وفرمايل قتل (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: - ①الشُّحُّ: بخل، شومتيا ، ②الْهَرْجُ: فتنه، فساد قتلونو اوګډوډ وينې توئيدلو کښې اخته کيدو ته الهرج وائی.

تسهيلات:

قوله: وَحَتَّى يُقْبَضَ الْعِلْمُ:

دعلم قبض کيدل: يعنی علم دين اوعلم دَ شريعت به اوچت کړې شی. دَدې صورت به داوی چه لوئی لوئی علماء به دَ مرګ په ذريعه سره اوچت کړې شی

قوله: وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ:

دتقارب الزمان په مفهوم کښې درې اقوال: ① فاصلې به نيزدې شی. دَ کال پيدل سفربه په ګهينټو جهازکښې کولې شی

② يعنی زمانه به قيامت سره نيزدې شی

③ کال به دَمياشتې ځائی له راشی مياشت دَ هفتې ځائی لـه او هفتـه دَ ورځې ځائی لـه او ورځ به دَ يوبخری ځائی له راشی.

قوله: وَيَكْثُرَ الْهَرْجُ وَهُوَ الْقَتْلُ:

د مرګونوزياتيدل: پـه ماضـی قريـب کـښې هـم ددې نمونـه ملاويـږی. تاسـو ګـوری پـه پاکـستان اوپـه افغانـستان کـښې د دهمـاکو کثرت وو. يوسړې به د کور څخه روغ رمټ اووتلو اوپـه بـم کـښې بـه مړشو. د پاکـستان د اعداد او شـمار مطابق پـه پاکـستان کـښې اوويـا زره کـسان مړه شـوی دی. اوافغانـستان کـښې خو د امريکې د بمبـاری اوهلتـه پـه عوامی ځايونوکښې د بمونو په خلاصيدو سره د مرګونو شمار ددې څخه هم زيات دې. اوپته نشته چې قيامت ته نزدې به بيا د مرګونو سلسله څومره زياته وی.

[۲۱]) اخرجه البخاری فی کتاب العلم/باب من أجاب الفتيا بإشارة اليد والرأس (رقم-۸۵)ومسلم فی کتاب القدر/باب رفع العلم وقبضه وظهور الجهل والفتن فی آخر الزمان(رقم-۱۱ - (۱۵۷)وابوداود فی کتاب الترجل /باب ذکر الفتن ودلائلها(رقم-۴۲۵۵) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب ذهاب القرآن والعلم (رقم-۴۰۵۲) واحمد فی المسند:۴۰۲/۱

[۵۳۹۰] قاتل او مقتول دواړه په اور کښې

۵۳۹۰ -(۳۰)[۱۲] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَأْتِيَ عَلَى النَّاسِ يَوْمٌ لَا يَدْرِي الْقَاتِلُ فِيمَ قَتَلَ؟ وَلَا الْمَقْتُولُ فِيمَ قُتِلَ؟ " [۳] فَقِيلَ: كَيْفَ يَكُونُ ذٰلِكَ؟ [۴] قَالَ: " الْهَرْجُ، الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] قسم دی په هغه پاك ذات چې د هغه په لاس کې خما ساه ده پوره دنيا به هغه وخت پورې نه فنا کېږي. ترڅو پورې چې خلقوباندې داسې ورځ يعنې بدامني او انتشار او د فتنې د شدت او فساد شدت انتهاء نه وي هغه دور را نشي چې په هغه کې به نه قاتل ته دا معلومه وي. چې هغه مقتول ولې قتل کړی، اونه به مقتول ته يا د هغه ورثاء او متعلقينو ته به دا معلومه وي چې هغه ولې قتل شوی دی [۳] پوښتنه وشوه چې داسې به ولې وي يعنې د دې وجه به څه وي، چې د قتل سبب نه قاتل ته معلوم او نه مقتول ته معلوم وی [۴] حضور ﷺ وفرمايل د هرج په سبب، او قاتل او مقتول دواړه به دوزخ ته ځي (مسلم)

حل اللغات:- ① الْهَرْجُ: فتنه، فساد قتلونو اوکډوډ وينې توئيدلو کښې اخته کيدو ته الهرج وائي

تسهيلات: قوله: الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ

دمقتول د جنهمي کيدو وجه: قاتل خو به دقتل دَ وجې نه دوزخ ته لاړشي ليکن مقتول به ولې دوزخ ته ځي؟ نودَې وضاحت هم په احاديثوکښې دي چه دَ مقتول پخه اراده وه چه زه قاتل قتل کړم مګر قاتل په قتل کښې ړومبې والې اوکړو لهذا مقتول به په خپل غلط عزم او ارادې سره دوزخ ته ځي.

[۵۳۹۱] دَ فتنوپه ماحول کښې دَ عبادت فضيلت

۵۳۹۱ -(۳۱)[۱۳] [۱] وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «الْعِبَادَةُ فِي الْهَرْجِ كَهِجْرَةٍ إِلَيَّ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت معقل بن يسار ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د فتنې په زمانه کې او د مسلمانانو په خپل منځ کې دجګړو او قتل وقتال په وخت کې په پوره استقامت او مداومت سره په دين باندې دقائم اوسيدلو اود عبادت او د نيکي کولو ثواب ماطرف ته دهجرت کولو د ثواب په شان دی (مسلم)

[۳۰]) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتی یمر الرجل بقبر الرجل. فیتمنی أن یکون مکان المیت من البلاء (رقم-۵۶ - (۲۹۰۸)

[۳۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب فضل العبادة فی الهرج (رقم-۱۳۰ - (۲۹۴۸) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الهرج والعبادة فیه (رقم-۲۲۰۱) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الوقوف عند الشبهات (رقم-۳۹۸۵) واحمد فی المسند:۲۵/۵

تسهيلات:

قوله: العِبَادَةُ فِي الهَرْجِ كَهِجْرَةٍ إِلَيَّ:

دفتنو په زمانه کښې دعبادت عظمت: يعنى دَ فتنو په دوركښې او دَ قتلونو په زمانه کښې دَ قتل نه تختيدونکې او عبادت کښې مشغوليدونکې به دومره لوئى ثواب حاصل کړى لکه څنګه چه دَ فتح مکه نه مخکښې دَمکې نه مدينې طرف ته هجرت کولو کښې لوئى ثواب وو په دې حديث کښې دَ فتنو په زمانه کښې دَ فتنونه جدا کيدو سره خپل عبادت کښې دَمشغوليدو ترغيب ورکړې شوې دې.

[۵۲۹۲] دهر راتلونکې دور د مخکنى دور څخه خرابيدل

۵۲۹۳-(۳)[۱۳] [۱] وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَدِيٍّ، قَالَ [۲]: «أَتَيْنَا أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ مَا نَلْقَى مِنَ الحَجَّاجِ، [۳] فَقَالَ: "اصْبِرُوا، فَإِنَّهُ لَا يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ إِلَّا الَّذِي بَعْدَهُ أَشَرُّ مِنْهُ حَتَّى تَلْقَوْا رَبَّكُمْ"، [۴] سَمِعْتُهُ مِنْ نَبِيِّكُمْ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -». رَوَاهُ البُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت زبير ابن عدى تابعي وايي [۲] يوه ورځ مونږ خلق د حضرت انس رضي الله عنه په خدمت کې حاضرشو، او هغه ته مو د حجاج ابن يوسف د مظالمو او ايذا رسانيو شکايت وکی [۳] هغه وفرمايل صبر کوئ، او د ضبط او تحمل نه کار اخلی، څکه چې آئنده کومه زمانه راځي، هغه به د تيري زماني نه بدتره وي ،تاسو ته څه معلومه ده. چې راتلونکې زمانه کې به څرنګه حکمرانان او عمال وي، چې شايد د حجاج نه به هم زيات ظالم او جابر ثابت شي، څکه تاسو د حجاج په مظالمو او ايذاء رسانيو باندې صبر کوي، تردې چې تاسو د آخرت په ورځ دخپل پروردګار سره ملاقات وکی، او بيا تاسو وګورى چې ستاسو پروردګار ستاسو ظالمان په څرنګه عذاب کې مبتلا کوي، [۴] دا خبره ماستاسو د پيغمبر صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي ده. (بخاري)

تسهيلات:

قوله: فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ مَا نَلْقَى مِنَ الحَجَّاجِ:

دحجاج څخه مراد: دې څخه حجاج بن يوسف ثقفى مراددې حجاج دې دَ عبد الملك بن مروان د طرفه ګورنروو روستو بيا پخپله بادشاه جوړشو دَ بيت الله محاصره کولو سره ئى په هغې باندې په منجنيق ګانړې وُرول دَ بيت الله پردې اوسوزيدې بيائى حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه شهيد کړو په آخره کښې ئى سعيدبن جبير رحمه الله اووژلو.

دحجاج ظلمونه: حجاج دَدې امت يودير لوئى ظالم تيرشوې دې چاچه يو لاکه او شل زره انسانان بې ګناه تړلوسره قتل کړى دى په جنګونو کښې وژلې شوى دَدې نه علاوه دى.

[۲۲]) اخرجه البخاري في كتاب الفتن/باب: لا يأتي زمان إلا الذي بعده شر منه (رقم-۷۰۶۸) واحمد في المسند: ۱۷۹/۳

د پيدائش په وخت د پيږ په حالي د چيلي شكل: د پيدائش په وخت ئې د مور پيشې نه شکل شيطان د هغه مور ته وئيل په ده باندې د چيلئي وينه اوڅکه. مورئي هم داسې اوکړه نو هم د هغه وخت نه د وينې شوقين شو وئيل به ئې چه خوراك هغه وخت مزه نه راکوی ترکومې چه د دې نه مخکښې قتل اونه کړم

د حجاج مرګ: بيا بيمارشو په خيټه کښې ئې چينجي اوشو خپله خيټه به ئې وهله يا به ئې اور ته نيزدې کوله دې د پاره چه د هغه د چينجو تکونه ورکول بند شي يو سړې ئې په جمات کښې صرف په دې وجه ذبح کړو چه هغه ولې په جمات کښې اوده کيږی

د حجاج د جنازې موقع: د مرګ نه پس حضرت حسن بصری رحمه الله ئې د جنازې مونځ اوکړو هغه فرمائيلي چه هغه د مرګ په وخت د الله تعالی نه زبردسته معافی غوښتلې ده څه لرې ده چه معاف کړې شی. د ډيرو صحابه کرامو رضي الله عنهم قاتل دې

قوله: فَإِنَّهُ لَا يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ إِلَّا الَّذِي بَعْدَهُ أَشَرُّ مِنْهُ:

د راتلونکې حکمران د مخکنی څخه بدتر کيدل: په دې حديث کښې حضرت انس رضي الله عنه د خلقو په شکايت باندې هم دغه فرمائی چه صبر کوئی څکه چه هريو راتلونکې بادشاه د مخکينی نه بدتر وی وئيلی شی چه ابومسلم خراسانی د دې نه زيات قتلونه کړی دی مګر حجاج زيات شرير وو په حديث کښې هغه د مبير يعنی د هلاکو په نوم باندې يادکړې شوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۲۹۳] د هر فتنه ذکر باره کښې د نبی عليه السلام پيشنګوئی

(۲۳)[۱۵] [۱] «عَنْ حُذَيْفَةَ - رضی الله عنه - قَالَ [۲]: وَاللَّهِ مَا أَدْرِي أَنَسِيَ أَصْحَابِي أَمْ تَنَاسَوْا؟ [۳] وَاللَّهِ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ قَائِدِ فِتْنَةٍ إِلَى أَنْ تَنْقَضِيَ الدُّنْيَا يَبْلُغُ مَنْ مَعَهُ " ثَلَاثَمِائَةٍ فَصَاعِدًا " [۴] إِلَّا قَدْ سَمَّاهُ لَنَا بِاسْمِهِ وَاسْمِ أَبِيهِ وَاسْمِ قَبِيلَتِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت حذيفه رضي الله عنه وايي، [۲] زه په الله قسم اخستو سره وايم چې ماته نه ده معلومه چې څما دا ملګری يعنی صحابه کرام نه هير شوی دی، يا هير خو تري نه دی خو د خپل بعضې مصلحتونو په وجه داسې ظاهر وي لکه چې هغوئ هيرکړی دی، [۳] قسم په الله حضور صلی الله عليه وسلم هيڅ داسې يوفتنه بازد ذکر کولو نه نه وو پريښې چې ددنيا دختميدو پورې پيدا کيدونکی دی او د هغه د تابعدارو تعداد ددرې سوه پورې يادرې سوه نه زيات پورې وي، [۴] حضور صلی الله عليه وسلم د هرفتنه بازد ذکر کولو په وخت مونږ ته د هغه اود هغه د پلار او د هغه د قبيلې پورې نوم ښودلی وو . (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① فَصَاعِدًا: يا ددې نه زيات.

(۲۳) اخرجه ابوداود فی کتاب الترجل /باب ذکر الفتن ودلائلها (رقم-۴۲۴۳)

تسهيلات:

قوله: وَاللّٰهِ مَا أَدْرِي أَنَسِيَ أَصْحَابِي أَمْ تَنَاسَوْا؟:

د مذكوره جملې مطلب: يعنى والله زه نه شم وئيلې چه زمونږ ملګرو د دې قائدينو نومونه هير كړى دى او كه د څه مصلحت په وجه باندې خپله هيره ښكاره كوى يعنى ددې په ښكاره كولو كښې فتنه ګڼړى څكه چې نومونه نه ښكاره كوى

قوله: مَا تَرَكَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مِنْ قَائِدِ فِتْنَةٍ إِلَى أَنْ تَنْقَضِيَ الدُّنْيَا:

د قيامته پورې د فتنه ګر ليډرانو خودل: يعنى قيامت به ترهغه وخته پورې نه راځى تر كومې پورې چه لوئى لوئى فساديان او دَ فتنومشران راښكاره شوې نه وى چنانچه حضورپاك دَ قيامته پورې راتلونكو دَ فتنو دَمشرانو ذكر كړې دې

قوله: يَبْلُغُ مَنْ مَعَهُ "ثَلَاثَمِائَةٍ فَصَاعِدًا:

د فتنګرو فساديانو د تابعدارو شمار: دَ دغه فتنو خورونكو مشرانونه به هريو سره كم نه كم درې سوا كسان وى څكه چه دَ دريو سوو تعداد كثير مقدار دې. په كومو سره چه به دَ دغه فتنې دَ مشر فتنه په آسانئى سره ترقى كوى. كه دَ يوفتنه خورونكى دَ تابعدارانو شمير دَدې نه كم وى نوهغه به هم دَ فتنې مشر وى مګر په شرارت اوفساد كښې به دومره طاقتورنه وى څومره چه به دَ دريو سوو كسانو مشر وى. په دې وجه په حديث كښې دَدريو سوو ذكركړې شوې دې. حضورپاك نوم په نوم خودلى وو مګر دَمصلحت دَ وجې نې روستو راتلونكو نومونه وانخستل.

د فتنګرو عام مصداق: دَ ګمراهئى اوبدعتونو طرف ته رابلونكى لوئى لوئى ليډران به كم نه كم درې سوا وى. بيا دَهغوى څه خاص تعين نشته دې دا ليډران به دَعلماء سوء او عامو خلقو دواړونه وى. چنانچه څومره باطل فرقې چه دې وخت كښې دى دَهغوى يوبانى او قائد تيرشوې دې لكه قاديانى، پرويزى، ذكرى، آغاخانى، بريلوى. دهريه او رافضى وغيره وغيره

[٥٣٩٤] د امت په خپل مينځ كښې د قتل قتال شروع كيدو پيشنګوئى

٥٣٩٤-(٣١)[١٢] ①وَعَنْ ثَوْبَانَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②"«إِنَّمَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الْأَئِمَّةَ الْمُضِلِّينَ، ③وَإِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

[٣١]) اخرجه ابوداود فى كتاب الترجل /باب ذكر الفتن ودلائلها(رقم-٤٢٥٢) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الأئمة المضلين (رقم-٢٢٢٩)وابن ماجه فى كتاب الفتن/باب ما يكون من الفتن (رقم-٣٩٥٢) واحمد فى المسند: ٢٧٨/٥

ترجمه: [۱] او حضرت ثوبان ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] حقيقت دا دی چې زه د خپل امت په حق کې د کومو خلقو نه زيات ويريږم، هغه گمراه کونکی امامان دی. [۳] يادلري هر کله چې خما په امت کې يو وار توره چليدل شروع شي، نو بيا به ترقيامته پورې نه بنديږي (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① ائمه دَ امام جمع ده او امام دَ قوم او دَ جماعت مشر او پيشوا او هغه سړی ته وائی چه خلق دَخپل قول او فعل يا دَ خپلې عقيدې دَ اتباع طرف ته راغواړی. ② اَلْمُضِلِّيْنَ: گمراه کونکی.

تسهیلات:

قوله: إِنَّمَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الْأَئِمَّةَ الْمُضِلِّينَ:

دمضلين څخه مراد: د مضلين څخه مراد اهل بدعت دی يا داسې ذمه دار خلق مراد دی کوم چه په فسق او فجورکښې اخته دی. ددې حديث څخه معلومه شوه چې مسلمانانو لره دَ اصلاح او تباهئ طرف ته بوتلونکې اصل څيز قيادت اومشری ده.

قوله: وَإِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ:

د وضع السيف مفهوم: چه کله په دوو ډلوکښې اختلاف پيدا شی اودواړه ډلې دغه اختلاف لره په خپل مينځ کښې دَ مصالحت په ذريعه په افهام اوتفهيم سره دَحل کولو په ځائی دَتورې په زور سره ختمول غواړی نو په دغه جنگ کښې چه کومې فتنې راؤچتيږی هغه به دَ قيامته پورې يخې نه شی. اومسلمانان به چرته نا چرته يو بل سره جنگيږی په دې وجه اهل علم او مؤمنان دې په خپل مينځ کښې دَ اختلاف کولو په صورت کښې خيال کوی چه چرته دَدې حديث مصداق خو نه جوړيږی.

[۵۳۹۵] دَ خلافت راشده دَ مودې پيشنگوئی

[۱۷] - (۳۵) [۱] وَعَنْ سَفِينَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " [۲] «الْخِلَافَةُ ثَلَاثُونَ سَنَةً، ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا» ". [۳] ثُمَّ يَقُولُ سَفِينَةُ: أَمْسِكْ، خِلَافَةَ أَبِي بَكْرٍ سَنَتَيْنِ، وَخِلَافَةَ عُمَرَ عَشَرَةً، وَعُثْمَانَ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ، وَعَلِيٍّ سِتَّةً. رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] وحضرت سفينه ﷛ چې دحضور ﷺ ازاد کرده غلام وو وايي ما درسول الله ﷺ نه واوريدل [۲] د خلافت زمانه به ديرش کاله وي دي نه پس به خلافت بادشاهت کې بدل شي [۳] حضرت سفينه دا حديث بيانولو نه پس راوي ته يا عام خلق مخاطب کولو سره اوويل چې حساب کولو سره وگوری حضور ﷺ چې دديرش کالو دومره زمانه بيان فرمايلي ده هغه داسې ده چې دحضرت ابوبکر ﷛ دخلافت زمانه دوه کاله دحضرت

[35]) اخرجه ابوداود فى كتاب الترجل /باب ذكر الفتن ودلائلها(رقم-۴۲۴۶) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الخلافة (رقم-۲۲۲۶) واحمد فى المسند: ۵/۲۲۰

عمر رضي الله عنه دخلافت زمانه لس كاله دحضرت عثمان دخلافت زمانه دولس كاله اودحضرت علي رضي الله عنه دخلافت زمانه شپږ كاله وه (احمد ترمذي ابوداؤد).

حل اللغات: - ① مُلْكًا: خلافت او بادشاهت. ② أَمْسِكْ: اوشميره او محفوظ ئې كړه

تسهيلات:

قوله: الْخِلَافَةُ ثَلَاثُونَ سَنَةً، ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا:

حضرت سفينه رضي الله عنه دَ رسول الله ﷺ غلام دې. هغه دلته په شميركښې دَ كالونو ذكركړې دې اودَ مياشتوذكرئې نه دې كړې.

دخلفاء راشدين د خلافت موده: ① دابوبكررضي الله عنه دخلافت موده دوه كاله درې مياشتې او لس ورځې وه.

② دخلافت فاروقي موده لس كاله شپږ مياشتې اته ورځې وه.

③ دخلافت عثماني موده يوولس كاله يوولس مياشتې نهه ورځې وه

④ د خلافت حيدري موده ځلوركاله نهه مياشتې او اووه ورځې وه.

بعضې حضرات د ورځو ذكر كړې دې.اوبيا ئې د لږ فرق سره ذكر كړې دې نو چې په تيرشو كالو كښې كوم كمې وو. هغه ئې د حضرت حسن په موده خلافت سره پوره كړې دې اوهغه ئې هم په خلفاء راشدينو كښې شمارلې دې.

اشكال: د قابل قدر شخصياتو(ارباب حل وعقد) په دې باندې اتفاق دې چې د خلفاء اربعه څخه بعضې نورحكمرانان هم په خلفاء كښې شمارلې شي.لكه په بنو اميه كښې حضرت عمر بن عبدالعزيزرحمه الله دغه شان بعضې په خلفاء عباسيه كښې هم په خلفاء كښې شمارلې شي.

نوبيا خوموده د خلافت ددېرشو كالو څخه زياتيږي؟

د اشكال جواب: په حديث كښې داسې خلافت مراد دې چې په هغې كښې دحق مخالفت هډو شوې نه وې. اودا صفت صرف د خلفاء اربعه په خلافت كښې دې.روسته دبعضې خلفاؤ په دور كښې خلافت كښې دا صفت كله فوت شوې هم دې.ددې وجې اشكال نه واردیږي.

دخلافت د منعقد كولو ځلور طريقې: ① چې دحل اوعقد خاوندان د بيعت په ذريعه خليفه مقرر كړي دحضرت ابوبكر رضي الله عنه خلافت په دې طريقه منعقد شوې وو.

② چې موجوده خليفه په خپل ژوند كښې راروان خليفه نامدار كړي.دحضرت عمررضي الله عنه خلافت په دې طريقه منعقد شوې وو.

③ چې خليفه د خلافت دپاره يوه ډله مقرر كړي اودا حكم اوكړي چې هم په دې ډله كښې

یو کس خلیفه مقرر کړئ د حضرت عثمان رضی الله عنه خلافت په دې طریقه منعقد شوې وو ④ استعلاء (تغلب) یعنی داسې کس چې د خلافت ټول شرطونه په هغه کښې موجود وی او په خلقو غلبه اوکړی او حکومت قبضه کړی نو په دې سره هم خلافت منعقد کیږی د حضرت علی رضی الله عنه خلافت هم داسې منعقد شوې وو. خود زیاتو عالمانو رائې دا ده چې حضرت علی رضی الله عنه د هغه مهاجرینو او انصارو په بیعت سره خلیفه جوړ شوې وو کوم چې په هغه وخت کښې په مدینه کښې موجود وو یعنی په اولنی طریقه یعنی د مشورې په ذریعه د دوی خلافت منعقد شوې وو خو دا رائې ضعیفه ده

[۵۳۹۶] د شر څخه د بچ کیدو یوه طریقه

۵۳۹۶-(۳۶) [۱۸] ۱ «وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ ۲: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَيَكُونُ بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ شَرٌّ كَمَا كَانَ قَبْلَهُ شَرٌّ؟ ۳ قَالَ: "نَعَمْ". ۴ قُلْتُ: فَمَا الْعِصْمَةُ؟ ۵ قَالَ: "السَّيْفُ". ۶ قُلْتُ: وَهَلْ بَعْدَ السَّيْفِ بَقِيَّةٌ؟ ۷ قَالَ "نَعَمْ" "تَكُونُ إِمَارَةٌ أَقْذَاءٍ، وَهُدْنَةٌ عَلَى دَخَنٍ".

ترجمه: ۱ او حضرت حذیفه رضی الله عنه وایي، ۲ یوه ورځ ما عرض وکړو. یارسول الله! آیا ددې خیر نه پس به شر پیدا کیږي څرنګه چې د اوس نه مخکې د شر دور دوره وه یعنی څرنګه چې ستاسو د پیغمبری نه مخکې د کفر او شرك او بدو برائیانو تیاره خوره شوې وه. او بیا ستاسو نور نبوت د بدی او خرابي تیاره ختمولو سره د نیکي او خیر ښیګیړي رڼا خوره کړله دغه شان آیا د خیر ښیګیړي ددې زمانې نه پس به د شر او بدی زمانه راځي ۳ حضور ﷺ وفرمایل هو د دې نه پس به بیا د بدی او خرابی زمانه راځي، ۴ ما عرض وکړو بیا هغه وخت د بچ کیدو به څه سبیل (لار) وي ۵ حضور ﷺ وفرمایل توره؛ ۶ ما عرض وکړو بیا ددې تورې نه پس به اهل اسلام باقي وي، ۷ حضور ﷺ وفرمایل هو امارت یعنی حکومت او سلطنت خو به قائم وي، لیکن د هغه بنیاد به په فساد وي. او د صلح بنیاد به په کدورت وي

حل اللغات: - ① الْعِصْمَةُ: د بچ کیدو لار. ② أَقْذَاءٍ: قذی په سترګه کښې پریوتې دکی ته وائی دلته د زړه خیری او خفګانونه مراد دی ③ هُدْنَةٌ: صلح. ④ دَخَنٍ: لوږې. یعنی د زړه خفګان او دشمنی.

۱ قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ ۲ قَالَ: "ثُمَّ يَنْشَأُ دُعَاةُ الضَّلَالِ، فَإِنْ كَانَ لِلَّهِ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةٌ جَلَدَ ظَهْرَكَ، وَأَخَذَ مَالَكَ، فَأَطِعْهُ، وَإِلَّا فَمُتْ وَأَنْتَ عَاضٌّ عَلَى جِذْلِ شَجَرَةٍ". ۳ قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ ۴ قَالَ: "ثُمَّ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ بَعْدَ ذَلِكَ، مَعَهُ نَهْرٌ وَنَارٌ، ۵ فَمَنْ وَقَعَ فِي نَارِهِ، وَجَبَ أَجْرُهُ، وَحُطَّ وِزْرُهُ، ۶ وَمَنْ وَقَعَ فِي نَهْرِهِ، وَجَبَ وِزْرُهُ، وَحُطَّ أَجْرُهُ". ۷ قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ ۸ قَالَ: ثُمَّ يُنْتَجُ الْمُهْرُ فَلَا يُرْكَبُ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ".

[۳۶]) اخرجه ابوداود فی کتاب الترجل /باب ذکر الفتن ودلائلها(رقم-۴۲۴۴) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب العزلة (رقم-۳۹۸۱) واحمد فی المسند:۵/۴۰۳

ترجمه: [۱] ما عرض وكړو بيا د دې نه پس به څه كېږي، [۲] حضور ﷺ وفرمايل د دې نه پس به گمراهي طرف ته بلونكي خلق پيدا شي كه هغه وخت په زمكه څوك خليفه يعنى امير او بادشاه وي، كه هغه تا په شاء ولي نه وهي او ستا مال ولي نه اخلي يعنى هغه امير او بادشاه اگر كه په ناحقه تا تنگوي په تاظلم وستم كوي او ستا مال او اسباب په زور اخلي ليكن ته د هغه د اطاعت نه مخ مه گرځوه ترڅوپوري چې تاته د الله او د هغه د رسول د حكم خلاف د څه كار كولو ونه وايي اودا حكم ځكه وركول شوى دى، چې دين وملت كې انتشار او مملكت كې بد امني او فساد پيدا نشي، او كه څوك يعنى امير او بادشاه نه وي، نو ستا مرگ په داسې حالت كې راتلل پكار دى چې ته د يوي ونې په ويخ كې پناه واخلې [۳] ما عرض وكړو بيا د دې نه پس به څه وي، [۴] حضور ﷺ وفرمايل د دې نه پس به دنيا نوري زياتي فتني، انتشار او خرابي طرف ته مخكې كېږي، او مسلمانان به په تدريج د دين او دنياپه اعتبار سره مخ په زوال ځي، تردي چې د حضرت مهدي زمانه كې به دجال ښكاره شي، چې د هغه سره به د اوبو نهر وي، او د اور خندق كنده به وي [۵] نو كوم سړى چې په هغه اور كې ولوېږي، د هغه اجر به ثابت او قائم وي، او د هغه گناه چې هغه مخكې كړي وي هغه به ځني لري شي يعنى ورژېږي [۶] او كوم سړى چې په هغه نهر كې ولوېږي د هغه گناه به د هغه د پاره بوج جوړ شي او هغه چې كوم نيك كارونه كړي وي هغه به ختم شي [۷] حضرت حذيفه ﷺ وايي ما عرض وكړو، د دې نه پس به څه كېږي [۸] حضور ﷺ وفرمايل داسې بچى به پيدا شي چې په هغه به سواري نه شوې چې قيامت به قائم شي

حل اللغات: - ⑤ دُعَاةُ الضَّلَالِ: گمراهۍ ته رابلونكى، ⑥ عَاضٌ: په غاښونو باندې كلك نيول. ⑦ جَذْلٌ: دَ ونې جرړه او تنه. ⑧ حُطَّ: لري به شي، ⑨ يُنْتَجُ: بچى به پيدا شي

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: "هُدْنَةٌ عَلَى دَخَنٍ، وَجَمَاعَةٌ عَلَى أَقْذَاءٍ"، [۲] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! الْهُدْنَةُ عَلَى الدَّخَنِ مَا هِيَ؟ [۳] قَالَ: "لَا تَرْجِعُ قُلُوبُ أَقْوَامٍ عَلَى الَّذِي كَانَتْ عَلَيْهِ"، [۴] قُلْتُ: بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ شَرٌّ؟ [۵] قَالَ: "فِتْنَةٌ عَمْيَاءُ صَمَّاءُ، عَلَيْهَا دُعَاةٌ عَلَى أَبْوَابِ النَّارِ، فَإِنْ مُتَّ يَا حُذَيْفَةُ! وَأَنْتَ عَاضٌّ عَلَى جَذْلٍ خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَتَّبِعَ أَحَدًا مِنْهُمْ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او په يوه روايت كې ددي په ځاي چې امارت خوبه هم شي، ليكن د هغه بنياد به فساد باندې وي الخ داسې دى، چې حضور ﷺ وفرمايل كدورت باندې به صلح وي، يعنى هغه وخت به خلق په ښكاره خو د صلح صفائي لار اختيار كړي ليكن د هغوئ په باطن كې به كدورت وي، او هغوئ به يوي معاهدي او فيصله باندې د زړونو ناخوښي او رنجش سره متفق او مجتمع وي [۲] ما عرض وكړو يارسول الله! كدورت باندې د صلح نه څه مراد دى، [۳] حضور ﷺ وفرمايل د دې مطلب دادى چې د خلقو زړونه به په هغه حالت

نه وي چې په هغه مخکې وو، یعنی څرنګه چې د اسلام ابتدائي زمانه کې د خلقو زړونه د بغض او کینې نه صاف وه، چې کومه خبره به یې کوله یا کومه معاهده به یې کوله په هغه کې به صدق دین شامل وو، دغه شان پاك وصاف زړه به د هغه وخت خلقو کې نه وي چې په ژبې سره به یوځه وایي او معاهده به یوځه کوي او په زړه کې به یې بل څه وي یا دامراد دی چې په خلقو کې باهمي صلح صفائي کیدو باوجود د هغوئ زړونه به داسې پاك وصاف نه وي، څرنګه چې د یوبل خلاف بغض او عناد کې مبتلا کیدو او کدورت پیدا کیدو نه مخکې وو. [۴]ما عرض وکړو آیا دې خیر نه پس چې په خپلو کې د نفاق او کدورت باوجود مذکوره باهمي مصالحت او مفاهمت په صورت کې ښکاره شي اګر که چې د بدی دآمیزش نه پوره پوره طور سره صاف نه وي، د څه بلې بدی ظهوربه وي. [۵]حضور ﷺ وفرمایل هو د دې نه پس به بیا د بدی ظهور وي، او هغه به د یوې داسې لوی فتنې په صورت کې وي، چې ړنده او کڼه به وي، یعنی هغه فتنه به د خلقو عقل او دماغ او نیکي او بدي قوت تمیز باندې داسې نظر انداز شی چې هغوئ به حق او ربنتیا ته نه ګوري او نه به اوري، ګویافتنې طرف ته د ړندوالي او کوڼ توب نسبت مجازًا دی اصل مقصد دابنکاره کول دي، چې خلق به په هغه فتنه کې مبتلا کیدو سره د بدی او خرابی انتهائي حد ته ورسیږی، او د دې نتیجه به څرنګه چې مخکې فرمایل کیږي داوي چې هغه فتنې طرف ته بلونکي خلق به پیدا شي یعنی خلق به محض هغه فتنه کې مبتلا کیږي نه، بلکې یوداسې جماعت به هم پیدا شي، چې هغه فتنې ته به هوا ورکوي او د نورو به هغه فتنه کې د اخته کیدو باعث جوړیږي او د دې جماعت د خلقو داعمل به داسې ظاهر کړي، لکه چې هغوئ د دوزخ په دروازه ودریدو سره مخلوق هغه دوزخ ته راوبلي نو بلونکی او د هغوئ بلنه قبلونکی ټول به دوزخ ته ځي، [۶]نو اې حذیفه! هغه وخت چې ستا مرګ یوداسې حالت کې راشي چې تا د یوې ونې په ویخ کې پناه نیولې وي نو دابه د دې نه ښه وي چې ته د اهل فتنه نه دیو چاپیروي او دیو چا اتباع وکړي. (ابوداؤد)

حل اللغات:-[۱۰] عَمْيَاءُ: ړنده، [۱] صَمَّاءُ: کڼه

تسهیلات:

قوله: أَيَكُونُ بَعْدَ هٰذَا الْخَيْرِ شَرٌّ

د زمانې د صلاح څخه روسته د شر راتلل: حضرت حذیفه رضی الله عنه وایي، یوه ورځ ما عرض وکړو، یارسول الله! آیا ددې خیر نه پس به شر پیدا کیږي څرنګه چې د اوس نه مخکې د شر دور دوره وه یعنی څرنګه چې ستاسو د پیغمبری نه مخکې د کفر او شرك او بدو برائیانو تیاره خوره شوې وه، او بیا ستاسو نور نبوت د بدی او خرابي تیاره ختمولو سره

د نیکي او خیر ښیګیږي رښا خوره کړله دغه شان آیا د خیر ښیګیږي ددي زماني نه پس به د شر او بدی زمانه راځي حضور ﷺ وفرمایل هو د دې نه پس به بیا د بدی او خرابی زمانه راځي،

قوله: قَالَ: "السَّيْفُ

دشر ختمه د بچ کیدو ذریعه: حضرت حذیفه رضی الله عنه وایي.ما عرض وکړو بیا هغه وخت د بچ کیدو به څه سبیل (لار) وي حضور ﷺ وفرمایل توره!

قوله: قُلْتُ: وَهَلْ بَعْدَ السَّيْفِ بَقِيَّةٌ؟

د جهاد په ذریعه د فساد ختمول: حضرت حذیفه رضی الله عنه وایي، ما عرض وکړو بیا ددي توري نه پس به اهل اسلام باقي وي، یعنی هرکله چې مسلمانان دبدی او خرابی طاقتونه ختمولو سره توره پورته کړي او قتل وقتال کوي، نو ایاد هغه نه پس د هغه زماني مسلمانانو کې دومره طاقت اجتماعیت به باقي پاتې شي، چې هغوئ امانت او دیانت سره خپله سرداري او حاکمیت قائم کړي، او خلق د هغه قیادت او امارت باندې اتفاق وکړي

قوله: قَالَ "نَعَمْ" تَكُونُ إِمَارَةٌ أَقْذَاءٍ، وَهُدْنَةٌ عَلَى دَخَنٍ

ناخوښه امارت: حضور ﷺ وفرمایل هو امارت یعنی حکومت او سلطنت خو به قائم وي. لیکن د هغه بنیاد به په فساد وي، او د صلح بنیاد به په اود ژړونو په خفګان سره وي. دَدې نه معلومه شوه چه دَ فتنو دَختمولو دَپاره دَحق دَ جهندې لاندې توره راخستل اوو تل جائز دی. دَ جمهور صحابه کرامو هم دغه مسلك وو. دَحدیث نمبر ۵۳۸۵ په تسهیل کښې تفصیل لیکلې شوې دې.

قوله: عَلَى أَقْذَاءٍ: په ظاهری توګه به خلق تابعداری کوی مګر په زړونو کښې به ئې عداوت باقی وی. هم دا مفهوم ته "هدنة علی دخن" سره اداکړې شوې دې چه صلح خو به اوشی خلافت به هم قائم شی مګر دخن یعنی لوګې اودزړه خفګانونه به باقی پاتې وی.

قوله: ثُمَّ مَاذَا؟:

د دجال خروج: یعنی دَ دغه فتنونه پس به څه وی؟ حضورپاك اشاره اوفرمائیله چه بیا به دَ دجال خروج کیږی یعنی اول به دَ حضرت مهدی دور راځی. دَ اووه کاله خلافت نه پس به دجال راوځی بیا به دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام نزول کیږی بیابه قیامت دومره نیزدې شی چه دَ اسپې بچې به دَ سورلې قابل شوې نه وی چه قیامت به راشی.

[۵۳۹۷] دَ خلافت راشده نه پس دَ سختو فتنو پیشنهکولی

۵۳۹۷-(۲۷)[۱۹] [۱] «وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ [۲]: كُنْتُ رَدِيفًا خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَوْمًا، عَلَى حِمَارٍ، فَلَمَّا جَاوَزْنَا بُيُوتَ الْمَدِينَةِ، قَالَ: "كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍّ! إِذَا كَانَ بِالْمَدِينَةِ جُوعٌ تَقُومُ عَنْ فِرَاشِكَ وَلَا تَبْلُغُ مَسْجِدَكَ حَتَّى يُجْهِدَكَ الْجُوعُ؟" [۳] قَالَ: قُلْتُ: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: "تَعَفَّفْ يَا أَبَا ذَرٍّ!" [۴] قَالَ: "كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍّ! إِذَا كَانَ بِالْمَدِينَةِ مَوْتٌ يَبْلُغُ الْبَيْتَ الْعَبْدُ حَتَّى إِنَّهُ يُبَاعُ الْقَبْرُ بِالْعَبْدِ؟"

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر وایي [۲] یووار د یو سفر په موقع زه په خره باندې رسول الله ﷺ پسې وروسته سپور وم [یعنی حضور ﷺ ابوذر رضي الله عنه خپلې سوارلی باندې خان پسې کینولی وو. داخبره د دې امر دلیل دی، چې حضور ﷺ به خپلو صحابه رضي الله عنهم او رفقاء ملګرو سره څومره د تواضع او محبت او حسن سلوك رویه اختیاروله او د دې نه د حضرت ابوذر د هغه خصوصیت اندازه لګیدی شي، چې هغه ته د حضور ﷺ سره څومره نزدې مقام حاصل وو او هغه به د حضور ﷺ فرمودات ډیرپه توجه او هوښیاري سره اوریدل او یادبه یې ساتل] [۳] بهرحال حضرت ابوذر وفرمایل هرکله چې مونږ د مدینې دکورونو یعنی دابادۍ نه بهر ووتلو، نو حضور ﷺ وفرمایل اې ابوذره: هغه وخت به ستاڅه حال وي، هرکله چې مدینه کې د لوږې دور دوره وي، [یعنی خاص طور سره تاته دومره د معیشت اسباب حاصل نه وي چې ته خپله خیټه ډکه کړې، یاداچې هغه وخت به مدینه کې قحط خورسي، او تاسو خلقوته به دخوراك د پاره هیڅ حاصل نشي.] تردې چې ته دخپلې بسترې نه پاڅیدو سره خپل مسجد ته په رسیدو کې هم مشکل محسوسوې. او د لوږې شدت تاپه سختې پریشانۍ او اذیت کې مبتلا کړي یعنی د لوږې په وجه په تاباندې دومره ضعف کمزوری غالب شي چې ته د خپل کور نه وتلو سره مونځ کولو د پاره دمسجد پورې په تلوکې هم سخت مشکل محسوسوې [۴] حضرت ابوذر وایي ما عرض وکړو الله او د هغه رسول بهتر پوهیږي یعنی زه نشم ښودلی، چې هغه وخت به زه څه کوم. ها تاسو هدایت وفرمایي. چې هغه وخت ما ته څه کول پکار دي. [۵] رسول الله ﷺ وفرمایل اې ابوذر پارسائي اختیارول یعنی په هغه لوږه باندې صبر کول ضبط او تحمل سره د هغه سخت حالت مقابله کول خپل خان دحرام او مشتبه مال نه محفوظ ساتل، طمع او لالچ او د چاپه مخکې لاس خورولو، او د مخلوق په مخکې ذلت او رسوائي اختیارولو نه پرهیز کول بیا حضور ﷺ وفرمایل، اې ابوذر! هغه وخت به ستا څه حال وي هرکله چې قحط یاڅه وبا خوریدو په وجه په مدینه کې د مرګ ګرم بازار وي او د مکان یعنی قبر قیمت غلام ته اورسیږي اوځای پیدا کول بیا

[۲۷] اخرجه ابوداود فی کتاب الترجل /باب فی النهی عن السعی فی الفتنة (رقم-۴۲۶۱) وابن ماجه فی کتاب الفتن /باب التثبت فی الفتنة (رقم-۳۹۵۸) واحمد فی المسند: ۵/۱۴۹

مشکل شي او د یو قبر ځای به د غلام د قیمت برابر ته ورسیږي، نو د مخکې جملې په ذریعه داخبره زیات وضاحت سره داسې وفرمایل چې دي پورې چې د قبر ځای د غلام د قیمت برابر نرخ باندې خرچیږي

حل اللغات:- ① جُوعٌ: اولږه. ② تَعَفَّفْ: بچ اوسیږه.

①قَالَ: قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، ②قَالَ: "تَصْبِرُ يَا أَبَا ذَرٍّ!"، ③قَالَ: "كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍّ! إِذَا كَانَ بِالْمَدِينَةِ قَتْلٌ تَغْمُرُ الدِّمَاءُ أَحْجَارَ الزَّيْتِ؟"، ④قَالَ: قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، ⑤قَالَ: "تَأْتِي مَنْ أَنْتَ مِنْهُ"، ⑥قَالَ: قُلْتُ: وَأَلْبَسُ السِّلَاحَ؟ ⑦قَالَ: "شَارَكْتَ الْقَوْمَ إِذًا" ⑧قُلْتُ: فَكَيْفَ أَصْنَعُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ ⑨قَالَ: "إِنْ خَشِيتَ أَنْ يَبْهَرَكَ شُعَاعُ السَّيْفِ فَأَلْقِ نَاحِيَةَ ثَوْبِكَ عَلَى وَجْهِكَ لِيَبُوءَ بِإِثْمِكَ وَإِثْمِهِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي ما عرض وکړو الله او د هغه رسول ښه پوهيږي [تاسو هدايت وفرمايي چې هغه وخت ماته څه کول پکار دی.] ②حضور ﷺ وفرمايل اې ابوذر د صبرلمن مه پريږده، ③بيايي وفرمايل اې ابوذر هغه وخت به ستا څه حال وي. هرکله چې په مدينه کې قتل عام شي، او د هغهويني به احجار الزيت ته ورسيږي. ④حضرت ابوذر وايي ما عرض وکړو الله او د هغه رسول ښه پوهيږي تاسو وفرمايي چې ماته هغه وخت څه کول پکار دی، ⑤حضور ﷺ وفرمايل ته هغه چاته ورشه د چاسره چې ته تعلق لرې. ⑥ما عرض وکړو ايا زه هغه وخت وسله هتيار وترم او د فتنه خورونکي جماعت په خلاف جنګ وکړم، ⑦حضور ﷺ وفرمايل داسې خو به بياته هم په هغه جماعت کې ورسره شريك شې ⑧ما عرض وکړو يارسول الله! بيا ماته هغه وخت څه کول پکار دی. ⑨حضور ﷺ وفرمايل که ستاسره خوف وي، چې د توري چمك پرق به په تا غالب شي. يعنی ته دا ووينې چې يو سړی ستاد وژلو د پاره خپلې توري سره په تا حمله کول غواړي نو هغه وخت د خپلې کپړې ټاك په خپل مخ واچوه چې هغه ستا په ګناه يعنی ستا د قتل په ګناه اوپه خپله ګناه کې اونخلي. (ابوداؤد)

حل اللغات:-③ تَغْمُرُ: پټ به کړی. ④ أَحْجَارَ الزَّيْتِ: د يو ځای نوم دې ⑤ يَبْهَرَكَ: غالب به شي په تا باندې

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملو وضاحت:

① وَلَا تَبْلُغُ مَسْجِدَكَ حَتَّى يُجْهِدَكَ الْجُوعُ: يعنی اولګه به تا دومره بدحاله اوکمزورې کړی چه ته به خپل نيزدې جمات ته دتلونه عاجزشې

② تَعَفَّفْ يَا أَبَا ذَرٍّ!: يعنی په داسې حالت کښې هم دَ سوال نه بچ شه دَحرام نه بچ شه او خپل عزت او عظمت دَ لاس نه مه پريږده مرګ يعنی وبائی مرضونه يا قحطونه يا دَ فتنود وجې نه به مرګ عام شی

۳ يَبْلُغُ الْبَيْتُ الْعَبْدُ حَتّٰى إِنَّهُ يُبَاعُ الْقَبْرُ بِالْعَبْدِ: یعنی دَمرې دَپاره به قبر نه ملاویږي. قبر به دومره ګران شي لکه چه یو غلام ورکولې کیږي یعنی دَ قبر قیمت به دَغلام قیمت ته اورسی

قوله: تَغْمُرُ الدِّمَاءُ أَحْجَارَ الزَّيْتِ:

داحجار الزيت په مصداق كښې درې اقوال: ① بعضې علماء وائی چه مغربی طرف کښې دَ یو ځائی نوم دې

② مدینه منوره کښې دَ یوې محلې نوم احجارزیت دې

③ علامه توریشتی رحمه الله فرمائی چه احجارزیت دَ علاقې حرې حصه ده

د حره تاریخی واقعه: او په حره کښې دَ یزید په زمانه کښې مشهورقتلِ عام شوې وو دریو ورځو پورې په مدینه منوره کښې لوټ مار عام وو. دریو ورځو پورې په مسجدنبوی کښې اذان اونه شو په مدینه باندې تیاره خوره وه. مسلم بن عقبه دَ شیطان یزید دَ فوج مشری کوله په زرګونو مسلمانان شهیدان کړې شول او دَ مدینې تقدس دَخپولاندې کړې شو. په احجارزیت کښې دَ وینو لختی اوبهیدل. دا واقعه دَ حضرت حسین رضی الله عنه دَ شهادت نه پس پیښه شوه بیا دَ یزید فوج دَمکې مکرمې محاصره اوکړه مګر پخپله یزید مړشو او قبضه ختمه شوه.

قوله: تَأْتِي مَنْ أَنْتَ مِنْهُ"،

د مذکوره جملې په مفهوم کښې اقوال: ① علامه طیبی فرمائیلی دی ددې مطلب دا دې په داسې حالت کښې ته دَخپل امیرطرف ته رجوع اوکړه دَچاچه ته اطاعت کوې اوته هم دَهغوی نه ئې. اودا زیات واضح دې

② دَ کوم کورنه ته راغلې هم هغې ته لاړشه کینه

د حره د واقعه په وخت دابوذر عدم وجود: واقعه حره په ۶۲ هجری کښې پیښه شوې وه اودَ حضرت ابوذر غفاری وفات ۳۲ هجری کښې شوې وو. حضرت ابوذر رضی الله عنه دَ حضورپاک دافرمان خود صحابو اوتابعینو په وړاندې بیان کړې دې مګر پخپله ئې واقعه نه ده لیدلې

دحدیث د بعضې جملو وضاحت:

① شَارَكْتَ الْقَوْمَ: یعنی که وسله اچولو سره میدان ته اووتلې نو په جنګ کونکو کښې به شریك ګڼلې شې

② يَبْهَرَكَ: یعنی دَ تورې چمك به په تاباندې غالب راشی. ته هغه وخت په مخ باندې کپړا واچوه اوهیڅ مه کوه. وژل کونکې ګناهګار به پوره پوره بوج اوچتولو سره قیامت کې راځی

[۵۳۹۸] دَ فتنونه په ډکه ماحول کښې دَ نجات لار

۵۳۹۸-(۳۸)[۲۰] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«كَيْفَ بِكَ إِذَا أُبْقِيتَ فِي حُثَالَةٍ مِنَ النَّاسِ مَرِجَتْ عُهُودُهُمْ وَأَمَانَاتُهُمْ؟ [۳] وَاخْتَلَفُوا فَكَانُوا هَكَذَا؟" [۴] وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ. [۵] قَالَ: فَبِمَ تَأْمُرُنِي؟ [۶] قَالَ: "عَلَيْكَ بِمَا تَعْرِفُ، وَدَعْ مَا تُنْكِرُ، وَعَلَيْكَ بِخَاصَّةِ نَفْسِكَ، وَإِيَّاكَ وَعَوَامَّهُمْ»".

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن عمرو ابن عاص رضی الله عنهما نه روایت دی چې یوه ورځ رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل [۲] هغه وخت به ته څه کوې، هرکله چې ته خپل ځان د ناکاره خلقو په منځ کې پیدا کې چې د هغوئ عهدوپیمان او امانتونه به خلط ملط وي. [۳] او په خپلو کې به اختلاف لري ګویا هغه خلق به داسې وي، [۴] دي فرمایلو سره حضور ﷺ خپلې ګوتې مبارکې یو بل کې دننه داخلې کړې، [۵] حضرت عبد الله دې اوریدو سره عرض وکړو تاسو ماته هدایت وفرمایي چې هغه وخت زه څه وکړم [۶] حضور ﷺ ورته وفرمایل هغه وخت په تا لازم دی ① چې هغه شی اختیار کړې او په هغه عمل وکړې چې ته یې: دین او دیانت په رڼا کې حق وګڼې ② هغه څیز نه پرهیز وکړه چې ته یې ناحق او بدوګڼې ③ او صرف خپل کار او خپل خیر سره مطلب لره، ④ او ځان د عوام الناس نه لرې ساته

حل اللغات:- ① حُثَالَةٍ: دَ کهجورې وغیره پوستکی بهوسو او کچرې ته حثاله وائی ② مَرِجَتْ: خلط ملط او ګډ وډ وی،

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ: [۲] "«الْزَمْ بَيْتَكَ، [۳] وَأَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، [۴] وَخُذْ مَا تَعْرِفُ، [۵] وَدَعْ مَا تُنْكِرُ، [۶] وَعَلَيْكَ بِأَمْرِ خَاصَّةِ نَفْسِكَ، [۷] وَدَعْ أَمْرَ الْعَامَّةِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَصَحَّحَهُ.

ترجمه: [۱] او په یوه روایت کې داسې منقول دی، [۲] چې خپل کور کې پروت اوسه بلاضرورته بهر وتلو سره اخوا دیخوا مه ځه. [۳] خپله ژبه قابو کې ساته [۴] کوم څیز چې حق ګڼې هغه اختیار کړه [۵] او کوم شی چې بدګڼې هغه پریږده صرف خپل کار [۶] او خپل خیر سره مطلب لره [۷] او د عوام الناس معاملاتو سره څه تعلق مه ساته دا روایت ترمذي نقل کړی دی او صحیح یې ګرځولی دی.

تسهیلات:

قوله: كَيْفَ بِكَ إِذَا أُبْقِيتَ فِي حُثَالَةٍ مِنَ النَّاسِ مَرِجَتْ عُهُودُهُمْ:

د بدکاره خلقو پیدا کیدل: رسول الله ﷺ فرمائی چه څه حال به وی ستاسو. یعنی څه به کوئ تاسو، چه کله داسې زمانه راشی چه په هغې کښې به خلق چانړ کړې شی. رذیل او

[۳۸]) اخرجه البخاري في صحيح رقم الحديث ٤٢٤ وابوداود في كتاب الترجل /باب الأمر والنهي (رقم-٤٣٤٢) وابن ماجه في كتاب الفتن /باب التثبت في الفتنة (رقم-٣٩٥٧) واحمد في المسند:٢/١٦٢

بيکاره خلق به په دنيا کښې پاتې شي چه د هغوی معاملات او امانتونه به مخلوط او گډوډ وی ، او دې وخت کښې رسول اللهﷺ د خپلو گوتو مبارکو ترمينځه تشبيک اوفرمائيلو.

قوله: فِيمَ تَأْمُرُنِي؟:

دايمان د حفاظت تپوس: په دې باندې صحابه کرامو﷡ عرض اوکړو چه بيا دغه وخت کښې مونږ له څه کول پکار دی؟

قوله: الْزَمْ بَيْتَكَ، وَأَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ:

په کور کښې دناستې اختيارولوحکم: نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه کوم معروف او نيک کارونه دی هغه اختيار کړئ او کوم چه ناجائز او منکر دی هغه ترک کړئ او بس خپل فکر کوئ عوام په خپل حال باندې پرېږدئ. او د دې نه په روستو روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ د عبدالله بن عمرو په سوال باندې اوفرمائيل : ﴿الزم بيتک واملک عليک لسانک الخ﴾ چه د کور نه بهر مه راوځه او خپله ژبه په قابو کښې ساته.

[۵۲۹۹] ايمان اوکفرته اوړيدل راوړيدل

٥٣٩٩-(٢١)[٢١] ①وَعَنْ أَبِي مُوسَى -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنَّهُ قَالَ: ②«إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، ③يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، ④الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ، وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي، ⑤فَكَسِّرُوا فِيهَا قِسِيَّكُمْ، ⑥وَقَطِّعُوا فِيهَا أَوْتَارَكُمْ، ⑦وَاضْرِبُوا سُيُوفَكُمْ بِالْحِجَارَةِ، ⑧فَإِنْ دُخِلَ عَلَى أَحَدٍ مِنْكُمْ فَلْيَكُنْ كَخَيْرِ ابْنَيْ آدَمَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت ابوموسی ﷛ د رسول اللهﷺ نه نقل کوي حضورﷺ وفرمايل ②قيامت نه مخکې به دافتني ښکاره شي چې د توري شپي د ټکړو په شان به وي. ③د هغه فتنو په زمانه کې به سړی سهار کې د ايمان حالت کې پورته کيږي او ماښام کې به کافر شي. ماښام کې به مومن وي، سهار کې به د کفر حالت کې پورته کيږي ④د دې فتنو په وخت کې به ناست سړی د ولاړ نه ښه وي او تلونکی سړی به د ځغليدونکي نه ښه وي. ⑤هرکله چې تاسو د دې فتنو زمانه پيدا کړه نو خپلي ليندی ماتي کړئ ⑥او د ليندو تارونه پريکی ⑦او خپلي توري په کانو بيکاره کړئ، ⑧او هرکله چې تاسو کې يو سړی ته څوك د وژلودپاره راشي، نو هغه ته پکار دی چې هغه د حمله آور مقابله کولو او هغه سره د جنګ کولو په ځای د آدم ددوو ځامنو کې بهترين څوی جوړ شي (ابوداؤد)

[۲۱]) اخرجه ابوداود فی کتاب الترجل /باب فی النهی عن السعی فی الفتنة(رقم-۴۲۵۹) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم -۲۲۰۲) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب التثبت فی الفتنة (رقم-۳۹۶۱) واحمد فی المسند: ۴/۴۱۶

حل اللغات: - ① قِسِيَّكُمْ: دَ قوس جمع ده كمان تـه وائي. ② أَوْتَارَكُمْ: دَ وتر جمع ده دَ كمان د لينډي تسمې ته وائي.

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: ذَكَرَ إِلَى قَوْلِهِ: "خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي "، [۲] ثُمَّ قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ [۳] قَالَ: "كُونُوا أَحْلَاسَ بُيُوتِكُمْ". [۴] وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ فِي الْفِتْنَةِ: [۵] "كَسِّرُوا فِيهَا قِسِيَّكُمْ، [۶] وَقَطِّعُوا فِيهَا أَوْتَارَكُمْ، [۷] وَالْزَمُوا فِيهَا أَجْوَافَ بُيُوتِكُمْ، [۸] وَكُونُوا كَابْنِ آدَمَ»". وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او د ابوداود په يو روايت کې د خير من الساعي يعنې تلونکی سړی به خغليدونکی نه ښه وي، الفاظ نقل کولو نه پس بيا دا سې نقل کړی دي، [۲] چې صحابه ﷺ دا ارشاد اوريدو سره عرض وکړو چې تاسو مونږ ته څه حکم راکوئ يعنې مونږ ته هدايت وکړی چې هغه وخت مونږ څه وکړو، او هغه فتنو کې څرنګه ژوند تير کو، [۳] حضور ﷺ ورته وفرمايل تاسو خپلو کورونو کې ټاټ جوړ شي [۴] او د ترمذي روايت دا سې دی چې حضور ﷺ د فتنې باره کې دا هدايت وفرمايي [۵] چې تاسو د فتنو په زمانه کې خپلې لينډی ماتې کړئ [۶] او د هغه تارونه پريکړی [۷] او کورونو کې کينا ښتل لازم ونيسي يعنې دا شد ضرورت نه علاوه بهر مه وځئ او خپل ټول وخت کورونو کې د تيرولو په ذريعه خلقو نه يکسوئي اختيارولو سره اوسيږي، چې د هغه فتنو خراب اثراتو نه محفوظ شئ، [۸] او تاسو د آدم د ځوی هابيل په شان مظلوم جوړيدل برداشت کړی ليکن د دفاع له خاطره هم په چاتوره مه پورته کوی، دا روايت ترمذي نقل کولو سره ويلي دي. چې دا حديث صحيح غريب دی.

حل اللغات: - ③ أَحْلَاسَ: دَ حلس جمع ده ټاټ او بوجئ ته وائي. ④ أَجْوَافَ: د جوف جمع ده. دډ ځائ ته وائي. خيټې ته هم جوف وائي. دلته ترې د کور دننه ځائې مراد دي.

تسهيلات:

قوله: وَكُونُوا كَابْنِ آدَمَ:

دهابيل په شان دصبر کولو تلقين: يعنې دَ آدم عليه السلام دوو ځامنو هابيل او قابيل کښې دَ ښه ځوئي په شان جوړ شه يعنې دَ هابيل په شان صبر او کړه. دا احاديث دَ هغه حضراتو دلائل دي چه دَ فتنو په دور کښې بالکل جدا او ځانله اوسيږي. تفصيل دَ حديث نمبر ۷ لاندې تير شوې دي.

[۵٤۰۰] د فتنو په وخت غوره کس

۵٤۰۰-(۱)[۲۲] [۱] وَعَنْ أُمِّ مَالِكٍ الْبَهْزِيَّةِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ [۲]: «ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِتْنَةً فَقَرَّبَهَا، [۳] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! مَنْ خَيْرُ النَّاسِ فِيهَا؟ [۴] قَالَ: "رَجُلٌ فِي مَاشِيَتِهِ يُؤَدِّي حَقَّهَا، وَيَعْبُدُ رَبَّهُ،

(۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء كيف يكون الرجل في الفتنة (رقم-۲۱۷۷) واحمد في المسند: ۴۱۹/۶

٥ وَرَجُلٌ أَخَذَ بِرَأْسِ فَرَسِهِ ٦ يُخِيفُ الْعَدُوَّ وَيُخَوِّفُونَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او بي بي ام مالك بهيزيه وايي ۲ يوه ورځ چې رسول الله ﷺ د فتنې ذكر وفرمايى، او هغه يي ډېره رانږدې كړه ۳ نو ما عرض وكړو يارسول الله د هغه فتنې په زمانه كې به د ټولو نه ښه سړى كوم وي ۴ حضور ﷺ وفرمايل په هغه زمانه كې به د ټولو نه ښه سړى هغه وي چې د خپل څاروو نګراني او د وښو داني انتظام كې مصروف وي. د هغوئ حق اداكوي يعنى د هغوئ چې كوم زكاة او شرعي صدقه وغيره واجب وي هغه اداكوي او د خپل رب بندګي كې مشغول وي، ۵ او هغه سړى به هم د ټولو نه ښه وي چې د خپل اس په شاباندې سپور د هغه واګې نيولى ولاړ وي ۶ او د دين دښمنان خوف زده كوي. او دښمن هغه بيروي (ترمذي)

حل اللغات ۱ مَاشِيَتِهِ: د دې اطلاق ابل غوا چيلئ ټول قسمونو څناورو باندې كيږي او اكثر په غنم چيلو ګډو د پاره استعماليږي. ۲ يؤدي حقها: د څناورو حقونه يعنى د هغوى د وښو دانې د وس طاقت مطابق بوج بار كولو وغيره او د هغې زكوة ادا كول وغيره ټول شامل دى.

تسهيلات:

قوله: ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِتْنَةً فَقَرَّبَهَا:

دمذكوره جملې مفهوم: بتشديد الراء المهملة اى فعدها قريبة الوقوع علامه اشرف فرمائيلي د دې مطلب دادې چه د دې فتنه باره كښې رسول الله ﷺ صحابه كرامو ﷺ ته په واضحه انداز كښې ذكر اوفرمائيلو لكه چه د هغې نه معلوميدله هغه واقع كيدو ته نيزدې ده

قوله: يُخِيفُ الْعَدُوَّ:

دفتنې زرواقع كيدل: رسول الله ﷺ د صحابه كرامو ﷺ دلې ته د مسلمانانو د يوخاص فتنې باره كښې داسې خبر وركړو لكه چه هغه فتنه ډيره زر كيدونكې وى په دې باندې ام مالك بهزيه ﷺ تپوس اوكړو چه د دې فتنې په وخت كښې به بهتر څوك وى نو حضورپاك ﷺ اوفرمائيل هغه وخت به دوه كسان بهتر وى

دفتنې په وخت كښې د دوو كسانو افضليت: ۱ هغه سړې چه د فتنې نه بچ شى خپل څاروى واخلى او د خلقو نه ځان له شى او د خپلو څناورو حق اداكوى او د الله تعالى په عبادت كښې مشغول شى اوخلقو سره په فتنه كښې اخته نه شى

۲ دويم هغه سړې چه د مسلمانانو د فتنې نه بچ شى او په هغې كښې شريک نه وى بلكه كافرانو له مقابلې له لاړشى ياخو شهيدشى او ژوندې سره د مال غنيمت واپس شى

[۵۴۰۱] د عربو د پاره د يوې لوئې فتنې پيشنګوئي

۵۴۰۱-(۱)[۲۳] ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ② «سَتَكُونُ فِتْنَةٌ تَسْتَنْظِفُ الْعَرَبَ، ③ قَتْلَاهَا فِي النَّارِ، ④ اللِّسَانُ فِيهَا أَشَدُّ مِنْ وَقْعِ السَّيْفِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ وايي يوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمايل ② ډير نژدې يوه لويه فتنه ظاهريدونکي ده، چې عرب به په ځان کې راونغاړي او د هغه خراب اثرات به هرچاته ورسي ③ په هغه فتنه کې قتليدونکي خلق به هم دوزخ ته ځي ④ او د هغه فتنې په وخت ژبه کهولاؤول يعنې چاته بنه بدويل او عيب جوئي او نکته چيني کول به د تورې چلولو نه هم زيات سخت مضر وي. (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: - ① تَسْتَنْظِفُ: دَ يو څيز په مکمل توګه باندې هلاك کول. يعنې په دغه فتنې سره به دَ عربو استيصال اوشي.

تسهيلات:

قوله: سَتَكُونُ فِتْنَةٌ تَسْتَنْظِفُ الْعَرَبَ، قَتْلَاهَا فِي النَّارِ:

د دارو د لوجهنمي کيدو وجه: يعنې دَدې مقتولين به دوزخ ته ځي ځکه چه په دغه جنګ کښې به دَهغوی مقصد نه اعلاء کلمة الله وی، نه به دَ څه حق حمايت وی اونه به دَ يو ظالم ظلم دفع کول وی بلکه اختلاف، بغاوت، ملك ګيرول او مال جمع کول به ئې مقصود وی

قوله: اللِّسَانُ فِيهَا أَشَدُّ مِنْ وَقْعِ السَّيْفِ:

دژبې د شرکت د سختوالی وجه: چونکه دا فتنه به په تعصب اوقوميت باندې مبنی وی په دې وجه به دَ ژبې پرې کول دَ تورې دَ پرې کولو نه زيات مؤثروی.

د مذکوره خلقو مصداق: په دې حديث کښې چه دکومې فتنې ذکردې په هغې کښې شريك دوارو فريقودَپاره سخت وعيد دې اودَدې مقتولين ئې دوزخيان خودلی دی دَدې فتنې مصداق هغه خلق کيدې شی چه دَ يوحق په حمايت يا دَ ظلم په دفع کولو باندې نه دی جنګيږی بلکه صرف دَ دنياوی اغراضو دَپاره اودَ نفسانی خواهشاتودَپاره جنګيږی. لکه څنګه چه دَ قاضی عياض ﷫ کلام ملاعلی قاری ﷫ نقل کړې دې قاضی عياض ﷫ هم دغه شان فرمائيلی دی.

د حديث مصداق صحابه کرام نه کيدو دوه وجوهات: دَدې حديث مصداق دَ صحابه کرامودَ دور مشاجرات ګرځول ممکن نه دی.

① ځکه چې په حديث کښې دَ چانوم هم نشته دې اونه دَ يوفريق تعين شته مطلق دَ فتنې

(۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الحدود /باب فيمن أتى بهيمةً (رقم-۴۴۶۵)واحمد فی المسند:۵/۴۰۶

ذکر دي په عرب دنیا باندې د اول ورځې راسې مختلفې فتنې راغلې دی نو هم هغه به ترې مراد وی

۴ د صحابه کرامو احترام په امت باندې واجب دې. هغې جنګونو ته مشاجرات وائی په کوم کښې که یو فریق په حق باندې قائم وو نو دویم فریق د اجتهادی خطاء مرتکب وو په کوم کښې چه د سزا په ځائی ثواب ملاویږی. دا مقدس جماعت الله تعالی د ﴿ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ﴾ په شاندار القابو سره یاد کړې دې

رسول الله ﷺ فرمائیلی دی «اذاذکر اصحابی فامسکوا،اي عن الطعن فیهم» حضور پاك اوفرمائیل «اذا رأیتم الذین یسبون أصحابی فقولوا لعنة الله علی شرکم»

د مشاجراتو صحابؤ باره کښې د سلفو رائې: ۱ د حضرت عبد الله بن مبارك رحمه الله نه تپوس اوکړې شو چه حضرت معاویه رضي الله عنه افضل وو که عمر بن عبد العزیز رحمه الله؟ نو هغوی جواب ورکړو "لغبار أنف فرس معاویة حین غزا فی رکاب رسول الله أفضل من کذا وکذا من عمر بن عبد العزیز"

۲ حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله د مشاجرات صحابؤ باره کښې فرمائی "تلك دماء طهر الله أیدینا منها فلا نلوث ألسنتنا بها"

۳ جمهور امت په دې باندې قائم دې چه حضرت علی رضي الله عنه په حق باندې وو او حضرت معاویه رضي الله عنه په اجتهادی خطاء باندې وو په کوم کښې چه ثواب ملاویدې شی زمونږ د پاره د تولو نه ښه لار داده چه مونږ په مشاجرات صحابو باره کښې بالکل خاموشی او سکوت اختیار کړو په سکوت باندې نیول نشته او په وینا کولو او تحقیق کولو کښې د راګیریدلو خطره شته دې

[۵۴۰۲] په بعضې فتنو کښې د ژبې کډو پشان د توري

۵۴۰۲ -(۱۲)[۲۳] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " ۲ «سَتَكُونُ فِتْنَةٌ صَمَّاءُ عَمْيَاءُ بَكْمَاءُ ۳ مَنْ أَشْرَفَ لَهَا اسْتَشْرَفَتْ لَهُ ۴ وَإِشْرَافُ اللِّسَانِ فِيهَا كَوُقُوعِ السَّيْفِ» ") رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ ډیر نزدې به دګونګې کڼې او ړندې فتنې ظهور وي ۳ کوم سړی چې هغه فتنه ویني او هغه ته نزدې ورځي. هغه فتنه به هغه ویني او هغه ته به نزدې راشي ۴ او د هغه فتنې په وخت کې به زبان درازی د توري وهلو په شان وي (ابو داؤد)

حل اللغات:- ۱ صَمَّاءُ: کڼره. ۲ عَمْيَاءُ: ړنده. ۳ بَكْمَاءُ: ږرونګې. ۴ أَشْرَفَ: چا چه سر وراوچت کړو دا فتنه ئې اوکتله

[۱۲]) اخرجه ابوداود فی کتاب الحدود/باب فیمن أتی بهیمة (رقم-۴۴۶۴)واحمد فی المسند:۵/۴۰۶

تسهیلات:

قوله: سَتَكُونُ فِتْنَةٌ صَمَّاءُ عَمْيَاءُ بَكْمَاءُ:

په فتنې د کڼې ړندې او ګونګې د اطلاق وجه: یعنی ډیر زر به د ګونګې کڼې او دَ ړندې فتنې ظهور اوشی دَ خلقو په اعتبار سره فتنې ته ګونګې کڼه ړنده وئیلی شوی ده مطلب دادې چه دَ دغه فتنې په وخت به خلق په حق اوباطل کښې تمیزنه کوی ښه خبره اوریدل به نه برداشت کوی اونه به دَ امر بالمعروف اونهی عن المنکرخبره د خلې نه اوباسی اونه به ښه کارته دَ قبولیت په نظر سره ګوری ځوك چه دې فتنې ته ګوری دافتنه به په منډه دَهغه طرف ته راځی. دَ ژبې په ذریعه سره به دا فتنه دومره اوچتیږی چه د توري نه به تیره وی دَ حدیث مطلب داشو چه دَ ړندې کڼې او ګونګې فتنې نه هروخت دَ بچ کیدو کوشش کوئی.

قوله: وَإِشْرَافُ اللِّسَانِ فِيهَا كَوُقُوعِ السَّيْفِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې څلوراقوال: ① د لسان څخه مراد کلمه ده یعنی د فتنې په زمانه کښې حق خبره د خولې نه راویستل ډیر ګران کار وی د تورو د ضرب برداشت کولونه هم زیات ځکه چه هغه اهل فتنه به په باطل باندې ولاړوی (کذا فی الکوکب الدری)

② د کلمې نه مراد کلمه باطل ده، یعنی کوم فریق چه په باطل دې د هغې تائید کول په ګناه کیدو کښې د تورې چلولو نه زیات سخت دی (کذا فی هامش الکوکب الدری)

③ د مسلمانانو په دوه ډلو کښې چه کله فتنه او جنګ وی نو په دې صورت کښې بغیر د تحقیق نه د یوې ډلې مذمت کول هم دغه شان حرام دی لکه په مسلمانانو کښې توره چلول. ځکه چه هغه جنګ د مسلمانانو ترمینځه دې د چا چه غیبت حرام دې (کذا فی هامش الکوکب الدری)

④ په مظاهر حق کښې دی او ژبه اوږدل په دې فتنه کښې د تورې د چلولو په شان دی یعنی په تاثیر کښې بلکه زیات دی د دې نه لکه چه وئیلې شوې دی بیت!

جراحات السنان لها التیام :: ولایلتام ماجرح اللسان

هم په دې وجه اول روایت کښې وئیلې شوی دی چه زیات سخت د تورې چلولو نه اهـ د مظاهر حق والا معنی عام ده چه د فتنې او اختلاف په زمانه کښې ښکاره خبره کول په فریقینو کښې د یوې ډلې په حمایت کښې یا مذمت کولو کښې دا ډیر زیات موثر وی خو د دې دپاره د ډیر جراءت او همت ضرروت دې. والله تعالی اعلم.

[۵٤۰۳] د بعضو لويو فتنو پيشن ګويانې

۵۴۰۳ - (۳)[۳۵] ۱ «وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ ۲: كُنَّا قُعُودًا عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَذَكَرَ الْفِتَنَ، فَأَكْثَرَ فِي ذِكْرِهَا، ۳ حَتَّى ذَكَرَ فِتْنَةَ الْأَحْلَاسِ، ۴ فَقَالَ قَائِلٌ: وَمَا فِتْنَةُ الْأَحْلَاسِ؟ ۵ قَالَ: "هِيَ هَرَبٌ، وَحَرَبٌ، ۶ ثُمَّ فِتْنَةُ السَّرَّاءِ دَخَنُهَا مِنْ تَحْتِ قَدَمَيْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي، ۷ يَزْعُمُ أَنَّهُ مِنِّي وَلَيْسَ مِنِّي، إِنَّمَا أَوْلِيَائِي الْمُتَّقُونَ،

ترجمه: ۱ او حضرت عبد الله ابن عمر ﷺ وايي ۲ يوه ورځ مونږ د رسول الله ﷺ په مجلس کې ناست وو، چې حضور ﷺ آخره زمانه کې د ظاهريدونکو فتنو ذکر شروع کړ او ډيري زياته فتني يې بيان کړلي ۳ تردې چې د فتنه احلاس ذکر يې وفرمايه ۴ يو سړي پوښتنه وکړه چې د احلاس څه فتنه ده يعنی د دې فتني به څه نوعيت وي، او هغه به کوم صورت حال کې ښکاره کيږي، ۵ حضور ﷺ وفرمايل هغه تيښته او ناحق مال اخستل وي، [يعنی د هغه فتني به دا صورت وي، چې خلق به خپلو کې سخت بغض او عداوت ساتلو او باهمي نفرت او دښمني په وجه يو بل نه تښتی څوک به د چا صورت ليدو او چاسره د ښه رواداري کونکی نه وي، او د يو بل مال په زبردستی اخستو او هضم کولو بازار به ګرم وي،] ۶ او بيا به د سراء فتنه وي د دې فتني تباهي به د هغه سړي د قدمونو لاندي نه وځي، يعنی د دې فتني قائد به هغه سړی وي چې ځما د اهل بيت نه به وي ۷ د هغه سړي ګمان خوبه داوي، چې هغه د فعل او کردار د اعتبار نه هم ځما د اهل بيت نه دی ليکن حقيقت به داوي چې هغه به د نسب د اعتبار نه ځما د اهل بيت نه نه وي خکه چې دفعل او کردار د اعتبارنه ځما دوستان خوهغه خلق کيدي شي کوم چې پرهيزګار وي

حل اللغات:- ① الْأَحْلَاسِ: دَ حلس جمع ده ټاټ او بوجئ ته وائی ② هَرَبٌ: دبغض اوحسد د وجې نه تختيدل. ③ السَّرَّاءِ: عيش عشرت اوکثرت دَمالونو اوخوشحالئ ته وائی ④ دَخَنُهَا: راپورته کونکي ددې دشمنئ او عداوت.

۱ ثُمَّ يَصْطَلِحُ النَّاسُ عَلَى رَجُلٍ كَوَرِكٍ عَلَى ضِلَعٍ، ۲ ثُمَّ فِتْنَةُ الدُّهَيْمَاءِ لَا تَدَعُ أَحَدًا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ إِلَّا لَطَمَتْهُ لَطْمَةً، ۳ فَإِذَا قِيلَ: انْقَضَتْ تَمَادَتْ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، ۴ حَتَّى يَصِيرَ النَّاسُ إِلَى فُسْطَاطَيْنِ: فُسْطَاطِ إِيمَانٍ لَا نِفَاقَ فِيهِ، وَفُسْطَاطِ نِفَاقٍ لَا إِيمَانَ فِيهِ، ۵ فَإِذَا كَانَ ذَلِكَ فَانْتَظِرُوا الدَّجَّالَ مِنْ يَوْمِهِ أَوْ مِنْ غَدِهِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ بيا د هغه فتني نه پس به خلق په يو داسي سړي باندې اتفاق وکړي چې د پښتی د پاسه د ټکرۍ په شان به وي ۲ بيا به دوهيماء فتنه ښکاره شي، او هغه فتنه به دې امت نه هيڅ داسې سړی نه پريږدي، چې په هغه د هغه څپيره، د څپيري په طور ونه لګيږي،

۴۳) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب ذكر الفتن ودلائلها(رقم-۴۲٤۲) واحمد في المسند:۲/۱۳۳

يعنى هغه فتنه به دومره وسيعه او همه گيره وي، چې د امت هرسړي ته به د هغه خراب اثرات ورسي، او هرمسلمان به د هغه په ضرر او نقصان كې اونخلي، [۳] او هركله چې اوويل شي، چې دافتنه ختمه شوي ده، نو د هغه موده به څه نوره زياته شي معنى خلق به دا گمان كوي چې فتنه ختمه شوي ده خو په حقيقت كې به هغه د ختميدو حد ته نه وي رسيدلې، بلكې څه نوره اوږده به شي، دا جدا خبره ده، چې څه وخت د هغه اثر لږ كم شي چې خلق به د هغه د ختميدو گمان كول شروع كړي. ليكن وروسته به بيازياته شي، هغه وخت به سړى سهار كې د ايمان په حالت كې پاځيږي، او په ماښام كې به كافرسي، يعنى د هغه فتني داثراتو نه به د خلقو د زړه او دماغ په حالت او كيفيت كې دومره تيزي سره تبديلي پيدا كيږي چې مثلاً يو سړى په سهار كې پاځيږي نو د هغه ايمان او عقيده به صحيح وي، او د دې پخته اعتقاد حامل به وي چې د يو مسلمان ورور وينه بهيول يا د هغه بي عزتي كول يا د هغه مال واسباب هضم كول او ورته نقصان رسول قطعًا حلال نه دي، خو ماښام كيدو سره به د هغه ايمان او عقيده كې تبديلي راشي. او هغه به د خپل قول او فعل نه داثابتول شروع كړي، چې گويا د هغه په نز د يو مسلمان ورور وينه بهيول، د هغه بي عزتي كول، او د هغه مال او جائيداد هضمول او ورته نقصان رسول جائز او حلال دي، دغه شان هغه چې سهار وخت كې مؤمن وي ماښام ته به هغه دعقيدي د تبديلي په وجه كافر شي، او داصورت حال به جاري وي، [۴] ترڅو چې خلق به دووخيمو كې تقسيم شي، يوه خيمه به د ايمان وي چې په هغه كې به نفاق نه وي، او يوه خيمه به د نفاق وي. چې په هغه كې به ايمان نه وي [۵] هركله چې داخبره ظهور ته راشي. نو بيا په هغه ورځ يا د هغه ورځې نه په راتلونكې ورځ د دجال د ظاهريدو منتظر اوسئ.

حل اللغات:- ⑤وَرِكٍ: غټ هډوكې، كوناټي، ⑥ضِلَعٍ: پښتئ، ⑦الدُّهَيْمَاءِ: دُهيماء دَ دَهماء تصغيردې كوم چه دَمذمت اوتحقيردپاره دې، ⑧لَطْمَةً: څپيړه، ⑨انْقَضَتْ: ختمه شوې ده، ⑩تَمَادَتْ: اوږده او زياته به شي. ⑪فُسْطَاطٍ: خيمه

تسهيلات:

قوله: حَتّٰى ذَكَرَ فِتْنَةَ الْأَحْلَاسِ:

احلاس سره د تشبيه وجه: دَ دې فتنې دَحلس اوټاټ سره څكه تشبيه وركړې شوې ده چه ټاټ په يوځائې باندې پروت وى دَ اخواكيدو نوم نه اخلي دافتنه به هم چه كله كورونوته داخل شي نوهغې سره به داسې اونخلي چه دَختميدو نوم به نه اخلي. لكه څنگه چه ټاټ انخلي يا په دې فتنه كښې دَ اخته خلقو تشبيه ټاټ سره وركړې شوې ده چه خلق به دَ دې فتنو دَ وجې نه په كورونو كښې داسې انختلي ناست وى څنگه چه ټاټ وى اوهغوى له هم دغه شان كول پكاردي.

قوله: قَالَ: "هِيَ هَرَبٌ، وَحَرَبٌ":

د هرب او حرب مفهوم: دَ سائل دَ سوال په جواب کښې حضورپاك دَ أحلاس دَ فتنې باره کښې وضاحت اوفرمائیلو چه په دې کښې به خلق یوبل نه دَ عداوت اوبغض او دَ حسد دَ وجې تختی دا هرب دې اوخلق به دَ یو بل نه مالونه په زور اخلی دا حرب دې حرب دَ محروب په معنی کښې دې مال په زور اخستوته وائی

د احلاس فتنې مصداق: حضرت شاه ولی الله رحمه الله دَ فتنهٔ أحلاس مصداق دَ حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه شهادت اودَ حجاج بن یوسف فتنه گرځولې ده

دامیر معاویه رضی الله عنه مدبرانه سوچ: تفصیلی قصه داسې پیښه شوه چه دَ حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه په مشورې سره کله حضرت معاویه رضی الله عنه یزید خپل ولی عهد مقررکړو نودَ وصیت په توګه ئې هغه ته اووئیل چه ستا دَ حکومت به څلورکسان مخالفت کوی

① عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه کیدې شی ده ته دَ مقابلې موقع ملاؤ نه شی

② عبدالله بن عمر رضی الله عنه دې صوفی سړې دې چرته غاړې ته به شی

③ عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دې دَ لومبړې نه زیات چالاك دې دَ ده نه هوښیار اوسیږه

④ حسین بن علی رضی الله عنه دَ ده حضورپاك سره قرابت دې دَدغه قرابت ډیر زیات خیال ساته دَحضرت معاویه رضی الله عنه تجزیه په ټیك توګه رښتیاثابته شوه. دَحضرت عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه انتقال اوشو اوعبدالله بن عمر رضی الله عنه کناره کش شو

په مکه کښې دعبدالله بن زبیررضی الله عنه اعلان خلافت: حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دیزید دَ بیعت نه اوتختیدو په مکه مکرمه کښې ئې دَ خپل خلافت اعلان اوکړو کله چه حضرت حسین رضی الله عنه په میدان کربلاکښې شهید کړې شو نودَ مدینې منورې خلقو دَ یزید داطاعت نه انکاراوکړو

په مدینه منوره حمله: یزید دَ شام نه یو لوئی لښکرمدینې طرف ته روان کړو شامی فوج دَ مدینې محاصره اوکړه اولوئی لوټ مارئی اوکړو دَ واقعه حره او احجارزیت په شان وینې تویونکې واقعات پیښ شو

په مکه مکرمه حمله: کله چه دَمدینې تقدس دَ خپو لاندې کړې شو نودَمسلم بن عقبه په مشرئی کښې یزید هم دغه لښکردَمکې طرف ته روان کړو چه عبدالله بن زبیر رضی الله عنه ته شکست ورکړی مسلم بن عقبه الله تعالی هلاك کړو دَهغه په ځائی حصین بن نمیر امیرجوړکړې شو هغه دَ مکې مکرمې محاصره اوکړه اودَ عبدالله بن زبیر رضی الله عنه خلاف ئې په حرم شریف کښې جنګ شروع کړو په بیت الله باندې ئې ګوله باری اوکړه اهل مکه ډیر مشقت اوچت کړو چه په دې کښې غیرمتوقع توګه باندې یزید هلاك شو په دې وجه

حصين بن نمير دَمکې نه محاصره اوچته کړه او واپس لاړو. دې نه پس دَ عبدالله بن زبير رضي الله عنه خلافت وسيع شو اومکه مدينه حجاز مقدس مصر اوعراق ټولو علاقوباندې دَهغه حکومت قائم شو. دَ يزيد ځوئي دَ کوم نوم چه معاويه وو دوه مياشتې حکومت اوکړو اوبيا هغه هم مړشو. دې نه پس تقريباً په ټول عالم اسلام باندې دَ حضرت عبد الله بن زبير رضي الله عنه حکومت قائم شو

د مروان بن حکم اعلان خلافت: ليکن شپږ اووه مياشتې پس مروان بن حکم په شام باندې قبضه اوکړه او په دمشق کښې ئې دَخپل خلافت اعلان اوکړو اودَ حضرت عبد الله بن زبير رضي الله عنه په مقابله کښې راپاسيدو دَ شام نه پس عراق اومصر هم دَحضرت عبد الله بن زبير رضي الله عنه دَ لاس نه اووتلو.

دعبدالله بن مروان د حکومت آغاز: کله چه دَ مروان بن حکم انتقال اوشو نودَ هغه ځوئي عبدالملك بن مروان په تخت کيناستو هغه په خپل جنګي قوت اوطاقت سره دَ حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه نه ټولې علاقې آزادې کړې

دحجاج بن يوسف په مکه حمله: او په آخره کښې ئې حجاج بن يوسف دَ عبدالله بن زبير رضي الله عنه خلاف دَمکې مکرمې طرف ته روان کړو. حجاج بن يوسف دَمکې مکرمې محاصره اوکړه او په جبل ابو قبيس باندې ئې منجنيق لګولو سره په بيت الله باندې کاڼړي ورول شروع کړه. حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه په بيت الله کښې محصور وو په آخره کښې هغه دَ جنګ ميدان ته راغلو اوپه ډيره بهادرئې سره ئې دَ حجاج ظالم مقابله اوکړه. مګر په آخره کښې په ۷۳هجري کښې ئې دَ حجاج دَ لاسه دَ شهادت جام نوش کړو دَهغوی دَ خلافت موده شپږ کاله وه دَ حضرت شاه ولي الله رحمه الله دَ قول مطابق دَ واقعهٔ احلاس مصداق هم دغه پوره تفصيل دې کوم چه طويل دې يعنې دَ ټاټ په شان انختونکې فتنه مراد ده

قوله: ثُمَّ فِتْنَةُ السَّرَّاءِ:

د سراء په وجه تسميه کښې دوه اقوال: ① دافتنه هم دغه شان دکثرت اموال اوعيش اوتنعم دَ وجې نه راغلې وه. په دې وجه دَدې نوم سراء کيخودلې شو

② دا دَ سرور څخه نه ده بلکه دَ سر (بکسر السين، پټ) نه څخه ده يعنې دا يوه سازشي فتنه وه چه په ظاهره دَ ساداتو اواهل بيتو دَحمايت په نوم سره وه مګر پټه دَ اسلام په ختمولو باندې مبنى وه چه دَ مختار ثقفي په شکل کښې وه دامطلب ډير ښه دې

د فتنة السراء په مصداق کښې دوه اقوال: ① بعضې علماؤ فتنة السراء مصداق دَ مکې شريف او انګريزان ګرځولي دي په کوم کښې چه انګريزانو په سازش سره دَ ترکيانو خلافت ختم کړو انګريزانو به شريف حسين مکه ته دَمياشتې پنځه لاکهه پونډه ورکول او آل سعود عبدالعزيز ته به ئې دَمياشتې دوه لاکهه دَبرطانيه پونډونه ورکول اودا دواړه

به ئې په جزیره عرب کښې جنګول دَ شریف مکه نه پس دَهغه یو نالائق ځوئې په تخت کیناستو چه په دې حدیث کښې دَ "کضلع علی ورك" په نوم سره یاد کړې شوې دې دَهغه نه هیڅ هم اونه شو اودَترکو خلافت دَ برطانیې حکومت ختم کړو او شازش مکمل شو

② حضرت شاه ولی الله رحمه الله دَدې فتنې مصداق مختار بن عبید ثقفی ګرځولې دې دا سړې دَ شیعان علی ځنې وو اهل کوفه چه کله حضرت امام حسین رضی الله عنه سره بې وفائی اوکړه اوهغه په کربلا کښې شهید کړې شو نودغه سړی دَ واقعهٔ کربلا نه فائدې اوچتولو په غرض سره دَ قاتلینِ حسین رضی الله عنه نه دَ انتقال اخستلو اعلان اوکړو مسلم بن عقیل به دَدې سړی کور ته تلو راتلو دَ هغې نه هم ده تائید حاصل کړو دغه شان دَ حضرت علی رضی الله عنه دَمشهور ځوئې محمد بن حنفیه څخه هم هغه ته تائید حاصل شو هلته په کوفه کښې دَ توابین په نوم باندې یو جماعت جوړشوې وو دکوم مقصد چه دا وو چه مونږ دَ حضرت امام حسین سره بې وفائی کړې ده اوس مونږ توبه کوو اودَ قاتلین حسین نه بدله اخلو مختار بن عبید ثقفی په ډیره چالاکئی سره دَ دغه خلقو نه هم خپل تائید حاصل کړو او پوره ډله ئې جوړه کړه. مختار ثقفی ډیر دَ دروغو دعوې هم اوکړې چه په هغې باندې دکوفې ګورنر ګرفتارکړو او په جیل کښې ئې واچولو مګر دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنه په سفارش باندې دَ جیل نه خلاص کړو.

دمختار ثقفی د تحریک عروج او خاتمه: کله چه دا سړې دَجیل نه راغلو نودَ هغه قوت نور هم زیات شو دَتوابین جماعت سره دَ هغه رابطې وې هغوی ئې منظم کړل او خپل ځان ته ئې سید او اهل رسول وئیل شروع کړه بلکه دَ نبوت دعویٰ ئې هم اوکړه اوس دَعلاقې دَ ګورنردَ لاس نه دا سړې اووتلو اودَ کوفې ګورنرسره ئې جنګ اوکړو اوسرکاری فوجونه ئې ماتې ورکولو سره په کوفه باندې قبضه اوکړه. دکوفې بې ګناه خلق ئې په ډیره بې دردئی سره قتل کړل څوك هم چه په مخالفت کښې راغله هغه اووژلې شو تردې چه حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه خپل رور مصعب بن زبیر دَ بصرې ګورنرمقررکړو اودَمختار دَ ښکته کولودَپاره ئې روان کړو هغه راغلو اومختار ثقفی ئې قتل کړو دغه شان دا فتنه ختمه شوه. په دې حدیث کښې دَ فتنه سراء نه هم دغه دَ مختار ثقفی فتنه مراد ده

قوله: ثُمَّ يَصْطَلِحُ النَّاسُ عَلَىٰ رَجُلٍ:

د رجل مصداق: یعنی دَدې فتنونه پس به خلق دَ یو داسې سړی په حکومت باندې صلح اوکړی چه پخپله به ناپائیداروی لکه چه په پوښتنې باندې چه پیړ پتون سورکړې شوې وی. حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی دَدې کمزوری سړی نه مراد مروان بن حکم دې. سره دَدې چه دَ مختار ثقفی دَ فتنې نه مخکښې مروان انتقال شوې وو لیکن دَدې سازشونو ابتداء دَ هغه وخت نه شوې وه کله چه مروان بن حکم دَ حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه په

مقابله کښې په شام کښې دَ خپل خلافت اعلان اوکړو نو په توګه دَجملې معترضې که دَ مروان تذکره دَدې حدیث نه لږ شان وړاندې یا لږشان روستو راغلې ده نو په دې کښې هیڅ مضائقه نشته. شاه صاحب دَدې جملې نه مروان بن الحکم مراد اخستې دې. دې سړی نه دَ رائې څه پوخوالې لرلو او نه په کښې څه تدبیر وو اونه په کښې دَ فیصلې قوت وو بلکه دَغیرمستقل مزاج کمزورې رائې مالك وو. هم دَ دغه کمزورئی تشبیه په دې حدیث کښې داسې ورکړې شوې ده لکه چه مضبوط پتون په کمزورې پوښتئی باندې سورکړې شوې وی لکه چه دَ چیلئی په خپو باندې میخه اودرولې شوې وی. دَدې سړی ښې لاس اودَ تولو فتنو جرړه عبیدالله بن زیاد وو. خلقو په هغه باندې صلح کولو سره دَ هغه بیعت اوکړو اوهغه دَ حضرت ابن زبیر ﷺ خلاف محاذ کولاؤ کړو دغه شان په امت کښې دَدې خلقو دَ وجې نه لوئی فتنې پیداشوې.

قوله: ثُمَّ فِتْنَةُ الدُّهَيْمَاءِ لَا تَدَعُ أَحَدًا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ إِلَّا لَطَمَتْهُ لَطْمَةً:

د فتنة الدهيماء مصداق: حضرت شاه ولی الله ﷫ دَدې متعلق فرمائی چه دا په بغداد باندې دَ تاتاریانودَحملې او عام وینوتویولو فتنه ده. په دې فتنې سره اسلامی مملکت بغداد اوهغې ښارونه تاتاریانو تباه اوبرباد کړل او په یوتور طوفان سره ئی دَمسلمانانو قتل عام اوکړو.

مستعصم بالله خلافت: دَدې تفصیل دادې چه ۷۰۰هجری په مینځ کښې دَبنوعباس آخری خلیفه مستعصم بالله دَ بغداد خلیفه جوړشو داښږې غیرمدبر هم وو او دَحکومتی امورو چلولو کښې نالائق شهزاده وو. دَده یو وزیر وو چه دَهغه نوم علقمی وو چه کټر غالی متعصب علوی شیعه وو. هغه دَ بدې عقیدې او باطن خبث دَ وجې غوښتل چه په بغداد باندې دَ عباسیانو دَ خلافت په ځائی دَ علویانو حکومت راشی.

تاتاریانوته په بغداد د حملې کولودعوت: دَدغې منصوبې کامیابولودَپاره علقمی دَ تولو نه مخکښې تاتاریانوسره رابطه اوکړه اودَ چنګیزخان نمسی هلاکوخان ته ئی په بغدادباندې دَ حملې کولو دعوت ورکړو. هلاکوخان دَ بغداد دَ خلقو بهادرئی او اسلامی خلافت نه ویریدلو مګر وزیر علقمی رافضی په ډیره چالاکئی سره دَبغداد نه اسلامی فوج اخوادیخوا کارونودَپاره روان کړلو او بغداد دَ فوجی قوت نه خالی شو.

دوباره په بغداد د حملې کولو دعوت: دَدې نه پس پوره صورت حال خودلوسره شیعه وزیر علقمی تاتاریانوته یو ځل بیا په بغدادباندې دَحملې کولو دعوت ورکړو. اخوا دَ بغداد نه په سوونو شیعه ګانوهلاکوخان ته خطونه اولیکل چه ته فوری حمله اوکړه ځکه چه زمونږ په کتابونو کښې لیکلی دی چه یوتاتاری سردار به په عراق باندې قبضه کوی زمونږ خیال دې چه هغه هم ته ئی لهذا زر حمله اوکړه.

د رافضیانو اسلامی خلافت سره غداری: هلته دَ هلاکو خان په حلقه کښې یو مشهور هیجرا رافضی نصیر الدین طوسی وو هغه هم هلاکو خان په بغداد باندې دَ حمله کولو دَپاره تیارولو دَ ده او علقمی خیال وو چه کله دَ بغداد نه اسلامی خلافت ختم شی نو دلته به زمونږ علوی ریاست قائم شی بهرحال هلاکو خان ته حوصله ملاؤ شوه او هغه په بغداد باندې دَ حملې کولو اراده اوکړه مگر هغه اول خپله فوجی دسته اولیږله او په بغداد باندې ئی حمله اوکړه چه هغه کامیاب شو دې نه پس هلاکو خان خپل لوئی فوج په بغداد باندې وراوخیژولو محاصره هم سخته وه او مقابله هم سخته وه شیعه گانو دَ بغداد نه یو شان هلاکو خان ته خبرونه ورکول یعنی هغوی دَ داخل نه دَ جاسوسئ محاذ مستحکم ساتلې وو.

د مستعصم بالله دبغداد څخه بهروتل: رافضی وزیر علقمی ملعون عباسی خلیفه مستعصم بالله ته اووئیل چه ته هلاکو خان سره مذاکرات اوکړه اودَ بغداد ښار نه بهر لاړ شه هلاکو خان سره ملاقات هم اوکړه دا ډیر ضروری دی هغه خلق ستا سو انتظار کوی او هغوی به ستا اکرام اوکړی. چنانچه دَمسلمانانو بادشاه چه کله دَ بغداد نه بهر لاړو هلاکو خان سره ملاؤ شو نو هغه وئیل چه ته خو یوازې ئی دا وسیع مذاکرات دی په دې کښې دَ اوچتې پایې علماؤ اودَ قوم سردارانو اودَ فوج کمانډرانو شرکت ضروری دې. ته هغه ټول راؤغواړه. دغه غیرمدبر او نادان بادشاه چه کله هغه خلق راؤغوښتل نو هلاکو خان هغه ټول دَ بادشاه په مخکښې قتل کړل. اوبیائی خلیفه ته اووئیل چه بغداد ښار ته پیغام اولیږه چه ټول خلق دې وسله اوغورزوی او ښار دې خالی کړی بهر دې راشی. چنانچه دغه محبوس نالائق خلیفه دا هم اوکړه دَهغه په پیغام باندې په لاکهونو انسانان بهر راغله اوتاتاریانو هغوی قتل کول. دَ وینو دَ کثرت دَ وجې نه لختی اوبهیدل اودَ دجلې دَ دریاب اوبه دَ سرې وینې په شان اوبهیدلې. دې نه پس تاتاریان بغیر دَ څه مزاحمت نه دَ بغداد ښار ته داخل شو ښځو اوبوډاگانو په سرونو باندې قرآن پاک اوچتولو سره امان اوغوښتلو مگر تاتاریانو هیڅ ته اونه کتل اونه ئی امان ورکړو بلکه ټول ئی قتل کړل چنانچه په تهه خانو کښې اوکوهیانو کښې یو څو سړی بچ شو باقی ټول مخلوق ئی قتل کړو

هلاکوخان د بغداد په شاهی دربار کښې: په دویمه ورځ ۹ سفر ۶۵۶ هجری هلاکو خان دَ عباسی خلیفه سره په بغداد ښار کښې عام دربار اولگولو اودَبادشاه نه ئی دَ ټولو خزانو کنجیانې واخستې اوټولې خزانې ئی لوټ کړې بیائی خلیفه په توره کوټه کښې اوکې تکې اچولو سره بند کړو. دې نه پس هلاکو خان ته طوسی ابلیس او علقمی شیطان اووئیل چه دَمسلمانانو دَدې خلیفه په گنده وینه باندې توره مه گنده کوه بلکه په یوه

بوجئی کښې ئې واچوه او په لتو باندې چقنړی کړه. هلاکوخان هغه ته اوونیل چه داکارته پخپله اوکړه تاته حواله دې چنانچه علقمی رافضی خپل محسن بادشاه مستعصم بالله بوجئی کښې واچولو اوستنې پورې ئې اوتړلو او په لتوباندې وهلوسره ئې چقنړی کړو اوبیائې دَ تاتاریانودَ اسونو دَخپو لاندې واچولو اواسونوهغه ریزه ریزه کړو علقمی شیطان دالیدل اوخوشحالیدلو په دې سره دَ خلافت عباسیه دَدور خاتمه اوشوه اودَ بنوعباس آخری خلیفه ته ګوروکفن هم نصیب نه شو.

د کتب خانو سوزول: دې نه پس هلاکوخان اسلامی کتب خانوته مخ کړو اوعظیم علمی سرمایې ته ئې اور اولګولو اوکتابونه ئې په دجله دریاب کښې اوبهیول اوس دَ دجلې اوبه دَ سرو وینو په ځائې تور طوفان جوړشو بهیدلو اودَ څو ورځوپورې مقدس پانړو داعلمی سرمایه دَ دجلې دَ موجونوسره بهیدلې. دې دَتباهئې حادثه کښې دَبغداد او دَ مضافاتو دَمقتولینو تعداد یوکروړ شپږ لاکهه خودلې شوې دې.

د صدام په مرګ د شیعه ګانو خوشحالی: دَ شیعه په شرارت چه کله امریکه صدر صدام حسین ته پهانسی ورکړه نوشیعه ګانو دَ خوشحالئی نه بهرپه سړکونو ډانسونه کول اومټهایانې ئې تقسیمولې. هائې افسوس چه دنیا ته دَ شیعه رافضیانودَ خباثتونو اندازه اوشی چه دا بدباطن خنګه چه دَ پرون فسادیان وو دغه شان دَ نن هم فسادیان دی.

شیعه ګانود فتنو جوړه: چنانچه علماؤ لیکلی دی چه دَ مسلمانودَ اکثرخلافتونو سقوط دَ روافضو په لاس شوې دې. شاه انورشاه کشمیری رحمه الله فیض الباری کښې لیکلی دی "وأكثر تخريب الخلافة الإسلامية على أيدي هؤلاء الروافض" بهرحال علقمی ملعون چه دکوم مقصد دَپاره لویه غداری کړې وه هغه مقصد علوی ریاست قائمول وو مګر هغه په دې کښې کامیاب نه شو. هغه دَ هلاکوخان ته ډیر منت زاری اوکړه لیکن هغه هیڅ هم وانوریده اوپه بغدادباندې ئې خپل سړی مقررکولوسره علقمی او طوسی کورې کړل علقمی رافضی به دَ غلامانو په شان دَ تاتاریانو خپلئی سیدا کولې او بیا هم په دغه غم کښې مردارشو. دادَواقعه دَهیماء تفصیل دې چه په دې حدیث کښې ورته اشاره کړې شوې ده.

[٥٤٠٤] دعربو دپوې فتنې پیش کونې

٥٤٠٤-(¹¹)[٢٦] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] "«وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ، [٣] أَفْلَحَ مَنْ كَفَّ يَدَهُ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[¹¹] اخرجه البخاري في كتاب الفتن /باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «ويل للعرب من شر قد اقترب» (رقم -٧٠٥٩) ومسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب اقتراب الفتن وفتح ردم يأجوج ومأجوج (رقم -٢ - (٢٨٨٠) وابوداود في كتاب الترجل /باب ذكر الفتن ودلائلها(رقم -٤٢٤٩) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في خروج يأجوج ومأجوج (رقم -٢١٨٧) وابن ماجه في كتاب الفتن /باب ما يكون من الفتن (رقم -٣٩٥٣) واحمد في المسند: ٤٤١/٢

ترجمه: [۱] او د حضرت ابو هريره ﷺ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] افسوس او بدنصيبي ده د عربو دهغه شر يعنی فتني نه چې نزدې راغله [۳] او فتنه کې به هغه سرى نجات يافته او کامياب وي، چې هغه خپل لاس نيولی وساتی. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① وَيْلٌ: تباهي ده، بد نصيبي ده.

تسهيلات:

قوله: وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ:

د عربو په تخصيص کښې دوه وجوهات: ① دَ اهل عرب تخصيص ددې وجې وشو چه هغوی راس القوم المسلم دی يعنی دوی معظم المسلمين دی نوچې د دوی دَ پاره ويل دې نودَ نورو دَ پاره خو به په طريقه اولی وی.

② د عربو تخصيص په هغوی باندې د شفقت په وجه وشو.

د شر په مصداق کښې دوه اقوال: ① ددې شرڅخه مراد دَ حضرت عثمان ﷺ قتل دې چه دَ هغې نه پس دومره فتنې واقع شوې چه عرب دَ خلقو په مينځ کښې داسې شو لکه څنګه چه دَ خوراک والا دَ پاره پليټ وی كما وقع في الحديث الاخر يوشك ان تداعى عليكم الامم كما تداعى الا كلة على قصعتها:

② قرطبی ﷺ فرمائی دا احتمال هم کيديشی چه دَ شر نه مراد هغه فتنې وی دَ کومو ذکر چه دَ ام سلمه ﷺ په روايت کښې دې فرمائی ماذا انزل الليلة من الفتن وماذا انزل من الخزائن دې سره اشاره هغه فتوحاتو طرف ته ده کوم چه دَ رسول الله ﷺ نه پس شوی چه خلقو ته ډير مالونه حاصل شو نو خلقو کښې تنافس پيدا شو بيا فتنې رابنکاره شوې دغه شان دَ امارة باره کښې هم اختلافات پيدا شو تردې چه په حضرت عثمان ﷺ باندې دَ خپلوانو خيال ساتلو الزام هم اولګولې شو کوم چه په دَ هغوی په قتل باندې ختم شو او بيا په مسلمانانو کښې هم دغه جنګ راروان وو.

[۵۴۰۵] د فتنو نه د حفاظت خوش بختی

٥٤٠٥-(٤٥) [٢٧] [١] وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ: [٢] "«إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ، إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ، إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ، [٣] وَلَمَنِ ابْتُلِيَ فَصَبَرَ فَوَاهًا»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ..

ترجمه: [۱] او حضرت مقداد ابن اسود ﷺ وايي، ماد رسول الله ﷺ نه واوريدل، [۲] يقينًا ① نيک بخت سرى هغه دی چې د فتنو نه محفوظ کړل شو ، ② يقينًا نيک بخت سرى هغه

---

[٤٥]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب في النهي عن السعي في الفتنة (رقم-٤٢٦٣)

دي چې د فتنو نه محفوظ کړل شو ، ③يقينًا نيك بخت سړى هغه دى چې د فتنو نه محفوظ کړل شو ، ④او يقينًا نيك بخت هغه سړى هم دى چې په فتنه کې مبتلا شو ليکن هغه د صبر او ضبط لمن نيولي وساتله .«ابو داؤد»

او قابل افسوس هغه سړى دى چې نه د فتنو نه محفوظ شو او نه هغه صبر او ضبط اختيار کې

حل اللغات: - ①السَّعِيدَ: نيک بخت، ②جُنِّبَ: محفوظ اوساتلې شو، ③وَاهًا: واه، واه. يعنى مزې دى ده لره

تسهيلات:

قوله: إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ:

دسعادت حاصليدو دوه صورتونه: سعيد هغه دې چه د فتنو نه محفوظ وى يعنى هغه دفتنوزمانه نه وى موندلې ددې وجې بعضې صحابؤ به خپلو دعاګانو کښې دا دعا کړې ده چې يا الله ما د فتنې زمانې ته مه پاتې کوه بلکه دهغې څخه وړاندې ما د دنيا څخه وفات کړه

② يعنى د فتنې زمانه خوئې موندلې وى خو د هغې نه لرې وى دا خبره رسول الله ﷺ درې کرته اوفرمائيله.

قوله: وَلَمَنِ ابْتُلِيَ فَصَبَرَ فَوَاهًا:

د فواه په مفهوم کښې دوه احتمالات: ① ددې معنى دَ افسوس هم کيدې شى په دې صورت کښې به معنى دا شى چه "فواهًا" لفظ دَ ماقبل جملې "لمن ابتلى فصبر" نه جدا ده اودَ محذوف جملې سره ئې ارتباط دې. نو ترجمه به داسې شى چه دَافسوس قابل هغه سړې دې چه دَفتنونه محفوظ نه وى ساتلې شوې وى اوهغه صبراو ضبط نه وى اختيار کړې

② دَفواه معنى خوشحالئى هم کيدې شى په دې صورت کښې به ترجمه داسې شى چه دَ فتنو نه محفوظ پاتې کيدل او صبراو ضبط اختيارول ډيره ښه اودَ خوشحالئى خبره ده.

[٥٤٠٦] د قيامت څخه مخکې يو څو پيشنګوياني

٥٤٠٦-(٣)[٢٨] ①وَعَنْ ثَوْبَانَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②" «إِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، ③وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَلْحَقَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي بِالْمُشْرِكِينَ، ④وَحَتَّى تَعْبُدَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي الْأَوْثَانَ، ⑤وَإِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلَاثُونَ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيُّ اللَّهِ، وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ، وَلَا نَبِيَّ بَعْدِي،

[١]) اخرجه ابوداود فى كتاب الترجل /باب ذكر الفتن ودلائلها(رقم-٤٢٥٢)والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب(رقم-٢٢٠٢) وابن ماجه فى كتاب الفتن/باب مايكون من الفتن (رقم-٣٩٥٢)واحمد فى المسند: ٢٧٨/٥

ترجمه: [۱] او حضرت ثوبان ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] هر كله چې څما په امت كې خپلو كې توره وچليږي نو بيا به تر قيامته پورې د امت د خلق د قتل وقتال نه منع نشي [۳] او تر هغه وخته پورې به قيامت نه قائميږي تر څو پورې چې څما د امت بعضې قبائل مشركينو سره يو ځاى نشي [۴] او هغه وخته پورې به قيامت نه قائميږي څو پورې چې زما دامت بعضې قبائل دبتانو عبادت كول شروع نكړي [۵] او حقيقت دادى چې زما په امت كې به ديرش دروغ جن يعنى دنبوت دعوىٰ كونكي ظاهر شي په هغوى كې به هريو داگمان كوي چې هغه دالله نبي دى حال دا چې واقعه داده چې زه خاتم النبيين يم زمانه پس به هيڅوك نبي نه وي

حل اللغات:- ① الْأَوْثَانَ: بتان.

[۱] وَلَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ، [۲] لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او زما اُمت كې به هميشه يو جماعت په حق باندې ثابت قدم وي يعنى په علمي طور سره هم او په عملي طور سره هم د دين په صحيح لاربه تلونكي وي او د دين په دښمنانو باندې به غالب وي [۲] د دې جماعت هيڅوك مخالف اوبدخواه به هغه ته څه نقصان نشي رسولى ځكه چې ددې جماعت خلق به دين باندې ثابت قدم اوبرحق كيدو په وجه دالله دمدد اونصرت سايې كې وي تردې چې دالله حكم راشي.

حل اللغات:-② ظَاهِرِينَ: غالب به وى، ③ أَمْرُ اللهِ: دالله حكم يعنى قيامت.

تسهيلات:

نوټ: دحديث د «وضع السيف» وضاحت د حديث نمبر(۵۳۳) په تسهيل كښې شوې دې هغې ته رجوع اوكړئ

قوله: حَتَّى تَلْحَقَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي بِالْمُشْرِكِينَ

د قبيلود ارتداد په مصداق كښې دوه احتمالات: ① په دې كښې اشاره ده د هغوى ارتداد ته كومه چه په خلافت صديقى كښې بيا موندلې شوه

② په دې كښې اشاره ده د اندلس (سپين) د ارتداد واقعاتو ته .لږ وضاحت ئې دا دى اندلس كښې د مسلمانانو تقريبا تر د اتو سوو كلونو پورې حكومت وو خو خپل مينځ كښې د اختلاف په وجه باندې دا ورځ هم اوليدې شوه په مزه مزه ټول مسلمانان جلا وطن كړې شو. چرته چه لوئې لوئې ائمه ابن حزم، ابن عبدالبر، ابو الوليد الباجي، قاضي عياض وغيره پيدا شول او د علومو مناره ئې روښانه كړه، او لوئې لوئې ښهرونه قرطبه، اشبيليه، سبته، مليله وغيرها ئې په علوم او فنون سره آباد كړل هغه ټول د

مسلمانانو د لاس نه اوتل، اوکله چې هلته د نصاراو غلبه مکمل شوه نو ډیرو مسلمانانو د هغه ځائې نه هجرت اوکړو او ډیر کوم چه هلته پاتې شو د هغوی نه جبرا نصاری جوړ کړې شو،

قوله: وَحَتَّى تَعْبُدَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي الْأَوْثَانَ،

دبتانو په عبادت کښې احتمالات: ① د بتانو د عبادت ځخه قبرپرستئ طرف ته اشاره ده کوم چه مبتدعین کوی

② د دې ځخه حقیقی بت پرستی مراد ده کومه چه به په آخر زمانه کښې واقع کیږی چه د هغې طرف ته په یو بل حدیث کښې رسول اللهﷺ اشاره فرمائیلې ده ﴿لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَضْطَرِبَ أَلْيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ عَلَى ذِي الْخَلَصَةِ﴾ رواه البخاری ومسلم، یعنی قیامت به نه قائمیږی ترڅو چه د قبیله دوس د زنانو کوناتې حرکت اونه کړی په ذوالخلصه باندې، ذوالخلصه د یو مشهور بت کدې نوم دې، او د اضطراب سرین نه مراد د هغه زنانو د دې بت نه گیرچاپیره تاویدل دی او طواف کول مراد دی، یعنی ترڅو چه دوباره بت پرستی شروع نه شی (بذل، بتصرف)

قوله: وَإِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلَاثُونَ،

دپیښورپه عدالت کښې د مدعی نبوت قتل: د دې ځخه مراد مدعیان د نبوت دې کوم چې به مختلفو زمانو کښې تیرشوی دی او کیدې شی روسته هم راشی. یومیاشت دوه وړاندې زمونږ د پیښورپه عدالت کښې فیصل خالد نوم یونوجوان هلک یومدعی د نبوت قتل کړلو کوم چې د کال ۲۰۱۸ ځخه په جیل کښې وو اومقدمه پرې چلیدله الله تعالی ورته د خالدبن ولید پشان اود علم الدین شهید پشان بل خالد راپیدا کړل اودا دروغژن مدعی د نبوت ئې هلاک کړل فی الحال په جیل کښې دې دعا کوئ چې الله تعالی ئې د جیل ځخه راآزاد کړی اود موړپلارسترگې پرې یخې شی.

د ثلاثون په عدد باندې اشکال: په مسند احمد کښې دَ حذیفه ﷺ په روایت کښې دی سيكون في امتي كذابون دجالون سبعة وعشرون منهم اربع نسوة واني خاتم النبيين لانبي بعدي په روایت کښې سبعون واقع دې او په حدیث الباب کښې دیرش دې دا تعارض دې.

داشکال دري جوابونه: ① په حدیث کښې د عدد ځخه مقصود د ثلاثین تحدید نه دې کثرت بیانول دی

② دَ سبعون والا روایت ضعیف دې دَ نبوت دعوی کونکی دیرش یا دیرشو ته نیزدې دی او باقی مطلقًا کذابون دی.

③ بعض حضرات فرمائی دې نه مراد مدعیین نبوت نه دی ځکه چه مدعیین نبوت خو

دير تير شوى دى په دې كښې بعض هغه هم دى چا چه دَ ليونتوب په وجه دَ نبوت دعوى كړې ده بلكه مراد ترې نه داسې مدعيين نبوت دى چاته چه په دنيا كښې څه قدرې عزت حاصل شوې دې

قوله: كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيُّ اللّٰهِ، وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ، وَلَا نَبِيَّ بَعْدِي،

دَ غلام احمد قادياني ظهور: په بذل المجهود شرح سنن ابى داؤد كښې دى تر دې زمانې پورې دير په هغوى كښې ښكاره شوې هم دى، لكه چه په موجوده زمانه كښې دَ غلام احمد قادياني ظهور شوې دې دَ پنجاب په ارخونو كښې په قاديان ښهر كښې كوم چه دَ امرتسر په مضافاتو كښې دې **(فادعى انه مهدى، وانه المسيح وانكر نزول المسيح، وادعى ان عيسى بن مريم عليهما السلام توفى وقبره فى كشمير)** وراندې حضرت فرمائى چه كيدې شى بعض دَ دې ديرشو نه باقى وى، او كه په ديرشو باندې دَ دې عدد زائد هم شى نو دَ دې حديث خلاف به نه وى **(لان مفهوم العدد لا يعتبر وفى هامش الترمذى عن اللمعات والدجال الاكبر خارج عن هذا العدد لانه يدعى الالوهية وبه فارق الدجالين اهـ)**

په تاريخ كښې مدعيان نبوت: بعض علماء كرام فرمائى كه مدعيان نبوت والوهيت او مهدويت اودې نه علاوه كذابين شمير كړې شى نو هغه ديرشو ته نيزدې كيږى

① اسود عنسى صاحب صنعاء قتله فيروز
② مسيلمه كذاب قتله وحشى بن حرب رضي الله عنه
③ ابن صياد
④ طليحه
⑤ سجاح بنت سويد، كانت تحت مسيلمة واعطت النبوة لزوجها دې ښځې خپل خاوند ته نبوت وربخشش كړې وو اودَ خپل امت نه ئى دَ مازيگر مونځ معاف كړې وو
⑥ مختار ثقفى فى زمن ابن الزبير
⑦ متنبى شاعر ثم تاب
⑧ بهبود فى زمن معتمد بالله
⑨ يحيى ركرويه القرمطى فى زمن مكتفى بالله
⑩ دَ يحى ركرويه رور حسين
⑪ دَ يحى ركرويه دَ تره څوئ عيسىٰ بن مهرويه
⑫ ابوطاهر القرمطى ده حجر اسود دَ بيت الله نه راويستې وو
⑬ محمد بن على الشلمغانى
⑭ شاب يزعم انه اله دَ ده گمان ووچه دَ حضرت على رضي الله عنه روح په ده كښې راغلې دې اودَ

فاطمه بی بی ﷺ روح دَ ده په ښځه کښې راغلې دې
⑮ په مقام نهاوند کښې ډیرو خلقو دَ نبوت دعوی کړې وه
⑯ یوسړی کوم چه خپل نوم لا ایخودې وو او وئیل ئې چه دَ حضورپاک ﷺ دَ فرمان لانبی بعدی نه هم زه مراد یم.
⑰ ازاری ساحر
⑱ یوه ښځه وه چه دَ نبوت دعوی ئې کوله وئیل ئې چه دَحضور پاک ﷺ فرمان لانبی بعدی دَ سړو په حق کښې دې که دَ ښځو نه نفی کول مقصود وو نو لانبیة به ئې هم فرمائیل
⑲ بیت المقدس کښې یو یهودی ووهغه دَ خپل مسیح کیدو دعوی کړې وه بیا مسلمان شو
⑳ یوبل سړې هم تیرشوې دې چه هغه دَمهدی کیدو دعوی کړې وه.
㉑ اکبربادشاه چاچه دین الهی په هندوستان کښې جاری کړې وو.
㉒ رتن هندی په شپږمه هجرئی کښې دَ صحابی کیدو دعوی کړې وه کوم چه دَ کاذبینو نه وو.
㉓ اسحاق اخرس تَبِعَه خلق کثیر من الیمن والبصرة
㉔ فارس ابن یحیی ساباطی
㉕ یوگډبه کوم چه دَ موسیٰ علیه السلام همسا په لاس کښې اخستې وه او په تصرف سره به ئې دَ هغې نه مار جوړولو.
㉖ عبدالله بن میمون دَ مامون په زمانه کښې
غلام احمد قادیانی په پنجابی هندوستان کښې تیرشوې دې هغه هم دَ نبوت دعوی کړې وه دَ چا رد چه دَ دیوبند علماؤ کړې وو.

[۵٤٠٧] دیوڅوواقعاتوپیشنګویانې

۵٤۰۷-(۴۲)[۲۹] ①وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ②«تَدُورُ رَحَى الْإِسْلَامِ لِخَمْسٍ وَثَلَاثِينَ أَوْ سِتٍّ وَثَلَاثِينَ أَوْ سَبْعٍ وَثَلَاثِينَ، ③فَإِنْ يَهْلِكُوا فَسَبِيلُ مَنْ هَلَكَ، ④وَإِنْ يَقُمْ لَهُمْ دِينُهُمْ يَقُمْ لَهُمْ سَبْعِينَ عَامًا". ⑤قُلْتُ: أَمِمَّا بَقِيَ أَوْ مِمَّا مَضَى؟ ⑥قَالَ: "مِمَّا مَضَى»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ②داسلام ژرنده (چکي) به پنځه دیرش (۳۵) کاله یاشپږ دیرش (۳۶) کاله یااوه دیرش (۳۷) کاله پورې ګرځي ③بیا که څه خلق هلاك شي نوپه هغه لار دتلو په وجه به هلاك شي چې په هغه مخکني خلق په تلو سره هلاك شوي وي ④او که دهغوی د

[۴۲]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ذکر الفتن ودلائلها (رقم-٤٢٥٤)واحمد فی المسند:۱/۳۹۰

دين نظام كامل او برقرار پاتې شو نو د هغه د ديني نظام د تكميل او برقرارى سلسله به د اويا كاله پورې وي ⑤حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وايي ما په دي اوريدو سره پوښتنه وكړه چي اويا كاله به بقيه نه وي يا هغه مودي سره به وي كومه چې تيره شوه [يعنى حضور ﷺ د دين د نظام تكميل او برقرارى دپاره چې د كوم اويا كاله موده ذكر فرمايلي ده ايا د هغه نه هغه اويا كاله موده مراد ده چې دهغه ابتداء به ۳۵ يا ۳۶ ياد ۳۷ كاله مذكوره زماني تيريدونه پس وي يا هغه مذكوره مآلونه به هم په هغه اويا كاله موده كې شامل وي او د هغه په ابتداء كې د اسلام ابتدايي زمانه يا د هجرت د وخت نه مراد اخستل شوى ده. ⑥حضور ﷺ وفرمايل دامذكوره كالونه هم په هغه اويا كلونو كې شامل دي او داويا كاله موده هغه مودي سره ده كومه چې د اسلام په ابتدايي زمانه يا د هجرت د وخت نه تر اوسه پورې تيره شوي ده (ابوداؤد)

حل اللغات - ①رَحَى : ميچن.

تسهيلات:

قوله تَدُورُ رَحَى الْإِسْلَامِ لِخَمْسٍ وَثَلَاثِينَ أَوْسِتٍّ وَثَلَاثِينَ أَوْسَبْعٍ وَثَلَاثِينَ

د اسلام دترقۍ ۳۷ كاله: يعنى دَ اسلام ميچن ۳۵ بلكه ۳۶ بلكه ۳۷ هجرى پورې په صحيح توګه تاوېږي حضرت شاه ولي الله رحمه الله په دي حديث داسې پوهه كول فرمائى چه حضور پاك فرمائيلى دى چه دَ هجرت دَ زمانې نه پس په اسلام كښې چه كومه مضبوطيا او استحكام راغلې دې هغه به دَ ۳۵، ۳۶ او ۳۷ كالو پورې روان وى بيا به دَ اسلام په دائره كښې لړ شان اضطراب شروع شى.

د زمانې په اعتبار سره د اسلام د كمزورۍ مراحل: په دې حديث كښې دَ دريو لويو حادثو طرف ته اشاره كړې شوې ده په دې كښې رومبنى حادثه دَحضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه دَ شهادت ده

اوله حادثه شهادت عثمان رضى الله عنه : دَ ورانى اوخرابئى شروع په ۳۵ هجرى كښې اوشوه كوم وخت چه دَ حضرت عثمان رضي الله عنه دَ شهادت واقعه پيښه شوه

دعثمان رضى الله عنه دخلافت اولنى شپږ كلونه : دَحضرت عثمان رضي الله عنه خلافت دَ شروع شپږو كالو پورې ډير ښكلې طريقه باندې روان وو مګر دَهغوى په طبيعت كښې نرمى وه هغوى خپل بعضې رشته دارانو ته سركارى عهدې وركړې كوم چه دَ شريعت په رڼا كښې جائز وې خكه چه يوه تقوىٰ ده او يوه فتوىٰ ده شيخينو په تقوىٰ باندې عمل اوكړو او هيڅ يو خپلوان ته ئې عهده ورنه كړه عثمان اوعلى رضي الله عنهما په فتوىٰ باندې عمل اوكړو اوقابل رشته دارانو ته ئې عهدې وركړې په دې باندې خه خلقو شور جوړ كړو او آخرى شپږ كالو كښې خه انتشار شروع شو

د عثمان رضی الله عنه خلاف یهودی سازش:دَدې بنیادی وجه دا شوه چه دَ صنعاء یمن یو اوسیدونکې عبدالله بن سبا یهودی وو هغه اوکتل چه اسلام په ټوله دنیا باندې غلبه حاصلولو سره روان دې نودَ فساد اونفاق دَپاره دا سړې مسلمان شو اومدینې ته راغلو دلته ئی دَ حضرت عثمان ﷺ اودَ هغه دَ ګورنرانو خلاف بکواس کولو مګر په مدینه کښې هغه ته څه حوصله ملاؤ نه شوه نوهغه بصره ته لاړو هلته نه دَ بصرې ګورنر دې اوشړلو نودې کوفې ته راغلو خپل ځان ئی دَ اهل بیت خیرخواه ثابت کړو څه خلق ده سره شو مګر هلته هم ناکام شو دَ هغه ځائی نه داسړې دمشق ته لاړو هلته هم ناکام شو بیا دَ هغه ځائی نه مصرته لاړو

په مصر کښې د ابن سبا دتحریک کامیابی:دَمصرخلقو دَ ده خبره واوریده اوکافی خلق دَ ده نه چاپیره راجمع شو نوده دَ خلیفه عثمان ﷺ اودَ هغه دَ اسلامی خلافت خلاف سازش شروع کړو دَ حضرت عثمان ﷺ دَ ګورنرانو خلاف به ئی فرضی شکایتونه جمع کول او په عامو خلقو کښې به ئی خورول خلاصه دا چه ده خلق دَ حضرت عثمان ﷺ نه بدګمانه کړل اوهم دَ هغه ځائی نه ده دَحضرت عثمان ﷺ دَ قتل دَپاره یو ټولګې تیارکړو مدینې ته ئی روان کړو دابغاوت کونکی خلق مدینې ته راغله او بدتمیزی ئی شروع کړه دَحضرت علی ﷺ نه ئی دَ حضرت عثمان ﷺ خلاف امداد هم طلب کړو مګر هغوی انکاراوکړو.

دباغیانو مطالبه:دَدې بغاوت کونکو یوه مطالبه دا وه چه دَمصر ګورنراخوا کړنی اومحمدبن ابی بکر دې ګورنر جوړکړی حضرت عثمان ﷺ دَ هغه دَپاره پروانه اولیکله داخلق لاړل اومعامله رفع دفع شوه.

د مروان بن حکم غداری:مګر مروان بن حکم فوری دَمصر دګورنر په نوم یو خط اولیکلو چه څنګه هم محمدبن ابی بکر دراورسی هغه قتل کړئی په خط باندې دَ حضرت عثمان ﷺ دَ ګوتې مهر وو آس هم دَ حضرت عثمان ﷺ وو غلام هم دَ حضرت عثمان ﷺ وو داسړې دَمصر طرف ته په منډه روان وو محمد بن ابی بکر ته شك پیدا شو اودغه غلام ئی اونیولو اوتالاشی ئی ورله واخستله نو خط برآمدشو محمدبن ابی بکر وئیل چه یو طرف ته مونږ حضرت عثمان ﷺ ګورنر جوړه وی اوبل طرف ته دَ قتل کولو حکم ورکوی

د محمدبن ابی بکر عثمان رضی الله عنه سره مکالمه:لهذا غلام او خط ئی واخستلو او بغاوت کونکی بیا مدینې ته راغله دَ حضرت عثمان ﷺ نه ئی تپوس اوکړو

① داغلام دَ چا دې هغوی وئیل زما دې وئیل دا اس دَ چا دې؟ وئی فرمائیل زما دې وئیل ② دا مهردَ چا دې وئی فرمائیل زما دې وئیل دا خط دَ چادې وئی فرمائیل په

خدائی قسم داخط زما نه دې. دَ خط نمونې اوکتلې شوې نو معلومه شوه چه خط مروان بن حکم لیکلې دې

د مروان د حواله کولو مطالبه: اوس دې بغاوت کونکو اووئیل چه مروان مونږ ته حواله کړه هغوی اوفرمائیل زه داسې نه شم کولې. بلوه کونکو دَ حضرت عثمان ﷺ دَ کور محاصره اوکړه دَ مدینې والا دَ مروان خلاف څه لیدل غوښتل مگر دَ حضرت عثمان ﷺ دَ قتل خوك قائل نه وو.

دعثمان رضی الله عنه شهادت: اسلامی فوج په سرحداتو باندې وو عام خلق حج له تلی وو مدینه دَ بغاوت کونکو په قبضه کښې وه. څلوېښت ورځې محاصره وه اوبیا حضرت عثمان ﷺ شهید کړې شو. درې ورځو پورې نعش دفن نه کړې شو دې نه پس تدفین اوشو. بلوه کونکو حضرت علی ﷺ په بیعت باندې مجبور کړو اوهغه ئی خلیفه جوړ کړو اودَ هغه په پناه کښې کیناستل. دا واقعه په ۳۵هجری کښې پیښه شوه.

دویمه حادثه جنګ جمل: ② بیا په ۳۶هجری کښې نور وراني پیدا شو چه دَ حضرت عائشه ﷺ او حضرت علی ﷺ په مینځ کښې جنګ اوشو کوم ته چه جنګ جمل وئیلی شی.

دعلی رضی الله عنه په بیعت د بعضې صحابؤ خفګان: دَ حضرت علی ﷺ په بیعت باندې حضرت زبیر ﷺ اوحضرت طلحه ﷺ خفه شو اودَ مدینې نه مکې ته لاړل. هلته حضرت عائشه ﷺ حج له تلې وه. هغې چه کله اوکتل چه په مدینه کښې ګړبړ دی نو هغې مدینې دَ راتلو په ځائی بصرې ته دَ تلو فیصله اوکړه. حضرت زبیر ﷺ اوحضرت طلحه ﷺ هم بصرې ته لاړل او په غیرارادی توګه باندې هلته دَمسلمانانو لویه مجمع راپوځائی شوه.

دفریقینو په مینځ کښې د صلحې کوشش: حضرت علی ﷺ دَخلافت مرکز کوفه جوړه کړه اودَ خلقو نه ئی دَ بیعت مطالبه اوکړه. خلقو دَعثمان ﷺ دَ قاتلینونه دَ قصاص مطالبه اوکړه. حضرت علی ﷺ اوفرمائیل چه تاسو اول بیعت اوکړئی زما لاسونه مضبوط کړئی چه زه په دغه بغاوت کونکو باندې لاس واچوم. دغه شان دَ حضرت عائشه ﷺ اوحضرت علی ﷺ فوجونه مخامخ شو. حضرت قعقاع ﷺ مینځ ته راغلو او افهام اوتفهیم سره ئی دواړه په صلح باندې راضی کړل اوفیصله اوشوه چه صباله به دَ دواړو طرفونه په صلح دستخط کیږی

دجنګ جمل شروع: منافقینو مفسدینو او بغاوت کونکو چه کله دَ صلح آثار اولیدل نودَ شپې په وخت ئی دَ حضرت عائشه ﷺ په فوج باندې حمله اوکړه. دَ هغه طرف نه جوابی کاروائی اوشوه اودَ جنګ جمل په نوم باندې ډیر خونړې جنګ اوشو په کوم کښې چه دَ دواړو طرفونه دیارلس زره کسان مړه شو. په دوی کښې دَ عشره مبشره دوه صحابیان هم

وو دَ حضرت علی رضی الله عنه فوج غالب شو اودَ حضرت عائشه رضی الله عنها فوج ماتې اوخوړلو دا واقعه په ۳۶هجری کښې پیښه شوه.

د جنګ جمل وجه تسمیه: حضرت عائشه رضی الله عنها به په خپل اوښ باندې سوره وه په دې وجه دا جنګ، دَ جنګ جمل په نوم سره مشهور شو په دې جنګ باندې حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت عائشه رضی الله عنها تول عمر ژړل.

دریمه حادثه جنګ صفین: ③ بیا دَدې نه پس دَ اسلام په استحکام کښې نوره خرابی راغله چه بالکل بې قابو شوه اوکوم چه اسلام ته ډیرزیات نقصان اورسولو په ۳۷هجری کښې دَ حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت معاویه رضی الله عنه په مینځ کښې دَ جنګ صفین حادثه وه.

دعلی رضی الله ع نه دمعاویه رضی الله عنه څخه د بیعت مطالبه: دَ جنګ جمل څخه چه کله حضرت علی رضی الله عنه فارغ شو نو حضرت معاویه رضی الله عنه ته ئې پیغام اولیږلو چه زما په لاس باندې بیعت اوکړه اودَ اسلامی خلافت لاندې راشه. حضرت معاویه رضی الله عنه دَ شام ګورنر وو هغه دَ بیعت دَ پاره دا شرط کیخودو چه دَ قاتلینِ عثمان رضی الله عنه نه قصاص واخله مونږ دَ هغه وارثان یو قصاص زمونږ حق دې. حضرت علی رضی الله عنه وئیل اول ته بیعت اوکړه بیا دَ قصاص خبره کوه او ګورنری هم پریږده.

دمعاویه رضی الله عنه د بیعت کولو څخه انکار: حضرت معاویه رضی الله عنه دَ دواړو خبرو نه انکاراوکړو حضرت علی رضی الله عنه دَ کوفې نه دَ شام طرف ته فوجونه روان کړل. یوې میاشتې پورې معمولی جنګ کیدلو مګر بیا جنګ بند شو دَمصالحت کوشش اوکړې شو مګر ناکام شو بیا یکم صفر ۳۷هجری کښې دَ فرات دریاب په غاړه مقام صفین کښې باقاعده جنګ شروع شو. دَمصالحت په غرض دَتحکیم واقعه هم پیښه شوه مګر جنګ بندنه شو اویا زره کسان مړه شو اودَ علاقې اکثر حصې دَ حضرت علی رضی الله عنه دَ لاس نه وتلو سره دَحضرت معاویه رضی الله عنه په لاس ورغلې. په دې حدیث کښې هم دغه دریو لویو واقعاتو ته اشاره کړې شوې ده.

قوله: فَإِنْ يَهْلِكُوا فَسَبِيلُ مَنْ هَلَكَ،

د امت هلاکت: بیا حضورپاك اوفرمائیل چه که دَ دغه ورانی نه پس خلق منع نه شو اوهم دغه شان دَ هلاکت په لار روان وو. خلافت مغلوب پاتې شو او بغاوت غالب نوداخلق به هم دَنورو هلاك شوو قومونو په شان هلاك شی. لیکن که دَخلقو خلافت قائم شو اوباغیانو ته دَ بغاوت موقع ملاؤ نه شوه نودَ مسلمانانو ملی نظام به دَ راتلونکو زمانو پورې ډیر په ښه شان سره قائم پاتې شی چه دَ اویاؤ کالو پورې به جاری وی.

قوله: قُلْتُ: أَمِمَّا بَقِيَ أَوْمِمَّا مَضَى؟ قَالَ: "مِمَّا مَضَى:

د اسلام نشاط ثانیه: حضرت ابن مسعود رضی الله عنه تپوس چه دَنوی سر نه به اویا کاله شمیرلې

شي يا دَ پخواني ۳۷ كالو سره به او ياكاله مرادوي؟ حضور پاك اوفرمائيل دَ ۳۷ سره اوياكاله مراد دي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵٤٠٨] د پخوانو قومونو په لاره د چليدو پيشين گوئي

۵۴۰۸-(۴۸)[۳۰] [۱] عَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَمَّا خَرَجَ إِلَى غَزْوَةِ حُنَيْنٍ مَرَّ بِشَجَرَةٍ لِلْمُشْرِكِينَ كَانُوا يُعَلِّقُونَ عَلَيْهَا أَسْلِحَتَهُمْ، يُقَالُ لَهَا: ذَاتُ أَنْوَاطٍ، [۳] فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! اجْعَلْ لَنَا ذَاتَ أَنْوَاطٍ كَمَا لَهُمْ ذَاتُ أَنْوَاطٍ

ترجمه: [۱] د حضرت ابو واقد ليثي ﷺ نه روايت دى [۲] چې رسول الله ﷺ د فتح مكي نه پس چې غزوه حنين د پاره روان شو نو په (شپه كي) د حضور ﷺ تيريدل د مشركانو په يوه وُنه اوشو. چې په هغه مشركانو خپلې اسلحې ځوړنده كړې او د پوجا (عبادت) په طور به يې د هغه طواف كوى او تعظيما به هغه وني طرف ته مخ كړى كينا ستل. د هغه وني نوم ذات انواط وو. [۳] د حضور ﷺ په ملګروكې [د داسې مسلمانانو هم تعداد شامل وو چې نوى په اسلام كې داخل شوى وه. اود اسلامي احكامو او شرائعو او ديني تعليماتو سره زيات واقفيت نه لرى په دې وجه د شرك نه بيزارى او په توحيد كې كامله مرتبه يې نه لرله. په هغه مسلمانانو كې] بعضې خلقو هغه وُنه ليدو سره حضور ﷺ ته عرض وكړو يارسول الله. زمونږ د پاره هم يوه داسې وُنه مقرره كړئ چې په هغه مونږ خپله اسلحه زړه وو. او هغه ته ذات انواط وايو لكه څرنګه چې مشركانو هغه وُنه ځان د پاره ذات انواط جوړه كړې ده. او په هغه خپل هتيار زړوي،

[۱] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "سُبْحَانَ اللهِ هَذَا كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوسَى: ﴿اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ﴾ [الأعراف: ۱۳۸] [۲] وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَرْكَبُنَّ سُنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] رسول الله ﷺ د هغه خلقو په دې عجيبه خواهش اوريدو سره د حيرت او تعجب د مخې وفرمايل سبحان الله دا تاسو څه وايئ داخبره خو تاسو داسې كوئ څرنګه چې د موسى ﷺ قوم يهوديانو خپل نبي حضرت موسى ﷺ ته ويلي وه چې زمونږ د پاره هم يوداسې معبود يعنى بت جوړكړه لكه څرنګه چې د كافرانو معبود دى. او څرنګه چې هغه كافران د خپلو بتانو عبادت كوي دغه شان به مونږ هم د هغه بت عبادت كوو. [۲] بيا حضور ﷺ بطور تنبيه وفرمايل. قسم دى په هغه ذات چې د هغه په لاس كې ځما ساه ده،

[48]) اخرجه البخاري في كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة /باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «لتتبعن سنن من كان قبلكم» (رقم-۷۳۱۹) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لتركبن سنن من كان قبلكم (رقم-۲۱۸۰) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب افتراق الأمم (رقم-۳۹۹٤) واحمد في المسند: ۵/۳٤۰

تاسو به هم د هغه خلقو په لار تلل شروع کې کوم چې ستاسو نه مخکې تیر شوی دي (ترمذي)

حل اللغات: - ① يَعْلَقُونَ: زوړندولې به ئې. ② ذَاتُ أَنْوَاطٍ: د نوط جمع ده. د ناط ينوط نه. أي ما عُلِّقَ بِهِ داسې ونه چه خلق ورته توري وغیره رازوړندوی. ③ سُنَنَ: جمع د سنة ده لار. طریقه

تسهیلات:

قوله: يُقَالُ لَهَا: ذَاتُ أَنْوَاطٍ:

د ذات انواط نه مراد: دا یو ښاخ وو کوم چه د مشرکانو د پاره مخصوص وو او په دې باندې به هغوی خپلې وسلې زوړندولې اودې سره به ئې اعتکاف کولو اودې نه به ئې برکت حاصلولو.

قوله: سُبْحَانَ اللهِ هَذَا كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوسَى:

صحابه کرامو ته تنبیه: د روایت حاصل دادې چه صحابه کرامو ﷺ مشرکان د یو ښاخ دومره احترام کولو سره اولیدل نو درخواست ئې اوکړو چه زمونږ د پاره هم دغه شان یو تخصیص کول پکاردی نو حضوراکرم ﷺ اوفرمائیل دا خو د یهودیانو طریقه ده هغوی هم د حضرت موسیٰ علیه السلام نه سوال کړې وو. اجْعَل لَّنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ او بیانئ اوفرمائیل چه تاسو به هم د وړاندینو خلقو په طریقو باندې ضرور تګ کوئ.

د مذکوره مضمون نور روایات: ① لتتبعنّ سنن من قبلكم شبراً شبراً وذراعًا ذراعًا حتى لو دخلوا جحر ضب تبعتموهم قلنا يارسول الله اليهود والنصارى قال فمن (رواه البخاري)

② ورواه الحاكم عن ابن عباس رضي الله عنهما وفي آخره حتى لوان احدهم جامع امرأته في الطريق لفعلتموه وقال المناوي اسناده صحيح

قوله: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَرْكَبُنَّ سُنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ:

د مشابهت وجه: امام نووی فرمائیلی دی دنبی علیه السلام مراد دپخوانو امتونو سره په ګناهونو کښې دې په کفر کښې نه دې یعنی تاسو به د پخوانو امتونو پشان ګناهونه کوئ دا مراد نه دې چې د هغوی پشان به په کفر کښې اخته کیږئ.

[۵٤۰۹] د درې فتنو واقع کیدو په وخت د صحابه کرامو قلت

۵٤۰۹-(۱)[۳۱] ①وَعَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ②: وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الْأُولَى - يَعْنِي مَقْتَلَ عُثْمَانَ - فَلَمْ يَبْقَ مِنْ أَصْحَابِ بَدْرٍ أَحَدٌ، ③ثُمَّ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الثَّانِيَةُ - يَعْنِي الْحَرَّةَ - فَلَمْ يَبْقَ مِنْ أَصْحَابِ الْحُدَيْبِيَةِ أَحَدٌ، ④ثُمَّ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الثَّالِثَةُ فَلَمْ تَرْتَفِعْ وَبِالنَّاسِ طَبَاخٌ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[1]) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب شهود الملائكة بدراً (رقم-٤٠٢٤)

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن مسیب رحمه الله نه (چي د جلیل القدر تابعینو نه وو، او هغوئ د خلورو خلفائي راشدینو په زمانه کښې وه) روایت دی [۲] چې هرکله (مخکنی فتنه چې د هغه نه مخکې په اسلام کې څه فتنه نه وه ښکاره شوي) واقع شوه، یعنی د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت سانحه پیښه شوه نو په غزوه بدر کې شریك صحابه وونه څوك باقي پاتې نشو، [۳] بیا چې دویمه فتنه واقع شوه (یعني د حره واقعه پیښه شوه) نو هغه صحابه وو کې څوك باقي نه وو پاتې شوی کوم چې په صلح حدیبیه یعنی بیعت الرضوان کې شریك شوی وه، [۴] او بیا چې دریمه واقعه پیښه شوه نو هغې دصحابهٔ کرامو نه هیڅوك نه پریخودي اود هغه خاتمه په داسې حالت کې و شوه چې د خلقو قوت باقي پاتې نشو. (بخاري)

حل اللغات:- ① اَلْحَرَّةَ: کانړی جنه زمکه، مراد هغه فتنه ده چه په حرّه مقام کښې واقع شوې وه. ② طَبَاخٌ: قوت، طاقت، عقل اومضبوطيا ته طباخ وائی.

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الثَّالِثَةُ فَلَمْ تَرْتَفِعْ وَبِالنَّاسِ طَبَاخٌ:

د درې فتنوسپیره والې ذکر: دلته دَ طباخ څخه قوت اوعقل مراد دې. یعنی دَ دې دریمې فتنې نه پس په دنیاکښې یو صحابی باقی پاتې نه شو.

① چه اول فتنه دَ حضرت عثمان رضي الله عنه دَ شهادت راغله نو په جنګ بدرکښې دَ شریك صحابه کرامو نه څوك هم پاتې نه شو

② چه کله دَ یزید په وخت کښې واقعه حره اوشوه نودَ بیعت رضوان دَمبارك صحابه نه څوك هم پاتې نه شو.

③ چه دریمه فتنه دَحجاج بن یوسف اوحضرت عبد الله بن زبیر رضي الله عنه راغله نو په دنیاکښې څوك صحابی پاتې نه شو. دَنالائق حکمرانانو دَ وجې اسلام ته ډیر لوئی نقصان رسیدلې دې.

[۱] بَابُ الْمَلَاحِمِ

دَ سختو جنګونو بيان

خلاصة الباب

فيه ستة وعشرون حديثاً مشتملة على ثلاث مسائل:

① المحاربات الجزئية المتعينة: ۱، ۲، ۳، ۴، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۲۱، ۲۲، ۲۳.

② الفتن الجزئية : ۵، ۶، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳ ، ۱۴ ، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰ ، ۲۳، ۲۵.

③ الفتوح الشخصية : ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۳، ۱۸، ۲۶.

د ملحمة لغوي معنى : ملاحم دَملحمة جمع ده ① اوملحمه لاس پـه لاس جنګ اوسخت جنګ ته وائي. پـه كوم كښې چه دَ دواړو فريقو دكسانو دَ بدنونو غوښې يوبل سره ګډې ودې شي.

② لحمه دَ كپړودَ تانابانا ګډوډوالي ته هم وائي. چونكه پـه دغه لاس پـه لاس جنګ كښې خلقو يوبل سره انختي وى پـه دې وجه سخت جنګ اوعظيم حادثې ته ملحمه وائي.

د كتاب الفتن او كتاب الملاحم جدا جدا ذكر كولووجه : دَحضورپاك دَ مباركو نومونو نه يو نوم نبي الملاحم هم دې. يعني دَ لاس پـه لاس جنګ كونكو نبي، دكتاب الفتن نـه باب الملاحم جدا ذكركړې شوې دې. دَدې وجه داده چه كتاب الفتن كښې دَ فتنو بيان پـه توګه دَ اجمال او ابهام وو دَ چا تعين نـه وو لـيكن پـه ملاحم كښې باقاعده تعين دې. دَ قبائلو نوم ذكر دې دَ خائي ذكر دې لهذا دا دَ فتن نه جدا كولو سره ذكركړې شوې دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۴۱۰] دَ قيامت نه مخكې راتلونكى دولس واقعات

۵۴۱۰-(*)[۱] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ، تَكُونُ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ، دَعْوَاهُمَا وَاحِدَةٌ، ③ وَحَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ، قَرِيبًا مِنْ ثَلَاثِينَ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللهِ، ④ وَحَتَّى يُقْبَضَ الْعِلْمُ، وَتَكْثُرَ الزَّلَازِلُ، وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ، وَتَظْهَرَ الْفِتَنُ، وَيَكْثُرَ الْهَرْجُ وَهُوَ الْقَتْلُ،

ترجمه : ① دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② قيامت بـه ترهغه وخت پورې نه قائميږي ترڅوپورې چې دوه لوى ډلې پـه خپلو كې جنګ ونه كړي

[*]) اخرجه البخارى فى كتاب الفتن/باب خروج النار (رقم-۷۱۲۱) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب بيان الزمن الذى لا يقبل فيه الإيمان (رقم-۲۴۸ - (۱۵۷) واحمد فى المسند: ۳۱۳/۲

چې دهغوئ په مینځ کې به لوي جنګ اونښلي ، او د هغه دواړو ډلو دعوي به هم یوه وي [۳] وترڅو پوري چې زبردست مکار، دهوکه باز او فسادي خلق پیدا نشي چې الله او رسول باندې دروغ تړي، او د هغوئ تعداد به د دیرش نه نزدې وي او په هغوئ کې به هریو دا دعویٰ کوي چې هغه د الله رسول دی [۴] او قیامت به ترهغه وخته پورې نه قائمیږي ترڅو پوري چې ①علم پورته نشي ②او د زلزلو کثرت نشي، ③زمانه سره نزدې نشي، ④د فتنو ظهور شروع نشي ⑤او هرج یعنی قتل وقتال او د غلا په واقعاتو کې اضافه ونشي،

حل اللغات:- ① مَقْتَلَةٌ: جنګ، ② دَجَّالُونَ: دجال دَ مبالغې صیغه ده ډیرزیات دهوکه باز اوفرادی. ③ الْهَرْجُ: قتل.

[۱] وَحَتَّى يَكْثُرَ فِيكُمُ الْمَالُ فَيَفِيضَ، حَتَّى يُهِمَّ رَبَّ الْمَالِ مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ، وَحَتَّى يَعْرِضَهُ فَيَقُولُ الَّذِي يَعْرِضُ عَلَيْهِ: لَا أَرَبَ لِي بِهِ، [۲] وَحَتَّى يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي الْبُنْيَانِ، [۳] وَحَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ: يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ، [۴] وَحَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا النَّاسُ آمَنُوا أَجْمَعُونَ، [۵] فَذَلِكَ حِينَ ﴿لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا﴾ [الأنعام:۱۵۸]،

ترجمه: [۱] قیامت به ترهغه وخته پورې نه قائمیږي ترڅو پوري چې ستاسو سره د مال ودولت دومره کثرت نشي چې مالدار سړی به د خیرات اخیستونکي په سبب په پریشاني کې مبتلا وي، تردې چې هغه مالدار چې کوم سړی صدقه اخیستونکی ګڼلو سره د هغه مخکې د صدقه او خیرات مال پیش کړو هغه به د غنائي قلبي په سبب یاخپله د مالدار کیدو په وجه اووائي ماته ستا د صدقې او خیرات د مال ضرورت او حاجت نشته. [۲] او قیامت به ترهغه وخته نه قائمیږي ترڅو پوري چې خلق وسیع اوږدو پلنو عمارتونو جوړولو باندې فخر شروع کړي [۳] او یو سړی په یوقبر باندې تیریدلو سره دا وئیل شروع کړي. چې کاش ارمان زه د ده په ځاى وی، [۴] او قیامت به ترهغه وخته پورې نه قائمیږي ترڅو پوري چې نمر د مغرب دطرف نه را ونه خیژي او خلق هغه ووینې، نو ټول به ایمان راوړي. او داخرت امر به ظاهرسي [۵] نو دابه هغه وخت وي چې سړی ته ایمان راوړل نفع نه ورکوي چاچې دهغه نه مخکې ایمان قبول کړی نه وي اونه به یو سړی ته هغه وخت د خپل ایمان په حالت کې ښه نیک کار کول څه فائده ورکړي که هغه د هغه نه مخکې نه وي کړي.

حل اللغات:- ④ يَفِيضَ: د فاض يفيض نه. بهيدل يعنی ډير والې ⑤ يُهِمَّ: دَ باب افعال نه دې دَ سوچ فکر او پریشانۍ په معنی کښې دې ⑥ أَرَبٌ: حاجت. ضرورت.

[۱] وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلَانِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا، فَلَا يَتَبَايَعَانِهِ وَلَا يَطْوِيَانِهِ، [۲] وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدِ انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ لِقْحَتِهِ فَلَا يَطْعَمُهُ، [۳] وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَهُوَ يُلِيطُ حَوْضَهُ فَلَا يَسْقِي فِيهِ، [۴] وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ رَفَعَ

أَكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلَا يَطْعَمُهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او په دي کې شک نشته چې قيامت به داسې قائميږي اولنى شپيلى چې دقيامت به ابتداء وي داسې به ناځاپه وپوکل شي چې دوو سړو به خپله کپړه خريدو فروخت دپاره غوړولي وي اوهغوى به د هغه خريدو فروخت نه وي کړى اونه به يې اينبي وي چې په دي حالت کې به قيامت راشي ② اوبلاشبه قيامت به داسې قائميږي چې يو سړى به دخپلي اوښي د شيدو په اخيستو سره به خپل کورته راغلى وي اوهغه شوده به يې لاڅکلي نه وي چې قيامت به راشي، ③ وبلاشبه قيامت به داسې قائميږي چې يو سړى به خپل حوض ته ګل ور کوي خپلو څناوروته اوبه ورکولو دپاره به دوغل وغيره جوړوي ياهغه به درست کوي اوهغه به خپل څناور د هغه حوض نه لانه وي اوبه کړي چې قيامت به راشي، ④ اوبلاشبه قيامت به داسې قائميږي چې يو سړى به خولي ته نوړى اوچته کړي نه وي اوهغه به يې خوړلي نه وي چې قيامت به راشي (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ⑦ لَا يَتَبَايَعَانِهِ: بيعه به ئې لانه وى کړې، ⑧ لِقْحَتِهِ: د پيئو والا اوښه. ⑨ يُلِيطُ: لَاطَ يَلِيطُ، ليو او پلستركولو ته وائى. ⑩ فِيهِ: خُله.

تسهيلات:

قوله: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ:

د فئتان څخه مراد: يعنى دَ مسلمانانودوه لوئى ډلې به جنګيږى. دې نه دَحضرت علی ﷺ اوحضرت معاويه ﷺ په مينځ کښې جنګ مراددې کوم چه دَ صفين په مقام باندې جنګيدلې دې چه دَ خو مياشتو پورې جاري وو. په کوم کښې چه دَ طرفينو اويا زره يا ۹۰زره سړي مړه شوى وو. کتاب الفتن حديث نمبر ۵۴۰۷ پوره تفصيل ليکلې شوې دې

قوله: تَكُونُ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ، دَعْوَاهُمَا وَاحِدَةٌ:

د حق دعويداري: يعنى دواړه به دَ اسلام دعويدار وى ياداچه دواړه به خپل ځان په حق باندې ګڼړى او په حق دکيدو دعوىٰ به کوى.

قوله: وَحَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ، قَرِيبًا مِنْ ثَلَاثِينَ،

تعارض: په نورو روايتونو کښې دَ ديرش عدد ذکردې نوپه دې کښې ښکاره تعارض شو او دَحضرت ابن عمر ﷺ په يوروايت کښې دَ اويا ذکر دې.

دتعارض درې جوابونه: ① دَاولنې وحى په ذريعه سره يو عدد اوخودلې شوبياهم دَ وحى په ذريعه په دې کښې اضافه اوکړې شوه لکه څنګه چه وحى اوخودل حضورپاك هم هغه شان بيان کړو.

② ديرد جالان خو به هغه لوئى مشران وى چه دَنبوت به باقاعده دعوىٰ کوى دې نه علاوه

په واړه واړه وی هغوی به دَ نبوت دعوی نه کوی.
② دا په کثرت باندې حمل کولې شی هیڅ تعیین نشته بلکه دَتکثیر طرف ته اشاره ده.
نوټ: د ① وَحَتَّى يُقْبَضَ الْعِلْمُ ② وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ ③ وَيَكْثُرَ الْهَرْجُ وَهُوَ الْقَتْلُ تشریح وړاندې
د حدیث نمبر (۸۹۰۵) په شرح کښې تیره شوې ده
قوله: حَتَّى يُهِمَّ رَبَّ الْمَالِ مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ:
د مذکوره زمانې مصداق: مطلب دا چه صاحب مال به دَصدقه کولو کوشش کوی مګر څوک به قبلونکې نه وی. په ظاهره دا دَ خوشحالئی زمانه دَحضرت مهدی او حضرت عیسیٰ عليه السلام زمانه ده
د مال نه قبلولو دوه وجوهات:
① دَعدمِ حرص او مال دَ بې رغبتئی دَ وجې به مال نه قبلوی.
② مالونو دکثرت او دَ برکت دَ وجې به مال نه قبلوی.
قوله: وَحَتَّى يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي الْبُنْيَانِ:
د آبادو په اوچتولو کښې مقابله کول: یعنی خلق به بې دَ ضرورته محلونو او اوچتو بلډنګونو کښې په یوبل باندې فخر مباهات او تکبر کوی. خاص کر هغه طبقه چه دَچیلو څرونکې وه په هغوی کښې به دغه مقابله وی چه دَچا محل څومره اوچت دې.نن صبا په یورپی ملکونو کښې ددې وجود په کثرت سره کتلې شی.دغه شان په عربو ملکونو کښې هم لکه په دوبی کښې برج الخلیفه او په مکه کښې ,,مکه ټاور،،ته اوګوره.
قوله: وَحَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ: يَالَيْتَنِي مَكَانَهُ:
د دنیاوی پریشانو په وجه د مرګ تمنا کول: یعنی ژوندې سړې به دا تمنا کوی چه افسوس په دغه قبر کښې دَدې مړی په ځائې زه وې دا به دَدین دَ پریشانئی دَ وجې نه نه وی بلکه دَ دنیا پریشانی به وی اودَ ظاهری آفتونو نه به تنګ راتلو سره داآرزو کوی.
قوله: وَحَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا:
د مغرب د طرفه د نمر راختل: ,,قیامت به ترهغې نه قائمیږی ترڅو چه دَمغرب له اړخه دَنمرختو واقعه نه وی راپیښه شوی تول خلق به دَدے نښانې په لیدلو ایمان راوړی،داهغه وخت دې چه دَقرآنِ کریم دَارشاد مطابق به هیچاته دَهغه ایمان راوړل فائده نه ورکوی-(۵۱)

۵۱) صحیح البخاری، کتاب التفسیر، باب لا ینفع نفساً ایمانها: ج ۲، ص ۶۶۷

[٥٤١١]دَقیامت نه مخکې ترکیا نوسره د جنګ کولوپیشنګولی

٥٠٥-(٣)[٢] ①وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعْرُ، ③وَحَتَّى تُقَاتِلُوا التُّرْكَ صِغَارَ الْأَعْيُنِ، حُمْرَ الْوُجُوهِ، ذُلْفَ الْأُنُوفِ ④كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②قيامت به ترهغه وخته پورې نه راځي ترڅوپورې چې تاسو د هغه قوم سره جنګ ونه کړی چې د هغوی چپلان به د غير دباغت والا دڅرمو وي ③وتر څوپورې چې تاسو د ترکمنو سره جنګ ونه کړی چې دهغوی سترګې به کشني مخونه سره (سرخ) اوچيتې پزووالاوي ④ګويا دهغوی مخونه به دڅرمې د ته برته سپر (ډهال) په شان وي (البخاري مسلم).

حل اللغات:- ①صِغَارَ الْأَعْيُنِ: ورو سترګو والا. دترکو سترګې ورې وی او مخونه ئې سره وی. ②حُمْرَ الْوُجُوهِ: سره مخونو والا، ③ذُلْفَ الْأُنُوفِ: چيتو پوزو والا، ④الْمَجَانُّ: ډهال. ⑤الْمُطْرَقَةُ: طراق دَ ډهال قطونو ته وائی چه ښکته پورته وی او يوبل سره انختی وی اودَ څرمن وی.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعْرُ:

د ويښتود څپلو څخه په مراد کښې درې اقوال: ① يعنی دهغوی څپلی به د غيرمصبوغ څرمني څخه جوړې شوې وی.

② يعنی دهغوی څپلې به د ويښتو څخه جوړې شوې وی.

③ يا د هغوی د ويښتو اوږدوالي مقصود دې چې دهغوی ويښته به دومره اوږده وی چې څپلو پورې به رسيدلې وی.

قوله: وَحَتَّى تُقَاتِلُوا التُّرْكَ صِغَارَ الْأَعْيُنِ،

د ترک په مصداق کښې درې اقوال: ① دَ ياجوج ماجوج کومه حصه چې د سد ذوالقرنين څخه بهرپريخودې شوی دی هغې ته ترك اوئيلې شو مراد هم هغه منګوليان او تاتاريان دی

② علامه خطابی رحمه الله فرمائی چې ترک د قنطورا په اولاد کښې دی کوم چې د حضرت ابراهيم عليه السلام په اولاد کښې شمارلی شی.

③ قتاده فرمائی چې د ياجوج ماجوج دويشت قبيلې وې يوويشت د ديوال څخه اخوا

[52]) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير/باب قتال الترک (رقم-٢٩٢٨) ومسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتى يمر الرجل بقبر الرجل. فيتمنى أن يكون مكان الميت من البلاء (رقم-٦٤ - (٢٩١٢) وابوداود فی کتاب الترجل /باب فی قتال الترک (رقم-٤٣٠٤)والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی قتال الترک (رقم-٢٢١٥) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب غزوة الترک والحبشة (رقم-٣١٧٧) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الترک (رقم-٤٠٩٦) واحمد فی المسند: ٢/٢٣٩

بندې کړې شوی دی اویوه قبیله د دیوال ځخه بهر پاتې شوې وه هم دغه یوې حصې ته ترک وائی ځکه چې ترک د پریخودو په معنی ده اودوی هم د سد ذوالقرنین ځخه پریخودې شوې وو

قوله: ذُلْفَ الْأُنُوفِ:

یوه خدشه: یعنی دهغوی پوزې به چیتې وی ناستې به وی یانرئی پوزې چه ناستې اوپلنې وی زما (شاه فیصل) په زړه کښې داسې راځی چې ددې ځخه به موجوده چینیان مراد وی اګرچې فی الحال دوی شرپسند نه دی اومسلمانانو سره ئې ښه تعلقات هم دی خصوصاً پاکستان سره خو کیدې شی په راروان وخت کښې دوی کښې داسې حاکمان پیدا شی چې هغوی د مسلمانانو دشمنان شی موجوده وخت کښې د سی پیک معاهده چې د چین او پاکستان ترمینځه شوې ده اوکار پرې شروع دې هسې نه په مستقبل کښې هم دا د ګوادر بندرګاه د چینیانو اوپاکستانیانو په مینځ کښې د اختلاف سبب اوګرځی اونبی ﷺ چې د غزوه هند کومه پیشنګوئی کړې ده دهغې مصداق جوړ شی اوپه دې چینیانو څه اعتماد هم نه دې پکارځکه چې کوم خلق دالله تعالی د وجود ځخه منکر وی دهغوی ځخه د خیر څه طمع کیدې شی دا زما د زړه یو آواز وو په ظاهره ددې ځخه آثار نه ښکاری خو ما کاغذ ته حواله کړل فیصله به راروان وخت کوی.

قوله: كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ:

ډهال سره د تشبیه وجه: دمجن جمع ده میم لاندې زیر دې جیم باندې شد دې ډهال ته وائی یعنی د ډهال سره دهغوی د مخونو تشبیه د دې وجې ورکړې شوې ده چې دهغوی مخونه به ګول اود غوښې ځخه ډک وی لکه چې د هغوی د مخونود ګولوالی اوډک والی ئې د ډهال سره تشبیه ورکړې ده کوم ډهال چې د څپلی د څرمنې ځخه جوړشوې وی

دحافظ ابن حجر تحقیق: حافظ بن حجررحمه الله فرمائی نبی ﷺ چې په دې حدیث کښې نبی ﷺ د کومو دوو قومونوذکرکړې دې نو دحدیث ظاهردا وائی چې ددې ځخه دوه جدا جدا

قومونه مراد دی. دهغې تفصیل دا دې. ① د اول قوم ځخه ترک مراد دی

② د دویم قوم ځخه د بابک ملګری مراد دی دا د مرتدیانوهغه ډله ده چا چې ډیر حرام خیزونه جائز کړی وو د مامون الرشید په زمانه کښې د دوی ډیره دبدبه او شان شوکت وو د عجمو په زیاتو ښارونو طبرستان او رئ وغیره کښې د دوی تسلط او غلبه وه بیا د معصتم بالله په زمانه کښې بابک قتل کړې شو ددې فتنې شروع په کال ۲۰۱ هجری کښې شوې وه اود ۲۲۲ هجری کښې د بابک په مرګ سره دا فتنه ختمه شوه.

[٥٤١٢]بعضې عجميانو سره د جنګ کولو پيښېدل

٥٣-(٣)[٣] [١]وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢]" «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا خُوزًا وَكِرْمَانَ مِنَ الْأَعَاجِمِ، [٣]حُمْرَ الْوُجُوهِ، فُطْسَ الْأُنُوفِ، صِغَارَ الْأَعْيُنِ، وُجُوهُهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ، نِعَالُهُمُ الشَّعْرُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١]او د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی [٢]چې قيامت به ترهغه وخته پورې نه راځي . تر څو پورې چې تاسې دخوز او کرمان دخلقو سره (چې داهل عجم نه دی) جنګ ونه کړی . [٣]دې خلقو ①مخونه به سره (سرخ) ②پوزې چيټې ③او سترګې ورې وي . ④او مخونه به يې داسې وی لکه ته برته دچمړې سپر(ډهال) چې وی . ⑤د هغوی چپلې (پيزارونه) به د ويښتانو د چمړې وی. (بخاری)

حل اللغات: - ①خُوزًا: دې نه دَ خوزستان خلق مراد دی ②كِرْمَانَ: دَ ايران دَ مشهور ښارنوم کرمان دې دلته دکرمان خلق مراد دی. ③فُطْسَ الْأُنُوفِ: دَ چيټو پوزو والا

٥٤-(٣) [١]وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ عَنْ عَمْرِو بْنِ تَغْلِبَ [٢]" عِرَاضَ الْوُجُوهِ ".

ترجمه: [١]او دبخاری په يوبل روايت کې دې چې عمرو ابن تغلب نه منقول دی . [٢]چې د هغوی مخونه به سره (سرخ) وی، په ځای دا الفاظ دی چې دهغوی مخونه پلن چکی وی

تسهیلات: قوله: كِرْمَانَ:

دکرمان مصداق :قاضی عياض رحمه الله ليکلی دی چه دې عجميانو نه ترک خلق مراد دی سره دَدې چه دامشهوره نه وی. وجه داده چه دا هم هغه صفات دی کوم چه په ترکوکښې موندلې شی. دوی سره يا جنګ شوې دې يا به راتلونکی وخت کښې کيږی

[٥٤١٤]دَ عيسى عليه السلام دَ نزول په وخت يهوديانو سره د جنګ پيښن کونی

٥٥-(٣)[٣] [١]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢]" «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ، فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ، [٣]حَتَّى يَخْتَبِئَ الْيَهُودُ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ وَالشَّجَرِ، فَيَقُولُ الْحَجَرُ وَالشَّجَرُ: يَا مُسْلِمُ! يَا عَبْدَ اللهِ! هَذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي، فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ، [٤]إِلَّا الْغَرْقَدَ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرِ الْيَهُودِ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

٥٣) اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الإسلام (رقم-٣٥٩٠) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الترک (رقم-٤٠٩٨) واحمد فی المسند:٢/٣١٩

٥٤) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير/باب قتال الترک (رقم-٢٩٢٧)

٥٥) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير/باب قتال اليهود (رقم-٢٩٢٦) ومسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتى يمر الرجل بقبر الرجل. فيتمنى أن يكون مكان الميت من البلاء (رقم-٨٢ - (٢٩٢٢) واحمد فی المسند: ٢/٤١٧

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] قیامت به تر هغه پورې نه قائمیږي تر څو پورې چې مسلمانان دیهودیانو سره جنګ ونه کړي نو په هغه جنګ کې به مسلمانان یهودیان ډیر ووهي په هغوی به غالب راشي [۳] تردې چې یهودیان به د کانړو او ونو لاندې پټیږي اوکاڼي ونې به داوایي چې اې مسلمانه اې دالله بنده دیخواته راسه زما شاته یهودي پټ ناست دی هغه مړکړه [۴] خو غرقد وُنه به داسې نه وایي ځکه چې هغه د یهودیانو وُنه ده (مسلم)

حل اللغات: - ① يَخْتَبِئَ: پټیږی به، ② الْغَرْقَدَ: یوه اوږده ونه ده لکه د لاچی ونه.

تسهیلات:

قوله: هَذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي، فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ:

دمسلمانانو دپاره دکانړو او ونو مخبری کول: یعنی حجر اوشجر به شکایت کوی چه زماشاته یهودی پټ شوې دې دا قتل کړئی. دَ یهودیانو دَ دنیا نه داختمول به دَ حضرت عیسٰی علیه السلام په وخت کښې کیږی. ځکه چه هغه وخت به یو کافر ذمی ساتل ختم شی. جزئیه به ختمه شی یابه اسلام وی یا به مرګ وی. په یهودیانو او نصاریٰ باندې واضح کیدل پکاردی چه زمونږ نبی رحمة للعلمین دې ګورئی دَهغه په دورکښې کافربرداشت کولې شی دَذمیت او جزیه دَ اداکولو نه پس ژوندې ساتلې شی. کله چه کافران دا رحمت شدت اوګڼړی نو په دوی به داسې وخت هم راشی چه دوی به منت کوی مونږ ذمی اوساتئی جزیه واخلئی ژوندی مو پریږدئی مګر دَ الله تعالی حکم به وی چه اوس به یو کافر او یهودی ژوندې نه شی برداشت کولې.

دیهودیانو مبغوضیت: الله تعالی ته په ځناورو کښې خنزیر ډیر مبغوض دې او په انسانانو کښې ورته یهودیان ډیر مبغوض دی. یهودیانو په یوه یوه ورځ کښې ډیر انبیاء کرام شهیدان کړی دی. دلته دَدې حدیث په بیان کښې اوګورئی چه یهودیانو حضرت عیسٰی علیه السلام پریخودو حضرت مهدی ئی پریخودو اودَهغوی په مقابله کښې ئی دَ دجال ملګرتیا اوکړه چا چه دَ الوهیت دعویٰ هم اوکړه او فساد ئی هم اوکړو. لهذا کوم حشر چه دَ یهودو اوشو ډیر ښه اوشو دا به دَ یهودیانو یو بل هولوکاسټ وی.

قوله: إِلَّا الْغَرْقَدَ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرِ الْيَهُودِ:

د غرقدونې پیژندګلو: دا د یهودیانو مقدسه ونه ده ددې ونې څو نومونه دی یهودیان دې ته د محافظې ونې نوم هم ورکوی. دا یوه جاړی داره ونه ده. د جنت البقیع اولنې نوم الغرقد وو. ځکه چې دا په کومه علاقه وه هلته د غرقد وونو جاړې وې. اسرائیلو ددې حدیث څخه ښه فائده اخستې دې او دا وونه په ډیر کثرت سره کری اواوس خو هغوی ددې نقش اوتصویرونه په خپلو جامو باندې هم چاپ کوی.

[٥٤١٥] دَ يو قحطاني سړي باره كښې پيشنګوئي

٥٥-(٣)[٥] [١] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ رَجُلٌ مِنْ قَحْطَانَ [٣] يَسُوقُ النَّاسَ بِعَصَاهُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] قيامت به تر هغه وخته پورې نه راځي ترڅو پورې چې د قحطان نه يو سړی پيدا نشي، [٣] چې خلق به په خپلې همسا سره شړي، (يعنی خلق به د هغه اطاعت کوی او دی به يی مشری کوی) (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① قَحْطَانَ: د عربو يوه زړه قبيله ده، ② يَسُوقُ: شړی به، ③ عَصَا: همسا

تسهيلات:

قوله: يَخْرُجَ رَجُلٌ مِنْ قَحْطَانَ يَسُوقُ النَّاسَ بِعَصَاهُ:

د رجل مصداق: دا قحطاني سړې به يو عادل مسلمان بادشاه وی. دده نوم به جهجاه وی. دې به په اصل کښې غلام وی روستو به دَ پوره دنيا بادشاه جوړشي.

دَ ټولې دنيا څلور بادشاهان: چه څلور بادشاهان دَ ټولې دينا حکمرانان تير شوی دی.

① سکندر ② حضرت سليمان عليه السلام ③ بخت نصر ④ نمرود.

دعربو دوه قبيلې: دَعربو دوه پخوانئي لوئی قبيلې دی

① يوه قحطان ده ② دويمه قبيله عدنان ده.

د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دَ مور اوپلار طرف نه عدناني قحطاني ده دا قبيله پخواني مشرانو نيکانو طرف ته منسوب دی. دهغه نوم قحطان وو او دَ بل نوم عدنان وو

قوله: يَسُوقُ النَّاسَ بِعَصَاهُ:

دمذکوره جملې مطلب: يعنی دَ هغه اقتدار به مضبوط اومستحکم وی. خلق به دَ هغه دَ فرمان تابع وی. دا سړې به دَ حضرت عيسٰی عليه السلام نه پس دَمسلمانانو خليفه جوړيږی.

[٥٤١٦] د جهجاه نومې سړی باره کښې پيشنګوئي

٥٦-(٣)[٦] [١] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«لَا تَذْهَبُ الْأَيَّامُ وَاللَّيَالِي حَتَّى يَمْلِكَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ: الْجَهْجَاهُ" [٣] وَفِي رِوَايَةٍ: "حَتَّى يَمْلِكَ رَجُلٌ مِنَ الْمَوَالِي يُقَالُ لَهُ الْجَهْجَاهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] ورځ او شپه به

---

[٥٥]) اخرجه البخاری فی كتاب المناقب/باب ذكر قحطان ومسلم فی كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتى يمر الرجل بقبر الرجل، فيتمنى أن يكون مكان الميت من البلاء (رقم-٦٠ - (٢٩١٠) واحمد فی المسند: ٤١٧/٢

[٥٦]) اخرجه مسلم فی كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقومُ الساعة حتى يمر الرجل بقبر الرجل، فيتمنى أن يكون مكان الميت من البلاء (رقم-٦١ - (٢٩١١) والترمذی فی كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٢٢٨)واحمد فی المسند:٣٢٩/٢

ترهغه وخته پورې نه توليږي يعنې (تر هغه وخته پورې به د زماني اختتام نه کيږي او قيامت به نه راځي) ترڅو پورې چې هغه سړی مالك نشي يعنې په خلقو اقتدار او تسلط پيدانه کې چې هغه ته به جهجاه وئيل کيږي [۳] او په يوه روايت کې داسې دي چې ترڅو پورې د موالي نه يو سړی مالك نشي، يعنې په خلقو باندې اقتدار او تسلط پيدانه کړي چې هغه ته به جهجاه وئيل کيږي. (مسلم)

حل اللغات: اَلْمَوَالِي دمولی جمع ده معنی ئې غلامان ده.

تسهيلات:

قوله حَتَّى يَمْلِكَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ: الْجَهْجَاهُ":

دنسخو اختلاف: اَلْجَهْجَاهُ: بعضې نسخوکښې خو په دوؤ هاء سره "جهجهاه" دې او بعضې نسخو کښې جهجاه په يو هاء سره نقل دي. دارنگ واضحه دې وي

نوټ: د جهجاه باره کښې لږ وضاحت وړاندې د حديث نمبر (۵۴۱۵) په تسهيل کښې شوې دې.

[۵۴۱۷] دکسری د مانړۍ فتح کيدو خوشخبری

۵۴۱۷-(۳)[۷] [۱] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ [۲]: "«لَتَفْتَحَنَّ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ كَنْزَ آلِ كِسْرَى الَّذِي فِي الْأَبْيَضِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر بن سمره رضی الله عنه وايي چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه دا واوريدل [۲] چې بلاشبه د مسلمانانو يو جماعت به دآلِ کسرىٰ خزانه فتح کړي، چې په سپين محل کښې به وي (مسلم)

حل اللغات:- ① عِصَابَةٌ: ډله. جماعت. ② كَنْزٌ: خزانه. ③ الْأَبْيَضِ: سپين محل

تسهيلات:

قوله لَتَفْتَحَنَّ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ:

دآل کسرى څخه مراد: د فارس د بادشاهانو لقب کسرى دې، د روم د بادشاهانو لقب قيصر. دلته لفظ د آل زائد دې په قلعه ابيض کښې اوسيدونکی د کسرى اهل کار مراد دی

قوله: كَنْزَ آلِ كِسْرَى الَّذِي فِي الْأَبْيَضِ:

د قصرابيض څخه مراد: قاضي وغيره وائی چه د ابيض نه د ايران هغه مضبوطه قلعه مراد ده کومه چه په دار السلطنت مدائن کښې وه، اهل فارس به هغې ته د سفيد کوشك نوم ورکولو. اوس د هغې په ځائې مسجد المدائن تيار کړې شوې دې

دقصرابيض د فتح مقدمه: دهغې په خزانې باندې مسلمانانو د عمر رضی الله عنه په خلافت کښې

---

[۵۸]) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتی يمر الرجل بقبر الرجل. فيتمنى أن يكون مكان الميت من البلاء (رقم-۷۸ - (۲۹۱۹) واحمد في المسند: ۵/۱۰۰

قبضه کړې وه، مختصر واقعه دا ده چه په ۱۴هجری محرم کښې د اسلام سپه سالار سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د مسلمانانو تقریبا دیرش زره لښکر د تقریبا دوه لاکهه ایرانی لښکر او د هغوی د سپه سالار رستم سره درې ورځو پورې جنګ اوکړو اخر د دریمې ورځ تیریدلو نه پس د شپې په وخت په فیصله کن جنګ کښې سیدنا قعقاع رضی الله عنه آواز اوکړو چه د ایرانی لښکر په مینځ حمله اوکړئ او رستم ګرفتار کړئ.

د رستم قتل: بیا اسلامی فوج هغه مقام ته اورسیدو، چرته چه رستم په زرین فوج باندې ناست فوج جنګولو، رستم د تخت نه راکوزیدو سره په جنګ شو بیا زخمی کیدو سره په تیخته شو هلال بن علقمه رضی الله عنه په رستم باندې د نیزې ګزار اوکړو چه په هغې سره ئې ملا ماته شوه او هغه نهر ته اوغورځیدو، هلال وربښکته شو او د رستم خپې ئې اونیولې او قتل کولو سره ئې د هغه په تخت باندې اودریدو سره په اوچت آواز باندې اونیل قسم په الله: ما رستم قتل کړو،

د ایرانی فوج ماتې: په دې آواز اوریدلو سره ایرانی فوج په تیخته شو. په ایرانی فوج کښې صرف دیرش کسان په تیخته کښې کامیاب شو او باقی ټول په میدان جنګ کښې قتل شو دا خو د قادسیه د جنګ واقعات دی د دې نه پس د بابل او کوتی فتح اوشوه. بیا بهر شیر کومه چه د ایران پوجی چهاونړ وه، هغه ئې فتح کړه،

د مدائن فتح: اوس سپه سالار اسلام سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ته د ایران په دار الخلافة مدائن باندې د قبضې کولو خیال پیدا شو خو د دجله نهر طوفانی او تیارهٔ چپې په مینځ کښې حائل وې، ایرانیانو ټول پلونه غورځولو سره کشتئ سیزلې وې. په بله غاړه باندې ایرانی فوج هم متعین وو، کوم چه د نهر د عبور کولو نه مانع وو د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په حکم سره عاصم بن عمر رضی الله عنه د شپږو سوو غشو ویشتونکو د یو جماعت سره د دجله په غاړه په یو لوړ ځائې باندې کیناستلو د دې نه پس سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ﴿نستعين بالله ونتوكل عليه حسبنا الله ونعم الوكيل لا حول ولا قوة الا بالله العلي العظيم﴾ ونیلو سره خپل اس په اوبو باندې ور واچولو، د هغوی په تابعدارئ کښې نورو هم خپل اسونه په اوبو ور واچول. د دواړو طرفونو نه د غشو باران شروع شو. اخر ایرانی فوج مقتول او زخمی کیدو سره په تیخته شو،

د قصر ابیض فتح: دهغه وخت ایرانی بادشاه یزدجر د مسلمانانو د رسیدو نه مخکښې خپل اهل وعیال او خزانې د مدائن نه اولیږلې خو شاهی محل قصر ابیض او او دار السلطنت کښې د کروړونو روپو سامان پاتې شوې وو، د اسلامی لښکر د دریاب عبور کولو نه پس یزدجر هم په تیخته شو سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په قصر ابیض کښې داخلیدو سره دا آیت کریمه اولوستلو ﴿كَمْ تَرَكُوا مِنْ جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ وَنَعْمَةٍ كَانُوا فِيهَا فَاكِهِينَ

كَذٰلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ ﴾ دا د جمعې ورځ وه، په قصر ابيض كښ د كسرى د لاندې ځائې ممبر كيخودلې شو او هلته ئې د جمعې مونځ ادا كړو،

د قصر ابيض مال غنيمت: په مال غنيمت راټولولو باندې ئې عمرو بن مقرن ﷛ مامور كړو، په مال غنيمت كښ پوره شاهى خزانه، سپين زر، سرۀ زر او د جواهرات نه جوړ بتان او د كسرى شاهى جامې او د هغه د سرو زرو تاج او د عجائب خانې نه د خاقان، چين، قيصر روم، داهر شاه هند، بهر گور، كسرى هرمز فيرو خنجرونه وغيره ملاؤ شو هم په هغه نادر زر نګار كښ د كسرى عجيب او غريب فرش هم وو. كوم چه نوى ګزه اوږد او يو دپاسه سل ګزه پلن وو، چه په هغې كښ ګلونه وغيره د سرو او سپينو زرو او جواهراتو نه جوړ كړې شوې وو. په مدينه منوره كښ ئې هغه ټكړې ټكړې كولو سره تقسيم كړو، د على ﷛ په حصه كښ چه كومه ټكړه راغله هغه په مقدار كښ وړه وه خو هغه په ديرش زره ديناره باندې خرڅه كړې شوه. (تاريخ الاسلام از ۳۱۵ تا ۳۷٤)

[۵٤۱۸] د روم او فارس د فتح كولو پيشنګوئى

۵٤۱۸ - (۳)[۸] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «هَلَكَ كِسْرَى فَلَا يَكُونُ كِسْرَى بَعْدَهُ ۳ وَقَيْصَرُ لَيَهْلِكَنَّ ثُمَّ لَا يَكُونُ قَيْصَرُ بَعْدَهُ ٤ وَلَتُقْسَمَنَّ كُنُوزُهُمَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۵ " وَسَمَّى " الْحَرْبُ خُدْعَةٌ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[۵۹]

ترجمه: ۱ او حضرت ابو هريره ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ كسرىٰ هلاك شوى دى د كسرىٰ نه پس به بل كسرىٰ نه وي، ۳ او يقينًا قيصر د روم بادشاه هم هلاك شو د هغه نه پس به بل قيصر نه وي ٤ او د دې بادشاهانو خزاني به د الله ﷻ په لار كې تقسيم شي، ۵ او حضور ﷺ د جنګ نوم فريب او دهوكه كيخو دلو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① الْحَرْبُ: جنګ. ② خُدْعَةٌ: حيله، تدبير.

تسهيلات:

قوله: هَلَكَ كِسْرَى فَلَا يَكُونُ كِسْرَى بَعْدَهُ:

د كسرى مصداق: كِسْرَى په كسره دَ كاف ويجوز الفتح، دَ فارس دَ بادشاه به دا لقب وو ابن الاعرابى وائى چه كسره افصح دې خو زجاج نحوى دَ كسره نه انكار كړې دې.

قوله: وَقَيْصَرُ لَيَهْلِكَنَّ ثُمَّ لَا يَكُونُ قَيْصَرُ بَعْدَهُ:

د قيصر مصداق: دَ روم دَملک دَ بادشاه لقب قصر وو.

---

[۵۹]) اخرجه البخارى فى كتاب الجهاد والسير/باب: الحرب خدعة (رقم-۳۰۲۷) ومسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتى يمر الرجل بقبر الرجل. فيتمنى أن يكون مكان الميت من البلاء (رقم-۷٦ - ۲۹۱۸) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء إذا ذهب كسرى فلا كسرى بعده (رقم-۲۲۱٦) واحمد فى المسند: ۲/۳۱۳

د حدیث پس منظر: رسول الله ﷺ په کال ۷ هجری کښې دَ مختلف بادشاهانو په نومونو خطونه جاری کړی وو نودَ کسریٰ او قیصر په نوم ئې هم خطونه اولیکل په کوم کښې چه هغوی ته دَ اسلام دعوت ورکړې وو. دَ کسریٰ په نوم خط حضرت عبدالله بن حذافه سهمی رضی الله عنه اوړلې وو کسریٰ چه دَ رسول الله ﷺ خط اولوستلو نو دَ غصې نه تک سور شو په ډیر خفګان او غصه کښې ئې خط ټکړې ټکړې کړو اووئیل ئې دا سړې مونږ ته دَ ایمان راوړلو دَ پاره خط لیکی حالانکه دا سړې زما غلام دې

د نبی علیه السلام د ګوفتارۍ حکم: عبدالله بن حذافه رضی الله عنه دا واقعه حضورپاک ﷺ ته بیان کړه نو حضورپاک ﷺ اوفرمائیل دَ کسریٰ ملک ټکړې ټکړې شو. کسریٰ دَ یمن ګورنر باذان ته خط اولیکلو چه دوه طاقتور سړی اولیګه چه حضوراکرم ﷺ راګیرکړی دلته ئې راولی. هغه دواړه چه کله دَ حضور ﷺ مخې ته اورسیدل نودَ الله تعالی دَ طرف نه دَ ورکړې شوی عظمت په وجه په لړځیدو شو.

دکسری د هلاکت خبر ورکول: رسول الله ﷺ دې دواړو ته دَ اسلام دعوت ورکړو وئې فرمائیل چه صباله راشئی کله چه دا دواړه حاضر شو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل په نن شپه فلانکی وخت کښې دَ کسریٰ خوئ په هغه باندې مسلط کړې شو نو هم په دغه شپه دَ کسریٰ خوئ شیرویه هغه قتل کړو دا دَ نهې شپه وه لسم دَ جمای الاولی کال ۷ هجری وو اودې دواړو ته ئې اوفرمائیل چه تاسو باذان ته داحال بیان کړئی او باذان ته اووایئی زما حکومت به تردغه ځائ رسی. باذان اووئیل داخبره دَ بادشاهانو په شان نه ده که دَ کسریٰ دَ قتل خبر صحیح دې نوهغه بې شکه نبی دې. دَ دې خبر په تصدیق کیدو باندې باذان سره دَ خپل خاندان او ملګرو مسلمان شو (سیرة المصطفیٰ ۲/۳۷۴) کوم کسریٰ چه خط شلولې ودَ هغه نوم ابرویزبن هرمز بن نوشیروان وو، دَ هغه نه شپږ میاشتې پس دَ هغه خوئ هم مړشو

دعمر فاروق په زمانه کښې دفارس فتح کیدل: بیا دَ حضور پاک ﷺ دَ بددعا دا اثر شو چه دَ عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کښې دَ فارس ملک ټکړې ټکړې شو اودَ سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په ذریعه فتح شو دغه وخت دَ فارس بادشاه یزد جرد بن شهریار بن شیرویه وو

اشکال: دَ دې مذکوره روایت نه معلومیږی چه دَ کسریٰ او قیصرنه پس به یوقیصر او کسریٰ نه وی حالانکه دَ دې زمانې قیصر او کسریٰ نه پس هم دَ هغوی مملکتونه باقی پاتې دی؟

داشکال جواب: دَ حدیث شریف نه مراد دادې چه فلا کسریٰ بالعراق وقیصر بالشام قاله الشافعی. چونکه صحابه کرام حضرات تاجران وو او دوی به دَ تجارت دَ پاره شام او عراق ته تلل نودَ اسلام راوړلو نه پس هغوی به دَ هغه ځائ دَ بادشاهانو نه ویریدل نو

حضورپاک ﷺ دَ زیری او دَ هغوی دَ زړه دَ تسلئی دَ پاره اوفرمائیل چه هیڅ قیصر اوکسری به پاتې نه شی دا هم یاد ساتئی چه فارس ټکرې ټکرې شو فنا شو ځکه چه هغوی دَ رسول الله ﷺ خط مبارک ټکرې ټکرې کړې وو او دَ روم ملک باقی پاتې شوځکه چه قیصردغه خط ښکل کړې وو او په سر ئې ایخودې وو دَ حضور پاک ﷺ دا اشاره بالکل صادق شوه چه بیا دَ هغه ځائ دَ بادشاهانو دغه القابات بالکل ختم شوې وو

قوله: الْحَرْبُ خُدْعَةٌ:

په جنګ کښې د دهوکې جواز: یعنی حضورپاك دَ جنګ او جهاد نوم چالبازی حیله اوتدبیرکیخودو ځکه چه په جهادکښې دَدې اجازت شته . هم دغه وجه وه چې نبی کریم صلی الله علیه به کله د جهاد اراده لرله نو اصلی ځائې به ئې نه خودلو بلکه توریه وغیره به ئې کوله دغه شان په غزوه خندق،قتل کعب بن اشرف وغیره معرکوکښې حقیقت حال پټ کړې شوې دې

د موجوده جملې سابقه سره ربط: دَدې جملې دَ سابقه جمله سره ربط دې چه کله دَفتوحاتو او دَ غنائمو دَ تقسیم تذکره اوشوه نودَ جهاد دَمیدان تصور مخې ته راغلونو حضورپاك دَ جهاد دَ ضروریاتو او دَ آدابو نه دَ یوضرورت او آدب ذکر اوفرمائیلو .

[۵۴۱۹] دِ جلو رقسمه فتوحاتو پیشنګوئی

۵۴۱۹-(۹) [۱] وَعَنْ نَافِعِ بْنِ عُتْبَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «تَغْزُونَ جَزِيرَةَ الْعَرَبِ فَيَفْتَحُهَا اللَّهُ، [۳] ثُمَّ فَارِسَ فَيَفْتَحُهَا اللَّهُ، [۴] ثُمَّ تَغْزُونَ الرُّومَ فَيَفْتَحُهَا اللَّهُ، [۵] ثُمَّ تَغْزُونَ الدَّجَّالَ فَيَفْتَحُهُ اللَّهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت نافع ابن عتبه رضی الله عنه روایت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] تاسو خلق به ځما نه پس د جزیرة العرب غزه کوئ، او الله ﷻ به تاسو ته فتحه درکړي، [۳] بیا به تاسو د فارس ملك سره جنګ کوئ او الله ﷻ به دجهاد په ذریعه هغه ستاسو په لاس بیا فتح کړي. [۴] بیا به تاسو د روم مملکت سره جنګ کوئ، او الله ﷻ به هغه ستاسو په لاس فتح کړي [۵] و بیابه په آخري زمانه کې تاسو د دجال سره جنګ کوئ او الله ﷻ به په هغه تاسو ته فتح درکړي (مسلم)

تسهیلات:

قوله: تَغْزُونَ جَزِيرَةَ الْعَرَبِ فَيَفْتَحُهَا اللَّهُ:

دجزیرة العرب څخه مراد: دَ جغرافیه دانو دَ قول مطابق نجد ،حجاز، یمامه، یمن او غروض په دې لویو پنځو مقاماتو باندې دَجزیرة العرب اطلاق کیږی. په حجاز کښې

[۶۰] اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ما یکون من فتوحات المسلمین قبل الدجال (رقم-۳۸ - (۲۹۰۰) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الملاحم (رقم-۴۰۹۱) واحمد فی المسند: ۳۳۸/۴

مکه اومدینه هم داخل دی. دَ جزیرة العرب په جنوب کښې بحرعرب واقع دې او په شمال کښې دَ فرات دریاب دې مشرق کښې خلیج عرب اوخلیج عمان واقع دې او مغرب کښې بحر احمرواقع دې. بهرحال داحدیث ښائی چه هم دَجهاد مقدس په ذریعه په مسلمانانو باندې دَ فتوحاتو دروازې کولاؤ شوی دی او بیابه هم کولاویږی

قوله: ثُمَّ فَارِسَ فَيَفْتَحُهَا اللَّهُ:

نوټ: د فارس اوروم د فتحې تفصيل د حديث نمبر(۵۳۱۷) په تسهيل کښې تيرشوې دې.

اود دجال تفصيلي بحث به د مشکاة دحديث نمبر(۵۳۲۰) په تسهيل کښې راشي انشاء الله

[۵٤۲۰] دَ قیامت څخه وړاندې دَ شپږو واقعاتو پیشګوئی

۵۴۲۰-(۳)[۱۰] ۱ «وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ ۲: أَتَيْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ ۳ فَقَالَ "اعْدُدْ سِتًّا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ ۴ مَوْتِي ۵ ثُمَّ فَتْحُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ ۶ ثُمَّ مُوتَانٌ يَأْخُذُ فِيكُمْ كَقُعَاصِ الْغَنَمِ ۷ ثُمَّ اسْتِفَاضَةُ الْمَالِ حَتَّى يُعْطَى الرَّجُلُ مِائَةَ دِينَارٍ فَيَظَلُّ سَاخِطًا

ترجمه: ۱ او حضرت عوف ابن مالك وايي ۲ چې د غزوه تبوك په دوران کې يوه ورځ زه دحضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم هغه وخت حضور ﷺ د چرمې په خيمې کې تشريف فرماوو ۳ حضور ﷺ وفرمايل تاسو دقيامت راتلونه مخکې شپږ ۶ څيزونه شمار کړی هغه شپږ ۶ څيزونه د قيامت د علاماتو نه وګڼی چې د قيامت نه مخکې به هغه څيزونه ضرور واقع کيږي ۴ يوخوبه زما مرګ چې ترڅو پورې زه ستاسو مخکې يم قيامت به نه راځي ۵ دويم دبيت المقدس فتح کيدل تر څوپورې چې بيت المقدس د مسلمانانو په لاس فتحه نشي قيامت به نه راځي ۶ دريم يوه به عامه وبا خوره شی کومه چې د چيلوبيماری ده ۷ څلورم د خلقو سره مال ودولت دومره زياتيدل که يوسړی ته سل ديناره هم ورکړه شي نوهغه به بياهم غصه وي څکه چې دچا په نظر کې به لوی نه لوی رقم هم څه اهميت نه لري، انو د حضور ﷺ داپيش ګويي دحضرت عثمان ؓ په دور حکومت کې پوره شوه هرکله چې په مسلمانانوکي مال ودولت ډير زيات شوی وو.!

حل اللغات: - ① قُبَّة: خيمه. ② أَدَم: خرمن. ③ مُوتَانٌ: په ميم باندې ضمه ده يوقسم عام وبائی مرض مراد دې. ④ قُعَاص: يو وبائی مرض چه په چيلو کښې پيدا کيږی او وژنی ئې. ⑤ اسْتِفَاضَة: زياتيدل. ⑥ سَاخِطًا: خفه. غصه.

۱ ثُمَّ فِتْنَةٌ لَا يَبْقَى بَيْتٌ مِنَ الْعَرَبِ إِلَّا دَخَلَتْهُ ۲ ثُمَّ هُدْنَةٌ تَكُونُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ بَنِي الْأَصْفَرِ ۳ فَيَغْدِرُونَ فَيَأْتُونَكُمْ تَحْتَ ثَمَانِينَ غَايَةً تَحْتَ كُلِّ غَايَةٍ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الجزية /باب ما يحذر من الغدر (رقم-۳۱۷۶) ومسلم فی کتاب الصلاة /باب سترة المصلی (رقم-۲٤۹ - (۵۰۳) وابن ماجه فی کتاب الفتن /باب أشراط الساعة (رقم-٤٠٤٢)

ترجمه: ⑥پنځمه فتنه په خپلو کې مخاصمت او مخالفت چې د عربو هيڅ کور به باقي پاتي نشي چې هغه ته به د دې فتنې خراب اثرات ونه رسيږي علماوو ليکلي دي چې د دې پيش ګوئي مصداق د حضرت عثمان ﷺ سانحه شهادت دی، يا د فتنې نه مراد هغه فتنه او خرابي ده چې د هغه ظهور د حضور ﷺ نه پس وشو، ⑦او شپږمه هغه صلح ده چې ستاسو او د روميانو په منځ کې به وي، ⑧بيا به روميان عهد شکني وکړي، ستاسو په مقابله کې به د اتياؤ جنډيو تحت راشي چې په هغه کې به د هرې جنډې تحت دولس زره سړي وي. (بخاري)

حل اللغات:—⑥هُدْنَةٌ: دَ صلح او مصالحت په معنی کښې دې. ⑧فَيَغْدِرُوْنَ: عهد شکنی به اوکړی، دهوکه به اوکړی، ⑨غَايَةٌ: جهنډا.

تسهيلات:

قوله: فَتْحُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ: دَ حضرت عمر فاروق ﷺ په زمانه کښې فتح شوې وو.

قوله: مُوْتَانٌ:

د موتان پيژندګلو: دا وبائی مرض اکثر په چيلو کښې راځی چه تولې چيلئی مړې کوی.

دې مرض ته "قعص" وائی يعنی دَچيلودَ دغه خاص مرض په شان به په تاسو باندې هم يو وباء راځی. دادَ طاعون عمواس طرف ته اشاره ده چه دَحضرت عمر ﷺ په دورخلافت کښې ۱۸هجری کښې راغلې وو.

عمواس بيت المقدس سره نيزدې دَ يوځائی نوم دې هغه وخت داخائی فوجی چهاؤنی وه. دې طاعون سره په دريو ورځو کښې دننه دننه اويا زره کسان مړه شوی وو.

قوله: اِسْتِفَاضَةُ الْمَالِ:

د مال زياتيدل: دا څلورمه علامه ده چې مال به دومره زيات شی چې يو کس ته به سل (۱۰۰) دينار ورکړې شی خو هغه به دغه سل دينار کم ګڼری او خوشحاليږی به پرې نه.

د حديث په محمل کښې دوه اقوال: ① په دې کښې کثرت فتوحات ته اشاره ده کومه چې د حضرت عثمان رضی الله عنه په ابتدائی پنځو کالو کښې حاصل شوی وو.

② کيدې شی چې دا قيامت ته نزدې يوې زمانې ته اشاره ده په کومه کښې چې په مال زيات شی لکه چې يو حديث کښې راغلی دی قيامت ته نزدې به زمکې خپلې خزانې رابهر کړی.

قوله: ثُمَّ فِتْنَةٌ:

د فتنې په مصداق کښې درې اقوال: ① په دې کښې دَحضرت عثمان بن عفان ﷺ دَ شهادت طرف ته اشاره ده

② دَحضرت علی رضی الله عنه اوحضرت معاویه رضی الله عنه په مینځ کښې دَ جنګونو طرف ته اشاره ده.
③ کیدې شی ددې څخه سقوط بغداد طرف ته اشاره وی په کومه کښې چې هلاکو خان په بغداد حمله کړې وه اود یو روایت مطابق شل لاکهه مسلمانان ئې قتل کړی وو. اود بیت الحکمة عظیم الشانه کتب خانه ئې سوزولې وه. یا ئې د هغې کتابونو دریاب ته اچولی وو.

قوله: ثُمَّ هُدْنَةٌ تَكُونُ بَيْنَكُمْ:

د هدنة مصداق: ددې څخه مراد د مسلمانانواو رومیانو په مینځ کښې صلح ته اشاره ده یعنی یو صلح اومعاهده به کیږی ممکن ده چه هغه معاهده وی چه دَ مسلمانانو اوعیسایانو دَ یوې دلې په مینځ کښې به کیږی اودَ عیسایانو دویمې دلې سره به جنګ کیږی. بیا چه کله فتح حاصله شی نومسلمانان به وائی چه اسلام غالب شو او عیسایان به وائی چه صلیب غالب شو. بیا به دَهغوی په خپل مینځ کښې جنګ کیږی تول عیسایان به دَمسلمانانو خلاف شی او په جنګ کولو سره به دَمسلمانانو بادشاه شهید کړې شی. په داسې وخت کښې به دَ امام مهدی ظهور اوشی اوفوراً به جنګی تیارئی شروع شی. په مقابله کښې به رومیان اتیا جهندې اخستو سره راشی دَهغوی پوره شمیر به نهه لاکهه او شپیته زره وی.

قوله: وَبَيْنَ بَنِي الْأَصْفَرِ:

د بنوالاصفر په وجه تسمیه کښې هوه اقوال: ① د دوی څخه رومیان مراد دی او دوی ته بنو الاصفر ددې وجې وائی چې د جد اعلی نوم روم بن عیصوربن یعقوب وو. دهغه رنګ سپین وو چې زیړوالی ته مائله وو. نود جد اعلی په اعتبار سره ورته رومیان وائی او د رنګ په اعتبار ورته بنو الاصفر وائی.
② د رومیانو جد اعلی روم د حبشو د یو جینۍ سره واده کړې وو. اودهغې څخه چې کوم اولاد پیدا شوې وو. نوهغوی د توراوسپین په مینځ کښې د زیړ رنګ والا وو. څکه ورته بنو الاصفروائی.

قوله: تَحْتَ كُلِّ غَايَةٍ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا:

دغاية معنی اوهې سره د تشبیه وجه: دغایة معنی نښه یا جنډه ده، په بعضې روایاتو کښې د غایة په ځائې غابة منقول دی. د هغې معنی ځنګل اود ونو بنډ دې په دې صورت کښې به دا ونیلی شی چې د نښې او د جنډو د زیات والی د وجې د هغوی تشبیه د وونو بنډ سره ورکړې ده. اود لښکردشمار کثرت ترې مراد دې

[۵۴۲۱] روميانو سره د جنګ پيشګوئي

۵۴۲۱ - (۳) [۳] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② " «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَنْزِلَ الرُّومُ بِالْأَعْمَاقِ أَوْ بِدَابِقَ ③ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِمْ جَيْشٌ مِنَ الْمَدِينَةِ مِنْ خِيَارِ أَهْلِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ ④ فَإِذَا تَصَافُّوا قَالَتِ الرُّومُ: خَلُّوا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الَّذِينَ سَبَوْا مِنَّا نُقَاتِلْهُمْ. ⑤ فَيَقُولُ الْمُسْلِمُونَ: لَا وَاللهِ لَا نُخَلِّي بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷜ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② قيامت به تر هغه وخت پورې نه قائميږي ترڅو پورې چې رومي، اعماق او وابق کې حملې رانشي. ③ او بيا به د مديني والاوو يولښکر د هغوئ مقابلي ته راووځي چې به هغه کې به د هغه ورځ او هغه وخت په مخ د زمکې د ټولو نه ښه خلق شامل وي، ④ هرکله چې د جنګ د پاره صف بندي وشي نو رومي به دا وايي، چې مونږ او هغه خلق سره پريږدئ چې زمونږ خلق يې قيدولو سره راوستلي دي چې مونږ د هغوئ سره جنګ وکړو [يعني چې کوم مسلمانانو چې د دې نه مخکې زمونږ خلاف جهاد کړيدي، او زمونږ څه سړي يې په قيد راوستلي دي. هغه مسلمانان زمونږ په مقابله کې راولي څکه مونږ تاسو ټولو سره جنګ کول نه غواړو. بلکې بدله اخستو د پاره صرف هغه مسلمانانو سره جنګ کول غواړو. ګويا رومي به داخبره څکه کوي چې مسلمانان د هغوئ په خبروکې راتلو سره خپل اجتماعت ضائع کړي او د باهمي تفريق ښکار شي،] ⑤ ليکن مسلمانان به هغوئ ته جواب ورکړي. چې داسې هيڅ کله نشي کيدی مونږ ستاسو او د خپلو هغه مسلمانانو په منځ کې ځای نه شو خالي کولی. [داسې څرنګه کيدي شي چې مونږ هغه مسلمان وروڼه ستاسو په مقابله کې جنګ ته رامخکې کو. او خپله يوطرف ته شو. که جنګ کوو نو مونږ ټول به جنګ کوو. او يوځای به جنګ کوو]

حل اللغات - ① الْأَعْمَاقِ. دَابِقَ: دا دواړه د انطاکيه او حلب په مينځ کښې د دوو ځايونو نومونه دي ② تَصَافُّوا: صف بندي اوشي. ③ سَبَوْا: قيد کړی ني دی.

① فَيُقَاتِلُونَهُمْ فَيَنْهَزِمُ ثُلُثٌ لَا يَتُوبُ اللهُ عَلَيْهِمْ أَبَدًا ② وَيُقْتَلُ ثُلُثُهُمْ أَفْضَلُ الشُّهَدَاءِ عِنْدَ اللهِ ③ وَيَفْتَتِحُ الثُّلُثُ لَا يُفْتَنُونَ أَبَدًا فَيَفْتَتِحُونَ قُسْطُنْطِينِيَّةَ". ④ فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْغَنَائِمَ قَدْ عَلَّقُوا سُيُوفَهُمْ بِالزَّيْتُونِ ⑤ إِذْ صَاحَ فِيهِمُ الشَّيْطَانُ إِنَّ الْمَسِيحَ قَدْ خَلَفَكُمْ فِي أَهْلِيكُمْ.

ترجمه: ① نو ټول مسلمانان به روميانو سره جنګ شروع کړي. او سخت جنګ به وشي، نو په هغه مسلمانانو کې به دريمه حصه (۳/۱) مسلمانان په شا ګرځولو سره وتښتي،

[۶۲]) اخرجه مسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب في فتح قسطنطينية، وخروج الدجال ونزول عيسى ابن مريم (رقم-۳۴ - (۲۸۹۰۷)

چې الله ﷻ به يې هيڅ کله معاف نه کړي، ۲ او يو حصه مسلمانان به جام د شهادت نوش کړي، چې يقيناً به د الله ﷻ په نز ښه شهيدان وګرځول شي، ۳ او باقي يوه حصه مسلمانان به فتحياب شي، يعنى الله ﷻ به د خپل مدد او نصرت په ذريعه د روميانو په مقابله کې هغوئ ته فتحه يابي عطا کړي، او د هغوئ په لاس به د روميانو ښارونه فتح کړي، هغه مسلمانان به الله ﷻ هيڅ کله په فتنه کې وانه چوي، بيابه مسلمانان قسطنطينيه فتح کړي هغه ښار به د کافرو د قبضي نه واخلي ۴ او د هغه نه پس به هغه وخت کله چې هغه مسلمانان دمال غنيمت په تقسيمولو کې مصروف شي او خپلي توري به د زيتون په ونو باندې ځوړنده کړي وي، ۵ چې ناڅاپه شيطان به د هغوئ په منځ کې داخبره اعلان کې چې مسلمانانو تاسو دلته مصروف يې ، حال دا چې مسيح دجال ستاسو کورونو ته رسيدلى دى

حل اللغات:- ۲ فَيَنْهَزِمُ: په شا به اوتختي،شکست به اوخوري، ۵ عَلَّقُوا: زوړندې کړې به ئې وى.

۱ فَيَخْرُجُونَ وَذَلِكَ بَاطِلٌ، ۲ فَإِذَا جَاءُوا الشَّامَ خَرَجَ فَبَيْنَمَا هُمْ يُعِدُّونَ لِلْقِتَالِ يُسَوُّونَ الصُّفُوفَ إِذْ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ ۳ فَيَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ فَأَمَّهُمْ ۴ فَإِذَا رَآهُ عَدُوُّ اللهِ ذَابَ كَمَا يَذُوبُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ ۵ فَلَوْ تَرَكَهُ لَانْذَابَ حَتَّى يَهْلِكَ وَلَكِنْ يَقْتُلُهُ اللهُ بِيَدِهِ ۶ فَيُرِيهِمْ دَمَهُ فِي حَرْبَتِهِ»" . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

توجمه: ۱ د اسلامي لښکر خلق به په دې اوريدو سره د قسطنطنيه نه ووځي، ليکن د شيطان داخبره به سراسر دروغ ثابت شي، ۲ البته مسلمانان چې شام ته ورسي، نو بيا به دجال ښکاره شي، مسلمانان به د هغه سره د جنګيدو تياري کوي، او په صف بندي کې به مشغول شي، چې د مونځ وخت شي او موذن به تکبير کولو د پاره ودريږي ۳ په دې کې به حضرت عيسىٰ ابن مريم د آسمان نه د دمشق د جامع مسجد په مناره را خکته شي، بيابه بيت المقدس ته راشي، او د مسلمانانو امامت به وکړي، ۴ بيابه الله ﷻ هغه دښمن يعنى دجال چې هغه وخت به يې مسلمانان ګيرکړي وي کله چې حضرت عيسىٰ عليه السلام ويني، نو داسې به ويلي کيدل شروع شي لکه څرنګه چې مالګه په اوبو کې ويلي کيږي، ۵ که حضرت عيسىٰ عليه السلام هغه په هغه حالت کې پريږدي، اوقتل يې نکړي نو هغه به تول ويلي شي، مربه شي ليکن دالله مرضي به داوي، چې هغه به د حضرت عيسىٰ عليه السلام په لاس قتل شي ۶ بيابه حضرت عيسىٰ عليه السلام مسلمانانو ته يا کافروته ياټولوته به د دجال وينه د خپلي نيزي په ذريعه وښايي، يعنى حضرت عيسىٰ عليه السلام چې د نيزي په ذريعه دجال قتل کړي، نو د هغه د ويني نه به آلوده وي، هغه به خلقو ته وښايي، چې ګورى ما د هغه د الله د دښمن کار تول کړى دى. (مسلم)

حل اللغات:- ۹ يُعِدُّونَ: د اعداد نه دې يعنى تيارى به شروع کړى، ۵ ذَابَ: ويلى کيدل.

تسهیلات:

قوله: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَنْزِلَ الرُّومُ بِالْأَعْمَاقِ:

د اعماق څخه مراد: په دې حدیث کښې دَمدینې نه مراد دَ حلب ښاردې کوم چه په شام کښې واقع دې په مدینه منوره باندې دا پیشنګوئی صادق نه راځی اونه ترې مدینه منوره مراد ده. دَ مسلمانانو دَدې لښکرنه مراد دَ حضرت مهدی لښکردې چه دَ شام عیسایانو سره به جنګیږی

قوله: قَالَتِ الرُّومُ خَلُّوا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الَّذِينَ سَبَوْا مِنَّا نُقَاتِلْهُمْ:

د کافرانو د مسلمانانو څخه مطالبه: یعنی کافران به وائی چه دَمسلمانانو کومې دلې زمونږ خلق قیدکړی دی هغه دله جدا کړئی دې دَپاره چه مونږ دَهغوی نه بدله واخلو مونږ تاسوسره نه جنګیږو. مسلمانان به دَدې دلې بازئی نه انکارکوی او جنګیدل به شروع کوی مګر یوه دله به اوتختی او یوه دله به دَ خودکش حملې دَپاره تیاره شی. درې ورځې به ښه لاس په لاس جنګ اوشی اومسلمانان به لږ شان پاتې شی. په څلورمه ورځ به ورته الله تعالی فتحه نصیب کړی نو مسلمانان به نیغ لاړشی او په قسطنطنیه کښې به داخل شی لکه څنګه چه تفصیلی روایت کښې دی.

د قسطنطنیه لنډه پیژندګلو: د قسطنطنیه پخوانې نوم بازنطین وو.خو په ۳۳۰ عیسوی کښې یو رومن بادشاه دا خپل نوم ته مسنوب کړه اوددې نوم ئې قسطنطنیه کیخود د بازنطینی سلطنت په تاریخ کښې قستطنطنیه کم ازکم ۲۴ ځله محاصره شوې وه په دې محاصرو کښې دوه ځله قستنطنیه د بیرونی فوځونود لاسه فتح شوې وه. یوځل په ۱۲۰۴ کښې دڅلورمې صدی د جنګ په دوران کښې د یورپ عیسایانو دا بیخی تباه کړه او دویم ځل په ۱۴۵۳ کښې د سلطان محمد فاتح په قیادت کښې عثمانی فوځونو دا فتح کړه

د مسلمانانو محاصرې: مسلمانانو ددې ښار اولنی محاصره ۶۷۴ کښې د اموی خلیفه حضرت معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنه په زمانه کښې کړې وه او دویمه محاصره داموی خلیفه سلیمان بن عبدالملک په دور ۷۱۷ کښې کړې شوې وه. ددې قیادت دخلیفه ورور مسلمه بن عبدالملک کړې وو. دا ناکامه محاصره عیسایان د بلاط الشهدا په شان ګڼړی په دې کښې د ناکامی په وجه راروان اووه سوه کاله په یورپ کښې د مسلمانانو وړاندې کیدل اودریدلی وو. اود بنو امیه فتوحاتو ته هم ډیر نقصان رسیدلې وو. د محاصره په دوران کښې سلیمان بن عبدالملک وفات شوې وو. اوعمربن عبدالعزیزخلیفه شو. او دهغوی په حکم باندې د ښار محاصره ختمه کړې شوه. په دې محاصره کښې د مسلمانانو ډیره جانی نقصان شوې وو.

دعثمانیانو محاصري: عثمانیانو ددې ښار درې محاصرې کړې وې په هغې کښې اولنۍ محاصره په ۱۳۹۶ عیسوی کښې شوې وه کومه چې د سلطان بایزید یلدرنګ په قیادت کښې شوې وه خو تیموری حکمران امیرتیموربیک ګورکانی، صاحب قرن دسلطلنت عثمانیه په مشرقی حصوباندې دحملو کولوپه وجه بایزید ددې محاصرې په ختمولو مجبوره شو.د تیمور اوبایزید جنګ د انقره سره نزدې شوې وو.په دې کښې بایزید ماتې خوړلې وو.

دویمه محاصره په ۱۴۲۲ عیسوی کښې عثمانی سلطان مراد ثانی کړې وه خوبازنطینیانو د ښارپه حفاظت کښې کامیاب شوی وو.

دسلطان محمدفاتح په لاس د قسطنطنیه فتح: په ۱۴۵۳ عیسوی کښې د ښار آخری محاصره سلطان محمد فاتح کړې وه په دې کښې مسلمانانوهغه کارنامې کړې وې چې عقل ورته حیرانیږی اوښار ئې فتح کړې وو.

سلطان محمد فاتح ددې نوم اسلام بول کیخودل اودا ئې خپله دارالخلافه مقرر کړه روسته دا نوم په استنبول بدل شواواوس په موجوده وخت کښې دا د ترکو دارالخلافه ده.اوموجوده وخت ۲۰۲۰ عیسوی کښې د دوی صدر طیب اردګان دې.

قوله: فَإِذَاجَاءُواالشَّامَ:

دشام څخه مراد: دې نه دَبیت المقدس ښارمراددې. "فَأَمهم" یعنی حضرت عیسیٰ علیه السلام به دَمسلمانانو امامت کوی.

قوله: إِذْأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَيَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ فَأَمَّهُمْ:

اشکال: په نورو روایاتو کښې په واضحه توګه راغلی دی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام به مونځ نه ورکوی بلکه حضرت مهدی ته به فرمائی چه امام اوخلیفه هم تاسو یئی خودلته دَحضرت عیسیٰ علیه السلام دَ امامت خبره ده؟

د اشکال دوه جوابونه: ① دا دَ امهم حکم مجازاً دې یعنی حضرت عیسیٰ علیه السلام هغه ته دَ امامت حکم ورکړو نوهغوی امامت اوکړو اې امره بالامامة.

② "امهم" دَ عامو مونځونوباره کښې دې اونفی صرف دَهغه مونځ ده په کوم کښې چه دَتولو نه اول عیسیٰ علیه السلام دَ آسمان نه راکوزیدلو. دَ جمعې دَ ورځې دَ مازیګر مونځ وو دکوم نه چه حضرت عیسیٰ علیه السلام انکاراوکړو چه په خلقو باندې واضحه شی چه دَهغوی خلیفه مهدی دې.

[۵۴۲۲] په کافرانو باندې د خود کش حملو جواز

۵۴۲۲-(۳)[۱۴] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ [۲]: «إِنَّ السَّاعَةَ لَا تَقُومُ حَتَّى لَا يُقْسَمَ مِيرَاثٌ وَلَا يُفْرَحَ بِغَنِيمَةٍ، [۳] ثُمَّ قَالَ: عَدُوٌّ يَجْمَعُونَ لِأَهْلِ الشَّامِ وَيَجْمَعُ لَهُمْ أَهْلُ الْإِسْلَامِ، يَعْنِي الرُّومَ، [۴] فَيَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً، فَيَقْتَتِلُونَ، [۵] حَتَّى يَحْجِزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ، فَيَفِيءُ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ، كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ، [۶] وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ، [۷] ثُمَّ يَتَشَرَّطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً،

ترجمه: [۱] او د حضرت عبد الله ابن مسعود نه روایت دی، [۲] چې یقیناً قیامت به تر هغه وخته پورې نه قائمیږي، ترڅو پورې چې ① د میراث تقسیمیدل موقوف نه شي، [یعنی یاخوبه د کفارو په مقابل کې د مسلمانانو کثرت سره د وژلو په وجه د میراث تقسیم بند شي، ځکه چې هغه وخت به ډیر کم مسلمانان پاتې شي، هغوئ ته به دومره هوش چیرته وي چې هغوئ د خپل مړکیدونکو مورثانو د ترکې تقسیم طرف ته توجه وکړي، یا شرعي احکامو او نیکیو کې دخرچ کولو نه پس به دومره نه پاتې کیږي، چې د هغه د تقسیم نوبت راشي]، ② او ترڅو پورې چې په مالِ غنیمت باندې ناخوښي ونشي (یعني د قیامت قائمیدو نه مخکې یوه خبره خو به داوي چې د میراث تقسیم به ونشي او دویمه خبره به داوي چې مسلمانان د غنیمت د مال نه خوشحاله نشي او دا نه خوشحالیدل خو به یا د دې اعتبار نه وي چې مال غنیمت حاصلیدل به بند شي او هرکله چې مال حاصلیږي نه نو خوک به خوشحاله چیرته نه شي، او یا د نه خوشحالیدو نه مراد دادی چې کوم خلق د مال غنیمت د تقسیم حفاظت ذمه وار وي هغوئ به د خیانت او بد دیانتي ارتکاب کوي چې د هغه په وجه به مال غنیمت د ایماندار او بادیانت خلقو د پاره د خه خوښي باعث نه وي.)

[۳] بیا حضرت ابن مسعود ﷺ د دې دواړو خبرو حقیقت واضح کولو او صورت واقعه ښکاره کولو د پاره بیان وکی، چې دښمن (یعني کافر به اهل شام سره جنګ کولو د پاره فوج او طاقت جمع کړي) اخوا مسلمانان به هم د هغه کافرو سره مقابلې د پاره لښکر او طاقت جمع کړي. (د دښمن نه مراد دوئ دي) [۴] نو مسلمانان به خپل لښکر نه څه فوج منتخب کولو سره مخکې ولیږي چې هغوئ جنګ وکړي او مړه شي او که واپس راځي نو فتحیاب او غالب به راځي، نو د دواړو فوځونو لښکرو به د یوبل خلاف مقابله شي او جنګ به شروع شي [۵] ترڅو چې د دواړو لښکرو په منځ کې به شپه حائله شي او جنګ به بند کړي او دواړه فریقه به خپلو خپلو ځایو ته واپس راشي او په هغوئ کې به نه څوک غالب او فتحیاب شي او نه به څوک مغلوب او مفتوح شي [۶] البته د دواړو د فوځونو د طرف نه چې کوم جنړ کړي او منتخب دستي جنګ د پاره راغلي وي) هغه به د فناء په ګور

[۴] اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب إقبال الروم فی کثرة القتل عند خروج الدجال (رقم-۳۷ - (۲۸۹۹)

ورخکته شي (یعنی د دواړو طرفو لښکرو چې کوم خپل چړ کړي فوځیان د جنګ د پاره مخکې لیږلی وي هغوئ به په هغه جنګ کې قتل شي او پاتې ټول فوځیان به خپلو ځایو ته واپس راشي، دغه شان د هغې ورځې جنګ به د دواړو فریقو سره برابر شي، نه به څوک غالب شي نه به څوک مغلوب شي، ۷بیا په دویمه ورځ مسلمانان به یودویم لښکر منتخب کولو سره مخکې ولیږي چې هغوئ جنګ وکړي او مړه شي اوکه واپس راشي نو فتحیاب به شي،

حل اللغات:- ①شُرْطَةٌ: جماعت، ډله، فوج ،

۱فَيَقْتَتِلُونَ، حَتَّى يَحْجِزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ، ۲فَيَفِيءُ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ، كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ، ۳وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ، ۴ثُمَّ يَتَشَرَّطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً، ۵فَيَقْتَتِلُونَ حَتَّى يُمْسُوا فَيَفِيءُ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ، كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ ۶فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الرَّابِعِ نَهَدَ إِلَيْهِمْ أَهْلُ الْإِسْلَامِ، فَيَجْعَلُ اللَّهُ الدَّبْرَةَ عَلَيْهِمْ، فَيَقْتَتِلُونَ مَقْتَلَةً لَمْ يُرَ مِثْلُهَا، ۷حَتَّى إِنَّ الطَّائِرَ لَيَمُرُّ بِجَنَبَاتِهِمْ فَلَا يُخَلِّفُهُمْ حَتَّى يَخِرَّ مَيِّتًا، ۸فَيَتَعَادُّ بَنُو الْأَبِ كَانُوا مِائَةً ۹فَلَا يَجِدُونَهُ بَقِيَ مِنْهُمْ إِلَّا الرَّجُلُ الْوَاحِدُ،

ترجمه: ۱نو دا دواړه طرفه لښکر به د یوبل خلاف مقابله شي، تردي چې د دواړو لښکرو په منځ کې به شپه حائله شي ۲او دواړه طرف ته فوځونه به خپلو ټیکاونو ته واپس راشي په هغوئ کې به هیڅوک غالب نه شي او نه څوک مغلوب، ۳البته دواړو طرف نه به هغه چړ کړي دستي چې جنګ د پاره مخکې راغلی وي، مړه به شي شی ۴او بیاپه دریمه ورځ مسلمانان به یودویم لښکر منتخب کولو سره مخکې ولیږي چې هغوئ جنګ وکړي او مړه شي اوکه واپس راشي نو فتحیاب به شي، ۵نو دا دواړه طرفه لښکر به د یوبل خلاف مقابله شي، تردي چې ماښام به شي او دواړه طرف ته فوځونه به خپلو ټیکاونو ته واپس راشي په هغوئ کې به هیڅوک غالب نه وي او نه څوک مغلوب، البته دواړو طرف څخه به هغه چړ کړي دستي چې جنګ د پاره مخکې راغلی وي، مړه به شي ۶او هرکله چې څلورمه ورځ شي، نو د مسلمانانو باقي مانده فوځ به کفارو سره جنګ کولو د پاره راووځي، او الله ﷻ به د هغوئ د لاسه کفارو ته شکست ورکړي، بهرحال په دي ورځ به سخت او خوفناک جنګ اوسي او مسلمانان به داسې سخت جنګ وکړي چې داسې جنګ به چیرته لیدل شوی نه وي، ۷تردي که یوه مارغه د لښکر والاوو د پاسه تیریدل غواړي، نو هغوئ به پائ ته نه ورسیږي چې مړکیدو سره به په زمکه راو لویږي مطلب داچې په جنګ کې به دومره کثرت سره خلق مړه شي چې پوره میدان به د مړو نه ډک شي او که یوه مارغه په هغه لاشونو تیریدل وغواړي، نو مخکې به لاړ نشي بلکې د لاشونو د ناقابل برداشت بدبویي په وجه به مړه کیدو سره را ولویږي یا داچې میدان جنګ به دومره وسیع او طویل به وي که یوه مارغه د هغه یوه سره نه الوتو سره دویم سر

ته تلل وغواړي نو تلی به نشي بلکې آلوتو الوتو کې به ستړي کیدو سره او مړه کیدو سره راولویږي، [۸] بیا هرکله چې یو پلار ځامن [یعنی د یو خاندان یا د یوې سلسلې خلق] چې د هغوئ تعداد به سل وو، (خپل کسان شمارل شروع کړي) [۹] نو د هغوئ نه به صرف یو پیدا کي، [یعنی د جنګ ختمیدو نه پس باقي مانده لښکر حق به د ځاني تلفاتو جائزه اخستل شروع کړي او هرسړی چې خپل اقارب او متعلقین شمیر کړي نو هغه ته به معلومه شي که د هغه اقارب او متعلقین سل تعداد په جنګ کې شریك شوي وه نو هغه په سلو کې به صرف یو سړی ژوندی پاتې شوی وی باقي ټول به مړه شوي وی، حاصل دا چې په دې جنګ کې به ځاني تلفات دومره کثرت سره وي چې د ژوندي پاتې کیدونکو تناسب به په سلو کې یو وي، نو په داسې صورت کې (هرکله چې د مړکیدونکو تعداد دومره زیات وي)

حل اللغات:- ①فَيَفِيءُ: واپس به شي، ②تَحْجِزُ: حائل او پرده به شي، ③تَهَدَ: أي قام: یعنی اوبه دریږي. ⑤النَّبْرَةُ: دبار نه دې ماتی او شکست ته وائی. ⑥بِجَنَبَاتِهِمْ: اطراف او غاړو ته وائی. ⑦يَخِرُّ: اوبه غورزیږي.

[۱] فَبِأَيِّ غَنِيمَةٍ يُفْرَحُ أَوْ أَيِّ مِيرَاثٍ يُقَسَّمُ؟ [۲] فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ سَمِعُوا بِبَأْسٍ هُوَ أَكْبَرُ مِنْ ذَلِكَ، فَجَاءَهُمُ الصَّرِيخُ: [۳] أَنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَلَفَهُمْ فِي ذَرَارِيِّهِمْ، فَيَرْفُضُونَ مَا فِي أَيْدِيهِمْ، وَيُقْبِلُونَ [۴] فَيَبْعَثُونَ عَشْرَ فَوَارِسَ طَلِيعَةً، [۵] قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَأَعْرِفُ أَسْمَاءَهُمْ وَأَسْمَاءَ آبَائِهِمْ، وَأَلْوَانَ خُيُولِهِمْ، [۶] هُمْ خَيْرُ فَوَارِسَ، أَوْ مِنْ خَيْرِ فَوَارِسَ، عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] کوم مال غنیمت به د خوشحالی باعث وي او کوم مال به تقسیم کړل شي، [۲] بهرحال مسلمانان به په داسې حالت کې وي چې ناڅاپي به هغوئ یو سخت خبر واوري، چې د مخکې جنګ نه به هم ډیر زیات سخت او خوفناك وي، [۳] او دوي ته به دا آواز راشي چې د هغوئ غیر موجودګی کې د هغوئ د اهل وعیال په مینځ کې دجال رسیدلی دی، په داخبر اوریدو سره هغه مسلمانان به د خپل لاس خیزونه [یعنی د غنیمت اشیاء] چې هغوئ ته حاصل شوي وي غورځولو سره ددجال طرف ته متوجه شي [۴] او مخکې به هغوئ خپل لس سپاره ولیږي، چې د دښمن باره کې معلومات حاصل کي، [۵] رسول الله ﷺ وفرمایل . چې مسلمانان کوم سپاره مخکې لیږي یقینًا زه د هغوئ او د هغوئ د پلارانو نومونه هم پیژنم. او داهم پیژنم چې د هغوئ اسونه به د کوم رنګ وي، [۶] او هغوئ به بهترین سپاره وي، یا دایي وفرمایل چې هغوئ به د هغه زماني په مخ د زمکې بنه شهسوار وي (مسلم)

حل اللغات:- ⑧ذَرَارِيَّ: اهل وعیال. ⑨يَرْفُضُونَ: اوبه غورزوی، ⑩طَلِيعَةً: دلښکر اولنئ حصه کومه چه د لښکرنه مخکښې دجنګی انتظاماتو دپاره اولیږلې شي.

تسهيلات:

قوله: حَتّٰى لَايُقْسَمُ مِيرَاثٌ:

دميراث نه تقسيميدو وجه: يعنى دَهغوى ميراث به نه شى تقسيمولې. دَدې وجه به دا وى چه دَميراث اخستونکې به څوك باقى پاتې نه وى نوبيا به ميراث په چا تقسيمېږى؟

قوله: وَلَايُفْرَحُ بِغَنِيمَةٍ:

ه نه خوشحالى کيدو وجه: يعنى په دغه فتح کښې چه کوم مال دَغنيمت په لاس راشى په هغې به څوك هم خوشحال نه وى ځکه چه ټولې کورنئى به په دغه جنګ کښې شهيدان شوى وى نوبيابه څوك خوشحال وى؟

قوله: ثُمَّ يَتَشَرَّطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ:

د مقابلې دپاره د يوې ډلې تيارول: مطلب دا چه مسلمانان به دکافرانو په مقابله کښې يودَ جنګ ډله تياره کړى اوهغه ډله به په مرګ باندې عهدوپيمان اوکړى چه يا به غالب راځو اويا به مړه کيږو.

دَدې حديث مجموعى مفهوم نه دا خبره واضح کيږى چه دکافرانو په جماعت باندې ناڅاپى حمله کول اوهغوى تباه کول اوپه دې کښې خپل ځان قربانول منع نه دى بلکه دَدې حديث نه ثابتيږى چه کله يو مجاهد په مرګ باندې عهدوپيمان کولوسره ورانديږ کيږى اوپه خندا باندې مرګ له غاړه ورکوى نودې ته تاسو چه څه هم اووايئى په حقيقت کښې هم دغه خودکش حمله ده چه په حقيقت کښې نوروله قتلونکې حمله ده اودَ فيقتلون ويقتلون موافق ده.

د شرطة للموت مصداق: يعنى دَ بمبار او خودکش دستې نوم دې. پورته چه ملاعلى قارى رحمه الله کوم عربى عبارت دَدې حديث په تشريح کښې پيش کړې دې دغه هم په غور سره لوستل پکار دى. امام محمد رحمه الله په سيرکبيرکښې دَ خودکش حملې دَ جواز فتوى ورکړې ده.

قوله: فَلَايُخَلِّفُهُمْ:

د مذکوره جملې مفهوم: دَباب تفعيل نه دې شاته دَ پريخودو په معنى کښې دې يعنى هغه مرغئى به دَ مقتولينو نعشونه خپل شاته نه پريږدى بلکه اول به مړه شى ځکه چه نعشونه به ډير وى اوسخاشوى به وى دَ دغه بدبوئى نه به مرغئى مړه شى. مطلب دا چه دَنعشونو ميدان به دومره وسيع وى چه مرغئى به په الوتو سره مړه شى او په نعشونو باندې به تيره نه شى.

قوله: فَيَتَعَادُّ بَنُو الْأَبِ:

د مذكوره جملې مفهوم: يعنى د يو پلار اولاد بلكه چه پوره خاندان اوشميرلې شي نو د خاندان د سلوكسانونه به يو بچ شوې وى نوځه غنيمت به تقسيميږى؟ او په دې به څوك خوشحال وى اوځه به ميراث وى او څه به ئې تقسيم وى؟[المرقات: ۳۱۲/۹]

[۵۴۲۲] بغير جنګه د يو ښار د فتح كيدو پيشنګولى

۵۴۲۲-(۳)[۱۳][۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «هَلْ سَمِعْتُمْ بِمَدِينَةٍ، جَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَرِّ، وَجَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ؟» [۳]قَالُوا: "نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ! [۴]قَالَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَغْزُوَهَا سَبْعُونَ أَلْفًا مِنْ بَنِي إِسْحَاقَ، [۵]فَإِذَا جَاءُوهَا نَزَلُوا، فَلَمْ يُقَاتِلُوا بِسِلَاحٍ، وَلَمْ يَرْمُوا بِسَهْمٍ، [۶]قَالُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، فَيَسْقُطُ أَحَدُ جَانِبَيْهَا"،

ترجمه: [۱]حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د صحابه رضي الله عنهم نه پوښتنه وكړه [۲]چې ايا تاسو د يو داسې ښار باره كې اوريدلي دى چې د هغه يو طرف په سمندركې دې او يو طرف يې په وچه كې دې، [۳]صحابه رضي الله عنهم اوويل هو. يارسول الله ﷺ مونږ د دې ښار ذكر اوريدلى دى [۴]حضور ﷺ وفرمايل. قيامت به تر هغه وخته پورې نه راځي ترڅو چې د حضرت اسحاق د اولاد نه اويا زره سړي د هغه ښار خلقو سره جنګ ونكړي. [۵]او د حضرت اسحاق عليه السلام د اولاد نه هغه خلق چې كله د جنګ په ارادې سره هغه ښار ته راځي نو هغوئ به د هغه ښار نواحي علاقه كې پړاو واچوي او د ټول ښار محاصره به وكړي [۶]ليكن هغه خلق به دښار والاوو سره په اسلحه سره جنګ نه كوي او نه به د هغوئ طرف ته تيرونه ولي، بلكې د «لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ» نعره به بلنده كړي، او د ښار دواړو طرف ته ديوالونونه د يو طرف ديوال به ولويږي

[۱]قَالَ ثَوْرُ بْنُ زَيْدٍ الرَّاوِي: لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ: الَّذِي فِي الْبَحْرِ، [۲]ثُمَّ يَقُولُونَ الثَّانِيَةَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ، فَيَسْقُطُ جَانِبُهَا الْآخَرُ، [۳]ثُمَّ يَقُولُونَ الثَّالِثَةَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، فَيُفَرَّجُ لَهُمْ فَيَدْخُلُونَهَا فَيَغْنَمُونَ، [۴]فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْمَغَانِمَ إِذْ جَاءَهُمُ الصَّرِيخُ، [۵]فَقَالَ: إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَرَجَ، فَيَتْرُكُونَ كُلَّ شَيْءٍ وَيَرْجِعُونَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]د حديث راوي ثور ابن يزيد اوويل ځما خيال دى چې حضرت ابوهريره رضي الله عنه دلته د سمندر جانب والا ديوال ويلي وو يعنى زه په يقين سره خونشم ويلى البته ماته ياد ږي چې حضرت ابوهريره رضي الله عنه دلته دا روايت كړى وو. چې په هغه سره به سمند طرف ته ديوال ولويږي. [۲]بهرحال د دې نه پس حضور ﷺ دا ارشاد وفرمايه چې بيابه هغه خلق

[۱۳]) اخرجه مسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتى يمر الرجل بقبر الرجل. فيتمنى ان يكون مكان الميت من البلاء (رقم-۲۹۲۰)

په دويم ځل د «لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ» نعره بلنده کړي، نو د ښار دويم جانب يعنی جنګل طرف ته ديوال به هم لويږي، ۳ د دې نه پس به هغه خلق په دريم ځل د «لا اله الا الله والله اکبر» نعره بلنده کړي نو د هغوئ د پاره به په ښار کې د داخليدو لار خلاصه شي او هغوئ به په ښار کې داخل شي، ۴ بيا به هغوئ مال غنيمت جمع کړي يعنی په ښار کې چې څه وي هغه به په خپله قبضه کې واخلي او هغه مال غنيمت به خپلو کې تقسيموي چې ناڅاپي د هغوئ غوږونو ته به دا آواز راشي ۵ څوك به وايي چې دجال راوتلې دې په دا آواز اوريدو سره به هغه خلق هغه هرڅه يعنی مال غنيمت وغيره پريږدي او د دجال سره به د جنګ د پاره واپس راشي.

حل اللغات:- ۱ فَيَفْرُجُ: خلاصه به شی، ۲ الصَّرِيخُ: تيز آواز، چغه

تسهيلات:

قوله: هَلْ سَمِعْتُمْ بِمَدِينَةٍ:

د مدينة په مصداق کښې دوه اقوال:

۱ بعضې شارحينو دې ځخه قسطنطنيه مراد اخستې ده

۱ بعضې نورو شارحينو وئيلی دی چه دا چرته بل ښاردې ځکه چه دلته دَ جنګ ذکرنشته دې خودَ قسطنطنيه په فتح کښې جنګ کيدل لازمی دی

په قولينو کښې تطبيق: حقيقت دادې چه دا ښار هم قسطنطنيه دې البته صحيح صورت حال دادې چه دَدې ښار نه چاپيره به هغه وخت ديوال وی. کله چه په ښار کښې دَداخليدو دَپاره لار نه ملاويږی نو مجاهدين به يو زوردار نعرهٔ تکبير اوچت کړی په کوم سره چه به دَ ښار ديوال مات شی. دَدې حده پورې خو به جنګ نه وی البته دې نه پس چه کله مجاهدين ښار ته داخل شی نو هلته به سخت جنګ وی او ډير زيات مال غنيمت به لاس ته راشی

قوله: حَتَّى يَغْزُوَهَا سَبْعُونَ أَلْفًا مِنْ بَنِي إِسْحَاقَ:

د نبو اسحاق مصداق: د بنو اسحاق دَ اويا زره سرو دَ سمندر په غاړه باندې دَ اسلام په لښکرکښې شامليدل هم دَدې خبرې دليل دې چه دا ښار هم قسطنطنيه دې او هم دغه علامت دَ قيامت دَ علاماتو نه يو لوئی علامت دې. او دَملحمة الکبری نه پس هم دغه تفصيل دې. بنو اسحاق دَ بنو اسماعيل په مقابله کښې اهل کتاب ته وئيلی شوی دی دا به دَ شام مسلمانان وی چه دَاهل کتاب نه به وی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۴۲۴] دَ قیامت د بعضې مسلسل حوادثو پیشنګوئي

۵۴۲۴ -(۳)[۱۳] ۱ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ۲ «عُمْرَانُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ خَرَابُ يَثْرِبَ، ۳ وَخَرَابُ يَثْرِبَ خُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ، ۴ وَخُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ فَتْحُ قُسْطَنْطِينِيَّةَ، ۵ وَفَتْحُ قُسْطَنْطِينِيَّةَ خُرُوجُ الدَّجَّالِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ حضرت معاذ ابن جبل ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د بيت المقدس پوره طور سره اباديدل به د مديني منورې د خرابۍ باعث وي ۳ او د مديني منورې خرابي به د فتنو او تولو نه د لوی جنګ واقع کيدو سبب وي ۴ او د دې تولو نه لوی جنګ واقع کيدل به د قسطنطينيه د فتح باعث وي ۵ او قسطنطينيه فتح کيدل به د دجال د ښکاره کيدو سبب او د هغه علامه به وي.

حل اللغات: - ① عُمْرَانُ: پوره آباديدل. ② يَثْرِبَ: د مديني منورې زوړ نوم دې. ③ اَلْمَلْحَمَةِ: لوئې جنګ. جنګ عظيم

تسهيلات:

قوله: عُمْرَانُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ خَرَابُ يَثْرِبَ:

په شام دعيسايانو غلبه د مديني د خرابۍ سبب: يعنې چه کله بيت المقدس په آخرې زمانه کښې دَ خرابئ اوبربادئ نه پس په پوره شان سره آباد شي نودا به دَدې خبرې نشاني وی چه په دې باندې به دَ عيسايانو غلبه وی او په شام باندې دَ عيسايانو غلبه به دَمديني منورې دَپاره دَخرابئ سبب جوړيږی ځکه چه دَمديني نه خلق دَمقابلې دَپاره ځی نومدينه به خالی پاتې شی اوکمزورې به شی. هم دغه خرابی ده. په دې علاماتو کښې دَهرسابق دپاره هر لاحق علامت دې. عمران بيت المقدس خرابی دَيثرب علامت دې که متصل وی اوکه په فاصلې سره وی. او خرابی دَ مديني ملحمة الکبرىٰ دَپاره علامت دې اګرچه فاصلې سره وی اوملحمة الکبرىٰ دَ قسطنطنيه دَفتح علامت اوهغه دَ خروج دجال علامت دې که فاصلې سره وی اوکه متصل وی. په مينځ کښې به دَدجال دَ خروج دَ دروغو اعلان هم وی ملحمة الکبرىٰ دَمسلمانانو اوعيسايانو په مينځ کښې دَ لوئې جنګ نوم دې. کافران به نهه لاکهه او شپيته زره وی مګر په آخره کښې به ماتې خورې.

[۴۵] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأيمان والنذور/باب من رأى عليه کفارةً إذا کان فی معصية (رقم-۳۲۹۴)وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الملاحم (رقم-۴۰۹۲) واحمد فی المسند: ۲۳۲/۵

[۵۴۲۵] د جنګ عظیم، فتح قسطنطنیه او د دجال راتلو پیشنګوئی

۵۴۲۵ -(۳)[۱۵] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «الْمَلْحَمَةُ الْعُظْمَى وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ فِي سَبْعَةِ أَشْهُرٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت معاذ بن جبل ﷜ وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د جنګ عظیم واقع کیدل د قسطنطنیه فتح کیدل او د دجال راوتل داټول به په اوو میاشتو کې دننه وي (ترمذي، ابوداود)

حل اللغات: - ① الْمَلْحَمَةُ: لوئي جنګ.

تسهیلات: قوله: الْمَلْحَمَةُ الْعُظْمَى:

دملحمة العظمى مصداق: دَ دې نه مراد هغه جنګ دې په کوم کښې چه به خلق دَ خپل جانی نقصان جائزه اخلی نو معلومه به شی چه په سلو کښې یو کس ژوندې دې باقی ټول مړه شوی دی یا دَدې جنګ نه مراد دَ هغه ښار فتح ده چه دَ نعرهٔ تکبیر په برکت سره به فتح کیږی هلو دَ جنګ ضرورت به پیښ نشی.

قوله: وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ:

نوټ: د قسطنطنیه د فتح تفصیل د حدیث نمبر(۵۳۲۱) په تسهیل کښې اوګورئ.

قوله: وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ فِي سَبْعَةِ أَشْهُرٍ:

اشکال: په زیربحث حدیث کښې ملحمة الکبریٰ فتح قسطنطنیه اوخروج دجال په اووه میاشتو کښې دننه خودلې شوې دې اوپه راروان حدیث نمبر (۵۴۲۶) کښې ملحمة الکبریٰ اوفتح قسطنطنیه په مینځ کښې دَ شپږو کالو موده خودلې شوې ده او په اووم کال ئې دَ دجال خروج خودلې دې. په دوارو احادیثو کښې دا واضح تعارض دې

داشکال جواب: راروان حدیث نمبر (۵۴۲۶) صحیح دې اوهم دغه راجح دې. اوپه زیربحث حدیث نمبر(۵۴۲۵) باندې اصحاب الجرح کلام کړې دې کیدې شی دلته دَ راوی نه دا غلطی شوې ده چه د اووه کالو په ځائی ئې اووه میاشتې وئیلی دی.

[۵۴۲۶] د قسطنطنیه دفتح څخه روسته د دجال د راوتلو موده

۵۴۲۶ -(۴)[۱۶] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲] «بَيْنَ الْمَلْحَمَةِ وَفَتْحِ الْمَدِينَةِ سِتُّ سِنِينَ، [۳] وَيَخْرُجُ الدَّجَّالُ فِي السَّابِعَةِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ: هٰذَا أَصَحُّ.

---

[۳]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی تواتر الملاحم (رقم-۴۲۹۵) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی علامات خروج الدجال (رقم-۲۲۳۸) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الملاحم (رقم-۴۰۹۲) واحمد فی المسند: ۲۳۴/۵

[۴]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی تواتر الملاحم (رقم-۴۲۹۶) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب ما یرجی من رحمة الله یوم القیامة (رقم-۴۲۹۶) واحمد فی المسند: ۱۸۹/۴

ترجمه: [۱] د حضرت عبد الله ابن بسر رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. جنګ عظیم او مذکوره ښار یعنی د قسطنطینیه فتح کیدو درمیاني موده به شپږ کاله وي [۲] او په اووم کال به دجال راځي، دا روایت ابوداود نقل کړی دی او ویلي یې دی چې داحدیث زیات صحیح دی [اخرجه ابوداود، ۱۰۸/۳]

تسهیلات:

قوله: بَيْنَ الْمَلْحَمَةِ وَفَتْحِ الْمَدِينَةِ سِتُّ سِنِينَ:

نوټ: ددې جملې وضاحت وړاندې د حدیث نمبر(۵۳۲۵) په تسهیل کښې تیرشوې دې

[۵٤۲۷] په مدینه منوره کښې د مسلمانانو محاصره

۵۳۲۷-(۶۸)[۱۷] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-قَالَ [۲]: «يُوشِكُ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يُحَاصَرُوا إِلَى الْمَدِينَةِ، [۳] حَتَّى يَكُونَ أَبْعَدَ مَسَالِحِهِمْ سَلَاحِ، وَسَلَاحِ: قَرِيبٌ مِنْ خَيْبَرَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنه وایي چې هغه وخت راتلونکی دی، [۲] کله چې به مسلمانان مدینه کې محاصره شي، [۳] تردې چې د هغوئ لري مورچې به په سلاح کښې وي (او سلاح خیبر ته نزدې د یومقام نوم دی. (ابوداود)

حل اللغات: - ① مَسَالِحِهِمْ: دَمسلح جمع ده او مسلح هغه مورچې ته وائی په کوم کښې چه وسلې سره پهره وی.

تسهیلات:

قوله: أَنْ يُحَاصَرُوا إِلَى الْمَدِينَةِ، حَتَّى يَكُونَ أَبْعَدَ مَسَالِحِهِمْ سَلَاحِ:

دمدینه نه مراد: دلته دَمدینه نه مدینه منوره مراد ده چه دښمن به دَدې محاصره کوی. دا به دَعیسائیت دَ خوریدو په زمانه کښې وی او هم دغه وخت کښې به دَ حضرت مهدی ظهور کیږي. دَمدینې په حفاظت کښې به مسلمانان مسلح مورچې جوړه وی نو چه کومه مورچه دَ ټولونه لرې وی هغه به دَ سلاح په مقام باندې وی. سلاح دَ خیبر سره نیزدې دَ یوځائی نوم دې.

[۵٤۲۸] دَامام مهدی د ظهور نه مخکښې د یو عظیم جنګ پیشنګوئي

۵۳۲۸-(۶۹)[۱۸] [۱] وَعَنْ ذِي مِخْبَرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ: " [۲] «سَتُصَالِحُونَ الرُّومَ صُلْحًا آمِنًا [۳] فَتَغْزُونَ أَنْتُمْ وَهُمْ عَدُوًّا مِنْ وَرَائِكُمْ فَتُنْصَرُونَ وَتَغْنَمُونَ وَتَسْلَمُونَ [۴] ثُمَّ تَرْجِعُونَ حَتَّى تَنْزِلُوا بِمَرْجٍ ذِي تُلُولٍ، [۵] فَيَرْفَعُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ النَّصْرَانِيَّةِ الصَّلِيبَ فَيَقُولُ: غَلَبَ الصَّلِيبُ،

---

[۶۸] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی المعقل من الملاحم (رقم-۴۲۹۹) واحمد فی المسند:۴۰۲/۲

[۶۹] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ما یذکر من ملاحم الروم (رقم-۴۲۹۲) وابن ماجه فی کتاب الفتن /باب الملاحم (رقم-۴۰۸۹) واحمد فی السند: ۹۱/۴

ترجمه: [۱]حضرت ذي مخبر ﷺ چې د حضور ﷺ خادم او د نجاشي بادشاه حبشه وراره وو وايي ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل. [۲]اې مسلمانانو! هغه وخت راتلونکی دی کله چې تاسو به رومیانو یعنی عیسانو سره یو داسي مصالحت وکړي. چې با امن صلح به وي، یعنی په طرفینو کې به د هیچا د طرف نه د مصالحت شکني او د بدعهدي خوف نه وي [۳]او بیا د هغه مصالحت او معاهدي په بنیاد تاسو او رومیان په خپلو کې یوځای کیدو سره د یوبل دښمن خلاف جنګ به وکړي نو د الله د طرف نه د هغه دښمن خلاف ستاسو به مدد او نصرت وکړل شي، تاسو به مال غنیمت حاصل کی. او تاسو به سلامت يي يعنی ستاسو ځاني او مالي نقصان به نه کېږي، [۴]د دې نه پس چې هرکله تاسو هغه دښمن ته شکست ورکړی او واپس راشي نو تاسو او رومیان به په یو داسي ځای کې واړوی چې سرسبز او شین به وي، (چیرته چې غونډي وي) [۵]هلته به عیسایانو یعنی په رومیانو کې یوسړی صلیب پورته کولو سره وایي چې صلیب غالب شو. یعنی هغه عیسائي به دا دعوی وکړي چې په دې کې مونږ د صلیب له برکته فتحیاب شوی یو.

حل اللغات:- ①مَرْجٍ: سرسبز، د شنو وښو والا ②ذِي تُلُولٍ: غونډی (د زمکې ځخه لږه پورته حصه) ③الصَّلِيبَ: دعیسایانو خاص مذهبی نښه،

[۱]فَيَغْضَبُ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَيَدُقُّهُ [۲]فَعِنْدَ ذَلِكَ تَغْدِرُ الرُّومُ وَتَجْمَعُ لِلْمَلْحَمَةِ". [۳]"وَزَادَ بَعْضُهُمْ: ("فَيَثُورُ الْمُسْلِمُونَ إِلَى أَسْلِحَتِهِمْ [۴]فَيَقْتَتِلُونَ فَيُكْرِمُ اللهُ تِلْكَ الْفِئَةَ بِالشَّهَادَةِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱]د هغه په دې خبره به په مسلمانانو کې یوسړی سخت غضبناك شی ځکه چې هغه به داخبره د مسلمانانو د ایمان او عقیدي خلاف وګڼي چې هغه فتحه او غلبه دې د الله او د هغه د دین په ځای ځه بل شي طرف ته نسبت شي، [۲]نو هغه مسلمان به هغه صلیب مات کړي او هغه وخت به رومیان صرف دا نه چې عهد مات کړي بلکي دا مصلحت به ختم کړي، (د مسلمانانو خلاف جنګ د پاره به خلق جمع کړي) [۳]بعضې راویانو دا الفاظ نور نقل کړي دي چې د دې نه پس به مسلمانان هم خپلو وسلو طرف ته ورمخکې شي یعنی د هغه رومیانو مقابلې د پاره به تیار شي [۴]او د هغوئ سره به جنګ وکړي نو الله ﷻ به د مسلمانانو هغه جماعت ته د شهادت فضیلت او عظمت ورکړي.(ابوداؤد)

حل اللغات:- ④فَيَدُقُّهُ: نو مات به کړی هغه (صلیب)، ⑤تَغْدِرُ: عهد شکنی به اوکړی، غداری به اوکړی، ⑥يَثُورُ: ورمخکښې به شی،

تسهیلات:

قوله: سَتُصَالِحُونَ الرُّومَ صُلْحًا آمِنًا:

د مسلمانانو او د رومیانو په مینځ کښې صلح: حضرت مهدی علیه الرضوان په دور کښې

کیږی اودا صلح به هم دَ حضرت مهدی علیه الرضوان سره رومی بادشاه کوی کوم چه به عیسائی وی اودَ عیسایانو هم دغه هغه طبقه ده چه دَ مسلمانانو سره به معاهده اوکړی

قوله: فَتَغْزُونَ أَنْتُمْ وَهُمْ عَدُوًّا مِنْ وَرَائِكُمْ:

د دشمن په مصداق کښې دوه اقوال: ① بیا به عیسایان او مسلمانان یوځائی خپل دښمن سره جنګیږی ① ظاهره دَ حدیث الباب نه هم دغه معلومیږی چه هغه مشترك دښمن به مشرك وی

② بعضې وئیلی دی چه مشترکه دښمن به یهودی وی. مسلمانان او عیسایان به په یو ځائی یهودیانو سره جهاد کوی. دا احتمال لږ شان کمزوري دې ځکه چه یهود (امریکه) دَ ټولو دښمنان اسلام اتحادی جوړ شوې دې.

قوله: فَيَرْفَعُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ النَّصْرَانِيَّةِ الصَّلِيبَ فَيَقُولُ: غَلَبَ الصَّلِيبُ:

دفتح نسبت صلیب ته په کولو اختلاف پیدا کیدل: دصلیب به وجه د فتح دَدې مطلب دادې چه کله مسلمانان اوعیسایان یوځائی شی او مشترکه دښمن سره جهاد کوی نو الله پاك به هغوی ته فتح ورکوی او هغوی ته به دَغنیمت مال هم حاصل شی. چنانچه مسلمانان او عیسایان به دَ غنیمت دَمال دَتقسیم دَپاره په یو اوچت ځائی باندې په تسلئی سره کینی په دې کښې به یو عیسائی اووائی چه دَمشترکه دښمن نه دَ فتح حاصلولو سبب زمونږ دې دَ صلیب په برکت باندې مونږ ته فتح ملاؤ شوه خو یو مسلمان به صلیب مات کړی او اوبه وائی چه فتح زمونږ دَ کلمې په برکت سره شوې ده ستاسو دَ صلیب هیڅ حقیقت نشته دې.

قوله: فَعِنْدَ ذَلِكَ تَغْدِرُ الرُّومُ وَتَجْمَعُ لِلْمَلْحَمَةِ:

آخر به دَ مسلمانانو او رومیانو په مینځ کښې جنګ شروع شی دَ رومیانو دَ وعده خلافئی دَ وجې نه به په دې جنګ کښې ډیر مسلمانان شهیدان شی.

[۵٤۲۹] یو حبشی سړي به د خانه کعبې خزانه راوباسی

> ٥٤٢٩ -(٧٠)[١٩] [١]وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [٢]«اتْرُكُوا الْحَبَشَةَ مَا تَرَكُوكُمْ [٣]فَإِنَّهُ لَا يَسْتَخْرِجُ كَنْزَ الْكَعْبَةِ إِلَّا ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١]حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢]تاسو حبشیان هغوئ په خپل حال پریږدئ او هغوئ ته هیڅ تعرض مه کوئ ترڅوپوري چې هغوئ تاسوته څه ونه وایي، او تاسو ته تعرض ونه کړي، [٣]او په دې کې شك نشته چې د

[٧٠]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب النهی عن تهییج الحبشة (رقم-٤٣٠٩) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب غزوة الترك والحبشة (رقم-٣١٧٧) واحمد فی المسند:٣٧١/٥

کعبي خزانه به یو حبشي را اوباسي، چې د هغه دواړي پنډۍ به کوچنی کوچنی وي(ابو داؤد)

حل اللغات: - ① ذُوالسُّوَيْقَتَيْنِ: وړو وړو پنډو (پتونانو) والا.

تسهیلات:

قوله: اتْرُكُوا الْحَبَشَةَ

حبشیانوته دعدم تعرض کولوحکم: یعنی په حبشیانو کښې دَ شر او فساد دا بخری پراته دی په دې وجه ترکومې پورې چه هغوی حمله نه وی کړې تاسو دَهغوی دَ راؤچتولو او چیړلو کوشش مه کوئی ځکه چه هم دَهغوی فساد سره به دَ بیت الله بې حرمتی کیږی خزانه به لوټ کولې شی او بیت الله به راغورزولې شی.

قوله: فَإِنَّهُ لَا يَسْتَخْرِجُ كَنْزَ الْكَعْبَةِ

د کنزپه مصداق کښې دوه اقوال: ① دکنزڅخه هغه مالونه دی کوم چې به د نذرانې په طور خلقو منجورا یانوته ورکولو او هغوی به د کعبې لاندې جمع کولو.

② ددې څخه هغه خزانه مراد ده کومه چې د خانه کعبې لاندې په کوهی کښې پرته ده

اشکال: په زیربحث حدیث کښې د خانه کعبې د نوړلو ذکر دې او الله تعالی حرم مکی ته د امن خائې وئیلې دې.دا ښکاره تعارض دې.

دا شکال جواب: دا به قیامت ته نزدې وی هغه وخت چې هیڅوک الله الله ویونکې پاتې نه شی نود قرآن په رنړا کښې مکې د امن ځائې دې خو د محدود وخته پورې.

② دغالبو احوالوپه اعتبار سره مکې ته د امن ځائې وئیلې شوې دې دعبدالله بن زبیر رضی الله عنه په وخت کښې د حجاج بن یوسف په مکه باندې حمله کول اوخانه کعبې ته نقصان رسول په دې باندې قرینه ده.چې دغالب احوالو په اعتبار سره ورته د امن ځائې وئیلې دې.

③ دامن ورکولوڅخه مراد دا نه دې چې الله تعالی د حرم مکی د امن ذمه واری اخستې ده بلکه مطلب دا دې چې الله تعالی خپلو بندګانوته دحکم کولوپه ځائې خبر ورکوی چې مادادامن ځائې ګرځولې دې نوتاسوهم زما دامن ورکولواحترام اوکړئ چاته نقصان مه رسوئ.

قوله: السُّوَيْقَتَيْنِ:

دسویقتین معنی: دا دَ ساق تصغیردې په دې کښې دَ هغه سرې تذلیل دې. دَعام اهل حبش دَ خپو دا حالت وی دَدغه سرې صفت افحج هم راځی.

[۵۴۳۰] حبشو او ترکوته د عدم تعرض حکم

۵۴۳۰-(۳) [۲۰] [۱] وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«دَعُوا الْحَبَشَةَ مَا وَدَعُوكُمْ، [۳] وَاتْرُكُوا التُّرْكَ مَا تَرَكُوكُمْ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] د رسول الله ﷺ د صحابه ﷺ نه د يو سړي روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] تاسو حبشيان هغوئ په خپل حال پريږدی [۳] او ترک هم په خپل حال پريږدی ، ترڅو پوري چې هغوئ تاسو (پهخپل حال پريږدي). (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① دَعُوْا: پريږدئ (په خپل حال).

تسهيلات:

قوله: وَاتْرُكُوا التُّرْكَ مَا تَرَكُوكُمْ: يعنی ترکيان او حبش دهغه وخته پورې مه چيړئی ترکومې پورې چه هغوی تاسو اونه چيړی.

اشکال: په قرآن کريم کښې ﴿قَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً﴾ [سورت توبه: ۳۶] واضح اعلان موجود دې چه ټولو کافرانو سره جنګيږئی اودلته په حديث کښې د ترکو اوحبشو سره د نه جنګيدوحکم دې.

داشکال جواب: دغه قومونوسره د نه جنګيدو حکم په هغه وخت باندې محمول دې کوم وخت چه جهاد د فرض کفايه په درجه کښې وی که چرې جهاد فرض عين شی نوهغه وخت به دغه قومونوسره جنګيدل فرض وی. چونکه عرب جندالاسلام وو اوصحابه جندالله جندالاسلام وو. دهغوی شميردومره زيات هم نه وو. بل طرف ته د حبشې علاقه دهغوی نه لرې هم وه اوسخته هم وه. دغه شان دترکو خلق ډير جټ جاهل او جنګيالی وو ډير لرې هم وو. دهغوی علاقه ډيره زياته يخه هم وه. سختې لارې هم وې اوجهاد فرض کفايه هم وو نوهغه وخت د دغه قومونو سره د نه جنګيدوحکم اوشو دې دپاره چه جندالاسلام نورو اطرافوکښې کاراوکړی. ليکن که ضرورت شو نوبيا به هغوی سره هم کفرباندې وی. چنانچه ترکوسره جنګ شوې دې اوبيا به هم کيږی کوم وخت چه هغوی په

[۵۴۳۱] دترکيانو دشکست پيشګوئي

۵۴۳۱-(۴) [۲۱] [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي حَدِيثٍ: [۲] "«يُقَاتِلُكُمْ قَوْمٌ صِغَارُ الْأَعْيُنِ» ". يَعْنِي التُّرْكَ [۳] قَالَ " تَسُوقُونَهُمْ ثَلَاثَ مِرَارٍ حَتَّى تُلْحِقُوهُمْ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ، [۴] فَأَمَّا فِي

[۷۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی النهی عن تهييج الترک والحبشة (رقم-۴۳۰۲) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب غزوة الترک والحبشة (رقم-۳۱۷۷)

[۷۲]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی قتال الترک (رقم-۴۳۰۵) واحمد فی المسند: ۲۴۸/۵

السِّيَاقَةِ الْأُولَى فَيَنْجُو مَنْ هَرَبَ مِنْهُمْ، [۵] وَأَمَّا فِي الثَّانِيَةِ فَيَنْجُو بَعْضٌ وَيَهْلِكُ بَعْضٌ، [۶] وَأَمَّا فِي الثَّالِثَةِ فَيُصْطَلَمُونَ» ". أَوْكَمَا قَالَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت بريده اسلمي رضي الله عنه نه روايت دى هغه د رسول الله ﷺ نه د دې حديث په سلسله کې چې د هغه شروع داده [۲] چې په تاسو کې يو وړوکو سترګو والا قوم يعنى ترک قوم به ستاسو سره جنګ کوي، [۳] دا هم روايت شوى دى چې حضور ﷺ وفرمايل تاسو به هغه خلقو ته درې ځلې ديکه ورکى (يعني تاسو به په هغوئ غالب راسئ) او هغوئ به شکست خوړلو سره په تيښته به مجبوره کى تردې چې تاسو به هغوئ د جزيره عرب د سرحد نه آخوا واړوئ، [۴] هرکله چې تاسو هغوئ ته په مخکې ځل شکست ورکولو سره دوئ وتښتوى نو تښتيدونکي خلق به خلاص شي [۵] څه وخت چې په دويم ځل شکست ورکولو سره وتښتوى، نو په هغوئ کې به څه د ځان په ساتلو سره ووځى. او څه به د مرګ په ګودرور خکته شي، [۶] مخکې په دريم ځل شکست خوړلو سره چې وتښتي نو هغه به ټول ختم شي، (يعني دا دريم شکست به د هغوئ بالکل خاتمه وکړي) يا د دې په مثل يې وفرمايل (ابو داؤد)

حل اللغات: - ① صِغَارُ الْأَعْيُنِ: وړو سترګو والا يعنى ترکيان، ② تَسُوقُونَهُمْ: تاسو به هغوى جزيرة العرب ته ورديکه کړئ، ③ السِّيَاقَةِ: تختيدل، ④ هَرَبَ: تيښته، ⑤ فَيُصْطَلَمُونَ: بيخ کنى به ئې اوشى، ټول به هلاک شي.

تسهيلات:

قوله: فَأَمَّا فِي السِّيَاقَةِ الْأُولَى فَيَنْجُو مَنْ هَرَبَ مِنْهُمْ:

ترکوته دماتى ورکولو درې مراحل: داد هغوى د تختيدو تفصيل دې چه په اول ځل کله اوتختى نو بچ به شي دوباره به څه لږ شان بچ شي او دريم ځل باندې به ټول هلاک شي.

[۵۴۳۲] بصرې ښار باره کښې پيشنګوئی

۵۴۳۲-(۳)[۲۲] [۱] وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ [۲]: «يَنْزِلُ أُنَاسٌ مِنْ أُمَّتِي بِغَائِطٍ، يُسَمُّونَهُ الْبَصْرَةَ، [۳] عِنْدَ نَهْرٍ يُقَالُ لَهُ: دِجْلَةُ، يَكُونُ عَلَيْهِ جِسْرٌ، [۴] يَكْثُرُ أَهْلُهَا، وَيَكُونُ مِنْ أَمْصَارِ الْمُسْلِمِينَ، [۵] وَإِذَا كَانَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ جَاءَ بَنُو قَنْطُورَاءَ عِرَاضُ الْوُجُوهِ، صِغَارُ الْأَعْيُنِ، [۶] حَتَّى يَنْزِلُوا عَلَى شَطِّ النَّهْرِ، فَيَتَفَرَّقُ أَهْلُهَا ثَلَاثَ فِرَقٍ،

ترجمه: [۱] د حضرت ابوبکره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] ځما د امت خلق به يو پستې زمکې ته په رسيدو سره قيام وکى او د هغه ځاى به بصره سره مسمي

[۳] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الترجل /باب فى ذكر البصرة (رقم-۴۳۰۶) واحمد فى المسند: ۴۵/۵

کوي، [٣] هغه خاى به يونهر ته نژدې وي، چې هغه ته دجله ونيل کېږي، په هغې به يو پل وى، [٤] په بصره کې د اوسيدونکو آبادي به ډېره زياته شي او د هغه شمير به د مسلمانانو په لوى ښارونو کې کېږي [٥] او کله چې آخري زمانه شي نو يو قوم بنو قنطوراء چې د هغوئ مخونه به پلن چکلي او سترګي ورې ورې وي به راشي [٦] و هغه به د نهر په غاړه خپل پړاو واچوي او د هغوئ په ليدو سره د ښار خلق به په دريو حصو کې تقسيم شي.

حل اللغات:- ① غَائِط: لاندي اوښکته زمکه. ② دِجْلَةُ: يو درياب چه بغداد سره تير شوي دي. ③ جِسْرٌ: پُل. ④ أَمْصَار: دمصر جمع ده، ښار. ⑤ قَنْطُورَاءَ: دَ ترکيانو دَ مشر نيکه نوم دي. ⑨ عِرَاضُ الْوُجُوهِ: پلنو مخونو والا. ⑥ شَطٌ: غاړه.

[١] فِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ فِي أَذْنَابِ الْبَقَرِ وَالْبَرِّيَّةِ وَهَلَكُوا، [٢] وَفِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ لِأَنْفُسِهِمْ وَهَلَكُوا، [٣] وَفِرْقَةٌ يَجْعَلُونَ ذَرَارِيَّهُمْ خَلْفَ ظُهُورِهِمْ وَيُقَاتِلُونَهُمْ وَهُمُ الشُّهَدَاءُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] يوه حصه خو به د غويانو لکئ ونيسي او په جنګل کې به پناه حاصله کړي. [يعنی دا به هغه خلق وي، چې د حمله ورو د مقابلي نه به په ويرېدو سره کر او زمينداره او نورو کارونو کې به مشغول شي او د غواګانو وغيره په ساتلو خکلو اخوا ديخوا ته به لاړ شي، چې د دښمن د حملي نه خپل ځان وساتي (يا داچي هغه خلق به هم عيال او مال واسباب جمع کولو سره جنګل ته لاړ شي) چې دحملي او د دښمن د نقصان رسانی نه محفوظ شي]، حالانکي هغه خلق به د مرګ په ګودرور خکته کېږي، (يعني هغوئ د خپلي دي حيله سازي په وجه د دښمن د حملي نه محفوظ کيدی نشي) ځکه چې حمله آور مشرك د فتنه او فساد کوم اورليدلی وی هغه په داسې حيلو او بهانو سره يخيدې او کميدې نشي، [٢] او دويمه حصه به د خپلو ځانونو د پاره امان طلب کوي، خو هغه خلق به هم د مرګ په ګودر خکته کېږي او دريمه حصه به هغه وي چې اولاد او خپلي ښځي پريخودلو سره يعنی خپل اهل وعيال نه بي پرواکيدو سره [٣] او د هغوئ د محبت نه خپله لمن کهولاؤولو سره د حمله ورو مقابله به په کلکه وکړی، يا داچي هغه خلق به خپل بال بچ ځان پسي اخستو سره سنګر ته به لاړ شي او هلته به دښمن سره جنګيږي او په هغوئ کې به اکثره ووژلي شي. چې د شهادت مرتبي ته به ورسي (ابو داؤد)

حل اللغات:- ⑧ أَذْنَاب: د ذنب جمع ده، لکئ.

تسهيلات:

قوله: يُسَمُّونَهُ الْبَصْرَةَ، عِنْدَ نَهْرٍ يُقَالُ لَهُ: دِجْلَةُ:

د بصرې په مصداق کښې دوه اقوال: ① بعضې شارحينو په دې حديث کښې دَ بصرې نه مشهوره بصره مراد نه ده اخستې کومه چه نن صبا مشهوره ده بلکه په بغداد کښې دننه دَ

يو خائي نوم بصره وو کوم ته چه به ئي باب البصره وئيلو او هغه دغه وخت هم په دې نوم سره مشهوره هم وه

۲ بعضې دلته دَ بصرې نه مراد بغداد دې. ځکه چه دجله بغداد سره تيريږي بصره سره نه تيريږي. چونکه په هغه زمانه کښې آبادي خوره شوې نه وه او دَ بصرې په مضافاتو کښې ټولې علاقې واقع وې لکه چه دَ بغداد نوم روستو مشهور شوې دې. اول دا ټولې علاقې بصره او دَهغې په مضافاتو کښې شميرلې کيدې

د دويم قول د ترجيح وجوهات: ۱ په دې حديث کښې دی چه هغه ښار به دَ مسلمانانو لوئي ښار جوړيږي دا صفت هم دَ بغداد دې.

۲ دلته په حديث کښې دَ دجله دَ ذکر نه هم معلوميږي چه مراد بغداد دې

۳ ترکو په بغداد باندې حمله هم کړې وه. په بصره باندې کله هم حمله نه وه کړې

۴ دَ مستعصم بالله په دور حکومت کښې دَ تاتاريانو هلاکوخان په بغداد باندې حمله کړې وه.

قوله: فِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ فِي أَذْنَابِ الْبَقَرِ وَالْبَرِّيَّةِ وَهَلَكُوا:

د مسلمانانو درې ډلې: ۱ يعنې يوه ډله خوبه دنيا پسې اولګی دَ غوايانو په لکو پسې به اونخلی او پټې به اړوی. جهاد به پريږدی نو تباه به شی.

۲ دويمه ډله به دَ بنو قنطورا نه امان طلب کړل دا به هم تباه شی

۳ دريمه ډله به ښه جهاد کوی هغه به کامياب شی.

هلاکوخان او د بغداد سقوط: چنانچه دَ هلاکوخان نه څه خلقو امان طلب کړو نو هغه ټول قتل کړل. دَبغداد په تباهئی کښې هلاکوخان يو کروړ او شپږ لاکهه انسانان قتل کړې وو بيا هم دَهغه دَنسل نه نورالدين زنګی نه الله تعالی دَ دين خدمت واخستلو دَ چا دَ باقياتو او صالحاتو نه چه صلاح الدين ايوبی وو چا چه دَهغوی مشن پوره کړو تفصيل تيرشوې دې.

[۵۴۲۳] په بصره کښې د خسف او قذف واقع کيدو پيشنګوئی

٥٤٢٣-(٣)[٢٣] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ " «يَا أَنَسُ! إِنَّ النَّاسَ يُمَصِّرُونَ أَمْصَارًا، ۳ وَإِنَّ مِصْرًا مِنْهَا يُقَالُ لَهُ: الْبَصْرَةُ، ۴ فَإِنْ أَنْتَ مَرَرْتَ بِهَا أَوْ دَخَلْتَهَا، فَإِيَّاكَ وَسِبَاخَهَا ۵ وَكَلَّأَهَا وَسُوقَهَا وَبَابَ أُمَرَائِهَا، ۶ وَعَلَيْكَ بِضَوَاحِيهَا، فَإِنَّهُ يَكُونُ بِهَا خَسْفٌ وَقَذْفٌ وَرَجْفٌ ۷ وَقَوْمٌ يَبِيتُونَ يُصْبِحُونَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ» ". ۸ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ عَنْ طَرِيقٍ لَمْ يَجْزِمْ بِهَا الرَّاوِي بَلْ قَالَ: لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا ذَكَرَهُ عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ.

[٧١]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب في ذكر البصرة (رقم-٤٥٠٧)

ترجمه: [۱] د حضرت انس ﷺ نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل: [۲] اې انس ﷺ خلق به نوي ښارونه آباد کړي [۳] او په هغه ښارونو کې به د یوښار نوم بصره وي. [۴] که ته په هغه ښار تیرسي نو د هغه، هغه علاقې ته مه ورځه (چیرته چې ښره ناکه مالګینه زمکه ده [۵] او دارنګه هغه ځایونو ته مه ورځه چې هغه ته کلاء وئیل کېږي) د هغه شان د هغه ځای د خرماباغونو بازارونو بادشاهانو او د سردارانو د دروازو نه هم لرې اوسه. [۶] صرف د هغه ښار د غاړې په حصه کې او اطرافو کې پروت اوسه ځکه چې د کومو ځایونو نه زه تا منع کوم هلته په زمکه کې د غرقیدو، د کاڼو وریدو او د سختو زلزلو عذاب به نازلیږي، [۷] او په هغه علاقه کې به یوداسي قوم وي چې د هغه افراد به یوه ورځ په شپه کې د عیش وراحت په خوب اوده شي، لیکن سهار چې را کیني نو د هغوئ شکلونه به د شادوګانو او خنزیرانو په شان وي. [۸] امام ابوداؤد د دې روایت په یو داسې سند سره نقل کړې دې چې په هغې کښې راوی په یقین سره خبره نه ده کړې بلکه دا ئې وئیلي دي چې زه پرې نه پوهیږم خود موسی بن انس عن انس بن مالک ځخه ئې نقل کړې دې

حل اللغات: - ① يُمَصِّرُونَ: خلق به نوی نوی ښارونه آباده وی. ② وَسِبَاخَهَا: سبخة شارې بنجر زمکې ته وائی. ③ كَلَّأَهَا: شنه ګیا والا ځائې چرته چه څاروی څرولې شی، (دا دواړه د مصر ځایونه دی) ④ بِضَوَاحِيهَا: دَ ضاحية جمع ده دَ ښار غاړې ته وائی، په بصره کښې د یو کلی نوم دې ⑤ خَسْفٌ: زمکه کښې ښخیدل، ⑥ قَذْفٌ: کاڼی وریدل، ⑦ رَجْفٌ: سختې زلزلې، ⑧ يَبِيتُونَ: د شپې به اوده شی

تسهیلات:

قوله: إِنَّ النَّاسَ يُمَصِّرُونَ أَمْصَارًا،

د بصرې آبادول: په دې حدیث کښې د مغروفې بصرې ذکر دې چه مسلمانان به دې لره جوړوی او آبادوی به ئې. بصره ښهر چه کوم ځائې کښې آباد دې هغه حضرت عتبه به غزوان په خلافت فاروقی کښې فتح کولو سره ښهر جوړ کړې وو د هغې د فتح کولو ذکر د شمائل ترمذی په یو روایت کښې ضمنا راغلې دې [۷۵] په دې حدیث کښې د خسف او مسخ ذکر دې چونکه د نورو احادیثو نه معلومیږی چه خسف او مسخ به په قدریه کښې وی چه د هغې نه ګنړلې شی چه دلته به په بصره کښې هغه وخت قدریه وی،

قوله: فَإِنْ أَنْتَ مَرَرْتَ بِهَا

په بصره کښې د قیام څخه ممانعت: حضور پاک حضرت انس ﷺ ته دَ بصرې په اطرافو او کلو کښې دَ اوسیدو حکم ورکړو او دَ ښار دننه اوسیدو نه ئې منع کړو ځکه چه هغه ته

[۷۵]) په آخر د شمائل کښې باب ما جاء فی عیش النبی ﷺ کښې په روایت د خالد بن عمیر وشویس ابو الرقاد د دې روایة مضمون به خصائل نبوی کښې کتلې شي.

خودلې شوی وو چه بصره کښې به دننه قدریو، جبریو، معتزلو او خوارجو زور شی او په هغه خلقو کښې به ډیر خباثتونه وی

قوله: فَإِنَّهُ يَكُونُ بِهَا خَسْفٌ وَقَذْفٌ وَرَجْفٌ

دمذکوره عذابونو وجه: په مظاهر حق کښې دی چه په دې ځایونو کښې به خسف وغیره کیدې شی چه وی، په سبب د خباثت د هغوی او په بازارونو کښې به وی په سبب د غفلت یا د وجې د کثرت لغو نه یا فساد د عقود او د بادشاهانو وغیره په دروازو باندې په سبب د کثرت ظلم

[٥٤٣٤] د بصرې په یو جمات د مونځ کولو فضیلت

٥٤٣٤-(٣)[٢٣] ١ وَعَنْ صَالِحِ بْنِ دِرْهَمٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- يَقُولُ ٢: انْطَلَقْنَا حَاجِّينَ فَإِذَا رَجُلٌ فَقَالَ لَنَا: إِلَى جَنْبِكُمْ قَرْيَةٌ يُقَالُ لَهَا: الْأُبُلَّةُ؟ ٣ قُلْنَا: نَعَمْ، ٤ قَالَ: مَنْ يَضْمَنُ لِي مِنْكُمْ أَنْ يُصَلِّيَ لِي فِي مَسْجِدِ الْعَشَّارِ رَكْعَتَيْنِ أَوْ أَرْبَعًا، ٥ وَيَقُولُ: هَذِهِ لِأَبِي هُرَيْرَةَ؟ ٦ سَمِعْتُ خَلِيلِي أَبَا الْقَاسِمِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "٧ «إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْعَثُ مِنْ مَسْجِدِ الْعَشَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُهَدَاءَ لَا يَقُومُ مَعَ شُهَدَاءِ بَدْرٍ غَيْرُهُمْ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت صالح ابن درهم تابعي وايي، ٢ مونږ د حج د پاره د بصرې نه مکې ته لاړو، نو هلته یو ځای یو سړی یعنی حضرت ابوهریره ﷺ مو ولاړ ولیدی. هغوئ ز مونږ نه پوښتنه وکړه ستاسو د ښار په اړخ کې یو کلي دي چې هغه ته (اُبُلَه) وايي. ٣ مونږ ورته اوویل هو شته، ٤ هغوئ اوویل په تاسو کې کوم سړی د دې خبرې ذمه اخلي، چې هغه به ځما طرف نه مسجد عشار کې دوه رکعاته یا څلور رکعاته مونځ وکړي ٥ او دا اووائي چې د دې مونځ ثواب دی ابوهریره ﷺ ته ورسیږي، ٦ ما دخپل دوست صادق ابوالقاسم محمد ﷺ نه اوریدلي دي ٧ چې یقینًا الله ﷻ به د مسجد عشار نه د قیامت په ورځ شهداء پورته کوي او د بدر شهداوو سره به د دې شهداء نه علاوه بل څوك نه وي. د قیامت په ورځ به د بدر شهداء وو سره چې کوم شهداء د خپل خپل قبر نه پاڅیږي هغه به د دې مسجد شهداء وي، یا داچې د قیامت په ورځ به د مرتبې د اعتبار نه د شهداء بدر د شهداء نه علاوه بل داسې شهید نه وي. داروایت ابوداود نقل کړی دی

حل اللغات:- ① الْأُبُلَّةُ: د بصرې د یو کلی نوم دې. ② مَسْجِدِ الْعَشَّارِ: د بصرې په اوبله کلی کښې د یو جماعت نوم دې.

١ وَقَالَ: هَذَا الْمَسْجِدُ مِمَّا يَلِي النَّهْرَ. ٢ وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أَبِي الدَّرْدَاءِ " إِنَّ فُسْطَاطَ الْمُسْلِمِينَ "، فِي بَابِ: ذِكْرِ الْيَمَنِ وَالشَّامِ "، إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

ترجمه: ١ او ویلې یې دی چې دامسجد د بصرې د هغه کناري په حصه کې دی چې

[٢٣] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب فی ذکر البصرة (رقم-٤٣٠٨)

دریائي فرات طرف ته ده [۲] او د حضرت ابودرداء رضي الله عنه حدیث (ان فسطاط المسلمین الخ) به مونږ انشاء الله د یمن او شام د ذکر په بیان کې نقل کړو.

حل اللغات:- ③ فُسْطَاطٌ: خیمه.

تسهیلات: قوله: مَسْجِدِ الْعَشَّارِ:

د مسجد عشار محل وقوع: دا د یو مسجد نوم دی کوم چه په ابله کښې واقع دې خلق د برکت د پاره دې جمات کښې مونځ کولو له راځي. په مقدس مقاماتو کښې د مونځ فضیلت د چا نه پټ نه دې.

مولانا فضل محمد صاحب دامت برکاتهم په توضیحات کښې ددې حدیث په شرح کښې لیکلي دي ,, زما یو شاګرد ,,شیخ موسی '' چه په دې وخت کراچئ کښې دې هغه د بصرې او سیدونکي وو هغه اووئیل چه مسجد عشار زمونږ په محله کښې دې خلق د زیارت د پاره راځي.''

قوله: مَنْ يَضْمَنُ لِي مِنْكُمْ أَنْ يُصَلِّيَ لِي فِي مَسْجِدِ الْعَشَّارِ رَكْعَتَيْنِ:

ژوندوته د ثواب پخلو جواز: دویم انسان ته دا وصیت کول چه زما د پاره د ثواب په نیت دا عبادت اوکړه او ایصال ثواب اوکړه دا جائز دی. دغه شان د چا د پاره د نفلی عبادت ثواب ایصال کول هم جائز دي.

قوله: يَبْعَثُ مِنْ مَسْجِدِ الْعَشَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُهَدَاءَ لَا يَقُومُ مَعَ شُهَدَاءِ بَدْرٍ غَيْرُهُمْ:

د شهداؤ په مصداق کښې دوه اقوال: ① په ظاهره خو داسې معلومیږی چه جمات خو پخواني او تاریخی جمات دې البته شهداء به د دې امت وی د کومو درجه چه د بدر او احد د شهداؤ برابر ده.

② دا احتمال هم شته چې ددې ځخه د پخوانی امتونو شهداء مراد وی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۴۲۵] د عمر رضی الله عنه څخه روسته د فتنود دروازې خلاصیدو پیشنګوئی

۵۴۳۵-(۷۷)[۲۵] [۱] عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ [۲]: كُنَّا عِنْدَ عُمَرَ فَقَالَ: أَيُّكُمْ يَحْفَظُ حَدِيثَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْفِتْنَةِ؟ [۳] فَقُلْتُ: أَنَا أَحْفَظُ كَمَا قَالَ، [۴] قَالَ: هَاتِ، إِنَّكَ لَجَرِيءٌ، وَكَيْفَ قَالَ؟ [۵] قُلْتُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۶] " «فِتْنَةُ الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَنَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَجَارِهِ؛ [۷] يُكَفِّرُهَا الصِّيَامُ وَالصَّلَاةُ وَالصَّدَقَةُ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ» "،

[۷۷]) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب فی الفتنة التی تموج کموج البحر (رقم-۲۶ - (۱۴۴) اخرجه البخاری فی کتاب الفتن/باب الفتنة التی تموج کموج البحر (رقم-۷۰۹۶)والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۲۵۸)وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب ما یکون من الفتن (رقم-۳۹۵۵) واحمد فی المسند: ۳۸۶/۵

ترجمه: [۱] حضرت شقیق تابعي رحمه الله د حضرت حذیفه رضي الله عنه نه روایت کوي، هغوئ وفرمایل، [۲] مونږ یوه ورځ د حضرت عمر رضي الله عنه په خدمت کې حاضر وو. هغوئ ز مونږ نه پوښتنه وکړه په تاسو کې چاته د رسول الله ﷺ هغه حدیث یاد دی چې حضور ﷺ د فتني په سلسله کې فرمایلی وو. [۳] ما اوویل ماته یاد دی. او بالکل داسې راته یاد دی. څرنګه چې حضور ﷺ ارشاد فرمایلی دی یعنی ځما په حافظه کې هغه حدیث د څه کم بیخیز نه بغیر حرف به حرف یاد دی، [۴] په دي اوریدو سره حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل. ښه هغه حدیث بیان که (ولي چې ته د حدیث په روایت کې ډیر زړور یې) څه چې حضور ﷺ فرمایلي دي هغه نقل کړه، او د هغه کیفیت بیان کړه. [۵] حضرت حذیفه رضي الله عنه وایي مابیان کی، چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي [۶] چې د سړي فتنه یعنی د هغه ازمائش او ابتلاء د هغه په ① اهل او په عیال کې ده ② د هغه په مال کې ده ③ د هغه په نفس کې ده ④ د هغه په اولاد کې ده ⑤ او د هغه په ګاونډي کې ده، [۷] د هغه. هغه فتنه او د هغه فتني په سبب چې کومه ګناه کوي د هغه روژه، مونځ، صدقه امر بالمعروف او نهي عن المنکر لري کوي،

حل اللغات:- ① جَرِيءٌ: زړه ور،

> [۱] قَالَ عُمَرُ لَيْسَ هٰذَا أُرِيدُ، إِنَّمَا أُرِيدُ الَّتِي تَمُوجُ كَمَوْجِ الْبَحْرِ. [۲] قَالَ: قُلْتُ: مَالَكَ وَلَهَا يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ إِنَّ بَيْنَكَ وَبَيْنَهَا بَابًا مُغْلَقًا. [۳] قَالَ: فَيُكْسَرُ الْبَابُ أَوْ يُفْتَحُ؟ [۴] قَالَ: قُلْتُ: لَا؛ بَلْ يُكْسَرُ. [۵] قَالَ: ذَاكَ أَحْرَى أَنْ لَا يُغْلَقَ أَبَدًا. [۶] قَالَ: فَقُلْنَا لِحُذَيْفَةَ: هَلْ كَانَ عُمَرُ يَعْلَمُ مِنَ الْبَابِ؟ [۷] قَالَ: نَعَمْ كَمَا يَعْلَمُ أَنَّ دُونَ غَدٍ لَيْلَةً، [۸] إِنِّي حَدَّثْتُهُ حَدِيثًا لَيْسَ بِالْأَغَالِيطِ، [۹] قَالَ: فَهِبْنَا أَنْ نَسْأَلَ حُذَيْفَةَ مَنِ الْبَابُ؟ [۱۰] فَقُلْنَا لِمَسْرُوقٍ: سَلْهُ. فَسَأَلَهُ فَقَالَ: عُمَرُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت عمر رضي الله عنه د دې حدیث په اوریدو سره وفرمایل، ځما پوښتنه ددې فتني نه نه ده، ماخو د هغه فتني باره کې اوریدل غوښتل چې د سمندر د موجونو په شان به جوش وهي، [۲] حضرت حذیفه رضي الله عنه وایي، ما عرض وکړو اې امیر المؤمنین ستاسو د هغه فتني سره څه تعلق دی؟ ستاسو او د هغه فتني په منځ کې خو یوبند (دروازه) حائله ده یعنی د هغه فتني تاسو ته ولي فکر دی د هغه خراب اثرات خو در تاسو پوري نه رسېږي ځکه چې د هغه فتني ظهور به ستاسو د ژوند نه پس وي، [۳] حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل ښه دا وښایه، چې هغه دروازه چې د هغه نه فتنه وځي هغه به ماته شي، (یعني هغه به داسې ماته شي یا خلاصه شي شي) [۴] حضرت حذیفه رضي الله عنه وایي ما جواب ورکړو هغه به خلاصه نشي، بلکې ماته به شي [۵] نو حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل چې بیاخو هغه ددې لائقه ده چې هیڅکله بیا بنده نشي، [۶] د حدیث راوي حضرت شقیق رحمه الله وایي، ما د حضرت حذیفه رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه، چې آیا حضرت عمر رضي الله عنه د دې نه خبر وو چې د

دروازي نه مراد څوك دى، ۷ حضرت حذيفه ﷺ وفرمايل هو حضرت عمر ﷺ د هغه نه خبر وو، لکه څرنګه چې هغه د دې خبري نه خبر وو چې د صبا ورځې نه مخکې به شپه راځي. يعنی څرنګه چې هرسړی په يقيني طور سره پوهيږي چې د صبا ورځي د راتلو نه مخکې د شپې راتلل ضروري دی، دغه شان حضرت عمر ﷺ د دې يقيني علم لری. چې د دروازي نه مراد څوك دی او په دې کې شك نشته. ۸ چې ما حضرت عمر ﷺ ته هغه حديث بيان کی چې په هغه کې څه غلطي نشته، حضرت شقيق ﷫ وايي. د دې نه پس مونږ ته د حضرت حذيفه ﷺ نه د دې پوښتني همت ونه شو، چې د دروازي نه مراد څوك دی ۹ البته مونږ حضرت مسروق ﷫ ته عرض وکړو چې هلته موجود وو، چې تاسو د حضرت حذيفه ﷺ نه پوښتنه وکړئ، هغه د حضرت حذيفه ﷺ نه پوښتنه وکړه، ۱۰ نو حضرت حذيفه ﷺ ورته وفرمايل د دروازي نه مراد خپله حضرت عمر ﷺ دی. يعنی د حضرت عمر ﷺ ذات د يو داسي دروازي په شان دی چې دې په امت او اسلامي مملکت کې د فتنه وفساد راتګ يې منع کړی دی، د دې نه پس به د فتنو دروازه خلاصه شي

حل اللغات:- ① يُكْسَرُ: ماتولې به شی. ② أَحْرَى: ډير لائق دی. ③ دُونَ: دا په معنی د قبلُ دې. يعنی مخکښې. ⑤ الْأَغَالِيطِ: جمع د اغلوطة. داسې خبره چه خلق په مغالطه کښې اچوی

تسهيلات:

قوله قَالَ: هَاتِ، إِنَّكَ لَجَرِيءٌ، وَكَيْفَ قَالَ:

دعمر رضی الله عنه د حديث په قبلولو کښې احتياط: حضرت عمرفاروق ﷺ ته به دَ ګواه نه بغيرچاحديث نه شو بيانولې. دَدې دَپاره حضرت حذيفه ﷺ ته ئې اوفرمائيل ته ډير زړه ور ئې څه بيان کړه. حضرت حذيفه دَ دوو قسمه فتنو نه يو قسم بيان کړو. يادلرئې فتنه په دوه قسمه ده يوه فتنه خو اهل وعيال اومال اومتاع سره متعلق وی. دويمه فتنه هغه ده دَ کوم تعلق چه قتل اوقتال، افتراق انتشار او بدامنئی سره وی. حضرت حذيفه ﷺ اوګڼړل چه حضرت عمر ﷺ دَ اول قسم فتنې سره متعلق سوال کوی نوهغه ئې بيانول شروع کړه. په دې باندې حضرت عمر ﷺ اوفرمائيل چه هغه دويم قسم فتنه بيان کړه چه دَسمندر دَموجونو په شان موج اوچپې وهونکې راځی. حضرت حذيفه ﷺ اوفرمائيل چه ستاسو هغې سره څه کار دې؟ تاسوخودَهغې نه ډير لرې يئ. ستاسو اودَ هغه فتنې په مينځ کښې خو يوه بنده دروازه ده. حضرت عمر ﷺ اوفرمائيل چه هغه دروازه به کولاوولې شی که ماتولې به شی؟ حضرت حذيفه ﷺ اوفرمائيل ماتولې به شی. حضرت عمر ﷺ اوفرمائيل نو بياخو به هغه بنده نه شی. دلته دَدروازې تشبيه دَحضرت عمر ﷺ ذات سره ورکړې شوه. دَ دروازې کولاوول دَ طبعی مرګ راتلو طرف ته اشاره وه اوماتول دَهغه دَشهيدکولو طرف ته اشاره وه. چنانچه کله عمر ﷺ لره ابولؤلؤ مجوسی

شهيد کړونو دادروازه ماته شوه اوس به بنده نه شي حضرت عمر ﷺ ته دَدي بيان نه بنه معلومه شوې وه چه دَ فتنو په مخکښې بنده دروازه دَهغوی خپل ذات دې کله چه هغوی شهيد کړې شو نودَ فتنو دروازې کولاؤ شوې اوحضرت عثمان ﷺ شهيد کړې شو

[٥٤٣٦] فتح قسطنطنيه په قيامت سره ډير نزدې وی

٥٤٣٢-(۱)[٢٦] ①وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ②: فَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ مَعَ قِيَامِ السَّاعَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ①دَ حضرت انس ﷺ نه روايت دی، هغوئ وفرمايل②دَ قسطنطنيه فتح کيدل به قيامت ته نزدې وي، داروايت ترمذي نقل کړی دی اوويلي يي دي چې داحديث غريب دی

تسهيلات: نوټ: دَ قسطنطنيه دَ فتح تفصيل وړاندې دَ حديث نمبر ((٥٤٢١)) په تسهيل کښې تيرشوې دې.

[۲] بَابُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ

دَ قيامت دَ علاماتو بيان

خلاصة الباب

فيه سبعة وعشرون حديثاً مشتملة على ثلاث مسائل:

① عدد أشراط الساعة بحذف التكرار ستة وأربعون:
۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۹، ۱۱، ۱۲، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۸، ۲۹، ۳۰۔

② خروج الإمام المهدي وصفاته: ۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۵، ۲۶۔

③ وقت إبتداء الأشراط: ۲۴۔

دَ شرط لغوی معنی: اشراط جمع ده دَدې مفرد شرط دې چه دَنښې اوعلامت په معنی کښې دې. په دې باب کښې به هغه علامات بيانيږی چه دَ قيامت قرب اودَدې واقع کيدل ښکاره کوی.

په مذکوره باب کښې دَ اشراط څخه مراد: دَساعة اطلاق په غيرمعلوم مختصر وخت باندې کيږی او دلته هم دغه مراد دې څکه چه دقيامت دَ وقوع وخت غير معلوم هم دې اومختصر هم دې.

دَ قيامت دوه قسمه علامات:

① علامات صغری: دَ قيامت نه مخکښې يوڅو علامات داسې دی چه واړه دی. چنانچه

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی علامات خروج الدجال (رقم-۲۲۳۹) واحمد فی المسند: ۵/۸۶

دَحضرت مهدی پورې چه کوم علامات دی هغه وارِه دی

④ دَ ظهورمهدی نه واخله تر وقوع دَ قیامت پورې لوئی علامات دی

اشکال: که چرې دَ اشراط الساعة تعلق علامات صغریٰ سره دې نو بیا په دې باب کښې د حضرت مهدی ذکر بار بار ولې راغلې دې ظهورمهدی خودَ علامات کبریٰ نه دې؟

داشکال جواب: دَ ظهورمهدی ذکر په راروان باب کښې کیدل پکاروو ځکه چه ظهور مهدی د علامات کبریٰ څخه دې هغه باب وړاندې راروان دې اودلته د علامات صغری بیان کیږی خو چونکه په علامات صغریٰ کښې دَ څه داسې جنګونوذکر وودکوم تعلق چه صرف مهدی سره وو په دې وجه دَمهدی تذکره هم دلته په علاماتِ صغری کښې اوشو ګنی ظهورِمهدی دَعلاماتِ کبریٰ څخه دې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۴۳۷] دَقیامت دشپږو علاماتو پیشنګونی

٥٤٣٧-()[١] ①عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② "«إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ، ③وَيَكْثُرَ الْجَهْلُ. ④وَيَكْثُرَ الزِّنَا، ⑤وَيَكْثُرَ شُرْبُ الْخَمْرِ، ⑥وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، ⑦وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ، ⑧حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ". ⑨وَفِي رِوَايَةٍ: "يَقِلُّ الْعِلْمُ وَيَظْهَرُ الْجَهْلُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضرت انس رضی الله عنه وايي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوريدل ②بيشکه د قيامت د علاماتو نه يوه علامه داده چې علم به پورته کړل شي (يعني حقيقي علم به ددي دنيا نه پورته شي يا داچي د علماوو قدرومنزلت به ختم شي) ③جهالت به زيات شي (يعني هرطرف ته به جاهل او نادان په نظر راځي که څه هم د علم ودانش دعوی به کوي خو په حقيقت کې به د علم ودانش نه په ميلونو لرې وي) ④زنا به په کثرت سره کېږي (ځکه چې به په خلقوکي به شرم وحياء او غيرت کم شي) ⑤شراب به ډير ځکل کېږي (او بيا د شراب نوشي زياتوالي به آباديو او په خلقوکي د فتنې او فساد دخوريدو باعث شي) ⑥د سړو تعداد به کم شي (چې د هغوئ په وجه د عالم نظام قائم او مستحکم وي) ⑦د ښځو تعداد به زيات شي (چې د هغوئ په ذريعه ضروري او مهم امورو سرته رسيدل څه چې د هغوئ په وجه به تفکرات . پريشانيو او د مال ودولت حاصلولو غم ضرور برداشت کول راځي .

⑧ددي پورې چې د پنځوس ښځو خبر ګيري د پاره به يو سړی وي (دي نه دامراد نه دی

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب العلم/باب رفع العلم وظهور الجهل (رقم-٨٠) ومسلم فی کتاب القدر/باب رفع العلم وقبضه وظهور الجهل والفتن فی آخر الزمان(رقم-٩ - (٢٦٧١) وابوداود فی والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی أشراط الساعة (رقم-٢٢٠٥) والنسائی فی کتاب البیوع/باب التجارة (رقم-٤٤٥٦)وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب أشراط الساعة (رقم-٤٠٤٥) واحمد فی المسند: ١٧٦/٣

چې د يو يو سړي به پنځوس پنځوس ښځې وي ، بلکه دا مراد دی ، چې يو يو سړی باندې به د پنځوس ښځو د کفالت او خبر ګيري بوج وي ، چې په هغوئ کې به مورګانې . خاله ګانې دايانې . خوندې او پوپياني وغيره وي ، (خاله ، د مور خور . امه د پلار خور)

[۹]او په يوه روايت کې دي (يقل العلم ويظهر الجهل) چې علم به کم شي او جهالت به خور شي بخاري . مسلم

حل اللغات:- ①يقل : کمې به شي، ②القيم: نګران.

تسهيلات: قوله: إن من أشراط الساعة أن يرفع العلم:

دعلم پورته کيدو دوه صورتونه: ① دعلم دپورته کيدوصورت دعبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنه په حديث کښې وارد شوې دي.((قال سمعت رسول الله ﷺ يقول إن الله لايقبض العلم إنتزاعاً ينتزعه من العباد، ولكن يقبض العلم بقبض العلماء حتى إذا لم يبق عالماً إتخذ الناس رؤساً جهالاً فسئلوا فأفتوا بغير علم فضلوا وأضلوا))[۱]

ددې نه معلومه شوه.چه دعلم پورته کيدوصورت به دا وی.چه عالمان به وفات کيږی. او دهغوی په ځاې به دهغوی د علم حاملين نه وی.نودعلماؤ دوفات سره به علم هم ختميږی.

②دبعضې رواياتونه معلوميږی.چه علم به براه راست د سينونه پورته شی.قران پاك به د سينونه اوخی.

ابن ابی شيبه رحمه الله په ((مصنف)) کښې د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه اثرنقل کړې دې.((أول ما تفقدون من دينكم الأمانة وآخرها تفقدون منه الصلاة وسيصلي قوم ولا دين لهم، وإن هذا القرآن الذي بين أظهركم كأنه قد نزع منكم قال قلت: يا عبدالله كيف وقد أثبته الله في قلوبنا؟ قال يسرى عليه في ليلة فترفع المصاحف وينزع ما في القلوب ثم تلا ﴿ وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ ﴾ إلى آخرالاية))[۲]

په رواياتوکښې دترجيح: په دې دواړه قسمه رواياتوکښې که دترجيح لار اختيارکړې شی.نوداسې به ونيلی شی.چه دصحيحينوروايت ته ترجيح حاصله ده.

---

[۱]الحديث أخرجه البخاري في صحيحه (۲۰\۱۱) كتاب العلم باب كيف يقبض العلم رقم ۱۰۰) وفي (۱۲\۱۰۸۶) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة باب ما يذكرمن ذم الرأي وتكلف القياس رقم ۷۳۰۷) واخرجه مسلم في صحيحه في كتاب العلم باب رفع العلم وقبضه وظهورالجهل والفتن في آخرالزمان رقم ۶۷۹۶و ۶۷۹۹) وأخرجه النسائي في السنن الكبرى (۱۳\٤٥۶) كتب العلم باب كيف يرفع العلم رقم (۵۹۰۷و ۵۹۰۸) وأخرجه الترمذي في جامعه في كتاب العلم باب ما جاء في ذهاب العلم رقم ۲۶۵۲) وأخرجه ابن ماجه في كتاب السنة (المقدمة) باب إجتناب الرأي والقياس رقم (۵۲)_

[۲]المصنف لإبن أبي شيبة (۱۷\۵۰۵) كتاب الفتن باب ما ذكر في فتنة الدجال رقم ۳۷۵۷٤)_

په رواياتوکښې تطبيق: ياکه دواړه قسمه رواياتوکښې تطبيق اوکړې شی.نودواړه صورتونه به راپيښيږی.چه اول به عالمان وفات شی.اودهغوی د علومو حاملين به پاتې نشی.نودهغوی علم به ختم شی.اوبيا به په آخرکښې د اجواف رجال او اوراقو نه هم پورته کړې شی.«والعلم عندالله تعالی» دتطبيق دا صورت راجح دې.په دې کښې دځه قسم حديث ترک ته ضرورت نه پيښيږی.

قوله: وَيَكْثُرَ الْجَهْلُ:

دجهل د کثرت په سبب کښې دوه اقوال: ① د ثبوت جهل نه خو يا مراد دا دی.چه عالمان به ختم شی.اودهغوی نائبين اودهغوی دعلومو حاملين به پاتې نشی.نوجهل به خور شی.

② دښځو پيدائش به زيات شی.ځکه چه په ښځو کښې جهل زيات وی.

قوله: وَيَكْثُرَ الزِّنَا، وَيَكْثُرَ شُرْبُ الْخَمْرِ،

اشکال: د شرابو څکل د قيامت دعلاماتونه څنګه شمارلې شی.حالاتکه نفس شرب خو په هره زمانه کښې موجود دې.په خپله نبی ﷺ په بعضې کسانوياندې په دې کښې حدجاری کړې وو.

داشکال دوه جوابونه: ① دقيامت په علاماتوکښې مطلق شرب مراد نه دې.بلکه د شرب عموم او کثرت مراد دې.([1])

② دلته صرف شرب خمرد قيامت نښه نه ده ګرځولې شوې.بلکه شرب خمراوشيوع زنا وغيره مجموعه د قيامت نښه ګرځولې شوې ده.([2])

قوله: وَيَقِلَّ الرِّجَالُ وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ:

د سړوپه کموالی اوښځوپه کثرت کښې درې اقوال: ① دَ جنګونو په وجه به سړی ختم شی اوښځې به پاتې شی زمونږ وړاندې د افغانستان جنګ دې څومره سړی شهيدان شو اوڅومره زنانه کونړې شوې.

② دَ جينکو پيدائش زيات شی اودَ هلکانوکم. په دې وجه به دَ يو سړی په پالنه کښې پنځوس پنځوس ښځې وی.

③ ابوعبدالملک فرمائی چه دا اشاره ده دَ کثرت فتوح طرف ته چه مسلمانانو ته به ښه فتوحات حاصل شی ښځې به قيدکولې او راوړلې شی يويوکس سره به ډير موطوات جمع کيږی خو حافظﷺ داقول رد کړې دې بلکه مراد دا دې چه په آخره زمانه کښې به سړی کم پيداکيږی او ښځې به ډير پيدا کيږی.

---

[1] شرح کرمانی(۱۲/۶۰)۔

[2] المصدر السابق)۔

قوله: حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ:

د پنځوسو ښځو د پاره د یو کفیل په کېدو کښې دوه اقوال: ① دا په حقیقت باندې محمول دی ② د خمسین څخه صرف کثرت بیانول مقصود دی لکه د ترمذی په بل روایت کښې د څلویښتو ښځو ذکر راغلې دې

[۵۴۳۸] قیامت ته نژدې د دروغژنو خلقو د زیادت پیشنګوئي

٥٤٣٨-()[۲] [۱] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [۲] "«إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ كَذَّابِينَ، [۳] فَاحْذَرُوهُمْ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل [۲] چې د قیامت د راتلو نه مخکې د دروغجنو پیدائش به زیات شي ، [۳] تو د هغوئ نه ځان و ساتئ

تسهیلات:

قوله: إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ كَذَّابِينَ، فَاحْذَرُوهُمْ:

د کذابین په مصداق کښې دوه اقوال: ① د کذابین څخه مراد مدعیان د نبوت دی چې په دروغه به ځان ته د نبوت نسبت کوی چې په مونږ باندې وحی کیږی

② دروغژنو خلقو څخه اهل هواء اود باطلو نظریاتو خلق مراد دی چې د خپلو غلطو نظریاتو د پاره د ځان نه حدیثونه جوړه وی

[۵۴۳۹] نا اهله ته د منصب ورکول اود قیامت نښه

٥٤٣٩-()[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ [۲]: «بَيْنَمَا كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُحَدِّثُ إِذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: مَتَى السَّاعَةُ؟ [۳] قَالَ: "إِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ". [۴] قَالَ: كَيْفَ إِضَاعَتُهَا؟ قَالَ: "إِذَا وُسِّدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي [۲] چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه رضی الله عنهم سره (په څه سلسله کې) خبري کولي ، اچانك یو باندچي (کلیوال)(مجلس نبوي صلی الله علیه وسلم ته راغې هغه اوویل قیامت به کله راځي [۳] حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل هرکله چې امانت تلف شي نو د قیامت انتظار کوه ، [۴] باندچي (کلیوال) پوښتنه وکړه امانت به ولي تلف شي او دانوبت به کله راځي [۵] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل هرکله چې د حکومت او سلطنت کار نا اهل خلقو ته وسپارل شي نو پوهه شه چې دا د امانت تلف کیدل دي او هغه وخت د قیامت انتظار کوه (بخاري)

حل اللغات: - ① إِضَاعَتُهَا: ضائع کیدل دهغې، ② وُسِّدَ: اوسپارلې شي

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب الناس تبع لقریش. والخلافة فی قریش (رقم-۱۰ - (۱۸۲۲) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب ما یکون من الفتن (رقم-۳۹۵۲) واحمد فی المسند:۸۵/۵

[۲] اخرجه البخاری فی کتاب العلم/باب من سئل علمًا وهو مشتغل فی حدیثه. فأتم الحدیث ثم أجاب السائل (رقم-۵۹)

تسهیلات: قوله: إِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ:

علی اسلوب الحکیم جواب ورکول: د نبی کریم ﷺ دا جواب ..جواب علی اسلوب الحکیم.. دې مطلب دا دې چه ده سوال کړې وو چه قیامت به کله راځی؟ نبی کریم ﷺ جواب ورکړو چه ددې د تپوس کولو ضرورت نشته.ځکه چه ددې علم خو ماته هم نشته.البته که د قیامت د علاماتو په باره کښې ته سوال کوې.نو دا زیاته مناسب ده.ځکه چه دا ماته معلومه ده.بیا دوی ﷺ علامات بیان کړل.د قیامت راتلو وخت ئې مقرر نکړو.

په قرآن کریم کښې ددې نظائر: دا داسې ده.لکه څنګه چه د ﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ﴾ په جواب کښې ﴿قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ﴾[۱] فرمائیلی شوی دی.دلته سوال دا وو چه سپوږمۍ ورو کې کیږی او غټیږی ولې؟ ددې د کمیدو او غټیدو علت څه دې؟ په جواب کښې دعلت بیانولو په ځائې حکمت بیان کړې شو.چه ددې نه د وختونو تعین کیږی.

قوله: إِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ:

دامانت څه مراد: «إذا ضيعت الأمانة» کښې د ..امانت.. نه څه مراد دې؟: حاصل دا دې چه په «إذا ضيعت الأمانة» کښې امانت نه مراد د خیانت ضد نه دې.بلکه ددې نه مراد هغه امانت دې.دکوم ذکر چه په آیت کریمه ﴿إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا﴾[۲] کښې دې.

دغه شان دلته کښې هغه امانت مراد دې.دکوم ذکر چه د رسول کریم ﷺ په حدیث کښې دې.((إن الأمانة نزلت في جذر قلوب الرجال.....))[۳] ددې امانت اداکول مونږ قیومیت سره تعبیر کولې شو.چه هرڅیز د هغې په مقام باندې کیخودې شی.او صحیح انتظام اوکړې شی.او دهر څیز حق ادا کړې شی.

دنااهل څخه مراد: د نا اهل نه مراد بې دینه دې. ښکاره ده.چه کله نا اهل ته اوسپارلې شی.نو د قیامت انتظار به کولې شی.ځکه چه نا اهل سړې به د خپلې لاعلمۍ په وجه ذمه داری په پوره طریقه نه ادا کوی.کوم چه د کوم څیز محل دې.هغه به دهغې په محل کښې نه ایږدی. نتیجه به دا وی. چه دینی بدنظمی به خوریږی.او آخر به داسې اوشی.چه بې دینی به عام شی.او په بې دینۍ باندې به قیامت قائمیږی.ددې نه معلومه شوه.چه اهلیت په عالمانو کښې وی.په جاهلانو (بې علمو) کښې حقیقی اهلیت نه وی.

[۱] البقرة:۱۸۹_

[۲] الأحزاب:۷۲_

[۳] صحيح البخاري(۹۶۱۱۲) كتاب الرقاق باب رفع الأمانة رقم ۶۴۹۷) وصحيح مسلم كتاب الإيمان باب رفع الأمانة والإيمان من بعض القلوب رقم ۱۴۳)_

د پاکستان په سرکاري ادارو کښې سياسي مداخت: ددې حديث مصداق زمونږ د پاکستان سرکاري ادارې هم دي. اګرچې په اهليت باندې هم سرکاري نوکري ملاويږي خوچې کله سياسي اوجمهوري حکومت وي نو هر وزيراو منسترپه خپله ماتحته اداره کښې بې ځايه اوناجائزه مداخلت کوي اود خپلې پارټۍ اودلې خلق په کښې مقرر کوي ځکه چې د انتخاباتو په وخت کښې ورله په جلسې جلوسونو کښې زنده باد او مرده باد وئيلې وي زه خپله هم د پاکستان په يوکالج کښې پروفيسريم په يوه موقع د پيش امام د تقررۍ دپاره انټروې (تپوسونه) وو. زه په هغه انتخابي کميټۍ کښې يو ممبر ووم ما به نور تپونه هم کول اوپه عربۍ کښې مې خپل غيرمعرب تاليف ,, احکام العبادات في فقه الاحناف،، مخې کيخودې وو. دهغې لږ غوندې عبارت به مې په انټروۍ کښې حصه اخستونکې فاضل ته وروړاندې کړل او ورته به مې ووئيل دا عربي عبارت ووايه هغه چې به عبارت غلط ووئيل نو د هغې ځخه به دهغه علمي استعداد معلوم شو په دوی کښې يو مفتي صاحب هم د امامتۍ اميدوار وو. د هغوی د قابليت اواستعداد ځخه زه ډير متاثره شوم. او ډيرې نمبرې مې ورته وکړلې خوچې کله دانتخاب وخت راغلو نوبل ملګرې چې د دغه مفتي صاحب په مقابله کښې ډيرکمزورې وو. د هغه تقرري اوشوه. روسته معلومه شوه چې د يو ايم پي اې په مداخلت سره دهغه سلکشن (تقرري) شوې وه. دا خو درته ما هغه واقعه اوليکله چې زما په کښې علم وه. معلومه نه ده چې څومره داسې خلق به وي چې د يو پوسټ (ذمه واري) اهل به نوی اودهغې تقررياني به شوې وي

[۵٤٤۰] د مال دولت د زياتيدو پيشنګوئي

۵٤٤۰-( )[۳] [۱]وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكْثُرَ الْمَالُ وَيَفِيضَ، [۳]حَتَّى يُخْرِجَ الرَّجُلُ زَكَاةَ مَالِهِ، فَلَا يَجِدُ أَحَدًا يَقْبَلُهَا مِنْهُ، [٤]وَحَتَّى تَعُودَ أَرْضُ الْعَرَبِ مُرُوجًا وَأَنْهَارًا". رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [۵]وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: قَالَ: "تَبْلُغُ الْمَسَاكِنُ إِهَابَ أَوْ يَهَابَ»".

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲]قيامت ترهغه وقته پورې نه راځي د څوپورې چې د مال ودولت فراخي اونشي [۳]او فراخي به هم داسې اوشي چې يوسړی به دخپل مال زکوٰة وکاږي ليکن هغه به داسې سړی پيدا نه کړي چې د هغه د زکوٰة مال واخلي ځکه چې د مال ودولت فراخي به هيڅ سړی محتاج او ضرورتمند پرې نه ږدي او هيڅ سړی به داسې مال آخستلو له تيار نه وي [٤]او قيامت به دهغې پورې نه راځي د څوپورې چې د عربو سر زمين باغ وبهار او نهر والا (يعني بې حسابه مال ودولت فراهم کونکی) جوړه نشي (مسلم) [۵]او دمسلم په يوروايت کې داهم دي چې

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الفتن/باب خروج النار (رقم-۷۱۲۰) ومسلم في كتاب الزكاة/باب الترغيب في الصدقة قبل أن لا يوجد من يقبلها (رقم-۶۰ - (۱۵۷)

رسول الله ﷺ وفرمایل قیامت تر هغه وخته پورې نه راځي ترڅو پورې چې کورونه اوآبادیاني اهاب یا دیهاب پورې ورسیږي.

حل اللغات: - ① تَعُودَ: راوبه گرځي، واپس به شي. ② مُرُوجًا: دڅرن ځائی شینکی او نهر والا. ③ إِهَابَ أَوْيِهَابَ: مدینې سره نیزدې د یو ځائی نوم دې.

تسهیلات:

قوله: وَحَتَّى تَعُودَ أَرْضُ الْعَرَبِ مُرُوجًا وَأَنْهَارًا:

د عرب زمکه زر غیزه کرځیدل: یعنی دعربستان زمکه به دڅرن ځائی شینکی او نهر والا شی. چنانچه نن صبا دا عمل شروع شوې دې. د جده نه دمکې پورې زمکه شینکې والا شوې دې په مکه مکره کښې چې په قرآن کښې ورته ((غیرذی زرع)) وئیلې شوې ده خوچې په سرکونو باندې تیریږې نو شنه شنه پوټې به درته په نظر راځی. ځکه چې د نورو ځایونو خخه ورته خاورې راوړی اوپته نشته چې د زراعت د کومو نوې تحقیقاتو په نتیجه کښې د کرکروندې عمل شروع دې. دا هم د زیربحث حدیث مصداق دې.

قوله: تَبْلُغَ الْمَسَاكِنُ إِهَابَ أَوْيِهَابَ:

په کلمه د "او" کښې دوه احتمالات: ① دلته راوی ته شک دې چې نبی ﷺ اهاب فرمائیلې وو اوکه یهاب، په دې صورت کښې لفظ او د شك دپاره دې

② کلمه د او د تنویع دپاره دې یعنی دا د دوو ځایونو نومونه دی.

[۵٤٤١] دیو خلیفه په زمانه کښې د مال د زیادت پیشنګولی

٥٤٤١-()[٥] ① وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ خَلِيفَةٌ يَقْسِمُ الْمَالَ وَلَا يَعُدُّهُ". ③ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: "يَكُونُ فِي آخِرِ أُمَّتِي خَلِيفَةٌ يَحْثِي الْمَالَ حَثْيًا، وَلَا يَعُدُّهُ عَدًّا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر رضی الله عنه وایي رسول الله ﷺ وفرمایل ② په آخره زمانه کې به یو خلیفه (یعني سلطان برحق) پیدا شي چې ضرورتمندو مستحقینو باندې به مال نه تقسیموي او هغه به نه شمیري یعنی په په خلقوکي به بي حسابه مال ودولت تقسیموي ③ او په یوه روایت کې داسې دي چې ځما د امت په آخري زمانه کې به یو خلیفه پیدا شي چې خلقوته به موټی یالپه ډکه (یعني ډیر زیات) مال ودولت ورکوي او هغه به نه شماري ځرنګه چې شمیر کولی شي (مسلم)

حل اللغات: - ① لَا يَعُدُّهُ: شماری به ئې نه. ② خَلِيفَةٌ: خلیفه، (امام مهدی) ③ حَثْيًا: موټی، لپه.

---

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتی یمر الرجل بقبر الرجل. فیتمنی ان یکون مکان المیت من البلاء (رقم-۶۹ - (۲۹۱٤)

تسهيلات:

قوله: يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ خَلِيفَةٌ

د خليفه څخه مراد: دې څخه مراد حضرت مهدي دې د ده ظهور به د مقام ابراهيم او حجراسود په مينځ کښې کيږي. د دغه ظهور نه مخکښې به د تيرشوي کال په رمضان کښې نمر تندر نيولي وي. د بيعت او ظهور په وخت به د آسمان نه دا آواز راځي "هذا خليفة الله المهدي فاستمعوا له واطيعوه" دې نه مخکښې به دې د مدينې نه تختيد وسره مکې ته راغلې وي دې د پاره چه هغه څوك اونه پيژني د شام اولياء الله به هغه اوپيژني اوبيعت به ورسره اوکړي. د حضرت مهدي د ظهور نه مخکښې به دروغژن مهدي هم راځي. امام مهدي به سيد وي او په ژبه کښې به ئې تتوالې وي کله چه غصه شي نو په خپل پتون به لاس وهي. د حضورپاك په شان نوم به ئې وي د هغوي د پلار نوم به عبدالله وي او د مور نوم به ئې آمنه وي په عادتونو کښې به بالکل د حضوراکرم ﷺ په شان وي مګر په شکل اوصورت کښې به جدا وي.

قوله: يَحْثِي الْمَالَ حَثْيًا،

د مال زياوت: يعني د کې د کې لپې به ورکوي. نهه کاله به خلافت کوي. اووه کاله به خالص جهاد کښې تيره وي په اتم کال به د دجال مقابله کوي او په نهم کال کښې به حضرت عيسى عليه السلام سره د حکومت انتظام کوي اوبيابه وفات شي. حضرت عيسى عليه السلام به د هغه جنازه کوي.

[۵٤٤٢] د فرات درياب څخه د خزانې راوتلو پيشنګوئي

٥٤٤٢-()[٢] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «يُوشِكُ الْفُرَاتُ أَنْ يَحْسِرَ عَنْ كَنْزٍ مِنْ ذَهَبٍ، ③فَمَنْ حَضَرَ فَلَا يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ وفرمايل ② او هغه زمانه راتلونکې ده هرکله چې دريائي فرات به د سوني (سرو زرو) خزانه وغورځوي (يعني د هغه اوبه وچې شي او د هغه لاندې نه به د سوني خزانه برآمد شي) ③تو کوم سړی چې هغه وخت هلته موجود وي هغه ته پکار دی چې د هغه خزاني نه هيڅ وانه خلي (بخاري ومسلم)

حل اللغات: - ① الْفُرَاتُ: دريائي فرات، ② يَحْسِرَ: راښکاره به شي.

[١] اخرجه البخاري في كتاب الفتن/باب خروج النار(رقم-٧١١٩) ومسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتى يحسر الفرات عن جبل من ذهب (رقم-٣٠ - (٢٨٩٤) وابوداود في كتاب الترجل في كتاب الملاحم /باب في حسر الفرات عن كنز (رقم-٤٣١٣) والترمذي في كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٥٦٩)وابن ماجه في كتاب الفتن/باب أشراط الساعة (رقم-٤٠٤٦)

تسهیلات:

قوله: يُوشِكُ الْفُرَاتُ أَنْ يَحْسِرَ عَنْ كَنْزٍ مِنْ ذَهَبٍ:

د فرات دریاب څخه د خزاني راښکاره کیدل: یعني دَ فرات دریاب به اوچ شي او دَ لاندي نه به دَ سرو زرو خزاني راوخي او په بل روایت کښې دی (ان یحسر عن جبل من ذهب) او د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه فرات به اوچوی د سرو زرو د خزانو نه. یعنې د فرات اوبه به اوچې شي او د هغې د لاندې نه به د سرو زرو خزاني راوخي دا مطلب نه دي چې د سرو زرو غربه راښکاره شي بلکه مراد دا دي چې لکه غر هومره ډیر سر زربه راښکاره شي.

قوله: فَمَنْ حَضَرَ فَلَا يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا:

د خزاني څخه د نه اخستلودرې وجوهات: ① د نه اخستلو وجه دا ده چې د هغي باعث تنازع او تقاتل دي لکه چې د مشکاة په حدیث نمبر (۵۴۴۳) کښې دی چې په هغې باندې به خلق جګړې شروع کړی هرسړې به دا وائی کیدې شی زه دا خزانه حاصله کړم په کښې به په هر سلو کسانو کښې یو کم سل قتل کړې شي او یو کس به پاتې شي.

② د دې خزانې څخه چې څوک واخلی نود دې په سبب به آفات او مصیبتونه راځی. او هغه به د الله پاک د قدرت د نخښو نه یوه نخښه وی،

③ دا مال د قارون د مال پشان مغضوب او مکروه دې ددې وجې به د دې څخه انتفاع حرامه وی (مظاهر حق)

[۵۴۴۲] د فرات دریاب په خزانې د قتل وقتال کیدو پیشنګونی

۵۴۴۳-(۱)[۷] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَحْسِرَ الْفُرَاتُ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ، [۳] يَقْتَتِلُ النَّاسُ عَلَيْهِ، فَيُقْتَلُ مِنْ كُلِّ مِائَةٍ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ، [۴] وَيَقُولُ كُلُّ رَجُلٍ مِنْهُمْ: لَعَلِّي أَكُونُ أَنَا الَّذِي أَنْجُو». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] قیامت به د هغې پورې نه راځي د څوپوري چې دریائي فرات نه د سرو زرو (سوني) غر راونوځي، [۳] خلق به د دې په وجه (یعني د دې دولت حاصلولو او په خپله قبضه کې اخستو د پاره) جنګ او قتل وقتال کوي نو دې په خلقو کې به یو کم سل (۹۹) فیصده ووژل شي [۴] او هرسړی به داوایي چې شاید زه (ژوندی پاتي شم او) په مقصد کې به کامیاب شم یعني هرسړی به په دې توقع جنګیږي، چې شاید زه کامیابي حاصله کړم او په دې دولت قبضه وکړم نو ۹۹

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتی یحسر الفرات عن جبل من ذهب (رقم-۲۹-۲۸۹۴) واحمد فی المسند: ۵/۱۴۰

فیصده خلق به په دي توقع کې ځان بانیلي

حل اللغات:- ① يَخِيرَ: رابښکاره به شي

تسهيلات: نوټ: د زيربحث حديث وضاحت د مشكاة حديث نمبر(۵۳۴۲) کښې تيرشو هغې ته رجوع وکړئ

[۵۴۴۴] د زمکې خپلې خزانې رابهر کولوپیشنګوئی

۵۴۴۴-( )[۸] ①وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②" «تَقِيءُ الْأَرْضُ أَفْلَاذَ كَبِدِهَا أَمْثَالَ الْأُسْطُوَانَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، ③فَيَجِيءُ الْقَاتِلُ، فَيَقُولُ: فِي هَذَا قَتَلْتُ، ④وَيَجِيءُ الْقَاطِعُ فَيَقُولُ: فِي هَذَا قَطَعْتُ رَحِمِي ⑤وَيَجِيءُ السَّارِقُ فَيَقُولُ: فِي هَذَا قُطِعَتْ يَدِي ⑥ثُمَّ يَدَعُونَهُ فَلَا يَأْخُذُونَ مِنْهُ شَيْئًا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②د قيامت يوه غټه نښه داهم ده چې ، زمکه به د خپل ځيګر ټکړي بهر راوباسي چې د سونا چاندي د ستنو په شان به وي ③نو يو سړی چې هغه محض مال حاصلولو د پاره قتل کړی وي رابه شي او وايي به چې د دې د پاره ماخلق قتل کړي دي ④او يو سړی چې هغه خپلوي قطع کړي وي (يعني هغه خپلو عزيزانو او رشته دارو سره احسان او نيک سلوك نه وي کړی) رابه شي او وايي به چې مادي مال د پاره خپلو عزيزانو سره عزيز ولي قطع کړي وه ⑤او بيابه غل راشي او وايي به چې ددي مال د پاره ځما لاس کټ شوي دی (يعني د دوئ ټولو د ويلو مطلب به داوي چې مال او دولت داسې شی دی ، چې د هغه په محبت کې او د هغه دحاصلولو د پاره مونږ داسې داسي ګناه وکړه [او داسې داسي پريشانيو سره مخ شو ليکن اوس چې دامال ودولت زمونږ مخي ته او زمونږ په اختيار کې دی د دې هيڅ اهميت نه دی پاتې شوی او مونږ ته د دې هيڅ حاجت او ضرورت نه محسوسيږي] ⑥نو هغه ټول خلق به هغه مال ودولت دغه شان پريږدي چې هيڅوك به د هغه نه هيڅ هم وانخلي

حل اللغات:- ①تَقِيءُ: الْتيئ به کړي. يعنې راوبه باسي. ②أَفْلَاذَ: دَ فلذة جمع ده دَ ځيګر دَ ټکړو دپاره ونيلې شوې دې دَ زمکې دننه معدنيات مراد دی. ③كَبِدِ: ځيګر. ④الْأُسْطُوَانَةِ: ددې جمع اساطين ده. ستنې ته وائي.

تسهيلات: قوله: أَفْلَاذَ كَبِدِهَا:

د په مصداق کښې دوه اقوال: ① دلته دَ زمکې دَ ځيګر نه مراد دَ زمکې لاندې پټې شوې خزانې دی او معدنيات دَ ځيګر ټکړو سره ځکه تعبيرکړې شوی دی چه دَ زمکې جوهر او خلاصه هم دغه ده

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الزکاة/باب الترغيب فی الصدقة قبل أن لا يوجد من يقبلها (رقم-۶۲ - (۱۰۱۳) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۲۰۸)

یعنی په آخره زمانه کښې به د زمکې سینه ډیر په فراخئی سره په خپل ځان کښې پټې کړې شوې خزانې بهر راؤباسی او انسانی نسل به د مال اودولت په زیاتوالی کښې ورغرق شی

② دې خزانې څخه مراد د موجوده عراق تیل وی او هم دغه تیل د دریاب د لاندې نه راخوتکیږی لکه څنګه چه نن صبا کفریه طاقتونه یوځائی شوی دې او د عراق تیل لوټ کوی.

قوله: فَيَجِيءُ الْقَاتِلُ:

د مال په وجه د ګناهونو په کولو پښیمانتیا: مطلب دا چه مال به دومره زیات شی چه د خلقو به د دې نه رغبت ختم شی بیا به مجرمان افسوس کوی چه د دې حقیر مال په وجه مونږ د جرمونو ارتکاب نه کولې.

[٥٤٤٥] د هرسړی د پریشانی پیشنګونی

> ٥٤٤٥-()[٩] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ عَلَى الْقَبْرِ فَيَتَمَرَّغُ عَلَيْهِ، ۳ وَيَقُولُ: يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مَكَانَ صَاحِبِ هَذَا الْقَبْرِ، ۴ وَلَيْسَ بِهِ الدِّينُ إِلَّا الْبَلَاءُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کې ځما ساه ده دا دنیا به ترهغه وقته پورې نه ختمیږي د خوپورې چې یوه داسې زمانه را نشي چې سړی به په قبر تیریږي او بیا به هغه قبر ته واپس راتلوسره راشي او حسرت سره به وایي ۳ چې آرمان زه د دې قبر والا په ځای وی ۴ او دا به د هغه دین نه وي بلکه بلا به وي. (مسلم) یعنی دا به د پرهیزګاری او دتقوی په وجه نه بلکه د مصیبت او پریشانی په وجه به وی.

حل اللغات:- ① يَتَمَرَّغُ: واپس به راشی. ② الْبَلَاءُ: مصیبت، پریشانی.

تسهیلات:

قوله: وَلَيْسَ بِهِ الدِّينُ إِلَّا الْبَلَاءُ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې درې اقوال: ① د یو د مرګ تمنا کول به په داسې وخت کښې وی کله چه د څه فتنې او مصیبت د وجې نه د هغه دین په ختمیدو شی. هغه وخت به ده سره د دغه فتنې اومصیبت د مضراثراتو نه سوا نور هیڅ نه وی اودا به داسې زمانه

---

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتی یمر الرجل بقبر الرجل، فیتمنی أن یکون مکان المیت من البلاء (رقم-٥٤ - (١٥٧) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب شدة الزمان (رقم-٤٠٣٧)

وی چه هغه وخت به زمکه دَ دین او دین والو نه خالی شی
④ دَ یو کس دا ذکرشوې خواهش کول دین اودَ دې ضروری معاملاتو ته نقصان رسولو یا تباه کولو په وجه به نه وی بلکه دَ دغه مصیبت او تکلیف دَ راګیرېدو په وجه به وی کوم چه دَهغوی دنیا ته نقصان رسولې وی.
⑤ په دنیاکښې به آفتونه دومره زیات وی چه خلق به په ژوند باندې مرګ له ترجیح ورکوی او قبرونوته په کتو به تمنا اوخواهش کوی چه افسوس مونږ په دې قبرونو کښې خښ شوی وې.

[٥٤٤٦] دحجازپه زمکه کښې داورلګیدو پیشنګوئی

٥٤٤٦-()[١٠] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتّٰى تَخْرُجَ نَارٌ مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ ③ تُضِيءُ أَعْنَاقَ الْإِبِلِ بِبُصْرَى» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② قيامت به ترهغه وقته پورې نه راځي د څوپورې چې حجاز نه يو اور پرك ونه وهي ③ چې د بصرې د اوښانو ګردنونه (څټونه) به روښانه کړي . (بخاري ، و مسلم)

حل اللغات:- ① تُضِيءُ: روښانه به کړی. ② بُصْرَى: په شام کښې يو ښار دې.

تسهيلات:

قوله: مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ"

دحجازپيژندګلو: حجاز دَ جزيرة العرب هغه علاقې ته وئيلی شی په کوم کښې چه مکه اومدينه داخل دی او بُصریٰ دَ شام په زمکه باندې دَ يوښار نوم دې چه دَ دمشق نه دَ دريو ورځو په فاصله باندې دې.

دې پيشنګوئی واقع کيدل: علماؤ ليکلی دی چه په دې حديث کښې دَ کوم اور بيان راغلې دې دا اور په ٦٥٠ هجری کښې ښکاره شوې دې. دا اور دَ حجاز دَمينځ نه دَ طوفان او سمندر دَ موجونو په شان اوچتېدو او غرونه صحراګان او ځنګلونه ئی سوزولو سره ايره کول. په هغې کښې دَ تندر دَ ګرز په شان آوازهم وو او په هغې کښې مختلف رنګونه هم وو. دغه اور هم په دغه طوفانی حيثيت سره مدينې منورې پورې راؤ رسيدو مګر دَ مدينې په حدودو کښې يخ شو. يعنی دَ مدينې يو څيزئی هم نه سوزولو

داور څخه د مدينې حفاظت: دَدغه اور نه دَمدينې منورې خلق ويريدل هغوی په ژړا سره دعاګانې غوښتلې اوصدقات ئی ورکول. په دغه اور باندې پنځوس ورځې مدينه روښانه

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الفتن/باب خروج النار (رقم-٧١١٨) ومسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتى تخرج نار من أرض الحجاز (رقم-٤٢ - (٢٩٠٢)

وه دَمدينې خلقو به دَ شپې دَ دې دَ وجې نه کارکولو دَمکې مکرمې خلقو ګواهي ورکړه چه دَدې اور دَ رڼرا دَ وجې نه مونږ دَ بصرىٰ او شام علاقې روښانه ليدلې وې. دا اور دَ نمر نه زيات رڼرا ورکونکې وو دَ ورځې به پته نه لګيده چه نمر شته که نه دې اور به کاڼړې سوزول مګر ونې ئې نه سوزولې دغه شان په مدينه کښې دننه دَ حرم په حدودو کښې ئې اثر نه کولو چنانچه که دَ يو کاڼړى نيمه حصه به دَمدينې په حرم کښې وه او نيمه به بهر وه نو دې اور به دَ بهر والا حصه سوزوله او دننه والا حصه به ئې پريخودله دَ رسول الله ﷺ روضه مبارکې سره خلقو ژړل چه الله تعالى مهربانى اوکړه او دَ دغه اور مخ دَ آسمان طرف ته تاؤ کړو او خلق محفوظ شو.

قوله أَعْنَاقَ الْإِبِلِ بِبُصْرَى:

داعناق الابل څخه مراد: دَ أعناق الإبل نه مراد دَ بصرىٰ دَ علاقې غرونه دى دَدغه اور دَ ختميدو نه پس په بغداد باندې دَ تاتاريانو حمله اوشوه په کوم سره چه بغداد تباه او برباد شو دا اور ۳ جمادى الثانى ۶۵۰هجرى کښې رابښکاره شوې وو او ۲۷ رجب ۶۵۰هجرى پورې ۳۵ ورځې مسلسل جارى وو.

[۵۴۴۷] دقيامت ړومبنۍ علامت

۵۴۴۷-(١)[۱۱] ⟦١⟧ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ⟦٢⟧ "«أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ نَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ⟦١⟧ او حضرت انس ﷛ نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⟦٢⟧ دَ قيامت دَ علاماتو نه اولنى علامه به هغه اور وي چې خلق به دمشرق نه مغرب طرف ته شړلو سره بوځي

حل اللغات: - ① تَحْشُرُ: راجمع کوى به.

تسهيلات:

قوله أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ نَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ:

ميدان حشرته د جمع کولو دپاره د اور محرکنديدل: دَ حديث الباب حاصل دا دې چه قيامت ته نيزدې به يو اور راؤخى چه خلق به دَمشرق طرف دَ کورونو نه راؤباسى او دَ مغرب طرف ته به ئې شړى بوځى به ئې دا به واقع کيږى ګنى ښکاره خبره ده چه دا اور دَ قيامت دَ غټو علامتونو څخه دَ ټولو نه مخکښې علامت څنګه ګرځولې کيدې شى لهذا په حديث الباب کښې دَ تير شوى حديث والا اور مراد نه دې څکه چه حديث الباب کښې دَ کورونو نه راويستونکې اور ذکر دې او دَ دې نه مخکښې حديث کښې دَ کورونو نه راويستونکې اور نه وو

---

[۱]) اخرجه البخارى تعليقا فى كتاب الفتن/باب خروج النار واحمد فى المسند:۳/۱۰۸

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵٤٤۸] قيامت ته نزدې د بې برکتۍ ښکاره کيدل

۵۴۴۸-(۱)[۱۲] عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَتَقَارَبَ الزَّمَانُ فَتَكُونُ السَّنَةُ كَالشَّهْرِ، وَيَكُونُ الشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ، وَتَكُونُ الْجُمُعَةُ كَالْيَوْمِ، وَيَكُونُ الْيَوْمُ كَالسَّاعَةِ، وَتَكُونُ السَّاعَةُ كَالضَّرْمَةِ بِالنَّارِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل قيامت به تر هغه وقته پورې نه راځي د ځو پورې چې زمانه نزدې نشي (يعنې د زماني ګردش تيز نشي او ورځ او شپه زر تيريدل شروع نشي او د زماني تيز رفتاري به دې کيفيت او حالت سره وي) چې کال به د مياشتې برابر مياشت به د هفتې برابر هغه به د ورځې برابر ورځ به د يو ساعت برابر شي او يو ساعت به دومره مختصر شي لکه د اور شعله (چې په بوټو او خشاکو) بله شي (يعنې سمدستي بليدو سره مړه شي)

حل اللغات: - ① يَتَقَارَبَ الزَّمَانُ: نزدې به شي زمانه. د زمانې ګردش به تيزشي ② الضَّرْمَةِ: د وښو او خشاکو ګيډۍ چې اور ورته پورې کړې شي او زرترې هيره جوړه شي.

تسهيلات:

قوله: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَتَقَارَبَ الزَّمَانُ:

دتقارب الزمان په مفهوم څلور کښې اقوال: ① يعنې دخلقو عمرونه به کم شي خلق به زر مري او داوږد ژوند خاوندان به نه وي.

② په عمر کښې به بې برکتي پيدا شي هغه کار چې په پخوانۍ زمانه کښې په لږ وخت کښې کيدلو په آخره زمانه کښې به پرې وخت زيات لګي يعنې عوارض او مشکلات به په کښې پيښيږي

③ زه د خپلې تجربې څخه دا وايم چې د تقارب الزمان مطلب دا دې چې هر سړې به په دنياوي کارونو او فضولياتو کښې داسې مشغوله وي چې ګورې نو هفته به تيره وي چې ګورې نو مياشت به تيره وي لکه نن صبا د دې مشاهده ده.

④ ورځې شپې به لنډې شي لکه څنګه چې په يو روايت کښې راځي چې کال به د مياشتې په شان شي او مياشت به د هفتې پشان شي او هفته به د ورځې پشان شي او ورځ به د يو ګهړۍ پشان شي اويوه ګړۍ به د سرې لمبې (د خرمنې بيمارۍ د چې ډيره زر انسان ته لږې) پشان وي.

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في تقارب الزمان وقصر الأمل (رقم-۲۳۳۲)

[۵۴۴۹] د مديني څخه د دار الخلافې منتقل کيدلو پيشنګوئي

۵۴۴۹-()[۱۳] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حَوَالَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ [۲]: بَعَثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِنَغْنَمَ عَلَى أَقْدَامِنَا، [۳] فَرَجَعْنَا فَلَمْ نَغْنَمْ شَيْئًا، وَعَرَفَ الْجَهْدَ فِي وُجُوهِنَا، [۴] فَقَامَ إِلَيْنَا فَقَالَ: "«اللّٰهُمَّ لَا تَكِلْهُمْ إِلَيَّ فَأَضْعُفَ عَنْهُمْ، [۵] وَلَا تَكِلْهُمْ إِلَى أَنْفُسِهِمْ فَيَعْجِزُوا عَنْهَا، [۶] وَلَا تَكِلْهُمْ إِلَى النَّاسِ فَيَسْتَأْثِرُوا عَلَيْهِمْ، [۷] ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ عَلَى رَأْسِي،

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن حواله رضي الله عنه وايي [۲] يو وخت رسول الله ﷺ مونږ د جهاد د پاره وليږلو چې مونږ مال غنيمت حاصل کړو (او د هغه په ذريعه خپل ضروريات پوره کړو) زمونږ هغه سفر پياده وو (يعني زمونږ سره د سورلى څه انتظام نه وو څکه مونږ ته دجهاد د پاره پياده روانيدل راتلل) [۳] او هرکله چې مونږ دهغه جهاد نه واپس راغلو نو مونږ سره هيڅ مال غنيمت نه وو (چي د هغه په وجه زمونږ سره غم او افسوس وو) [۴] نو حضور ﷺ زمونږ په مخونو نا اميدي ليدو سره مونږ ته تسلي راکولو او زمونږ په حق کې ددعا کولو د پاره زمونږ په منځ کې اودريدلو (او بطور دعا) يې وفرمايل اې پروردګاره! داخلق ماته مه حواله کوئ داسې نه چې زه د دوئ د خبر ګيرى طاقت نه لرم [۵] مه دوئ خپله دوئ ته حواله کړئ څکه چې دوئ به د خپل امورو سرته رسولو نه عاجزه شي [۶] او مه دوئ نورو خلقوته حواله کوئ او د نورو خلقو محتاج يې جوړ نه کړئ څکه چې خلق به د دوئ حاجتونو او ضرورتونو باندې خپل حاجتونه او ضرورتونه مقدم کوي [۷] حضرت عبد الله ابن حواله رضي الله عنه وايي چې دې نه وروسته حضور ﷺ خپل لاس مبارك څما په سر کيخودى

حل اللغات:- ① لِنَغْنَمَ: چه مونږ مال غنيمت حاصل کړو. ② لَاتَكِلْهُمْ: مه سپاره دوى. ③ فَأَضْعُفَ: زه به عاجز راشم. ④ فَيَسْتَأْثِرُوا: خلق به ترجيح شروع کړى په دوى باندې،

[۱] ثُمَّ قَالَ: "يَا ابْنَ حَوَالَةَ! إِذَا رَأَيْتَ الْخِلَافَةَ قَدْ نَزَلَتِ الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ [۲] فَقَدْ دَنَتِ الزَّلَازِلُ وَالْبَلَابِلُ وَالْأُمُورُ الْعِظَامُ [۳] وَالسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنَ النَّاسِ مِنْ يَدِي هَذِهِ إِلَى رَأْسِكَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او وې فرمايل اې ابن حواله رضي الله عنه هرکله چې ته ووينې چې خلافت ارض مقدس ته رسيدلى دى يعنى د مسلمانانو دار الخلافه مديني نه منتقل کيدو سره ملك شام ته رسيدلي ده [۲] نو پوهه شه چې زلزلي بلبلي او هغه لوى لوى حادثي (چي د هغه تعلق د قيامت سره دى) نزدې رسيدلى دى [۳] او په هغه ورځ به قيامت خلقو ته دومره نزدې وي څرنګه چې څما لاس ستا سرته نزدې دى.

حل اللغات:- ⑤ دَنَتْ: رانزدې شوى دى. ⑥ الْبَلَابِلُ: دَ بلبلة جمع ده آفت اومصيبت ته وائى.

[۱] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد/باب في الرجل يغزو يلتمس الأجر والغنيمة (رقم-۲۵۳۵)

تسهيلات:

قوله: إِذَا رَأَيْتَ الْخِلَافَةَ قَدْ نَزَلَتِ الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ:

شام ته د خلافت منتقل کیدل: یعنی کله چه خلافت دَ مدینې نه شام طرف ته منتقل شي نوبيا به زلزلې اومصيبتونه راځي اود د بنواميه په دور کښې اوشو ځکه چې حضرت اميرمعاويه رضى الله عنه د ټول اسلامي مملکت دبل ځا د شراکت څخه بغيراميرجوړ شو اودهغوی مرکز شام وو.

طرف ته منتقل شي او خور شي نوبيابه زلزلې شروع شي اوآفات به نازليږي

[۵۴۵۰] پنځلس ګناهونو په عام کيدو سره دعذابونو راتلل

۵۴۵۰-(۱)[۱۳] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِذَا اتُّخِذَ الْفَيْءُ دُوَلًا، وَالْأَمَانَةُ مَغْنَمًا، وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا، ③ وَتُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّينِ، وَأَطَاعَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ، وَعَقَّ أُمَّهُ، وَأَدْنَى صَدِيقَهُ، وَأَقْصَى أَبَاهُ، ④ وَظَهَرَتِ الْأَصْوَاتُ فِي الْمَسَاجِدِ، ⑤ وَسَادَ الْقَبِيلَةَ فَاسِقُهُمْ، وَكَانَ زَعِيمُ الْقَوْمِ أَرْذَلَهُمْ، وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ،

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هركله [دا پنځلس [۱۵] نښې اوينئ] چې مال غنيمت دولت وګرځول شي او د امانت مال غنيمت وشميرل شي او زکوة تاوان وګڼل شي ③ او علم د دين نه علاوه دځه بل غرض د پاره زده کولي او، خو دلی شي او سړی د ښځې اطاعت شروع کړي او د مور نافرماني کول شروع شي او دوستان نزدې او پلار لرې کول شروع شي ④ او مسجد کې شور کول شروع شي ⑤ او د قوم او جماعت سرداري د هغه قوم او جماعت د فاسق سړي په لاس شي او د قوم او جماعت سربراه د هغه قوم او جماعت کمينه او رذيل سړی شي او د سړي تعظيم د هغه د شر او فتنې د ويرې نه شروع شي

حل اللغات: - ① الْفَيْءُ: بغيرجنګ نه حاصل شوي مال. ② دُوَلًا: دولت. ③ مَغْنَمًا: مال غنيمت. ④ مَغْرَمًا: تاوان. ⑤ عَقَّ: نافرماني کوی. ⑥ أَقْصَى: لرې کړی. ⑦ وَسَادَ: سربراه. مشر. ⑧ زَعِيمُ: مشر. سردار.

① وَظَهَرَتِ الْقَيْنَاتُ وَالْمَعَازِفُ، وَشُرِبَتِ الْخُمُورُ، ② وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَوَّلَهَا، ③ فَارْتَقِبُوا عِنْدَ ذَلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ وَزَلْزَلَةً وَخَسْفًا وَمَسْخًا وَقَذْفًا ④ وَآيَاتٍ تَتَابَعُ كَنِظَامٍ قُطِعَ سِلْكُهُ فَتَتَابَعَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او ددهول و باجو دور دوره شي او دشرابو څکل شروع شي ② او د دې امت وروستني خلق په مخکينو خلقو باندې بدرد وئيل شروع کړي او په هغوئ لعنت وئيل شروع کړي ③ نو هغه وخت تاسو د دې څيزونو د زر ظاهريدو انتظار کوي د تيزو تند او

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی علامة حلول المسخ والخسف (رقم-۲۲۱۱)

شدیدترین طوفاني سیلی د زلزلي او په زمکه کې د غرق کیدو د شکلونو د مسخ کیدو او د کانو دوریدو ⑭ او دي څیزونو نه علاوه د قیامت د نورو نښو او علامو انتظار کوي چې دغه شان به پرله پسي واقع کېږي لکه مثلاً د ملغلرو د لړی تار چې وشلیږي او د هغه داني پرله پسي لوېږي. (ترمذي)

حل اللغات:- ⑨ **الْقَيْنَاتُ**: دا د القَيْنَة جمع ده، سندرغاړې ته وائی. ⑩ **الْمَعَازِفُ**: دا جمع د المعزف ده، باجې. ⑪ **خَسْفًا**: زمکه کښې ښخیدل. ⑫ **مَسْخًا**: شکلونه ورانیدل. ⑬ **قَذْفًا**: کانړی وریدل. ⑭ **نِظَامٍ**: د ملغلرو لړئ (امیل). ⑮ **سِلْكُهُ**: تار دهغې (لړئ).

تسهیلات:

قوله: إِذَا اتُّخِذَ الْفَيْءُ دُوَلًا:

مال غنیمت ذاتی مال ګرځول: دې نه مراد د کافرانو نه حاصلیدونکې مال غنیمت دې کوم چه دَ غازیانو او مجاهدینو حق وی. دارنګ دَ مال غنیمت حقدار دی چه په کوم حالت کښې هم وی په هر حالت شرعی طریقه دَ غنیمت مال تقسیمول واجب دی. لهٰذا دَ حدیث الباب مطلب دا شو چه کله مالدار او منصب دار خپل ځان له دَ فقیرانو په حقوق باندې ترجیح ورکړی او مال غنیمت دَ ذاتی دولت په شان استعمال کړی او فقیران دَ مال غنیمت نه محروم کړی.

د قومي املاکو حکم: په مال غنیمت کښې خیانت کول لویه ګناه ده وجه دا ده چې په دې کښې د ټولو مجاهدینو حصه وی. نوچې چا په مال غنیمت کښې خیانت اوکړو نو په ده د ټولو مجاهدینو حقوق د هغوی څخه غصب کړل. اود هغوی په حقوقو کښې ئې په ناجائزه قبضه وکړه عالمانو لیکلی دی چې په سرکاری او قومی املاکو کښې تصرف کول هم په مال غنیمت کښې د خیانت په حکم کښې دی. ځکه چې په سرکاری ملاکو کښې هم د ټول قوم حصه وی. نوچا چې په یوه سرکاری اداره کښې خیانت وکړو نوده د ټول قوم سره خیانت وکړو. د قیامت په ورځ به دې د کوم کوم کس حق ادا کوی.

قوله: وَالْأَمَانَةُ مَغْنَمًا:

امانت غنیمت ګڼړل: یعني چه کومو خلقو سره امانتونه محفوظ کړې شی هغوی به دغه امانتونو کښې داسې تصرف کوی او په خپله فائده ئې راولی لکه ته به وائې چې دا مال ده ته په غنیمت کښې ملاؤ شوې دې.

د امانت د مفهوم وسعت: امانت صرف دې ته نه وائی چې محسوس څیزچا سره امانت کیخودې شی او هغه په کښې خیانت وکړی بلکه هره ذمه واری چې یو کس ته حواله کړې شی نودهغې پوره کول دده فرض جوړیږی. ددې وجې کوم کس چې د دولس ګهنټو په مزدوری باندې په یوه اداره یا محکمه کښې کار کوی نو که په دغه وخت کښې دې خپله

ډيوټي اوکار نه پوره کوی نودا هم په امانت کښې خيانت دې دغه شان کوم خلق چې په يوه اداره کښې کار کوی اوحاضری وکړی اودې خپل کار په ايمانداری سره نه کوی نو هم دې دا ګڼری چې ما وخت ورکړې دې اوحاضری مې کړې ده نو بس ما خپله ذمه واری پوره کړې ده نوداسې خلق هم ددې حديث مصداق دی

قوله وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا

زکاة تاوان ګڼړل: اود زکوة مال د تاوان مال ګڼړل شروع کړی ددې مطلب دادې چه زکوة خو ادا کوی مګر عبادت ګڼړلو سره نه بلکه بغيرد زړه نه ټيکس ګڼړلو سره ئې اداکړی لکه چه يو سړې د تاوان او جرمانې دکولو په وخت کښې ډير بوج ګڼړی

قوله وَتُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّينِ

دغير الله دپاره د دين زده کول: او علم دين به حاصلولې شی د دين خوررولو د غرض نه علاوه دپاره يعنی د علم حاصلولو سره د دين خوررولو نيت به ئې نه وی بلکه د دنيا ګټلو يا په دنياوالو باندې فخر کولو دپاره به علم حاصلولې شی چه زمونږ علم يا وعظ مشهور شی

د امام غزالی د اخلاص واقعه:

وئيلی شی چې د بغداد په يوه لويه مدرسه کښې ډير په ګڼړ طالبانو علم حاصلولو پخوا به زمانه کښې د عالمانو ډير لوئې قدر وو.عالمان به په ښه ښه عهدې اومنصبونو باندې مقرر کوو په هغه وخت کښې چې کوم بادشاه وو يوه ورځ ئې خپل هيئت اوشکل شباهت بدل کړلو اود عامو کسانو په جامه کښې مدرسې ته ورغلو.د مختلفو طالبانو څخه ئې پوښتنه کوله چې ته د څه دپاره علم کوې چا به ورته وئيل زما پلار خطيب دې دې دپاره علم کوم چې د خپل پلار په منصب باندې کينم چا ورته وئيل زما پلار قاضی دې دې دپاره علم کوم چې صبا ته قاضی شم وغيره وغيره غرض دا چې هريو کس چې ورته د خپل علم کوم مقصد بيان کړل نو هغه ټول دنياوی مقاصد وو د بادشاه اراده پيدا شوه چې دا مدرسه په نوم مدرسه ده نوپه دې د الله تعالی رضا مقصود نه ده ددې بندول پکار دی خو په آخر کښې يو ځوان ته راغلو او تپوس ئې ترې وکړو چې ځوانه د څه دپاره علم حاصلوې هغه ورته جواب ورکړو علم دې دپاره حاصلولم چې د الله تعالی اود بندګانو حقوق اوپيژنم او الله تعالی او دهغه خوږ پيغمبر راڅخه راضی شی په دې اوريدو سره د بادشاه اراده بدله شوه او دا ئې اووئيل چې يوکس هم د الله تعالی د رضا دپاره علم حاصلوی دا هم کافی دې تاسوته پته دا دا ځوان څوک وو دا د نبوی ګلشن د باغ ماليار حضرت امام محمد غزالی رحمه الله وو.چې الله تعالې ترې په مستقبل کښې د دين لوئې کار واخستلو

قوله: وَأَطَاعَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ:

د ښځې تابعداري: دَ سړی دَ ښځې دَ اطاعت کولو مطلب دادې چه خاوند به دَ ښځې غلام جوړ شی دَ ښځې هر خواهش به پوره کوی. دَ دین پرواه به نه کوی اگرچه دَ ښځې په تابعدارئی کښې دَ الله تعالی دَ حکم صریح خلاف ورزی ولې نه وی.

قوله: وَعَقَّ أُمَّهُ:

د مور نافرمانی: یعنی چه مور ئی دَ کوم څیز حکم ورکوی دَ هغې نافرمانی به کوی اودَ مور زړه به خفه کوی. په حدیث کښې دَ مور ذکر خکه کړې دې چه دَ اولاد دَپاره چونکه زیات محبت او شفقت لرونکې هم مور وی په دې وجه ئی دَ مور ذکر اوکړو یا دَ دې وجې نه ئی دَ مور ذکر اوکړو چه که چرې دَ پلار خلاف ورزی کوی نووهل به خوری خو مور ئی وهی نه په دې وجه هغې ته زیات خفگان کیږی یا دَ مور ذکر ئی خکه اوکړو چه هغه صنف نازك ده او صنف نازك ته زیات تکلیف کیږی په دې وجه ئی دَ مور ذکراوکړو

قوله: وَأَدْنَى صَدِيقَهُ، وَأَقْصَى أَبَاهُ:

د دوست عزت د پلار اهانت: دوستان رانیزدې کولو او دَ پلار لرې کولو مطلب دادې چه یو کس دَ نیك پلار نه نفرت اوکړی او فاسق او عیاش دوستانو سره نیزدیکت اوساتی

قوله: وَظَهَرَتِ الْأَصْوَاتُ فِي الْمَسَاجِدِ:

په جماتونو کښې دنیوی خبرې کول: چه په جماتونو کښې په زوره زوره دنیاوی خبرې اوکړې شی چه په چغو سورو سره جمات کښې راوتنبیږی اودَ هغې ادب او احترام پریخودې شی یا په جماتونو کښې جنگ جګړې شروع شی نن صبا په کلو کښې په اکثروجماتونو کښې خاص کر بوداگان جمات ته په وخت باندې راځی اود جمات څخه ئې حجره جوړه کړې وی حالانکه په جماتونو کښې دنیاوی خبرې کولو څخه نبی ﷺ په سختئ سره منع کړې ده او دا ئې فرمائیلې دی چې تاسو هغه خلقو سره مه کینئ څوک چې په جماتونو کښې خبرې کوی. حضرت عمر رضی الله عنه په خپل دور خلافت کښې د مسجد نبوی څخه بهر یو دوکانچه (اوچت ځائې) جوړه کړې وه کوم صحابو چې به څه خبرې اترې کولې نو په هغه دوکانچه به کیناستل اوخبرې به ئې کولې دننه په مسجد نبوی کښې به ئې خبرې نه کوی.

قوله: وَكَانَ زَعِيمُ الْقَوْمِ أَرْذَلَهُمْ:

بدمعاشان اودقوم مشری: یعنی دَ قوم مشری او واك به داسې سړی ته حواله کړې شی چه بدمعاش لوچر او بې ایمان ذلیل انسان به وی. پخواه به خلقو خپلې فیصلې او جرگې په عالمانو باندې کولې خکه چې به خلقو کښې د عالمانو قدر وو او دهغوی د بدعائې

ښځه به ویریدل اونن صبا د جرګو مشران د کلي او علاقې بدمعاشان او خانان وی ښکه چې د عالمانود سترګو ښځه څوک نه شرمیږي اودهغوی د فیصلې ماتولو څه پرواه نه ساتي اوبدمعاشان چې کومه فیصله اوکړي نو جانبین د هغې د ماتولو ښځه ویریږي او اکثر داسې کیږي چې د جرګې مشران خرڅیږي چې څوک ورته لالچ ورکړي دهغه په حق کښې فیصله کوي الا ما شاء الله په دې حدیث کښې دې ته اشاره ده

قوله وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ

د چا د شر ښځه د حفاظت دپاره دهغه عزت کول: د کس عزت به د هغه د فتنې او شر نه د بچ کیدو د وجې نه کیږي خلق به د یو سردار یا طاقتور سړي د ویرې او شر نه د بچ کیدو د وجې د هغه عزت کوي د هغه په مخکښې به د حق خبرې کولو نه ویریږي که نن صبا تاسو اوګورئ نو هم هغه وخت دې چې کله بدمعاشان یا بدکرداره سرکاري عهده داران یا د ادارې متکبره افسران راشي نو خلق دهغوی عزت د زړه ښځه نه کوي بلکه د دې وجې کوي چې نقصان راته اونه رسوي بالخصوص که ستاسو د سرکاري افسرانو سره واسطه راغلی وي دهغوی ماتحته عمله په ظاهره د هغوی د منصب د وجې عزت کوي ویریږي چې هسې نه نقصان راته اورسوي. اوچې پناه شي نو بیا ورپسې ردې بدې وائي

قوله: وَظَهَرَتِ الْقَيْنَاتُ:

د ډمانو زیاتیدل: ګډیدونکې کنجرې ښځې به راښکاره شي دې نه مراد د هرقسم سندرې ویونکې ښځې دي. دغه شان د باجو والا نه مراد هرقسم سازونه او باجې دي کوم ته چه مزامیر وئیلې شي. نن صبا په هرکور کښې ډم خانه ده ځکه چې د موبائیل دور دې بلکه د هرسړي په جیب کښې سنما ده د نټ په ذریعه چې کوم فلم غواړي کومه ډمه غواړي د هغې ګډا د هغې تصویر ورته ښودلې اوښکاره کولې شي او په معاشره کښې د ډمانو زیات قدر دې په نسبت د نیکانو اوصالحانو .تاسو به کتلي وي چې کله یو ډم یو مجلس ته یا څه پروګرام ته لاړ شي نو خلق ورسره تصویرونه اوباسي اوپه دې باندې فخر کوي چې فلانئ ډمې سره ما تصویر ویستې دې. اوهغه په خپل بیټک یا حجره کښې لګوي بله عجیبه خبره دا ده چې دغه خلق ځانته ډمان نه وائي بلکه فنکاران وائي بلکه په خپل ډمتوب باندې فخر کوي. الله تعالی دې ورته هدایت وکړي

قوله: وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَوَّلَهَا

دامت اکابرینوته بد رد وئیل: کله چه ددې امت خلق مخکینو خلقو ته بدې ردې وئیل شروع کړي په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره کول مقصود دي چه دابدي د دې امت خاصیت دې په تیر شوو امتونو کښې ددې بدئ رواج نه وو. چنانچه په دې بدئ کښې

روافض، خوارج وغیره شامل دی څوك چه په صحابو باندې طعن او تشنیع کوی حالانکه د صحابه کرامو باره کښې الله تعالی داسې ارشاد فرمائیلې دې ﴿وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ﴾ او په بل آیت کښې دا ارشاد دې ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾

د شیعه گانو گمراهی: په دې محرم کښې په اول ځل په کراچۍ کښې د شیعه گانو مردار په ښکاره په حضرت ابو سفیان او حضرت امیر معاویه رضی الله عنهما باندې لعنت او وئیل اګرچې زمونږ د ملک عالمانو دې خبیثانو خلاف جلسې اوجلسونه اویستل خو بیا هم د نبی ﷺ د مذکوره پیشنګوئی ښکاره شوه.

[۵٤۵۱] پنځلس جرمونو راتلو نه پس به مصیبتونه راځی

بدمه-()[۱۵] [۱]وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ: رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا فَعَلَتْ أُمَّتِي خَمْسَ عَشْرَةَ خَصْلَةً حَلَّ بِهَا الْبَلَاءُ»، [۳]وَعَدَّ هَذِهِ الْخِصَالَ [۴]وَلَمْ يَذْكُرْ: "تُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّينِ"، [۵]قَالَ: "وَبَرَّ صَدِيقَهُ وَجَفَا أَبَاهُ"، [۶]وَقَالَ: "وَشُرِبَ الْخَمْرُ، وَلُبِسَ الْحَرِيرُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱]حضرت علي ﷺ وايي چی رسول الله ﷺ وفرمایل [۲]هرکله چې څما امت دې پنځلس خبرو کې (چي د هغه ذکر پورته حدیث کې وشو) مبتلاشي نو په هغوئ به (هغه آفتونه او بلاګاني نازلي شي (کومي چې پورته حدیث کې ذکر شوي دي) [۳]بیا حضور ﷺ هغه پنځلس خبري وشمیرلي (یعني د هغه خبرو تفصیل یي بیان وفرمایی څرنګه چې پورته حدیث کې تیر شو) [۴]لیکن حضرت علي ﷺ دي روایت کې دا خبره نه ده نقل کړي چې هرکله علم ددین نه علاوه دځه بل غرض د پاره وښودل شي [۵](د دي دواړو حدیثونو په الفاظو کې یوفرق داهم دی چې) حضرت علي ﷺ (دي جملي أدنی صدیقه هرکله چې سړی خپل دوست ځان ته نزدې کول شروع کړي الخ په ځاي) دانقل کړی دی چې هرکله سړی خپل دوست سره احسان او مروت او خپل پلار سره جور وجفا شروع کی [۶]او هغوئ د (هرکله چې شرابو نه څکل شروع شي په ځاي) هرکله چې شراب څکل شروع شي (یعني شراب یي د جمع صیغي په ځاي د واحد صیغي سره نقل کړی دی داسې (هرکله چې علم ددین نه علاوه یو دویم غرض سره ښودل شروع شي) په ځاي هرکله چې وریښمي کپړه اغوستل شروع شي نقل کړی دي . (ترمذی)

حل اللغات: - ① حَلَّ: نازلې به شی. ② بَرَّ: احسان او سلوک کول. ③ جَفَا: ظلم، بد سلوکی.

تسهیلات:

نوټ: د مذکوره جملو وضاحت د پورته حدیث نمبر (۵۴۵۰) په تسهیل کښې تیرشوې دې.

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی علامة حلول المسخ والخسف (رقم-۲۲۱۰)

[٥٤٥٢] ذ امام مهدی د ښکاره کېدو پېشن ګوئی

٥٤٥٢ - ()[٢٦] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ٢ «لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَمْلِكَ الْعَرَبَ ٣ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِي ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. ٤ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: قَالَ: " لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا يَوْمٌ ٥ لَطَوَّلَ اللهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ حَتَّى يَبْعَثَ فِيهِ رَجُلًا مِنِّي - أَوْ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِي وَاسْمُ أَبِيهِ اسْمَ أَبِي، ٦ يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا، كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَجَوْرًا» ".

ترجمه: ١ او حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ دنيا به ترهغه وقته پورې نه ختمېږي د څوپورې چې په عربو باندې يو سړی قبضه ونه کړي ٣ چې څما د خاندان نه وي او د هغه نوم به څما په نوم وي (ترمذي ابوداود، ٤ او د ابوداود په يوه روايت کې داسې دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل که دنيا ختميدوکې صرف يوه ورځ هم باقي پاتې شي ٥ نو الله تعالی به هغه ورځ اوږده کړي ددې پورې چې پروردګار به څما د نسل نه يا دايي وفرمايل څما د اهل بيت نه يو داسې سړی راوليږئ چې د هغه نوم به څما په نوم او د هغه د پلار نوم به څما د پلار په نوم وي ٦ او هغه به په مخ د زمکې د عربو زمکه د عدل او انصاف نه ډکه کړي څرنګه چې ددې وخت نه مخکې ستاسو زمکه د ظلم زور نه ډکه وه.

حل اللغات: - ① يُوَاطِئُ: يوشان به وی، ② قِسْطًا: انصاف، ③ جَوْرًا: ظلم.

تسهيلات: قوله: لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا:

دعربو په ذکر کولو څلور توجيهات: ① دَ اهل عربو دَ اشرف او اصل کيدو په وجه ئې د هغوی ذکر کړې شوی دی ګنې اهل عجم هم مراد دی ځکه چه کله هغوی دَ عربو بادشاه وی او په کلمه واحده کښې متفق وی او قبضه ئې هم يوه وی نو په اهل عجم باندې به هم دَ هغوی حکومت وی. دَ ام سلمة رضی الله عنها په روايت سره دَ دې تائيد کيږی لفظه ويعمل فی الناس بسنة نبيهم ويلقی الاسلام بجرانه فی الارض فيلبث سبع سنين ثم يتوفی ويصلی عليه المسلمون (مشکوة)

② ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه ممکن ده دَعربو ذکر دَهغوی دَ غلبې په وجه کړې شوې وی

③ دا دَ باب الاکتفا دَ قبيلې نه دې کقوله سرابيل تقيکم الحرّ ای الحرّ والبرد.

④ واضحه قول په دې باره کښې دا دې چه دَ اهل عربو په خاص توګه ذکر په دې وجه سره اوکړې شو چه هغوی ټول به دَ مهدی عليه السلام تابعداری کوی البته اهل عجم به تابعدار نه وی بلکه اختلاف به کوی.

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب المهدی (رقم-٤٢٨٢) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی المهدی (رقم-٢٢٣٠) وابن ماجه فی کتاب الجهاد/باب ذکر الديلم، وفضل قزوين (رقم-٢٧٧٩) واحمد فی المسند: ١/٣٧٦

قوله رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي:
داهل بيت په مصداق كښې درې اقوال: ① دَ هغه به په نسب كښې د حضرت امام حسن رضي الله عنه د اولاد ځنې وي
② دَ هغه به په نسب كښې دَ حضرت امام حسين رضي الله عنه دَ اولاد ځنې وي
③ ممكن دى چه دَ دواړو نسبتونو حامل وى خو دَ پلار دَ طرفه به دَ حضرت حسن رضي الله عنه په اولاد كښې وى اودَ مور دَ طرف نه به دَ حضرت امام حسين رضي الله عنه د اولاد ځنې وى
د دريم قول ترجيحى وجه: لكه څنګه چه دَ حضرت ابراهيم عليه السلام په اولاد ټول انبياء عليهم السلام دَ حضرت اسحاق عليه السلام په اولاد كښې دى خو رسول كريم ﷺ دَ حضرت اسمعيل عليه السلام په اولاد كښې شو او خاتم انبياء شو دغه شان دَ حضرت امام حسين رضي الله عنه دَ اولاد نه ټول اولياء او صلحاء تيرشوى دى نومناسب ده چه دَ حضرت حسن رضي الله عنه دَ اولاد نه هم يو داسې ولې كيدل پكار دى چه خاتم الاولياء شى (مرقاة)
قوله: لَطَوَّلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ الْيَوْمَ حَتّٰى يَلِيَ:
دامام مهدى د ښكاره كيدو يقين: دې نه مقصد دَ مهدى عليه السلام ولايت يقينى كيدل بيانول دى يعنى مهدى عليه السلام به خامخا راځى سره دَ دې كه الله تعالى هغه يوه ورځ اوږده ولې نه كړى
قوله: يُوَاطِئُ اِسْمُهُ اِسْمِي:
په شيعه ګانوباندې رد: "واسم أبيه اسم أبي" سره دَ شيعه ګانودَ قول ترديد اوشو هغوى وائى چه مهدى موعود منتظر دَ حسن عسكرى ځوئى محمد دې خو په حديث الباب كښې دى چه دَ مهدى نوم محمد اودَ هغه دَ پلار نوم به عبدالله وى
قوله: تَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا:
د قسط اوعدل په ترادف اوتباين كښې اقوال: څنګه قسط اوعدل دواړه په معنى كښې نيزدې نيزدې دى
② دواړه الفاظ دَ جدا جدا معنې دَ پاره استعمالولې شى دَ قسط نه مراد انصاف اودَ عدل نه مراد په حقوق كښې مساوات او برابرى ساتل
دظلم اوجورپه ترادف اوتباين كښې اقوال: ① ظلم اوجور دواړه يو شان الفاظ دى
② دَ ظلم نه مراد انصاف غوښتونكوته دَانصاف نه ملاويدل اودَ جور نه مراد په حقوق كښې دَ مساوات نه ملاويدل دى
په دنيا كښې عدالت قائمول: هغه به دَ خپل تسلط لاندې علاقوكښې اوسيدونكو خلقولره دَ عدل اوانصاف نه ډك كړى او يو سړى سره به بې انصافى او دَعدل خلاف نه كيږى. خودَ حضرت مهدى عليه الرضوان دَ راتګ نه مخكښې به زمكه دَ ظلم نه ډكه شوې وى

[۵۴۵۳] د امام مهدي نسبي تعلق

۵۴۵۳-()[۱۷] ① وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② "«الْمَهْدِيُّ مِنْ عِتْرَتِي مِنْ أَوْلَادِ فَاطِمَةَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل ②چې مهدي به څما دعترت يعنى د فاطمي رضي الله عنها د اولاد نه وي . (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① عِتْرَت: اولاد.

تسهيلات:

قوله: الْمَهْدِيُّ مِنْ عِتْرَتِي:

دعترت په مراد کښې اقوال: ① مشهور قول دادې چه دَعترت نه مراد هغه خلق دى دَ چا دَپاره چه دَ زكوة مال اخستل حرام دى يعنى دَ هاشم اولاد.

② دَعترت نه نسل، جماعت او خپلوان مراد دى. كمافى الصراح

③ په نهايه كښې ليكلى دى چه عترت عزيز او خپلوانو ته وائى.

④ دَ حضورپاك دَ عترت نه مراد دَ پيغمبر عليه السلام دَ نيكه عبدالمطلب اولاد دې راجح دادى چه دَعترت اطلاق دَ حضورپاك په اهل بيت او ازواج مطهراتو باندې كيږى.

بهرحال دَ حديث حاصل دادې چه دَ حضرت مهدى عليه الرضوان نسلى تعلق به دَ حضورپاك سره وى چه دَ حضرت فاطمه رضي الله عنها دَ اولاد نه به وى او سيد به وى.

[۵۴۵۴] د امام صورت او سيرت

۵۴۵۴-()[۱۸] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«الْمَهْدِيُّ مِنِّي، أَجْلَى الْجَبْهَةِ، أَقْنَى الْأَنْفِ، ③ يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا، كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَجَوْرًا، ④ يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②مهدي عليه السلام به څما د اولاد نه وي روښانه او كشاده مخ او دنگي پوزي والا ③چې مخ د زمكې به د عدل او انصاف نه ډك كړي څرنگه چې هغه (يعني زمكه) د ظلم وستم نه ډكه وه ④هغه مهدي به اووه كاله پورې د زمكي په مخ برسراقتدار وي . (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① أَجْلَى: روښانه. ښائسته. ② الْجَبْهَةِ: مخ. ③ أَقْنَى: دنگه. لوړه. ④ جَوْرًا: ظلم

() اخرجه ابوداود فى السنن كتاب المهدى (رقم-۴۲۸۴) وابن ماجه فى كتاب الفتن /باب خروج المهدى (رقم-۴۰۸۶)

() اخرجه ابوداود فى السنن كتاب المهدى (رقم-۴۲۸۵) واحمد فى المسند:۱۷/۳

تسهیلات:

قوله: الْمَهْدِيُّ مِنِّي:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① ددې څخه نزدیکت مراد دی یعنی امام مهدی ما سره ډیر نیزدیکت لرونکې دې.

② یعنی امام مهدی زما دَ امت او زما دَ اولاد څخه دې.

قوله: أَجْلَى الْجَبْهَةِ أَقْنَى الْأَنْفِ:

روښانه او کولاؤ تندی والا به وی. دَدې نه معلومه شوه چه حضرت مهدی علیه الرضوان به دَ رسول کریم ﷺ په شکل مبارك کښې هم وی.

قوله: يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا، كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَجَوْرًا:

نوټ: ددې جملې وضاحت وړاندې د مشکاة حدیث نمبر(۵۴۵۳) په تسهیل کښې تیرشوې دې

قوله: يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ:

په روایاتو کښې تعارض: په زیربحث حدیث کښې دی چې حضرت مهدی علیه الرضوان به دَ اووه کالو پورې په مخ دَ زمکې حکومت کوی. بعضې روایاتو کښې اته کاله او بعضې روایاتو کښې دَ نهو کالو ذکر هم دې. دا ښکاره تعارض دې.

دتعارض جواب: په نورو روایاتو کښې اګر چې ی راوی څخه د شك الفا منقول وو چونکه "أقل سبع سنين" یقینی وو په دې وجه ئې دا ذکر کړو او دَ شك والا الفاظ منقول دی خو په روایت کښې چې بلاشکه سبع سنین ذکر کړې دې نوهم دا روایت راجح دې.

[۵۴۵۵] د حضرت مهدي علیه السلام سخاوت

۵۴۵۵-(۱)[۱۹] ① وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي قِصَّةِ الْمَهْدِيِّ قَالَ: ② "«فَيَجِيءُ إِلَيْهِ رَجُلٌ فَيَقُولُ: يَا مَهْدِيُّ! أَعْطِنِي أَعْطِنِي". ③ قَالَ: "فَيَحْثِي لَهُ فِي ثَوْبِهِ مَا اسْتَطَاعَ أَنْ يَحْمِلَهُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه د حضرت امام مهدي علیه السلام د واقعې په سلسله کې دا هم نقل کوي ② چې حضور ﷺ (د هغه د عدل وانصاف ذکر کولو نه وروسته) دا وفرمایل چې د مهدي د جود وسخاوت به داحالت وي چې هغه ته به یو سړی راشي ورته به وایي چې ماته څه راکړه ماته څه راکړه ③ نو مهدي علیه السلام به هغه ته خپلو دوارو لاسونو دکولو سره دومره ورکړي څومره چې هغه خپله کپړه دکولو سره اوچتولی او وړلی شي . (ترمذي)

حل اللغات: - ① فَيَحْثِي: لپه او موټی دکولو سره به ئې ورکوی،

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی نزول عیسی ابن مریم علیه السلام (رقم-۲۲۳۳) وابن ماجه فی کتاب الفتن /باب خروج المهدی (رقم-۴۰۸۳) واحمد فی المسند: ۲۱/۳

تسهیلات: قوله فَيَحْثِي لَهُ فِي ثَوْبِهِ مَا اسْتَطَاعَ أَنْ يَحْمِلَهُ:

د امام مهدی سخاوت: حضرت مهدی علیه الرضوان به سوال کونکی ته دَ شمیر کولو خخه بغیر ډیر مال ورکوی کوم چه به هغه اوچتولې نه شی او زیات به خکه ورکوی چه ده ته بیا دَ چا په وړاندې دَ لاس خورولو ضرورت پیښ نه شی

د امام مهدی نبی علیه السلام سره په سیرت کښې مشابهت: ددې حدیث نه معلومه شوه چه حضرت مهدی علیه الرضوان لکه څنګه چه په شکل او صورت کښې دَ نبی کریم ﷺ په شان وی هم دغه شان په اخلاق حمیده او اوصاف عالیه کښې به هم دَ رسول کریم ﷺ په شان وی یو ځل حضورپاك حضرت عباس رضی الله عنه ته هم دومره ورکړه چه هغه پنډ اوچت نه کړې شو

[٥٤٥٦] دَ حضرت امام مهدی ظهور او دَ شام د ابدالو بیعت

٥٤٥٦-(¹)[٢٠] [١] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] "«يَكُونُ اخْتِلَافٌ عِنْدَ مَوْتِ خَلِيفَةٍ، [٣] فَيَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ هَارِبًا إِلَى مَكَّةَ، فَيَأْتِيهِ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ [٤] فَيُخْرِجُونَهُ وَهُوَ كَارِهٌ، فَيُبَايِعُونَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ، [٥] وَيُبْعَثُ إِلَيْهِ بَعْثٌ مِنَ الشَّامِ، فَيُخْسَفُ بِهِمْ بِالْبَيْدَاءِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ،

ترجمه: [١] او بي بي ام سلمه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] په آخره زمانه کې، هرکله چې خلیفه (یعني د هغه وخت د حکومت سربراه) وفات شي نو (د دویم سربراه دمنتخب کیدو پرسوال باندې به د اصحاب الرائي خلقو په منځ کې) اختلاف او نزاع پیدا شي [٣] په دې دوران کې د اهل مدینه نه به یو سړی (مدیني نه) وتلو سره مکې طرف ته وتښتي [٤] د مکې خلق (چې د هغه سړي مرتبه او حیثیت وپیژني نو) هغه ته به راشي او هغه به د کور نه بهر راوباسي (چې هغه خپل سربراه او حاکم جوړ کړي) هغه سړی که څه هم د فتنې د خوف نه دا منصب قبلول نه خوښوي خو خلق به (منت کولو سره هغه دې ته تیار کړي او) د هغه په لاس به بیعت وکړي دا بیعت به (خانه کعبه کې) د حجر اسود او مقام ابراهیم په منځ کې عمل کې راشي [٥] دې نه وروسته به د هغه په مقابله کې د شام (د بادشاه) د طرف نه یو لښکر را ولیږل شي لیکن هغه لښکر به د مکې او مدیني په منځ کې واقع مقام بیداء کې په زمکه کې غرق شي

حل اللغات:- ① هَارِبًا: په تیښته، تختیدل. ② كَارِهٌ: نه به خوښوی. بد به ګڼړی.

[١] فَإِذَا رَأَى النَّاسُ ذَلِكَ [٢] أَتَاهُ أَبْدَالُ الشَّامِ، وَعَصَائِبُ أَهْلِ الْعِرَاقِ، فَيُبَايِعُونَهُ، [٣] ثُمَّ يَنْشَأُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ أَخْوَالُهُ كَلْبٌ، فَيَبْعَثُ إِلَيْهِمْ بَعْثًا فَيَظْهَرُونَ عَلَيْهِمْ، وَذَلِكَ بَعْثُ كَلْبٍ، [٤] وَيَعْمَلُ فِي النَّاسِ بِسُنَّةِ نَبِيِّهِمْ، [٥] وَيُلْقِي الْإِسْلَامُ بِجِرَانِهِ فِي الْأَرْضِ، فَيَلْبَثُ سَبْعَ سِنِينَ، [٦] ثُمَّ يُتَوَفَّى، وَيُصَلِّي عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب المهدی (رقم-٤٢٨٦) واحمد فی المسند: ٣١٦/٦

ترجمه: ۱ او بیا چې خلقوته دا معلومه شي چې د شام لښکر مکې ته رسیدو نه مخکې زمکه کې غرق شوي دي ۲ نو د ملك شام ابدال او د عراق عصائب به د هغه سړي په خدمت کې ورشي او د هغه په لاس به بیعت وکړي ۳ بیابه د قریشو نه یو سړی را پاڅي چې د هغه ننهیال (مورګنی) به د قبیله کلب نه وي او هغه به هم د هغه سړي او د هغه د تابعدارو خلاف یولښکر ولیږلو (او د خپل ننهیال یعنی قبیله کلب مدد به حاصل کړي) لیکن د دې سړي لښکر به د هغه قریشي په لښکر باندې به غالب راشي ۴ بیا به هغه سړی د خلقو په منځ کې د هغوئ د پیغمبر (محمد ﷺ) د سنت او د هغوئ د طریقې مطابق (د ملك وملت) نظم ونسق چلوي ۵ او د مسلمانانو دین ته به خپله غاړه کیږدي هغه سړی به اووه کاله پورې قائم او برقرار وي ۶ بیابه په حق ورسیږي (یعني وفات به شي) او مسلمانان به د هغه جنازه وکړي . ابوداود .

حل اللغات: -③أَبْدَالُ: دَ بدل جمع ده دَ اولیاء الله یو ډلې ته أبدال وائي، ④عَصَائِبُ: ښه او خوښ کړې شوې مختار او منتخب کړې شوې خلقو ته عصائب وائی. ⑤بَعْثًا: راپورته به شی. اوچت به شی. ⑥أَخْوَالُهُ: د مور دطرفه رشته، مورګنۍ رشته. ⑦كَلْبٌ: بنو کلب یوه قبیله ده. ⑧جِرَانِهِ: دَ اوښ دَ سټ وراندې حصې ته جران وائي.

تسهیلات:

قوله: يَكُونُ اخْتِلَافٌ عِنْدَ مَوْتِ خَلِيفَةٍ،

د خلیفه په انتخاب کښې اختلاف: یعنی دَ یوخلیفه دَ انتقال نه پس به دَ بل خلیفه په انتخاب کښې اختلاف پیداشي

قوله: فَيَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ هَارِبًا إِلَى مَكَّةَ:

د امام مهدی مکې ته تلل: نو حضرت مهدی به دَ مدینې نه دَمکې طرف ته دَدې ویرې تختی چه خلق هغه خلیفه جوړنه کړی. مګر مکې ته په رسیدو به خلق هغه اوپیژنی او دَ طواف دوران کښې دَ حجر اسود او مقام ابراهیم په مینځ کښې به دَهغوی په لاس باندې دَ خلافت بیعت اوکړی.

قوله: وَيُبْعَثُ إِلَيْهِ بَعْثٌ مِنَ الشَّامِ، فَيُخْسَفُ بِهِمْ بِالْبَيْدَاءِ:

د سفیانی لښکر خسف کیدل: بیابه دَهغه په مقابله کښې دَ سفیانی لښکر دَ شام نه مکې طرف ته راروان شی مګر مقام بیداء چه مکې سره نیزدې دا ټول به هلاك شی. بیا به دَ شام ابدال اودَ عراق عابدان دَ بیعت دَ پاره راځی.

قوله: أَتَاهُ أَبْدَالُ الشَّامِ، وَعَصَائِبُ أَهْلِ الْعِرَاقِ،

د ابدالو جماعتونه: دا به په شام کښې وی لکه څنګه چه عصائب عراق کښې او نجباء په مصر کښې وی. په دنیا کښې ابدال په هروخت او هره زمانه کښې وی.

① په دوی کښې یو جماعت ۳۱۳ کسانو باندې مشتمل وی
② یو جماعت په ۴۰ کسانو باندې مشتمل وی
③ یو جماعت په اووه کسانو باندې مشتمل وی
④ یو جماعت په دریو کسانو باندې مشتمل وی.

د ابدالو روحانی ترقی: ①کله چه د دریو کسانو د جماعت نه څوك مړشی نو د اووه کسانو والا جماعت کښې مشر ترقی کولو سره د دریو جماعت ته راځی
② دغه شان چه څوك د اووه جماعت نه مړکیږی نو د ۴۰ والا د جماعت نه یو سړې دیخوا راشی.
③ کله چه د ۴۰والا نه سړې مړکیږی نو د ۳۱۳ د جماعت نه یو سړې دیخوا راشی
④ اوکه د ۳۱۳نه څوك مړشی نو په معاشره کښې چه کوم سړې صالح او د تولو نه زیات نیك وی هغه په ۳۱۳ کښې شاملولې شی دې د پاره چه په تعداد کښې کمې رانه شی

د ابدالو شمار: په دې کښې د څلویښتو ابدال مرکزی مقام شام دې باقی کسان د دنیا په مختلفو لویو ښارونو کښې یو یو تعینات دې چه د هغه ښار خدمت اوکړی. د دې خلقو یو پټ نظام دې د سترګو نه غائب دې په کال کښې یو ځل په حجاز مقدس کښې د هغوی یو اجتماع وی. بهرحال دا څه چه لیکلې شوی دی دا ترتیب څه منصوصی یا څه لازمی نه دې. د صوفیاء کرامو په نیز د ابدالو هم دغه شان یو پټ نظام قائم دې. ابدال د رجال الغیب نه دی کوم حضرات چه د دوی د وجود اقرار کوی په هغې کښې هیڅ مضائقه نشته دې مګر د هغوی باره کښې داسې عقیده لرل جائز نه ده کومه چه توحید سره متصادم وی. داکوم څه چه دلته لیکلې شوی دی د دې نه ډیرزیات ملاعلی قاری رحمه الله مرقات ج۹ص ۳۵۴باندې لیکلی دی.

د ابدالو درجې ته د رسیدو دعا: امام غزالی رحمه الله احیاء العلوم کښې لیکلی دی چه کوم سړې هره ورځ درې ځل دا دعا وائی هغه به د ابدالو درجې ته رسیږی. دعا دا ده: "اللهم اغفر لأمة محمد اللهم ارحم أمة محمد اللهم تجاوز عن أمة محمد صلى الله عليه وسلم".

قوله: لَمْ يَنْشَأْ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ أَخْوَالُهُ كَلْبٌ،

د رجل نه مراد: دې نه مراد د بنو کلب خوریئی دې دا سړې به د سفیانی نه مخکښې خپل لښکر د مهدی په مقابله کښې روان کړی مګر هغوی به ماتې خوری.

قوله: وَيُلْقِي الْإِسْلَامُ بِجِرَانِهِ فِي الْأَرْضِ،:

د مذکوره جملې وضاحت: اوښ چه کله ستړې شی نو هم دغه حصه په زمکه باندې خوروی په کوم سره چه هغه ته ډیر آرام ملاویږی. دلته د اسلام د استقرار او اطمینان او استحکام او ثبات طرف ته اشاره کړې شوې ده.

[٥٤٥٧] د امام مهدي عدالت او انصاف

٥٤٥٧-()[٤١] [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [٢] «بَلَاءٌ يُصِيبُ هٰذِهِ الْأُمَّةَ، [٣] حَتَّى لَا يَجِدَ الرَّجُلُ مَلْجَأً يَلْجَأُ إِلَيْهِ مِنَ الظُّلْمِ، [٤] فَيَبْعَثُ اللّٰهُ رَجُلًا مِنْ عِتْرَتِي وَأَهْلِ بَيْتِي، [٥] فَيَمْلَأُ بِهِ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَجَوْرًا، [٦] يَرْضَى عَنْهُ سَاكِنُ السَّمَاءِ وَسَاكِنُ الْأَرْضِ،

ترجمه: [١] او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي [٢] يوه ورځ رسول الله ﷺ (د انسان يو سخت مصيبت او پريشانيو کې مبتلا کونکی) د يوي بلا او آفت ذکر وکی چې دا امت به راګير کړي [٣] دې پورې چې هيڅ سړي ته به داسې پناه ګاه نه حاصليږي چې چيرته هغه (د هغه آفت او بلا په صورت کې ښکاره کيدونکي) ظلم او ستم نه پناه حاصله شي [٤] بيا (هرکله چې د ظلم وستم او نا انصافۍ هغه (دور خپل حد پار کړي نو) الله ﷻ به ځما اولاد او ځما اهلبيت نه يو سړی (په عدل وانصاف علم او ناداني کې به يکتاوي او د مهدي لقب سره به ملقب وي امامت او د هدايت منصب سره مشرف کولو سره دي دنيا ته به يې راوليږي [٥] هغه سړی به زمکه د عدل او انصاف نه داسې ډکه کړي څرنګه چې هغه د ظلم او ستم نه ډکه وه [٦] هغه نه به آسمان والا هم خوشحاله وي (يعني فرشتې او د انبياوو روحونه) او د ټولي زمکې اوسيدونکي هم راضي او مطمئن وي که هغوئ هرجنس او نوم سره تعلق لري

حل اللغات:- ① مَلْجَأً: ځائ دپناه، لار دخلاصی، ② عِتْرَتِي: اهل وعيال زما. ③ قِسْطًا: انصاف.

[١] لَا تَدَعُ السَّمَاءُ مِنْ قَطْرِهَا شَيْئًا إِلَّا صَبَّتْهُ مِدْرَارًا، [٢] وَلَا تَدَعُ الْأَرْضُ مِنْ نَبَاتِهَا شَيْئًا إِلَّا أَخْرَجَتْهُ حَتَّى يَتَمَنَّى الْأَحْيَاءُ الْأَمْوَاتَ، [٣] يَعِيشُ فِي ذٰلِكَ سَبْعَ سِنِينَ أَوْ ثَمَانِيَ سِنِينَ أَوْ تِسْعَ سِنِينَ» ". رَوَاهُ الْحَاكِمُ فِي مُسْتَدْرَكِهِ وَقَالَ صَحِيحٌ.

ترجمه: [١] د دې پورې چې د جنګل حيوان او د اوبو ماهيان به هم آسمان به د خپل باران د قطرو نه څه باقي پرينږدلو بغير اوبه اوري [٢] او زمکه به خپلې زرغونې نه څه باقي پرينږدلو بغير هرڅه زرغونه کړي ددې پورې چې ژوندي خلق به د مُرده ګانو ارزو کوي [٣] هغه سړی (يعني مهدي) به هغه خوشحالۍ او کامرانۍ سره اووه کاله يا اته يا نه کاله ژوندی وي

حل اللغات:- ④ قَطْر: باران. ⑤ صَبَّتْهُ: راتوې به کړي. يعنی اوبه وربږي ⑥ مِدْرَارًا: په شيبو شيبو. يعنی ډير

تسهيلات: **نوټ:** د حديث د باقي جملو وضاحت وړاندې احاديثو کښې شوې دې خو څه نوې جملې دې د هغې تشريح لاندې ذکر کولی شي.

[١]) اخرجه احمد في المسند: ٣٧/٣

قوله: يَرْضَى عَنْهُ سَاكِنُ السَّمَاءِ وَسَاكِنُ الْأَرْضِ

د امام مهدی څخه د زمینې اوآسمانی مخلوق خوشحاله کیدل: د امام مهدی علیه الرضوان نه به د دنیا خلق هم خوشحال وی او د آسمان فرښتې هم ځکه چه هغه به سلطان عادل وی او ولی کامل هم د سلطان عادل نه د زمکې والا خوشحال وی او د ولی کامل نه د آسمان والا خوشحال وی

قوله: لَا تَدَعُ السَّمَاءُ مِنْ قَطْرِهَا شَيْئًا إِلَّا صَبَّتْهُ مِدْرَارًا،

دامام مهدی په زمانه کښې د زمکې اوآسمان برکتونه: د حضرت مهدی علیه الرضوان په زمانه کښې به د خیر او برکت داحال وی چه باران به د وخت د ضرورت مطابق کیږی زمینداری پیداوار او د زمکې نه حاصلیدونکی څیزونه به ډیر زیات وی او دغه شان به هرطرف د آرام سکون او راحت وی.

قوله: حَتَّى يَتَمَنَّى الْأَحْيَاءُ الْأَمْوَاتَ

په مذکوره جمله کښې دوه ترکیبونه اودهریو مفهوم: ① علامه توریشتی رحمه الله فرمائیلی دی چې «الأحیاء» د فاعلیت په وجه مرفوع دې او په کلام کښې حذف دې اصل عبارت داسې دې «یتمنون حیاة الأموات» یعنی دوی به د مړو د ژوند تمنا کوی چې کاش هغوی هم ژوندي وې اودا د خیر اوبرکت زمانه ئې لیدلې وې.

② بعضې عالمانو فرمائیلی دی چې «الأحیاء» منصوب دې د باب افعال څخه دې او د «یتمنی» فاعل اموات دی په دې صورت کښې به مطلب دا شی که مړو ته دامام مهدی د خیر اوبرکت د زمانې خبراوشی نو مړی به تمنا وکړی چې کاش مونږ هم د امام مهدی په زمانه کښې ژوندې وې اوددې څخه وراندې مړه شوې نه وې چې دا د خیراوبرکت زمانه مو په خپلو سترګو لیدلې وې.

[۵۴۵۸] دَ منصور د ظهور او دهغه د راتلو هدایت

۵۴۵۸-(۱)[۳۲] ① وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «يَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ وَرَاءِ النَّهْرِ يُقَالُ لَهُ: الْحَارِثُ، حَرَّاثٌ، ③ عَلَى مُقَدِّمَتِهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ: مَنْصُورٌ، ④ يُوَطِّنُ أَوْ يُمَكِّنُ لِآلِ مُحَمَّدٍ كَمَا مَكَّنَتْ قُرَيْشٌ لِرَسُولِ اللَّهِ، ⑤ وَجَبَ عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ نَصْرُهُ - أَوْ قَالَ: إِجَابَتُهُ» - ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت علي کرم الله وجهه وايي چې حضور ﷺ وفرمایل ② د ماوراء النهر په یو نهر کې به یو پاك باز و صالح سړی ښکاره شي چې د هغه نوم به حارث حراث وي ③ د هغه د لښکر مخکنی حصه باندې به یو سړی وي چې د هغه نوم به منصور وي ④ هغه حارث به د محمد د اولاد ځاي يا ټیکاونه ورکړي څرنګه چې د الله ﷻ رسول الله ﷺ

(۱) اخرجه ابوداود في السنن کتاب المهدی (رقم-۴۲۹۰)

قریش خلقو ته تیکاونه ورکړي وه [۵] نو هرمسلمان باندې به واجب وي چې د هغه سړي مدد او تائید وکړي یا دايي وفرمايل چې هرمسلمان باندې به واجب وي چې هغه سړی قبول کړي.

تسهیلات:

قوله: مِنْ وَرَاءِ النَّهْرِ:

د وراء النهر نه څه مراد: وَرَاءِ النَّهْرِ "د آمو دریاب ته نهر وئیلې شوې دې اودې نه شاته چه کومې علاقې دی هغې ته وراء النهر وئیلې شوې دې. داعلاقې بخارا اوسمرقند وغیره باندې مشتمل دی.

قوله: يُقَالُ لَهُ: الْحَارِثُ، حَرَّاثٌ،

دامام مهدی مددګاران: هم ددې علاقونه به یو سړې راوځی دکوم نوم چه به حارث حراث وی. دهغه د لښکرمخې ته به یو کمانډر مقرر وی دکوم نوم چه به منصور وی داسړې به امام مهدی ته ټول وسائل ورکوی اوهرقسم حمایت به ئې کوی لکه څنګه چه د قریشو بعضې اهم کسانو دحضورپاك تائید اوحمایت کړې وو. بهرحال حارث اومنصور دواړه به د حضرت مهدی پوره حمایت کوی اوجنګی صلاحیتونه به په کار راولي. دا سړی به د خراسان نه لښکر اخلی راځی به. د خراسان اطلاق په افغانستان باندې هم کیږي.

[۵۴۵۹] درنده ګان به د سړو سره خبرې کوی

۵۴۵۹-()[۲۳][۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُكَلِّمَ السِّبَاعُ الْإِنْسَ، [۳] وَحَتَّى تُكَلِّمَ الرَّجُلَ عَذَبَةُ سَوْطِهِ، وَشِرَاكُ نَعْلِهِ، [۴] وَتُخْبِرَهُ فَخِذُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په هغه ذات قسم چې د هغه په لاس کې ځما ساه ده قیامت به دهغې پورې نه راځي د ځوپورې چې درنده ګان د سړو سره کلام ونه کړي [۳] او د ځوپورې چې د سړی د کوړې (چابك) څونډی او د هغه د پښي تسمه د هغه سره خبرې شروع نه کړي [۴] او دا نه بلکه د انسان (پتون) ورونه هغه ته دا وښايي چې د هغه اهل وعیال د هغه غیر موجودګۍ کې کوم نوی کار او کومه نوي خبره کړې ده. (ترمذي)

حل اللغات:- ① عَذَبَةُ: څونډې، ② سَوْطِهِ: چابک، ③ شِرَاكُ: تسمه، وندنې.

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کلام السباع (رقم-۲۱۸۱) واحمد فی المسند: ۸٤/۳

تسهيلات:

قوله: حَتّٰى تُكَلِّمَ السِّبَاعُ:

د ځناورو په خبرو کولو کښې دوه اقوال: ① دا روايت په حقيقت باندې محمول دې کوم چه دَ دې زمانې دَ ترقئي په دور کښې ناممکن نه دی چه داسې قسم آلات به پيدا شي او ځناور به هم خبرې کولې شي.

② دې څخه مراد دادی چه ځناور به هم خبرې کوی او که سړې به هرځائ کښې وی دَ خپلو بچو خير خبر به معلومولې شي لکه زمونږ په دې زمانه کښې ريډيو، ټيلی فون وائرليس اوموبائل اودې نه علاوه نور آلات ايجاد شوی دی ټول عالم په يو لوښی کښې کيخودې شوې معلوميږی نودا علامت د قيامت متحقق کيدونکی ښکاری.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٥٤٦٠] دَ دويمې هجری صدی څخه د قيامت د علاماتو شروع کيدل

٥٤٦٠-()[٢٣] ① عَنْ أَبِي قَتَادَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«اَلْآيَاتُ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① حضرت ابوقتاده ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② نښې به دوه سوه(٢٠٠) کاله وروسته ښکاره کيږي. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① اَلْآيَاتُ: نښې، علامات (د قيامت).

تسهيلات:

قوله: بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ"

د دوو سوو کلونو څخه روسته دقيامت علامات شروع کيدل: يعنی دَ قيامت علامات به دوه سوا کاله پس شروع کيږی. په دې حديث کښې اول خبره دَ پوهيدلو داده چه دا دوه سوه کاله به کله نه شميرلې کيږی؟

د دوو سوو کلونو شروع کيدو کښې درې اقوال: ① دَ حضورپاک دَ هجرت دَ وخت نه به شميرلې کيږی.

② دَ حضورپاک دَ وفات نه به دا کال شميرلې کيږی.

③ دکوم وخت اسلام ښه روښانه شوې وو دَ هغه وخت نه به دا کالونه شميرلې کيږی.

د قيامت دنښو ښکاره کيدو په مفهوم کښې اقوال: ① په حديث کښې المأتين کښې الف لام دَ عهد دَپاره دې مراد هغه دوه صدئی دی چه دَ زرو کالونه پس دی. لکه چه په دې حديث

١) اخرجه ابن ماجه فی السنن كتاب الفتن/باب الآيات (رقم-٤٠٥٧)

کښې خودلې کیږی چه دولس سوا کالو پورې به دقیامت واړه علامات مکمل شی دې نه
پس به لوئی علامات ښکاره کیږی چنانچه نن صبا واړه علامات مکمل شوی دی اوس د
لویو علاماتو انتظاردې.

② دَ قیامت واړ ونخښونه په لویه پیمانه باندې به دوه سوو کالونه پس شروع کیږی لکه
چه په دې حدیث کښې دَمسلسل او یو بل پسې دَعلاماتوښکاره کیدو خبره ده سره دَدې
چه واړه علامات دَ حضورپاك دَ وخت نه څه لږ ډیر شروع شوی وو.

[٥٤٦١] دَمهدی دلښکرد جنډې (بیرغ) رنګ

۵۴۶۱-()[۲۵] ١ وَعَنْ ثَوْبَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّايَاتِ السُّودَ قَدْ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ خُرَاسَانَ فَأْتُوهَا ; ٣ فَإِنَّ فِيهَا خَلِيفَةَ اللَّهِ الْمَهْدِيَّ» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ).

ترجمه: ١ او حضرت ثوبان ﷛ وایي چی رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ هرکله چې تاسو د
خراسان جانب نه توري جنډې راتلونکې ووینی نو هغه طرف ته متوجه شئ ٣ ځکه چې په
هغه کې به د الله خلیفه (مهدي) وي دا روایت امام احمد او دلائل النبوة کې بیهقي ﷫
نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① الرَّايَاتِ: جهنډې، ② السُّودَ: توري،

تسهیلات:

قوله: الرَّايَاتِ السُّودَ

دَتورو جهنډونه دَحارث اومنصور لښکرې مراد دی دَهغوی جهنډې به توري وی.

په سوات کښې د اسلامی انقلاب تحریک: زمونږ د سوات په علاقه کښې د مولانا صوفی
محمد په قیادت کښې د اسلامی قانون د نفاذ دپاره یوتحریک شروع شوې وو. دوی په
جهاد افغانستان کښې هم حصه اخستې وه کوم وخت چې امریکې د افغانستان د
طالبانوڅخه د اسامه بن لادن حواله کولو مطالبه کړې وه خو طالبانوانکار کړې وو د
هغې په نتیجه کښې امریکې په افغانستان حمله کړې وه. د حملې کولو څخه وړاندې دې
صوفی محمد صاحب څه مجاهدین افغانستان ته لیږلی وو. په هغوی کښې زیات هلته
شهیدان شول ددې واقعې ذکر کولوڅخه مې مقصد دا وو چې د دې تحریک دوه جنډې
وې یوه توره وه اوبله سپینه وه. دوی هم په دې غرض باندې د خپلې جنډې رنګ تور
کړځولې وو چې په حدیث کښې دخراسان څخه د توررنګ جنډو پیشنګوئی شوې ده.

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب (رقم-۲۲۶۹) وابن ماجه فی کتاب الفتن /باب خروج المهدی (رقم-٤٠٨٤) واحمد فی المسند: ۵۱۶/۶

قوله: فَإِنَّ فِيهَا خَلِيفَةَ اللهِ الْمَهْدِيَّ:

اشكال: دَ حضرت مهدی ظهورخو به په حرمينو شريفينو کښې کيږي په خراسان کښې دَهغې څه کاردې؟

داشكال جوابونه: ① دَدې لښکر حرم مکه ته دَ رسيدو په وخت به حضرت مهدی دَهغوی دَ استقبال دَپاره بهر راوتلې وی نو په واپسئ کښې به هغه په دې لښکرکښې وی.

② دلته به مجاز اخستې شوې دې يعنی په دې لښکرکې به دَمهدی نصرت او امداد وی.

③ دَمهدی اطلاق دَ يوهدايت موندونکی مسلمان ليډر باندې شوې دې. په لغوی توګه هرهدايت يافته مؤمن مهدی دې نولکه چه منصور ته مهدی ونيلې شوې دې مهدی مشهور مرادنه دې.

[٥٤٦٢] دامام مهدی نسبی تعلق

٥٤٦٢-()[٣٦] [١] وَعَنْ أَبِي إِسْحَاقَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ عَلِيٌّ، وَنَظَرَ إِلَى ابْنِهِ الْحَسَنِ، قَالَ [٢]: إِنَّ ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ كَمَا سَمَّاهُ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٣] وَسَيَخْرُجُ مِنْ صُلْبِهِ رَجُلٌ يُسَمَّى بِاسْمِ نَبِيِّكُمْ، [٤] يُشْبِهُهُ فِي الْخُلُقِ، وَلَا يُشْبِهُهُ فِي الْخَلْقِ، - [٥] ثُمَّ ذَكَرَ قِصَّةً - يَمْلَأُ الْأَرْضَ عَدْلًا». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَلَمْ يَذْكُرِ الْقِصَّةَ.

ترجمه: [١] او ابو اسحاق وايي چې يوه ورځ حضرت علي کرم الله وجهه خپل زوی امام حسن رضي الله عنه طرف ته کتلو سره اوويل [٢] څما دا زوی سرداردې څرنګه چې رسول الله ﷺ دَ ده په باره کې وفرمايل چې دې سردار دی [٣] ډير نزدې د ده د پشت (ملا) نه به يو سړی پيدا کيږي چې د هغه نوم به ستاسو د نبي په نوم وي [٤] او خوی ، اخلاق به يې دنبی ﷺ په شان وی لکه سيرت به يې دنبی ﷺ په څير وی ولی صورت اوشکل به يې دنبی ﷺ په صورت نه وي [٥] بيا يې دزمکی د عدل نه ډکولو قصه يې ياده کړه .

تسهيلات:

قوله: وَسَيَخْرُجُ مِنْ صُلْبِهِ رَجُلٌ يُسَمَّى بِاسْمِ نَبِيِّكُمْ:

دامام مهدی حسنی کيدل: يعنی حضرت مهدی به حسنی وی حسينی به نه وی که چرته حسينی نسبت دې نوهغه دَ فاطمه رضي الله عنها دَ وجې نه دې ګنی هغوی به دَ حضرت حسن رضي الله عنه دَ اولاد نه وی لکه څنګه چه په دې روايت کښې دی.

دشيعه ګانوترديد: دَ شيعه ګانو هغه عقيده غلطه ګرځی په کوم کښې چه هغوی وائی مهدی، محمدبن حسن عسکری دې چه دې وخت کښې په غارکښې موجود دې او په خپل وخت باندې به ښکاره کيږي.

[١]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب المهدی (رقم-٤٢٩٠)

[۵٤٦۲] قيامت ته نږدې د ملخانو ختميدل

۵۴۶۳-()[۲۷] ۱ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ ۲: فُقِدَ الجَرَادُ فِي سَنَةٍ مِنْ سِنِي عُمَرَ الَّتِي تُوُفِّيَ فِيهَا ۳ فَاهْتَمَّ بِذَلِكَ هَمًّا شَدِيدًا، ۴ فَبَعَثَ إِلَى اليَمَنِ رَاكِبًا، وَرَاكِبًا إِلَى العِرَاقِ، وَرَاكِبًا إِلَى الشَّامِ، ۵ يَسْأَلُ عَنِ الجَرَادِ، هَلْ أُرِيَ مِنْهُ شَيْئًا، فَأَتَاهُ الرَّاكِبُ الَّذِي مِنْ قِبَلِ اليَمَنِ بِقَبْضَةٍ ۶ فَنَثَرَهَا بَيْنَ يَدَيْهِ، ۷ فَلَمَّا رَآهَا عُمَرُ كَبَّرَ،

ترجمه: ۱ او حضرت جابر ابن عبد الله رضي الله عنه وايي ۲ په كوم كال چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه وفات شوي دي د هغه كال ذكر دى ، چې ملخان كم شوه (يعني د خلافت عمر په آخري كال مدينه او د هغه په شاوخوا كې ملخان پيدا نه شوه) ۳ حضرت عمر رضي الله عنه دا په خاص طور سره محسوس كړه او د ملخانو نه راتلو سره سخت غمجن او متفكر شو (چې چيرته د ملخانو مكمله خاتمه خو نه ده شوې) ۴ بيا هغوئ يو سواري يمن طرف ته او يو سواري عراق طرف ته او يو سواري شام طرف ته وليږى ۵ چې د خلقو نه پوښتنه وكړي چې آيا يو سړي چيرته څه ملخان ليدلي دي يا نه؟ نو كوم سوار چې يمن طرف ته ليږل شوى وو هغه يو موټ ملخانو سره حضرت عمر رضي الله عنه ته راغې ۶ او د هغوئ مخكې يې كيښودله ۷ حضرت عمر رضي الله عنه چې ملخان وليدل نو د خوشحالي نه يې د الله اكبر نعره يې بلنده كړه

حل اللغات:- ① فُقِدَ: ورك شو ، ختم شو ، ② الجَرَادُ: ملخان، ③ هَمًّا: غمجن، فكرمند ، ④ قَبْضَة: موټې، لپه، ⑤ نَثَرَهَا: اوئې شيندل، پريخودل،

۱ وَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ ۲: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ أَلْفَ أُمَّةٍ، سِتُّمِائَةٍ مِنْهَا فِي البَحْرِ، وَأَرْبَعُمِائَةٍ فِي البَرِّ، ۳ فَإِنَّ أَوَّلَ هَلَاكِ هَذِهِ الأُمَّةِ الجَرَادُ، فَإِذَا هَلَكَ الجَرَادُ ۴ تَتَابَعَتِ الأُمَمُ كَنِظَامِ السِّلْكِ». رَوَاهُ البَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الإِيمَانِ).

ترجمه: ۱ بيا يې وفرمايل زه د ملخانو د مكمل خاتمې د خوف نه څكه متفكر او پريشانه شوى وم چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ۲ الله عز وجل د حيواناتو هزار (۱۰۰۰) قسمه پيدا كړى دى په هغه كې شپږ سوه په درياب كې دي (يعني بحري حيوانات) او څلور سوه په وچه كې دي ۳ او هركله چې قيامت په راتلو كې شي نو په هغوئ كې به د ټولو نه مخكې ملخان هلاك شي او هركله چې ملخان هلاك شي نو بيا د حيواناتو نور قسمونه به همدغه شان يوبل پسې هلاكيدل شروع شي ۴ څرنګه چې د هميل د تار په شليدولو ټول پيول شوى ملغلرى يوبل پسې په زمكه ولويږي د اروايت بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كې نقل كړى دى .

حل اللغات:- ⑥ نِظَامِ: د ملغلرو لړئ (اميل)، ⑦ السِّلْكِ: تار (د لړئ)،

تسهيلات: نوټ: د ترجمې او اضافي قيود اتو څخه د حديث مفهوم ښكاره دي.

---

[1]) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۱۱۳۲

[۳] بَابُ الْعَلَامَاتِ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ وَذِكْرِ الدَّجَّالِ]

دَ قيامت نه مخکښې دَ قيامت دَ نښو اوَ دَ خروج دجال بيان

خلاصة الباب

فيه ثلاثون حديثاً مشتملة على ثلث مسائل:

① عدد العلامات ثلاث عشر بين يدى الساعة ۱، ۲، ۴، ۵.

② ذكر الدجال وعلاماته: ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰.

③ ذكر عيسى عليه السلام وصفته: ۱۲، ۲۰.

د علامات كبرى ذكر: دې باب كښې دَعلاماتو نه دَ قيامت هغه علامات مراد دي كوم چه نورې علامات دي په دې كښې خروج دَ دجال هم داخل دې دَدې جدا ذكركولو ضرورت نه وو مگر دَدې دَ شهرت دَ وجې نه تخصيص بعد التعميم په توگه اهتمام سره جدا ذكر كړې شوې دې.

وس دَدې غټو علامتونو دَ واقع كيدلو ترتيب داشان دې. ① ظهور مهدى ② خروج دجال ③ نزول عيسى عليه السلام ④ خروج ياجوج ماجوج ⑤ خروج دابة الارض ⑥ طلوع شمس من المغرب بعضې رواياتو كښې داعلامات په ترتيب سره ذكردى مگر بعضو كښې ترتيب سره ذكر نه دى.

د دجال لغوى معنى: دجال" دَ دجل څخه دې دَمبالغې صيغه ده چه دَ دهوكه باز او فرادى په معنى كښې دې.

دجال سره د مسيح لګولو وجه: دجال سره لفظ مسيح لګيدلې دې څكه چې دې به ممسوح العين وى يا پوره دنيا به مسح كوى

دعيسى عليه السلام سره د مسيح لګولو وجه: دَ حضرت عيسى عليه السلام نوم سره هم دَمسيح لفظ لګيدلې دې څكه حضرت عيسى عليه السلام به په بيمارانو باندې لاس رابنكلو نو بيمار به نيك كيدو په دې وجد هغه ته مسيح اوونيلې شو

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٥٤٦٤] دَ قيامت نه مخکښې دَ قيامت لس علامات

۵۰۳۳-(¹)[۱] ① عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ الْغِفَارِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ ②: «اِطَّلَعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

¹) اخرجه مسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة /باب فى الآيات التى تكون قبل الساعة (رقم-۳۹ - (۲۹۰۱) وابوداود فى كتاب الترجل /باب أمارات الساعة (رقم-۴۳۱۱) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى الخسف (رقم-۲۱۸۳)

عَلَيْنَا وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ. [۳] فَقَالَ: "مَا تَذَاكَرُونَ؟". [۴] قَالُوا: نَذْكُرُ السَّاعَةَ. قَالَ: "إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتَّى تَرَوْا قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ، [۵] فَذَكَرَ الدُّخَانَ، وَالدَّجَّالَ، وَالدَّابَّةَ، وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، وَنُزُولَ عِيسَى بْنِ مَرْيَمَ، وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ،

ترجمه: [۱] حضرت حذيفه ابن اسيد غفاري ﷺ وايي [۲] يوه ورځ مونږ په خپل منځ کې د قيامت ذکر کوی چې رسول الله ﷺ زمونږ طرف ته راووتلو [۳] پوښتنه يې وکړه تاسو خلق د څه شي ذکر کوئ؟ [۴] صحابه و ﷺ عرض وکړو مونږ د قيامت ذکر کوو بيا حضور ﷺ وفرمايل يقيناً قيامت به هغه وخت پورې نه راځي د څوپورې چې د هغه نه مخکې لس نښې ونه وينې [۵] بيا حضور ﷺ د لس نښو دي ترتيب سره ذکر وکی ۱ دود ۲ دجال ۳ دابة الارض ۴ د نمر د مغرب د طرف نه راختل ۵ د حضرت عيسى ﷺ ابن مريم نازليدل ۶ د ياجوج وماجوج ښکاره کيدل

[۱] وَثَلَاثَةَ خُسُوفٍ: خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ، وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ، وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ، [۲] وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ، [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: "نَارٌ تَخْرُجُ مِنْ قَعْرِ عَدَنَ تَسُوقُ النَّاسَ إِلَى الْمَحْشَرِ". [۴] وَفِي رِوَايَةٍ فِي الْعَاشِرَةِ: "وَرِيحٌ تُلْقِي النَّاسَ فِي الْبَحْرِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د اوومي او اتمي او نهمي نښې په طور د ري خسوف يعنې دري مقاماتو باندې د زمکې غرق کيدو ذکر يې وفرمايه يو خو د مشرق په علاقه کې دويم د مغرب په علاقه کې او دريم د جزيره عرب په علاقه کې [۲] او لسمه نښه چې د ټولو نه په آخر کې به ښکاره کيږي هغه اور دی چې د يمن د طرف نه به ښکاره کيږي او د خلقو په ګيره کې راوستو سره د حشر زمکې طرف ته به يې بوځي [۳] او په يوه حديث کې داسې دي چې هغه به يوداسې اور وي چې د يمن مشهور عدن ښار آخري غاړي ته به ښکاره شي او خلق به شړلو سره د حشر زمکې ته بوځي [۴] او په يوه روايت کې د لسمې نښې په طور يمن طرف ته يا د عدن د آخري غاړې نه د اور د ښکاره کيدو په ځاې يوه داسې هوا ذکر شويده چې خلق به په سمندرکې وغورځوي (مسلم)

حل اللغات:- (۱) خَسْفٌ: زمکه کښې ښخيدل، (۲) تَطْرُدُ: شړى به، (۳) قَعْر: ژوره کنده. لرې حصه، (۴) عَدَنَ: يمن کښې د يو لوئى ښارنوم دي.

تسهيلات:

قوله: فَذَكَرَ الدُّخَانَ،

د دخان په تفسير کښې دوه اقوال: (۱) حذيفه ﷺ فرمائيلی دی دا هغه لوګي دي چه په آخره زمانه کښې به راوځی او مشرق اومغرب کښې به خوريږی او ترځلويښتو ورځو پورې به وی په کوم سره چه به مسلمانان د زکام والا په شان شی اوکافران به د نشې والا

په شان شي او آيت مبارک ﴿ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ۞ يَغْشَى النَّاسَ ﴾ هم دغه مصداق دي

۞ ابن مسعود رضي الله عنه وغيره فرمائي دي څخه مراد دادي چه دَ مکې دَ قحط په وجه دَ مکې په کفرانو باندې اولږه داسې شروع شوه چه دَ آسمان او زمکې په مينځ کښې به ورته هم لوګې په نظر راتلل اودا قول دَ رسول الله ﷺ دَ بددعا په وجه اوشو دَ کوم تفصيل چه په احاديثو کښې موجود دي

قوله وَالدَّجَّالَ،

نوټ: د دجال تفصيل روسته راروان دي

قوله وَالدَّابَّةَ،

په قرآن کښې د دابه ذکر: د دې ذکر ﴿ وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ ﴾ کښې مذکور دې. دا به دَ صفا اومروه دَ مينځ نه راوځي

درې ځله د دابه خروج: ابن الملک وائي دابة الارض به درې ځل راوځي

① دامام مهدي په زمانه کښې به راوځي.

② د ايام عيسى عليه السلام په زمانه کښې به راوځي.

③ د طلوع الشمس من المغرب په وخت کښې به راځي.

د دابه شکل وشباهت: اهل علم فرمائي دا دابه به شپېته ګزه اوږده وي او مختلف الخلقت به وي دَ ډيرو ځناورو په شان به وي غر به اوشلوي راوبه ځي دې سره به دَ حضرت موسى عليه السلام همسا او دَ سليمان عليه السلام نښه وي دا به څوک په منډه نه شي رانيولې او څوک به ترې تختيدې هم نه شي.

په مؤمن او کافر کښې فرق راوستونکې: مؤمن به په همسا باندې وهي دَ هغه په تندي به مؤمن ليکلې شي او په کافر به په خاتم باندې مهر لګوي نودَ ده په تندي به دَ کافر لفظ ليکلې کيږي بعض حضراتو فرمائيلي دي چه دَ دې ستې به اوږد شان وي په مشرق اومغرب کښې اوسيدونکي به دا وينې مخ به ئې دَ انسان په شان وي اودَ مرغئي په شان به ئې څلور وزرې وي

په دابة الارض کښې دعمروبن العاص روايت: عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمائي دا جسا سه ده دَ کومې ذکر چه په احاديثو کښې دې خوحضرت علي رضي الله عنه فرمائيلي داسې نه ده دَ جسا سه بيان خودَ دې ترديد کوي چه خلق به دې ته وائي دا دابة الارض دې کوم چه دَ قيامت دَ علامونه شميرکړې شوې ده نوهغه به وائي چه دَ دابة الارض خو وينښته دي زما کوم دي. دَ هغې خو دَ ځناورو په شان وزرې دي زما داسې چرته دي.

قوله: وَثَلَاثَةُ خُسُوفٍ: خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ، وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ، وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ،

د خسوفاتو په وقوع کښې دوه اقوال: ① مولانا شاه رفیع الدین صاحب رحمه الله خپله رساله کښې فرمائیلی دی چه دا دریواړه خسوف به د حضرت عیسی علیه السلام د نازلیدو نه پس واقع کیږی ② بعض حضرات فرمائی دا دریواړه خسوف واقع شوی دی او د دې تفصیل ئی هم بیان کړې دې په مغرب کښې ۳۰۸هجری کښې د دیارلسوکلو خسف شوې وو دویم خسف په غرناطه کښې بې شمیره مکانونه خسف کړې شو او دریم خسف په مقام ری کښې تقریبًا د ۱۵۰ کلو خسف اوشو په کال ۳۴۲هجری کښې دې نه علاوه نور خسوف هم بیان کړې شوی دی د نورو ذکر شوو علاماتو بیان په وړاندې بابونو کښې راروان دې

قوله: وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ

اشکال: په بعضې روایاتو کښې وارد دی چه اُور به د حجاز د زمکې نه راوځی

داشکال جواب: قاضی عیاض رحمه الله فرمائی کیدیشی دوه اُوره وی یو د حجاز د زمکې نه او بل قعرعدن نه بعض فرمائی شروع به د یمن نه کیږی او ظهور د حجاز نه ذکره القرطبی

قوله: تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ،

دمحشر ځخه مراد: د مسلم په روایت کښې تسوق الناس الی المحشر دې بعض حضراتو فرمائیلی دی د محشر نه مراد د شام زمکه ده ځکه چه په بعض روایاتو کښې دی چه د حشر زمکه به شام کښې وی.

[٥٤٦٥] د قیامت د نښو ښکاره کیدو ځخه وړاندې د نیکو اعمالو ترغیب

٥٤٦٥ -(۱)[۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ سِتًّا [۳] الدُّخَانَ، وَالدَّجَّالَ، وَدَابَّةَ الْأَرْضِ، وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، [۴] وَأَمْرَ الْعَامَّةِ، وَخُوَيْصَّةَ أَحَدِكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] د شپږو څیزونو په بناء تاسو اعمال صالحه طرف ته مخکښې والی کوئ [۳] او هغه شپږ څیزونه دادي ① دود ② دجال ③ دابة الارض ④ مغرب نه د نمر راختل [۴] ⑤ امرعامه یعنی هغه عامه فتنه چې ټول خلق به خپل گیره (لپیټ) کې واخلي ⑥ او خاصه فتنه چې په تاسو کې د چاسره به مخصوص وي . (مسلم)

حل اللغات: - ① بَادِرُوا: مخکښې والي کوئ، ② الدُّخَانَ: لوگي. ③ وَأَمْرَ الْعَامَّةِ: عامه فتنه چه ټول خلق به گیر کړی. ④ خُوَيْصَّةَ: ذاتی او انفرادی فتنه، پریشانی

---

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن واشراط الساعة/باب فی بقیة من أحادیث الدجال (رقم-۱۲۹ - (۲۹۴۷) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الآیات (رقم-٤٠٥٦) واحمد فی المسند:۲/۳۲٤

تسهيلات:

قوله: بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ:

د نیکو اعمال ترغیب: یعنی په حدیث کښې د ذکر شوو شپږو علاماتو دَ ظهور څخه مخکښې په نیك اعمالو کښې تادی کوئی ځکه چه روستو به دَ اعمالو موقع نه ملاویږی یا اعمال به نه قبلیږی

قوله: وَأَمْرَ الْعَامَّةِ، وَخُوَيْصَّةَ أَحَدِكُمْ:

د مذکوره جملو په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دامر العامة څخه عامه فتنه مراد ده چې ټول خلق به خپل ګیره (لپیټ) کې واخلي اود خويصة څخه هغه فتنه مراد ده چه په ذاتی توګه باندې چاسره خاص وی دَهرسړی ذاتی او انفرادی فتنه اوپریشانی وی دکوم تعلق چه دَهغه مال اولاد اودَ چم ګاوند معاملاتوسره وی. دَدې حدیث يوبل مطلب داهم کیدې شی
② دَعامې فتنې نه دَقیامت راتلل مراددی اودَخاصې فتنې نه دَ هرسړی خپل مرګ مراد دې

[٥٤٦٦] دَ قیامت ړومبې علامت

٥٤٦٦-(٣)[٣] ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② "«إِنَّ أَوَّلَ الْآيَاتِ خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، ③ وَخُرُوجُ الدَّابَّةِ عَلَى النَّاسِ ضُحًى، ④ وَأَيُّهُمَا مَا كَانَتْ قَبْلَ صَاحِبَتِهَا؛ فَالْأُخْرَى عَلَى أَثَرِهَا قَرِيبًا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ابن عمرو رضی الله عنهما وایې ما د رسول الله ﷺ نه واوریده ② دَ ظاهریدو د اعتبار نه د قیامت د نښو د ټولو نه مخکښې نښه د نمر د مغرب د طرف نه راختل ③ او د چاشت په وخت دابة الارض راوتل او د هغه هغوئ سره خبرې کول ④ دَدې دواړو مذکوره نښو نه چې کومه نښه مخکې ښکاره شي ترهغه نه وروسته زر به دویمه نښه ښکاره شي.

حل اللغات: - ① ضُحًى: دڅاخت وخت، ② أَثَرِهَا: وریسې، فوراً پس،

تسهیلات:

قوله: إِنَّ أَوَّلَ الْآيَاتِ خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا:

دحدیث پس منظر: په ابوداؤد کښې د دې حدیث پس منظر داسې بیان شوې دې چې ابوزرعه فرمائی چه څه خلق مدینې طیبې ته د مروان خوا له راغلل نو هغوی د هغه نه واوریدل چه هغه د علامات قیامت په باره کښې بیانول چه په هغه علاماتو کښې اول

---

(١) اخرجه مسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة /باب في خروج الدجال ومكثه في الأرض، ونزول عيسى وقتله إياه، وذهاب أهل الخير والإيمان، وبقاء شرار الناس وعبادتهم الأوثان، والنفخ في الصور، وبعث من في القبور (رقم-١١٨ - (٢٩٤١) وابوداود في كتاب الترجل /باب أمارات الساعة (رقم-٤٣١٠) وابن ماجه في كتاب الفتن /باب الآيات (رقم-٤٠٥٥)

علامت خروج الدجال دې، ابوزرعه فرمائی چه د دې نه روستو زه عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما ته لاړم ما هغوی ته د دې ذکر اوکړو نو هغوی اوفرمائيل چه مروان چه څۀ اووې هغه هيڅ هم نه دی، يعنی غير معتبر دی، ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دی چه اولنۍ علامه راختل د نمر دی د مغرب نه يا خروج الدابة چه د چاشت په وخت باندې به وی او په دواړو کښې چه کوم يو علامت هم اول اومونډلې شی دويم به د هغې نه روستو وی.

سيدنا عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما خپله رائې بيانوی چه زما دا ګمان دې چه اول به طلوع الشمس من المغرب وی د دې نه پس به خروج الدابه وی. ﴿وكان يقراء الكتب﴾ دا جمله معترضه ده چه د هغې قائل ابوزرعه دې هغوی دا بيانوی چه چونکه عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما به مخکښې کتابونه تورات اوانجيل وغيره لوستل نو کيدې شی چه دهغوی دا رائې دهغې مطابق وی.

حاصل د حديث دا شو مروان اول الايات خروج الدجال ته اووې، او عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما د دې په ځائې طلوع الشمس من مغربها ته اووې، او علماء کرامو فرمائيلې دی چه دواړه خبرې په خپل ځائې باندې صحيح دی.

په روايانو کښې تطبيق: په اصل کښې علامات قيامت په دوه قسمه دی، يو آيات قرب الساعة. او دويم آيات وقوع الساعة، د مروان مراد اول قسم د علامت نه دې او هغه صحيح دې او د صحابی سيدنا عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما مراد دويم قسم دې او هغه واقعی طلوع الشمس من مغربها دې، د دې نور وضاحت په بذل کښې ذکر دې هغه دې اوکتلې شی [الکاشف: ۱۰/۱۱۰]

[۵۴۶۷] د دريو علاماتو د ظهور څخه روسته د ايمان راوړو عدم اعتبار

۵۴٦٧-(۱)[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «ثَلَاثٌ إِذَا خَرَجْنَ ﴿لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا﴾ [الأنعام: ۱۵۸]: [۳] طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، وَالدَّجَّالُ، وَدَابَّةُ الْأَرْضِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] و حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې درې خبرې ښکاره شي نو بيا د يو داسي سړي ايمان راوړل او کفر نه توبه وُبـښکل چې دې نه مخکې بي ايمان نه وو قبول کړی هيڅ فائده نه ورکوي او نه به د هغه سړي د خپل ايمان په حالت کې نيک عمل کول فائده مند وي که هغه د هغه نه مخکې څه نيک عمل نه وي کړی (يعني هغه وخت ګناهونو نه توبه وُبـښکل به هم معتبر نه وي) [۳] او هغه درې خبرې دادي ① نمر د مغرب نه راختل ② د دجال راوتل ③ او دابة الارض راوتل. (مسلم)

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الايمان /باب بيان الزمن الذی لا يقبل فيه الايمان (رقم-۲۴۹ - (۱۵۸) وابوداود فی کتاب الترجل /باب أمارات الساعة (رقم-۴۳۱۲)

تسهيلات:

قوله: طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا:

مغرب طرف څخه د نمر په راختو د توبې دروازه بنديدل: دَتوبې دروازه بنديدو دَپاره اول ځيز طلوع شمس من المغرب دې دَ عالمِ آخرت څه ځيز ليدونه پس په دې دنياکښې نه دَ ايمان اعتبارشته اونه دَنيك عمل اعتبار هم دغه وجه ده چه دَ زنکدن په حالت کښې کله دَ آخرت ځيزونه په مشاهده کښې راشي نوبيا توبه غيرمقبول ګرځي

[۵٤٦۸] نمر د مغرب د طرف نه د راختلو پيشنګوئي

۵٤٦۸-()[۵] [۱]وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ[۲]: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حِينَ غَرَبَتِ الشَّمْسُ: [۳]"أَتَدْرِي أَيْنَ تَذْهَبُ هٰذِهِ؟". قُلْتُ: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۴]قَالَ: "فَإِنَّهَا تَذْهَبُ حَتَّى تَسْجُدَ تَحْتَ الْعَرْشِ، فَتَسْتَأْذِنَ فَيُؤْذَنُ لَهَا، [۵]وَيُوشِكُ أَنْ تَسْجُدَ، وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا، [٦]وَتَسْتَأْذِنَ فَلَا يُؤْذَنُ لَهَا، وَيُقَالُ لَهَا: ارْجِعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ،

ترجمه: [۱]او حضرت ابوذر ﷛ وايي [۲]يوه ورځ کله چې نمر لويدی رسول الله ﷺ ماته وفرمايل [۳]پوهيږې چې دا نمر چيرته ځي ماعرض وکړو الله او د هغه رسول ښه پوهيږي [۴]حضور ﷺ وفرمايل دا نمر ځي ددې پورې چې د عرش لاندې رسيدو سره سجده کوي بيا د رب العزت په حضور کې د حاضرې اجازت غواړي ده ته اجازت عطا کيږي او حکم ورکول کيږي چې مشرق طرف ته دې لاړ شي او د هغه ځاى نه دې راوخيژي [۵]او (ياد لره) هغه وخت زر راتلونکی دی کله چې به نمر د خپل معمول مطابق سجده کوي ليکن د هغه سجده به نه قبليږي [٦]او اجازت به غواړي ليکن هغه ته به اجازت نه ورکړې کيږي او دا حکم به ورکول کيږي چې دکوم طرف نه راغلی يې هغه طرف ته (مغرب طرف ته) واپس لاړ شه

[۱]فَتَطْلُعُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَذٰلِكَ قَوْلُهُ: ﴿وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا﴾ [يس: ۳۸]، [۲]قَالَ: "مُسْتَقَرُّهَا تَحْتَ الْعَرْشِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱]نو هغه به دمغرب دطرف نه را وخيژي او دا مراد دی د الله ﷻ د دې قول نه چې وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا يعنی نمر خپل مستقر طرف ته ځي [۲]او حضور ﷺ د نمر د مستقر په وضاحت کې فرمايلی دی چې د نمر مستقر يعنی د هغه د حصاريدو ځاى د عرش لاندې دی. (بخاري)

حل اللغات: - ① مُسْتَقَرٌّ: دايساريدو ځاى.

---

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب صفة الشمس والقمر بحسبان (رقم-۳۱۹۹) ومسلم في كتاب الإيمان/باب بيان الزمن الذي لا يقبل فيه الإيمان (رقم-۲۵۱ - (۱۵۹) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في طلوع الشمس من مغربها (رقم-۲۱۸٦)

تسهيلات: قوله فَإِنَّهَا تَذْهَبُ حَتَّى تَسْجُدَ تَحْتَ الْعَرْشِ:

د نمر په سجده کولو باندې اول اشکال: په دې حديث کښې سجود شمس تذکره شويده، د جديد فلکياتو تحقيقات او مشاهدات په رو سره په دې باندې يو څو اشکالات کيږی.

په حديث الباب اول اشکال: نمر په يوځائ ډوبيږی نو هم هغه وخت په بل ځائ کښې راخيژی. د نمر ډوبيدل او راختل هروخت روان وی، خو د حديث نه دا مفهوم په پوهه کښې راځی چه په پوره دنياکښې نمر په يووخت ډوبيږی او د اجازت ملاويدونه پس بياخپل سفر شروع کوی او راخيژی حالانکه دا د مشاهدې نه خلاف ده.

د اول اشکال درې جوابونه: ① دلته د نمر د ډوبيدونه د ټولې دنيا ډوبيدل مراد نه دی بلکه د دنيا د لوئ حصې ډوبيدل مراد دی. يعنی هغه مقام چرته چه په ډوبيدو باندې د دنيا په اکثر آبادئی کښې ډوبيږی

② د دې نه د خط استواء ډوبيدل مراد دی

③ د افق مدينې ډوبيدل مراد دی او مطلب دا دې چه نمردا سجده اود ډوبيدو اجازت معظم معموره، يادخط استواء ډوبيدل او يا د افق مدينه د ډوبيدلووخت طلب کوی.[1]

په حديث الباب دويم اشکال: د عرش رحمن کوم تفصيل د قرآن او حديث نه معلوميږی د هغې په رو سره عرش ټول آسمانونه او کائنات سماويه باندې محيط دې په دې لحاظ نمرخو هميشه په هر حال او هروخت کښې د عرش لاندې دې او د حديث نه معلوميږی چه صرف د ډوبيدو په وخت کښې د عرش لاندې ځی.

د دويم اشکال جواب: د ډوبيدو په وخت کښې د عرش لاندې راتلل ده له مستلزم نه دی چه باقی وخت کښې هغه د عرش د لاندې نه وی، دا قيد احترازی نه دې قيد واقعی دې. نو حضرت حکيم الامت تهانوی رحمه الله ليکی: "د دې جواب دا دې چه ممکنه ده چه دا قيد واقعی وی او اصلی مقصود اخبار عن السجده وی اود دې تعبيرنه دا فائده وی چه د دې نه تحت الامرالالهی کيدلو تصريح اوشوه ځکه چه د استواء علی العرش کنايه کيدل د نفاذ احکام او تصرفات نه په آيات عديده کښې ذکر دی" [2]

په حديث دريم اشکال: د دې حديث د ظاهر نه معلوميږی چه نمر خپل مستقر باندې رسيدلو سره سجده کوی، بيا اجازت غواړی، دغه شان هغه وقفه کوی حالانکه د نمر وقفه علم فلکيات اود مشاهدې په رو سره صحيح نه ده، د ده حرکت دائمی او مسلسل دې.

ددريم اشکال جواب: د هرڅيز سجده د هغه د حال مناسب وی لکه چه قرآن پخپله

---

[1]) بيان القران-۱۱۱/۹:

[2]) بيان القران-۱۱۱/۹:

تصریح فرمائیلې ده "کل قدعلم صلاته وتسبیحه" دَ دې دَ پاره دَ نمر دَ سجدې دا معنی گنړل چه هغه دَ انسان په شان سجده کوی صحیح نه ده.

حضرت تهانوی رحمه الله لیکی: " سجده بالمعنی مذکوره دَ پاره اول خو انقطاع حرکت ضروری نه دې، بل ممکن دی چه دا سکون آنی وی او حرکت زمانی وی، دَ دې دَ پاره حساب رصدی مختل کیږی نه، او نه هغه منصبط او مدرك کیږی"(۱)

دمذکوره حدیث تشریح د علامه شبیر احمد عثمانی په نظرکښې: علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله په دې باره کښې یوه مستقله مقاله لیکلې ده او مولانامفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله "معارف القرآن" کښې دَ دې خلاصه نقل کړیده. هغوی په یو بل انداز سره دَ حدیث مفهوم بیان کړیدې دَ کوم حاصل چه دا دې.

په حدیث کښې چه دا خودلې شوی دی چه نمر دَ ډوبیدونه پس دَ عرش لاندې الله تعالی ته سجده کوی او بیا دَ بل دور شروع کولو اجازت غواړی او دَ اجازت ملاویدو نه پس وړاندې تګ کوی او سحر دَ مشرق طرف نه راخیژی، دَ دې مقصد دَ دې نه زیات نه دې چه نمر دَ راختو او ډوبیدو په وخت کښې دَ دنیا په عالم کښې یو نوې انقلاب راځی دَ کوم مدار چه په نمر باندې دې. رسول الله ﷺ دا انقلابی وخت دَ انسان دَ خبرداری دَ پاره موزون ګنړلو سره دا تلقین اوفرمائیلو چه دا نمر په خپله مرضئی سره په خپل قدرت سره ګرځیدونکې مه ګنړئی دا صرف دَ الله تعالی په رضا او اجازت سره روان دې، دَ ده هر خل راختل او ډوبیدل دَ الله تعالی په اجازت سره کیږی. دا دَ هغه دَ اجازت تابع دې، دَ ده حکم منونکې حرکت کول هم دَ ده سجده ګرځولې شویده. خلاصه دا چه دَ نمردَ ډوبیدو تخصیص او دې نه پس دَ عرش لاندې تلل اوهلته سجده کول او دَ وړاندې تلو اجازت غوښتلو کوم واقعات په دې روایت کښې خودلې شوی دی هغه دَ پیغمبرانه موثر تعلیم مناسب بالکل دَ عام خلقو دَ نظر په اعتبار سره یو تمثیل دې. نه دینه دا لازمیږی چه هغه دَ انسان په شان په زمکه سجده کوی، اونه دَ سجدې کولو په وخت کښې دَ نمر په حرکت کښې څه وقفه کیدل لازم راځی. او نه دا مراد دی چه هغه په شپه ورځ کښې یوه سجده په یوخاص ځائ کښې کوی، اونه دا چه صرف دَ ډوبیدو په وخت کښې دَ عرش دَ لاندې ځی، مګر په دې انقلابی وخت کښې کله چه ټول خلق داوینی چه نمر زمونږ نه غائب شو هغه وخت دَ تمثیل په توګه هغوی په دې حقیقت باندې خبر کړیشو چه دا څه کیږی په حقیقت کښې نمر دَ عرش لاندې دَ فرمان تابع تلوراتلوسره کیږی، نمر پخپله څه قدرت او طاقت نه لری، نو څنګه چه دې وخت کښې دَ مدینې خلق په خپل ځائ کښې دا محسوس کوی چه اوس به نمر سجده کوی او دَ بلې دورې دَ پاره به

---

(۱) بیان القران-۱۱۱/۹:

اجازت غواړي، نو دغه شان چرته چرته چه دې ډوبيږي د تولود پاره د سبق حاصلولو تلقين اوشو اود معاملې حقيقت دا راؤوتلو چه نمر په خپل مدار کښې د حرکت په مينځ کښې په هره لمحه الله تعالى ته سجده هم کوی او د وړاندې تلو اجازت هم غواړی اود دې سجدې کولو او اجازت غوښتلو د پاره هغه ته د سکون او وقفې ضرورت هم نه وی.[۱] په دې تقرير سره په ذکر شوی حديث کښې نه د مشاهداتو په رو سره څه شبه کيږي او نه قواعد هئيت او رياضی په اعتبار سره څه شبه او اشکال باقی پاتې کيږي.

د هرڅيز سجده د هغه د خپل حال مطابق ده نود نمر به په روانه روانه سجده وی دا هيڅ مشکل نه دی د نباتاتو او جماداتو سجده به د انسان په شان خو نه وی نو هغه به په دې باندې نه شی قياس کولې نمر اگرچه هروخت په حرکت کښې وی مگر د دې حرکت باوجود سجده کول څه مستبعد نه دی. بل دا د غيب يو معامله ده مونږ تردومره پورې مکلف يو چه مونږ دا اومنو چه نمر سجده کوی. وړاندې د تفصيلاتو معلومولو مونږ مکلف نه يو اونه د دې په تحقيق کښې پريوتل زمونږ څه ذمه واری ده

قوله: لِمُسْتَقَرِّهَا:

د مستقرپه تفسير کښې دوه اقوال: ① دلته مستقر مکانی مراد دې. اود مستقر مکانی مطلب دادې چه په کومه ورځ الله تعالى نمر پيدا کړې وو اود کوم ځائی نه چه ئی نمر روان کړې وو هم د هغه مقام پورې به نمر روان وی هم دغه د ده مستقردې. حديث الباب څخه د مستقر مکانی تائيد کيږی چه نمر دعرش لاندې لاړشی سجده کوی

② دې نه مستقر زمانی مراددې. د مستقرزمانی مراد اخستو مطلب چه دادې چه د کومې زمانې نه نمر په خپل کارکښې لگياشوې دې دې به هم په هغه کارکښې لگيا وی. تردې چه قيامت راشی نود قيامته پورې به نمر د خپل مستقر طرف ته جاری اوساری وی هيڅ کله به اودريږی نه د قرآن آيت ﴿إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ د دې رائې تائيد کوی

په دواړو قولونو کښې تطبيق: اضی بيضاوی رحمه الله[۲] دويم تفسير ليکلې دې نوشيخ عبدالحق محدث دهلوی دلته ډير ښه دې اوهغه دا وائی چه دا ټول د فلسفې نه د متاثر کيدو اثر دې واقعه داده چه آيت مبارك دخپل اطلاق په اعتبارسره د دواړو تفسيرونو محتمل دې په دې کښې هيڅ استعجاب نشته چه حديث مخې ته کولوسره مستقر مکانی مراد واخستې شی او آيت مخې ته کيخودوسره مستقر زمانی مراد واخستې شی.[۳]

---

[۱] رساله سجود شمس، ومعارف الران-۷/۳۹۲:

[۲] تفسير البيضاوی مع حاشية الشهاب: ۲۲/۸.يس: ۳۸.

[۳] وإليه أشار الشهاب الخفاجی رحمه الله فی حاشيته على البيضاوی: ۲۳/۸وفيض الباری: ۳۰۶/۴ولمعات التنقيح شرح مشكوة المصابيح: ۶۸۵/۸كتاب الفتن باب لعلامات بين يدی الساعة. الفصل الاول رقم: ۵۴۶۸

[۵٤٦۹] دَ تولو نه لويه فتنه دجال دي

۵۴۶۹-()[۶] ① وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② "«مَا بَيْنَ خَلْقِ آدَمَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ أَمْرٌ أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت عمران ابن حصين ﷺ وايي ما د حضور ﷺ نه واوريدل ② چې د آدم عليه السلام د پيدائش نه واخله د قيامت د ورځې پورې (يعني د كائنات انساني په پوره زمانه كې د ابتلاء اختلال او استدراج د اعتبار نه) د دجال د فتني نه لويه فتنه نشته

تسهيلات:

قوله: أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ

دجال د فتنې عظمت: مطلب دادي چه دَ انسان دَ پيدائش نه واخله دَ قيامته پورې دَ دجال نه بله لويه فتنه نشته. دجال ډير لوئى آفت دې. خلق چه دَ دجال كارنامې اوګوري نو هغه به خدائي اومني. هم په دې وجه دَ حضرت نوح عليه السلام نه واخله تر دَ رسول كريم ﷺ پورې تولو انبياء كرامو خپل خپل امت دَ دجال دَ فتنې نه خبردار كړې دې

[۵٤۷۰] د دجال د يوې سترګې كانړيوالي

۵۴۷۰-()[۷] ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِنَّ اللهَ لَا يَخْفَى عَلَيْكُمْ، إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَيْسَ بِأَعْوَرَ ③ وَإِنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنَى، ④ كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِئَةٌ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② يقيناً الله ﷻ په تاسو مخفي نه دى بلاشبه الله ﷻ روند نه دى ③ دجال دا چې مسيح دجال په ښي سترګه كور دى ④ او د هغه هغه سترګه به داسې وي څرنګه چې هغه د انګور يوه پرسيدلې دانه وي.

حل اللغات:- ① أَعْوَرَ: كانړا، چغوت، ② عِنَبَةٌ: دانګورو دانه، ③ طَافِئَةٌ: بهر راوتلې، پرسيدلې

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنَى:

دجال په نښو نښودلو كښې حكمت: دَ دجال فتنه به چونكه په كائناتو كښې دَ تولو نه لويه فتنه وى ځكه چه دجال به دَ خدائيى دعوىٰ هم كوى او هغه سره به دَ استدراج دَ وجې نه دَ دهوكه كولو دَ پاره ډير لوئى سامان هم وى. په دې وجه حضور پاك دَ دجال نښې نښانې په

---

[1] اخرجه مسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة /باب فى بقية من أحاديث الدجال (رقم-۱۲۶ - (۲۹۴۶)

[2] اخرجه البخارى فى كتاب الفتن /باب ذكر الدجال (رقم-۷۱۲۳) ومسلم فى كتاب الإيمان /باب ذكر المسيح ابن مريم، والمسيح الدجال (رقم-۲۷۳ - (۱۶۹) وابوداود فى كتاب الترجل /باب خروج الدجال (رقم-۴۳۱۶) وابن ماجه فى كتاب الفتن /باب فتنة الدجال، وخروج عيسى ابن مريم، وخروج يأجوج، ومأجوج (رقم-۴۰۷۱) واحمد فى المسند: ۳۳/۲

کولاؤ الفاظو کښې بیان کړی دی دې دپاره چه چاته دَ دجال باره کښې اشتباه او شك پاتې نه شی چنانچه دلته دا خودلې شوی دی چه دَ دجال ښې سترګه به کانړئی وی.

قوله: كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِئَةٌ:

د دجال د سترګې کانړې والې: یعنی دَ انګور دَ دانې په شان شنه راوتلې به وی چه ډیر زیات بدرنګوالې دې نویوه سترګه خوبه ئی بالکل ممسوحه، مطموسه او هواره وی اودویمه به ئی په ډیر زیات خراب اندازکښې دَ انګور دَ دانې په شان راوتلې وی

اشکال: دمشکاة په حدیث نمبر (۵۴۷۰) کښې دی چه د دجال ښې سترګه به کانړئی وی خو دمشکاة په حدیث نمبر (۵۴۷۳) کښې دی چه دَ دجال به ګسه سترګ کانړئی وی دا واضح تعارض دې دَدې څه جواب دې؟

د اشکال څلور جوابونه: مجموعی احادیثولره دکتلونه معلومیږی چه دَدجال به دواړه سترګې عیبژنې وی او په عیبژنه سترګه باندې دَ اعور اطلاق کیږی نودجال به په ښې سترګه باندې هم أعور وی اوګسې سترګې سره به هم اعور اوعیبژن وی په دې کښې هیڅ تعارض نشته دې چا چه کوم ذکرکړې دې صحیح دې. که اصل حقیقت ته اوکتلې شی نودا حقیقت په واضحه توګه مخې ته راځی چه دَ دجال ګسه سترګه بالکل صفا اوخالی میدان دې نه ئی سترګه شته اونه دَسترګې قوتې نه ئی راوتلې سترګه ده اونه څه بل رنګ هواره او صفا ده. هم دا حقیقت د مشکاة په حدیث نمبر(۵۴۷۳) او حدیث نمبر(۵۴۷۵) کښې په واضح توګه بیان کړې شوې دې. په کوم کښې چه "اعورالعین الیسری" الفاظ هم دی اودَ "مطموس العین لیست بناتیة ولا جحراء" الفاظ هم راغلی دی دادَ دجال دَ ګسې سترګې تفصیل دې دلته زیر بحث حدیث نمبر((۵۴۷۳)) کښې دَ دجال دَ ښې سترګې باره کښې داتفصیل دې چه دَانګورو ددانې په شان راوتلې به وی لکه چه داسترګه چه په کومه کښې به څه نا څه ساه وی څه ښنه به وی مګر بدصورت قبیح شکل کښې به وی عیب داره به وی په کوم چه دکانړئی سترګې اطلاق دَعیب دَ وجې نه به کیدې شی لکه څنګه چه په دې حدیث کښې دَاعور اطلاق شوې دې

② دَ هغه یوه سترګه به خړه شوې وی او دویمه به عیبژنه وی.

③ بعضې خلق به دَ هغه دَ ښې سترګې عیب ګوری او نور به دَ ګسې سترګې عیب

④ د راویانونه په دې کښې سهوشوې ده.

[٥٤٧١] د هر نبي خپل امت لره د دجال څخه ویرول

۵۴۷۱-(¹)[۸] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا أَنْذَرَ أُمَّتَهُ الْأَعْوَرَ الْكَذَّابَ، ۳ أَلَا إِنَّهُ أَعْوَرُ، وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ، مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ: ك ف ر» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ داسې هيڅ نبي نه دی تير شوی چې هغه خپل امت د دروغجن كور يعنی دجال نه نه وي يير ولی ۳ خبر دارشئ دجال به كور وي او ستاسو پروردگار روند نه دی ۴ او د دجال د دوارو ستر گو په منځ كې به (ك ف ر) يعنی د كفر لفظ ليكلی وي. (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: - ① أَنْذَرَ: ويرولې ئې دې، ② الْأَعْوَرَ: كانړا ، چغوت

تسهيلات: قوله: مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا أَنْذَرَ أُمَّتَهُ الْأَعْوَرَ الْكَذَّابَ:

د هر نبی خپل امت د دجال څخه د ويرولو وجه: دَ دجال ظهور الله تعالى په چاباندې هم نه دی ښكاره كړی. صرف دومره معلومه ده چه هغه به دَ قيامت نه مخكښې ښكاره كيږی په دې وجه هريو نبی دَ دجال دَ راښكاره كيدو نه خپل امت ويرولې دې.

قوله: مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ: ك ف ر.

دكفر په تقطيع سره ليكل: چنانچه دَمصابيح او مشكوة په نسخو كښې دا الفاظ جدا جدا ليكلې شوی دی لكه چه دَ دجال په مخ باندې به ك ف ر (كفر) داسې ليكلې شوې وی

د د جال باره كښې دامت محمدی راهنمائی: دَهغه په مخ باندې كفر ليكلې كيدل په حقيقت كښې دَ الله تعالى دَ طرف نه دَدې امت په حق كښې يو لوئ نعمت دې چه دَ دجال دَ دوارو ستر گو په مينځ كښې به دَ كفر لفظ ښكاره وی. كوم چه به هر صاحب ايمان په آسانئ سره لوستلې او پوهيدلې شی (كه ليكونكې لوستونكې وی اوكه نه وی) او هغه صاحب ايمان ته به دَ دجال دَ مكر او فريب نه په بچ كيدو كښې آسانی وی خو ليكونكې لوستونكې كافر به دغه نه شی لوستلې او نه به پرې پوهيدلې شی

[٥٤٧٢] د دجال مصنوعی جنت او دوزخ

۵۴۷۲-(²)[۹] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «أَلَا

¹) اخرجه البخارى فى كتاب التوحيد/باب قول الله تعالى: {تعرج الملائكة والروح إليه} [المعارج: ٤] ..... (رقم-٧٤٣١) ومسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذكر الدجال وصفته وما معه (رقم-١٠١ - (٢٩٣٣) وابوداود فى كتاب الترجل /باب خروج الدجال (رقم-٤٣١٦) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى قتل عيسى ابن مريم الدجال (رقم-٢٢٤٥)

²) اخرجه البخارى فى كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {إنا أرسلنا نوحًا إلى قومه أن أنذر قومک من قبل أن يأتيهم عذاب أليم} [نوح: ١]...... (رقم-٣٣٣٨) ومسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذكر الدجال وصفته وما معه (رقم-١٠٩ - (٢٩٣٦)

أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا عَنِ الدَّجَّالِ مَا حَدَّثَ بِهِ نَبِيٌّ قَوْمَهُ؟ [۳]: إِنَّهُ أَعْوَرُ يَجِيءُ وَمَعَهُ بِمِثْلِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، [۴] فَالَّتِي يَقُولُ: إِنَّهَا الْجَنَّةُ هِيَ النَّارُ، [۵] وَإِنِّي أُنْذِرُكُمْ كَمَا أَنْذَرَ بِهِ نُوحٌ قَوْمَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي يوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کاه شیٔ زه تاسو ته د دجال په باره کې داسې خبره ښايم چې بل هيڅ نبي خپل قوم ته نه ده خو دلی [۳] او هغه خبره دا ده چې دجال به يو سترګي وي او هغه به د ځان سره د جنت او دوزخ په شان دوه څيزونه راوړي [۴] نو کوم شي ته چې هغه جنت وايي په حقيقت کې به هغه دوزخ وي [۵] نو زه تاسو د هغه دجال نه بيروم څرنګه چې نوح علیه السلام خپل قوم د هغه نه بيرولی وو (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: أَلَا أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا عَنِ الدَّجَّالِ مَا حَدَّثَ بِهِ نَبِيٌّ قَوْمَهُ:

د دجال کانړې څودل د نبی علیه السلام خصوصیت: په حدیث الباب کښې دی چه پخوانو انبیاء کرامو دَ دجال دَ نورو عیبونو نه خپل امتونه خبردار کړی دی مګر دَ هغه کانړې کیدل زه بیانوم.

قوله: مَعَهُ بِمِثْلِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ

د دجال د جنت اواور حقیقت: مطلب دادې چه دجال سره به ښکلې ښکاره کیدونکې باغ هم وی او ویرونکې اور هم. په حقیقت کښې هغه سره چه کوم باغ وی هغه به دَ دوزخ تلو لار وی او هغه سره چه کوم اور وی هغه به په حقیقت کښې جنت وی یعنی کوم سړې چه دَ هغه تابعداری نه کوی اودَ هغه په مخکښې دَ تیتیدونه انکارکوی نو دجال به هغه په خپل اور کښې اچوی حالانکه هغه به جنت ته دَ تلو لار وی

لکه څنګه چه د نمرود اور په ظاهره اور وو مګر دَ حضرت خلیل الله علیه السلام دَپاره جنت وو کما فی القرآن ﴿قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ﴾ وعلی هذا القیاس.

[۵٤۷۳] د دجال په اور کښې د پریوتو تعلیم

۵٤۷۳ - ( )[۱۰] [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] قَالَ: «إِنَّ الدَّجَّالَ يَخْرُجُ، وَإِنَّ مَعَهُ مَاءً وَنَارًا، [۳] فَأَمَّا الَّذِي يَرَاهُ النَّاسُ مَاءً فَنَارٌ تُحْرِقُ، [۴] وَأَمَّا الَّذِي يَرَاهُ النَّاسُ نَارًا فَمَاءٌ بَارِدٌ عَذْبٌ، [۵] فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَقَعْ فِي الَّذِي يَرَاهُ نَارًا، [۶] فَإِنَّهُ مَاءٌ عَذْبٌ طَيِّبٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت حذيفه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي [۲] حضور ﷺ وفرمايل دجال به په دي حالت کې ښکاره کېږي چې هغه سره به اوبه وي او اور وي [۳] نو خلق چې

[1]) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب ما ذكر عن بني إسرائيل (رقم-۳٤۵۰) ومسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذكر الدجال وصفته وما معه (رقم-۱۰۵ - (۲۹۳٤)

کوم شی اوبه ګڼي هغه به په حقیقت کې سوزونکي وي ۴ او کوم چې خلق اور ګڼي هغه به په حقیقت کې یخي او شیریني خوړي اوبه وي ۵ نو په تاسو کې چې کوم سړی دجال یا د هغه د دهوکو مذکوره څیزونه بیا مومي نو هغه ته پکار دی چې په هغه شي کې غورځیدل خوښ کړي چې هغه یې د اور په صورت کې ویني ایعنی دجال به د هغه تکذیب نه ناراضه کیدو سره هغه خپل اور کې وغورځوي ۶ نو په حقیقت کې هغه به اور نه وي بلکه ډیري شیریني او خوښ اوبه به وي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① تُحْرِقُ: سوزونکې. ② عَذْبٌ: خوږې.

① وَزَادَ مُسْلِمٌ: " «وَإِنَّ الدَّجَّالَ مَمْسُوحُ الْعَيْنِ، ② عَلَيْهِ ظَفَرَةٌ غَلِيظَةٌ، ③ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ يَقْرَأُهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ كَاتِبٍ وَغَيْرِ كَاتِبٍ» ".

ترجمه: ۱ او مسلم په خپل روایت کې دا الفاظ مزید نقل کړی دی چې دجال به ممسوح العین وي ایعنی د هغه د یوي سترګي په ځاي د تندي په شان بالکل اوار وي هلته به د سترګي هیڅ نښه هم نه وي ا ۲ او په هغه دویمه سترګه به درنه ناخنه وي اګویا د هغه یوه سترګه به بالکل غائبه وي او دویمي سترګي باندې به د غوښي یا چرمي یوه غټه ټکره وي یا دا معنی ده چې هغه غائبه سترګي باندې به ناخنه وي ا ۳ او د هغه د دواړو سترګو په منځ کې به کافر لفظ لیکلی وي او دالفظ به هر مؤمن وایي که هغه لیکل وئیل پیژني یا یې نه پیژني.

حل اللغات: - ③ مَمْسُوحٌ: مسح شوې، ورانه شوې. ④ ظَفَرَةٌ: نوک. دلته ترې د څرمن هغه ټکره مراد ده چه د پوزې د طرف نه راپورته شوې وی او سترګه ئې پټه کړې وی. ⑤ غَلِيظَةٌ: سخته.

تسهيلات:

قوله: عَلَيْهِ ظَفَرَةٌ غَلِيظَةٌ:

د مذکوره جملې مفهوم: یعنی مضبوطه غوښه چه دَ پوزې دَ طرف نه به په سترګه باندې راختلې وی لکه چه دَ نوك تراشه وی. دا صفت دَ دجال دَ کسې سترګې دې چه صفا چیته خالی میدان دې. دې سره حدیث کښې دَ کسې سترګې تصریح موجود ده. دَ ښې سترګې تفصیل تیر شوی حدیث نمبر (۵۴۷۰) کښې تیرشوې دې.

[۵٤۷٤] دجال کسي (چپې) سترګې کانړې والې

۵۴۷۴ - ()[۱] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ " الدَّجَّالُ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُسْرَى، ۳ جُفَالُ الشَّعَرِ، ۴ مَعَهُ جَنَّتُهُ وَنَارُهُ، ۵ فَنَارُهُ جَنَّةٌ، وَجَنَّتُهُ نَارٌ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[۱] اخرجه مسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذكر الدجال وصفته وما معه (رقم-۱۰٤ - (۲۹۳٤) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب فتنة الدجال، وخروج عيسى ابن مريم، وخروج يأجوج، ومأجوج (رقم-٤۰۷۱) واحمد في المسند: ۳/۱۱۵

ترجمه: [۱] او حضرت حذيفه رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د دجال چپه سترګه به کوړه وي [۳] د هغه به ډير کثرت سره ويښته وي [۴] او د هغه سره به اور وي [۵] ليکن د هغه اور به په حقيقت کې جنت وي او د هغه جنت به په حقيقت کې اور وي (مسلم)

حل اللغات: - ① جُفَالُ الشَّعَرِ: أي كثير الشعر، ډير زيات ويښتو والا. لکه چه يو ځنګلي ځناور وي.

تسهيلات:

قوله: الدَّجَّالُ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُسْرَى:

نوټ: د دجال د ښي او کسې سترګې په کاڼړی والی کښې چې کوم تعارض دې د هغې ځلور جوابونه د دې ځخه وړاندې د حديث نمبر (۵۴۷۰) په تسهيل کښې شوي دې.

[۵۴۷۵] د دجال د حفاظت دپاره امت الله تعالى ته سپارل

۵۴۷۵- ( ) [۱۳] [۱] «وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ [۲]: ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الدَّجَّالَ [۳] فَقَالَ: " إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا فِيكُمْ فَأَنَا حَجِيجُهُ دُونَكُمْ، [۴] وَإِنْ يَخْرُجْ وَلَسْتُ فِيكُمْ فَامْرُؤٌ حَجِيجُ نَفْسِهِ، [۵] وَاللَّهُ خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ،

ترجمه: [۱] وحضرت نواس ابن سمعان رضي الله عنه وايي [۲] يوه ورځ رسول الله ﷺ د دجال (د راوتلو) [د هغه د مکاريو او د هغه په فتنه کې د خلقو د مبتلا کيدو] ذکر وکړو [۳] نو حضور ﷺ وفرمايل که دجال راووځي او (بالفرض) زه ستاسو په مينځ کې موجود يم نو زه به هغه سره ستاسو مخکې [د دنګړو او د دليل په ذريعه] په هغه غالب راشم [۴] او که دجال هغه وخت را اووتلو هرکله چې زه نه يم نو بيا په تاسو کې هرسړی به د خپل ذات د طرف نه هغه سره جګړه کونکی وي [۵] او ځما وکيل او خليفه هرمسلمان د پاره الله ﷻ دی.

حل اللغات: - ① حَجِيجٌ: حجت او دليل سره دفع کونکې، دفاع کونکې.

[۱] إِنَّهُ شَابٌّ قَطَطٌ، [۲] عَيْنُهُ طَافِيَةٌ، [۳] كَأَنِّي أُشَبِّهُهُ بِعَبْدِ الْعُزَّى بْنِ قَطَنٍ، [۴] فَمَنْ أَدْرَكَهُ مِنْكُمْ فَلْيَقْرَأْ عَلَيْهِ فَوَاتِحَ سُورَةِ الْكَهْفِ، وَفِي رِوَايَةٍ: " فَلْيَقْرَأْ عَلَيْهِ بِفَوَاتِحِ سُورَةِ الْكَهْفِ، [۵] فَإِنَّهَا جِوَارُكُمْ مِنْ فِتْنَتِهِ، [۶] إِنَّهُ خَارِجٌ خَلَّةً بَيْنَ الشَّامِ وَالْعِرَاقِ، [۷] فَعَاثَ يَمِينًا، وَعَاثَ شِمَالًا، [۸] يَا عِبَادَ اللَّهِ فَاثْبُتُوا.

ترجمه: [۱] دجال به ځوان (ځلمی) وي د هغه ويښته به وړول وي [۲] او د هغه سترګه به پړسيدلي وي [۳] ګويا زه هغه ته د قطن ځوی عبد العزي سره تشبيه ورکولی شم [۴] نو په تاسو کې چې کوم سړی هغه بيا مومي هغه ته پکار دی چې هغه د هغه مخکې د سورة

) اخرجه مسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذكر الدجال وصفته وما معه (رقم-۱۱۰ - (۲۹۳۴) وابوداود فى كتاب الترجل /باب خروج الدجال (رقم-۴۳۲۱) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فتنة الدجال (رقم-۲۲۴۰) وابن ماجه فى كتاب الفتن/باب فتنة الدجال، وخروج عيسى ابن مريم، وخروج ياجوج، وماجوج (رقم-۴۰۷۵)

كهف ابتدائي آيتونه اووائي او د مسلم په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې هغه ته پكار دى چې هغه د هغه مخكې د سورة كهف ابتدائي آيتونه اووائي ۵ ځكه چې دا آيتونه به تاسو د دجال د فتنې نه مامون او محفوظ ساتي ۶ پوهه شئ دجال به هغه لار ښكاره كېږي كوم چې د شام او عراق په منځ كې واقع ده ۷ او ښي چپ طرفته به فساد پيدا كېږي ۸ تو اې د الله بنده ګانو! (هغه وخت چې دجال راوځي) تاسو خپل دين باندې ثابت قدم وسيږي

حل اللغات: - ② قَطَطٌ: ګورګوچي ويښتو والا. ③ طَافِيَةٌ: بهر راوتلې، پړسيدلې. لكه د انګورو دانه. ④ فَوَاتِحِ: جمع د فاتحة ده، مراد ترې د شروع حصه ده، ⑤ جِوَارُكُمْ: حفاظت كونكې ستاسو. ⑥ خَلَّةً: لار، ⑦ عَاثَ: فساد كولو سره به ګرځي،

۱ قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَمَا لَبْثُهُ فِي الْأَرْضِ؟ ۲ قَالَ: "أَرْبَعُونَ يَوْمًا، يَوْمٌ كَسَنَةٍ، وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ، وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ، وَسَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ. ۳ قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ! فَذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَسَنَةٍ أَتَكْفِينَا فِيهِ صَلَاةُ يَوْمٍ؟ ۴ قَالَ: لَا، اُقْدُرُوا لَهُ قَدْرَهُ.

ترجمه: ۱ راوي وايي چې مونږ په دې اوريدو سره عرض وكړو يارسول الله! هغه به څومره ورځې په زمكه كې وي ۲ حضور ﷺ وفرمايل څلويښت ورځې او د زماني د طوالت د اعتبار نه (په هغه كې به يوه ورځ) د يو كال برابر وي او يوه ورځ به د يوې مياشتې برابروي او يوه ورځ به د يوې هفتې برابر وي او باقي ورځې به د تولو ورځو مطابق (يعنى د عامو ورځو په شان وي) ۳ مونږ عرض وكړو يا رسول الله! په هغه ورځو كې چې يوه ورځ به د يو كال برابر وي په هغه ورځو كې به زمونږ د يوې ورځې مونځ كافي وي ۴ حضور ﷺ وفرمايل نه بلكه مونځ كولو د پاره به د يوې ورځې حساب لګول وي

۱ وَمَا إِسْرَاعُهُ فِي الْأَرْضِ؟ ۲ قَالَ: كَالْغَيْثِ اسْتَدْبَرَتْهُ الرِّيحُ، ۳ فَيَأْتِي عَلَى الْقَوْمِ فَيَدْعُوهُمْ فَيُؤْمِنُونَ بِهِ، ۴ فَيَأْمُرُ السَّمَاءَ فَتُمْطِرُ، وَالْأَرْضَ فَتُنْبِتُ، ۵ فَتَرُوحُ عَلَيْهِمْ ۶ سَارِحَتُهُمْ أَطْوَلَ مَا كَانَتْ ذُرًى، ۷ وَأَسْبَغَهُ ضُرُوعًا، ۸ وَأَمَدَّهُ خَوَاصِرَ،

ترجمه: ۱ مونږ عرض وكړو يارسول الله! هغه به په زمكه څومره تيز چليږي (يعنى د هغه د تيزرفتارى به څه كيفيت وي) ۲ حضور ﷺ وفرمايل هغه به د هغه وريځ په شان تيز رفتاروي چې د هغه وروسته هوا وي ۳ هغه به يو قوم ته ورسيږي او هغوئ ته به خپل دعوت وركړي (يعني خپل اتباع طرف ته به يې راوبلي او د بدى په لار به يې لګوي) خلق به په هغه ايمان راوړي (يعني د هغه فريب كې راتلو سره د هغه پيروي كول به شروع كړي) ۴ بيابه هغه د خپل تابعدارنوا زلو د پاره وريځې ته د وريدلو حكم وكى نو وريځې به باران او روي او زمكې ته به د سبزه (شينكي) زرغونولو حكم وكړي نو زمكه به سبزه

زغورنه كړي ٥بيا چې مابنام ته د هغه قوم هغه څاروي راشي (چې څرند د پاره دسهار په وخت کې جنګل او صحرا ته تلي وو) ٦نو د هغوئ بوکونه (قبونه) به لوی لوی شوی وي ٧د هغوئ غولانځې به د پيئو د زياتي په وجه غټې شوي وي ٨او د هغوئ تشي به د ښه خوراك څكاك په وجه راختلي وي

حل اللغات:- ⑧الْعَشِيّ: وريغ، ⑨سَارِحَتُهُمْ: څريدونکي څاروی، ⑩ذُرَى: داجمع ده او ذِري مفرد ذروة دې دَ قب اوچتې حصې ته وائي ⑪أَسْبَغَهُ: کامل، مکمل به وی، ⑫ضُرُوعًا: دَ ضرع جمع ده غولانځې ته وائي ⑬خَوَاصِرَ: دَخاصرة جمع ده تشي ته وائي،

> ١ثُمَّ يَأْتِي الْقَوْمَ فَيَدْعُوهُمْ، ٢فَيَرُدُّونَ عَلَيْهِ قَوْلَهُ، ٣فَيَنْصَرِفُ عَنْهُمْ، ٤فَيُصْبِحُونَ مُمْحِلِينَ لَيْسَ بِأَيْدِيهِمْ شَيْءٌ مِنْ أَمْوَالِهِمْ، ٥وَيَمُرُّ بِالْخَرِبَةِ فَيَقُولُ لَهَا: أَخْرِجِي كُنُوزَكِ، ٦فَتَتْبَعُهُ كُنُوزُهَا كَيَعَاسِيبِ النَّحْلِ، ٧ثُمَّ يَدْعُو رَجُلًا مُمْتَلِئًا شَبَابًا، ٨فَيَضْرِبُهُ بِالسَّيْفِ فَيَقْطَعُهُ جَزْلَتَيْنِ رَمْيَةَ الْغَرَضِ، ٩ثُمَّ يَدْعُوهُ؛ فَيُقْبِلُ وَيَتَهَلَّلُ وَجْهُهُ يَضْحَكُ،

ترجمه: ١بيا دي نه وروسته به دجال يو بل قوم ته ورشي او هغوئ ته به خپل دعوت ورکړي (يعنی خپلې خدايي طرف ته به يې راوبلي او ورته به وايي چې ما خپل پروردګار تسليم کړي) ٢ليکن د هغه قوم خلق به د هغه دعوت رد کړي د هغه خبره به قبوله نه کړي او په هغه باندې به د ايمان راوړلو نه انکار وکړي ٣نو هغوئ نه به لاړ شي (يعنی الله ﷻ به هغه د هغه قوم د طرف نه وګرځوي) ٤بيا به د هغه قوم خلق د قحط اووچ کالی ښکار شي ددې پورې چې هغوئ به د مال واسباب نه بالکل خالي لاس پاتې شي ٥دې نه وروسته به دجال يو ويرانه باندې تير شي او هغه ته به حکم وکړي چې خپلې خزانې راوباسي ٦نو هغه ويرانه به د دجال د حکم مطابق خپلې خزانې راوباسي او هغه خزانې به داسې هغه پسې پسې وي څرنګه چې د عسلو (شهد) د مچو سردار وي ٧بيا به دجال يو سړی چې د ځلميتوب په عمر کې به وي (يعنی ډير قوي او توانا به وي) ځان طرف ته راوبلي ٨او په دې خبره غصه کيدو سره (چې هغه د هغه د الوهيت (خدايي) نه انکار وکړي يا محض خپل طاقت او قدرت ښکاره کولو او د خپل غير معمولي کارنامو ښودلو د پاره) په هغه به د توري داسې ګذار وکړي چې هغه به دوه ټکړې شي څرنګه چې تير په نښه ويشتل کيږي (يعنی د هغه د جسم هغه دواړي ټکړې به د يو بل نه دومره فاصله باندې وغورځيږي څومره فاصله چې د تير چلونکي او د هغه د نښې په منځ کې وي او بعضې حضراتو دا معنی بيان کړي ده چې د هغه د توري ګذار به د هغه جسم ته داسې ورسي څرنګه چې تير خپلې نښې ته رسيږي) ٩دې نه وروسته به دجال د هغه ځلمي د جسم هغه ټکړې راوبلي نو هغه به ژوندي کيدو سره دجال طرف ته متوجه شي او هغه وخت به د هغه مخ ډير خوشحاله او روښانه او خلاص به وي.

حل اللغات: - (۱۴) الْخَرِبَةِ: شاړه او خراب ځای، (۱۵) يَعَاسِيبِ: دَ يعسوب جمع ده دَ شاتو دَ مچو بادشاه ته يعسوب وائی (۱۶) جَزْلَتَيْنِ: دَ جزلة تثنيه ده دوه ټکړې مراد دی (۱۷) رَمْيَةَ الْغَرَضِ: ويشتل د نښې، لري والي ته اشاره ده،

[۱] فَبَيْنَمَا هُوَ كَذٰلِكَ إِذْ بَعَثَ اللّٰهُ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ، [۲] فَيَنْزِلُ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ، شَرْقِيَّ دِمَشْقَ بَيْنَ مَهْرُودَتَيْنِ، وَاضِعًا كَفَّيْهِ عَلَى أَجْنِحَةِ مَلَكَيْنِ، [۳] إِذَا طَأْطَأَ رَأْسَهُ قَطَرَ، وَإِذَا رَفَعَهُ تَحَدَّرَ مِنْهُ مِثْلُ جُمَانٍ كَاللُّؤْلُؤِ. [۴] فَلَا يَحِلُّ لِكَافِرٍ أَنْ يَجِدَ مِنْ رِيحِ نَفَسِهِ إِلَّا مَاتَ، [۵] وَنَفَسُهُ يَنْتَهِي حَيْثُ يَنْتَهِي طَرْفُهُ، [۶] فَيَطْلُبُهُ حَتَّى يُدْرِكَهُ بِبَابِ لُدٍّ فَيَقْتُلَهُ، [۷] ثُمَّ يَأْتِي عِيسَى قَوْمٌ قَدْ عَصَمَهُمُ اللّٰهُ مِنْهُ، [۸] فَيَمْسَحُ عَنْ وُجُوهِهِمْ، [۹] وَيُحَدِّثُهُمْ بِدَرَجَاتِهِمْ فِي الْجَنَّةِ،

ترجمه: [۱] غرض دا چې دجال به دا قسم مکاریو او ګمراه کن کارونو کې مشغول وی، چې اچانک به الله ﷻ مسیح ابن مریم نازل کړي [۲] چې د دمشق د شرقي جانب سپینې منارې باندې به راکوزشي هغه وخت به حضرت عیسیٰ علیه السلام د زیړ رنګ دوه کپړې اغوستي وي او خپل دواړه لاسونه د دوو فرشتو په وزرو ایښودلو سره دآسمان نه به نازل شي [۳] هغه چې کوم وخت خپل سرخکته کړي نو خوله به تری نه څڅیږي او هرکله چې سر پورته کړي نو د هغه د سر نه به د چاندي د دانو په شان قطرې څڅیږي چې د ملغلرو په شان به وي [۴] دا به ناممکن وي چې یو کافر ته د حضرت عیسیٰ علیه السلام د ساه هوا ورشي او هغه مړنشي (یعنی کوم کافر ته چې د هغه د ساه هوا ورشي هغه به مړ شي) [۵] او د هغه د ساه هوا به د نظرترحده پورې رسیږي [۶] بیا به حضرت عیسیٰ علیه السلام دجال تلاش کوي ددې پورې چې هغه به باب لُد باندې بیا مومي او قتل به یې کړي [۷] دې نه وروسته به حضرت عیسیٰ علیه السلام ته هغه خلق راشي کوم چې الله ﷻ به د دجال د مکر وفریب او فتنې نه محفوظ ساتلي وي [۸] نو حضرت عیسیٰ علیه السلام به د هغوئ د مخونو نه دوړه صفا کړي [۹] او هغوئ ته به د هغوئ د درجاتو او مراتبو بشارت خوشخبري ورکړي چې هغوئ به یې په جنت کې

حل اللغات: - (۱۸) مَهْرُودَتَيْنِ: زیړ او زعفرانی رنګ دوه کپړې، (۱۹) طَأْطَأَ: سرښکته کړی، (۲۰) قَطَرَ: راوبه څاسی. (۲۱) تَحَدَّرَ: څڅیږی به، (۲۲) جُمَانٍ: دانې (دملغلرو)،

[۱] فَبَيْنَمَا هُوَ كَذٰلِكَ إِذْ أَوْحَى اللّٰهُ إِلَى عِيسَى أَنِّي قَدْ أَخْرَجْتُ عِبَادًا لِي لَا يَدَانِ لِأَحَدٍ بِقِتَالِهِمْ، [۲] فَحَرِّزْ عِبَادِي إِلَى الطُّورِ، [۳] وَيَبْعَثُ اللّٰهُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ ﴿وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ﴾ [الأنبياء: ۹۶]، [۴] فَيَمُرُّ أَوَائِلُهُمْ عَلَى بُحَيْرَةِ طَبَرِيَّةَ، [۵] فَيَشْرَبُونَ مَا فِيهَا، [۶] وَيَمُرُّ آخِرُهُمْ فَيَقُولُ: لَقَدْ كَانَ بِهٰذِهِ مَرَّةً مَاءٌ، [۷] ثُمَّ يَسِيرُونَ حَتَّى يَنْتَهُوا إِلَى جَبَلِ الْخَمَرِ، وَهُوَ جَبَلُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ، [۸] فَيَقُولُونَ لَقَدْ قَتَلْنَا مَنْ فِي الْأَرْضِ، هَلُمَّ فَلْنَقْتُلْ مَنْ فِي السَّمَاءِ، [۹] فَيَرْمُونَ بِنُشَّابِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ، فَيَرُدُّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ نُشَّابَهُمْ مَخْضُوبَةً دَمًا،

ترجمه: [۱] بیا مومي حضرت عیسیٰ علیه السلام به په دي حالت کې وي چې اچانک د الله ﷻ د طرف نه به هغه ته دا وحي راشي چې ماخپل دیربندګان داسې پیدا کړي دي چې هغوئ سره د جنګ کولو قدرت او طاقت هیڅوک نه لري [۲] نو ته زما بندګان جمع کولو سره کوه

طور طرف ته بوځه او د هغوئ حفاظت کوي [۳] بیا به الله ﷻ یاجوج وماجوج پیدا کړي چې هره اوچته زمکه باندې ټوپ وهلو سره به راکوزیږي او منډې به وهي [۴] اد هغوئ تعداد به دومره زیات وي] چې د هغوئ مخکنۍ جماعت بُحَیره طبریه باندې تیریږي نو د هغه تولي اوبه به اوځکي [۵] بیا چې هغه جماعت نه وروسته راتلونکی جماعت هلته تیریږي نو بحیره طبریه خالي لیدو سره به وایي چې په دي کې خو یو وخت اوبه وي [۶] دي نه وروسته به یاجوج رامخکي شي ددي پورې چې جبل خمرته به ورسیږي چې د بیت المقدس یو غر دي [۷] او ظلم وقتل او غارت به کوي اذیت رساني او خلق نیولو او قتلولو کې به مشغول شي] او بیابه وایي چې مونږ زمکي والا ختم کړه درځي چې د آسمان والا هم خاتمه وکړي [۸] نو هغوئ به آسمان طرف ته خپلي نیزي ولي [۹] او الله ﷻ به دهغوئ نیزي په وینو ککړي واپس را ایله کړي [چې هغوئ دي ګمان کې پراته اوسي چې زمونږ نیزي واقعتاً د آسمان والا کار تمولولو سره واپس راغلي دي ګویا د الله ﷻ د طرف نه به هغوئ ته ډیر (مهلت) ورکول شي او داهم احتمال دی چې هغه نیزي په فضاء کې مارغانوته ولګیږي او د هغوئ د ویني نه ککړ کیدو سره واپس را ارتاؤ شي نو په دي کې دي طرف ته اشاره ده چې د یاجوج ماجوج فتنه به دزمکي پورې محدود نه وي بلکه د زمکي نه پورته به هم خوریږي]

حل اللغات:- ⑫ بُحَیرَۃ: په شام کښې دَ یونهر بلکه دریاب نوم دي. ⑬ طَبَرِیَّة: په شام کښې دَ یوځائی نوم دي. ⑭ نَفِیه: ساه. ⑮ لَایَدَانِ: طاقت به نه لري، یعنی دَدوی مقابله هیڅوك نه شی کولې. ⑯ حَرِّز: بوځه. ⑰ حَدَب: غونډئ، اوچت ځائ. ⑱ نُشَّاب: غشی. ⑲ مَخْضُوبَةً: لړلي شوي، (ککړ په وینو).

[۱] وَيُحْصَرُ نَبِيُّ اللهِ وَأَصْحَابُهُ [۲] حَتَّى يَكُونَ رَأْسُ الثَّوْرِ لِأَحَدِهِمْ خَيْرًا مِنْ مِائَةِ دِينَارٍ لِأَحَدِكُمُ الْيَوْمَ، [۳] فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ، [۴] فَيُرْسِلُ اللهُ عَلَيْهِمُ النَّغَفَ فِي رِقَابِهِمْ [۵] فَيُصْبِحُونَ فَرْسَى كَمَوْتِ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ،

ترجمه: [۱] په دي موده کې به د الله نبي او د هغه ملګری [یعنی حضرت عیسی علیه السلام او د هغه وخت مومنان کوه طور باندې انتظاربا شی او په هغوئ به د اسباب معیشت تنګي او قلت دي درجي ته ورسیږي] [۲] چې هغوئ د پاره به د غوایي سر ستاسو د نن دسلو دینارو نه ښه وي [۳] (هرکله چې داحالت شي نو) د الله ﷻ نبي حضرت عیسی علیه السلام او د هغه ملګري به [د یاجوج وماجوج هلاکت د پاره] دعا او زاری کوي [۴] نو الله ﷻ به د هغوئ څټونو کې د چنجي پیدا کیدو ناجوري راواستوي [۵] چې په هغه سره به ټول په یووار مره شي څرنګه چې یوسړی مړ کیږي [یعنی د چنجي د ناجوری په صورت کې په هغوئ به د الله قهر داسې نازل شي چې ټول به په یوه وخت هلاك شي]

حل اللغات:- ⑪ الثَّوْر: غوئي. ⑫ النَّغَف: داسې دانه چه چینجی به پکښې اوشی. ⑬ فَرْسَى: دَ فریسة جمع ده دَ ازمری ښکارته وائی دلته مقتولین مراد دی چه په یوځل به مړه شی.

۶ ثُمَّ يَهْبِطُ نَبِيُّ اللَّهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى الْأَرْضِ، فَلَا يَجِدُونَ فِي الْأَرْضِ مَوْضِعَ شِبْرٍ إِلَّا مَلَأَهُ زَهَمُهُمْ وَنَتْنُهُمْ، ۷ فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللَّهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى اللَّهِ، ۸ فَيُرْسِلُ اللَّهُ طَيْرًا كَأَعْنَاقِ الْبُخْتِ، فَتَحْمِلُهُمْ فَتَطْرَحُهُمْ حَيْثُ شَاءَ اللَّهُ».

ترجمه: ۶ د الله نبي حضرت عیسی علیه السلام او د هغه ملګري دي خبري نه اګاه کیدو سره دغره نه به زمکي ته راکوزشي او هغوئ به د زمکي یوه لویشت ځای هم داسې پیدا نه کړي چې د یاجوج وماجوج د وازګو او بدبویي نه خالي وي ۷ د دې مصیبت دفع کولو د پاره حضرت عیسی او د هغه ملګري به د الله تعالی نه دعا وغواړي ۸ بیا به الله تعالی د بختي اوښانو د څټ په شان اوږده اوږده څتونو والا داسې مارغان راولیږي چې د یاجوج ماجوج مړي اوچتولو سره یي چیرته چې د الله امر وي هلته یي غورځوي

حل اللغات: - ⑬ يَهْبِطُ: راکوز به شی، ⑭ زَهَمٌ: وازګې، غوړوالې، ⑮ نَتْنٌ: بد بوئي، ګندګي ⑯ يَرْغَبُ: خوښوی به، ⑰ أَعْنَاقِ الْبُخْتِ: څتونه د بختي اوښانو، ⑱ تَطْرَحُهُمْ: غورځوی به هغوی

تسهیلات:

قوله: وَإِنْ يَخْرُجْ وَلَسْتُ فِيكُمْ فَامْرُؤٌ حَجِيجُ نَفْسِهِ:

په هر امتي د دجال څخه د خپل ځان د حفاظت ذمه واري: یعنی که زه موجودنه ووم نو هر سړي دې د خپل ایمان طرف نه پخپله دفاع کوی. ددې حفاظت یوه طریقه نبی علیه السلام د جمعې په ورځ د سورة کهف اولنی لسو آیاتونو لوستل خودلی دی اودویمه طریقه ئې په خپلو دعاګانو کښې د دجال د فتنې څخه د حفاظت دعا شامله کړې ده.

قوله: إِنَّهُ خَارِجٌ خَلَّةً بَيْنَ الشَّامِ وَالْعِرَاقِ:

د خلة مصداق: دجال به د شام اوعراق په مینځ کښې یوه جزیره کښې بند دې کوم ته چه جزیره برمودا وئیلې کیدې شی د هغه ځائی نه وتلو سره به هغه لار کښې ښکاره شی.

قوله: فَيَضْرِبُهُ بِالسَّيْفِ فَيَقْطَعُهُ جَزْلَتَيْنِ رَمْيَةَ الْغَرَضِ

د مذکوره جملې مفهوم: یعنی دا سړې به دوه ټکړې شی اودواړه ټکړې به ئې دومره لرې پریوځی څومره چه د غشی نښه لرې وی. په دې کښې د دواړو ټکړو فاصله خودلې شوې ده کیدې شی چه دا سړې حضرت خضر علیه السلام وی.

قوله: فَيَطْلُبُهُ حَتَّى يُدْرِكَهُ بِبَابِ لُدٍّ فَيَقْتُلُهُ:

په باب لد مقام کښې د دجال راګیریدل: د حضرت عیسی علیه السلام نظر چه چرته پریوځی د هغه ځائی پورې به د هغه ساه رسی اوترکومې پورې چه ئې ساه ځی کافران به پخپله مړه کیږی. مګر الله تعالی به دجال ذلیله کوی نود حضرت عیسی علیه السلام په لاس به ذلیل کیدو سره به د چاړې په وار سره مردارشی. دجال به د تختیدو پوره کوشش کوی مګر باب لد

مقام کښې به ذليله شي او د حضرت عيسٰى عليه السلام په لاس کښې راشي.

د مقام لد محل وقوع: نن صبا چه چرته اسرائيل واقع دی هغه علاقه د فلسطين ده. اسرائيل کښې تل ابيب يو مقام دې چه د اسرائيلي حکومت صدر مقام دې. تل ابيب سره نيزدې باب لد يو ځائی دې چرته چه اسرائيل يو مضبوط ائيرپورټ جوړ کړې دې د عوامو د استعمال د پاره دغه ائيرپورټ نه دې بلکه صرف د دجال محفوظ ځائی ته د رسولو د پاره جوړ کړې شوې دې. په دغه ائيرپورټ باندې يو جهاز ولاړ دې چه صرف د دجال د سوريدو د پاره ساتلې شوې دې.

په دې حديث کښې پيشنګوئی ده چه باب لد مقام کښې به دجال وژلې شي په دې وجه اسرائيلي حکومت په باب لد کښې د دجال د بچ کيدو د پاره سامان جوړ کړې دې چه خپل خدائی د دغه مشکل نه راؤباسی مګر داسې به نه کيږی بلکه دجال به هم په باب لد کښې قتل کيږی او بيا به په يهوديانو باندې د هولوکاسټ دور راځی. (کذا في توضيحات شرح مشکاة)

قوله: طَبَرِيَّةَ:

د بحيره طبريه تعارف: چرته چه دا اوبه جمع دی. د لسوميلو پورې د دې وړوکی سمندر اوږدوالې دې ياجوج ماجوج به دا اوڅکی اوچ به ئی کړی بيا به وائی چه اوريدلی مو دی چه دلته هم کله اوبه وې.

[١] وَفِي رِوَايَةٍ: «تَطْرَحُهُمْ بِالنَّهْبَلِ، [٢] وَيَسْتَوْقِدُ الْمُسْلِمُونَ مِنْ قِسِيِّهِمْ وَنُشَّابِهِمْ وَجِعَابِهِمْ سَبْعَ سِنِينَ، [٣] ثُمَّ يُرْسِلُ اللّٰهُ مَطَرًا لَا يَكُنُّ بَيْتُ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ؛ فَيَغْسِلُ الْأَرْضَ حَتّٰى يَتْرُكَهَا كَالزَّلَفَةِ، [٤] ثُمَّ يُقَالُ لِلْأَرْضِ: أَنْبِتِي ثَمَرَتَكِ وَرُدِّي بَرَكَتَكِ، [٥] فَيَوْمَئِذٍ تَأْكُلُ الْعِصَابَةُ مِنَ الرُّمَّانَةِ وَيَسْتَظِلُّونَ بِقِحْفِهَا وَيُبَارَكُ فِي الرِّسْلِ، [٦] حَتّٰى إِنَّ اللِّقْحَةَ مِنَ الْإِبِلِ لَتَكْفِي الْفِئَامَ مِنَ النَّاسِ، [٧] وَاللِّقْحَةَ مِنَ الْبَقَرِ لَتَكْفِي الْقَبِيلَةَ مِنَ النَّاسِ، [٨] وَاللِّقْحَةَ مِنَ الْغَنَمِ لَتَكْفِي الْفَخِذَ مِنَ النَّاسِ، [٩] فَبَيْنَمَا هُمْ كَذٰلِكَ إِذْ بَعَثَ اللّٰهُ رِيحًا طَيِّبَةً فَتَأْخُذُهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ، [١٠] فَتَقْبِضُ رُوحَ كُلِّ مُؤْمِنٍ وَمُسْلِمٍ، وَيَبْقٰى شِرَارُ النَّاسِ يَتَهَارَجُونَ فِيهَا تَهَارُجَ الْحُمُرِ، [١١] فَعَلَيْهِمْ تَقُومُ السَّاعَةُ». [١٢] رَوَاهُ مُسْلِمٌ إِلَّا الرِّوَايَةَ الثَّانِيَةَ وَهِيَ قَوْلُهُ: "تَطْرَحُهُمْ بِالنَّهْبَلِ" إِلٰى قَوْلِهِ: "سَبْعَ سِنِينَ". رَوَاهَا التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او په يوه روايت کښې دادي چې هغه مارغان به د هغوئ د مړو جسدونه دغرونو په سرونو خويدونکی ځايونو کې وغورځوي [٢] او مسلمانان به د ياجوج وماجوج په ليندو نيزو او ترکشونو اووه کاله پورې اوربلوي [٣] بيا به الله تعالىٰ يو زور ور باران وکړي چې هغه نه به هيڅ مکان که هغه د خاورې وي او که د کانړو او که د وړې وي بچ نه کړي او هغه باران به زمکه وينځلو سره د شيشې په شان صفا کړي [٤] بيا به زمکې ته حکم وشي چې خپلې ميوې يعنی خپل پيداوار را اوباسه او خپل برکت واپس پيدا کړه [٥] نو هغه وخت به د زمکې پيداوار دومره بابرکته او دومره ډير شي چې د لس نه واخله

څلوېښت سړو پورې پوره جماعت به په يو آنار مړيږي او د هغه انار د پوستكي نه به خلق سايه (سورې) حاصلوي او په پيښو كې به بركت واچول شي [يعنى د اوښو او بزو په غولانځو كې به پئي ډيري زياتي شي] [٦] د دي پورې چې پئي وركونكي يوه اوښه به يو لوى جماعت د پاره كافي وي [٧] پئي وركونكي يوه غوابه د خلقو د يوې قبيلي د پاره كافي وي [٨] او پئي وركونكي يوه بزه (چيلۍ) به د سړو يو وړوكى جماعت د پاره كافي وي [٩] بهرحال خلق به داسې خوشحاله او د آمن او ارام ژوند تيروي چې الله ﷻ به يوه خوشبوداره هوا راوليږي چې د هغوئ د ترخ لاندي حصه به راونيسي [يعنى د هغه هوا په وجه به د] هغوئ ترخونو كې يودرد پيدا شي [١٠] او بيا هغه هوا به د هرمؤمن او هرمسلمان روح قبض كړي او صرف بدكار او شرير خلق به په دنيا كې پاتې شي چې په خپل منځ كې به د خرو په شان ګډوډ شي [١١] او په هغوئ به قيامت قائم شي. [١٢] دا پوره روايت مسلم نقل كړى دى علاوه د دويم روايت د دي الفاظو نه چې تطرحهم بالنهبل تا سبع سنين پورې چې دا ترمذي نقل كړى دى .

حل اللغات:- ① تَطْرَحُهُمْ: اوبه غورځوى، ② النَّهْبَل: ديوځائې نوم دې ③ يَسْتَوْقِدُ: اور به بلوى. ④ قِيِّ: لينديې، ⑤ نُشَّابِ: غشى، ⑥ جِعَابِ: دَ جعب جمع ده دَ غشو دَ كيخودو ځائى. تير كش. ⑦ يَكُنُّ: دَ كن نه دې اكنان دَ دې جمع ده، يعنى نه به بچ كيږى، نه به پاتې كيږى. ⑧ مَدَرِ: د لوټو كچه كوروه، ⑨ وَبَرِ: وړئ ، خيمه، ⑩ الزَّلَفَةِ: تالاب، حوض، ⑪ أَنْبِتِي: رازرغون كړه، ⑫ رُدِّي: راواپس كړه، ⑬ الْعِصَابَةُ: جماعت، ډله، ⑭ الرُّمَّانَةِ: انار، ⑮ قِحْفِهَا: پوستكې د انار، ⑯ الرِّسْل: پئ، ⑰ اللِّقْحَةَ: پئ وركونكې اوښه، ⑱ الْفِئَامَ: لوئې جماعت، ⑲ الْفَخِذَ: وړوكې جماعت، ⑳ آبَاطِ: د ابط جمع ده ترخ ته وائى، ㉑ يَتَهَارَجُونَ: ګډه وډه بدفعلى كول، د خرو په شان ښكاره زنا كول.

تسهيلات:

قوله: سَبْعَ سِنِينَ:

دجديد دور څخه قديم دورته منتقل كيدل؛ دَ اووه كالوپورې به په مال غنيمت كښې دَحاصل شوې وسلې لرګى دَ سوزولو په كارراځى. دَدې لفظ نه معلوميږى چه راتلونكى وخت كښې يو داسې دور هم راتلې شى په كوم كښې چه به جديد تيكنالوجى ختمه شى اودَ جنګونو نقشه به يو ځل بيا دَ جديد نه دَ قديم دور طرف ته راؤګرځى.

[٥٤٧٦] د دجال سره د يو مؤمن مقابله

٥٤٧٦-(¹)[١٣] [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَخْرُجُ الدَّجَّالُ، [٣] فَيَتَوَجَّهُ قِبَلَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، فَيَلْقَاهُ الْمَسَالِحُ مَسَالِحُ الدَّجَّالِ [٤] فَيَقُولُونَ لَهُ: أَيْنَ

¹) اخرجه مسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب فى صفة الدجال، وتحريم المدينة عليه وقتله المؤمن وإحيائه (رقم-١١٣ - (٢٩٣٨)

تَعْمِدُ؟ فَيَقُولُ: أَعْمِدُ إِلَى هَذَا الَّذِي خَرَجَ، [۵] قَالَ: فَيَقُولُونَ لَهُ: أَوَمَا تُؤْمِنُ بِرَبِّنَا؟ [۶] فَيَقُولُ: مَا بِرَبِّنَا خَفَاءٌ. [۷] فَيَقُولُونَ: اقْتُلُوهُ. فَيَقُولُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: أَلَيْسَ قَدْ نَهَاكُمْ رَبُّكُمْ أَنْ تَقْتُلُوا أَحَدًا دُونَهُ". [۸] قَالَ: فَيَنْطَلِقُونَ بِهِ إِلَى الدَّجَّالِ، فَإِذَا رَآهُ الْمُؤْمِنُ

ترجمه: [۱] او ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل هركله چې دجال راووځي [۳] نو په مسلمانانو كې به يو سړى د دجال د شر دفع كولو د پاره هغه طرف ته روان شي (په لار كې به) د هغه سړي سره څه مسلح خلق يو ځاي شي چې د دجال محافظين به وي [۴] دا خلق به د هغه مسلمان نه پوښتنه كوي چې چيرته ځې هغه به ورته وايي زه د هغه سړي طرف ته ځم چې فتنه او فساد خورولو د پاره راوتلى دى (يعنى دجال).
[۵] حضور ﷺ وفرمايل په دي اوريدو سره به د دجال محافظين هغه سړي ته وايي ته زمونږ په رب (دجال) باندې ايمان ولي نه راوړې، [۶] هغه سړى به جواب وركړي، زمونږ د پروردګار صفات د هيڅا نه پټ نه دي [۷] د دجال سړى به په دي اوريدو سره په خپلو كې وايي چې دا سړى قتل كړي، (چې زمونږ رب باندې ايمان راوړلو ته تيار نه دى) ليكن بعضې به په خپلو كې بيا دا وايي چې آيا زمونږ رب دجال مونږ ددي نه منع كړي نه يو چې مونږ څوك د هغه د حكم نه بغير دى نه وژنو، [۸] آخر هغه خلق به هغه مسلمان سړى دجال ته بوځي او هغه به د علاماتو په ذريعه هغه وپيژني

[۱] قَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ! هَذَا الدَّجَّالُ الَّذِي ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] قَالَ: "فَيَأْمُرُ الدَّجَّالُ بِهِ فَيُشَبَّحُ [۳] فَيَقُولُ: خُذُوهُ وَشُجُّوهُ، فَيُوسَعُ ظَهْرُهُ وَبَطْنُهُ ضَرْبًا" [۴] قَالَ: فَيَقُولُ: "أَمَا تُؤْمِنُ بِي؟" [۵] قَالَ: "فَيَقُولُ: أَنْتَ الْمَسِيحُ الْكَذَّابُ". [۶] قَالَ: "فَيُؤْمَرُ بِهِ فَيُؤْشَرُ بِالْمِئْشَارِ مِنْ مَفْرِقِهِ حَتَّى يُفَرَّقَ بَيْنَ رِجْلَيْهِ". [۷] قَالَ: ثُمَّ يَمْشِي الدَّجَّالُ بَيْنَ الْقِطْعَتَيْنِ، [۸] ثُمَّ يَقُولُ لَهُ: قُمْ، فَيَسْتَوِي قَائِمًا، ثُمَّ يَقُولُ لَهُ: أَتُؤْمِنُ بِي؟

ترجمه: [۱] نو وايي به چې خلقو! پوهه شئ داهغه دجال دى چې د هغه ذكر رسول الله ﷺ د خپلو احاديثو په ذريعه فرمايلى وو چې فلانى فلانى علامو سره به په آخره زمانه كې راوځي حضور ﷺ وفرمايل [۲] د دجال به د هغه سړي خبري اوريدو سره سخت غصه شي او هغه ته به د پريوتلو حكم وكى او بعضې حضراتو داترجمه كړي ده چې په زمكه به پرمخي پروتي حكم وركړي (څرنګه چې مجرم سزا وركولو د پاره پرمخي اچول كيږى) نو هغه سړى به سم څملول كيږي [۳] بيابه دجال د تاكيد او تشديد دمخه وايي چې دى ونيسي او وشلوئ نو هغه سړى به په خيټه دومره ګذارونه ووهل شي چې د هغه شا او خيټه به پلنه شي او خوره شي [۴] حضور ﷺ وفرمايل دي نه وروسته به دجال ورته وايي آيا ته اوس هم په ما ايمان نه راوړې [۵] هغه سړى به ورته وايي چې هيڅ كله نه ته دروغجن مسيح يي [۶] بيابه د دجال د طرف نه د هغه سړي د څيرولو او ټكړي ټكړي كولو حكم وشي او د هغه د حكم مطابق به په هغه آره سره د سر د طرف نه اوشلول شي [۷] د دي پورې

چې د هغه د دوارو پښو ترمنځه به هغه دوه ټکړې شي حضور ﷺ وفرمايل دجال به خپله کارنامه باندې فخر کولو سره د هغه د دوارو ټوټو په منځ کې به ګرځي راګرځي ⑧بيا به ورته وايي ودرېږه نو هغه مسلمان سړی به ژوندي کيدو سره بالکل سيده اودرېږي بيا به ورته دجال وايي ته اوس په ما ايمان راوړه

① يَقُولُ: مَا ازْدَدْتُ إِلَّا بَصِيرَةً ". ② قَالَ: " ثُمَّ يَقُولُ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّهُ لَا يَفْعَلُ بَعْدِي بِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ ". ③ قَالَ: فَيَأْخُذُهُ الدَّجَّالُ لِيَذْبَحَهُ، فَيُجْعَلُ مَا بَيْنَ رَقَبَتِهِ إِلَى تَرْقُوَتِهِ نُحَاسًا، فَلَا يَسْتَطِيعُ إِلَيْهِ سَبِيلًا ". ④ قَالَ: " فَيَأْخُذُ بِيَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَيَقْذِفُ بِهِ، فَيَحْسِبُ النَّاسُ أَنَّمَا قَذَفَهُ إِلَى النَّارِ، وَإِنَّمَا أُلْقِيَ فِي الْجَنَّةِ ". ⑤ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَذَا أَعْظَمُ النَّاسِ شَهَادَةً عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①هغه سړی به جواب ورکړي هيڅ کله نه اوس خو خما يقين او بصيرت نورهم زيات او پوخ شو يعنی تاچي مخکې څرنګه زه قتل کړم او بيا دي دوباره ژوندی کړم په دي ماته کامل يقين وشو چې ته دروغجن دجال يې ②حضور ﷺ وفرمايل دي نه وروسته به هغه مسلمان سړي هلته موجود خلق مخاطب کولو سره ورته وايي اې خلقو! نبه پوهه شئ دی دجال چې څه ما سره کړی دی يعنی مخکې يې زه قتل کړم بيايې دوباره راژوندی کړم اوس به ديوبل سړي سره داسې نشي کولی ③بيا به دجال هغه سړی نيولو سره ذبح کول وغواړي خود اوږی هډوکي پورې د هغه غاړه به د تانبې جوړ شي ايعنی د هغه پوره غاړه به د تانبي په شان سخت او کوتلی (تهوس) شي نو توره وغيره به باندې اثر نشي کولی شرح السنه کې د معمر رحمه الله داقول دی ماته چې کوم روايت رارسيدلی دی بعضې کې دادی چې د هغه سړي غاړې باندې به د تانبې خښته کيښودل شي ا چې د هغه په وجه به هغه قتل نشي ④دي نه وروسته به د هغه سړي دواړه لاسونه دواړې پښې نيولو سره هغه به پورته کړي او په خپل اور کې به يې واچوي نو خلق به دا خيال کوي چې هغه په اور کې غورځول شوي دي ليکن په حقيقت کې هغه به جنت کې غورځول شوی وي ⑤دي بيانولو نه وروسته حضور ﷺ وفرمايل داسړی به د الله رب العالمين په نز د شهادت د اعتبار نه د ډيرې لويې درجې حامل وي

حل اللغات: - ①مَسَالِحُ: دَدې مفرد مسلحة دې محافظ ګارډ او څوکيدارته وائی ②أَيْنَ تَعْمِدُ؟: دکوم ځائ قصد دې کړې دې، يعنی چرته روان ئې؟، ③خَفَاءٌ: پټ. ④فَيُشَبَّحُ: پرمخې به ئې راغورزوی. شا لګولې سملولوته هم وائی. ⑤شُجُّوهُ: دَ هغه سر نبه زخمی کړئ ⑥فَيُؤْشَرُ: اوبه شلولې شی، پرې به کړې شی. ⑦الْمِنْشَارُ: آره، ⑧مَفْرِقِهِ: د سر منځ چرته چې په ويښتو کښې لاره ويستلې شی، ⑨الْقِطْعَتَيْنِ: دوه ټکرې، ⑩تَرْقُوَتِهِ: دَ مرئی لاندې هډوکې ، ترترو ⑪نُحَاسًا: تانبه، اوسپنه

تسهيلات:

قوله: فَيَتَوَجَّهُ قِبَلَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ:

د رجل په مصداق کښې دوه اقوال: ① عام شارحین وائی چه دا رجل به حضرت خضر علیه السلام وی. دې نه معلومه شوه چه هغه تر اوسه پورې ژوندې دې دَعام امت هم دغه خیال دې.
② بعضې شارحین فرمائی چې ددې څخه د حضرت خضر علیه السلام څخه علاوه بل یو کامل مؤمن مراد دې

قوله: إِنَّهُ لَا يَفْعَلُ بَعْدِي بِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ:
دَدجال رجل مؤمن لره د دوباره قتلولو څخه عاجزه کیدل: یعنی دجال ته به دَ استدراج په توګه چه کوم مهلت ورکړې شوې وو اوس هغه ختم شو. اوس به هغه په کرشمې سره دې نه شوك قتلولې شی اونه به ئی ژوندې کولې شی.

[۵۴۷۷] د دجال د فتنې نه به خلق غرونو ته وتښتي

(۱۳)[۱] ۱ وَعَنْ أُمِّ شَرِيكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ۲ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«لَيَفِرَّنَّ النَّاسُ مِنَ الدَّجَّالِ حَتَّى يَلْحَقُوا بِالْجِبَالِ". ۳ قَالَتْ أُمُّ شَرِيكٍ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! فَأَيْنَ الْعَرَبُ يَوْمَئِذٍ؟ ۴ قَالَ: "هُمْ قَلِيلٌ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او بی بی ام شریك رضی الله عنها وایی ۲ چی رسول الله ﷺ وفرمایل خلق به د دجال د مکر وفریب او فتنه وفساد د خوف نه تښتیدو سره غرونو کې پټ شي ۳ ام شریك رضی الله عنها وایی په دي اوریدو سره ماعرض وکړو یارسول الله په هغه ورځو کې به عرب کوم ځای وي ۴ حضور ﷺ وفرمایل په هغه ورځو کې به عرب ډیر کم وي او دجال سره د جهاد او مقابلي کولو طاقت او قدرت به نه لري.

تسهیلات:
قوله: قَالَتْ أُمُّ شَرِيكٍ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! فَأَيْنَ الْعَرَبُ يَوْمَئِذٍ:
دام شریک پیژندګلو: ام شریك دا سوال اوکړو چه دَعربو خلق دَچا کار چه صرف جهاد دې آیا هغوی به هغه وخت نه وی؟ "فأين" کښې فا دَ شرط محذوف جزا ده مطلب به دا شي چه کله دا حال وی نوعرب به چرته وی؟ ام شریك انصاری ده دَهغې تعلق دَ لدی بن غالب سره دې نو رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه وخت به عرب دومره لږ شان وی چه دَ جهاد قدرت به نه لری. دَدې نه معلومه شوه چه دَ جهاد دَپاره قدرت شرط دې.
قوله: لَيَفِرَّنَّ النَّاسُ مِنَ الدَّجَّالِ حَتَّى يَلْحَقُوا بِالْجِبَالِ
د حدیث مفهوم: چه کله دجال را اوځی نو نیکان خلق به غرونو ته لاړ شی او د خپل ایمان حفاظت به کوی چه هسې نه مونږ هم د دجال فتنه کښې راشو. او دام شریک دا سوال کول

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب فی بقیة من أحادیث الدجال (رقم-۱۲۵ - (۲۹۴۵)) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی فضل العرب (رقم-۳۹۳۰)

چه عرب به چرته وی ؟ ددې مطلب دادې چه عربو کښې الله ﷺ دنورو نه زیات دینی غیرت او ایمانی جذبه ایښودې ده دوی دهرې فتنې مقابله کوی. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ډیر لږ به وی او دوی کښې به د مقابلې طاقت نه وی.

[۵۴۷۸] یهودیان او د دجال تابعداری

۵۴۷۸-()[۱۵] ①وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②"«يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ يَهُودِ أَصْفَهَانَ سَبْعُونَ أَلْفًا، ③عَلَيْهِمُ الطَّيَالِسَةُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت انس د رسول الله ﷺ نه روایت کوي ②حضور ﷺ وفرمایل داصفهان اویا زره یهودیان به د دجال اطاعت او پیروي کوي ③چې د هغوئ په سرونو به طیلسان کپړې وي. (مسلم)

حل اللغات: - ① أَصْفَهَانَ: دَ ایران یولوئی ښاردې دلته به دجال دخدایئ دعوی کوی. ② الطَّيَالِسَةُ: دَ طلیسان جمع ده شین څادر ته وائی.

تسهیلات:

قوله: عَلَيْهِمُ الطَّيَالِسَةُ:

د طیلسان معنی: دا په اصل کښې تالیسان وو عربو طیلسان جوړ کړو دا دکپړې نوم دې او دا د څادر په شان وی. ددې څادر استعمال کښې هیڅ قباحت نشته دې. ځینې روایتونو کښې راځی چه حضرت انس ﷺ دا لباس نه خوښولو اوددې وجه دا وه چه دا د زیړ رنګ وو. (۴)

[۵۴۷۹] مدینې ته د دجال نه داخلیدل

۵۴۷۹-()[۱۶] ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " ②«يَأْتِي الدَّجَّالُ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ نِقَابَ الْمَدِينَةِ ③فَيَنْزِلُ بَعْضَ السِّبَاخِ الَّتِي تَلِي الْمَدِينَةَ ④فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ رَجُلٌ وَهُوَ خَيْرُ النَّاسِ، أَوْ مِنْ خِيَارِ النَّاسِ، ⑤فَيَقُولُ: أَشْهَدُ أَنَّكَ الدَّجَّالُ الَّذِي حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَدِيثَهُ،

ترجمه: ①او حضرت ابوسعید وایي رسول الله ﷺ وفرمایل ②دجال چې دنیا ته راشي [یعنی ښکاره شي] نو مدینې منورې طرف ته به هم رخ کړي چې په دې مقدس ښار کې داخل شي او فتنه وفساد وخوروي لیکن د مدینې په لار کې به د هغه داخلیدل ممنوع شي (یعنې الله ﷺ به د هغه ښار حفاظت وفرمایي او دجال به په هغه کې داخلیدو باندې

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب فی بقیة من أحادیث الدجال (رقم-۱۲۴ - (۲۹۴۴)) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب فتنة الدجال، وخروج عیسی ابن مریم، وخروج یأجوج، ومأجوج (رقم-۴۰۷۷)

(۲) اخرجه البخاری فی کتاب الفتن/باب: لا یدخل الدجال المدینة (رقم-۷۱۳۲) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الدجال لا یدخل المدینة (رقم-۲۲۴۲) واحمد فی المسند: ۳۲/۵

قادر نه شي، [۳] آخر هغه به د مديني ترخې زمکه کې حصار شي [۴] بيابه هغه ته يو سړی راشي چې د هغه زماني په بهترينو په خلقوکي به وي يا دايي وفرمايل چې د بهترينو خلقو د جملي نه به وي [۵] هغه سړی به دجال ته وايي چې زه شاهدی کوم چې ته هغه دجال يي چې د هغه خبر مونږ ته رسول الله ﷺ د هغه احوال او نښاني بيانولو په ذريعه راکړی دی

حل اللغات: - ① نِقَابُ: دروازه ② السِّبَاخ: دَ احددَ غرنه شاته يو شاړه او بنجر زمکې ته وائي

[۱] فَيَقُولُ الدَّجَّالُ: أَرَأَيْتُمْ إِنْ قَتَلْتُ هَذَا ثُمَّ أَحْيَيْتُهُ، [۲] هَلْ تَشُكُّونَ فِي الْأَمْرِ؟ فَيَقُولُونَ: لَا، [۳] فَيَقْتُلُهُ ثُمَّ يُحْيِيهِ، [۴] فَيَقُولُ: وَاللَّهِ مَا كُنْتُ فِيكَ أَشَدَّ بَصِيرَةً مِنِّي الْيَوْمَ، [۵] فَيُرِيدُ الدَّجَّالُ أَنْ يَقْتُلَهُ، فَلَا يُسَلَّطُ عَلَيْهِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] دجال په دي اوريدو سره خپل طرفدارو خلقوته به وايي وښايي که زه داسړی قتل کړم او بيا دوباره يي راژوندی کړم [۲] نو آيا بيابه هم تاسو څما دخدايي په باره کې شك شبهه کوئ هغه خلق به جواب ورکړي بيا به مونږ ته هيڅ شك شبهه نه وي [۳] نو دجال به هغه سړی قتل کړي او بيابه يي راژوندی کړي او هغه سوال به کوي کوم چې په تير حديث کې تير شو [۴] بيابه هغه سړی وايي قسم په الله ستا په باره کې څما بصيرت او يقين د مخکې نه هم زيات پخته شو [يعنی مخکې خو صرف د علم وخبر په بنياد ستا د دجال کيدو راته يقين وو خو اوس دي تجربي چې تازه قتل کړم او بيادي راژوندی کړم څما يقين نور زيات شو چې ته دروغجن دجال يي او ستا د خدايي دعوی سراسر باطله ده] [۵] دجال په دي اوريدو سره به غواړي چې هغه سړی بيا قتل کړي خو په هغه به قادر نشي. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ نِقَابَ الْمَدِينَةِ:

ددجال مديني ته نه داخليدل: ددې روايت نه معلومه شوه چه مديني منورې ته به دجال نشي داخليدلې. دَ محجن بن ادرع روايت مسنداحمد او حاكم ذكر كړې دې په هغې كښې دى چه دجال كله هم مديني ته داخليدل غواړی نو په هره لاربه فرښته توره پلاس ولاړه ښكاری چه دې به دَ داخليدلونه منع كوی. دغه شان حاكم په طريق ابی عبدالله القراظ سعدبن مالك رضی الله عنه اودَ ابوهريره رضی الله عنه نه نقل كړی دی چه رسول الله ﷺ فرمائی اللهم بارك لاهل المدينة (الحديث) وفيه الا ان الملائكة مشتبكة بالملائكة على كل نقب من انقابها ملكان يحرسانها لايدخلها الطاعون ولا الدجال.

قوله: فَيَنْزِلُ بَعْضَ السِّبَاخِ الَّتِي تَلِي الْمَدِينَةَ:

د سباخ محل وقوع: په كال ۲۰۱۸ كښې د عمرې دپاره حرمينو شريفينو ته تلې ووم هلته زمونږ يو ملګرې مولانا فضل الرحمن هاشمی صاحب خوک چې د مديني منورې په

جامعه کښې ایم فل کوی. هغوی راپسې کارې راوستلو او د مدینې منورې چې تقریباً څومره تاریخی مقامات وو. د هغې زیارت ئې راباندې وکړل په دغه مقاماتو کښې ئې راته هغه ځائې هم اوښودل چرته چې به دجال راځی خو مدینې منورې ته به نشی داخلیدې دغه ځائې کښې د مدینې منورې د ښار دپاره یوه حد بندی شوې ده او ورسره شاړه زمکه هم وه بلکه عجیبه دا وه چې هلته یو وړوکې غونډې غر وو. چې د سعودی په بادشاهانو کښې غالباً عبدالله یا شاه فهد جوړ کړې دې د کوم ځخه چې مدینه منوره په داګه ښکاری دهغوی وینا ده چې کله دا محل تیار شو نو بیا عالمانو ته دا سوچ راغلو چې دلته خو به دجال راځی او مدینې منورې ته به نشی داخلیدې بهر صورت داسې معلومیږی چې د دجال د راتلو ځخه وړاندې دهغه دپاره محل هم تیار شوې دې دا بیله خبره ده چې هغه به مدینې ته نشی داخلیدې.

ناپاک خلق د مدینې ځخه بهر راوتل: مدینه منوره کښې دَحدودحرم نه بهر دَ احددَ غرنه شاته دَیوشاړې او بنجر زمکې نوم سباخ دې. دجال به راتلوسره هم هلته حصاریږی. مدینه کښې به درې ځل زلزله راشی کوم چه منافق خلق وی هغوی به دَ مدینې منورې نه بهر اوتختی اودجال سره به ملاؤ شی. هم په دې مقام باندې به دَ یو مؤمن دجال سره مناظره وی. علماء وائی چه دا به حضرت خضر وی بیا به فرښتې دجال دَ شام طرف ته اوشړی.

[۵٤۸۰]د فرښتو د دجال مخ شام طرف ته کول

٥٤٨٠-()[١٧] [١]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢]قَالَ: " «يَأْتِي الْمَسِيحُ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ هِمَّتُهُ الْمَدِينَةُ، [٣]حَتَّى يَنْزِلَ دُبُرَ أُحُدٍ، [٤]ثُمَّ تَصْرِفُ الْمَلَائِكَةُ وَجْهَهُ قِبَلَ الشَّامِ، وَهُنَالِكَ يَهْلِكُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١]او حضرت ابوهریره ﷺ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي [٢]چې حضور ﷺ وفرمایل مسیح دجال به مدیني منوري ته د داخلیدو په اراده مشرق طرف ته راشي [٣]دي پورې چې هغه به د جبلِ أحد شاته (چې مدیني منوري نه دري میله فاصله باندي دی) راتلو سره حصار شي [٤]بیا (د ذکرشوي سري د واقعي نه وروسته) فرښتي به د هغه مخ شام علاقي طرف ته وګرځوي (چې د کم ځاي نه راغلی دی هلته به واپس لاړ شي) او هغه دجال به هلته یعنی په شام کې ځرنګه چې مخکې تیر شو چې حضرت عیسیٰ علیه السلام به دجال د شام یو کلی باب لد کې قتل کري. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- (١)هِمَّتُهُ: قصد او اراده، (٢)دُبُرَ: شاته، روسته طرف،

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب صیانة المدینة من دخول الطاعون، والدجال إلیها (رقم-٤٨٦ - (١٣٨٠))والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی الدجال لا یدخل المدینة (رقم-٢٢٤٣)

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ تَصْرِفُ الْمَلَائِكَةُ وَجْهَهُ قِبَلَ الشَّامِ:

د فرشتو دجال لره شام طرف ته شړل: لکه څنګه چې الله تعالى د خپل خليل ابراهيم عليه السلام دعا قبوله کړې ده او دجال به مکې مکرمې ته نشي داخليدې دغه به دجال مدينې منورې ته هم نشي داخليدې دا خبره په مختلفو رواياتو کښې راغلې چې په هغه وخت کښې به د مدينې اووه درازې وى اوبه هغه دروازه به دوه فرشتې ولاړې وى او دجال به مدينې منورې ته نه پريږدى

[۵۴۸۱] مدينې والا به د دجال نه محفوظ وى

۵۴۸۱-()[۱۸] [۱] وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ رُعْبُ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، [۳] لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ، عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] اهل مدينه به د دجال د رعب او خوف نه محفوظ وي [۳] په کومه ورځ چې دجال په مدينه منوره کې د داخليدو ارادي سره راشي نو د مدينې به اووه لاري وي او هره دروازه باندې دوه فرښتي مامور وي چې دجال به مدينې ته داخليدو نه منع کوي (بخاري)

تسهيلات:

قوله: لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ، عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ:

د نبي عليه السلام د وفات څخه روسته د جبريل عليه السلام دنيا ته راتلل: امام سيوطي رحمه الله فرمائي چه په خلقو کښې عام مشهوره خبره ده چه دَ حضورپاك دَ وصال نه پس دَ حضرت جبرائيل امين په مخ دَ زمکې باندې راتلل موقوف شوى دى نو دا بالکل بې اصل خبره ده دَ دې غلط خيال دَ ترديد دَپاره هغه روايت کافى دې کوم چه طبرانى نقل کړې دې چه حضرت جبرائيل عليه السلام دَ هر هغه مؤمن سرى دَمرګ په وخت تشريف راوړى څوك چه دَ طهارت او پاکوالى په حالت کښې مرکيږى په يو بل روايت کښې دى چه دجال کله مدينې منورې سره نيزدې تيريږى نو دَ هغه مخامخ کيدل به هغه وخت يو داسې ګنړې او جماعت سره کيږى چه دجال به تپوس کوى ته څوك يئې؟ هغه هستى به جواب ورکړى زه جبرائيل يم زه الله تعالى راليږلې يم دې دَپاره چه زه تا دَ رسول صلى الله عليه وسلم دَ حرم نه لرې کرم

اشکال: حضرت جبرائيل عليه السلام دومره طاقتور دې نو هغه دجال قتل کوى ولې نه يا دَ هغه نه دجال څنګه بچ شو؟

---

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب: لا يدخل الدجال المدينة (رقم-۱۸۷۹)

۵ اشکال جواب: حضرت جبرائیل علیه السلام به د دجال د قتل کولو دپاره نه راخي ځکه دجال د جبرائیل علیه السلام د يوې وزرې د وهلو هم نه دې حضرت جبرائیل علیه السلام خو به دجال د مدينې منورې نه دمنع کولو دپاره راځي دا اعزاز به صرف د حضرت عيسى علیه السلام د پاره وي چه هغه به دجال قتل کړې شي بل څوک مؤمن به هغه نه شي قتل کولې والله اعلم

[۵٤۸۲] د دجال تفصيلي ذكر

۵٤۸۲-( )[۱۹] [۱]«وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - [۲] قَالَتْ: سَمِعْتُ مُنَادِيَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُنَادِي: الصَّلَاةَ جَامِعَةً، فَخَرَجْتُ إِلَى الْمَسْجِدِ [۳] فَصَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَضْحَكُ، [۴] فَقَالَ: "لِيَلْزَمْ كُلُّ إِنْسَانٍ مُصَلَّاهُ. [۵] ثُمَّ قَالَ: هَلْ تَدْرُونَ لِمَ جَمَعْتُكُمْ؟". قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: [۶] "إِنِّي وَاللَّهِ مَا جَمَعْتُكُمْ لِرَغْبَةٍ وَلَا لِرَهْبَةٍ، [۷] وَلَكِنْ جَمَعْتُكُمْ لِأَنَّ تَمِيمًا الدَّارِيَّ كَانَ رَجُلًا نَصْرَانِيًّا، فَجَاءَ فَبَايَعَ وَأَسْلَمَ،

ترجمه: [۱] او بي بي فاطمه بنت قيس رضي الله عنها وايي يوه [۲] ورځ ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم د موذن دا اواز الصلوٰة جامعة (مونځ جمع کونکی دی) اوريدو سره مسجد ته ورسيدم [۳] او بيا ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مونځ وکړی حضور صلی الله علیه وسلم دما نځه دفارغيدو نه وروسته منبر باندې تشريف فرما شو هغه وخت (حسب عادت) د حضور صلی الله علیه وسلم په شونډو مبارکو مسکا وه.
[۴] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل چاچي کوم ځاي مونځ کړی دی هلته دي ناست وي يعنی څوک دي د مسجد نه بهر نه وځي ټول خلق دي په خپل ځاي ناست وي [۵] بيايي وفرمايل آيا تاسو ته معلومه ده چې ما تاسو ولي راجمع کړئ صحابه و رضي الله عنهم عرض وکړو الله او د هغه رسول ښه پوهيږي [۶] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل قسم په الله ما تاسو نه خو څه مرغوب څيز د پاره جمع کړي يي او نه څه دهشت ناک څيز د پاره [يعنی ستاسو دلته د حصارولو مقصد نه خو تاسو ته څه شی درکول دي او نه د يودښمن وغيره نه يير ول دي] [۷] بلکه ما تاسو د دې دپاره جمع کړي يي چې تميم داري چې يو نصراني (عيسائي) سړی وو راغي او مسلمان شو

[۱] وَحَدَّثَنِي حَدِيثًا وَافَقَ الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ بِهِ عَنِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، [۲] حَدَّثَنِي أَنَّهُ رَكِبَ فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ مَعَ ثَلَاثِينَ رَجُلًا مِنْ لَخْمٍ وَجُذَامٍ، [۳] فَلَعِبَ بِهِمُ الْمَوْجُ شَهْرًا فِي الْبَحْرِ، فَأَرْفَئُوا إِلَى جَزِيرَةٍ حِينَ تَغْرُبُ الشَّمْسُ، فَجَلَسُوا فِي أَقْرُبِ السَّفِينَةِ فَدَخَلُوا الْجَزِيرَةَ، [۴] فَلَقِيَتْهُمْ دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرُ الشَّعَرِ، لَا يَدْرُونَ مَا قُبُلُهُ مِنْ دُبُرِهِ مِنْ كَثْرَةِ الشَّعَرِ، [۵] قَالُوا: وَيْلَكِ مَا أَنْتِ؟ قَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ، قَالُوا: وَمَا الْجَسَّاسَةُ؟ [۶] قَالَتْ: أَيُّهَا الْقَوْمُ انْطَلِقُوا إِلَى هَذَا الرَّجُلِ فِي الدَّيْرِ، فَإِنَّهُ إِلَى خَبَرِكُمْ بِالْأَشْوَاقِ، [۷] قَالَ: لَمَّا سَمَّتْ لَنَا رَجُلًا فَرِقْنَا مِنْهَا أَنْ تَكُونَ شَيْطَانَةً [۸] قَالَ فَانْطَلَقْنَا سِرَاعًا حَتَّى دَخَلْنَا الدَّيْرَ، فَإِذَا فِيهِ أَعْظَمُ إِنْسَانٍ رَأَيْنَاهُ قَطُّ خَلْقًا، وَأَشَدُّهُ وِثَاقًا، مَجْمُوعَةٌ يَدَاهُ إِلَى عُنُقِهِ، مَا بَيْنَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى كَعْبَيْهِ بِالْحَدِيدِ. [۹] قُلْنَا: وَيْلَكَ مَا أَنْتَ؟ قَالَ: قَدْ قَدَرْتُمْ عَلَى خَبَرِي; فَأَخْبِرُونِي مَا أَنْتُمْ؟ [۱۰] قَالُوا:

( ) اخرجه مسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب قصة الجساسة (رقم-۱۱۹ - (۲۹٤۲) وابوداود في كتاب الترجل/باب في خبر الجساسة (رقم-٤۳۲۶) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۲۵۳)

نَحْنُ أُنَاسٌ مِنَ الْعَرَبِ، رَكِبْنَا فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ، فَلَعِبَ بِنَا الْبَحْرُ شَهْرًا، فَدَخَلْنَا الْجَزِيرَةَ، فَلَقِيَتْنَا دَابَّةٌ أَهْلَبُ، ⑪ فَقَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ اعْمِدُوا إِلَى هَذَا فِي الدَّيْرِ، فَأَقْبَلْنَا إِلَيْكَ سِرَاعًا وَفَزِعْنَا مِنْهَا، وَلَمْ نَأْمَنْ أَنْ تَكُونَ شَيْطَانَةً

ترجمه: ① او هغه ماته يو داسې واقعه بيان کړه چې د مسيح دجال په باره کې د هغه خبرو مطابق ده چې زه يې تاسو ته ښايم [نو ما مناسب وګڼل چې د تميم داري هغه واقعه تاسو ته هم بيان کړم چې د دجال په باره کې ستاسو يقين نور زيات پوخ شي او ځما خو دلې خبرې د مشاهدې نزدې شي] ② نو واورئ ماته تميم داري بيان وکړې چې هغه يوه ورځ د قبيله جذام ديرش سړو سره يوه بحري کيشتۍ کې سوريدو سره روان شو، ③ نو د اوبو چپو يوه مياشت پورې د کيشتۍ سواره لوبول [يعنې کيشتۍ د سمند يو داسې چپو کې راګيره شوه چې مسلسل يوه مياشت پورې اخوا ديخوا يې ګرځوله او سواره يې منزل مقصود رسيدو ته نه پرېښودل ددې پورې چې هغه چپو يوه ورځ د نمر د لويدو په وخت يو جزيرې ته نزدې ورسوله او ټول شواره هغه وړو وړو کشتۍ کې چې لوی کشتۍ کې وی په کينا ستو سره هغه جزيرې ته ورسيدو] ④ هلته هغوئ سره يو داسې حيوان يو ځاي شو چې ډير ويښتانو والا وو او د ويښتانو د کثرت په وجه خلقو [د هغه وروسته مخکې نه شو معلومولی د هغه حيوان په جسم دومره زيات ويښته وه چې پوره جسم يې ور پټ کړی وو او خلقو نه شو پيژندی چې د هغه وروستنۍ حصه کومه يوه ده او مخکنۍ کومه يوه] ⑤ خلقو د هغه ليدو سره په حيرت سره ورته اوويل په تا افسوس ته څوك يې او څه يې [يعنې آخر ستا اصل او ماهيت څه دی ته څه جن يې يا انسان يې] هغه حيوان جواب ورکړو چې زه جساسه او خبر رسان يم ⑥ تاسو خلق هغه سړي ته ورشئ چې ډير قلعه کې دی ځکه چې هغه ته ستاسو د خبرونو اوريدو ډير شوق دی ⑦ تميم داري بيان وکړو هرکله چې هغه حيوان موږ ته د هغه سړي ذکر وکی او موږ ته يې هغه ته د تلو اوويل نو موږ ډير وويرېدو چې داد انسان په شکل وصورت کې شيطان نه وي ⑧ بهرحال موږ تيزی سره ور روان شو او کوم وخت چې درمسال بت خانه کې داخل شو نو چې ګورو هلته يو لوی جسم والا او ډير خوفناك سړي موجود وو دغه شان شکل وصورت والا سړي موږ دې نه مخکې هيڅ کله نه وو ليدلي هغه ډير مضبوط داسې تړل شوي وو چې د هغه لاسونه دځټ سره او د ګونډو د منځ نه ترپښرکو پورې د اوسپني زنځيرونو سره تړلي وو ⑨ د هغه په ليدو سره موږ ډير حيرت سره ورته اوويل په تا افسوس دی ته څوك يې او څه يې هغه په جواب کې اوويل هرکله چې تاسو زه پيدا کړم او معلوم مو کړم او دلته په را رسيدو کې کامياب شوئ نو اوس زه تاسو ته په خپل باره کې هيڅ نه پټوم او هرڅه درته ښايم ليکن مخکې ماته په خپل باره کې او ښائي او څه چې ستاسو نه پوښتنه کوم د هغه جواب راکړئ چې تاسو څوك يئ او کوم ځاي نه راغلي يئ ⑩ موږ خلقو هغه ته

اوويل چې مونږ د عربو خلق يو بحري کيشتۍ کې سواره وو او خپل منزل مقصود طرف ته تلو چې سمندري طوفان مونږ يوه مياشت پورې راګير کړو او زمونږ کيشتۍ يې دلته پرېښودله مونږ دې جزيري ته راکوزشو دلته زمونږ سره يو ويښتانو والا حيوان يوځاي شو ⑪ او هغه اوويل زه جاسوس يم تاسو خلق هغه سړي ته ورشئ چې دير يعنې يولوى بت خانه يا محل کې موجود دی نو مونږ ډيري تيزۍ سره تاته راغلو

① فَقَالَ: فَلَقِيَتْهُمْ دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرُ الشَّعَرِ قُلْنَا: عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: أَسْأَلُكُمْ عَنْ نَخْلِهَا هَلْ تُثْمِرُ، فَأَرْفَئُوا إِلَى جَزِيرَةٍ حِينَ تَغْرُبُ الشَّمْسُ؟ قُلْنَا: نَعَمْ. قَالَ: أَمَا إِنَّهَا يُوشِكُ أَنْ لَا تُثْمِرَ. ② قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ بُحَيْرَةِ الطَّبَرِيَّةِ، قُلْنَا: عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: هَلْ فِيهَا مَاءٌ؟ قُلْنَا: هِيَ كَثِيرَةُ الْمَاءِ، قَالَ: أَمَا إِنَّ مَاءَهَا يُوشِكُ أَنْ يَذْهَبَ. ③ قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ عَيْنِ زُغَرَ. قَالُوا: وَعَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: هَلْ فِي الْعَيْنِ مَاءٌ؟ وَهَلْ يَزْرَعُ أَهْلُهَا بِمَاءِ الْعَيْنِ؟ قُلْنَا لَهُ: نَعَمْ، هِيَ كَثِيرَةُ الْمَاءِ، وَأَهْلُهَا يَزْرَعُونَ مِنْ مَائِهَا، ④ قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ نَبِيِّ الْأُمِّيِّينَ مَا فَعَلَ؟ قُلْنَا: قَدْ خَرَجَ مِنْ مَكَّةَ وَنَزَلَ يَثْرِبَ. قَالَ: أَقَاتَلَهُ الْعَرَبُ؟ قُلْنَا: نَعَمْ. ⑤ قَالَ: كَيْفَ صَنَعَ بِهِمْ؟ فَأَخْبَرْنَاهُ أَنَّهُ قَدْ ظَهَرَ عَلَى مَنْ يَلِيهِ مِنَ الْعَرَبِ وَأَطَاعُوهُ، قَالَ أَمَا إِنَّ ذَلِكَ خَيْرٌ لَهُمْ أَنْ يُطِيعُوهُ ⑥ وَإِنِّي مُخْبِرُكُمْ عَنِّي: إِنِّي أَنَا الْمَسِيحُ الدَّجَّالُ وَإِنِّي يُوشِكُ أَنْ يُؤْذَنَ لِي فِي الْخُرُوجِ فَأَخْرُجَ، فَأَسِيرَ فِي الْأَرْضِ، فَلَا أَدَعُ قَرْيَةً إِلَّا هَبَطْتُهَا فِي أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ⑦ غَيْرَ مَكَّةَ وَطَيْبَةَ، هُمَا مُحَرَّمَتَانِ عَلَيَّ كِلْتَاهُمَا، كُلَّمَا أَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَ وَاحِدَةً أَوْ وَاحِدًا مِنْهُمَا اسْتَقْبَلَنِي مَلَكٌ بِيَدِهِ سَيْفٌ صَلْتًا يَصُدُّنِي عَنْهَا، ⑧ وَإِنَّ عَلَى كُلِّ نَقْبٍ مِنْهَا مَلَائِكَةً يَحْرُسُونَهَا".

ترجمه: ① هغه اوويل ښه دی ماته دا او ښائي چې بيسان کې د کجورو کومې ونې دي په هغه کې ميوه راغلي ده مونږ ورته اوويل هو ميوه باندې راغلي ده هغه اوويل پوهه شئ هغه زمانه زر راتلونکې ده چې د بيسان د خورماوو په ونو کې به ميوه نه راځي ګويا هغه دې طرف ته اشاره وکړه چې قيامت زر راتلونکی دی ② هغه اوويل اوس ماته د بحيره طبريه په باره کې اووايئ چې آيا په هغه کې اوبه شته يانه؟ مونږ ورته اوويل چې په هغه کې خو ډيري اوبه دي هغه اوويل يقينًا ډير نزدې د دې اوبه به ختمې شي ③ بيا هغه پوښتنه وکړه ماته دا او ښائي چې د زُغر چينه کې اوبه شته يانه او د هغه ځاي خلق د هغه چشمې په ذريعه کاشت کوي يانه مونږ ورته اوويل هو په هغه چينه کې اوبه ډيري دي او هغه خلق هغه اوبو سره کاشت کوي ④ دې نه وروسته هغه اوويل اوس ماته د اميانو يعنې د اهل عرب د نبي ﷺ په باره کې او ښائي هغه څه څه وکړه مونږ ورته اوويل هغه مکه پرېښودله او اوس يثرب مدينې ته په هجرت راغلی دی ⑤ هغه پوښتنه وکړه آيا عرب خلقو د هغه سره جنګ کړی دی مونږ ورته اوويل هو بيا هغه پوښتنه وکړه چې هغه داهل عرب سره څه معامله وکړه مونږ هغه ته وښودل چې هغه نبي ﷺ په عربو غالب راغلی دی ځوک چې د هغه نزدې دی هغوئ يې اطاعت اختيار کړی دی هغه اوويل تاسو ته معلوميدل پکار دي چې هغه خلقو ته د هغه اطاعت کول ښه دي ⑥ او اوس زه تاسو ته

خپل په باره کې ښایم چې زه درحقیقت مسیح یعنی دجال یم هغه زمانه زر راتلونکې ده چې ماته به د وتلو اجازت حاصل شي هغه وخت به زه وځم او څلویښت ورځو پورې به په زمکه ګرځم ددي پورې چې داسې هیڅ آبادي به پرې نه ږدم چې په هغه کې داخل نشم ⑦ماسوا د مکې او طیبې یعنی مدینې نه دا دواړه ښارونه په ما حرام ګرځول شوي دي یعنی دي دواړو ښارونو کې به ځما داخله منع وي او د دې ممانعت صورت به داوي چې کله زه په دې دواړو ښارونو کې داخلیدل وغواړم نو ځما مخې ته به یوه فرشته راځي چې په لاس کې به یې برېنده (بغیر تیکی) توره وي هغه فرشته به ما د هغه ښار د داخلیدو نه منع کوي ⑧حقیقت دادی چې په هغه ښار کې تولو لارو باندې به فرښتي ماموري وي چې د هغه ښار حفاظت به کوي

①قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَطَعَنَ بِمِخْصَرَتِهِ فِي الْمِنْبَرِ: " وَهَذِهِ طَيْبَةُ، هَذِهِ طَيْبَةُ، هَذِهِ طَيْبَةُ " يَعْنِي الْمَدِينَةَ، " ②أَلَا هَلْ كُنْتُ حَدَّثْتُكُمْ؟ " فَقَالَ النَّاسُ: نَعَمْ، ③فَإِنَّهُ أَعْجَبَنِي حَدِيثُ تَمِيمٍ أَنَّهُ وَافَقَ الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ عَنْهُ وَعَنِ الْمَدِينَةِ وَمَكَّةَ، ④أَلَا إِنَّهُ فِي بَحْرِ الشَّامِ أَوْ بَحْرِ الْيَمَنِ، لَا بَلْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ ⑤مَا هُوَ، مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ، مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ " ⑥وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى الْمَشْرِقِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

توجمه: ①راوي وایي رسول الله ﷺ د تمیم داری پوره واقعه بیانولو نه وروسته صحابه رضي الله عنهم باندې د خپلي دي خوشحالی ښکاره کولو د پاره چې ګوري د دجال په باره کې چې څه ما تاسو ته ښودل د هغه پوره پوره تصدیق او تائید دي واقعي نه کیږي بیا حضور ﷺ تولو ښارونو باندې د مدینې فضیلت او لویې ښکاره کولو د پاره جوش کې خپله عصاء مبارکه منبر باندې وهلو سره (دري خله) دا وفرمایل چې داده طیبه داده طیبه داده طیبه یعنی مدینه ②بیا یې وفرمایل یادلرئ آیا مابه تاسو ته داخبره نه ښودله (لکه چې د دجال په باره کې ددي واقعي نه ښکاره کیږي) ③صحابه رضي الله عنهم اوویل هو تاسو به مونږ ته دغه شان خبره کوله ④دي نه وروسته حضور ﷺ وفرمایل پوهه شئ دجال د شام سمندر کې دی ⑤نه دیمن په سمندر کې بلکه هغه به مشرقي جانب نه راځي ⑥دي فرمایلو سره حضور ﷺ په لاس سره مشرق جانب ته اشاره وکړه (مسلم)

حل اللغات: - ①رَاعَنِي: خوښ. ②رَهْبَة: ناخوښه، د ویرې. ③لَخْمٌ وَجُذَامٌ: دا دوه قبیلې دی ④أَقْرُبٌ: دَ قارب جمع ده ورې کشتئ ته وائی ⑤دَابَّة: ځناور. ⑥أَهْلَبُ: ګڼرو ویښتو والا. ⑦الْجَسَّاسَةُ: جاسوسي کوونکې، خبر رسونکې. ⑧الدَّيْرُ: کور، د راهبانو ځائ. ⑨الْأَشْوَاقُ: ډیر شوق لرونکې. ⑩وِثَاقًا: مضبوط. ⑪اغْتَلَمُوا: قصد اوکړئ، روان شئ. ⑫فَزِعْنَا: اوبریدو مونږ. ⑬نَخْلُ بَيْسَانَ: په جزیرة عرب کښې د کجورو باغ دي. ⑭بُحَيْرَة: په شام کښې دَ یونهر بلکه درياب نوم دې. ⑮طَبَرِيَّة: په شام کښې دَ یوځائی نوم دي ⑯عَيْنُ زُغَرَ: په شام کښې دَ یوې چینې نوم دې. ⑰هَطَّطْتُهَا: ورځم به هغې ته. ⑱صَلْتًا: بربنده، ښکاره (توره) ⑲نَقْب: دَدې جمع انقاب ده. لارې ته وائی ⑳مِخْصَرَتِهِ: کونتې. همسا

تسهیلات:

قوله: فَأَرْفَئُوا إِلَى جَزِيرَةٍ حِينَ تَغْرُبُ الشَّمْسُ

د واقعې په محل وقوع کښې دوه احتمالات: ① که دې خلقو په بحیره روم کښې سفر کولو نو بیا به دا واقعه د بحر اوقیانوس په شمال مغربی افریقه کښې د یورپ جنوبی مغربی طرف ته اود سپین اومراکش مغرب طرف ته واقع شوې وی.

② که د دوی سفر په بحرقلزم (بحراحمر) کښې وو نو بیا هم دا دا د بحراوقیانوس جنوبی طرف ته پیښه شوې وی کوم چ ځکه چې بحراوقیانوس د مشرق اومغرب طرف ته دومره لوئې نه دې بلکه دا یو خلیج دې.

قوله: فَلَقِيَتْهُمْ دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرُ الشَّعَرِ

د دابة نه مراد: دابة ځناورته وائی اوکثیر الشعر یعنی زیاتو ویښتو والا دې کسانو سره ملاؤ شوه.

اشکال: په حدیث الباب کښې جساسه په دابة سره تعبیرکړې ده او په ابوداؤد کښې د امراة لفظ واقع دې؟

د اشکال څلور جوابونه: ① ممکن دی چه هغه جساسه وی یوه په صورت دَ امراة او بله په صورت دَ دابة.

② دا جساسه شیطانه وه چه کله به دَ دابة په شکل کښې ښکاریده او کله به دَ امراة په شکل ښکاریده او شیطان ته په شکل بدلولو باندې قدرت حاصل دې

③ اصل جسّاسه ښځه ده او دابة سره په اعتبار دَ لغت تعبیرکړې شوې ده کماقال تعالی ﴿وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا﴾

④ جساسه هم ښځه ده خو په کثرت دَ ویښتو ئی دابة سره تعبیرکړې ده قاله کنکوهی رحمه الله.

قوله: أَيُّهَا الْقَوْمُ انْطَلِقُوا إِلَى هَذَا الرَّجُلِ فِي الدَّيْرِ

د دیر درې مصداقات: دیر په مختلفو معانیوکښې استعمالیږی.

② دَ اور دعبادت رنکو عبادتخانه

① دَ نصاریٰ عبادت خانه اومدرسه.

③ شراب خانه

دحدیث دبعضې جملووضاحت:

① أَخْبِرُونِي عَنْ نَخْلِ بَيْسَانَ: په فتح دَ باء او سکون دَ یاء دَ یوکلی نوم دې چه دَ شام په ملک کښې اردن سره نیزدې واقع دې.

④ أَخْبِرُونِي عَنْ عَيْنِ زُغَرَ: په ضمه دَ زاء اوفتح دَ عين سره دَ شام په ملک کښې دَ یو ځائ نوم دې هلته دَ اوبه دغه چینه ده. دجال دا سوال په دې وجه اوکړوچه قرب قیامت کښې به عین زغر کښې اوبه وی نو صحابه کرامو بیان اوکړو چه دواړه ډکې دی او اوبه په کښې غرمبیږی. دَمسلم په روایت کښې دی قلنا نعم هي كثيرة الماء واهلها يزرعون من مائها.

③ الْجَسَّاسَةُ: دَ دې نه دَدجال دَپاره خبرې راجمع کونکې ښځه مراد ده. جساسه خپل نور تعارف نه دې کړې بلکه اصل خبره کومه چه دَ دجال سره متعلق وه هغه ئې شروع کړه.

④ قَدَرْتُمْ: یعنی تاسو دَدې ځائ پورې هم راؤ رسیدې او زما په احوال باندې قادر شوئې؟ ټیک ده زه به تاسو خپل احوال اوښایم مګر اول تاسو اوښایئ.

⑤ مَا أَنْتُمْ؟: تاسو څه څیزئې؟دا جواب ترکی بزبان ترکی دې لکه څنګه چه دوی دَ دجال نه یو شئ جوړکړو اوسوال ئې اوکړو دجال هم هغه شان اوکړه. دواړو یو بل په تعجب او حقارت سره یاد کړه.

⑨ لَا بَلْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ: حضورپاک داکلام دَ شک اوتردد په اندازکښې څکه اوفرمائیلو چه دجال دَ قیامت دَ لویو علامتونونه دې نوچه څنګه قیامت پټ ساتلې شوې دې دغه شان دَدې لوئې علامت هم دَ یوحده پورې پټ ساتلې شوې دې.

⑥ مَا هُوَ: کښې کلمه دَما زائده ده دَنفی دَپاره نه ده یا لفظ موصوله دې دَ الذی په معنی کښې دې "اي الذي هوفيه".

[۵۴۸۲] د دجال شکل او صورت

۵۴۸۲-()[۲۰] ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- ② أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "رَأَيْتُنِي اللَّيْلَةَ عِنْدَ الْكَعْبَةِ، ③ فَرَأَيْتُ رَجُلًا آدَمَ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنْ أُدْمِ الرِّجَالِ، ④ لَهُ لِمَّةٌ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنَ اللِّمَمِ ⑤ قَدْ رَجَّلَهَا، فَهِيَ تَقْطُرُ مَاءً، مُتَّكِئًا عَلَى عَوَاتِقِ رَجُلَيْنِ، يَطُوفُ بِالْبَيْتِ، ⑥ فَسَأَلْتُ: مَنْ هَذَا؟ فَقَالُوا: هَذَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ"

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی ② چې یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل مانن شپه خپل ځان (په خوب کې یا د کشف په حالت کې) کعبې سره اولیدلو ③ هلته ماته یوداسې غنم رنګه سړی په نظر راغې چې د یوداسې سړې په شان وو چې دهغه تاسو د غنم رنګې په سبب د ټولو نه بهتر اوښه صورت وینئ ④ د هغه په سر ډیر ویښته وه تر اوږو پورې زوړند وه او د ویښتانو د اعتبار نه هم هغه دیو داسې سړې سره

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب من عرف اللقطة ولم يدفعها إلى السلطان (رقم-۲۴۴۰) ومسلم في كتاب الإيمان/باب ذكر المسيح ابن مريم، والمسيح الدجال (رقم-۲۷۳ - (۱۶۹) كتاب صفة النبي صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صفة عيسى ابن مريم عليه السلام، والدجال (رقم-۲)واحمد في المسند:۲/۱۵۴

مشابه وو چې هغه تاسو دي قسم ویښتانو لرونکوکي د ټولو نه خوبصورته ویني ⑤د هغه ویښته منګز شوي وه او د ویښتانو نه یې د اوبو قطري څڅیدلی هغه سړي د دوو سړو په اوږو لاس ایښودلو سره د خانه کعبې طواف کوی ⑥ما دهغه په لیدو سره د طواف کونکو نه پوښتنه وکړه چې دا څوك دی هغوئ جواب راکړو چې دا مسیح ابن مریم ﷺ دی

حل اللغات:- ①آدَمُ: غنم رنګې، ②لِمَّةٌ: د اوږو او غوږونو ترمینځه پوري ویښته.③رَجْلَهَا: ګومنز کړی ئې وو، ④عَوَاتِق: د عاتق جمع ده، د اوږې مینځ ته وائی (مابین المنکب والعنق).

①قَالَ: "ثُمَّ إِذَا أَنَا بِرَجُلٍ جَعْدٍ قَطَطٍ أَعْوَرِ العَيْنِ اليُمْنَى ②كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ، كَأَشْبَهِ مَنْ رَأَيْتُ مِنَ النَّاسِ بِابْنِ قَطَنٍ ③وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلَى مَنْكِبَيْ رَجُلَيْنِ، يَطُوفُ بِالْبَيْتِ، ④فَسَأَلْتُ مَنْ هَذَا؟ فَقَالُوا: هَذَا المَسِيحُ الدَّجَّالُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ⑤وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ فِي الدَّجَّالِ: "«رَجُلٌ أَحْمَرُ جَسِيمٌ، جَعْدُ الرَّأْسِ، أَعْوَرُ عَيْنِ اليُمْنَى، ⑥أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا ابْنُ قَطَنٍ».

ترجمه: ①دي نه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل بیا اچانك ځما نظر په یو سړي باندې ولګیدلو چې د هغه ویښته وَل وَل اونیغ ولاړ وه هغه په ښي سترګه کور وو ②لکه چې د هغه سترګه د انګورو په شان پړسیدلي دانه ده یابي نوره وه کوم خلق چې ما لیدلي دي په هغوئ کې هغه د ابن قطن ډیر مشابه وو ③هغه سړی د دوو سړو په اوږو لاس ایښی د خانه کعبې طواف یې کولو ④ما د هغه په باره کې هم پوښتنه وکړه چې دا څوك دی نو خلقو جواب راکړو چې دامسیح دجال دی. (بخاري مسلم) ⑤په یوبل روایت کې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ د دجال په باره کې وفرمایل هغه یوداسې سړی دی چې هغه سور رنګې دي دجسامت په لحاظ سره غټ دي. د سر ویښته یې وَل وَل دي ښي سترګه یې کوره (کانړې) ده ⑥د مشابهت په اعتبارسره په خلقو کې ابن قطن هغه ته ډیر نزدې دی.

حل اللغات:- ⑤جَعْد: ګول ګچې ویښته، ⑥قَطَط: ول ول نیغ ولاړ (ګلکتې) ⑦أَعْوَر: کانړې، چقوړ، ⑧عِنَبَةٌ: دانګورو دانه، ⑨طَافِيَةٌ: راوچته شوې، راوتلې، ⑩جَسِيمٌ: څرب، غټ بدن والا

①وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ: "«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا» فِي (بَابِ المَلَاحِمِ) ②وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ ابْنِ عُمَرَ: قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ فِي (بَابِ قِصَّةِ ابْنِ صَيَّادٍ). إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى

ترجمه: ①او د حضرت ابوهریره ﷺ داحدیث: لاتقوم الساعة حتی تطلع الشمس من مغربها الخ باب الملاحم کې نقل شوي دي ②او د حضرت ابن عمر ﷺ دا روایت قام رسول الله في الناس.....الخ به انشاء الله مونږ د ابن صیاد د قصې په باب کې نقل کړو.

تسهیلات: قوله: فَقَالُوا: هَذَا المَسِيحُ الدَّجَّالُ:

اشکال: یعنې په خوب کښې چې کوم دویم کس طواف کولو هغه دجال وو. اشکال دادې چه دَ دجال دَ بیت الله نه چاپیره طواف کولو څه مطلب دې؟

۵اشکال درېم جوابونه:

① دا طواف دَ اسلام دَ غلبې نه مخکښې کفر دَ غلبې په زمانه کښې وو.

② دَ حضرت عيسى ﷺ دَ ذکر دَمناسبت سره دَ دجال تذکره راغلې چه دواړه دَ يوبل مقابل دی.

③ دَ البيت نه دين مراد دې نو عيسى ﷺ په ښه صورت کښې دَخپل دين نه چاپيره تاويدلو او دجال دَ خپل باطل دين نه چاپيره چکرې لګولې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٥٤٨٤] په يوه جزيره کښې د دجال وجود

٥٤٨٤-()[٢١] ①عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- فِي حَدِيثِ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ: قَالَتْ ②قَالَ: "«فَإِذَا أَنَا بِامْرَأَةٍ تَجُرُّ شَعْرَهَا ③قَالَ: مَا أَنْتِ؟ قَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ، اذْهَبْ إِلَى ذَلِكَ الْقَصْرِ، ④فَأَتَيْتُهُ، فَإِذَا رَجُلٌ يَجُرُّ شَعْرَهُ مُسَلْسَلٌ فِي الْأَغْلَالِ، يَنْزُو فِيمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، ⑤فَقُلْتُ: مَنْ أَنْتَ؟ قَالَ: أَنَا الدَّجَّالُ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①بي بي فاطمه بنت قيس د تميم داري ﷺ د حديث په سلسله کې بيان کوي ②چې تميم داري اوويل کوم وخت چې زه په جزيره کې داخل شوم نو اچانک ځما تيريدل په يوه ښځه وشو چې خپل ويښته يې ځان پسې راخکل يعنې د هغه ويښته ډير اوږده اوږده وه چې په زمکه وريسي کسيدله ③تميم اوويل ما د هغه ښځې نه پوښتنه وکړه نه خوك يې هغه جواب راکړو زه جاسوسي کونکې يم (او د دجال خبرونه رسوم) ته هغه محل طرف ته لاړ شه ④د تميم ﷺ بيان دی زه هغه محل ته راغلم نو هلته ګورم چې يو سړی دی چې خپل ويښتان را خکي په زنجيرونه کې تړل شوي دي او په طوق کې پروت دی او د آسمان او زمکې په منځ کې توپونه وهي ⑤ما پوښتنه ورنه وکړه ته څوك يې هغه جواب راکړی زه دجال يم. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ①تَجُرُّ: رانښکل ئې، ②الْجَسَّاسَةُ: جاسوسی کونکې، ③الْقَصْرِ: محل، ④مُسَلْسَلٌ: تړلې شوي. ⑤الْأَغْلَالِ: زنځيرونه، ⑥يَنْزُو: توپونه ئې وهل.

تسهيلات:

قوله: فَإِذَا أَنَا بِامْرَأَةٍ تَجُرُّ شَعْرَهَا:

اشکال: دَمشکاة په حديث نمبر(٥٤٨٢) کښې دَ جساسه سره ملاويدلو ذکر دَ يوکس نه دې بلکه دَ پوره جماعت دې. په حديث الباب کښې چه دَ يو کس دَ حضرت تميم داری ﷺ ذکر دې چه هغه يوازې سوال اوجواب اوکړل؟

---

[١]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب في خبر الجساسة (رقم-٤٣٢٥)

داشکال جواب: سوال کونکي او مخاطب خو پوره جماعت وو لیکن دَ دغه جماعت دَ طرف نه حضرت تمیم داری رضي الله عنه مشر جوړ شوې وی په دې وجه دلته دَ پوره جماعت طرف ته نسبت اوکړې شو لکه څنګه چه امام جمع ورکوی نو یو سړې دا نه وائی چه په فلانکی امام پسې مو مونځ اوکړو بلکه هغه دا وائی چه جمع سره مونځ اوکړو دغه شان دلته هم دی.

قوله: قَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ:

اشکال: د په دې زیربحث حدیث کښې جساسه ذکر دې اود دې ښځه وړاندې په حدیث نمبر (۵۴۸۲) د دابة ذکر دې نو په دواړو کښې تضاد دې لکه په یو روایت کښې دَ دابه ذکر دې او په بل روایت کښې دَ ښځې ذکر دې؟

داشکال حلور جوابونه: ملاعلی قاری او نورو شارحینو په دواړو روایتونوکښې مختلف طرق جمع کړی دی

① ممکن دی چه هغه جساسه دوه وي یوه په صورت دَ امراة او بله په صورت دَ دابة

② دا جساسه شیطانه وه چه کله به دَ دابة په شکل کښې ښکاریده او کله به دَ امراة په شکل ښکاریده او شیطان ته په شکل بدلولو باندې قدرت حاصل دې

③ اصل جساسه ښځه وه او دابة سره په اعتبار دَ لغت تعبیرکړې شوې ده کماقال تعالی ﴿وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا﴾

④ جساسه هم ښځه وه خو په کثرت دَ ویښتو ئی دابة سره تعبیرکړې ده قاله کنکوهی رحمه الله

اشکال: دمشکاة په حدیث نمبر (۵۴۸۲) کښې دَ دجال باره کښې "أعظم أنسانًا" الفاظ دی چه هغه به ډیر لوئی سړې وی خو په دې حدیث کښې دی چه هغه به لنډې وی په روایاتو کښې تعارض کیږی؟

داشکال دوه جوابونه: ① ممکن ده چه هغه دَتمیم داری رضي الله عنه دَ کتلو په وخت لنډې وی او دَ راوتلو په وخت هغه عظیم الخلقت شو

② کیدې شی چه هغه دَ قد په اعتبار سره لنډې هم وی او چاق هم وی او دَ کثیرالفتنه کیدو په لحاظ سره هغه غټ معلومیږی.

[۵٤٨٥] د دجال په چیټ قد والا او چیټ پوزې وی

۵۴۸۵-(1)[۲۲] [۱] وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] قَالَ: " «إِنِّي حَدَّثْتُكُمْ عَنِ الدَّجَّالِ حَتَّى خَشِيتُ أَنْ لَا تَعْقِلُوا، [۳] إِنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ قَصِيرٌ أَفْحَجُ جَعْدٌ أَعْوَرُ مَطْمُوسُ الْعَيْنِ، لَيْسَتْ بِنَاتِئَةٍ وَلَا جَحْرَاءَ، [۴] فَإِنْ أُلْبِسَ عَلَيْكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

(1) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الترجل /باب خروج الدجال (رقم-٤٣٢٠) واحمد فى المسند:٥/٣٢٤

ترجمه: [۱] او حضرت عباده ابن صامت د رسول الله ﷺ نه روایت کوي [۲] چې حضور ﷺ وفرمایل یقینا ما تاسو خلقوته د دجال حال (باربار) بیان کړی تردی چې ماته دا ویره پیدا شوه چې ستاسو پوهې ته را نشي چې دجال څه بلا ده [۳] نو په ښه شان پوهه شئ چې دجال منډري قدوالا دی چیت پیت دی د هغه ویښته وَل وَل دي په یوه سترګه کور دی او دویمه سترګه یې بالکل هموار ده د هغه سترګه نه پورته ده او نه دننه ده [۴] دي نه وروسته هم که تاسو شبهه کې شي (یعني ما د دجال کومه حلیه چې بیان کړي ده هغه د هیریدو په سبب او د هغه د مافوق الفطرت کارنامو په وجه د هغه دعوی دالوهیت که تاسو په څه درجه د شبهه کې مبتلا کړئ نو دومره خبره یاد ساتئ چې ستاسو پروردګار کور نه دی.

حل اللغات:- ① لَاتَعْقِلُوا: تاسو به پوهه نه شئ، ② قَصِيرٌ: لنډي، چیت قد والا، ③ أَفْحَجُ: دَ چا دَ څپو پنجې چه نیزدې نیزدې وی او ګیټنئ نی لرې وی هغه افحج وی کوم ته چه کجې وائی. ④ جَعْدٌ: ګول ګچی ویښته، ⑤ أَعْوَرُ: کانړا، ⑥ مَطْمُوسٌ: ړنده، ⑦ نَاتِئَةٌ: راپورته، راوتلې، ⑧ جَحْرَاءُ: دننه. ⑨ أُلْبِسَ: ګډوډی پیداشی، شک شبهه راشی.

تسهیلات:

نوټ: دي څخه وړاندې د حدیث نمبر (۵۴۷۰) په تسهیل کښې د دې حدیث د مضامینو تفصیل تیرشوې دي.

[۵۴۸۶] مضبوط ایمان والوته به د دجال نه هیڅ ویره نه وي

۵۴۸۲-(۱)[۲۳] [۱] وَعَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "«إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ بَعْدَ نُوحٍ إِلَّا قَدْ أَنْذَرَ الدَّجَّالَ قَوْمَهُ، وَإِنِّي أُنْذِرُكُمُوهُ". [۳] فَوَصَفَهُ لَنَا قَالَ: "لَعَلَّهُ سَيُدْرِكُهُ بَعْضُ مَنْ رَآنِي أَوْ سَمِعَ كَلَامِي". [۴] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! فَكَيْفَ قُلُوبُنَا يَوْمَئِذٍ؟ [۵] قَالَ: "مِثْلُهَا يَعْنِي الْيَوْمَ أَوْ خَيْرٌ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوعبیده بن الجراح ﷺ وایي [۲] ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل حقیقت دادی د نوح ﷺ نه وروسته داسې هیڅ نبي نه دی تیر شوی چې هغه خپل قوم د دجال نه بیر ولی نه وي او زه هم (بار بار مختلف مواقعو باندې د دجال احوال او د هغه مکر او تلبیس او د هغه حقیقت او حیثیت بیانولو سره) تاسو د هغه نه بیروم [۳] دې نه وروسته حضور ﷺ زمونږ مخکې د دجال څه احوال بیان کړه بیایي وفرمایل شاید د هغه خلقو نه چا چې زه لیدلی یم یا ځما کلام یې اوریدلی دی یو سړی د هغه زمانه بیا مومي

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب السنة/باب فی الدجال (رقم-۴۷۵۶) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الدجال (رقم-۲۲۳۴) واحمد فی المسند: ۱۷۸/۲

۴ صحابه په دي اوريدو سره عرض وكړو يا رسول الله! هغه وخت به زمونږ د زړونو يعنی د اهل ايمان د زړونو څه حالت وي ۵ وي فرمايل بالكل داسې څرنګه چې نن دی يا دي نه هم ښه. (ترمذي ابوداود)

تسهيلات: قوله: سَيُدْرِكُهُ بَعْضُ مَنْ رَآنِي.

دبعض من په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَدې جملې بعضې حضراتو مشاراليه حضرت خضر عليه السلام ګرځولې دې.

② دَبعضو په نيز په دې کښې هر هغه ايمان والا داخل دې چا ته چه دَ رسول الله ﷺ دَ دجال باره کښې احاديث رسيدلې وی. لکه چه دَ دجال ښکاره کيدل يقينی دی.

[۵۴۸۷] دجال به د خراسان نه راوځي

۵۴۸۷-()[۲۴] ۱ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ «الدَّجَّالُ يَخْرُجُ مِنْ أَرْضٍ بِالْمَشْرِقِ ۳ يُقَالُ لَهَا: خُرَاسَانُ ۴ يَتْبَعُهُ أَقْوَامٌ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت عمرو ابن حريث د سيدنا ابوبکر صديق رضي الله عنه نه روايت کوي هغوئ بيان وکړو رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ دجال به د زمکې ديو داسې حصې نه راوځي چې په مشرق کې واقع ده ۳ او خراسان ورته وئيل کېږي ۴ هغه سره به د خلقو ديرې دلې وي او د هغوئ مخونه به دچمړې ورکړل شوي پرسيدلی دهال په شان وي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① خُرَاسَانُ: دَايران دَ غټو ښارونونه دَ يو ښارنوم دې. ② الْمَجَانُّ: دهال. ③ الْمُطْرَقَةُ: پرسيدلې.

تسهيلات:

نوټ: ددې حديث وضاحت د حديث نمبر(۵۴۷۱) په تسهيل کښې اوګورئ.

[۵۴۸۸] دجال نه د لرې اوسيدو تاکيد

۵۴۸۸-()[۲۵] ۱ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «مَنْ سَمِعَ بِالدَّجَّالِ فَلْيَنْأَ مِنْهُ، ۳ فَوَاللَّهِ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَأْتِيهِ وَهُوَ يَحْسِبُ أَنَّهُ مُؤْمِنٌ ۴ فَيَتَّبِعُهُ مِمَّا يَبْعَثُ بِهِ مِنَ الشُّبُهَاتِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ وحضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړی چې د دجال د راوتلو خبر واوري هغه ته پکار دی چې د هغه نه لرې وسيږي ۳ قسم په الله

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء من أين يخرج الدجال (رقم-۲۲۳۷) وابن ماجه فی كتاب التجارات/ باب ما يرجى من البركة فی البكور (رقم-۲۲۳۷) واحمد فی المسند: =۴/۱

[2] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الترجل /باب خروج الدجال (رقم-۴۳۱۹) واحمد فی المسند: ۴۳۱/۴

سړی به دجال ته راشي او د هغه ګمان خوبه داوي چې زه مؤمن یم [۴] لیکن هغه به د هغه خیزونو په وجه شبهاتو کې راتلو سره کوم چې دجال ته ورکول شوي دي (لکه سحر جادوکودي او د مړو ژوندي کولو قدرت وغیره) د هغه اطاعت به قبول کړي او په هغه به ایمان راوړي (ابوداود)

حل اللغات: - ① فَلْيَنْأَ: نو لرې دې او سیږي،

تسهیلات:

قوله: فَيَتَّبِعُهُ مِمَّا يَبْعَثُ بِهِ مِنَ الشُّبُهَاتِ:

دشبهاتو څخه مراد: دَ دې نه مراد هغه امور دی کوم چه انسان په شک کښې اخته کوی مثلاً جادو کول، مړی ژوندی کول وغیره. مطلب دادې چه خپل ځان مؤمن ګنړونکې به دَ دجال دَ جادوګرئی نه متاثر شي او په شک کښې به پریوځي چه کیدې شي دجال خدائي دې. دغه شان به هغه دَ دجال دَ معتقد کیدو دَ وجې دَ ایمان څخه لاس اووینځي.

[۵۴۸۹] دجال به په زمکه څلویښت کاله پورې وي

۵۴۸۹-()[۲۶] [۱] وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ بْنِ السَّكَنِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «يَمْكُثُ الدَّجَّالُ فِي الْأَرْضِ أَرْبَعِينَ سَنَةً، [۳] السَّنَةُ كَالشَّهْرِ، وَالشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ، وَالْجُمُعَةُ كَالْيَوْمِ، [۴] وَالْيَوْمُ كَاضْطِرَامِ السَّعَفَةِ فِي النَّارِ». رَوَاهُ (فِي شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: [۱] او بي بي اسماء بنت یزید بن سکن وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د زمکې په مخ به دجال څلویښت کاله پورې وي [۳] (هغه وخت به) کال د میاشتې برابر وي میاشت به د هفتې برابر هفته به د یوې ورځې برابرسي [۴] او یوه ورځ به د دومره وخت وي په څومره وخت کې چې د کجورو وچه ځانګه په اورکي وسوزي دا روایت بغوي شرح السنه کې نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① يَمْكُثُ: وخت به تیروی، ② اضْطِرَامِ: سوزیدل، ③ السَّعَفَةِ: د کجورو اوچه سانګه.

تسهیلات: **قوله:** أَرْبَعِينَ سَنَةً

اشکال: دمشکاة په حدیث نمبر(۵۴۷۵) کښې دَ څلویښتو ورځوذکروو اودلته څلویښت کاله دي چه واضح تعارض دې.

داشکال دوه جوابونه: ① د حدیث نمبر(۵۴۷۵) روایت راجح دې دا مرجوح دې

② څلویښت ورځې به په دنیا کښې چکرې وی. پوره حکومت ئی دَ څلویښتو کالودې مګر دا راجح نه دی.

---

[۱] اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ۴۲۶۴ واحمد فی المسند: ۴۳۱/۴

[۵٤۹۰] اويا زره کسان به د دجال اطاعت کوي

۵٤۹۰-()[۲۷] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا [۳] عَلَيْهِمُ السِّيجَانُ»". رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابو سعيد خدري ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] خما په امت کې به اويا زره افراد [۳] چې د هغوئ په سرونو به سيجان (شنه پټکي ياتاجونه) پراته وي د دجال اطاعت به اختيار کړي دا روايت بغوي په شرح السنه کې نقل کړی دی

حل اللغات: - ① السِّيجَانُ: په وزن دتيجان دې داهم هغه طيلسان دې شنه او تور څادرونه مراد دی.

تسهيلات:

قوله: السِّيجَانُ" تفصيل وراندې د حديث نمبر (۵۳۲۸) په تشريح کښې تيرشوې دې

[۵٤۹۱] د دجال په راتلو د قحط سالئ او نور حالاتو ذکر

۵٤۹۱-()[۲۸] [۱] وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ [۲]: «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي بَيْتِي، فَذَكَرَ الدَّجَّالَ، فَقَالَ: [۳] " إِنَّ بَيْنَ يَدَيْهِ ثَلَاثَ سِنِينَ: [۴] سَنَةٌ تُمْسِكُ السَّمَاءُ فِيهَا ثُلُثَ قَطْرِهَا، وَالْأَرْضُ ثُلُثَ نَبَاتِهَا، [۵] وَالثَّانِيَةُ تُمْسِكُ السَّمَاءُ ثُلُثَيْ قَطْرِهَا، وَالْأَرْضُ ثُلُثَيْ نَبَاتِهَا، [۶] وَالثَّالِثَةُ تُمْسِكُ السَّمَاءُ قَطْرَهَا كُلَّهُ، وَالْأَرْضُ نَبَاتَهَا كُلَّهُ، [۷] فَلَا يَبْقَى ذَاتُ ظِلْفٍ وَلَا ذَاتُ ضِرْسٍ مِنَ الْبَهَائِمِ إِلَّا هَلَكَ، [۸] وَإِنَّ مِنْ أَشَدِّ فِتْنَتِهِ أَنَّهُ يَأْتِي الْأَعْرَابِيَّ

ترجمه: [۱] او بي بي اسماء ﷛ بنت يزيد ابن سکن وايي [۲] يوه ورځ رسول الله ﷺ زمونږ په کور کې تشريف فرماوو چې د دجال ذکر يې وکړو او وي فرمايل [۳] د دجال د ښکاره کيدو نه مخکې دري کاله به داسې وي چې هغه کې به برکت لاړ شي او د خلقو معاشي حالاتو کې ابتري پيدا کونکی مختلف حالات به ښکاره شي [۴] تر مخکنی کال به آسمان يوه دريمه ۱-۳ باران او زمکه به يوه دريمه پيداوار بند کړي يعنی د نورو کلونو د معمول خلاف په هغه کال به باران يوه دريمه کم شي دغه شان د زمکې پيداوار به هم يوه دريمه کم شي که څه هم د باران د اوبو نه علاوه په نورو طريقو سره به هم د زمکې اوبه خور (آبپاشي) کېږي [۵] بيا په دويم کال به آسمان دوه دريمې باران او زمکه دوه دريمې پيداوار بند کړي [۶] او بيا په دريم کال به آسمان ټول باران او زمکه خپل ټول پيداوار بند کې ددې پورې چې کوم وخت د جال ښکاره شي نو په مخ د زمکې باندې به قحط خورشوی وي او نه صرف انسان به سخت ترين معاشي او غذائي بحران کې به مبتلا وي

---

[1]) اخرجه البغوي في شرح السنة رقم الحديث ٤٢٦٥

[2]) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الفتن/باب فتنة الدجال، وخروج عيسى ابن مريم، وخروج يأجوج، ومأجوج (رقم-٤٠٧٧) واحمد في المسند: ٤٥٥/٦

بلکه څاروي او حیواناتو کې به هم قحط خورشوی وي [۷] تو نه به څه نوك والا حیوان باقي پاتې شي او نه به وحشي حیواناتو کې غابنونو والا بلکه ټول به هلاك شي او د دې برعکس هغه وخت به خزاني او د فیني د دجال په تسلط کې وي او د غذائي ضروریاتو تکمیل او د آسائش او خوشحالی نوري ذریعې به هم د هغه سره وي دغه شان په په خلقو کې د خپلي خدايي سکه پورته کولو د پاره او د ګمراهي سخت ترینه فتنه خورولو د پاره هغه به دا څیزونه استعمالوي [۸] نو د هغه سخت ترینه فتنه به داوي چې هغه به علم او دانائي نه روند يو باندې (کلیوال) ته راشي

حل اللغات:- ① قَطْر: باران. ② نَبَات: وني بوټي. ③ ظِلْف: نوکانو والا ④ ضِرْس: غابنونو والا.

[۱] فَيَقُولُ: أَرَأَيْتَ إِنْ أَحْيَيْتُ لَكَ إِبِلَكَ! أَلَسْتَ تَعْلَمُ أَنِّي رَبُّكَ؟ [۲] فَيَقُولُ: بَلَى، فَيَتَمَثَّلُ لَهُ الشَّيْطَانُ نَحْوَ إِبِلِهِ كَأَحْسَنِ مَا يَكُونُ ضُرُوعًا، وَأَعْظَمِهِ أَسْنِمَةً". [۳] قَالَ: وَيَأْتِي الرَّجُلَ قَدْ مَاتَ أَخُوهُ، وَمَاتَ أَبُوهُ فَيَقُولُ: أَرَأَيْتَ إِنْ أَحْيَيْتُ لَكَ أَبَاكَ وَأَخَاكَ أَلَسْتَ تَعْلَمُ أَنِّي رَبُّكَ؟ [۴] فَيَقُولُ: بَلَى، فَيَتَمَثَّلُ لَهُ الشَّيَاطِينُ نَحْوَ أَبِيهِ وَنَحْوَ أَخِيهِ". [۵] قَالَتْ: ثُمَّ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِحَاجَتِهِ ثُمَّ رَجَعَ وَالْقَوْمُ فِي اهْتِمَامٍ وَغَمٍّ مِمَّا حَدَّثَهُمْ،

ترجمه: [۱] او هغه ته به وايي ماته وښايه که زه ستا دا اوښان ژوندي کړم (چې د قحط په وجه مړه شوي دي) نو آيا ته به دا تسليم کړې چې زه ستا پروردګار يم [۲] باندې (کليوال) به جواب ورکړي چې هو زه به تا خپل پروردګار ومنم بيابه دجال شيطانان د هغه باندې (کليوال) داوښانو په شان شکل وصورت جوړولو سره راولي يعنى خپل تابعدار جنات او شياطينو ته به حکم وکړي چې د هغه اوښانو شکل وصورت کې د هغه باندې (کليوال) مخې ته راشئ نو جنات او شياطين به اوښان جوړيدو سره د هغه مخې ته راشي او هغه اوښان به د غولانځو تيونو دډکوالي او د بوکونو د بلندۍ د اعتبار نه د هغه د اوښانو نه ښه معلوميږي [۳] حضور ﷺ وفرمايل د دجال دغه شان يوه سخت ترينه فتنه به داوي چې بيابه هغه يوسړي ته راشي چې د هغه پلار او ورور مړه شوي وي هغه ته به وايي چې زه ستا پلار ورور ژوندی کړم نو آيا ته به تسليم کړې ومنې چې زه ستا پروردګار يم [۴] هغه سړی به جواب ورکړي هو زه به تا خپل پروردګار ومنم بيابه دجال شياطين د هغه سړي د پلار او ورور شکل وصورت کې پيش کړي [۵] بي بي اسماء ؓ وايي حضور ﷺ دي فرمايلو سره څه ضرورت د پاره بهر تشريف يو وړی او بيا لږ ساعت وروسته يې مجلس ته تشريف راوړی هغه وخت حاضرين مجلس د دجال دي حالت اوريدو سره د فکر وغم په حالت کې ناست وه

حل اللغات:- ⑤ أَسْنِمَةً: قوبونه.

[۱]قَالَتْ: فَأَخَذَ بِلَحْمَتَيِ الْبَابِ فَقَالَ: " مَهْيَمْ أَسْمَاءُ " [۲]قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! لَقَدْ خَلَعْتَ أَفْئِدَتَنَا بِذِكْرِ الدَّجَّالِ. [۳]قَالَ: " إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا حَيٌّ، فَأَنَا حَجِيجُهُ، وَإِلَّا فَإِنَّ رَبِّي خَلِيفَتِي، عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ ". [۴]فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ! وَاللهِ إِنَّا لَنَعْجِنُ عَجِينَنَا فَمَا نَخْبِزُهُ حَتَّى نَجُوعَ فَكَيْفَ بِالْمُؤْمِنِينَ يَوْمَئِذٍ؟ [۵]قَالَ: " يُجْزِئُهُمْ مَا يُجْزِئُ أَهْلَ السَّمَاءِ مِنَ التَّسْبِيحِ وَالتَّقْدِيسِ». [۶]رَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ عَنْهَا. وَرَوَاهُ مُحْيِي السُّنَّةِ فِي مَعَالِمِ التَّنْزِيلِ.

ترجمه: [۱]بیا بی اسماء ﷞ وایی رسول الله ﷺ د دروازي دواړي پلی ونیولي او وفرمایل اسماء ستاڅه حال دي ؟ [۲]ماعرض وکړو یا رسول الله! تاسو دد جال داسې ذکر کولو سره زمونږ زړونه وایستل یعني د هغه دي حال اوریدو سره زمونږ زړونه سخت ویرېدلي دی [۳]رسول الله ﷺ وفرمایل که دجال راوخي او فرض کړه زه ژوندی یم نوپه دلائلو او حجت سره به هغه دفع کړم او که داسې وخت راووتلو کله چې زه په دنیا کې موجود نه یم نو یقیناً ځما پروردګار به هرمؤمن د پاره ځما وکیل او خلیفه وي (یعني هغه به الله ﷻ د هرصاحب ایمان حامي او مددګار وي او د هغه د فتنې او فسادڅخه به يې محفوظ ساتي) [۴]بیا ماعرض وکړو یارسول الله! د لوږي په وخت خو د انسان د بې صبرۍ داعالم وي چې مونږ وړه اغږو او د هغه روټۍ پخولو نه لافارغه شوی هم نه یو چې د لوږي نه بې آرامه شو نو په داسې صورت کې هرکله چې قحط سالي راشي غذائي اشياء د دجال په تسلط کې وي او د خوراك څکاك څيزونه صرف هغه سړی حاصلولی شي کوم چې د دجال پيروي کوي نوآخر به د مؤمنانو څه حال وي يعني هغوئ به خپلې لوږي باندي څرنګه قابو حاصلوي او هغوئ ته به صبر وقرار څرنګه حاصليږي [۵]حضور ﷺ وفرمايل هغوئ د پاره به هغه شی کافي وي کوم چې دآسمان والا يعنی فرښتو د پاره کافي کېږي يعنی د حق تعالی تسبيح او تقديس [۶] دا روايت امام احمد په مسند کی اوطيالسی په ابوداود کی کړيدی.

حل اللغات: -⑥لَحْمَتَي: دواړه بازوګان (چوکاټونه د دروازې). ⑦مَهْيَمْ: دا کلمه د استفهام ده. يعني ستا څه حال دي. ⑧خَلَعْتَ: اوويستل تا. ⑨حَجِيجُ: حجت او دليل سره دفع کول. ⑩لَنَعْجِنُ: مونږ چه اوړه واغږو. ⑪نَخْبِزُهُ: روټۍ ترې پخوو.

تسهيلات:

قوله: فَيَتَمَثَّلُ لَهُ الشَّيَاطِينُ نَحْوَ أَبِيهِ وَنَحْوَ أَخِيهِ:

د دجال په تصرفاتو کښې د شیطان لاس: معلومه شوه چه دجال کومې شعبده بازئی ښائی ددې شاته به تول لاس د ابلیس وی. ابليس به د سړو په شکل کښې راځی نودجال به وائی چه ګوره که ما ستا پلار يا رور راژوندې کړو نوبيا ما خپل رب اومنه. ګوره ما ستاد پاره اوښان راژوندی کړل ما خپل رب جوړ کړه.

قوله: وَاللّٰهِ إِنَّا لَنَعْجِنُ عَجِينَنَا فَمَا نَخْبِزُهُ حَتّٰى نَجُوعَ فَكَيْفَ بِالْمُؤْمِنِينَ يَوْمَئِذٍ:

دمذكوره جملې مطلب: يعنى زمونږ نه دومره صبرچرته كيږى چه په مياشتو دَ دجال په فتنه كښې بغيـردَ خوراك څښاك نـه وخت تيركـړو. مـونږ خودَ اوړو اغږلـو او روټـئ پخولوپورې انتظار كولو كښې پريشانه كيږو نودومره موده به څنګه صبركوو؟ مونږ خو به په فتنه كښې پريوځو. حضورپاك اوفرمائيل دَ الله تعالى په ذكر او تسبيحاتو سره به وخت صحيح تيريږى.

قوله: رَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ:

نوټ: دَمشكوة په اصل نسخوكښې دلته بياض دې. ځائې خالى دې روستو بيا چا رواه احمد ليكلې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۴۹۲] دجال به د الله په نزد ډير ذليل وى

۵۴۹۳-()[۲۹] [۱] عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ [۲]: «مَا سَأَلَ أَحَدٌ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ الدَّجَّالِ بِأَكْثَرَ مِمَّا سَأَلْتُهُ، [۳] وَإِنَّهُ قَالَ لِي: "مَا يَضُرُّكَ؟" [۴] قُلْتُ: إِنَّهُمْ يَقُولُونَ: إِنَّ مَعَهُ جَبَلَ خُبْزٍ وَنَهَرَ مَاءٍ. [۵] قَالَ: "هُوَ أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ مِنْ ذٰلِكَ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه وايي [۲] د دجال په باره كې څومره چې ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه كړې ده هغومره بل هيچا پوښتنه نه ده كړې [۳] نو يوه ورځ حضور ﷺ ماته وفرمايل چې دجال تاته هيڅ ضرر نشي رسولى يعنى تاباندې به د الله جل جلاله د عنايت او حمايت سورى وي ځكه دجال به تا ګمراه نه كړى [۴] ما عرض وكړو خلق دا وايي چې هغه سره به د روټئ غر يعنى د غره په قدر د غذائي ضرورياتو ذخيره وي او د اوبو نهر به ورسره وي هغه وخت چې په خلقو د قحط سالى ښكار شي او يو سړى به د لوږې تندې نه د پريشانى حالت ته ورسيږي نو هغه به څه كوي [۵] حضور ﷺ وفرمايل دجال د الله جل جلاله په نزد ددې نه زيات ذليل دى. (بخارى ومسلم)

تسهيلات: قوله: هُوَ أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ مِنْ ذٰلِكَ:

د مذكوره جملې مطلب: يعنى دجال دَ دې نه زيات حقير او ذليل دې چه دَهغه په ذريعه څوك پوخ مسلمان ګمراه شى. په دې وجه ايمان مضبوط ساتل پكار دى. دَ دجال نه دَ ويريدو هيڅ ضرورت نشته دې هغه خو فريب كار او دهوكه باز دې او په جادوګرئى سره خلق ويره وى په حقيقى توګه هغه سره هيڅ هم نشته دې.

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب الفتن/باب ذكر الدجال (رقم-۷۱۲۲) ومسلم فى كتاب الفتن واشراط الساعة/باب فى الدجال وهو أهون على الله عز وجل (رقم-۱۱۵ - (۲۹۳۹) واحمد فى المسند: ۴۳۴/۵

[۵٤۹۲] د دجال به په يو غټ خر باندې سوروى

-()[۳۰] ۞ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۞ "«يَخْرُجُ الدَّجَّالُ عَلَى حِمَارٍ أَقْمَرَ، ۞ مَا بَيْنَ أُذُنَيْهِ سَبْعُونَ بَاعًا» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ (فِي كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ).

ترجمه: ۞ او حضرت ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت كوي حضور ﷺ وفرمايل ۞ دجال به يو سپين خر باندې سوريدو سره راوځي ۞ او د هغه خره د دواړو غوږونو په منځ كې به اويا بازو پلنه فاصله وي دا روايت بيهقي په كتاب البعث والنشور كې نقل كړى دى.

حل اللغات: - ① حِمَارٍ أَقْمَرَ: سپين خرته حمار أقمر وائى. ② بَاعًا: دواړه لاسونه اومتې چه كله مكمل خورې شى نوهغه دَ يو باع مقدار كيږى. دَحضرت ابن مسعود رضي الله عنه په يو روايت كښې دى چه دَدجال دَ خر دَغوږونو په مينځ كښې به څلويښت گزه فاصله وى. اودَ هغه يو قدم به دَ دريو ورځو دَمسافت برابروى چه تقريبا ۸۲ كلوميټر فى سيكنډ به وى. دا رفتار ۲۹۵۲۰۰ كلوميټر فى گهنټه حساب سره به وى. لكه چه دَ هوا نه تيزدې دَ هوائى جهاز نه هم تيزدې. بعضې رواياتو كښې دَ خرا كوزيدل يعنى نزول تذكره هم شته دَ كوم نه چه اندازه كيږى دا څه الوتونكې خر دې.

تسهيلات:

قوله: يَخْرُجُ الدَّجَّالُ عَلَى حِمَارٍ أَقْمَرَ،

دحمار په مصداق كښې دوه اقوال:

① دخر څخه مراد عام خردې كوم چې ته حمار وئيلى شي.

② بعضې علماء وائى دَ سپين خرنه مراد جهازدې. دا خبره زياته بعيد هم نه ده.

يو مصرى عالم كمال هشام عبد الحميد دَ "اقترب خروج المسيح الدجال" په نوم باندې يو مفصل كتاب هم ليكلې دې. په دې كتاب كښې هغه دَ دجال مختلف سورلئى هم خودلى دى. په دې كښې څه سورلى دكشتئى په شان دى څه سورلى دَ چهترئى په شان دى څه دَ طشترى (ركيبئى) په شان ده. څه سورلى بالكل دَ جهاز په شان ده. دا سې معلوميږى چه دَ دجال سورلئى به په مختلف ځايونو كښې بدليږى رابدليږى. لهذا كله به خر وى او كله به خره وى. كله به جهاز وى نو كله به كشتئى وى. په حديث كښې دَ يو نوم اخستې شوې دې دَ باقى نفى نشته دې.

ددجال باره كښې د يهوديانو معلومات: دَ يهوديانو په كتابونو كښې دَ دجال باره كښې ډير څه ليكلې شوى دى. چنانچه دَ يهوديانو يو كتاب ايزاخيل كښې دَ دجال باره كښې ليكلى دى چه يهوديان وائى اې دَ صهيون لور په خوشحالئى سره چغه كړه اې دَ يروشلم

() لم اجده

لور خوشحالئی نه چغه کړه ګوره ستاسو بادشاه (دجال) راروان دې هغه عادل دې او په خریاندې سور دې. د قچر یا خرې په بچی باندې زه د یوفریم نه ګادې او یروشلم نه به اس جدا کړم (به حواله تیسری جنګ عظیم)

قوله: مَا بَيْنَ أُذُنَيْهِ سَبْعُونَ بَاعًا:

دخر دغوږونو په مینځ کښې فاصله: یعنې دا خر به دومره لوئی وی چه د دواړو غوږونو په مینځ کښې فاصله به ئی اویا باع وی. او باع چې دواړه لاسه خواره کړې شی د دې په مینځ کښې چې کومه فاصله ده هغې ته وائی.

ددجال د خروج په مقام کښې اقوال:

① اوس دلته د دجال د خروج باره کښې بحث دې چه هغه به د کوم ځائی نه راؤځی؟ هشام کمال عبدالحمید خپل کتاب کښې د دجال مرکزی مقام جزیرهٔ برمودا ګرځولې دې د برمودا تکون امریکه سره نیزدې واقع دې. یوطرف ته شمالی امریکه ده بل طرف ته جنوبی امریکه ده د دې په مینځ کښې بحر اټلانټك واقع دې. هم په دې مقام کښې مثلث برمودا دې چه د یو تکون په شکل کښې دې.

دبرمودا تکون تعارف: جزیرهٔ برمودا یا مثلث برمودا یا برمودا تکون یو عجیبه او پراسرار مقام دې. په دې مقام باندې د جناتو عالمی مرکزهم دې او هم په دې مقام باندې د ابلیس تخت هم دې او هم په دې مقام باندې د دجال قیدخانه هم ده. لکه چه د دجال او ابلیس او د جناتو په خپل مینځ کښې نیزدې تعلقات دی. هلته په امریکه کښې د ابلیس عبادت کونکی ډیر زیات دی. د دجال پیغامات د یهودو او نصاری ته په واسطه د ابلیس رسیږی

دبرموده تکون عجائبات: د برمودا تکون عجیب او پراسرار حالات دی

① په سمندر کښې چه تراوسه پورې کوم بحری جهاز تلې دې هغه تر ننه پورې داسې غیب شوې دې چه د هغې هیڅ خبر هم نه دې راغلې.

② که چرې هوائی جهاز د دغه جزیرې د پاسه پرواز کړې دې نو هغه داسې غیب شوې دې چه ترننه پورې څه پته نه ده لګیدلې. په دې علاقه باندې د شپې رڼراګانې ځی راځی ښکاری دا ټول ابلیسی پهره ده چه دجال نه چاپیره لګیدلې ده.

③ په کال ۱۸۷۴ء کښې په دې علاقه کښې یو جهاز ورك شوې وو د هغې درې سوا سورلئی سره د کپتان ترننه پورې غائب دی. فضاء ته چه کله هم هوائی جهاز تلې دې دې د پاره چه پته معلومه کړی نو هغه هم غائب شوې دې

④ برمودا تکون یو عجیبه علاقه ده دکوم په سمندر کښې چه اور دننه ورځی هم او بهرهم راؤځی کوم چه زرګونو خلقو لیدلې دې.

[۴] بَابُ قِصَّةِ ابْنِ صَیَّادٍ

دَابن صیاد دَ قصې بیان

خلاصة الباب

فیه أحد عشر حدیثاً مشتملة علی خمس مسائل:

① قصة ابن صیاد مفصلاً: ۱، ۲، ۱۰.

② سوالات النبی ﷺ منه: ۲، ۳.

③ فقد ابن الصیاد: ۹.

④ کون ابن صیاد دجالاً: ۷، ۸.

⑤ آثار الدجال فی ابن صیاد: ۲، ۴، ۵، ۶، ۱۰، ۱۱.

دنسخو اختلاف: ① بعضو نسخو کښې الف لام سره الصیاد دې.

② بعضو دا ابن صیاد لیکلې دې

③ اکثر نسخو کښې صیاد دَ الف لام نه بغیر ذکر دې

دابن صیاد مختصر تعارف: دَهغه اصل نوم صاف وو. بعضو عبد الله خودلې دې دَهغه مور به هغه دَ صاف په نوم باندې رابللو. ابن صیاد پخپله دَ یو یهودی ځوئی وو کوم چه دَمدینې او سیدونکې وو. ابن صیاد دَ جادو او کهانت زبردست ماهر وو. هم په دې وجه دَهغه شخصیت یوه عجیبه معمه جوړه شوې وه.

دابن صیاد مختصر تعارف: ابن صیاد یا ابن صائد دَ چا متعلق چه دَ دجال کیدو ګمان کولې شو دَ هغه نوم صاف یا عبد الله دې هغه دَ مدینې دَ یهودیانونه وو یا دَ هغوی په مینځ کښې دخیل وو په کهانت او سحر سره مشهور وو دَ هغه اجمالی حالت دا وو. چه هغه دَ مسلمانانو دَپاره یوه فتنه امتحان او ازمیښت وو دَ هغه حالت مختلف فیها وو.

دابن صیاد په دجال کیدو کښې مذاهب:

① په صحابه کرامو ﷡ کښې اختلاف وو حضرت جابر ﷛ او حضرت عمر ﷛ خو به قسم خوړلو سره وئیل ابن صیاد هم هغه مشهور او معروف دجال دې چه پخپله به ګمراه وی او نور به ګمراه کونکې وی

② دَ اکثرو صحابه کرامو ﷡ خیال داوو چه ابن صیاد په آخره زمانه کښې راتلونکې دجال نه دې

③ دَ بعض حضراتو خیال دې چه دَ دجال معهود نه به وړاندې دَ تمهید په توګه څه دجاجله راځی چه دَ معهود دجال دَ پاره به میدان هواره وی په احادیثو کښې دَ دجالون او

کذابون لفظ واقع دی دَحضرت عمر رضی الله عنه په قسم خوړلو باندې هم په دې وجه رسول الله ﷺ نکیر اونه فرمائیلو

④ بعضې حضرات وائی په اصل کښې به دَ دجال دَ پاره ظاهرًا او باطنًا مختلف بدنونه وی نودَ ظاهری حسی بدن په اعتبار سره مختلف احوال راتللو سره کله به دَ ابن صیاد په شکل کښې ښکاره کیږی په دې وجه حضورپاک ﷺ نکیرهم اونه فرمائیلو اوعالم مثال کښې دَ هغه باطنی بدن مقید بالسلاسل والاغلال دې کوم چه دَ تمیم داری په حدیث کښې ثابت دی

⑤ بعض شارحین فرمائی په متعلقه بالقیامة کښې قاعده اوکلیه داده لکه څنګه چه دَ قیامت کال ورځ تاریخ او موده تعین نه ده بلکه مبهم ده صرف دومره معلوم دی چه قیامت به راځی دغه شان دَ دجال دَ راتلو باره کښې په حدیث کښې خبر راغلې دې خو دې مصداق پخپله په حضورپاک ﷺ باندې هم مبهم پاتې دې هم په دې وجه ددې دَ مصداق متعلق رسول الله ﷺ هیڅ فیصله نه ده فرمائیلې بل قال علیه السلام لعمر ان یکون هو لاتسلط فلاخیر فی قتله

⑥ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی اصلی دجال خو په یقینی توګه باندې هم هغه دې کوم چه دَ تمیم داری په روایت کښې ذکر کړې شوې دې اوهغه مسلسل بالاغلال والسلاسل دې او ابن صیاد چه دَحضور ﷺ په زمانه کښې په مدینه کښې وو هغه شیطان وو چه دَ دجال په شکل کښې ښکاره شو اوآخر هغه اصفهان ته لاړو پټ شو بیا به دَ اصلی دجال دَ خروج په موده کښې راځی

نوټ: دلته اصل اختلاف په دې کښې دې چې ابن صیاد دجال وو که نه ددې وجې مونږ صرف د دې دوو مذاهبو دلائل ذکر کوو

داول فریق دلیل: فی حدیث محمد بن المنکدر قال رایت جابر یحلف بالله ان ابن صیاد هو الدجال قال جابر رضی الله سمعت عمر یحلف علی ذلك عند النبی صلی الله علیه وسلم فلم ینکره النبی صلی الله علیه وسلم

ترجمه: منکدر فرمائی چې ما جابر رضی الله عنه لیدلې وو هغوی به قسم خوړلو چې ابن صیاد هم دجال دې اوجابر رضی الله عنه به فرمائیل ما د عمر رضی الله عنه څخه اوریدلی ووچې د نبی ﷺ په مخکښې په ئې دا قسم خوړلو چې ابن صیاد دجال دې خو نبی ﷺ په هغه باندې انکار نه دې کړې عدم انکر د دې برې دلیل دې چې ابن صیاد دجال دې

د اول فریق د اول دلیل څخه جواب: مذکره روایت د هغه روایاتو او دلائلو مقابله نشی کولې د کوم ذکر چې د دویم فریق په دلائلو کښې راروان دې

د دويم فريق دلائل: ① دَ تميم داري په روايت كښې دى چه هغه خو به چرته په جزيره عرب كښې مسلسل بالاغلال دې كله چه دَ هغه نه تپوس اوكړې شو نوهغه اووئيل اناالدجال «رواه ابوداؤد والترمذى»

② ابن صياد په شروع كښې ساحر اوكاهن وو خو روستوهغه مسلمان شوې دې دجال خو به كافر وى. كما فى رواية مكتوب بين عيينه ک، ف، ر،

③ دَ ابن صياد خو بچى وو اودجال به بې بچو وى

④ ابن صياد خو په مكه او مدينه كښې اوسيدلو اودَ دجال باره كښې تير شو چه مدينې ته به نشى داخليدلې. بهر حال ابن صياد ته معروف دجال وئيل گران دى.

اشكال: وړاندې په رواياتو كښې وارد دى چه هغه خپل ځان ته دَ رسول الله ﷺ په وړاندې نبى اووئيل نو بيا رسول الله ﷺ ولې دَ قتل كولو حكم اونه كړو؟

داشكال دوې جوابونه: ①په اصل كښې داد هغه زمانې خبره ده كله چه يهوديانوسره صلح اوشوه چه يهوديان به په خپل مذهب باندې وى او هيڅ چيړ چاړ به نه كوى اومونږ به په خپل مذهب باندې يو او ابن صياد يهودى وو يا په هغوى كښې شامل وو په دې وجه رسول الله ﷺ دَ هغه دَ قتل كولو حكم ورنه كړو دې دَ پاره چه دَ مصالحت خلاف اونه شى.

① امام بيهقى رحمه الله وغيره فرمائى په اصل كښې هغه خپل ځان ته نبى اووئيل خو په دې دعوى ئى اصرار او غلو اونه كړه په دې وجه حضورپاک ﷺ پريخودو.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۴۹۴] دَ نبى عليه السلام دَ ابن صياد سره مكالمه

٥٤٩٣-()[١] ①عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - ②«أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - انْطَلَقَ مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي رَهْطٍ مِنْ أَصْحَابِهِ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ، ③حَتَّى وَجَدُوهُ يَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ فِي أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ، وَقَدْ قَارَبَ ابْنُ صَيَّادٍ يَوْمَئِذٍ الْحُلُمَ، ④فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ظَهْرَهُ بِيَدِهِ، ⑤ثُمَّ قَالَ: "أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ؟" ⑥فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ: أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الْأُمِّيِّينَ،

ترجمه: ①حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دى ②چې يوه ورځ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د صحابه كرامو رضي الله عنهم په يوجماعت كې دشريكيدو سره رسول الله ﷺ سره ابن صياد ته ورغلل ③او هغوئ هغه د يهوديانو د يوي قبيلي بنو مغاله په محل كې بچوسره په

[١] اخرجه البخارى فى كتاب الجهاد والسير /باب: كيف يعرض الإسلام على الصبى (رقم-٣٠٥٥) ومسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذكر ابن صياد (رقم-٩٥ - (٢٩٣٠) وابوداود فى كتاب الترجل /باب فى خبر ابن صائد (رقم-٤٣٢٩)والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى ذكر ابن صياد (رقم-٢٢٤٩) واحمد فى المسند:١٤٨/٢

لوبې كولو وليدلو هغه هغه وخت سره بلوغ ته نزدې شوى وو [۴] ابن صياد د هغوئ نه ناخبره خپلو لوبو كې مصروف وو ددې پورې چې رسول الله ﷺ د هغه په شا لاس تير كړو او كوم وخت چې هغه متوجه شو [۵] نو رسول الله ﷺ د هغه نه پوښتنه وكړه آيا ته د دې امر ګواهي كوې چې زه د الله رسول يم [۶] ابن صياد په دې اوريدو سره ډير زور نظر سره حضور ﷺ ته وكتل او هغه اوويل زه ګواهي كوم چې تاسو د اميانو يعنى د ناخوانده خلقو رسول يئ

حل اللغات:- ① رَهْطٌ: جماعت، ډله. ② أُطُم: دَ آطام جمع ده اوچت دَ منارې په شان عمارت ته وائى ③ بَنِي مَغَالَةَ: دَ يو قبيلې نوم دې. ④ الْحُلُمَ: بلوغ.

[۱] ثُمَّ قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ: أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ؟ [۲] فَرَصَّهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ثُمَّ قَالَ: آمَنْتُ بِاللهِ وَبِرُسُلِهِ". [۳] ثُمَّ قَالَ لِابْنِ الصَّيَّادِ: مَاذَا تَرَى؟ [۴] قَالَ: يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ. [۵] قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خُلِّطَ عَلَيْكَ الْأَمْرُ". [۶] قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا" وَخَبَأَ لَهُ: ﴿يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ﴾ [الدخان: ۱۰] [۷] فَقَالَ: هُوَ الدُّخُّ. [۸] فَقَالَ: "اخْسَأْ فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ"

ترجمه: [۱] او بيا هغه د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وكړه آيا تاسو داګواهي كوئ چې زه د الله رسول يم [۲] نو حضور ﷺ هغه ښه زور سره اونيولو او وې فرمايل ما په الله او د هغه په رسولانو ايمان راوړى دې دې نه وروسته [۳] حضور ﷺ د هغه نه پوښتنه وكړه ښه داراته اوونيلو چې څه وينې يعنى د غيب د څيزونو نه په تا څه منكشف كيږي [۴] هغه جواب وركړو كله خو ماته رښتنى خبر راځي اويا كله ماته رښتنى فرشته راځي او كله دروغجن شيطان. [۵] رسول الله ﷺ د هغه په دې جواب اوريدو سره وفرمايل په تا معامله ګډه وډه شوې ده [۶] بيا رسول الله ﷺ وفرمايل ماستا د پاره په خپل زړه كې يو خبره پټه كړې ده او كومه خبره چې حضور ﷺ ابن صياد د پاره پټه كړې وه هغه دا آيت يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ وو [۷] هغه جواب وركړو چې هغه پټه خبره كومه چې ستاسو په زړه كې ده دُخ دى [۸] حضور ﷺ په دې اوريدو سره وفرمايل كورې چخې شه ته د خپل حد نه هيڅ كله مخكې كيدې نشې

حل اللغات:- ⑤ رَصَّهُ: زور سره نې اونيولو. ⑥ خُلِّطَ: ګډه وډه شوې ده. ⑦ خَبَأْتُ: ما په زړه كښې يو خبره پټه كړې ده. ⑧ اخْسَأْ: چخې شه. كُرې شه. دا لفظ د سپى د شړلو د پاره استعماليږى، ⑨ تَعْدُوَ قَدْرَكَ: ته به خپلې دې دائرې دَ كهانت نه وړاندې تلې نه شې.

[۱] قَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَتَأْذَنُ لِي فِيهِ أَنْ أَضْرِبَ عُنُقَهُ؟ [۲] قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ يَكُنْ هُوَ لَا تُسَلَّطُ عَلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ هُوَ فَلَا خَيْرَ لَكَ مِنْ قَتْلِهِ". [۳] قَالَ ابْنُ عُمَرَ: انْطَلَقَ بَعْدَ ذَلِكَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ الْأَنْصَارِيُّ يَؤُمَّانِ النَّخْلَ الَّتِي فِيهَا ابْنُ صَيَّادٍ، [۴] فَطَفِقَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ، ۵ وَهُوَ يَخْتِلُ أَنْ يَسْمَعَ مِنِ ابْنِ الصَّيَّادِ شَيْئًا قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ،

ترجمه: ۱ حضرت عمر رضي الله عنه (په دې صورت حال ليدو سره) عرض وکړو يارسول الله که ماته اجازت راکړې نو زه به يې څټ ووهم ۲ رسول الله ﷺ وفرمايل که ابن صياد هغه دجال دی (چې د هغه په آخره زمانه کې د راوتلو اطلاع شوی ده) نو بيا ته په هغه مسلط کيدې نشې يعنی د هغه په قتل قادر کيدې نشې ځکه چې د هغه قتلول خو صرف حضرت عيسی عليه السلام د پاره مقدر دي او که دی هغه نه وي نو بيا د ده په قتلولو کې ستاهيڅ خير نشته ۳ حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي دې نه وروسته په يوه بله ورځ رسول الله ﷺ د کجورو هغه و نو طرف ته تشريف يوړلو کوم ځاي چې ابن صياد وو هغه وخت حضور ﷺ سره حضرت ابي ابن کعب انصاري رضي الله عنه هم وو ۴ رسول الله ﷺ هلته په رسيدو سره د کجورو د ځانګو شاته پټ شو چې ابن صياد خپل نزدې د حضور ﷺ د موجودګی نه ناخبره وي ۵ او حضور ﷺ د هغه د ليدو نه مخکې د هغه څه خبري واوري [او دغه شان پټيدو سره د ابن صياد د خبرو اوريدو نه د حضور ﷺ مقصد داوو چې خپله حضور ﷺ او صحابه رضي الله عنهم هم پوهه شي چې آخر هغه څه دی آياکاهن دی يا جادوګر يا څه بل څه. دې نه معلومه شوه چې کوم سړي نه د فتنه خوريدو خوف وي د هغه حقيقت ښکاره کول او په خلقو باندې د هغه احوال منکشف کول جائزدي]

حل اللغات:- ۱۰ يَؤُمَّانِ: دتثنيه صيغه ده، قصد او اراده ئې اوکړه. ۱۱ طَفِقَ: شروع شو. ۱۲ يَتَّقِي: ځان ئې پټولو. ۱۳ جُذُوعِ: تنې د کهجورو. ۱۴ يَخْتِلُ: په تدبير او حيلې سره ئې حال معلومولو

۱ وَابْنُ صَيَّادٍ مُضْطَجِعٌ عَلَى فِرَاشِهِ فِي قَطِيفَةٍ ۲ لَهُ فِيهَا زَمْزَمَةٌ، فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَيَّادٍ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ. ۳ فَقَالَتْ: أَيْ صَافُ - وَهُوَ اسْمُهُ - هَذَا مُحَمَّدٌ. فَتَنَاهَى ابْنُ صَيَّادٍ. ۴ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ". ۵ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ: قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ، فَأَثْنَى عَلَى اللَّهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ،

ترجمه: ۱ هغه وخت ابن صياد يو څادر اغوستی پروت وو ۲ او د هغه څادر دننه نه د ښهاري اواز راتلو چې د هغه څه مفهوم په پوهه کې نه راتلو په دې کې د ابن صياد مور رسول الله ﷺ د کجورو ځانګو کې پټ وليدلو ۳ او هغه اوويل اې صاف دا د ابن صياد نوم وو ګوره دا محمد ﷺ ولاړ دی ابن صياد په دې اوريدو سره ښهاري بند کړې يعنی هغه بالکل خاموش شو او کوم غلی غلی اواز چې يې راتلو هغه هم بند شو ۴ په دې ليدو سره رسول الله ﷺ صحابه رضي الله عنهم ته وفرمايل که د ابن صياد مور هغه نه وي رټلي او ځما د موجودګی نه خبر شوی نه وی نو هغه به خپل حقيقت ظاهر کړی وو يعنی د هغه د خبرو نه به دا معلومه شوي وه چې هغه څوك دی او څه دی ۵ حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه وايي دې نه وروسته چې رسول الله ﷺ خطبې د پاره د خلقو مخکې اودريدلو نو اول يې

د الله ﷻ حمد وثناء بیان کړه کوم چې هغه ته لائق ده

حل اللغات:- ⑭قَطِيفَةٍ: څادر، ⑮زَمْزَمَةٌ: د بنګ بنګ آواز، ګونړ ګونړ کول.

[١]ثُمَّ ذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ: "إِنِّي أُنْذِرُكُمُوهُ، وَمَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَ قَوْمَهُ، لَقَدْ أَنْذَرَ نُوحٌ قَوْمَهُ، [٢]وَلَكِنِّي سَأَقُولُ لَكُمْ فِيهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِهِ، [٣]تَعْلَمُونَ أَنَّهُ أَعْوَرُ، وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١]بیا د دجال ذکر یې وکړو په دې احتمال سره چې شاید ابن صیاد دجال وي یا حضور ﷺ د هغه د فتنې خوریدو او د دې حقیقت پیش نظر چې په هغه کې د دجال بعضې خصلتونه پیدا کوی شی د دجال ذکر کول او د هغه د احوالو نه آګاه کول مناسب وګنړل او وې فرمايل زه تاسو د دجال نه بیروم او نوح ﷺ نه وروسته هیڅ نبي داسې نه دی تیر شوی چې هغه خپل قوم د دجال نه نه وي بیر ولی او د هغه انبیاء نه مخکې نوح ﷺ هم خپل قوم د هغه نه بیر ولی دی [٢]لیکن زه تاسو ته د دجال په باره کې یوه داسې خبره او یو داسې علامه ښایم چې بل هیڅ نبي خپل قوم ته نه دی خو دلی [٣]تو تاسو پوهه شی چې دجال به کور وي او یقینًا الله ﷻ کور نه دی نعوذ بالله. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ⑯أَعْوَرُ: کانړا، چغوت،

تسهيلات: قوله: فَقَالَ: أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الْأُمِّيِّينَ:

د ابن صیاد چالاکی: ابن صیاد دَ امیین نه عرب مراد اخستې دی څکه چه یهودو او نصاری به عرب هم په دغه نوم سره یادول. په دې جواب کښې دَ ابن صیاد عیاری او مکاری پته ده هغه دا وئیل غواړی چه حضورپاك صرف دَعربو دَپاره نبی دې دَعام انسانانو دَپاره نه دې

قوله: فَرَصَّهُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

ابن صیاد لره په زور سره نیول: په صاد باندې شد دې حضورپاك هغه اونیولو او داسې زور ئی ورکړو چه هغه ئی راغوند کړو دا لفظ "فرفضه" هم دې چه دَترك په معنی کښې دې یعنی حضورپاك دَ ابن صیاد حجتونه او سوال او جواب پریخودل.

قوله: صَادِقٌ وَكَاذِبٌ:

د رښتیا او دروغو خبر ورکول: یعنی کله رښتیا راځی او کله دروغ راځی مطلب دادې چه کله رښتونې خبر راځی او کله دَ دروغو خبر راځی او هم دغه دکاهنانو او جوګیانو علامت دې چه شیطانانَ دَ فرښتو نه یو رښتونې خبره اوریدو سره سل دروغ ملاؤ کړی کاهنانو ته ئی رسوي. په راتلونکی روایت نمبر۲ کښې داسې دی چه کله دوه دروغ او یو رښتیا راځی او کله دوه رښتیا یو دروغ راځی لکه چه په ابن صیادباندې خپله معامله پخپله مشتبه وه.

قوله: إِنِّي خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا:

په زړه کښې خبره پټول: يعني ما په زړه کښې يوه خبره پټه کړې ده ته اووايه څه شيزدې؟ حضورپاك دَ قرآن پاك آيت ﴿يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ﴾ دَ آيت تصور په خپل زړه کښې پټ ساتلې وو ابن صياد اووئيل تاسو دَ دخ تصور پټ ساتلې دې په دې کښې ابن صياد پوره خبرې پورې رسائی حاصله نه کړې شوه بلکه دکاهنانو په شان يوې نيمې خبرې طرف ته ئې اشاره اوکړه

قوله: فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ"

د مذکوره جملې مطلب: چه شيطانانو اوجناتو درته څومره اوخودل هم هغه هومره تا اووئيل ستا حيثيت خو په پټو اموروکښې دَ يوناقصې جملې نه وړاندې نه شې تلې بيا ته دَ نبوت دعوىٰ څنگه کوې؟

[۵٤۹۵] ابن صياد کاهن وو

۵٤۹۵-()[۲] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «لَقِيَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - يَعْنِي ابْنَ صَيَّادٍ - فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ، [۳] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ؟" [۴] فَقَالَ هُوَ: أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ؟ [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "آمَنْتُ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ،

ترجمه: [۱] و حضرت ابو سعيد خدري ﷺ وايي [۲] (يوه ورځ) د رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر ﷺ فاروق ﷺ د دې ټولو ملاقات د مدينې په يوې لارې کې ابن صياد سره وشو [۳] رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل آيا ته داګواهي کوې چې زه د الله رسول يم [۴] ابن صياد په جواب کې اوويل آيا تاسو داګواهي کوئ چې زه د الله رسول يم [۵] په دې اوريدو سره حضور ﷺ وفرمايل ما په الله باندې د هغه په فرښتو باندې او د هغه په کتابونو باندې او د هغه په رسولانو باندې ايمان راوړی

[۱] مَاذَا تَرَى؟ [۲] قَالَ: أَرَى عَرْشًا عَلَى الْمَاءِ. [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَرَى عَرْشَ إِبْلِيسَ عَلَى الْبَحْرِ [۴] وَمَا تَرَى؟ [۵] قَالَ: أَرَى صَادِقَيْنِ وَكَاذِبًا، أَوْ كَاذِبَيْنِ وَصَادِقًا، [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لُبِسَ عَلَيْهِ، فَدَعُوهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] دې نه پس څنې حضور ﷺ داپوښتنه وکړه ښه داراته وښايه چې ته څه شی وينې [۲] هغه اوويل زه يو تخت په اوبو باندې وينم [۳] حضور ﷺ ورته فرمايل ته د ابليس تخت په سمندر وينې [۴] بيا يې ورته وفرمايل دې نه علاوه نور څه وينې [۵] ابن صياد اوويل دوه

---

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذكر ابن صياد (رقم-۹۳ - (۲۹۲۸)والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى ذكر ابن صياد (رقم-۲۲٤۷)

ربښتني وینم چې ربښتني خبرونه راوړي او یو دروغجن وینم چې د دروغو خبرونه راوړي یا دوه دروغجن وینم او یو ربښتنی ⑥ دي نه وروسته حضور ﷺ صحابه رضي الله عنهم ته مخاطب کیدو سره وفرمایل دده دپاره صورت حال یعنی کهانت ګډوډ شوي دي دی پریږدئ یعنی دی خو د ټیك ټیك خبري کولو هم قابل نه دی چې د هغه څه جواب ورکول کیږي (مسلم)

حل اللغات: - ① عَرْشًا: تخت.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ هُوَ: أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ:

دابن صياد نبي عليه السلام ته دوه قسمه جواب: په دې روایت کښې ابن صیاد نبی ﷺ ته د هغوی د سوال جواب نه دې ورکړې چې ته پیغمبرئې اوکه نه؟ خود ترمذی په روایت کښې جواب مذکور دې چې ابن صیاد نبی ﷺ ته اووئیل ((أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الْأُمِّيِّينَ)) ابن صیاد دې یعنی زه ګواهی کوم چې ته د امیانو پیغمبرئې.

د امیانو پیغمبر دتخصیص وجه: خپلې وینا کولو سره د حضورپاك ﷺ دنبوت دعوت دعربو سره خاص ګرځولې دې څکه چه اکثریت داهل عربو وو اود هغه دا قول سره د دې چه منطوقًا صحیح دې رسول الله ﷺ اول د امیین طرف ته مبعوث شو مګر دا تخصیص کول چه هغوی صرف د امیین رسول دې غلط دې. بلکه رسول الله ﷺ خود عربو اوعجمو د پاره مبعوث شوې دې. د بعض یهودیانو داګمان ووچه هغوی صرف د امیانو رسول دې او ابن صیاد یهودی ووپه دې وجه هغه دا غلطه خبره اوکړه. فقال النبي صلى الله عليه وسلم آمنت بالله ورسله

اشکال: رسول الله ﷺ د ابن صیاد قول ولې ردنه کړو سره د دې چه هغه د حبیب پاك ﷺ په وړاندې د رسول کیدو شهادت طلب کړو؟

داشکال جوابونه:

① ملاعلی قاری فرمائی لکه څنګه چه ابن صیاد د رسول الله ﷺ د رسالت نفی په طریقه د مفهوم اوکړه نو هم هغه شان په طریقه د منطوق د هغه د قول په مفهوم کښې حضورپاك ﷺ رد اوکړو چه زه خوپه الله تعالی اود هغه په رسولانو باندې ایمان راوړم که ته د رسولانونه وې نوته به مې هم منلې او په تابه مې ایمان راوړلې ووخوته رسول نه یئې

② رسول الله ﷺ ضمنًا په دې رد اوفرمائیلو چه ارشاد ئې اوفرمائیلو آمنت بالله ورسله او ښکاره خبره ده چه هغه د رسولانونه نه دې. حاصل دا چه زه ستا د رسول کیدو څنګه ګواهی ورکولې شم زه خو الله اود هغه رسولان منم اوته د الله تعالی رسول نه یئې. بله دا چه حضوراکرم ﷺ مقصد د هغه د حال تحقیق وو که چرته هغوی صراحتًا د هغه قول

رد کړې وې نو دا غرض به فوت شوې وو

④ علامه طيبي رحمه الله وائي چه د رسول الله ﷺ دا ارشاد په توګه د ارخاء العنان وو د کوم مطلب چه دا دې آمنت بالله ورسله فتفکر اهل انت منهم؟

قوله: يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ:

د مذکوره جملې مطلب: د رسول الله ﷺ د سوال مطلب دادې چه تاله څه راځي هغه تاله څه خبردرکوی د هغه د جواب حاصل دادې چه ماله کوم خبر راوړی کله هغه رښتيا وی او کله هغه دروغ وی

[۵۴۹۶] د جنت په باره کې د حضور ﷺ نه د ابن صياد پوښتنه

۱۶-( )[۳] وَعَنْهُ: ۲ «أَنَّ ابْنَ صَيَّادٍ سَأَلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ تُرْبَةِ الْجَنَّةِ ۳ فَقَالَ: "دَرْمَكَةٌ بَيْضَاءُ مِسْكٌ خَالِصٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو سعيد خدري رضی الله عنه نه روايت دی ۲ چې ابن صياد د حضور ﷺ نه پوښتنه وکړه د جنت خاوره څرنګه ده ۳ حضور ﷺ ورته وفرمايل هغه د سپينو اوړو په شان سپينه او د خالصو مشکو په شان خوشبوداره ده (مسلم)

حل اللغات: - ① دَرْمَكَةٌ: د سپينې ميدې په شان خاوره، ② بَيْضَاءُ: ډيره سپينه.

تسهيلات:

قوله: دَرْمَكَةٌ بَيْضَاءُ مِسْكٌ خَالِصٌ:

د درمکة څخه مراد: د جعفر په وزن باندې دې يعنی د سپينې ميدې په شان خاوره ده لکه څنګه چه د سپينې ميدې اوړه وی او

[۵۴۹۷] ابن صياد څخه د يو غصې په نتيجه کښې دجال جوړيدل

۱۷-( )[۳] ۱ وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ: «لَقِيَ ابْنُ عُمَرَ ابْنَ صَيَّادٍ فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ، ۲ فَقَالَ لَهُ قَوْلًا أَغْضَبَهُ، فَانْتَفَخَ حَتَّى مَلَأَ السِّكَّةَ، ۳ فَدَخَلَ ابْنُ عُمَرَ عَلَى حَفْصَةَ وَقَدْ بَلَغَهَا، ۴ فَقَالَتْ لَهُ: رَحِمَكَ اللَّهُ مَا أَرَدْتَ مِنِ ابْنِ صَيَّادٍ؟ ۵ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "إِنَّمَا يَخْرُجُ مِنْ غَضْبَةٍ يَغْضَبُهَا"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت نافع رحمه الله وايي يوه ورځ د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما ملاقات د مدينې په يو لار کې د ابن صياد سره وشو ۲ نو هغوئ ابن صياد ته يوه داسې خبره وکړه چې د هغه سره هغه غضبناك شو او د جوش وغضب په وجه هغه وپړسيدې تردې پورې چې هغه ټوله کوڅه ګلي يې د خپل غټوالي په وجه ډکه کړه، ۳ دې نه وروسته چې ابن عمر رضی الله عنهما خپلې

( ) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذکر ابن صياد (رقم-۹۳ - (۲۹۲۸) واحمد فی المسند:۴/۳

( ) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذکر ابن صياد (رقم-۹۸ - (۲۹۳۲) واحمد فی المسند:۲۸۳/۶

خور ام المؤمنین بي بي حفصي رضي الله عنها ته راغې اود ابن صیاد خبر ئې ورته اورسولو [۴] نو هغې ورته وفرمایل اې ابن عمر رضي الله عنهما! الله دې په تا خپل رحمت نازل کړي ته دابن صیاد نه څه غواړې چې هغه دې دومره غضب ناك کې [۵] آیا تاته معلومه نه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي وه چې دجال به په څه خبره باندې غضب ناك کیدو سره راوځي

حل اللغات:- ① انْتَفَخَ: اوپړسیدو. ② السِّكَّة: کوڅه، لاره.

تسهیلات:

قوله: إِنَّمَا يَخْرُجُ مِنْ غَضْبَةٍ يَغْضَبُهَا

ددجال د خروج یو سبب: ددې روایت نه اندازه کیږي چه حضرت حفصه رضي الله عنها به ابن صیاد د مستقبل دجال ګنړلو چه د څه غصې د وجې به د دجال په شکل کښې ښکاره کیږي چنانچه هم دغه ابن صیاد په واقعه حره کښې غصه شواو ورك شوې دې او تر ننه پورې ورك دې. ممکن دی چه هم دغه ورك شوې ابن صیاد روستو د دجال په شکل کښې ښکاره شي

[۵۴۹۸] ابن صیاد خپله دجال جوړیدل بد ګنړل

۵۴۹۸-(۵) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «صَحِبْتُ ابْنَ صَيَّادٍ إِلَى مَكَّةَ، [۲] فَقَالَ لِي: مَا لَقِيتُ مِنَ النَّاسِ؟ [۳]! يَزْعُمُونَ أَنِّي الدَّجَّالُ، أَلَسْتَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "إِنَّهُ لَا يُولَدُ لَهُ"؟ وَقَدْ وُلِدَ لِي، [۴] أَلَيْسَ قَدْ قَالَ: "هُوَ كَافِرٌ؟" وَأَنَا مُسْلِمٌ، [۵] أَوَلَيْسَ قَدْ قَالَ: "لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ وَلَا مَكَّةَ؟" وَقَدْ أَقْبَلْتُ مِنَ الْمَدِينَةِ وَأَنَا أُرِيدُ مَكَّةَ،

ترجمه: [۱] و حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه وایې یو خل زه او ابن صیاد د مکې په سفر کې ملګري شو [۲] هغه ماته هغه خپل تکلیف بیان کی چې د خلقو نه هغه ته رسیدلی وو [۳] هغه اوویل خلق مادجال ګڼي (او تاته معلومه ده چې داخبره خلاف حقیقت ده) اې ابوسعیده رضي الله عنه! آیا تا د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دانه دې اوریدلي چې د دجال به اولادونه وي اوحال دادې چې زمااولاد شته [۴] آیا حضور علیه السلام دانه دې فرمایلي چې دجال به کافر وي اوحال دا چې زه مسلمان یم [۵] آیا دا د حضور علیه السلام ارشاد نه دی چې دجال په مدینه او مکه کې نشي داخلیدی اوحال دا چې زه د مدینې نه راروان یم او مکې ته ځم

[۱] ثُمَّ قَالَ لِي فِي آخِرِ قَوْلِهِ: أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَعْلَمُ مَوْلِدَهُ وَمَكَانَهُ وَأَيْنَ هُوَ، وَأَعْرِفُ أَبَاهُ وَأُمَّهُ، [۲] قَالَ: فَلَبَسَنِي، [۳] قَالَ: قُلْتُ لَهُ: تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ، [۴] قَالَ: وَقِيلَ لَهُ: أَيَسُرُّكَ أَنَّكَ ذَاكَ الرَّجُلُ؟ [۵] قَالَ: فَقَالَ: لَوْ عُرِضَ عَلَيَّ مَا كَرِهْتُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابوسعید رضي الله عنه وایې ابن صیاد آخري خبره ماته دا وکړه یاد ساته! قسم په الله زه

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذکر ابن صیاد (رقم-۸۹ - (۲۹۲۷) واحمد فی المسند: ۲۶/۳

د دجال د پيدائش وخت پيژنم او د هغه مکان پيژنم چې هغه به کوم ځاي کې پيدا کېږي او داهم پيژنم چې داوقت هغه کوم ځاي دی او د هغه مور پلار هم پيژنم [۲]ابوسعيد ﷺ وايي ابن صياد په دې خبرو سره زه ګډوډ کړم [۳]ماورته اوويل ته هميشه د پاره هلاك شې [۴]ابوسعيد ﷺ وايي هغه وخت موجود په خلقوکې چا ابن صياد ته اوويل آيا ته به داخوښوي چې ته په خپله دجال يې [۵]ابوسعيد ﷺ وايي په دې اوريدو سره جواب ورکړی هو که د خلقو ګمراه کولو فريب کې اچولو او د کوډو منتر وغيره هغه ټول څيزونه ماته راکول شي کوم چې دجال کښې دي نو زه يې بد نه ګنم . (مسلم)

حل اللغات:- ① فَلَبَّسَنِي: ګډ وډ ئې کړم زه، ② تَبًّا لَكَ: تباه شې.

تسهيلات: قوله: قَالَ فَلَبَّسَنِي:

دابوسعيد رضی الله عنه د شک وجه: نو ابن صياد زه په شك کښې واچولم ابوسعيد لکه چه داسې بيان اوکړو چه اول خو ما يقين لرلو چه هم ابن صياد دجال دې ليکن اوس چه هغه دَخپل ځان دَ دجال کيدو انکاراوکړو نو زه په شك شبه کښې پريوتلم چه دې دجال ګنړلې شي که نه؟ ځکه چه اول خو هغه په دلا ئلو سره داخبره ثابته کړه چه زه دجال نه يم ليکن دَ دجال پيدا کيدل وغيره پيژنم. کيدې شي چه چرته هغه دا خبره په توګه دَتعرض کړې وی اودَ آخری الفاظو نه مراد پخپله دَ هغه ذات وی. ليکن په آخره کښې هغه اوويل که داسې داسې خبرې ماته راکړې شوې نو زه به دَهغې په قبلولو باندې راضی شم دادَ هغه دَ کفر دليل دې دَ کوم په وجه چه ابوسعيد ﷺ په شك کښې پريوتلو.

[۵۴۹۹] د ابن صياد د سترګې ذکر

۵۴۹۹-()[۲] [۱]وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ: لَقِيتُهُ وَقَدْ نَفَرَتْ عَيْنُهُ [۲]فَقُلْتُ: مَتَى فَعَلَتْ عَيْنُكَ مَا أَرَى؟ [۳]قَالَ: لَا أَدْرِي، قُلْتُ: لَا تَدْرِي وَهِيَ فِي رَأْسِكَ؟ [۴]قَالَ: إِنْ شَاءَ اللهُ خَلَقَهَا فِي عَصَاكَ، [۵]قَالَ: فَنَخَرَ كَأَشَدِّ نَخِيرِ حِمَارٍ سَمِعْتُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابن عمر ﷺ وايي (يوه ورځ) په لار کې ځما ملاقات د ابن صياد سره وشو هغه وخت د هغه سترګه پړسيدلې وه [۲]ما پوښتنه ترينه وکړه ستادې سترګه کې چې زه څه وينم (يعني پاړسوب) دا د کله نه دي [۳]جواب يې ورکړو ماته نه ده معلومه چې د کله نه دی ماورته اوويل تاته معلومه نه ده حالانکه ستاپه سرکې ده [۴]هغه اوويل که الله وغواړي نودا سترګه به ستا په همسا کې پيدا کړي [۵]ابن عمر ﷺ وايي دي نه وروسته ابن صياد د خپلې پوزې نه د خره دسخت اواز په شان چې ما اوريدلی دی يو اواز يې اوښکلو . (مسلم)

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذکر ابن صياد (رقم-۹۹ - (۲۹۳۲)

حل اللغات: - ①نَفَرَتْ: پرسيدلې وه. ②عَصَاكَ: په همسا ستا كښې. ③فَنَخَرَ: د پوزې نه ئې د خره د آواز په شان آواز اوويستلو

تسهيلات:

قوله: فَقُلْتُ: مَتَى فَعَلَتْ عَيْنُكَ مَا أَرَى؟:

دابن عمر اوابن صياد مكالمه: ابن عمر رضي الله عنه فرمائی چه ما اول د ابن صياد ستركه ښه په صحيح حالت كښې ليدلې وه بيا چه كله ما د هغه ستركه پرسيدلې اوليدله نو د هغه نه مې د دې سبب تپوس اوكړو نو ابن صياد اووئيل چه بغيرد سبب اوبغيرد څه وجې دا ستركه پخپله داسې شوې ده. ماته د څه قسم درد اوتكليف نه دې شوې نو ابن عمر رضي الله عنه اووئيل چه ستا په سر كښې ستركه ده اوتاته د دې هډو پته اونه لګيدله نو ابن صياد اووئيل چه اې ابن عمر كه الله پاك بغيرد سبب ستا په همسا كښې ستركه پيدا كړي نو سره د دې چه همسا هم تاسره وی خو تاته به پته هم اونه لګی څكه چه دا كار به ناڅاپی كيږی هم دغه شان زما دا معامله ده. د دې نه معلوميږی چه ابن صياد الله پاك پيژندلو او د الله پاك په قادر مطلق كيدو باندې ئې ايمان هم لرلو.

[۵۵۰۰] د ابن صياد په دجال كيدو باندې د حضرت جابر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه قسم خوړل

٥٥٠٠-(١)[٧] ١ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، قَالَ ٢: «رَأَيْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- يَحْلِفُ بِاللهِ أَنَّ ابْنَ الصَّيَّادِ الدَّجَّالُ، ٣ قُلْتُ: تَحْلِفُ بِاللهِ؟ ٤ قَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ عُمَرَ يَحْلِفُ عَلَى ذَلِكَ عِنْدَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٥ فَلَمْ يُنْكِرْهُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ و حضرت محمد ابن منكدر تابعي رحمه الله وايي ٢ چې ما حضرت جابر ابن عبد الله رضي الله عنه اوليدلو هغه په قسم اخستو سره اوويل چې ابن صياد دجال دی ٣ ما هغه ته عرض وكړو چې تاسو د الله قسم خوری ، (حالانكه د ابن صياد دجال كيدل صرف ظنی دی نه چې يقينی) ٤ هغه وفرمايل ما د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه نه واوريدل چې هغه په دې خبره د رسول الله صلى الله عليه وسلم مخكې قسم اخستی چې ابن صياد دجال دی ٥ او رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې نه انكار ونه فرمايلې (بخاری ومسلم)

تسهيلات:

قوله: يَحْلِفُ بِاللهِ أَنَّ ابْنَ الصَّيَّادِ الدَّجَّالُ:

د ابن صياد د دجال په كيدو قسم خوړل: د حضرت جابر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه قسم خوړل

---

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة /باب من رأی ترك النكير من النبی صلی الله عليه وسلم حجة. لا من غير الرسول (رقم-٧٣٥٥) ومسلم فی كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ذكر ابن صياد (رقم-٩٤ - (٢٩٢٩)) وابوداود فی كتاب الترجل /باب فی خبر ابن صائد (رقم-٤٣٣١)

دَدې وجې نه دی لکه څنګه چه امت محمدیه کښې به دَ دروغو مدعیان دَنبوت راځی هم دغه شان هم دَدوی نه یو ابن صیاد هم دې. لکه چه دَدې دواړو دَ قسمونو نه دا نه معلومیږی چه ابن صیاد واقعتًا دجال دې څکه چه حضورپاك دَ ابن صیاد معامله مبهم اوساتله لکه چه دَدې خبرې تردید ئی اوکړو چه هغه به یقینی توګه باندې دجال دې. لیکن دَ روایت دَمطلق الفاظو نه دا معلومیږی چه دَدې دواړو حضراتو به نیز هم دجال معهود مراد دې په دې صورت کښې به دَدې دواړو قسم دَ غالب ګمان په وخت دَ قسم خوړلو په جواز باندې محمول کولې شی. باقی وړاندې په دویم فصل کښې چه کوم روایت راځی چه په هغې کښې ئی په صراحت سره بیان کړې دې چه ابن صیاد دجال معهود دې. کیدې شی چه دَ ابن عمر ﷺ مسلك هم دغه وی. بهر حال په شروع کښې دَ ترجمة الباب لاندې دا ذکرشوې دې چه دَ ابن صیاد متعلق صحابه کرامو ﷺ کښې اختلاف واقع شوې دې. په دې وجه دَ حتمی رائې قائمولو په ځائی خاموشی اوتوقف بنه دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۵۰۱]دَ حضرت ابن عمر ﷺ په نیز هم ابن صیاد دجال وو

۵۵۰۱-()[۸] [۱]عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: كَانَ ابْنُ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-يَقُولُ[۲]: وَاللَّهِ مَا أَشُكُّ أَنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ ابْنُ الصَّيَّادِ. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ).

ترجمه: [۱]حضرت نافع ﷺ وایي حضرت ابن عمر ﷺ به وئیل [۲]قسم په الله ماته په دې کې هیڅ شك نشته چې مسیح دجال ابن صیاد دی دا روایت ابوداود او بیهقي کتاب البعث والنشور کې نقل کړی دی.

تسهیلات:

نوټ: ددې حدیث تشریح د مشکاة په وړاندې حدیث نمبر ۵۵۰۰ په تسهیل کښې تیره شوې ده.

[۵۵۰۲]واقعه حره کښې د ابن صیاد ورکیدل

۵۵۰۲-()[۹] [۱]وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ[۲]: فَقَدْنَا ابْنَ صَيَّادٍ يَوْمَ الْحَرَّةِ. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱]او حضرت جابر ﷺ وایي [۲]مونږ د واقعه حره په ورځ ابن صیاد غائب پیدا کړی وو. یعنی دحرّی په ورځ ورك شویدی (ابوداود)

[۱]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب في خبر ابن صائد (رقم-۴۳۳۰)
[۲]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب في خبر ابن صائد (رقم-۴۳۳۲)

تسهيلات:

قوله: قَدْ فَقَدْنَا ابْنَ صَيَّادٍ يَوْمَ الْحَرَّةِ:

ديوم حره واقعه: واقعه كربلا كښې دَ امام حسين رضي الله عنه دَ شهادت نه پس يزيد شامي فوجونو ته حكم وركړو چه په مدينه منوره باندې حمله اوكړئي ځكه چه هغه خلق زما دَ بيعت منكردى شامي فوجونو سخته حمله اوكړه مديني والو زبردسته مقابله اوكړه مګر شامي فوجونه غالب راغله اوهغوى درې ورځې مدينه لوټ كړه اودَ ښځو بې عزتى ئى اوكړه درې ورځو پورې مسجد نبوى كښې اذان اونه شو. په مدينه باندې تياره خوره وه لس زره انسانان اووژلې شو. يوم حره هم دغه ده هم په دې كښې ابن صياد غصه شواو ورك شو.

اشكال: په يو روايت كښې راځى چه دَ هغه انتقال په مدينه كښې اوشو اودَ هغه دَ جنازې مونځ اوشو نو په دواړو روايتونو كښې په ظاهره تعارض دې؟

داشكال جواب: په روايت كښې دَ غائب كيدو نه مراد عام مفهوم دې په كوم كښې چه مرګ هم شامل دې يعنى دَ واقعه حرة په ورځ په مدينه كښې وفات شوې وو.

[۵۵۰۲] دَ دجال بعضې اوصاف په ابن صياد كښې وو

٥٥٠٢-()[١٠] ١ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ "«يَمْكُثُ أَبَوَا الدَّجَّالِ ثَلَاثِينَ عَامًا، لَا يُولَدُ لَهُمَا وَلَدٌ، ٣ ثُمَّ يُولَدُ لَهُمَا غُلَامٌ أَعْوَرُ أَضْرَسُ، ٤ وَأَقَلُّهُ مَنْفَعَةً، تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ". ٥ ثُمَّ نَعَتَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَبَوَيْهِ، فَقَالَ ٦: "أَبُوهُ طُوَالٌ ضَرْبُ اللَّحْمِ، كَأَنَّ أَنْفَهُ مِنْقَارٌ، ٧ وَأُمُّهُ امْرَأَةٌ فِرْضَاخِيَّةٌ طَوِيلَةُ الْيَدَيْنِ".

ترجمه: ١ او حضرت ابوبكره رضي الله عنه وايي (يوه ورځ) رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ٢ د دجال والدين به ديرش كاله په دي حالت كې تير كړي چې د هغوئ به هيڅ څوى نه وي ٣ بيا د هغوئ به يوځوى پيدا شي چې اعوريوسترګي به وي لوى غاښونو يعنى لوى داړو والا به وي بعضي حضراتو ويلي دي چې اضرس نه مراد دادى چې هغه به غاښونو سره پيدا شي ٤ هغه به ډيركم فائدي والاوي يعنى څنګه چې نور هلكان د كور كار روزګار كې فائده رسوي هغه به هيڅ فائده نه رسوي د هغه دواړي سترګي به اوده كيږي ، ليكن د هغه زړه به نه اوده كيږي ٥ دي نه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم زمونږ مخكي د هغه د مور پلار حال بيان كړو او وي فرمايل ٦ د هغه پلار به ډير اوږد او كم غوښي والا يعنى نرى به وي د هغه پوزه به د چرګ د مښوكي په شان اوږده او نرى وي ٧ او د هغه مور به غټه پيرړه اوږدو لاسونو والا وي

[١]) اخرجه الرترمذى فى السنن كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى ذكر ابن صياد (رقم-٢٢٤٨)واحمد فى المسند:٥/٤٠

حل اللغات: - ① أَعْوَرُ: کانړا، ② أَضْرَسُ: لوئی داړو والا چه غاښونه ئې غټ وی، ③ طُوَالٌ: دَ طويل مبالغه ده، ډير اوږد، ④ ضَرْبُ اللَّحْمِ: كمزورې غوښې والا يعنى نرې مانده به وى، ⑤ مِنْقَارٌ: مخوكه، ⑥ فِرْضَاخِيَّةٌ: دَ كومې ښځې بدن چه ډير چاق وى اوسينې ئې غټې او سستې وى هغې ته "امرأة فرضاخية" وائي.

۱ فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ: فَسَمِعْنَا بِمَوْلُودٍ فِي الْيَهُودِ بِالْمَدِينَةِ، ۲ فَذَهَبْتُ أَنَا وَالزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ، حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى أَبَوَيْهِ، ۳ فَإِذَا نَعْتُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِيهِمَا، ۴ فَقُلْنَا: هَلْ لَكُمَا وَلَدٌ؟ ۵ فَقَالَا: مَكَثْنَا ثَلَاثِينَ عَامًا، لَا يُولَدُ لَنَا وَلَدٌ، ثُمَّ وُلِدَ لَنَا غُلَامٌ أَعْوَرُ أَضْرَسُ، وَأَقَلُّهُ مَنْفَعَةً، تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ.

ترجمه: ۱ ابوبكره رضي الله عنه وايي مونږ د مديني يهوديانو كې د يو عجيب وغريب هلك د موجودګئ په باره كې واوريدل ۲ نو زه او زبير بن عوام رضي الله عنه دهغه ليدو ته ورغلو كوم وخت چې مونږ د هغه هلك والدينو ته ورسيدو ۳ نو ګورو چې هغه بالكل داسې دي څرنګه چې رسول الله ﷺ مونږ ته د هغه د والدينو په باره كې بيان كړى وو ۴ مونږ دهغه دواړو نه پوښتنه وكړه چې آيا ستاسو څوك هلك شته ۵ هغوئ وښودل مونږ ديرش كاله په دې حالت كې تير كړه چې زمونږ يو څوى نه وو بيا زمونږ يو په ستركه كور څوى پيدا شو چې لوى غاښونو والا او ډير كم فائدې رسونكى دى د هغه ستركې اودې وي ليكن د هغه زړه نه اوده كيږي

۱ قَالَ: فَخَرَجْنَا مِنْ عِنْدِهِمَا، ۲ فَإِذَا هُوَ مُنْجَدِلٌ فِي الشَّمْسِ فِي قَطِيفَةٍ، وَلَهُ هَمْهَمَةٌ، ۳ فَكَشَفَ عَنْ رَأْسِهِ فَقَالَ: مَا قُلْتُمَا؟ ۴ قَالَ: هَلْ سَمِعْتَ مَا قُلْنَا؟ ۵ قَالَ: نَعَمْ، تَنَامُ عَيْنَايَ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ ابوبكره رضي الله عنه وايي مونږ دواړه د هغوئ دې خبرې اوريدو سره د هغه ځاى نه روان شو ۲ او بيا اچانك زمونږ نظر په هغه هلك يعنى ابن صياد باندې ولګيدې چې په نمر (دهوپ) كې څادر اغوستى وو او د هغه د څادر نه د ګنګنړ داسې اواز راتلو چې څوك نه په پوهيدې مونږ دهغه په اوريدو سره د هغه متعلق مو څه خبره وكړه يا بل څه به مو ويلي وه ۳ چې هغه د سر نه څادر لرې كولو سره زمونږ نه پوښتنه وكړه تاسو څه ويلي دي ۴ مونږ ورته حيرت سره اوويل مونږ خو دا ګڼله چې ته اوده يې تاخو زمونږ خبره اوريدلي ده ۵ هغه اوويل هو څما ستركي اوده كيږي خو څما زړه نه اوده كيږي (ترمذي)

حل اللغات: - ⑦ مُنْجَدِلٌ: ځان ئې راټول كړې وو، ⑧ قَطِيفَةٌ: څادر، ⑨ هَمْهَمَةٌ: د بنګ بنګ آواز، ګونړ ګونړ كول،

تسهيلات: قوله: وَأَقَلُّهُ مَنْفَعَةً،

دَاقل منفعت مفهوم: دې نه مراد دا چه يوداسې ماشوم به وى كوم چه دَ عزت او قدر په اعتبار سره به ډير عيب دار وى او په عام توګه به خلق هغه ډير خراب ګڼرى خو دَ اولاد دَ

نشت والی په صورت کښې به دَ هغه پیدا کیدل څه قدرې دَ فائدې خبره وی.

قوله: تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ".:

دزړه د نه اوده کیدو وجه: دَ فاسد فکرونو په وجه به باطل وسوسې او ګډوډ خیالونه دومره زیات وی چه زړه به دَ هغې نه فارغ نه وی خو طبعًا به په سترګوکښې خوب راشی لکه څنګه چه انبیاء کرام علیهم السلام ته دَ صحیح فکرونو او نیک سوچ په وجه دا صلاحیت ورکولې شی چه دَ هغوی زړه بیدار وی او سترګې ئې پټې وی.

دبعضې جملووضاحت:

① **أَبُوهُ طِوَالٌ:** په ضمه دَ طاء او تخفیف دَ واؤ صیغه مبالغه ده او په تشدید دَ واؤ سره خو به پکښې ډیره مبالغه وی. خو هم په تخفیف سره دې.

② **ضَرْبُ اللَّحْمِ:** خفيف الحم المستدق یعنی کمزورې بدن والا

③ **كَأَنَّ أَنْفَهُ مِنْقَارٌ:** كان بتشديد النون مراد دا چه دَهغه پوزه به دَ اوږدې مخوکې په شان وی.

④ **فِرْضَاخِيَّةٌ:** په کسره دَ فاء او تشدید دَ یاء ای ضخمة عظيمة بې فائدې غټ، دَ یاء اضافه مبالغة ده. لکه احمری کذافی القاموس. وثیلی شی رجل فرضاخ په معنی دَ ضخیم، عریض یعنی پلن. اوږد اودَ مؤنث دَ پاره فرضاخة، فرضاخية په معنی عظیمة الثديين دَ چا ثديين چه چاق چاق وی.

⑤ **مُنْجَدِلٌ:** یعنی په زمکه باندې په نمر کښې پروت وو.

⑥ **هَمْهَمَةٌ:** ای زمزمة داسې خبرې لکه چه دَمچو دَبنګاری په شان وی او په پوهه کې رانشی

[٥٥٠٤] حضورپاکﷺ ته خطره وه چه چرته ابن صیاد دجال نه وی

٥٥٠٤-(١)[!!] ① وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ② «أَنَّ امْرَأَةً مِنَ الْيَهُودِ بِالْمَدِينَةِ وَلَدَتْ غُلَامًا مَمْسُوحَةً عَيْنُهُ، طَالِعَةً نَابُهُ، ③ فَأَشْفَقَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يَكُونَ الدَّجَّالَ، ④ فَوَجَدَهُ تَحْتَ قَطِيفَةٍ يُهَمْهِمُ، ⑤ فَآذَنَتْهُ أُمُّهُ فَقَالَتْ: يَا عَبْدَ اللَّهِ! هَذَا أَبُو الْقَاسِمِ، ⑥ فَخَرَجَ مِنَ الْقَطِيفَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَا لَهَا قَاتَلَهَا اللَّهُ؟ لَوْ تَرَكَتْهُ لَبَيَّنَ".

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷺ نه روایت دی ② د مدینې د یوې یهودې ښځې یو خوی پیدا شو چې د هغه سترګه یعنی ښې سترګه او بعضو ویلې دې چې چپه سترګه آواره وه او د هغه داړې بهر راوتلی وې رسول الله ﷺ ته چې د داسې هلك په باره کې معلومه شوه ③ نو حضور ﷺ سره ډیره پیدا شوه چې دا دجال نه وې او د امت خلق فتنه او فساد کې مبتلا نه کړي ④ نو یوه ورځ حضور ﷺ د هغه په لیدو او د هغه حقیقت معلومولو د پاره

١) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ٤٢٧٤ واحمد فی المسند: ٣٦٨/٣

تشریف یوورلو نو هغه یې په یو څادر کې لاندې پروت اولیدلو هغه وخت هغه قلار قلار څه وئیل چې د هغه مفهوم پوهه کې نه راتلو ۵د هغه مور اوویل اې عبد الله یعنی ابن صیاد (ګوره) دا ابو القاسم (محمد ﷺ) ولاړ دی هوښیار شه او د ده سره خبره وکړه ۶هغه په دې اورېدو سره د څادر نه اووتلو رسول الله ﷺ وفرمایل دې ښځې ته څه وشو الله دې هلاکه کړي (چې هغه هلك څما د راتلو نه خبردار او هوښیار کی که هغې دغه شان هغه په خپل حال پرېښې وي او څما د راتلو څخه یې خبردار کړی نه وی نو یقینًا هغه به خپل حال ظاهر کړی وای

حل اللغات: - ①مَمْسُوحَةٌ: مسح شوې، ورانه شوې، ②طَالِعَةٌ: راوتلې وې، ښکاره وې. ③نَابِئَةٌ: غائبونه دهغه، داړې، ④أَشْفَقَ: ویره پیدا شوه، ⑤قَطِيفَةٍ: څادر، ⑥يَتَمْتَمُ: د ښنګ ښنګ آواز. ګونګ ګونګ کول.

١فَذَكَرَ مِثْلَ مَعْنَى حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ ٢فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: ائْذَنْ لِي يَا رَسُولَ اللّٰهِ! فَأَقْتُلَهُ، ٣فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِنْ يَكُنْ هُوَ فَلَسْتَ صَاحِبَهُ، إِنَّمَا صَاحِبُهُ عِيسَى بْنُ مَرْيَمَ، وَإِلَّا يَكُنْ هُوَ فَلَيْسَ لَكَ أَنْ تَقْتُلَ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْعَهْدِ" ٤فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُشْفِقًا أَنَّهُ هُوَ الدَّجَّالُ». رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: ١دې نه وروسته حضرت جابر ﷺ یا راوي د حضرت عمر ﷺ د هغه حدیث مطابق بیان وکړو کوم چې د باب په شروع کې نقل شوي دي) ٢نو حضرت عمر ابن خطاب ﷺ عرض وکړو یارسول الله که تاسو اجازت راکوئ نو زه دې قتلوم ٣حضور ﷺ ورته وفرمایل که دی (یعنې ابن صیاد) هغه دجال دی نو ته یې قاتل نشې جوړېدی بلکه د ده قاتل به عیسی ابن مریم ﷺ وي (څکه چې د حضرت عیسی ﷺ نه علاوه بل سړي ته د ده د قتل طاقت او قدرت نه دی ورکول شوی) که دی هغه دجال نه دی نو تاته د یو داسې سړي د قتلولو څه حق نشته کوم چې اهل ذمه کې دي یعنی هغه غیرد مسلمو نه دی چې د هغوئ د څان ومال حفاظت زمونږ په ذمه شوي دي او هغوئ ته ذمي وئیل شوي دي ٤دې نه وروسته رسول الله ﷺ د خپل امت متعلق په حقله برابر دا خوف لرلو چې ابن صیاد چیرته دجال نه وي دا روایت بغوي ﷫ په شرح السنه کې نقل کړی دی.

حل اللغات: -④مُشْفِقًا: ویریدونکې.

تسهیلات:

قوله: إِنْ يَكُنْ هُوَ فَلَسْتَ صَاحِبَهُ، إِنَّمَا صَاحِبُهُ عِيسَى بْنُ مَرْيَمَ:

نوټ: ددې حدیث څخه معلومه شوه چې د اب صیاد باره کښې نبی ﷺ ته شک وو چې دا دجال دې او که نه دې باقي ددې خبرې تفصیل وړاندې د دې باب په اول کښې تیر شوې دې چې ابن صیاد دجال وو که نه خو راجح خبره دا ده چې ابن صیاد دجال نه وو.

[۵] بَابُ نُزُولِ عِيسَى عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ

دَحضرت عیسی علیه السلام دَ نازلیدو بیان

خلاصة الباب

فيه اربعة احاديث مشتملة على مسئلتين:

① ثبوت نزول عيسى عليه السلام: ۱، ۲، ۳، ۴.

② حاله ومكثه في الأرض بعد نزوله من السماء: ۱، ۴.

دعيسی علیه السلام د قتل منصوبه: په یوه موقع یهودیانو هغه قتل کول غوښتل هغه په یو مکان کښې پټ شو عیسایانو دَهغوی دفاع اونه کړه بلکه یوخو عیسایانو دَ دیرشو روپو په عوض دَ هغه جاسوسی اوکړه اویهودو ته ئی دَهغه مکان پته اوخودله یهودیانو دَهغه مکان نه ګیره واچوله او یوبدبخت ئی دننه ورواولیږلو چه عیسی علیه السلام شهید کړی حضرت جبرائیل علیه السلام دَ الله تعالی په حکم سره حضرت عیسی علیه السلام دَمکان دَ چت نه اوویستلو اوپورته آسمانونوته ئی بوتلو په مکان کښې دَ حضرت عیسی علیه السلام شکل هغه سړی باندې واچولې شو کوم چه دننه داخل شوې وو نوکله چې هغه بهر راؤوتلو نویهودیانو هغه عیسی علیه السلام ګنړلوسره قتل کړو اوس هغوی په شک کښې شو که چرې دا مقتول عیسی علیه السلام دې نوهغه زمونږ سړې چرته لاړو اوکه چرې دا زمونږ هغه سړې دې نو عیسی علیه السلام چرته لاړو یهودیان اوعیسایان ترننه پورې دَحضرت عیسی علیه السلام په قتل کښې دَ تذبذب ښکاردی اوڅه فیصله نه شی کولې

د عیسی علیه السلام باره کښې اسلامی عقیده: دَاهل اسلام اجماعی عقیده ده چه حضرت عیسی علیه السلام الله تعالی آسمانونوته بوتلې دی اوهلته په هغه باندې دَ فرښتو صفات واچولې شو لهذا هغه دَ بشریت دَ صفاتو نه پاک شو نه خوراك څښاك اونه متیازې نه ګرمی نه یخنی بلکه هغه په دویم آسمان باندې فرښتو سره اوسیږی اودَ قیامت په نیزدې کیدو سره به د آسمان نه لاندې نازلیږی دَ دمشق دَ جامع مسجد دَمنارې په مشرقی غاړه به راکوزیږی اوس د لاندې راکوزیدو دَپاره الله تعالی اسباب راپیدا کړی دی دنیا خو دارالاسباب دې په دې وجه به حضرت عیسی علیه السلام پاؤرئی راغواړی اوپاؤرئی لګولو سره به ښکته راځی

دَجمعې ورځ به وی دَمازیګر مونځ به تیاروی حضرت مهدی به په انتظارکښې وی هغوی ته به دَمونځ ورکولودَپاره وائی هغوی به جواب ورکړی چه نه ته مونځ پخپله ورکړه ځکه چه دَدې امت امام ته ئی زه یو خاص کار یعنی دَ دجال دَ قتلولودَپاره راغلې یم بهرحال نزول عیسی علیه السلام دَ اسلام اساسی عقیده ده دَدې نه انکارکونکې ګمراه کیږی بعضې کافران یعنی قادیانان اوبعضې نور روشن خیال دَ نزولِ عیسی علیه السلام نه انکارکوی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۵۰۵] دعيسى عليه السلام زمکې ته راکوزيدل

۵۵۰۵-()[۱] ۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ، ۳ حَكَمًا عَدْلًا، فَيَكْسِرُ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلُ الْخِنْزِيرَ، وَيَضَعُ الْجِزْيَةَ، ۴ وَيَفِيضُ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ، ۵ حَتَّى تَكُونَ السَّجْدَةُ الْوَاحِدَةُ خَيْرًا مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا". ۶ ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ: فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ: ﴿وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ﴾ [النساء: ۱۵۹] الْآيَةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ۲ قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کې ځما ساه ده يقينًا عيسىٰ ابن مريم به د آسمان نه ستاسو په منځ کې راکوزيږي ۳ چې يو عادل حاکم به وي هغه به صليب مات کړي خنزير به ووژني يعنې د هغه پالل او خوړل به مطلق حرام او ممنوع کړي او د هغه وژل به مباح کړي جزيه به پورته کړي ۴ په هغه زمانه کې به د دولت فراخي وي ددې پورې چې هيڅوک به د دې خواهشمند نه وي ۵ او هغه وخت به يوه سجده ددنيا او د دنيا د ټولو څيزونو نه ښه وي ۶ دې حديث بيانولو نه وروسته به حضرت ابوهريره رضي الله عنه وئيل که تاسو دې خبره کې څه شك شبهه لرئ او دليل حاصلول غواړئ نو دا آيت اووايئ وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ يعنې هيڅ اهل کتاب که يهودي وي يا عيسائي به داسې باقي پاتې نشي چې عيسىٰ عليه السلام باندې به د هغوئ د وفات نه مخکې ايمان رانه وړي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ۱ لَيُوشِكَنَّ: دَ افعال مقاربه نه دې دَ قريب او نزدې په معنى کښې دې. ۲ الصَّلِيبَ: دعيسايانو خاص مذهبي نښه، ۳ يَفِيضُ: فراخه به وي،

تسهيلات: قوله: أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ، حَكَمًا عَدْلًا،

دعيسى عليه السلام دحاکمانه حيثيت: يعنې حضرت عيسىٰ عليه السلام به حاکم (دَخلقو په مينځ کښې فيصله کونکې) کيدو په حيثيت سره راکوزيږي او دَ خلقو په مينځ کښې به په شريعت محمديه علي صاحبها ألف ألف تحية وسلام مطابق فيصلې کوی ځکه چه دَ باقي شريعتنو په شان به شريعت محمديه نه منسوخ کيږی. ([2])

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه حضرت عيسىٰ عليه السلام ته دَهغه وخت دَحکام نه يو حاکم

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب نزول عيسى ابن مريم عليهما السلام (رقم-۳۴۴۸) ومسلم في كتاب الإيمان/باب نزول عيسى ابن مريم حاكمًا بشريعة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم (رقم-۲۴۲ - (۱۵۵) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في نزول عيسى ابن مريم عليه السلام (رقم-۲۲۳۳) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب فتنة الدجال، وخروج عيسى ابن مريم، وخروج يأجوج، ومأجوج (رقم-۴۰۷۸)

[2]) فتح الباري: ۶/۴۹۱ عمدة القاري: ۱۶/۵۴ إرشاد الساري: ۷/۴۰۶.

وی (۱) د صحیح مسلم په روایت کښې ((حکما)) سره ((مقسطا)) معنی انصاف کونکې دي (۲) امام طبراني رحمه الله د عبدالله بن مغفل رضي الله عنه دحدیث تخریج کړې دې چه عیسی علیه السلام به د نزول نه پس د امت محمدیه تصدیق او د هغوی پیروی کوی (۳)

قوله فَيَكْسِرُ الصَّلِيبَ:

د صلیب ماتولو دوه مطلبونه: د حاکم په حیثیت سره د نازلیدونه پس به حضرت عیسی علیه السلام صلیب ماتوی

① که چرې کسر صلیب په حقیقت باندې محمول کړې نو معنی به شي د نصاری د شان او شوکت ختمولو په غرض به صلیب ماتوی او غورزوی به

② که چرې د صلیب ذکر تمثیلاً دې نو مراد به شي چه نصاری د کومو څیزونو تعظیم کوی هغه به مات کړی او به غورزوی

قوله وَيَقْتُلُ الْخِنْزِيرَ،

د خنزیر قتلول: خنزیر به قتل کوی. د حدیث د دې تکړې نه حضرات فقهاء کرام د خنزیر ساتل او هغه خوړلو حرمت او د هغې په نجس العین کیدو باندې استدلال کړې دې وجه د استدلال داده چه شریعت مطهره د قابل انتفاع څیزونو ضائع کولو او هلاك کولو حکم نه کوی خو په حدیث الباب کښې د خنزیر د قتل کولو ذکر دې د دې نه معلومه شوه چه خنزیر قابل انتفاع نه دې (۴)

قوله وَيَضَعُ الْجِزْيَةَ،

د جزیه ختمولو درې وجوهات: ① جزیه به ختمه کړی. د حدیث د دې جز نه مراد دادې چه د نزول عیسی علیه السلام نه پس به صرف هم یو دین وی. حضرت عیسی علیه السلام به د اهل کتابو د طرف نه صرف اسلام راوړل قبلوی.

② د جزیه ختمولو یوه وجه به دا هم وی چه د نزول عیسی علیه السلام نه پس به چونکه هرطرف ته د اسلام چرچه وی ظلم به ختم کړې شي او انصاف به عام وی په خلقو کښې به مینه او محبت وی د کوم په سبب چه به زمکه هم خپل برکتونه راښکاره کړی

③ په خلقو کښې د مالونو کثرت وی او دومره کثرت به وی چه څوك صدقه قبلونکې به نه وی اوس ښکاره خبره ده چه داسې حالت وی نو د جزیه افادیت به باقی پاتې نه شي په

---

(۱) فتح الباري: ۴۹۱/۶.
(۲) صحیح مسلم کتاب الإیمان باب نزول عیسیٰ ابن مریم.... إلخ رقم الحدیث: ۳۹۰-۳۸۹.
(۳) المعجم الأوسط: ۲۷/۵ رقم الحدیث: ۴۵۸۰ دارالحرمین. فتح الباري: ۴۹۱/۶.
(۴) فتح الباري: ۴۹۱/۶ إرشادالساري: ۴۰۶/۷.

دي وجه به دَ جزيه حكم ساقط كړي شي. (۱)

يواشكال: حضرت عيسیٰ عليه السلام خوبه د يو امتي په حيثيت حكومت او فيصلې كوي نو بيا د جذيه ختمولو نسبت دوى ته ولې شوې دې؟

داشكال جواب: دَدې نسخ خبرخو نبي كريم ﷺ پخپله خپلو احاديثو كښې وركړې دې نوپه حقيقت كښې دَدې نسبت به هم نبي عليه الصلاة والسلام دې خبره صرف دومره ده چه دَ اسقاط جزيه حكم به د نزول مسيح عليه السلام سره مقيد دې. (۲)

يو روايت او دهغې مفهوم: بعض رواياتو كښې «يضع الجزية» په ځائې «يضع الحرب» الفاظ راغلي دى. په دې صورت كښې به مفهوم داشي چه حضرت عيسیٰ عليه السلام به جنگ ختم كړي ځكه چه هغه وخت به صرف هم يو دين دين اسلام په ټوله دنيا باندې رائج وى ټول خلق به په عقائدو كښې متفق وى دَ كوم په وجه چه به دَ جنگ نوبت نه راځي. (۳)

قوله: حَتَّى تَكُونَ السَّجْدَةُ الْوَاحِدَةُ خَيْرًا مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا".

ديوې سجدې دعظمت وجه: اول «حتى، دَ يفيض المال» سره متعلق دې او دويم «حتى» دَ پورته ذكرشوو ټولو امورودَپاره غايت دې. اودَدې معنى داده چه دَدغه پورته كارونو دَ پوره كولونه پس به چونكه په زمكه كښې امن اوامان فضا خورېږى. دَمال اومنال به دومره زياتوالې وى چه څوك به دَ صدقه اوزكوة مستحق نه ملاوېږى. په داسې حال كښې دَالله تعالى قرب حاصلول سوا دَ عبادت به بل هيڅ ذريعه نه وى. په دې وجه دَ خلقودَپاره دَ الله تعالى په درباركښې يوه سجده دَ دنيا اومافيها نه بهتر وى. (۴)

اشكال: دَ الله تعالى په درباركښې سجده كول خو په هره زمانه كښې دَ دنيا اومافيها نه بهترده ځكه چه دَدې تعلق خالص دَ آخرت سره دې بيا دا ولې اوفرمائيلې شو چه هغه وخت به (دَ عيسیٰ عليه السلام دَ نازليدلونه پس) دَ خلقو دَپاره يوه سجده دَ دنيا اومافيها نه ولې بهتروى؟

داشكال جواب: هغه وخت به دَ خلقو دَپاره (سوا دَ عبادت نه) دَ مال اومنال صدقه كول او الله تعالى ته دَ نيزديكت بل څه لار نه وى په دې وجه دَ خلقو دَپاره دَ الله تعالى په درباركښې يوه يوه سجده دَ دنيا اومافيها نه بهتر اوافضل وى. (۵)

(۱) فتح الباري: ۴۹۱/۶ عمدة القاري: ۵۴/۱۶ إرشادالساري: ۴۰۶/۷.
(۲) فتح الباري: ۴۹۱/۶ عمدة القاري: ۵۴/۱۶ إرشادالساري: ۴۰۶/۷.
(۳) فتح الباري: ۴۹۱/۶ عمدة القاري: ۵۴/۱۶.
(۴) فتح الباري: ۴۹۱/۶ عمدة القاري: ۵۴/۱۶ إرشادالساري: ۴۰۶/۷ إكمال المعلم بفوائد مسلم: ۴۷۱/۱ دارالوفاء.
(۵) فتح الباري: ۴۹۱/۶ عمدة القاري: ۵۴/۱۶ إرشادالساري: ۴۰۶/۷.

قوله: ثُمَّ يَقُولُ أَبُوهُرَيْرَةَ: فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ:

د آیت پیش کولو دوه مقاصد:

① ابوهریره رضی الله عنه دَ حضرت عیسی علیه السلام په آخری زمانه کښې په نازلیدلو باندې استدلال کولو دپاره د آیت حواله ورکړه.

② ابوهریره رضی الله عنه دَ مذکوره حدیث د تائید او تصدیق په غرض دا آیت حواله ورکړه. [1]

قوله: وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ:

د موته د ضمیر په مرجع کښې درې تفسیرونه: ① ابن جریر رحمه الله دَ سعید بن جبیر عن ابن عباس رضی الله عنهما په طریق صحیح سند سره دَ دواړو ضمیرونو مرجع حضرت عیسی علیه السلام ګرځولې دې. په دې صورت کښې به دَ آیت مقصد دا بیانول وی چه دَ عیسی علیه السلام دَ نازلیدلو په وخت چه څومره اهل کتاب وی ټول به په عیسی علیه السلام باندې دَ هغه دَ وفات نه مخکښې ایمان راوړی. ابن جریر رحمه الله هم دا تفسیر راجح ګرځولې دې. [2]

② دویم تفسیر دا دې چه دَ «موته» ضمیر اهل کتاب طرف ته راجع دې. چنانچه ابن جریر رحمه الله دَ عکرمه عن ابن عباس په طریق سره روایت کړې دې: «لا يموت يهودي حتى يؤمن بعيسى ابن مريم» یعنی یو یهودی له ترهغه وخته پورې مرګ نه شی راتلې ترکومې چه په حضرت عیسی علیه السلام باندې ایمان رانوړی. بعض روایاتو کښې دی چه دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه تپوس اوکړې شو که یو یهودی څه ناڅاپی آفت راګیر کړو او هغه فوری توګه باندې مړ شونو؟ ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل «يلجلج بها لسانه» بیا به هم هغه له مرګ نه راځی ترکومې چه دَ هغه ژبه په عیسی علیه السلام باندې دَ ایمان راوړو کلمه اونه وائی.

کوم حضرات چه دَ «موته» ضمیر مرجع اهل کتاب ګرځوی هغوی دې توجیه ته دَ حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه دَ قراءت په بنیاد باندې ترجیح ورکړې ده ځکه چه دَ هغوی قراءت ضمیر جمع یعنی «موتهم» سره دې او ښکاره خبره ده چه په داسې صورت کښې به مرجع اهل کتاب وی. [3]

③ دَ دې آیت تفسیر دا دې چه دَ «به» ضمیر نبی کریم صلی الله علیه وسلم طرف ته راجع دې او دَ «موته»

---

[1] إرشادالساري: ٧/٦٠٤ منحة الباري: ٦/٥٤١ مكتبة الرشد.

[2] تفسير الطبري: ٧/٦٦٤ – ٦٧٢ سورة النساء رقم الآية: ١٥٩، دارهجر. فتح الباري: ٦/٤٩٢ عمدة القاري: ١٦/٥٤-٥٥ دارالكتب العلمية.

[3] تفسير الطبري: ٧/٦٦٤ – ٦٧٢ سورة النساء رقم الآية: ١٥٩، دارهجر. فتح الباري: ٦/٤٩٢ عمدة القاري: ١٦/٥٤-٥٥ دارالكتب العلمية.

ضمير كتابي طرف ته راجع دې. په دې صورت كښې به معنى داشي چه هيڅ يو كتابي كه هغه نصراني وى او كه يهودي هغه وخته پورې ورته مرګ نه شي راتلې تركومې چه هغه په نبي كريم ﷺ باندې ايمان رانوړى. دا تفسير دَحضرت عكرمه رحمه الله نه نقل دې. هغه فرمائي: ((لايموت النصراني واليهودي حتى يؤمن بمحمد صلى الله عليه وسلم، يعني في قوله: ﴿وَإِنْ مِّنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ﴾))

د عيسى عليه السلام په نزول كښې درې حكمتونه: دَ انبياء كرامو عليهم السلام نه په خاص توګه دَحضرت عيسى عليه السلام نزول به په دې وجه كيږي د نزول مسيح عليه السلام په وجه دَ يهوديانو هغه باطل ګمان باندې رد كول دى چه هغوى العياذ بالله حضرت عيسى عليه السلام قتل كړې دې. نو په نزول عيسى عليه السلام سره به دې ګمان ترديد اوشي اودا به هم ښكاره شي چه يهوديانو دَعيسى عليه السلام قتل نه دې كړې بلكه عيسى عليه السلام به هغوى قتل كوى.

② انسان چونكه دَخاورې نه جوړ دې او اصول دادى چه دَ خاورې نه جوړشوې به هم په خاورو كښې خښيږى په دې وجه په وخت دَ اجل موعود به دَحضرت عيسى عليه السلام نزول كيږى دې دپاره چه دَتجديد اسلام نه پس هم په زمكه كښې مدفون شي. هم دغه شان بعض حضراتو دا وجه هم بيان كړې ده چه حضرت عيسى عليه السلام دَ نبي كريم اودَهغوى دَامت صفات كتلوسره دَ الله تعالى نه دعاكړې وه چه هغه دې هم الله تعالى په امت محمديه كښې شامل كړى. الله تعالى ئې دعا قبوله كړه اوهغوى ئې تراوسه پورې ژوندى اوساتل ترڅو چه كله په آخرى زمانه كښې دَ فتنو عروج وى په دنياكښې دجال هرطرف ته فتنې خورې كړې وى. نو هغه وخت به دَحضرت عيسى عليه السلام نزول كيږى او هغه به دغه فتنې ختموى. دجال به قتل كوى اودَ اسلام تجديد به كوى.([1])

③ علامه عيني رحمه الله فرمائي چونكه دَ عيسى عليه السلام زمانه اودَ نبي كريم ﷺ زمانه په نسبت دَ نورو انبياء كرامو نيزدې ده په دې وجه (دَ اسلام دَتجديد دَپاره) به دَحضرت عيسى عليه السلام نزول كيږى.([2])

[۵۵۰٦] دَ حضرت عيسى عليه السلام دَزمانې د بركتونو ذكر

۵۵۰٦-([3])[۲] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«وَاللهِ لَيَنْزِلَنَّ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَادِلًا، فَلَيَكْسِرَنَّ الصَّلِيبَ، وَلَيَقْتُلَنَّ الْخِنْزِيرَ، ③ وَلَيَضَعَنَّ الْجِزْيَةَ، وَلَيَتْرُكَنَّ الْقِلَاصَ، فَلَا يُسْعَى عَلَيْهَا، ④ وَلَتَذْهَبَنَّ

[1]) فتح الباري: ۴۹۳/۶ دارالمعرفة منحة الباري للشيخ زكريا الأنصاري: ۴۱/۶ مكتبة الرشد.
[2]) عمدة القاري: ۵۵/۱۶ دارالكتب العلمية.
[3]) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء /باب نزول عيسى ابن مريم عليهما السلام (رقم-۳۴۴۹) ومسلم في كتاب الإيمان/باب نزول عيسى ابن مريم حاكمًا بشريعة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم (رقم-۲۴۲ - (۱۵۵) واحمد في المسند: ۴۹۴/۲

الشَّحْنَاءُ وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ، ۵ وَلَيَدْعُوَنَّ إِلَى الْمَالِ فَلَا يَقْبَلُهُ أَحَدٌ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ، ۶ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا قَالَ: " «كَيْفَ أَنْتُمْ إِذَا نَزَلَ ابْنُ مَرْيَمَ فِيكُمْ، وَإِمَامُكُمْ مِنْكُمْ؟» ".

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په الله قسم چې حضرت عيسى ابن مريم به په داسې حالت کې نازل شي چې هغه به يو عادل حاکم وي صليب به مات کړي خنزير به قتل کړي ۳ د ذميانو نه به جزيه پورته کړي او ځواني اوښې به پريښودل شي دهغوئ نه د سورلى او بارداری کار نشي اخستى ۴ او يقينًا د خلقو د زړونو نه به کينه بغض او حسد لاړ شي ځکه چې داټولې خرابئ د دنيا محبت او لالچ نه پيدا کېږي هرکله چې دنيا او د دنيا د څيزونو طرف ته څه رغبت پاتې نشي نو دا خرابې به د کوم ځاي نه پيدا کېږي ۵ او يقينًا حضرت عيسى ﷺ به خلق مال ودولت سره نوازلو د پاره رابلي ليکن د استغناء او بې نيازي په وجه به هيڅوک مال ودولت اخستونکي نه وي (مسلم) او د بخاري ۶ او مسلم په يو روايت کې دادي چې حضور ﷺ وفرمايل هغه وخت به ستاسو څه حال وي (يعني تاسو به څومره سکون او آرام محسوسوي) هرکله چې عيسى ﷺ ابن مريم ستاسو په منځ کې راکوز شي او ستاسو امام ستاسو نه يعنى د اهل قريشو نه يا ستاسو د ملت نه څوك فرد وي.

حل اللغات: - ① الْقِلَاصُ: ځواني اوښې، دا دعربو محبوب مال دي. ② الشَّحْنَاءُ: بغض، حسد او کينه.

تسهيلات:

قوله: وَاللهِ لَيَنْزِلَنَّ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَادِلًا،

دعيسى عليه السلام په شريعت محمدى فيصلې کول: ځکه چه هم دا شريعت به باقى وى منسوخ به نه وى او عيسى ﷺ به هم دَ دې شريعت احکام جارى کوى اوهغه وخت به حکم کيږى إِمَّا الاسلام وإمَّا السيف لهذا جزيه به ختمه کړى. حافظ ﷬ فرمائى دَ دې دا مطلب دې چه څوک به ذمى پاتې نه شى بلکه ټول به مسلمانان وى.

قوله: فَلَيَكْسِرَنَّ الصَّلِيبَ،

دصليب تعريف: اصطلاحًا مثلث لرګې کوم چه دَ نصارى سره وى دَ هغوى ګمان دې چه په داسې لرګى سره ئې هغه په سولئى کړې وو دَ حضرت مسيح ﷺ تصويرهم هغوى جوړوى او ځان سره ئې ساتى

قوله: وَلَيَضَعَنَّ الْجِزْيَةَ،

ديضع مفهوم: حافظ ﷬ فرمائى چه مراد دادې چه هم يو دين به وى څوک به ذمى يا مستامن نه وى بلکه ټول به مسلمانان وى حکم به کيږى په هغه وخت کښې به يا اسلام وى اويا به په تلوار باندې کافرانو سره جنګ کولې شى.

قوله: وَلَيُتْرَكَنَّ الْقِلَاصُ، فَلَا يُسْعَى عَلَيْهَا،

په ځوانې اوښې سورلی نه کول: یعني دغه ځوانې اوښې به پریخودې شی په هغې باندې سورلی اوبوج بارکول به هیرکړې شی خلق به داسې دَ مال نه مستغني شی چه دغه محبوب ترین مال ته به هم نه ګوری.

قوله: وَلَتَذْهَبَنَّ الشَّحْنَاءُ وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ،

دبغض کینې ختمیدل: یعني دَ دنیا محبت به ختم شی نودَ دې نه پیدا شوې بیمارئی مثلاً کینه اوبغض حسد او عداوت به هم ختم شی.

قوله: وَلَيَدْعُوَنَّ إِلَى الْمَالِ فَلَا يَقْبَلُهُ أَحَدٌ

د عدم قبول مال په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دادې چه مال به دومره زیات وی چه دَ خلقو نه به دَ جزیې اخستلو ضرورت نه وی.

② علامه نووی رحمه الله فرمائی چه اصل معنی داده چه حضرت عیسیٰ علیه السلام به د اسلام نه علاوه به دَ چا مال وغیره نه قبلوی اودَ دې معنی تائید په ډیرو روایتونو سره کیږی ځکه چه دَ جزیې جواز مُقید دې دَ نزول مسیح سره دا حکم هم زمونږ دَ شریعت دې

[۵۵۰۷] جهاد به جاری وی تردې چې د عیسی علیه السلام نزول به اوشی

۵۵۰۷-()[۳] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ» [۳] قَالَ: «فَيَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ، فَيَقُولُ أَمِيرُهُمْ: تَعَالَ صَلِّ لَنَا [۴] فَيَقُولُ: لَا إِنَّ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ أُمَرَاءُ، تَكْرِمَةَ اللَّهِ هَذِهِ الْأُمَّةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] ځما په امت کې به همیشه یو جماعت حق د پاره جنګیږي او په خپلو دښمنانو به غالب راځي د قیامت نزدې پورې به داسلسله جاري وي [۳] بیا حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل هرکله چې حضرت عیسیٰ بن مریم د آسمان نه راکوزشي او هغه وخت مسلمانان د ما نځه په حالت کې وي نو د امت امیر یعني امام مهدي به عیسیٰ ته وایي چې راځه مونږ ته مونځ راکړه ځکه چې د امامت حق د هغه سري وي کوم چې افضل وي او ښکاره ده چې تاسو د کامل رسول او نبي په حیثیت سره دوخت د ټولو نه افضل یي [۴] لیکن عیسیٰ علیه السلام به هغه ته جواب ورکړي چې زه امامت نه کوم (ځکه چې ځما د امامت په وجه دا ګمان کیدی شي چې ستاسو دین منسوخ شوي دي) بلاشبه په تاسو کې بعضې خلق بعضو باندې امام او امیر دي په دي

---

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب نزول عیسی ابن مریم حاکمًا بشریعة نبینا محمد صلی الله علیه وسلم (رقم-۲۴۷ -(۱۵۶) وابوداود فی کتاب الجهاد/باب فی دوام الجهاد (رقم-۲۴۸٤) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الأئمة المضلین (رقم-۲۲۲۹) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب فتنة الدجال، وخروج عیسی ابن مریم، وخروج یأجوج، ومأجوج (رقم-٤۰۷۵) واحمد فی المسند:۲۷۹/۵

سبب چې الله ﷻ دا امت محمديه بزرگ او برتر گرځولی دی (مسلم) او په دې باب کې دويم فصل نشته

حل اللغات: - ① ظَاهِرِينَ: غالب به راځي، ② تَكْرِمَةً: عزت مند، بزرگ او برتر.

تسهيلات:

قوله لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ:

دقيامت د ورځې پورې په حق باندې قائمه ډله نبی عليه السلام فرمائی چې ترقياته پورې به په هره زمانه کښې يوه ډله په حق باندې ولاړه وی اودباطل سره به جهاد کوی او په تعليماتو به عمل کوی

قوله: ظَاهِرِينَ:

دظاهرين معنی: غالبين على الباطل حجة علامه طيبی رحمه الله فرمائی ظاهرين دَ لا تزال دويم خبردې يا دَ ثابتين دَ ضمير څخه حال دې ای ثابتين على الحق فی حالة کونهم غالبين على العدو

قوله: حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ:

دامرپه مصداق کښې دوه اقوال: ① دې نه مراد قيامت دې

② دې نه مراد هغه هوا ده چه دَ کومې دَ چليدو سره به دَ هر مؤمن سړی او مؤمنې ښځې روح قبض کولې شی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۵۰۸] حضرت عيسی به دَ حضور پاک په روضه کښې دفن کيږی

۵۵۰۸ -(۱)[۳] [۱] عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «يَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ إِلَى الْأَرْضِ، فَيَتَزَوَّجُ، وَيُولَدُ لَهُ، [۳] وَيَمْكُثُ خَمْسًا وَأَرْبَعِينَ سَنَةً، ثُمَّ يَمُوتُ، فَيُدْفَنُ مَعِي فِي قَبْرِي، [۴] فَأَقُومُ أَنَا وَعِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ فِي قَبْرٍ وَاحِدٍ بَيْنَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ» ". رَوَاهُ ابْنُ الْجَوْزِيِّ فِي (كِتَابِ الْوَفَاءِ).

ترجمه: [۱] حضرت عبد الله ابن عمرو رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] حضرت عيسیٰ ابن مريم به په زمکه راکوزشي نو هغه به نکاح کوي او د هغه به اولاد وي [۳] په دنيا کې د هغه د قيام موده به پنځه څلويښت کاله وي بيا به هغه وفات شي او هغه به ځما د قبر (يعني ځما په مقبره کې) ما سره دفن شی [۴] نو د قيامت په ورځ زه او عيسیٰ دواړه به يوې مقبرې نه د ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه په منځ کې راپاڅو دا روايت ابن جوزي رحمه الله په کتاب الوفاء کی نقل کړی دی [رواه ابن جوزی فی کتاب الوفاء]

(۱) رواه الجوزی فی کتاب الوفاء

تسهيلات:

قوله: وَيَمْكُثُ خَمْسًا وَأَرْبَعِينَ سَنَةً:

اشكال: دا روايت هغه روايت سره معارض او مخالف دې په كوم كښې چه ذكر دى چه حضرت عيسى عليه السلام دَ ۳۳ كالو په عمر كښې آسمان ته اوچت كړې شوې وو او دَنزول نه پس به اووه كاله په زمكه باندې حكومت كوى. دې سره دَهغوى پوره عمر ۴۰ كاله معلوميږى خو په زير بحث روايت كښې دَهغوى پوره عمر ۴۵ كاله خودلې شوې دې؟

داشكال جواب: چه چرته دَ څلويښتو كالو ذكر راغلې دې هلته دَپنځو كالو كسر پريخودې شوې دې اصل عمر هم ۴۵ كاله دې. عرب اكثر اوبيشتر كسر نه ذكر كوى او دهايانې بيانوى.

قوله: ثُمَّ يَمُوتُ، فَيُدْفَنُ مَعِي فِي قَبْرِي:

دعيسى عليه السلام د نبى عليه السلام سره په څوا كښې تدفين: يعنى ما سره به زما په مقبره كښې خښيږى. دَدې ځائى نه مراد دَحضرت عائشې رضي الله عنها هغه مكان دې چرته چه حضورپاك او صديق و فاروق دفن دى. حضرت عائشې رضي الله عنها تواضعًا وصيت اوفرمائيلو چه ما په عام قبرستان كښې دفن كړئى داځائى پريږدئى. بيا حضرت حسن رضي الله عنه په دغه ځائى كښې دَ خښيدو كوشش اوكړو مگر په دغه ځائى كښې خښيدوكښې كامياب نه شو. لهذا دَقبر داځائى خالى دې او په حضرت عيسى عليه السلام باندې به ډك شى.

[۶] بَابُ قُرْبِ السَّاعَةِ وَأَنَّ مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهُ

د قرب قیامت بیان او څوک چې مړشو نو په هغه قیامت قائم شو

خلاصة الباب

فيه سبعة أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① مقدار قرب الساعة: ۱، ۴، ۵، ۶، ۷.
② عدم علم النبي ﷺ بالساعة: ۲.
③ تمثيل قرب الساعة: ۲، ۳، ۴.

د قیامت درې قسمونه: ① قیامت صغری: چه د هر سړی کله مرګ واقع شی نو د هغه قیامت به قائم شی. دا ذاتی او شخصی قیامت دې. لکه چه په حدیث کښې دی «من مات فقد قامت قيامته».

② چه په زمکه باندې د اوسیدونکو موجوده انسانانو مخصوص دور به ختم شی لکه چه د صحابه کرامو دور ختم شو نو د برکتونو دور ختم شو. دا د یو قسم قیامت وو کوم چه د وسطی مودې د پاره وو.

③ قیامت کبری دې هغه د دې عالم کائنات مرګ دې چه زمکه آسمان فرښتې جنات انسانان او حیوانات ټول به مړه شی. ﴿وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾ [سورت رحمن: ۲۷] په مذکوره باب کښې به د قیامت صغری او قیامت کبری دواړو بیان کیږی بلکه د مشکاة په حدیث نمبر ۵۵۱۰ کښې د قیامت وسطی هم بیان دې لهذا په دې باب کښې به د درېواړو قسمونو قیامت بیان وی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۵۰۹] قیامت ډیر نیزدې دې

۵۵۰۹-(۱) [۱] ① عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ» ". ③ قَالَ شُعْبَةُ: وَسَمِعْتُ قَتَادَةَ يَقُولُ فِي قَصَصِهِ: كَفَضْلِ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى» ④ فَلَا أَدْرِي أَذَكَرَهُ عَنْ أَنَسٍ أَوْ قَالَهُ قَتَادَةُ؟ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت شعبه رحمه الله د حضرت قتاده رحمه الله نه او هغه د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② زه او قیامت د دې دواړو ګوتو (یعني د شهادت ګوته

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «بعثت أنا والساعة کهاتین» (رقم-۶۵۰۴) ومسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب قرب الساعة (رقم-۱۳۳ - (۲۹۵۱) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب أشراط الساعة (رقم-۴۰۴۰) واحمد فی المسند: ۳۰۹/۴

او د منځ ګوته) په شان راليږل شوي يو ۲ حضرت شعبه رحمه الله وايي ما د حضرت قتاده رحمه الله نه واوريدل هغه د حضور ﷺ د بعثت قيام قيامت سره ددوو ګوتو سره د تشبيه ورکولو مراد بيانولو سره په خپل وعظ کې اوويل چې څرنګه په دې دواړو ګوتو کې يوه ګوته د دويمې ګوتې نه مخکې ده يعنې مذکوره مشابهت نه د حضور ﷺ مراد دا وو چې څرنګه د منځ ګوته د شهادت د ګوتې نه څه مخکې ده دغه شان څما د بعثت (پيغمبرۍ) زمانه د قيامت د وخت نه څه مخکې ده چې زه د قيامت نه مخکې راغلی يم او قيامت په ما پسې را روان دی ۴ بهرحال شعبه رحمه الله وايي ماته معلومه نه ده چې دا مراد حضرت قتاده رحمه الله په خپله بيان کی يا هغه د حضرت آنس رضي الله عنه نه اوريدلی وو او که دا متعين شي چې قتاده رحمه الله دا مراد خپله نه وو بيان کړی بلکه هغه يې د حضرت انس رضي الله عنه نه اوريدلی وو نو بيا دا احتمال پاتې کيږي چې دا مراد خپله حضرت انس رضي الله عنه بيان کړی وو يا حضور ﷺ خپله دا مراد بيان کړی وو چې حضرت انس رضي الله عنه د حضور ﷺ نه نقل کړی وو دغه شان د حضرت مستورد ابن شداد رضي الله عنه يو روايت راځي هغه نه دا معلوميږي چې دا مراد په خپله حضور ﷺ بيان فرمايلی وو. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ:

د قيامت او د نبی عليه السلام د بعثت نژدېوالی: يعنی دَ شهادت ګوته او دَ مينځ ګوته چه ئې کله ملاؤ کړې نو دواړه برابر سرابر دی صرف دَمينځ ګوته لږه شان اوږده ده لکه دا سې زه لږ شان وړاندې راغلې يم او ما سره متصل قيامت راتلونکې دې.

اشکال: پخوانو پيغمبرانو هم قيامت ډير نيزدې خودلې دې مګر په دې باندې زرګونه کالونه تيرشو تراوسه پورې قيامت رانغلو. په آخره کښې حضورپاك هم قيامت ډير نيزدې او خودلو مګر يونيم زر کاله کيدونکی دی چه قيامت رانغلو آخر دا څنګه نيزدې دې؟

دا اشکال دوه جوابونه: ① دادَ بادشاهانو اطلاق دې هغوی چه کوم څيزته نيزدې اووائی په هغې باندې هم څو کاله لګيدې شی.

② دَعلماؤ او عقلاؤ متفقه فيصله ده چه "کل ما هو آتٍ فهو قريب" يعنی کوم يو څيز هم چه راتلونکې وی دا سې ګڼړه چه هغه نيزدې دې څکه چه يوه ورځ به دا سې هم راشی چه هغه څيز به راغلې وی. بس قيامت هم دغه شان يو څيز دې.

[۵۵۱۰] دَ قيامت علم صرف الله تعالى سره دي

۵۵۱۰ -() [۲] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ [۲]: «سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ قَبْلَ أَنْ يَمُوتَ بِشَهْرٍ: [۳] "تَسْأَلُونِي عَنِ السَّاعَةِ؟ وَإِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللَّهِ، [۴] وَأُقْسِمُ بِاللَّهِ مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ يَأْتِي عَلَيْهَا مِائَةُ سَنَةٍ وَهِيَ حَيَّةٌ يَوْمَئِذٍ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وايي [۲] ما د نبي كريم ﷺ د وفات نه يوه مياشت مخكې خني دا اوريدلي وه [۳] چې تاسو زما نه د قيامت د وخت پوښتنه کوئ چې مخکښې شپيلى به كله پوكيږي او دويمه به كله نو حقيقت دادى چې د هغه مقرر وخت صرف د الله تعالى په علم کې دی [۴] او زه د الله تعالى قسم اخستو سره وايم چې دا وخت په مخ د زمکې باندې داسې هيڅ سړی موجود نه دی چې په هغه سل کاله تير شي او هغه د هغه نه وروسته هم ژوندی پاتې شي. (مسلم)

حل اللغات:- ① مَنْفُوسَةٍ: ساه اخستونکې، ② حَيَّةٌ: ژوندي،

تسهيلات: قوله: مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ يَأْتِي عَلَيْهَا مِائَةُ سَنَةٍ وَهِيَ حَيَّةٌ يَوْمَئِذٍ:

دنفس په مصداق كښې دوه احتمالات: يعنى څوك ساه اخستونكې به دَ نن نه واخله سل كاله پوره كيدونه پس باقي پاتې نه شي.

① دا ارشاد دَ صحابه كرامو دَدور دَختميدو طرف ته اشاره ده او هم داسې شوی دی چې سل كاله پس په صحابه كرامو رضی الله عنهم كښې يو صحابی هم ژوندې باقي پاتې نه وو بلكه ټول د دنيا څخه رخصت شوی وو. په دې صورت كښې اوداد قيامت وسطىٰ دَ قائم كيدو دور وو

② د دې څخه دَدنيا عام انسانان مراددی. په دې صورت كښې داكلام به دَ مغيباتو دَ قبيل نه وی چه په دنيا كښې به څوك ساه اخستونكې دَ نن نه پس سل كالو پورې ژوندې نه وی او يقينی خبره ده چه داسې به شوې وی.

دڅلورو پيغمبرانو حيات: ملاعلى قارى رحمه الله ليكلى دی چه څلور نبيان دې وخت كښې ژوندی دی دوه په زمكه باندې دی يعنى حضرت الياس عليه السلام او حضرت خضر عليه السلام او دوه په آسمان دی يعنى حضرت عيسىٰ عليه السلام او حضرت ادريس عليه السلام

دخضر عليه السلام په وفات او حيات كښې دوه مذاهب:

① دصوفياء كرامو او بعضې نورو عالمانو په نيز حضرت خضر عليه السلام　　　اوس هم حيات اوژوندي دي.

[۱]) اخرجه مسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم /باب قوله صلى الله عليه وسلم: «لا تأتى مائة سنة. وعلى الأرض نفس منفوسة اليوم» (رقم-۲۱۸ - (۲۵۳۸) واحمد فى المسند: ۳/ ۳۲۲

④ دېلې دلې رائې دا ده چې خضر علیه السلام وفات شوې دې.

داول فریق دلیل: زیربحث حدیث د اول فریق مستدل دې ځکه چې په دې کښې نبی علیه السلام دا فرمائیلی دی چې سل کاله پس به یو کس هم په مخ د زمکې ژوندې پاتې نشی.نوخضر علیه السلام هم په دې کښې راغلل.

داول فریق د دلیل جوابونه: ① حضرت خضر علیه السلام هغه وخت په زمکه کښې نه وو بلکه په هوا یا اوبوباندې وو او رسول الله ﷺ علی الارض فرمائیلی دی.

② دَ رسول الله ﷺ دا ارشاد دَ امت باره کښې دې نه چه دَ انبیاء کرامو علیهم السلام باره کښې او حضرت خضر علیه السلام خو نبی دې.

③ دَ روایت الفاظ عام خص عنه البعض دی ځکه چه ډیر صحابه کرام رضي الله عنهم هم دَ سلو کالونه پس ژوندی پاتې دی لکه انس رضي الله عنه او حضرت سلمان رضي الله عنه.

④ دَ دې نه مراد دَ سلوکالو تعیین نه دې بلکه دَ زمانې ختمیدل مراد دی کما قاله ابن عمر رضي الله عنه. دغه شان حضرت عیسی علیه السلام او نور انبیاء کرام علیهم السلام دَ دې مقوله په وخت کښې په آسمان باندې وو نه چه په زمکه نوهغوی هم خارج دی.

⑤ دَ ابن قتیبه رحمه الله رائې ده دې نه مراد هغه مخصوص خلق دی چه په هغه وخت کښې دَ حضور ﷺ په محفل کښې موجود وو او لفظ منکم دَ روایت نه ساقط شوې دې

[۵۵۱۱] صحابو ته د حضور ﷺ یوه پیش ګوئي

٥٥٥-()[٣] ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ②: "«لَا يَأْتِي مِائَةُ سَنَةٍ وَعَلَى الْأَرْضِ نَفْسٌ مَنْفُوسَةٌ الْيَوْمَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② داوقت چې کوم خلق (یعني صحابه رضي الله عنهم) ژوندي دي په دوئ کې به هیڅ سړی سل کاله نه وروسته د زمکې په مخ موجود نه وي.

تسهیلات: نوټ: د دې حدیث تشریح وراندې د مشکاة د حدیث نمبر (٥٥٥) په تسهیل کښې تیره شوې ده.

[1] اخرجه مسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب قوله صلى الله عليه وسلم: «لا تأتي مائة سنة، وعلى الأرض نفس منفوسة اليوم» (رقم-٢١٩ - (٢٥٣٩) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٢٥٠)واحمد في المسند:٣٧٩/٣

[۵۵۱۲] د قيامت په باره کې يوسوال او د هغه جواب

٥٥١٢- (١) [٣] ١ وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ ٢: «كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْأَعْرَابِ يَأْتُونَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَيَسْأَلُونَهُ عَنِ السَّاعَةِ، ٣ فَكَانَ يَنْظُرُ إِلَى أَصْغَرِهِمْ ۴ فَيَقُولُ: "إِنْ يَعِشْ هٰذَا لَا يُدْرِكْهُ الْهَرَمُ حَتّٰى تَقُومَ عَلَيْكُمْ سَاعَتُكُمْ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او بي بي عائشه ﷺ وايي ٢ ځني باندچي (کليوال) خلق به د حضور ﷺ په خدمت کې راتلل او دا پوښتنه به يې کوله چې قيامت به کله راځي ٣ حضور ﷺ به دي اوريدو سره هغه بچي طرف ته کتل چې هغه پوښتنه کونکو سره به وو ۴ او بيا به يې فرمايل که دا بچی ژوندی پاتې شو نو دی به د بوډاتوب عمر ته نه وي رسيدلی چې په تاسو باندې به قيامت راشي (بخاری ومسلم)

حل اللغات:- ① الْهَرَمُ: بوډا توب.

تسهيلات: قوله: إِنْ يَعِشْ هٰذَا لَا يُدْرِكْهُ الْهَرَمُ حَتّٰى تَقُومَ عَلَيْكُمْ سَاعَتُكُمْ:

د قيامت په مصداق کښې دوه احتمالات: يعنی ستاسو قيامت به قائم شی

① دې ځخه قيامت صغرىٰ مراد دې ځکه دهرسړی خپل ذاتی مرګ طرف ته اشاره ده

② دې ځخه قيامت وسطىٰ مراد دې يعنی قرنِ صحابه يا دَ موجوده خلقو قرن مراد دې چه دَدې خلقو دور به ختم شی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

[۵۵۱۳] د قرب قيامت ذکر

٥٥١٣- (٢) [۵] ١ عَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ ٢: «بُعِثْتُ فِي نَفَسِ السَّاعَةِ، ٣ فَسَبَقْتُهَا كَمَا سَبَقَتْ هٰذِهِ هٰذِهِ" ۴ وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت مستورد ابن شداد د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چی رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ زه د قيامت په ابتداء کې راليږل شوی يم (يعني زه په داسې زمانه کې پيغمبر شوی يم چې په هغه کې د قيامت د علاماتو شروع شوي ده او زه د قيامت نه دومره مخکې راغلی يم ٣ څومره چې دا منځنۍ ګوته د شهادت د دې ګوتي نه مخکې ده دې ۴ فرمايلو سره حضور ﷺ خپلې دواړې ګوتي (يعني منځنۍ او د شهادت ګوتي ته اشاره وکړه) ترمذی.

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب سکرات الموت (رقم-۶۵۱۱) ومسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب قرب الساعة (رقم-۱۳۶ - (۲۹۵۲) واحمد فی المسند:۱۹۲/۳

[2]) اخرجه الترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی قول النبی صلی الله علیه وسلم: «بعثت أنا والساعة کهاتین» یعنی السبابة والوسطی (رقم-۲۲۱۳)

حل اللغات: - ① نَفَس: ساه (ابتداء مراد ده)، ② فَسَبَقْتُهَا: مخکښې والې کړې دې ما دهغې نه.

تسهيلات:

نوټ: ددې حديث د مضمون تشريح وړاندې د مشکاة حديث نمبر (۵۵۰۵) په تسهيل کښې تيره شوې ده.

[۵۵۱٤] په دنيا کښې دامت محمدی ته باقي پاتې کيدو موده

۵۵۱٤-(۱)[۲] ① وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا تَعْجِزَ أُمَّتِي عِنْدَ رَبِّهَا أَنْ يُؤَخِّرَهُمْ نِصْفَ يَوْمٍ". ③ قِيلَ لِسَعْدٍ: وَكَمْ نِصْفُ يَوْمٍ؟ قَالَ: خَمْسُمِائَةِ سَنَةٍ» .رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ② يقينًا زه اميد لرم چې زما امت به د خپل پروردګار په نظر کې دومره عاجز او بې حقيقته نشي چې د هغوئ پروردګار ورته د نيمي ورځي مهلت هم ورنه کړي ③ حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه نه دا پوښتنه وشوه چې دا نيمه ورځ به څومره وي هغه جواب ورکړو پنځه سوه کاله.

تسهيلات:

قوله: أَنْ لَا تَعْجِزَ أُمَّتِي

پنځه سوه کالو څخه وړاندې د قيامت نه راتلل: دَدې مطلب دادې چه دَ الله تعالى په نيزبه زما دَ امت دومره بې وقعتي او ناقدري نه وي اودا امت به دومره عاجز نه وي چه الله تعالى به دوی ته پنځو سوو کالو پورې روستو کړی دَنيمې ورځې عمر به هم ورنه کړی. دَ نصف يوم نه دَ قيامت نيمه ورځ مراد ده کومه چه دَ پنځو سوو کالو وی. قرآن کريم کښې دی ﴿وَإِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ﴾ [سورت حج: ۴۷]
دَدې حديث مطلب داشو چه قيامت به پنځو سوو کالو پورې نه قائميږی. دَهغې نه پس چه الله تعالى څومره قيامت روستو کړی هغه دَ الله تعالى په اختيار کښې دی دَ دې نه بحث نه دې.

دپنځوسوو کالو په مصداق کښې دوه اقوال: ① علامه جلال الدين سيوطى رحمه الله خپل بعضو کتابونو کښې ليکلی دی چه دَدې پنځو سوو کالونه هغه کال مراد دې چه دَ زرو کالونه پس به وی. لکه چه يونيم زر کاله موده دَدې امت عمر دې. حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فرمائيلی دی چه دَ پوره دنيا عمر اووه زره کاله دې.

[1]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب قيام الساعة (رقم-٤٣٥٠) واحمد في المسند: ١/١٧٠

② ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی دا کوم چه دَ پنځو سوو کالو ذکر دې داد اووه زره کالو نه پس دي حضرت عمر رضی الله عنه اووه زره کاله ذکر کړی دی او دَ پنځو سوو کالو کسر ئې پرېخودې دې

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۵۱۵] د دنیا د فنا کیدو او قیامت ته د نزدې کیدو دپاره مثال

۵۵۱۵-()[۷] ①عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②" «مَثَلُ هَذِهِ الدُّنْيَا مَثَلُ ثَوْبٍ ③شُقَّ مِنْ أَوَّلِهِ إِلَى آخِرِهِ، ④فَبَقِيَ مُتَعَلِّقًا بِخَيْطٍ فِي آخِرِهِ ⑤فَيُوشِكُ ذَلِكَ الْخَيْطُ أَنْ يَنْقَطِعَ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

توجمه: ①حضرت انس رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ②د دې دنیا فناء ته نزدې رسیدو او د قیامت نزدې راتلو مثال د هغه کپړې په شان دی ③چې هغه د شروع نه تر آخر پورې شلیدلې وي ④او د هغه ټکړې په آخر کې یو تار سره نښتې وي ⑤او هغه تار هم شلیدو ته نزدې وي نو دنیا هم خپلې خاتمیته دومره نزدې شوې ده دا روایت بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړی دی .

حل اللغات:- ①شُقَّ: شلیدلې وی، ②مُتَعَلِّقًا: رازوړنده وی، ③خَيْط: تار

تسهیلات:

قوله: مَثَلُ هَذِهِ الدُّنْيَا مَثَلُ ثَوْبٍ شُقَّ مِنْ أَوَّلِهِ إِلَى آخِرِهِ:

ددنیاوی عمر مثال:

په حدیث الباب کښې تشبیه ډیره بلیغ ده چه دنیا ختمیدو ته نیزدې ده مګر دا قرب دَ الله پاك دَ علم په لحاظ سره دې دَ بندګانو دَ حساب په لحاظ سره نه دي.

---

[1] اخرجه البیهقی فی شعب الایمان/ فصل فیما یقول العاطس فی جواب التشمیت... رقم الحدیث ۹۸۷۵

[۷] بَابُ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا عَلَى شِرَارِ النَّاسِ]

قیامت به په بد عمله خلقو باندې قائمیږي

خلاصة الباب

فیه خمسة حدیثاً مشتملة علی مسئلتین:

① قیام الساعة وقت عدم التوحید والإیمان: ۱، ۳، ۴، ۵.

② قیام القیامة علی أشرار الناس: ۲.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۵۱۶] په دنیا کښې چه تر څو پورې دالله تعالی نوم والا وی قیامت به نه قائمیږي

۵۵۱۶-(۱)[۱] ①عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②" «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا يُقَالَ فِي الْأَرْضِ: اللّٰهُ اللّٰهُ» "، ③وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: " «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ عَلَى أَحَدٍ يَقُولُ: اللّٰهُ اللّٰهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①حضرت انس ﷛ نه روایت دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل ②قیامت به تر هغه وقته پورې نه راځي د څو پورې چې زمکه باندې الله الله وئیل موقوف نشي ③او په یوه روایت کې داسې دي چې وې فرمایل قیامت به په هغه سړي نه قائمیږي چې الله الله وایي. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا يُقَالَ فِي الْأَرْضِ: اللّٰهُ اللّٰهُ:

دالله الله وئیلو په مفهوم کښې اقوال: ① کله چې قیامت قائمیږي نو په هغه وخت به په مخ دَزمکې باندې داسې یو کس باقي نه وی چه دَ الله تعالی نوم اخستونکې او دَ هغه عبادت کونکې وی بلکه ټول به کافران او بت پرست وی. دَدې نه دا هم معلومه شوه چه دنیا دَ نیکانو خلقو په برکت سره قائم ده.

② دَالله الله وئیلو څخه مراد اذان دې. په دنیاکښې یو داسې وخت خالی نه دې په کوم کښې چه دَ الله آواز نه وی

③ دالله الله وئیلو مطلب دا دې چه الله الله کونکې به څوك بچ پاتې نه شي.

اشکال: که په انسانانو کښې څوك الله الله کونکې نه وی نو ځناور او مرغان خودَ الله

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب ذهاب الإیمان آخر الزمان (رقم-۲۳٤ - (۱٤۸) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه (رقم-۲۲۰۷)واحمد فی المسند: ۱۰۷/۳

تعالی تسبيح کوی

۵اشکال جواب: دَ ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ په رڼرا کښې څناور اومرغان دَدې مکلف نه دی بلکه انسان او جنات مکلف دی. او دَ حديث الباب نه مکلف مخلوق مراد دې

[۵۵۱۷] قيامت به په بدکاره خلقو راځی

> ۵۵۱۷-()[۲] ① وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " ② «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا عَلَى شِرَارِ الْخَلْقِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② قيامت به صرف بدکارو باندې قائميږي. (مسلم)

حل اللغات:- ① شِرَارِ الْخَلْقِ: بد تر خلق، بدکاره خلق.

تسهيلات:

قوله: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا عَلَى شِرَارِ الْخَلْقِ

په بدترين خلقو د قيامت قائميدل: دَمخلوق نه مراد انسانان دي ځکه چه دَ شرير يعنی بدکارنه مراد ګناهګار دې. ښکاره خبره ده چه دَ ګناه اومعصيت تعلق صرف دَ انسان سره وی نه چه دَ ټول مخلوق سره.

اشکال: دَدې حديث په مقابل کښې بل حديث کوم چه مخکښې تير شوې دې «لايزال طائفة من أمتي حتى يقاتلون الحق ظاهرين إلى يوم القيامة» دې نه خو معلوميږی چه دَ قيامت پورې به يو جماعت قتل اوقتال کوی. حالانکه په دې حديث کښې دی چه قيامت به په شريرانو خلقو باندې قائميږی نو په ظاهره په دوارو کښې تعارض دې؟

داشکال جواب: «لايزال طائفة» دَ دې تعلق هغه ټولو زمانو سره دې چه په مخ کښې دَزمکې ترکومې پورې دَاسلام دَ حاملينو وجود وی په هغوی کښې به څه نه څه جماعت هميشه دَحق دَ سر لوړئی دَپاره جهاد کوی. اوکله چه دَخدائی نوم اخستونکو کښې څوک باقی پاتې نه شی نو جنګ کونکې به هم څوک پاتې نه شی نو چه کله جنګ کونکی پاتې نه شی نو قيامت به راشی.

[۵۵۱۸] دقيامت متعلق يو پيشن ګوئي

> ۵۵۱۸-()[۳] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② " «لَا تَقُومُ

[1]) اخرجه مسلم فی كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب قرب الساعة (رقم-١٣١ - (٢٩٤٩) وابن ماجه فی كتاب الفتن/باب شدة الزمان (رقم-٤٠٣٩)

[2]) اخرجه البخاری فی كتاب الفتن/باب تغيير الزمان حتى تعبد الأوثان (رقم-٧١١٦) ومسلم فی كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتى تعبد دوس ذا الخلصة (رقم-٥١ - (٢٩٠٦) واحمد فی المسند:٢/٢٦٢

السَّاعَةُ حَتَّى تَضْطَرِبَ أَلْيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ حَوْلَ ذِي الْخَلَصَةِ". ﴿٢﴾ وَذُو الْخَلَصَةِ: طَاغِيَةُ دَوْسٍ الَّتِي كَانُوا يَعْبُدُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ﴿۱﴾ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ﴿۲﴾ قیامت به دهغې پورې نه راځي د څوپورې چې د قبیله دوس ښځې د ذو الخلصة چاپیره عبادت کول شروع نه کړي ﴿۳﴾ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه یا بل یو راوي د ذو الخلصة وضاحت کولو سره ویلي دي چې ذو الخلصة د قبیله دوس د یوبت نوم دی چه په زمانه دجاهلیت کې به یې د هغه عبادت کوی . «بخاري مسلم»

حل اللغات:- ① تَضْطَرِبَ: دَ اضطراب نه دې دَحرکت کولو په معنی کښې دې ② أَلْيَاتُ: دَ أَلية جمع ده. چاق پټون او دَ کوناټو غوښې ته وائی کوم ته چه تړوتې وائی ③ دَوْس: یو قبیله ده. ④ ذِي الْخَلَصَةِ: داپه یمن کښې دَ یوبت خانې نوم وو دې ته به ئی کعبه یمانیه هم وئیلې. ⑤ طَاغِيَةُ: سرکشه، یعنی بُت،

تسهیلات:

قوله: وَذُو الْخَلَصَةِ: طَاغِيَةُ دَوْسٍ الَّتِي كَانُوا يَعْبُدُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ:

دذوالخلصه پیژندګلو: دې ته به ئی کعبه یمانیه هم وئیلې شوه په دغه بت خانه کښې یو لوئی بت وو دَ کوم نوم چه خلصه وو هم په دې وجه پوره بت خانې ته ذوالخلصة اووئیلې شو. دَ مکې مکرمې دَ فتح کیدونه پس حضورپاك حضرت جریر بن عبد الله رضی الله عنه دَدې د راغورزولو او سوزولو دَپاره روان کړو هغوی دغه هلاک کړه.

دذوالخلصه بت عبادت شروع کیدو پیشنګوئی: په دور جاهلیت کښې به دَ قبیله خثعم بجیله او دَ دوس قبیلې خلقو دَدې بت عبادت کولو. حضورپاك پیشنګوئی اوکړه چه یوه زمانه به بیا داسې راځی چه دَ قبیله دوس ښځې به په ناز نخرو سره دَدې بت نه چاپیره طواف کوی ګرځی به.

اشکال: په یو حدیث کښې راغلی دی چې شیطان مایوسه شوې دې چې په جزیرة العرب کښې به د بتانو عبادت شروع شی اوپه دې حدیث کښې نبی علیه السلام د ذوالخلیصه بت دعبادت شروع کیدو پیشنګوئی کړې ده. دا تعارض دې

داشکال دوه جوابونه:

① دا به دَ هغه زمانې خبره وی کله چه دَ اسلام نظام اوچت کړې شی قیامت به شروع شی لکه څنګه چه دې پسې په روایت نمبر(۵۵۸۸) کښې دَدې تصریح ده

② دا به یو جزئی واقعه وی ګنی دَ قیامته پورې په جزیرۀ عرب کښې دَ غلبې په توګه بت پرستی نه شی کیدې.

[۵۵۱۹] قیامت نه مخکې به بیا د لات او عزی عبادت شروع شي

۵۵۱۹-(۱)[۴] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: " [۲] «لَا يَذْهَبُ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ حَتَّى يُعْبَدَ اللَّاتُ وَالْعُزَّى". [۳] فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنْ كُنْتُ لَأَظُنُّ حِينَ أَنْزَلَ اللهُ: ﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾ [التوبة: ۳۳] [۴] أَنَّ ذَلِكَ تَامًّا

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۲] چې د شپې او د ورځې سلسله به ترهغه وقته پورې نه ختميږي يعنی دا دنيا به ترهغه وقته پورې نه فناء کيږي او قيامت به نه راځي د څوپورې چې دلالت او عزی دوباره پرستش شروع نشي [۳] کوم وخت چې ما د حضور ﷺ دي ارشاد گرامي واوريدي نو ماعرض وکړو يا رسول الله! هرکله چې الله ﷻ دا آيت نازل کی: هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ. نو دي آيت نه خو دا ثابتيږي چې ټول مذاهب باطل دي او مذهب داسلام ربښتنی او غالب دی [۴] او کم نه کم عربو کې د بت پرستی رواج به هميشه د پاره ختم شي څکه د يقين حد پورې ځما خيال وو چې د بت پرستی خاتمه کيدونکي ده او دا چې آئنده به هيڅ کله بت پرستي نه کيږي ليکن اوس تاسو داخبر راکوئ ؟

حل اللغات:- ① اللَّاتُ وَالْعُزَّى: دا په مکه معظمه کښې دوه بتان وو.

[۱] قَالَ: إِنَّهُ سَيَكُونُ مِنْ ذَلِكَ مَا شَاءَ اللهُ، [۲] ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ رِيحًا طَيِّبَةً، فَتَوَفَّى كُلَّ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ، [۳] فَيَبْقَى مَنْ لَا خَيْرَ فِيهِ، فَيَرْجِعُونَ إِلَى دِينِ آبَائِهِمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ وفرمايل درحقيقت داسې به کيږي يعنی د اسلام رڼا به غالبه وي او د کفر اوشرک چراغ (ډيوه) به مره شي خو ترهغه وقته پورې د څوپورې چې الله ﷻ غواړي په خپله الله ﷻ داخبره واضحه فرمايلي ده، [۲] او بيابه الله ﷻ يوه خوشبوداره هوا راوليږي چې د هغه په ذريعه به هرهغه سړی مړ شي چې د هغه په زړه کې د اوري (رائي) برابر هم ايمان وي [۳] او په دنيا کې به صرف هغه سړی باقي پاتې شي چې په هغه کې هيڅ نيکي نه وي يعنی هغه وخت به د زمکي په مخ داسې هيڅ سړی پاتې نشي چې په هغه کې خير او ايمان وي ،اوهغه کسان به پاتې شي چې په چا کښې څه خيرنه وي نو دوی به دخپلو پلارانو دين ته وگرځي بيهقي.

حل اللغات:-① مِثْقَالُ: په برابر، په اندازه، ② حَبَّةٍ: دانه، ③ خَرْدَلٍ: غوښت، أوری،

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب لا تقوم الساعة حتی تعبد دوس ذا الخلصة (رقم-۵۲ - (۲۹۰۷)

تسهيلات:

قوله: حَتّٰى يُعْبَدَ اللَّاتُ وَالْعُزّٰى:

دلات او عزى د عبادت شروع كيدو پيشنګولى: لات اوعزىٰ دا دَ جاهليت دَبتانو نه دَ دوؤ بتانو نومونه دى. لات دَ قبيلهٔ ثقيف دَ بت نوم وو دَدې دَ راغورزولو دَپاره رسول الله ﷺ حضرت ابو سفيان رضي الله عنه اومغيره بن شعبه رضي الله عنه ليږلي وو اوعزىٰ دا دَ بنو غطفان سليم وغيره بت وو كوم چه خالد بن وليد رضي الله عنه راغورزولې وو.

قوله: فَيَرْجِعُونَ إِلَى دِينِ آبَائِهِمْ:

دوباره د بت پرستۍ رواج شروع كيدل: هغوى به دَ خپلو پلارانو اونيكونو دَ دين طرف ته راوګرځي يعنى مرتد به شي. داهم دَ الله تعالى حكمت دې چه په آخرى وخت كښې به دكفر او دَ بت پرستئ دَ وجې نه الله تعالى ته غصه ورشى او بيا به په هغوى باندې قيامت راولى.

[٥٥٢٠] قيامت نه مخكښې د بعضې نورو خبرو وضاحت

٥٥٢٠-()[٥] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ ٢: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فَيَمْكُثُ أَرْبَعِينَ " ٣ لَا أَدْرِي أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ شَهْرًا أَوْ عَامًا ٤ " فَيَبْعَثُ اللّٰهُ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ كَأَنَّهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ فَيَطْلُبُهُ فَيُهْلِكُهُ، ٥ ثُمَّ يَمْكُثُ فِي النَّاسِ سَبْعَ سِنِينَ، لَيْسَ بَيْنَ اثْنَيْنِ عَدَاوَةٌ، ٦ ثُمَّ يُرْسِلُ اللّٰهُ رِيحًا بَارِدَةً مِنْ قِبَلِ الشَّامِ ٧ فَلَا يَبْقَى عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ أَوْ إِيمَانٍ إِلَّا قَبَضَتْهُ، ٨ حَتّٰى لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ دَخَلَ فِي كَبِدِ جَبَلٍ لَدَخَلَتْهُ عَلَيْهِ حَتّٰى تَقْبِضَهُ "،

ترجمه: ١ او حضرت عبد الله ابن عمرو رضي الله عنه وايي ٢ چې رسول الله ﷺ وفرمايل دجال به راوخي او دخلويښتو پورې به وي ٣ حضرت عبد الله رضي الله عنه وايي ماته معلومه نه ده چې هغه موقع باندې دحضور ﷺ مراد دخلويښتو عدد نه څه وو آيا خلويښت ورځې يا خلويښت مياشتې يا خلويښت كاله ٤ نو الله ﷻ به حضرت عيسىٰ عليه السلام راوليږي چې ګويا د عروه ابن مسعود رضي الله عنه په شكل وصورت كې به وي (يعنې حضرت عيسىٰ عليه السلام به شكل وصورت كې د عروه ابن مسعود رضي الله عنه مشابه وي هغه به دجال تلاش كوي او هغه به وژني ٥ دې نه وروسته به حضرت عيسىٰ دنياوالاو كې اووه كاله پورې وي او په دې موده كې د دوو سرو په منځ كې هيڅ دښمني او عداوت به نه وي ٦ بيابه الله ﷻ د شام د طرف نه يوه يخه هوا را وليږي چې اهل ايمان به د مرګ غيږ ته ورسوي ٧ نو هغه وخت به د زمكې په مخ داسې هيڅ سړى باقي پاتې نشي د چا په زړه كې چې د اوري (رائي) برابر

---

١) اخرجه مسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب فى خروج الدجال ومكثه فى الأرض، ونزول عيسى وقتله إياه، وذهاب أهل الخير والإيمان، وبقاء شرار الناس وعبادتهم الأوثان، والنفخ فى الصور، وبعث من فى القبور (رقم-١١٦-(٢٩٤٠)

هم نیکي یا ایمان څه وي نو هغه هوا به د هغه روح قبض کړي ⑧ تردي که په تاسو کې څوك بالفرض په غره کې دننه هم تلی وي نو هغه هوا به په غره کې داخلیدو سره په هغه پسې شي او د هغه روح به قبض کړي

حل اللغات: - ① کبد: سینه ، خیګر ، زړه ،

① قَالَ: " فَيَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ فِي خِفَّةِ الطَّيْرِ وَأَحْلَامِ السِّبَاعِ، ② لَا يَعْرِفُونَ مَعْرُوفًا وَلَا يُنْكِرُونَ مُنْكَرًا، ③ فَيَتَمَثَّلُ لَهُمُ الشَّيْطَانُ، فَيَقُولُ: أَلَا تَسْتَجِيبُونَ؟ ④ فَيَقُولُونَ: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ فَيَأْمُرُهُمْ بِعِبَادَةِ الْأَوْثَانِ، ⑤ وَهُمْ فِي ذَلِكَ دَارٌّ رِزْقُهُمْ، حَسَنٌ عَيْشُهُمْ، ⑥ ثُمَّ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ، فَلَا يَسْمَعُهُ أَحَدٌ إِلَّا أَصْغَى لِيتًا، وَرَفَعَ لِيتًا " ⑦ قَالَ: " وَأَوَّلُ مَنْ يَسْمَعُهُ رَجُلٌ يَلُوطُ حَوْضَ إِبِلِهِ فَيَصْعَقُ، وَيَصْعَقُ النَّاسُ، ⑧ ثُمَّ يُرْسِلُ اللَّهُ مَطَرًا كَأَنَّهُ الطَّلُّ، ⑨ فَيَنْبُتُ مِنْهُ أَجْسَادُ النَّاسِ، ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ أُخْرَى،

ترجمه: ① حضور ﷺ وفرمایل دي نه وروسته به د زمکې په مخ صرف بدکار او شریر خلق پاتې شي چې د مارغانو په شان به تیز رفتار او درندګانو په شان به مضبوط او سخت وي ② هغوئ به نه د نیکۍ او خیر ښیګړي نه واقف وي او نه به بدۍ او بدکارۍ نه پرهیز کوي ③ بیا به شیطان په معزز او قابلِ تکریم انسان شکل وصورت اختیارولو سره هغوئ ته راشي او ورته به وایي تاسو خلق چې کوم فسق وفجور کې مبتلا یئ په دې آیا تاسو ته شرم وحیاء نه راځي ګویا دا به د شیطان مکر وتلبیس وي چې هغه به په دې طریقې سره هغوئ دبت پرستۍ طرف ته راولي ④ نو هغه خلق به شیطان ته وایي ته وښایه چې مونږ څه وکړو یعني زمونږ په باره کې چې ستا مقصود دی هغه ظاهر کړه چې مونږ د هغه مطابق عمل وکړو نو شیطان به هغوئ ته د بت پرستۍ حکم ورکړي او هغوئ به په دې فریب کې مبتلا کړي چې تاسو خلق دوسیلې اختیارولو په طور د بتانو عبادت شروع کړئ چې الله ستاسو نه راضي شي نو کفار به دا وایي چې مونږ د بتانو محض د الله خوشحالو د پاره پرستش کوو او قرآن هغوئ ته د دې کمزوري خیال خبر په دې الفاظو کې ورکړی دی ما نعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفا ویقولون هؤلاء شفعاؤنا عند الله بهر حال هغه خلق به د شیطان د وینا مطابق بت پرستي کول شروع کړي او د هغوئ اعمال او اخلاق به انتهائي درجه خراب شي ⑤ لیکن د هغوئ د هغه خراب اعمالو باوجود به د هغوئ په رزق کې زیادت او کثرت وي او هغوئ به د عیش وعشرت ژوند تیروي ⑥ بیا قیامت قائمولو د پاره به شپیلۍ پوهه شي او کوم سړی چې هم د هغه اواز واوري هغه سړی به مري هغه به خپل څټ یو جانب ته خکته کړي ⑦ او دویم جانب ته به یې پورته کړي د هغه شپیلۍ اواز به د ټولو نه مخکښې اوریدونکی هغه سړی وي چې خپل اوښ اوبه کولو د پاره به حوض لیو کوي او هغه به په هغه حالت کې مړ شي او نور ټول خلق به دغه شان خپل کار کې د مشغولیت په دوران کې مړه شي (یعني هیچاته به دومره مهلت نه وي چې

هغه په کوم کار کې مشغول دی دهغه نه فارغه شي) [٨] دي نه وروسته به الله ﷻ باران راوورَوي چې د پرخي په شان به وي (يعني سپك باران چې هغه ته به پشم هم وئيل کيدی شي [٩] او د هغه باران په ذريعه به د خلقو بدنونه زرغونه شي (چي په قبرونو کې به وښي شوي وي)

حل اللغات:- ② خِفَّةِ الطَّيْرِ: خفت سپکوالی ته وائی يعنی د سپکوالی په وجه چه مارغان ډير تيز روان وی. ③ أَحْلَامِ السِّبَاعِ: د درندګانو په شان به کم عقل، مضبوط او سخت وی ④ الْأَوْثَانِ: بتان. ⑤ دَارٌّ: زيات به وی، ⑥ أَصْغَى لِيتًا: دځټ يوطرف به ئې ښکته وی ⑦ يَلُوطُ: ليو کول او پلستر کول مراد دی. ⑧ يَصْعَقُ: بې هوشه به شي يعنی مړه به شی. ⑨ الطَّلُّ: شبنم ته وائی. دلته تري خفيف باران مراد دی.

[١] فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ ثُمَّ يُقَالُ: [٢] يَا أَيُّهَا النَّاسُ! هَلُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ، ﴿وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ﴾ [الصافات: ٢٤] [٣] فَيُقَالُ: أَخْرِجُوا بَعْثَ النَّارِ، [٤] فَيُقَالُ: مِنْ كَمْ كَمْ؟ [٥] فَيُقَالُ: مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَمِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ" [٦] قَالَ: " فَذَلِكَ يَوْمَ يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا، وَذَلِكَ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [٧] وَذُكِرَ حَدِيثُ مُعَاوِيَةَ: "«لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ»" فِي بَابِ التَّوْبَةِ.

ترجمه: [١] بيا به ځلوينښت کاله وروسته دويمه شپيلی پوهه شي چې د هغه په اوريدو سره به ټول خلق د خپلو قبرونو او زمکو د لاري نه د ژوندي کيدو سره راوځي په يووار به پاځيدو سره اودريږي او د قيامت دهولناك منظر ننداره به ووينې بيابه هغوئ ټولو ته اوويل شي [٢] چې خلقو خپل پروردګار طرف ته راشئ او فرشتو ته به حکم وشي چې داټول حصار کړي د دوئ د اعمالو په باره کې به پوښتنه کيږي او دوئ نه به حساب اخستل کيږي [٣] بيا به د پروردګار د طرف نه فرشتو ته اوويل شي چې دي خلقو نه هغه ټول جدا کړئ کوم چې د دوزخ د اور لښکر دی چې هغوئ په دوزخ کې واچول شي [٤] د فرشتو د طرف نه به بارګاه رب العزت کې عرض وشي چې څومره خلقو نه څومره خلق جدا شي يعنی کوم خلق چې دوزخ ته ليږل دي د هغوئ تعداد څه دی او هغوئ د څومره خلقو نه د کوم مقدار حساب سره جدا شي [٥] فرشتو ته به اوويل شي چې په هرو زرو کې نه سوه نه نوي (۹۹۹) خلق دوزخ ته ليږلو د پاره جدا کړئ [٦] په دي ويلو سره حضور ﷺ وفرمايل داهغه ورځ ده چې بچي به بوډاګان کړي او دا هغه ورځ ده چې په هغه کې به امرِ عظيم ښکاره شي (مسلم) [٧] او د حضرت معاويه ﷺ روايت: لاتنقطع الهجرة د توبې په باب کې نقل شوي دي.

حل اللغات:- ⑩ شِيبًا: بوډا، سپين ګرې. ⑪ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ: ساق پنډئ ته وائی. کشف ساق کنايه ده دَ داسې غم نه چه دَ برداشت نه بهر وی.

تسهیلات: قوله: يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فَيَمْكُثُ أَرْبَعِينَ:

دجال په زمکه کښې د پاتې کیدو وضاحت: رسول الله ﷺ دَ دجال قیام دَ څه مصلحت دَ وجې نه مبهم ساتلې دی هم په دې وجه وراندې راوی وائی چه ماته معلومه نه شوه چه حضورپاك څلویښت ورځې اوفرمائیلی که څلویښت میاشتې ئې اووئیل یا څلویښت کاله ئې اووئیل په نورو روایاتو کښې راجح قول دَ څلویښت ورځو دې.

دحدیث دبعضې جملوو وضاحت:

① كَبِدِ جَبَلٍ: یعنی هغه هوا به په دغه سری کښې ورداخلیږی که هغه دَ غر یا چټان په سینه کښې دننه تلو سره پټ ولې نه شی.

② خِفَّةِ الطَّيْرِ: یعنی په نقل و حرکت اوپه عدم استقلال کښې به دَ مرغو په شان په منتشر انداز کښې غیرسنجیده طریقې سره به خپلئی تقونکې به بې وقاره گرځی.

③ وَأَحْلَامِ السِّبَاعِ: یعنی وحشت بربریت، جهالت اوبې رحمئی کښې به دَ ماتونکی ځناورو په شان بې عقل وی.

④ أَلَا تَسْتَجِيبُونَ: آیا تاسو شرمیږئی نه چه په فسق اوفجورکښې پراته ئی اوعبادت نه کوئی؟ داخیره به ابلیس ځکه کوی چه هغوی له دهوکه ورکړی او دَ بتانو په عبادت کښې ئی اخته کړی.

⑤ دَارٌّ رِزْقُهُمْ: یعنی دَ کفر بت پرستئی اوفسق فجورباوجود الله تعالی به هغوی ته هم یوشان رزق ورکوی اودَهغوی ظاهری ژوند به ښه وی اوبدنی صحت وغیره به ورته حاصل وی.

قوله: أَصْغَى لِيتًا:

د اصغی په مفهوم کښې دوه اقوال:

① په لام باندې کسره ده دَ سټ یو طرف ته وائی. شارحین دَدې جملې مطلب دا ښائی چه دَ نفخ صور دَ دهشت دَ وجې نه به زړونه اوشلیږی نوستونه به رازوړند شی دَ هغې نظام به معطل شی نویوه حصه به ښکته شی اوبله حصه به پورته شی.

② حافظ فضل محمد صاحب په توضیحات شرح مشکاة کښې لیکلی دی چې دَ شارحینو خبره په خپل ځائی باندې صحیح ده مگر زما په ناقص خیال کښې دا راځی چه ناڅاپی آواز دَ وجې نه هر سړې به دَښه اوریدو کوشش کوی نوغوږ به دَهغې طرف ته لګوی دې دَپاره چه زیات آواز راشی اودَ حقیقت حال اندازه اوشی لکه چه عام عادت دې چه په داسې صورت حال کښې دَ سټ اومخ یوه حصه ښکته پورته کیږی. په دغه شش وپنج کښې به معامله نوره سخته شی.

قوله: يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ

دساق بربندولو لغه مراد: یعنی هم دغه به دَ شدائدو او مصائبو وخت وی. کشف ساق کنایه ده دَداسې غم نه چه دَ برداشت نه بهر وی. دادَ عربو خاص محاوره ده عرب خلق دا په سخت مصیبت کښې استعمالوی یعنی چه کله په چا باندې ناقابل برداشت مصیبت راشی نوهغه سړې دَ خپلې پنډئی نه پاجامه او پرتوګ اوچتوی اودَ جنګ دَپاره تیاریږی. هم دَدې مصیبت په کیفیت کښې عربو دا محاوره داسې استعمالیږی. "کشف فلان عن ساقه".

[۲۸] كِتَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ

کتاب دې په بیان دَ قیامت او جنت او دوزخ په باره کښې

[۱] بَابُ النَّفْخِ فِي الصُّورِ

شپیلئی کښې دَ پوک وهلو بیان

خلاصة الباب

فيه أحد عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① المقدار بين النفختين مع العدد: ۱، ۹.

② فناء العالم بالنفخ الأول: ۲، ۳، ۴، ۵، ۶.

③ حقيقة الصور: ۸.

④ حال إسرافيل عليه السلام: ۷، ۱۰.

⑤ إحياء الموات بالنفخ الثاني: ۱۱.

دنفخ لغوی معنی: دَ پوک وهلو په معنی کښې دې

د صور لغه مراد: صور یعنی شپیلئی په اصل کښې نرسنګا یعنی ښکرته وائی. دا یوقدرتی ښکردې په کوم کښې چه به دَالله تعالی په حکم سره حضرت اسرافیل عليه السلام پوکې وهی.

په اوَّل دشپیلئی پوک وهل: دَ ټولو انسانانودَ هلاك کولودَپاره به اوله شپیلئی پوک وهلی شی. په دې نفخ اولی سره به ټول ساه والا مړه شی. ابلیس به هم په دغه نفخ اولی کښې هلاك کړې شی. دې به اخوادیخوا تختی مګر فرښتې به دَ اور ګرز سره دې واپس راګرځوی. بیا به دَ ټولو انسانانو دَ ژنکدن تکلیف یوازې په ابلیس باندې واچولې شی.

په نفخ اولی سره د او څیزونو عدم هلاکت: نفخ اولی به یوشان شپږو میاشتوپورې جاری وی. په دې سره به ټول مخلوق ختم شی. صرف اته څیزونه به دَ هلاکت نه محفوظ پاتې شی. ① عرش ② کرسی ③ لوح محفوظ ④ قلم ⑤ جنت ⑥ دوزخ ⑦ صور ⑧ أرواح.

بعضې علماء لیکي چه دا اته څیزونه به هم د څه وخت د پاره فنا شي او صرف رب ذوالجلال به باقي پاتې شي او اعلان به اوفرمائي ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ﴾ [سورت مومن: ۱۶] دري ځل به اعلان نه پس پخپله جواب ورکړي ﴿لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ [سورت مومن: ۱۶]

په دویم ځل د شپیلۍ پوک وهل: ② د ټولو د راژوندی کولو د پاره به شپیلۍ پوک وهلې شي دې د پاره چه حشر نشر او حساب کتاب قائم شي. په اول ځل شپیلۍ پوک وهلو او دویم ځل پوک وهلو په مینځ کښې به د څلویښتو کالو فاصله وی

د محشر ځمکه: د محشر میدان به د شام په ځمکه باندې قائم شي. ټول انسانان به په دویم ځل شپیلۍ پوک وهلو سره د دغه میدان طرف ته راغونډیدلې شي. "یا عظام البالیة ویا اجسام المفتتة هلموا إلی الله الواحد القهار الجبار".

د دوباره ژوندون شروع: د شاهد وکې کوم ته چه عجب الذنب وائي د دې نه به هر یو انسان راپیدا کړې شي. ټول خلق به بې ویښتو بربنډ ناسنته راژوندي شي. د ټولو نه اول به د ځمکې نه حضور پاك اوچتیږي، ابوبکر رضی الله عنه عمر رضی الله عنه او حضرت عیسی علیه السلام به ورسره وی بیا به هر یو امت خپل خپل پیغمبر سره په خواکښې راجمع شي. د **قیامت د ورځې سختي:** سخته ګرمي به وی خلق به په خولو کښې ډوب وی الا ماشاء الله. زرکاله به خلق دغه شان په دې درد او تکلیف کښې وی. بیا به خلق د انبیاء کرامو نه شفاعت غواړي. ټول انبیاء کرام به غذرونه اوکړي صرف حضور پاك به د شفاعت کبری الله تعالی له مقام محمود ته ورځي د شفاعت کبری چه کله اجازت ملاؤ شي نو حضور پاك به دې سره د خپل امت د پاره هم شفاعت اوکړي تفصیل راروان دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۵۲۱] د دوارو نفخو پوکلو په مینځ کې موده

۵۵۲۱ - (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ» [۳] قَالُوا: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ! أَرْبَعُونَ يَوْمًا؟ [۴] قَالَ: أَبَيْتُ، قَالُوا: أَرْبَعُونَ شَهْرًا. قَالَ: أَبَيْتُ، قَالُوا: أَرْبَعُونَ سَنَةً؟ قَالَ: أَبَيْتُ [۵] «ثُمَّ يُنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيَنْبُتُونَ كَمَا يَنْبُتُ الْبَقْلُ [۶] " قَالَ: " وَلَيْسَ مِنَ الْإِنْسَانِ شَيْءٌ لَا يَبْلَى إِلَّا عَظْمًا وَاحِدًا، وَهُوَ عَجْبُ الذَّنَبِ [۷] وَمِنْهُ يُرَكَّبُ الْخَلْقُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] د دوارو نفخو یعني د یووار د وژلو او دویم ځل د را ژوندي کولو ددواړه شپیلۍ پوکولو په منځ کې وقفه به

) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب {یوم ینفخ فی الصور فتأتون أفواجًا} [النبأ: ۱۸]: زمرًا (رقم-۴۹۳۵) ومسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب ما بین النفختین (رقم-۱۴۱ - (۲۹۵۵) وابوداود فی کتاب السنة/باب فی ذکر البعث والصور (رقم-۴۷۴۳) واحمد فی المسند ۲/۳۲۲

څلوېښت وي ۳ خلقو په دي اوريدو سره پوښتنه وکړه اې ابوهريره رضی الله عنه آيا څلوېښتو نه مراد څلوېښت ورځې دي ۴ ابوهريره رضی الله عنه جواب ورکړو ماته نه ده معلومه بيا خنې خلقو پوښتنه وکړه آيا څلوېښت مياشتې وي ابوهريره اوويل ماته معلومه نه ده بيا خنې پوښتنه وشوه آيا څلوېښت کالدي ابوهريره بيا دا جواب ورکړو ماته نه ده معلومه ۵ دي نه وروسته حضرت ابوهريره رضی الله عنه د حديث بيانولو سلسله جاري ساتلو سره اوويل او حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل بيا به الله تعالی د آسمان نه اوبه ووروي او د هغه اوبو نه به خلق يعني انسانان داسې زرغونيږي څرنګه چې سبزه (شينکي) زرغونيږي ۶ او حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل د انسان د جسم او بدن هيڅ شی داسې نشته چې زړيږي اوبو سيده کيږي نه (يعني خرابيدو او سخا کيدو سره ختميږي علاوه د يو هډوکي نه) چې هغه ته عجب الذنب وايي ۷ او د قيامت په ورځ به ددي هډوکي نه د هغه ټول جسم مرکب کيږي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① أَبَيْتُ: ماته نه ده معلومه، ② الْبَقْلُ: سبزی، شينکې، ③ عَجْبُ الذَّنَبِ: عجب جړې ته وائي اوذَنَب لکئی ته وائی. دَ شا هډوکی ته عجب الذنب وائی.

① وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ، قَالَ ② : "كُلُّ ابْنِ آدَمَ يَأْكُلُهُ التُّرَابُ إِلَّا عَجْبَ الذَّنَبِ، ③ مِنْهُ خُلِقَ، وَفِيهِ يُرَكَّبُ".

ترجمه: ۱ او د مسلم په يو بل روايت کې داسې دي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل ۲ چې د مرګ نه وروسته خاوره د ابن آدم پوره بدن وخوری خو عجب الذنب پوره طور سره نه خوري ۳ او دا هغه هډوکي دي چې دهغه نه د انسان مخکنی تخليق پيدا ايشت کيږي او د دې په ذريعه هغه دوباره جوړول کيږی.

تسهيلات:

قوله: قَالَ أَبَيْتُ

دابوهريره رضی الله عنه د انکار وجه: دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه دا انکار په دې بنيادباندې وو چه هغوی هم دغه شان په مجمل توګه دَ حضورپاك نه اوريدلی وو يائی مفصل اوريدلی وو مګر هيرشوی وو ترې څکه چه ء مفصل روايت ته اوکتلې شی نو په هغې کښې دَ څلوېښتو کالو تصريح موجود ده.

قوله: عَجْبَ الذَّنَبِ

دشاه د اډوکی څخه په دوباره ژوندی کيدو کښې دوه احتمالات: ① دَ شا هډوکی ته عجب الذنَب وائی. داهډوکې دَ ټولو اندامونو نه پس ختميږی

② ددې هډوکی څه نه څه ريزه باقی پاتې کيږی کوم سره چه دَ انسان باقی اعضاء يوځائی کيږی. اودَ انبياء کرامو او شهداء عظامو اجسام محفوظ پاتې کيږی.

[۵۵۲۲] د قيامت په ورځ د الله ﷻ د كبريايي او د عظمت اظهار

۵۵۲۲-(¹)[۲] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «يَقْبِضُ اللّٰهُ الْأَرْضَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَيَطْوِي السَّمَاءَ بِيَمِينِهِ، [۳] ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ، أَيْنَ مُلُوكُ الْأَرْضِ» "؟ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو هريره ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به الله ﷻ زمكه په خپله قبضه كې واخلي او آسمانونه به په خپل ښي لاس كې را ونغاړي [۳] او بيا به وفرمايي زه بادشاه يم يعنى بادشاهي ځما نه علاوه بل چاته لائقه نه ده زه شهنشاه يم چيرته دى هغه خلق چي په زمكه يي دخپلي بادشاهۍ دعوىٰ كوله. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① يَطْوِي: راوبه نغاړي، راغونډ به كړي (فنا كول مراد دى)

تسهيلات:

قوله: يَقْبِضُ اللّٰهُ:

دقبض كولو په مفهوم كښي دوه اقوال: ① دا الفاظ دَ الله تعالىٰ دَعظمت لويئى او جلال نه كنايه دى او دې طرف ته اشاره كولو دَپاره دى چه هغه عظيم كارنامې او كارونه دَ كوم په مخكښې چه پوره كائنات اودَ انسانانو عقلونه حيران دى. دَ الله په نظر كښې بالكل حقير. او بې معنې دى. دارنګ آسمان او پوره عالم په يو ساعت كښې لاندې باندې كول او زمكه او آسمان نيست او نابود كول دَ الله تعالىٰ دَ قدرت په وړاندې بالكل آسان دى

② دَ قبض ځخه مراد د آسمان زمكې بدلول دى لكه چه پخپله الله تعالىٰ فرمائى (يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ)

[۵۵۲۳] د قيامت په ورځ د الله جاه وجلال

۵۵۲۳-(²)[۳] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «يَطْوِي اللّٰهُ السَّمَاوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [۳] ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ الْيُمْنَى، [۴] ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ؟ [۵] ثُمَّ يَطْوِي الْأَرَضِينَ بِشِمَالِهِ-

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن عمر ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به الله ﷻ آسمانونه را ونغاړي [۳] تو بيابه هغه په ښي لاس كې اخستو سره [۴] وفرمايي چې بادشاه زه يم چيرته دي ظلم او جبر كونكي چيرته دي خپل جاه وجلالت باندې تكبر كونكي [۵] بيابه زمكه په خپل لاس كې راتاوكړي

¹) اخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن/باب قوله: {والأرض جميعًا قبضته يوم القيامة، والسموات مطويات بيمينه} (رقم-۴۸۱۲) ومسلم في كتاب صفة القيامة والجنة والنار (رقم-۲۳ - (۲۷۸۷)

²) اخرجه مسلم في كتاب الجهاد والسير/باب الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء (رقم-۲۷۸۸) وابوداود في كتاب السنة/باب في الرد على الجهمية (رقم-۴۷۳۲) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فيما أنكرت الجهمية (رقم-۱۹۸)

[۱]وَفِي رِوَايَةٍ: "يَأْخُذُهُنَّ ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ الْأُخْرَى" -[۲]ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ، أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ "؟.» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او په يوه روايت کې داسې دي چې زمکې به په خپل دويم لاس کې واخلي [۲]او وبه فرمايي چې بادشاه زه يم چيرته دی بادشاهان يعنی هغه خلق چې خان ته يې بادشاه وئيل چيرته دی ظلم وجبر کونکی. (مسلم)

حل اللغات: - ①الْجَبَّارُونَ: ظلم او جبر کونکی.

تسهيلات:

قوله: يَطْوِي اللَّهُ السَّمَاوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د يطوی څخه مراد: په حديث کښې دَ يطوی لفظ دې دَ کوم معنی چه راغونډول دی مګر دې نه فنا کول مراد دی.

قوله: ثُمَّ يَطْوِي الْأَرَضِينَ بِشِمَالِهِ:

الله تعالی ته دشمال په نسبت کښې تاويل: دَ الله تعالی دَپاره جهت متعين کول وسره حدوث لازم دی او په ښی اوګس کښې دَ جهت شائبه ده. بل ګس لاس ته په عام عرف کښې هغه عظمت حاصل ته دې کوم چه ښی ته حاصل دې. لهذا دَ الله تعالی په لاس باندې دَ شمال اطلاق نه شی کيدې. هم دغه وجه ده چه په دې روايت کښې دَ شمال دَاطلاق نه پس راوی وائی چه په يو روايت کښې بيده الاخریٰ يعنی دَ دويم لاس اطلاق شوې دې دَ شمال نه دې.

[۵۵۲٤]د يو يهودي په خبرو آوريدو باندې د حضور ﷺ خندا او دهغې تصديق

۵۵۲۳-()[۳][۱]وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ[۲]: «جَاءَ حَبْرٌ مِنَ الْيَهُودِ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ[۳]: يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى أُصْبُعٍ، [۴]وَالْأَرَضِينَ عَلَى أُصْبُعٍ، وَالْجِبَالَ وَالشَّجَرَ عَلَى أُصْبُعٍ، [۵]وَالْمَاءَ وَالثَّرَى عَلَى أُصْبُعٍ، وَسَائِرَ الْخَلْقِ عَلَى أُصْبُعٍ، [۶]ثُمَّ يَهُزُّهُنَّ فَيَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ، أَنَا اللَّهُ. [۷]فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- تَعَجُّبًا مِمَّا قَالَ الْحَبْرُ تَصْدِيقًا لَهُ.

ترجمه: [۱]او حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه بيان کوي [۲]يوه ورځ د حضور ﷺ په خدمت کې د يهوديانو يو عالم حاضر شو او هغه اوويل [۳]اې محمد ﷺ! د قيامت په ورځ به الله تعالی آسمانونه په يوه ګوته [۴]زمکې په يوه ګوته غرونه او ونې په يوه ګوته [۵]اوبه او د اوبو لاندې لونده خاوره په يوه ګوته او باقي ټول مخلوقات په يوه ګوته

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب قوله: {وما قدروا الله حق قدره} [الأنعام: ۹۱] (رقم-۴۸۱۱) ومسلم فی کتاب صفة القيامة والجنة والنار (رقم-۱۹ - (۲۷۸۶) والترمذی فی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الزمر (رقم-۳۲۳۸)

کیږدي [٦] او هغه به اووائی چې زه یم بادشاه زه یم الله [٧] په دي اوريد و سره رسول الله ﷺ د هغه يهودي عالم په ژبه دي خبرو باندې دتعجب اظهار كولو سره مسكى شو

حل اللغات: - ① أُصْبُع: يوه گوته. ② الثَّرَىٰ: د اوبو لاندې لونده خاوره. ③ يَهُزُّ: خوزوي به.

[١] ثُمَّ قَرَأَ: ﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ [الزمر: ٦٧]». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او بیا حضور ﷺ دا آيت اووئيلو وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ (او افسوس دی، چې دي خلقو (یعني مشركينو) د الله ﷻ هيڅ قدر ونه كړی څرنګه عظمت قدر چې كول پكار وو حالانكه د هغه شان دادی چې ټوله زمكه به د قيامت په ورځ به د هغه په موټ كې وي او ټول آسمانونه به يې په ښي لاس كې رانغاړلي وي هغه د دوئ د شرك نه پاك او برتر دی دا روايت بخاري او مسلم نقل كړی دی.

حل اللغات: - ② مَطْوِيَّاتٌ: رانغاړلی به ئې وی. راغونډ كړي به ئې وی.

تسهيلات: قوله: جَاءَ حَبْرٌ مِنَ الْيَهُودِ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دحبر معنی: دَ يهودو لوئی عالم ته حبروائی دكوم جمع چه احبار ده. دغه يهودی عالم چه دميدان محشر او قيامت دَ ورځ كومه نقشه بيان كړې ده دا په اصل كښې يوتمثيل او فصيل دې مراد هم په لاس باندې اوچتول دی لكه څنګه چه حضورپاك بيان فرمائيلې دې

[٥٥٢٥] په قيامت كښې دَ زمكې او آسمان دَ بدليدو په وخت به خلق په پل صراط باندې وی

ص ٥٥٢٥ - (١) [٥] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهَا - قَالَتْ [٢]: «سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ قَوْلِهِ: ﴿يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ﴾ [إبراهيم: ٤٨] [٣] فَأَيْنَ يَكُونُ النَّاسُ يَوْمَئِذٍ؟ [٤] قَالَ: "عَلَى الصِّرَاطِ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] بي بي عائشه ﷺ وايي [٢] ما د رسول الله ﷺ نه د دي آيت يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ په كومه ورځ چې دا زمكه به بدله شي او دي نه علاوه آسمان هم (يعني د قيامت په ورځ به موجوده زمكه او آسمان بدل شي او د دوی په ځاي به بله زمكه او آسمان پيدا شي) په دي باره كې پوښتنه مي وكړه [٣] چې په هغه ورځ هركله چې د زمكې او آسمان تبديلي به واقع شي نو خلق به كوم ځاي وي [٤] حضور ﷺ وفرمايل په پل صراط باندي. (مسلم)

(١) اخرجه مسلم فى كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب فى البعث والنشور وصفة الأرض يوم القيامة (رقم-٢٩-(٢٧٩١) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب ذكر البعث (رقم ٤٢٧٩) واحمد فى المسند: ٣٥/٦

تسهیلات:

قوله: یَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَیْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ:

دزمکې په بدلیدو کښې دوه اقوال: ① دزمکې ذات نه بلکه دَ زمکې او آسمان په صفاتو کښې به بدلون راځي مثلاً زمکه به سپینه روټئی جوړه شي خلق به په محشر کښې هم دغه خوري.

② دَزمکې ذات به بدل شي دَ موجوده ذات په ځائې به نوې ذات راشي. مثلاً نوې زمکه به دَ چاندئي وي او نوې آسمان به دَ سرو زرو وي. دا قول واضح او راجح دې.

قوله: فَأَیْنَ یَکُونُ النَّاسُ یَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: "عَلَی الصِّرَاطِ:

اشکال او دهغې جواب: چه کله زمکه او آسمان بدلیږي نو په دغه وخت کښې به خلق چرته وي؟ هم دَ دغه سوال حضرت عائشې ﷞ تپوس کړې دې دکوم په جواب کښې چه حضورپاك اوفرمائیل چه خلق به هغه وخت په پل صراط باندې وي.

[۵۵۲۶] دقیامت په ورځ به سپوږمۍ او نمر راونغښتلې شي

ــــــ-()[۲] ①وَعَنْ أَبِي هُرَیْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ-: "②«الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ مُکَوَّرَانِ یَوْمَ الْقِیَامَةِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② دَ قیامت په ورځ به نمر او سپوږمی راونغښتل شي. (بخاري)

حل اللغات:- ① مُکَوَّرَانِ: راغونډ به کړې شي دواړه، بې نوره او تور به شي،

تسهیلات:

قوله: الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ مُکَوَّرَانِ یَوْمَ الْقِیَامَةِ:

دنمر سپوږمۍ د راغونډولو وجه: یعنې سپوږمئ او نمر دواړه به دَ قیامت په ورځ راغونډ کړې شي یعنې دواړه به بې نوره شي او بیا به دواړه په اورکښې واچولې شي. دادَ دوی سزا نه ده بلکه دَدې دَ عبادت کونکو دَ سزا دَپاره به وي چه دَهغوی جوړکړې شوې معبودان نن په اور کښې پراته دي.

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب صفة الشمس والقمر بحسبان (رقم-۳۲۰۰) (رقم-۳۱۹۹)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٥٥٢٧] حضرت اسرافيل عليه السلام شپيلئ پوكولو دپاره تيار ناست دي

٥٥٢٧-()[٤] ① عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ② «كَيْفَ أَنْعَمُ وَصَاحِبُ الصُّورِ قَدِ الْتَقَمَهُ وَأَصْغَى سَمْعَهُ، وَحَنَى جَبْهَتَهُ يَنْتَظِرُ مَتَى يُؤْمَرُ بِالنَّفْخِ ". ③ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! وَمَا تَأْمُرُنَا؟ ④ قَالَ: "قُولُوا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① و حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② زه آرام او سكون سره څرنګه كينم هركله چې شپيلئ پوكونكي (حضرت اسرافيل عليه السلام شپيلئ پوكولو د پاره په خوله كې نيولې ده خپل غوږ يې دالله جل جلاله طرف ته لګولى دى او تندى يې ټيټ كړى بالكل د تيارۍ په حالت كې دى او انتظار كوي چې كله به ورته د شپيلئ وهلو حكم وشي ③ په دې اوريدو سره صحابه رضي الله عنهم عرض وكړو نو بيا تاسو زمونږ د پاره څه فرمايئ (يعني تاسو مونږ ته څه تلقين فرمايئ چې مونږ د څه آفت او سختئ په وخت څه وكړو) ④ حضور ﷺ ورته وفرمايل هركله چې آفت او مصيبت راشي نو بس حق تعالى طرف ته توجه ساتئ او د هغه بارګاه كې التجاء كوئ او د هغه فضل وكرم باندې بهروسه او اعتماد ساتئ او دا وايئ حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ مونږ ته الله كافي دى او هغه ښه كار ساز دى.

حل اللغات:- ① صَاحِبُ الصُّورِ: شپيلئ والا يعنى حضرت اسرافيل عليه السلام. ② اَلْتَقَمَهُ: په خوله كښې ئې نيولې ده شپيلئ. ③ أَصْغَى: غوږ ئې ايښې دې، د آواز آوريدو په انتظار ده. ④ حَنَى: ټيټ كړې ئې دې.

تسهيلات:

دبعضې جملو وضاحت:

① اَلْتَقَمَهُ: يعنى حضرت اسرافيل شپيلئ په خله كښې نيولې ولاړ دې اودَالله تعالى حكم ته ئې غوږ ايخولې دې

② وَحَنَى جَبْهَتَهُ: يعنى تندې ئې ټيټ كړې دې بالكل دَ الله تعالى دَ حكم دَپاره تيار دې بس دَ هغه ځائې نه حكم اوشو اودلته دَ حكم تعميل.

[١] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى شان الصور (رقم-٢٤٣١) واحمد فى المسند:٧٣/٣

[۵۵۲۸] دَ اسرافيل عليه السلام د شپيلۍ حقيقت

۵۵۲۸ -(¹)[۸] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲] «الصُّورُ قَرْنٌ يُنْفَخُ فِيهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن عمرو رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ نه روايت كوي حضور ﷺ وفرمايل [۲] شپيلۍ يو ښكر دى چې په دي كې به پو كل وشي (ترمذي و ابوداؤد او دارمي)

حل اللغات: - ① الصُّورُ: شپيلۍ، ② قَرْنٌ: ښكر،

تسهيلات:

قوله: الصُّورُ قَرْنٌ يُنْفَخُ فِيهِ:

د قرن معنى: يعنى شپيلئ يو ښكردي دَ صور ترجمه نرسنكا هم ده اوسنك هم دي دَ دغه شپيلئ خله دومره لويه ده چه زمكه او آسمان په كښې راتلې شى

دشپيلۍ دوه محله پوك وهل: ① دَ كائناتود فنا كولودپاره به دَ وژلودپاره
② دَ ټولوانسانانودوباره راژوندى كولودپاره به اسرافيل عليه السلام دوباره شپيلۍ پوك وهى

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۵۲۹] د ناقور، راجفه اورادفه مطلب

۵۵۲۹-(²)[۹] [۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ﴾ [المدثر: ۸]: الصُّورِ [۲] قَالَ: وَ(الرَّاجِفَةُ): النَّفْخَةُ الْأُولَى، [۳] وَ(الرَّادِفَةُ) الثَّانِيَةُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي تَرْجَمَةِ بَابٍ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى هغوئ د الله ﷻ د ارشاد فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ تفسير بيانولو سره وفرمايل چې نَاقُور نه مراد شپيلۍ ده هغوئ د دې آيت: يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ تفسير بيانولو سره اوويل [۲] چې راجفه نه مراد د مخكنى شپيلۍ پوكل دي [۳] او رادفة نه مراد دويم ځل پوكل دي دا روايت بخاري په ترجمة الباب كې نقل كړى دى.

حل اللغات: - ① نُقِرَ: پوک اووهلې شى، ② النَّاقُورِ: شپيلئ، ③ الصُّورِ: شپيلئ، ④ الرَّاجِفَةُ: درزيدونكې، د اسرافيل عليه السلام رومبى ځل شپيلئ ترې مراد ده ⑤ الرَّادِفَةُ: روسته راتلونكې يعنى د اسرافيل عليه السلام په دويم ځل شپيلئ وهلو ته الرادفه وائى،

---

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب السنة/باب فى ذكر البعث والصور (رقم-٤٧٤٢) والترمذى فى كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى شأن الصور (رقم-٢٤٣٠) واحمد فى المسند: ١٦٢/٢

²) اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب نفخ الصور

تسهيلات:

قوله: فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ:

دناقور معنی: دَ "ناقور" لغوی معنی ده كنستونكې چونكه دوباره شپيلئی پوك وهلو سره به مړی قبرونه ورانولو سره بهر راوځي په دې وجه شپيلئی پوك وهلو ته "ناقور" وائی.

مشار اليها آيت: په حديث الباب كښې چه دې آيات طرف ته اشاره ده ﴿فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ۝ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ۝﴾ يعنی په كومه ورځ چې په شپيلۍ كښې پوك وهلی شی نودغه ورځ به په كافرانو باندې ډيره ګرانه وی.

قوله: وَ(الرَّاجِفَةُ): النَّفْخَةُ الْأُولَى، وَ(الرَّادِفَةُ) الثَّانِيَةُ.:

په راجفة، او رادفة، كښې فرق: ① راجفة "دَ رجف نه دې دَ كوم معنی چه دَ خوزيدو او لړزيدو ده. په دې اول شپيلئی باندې به زمكه او آسمان لړزيدو سره اوشليږی په دې وجه اولنئی شپيلئی ته "راجفة".

② "رادفة" معنی روستو دَ راتلو ده. ځكه دويمې شپيلئی ته "رادفة" وئيلې شی.

[۵۵۳۰] د دوو فرشتو په موجودګۍ كښې د شپيلی وهل

۵۵۳۰-()[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَاحِبَ الصُّورِ [۲] وَقَالَ: "عَنْ يَمِينِهِ جِبْرِيلُ وَعَنْ يَسَارِهِ مِيكَائِيلُ».

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعيد رضي الله عنه وايي يوه ورځ رسول الله ﷺ د شپيلۍ پوكونكی يعنی حضرت اسرافيل ذكر وكړ [۲] او وي فرمايل چې د شپيلۍ وهلوپر وخت به د هغه ښي طرف ته حضرت جبرائيل عليه السلام وي او ګس طرف ته به حضرت ميكائيل وي. [رواه رزين]

حل اللغات: - ① الصُّور: شپيلئ.

تسهيلات:

قوله: صَاحِبَ الصُّورِ:

د صاحب صور څخه مراد: دَ دې نه مراد حضرت اسرافيل عليه السلام دې كله چه اسرافيل عليه السلام شپيلئ پوك وهی دَهغه ښی طرف ته به جبرائيل عليه السلام او ګس طرف ته ميكائيل عليه السلام ولاړ وی.

---

[۱]) اخرجه احمد فی المسند: ۳/۱۰ وابوداود فی كتاب الحروف والقراءات (رقم-۳۹۹۹)

[۵۵۳۱] د دوباره ژوندي کولو يوه مثالي نمونه

۵۵۳۱-(۱)[۱۱] ① «وَعَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ ②: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! كَيْفَ يُعِيدُ اللَّهُ الْخَلْقَ؟ وَمَا آيَةُ ذَلِكَ فِي خَلْقِهِ؟ ③ قَالَ: "أَمَا مَرَرْتَ بِوَادِي قَوْمِكَ جَدْبًا ثُمَّ مَرَرْتَ بِهِ يَهْتَزُّ خَضِرًا"؟ ④ قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: "فَتِلْكَ آيَةُ اللَّهِ فِي خَلْقِهِ"، ﴿كَذَلِكَ يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَى﴾ [البقرة: ۷۳]». رَوَاهُمَا رَزِينٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابو رزين عقيلي وايي ② ما عرض وکړو يا رسول الله! خداوند به مخلوقات دوباره څرنګه را ژوندی کوي هرکله چې د هغوئ جسم او بدن به ورستيد و سره خاوري شوي وي او آيا د دې د پاره په موجوده مخلوقاتو کې څه داسې نښه شته (چې د هغه په ليدو سره دوباره د ژوندي کولو نظريه باندې استدلال وسي) ③ حضور ﷺ وفرمايل آيا ته چيرته د قحط او وچ کالی په زمانه کې د خپل قوم جنګل او فصلونو (کهيتيو) په منځ کې تير شوی يې هلته د سبزي شينکی نوم نشان هم په نظر نه راځي (بلکه ټوله زمکه بالکل بنجر او وچه په نظر راځي) ليکن هرکله چې ته باران نه وروسته هلته تيريږي نو تاته په پوره علاقه کې ښه ترو تازه سبزه په نظر راځي ④ ما عرض وکړو چې هو نورسول ﷺ وفرمايل دانښه ده دالله په خپلو مخلوقاتو کې او الله ﷻ به مړی دغه شان را ژوندی کړي دا دواړه روايتونه رزين نقل کړي دی. [رواه رزين]

حل اللغات:- ① يُعِيدُ: دوباره به ژوندی کوی. ② آيَةُ: نښه، ③ جَدْبًا: په قحط او اوچ کالئ کښې، ④ يَهْتَزُّ: خوزی راخوزی، ⑤ خَضِرًا: شنه، سرسبزه.

تسهيلات:

قوله: أَمَا مَرَرْتَ بِوَادِي قَوْمِكَ جَدْبًا ثُمَّ مَرَرْتَ بِهِ يَهْتَزُّ خَضِرًا:

په بعث بعد الموت مشاهداتي دليل: کله چې صحابی د نبی ﷺ څخه د بعث بعد الموت د نمونې او مثال مطالبه اوکړه نو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل چې شاړه اوبنجره زمکه وی دهغې څخه روسته په هغې باندې باران اوشی يا په بله څخه ذريعه په هغې کښې د کروندې انتظام اوشی او هغه څنګه شنه اوتروتازه شی دغه شان به الله تعالی دا ټول انسانان د مرګ څخه روسته دوباره راژوندی کړی.

---

[1]) رواه رزين . واحمد فى المسند: ۱۱/۴

[۲] بَابُ الحَشْرِ

د مرګ څخه روسته د دوباره راجمع کیدو بیان

خلاصة الباب

فیه سبعة عشر حدیثاً مشتملة علی ست مسائل:

① صفة الأرض وقت الحشر: ۱، ۲، ۱۳۔
② حالة الناس فی الحشر: ۳، ۴، ۵، ۶، ۱۵، ۱۷۔
③ صفة بعض الأشخاص فی الحشر: ۷، ۱۲۔
④ الشدة فی الحشر: ۸، ۹، ، ۱۰، ۱۴۔
⑤ الإبتلاء فی الحشر: ۱۱۔
⑥ بیان ا لحشر فی القرآن: ۱۶۔

دحشر لغوی معنی: دَ حشر اصل معنی جمع کول او یوځائی کول دی.

قیامت ته د یوم الحشرونیلو وجه: دَ قیامت ورځې ته یوم الحشرځکه ونیلې شوې دې چه په دغه ورځ به ټول انسانان راژوندی کولوسره یومیدان طرف ته شړلوسره جمع کولې شی. دغه میدان ته دَمحشرمیدان وائی.

دحشر څخه مراد: دلته دَحشر نه مراد هم دغه معنی ده چه ټول خلق به ژوندی کولوسره راجمع کړې شی. اګرچه په دې باب کښې داقسم احادیث هم ذکردی چه دَ قیامت دَعلاماتونه دی لکه د دې باب په حدیث نمبر(۵۵۳۳) کښې دَ یواور بیان دې دادَ قیامت دَ علاماتونه دې. بهرحال دَ شام په زمکه باندې به دَ حشر میدان قائمولې شی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۵۲۲] دحشر د میدان ذکر

۵۵۲۲-(۱)[۱] عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى أَرْضٍ بَيْضَاءَ عَفْرَاءَ كَقُرْصَةِ النَّقِيِّ لَيْسَ فِيهَا عَلَمٌ لِأَحَدٍ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: حضرت سهل ابن سعد ﷺ وایي چی رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د قیامت په ورځ به خلق داسې سرخې مائل سپینې زمکې باندې جمع[۳] شي چې د رنګ او ګولائي د اعتبار نه به د چڼ کړي ا ورو د روټئ په شان وي او هغه زمکه باندې به د چا د مکان او عمارت وغیره څه نښه نه وي بلکه اوار میدان به وي. (بخاری ومسلم)

[۱]) اخرجه البخاري فی کتاب الرقاق/باب: یقبض الله الأرض یوم القیامة (رقم-۶۵۲۱) ومسلم فی کتاب صفة القیامة والجنة والنار/باب فی البعث والنشور وصفة الأرض یوم القیامة (رقم-۲۸ - (۲۷۹۰)

حل اللغات:- ① بَيْضَاءَ: سپينه، ② عَفْرَاءَ: سربخنه، سور رنګې، ③ قُرْصَةِ: چپاتئ روټئ. ④ النَّقِيِّ: چهانړ شوی اوړه، ⑤ عَلَمٌ: نښه، نشاني او علامت.

تسهيلات:

قوله: يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى أَرْضٍ بَيْضَاءَ عَفْرَاءَ كَقُرْصَةِ النَّقِيِّ لَيْسَ فِيهَا عَلَمٌ لِأَحَدٍ

په سپينه ځمکه د خلقو حشر کيدل الکه چه دا ځمکه به په ګولائی کښې دَ روټئی په شان وی او محشر کښې به دَخلقو دَ خوراك دَپاره هم دغه انتظام وی چه دَځمکې ټکړې به پرې کوی اوخوری به ئی دَ سالن پته نشته.

[۵۵۳۲] دَ جنتيانو رومبی خوراک او ملمستيا

۵۵۳۲-()[۲] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «تَكُونُ الْأَرْضُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُبْزَةً وَاحِدَةً، ③ يَتَكَفَّؤُهَا الْجَبَّارُ بِيَدِهِ كَمَا يَتَكَفَّأُ أَحَدُكُمْ خُبْزَتَهُ فِي السَّفَرِ نُزُلًا لِأَهْلِ الْجَنَّةِ ④ ". فَأَتَى رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالَ: بَارَكَ الرَّحْمَٰنُ عَلَيْكَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ ⑤! أَلَا أُخْبِرُكَ بِنُزُلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ فَقَالَ ⑥: " بَلَى ". قَالَ: تَكُونُ الْأَرْضُ خُبْزَةً وَاحِدَةً، كَمَا قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: او حضرت ابوسعيد خدري ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د قيامت په ورځ به ټوله ځمکه د يوې روټئ په شان وي ③ چې خداوند جبار به يې خپلو لاسونو سره داسې اړوي را اړوي څرنګه چې په تاسو کې يو سړی د سفر په دوران کې اړولو را اړولو سره يعنی تادی سره روټی پخوي او دا روټئ به د جنتيانو، ميلمستيا وي او مهماني هغه طعام ته وايي چې ميلمه باندې وخوړول شي (④ د حضور ﷺ دي فرمايلو نه وروسته يو يهودي راغې او هغه اوويل اې ابو القاسم الله پاك مهربانه دی په تاسو برکت نازل کړي ⑤ آيا زه تاسو ته ونه وښايم چې د قيامت په ورځ به د جنتيانو د مهمانی ميلمستيا په طور مخکی طعام څه وي حضور ﷺ ورته وفرمايل هو وښايه هغه يهودي اوويل ټوله ځمکه به يوه روټئ وي څرنګه چې حضور ﷺ فرمايلي وه

حل اللغات:- ① خُبْزَةً: روټئ، ② يَتَكَفَّؤُهَا: روټئ پخولو وخت کښې زر زر اړول راړول. ③ الْجَبَّارُ: زورآور. طاقت ور (الله)

فَنَظَرَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَيْنَا، ثُمَّ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ ② ثُمَّ قَالَ: " أَلَا أُخْبِرُكَ بِإِدَامِهِمْ؟ بَالَامٌ وَالنُّونُ ③ ". قَالُوا: وَمَا هَذَا؟ قَالَ ④: " ثَوْرٌ وَنُونٌ يَأْكُلُ مِنْ زَائِدَةِ كَبِدِهِمَا سَبْعُونَ أَلْفًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:) په دي اوريدو سره د تعجب د اظهار او مونږ ته د ښودلو د پاره چې يهودي ټيک وايي (① خلورو طرفونو ته وکتل او وي خندل ددې پورې چې حضور ﷺ د مخ غاښونه په

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق /باب: يقبض الله الأرض يوم القيامة (رقم-۶۵۲۰) ومسلم فی کتاب صفة القيامة والجنة والنار /باب نزل أهل الجنة (رقم-۳۰ - (۲۷۹۲)

نظر راغلل [۲] دي نه وروسته هغه يهودي اوويل آيا زه تاسو ته وښايم چې د جنتيانو سالن (اينګولی) به څه وي ؟چې روټی سره به يي خوري؟(هغه بالام او نون دی) صحابه ؓ د بالام په مطلب پوه نه شو ځکه چې عبراني لفظ وو([۳] هغوئ اوويل دا بالام څه شی دی[٤] هغه وئيل د بالام مطلب غوئي دی او د نون په باره کې تاسو خلق پيژنی چې کب (ماهی) ته وايي او د دې دواړو معنٰی داده چې د غوائي او کب (ماهی) د غوښي هغه ټکړی نه چې د جګر زائد وي اويا زره سړي به ور نه خوري. (بخاري مسلم)

حل اللغات: -⑭ نُزُلُهُ: هغه غاښونه چه په وخت دخندا کښې ښکاری. ⑮ أَدَامٌ: سالن، اينګولې. ⑯ بَالَامٌ: غوئي، ⑰ النُّونُ: کب، مهي، ⑱ ثَوْرٌ: غوئي، ⑲ كَبِدٌ: ځيګر، زړه.

تسهيلات:

قوله: أَلَا أُخْبِرُكَ بِأَدَامِهِمْ؟ بَالَامُ وَالنُّونُ:

د جنتيانو تركارى: يعنى يهودى عالم بيا اووئيل چه آيا دَ سالن درته اونه وايم؟ صحابه کرامو وئيل اوښايه. هغه اووئيل "بالام" داعبرانى لفظ دې عربى کښې دَ دې ترجمه ثور ده کوم چه غوئى ته وائى. که چرې دا لفظ عربى وې نوصحابه به پوهه شوى وو.

قوله: ثَوْرٌ وَنُونٌ يَأْكُلُ مِنْ زَائِدَةِ كَبِدِهِمَا سَبْعُونَ أَلْفًا:

دغوئى اوكب په ځيګرسره د جنتيانو ملمستيا: يعنى دَ غوئى اوكب دواړو دَ ځيګر دَ څه زياتى ټکړو نه به اويا زره جنتيانو ميلمستياکولې شى. دا اويا زره به هغه کسان وى کوم چه دَ حساب کتاب نه بغير جنت ته داخل شوى وى. په حيواناتو کښې کب او مار دوه داسې حيوانات دى دکوم په غټيدو کښې چه څه حد بندى نشته دې هغه دَ غټ نه هم زيات غټ جوړيدې شى.

[٥٥٣٤] په ميدان حشر کښې دَرا جمع کيدو منظر

٥٥٣٤-()[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى ثَلَاثِ طَرَائِقَ [۳]: رَاغِبِينَ، رَاهِبِينَ، وَاثْنَانِ عَلَى بَعِيرٍ، وَثَلَاثَةٌ عَلَى بَعِيرٍ [٤] وَأَرْبَعَةٌ عَلَى بَعِيرٍ، وَعَشَرَةٌ عَلَى بَعِيرٍ، وَتَحْشُرُ بَقِيَّتَهُمُ النَّارُ، تَقِيلُ مَعَهُمْ حَيْثُ قَالُوا، وَتَبِيتُ مَعَهُمْ حَيْثُ بَاتُوا، [٥] وَتُصْبِحُ مَعَهُمْ حَيْثُ أَصْبَحُوا، وَتُمْسِي مَعَهُمْ حَيْثُ أَمْسَوْا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ؓ وايي چې رسول اللّٰه ﷺ وفرمايل [۲] په حشر کې به خلق دري قسمونو کې جمع شي [۳] يو قسم خلق خو به هغه وي کوم چې د جنت خواهشمند دي دويم قسم خلق به هغه وي چې دوزخ نه ويرېدونکی دی) او په دې دواړو قسمونو کې چې

[۱] اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب: كيف الحشر (رقم-٦٥٢٢) ومسلم فى كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب فناء الدنيا وبيان الحشر يوم القيامة (رقم-٥٩ - (٢٨٦١) والنسائى فى كتاب الجنائز/باب البعث (رقم-٢٠٨٥)

كوم خلق په سورلۍ وي د هغه صورت به داوي، چې دوه به يو اوښ باندې سوارهوي (يعني د كوم سړي چې مرتبه څومره زياته بلنده وي هغه به هغومره كم سړو سره سورلۍ باندې وي او ډير آرام او كشادګۍ سره به ناست وي) او د چا مرتبه چې څومره اولنۍ وي هغه به هغومره زيات سړو سره سورلۍ باندې وي او تنګۍ سره به ناست وي④ او دريم قسم به باقي ټول خلقو باندې مشتمل وي چې اور به يې راجمع كړي او هغه خلق او هغه اور به هر وخت هغه خلقو سره وي او هيڅ وخت به هغوئ نه نه جدا كيږي ددې پورې چې چيرته هغه خلق قيلوله كوي چير چې هغه خلق شپه تيروي اوربه هم هلته هغوئ سره شپه تيروي⑤ چيرته چې هغوئ سحر كوي هلته اور به هم هغوئ سره سحر كوي او چيرته چې هغه خلق ماښام كوي هلته اور به هم هغوئ سره ماښام كوي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① طَرَائِقَ: دَ طريقة جمع ده، اقسام، ② رَاغِبِينَ: شوق لرونكى، خواهشمند، ③ رَاهِبِينَ: ويريدونكى، ④ بَعِيرٍ: اوښ، ⑤ تَقِيلُ: دَ قيلوله نه دې، يعنى لږ شان آرام به كوى، ⑥ قَالُوا: دا هم دَ قيلوله نه دې، لږ شان آرام كول، ⑦ تَبِيتُ: د بات يبيت نه، شپه تيرول، ⑧ بَاتُوا: د بات يبيت نه، شپه تيرول،

تسهيلات: قوله: يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى ثَلَاثِ طَرَائِقَ

دقيامت په ورځ دحشر درې كيفيتونه: مراد درې قسمونه دى. يعنى خلق به دَ ژوندى كيدونه پس چه كله دَمحشر په ميدان كښې جمع شئ نوهلته دَ راتلو به درې طريقې وى اودرې قسم خلق به وى. يو قسم به په جنت كښې دَ رغبت كونكووى. دويم قسم به دَ دوزخ نه ويريدونكى وى.

قوله: وَاثْنَانِ عَلَى بَعِيرٍ، وَثَلَاثَةٌ عَلَى بَعِيرٍ، وَأَرْبَعَةٌ عَلَى بَعِيرٍ:

د راغبون اوراهبون ميدان حشرته د تګ مختلفې سورلۍ: يعنى دَدغه راغبينو او راهبينو څخه چه كوم خلق په سورلو وى دَهغوى كيفيت او صورت به داسې وى چه دوه دوه درې درې څلور څلور ترديې چه لس لس به په يو يو اوښ باندې سواره وى خپلې خپلې مرتبې به ئې وى.

قوله: وَتَحْشُرُ بَقِيَّتَهُمُ النَّارُ، تَقِيلُ مَعَهُمْ حَيْثُ قَالُوا، وَتَبِيتُ مَعَهُمْ حَيْثُ بَاتُوا:

داورپه ذريعه خلق ميدان حشرته جمع كيدل: مطلب دا چه هغه اور به دغه خلقو ته هرقسم آسانى وركړى كله سفر كله قيلوله كله شپه تيرول اوكله سحر كول ليكن دَمحشرميدان ته به ئې خامخا راولى. دا اور هغه دې چه دَ مړه كيدو نه پس دوباره ژوندى كيدو باندې به خلق دَ محشرميدان ته راولى. دَمحشرميدان ته دَ راتلودپاره څو قسم حشر كيدې شى كله به سورلۍ وى كله به پيدل وى كله به په خپو راځى اوكله به پرمخې راځى.

[۵۵۲۵] په میدان حشر کښې د خلقو د حشر کیفیت

۵۵۲۵ - (۱)[۳] ⓵ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ⓶ - قَالَ: " «إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا ⓷ " ثُمَّ قَرَأَ: ﴿كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ﴾ [الأنبياء: ۱۰۴] ، " ⓸ وَأَوَّلُ مَنْ يُكْسَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ، ⓹ وَإِنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِي يُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَأَقُولُ: أُصَيْحَابِي أُصَيْحَابِي

ترجمه: او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ نه روایت کوي ⓶ حضور ﷺ وفرمایل تاسو به د قیامت په ورځ داسې حال کې را پاځي چې تاسو به خپې آبلې ښنې بربند او ناسنت غیر مختون یئ ⓷ دي نه وروسته حضور ﷺ بطور دلیل او استشهاد دا آیت اووئیلو كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ یعنی څرنګه چې مونږ دوئ ابتداء پیدائش کې خپې آبلې ښنې بربند او ناسنته د مور د خیټې نه پیدا کړي وه دغه شان به دوئ دوباره د قیامت په ورځ پیدا کړو ، یعنی قبرونو نه به یې را پاځوو ، دا وعده چې مونږ به دوئ دوباره راپیدا کړو په مونږ لازم ده او یقینًا مونږ چې کومه وعده کړي ده هغه پوره کونکي یو ⓸ بیا حضور ﷺ وفرمایل د قیامت په ورځ به هغه په خلقو کې چې د ټولو نه مخکښې کوم سړي ته چې لباس واغوندي هغه حضرت ابراهیم علیه السلام دي ⓹ بیا یې وفرمایل او هغه وخت هرکله چې خلق د میدان حشر نه جنت او دوزخ طرف ته بوتلل شي زه به وینم چې زما څه ملګري نیولو سره چپ لاس طرف ته یعنی دوزخ طرف ته به بوتلل شي په دې لیدو سره بطور حیرت او هغوئ ته نجات ورکولو د پاره به زه وایم چې دا خما ملګري دی دا خما ملګري دی دوی چیرته بوځي

حل اللغات: - ⓵ مَحْشُورُونَ: راجمع کولی به شئ، ⓶ حُفَاةً: خپې آبلې، ⓷ عُرَاةً: بربند بدن. ⓸ غُرْلًا: ناسنته. ⓹ نُعِيدُهُ: سر دوباره به ئې ژوندی کړو، ⓺ يُكْسَى: کپړې به اغوستولې شی. ⓻ أُصَيْحَابِي: دا خو زما ملګری دی

⓵ فَيُقَالُ: إِنَّهُمْ لَنْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ. ⓶ فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ: ﴿وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ﴾ [المائدة: ۱۱۷] إِلَى قَوْلِهِ: الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: خداوند تعالی به فرمایي ، بیشکه دا ستا ملګري نه دی ، حقیقت دادی کله چې ته د دوی نه جدا شوی یې دوی برابر دین نه اوښتي دی ، څکه دوی دوزخ ته لیږل کېږي

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {واتخذ الله إبراهيم خليلًا} [النساء: ۱۲۵] (رقم-۳۳۴۹) ومسلم في كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب فناء الدنيا وبيان الحشر يوم القيامة (رقم-۵۸ - (۲۸۶۰) والترمذي في كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في شأن الحشر (رقم-۲۴۲۳) والنسائي في كتاب الجنائز/باب ذكر أول من يكسى (رقم-۲۰۸۷) واحمد في المسند: ۱/۲۲۰

(۲) په دې اوریدو سره زه به هغه وایم څه چې صالح بنده یعنی حضرت عیسی ویلي وه چې وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ تر اَلْعَزِيزُ الْحَكِيمُ پورې یعنی د څوپورې چې زه د دوئ په منځ کې وم زه د دوئ د احوالو نه واقف وم. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا"

په پیدائشی حالت کښې دوباره راژوندی کیدل: لفظ غرلاً کښې دَدې خبرې طرف ته اشاره ملاویږي چه دَانسان تخلیق په کوم صورت کښې شوې دې هم په هغه هئیت او صورت کښې به هغه دَ میدان حشر طرف ته بوتلې شی. هغه برېنډ پیدا شوې نو حشر به ئې هم برېنډ وی. ناسنته پیدا شوې نو په حشر کښې به هم ناسنته وی.(۱)

قوله: وَأَوَّلُ مَنْ يُكْسَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ:

دابراهیم علیه السلام د خصوصیت وجوهات: دَټولو نه اول چه کوم کس ته لباس اچولې شی هغه به حضرت ابراهیم عليه السلام وی.

① ابراهیم عليه السلام ته به دا فضیلت ولې حاصل وی؟ یو قول دا دې چه ابراهیم عليه السلام دَ الله تعالی په لارکښې بې لباس کړې شوې اور کښې اچولې شوې وو په دې وجه به دَ قیامت په ورځ هغوی سره دا خصوصی معامله کولې شی.(۲)

② شیخ الحدیث حضرت زکریا رحمه الله دَ دې خصوصیت یوه وجه دا هم خودلې ده چه حضرت ابراهیم عليه السلام چونکه دَ ټولو نه اول سنت کیدو طریقه وضع کړې وه او په دې عمل کښې دَ یو اندام ښکاره کیدل کیږی په دې وجه دَ ټولو اول لباس به هم هغوی ته وراغوستلې شی.(۳)

③ بعض شارحینو فرمائیلی چه دَ ټولو نه اول دَ ستر پټولو دَپاره پرتوګ استعمالول ابراهیم عليه السلام کړی نو هم په دې وجه به دَ قیامت په ورځ هغوی ته دا خصوصیت حاصل وی.(۴) دَ قیامت په ورځ به دا دَ حضرت ابراهیم عليه السلام خصوصیت او فضیلت وی چه هغوی ته به دَ ټولو نه اول لباس اغوستلې شی.

اشکال: ددې خصوصیت څخه خو معلومیږی چې ابراهیم عليه السلام د محمد صلی الله علیه وسلم څخه افضل دې. ځکه هغوی ته د ټولو څخه وراندې جامې اغوستلی شی.

---

(۱) عمدة القاری: ۳۳۳/۱۵.
(۲) فتح الباری: ۴۸۰/۸، عمدة القاری: ۳۳۴/۱۵، الکنز المتواری: ۲۷۹/۱۳.
(۳) الکنز المتواری: ۲۷۸/۱۳.
(۴) فتح الباری: ۴۸۰/۸، عمدة القاری: ۳۳۴/۱۵، الکنز المتواری: ۲۷۹/۱۳.

د اشکال دوه جوابونه: ① په دې خصوصیت سره دا نه لازمی کیږی چه ابراهیم علیه السلام دې د رسول الله ﷺ نه افضل وی. که چرې مفضول ته څه انفرادی فضیلت او خصوصیت حاصل وی نو په دې سره دَهغه فضیلت مطلقه نه ثابتیږی. ځکه چه دَ قیامت په ورځ به دَ ټولو نه افضل رسول الله ﷺ وی. (۱)

② ممکن ده دَ رسول الله ﷺ متذکره فضیلت کښې دَ اولیت اظهار دَ غیرمتکلم په اعتبار سره کړې وی. دَاهل اصول په نیز قاعده ده: «إن المتکلم لایدخل تحت عموم خطابه» یعنی پخپله متکلم دَخپل خطاب په عموم کښې شامل نه وی. شراح دَ دې قاعدې لاندې فرمائیلی چه ممکن دی پخپله حضورپاك ته دَ ټولو نه اول لباس ورواغوندلې شی بلکه دَحضورپاك حشر خو به په خپل کفن کښې وی. البته متکلم یعنی دَ حضورپاك دَ ذات نه علاوه په نورو خلقو کښې دَ ټولو نه اول به حضرت ابراهیم علیه السلام ته لباس اغوستلې شی (۲)

قوله: فَأَقُوْلُ: أُصَيْحَابِيْ أُصَيْحَابِيْ: زما څه صحابه به نیولو سره دَ کس لاس طرف ته «دَ دوزخ طرف ته» بوتلې شی زه به وایم دا زما صحابه دی دا زما صحابه «دوی چرته بوځئ؟

دا صحابی د تکرار نکته: دَ اصحابی لفظ دوه ځل راغلې دې. اول اصحابی مبتداء محذوف دَ هؤلاء خبر دې او تقدیری عبارت دې «هؤلاء أصحابی» او دویم أصحابی دَ اول أصحابی دَ تاکید دَپاره دې. (۳)

د اصیحابی د تصغیر د روایت اشاره: دَ ابوذر رحمه الله او ابن عساکر رحمه الله په روایت کښې تصغیر سره «أصیحابی أصیحابی» دې. په دې کښې دَهغه کسانو دَ کم شمیر طرف ته اشاره ده چه داسې خلق به ډیر کم وی چه په حضورپاك باندې ایمان راوړلو سره دَ رسول الله ﷺ په اصحاب کښې شامل شو او دَ حضورپاك دَ انتقال نه پس مرتد شو. (۴) چونکه دا خلق دَ رسول الله ﷺ نه پس مرتد شوې وو په دې وجه دَ حشر په میدان کښې به دَ هغوی دَ جهنم طرف ته شړلو باندې حیرانتیا کولو سره دَ لاعلمئی دَ وجې نه اصحابی اصحابی فرمائی او دَهغوی دَ بچ کولو فکر به کوی.

اشکال: په رسول الله ﷺ باندې به دَ خپل امت دَ ټولو کسانو اعمال پیش کولې شی او حضورپاك به دَ ټولو دَ اعمالو نه خبر وی نو بیا به دَ دغه مرتدینو اعمال دَ حضورپاك نه څنګه پټ پاتې شی؟

---

(۱) فتح الباری: ۴۸۰/۸ عمدة القاری: ۳۳۴/۱۵ الکنز المتواری: ۲۷۹/۱۳.
(۲) فتح الباری: ۴۸۰/۸ الکنز المتواری: ۲۷۹/۱۳.
(۳) عمدة القاری: ۳۳۵/۱۵.
(۴) إرشادالساری: ۱۷۳/۷.

د اشکال جواب: رسول الله ﷺ ته به دَموحدینو اعمال پیش کولې شی مرتدین او مخالفین به دَدې نه مستثنٰی وی. (۱)

قوله: فيقول: إِنَّهُمْ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ: الله تعالى به فرمائی چه کله تاسو دَدوی نه جدا شوئی دوی پوشان دَ دین نه واوړیدل.

دارتداد په مفهوم کښې درې اقوال: ① د عامو محدثینو په نیز ددې څخه مراد حقیقی ارتداد دې یعنی د اسلام څخه کفرته اوړیدل اودحدیث ظاهری الفاظ هم ددې تائید کوی.

② امام خطابی رحمه الله فرمائی چه دلته دَ ارتداد نه مراد (التأخير عن الحقوق اللازمة والتقصير فيها) لیکن دَ امام خطابی رحمه الله دا قول مردود کړې شوې دې.

دتردید دلیل: دَدې وجه داده چه په عام توګه باندې دَ ارتداد نه مراد هم کفر وی. چنانچه آیت مبارک ﴿أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ﴾ کښې ارتداد هم دکفر په معنی کښې دې او ﴿انْقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ﴾ معنی ده: (رجعتم إلى الكفر والتنازع) هم دغه وجه ده چه دَدې مفهوم دَ صحیح مسلم روایت کښې (لاتدري ما أحدثوا بعدك) نه پس (بعدا لهم وسحقا) جمله هم ده او ښکاره خبره ده چه داسې خبره دَ مسلمان په حق کښې نه شی کولې څکه چه دَ نبی کریم ﷺ شفاعت به هم دَ ګناهګارانو دَپاره وی. (۲)

دتردید د دلیل ضعف: دَدې جواب دادې چه دَ ارتداد نه دکفر والا معنی هغه وخت مراد وی چه کله ارتداد بغیرِ دَ تقیید نه مطلقًا ذکرکړې شی اودلته په حدیث باب کښې ارتداد دَ ﴿عَلَى أَعْقَابِكُمْ﴾ قید سره مقید دې. لهذا دلته به کفر مراد نه وی لکه (ارتد فلان على عقبه) مقوله هغه وخت وئیلې شی کله چه څوك شاته رجوع کوی. بلکه دلته دَ واجبی حقوق نه به دَ تخلف والا معنی مراد وی څکه چه بحمدالله دَ نبی کریم ﷺ په صحابه کرامو کښې څوك هم مرتد شوی نه دی. مرتد کیدونکو نه دلته مراد عیینه بن حفص په شان دَ عربو سخت بدوان او سخت مزاج خلق دی چه ترغیبًا اوترهیبًا دَ اسلام قبلولو نه څه موده پس مرتد شوې وو. (۳)

③ ابوعمر رحمه الله فرمائی چه خوارج، روافض اوټول نفس پرست خلق چاچه په دین کښې ډیر بدعات راپیدا کړی، دَ حوض کوثر نه به لرې کولې شی. هم دغه شان حال دَ کبیره ګناهونو دَ مرتکبین او ظالمانو خلقو به هم وی. (۴)

---

(۱) عمدة القاري: ۳۳۵/۱۵.
(۲) عمدة القاري: ۳۳۵/۱۵.
(۳) شرح الكرماني: ۱۱/۱۴ دار إحياء التراث العربي.
(۴) عمدة القاري: ۳۳۵/۱۵.

[۵۵۳۶] محشر کښې به سړي او ښځې ټول بربنډ وي

۵۵۳۶-()[۵] ① «وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ② -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُوْلُ: "يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا ③" قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ جَمِيْعًا يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلٰى بَعْضٍ ④ فَقَالَ: "يَا عَائِشَةُ، الْأَمْرُ أَشَدُّ مِنْ أَنْ يَنْظُرَ بَعْضُهُمْ إِلٰى بَعْضٍ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ② د قيامت په ورځ به په ميدان حشر کې خلق خپې آبلې پښې او بربنډ جمع شي ③ بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې ما په دې اوريدو سره عرض وکړو يارسول الله آيا د سړو او ښځو ټولو به داحال وي او هغوئ به يوبل بربنډويني؛ يعنی داسې خوبه ښځې سړی او سړی به ښځې خپې آبلې ويني نو بيا د ټولو په بربنډ حالت کې د جمع کولو کې څه مصلحت دی؛ ④ حضور ﷺ وفرمايل اې عائشې رضي الله عنها د هغه ورځ معامله به دې نه ډيره زياته سخته هولناکه وي چې څوک دې چاته نظر او چتولو سره وکوري. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① حُفَاةً: خپې آبلې، ② عُرَاةً: بربنډ بدن، ③ غُرْلًا: ناسنته.

تسهيلات:

قوله: يَا عَائِشَةُ، الْأَمْرُ أَشَدُّ مِنْ أَنْ يَنْظُرَ بَعْضُهُمْ إِلٰى بَعْضٍ:

د قيامت سختي: يعنی معامله به د دې نه زياته سخته وی چه څوک چاته او ګوری هلته به د نفسی نفسی عالم وی چاته به معلومه هم نه وی چه دا سړې دې که ښځه بربنډه ده که په پرده کښې ده.

[۵۵۳۷] دوزخيان به پرمخې د حشر ميدان ته راجمع کولی شی

۵۵۳۷-()[۶] ① «وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- ② «أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا نَبِيَّ اللّٰهِ! كَيْفَ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلٰى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ ③ قَالَ: "أَلَيْسَ الَّذِيْ أَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلٰى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلٰى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دی ② يو سړي عرض وکړو يا نبي الله! ③ د قيامت په ورځ به کافر پرمخې تلو سره ميدان حشر ته څرنګه راځي؛ يعنی د چا د پاره پرمخې تلل به څرنګه ممکن وي؛ ④ حضور ﷺ وفرمايل حقيقت دادی چې کوم ذات

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب: كيف الحشر (رقم-۶۵۲۷) ومسلم في كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب فناء الدنيا وبيان الحشر يوم القيامة (رقم-۵۶ - (۲۸۵۹) والنسائي في كتاب الجنائز/باب البعث (رقم-۲۰۸۴) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب ذكر البعث (رقم-۴۲۷۶)

[2]) اخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن/باب قوله {الذين يحشرون على وجوههم الى جهنم أولئك شر مكانًا وأضل سبيلًا} [الفرقان: ۳۴] (رقم-۴۷۶۰) ومسلم في كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب يحشر الكافر على وجهه (رقم-۵۴ - (۲۸۰۶) -

(يعني الله ﷻ) دا كافر په دنيا كې پښو باندې روان كړي دي هغه ذات د هغوئ د قيامت په ورځ پرمخې روانولو باندې هم قادر دى. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: أَلَيْسَ الَّذِي أَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؛

د كافرانو ميدان حشر ته په مخونو باندې تګ: په حديث الباب كښې نبى كريم ﷺ دَ كافرانو متعلق خبر وركړو چه هغوى به دَ خپلو قبرونونه دَ محشر طرف ته پرمخې رابنكونكې يا په خوئيدو سره ځى. اودا دَ الله پاك دَ قدرت نه لرې نه ده چه هغه په دنياكښې انسانان په خپو ګرځولې شى نو كافران پرمخې هم دَ قيامت په ورځ دَ محشر طرف ته راوستې شى.

[۵۵۳۸]په ميدان حشر كې دَ حضرت ابراهيم عليه السلام دَ پلار حالت

۵۵۳۸-()[۷] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② قَالَ: «يَلْقَى إِبْرَاهِيمُ أَبَاهُ آزَرَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَعَلَى وَجْهِ آزَرَ قَتَرَةٌ وَغَبَرَةٌ ③، فَيَقُولُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ: أَلَمْ أَقُلْ لَكَ لَا تَعْصِنِي؟ ④ فَيَقُولُ لَهُ أَبُوهُ: فَالْيَوْمَ لَا أَعْصِيكَ ⑤. فَيَقُولُ إِبْرَاهِيمُ: يَا رَبِّ! إِنَّكَ وَعَدْتَنِي أَنْ لَا تُخْزِيَنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ⑥ فَأَيُّ خِزْيٍ أَخْزَى مِنْ أَبِي الْأَبْعَدِ»

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت كوي ② چې حضور ﷺ وفرمايل د قيامت په ورځ به حضرت ابراهيم عليه السلام دخپل پلار آذر سره په داسې حال كې يوځاي كېږي چې د آذر مخ به د غم او فكر په سبب تور وي او غبار آلود (په خاورو ككړ) به وي ③ حضرت ابراهيم عليه السلام په دي ليدو سره به ورته په حسرت او افسوس سره وايي آيا په دنيا كې ما تاته نه وئيل زه چې د الله ﷻ د طرف نه څه درته وايم او تعليم دركوم په هغه كې څما نافرماني مه كوه ④ د هغوئ پلار آذر به ورته وايي زه نن ورځ ستانافرماني نه كوم الله د پاره څما شفاعت وكړه او ماته نجات راكړه ⑤ حضرت ابراهيم عليه السلام د پلار داخبره اوريدو سره به عرض كوي اې څما پروردګاره تا زما سره وعده كړي ده چې په هغه ورځ چې دوباره به خلق ژوندى كول كيږي ميدانِ حشر كې به ته ما نه ذليل او رسوا كوي ⑥ نو څما د پلارد رسوائي او ذلت نه لوى ذلت او رسوائي د پاره نور څه كيدى شي چې هغه ستا د رحمت نه دومره ليرى دى

حل اللغات:- ① قَتَرَةٌ: توروالې، ② غَبَرَةٌ: په خاورو به ككړ وى، ③ الْأَبْعَدِ: دَ رحمت نه لرې شو او هلاك شو.

[1] اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {واتخذ الله إبراهيم خليلاً} [النساء: ۱۲۵] (رقم-۳۳۵۰)

[۱] فَيَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: إِنِّي حَرَّمْتُ الْجَنَّةَ عَلَى الْكَافِرِينَ، [۲] ثُمَّ يُقَالُ لِإِبْرَاهِيمَ: مَا تَحْتَ رِجْلَيْكَ؟ [۳] فَيَنْظُرُ فَإِذَا هُوَ بِذِيخٍ مُتَلَطِّخٍ، [۴] فَيُؤْخَذُ بِقَوَائِمِهِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] الله تعالیٰ به ورته فرمايي اي ابراهيم!) [۲] نن ورځ ستا د پلار په حق کې د مغفرت او نجات ستا درخواست منظور کيدي نشي ځکه چې هغه کافر دی، او حقيقت دادی چې ما جنت په کافرو حرام کړی دی [۲] بيابه حضرت ابراهيم علیه السلام ته اوويل شي چې لاندي وګوره ستا په پښو کې څه دی [۳] حضرت ابراهيم علیه السلام به دي اوريدو سره خپلو پښو طرف ته به نظر وکړي نو اوبه ويني چې د هغه پلار آذر د کفتار (يعني دادم خور (يوحيوان چې قبرونه کني او مړي خوري) په شکل کې په خاورو او سوتو (ګوبر) کې لړلی پروت دی [۴] بيابه د هغه يعني د آذر پښو نيولو سره په دوزخ کې وغورځول شي . (بخاري)

حل اللغات:- ⑫ ذِيخ: ګورګوټی يا بل څه ورکوټي غوندي حشرات الارض څني يو ځناور دي. ⑤ مُتَلَطِّخ: لت پت، ککړ، ⑥ قَوَائِم: خپې،

تسهيلات:

قوله: فَيُؤْخَذُ بِقَوَائِمِهِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ:

دابراهيم عليه السلام په خپلو لاسونو خپل پلار جنهم ته غورځول: ابراهيم علیه السلام د الله تعالى څخه دعا کړې وې چې يا الله د قيامت په ورځ ما د رسوائي څخه محفوظ اوساتې. لکه څنګه چې په قرآن پاک کښې دی ((وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ۝ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ۝)) يعنی په هغه ورځ ما د رسوائي څخه محفوظ اوساته په کومه ورځ چې به نه مال فائده ورکولې شي اونه اولاد او الله تعالى ئې د نورو دعاګانو پشان دغه دعا هم قبوله کړې وه نو الله تعالى به خپله وعده داسې پوره کړی چې دابراهيم علیه السلام د پلار څخه به لړم جوړ کړی او ابراهيم علیه السلام به ئې په خپلو لاسونو جهنم ته ورغوزار کړی.

[۵۵۲۹] دَ حشر په ميدان کښې بهيدو نکې خوله

۵۵۲۹ -(۱)[۸] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " يَعْرَقُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يَذْهَبَ عَرَقُهُمْ فِي الْأَرْضِ سَبْعِينَ ذِرَاعًا، [۳] وَيُلْجِمُهُمْ حَتَّى يَبْلُغَ آذَانَهُمْ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ په ميدان حشر کې (چې د حساب کتاب ابتداء وي او نامه اعمال به خلاصول شروع شي) نو دخلقو خوله په زمکه کې اويا ګزه پورې به لاره شي [۳] (اوبيا به هلته ډنډ کيدو سره را

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب قول الله تعالى: {الا يظن اولئك انهم مبعوثون ليوم عظيم يوم يقوم الناس لرب العالمين} [المطففين: ۵] (رقم-۶۵۳۲) ومسلم في كتاب الجنة وصفة نعيمها واهلها/باب في صفة يوم القيامة اعاننا الله على أهوالها (رقم-۶۱ - (۲۸۶۳) واحمد في المسند:۲/۴۱۸

پورته وغورځيږي ددې پورې چې د هغوئ غوږونو پورې به ورسيږي . (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①يَعْرَقُ: خوله، ②ذِرَاعًا: شرعي گزونه، ③يُلْجِمُهُمْ: واګې به واچوی دوی ته دا خولې، يعني دا خولې به چپه اووهي او راړواني به شي په دوی باندې،

تسهيلات:

توله: يَعْرَقُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يَذْهَبَ عَرَقُهُمْ فِي الْأَرْضِ سَبْعِينَ ذِرَاعًا:

د خلقو به خولو کېښې ډوبېدل: د الناس څخه ټول خلق مراد دي يعني پيريان او انسانان ټولو ته شامل دی بلکه په جناتو به په طريق اولی خوله راځی او بهيږی به. باقی دَ جنات ذکر نه کول دَ باب الاکتفاء دَ قبيل نه دی.

دَ انبياء، اولياء به دَ عرش اعظم سورې حاصليدو سره دَ خولې نه خلاص شی. دَ خولو په داسې سختئی سره راتلل او بهيدل به په دې سبب وی چه هغه به دَ سخت قسم هيبت وی او خوله دَ سختې پريشانئی، دَنمر دَ تاؤ اودَ اور دَ لمبو په وجه به راځی.

توله: وَيُلْجِمُهُمْ حَتَّى يَبْلُغَ آذَانَهُمْ"

د غوږونو پورې د خولې راتلل: باقی دَ هرسړی دَ عمل نامې په اندازه به هغه ته خولې راځی. دَچا عمل نامه چه څومره اندازه کېښې بنه وی هغه ته به خوله هم کمه راځی. وړاندې تفصيل راروان دې.

[۵۵۴۰] دَ حشر په ميدان کېښې به نمر د يوميل په فاصله نږدې وی

۵۵۴۰-()[۹] ①وَعَنِ الْمِقْدَادِ- رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ②: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: " «تُدْنَى الشَّمْسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْخَلْقِ،③ حَتَّى تَكُونَ مِنْهُمْ كَمِقْدَارِ مِيلٍ،④ فَيَكُونُ النَّاسُ عَلَى قَدْرِ أَعْمَالِهِمْ فِي الْعَرَقِ،⑤ فَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى كَعْبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى حَقْوَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يُلْجِمُهُمُ الْعَرَقُ إِلْجَامًا⑥ "، وَأَشَارَ رَسُولُ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِيَدِهِ إِلَى فِيهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت مقداد ﷺ وايي ②ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل د قيامت په ورځ به په ميدان حشر کې نمر مخلوق ته نژدې شی ③ددې پورې چې دهغوئ نه به د يوميل په فاصله شي ④نو ټول خلق به د خپل اعمالو په قدر خوله (پسينه) کې غرق شي⑤ په هغوئ کې به بعضې هغه وي چې پنړکو پورې به خوله کې وي بعضې خلق به هغه وي چې کونډو پورې به خوله کې وي او بعضې به تر بډې (دپرتوګ بنار ترلوځائې) پورې په خوله کېښې وی او دځينو به ترخلې پورې په خپله خوله کې ډوب وی، ⑥دې وينا سره حضور ﷺ په خپل لاس خپلې خولې مبارکې ته اشاره وکړه . (مسلم)

[۱]) اخرجه مسلم فی كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب فی صفة يوم القيامة اعاننا الله على أهوالها (رقم-۶۲ - ۲۸۶۴) والترمذی فی كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی شأن الحساب والقصاص (رقم-۲۴۲۱) واحمد فی المسند: ۴۱۸/۲

حل اللغات:- ①تُدْنَى :نزدې به شي، ②مِيلٌ: د مسافت يو خاص مقدار، ③الْعَرَقُ: خوله، ④حَقْوَيْهِ: تشي، ⑤يُلْجِمُهُمْ :واګي به واچوي دوی ته دا خولې، يعنی دا خولې به چپه اووهی او راجمع به شي په دوی باندې،

تسهيلات:

قوله: تُدْنَى الشَّمْسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْخَلْقِ حَتَّى تَكُونَ مِنْهُمْ كَمِقْدَارِ مِيلٍ:

دميل څخه په مراد کښې دوه اقوال: ① دَميل نه مراد دَ مسافت او فاصلې والا ميل مراد دې کوم چه دَ فرسنګ دريمه حصه وی نوترجمه دا شوه چې نمر به دَ يو ميل په فاصله باندې وی

② د رانجه لګونکې سلائی هم مراد کيدې شی.نوترجمه دا شوه چې نمر به دَ رانجو دَ سلائی په اندازه فاصله باندې وی.

قوله: فَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى كَعْبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ:

اشکال: هرسړې به په خپلو خولوکښې دوب وی نودا به څنګه ممکن وی چه دَ بل سړی خولو سره به نه ملاويږی بلکه هم په خپله غاړه باندې به اودريږی؟

داشکال جواب: دَ الله تعالی قدرت کامله به دَ هر سړی خوله دَ هغه دَ اعمالو په نسبت سره اودرولې چه دَچا خوله به دَ هغه دَ خُلې يعنی دَ غابښونو پورې رسيږی اودَ چا خوله به دَ سته پورې اودَ چا دَ سينې پورې دَچا دَ ملا پورې دَ چا دَ زنګونونو پورې دَ چا دَ ګيټو پورې دَ ګناهونو په مقدار رسيږی علی هذاالقياس. لکه څنګه چه په يو قبر کښې دوه مړی خښيږی ليکن په هغوی دواړو باندې جدا جدا حالات راځی چه په هغوی کښې يو عذاب کښې راګير وی نو بل په راحت او سکون سره وی او دواړه دَ يو بل دَ احوالو نه ناخبر وی.

دنیاوی مثال: په دنيا کښې دَدې مثال داسې دې چه دوه کسان په يوه بستره باندې هم په يو شان خوب کوی او دواړه جدا جدا خوب وينی يو غم اوخفګان محسوسوی او بل خوشحاله وی. کله چه په دنيا کښې داسې ممکن دی چه دوه کسان يوځائی وی په هغوی کښې دَ يو سره جدا معامله وی نو په آخرت کښې خو به په طريقه اولی سره داسې ممکن وی. لهذا دَآخرت احوال دَ دنيا په احوالو باندې نه شی قياس کولې.

[۵۵٤۱] په جنتيانو کښې به د حضور ﷺ د امت والا خلق زيات وي

۵۵۵۰-()[۱۰] ۱ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۲ - قَالَ: " «يَقُولُ اللهُ تَعَالَى ۳: يَا آدَمُ! فَيَقُولُ: لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ. ۴ قَالَ: أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ، قَالَ: وَمَا بَعْثُ النَّارِ؟ ۵ قَالَ: مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَمِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ ۶ فَعِنْدَهُ يَشِيبُ الصَّغِيرُ، ﴿وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا ۷ وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيدٌ﴾ [الحج: ۲].

ترجمه: ۱ او حضرت ابوسعيد خدري د رسول الله ﷺ نه روايت کوي ۲ چې حضور ﷺ وفرمايل د قيامت په ورځ به الله ﷻ په ميدان حشر کې آواز ورکړي ۳ اې آدمه! آدم به جواب ورکړي زه حاضريم ستا تابعدارۍ د پاره تياريم او ټولې خير ښيګړې ستا په لاس کې دي ۴ الله ﷻ به فرمايي د اور والا لښکر راوباسه [يعني مونږ ته چې ستا د اولاد نه د کومو خلقو دوزخ ته ليږل منظور دی هغه جدا کړه] آدم به عرض وکړو د دوزخيانو د لښکر تعداد اندازه څه ده ۵ الله ﷻ به فرمايي د هر زرو نه نهه سوه نهه نوي (۹۹۹) [يعني د دوزخيانو تناسب دادی چې د هر زرو نه به يوسړی جنت ته ځي او باقي به په دوزخ کې اچول کيږي] ۶ دا حکم خداوندي اوريدو سره وړوکي عمر والا به بوډاشي او هره حامله ښځه به خپل حمل ضائع کړي ۷ او هغه وخت به ته وويني چې خلق ګويا په نشه کې مست دی حالانکه هغوئ به (د شرابو په شان نشه کې) مست نه وي) که بالفرض هغه وخت څوک دوړوکي عمر وي، نو هغه به دصورت حال هيبت او فيصله خداوندی درعب اوخوف نه بوډاشي، دغسی هغه وخت که ديوی ښځې حمل وي، نو دهيبت نه به دهغې دنس نه حمل وغورځيږي

۸ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَأَيُّنَا ذَلِكَ الْوَاحِدُ؟ ۹ أَبْشِرُوا فَإِنَّ مِنْكُمْ رَجُلًا، وَمِنْ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ أَلْفٌ ۱۰ ثُمَّ قَالَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ أَرْجُو أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ " فَكَبَّرْنَا. ۱۱ فَقَالَ: " أَرْجُو أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ " فَكَبَّرْنَا، ۱۲ فَقَالَ: " أَرْجُو أَنْ تَكُونُوا نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ " فَكَبَّرْنَا. ۱۳ قَالَ: " مَا أَنْتُمْ فِي النَّاسِ إِلَّا كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي جِلْدِ ثَوْرٍ أَبْيَضَ، ۱۴ أَوْ كَشَعْرَةٍ بَيْضَاءَ فِي جِلْدِ ثَوْرٍ أَسْوَدَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۸ بيا صحابو عرض اوکړواې د الله پيغمبره! دا يو کس به په مونږ کښې کوم يو وی؟ ۹ او بيا د (اطمينان ساتی) غم مه کوی يقينا په تاسو کښې به يو کس وی او د ياجوج ماجوج څخه به زرکسان وی ۱۰ بيا نبی ﷺ اوفرمائيل زما په هغه ذات قسم وی چې زما روح د هغوی په قبضه او قدرت کښې دې زه دا اميد ساتم چې تاسو به د جنتيانو څلورمه

¹) اخرجه البخاری فی كتاب أحاديث الأنبياء/باب قصة يأجوج . ومأجوج (رقم-۳۳٤۸) ومسلم فی كتاب الإيمان/باب قوله يقول الله لآدم أخرج بعث النار من كل ألف تسعمائة وتسعة وتسعين (رقم-۳۷۹ - (۲۲۲) والترمذی فی كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الحج (رقم-۳۱۶۸)

حصه ئي (صحابه فرمائی په دې اوریدو سره) مونږ الله اکبر اووئیل ⑪ (بیا) نبی ﷺ اوفرمائیل (بلکه) زه امید ساتم چې تاسو به د جنتیانودریمه حصه ئې (صحابه فرمائی نو) مونږ الله اکبراووئیل ⑫ (بیا) نبی ﷺ اوفرمائیل زه امید ساتم چې تاسو به دجنتیانو نیمه حصه ئې (صحابه فرمائی نو) مونږ د الله اکبرنعره اوچته کړه ⑬ بیا نبی ﷺ اوفرمائیل تاسو به (په جنت کښې) دنورو خلقو په نسبت داسې ئې لکه څنګه چې یوتورویخته وی په خرمن د سپین غوائی کښې. ⑭ اوپشان د سپین ویخته په خرمن د تور غوائي کښې. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① لَبَّيْكَ: زه حاضریم. ② وَسَعْدَيْكَ: اوستا تابعداریٔ ته تیار یم. ③ يَشِيبُ: بوډا به شی. ④ تَضَعُ: اوبه زیګوی ⑤ سُكَارَي: جمع دسکران ده، نشه یان ⑥ الشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ: تور ویښته. ⑦ ثَوْرٍ: غوئي.

تسهیلات:

قوله: مَا أَنْتُمْ فِي النَّاسِ إِلَّا كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي جِلْدِ ثَوْرٍ أَبْيَضَ:

دمذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دَدې جملې مطلب دادې چه دَحضرت آدم ؑ نه واخله تر نبی آخرزمان ؑ پورې څومره انسانان دی که دَهغوی مقابله دَ نبی اکرم ؑ دَ امت سره اوکړې شی نودا به ډیر لږ وی لکه چه دَ یو جزء برابر کیدې شی.

② یا د حدیث مطلب دا دې چې دَ غوئی په بدن کښې دَعام رنګ نه علاوه چه کوم تور یا سپین رنګ وی دغه شان دَ یو ټاکی په شان برابر کیدې شی. دا قلیل حیثیت به ستاسو وی مګر دَ دغه قلت باوجود کله چه په جنت کښې ستاسو حیثیت ته کتلې شی نوتاسو به دَاهل جنت دَ نصف برابر یئې. صحابی فرمائی چه مونږ دَ خوشحالئی نه دَ تکبیر آواز اوچت کړو. دَدې نه معلومه شوه چه دَ خوشحالئی دَ اظهاردَ پاره نعرهٔ تکبیر اوچتول منع نه دی.

[۵۵۴۲] دَقیامت په ورځ به ریاکار خلق الله ته سجده نه شی لګولی

۵۵۴۲-()[۱۱] ① وَعَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ② "«يَكْشِفُ رَبُّنَا عَنْ سَاقِهِ ③ فَيَسْجُدُ لَهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ، وَيَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ فِي الدُّنْيَا رِيَاءً وَسُمْعَةً، ④ فَيَذْهَبُ لِيَسْجُدَ فَيَعُودُ ظَهْرُهُ طَبَقًا وَاحِدًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوسعید خدري ؓ وايي ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل ② د قیامت په ورځ به زمونږ پروردګار خپله پندی خلاصه کړي ③ نو ټول مومنان سړي او ښځي به هغه ته سجده وکړي لیکن هغه به سجده نه کوي چې په دنیا کې دښوونې او

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب {یوم یکشف عن ساق} [القلم: ۴۲] (رقم-۴۹۱۹) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب معرفة طریق الرؤیة (رقم-۳۰۲ - (۱۸۳)

آوروني د پاره سجده كوله (يعنى د هغه سري سجده به د اخلاص په بناء نه وه بلكه د نفاق د مخ او دنيا وي منفعت او شهرت حاصلولو د پاره به وه) [۴] كه څه هم هغه به سجده كول غواړي خو د هغه شا به يوه تخته شي او د سجدې توان او قدرت به يې نه وي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① سُمْعَةً: د آورولو د پاره، (يعنى د رياپه طور تعريف خوښول) ② طَبَقًا: تخته. نيغه.

تسهيلات:

قوله: يَقُولُ يَكْشِفُ رَبُّنَا عَنْ سَاقِهِ:

د ساق په تفسير كښې هوه اقوال: ① بعضې حضرات دَ دې جملې تاويل نه كوى بلكه دا دَ متشابهاتو نه ګرځوى او دَ متشابهاتو حكم دادې چه دَهغې دَ حقيقى مراد مفهوم پسې شاته نه دى لګيدل پكار بلكه په هغې دې دا عقيده اولرلې شى چه دَ دې حقيقى مفهوم دَ الله په علم كښې دې.

② دَدې مراد دې دا واخستلې شى چه پروردګار به دَ خپلو بندګانو په مخكښې دَ خپل نور تجلى ښكاره كړى. دَ نور تجلى ساق سره تعبير كړې شوې ده. كوم ته په كتو چه به ټول مؤمنان سرى او مؤمنانې ښځې په سجده پريوځى. دې دَپاره چه دَ دغه قربت په ذريعه دَ هغه سختئى او غم نه خلاصې بيا موندې شى.

[۵۵٤۲] د قيامت په ورځ به تكبر كونكى خلق د ماشي د وزن برابر هم حيثيت نه لري

٥٥٤٣-()[١٣] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «لَيَأْتِي الرَّجُلُ الْعَظِيمُ السَّمِينُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ [٣] لَا يَزِنُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ». [٤] وَقَالَ: اقْرَءُوا ﴿فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا﴾ [الكهف: ١٠٥]» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو هريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به (په ميدان حشر كې) د جاه ومال د اعتبار نه يولوى او ښه غټ تازه په غوښه پټ سړى راشي [۳] ليكن د الله په نزد به د هغه د ماشي د وزر برابر هم څه حيثيت او قدر وقيمت به نه وي [۴] او (اى مؤمنانو) تاسو دا آيت اووايئ: (چې تاسو ته معلومه شي چې هغه دنيا دار خلق چې خپل دنياوي حيثيت او وقعت باندې ناز كونكى او مغروره دى او خپل كردار او عمل ښه ګڼي د حقيقت د اعتبار نه به هغوئ بې حيثيته وي او د هغوئ ټول اعمال او كردار ضائع او نابود كيدونكى دى) او هغه دادې فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا. د قيامت په ورځ به مونږ د هغوئ د اعمالو د پاره هيڅ ترازو نه دروو.

[۱]) اخرجه البخاري فى كتاب تفسير القرآن/باب {أولئک الذين كفروا بآيات ربهم ولقائه فحبطت أعمالهم} [الكهف: ١٠٥] الآية (رقم-٤٧٢٩) ومسلم فى كتاب صفة القيامة والجنة والنار (رقم-١٨ - (٢٧٨٥)

حل لغات:- ① السّمِينُ: غټ، څرب. ② لَا يَزِنُ: برابريږه نه وی، حيثيت به ئې نه وی. ③ جَنَاحَ: وزر. ④ بَعُوضَةٍ: ماشې. ⑤ وَزْنًا: تله، ترازو.

تسهيلات:

قوله: «لَيَأْتِي الرَّجُلُ الْعَظِيمُ السَّمِينُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَزِنُ عِنْدَ اللَّهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ»:

اشکال: دَ خالص کافر دَپاره دَ اعمالو دَ وزن کولو ضرورت نشته دې. هغه به نيغ دوزخ ته ځی لکه چه قرآن پاك کښې دی ﴿فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا ۝﴾ [سورت الکهف، ۱۰۵] او لکه څنګه چه په دې حديث کښې دی. دَقرآن آيت ﴿وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ﴾ [سورت اعراف، ۸] صفا وائی چه دَ اعمالو وزن به کيږی دا تعارض دې؟

دَاشکال دوه جوابونه: ① دَعمل وزن خو به کيږی مګر په وزن کښې به ئې وزن نه وی بلکه عمل به ئې بې وزنه وی دا هيڅ تعارض نه دې.

② دَقيامت احوال مختلف دی بعضې احوال کښې به وزن کيږی او بعضې کښې به نه کيږی. بل چه په حديث کښې راغلی دی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۵٤٤] زمکه به دَقيامت په ورځ پخپله دَهر سړی په عمل باندې ګواهی ورکوی

وعن-()[۱۳] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: «قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-هَذِهِ الْآيَةَ: ② ﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾ [الزلزلة: ٤] قَالَ "أَتَدْرُونَ مَا أَخْبَارُهَا"؟ ③ قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، ④ قَالَ: فَإِنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ وَأَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا، أَنْ تَقُولَ: عَمِلَ عَلَيَّ كَذَا وَكَذَا". ⑤ قَالَ: "فَهَذِهِ أَخْبَارُهَا"». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي يوه ورځ رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کی ② يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا په کومه ورځ چې زمکه خپله خبرونه واوروي او وي فرمايل پوهيږئ د قيامت په ورځ د زمکي خبرونه به څه وي؟ ③ صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي ④ حضور ﷺ وفرمايل د زمکي خبرونه به داوي چې زمکه به د هر بنده او منځي يعنی د هرسړي او ښځي د هر هغه عمل شاهدي ورکوي چې هغه د هغه په شاکری وي يعنی هغه به داسې وايي چې څما په شا فلانی سړی فلانی ښځي فلانی فلانی ورځ باندې داکړي دي او هغه کړي دي يعنی فلاني سړي فلاني نيك کار کړی دی او فلاني وخت يې بدکار کړی دی ⑤ بيا حضور ﷺ وفرمايل بس دا ګواهي ورکول د

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲٤۲۹) واحمد فی المسند، ۲/۳۷٤

زمکي خبرونه دي دا روايت احمد رحمه الله ترمذي نقل کړی دی او ویلي يې دی چې دا حدیث حسن غریب دی

تسهیلات:

قوله: فَإِنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ عَلَى عَبْدٍ وَأَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا:

په بندګانو د زمکې ګواهی: دې حدیث نه معلومه شوه چه انسان په مخ دَ زمکې څه عمل هم کوی زمکه هغه ریکارډ کوی. دَ زمکې په کومه حصه باندې چه هم يوسړی څه عمل کړې وی دَ زمکې هغه حصه به ګواهی ورکوی که ښه عمل ئی کړې وی نوهغه به دَ ده په حق کښې ګواهی کوی ګنی دَ دې خلاف به وی. نوچه انسان کله هم څه عمل کوی په سوچ اوفکرسره دې کوی څکه چه دازمکه هغه محفوظ کوی اودَ قیامت په ورځ به دَ دې باره کښې زمانه تپوس پښتنه کیږی.

[]تحفة الاحوذی ۹۸/۷.

[۵۵۴۵] هر نیک او بد چې مر شی پښیمانی کوی

۵۵۴۵ -()[۱۴] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «مَا مِنْ أَحَدٍ يَمُوتُ إِلَّا نَدِمَ". [۳] قَالُوا: وَمَا نَدَامَتُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ [۴] قَالَ: " إِنْ كَانَ مُحْسِنًا نَدِمَ أَنْ لَا يَكُونَ ازْدَادَ، وَإِنْ كَانَ مُسِيئًا نَدِمَ أَنْ لَا يَكُونَ نَزَعَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] داسې هیڅ سړی نشته چې مر شي او پښیمانه نه وي [یعنی هر مرکیدونکی به بهر صورت پښیمانه وي نو قبل دي نه چې مرګ راشي خپل ژوند غنیمت وګنئ او د مرګ نه مخکې زیات نه زیات نیك اعمال وکړئ] [۳] صحابه رضی الله عنهم عرض وکړو یارسول الله د ندامت او پښیمانتیا سبب څه دی [۴] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل که هغه مرکیدونکی نیکو کار وي نو څکه به پښیمانه وي چې هغه زیات نه زیات نیك اعمال ولی ونه کړه او که هغه بد کاره وي نو څکه به پښیمانه وي چې هغه خپل ځان د بدی نه ولې منع نه کړي. (ترمذي)

حل اللغات: - ① نَدِمَ: پښیمانه، ② مُسِيئًا: ګناهګار، ③ نَزَعَ: منع کړې دې.

تسهیلات:

قوله: مَا مِنْ أَحَدٍ يَمُوتُ إِلَّا نَدِمَ:

د پښیمانتیا څخه د پیغمبرانو استثناء: انبیاء کرام به دَدې نه مستثنٰی وی څکه چه انبیاء کرام علیهم السلام به دَ عظمت په اوچتو مقاماتو باندې وی هغوی ته به خپیمانتیا نه وی.

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۴۰۳) والنسائی فی کتاب الجنائز/باب تمنی الموت (رقم-۱۸۱۸) واحمد فی المسند: ۲۶۳/۲

قوله: وَإِنْ كَانَ مُسِيئًا لِيَمْ أَنْ لَا يَكُونَ نَزَعَ:

د پښېمانتیا درې قسمونه: ① کافرانو ته به ښپېمانتیا وی چه مونږ ولې مسلمانان شوې نه یو خو هلته به په هغه ورځ ښپېمانتیا څه فائده نه ورکوی.

② گناهگاران به ښپېمانه وی چه مونږ گناهونه ولې کړی دی

③ دَ نیکانو خلقو دَ خپېمانتیا وجه به دا وی چه افسوس زمونږ زیات عمر وې او ډېرې نیکئی مو کړې وې نو زیات اوچت درجات به مو حاصل کړی وې.

[۵۵٤٦] په میدان حشر کې به خلق په درې ډلو کې تقسیم شی

سه -(¹)[۱۵] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةَ أَصْنَافٍ ۳: صِنْفًا مُشَاةً، وَصِنْفًا رُكْبَانًا، وَصِنْفًا عَلَى وُجُوهِهِمْ ۴ "قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ! وَكَيْفَ يَمْشُونَ عَلَى وُجُوهِهِمْ؟ قَالَ: " إِنَّ الَّذِي أَمْشَاهُمْ عَلَى أَقْدَامِهِمْ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُمْ عَلَى وُجُوهِهِمْ، أَمَا إِنَّهُمْ يَتَّقُونَ بِوُجُوهِهِمْ كُلَّ حَدَبٍ وَشَوْكٍ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او حضرت ابو هریره ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل د قیامت په ورځ به په میدان حشر کې خلق په درې قسمه را وستل شي یو قسم خلق خو به هغه وي چې پیاده به راځي او یو قسم به هغه وي چې په سورلو به راځي او یو قسم به هغه خلق وي چې پرمخي تلو سره به راځي عرض وشو یا رسول الله پرمخي به څرنگه راځي وي فرمایل حقیقت دادی چې کوم ذات هغوئ په پښو تلو سره گرځوي هغه یي په پرمخ گرځولو هم قادر دی او پوهه شئ چې هغه خلق به پرمخي تلو کې خپل مخ د بلندئ او ازغو نه بچ کوي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① أَصْنَاف: اقسام، ② مُشَاةً: پیدل تلونکی (دا به گناهگار مسلمانان وی)، ③ رُكْبَانًا: سواره، (دا به انبیاء کرام وی)، ④ عَلَى وُجُوهِهِمْ: په مخونو خپلو، پرمخې، (دا به کافران وی)، ⑤ حَدَب: اوچت ځائ، کمر، ⑥ شَوْك: ازغی.

تسهيلات:

قوله: يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةَ أَصْنَافٍ:

دحشر په اعتبار سره دخلقو درې قسمونه: ① اول قسم مسلمانان گناهگاران به هغه وی چاسره چه نیك او بد اعمال وی او دَ وېرې او رجاء په حالت کښې به وی

② دویم قسم خلق به دکامل ایمان والا وی چه په نیکو اعمالو کښې به وړاندیوالې او مخکې والې اختیارونکی وی. اودا خلق به په خپلو قربانو او نیکو اعمالو باندې سواره

---

¹) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة بنی إسرائيل (رقم-۳۱٤۲) واحمد فی المسند:۲/۳۵٤

وی او په کافرانو باندې به دَ هغوی مالونه او اعمال سواره وی.

③ دریم قسم خلق به کافرانو او مشرکانو باندې مشتمل وی دا خلق به پرمخې روان وی. دَ کوم چه یو مطلب دا دې چه دوی په دنیاکښې سجدې نه کولې په دې وجه هغوی داسې کړې شو. بل دا لکه څنګه چه په دنیا کښې په خپو باندې دَتلو په وخت هرقسم تکلیف انسان په خپو باندې برداشت کوی دغه شان به کافران په تګ سره دَ لارې هر یو تکلیف په خپل سر او مخ باندې برداشت کوی.

نوټ:دَدې حدیث نه معلومه شوه چه دا سفر به دَمیدان محشر نه دَ دوزخ طرف ته وی خکه چه دَ قبرونو نه دَ حشر طرف ته سفر دَ میدې دَ روتئی په شان په صفا زمکه باندې وی. کما مر.

[۵۵٤۷]کوم څوک دَ قیامت د ورځې احوال لیدل غواړي نو دا سورتونه دې اولولي

ـ٥٥٤٧-(١)[١٦] ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ②: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ رَأْيُ عَيْنٍ③فَلْيَقْرَأْ: ﴿إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴾ [التكوير:١]وَ﴿إِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ﴾ [الانفطار:١]وَ﴿إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ﴾ [الانشقاق:١]». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ

ترجمه: ①او حضرت ابن عمر ﷠ وایي ②چې رسول الله ﷺ وفرمایل کوم سړی چې د قیامت د ورځي احوال داسې لیدل خوښوي څرنګه چې هغه ظاهري سترګو سره ویني ③نو هغه ته پکار دی چې سورة إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ او إِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ او إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ اووائي (احمد وترمذي)

حل اللغات:- ①كُوِّرَتْ: راغونډ به کړې شی، بې نوره او توربه شی. ②انْفَطَرَتْ: اوبه دوړیږی. اوبه شلیږی، ③انْشَقَّتْ: اوبه چوی.

تسهیلات:

قوله: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ رَأْيُ عَيْنٍ:

دحدیث مفهوم: په دې سورتونو کښې دَ قیامت دَ احوالو ذکر دې نو که لوستونکې دا سورتونه دَ زړه په حضور سره او دَ قیامت تصور کولو سره وائی اودَدې په معنو باندې غور اوفکر کوی نو دا سورتونه به دَ قیامت احوال داسې رامخې ته کوی لکه چه په سترګو باندې مشاهده کوی او ګوری ئې او دَ بنده دَپاره دَ بدو عملونو نه بچ کیدل آسانیږی.

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ومن سورة إذا الشمس کورت (رقم-۳۳۳۳) واحمد فی المسند:۲/۱۰۰

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۵۴۸] خلق به میدان حشرته په دریو ډلو کښې راځی

۵۵۴۸-()[۱۷] ① عَنْ أَبِي ذَرٍّ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: إِنَّ الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-حَدَّثَنِي: ② «أَنَّ النَّاسَ يُحْشَرُونَ ثَلَاثَةَ أَفْوَاجٍ: ③ فَوْجًا رَاكِبِينَ طَاعِمِينَ كَاسِينَ، ④ وَفَوْجًا تَسْحَبُهُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى وُجُوهِهِمْ، وَتَحْشُرُهُمُ النَّارُ، ⑤ وَفَوْجًا يَمْشُونَ وَيَسْعَوْنَ وَيُلْقِي اللهُ الْآفَةَ عَلَى الظَّهْرِ فَلَا يَبْقَى، ⑥ حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَتَكُونُ لَهُ الْحَدِيقَةُ يُعْطِيهَا بِذَاتِ الْقَتَبِ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهَا». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابوذر رضی الله عنه وايي صادق او مصدوق ﷺ ماته بيان وکړو ② چې خلق به دريو ډلو کې ميدان حشرته راوستل شي ③ يوه ډله خو به سورلو باندې وي او د زاد راه د لارې د توښې آسانی او سهولتونو سره راحت او اطمينان سره به راځي ④ يوه ډله به هغه وي چې فرشتې به زمکه پرمخې راښکلو سره راولي او شرلو سره به يې دوزخ ته بوځي ⑤ او يوه ډله به هغه وي چې په منډه به راځي يعنی هغه خلق به سهولت او اطمينان سره نه بلکه بې اطميناني او پريشاني سره به راځي او الله ﷻ به د سورلۍ د حيواناتو په شا آفت او هلاکت مسلط کړي چې د هغه په وجه به د سورلۍ حيوان ناياب شي ⑥ تردې که يو سړي سره باغ وي نو هغه باغ ورکولو سره د هغه بدله کې يو اوښ اخستل غواړي ليکن هغه ته به د دومره اوچت قيمت اداکولو باوجود هم هغه اوښ حاصل نه شي (نسائي)

حل اللغات: - ① الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رښتيا ويونکې او رښتيا منلې شوې، مراد نبی پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② طَاعِمِينَ: سره د خوراکونو، د لارې توښې سره (دا به انبياء کرام وی. ③ كَاسِينَ: اغوستونکی به وی کپړو لره، ④ تَسْحَبُهُمْ: راکاږی به هغوی (يعنی کافران، ⑤ يَمْشُونَ: پيدل به روان وی. (دا به عام مسلمانان وی) ⑥ الْآفَةَ: هلاکت، تباهی، ⑦ الظَّهْرِ: شا، ملا، مراد ترينه سورلی ده. ⑧ الْحَدِيقَةُ: باغ، ⑨ ذَاتُ الْقَتَبِ: قتب ورې کيجاوې ته وائی يعنی اوښ.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَتَكُونُ لَهُ الْحَدِيقَةُ يُعْطِيهَا بِذَاتِ الْقَتَبِ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهَا:

د سورلو نشتوالې: يعنی الله تعالى به په سورلو باندې آفت نازل کړی تردې چه يو سړی به خپل باغ هم خرج کړی مگر سورلی به نه ملاويږی.

---

[۱] اخرجه النسائي في السنن كتاب الجنائز باب البعث (رقم-۲۰۸۶)

[۳] بَابُ الْحِسَابِ وَالْقِصَاصِ وَالْمِيزَانِ

دَ حساب، قصاص او د میزان بیان

خلاصة الباب

فيه ستة عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① كيفية العرض والحساب: ۱، ۲، ۳، ۵، ۶، ۹، ۱۳.

② كيفية القصاص: ۴، ۱۲.

③ عفوالحساب عن بعض الناس: ۸، ۱۶.

④ التخفيف في الحساب على بعض الناس: ۱۴، ۱۵.

⑤ حال وزن الأعمال: ۱۰، ۱۱، ۱۲.

قوله: الْحِسَابِ:

د حساب څخه مراد: په دې عنوان کښې دَحساب نه مراد دَقیامت دَ ورځې دَ بندیګانو اعمال شمیرل اوحساب کول دی.

د حساب کولو ضرورت: داخبره بالکل واضحه اوښکاره ده چه دَانسانانو دَ اعمالو او کردار پوره پوره علم الله تعالی سره دې لیکن دَ قیامت په ورځ به دَ انسانانو دَاعمالو اوافعالو حساب کتاب څکه کیږی چه دَ ظاهری اوقانونی عدالت لاندې په ټولو خلقو واضحه شی چه په دنیاکښې چا څه کړی دی اوڅوك دَ کومې درجې دَسلوك حقداردې؟ په قیامت کښې داحساب کتاب کول دَ قرآن اوحدیث نه ثابت دې اودَهرمسلمان دَ عقیدې حصه ده.

قوله: وَالْقِصَاصِ:

دقصاص معنی او مراد: قصاص دَ مساوات او برابری په معنی کښې دې دې نه مراد دادی چه چا په دنیاکښې څه هم کړی دی یا ئی چاسره څه ناروا سلوکړې دې په قیامت کښې به دَهغه دَ هغې بدله اخستې شی مثلاً قتل ئی کړې دې یائی څوك زخمی کړې دې یائی په چاظلم کړې دې یائی چاته څه تکلیف رسولې دې نودَ هغه نه به بدله اخستې شی اوحق به حقدار ته ورکولې شی داقصاص دې.

قوله: وَالْمِيزَانِ:

د میزان لغوی معنی اومراد: میزان په لغت کښې تلې ته وائی دلته ترې مراد دا دې چه دَمحشرپه میدان کښې به یوه لویه تله وی دکوم چه به دوه چابری وی دَهغې په ذریعه به دَ انسانانو اعمال تللې شی که هغه ښه اعمال وی اوکه بد وی. بیا به دَهغې مطابق دَثواب اودَ عقاب قانون متوجه کیږی. په دې باب کښې به دَدې دریوارو عنواناتو متعلق احادیث بیانیږی.

باب سره متعلقه ضروري عقائد: ① په هر مسلمان باندې يو خو دا عقيده ساتل لازميږي چه په قيامت کښې حساب کتاب شته.

② دَجهنم په شا باندې يو پل دې په کوم چه به ټول انسانان تيريږي. دا پل دَ تورې دَ تيره مخ نه زيات تيره او دَ ويښته نه زيات نرې دې مګر دَ مؤمن دَپاره آسان دې.

③ ميدان محشر کښې يوه تله ده په کوم چه به اعمال تللې شي

د معتزلو او مرجئو ميزان څخه انکار: معتزلو خوارجو او مرجئو دَدې ميزان نه انکار کړې دې هغوی وائی چه اعمال اعراض دی او اعراض قائم بالغير وی دَهغې جدا وجود نه وی لهذا دَاعمالو تلل فضول خبره ده هلته عدل او انصاف مراد دې تله مراد نه ده.

د معتزلو او مرجئو ګمراهي: قرآن او حديث کښې هم دَتلې ذکر دې دَدې نه انکار کول ګمراهي ده. باقی که چرې اعمال اعراض دی نو الله تعالی دې ته وجود ورکولې شي. هغه به متجسد شي يا مراد دادې چه دَاعمالو والا به تللې شي. لکه چه بعضې احاديثو کښې دی يا دَاعمال رجسترې به تللې شي لکه چه په حديث البطاقة کښې دی. هسې دا دَ پخوانئی زمانې جوابونه دی.

دجديدايجاداتو څخه د اعمال ووزن ثبوت: نن صبا دکمپيوټر په دور کښې دا اعتراض دَ سرنه صحيح کيدې نه شي ځکه چه اوس خو اعراض تللې شي. دَ هر څيز دَ ټول دَپاره جدا تله ده کوم چه دَ هغې مناسب دی. دَ تلې نه دلته څه دَ ګرې تللو والا تله مراد نه ده. که چرې اعراض دی نو دَ هغې دَپاره دَتول خپله تله ده. ګورئی دَ تهرماميټر په ذريعه تبه تللې شي نن صبا نظر تللې شي ساعت تللې شي. په بدن کښې دننه شوګر وغيره تللې شي په جهاز کښې داسې آلات دی په کوم سره چه ارتفاع او انخفاض تللې شي. دَمسافت نيزديوالې اولريوالې تللې شي. ګرمی اويخنی تللې شي که چرې يو انسان دومره مخکښې تلې شي نو دَ الله تعالی دَپاره څه ګران دی چه هغه اعراض اوتلی. خوارج او معتزله بې کاره قسم خلق تيرشوی دی او مرجئه خو دَ عمل خلق نه دې دَهغوی دَ ميزان او دَ اعمالو دَ وزن سره څه کار دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۵۴۹] آسان حساب او سخت حساب

۵۵۴۹-()[۱] [۱] عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] " «لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب: من نوقش الحساب عذب (رقم-۶۵۳۶) ومسلم فی کتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب إثبات الحساب(رقم-۷۹ - (۲۸۷۶) والترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۴۲۶) واحمد فی المسند:۶/۲۰۶

يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا هَلَكَ". ③قُلْتُ: أَوَلَيْسَ يَقُولُ اللّٰهُ: ﴿فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا﴾ [الانشقاق: ۸] ④فَقَالَ: ((إِنَّمَا ذٰلِكَ الْعَرْضُ، وَلٰكِنْ مَنْ نُوقِشَ فِي الْحِسَابِ يَهْلِكْ)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①بي بي عائشه رضي الله عنها نه روايت دى د قيامت په ورځ چې د چا نه حساب واخستل شو هغه تباه شو [يعنى كوم سړى چې سخت حساب سره مخ شو د هغه ساتل ممكن نه دى دلته د تباه كيدو نه مراد په عذاب كې مبتلا كيدل دي] ②بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [هر كله چې ما د حضور صلى الله عليه وسلم ارشاد د يو كُليه په طور واوريدى نو څما په ذهن كې اشكال پيدا شو او د هغه اشكال لرې كولو د پاره] ③ما عرض وكړو چې آيا الله جل جلاله د اهل نجات په حق كې دا نه دي فرمايلي چې: فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا يعنى كوم سړي ته چې اعمال نامه په ښي لاس كې وركول شوه نو نزدې ده چې د هغه حساب آسان شي او هر كله چې حساب آسانه شي نو د هغه د تباه كيدو څه معنى ده؟ ④حضور صلى الله عليه وسلم [څما ددې اشكال لرې كولو د پاره] وفرمايل دا آسانه حساب صرف پيش كول او محض بيان دى، ليكن د چاسره چې حساب كې مناقشه وشي [يعنى چا نه چې سختي پوښتني اوشي] هغه يقيناً تباه سو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ①الْعَرْضُ: پيش كول، وړاندې كول. ②نُوقِشَ: سخت تپوسونه اوشي.

تسهيلات:

قوله: لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا هَلَكَ:

دمحسوب هلاكت: په دې حديث كښې دى چه دكوم سړى نه دَقيامت په ورځ حساب واخستې شو هغه هلاك شو. دَدې حديث په اوريدو سره حضرت عائشې رضي الله عنها عرض اوكړو يارسول الله صلى الله عليه وسلم! الله تعالى خو په قرآن كښې فرمائى ﴿فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا﴾ چه په قيامت كښې به حساب آسان وى اوتاسو فرمائى چه دَچانه حساب واخستې شو هغه هلاك شو.

دعائشې رضى الله عنها د اشكال جواب: دَدې په جواب كښې حضرت محمد صلى الله عليه وسلم په حساب كښې فرق اوخودلو چه يوحساب دَعرض په درجه كښې دې او يوحساب دَ مناقشې په درجه كښې دې. عرض دادې چه مثلاً سړې دَ حساب دفتركښې حاضر شو اودَ سوال اوجواب نه بغير هغه رخصت كړې شو صرف په ظاهرى توګه باندې اوكتلې شو تالاشى اونه كړې شوه اومناقشه داده چه دَ يويوخيزباره كښې فرښتې تپوسونه اوكړى چه دادې ولې كړې دې دادې څنګه كړې دې؟ كله دې كړې دې؟ په دې مناقشه كښې څوك دَ هلاكت نه بچ كيدې نه شي.

[۵۵۵۰] د قيامت په ورځ به الله ﷻ بغير واسطه هر سړي سره هم كلام كيږي

۵۵۵۰-(۱)[۲] ① وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ② قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ، ③ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ وَلَا حِجَابٌ يَحْجُبُهُ، ④ فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ، فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ مِنْ عَمَلِهِ، وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ، ⑤ وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرَى إِلَّا النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ، فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت عدی ابن حاتم رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله ﷺ وفرمايل د قيامت په ورځ به په تاسو كې هيڅ سړى داسې نه وي چې هغه سره به د هغه پروردګار بغير څه رابطې هم كلام نشي ③ هغه وخت به د هغه او پروردګار په منځ كې نه څوك ترجمان وي چې يو د بل په مفهوم پوه كړي او نه به څه حجاب وي (چې بنده د هغه د پروردګار نه پټ كړي) ④ هر كله چې بنده خپل ښي طرف ته نظر واچوي نو هغه ته به هغه شى په نظر راشي كوم چې هغه مخكې ليږلى وي يعنى نيك اعمال چې ظاهري صورتونو كې به ښكاره شي او چې خپل چپ طرف ته وګوري نو هغه ته به خپل هغه بد اعمال ښكاره شي چې مخكې ليږلى وي ⑤ خپل مخې ته به د اور نه بغير بل څه نه ويني ، تاسو د دوزخ نه ځان وساتی كه څه هم په يوه ټكړه خرما سره وي . (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① أَيْمَنَ: ښى طرف. ② أَشْأَمَ: كس طرف ③ شِقّ: ټكړه، يوحصه

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث د مضمون تشريح دې څخه وړاندې د مشكاة په حديث نمبر (۵۵۳۹) كښې تيره شوې ده

[۵۵۵۱] د قيامت په ورځ مؤمن باندې د الله تعالى مهربانى

۵۵۵۱-(۲)[۳] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِنَّ اللَّهَ يُدْنِي الْمُؤْمِنَ فَيَضَعُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ وَيَسْتُرُهُ، ③ فَيَقُولُ: أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ ④ فَيَقُولُ: نَعَمْ أَيْ رَبِّ! حَتَّى قَرَّرَهُ بِذُنُوبِهِ، ⑤ وَرَأَى فِي نَفْسِهِ أَنَّهُ قَدْ هَلَكَ. ⑥ قَالَ: سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا، وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ، ⑦ فَيُعْطَى كِتَابَ حَسَنَاتِهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي رسول الله ﷺ وفرمايل ② د قيامت په ورځ به

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب: من نوقش الحساب (رقم-۶۵۳۹) ومسلم في كتاب الزكاة/باب الحث على الصدقة ولو بشق تمرة. أو كلمة طيبة وأنها حجاب من النار(رقم-۶۷ - (۱۰۱۶) والترمذي في كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في القيامة (رقم-۲۴۱۵) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فيما أنكرت الجهمية (رقم-۱۸۵) واحمد في المسند: ۳۷۷/۴

[2]) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب قول الله تعالى: {ألا لعنة الله على الظالمين} [هود: ۱۸] (رقم-۲۴۴۱) ومسلم في كتاب التوبة/باب قبول توبة القاتل وإن كثر قتله (رقم-۵۲ - (۲۷۶۸) واحمد في المسند:۱۰۵/۲

الله ﷻ مؤمن خپل فضل وكرم او خپل رحمت ته نزدې كړي او بيابه هغه د خپل حفاظت او د خپل عنايت (مهرباني) سايې كې پټ كړي [چې هغه داهل محشرپه وړاند ې د خپلو گناهونو او بد اعمالو ښكاره يدو په وجه شرمنده او رسوا نشي] ۳بيابه الله ﷻ هغه مؤمن نه پوښتنه وكړي آيا ته دا گناه پيژني آيا ته دا گناه پيژني [يعنى آيا ته د دې اعتراف كوي چې تا په دنيا كې فلانى فلانى گناه كړي وه] ۴هغه مؤمن به عرض وكړي هو اې پروردگاره! ماته خپله گناه ياده ده او زه د خپل بدعملي اعتراف اقرار كوم غرض دا چې الله به هغه مؤمن نه د هغه د ټولو گناهونو اقرار واخلي ۵او هغه مومن به په خپل زړه كې وايي چې د هغه گناهونو په بدله كې اوس زه هلاك شوم اوس تباه شوم ۶ليكن الله ﷻ به فرمايي چې ما په دنيا كې ستا د دې گناهونو او عيبونو پرده پوشي كړې وه او نن هم ستا دا گناهونه بخښم ۷نو هغه مومن ته به د هغه د نيكيو اعمال نامه وركول شي اود بدو اعمال نامه به يې كالعدم شي

حل اللغات:- ①يُدْنِي: نزدې به كړي، ②كَنَفَهُ: كنف د مرغئ وزرو ته وائى. دلته ترې حفاظت او مهرباني مراد ده.

۱وَأَمَّا الْكُفَّارُ وَالْمُنَافِقُونَ۲فَيُنَادَى بِهِمْ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ: ﴿هَؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ﴾ [هود:۱۸]». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱اوهر چې كافر او منافق خلق دى نو هغوئ به د ټول مخلوق په مخكې طلب شي ۲او په چغه به اوويل شي چې داهغه خلق دي چې دوئ دكفر او شرك په ذريعه خپل رب باندې بهتان تهمت تړلى وو پوهه شئ ظالمانو باندې د الله لعنت دى (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللَّهَ يُدْنِي الْمُؤْمِنَ فَيَضَعُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ وَيَسْتُرُهُ:

دقيامت په ورځ په بنده باندې د الله تعالى پرده اچول: الله پاك به په خپل فضل اوكرم سره مؤمن خپل ځان ته رانيزدې كړى اودَ گناهونو حساب اخستلو سره دَمحشر والو نه به مؤمن بنده پټ كړى چه چاته خبر اونه شى چه الله پاك دَ مؤمن بنده دَ گناهونو څه حساب واخستلو اومؤمن بنده څه حساب وركړو. دَدې نه معلومه شوه چه مؤمن بنده به دَخپلو گناهونوفورى اقرار كوى هيڅ بهانه يا دروغ به نه وائى او كافران به دَ اقرار په ځائى انكار كوى. كما فى القرآن ﴿وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ﴾

دمؤمن د نيكوالو ښكاره كول: دَدې حديث نه دا هم معلومه شوه چه دَ مؤمن بنده دَ گناهونو حساب به پټ وى خودَ مؤمن دَ نيكو حساب به ښكاره وى بلكه دَ نيكو اثر به دَ مؤمن په مخ باندې ښكاره وى. دَ اودس اندامونه به ئى پړقيږى خودَ بدكارو شكلونه به

دَبدو عملونو او غلطو عقیدو دَ وجې نه تك تور وی

قوله: وَرَأَى فِي نَفْسِهِ أَنَّهُ قَدْ هَلَكَ:

دخپل ځان د هلاکت ګمان کول: دَدې مطلب دادې چه مؤمن به په خپل زړه کښې سوچ کوی چاته به وائی نه په دې وجه په حدیث کښې "فی نفسه" اوفرمائیلې شو بهرحال الله پاك به فرمائی چه ما په دنیاکښې ستا په ګناهونو باندې پرده اچولې وه نن ستا ګناهونه معاف کوم.

[۵۵۵۲] د مسلمانانو دښمن به د هغوئ د پاره دوزخ نه د نجات سبب وي

۵۵۵۲-()[۳] ۱ وَعَنْ أَبِي مُوسَى -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ دَفَعَ اللّٰهُ إِلَى كُلِّ مُسْلِمٍ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا، ۳ فَيَقُولُ هٰذَا فِكَاكُكَ مِنَ النَّارِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوموسی ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ هرکله چې: قیامت ورځ راشي او خلقوته د ابدي نجات او عذاب فیصله واورول شي نو هغه وخت به الله ﷻ هرمسلمان سړي او ښځي ته یو یهودي یا یونصراني حواله کړي ۳ او ورته به وفرمایي چې داسړی ددوزخ نه ستا دخلاصون بدله ده یعنی د دوزخ د اور نه ستا د نجات سبب دی یعنی دا ستا پرځاي په دوزخ کی اچوم. (مسلم)

حل اللغات:- ① دَفَعَ: وربه کړی، حواله به کړی، ② فِكَاكُكَ: ستا خلاصون.

تسهیلات:

قوله: فَيَقُولُ هٰذَا فِكَاكُكَ مِنَ النَّارِ:

مؤمن جنتی ته د کافرحواله کول: په اصولی توګه باندې داسې ګنړل پکاردی چه دهرانسان دپاره په جنت او دوزخ کښې یو یوسیټ داول نه مقرردې اوس چه کوم سړی کوم سیټ اوګټلو هغه به هغې ته ځی نودویم سیټ به پاتې شی اوس چه دابیللې شوې کوم سیټ پاتې شوې دې هغه به بل سړی ته ورکولې شی مثلاً یو سړې مسلمان دې او نیك دې هغه د جنت سیټ اوګټلو نودهغه د دوزخ سیټ به بل چاته ورکولې شی یا مثلاً یو سړې کافر دې هندو عیسائی یهودی دې هغه د دوزخ سیټ اوګټلو نودهغه د جنت والا سیټ به یو مسلمان ته ورکولې شی

دَ قرآن آیت ﴿وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا﴾ [سورت الزخرف: ۸۲] کښې چه دکوم میراث طرف ته مفسرینو اشاره کړې ده دَدې په مصداق کښې دَ سیټونو دَدې بدلون ذکرهم کړې دې زیربحث حدیث کښې دَ نبی کریم ﷺ دَ فرمان مطلب دا شوچه یو مسلمان ته به یو یهودی

---

۱) اخرجه مسلم فی کتاب التوبة/باب قبول توبة القاتل وإن کثر قتله (رقم-۴۹ - (۲۷۶۷) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب صفة أمة محمد صلی الله علیه وسلم (رقم-۴۲۸۵)

يا عيسائي وركولې شي اومسلمان ته به اووئيلې شي چه دَ دوزخ دَ سيځ نه ستاد خلاصي ذريعه او سبب اوبدله داكافردې اوس ته جنت كښې دَ ده بيللې شوى سيځ ته ورشه اودې به په دوزخ كښې ستا بيللې شوى سيځ ته لارشي. لهذا ته دَخپل ځان په ځائې دې دوزخ طرف ته ورروان كړه دا سړې دَ دوزخ دَ اور نه ستادَ خلاصي سبب دې.

ديواشكال ازاله: دَدې حديث دامطلب هيڅ كله نه دې چه دَمسلمانانو په بدله كښې به يهود او نصارىٰ دوزخ كښې اچولې شي ځكه چه په قرآن پاك كښې واضح حكم دې ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرٰى﴾ [سورت فاطر: ۱۸] چه دَ چا بوج به په بل باندې نه شي اچولې. داخو دَ روافض عقيده ده چه دَهغوى گناه به په قيامت كښې دَ سنيانو په اوږوباندې اچولې شي اودَ يهودو عقيده ده چه هغوى به يو څو ورځې دوزخ ته ورځي بيا به دَهغوى په ځائې په دوزخ كښې مسلمانان اچولې شي اوداخودَ عيسايانو غلطه عقيده ده چه دَهغوى ټول گناهونه دَ اول نه معاف شوى دى ځكه چه دَهغوى كفاره حضرت عيسىٰ عليه السلام اداكړه او په سولئي اوختلو. دلته داخبره په ذهن كښې ساتل پكاردى چه دَ يهود اونصارى تذكره دَ نمونې په توگه اودَ شهرت په توگه ده دامعامله به دَ ټولو كافرانوسره پيښيږي.

[۵۵۵۲] امت محمديه د نوح عليه السلام په قوم باندې گواه جوړشي

۵۵۵۲-(۱)[۵] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۳] «يُجَاءُ بِنُوحٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [۴] فَيُقَالُ لَهُ: هَلْ بَلَّغْتَ؟ [۵] فَيَقُولُ: نَعَمْ يَا رَبِّ! [۶] فَتُسْأَلُ أُمَّتُهُ: هَلْ بَلَّغَكُمْ؟ فَيَقُولُونَ: مَا جَاءَنَا مِنْ نَذِيرٍ. [۷] فَيُقَالُ: مَنْ شُهُودُكَ؟ [۸] فَيَقُولُ: مُحَمَّدٌ وَأُمَّتُهُ، [۹] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " فَيُجَاءُ بِكُمْ فَتَشْهَدُونَ أَنَّهُ قَدْ بَلَّغَ "

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۳] دَ قيامت په ورځ به په ميدان حشر كې حضرت نوح عليه السلام راوستل شي [۴] او هغوىٰ نه به پوښتنه وشي آيا تا خپل امت ته د الله تعالى د دين احكام وهدايت رسولى وو [۵] هغه به عرض وكړو بيشكه اې پروردگاره ما ستاددين احكام وهدايت د خپل امت خلقوته رسولى وو [۶] بيا به د حضرت نوح عليه السلام د امت د هغه خلقو نه چې هغوىٰ ته حضرت نوح عليه السلام د الله تعالى د دين احكام وهدايت رسولى وو پوښتنه وشي آيا نوح تاسو ته زمونږ احكام رسولي وه هغه خلق به انكار وكړي او وايي به چې مونږ ته خو هيڅ بيرونكي كه هغه نوح وي يا بل څوك نبي نه وو راغلى [۷] او بيا به د حضرت نوح عليه السلام نه پوښتنه وشي چې ستا گواه څوك دى يعنى كه څه هم الله تعالى ښه پيژني چې نوح عليه السلام چې څه ويلي دي بالكل درست يي ويلي

(۱) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {إنا أرسلنا نوحًا إلى قومه أن أنذر قومك من قبل أن يأتيهم عذاب أليم} [نوح: ۱]...... (رقم-۳۳۳۹)

دي ليکن د هغه منکر امت قائل کولو دپاره به حضرت نوح علیه السلام نه د هغه په دي دعوی شاهد طلب شي چې هغوئ د منصب تبليغ د رسالت ذمه واري پوره کړي ده او که نه ⑧ نو حضرت نوح به وايي چې ځما شاهد حضرت محمد ﷺ او د هغوئ د امت خلق دي ⑨ دي نه وروسته رسول الله ﷺ صحابه ته وفرمايل بيابه تاسو پيش شئ او تاسو به دا شاهدي ورکوئ چه نوح علیه السلام خپل دعوت رسولي وؤ او دا به دحضور ﷺ د تعظيم وتوقير داظهار دپاره وی ، او هسي دا هم بعيده (ليری خبره) نه ده چي خپله حضور ﷺ هم دنوح علیه السلام شاهدی وکړی ځکه چي هغه وخت او ځاي به داسي وی ، چيری چي دزيات نه زيات مدد او نصرت رسولو ضرورت به وی رسول کريم ﷺ صحابه ؤ ته وفرمايل چي بيا به تاسو پيش کړل شي . ددې الفاظو اسلوب بيان نبيي چي هغه وخت هرکله چي دربار الٰهي کی دخلقو دټولو نه لويه پيشي وی حضور ﷺ به هلته حاضر وی . يعني حضور ﷺ به دپوره کار وايي په دوران کی موجود وی ، اوشاهد به وی . هرکله چي دانبياء او رسولانو پيشي وی . تودټولو نه به مخکی حضرت نوح علیه السلام پيش کړل شي . اوبيا دهغه شاهدان يعني دامت محمدی خلق به را وستل شي ، اوتاسي به دا شاهدی ورکوی الخ . يعني دحضرت نوح علیه السلام دوينا مطابق تاسو به دهغوی شاهدی ورکوی . او ستاسو نبي به ستاسي مزکی (پاکونکی) وی يادا چي تاسي به شاهدی ورکوی او ستاسو سره نبي به هم شاهدی ورکوی .

① ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾ [البقرة: ۱۴۳]». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① په دی آيت کريمه وكذلك جعلنكم امة وسطًا الاية کی چي دا فرمايل شوي دي چي مسلمانان به دقيامت په ورځ دتيرو امتونو په باره کی شاهدی ورکوی او د هغه مسلمانانو شاهدی به دهغوی پيغمبر ﷺ ورکوی ، دهغه تيرو خلقو په باره کی دمسلمانانو دشاهدی مثال خو داسي دی . چي هغه مسلمانان به دحضرت نوح علیه السلام په باره کی شاهدی ورکوی . چي هغوی دخپل امت خلقو ته دالله احکام رسولي وو او دهغه مسلمانانو په باره کی دهغوی دپيغمبر ﷺ دطرف نه دشاهدی صورت به دا وی لکه چي په يو حديث کی فرمايلی شوي دي هر کله چي دقيامت په ورځ دتير انبياؤ او رسولانو امتونه انکا کولو سره وايي چي مونږ ته هيڅ نبي څه نه دی را رسولی ، اومونږ ته يې دالله احکام نه دی خو دلی ، نو هغه رسولان او انبياء به دامت محمدی خلق خپل شاهد جوړ کړی او هر کله چي مسلمانان دهغوی شاهدی ورکړی ، نو دهغوی نه به پوښتنه وسي چي تاسو خلق خو هغه امتونو نه وروسته دنياته راغلی وئ ، نو تاسي ته څرنګه

معلومه شوه چی هغه انبياء دخپل امت خلقو ته دالله احکام رسولی وو ، او تاسو دا شاهدی په کومه بناء ورکوی ، نو هغه مسلمانان به جواب ورکړی چی په دی سلسله چې د حضرت نوح ﷺ امت ته احکام خداوندي رسولي وه بيا رسول الله ﷺ د دې صورت واقعه د تصديق او تثويب د پاره دا آيت اووئيلو چې په هغه کې حق تعالى امت محمدي ته خطاب کولو سره فرمايي چې: وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا. او هم دارنګه مونږ (ای مسلمانانو) تاسو نيك او عادل او افضل امت جوړ کړي يي چې تاسو د هغه خلقو په باره کې چې ستاسو نه مخکې تير شوی دي او کفر وشرك باندې قائم وو ګواهي ورکړي او ستاسو شاهد به پيغمبر ﷺ وي. داروايت بخاري نقل کړی دی.

تسهيلات:

قوله: فَيُجَاءُ بِكُمْ فَتَشْهَدُونَ أَنَّهُ قَدْ بَلَّغَ":

د نوح عليه السلام په دعوت رسولو د امت محمدی ګواهی: دَدې حديث خلاصه داده چه دَقيامت په ورځ به دَحضرت نوح ﷺ قوم اووائی چه نوح ﷺ مونږ ته دعوت نه دې راکړې. الله تعالى به دَحضرت نوح ﷺ نه تپوس اوکړی نوحضرت نوح ﷺ به اوفرمائی چه ماخو اوږد دعوت ورکړې دې الله تعالى به اوفرمائی ستا ګواه څوك دې هغه به اوفرمائی دَمحمد ﷺ امت ګواه دې. کله چه دا امت ګواهی ورکړی نوقوم نوح ﷺ به جرح اوکړی چه داخلق خو زر کاله پس راغلی دی دوی ته څنګه معلومه ده اودوی څنګه ګواهی ورکوی؟ کله چه الله تعالى دَ هغوی نه تپوس اوکړی نوامت مرحومه به جواب ورکړی چه مونږ په قرآن کنبې وئيلی دی کوم چه رښتونې کتاب دې. په دې به نبی مکرم ﷺ راشی او دَ خپل امت تزکيه به اوکړی چه دوی رښتيا وئيلی دی نودا امت به په ټوله دنيا باندې ګواه شی اومحمد ﷺ به په خپل امت باندې ګواه جوړيږی.

[٥٥٥٤] دَقيامت په ورځ به دَخپل بدن اندامونه ګواهی ورکوی

٥٥٥٤-()[٢] [١] «وَعَنْ أَنَسٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: [٢] كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-فَضَحِكَ، [٣] فَقَالَ: (هَلْ تَدْرُونَ مِمَّا أَضْحَكُ) ؟ . [٤] قَالَ: قُلْنَا: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [٥] قَالَ: (مِنْ مُخَاطَبَةِ الْعَبْدِ رَبَّهُ، [٦] يَقُولُ يَا رَبِّ! أَلَمْ تُجِرْنِي مِنَ الظُّلْمِ) ؟ [٧] قَالَ: يَقُولُ: بَلَى. [٨] قَالَ: (فَيَقُولُ فَإِنِّي لَا أُجِيزُ عَلَى نَفْسِي إِلَّا شَاهِدًا مِنِّي).

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷺ وايي [٢] يوه ورځ مونږ درسول الله ﷺ سره ناست وو اچانك رسول الله ﷺ په خنداسو [٣] بيا يي وفرمايل آيا تاسو پوهيږئ چې زه ولې خاندم

---

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق (رقم-١٧ - (٢٩٦٩))

④حضرت انس ﷺ وايي مونږ اوويل الله او د هغه رسول ښه پوهيږي ⑤حضور ﷺ وفرمايل زه د قيامت په ورځ د بنده او الله په منځ کې مخ په مخ گفتگو خيال کولو سره خاندم ⑥هغه ورځ به بنده وايي اې پروردګاره! آيا تا ماته د ظلم نه پناه نه وه راکړې يعنې آيا تا دانه دی فرمايلي چې زه خپل بنده ګانو بانديې ذره برابر هم ظلم نه کوم ⑦حضور ﷺ وفرمايل په دې اوريدو سره الله ﷻ به فرمايي هو تا ته ما پناه درکړې ده او زه يقيناً بنده ګانو بانديې ظلم نه کوم رسول الله ﷺ وفرمائيل بيا به بنده وايي که تا ماته د ظلم نه پناه راکړې ده نو زه د خپل ځان متعلق دې نه علاوه نور هيڅ نه منم چې ځما په باره کې شاهدي ورکونکې ځما نه وي

حل اللغات:- ①أَلَمْ تُجِرْنِي: آيا تا ځه دَظلم نه محفوظ اومامون کړې نه يم؟ ②أُجِيزُ: اجازت ورکوم زه،

①قَالَ: فَيَقُولُ: ②(كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ شَهِيدًا وَبِالْكِرَامِ الْكَاتِبِينَ شُهُودًا). ③قَالَ: (فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ، فَيُقَالُ لِأَرْكَانِهِ: انْطِقِي) ④قَالَ: فَتَنْطِقُ بِأَعْمَالِهِ ثُمَّ يُخَلَّى بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَلَامِ ⑤قَالَ: فَيَقُولُ: بُعْدًا لَكُنَّ وَسُحْقًا، فَعَنْكُنَّ كُنْتُ أُنَاضِلُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①حضور ﷺ وفرمايل د بنده په دې خبرې اوريدو سره الله ﷻ به فرمايي ماته په دې اعتراض نشته ②نن ورځ ستا په باره کې خپله ستا ذات به ګواهي ورکړي ③حضور ﷺ وفرمايل بيا د بنده په خوله به مهر ولګول شي يعنې د هغه قوت ګويائي به معطل شي او دې نه وروسته به د هغه ټول اعضاء جسم ته حکم ورکول شي چې اووائي نو د هغه د جسم اعضاء به د هغه هغه اعمال بيان کړي چې هغه د هغه اعضاء په ذريعه کړي وو بيا به د هغه بنده او دهغه د ګويائي د منځ نه پرده پورته شي يعنې د هغه په خوله چې مهر لګول شوی وو هغه به مات شي او د هغه قوت ګويائي به بحال شي چې هغه سره به د مخکې په شان خبرې کول شروع کړي حضور ﷺ وفرمايل بنده به دې صورت حال ليدو سره د خپل جسم اعضاوو ته به وايي لرې شئ بدبختو او هلاك شئ ما خو ستاسو د طرف نه او ستاسو د نجات خلاصون د پاره جګړه کوله . (مسلم)

حل اللغات:-③الْكِرَامِ الْكَاتِبِينَ: عزت منديې ليکونکې فرښتې، ④يُخْتَمُ: مهر به اولګولې شي، ⑤أَرْكَانِ: اندامونه، ⑥انْطِقِي: خبرې اوکړه، ⑦بُعْدًا: لرې شئ، ⑧سُحْقًا: هلاک شئ، ⑨أُنَاضِلُ: جګړه مې کوله، منديې تررې مې وهلې

تسهيلات:

قوله: يَقُولُ يَا رَبِّ! أَلَمْ تُجِرْنِي مِنَ الظُّلْمِ:

دبنده دالله په دربار کښې درخواست: يعنې ولې تا ځه دَظلم نه دې ويناسره محفوظ اومامون کړې نه يم چه ﴿وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴾ [سورت الكهف،۴۹] که چرې په مابانديې ظلم نه

دي کول نونن زما په حساب کتاب کښې دَمکمل ګواهئ ضرورت دې چه په عدالت کښې عدل وی

قوله: فَيَقُولُ فَإِنِّي لَا أُجِيزُ عَلَى نَفْسِي إِلَّا شَاهِدًا مِنِّي:

دخپل بدنی ګواه مطالبه کول: یعنی عدل اوانصاف به کیږی تاته یقینًا مونږ پناه درکړې ده مګر دا اوښایه چه ستا په حساب کتاب کښې نقصان څه دې؟ هغه به وائی چه ستا فرښتو زما خلاف لیکلی دی دَ هغوی په تیار کړې شوی رپورټ باندې زما یقین نشته څه داسې ګواه پکاردې چه هم زما دَ بدن نه اوچت شی اوګواهی ورکړی.

قوله: فَتَنْطِقُ بِأَعْمَالِهِ ثُمَّ يُخَلَّى بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَلَامِ:

په دخپلواندامونوګواهی ورکول: یعنی کله چه اندامونه دَهغه خلاف ګواهی ورکړی نوبیا به دغه بنده ته دَ خپلو اندامونو سره دَخبرو اترو کولو موقع ورکړې شی اودَدې سرې اودَ هغه دکلام دَ مینځ نه به بندش اوچت کړې شی نوهغه به خبرې شروع کړی.

قوله: فَيَقُولُ: بُعْدًا لَكُنَّ وَسُحْقًا، فَعَنْكُنَّ كُنْتُ أُنَاضِلُ:

دبنده خپلواندامونوته خیرې کول: یعنی دا سړې به خپلو اندامونو ته اووائی چه په تاسودې هلاکت اولعنت وی داتولې مندې تړې خوما هم ستاسو دَپاره کولې اوتاسوزما خلاف ګواهی ورکړه . شرم اوکړئی چرته دوب شئی مره شئی.

[۵۵۵۵] دَاندامونودَګواهئ ورکولو متعلق یوه واقعه

۵۵۵۵-()[۷] [۱] «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ [۳] قَالَ: هَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ فِي الظَّهِيرَةِ لَيْسَتْ فِي سَحَابَةٍ؟ [۴] قَالُوا: لَا، قَالَ: فَهَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لَيْسَتْ فِي سَحَابَةٍ؟ قَالُوا: لَا. قَالَ: فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ إِلَّا كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي [۲] یوه ورځ صحابه رضی الله عنهم عرض وکړو یارسول الله! آیا د قیامت په ورځ به مونږ د خپل الله دیدار کوو [۳] حضور ﷺ وفرمایل آیا د غرمې وخت هرکله چې وریځ نه وي تاسو د نمر په لیدو کې څه شك کوئ [۴] هغوئ اوویل هیڅ کله نه حضور ﷺ ورته وفرمایل نو آیا څوار لسمي شپه کې هرکله چې ورځ نه وي تاسو د سپوږمی په لیدو کې څه شك کوئ هغوئ اوویل هیڅ کله نه حضور ﷺ وفرمایل نو قسم دی په هغه ذات چې د هغه د قدرت په لاس کې ځما ساه ده څرنګه چې تاسو نمر او سپوږمی په لیدو کې څه شك شبهه نه کوئ دغه شان به د قیامت په ورځ د خپل پروردګار په لیدو کې څه شك شبهه نه کوئ

[۱]) والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی سوق الجنة (رقم-۲۵۴۹)وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فیما أنکرت الجهمیة (رقم-۱۷۷) واحمد فی المسند:۱۶/۳

حل اللغات - ① تضارون: د باب مفاعله صیغه ده کوم چه د ضرر په معنی کښې دې. ② تضيع: غرمه. ③ نعاسه: وریخ.

[۱] قَالَ: فَيَلْقَى الْعَبْدَ فَيَقُولُ: [۲] أَيْ فُلْ: أَلَمْ أُكْرِمْكَ وَأُسَوِّدْكَ وَأُزَوِّجْكَ، [۳] وَأُسَخِّرْ لَكَ الْخَيْلَ وَالْإِبِلَ، وَأَذَرْكَ تَرْأَسُ وَتَرْبَعُ؟ [۴] فَيَقُولُ: بَلَى. قَالَ: فَيَقُولُ: أَفَظَنَنْتَ أَنَّكَ مُلَاقِيَّ؟ [۵] فَيَقُولُ لَا. فَيَقُولُ: فَإِنِّي قَدْ أَنْسَاكَ كَمَا نَسِيتَنِي. [۶] ثُمَّ يَلْقَى الثَّانِيَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ، [۷] ثُمَّ يَلْقَى الثَّالِثَ فَيَقُولُ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، [۸] فَيَقُولُ: يَا رَبِّ! آمَنْتُ بِكَ، وَبِكِتَابِكَ وَبِرُسُلِكَ، وَصَلَّيْتُ وَصُمْتُ، وَتَصَدَّقْتُ، وَيُثْنِي بِخَيْرٍ مَا اسْتَطَاعَ، [۹] يَقُولُ: هَاهُنَا إِذًا، ثُمَّ يُقَالُ: الْآنَ نَبْعَثُ شَاهِدًا عَلَيْكَ،

ترجمه: [۱] بیا رسول الله ﷺ وفرمایل هرکله چې بندګان خپل پروردګار وینې نو الله ﷻ به یوبنده ته خطاب کولو سره وفرمایي [۲] اې بنده! آیا ما تاته پرجنس حیواناتو او نورو مخلوقاتو باندې فضیلت او شرف نه وو درکړی آیا ماتاته ستا ښځه نه وه درکړې چې ما ستا د جنس او ستا د نوع نه پیدا کړې وه او بیا ستا او د هغه په منځ کې مې د انس ومحبت او مینې رشته نه وه قائمه کړې [۳] او آیا ما ستا د پاره آسونه او اوښان او نور پکارراتلونکي حیوانان او څیزونه ستا فرمانبردار کړی نه وو او آیا ماتاته داموقع نه وه نصیب کړې چې ته د خپل قوم سربراه او سردارشې او څلورمه حصه مال وغنیمت حاصل کړې واضحه دې وي چې دا په زمانه جاهلیت کې هم رواج وو چې د یوقوم او قبیلې سربراه به حاصلیدونکی مالِ غنیمت نه ځان د پاره څلورمه حصه هم آخسته او باقي مال به یې پوره قوم د پاره پرېښودې وی [۴] هغه بنده به په دې اوریدو سره عرض وکړو اې خما پروردګاره! بیشکه دغه شان شوې وه یعنی تاچې د خپل کوم انعاماتو ذکر وفرمایه دې نه وروسته به پروردګار فرمایي آیا تاته داهم خیال وو چې یوه ورځ به ته ما سره یوځای کېږې [۵] بنده به عرض وکړي نا ماته دا خیال نه وو شوی او زه دغه شان په غفلت کې پروت وم داخبره مې هیره وه نو پروردګار به ورته فرمایي نو زه دې هم اوس هیروم یعنی نن زه هم تا د خپل رحمت نه لرې کوم څرنګه چې تا په دنیا کې خما اطاعت او خما یاد ذکر هم هیر کړی وو [۶] بیابه پروردګار دویم بنده سره ملاقات او خطاب وفرمایي دې نه وروسته حضور ﷺ د الله ﷻ او بنده په منځ کې د هغه سوال وجواب ذکر وکی کوم چې د مخکني بنده په سلسله کې نقل شو [۷] بیابه پروردګار دریم بنده سره ملاقات او خطاب وفرمایي او هغه ته به هغه وفرمایي کوم چې مخکې بنده ته یې فرمایلی وو [۸] او هغه دریم بنده به دا جواب ورکړي اې خما پروردګاره ما په تا ستا په کتاب ستا په پیغمبرانو ایمان راوړی وو ما مونځ کوی روژې مې نیولې او صدقه یعنی زکوة مې اداکوی او دغه شان څومره چې کیدی شي هغه به د خپلو نیکیو په باره کې تعریف او توصیف بیان کړي الله ﷻ به د هغه ټولې خبرې اوریدو سره وفرمایي ته دلته حصار شه

اوس ستا په باره کې ګواه پیدا کوو یعنی تا چې د خپلو نیکیو په باره کې کومه دعوی کړي ده او د هغه ثابتوولو کوشش دي کړی دی چې تا زمونږ د نعمتونو شکر ګذاري کې خپل دنیاوي ژوند د اعمال خیر نه ډك کړی وو نو لږ صبر وکړه مونږ د شاهدانو په ذریعه اوس درته ښایو چې ته خپله دعوی کې ترکومه ځایه رښتنی یې

حل اللغات: -⑦أَيْ فُلْ: اې فلانی سړیه ⑤أُسَوِّدْكَ: سرداری مې درکړې وه. فضیلت او شرف مې درکړې وو. ⑥أُسَخِّرْ: تابع کړی مې وو. ⑦وَأَذَرْكَ: ما ته پریخودې وې. ⑧تَرْأَسُ: تا سرداری کوله. ⑨وَتَرْبَعُ: څلورمه حصه مال به دې د ټیکس په توګه اخستلو. (داد عربود سردارانو دستور وو).

① وَيَتَفَكَّرُ فِي نَفْسِهِ: مَنْ ذَا الَّذِي يَشْهَدُ عَلَيَّ؟ ② فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ وَيُقَالُ لِفَخِذِهِ: انْطِقِي، فَتَنْطِقُ فَخِذُهُ وَلَحْمُهُ وَعِظَامُهُ بِعَمَلِهِ، ③ وَذَلِكَ لِيُعْذِرَ مِنْ نَفْسِهِ، ④ وَذَلِكَ الْمُنَافِقُ، وَذَلِكَ الَّذِي سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
⑤ وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ (يَدْخُلُ مِنْ أُمَّتِي الْجَنَّةَ) فِي (بَابِ التَّوَكُّلِ) بِرِوَايَةِ عَبَّاسٍ

ترجمه: ① بنده به په دې اوریدو سره په خپل زړه کې سوچ کوي چې دا وخت به څما خلاف څوك شاهدي ورکړي ② لیکن د هغه په خوله به مهر ولګول شي او د هغه ورون (ران) ته به اوویل شي چې ګویا شه نو د هغه ورون د هغه غوښه او هډوکي یعنی د ورون تولې حصې به د هغه د هغه اعمالو په باره کې چې هغه په دنیا کې واقعة کړي وي بیان وکړي ③ او داتول هرڅه یعنی مذکوره سوال وجواب د بنده په خوله مهر لګول او د هغه د اعضاء په ذریعه شاهدي ورکول به څکه وي چې د بنده بد اعمالي ثابتې شی او هغه څه عذر ونه کړیشي یا دا معنی ده چې داهرڅه به څکه وي چې الله ﷻ خپله دحساب معامله یعنی هغه بنده په عذاب کې د مبتلا کولو ذمه واري په هغه ورواچوي ④ او دا دریم بنده چې د خپلو نیکیو په باره کې به دعوی کوي لیکن خپله هغه اعضاء جسم به د هغه د دعوي تردید کوي درحقیقت منافق به وي او دا هغه بنده دی چې حق تعالی به ترې نه ناراض وي. (مسلم) ⑤ او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت یدخل من امتی الجنة د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په روایت سره د توکل په باب کې ذکر شوي دي.

حل اللغات: - ⑩يُخْتَمُ: مُهر به اولګی.

تسهیلات:

قوله: هَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ فِي الظَّهِيرَةِ لَيْسَتْ فِي سَحَابَةٍ:

دالله تعالی په دیدار کښې عدم مزاحمت: یعنی دَ نمر اوسپوږمئی په کتلو کښې تاسو ته دَ یو بل نه څه تکلیف دررسیږی؟ که چرې تکلیف نه دررسی نو بیا دَ الله تعالی په دیدار کښې به هم څه تکلیف نه دررسی. په یوروایت کښې دَتضامون الفاظ دی هغه دَ ګنړې او دَ رش په معنی کښې دې مراد هم دغه ضرر اوتکلیف دې

دبعضې جملو وضاحت:

① فَأَمَّنَا: يعني تاچه دا دومره نيك اعمال شميرلى دى اوس لږ شان ديخوا اودريږه دې دپاره چه تاته دَ خپلې دعوې پته اولګى

② لِيُعْذِرَ: دباب افعال نه دې همزه دَ سلب ماخذ دپاره ده. "اي ليزيل الله عذره من قبل نفسه" يعني ټول ګناهونه دَهغه خپلو اندامونو اوشميرل په كوم سره چه دَ هغه سرى عذر ختم شو. اوهم دا الله تعالى غوښتل څكه چه داسړې كامل منافق وو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۵۵۶] دامت محمديه ډيرزيات خلق به بغيردَ حساب كتاب نه جنت ته ځي

۵۵۵۶-()[۸] [۱] عَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [۲] "«وَعَدَنِي رَبِّي أَنْ يُدْخِلَ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعِينَ أَلْفًا لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ وَلَا عَذَابَ، [۳] مَعَ كُلِّ أَلْفٍ سَبْعُونَ أَلْفًا، [۴] وَثَلَاثُ حَثَيَاتٍ مِنْ حَثَيَاتِ رَبِّي»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوامامه ﷺ وايي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۲] خما پروردګار ما سره وعده كړې ده چې هغه به خما د امت نه اويازره خلق د حساب او عذاب نه بغير به جنت كې داخل كړي [۳] او دهغه اويازرو نه به دهر زرو سره مزيد اويا زره [۴] او خما د پروردګار د چونګولپو نه درې لپې دكولو سره خلق به جنت ته ځي. (احمد ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات:- ① حَثَيَاتٍ: حثية لپه دكولو سره وركول.

تسهيلات:

قوله: وَثَلَاثُ حَثَيَاتٍ مِنْ حَثَيَاتِ رَبِّي:

دالله تعالى د درې لپوپه برابرى دامت محمدى جنت ته داخليدل: يعني الله تعالى به درې لپې دكې كړي او نوربه وركړي. كله چه دَ يوڅيز شمير معلوممول ګران شى نوهغه په لپوسره بيانولې شى. دلته لويه مبالغه ده څكه چه لپې به هم دَ الله تعالى وى مايليق بشانه تعالى.

[۵۵۵۷] دَقيامت په ورځ به دَالله تعالى په مخكښې درې ځله پيشيانى وى

۵۵۵۷-()[۹] [۱] وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "«يُعْرَضُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَ عَرَضَاتٍ: [۳] فَأَمَّا عَرْضَتَانِ فَجِدَالٌ وَمَعَاذِيرُ، [۴] وَأَمَّا الْعَرْضَةُ الثَّالِثَةُ فَعِنْدَ

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۴۳۷) وابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب السلاح (رقم-۲۸۰۷) واحمد فى المسند: ۲۶۸/۵

[2]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى العرض (رقم-۲۴۲۵) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب ذكر البعث (رقم-۴۲۷۷) واحمد فى المسند: ۴۱۴/۴

ذٰلِكَ تَطِيرُ الصُّحُفُ فِي الْأَيْدِي ﴿٥﴾فَآخِذٌ بِيَمِينِهِ، وَآخِذٌ بِشِمَالِهِ» " .﴿٦﴾رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: لَا يَصِحُّ هٰذَا الْحَدِيثُ مِنْ قِبَلِ أَنَّ الْحَسَنَ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: ﴿١﴾او حضرت حسن بصري رحمه الله د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت كوي هغوئ اوويل ﴿٢﴾رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل د قيامت په ورځ به خلق د الله په مخكښې درې ځله پيش كول كيږي ﴿٣﴾او دوه ځله خوبه بحث وجرح او عذر آرائي وي ﴿٤﴾او هركله چې په دريم ځل پيش شي نو هغه وخت به د حساب كتاب او پوښتني مرحله ختمه شوي وي ځكه اعمال نامي به الوتو آلوتو سره د خلقو لاسونو ته ورشي ﴿٥﴾نو په هغوئ كې به ترى نه خلق چې اهل سعادت او خوش نصيب وي په خپل ښي لاسونو كي به اعمال نامي واخلي او څه خلق چې اهل شقاوت او بدبخت وي خپل چپ لاسونو كې به اعمال نامي اخلي ﴿٦﴾دا روايت امام احمد رحمه الله او ترمذي نقل كړى دي. او ترمذي رحمه الله ويلي دي دا روايت دي اعتبار نه صحيح نه دى چې دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه دحضرت حسن بصري رحمه الله سماع اوريدل ثابت نه دي

حل اللغات: - ①عَرَضَاتٍ: د عرض جمع ده پيشي كيدل، ②جِدَالٌ: جهګړې. ③مَعَاذِيرُ: د مَعْذِرَةٌ جمع ده، صفائي پيش كول، ④تَطِيرُ: الوځي به، ⑤الصُّحُفُ: عمل نامې.

٥٥٥٨-()﴿١﴾وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي مُوسَى.

ترجمه: ﴿١﴾او بعضې محدثينو دا روايت د حضرت حسن بصري رضي الله عنه نه او هغوئ د حضرت ابوموسى اشعري رحمه الله نه نقل كړى دى.

تسهيلات:

قوله: فَأَمَّا عَرْضَتَانِ فَجِدَالٌ وَمَعَاذِيرُ،

په اوله پيشى د ګناهونو څخه انكار: دَ قيامت په ورځ به خلق دَ الله تعالى په وړاندې درې ځل پيش كولې شي. په اول ځل چه پيش كيږي نو هغه وخت به دَ خپلو ګناهونو اقرار او اعتراف نه كوي چه مونږ ته هډو چاوئيلى نه دى چه په كومه طريقه به ژوند تيرول وى كوم كار صحيح دې اوكوم كار غلط ستا څوك نبى، قاصد او نمائنده مونږ له نه دې راغلې نو مونږ چه كوم عمل كړې هغه مو صحيح كړې دې غلط مونه دې كړې. حديث كښې لفظ جدال نه هم دغه مراد دې

د اولې پيشې په آخر كښې عذرونه پيش كول: چه كله الله تعالى په مختلفو دلائلو طريقو اوګواهانو دا ثابت كړى چه هغوى له دَ الله تعالى پيغام راوړلو سره رسول راغلې وو هغه دوى پوهه كړې وو ولې خلقو يادَهغه خبره قبوله نه كړه اويائى په صحيح طريقه سره په هغې باندې عمل اونه كړو. په دې وجه چه په دويم ځل پيش شى نو دَ خپلو غلطو او بدعملو اعتراف به كوى.

---

(١) اخرجه احمد فى المسند: ٤/٤١٤

بيا به د الله تعالى په وړاندې په مختلفو طريقوباندې معذرت كوى. څوك به وائى مانه غلطى شوې غفلت او لاپرواهي شوې. په دې وجه دهدايت په لاړلاړنه شوم. غرض دا چه هريوبه څه نه څه عذر بيانوى. هم دې ته معاذير په لفظ سره ذكر كړې دې.

قوله: وَأَمَّا الْعَرْضَةُ الثَّالِثَةُ فَعِنْدَ ذَلِكَ تَطِيرُ الصُّحُفُ فِي الْأَيْدِي

په دريمه پيشئ كښې د صحيفوتقسيمدل: بيا په دريمه پيشئ كښې به د خلقو ټول معاملات ښكاره شوى وى په دې وجه به اهل حق او باطل. نيك او گناهگار په مينځ كښې به فرق واضح شى. د كوم صورت چه به داوى چه كوم جنتيان وى دهغوى عمل نامې به په ښى لاس كښې رسيږى او د كومو چه دوزخ ته د تللوفيصله شوې وى دهغوى عمل نامه به په گس لاس كښې وررسيږى. [تحفة الاحوذى ۹۲/۷]

دالله تعالى د پيشئ استحضار: دې حديث نه دا درس حاصليږى چه د انسان په ذهن كښې هروخت دامنظرمخې ته راځى چه زه څه اعمال په دې دنياكښې كوم د هغې به زه د الله تعالى په عدالت كښې حساب وركوم. او د حساب كتاب د پاره به درې ځل د پيشئ نه تيريدل وى. او كه الله تعالى دې نه كړى اعمال صحيح نه شى اوعمل نامه د گناهونونه ډكه شى نوپه هغه ورځ به داسې رسوائى وى د كومې چه به څه تلافى نه شى كيدې. په دې وجه هرمسلمان له د خپل ژوند هرقدم په ډير سوچ اوفكركيخودل پكاردى. دې د پاره چه د آخرت ذلت اورسوائي نه محفوظ پاتې شى.

[۵۵۵۹] حديث بطاقة او د الله تعالى د نوم بركت

٥٥٥٩-(١)[١٠] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«إِنَّ اللَّهَ سَيُخَلِّصُ رَجُلًا مِنْ أُمَّتِي عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٣] فَيَنْشُرُ عَلَيْهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ سِجِلًّا، كُلُّ سِجِلٍّ مِثْلُ مَدِّ الْبَصَرِ، [٤] ثُمَّ يَقُولُ: أَتُنْكِرُ مِنْ هَذَا شَيْئًا؟ أَظَلَمَكَ كَتَبَتِي الْحَافِظُونَ؟ [٥] فَيَقُولُ: لَا يَا رَبِّ! [٦] فَيَقُولُ: أَفَلَكَ عُذْرٌ؟ قَالَ: لَا يَا رَبِّ!

ترجمه: [١] او حضرت عبد الله ابن عمرو ﷠ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د قيامت په ورځ به په ميدان حشر كې الله ﷻ څما د امت نه يو سړى د ټول مخلوقاتو مخكې طلب كړي [٣] او د هغه مخكې به نه نوي ۹۹ رجسترونه وغوړول شي چې په هغه كې به هر رجستر دنظرترحده پورې خلاص په نظر راشي [٤] بيا به هغه سړي ته فرمايي چې دې رجسترونو كې څه ليكلي دي آيا ته ددې نه د څه شي انكار كوى او د دې ويلو جرئت كوى چې دې رجسترونو نه چې څما د كوم بد اعمالى معلومات كېږي هغه مانه دې كړي

[١]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن يموت وهو يشهد أن لا إله إلا الله (رقم-۲۶۳۹) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب ما يرجى من رحمة الله يوم القيامة (رقم-۴۳۰۰) واحمد فى المسند: ۲۱۲/۲

او آيا ته داګني چې ځما نامه اعمال ليکونکو فرښتو چې ستا د افعالو او احوالو نګهبان وي تا سره څه زياتی کړی دی ⑤هغه سړی به عرض وکړي اې ځما پروردګاره! نه خو زه دي رجسترونو کې ليکل شوو خپلو اعمالو نه انکار کولی شم او نه دا ګڼم چې نامه اعمال ليکونکو فرښتو دي رجسترونو کې د غلط اندراجاتو په ذريعه ما سره څه زياتی کړی دی ⑥بيا به پروردګار فرمايي آيا ته څه عذر لرې؟ يعنی تاچې په دنيا کې څه بد اعمال کړي دي او دي رجسترونو کې ليکلي دي آيا تـه د هغه معذرت کې څه وئيل غواړې چې ما سهواً يا جهلاً يا خطاءً يا په بله فلانۍ وجه بدکار کړی وو نو هغه بنده به عرض وکړي چې نه اې ځما پروردګاره زه هيڅ عذر بيانولی نشم

حل اللغات:- ①سَيُخَلِّصُ: زر ده چه خلاص به کړی. ②سِجِلًّا: رجستر، عمل نامه، ③الحَافِظُونَ: حفاظت کونکي نګهباني فرشتي،

①فَيَقُولُ: بَلَى، إِنَّ لَكَ عِنْدَنَا حَسَنَةً، وَإِنَّهُ لَا ظُلْمَ عَلَيْكَ الْيَوْمَ، ②فَتُخْرَجُ بِطَاقَةٌ فِيهَا: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ③فَيَقُولُ: احْضُرْ وَزْنَكَ، ④فَيَقُولُ: يَا رَبِّ! مَا هَذِهِ الْبِطَاقَةُ مَعَ هَذِهِ السِّجِلَّاتِ؟ ⑤فَيَقُولُ: إِنَّكَ لَا تُظْلَمُ، ⑥قَالَ: فَتُوضَعُ السِّجِلَّاتُ فِي كِفَّةٍ، وَالْبِطَاقَةُ فِي كِفَّةٍ، ⑦فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ، فَلَا يَثْقُلُ مَعَ اسْمِ اللَّهِ شَيْءٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

توجمه: ①بيا به الله ﷻ فرمايي هو زمونږ سره يوشی دی چې ستا د عذر قائم مقام دی يعنی زمونږ سره ستا يوه ډيره لويه نيکي ده چې زمونږ بارګاه کې قبوله شوي ده او ستا ټول ګناهونه به ورژوي او يقيناً نن ورځ به په تاهيڅ ظلم نه کېږي يعنی نه خو ستا د دې نيکي ثواب کميږي او نه به تاته عذاب درکولو د پاره ستا ګناهونه زياتول کيږي ②بيابه يوه پرچي راوايستل شي چې په هغه کې بـه اشهدان لااله الاالله واشهدان محمداعبده ورسوله ليکل شوی وي ③دي نه وروسته به الله ﷻ هغه سړي ته وفرمايي چې ځه د خپلو اعمالو د تللو ځاي يا د اعمالو د تللو وخت يا د اعمالو د تللو شی يعنی ميزان ته ورشه چې ستا د نيکۍ دا وړه پرچه ستا د ګناهونو نه ډک ۹۹ نه نوي رجسترونو سره تلی شي نو په تاباندې به ښکاره شي چې زمونږ عدل او انصاف څرنګه ښکاره کېږي او په تا باندې د ظلم او زياتي په ځاي زمونږ د فضل واحسان سايه (سوري) څرنګه شوی ده ④هغه بنده به حيرت او تعجب سره عرض وکړي چې اې ځما پروردګاره! د دې کوچني شان پرچي دومره لوی او زيات رجسترونو سره څه نسبت دی چيرته ځما د يوي نيکي دا يوه وړه شان پرچه او چيرته ځما ټولو ګناهونو باندې مشتمل دا دفتري دي صورت کې د دې پرچي د هغه رجسترونو په مقابله کې د تللو څه فائده؟ ⑤پروردګار به ورتـه فرمايي تـه لاړ شـه اووخو ګوره يقيناً تا سره به ظلم نه کېږي يعنی دا پرچه معمولي مه ګڼه دا ډيره عظيم القدره او ډيره درنه ده د دې تول کول ضروري دي چې په تاباندې ظلم ونشی ⑥حضور ﷺ وفرمايل

بيا به هغه رجسټرونه د ترازو په يوه پله کې کېښودل شي ⑦ نو هغه رجسټرونه به سپک وخيژي او هغه پرچه به درنه شي دالله تعالى د نوم سره په درونوالي کښې څيز مقابله نشي کولې. (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات: -④ الْبِطَاقَةُ: پرچه، وړوکې ليکلې شوې کاغذ. ⑤ طَاشَتْ: پورته طرف ته به والوزي (د سپکيدو په وجه). ⑥ ثَقُلَتْ: درنه به شي.

تسهيلات:

قوله: فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ، فَلَا يَثْقُلُ مَعَ اسْمِ اللَّهِ شَيْءٌ:

په ګناهونو باندې د کلمې طيبې درنيدل: داحديث د حديث بطاقه په نوم سره مشهور دې بطاقه هغه پرچې ته وائي په کومه کښې چه به کلمه شهادت ليکلې شوې وی کومه به چه دې سړی وئيلې وی. دَدې سړی دګناهونو به يو کم سل بندلې وی دکوم په مقابله کښې چه به په تله دَميزان کښې دا کلمه درنه شي او ويونکې به جنت ته لاړ شي

د کلمې په تول کښې دوه احتمالات: ① په کومه پرچه چه کلمه دَ شهادت ليکلې شوې وی نو صرف هم دغه پرچه به په ټولو ګناهونو درنه شي دا مفهوم زيات واضح دې

② دې کلمې سره به نور نيک اعمال هم وی مګر بنيادی حيثيت به هم دَ دې پرچې وی.

[۵۵۶۰] دَقيامت په ورځ درې سختې مرحلې

۵۵۶۰-()[۱] ①«عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهَا - أَنَّهَا ذَكَرَتِ النَّارَ فَبَكَتْ; ②فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا يُبْكِيكِ؟ قَالَتْ: ذَكَرْتُ النَّارَ فَبَكَيْتُ، ③فَهَلْ تَذْكُرُونَ أَهْلِيكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ ④فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (أَمَّا فِي ثَلَاثَةِ مَوَاطِنَ فَلَا يَذْكُرُ أَحَدٌ أَحَدًا: ⑤عِنْدَ الْمِيزَانِ حَتَّى يَعْلَمَ: أَيَخِفُّ مِيزَانُهُ أَمْ يَثْقُلُ؟

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضي الله عنها نه روايت دی يوه ورځ بي بي عائشه رضي الله عنها د دوزخ د اور خيال کولو په ژړا شروع شوه يعني اچانك د هغه په زړه کې د دوزخ خيال راغې نو د هغه د دهشت نه په هغه ژړا وغورځيدله ② حضور ﷺ چې د هغې دغه شان اچانك ژړا وليدله نو پوښتنه يې ترينه وکړه په تا څه شوي دي ولې ژاړې هغې اوويل ماته د دوزخ د اور خيال راغې د هغه د دهشت او خوف نه په ژړا شوی يم ③ نو آيا تاسو به د قيامت په ورځ خپل اهل وعيال هم ياد لرئ ④ رسول الله ﷺ په دې اوريدو سره ورته وفرمايل هسې خو دخپل اهلِ بيتو څه چې د قيامت په ورځ به د خپل پوره امت راسره خيال او فکر وي ليکن صورت حال داسې دی چې په هغه ورځ درې موقعې داسې دي چې هلته به چاته د چا څه خيال نه وي يعنی مخصوص طور سره د چاخيال به نه وي البته شفاعت عظمى به عمومي طور

---

[۱]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب السنة باب في ذكر الميزان (رقم-۴۷۵۵) واحمد في المسند: ۱۱۰/۶

سره ټول خلائق د پاره وي ۞یوه موقع خوبه هغه وي هرکله چې اعمال او کردار تللو د پاره میزان مخې ته وي ددې پورې چې دا معلومه نشي چې د هغه میزان تله به درنه شي یا سپکه یعنی د څوپورې چې اعمال ونه تلل شي او دا معلومه نه شي چې د نیک اعمالو تله درنه شوې ده یا سپکه شوې ده هغه پورې هرسړی به خپل خپل فکر کې سرګردان وي

حل اللغات: - ① أَيَخِفُّ: آیا سپکه به شي؟

١ وَعِنْدَ الْكِتَابِ حِينَ يُقَالُ: ﴿هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ﴾ [الحاقة: ١٩] ٢ حَتَّى يَعْلَمَ أَيْنَ يَقَعُ كِتَابُهُ، أَفِي يَمِينِهِ أَمْ فِي شِمَالِهِ؟ وَأَمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ؟ ٣ وَعِنْدَ الصِّرَاطِ: إِذَا وُضِعَ بَيْنَ ظَهْرَيْ جَهَنَّمَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ دويمه موقع به هغه وي هرکله چې اعمال نامې لاسونو ته حواله شي ذدې پورې چې دا ونه وئيل شي چې راشئ خما اعمال نامه اووايئ ٢ او د څوپورې چې دامعلومه نشي چې ښي لاس کې ورکول شوې دی یا چَپ لاس کې ورکول شوی ده اود شا طرف نه یعنی دویمه هولناکه موقع به هغه وي هرکله چې د هریوه په باره کې به د نجات یا عذاب فیصله وي او د خلقو اعمالنامې به د هغوئ د شا د طرف نه د هغوئ لاسونو کې ورکول شي نو کوم سړی چې نجات یافته وي د هغه اعمالنامه به د هغه په ښي لاس کې راشي او کوم سړی چې د عذاب مستحق وګرځول شي د هغه اعمالنامه به د هغه په چَپ لاس کې وي او دغه شان د څوپورې چې دا معلومه نشي چې د چا اعمالنامه د هغه ښي لاس کې او د چا اعمالنامه د هغه په چَپ لاس کې ورکول شوې ده او د چا اعمالنامه چې په ښي لاس کې راشي هغه د خوشحالۍ نه دا ونه وايي چې راشئ خما اعمالنامه وګورئ تر هغه پورې به هرسړی تردد کې وي او چاته به د چا فکر او خیال نه وي او دریمه موقع به هغه وي هرکله چې خلق پُل صراط باندې تیریدوته نزدې وي او هغه پل صراط به د جهنم په شا ایښودل کېږي ددې پورې چې دا معلومه نشي چې په هغه عافیت سره تیریدو سره نجات یې پیدا کړی دی یا په جهنم کې لویدلی دی. (ابوداؤد)

حل اللغات: -② هَاؤُمُ: اسم فعل دې په معنی د امر، یعنی راشئ.

تسهیلات:

قوله: وَعِنْدَ الصِّرَاطِ: إِذَا وُضِعَ بَيْنَ ظَهْرَيْ جَهَنَّمَ:

دهریوکس په پل صراط باندې تیریدل: پل صراط د ویښته نه زیات نرې اود توري نه زیات تیره دې. دا به د جنهم د پاسه قائمولې شي د قیامت په ورځ به ټول مخلوق په دې باندې تیریږي. کما في القرآن ﴿ وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا ﴾ اهل ایمان به د خپل ایمان اوعمل د مرتبې مطابق په آسانئی سره په دې پل صراط باندې تیریږي او جنت ته به ځي او کوم چه دوزخیان وی هغوی به پرې کیدو سره په دوزخ کښې غورزیږي.

ايمان والوته به دَ هغوی دَ عمل مطابق نور ورکولې شی دَ کوم په ذریعه چه به هغوی په پل صراط باندې تیریږی په هغوی کښې بعضې سواره، بعضې پیدل او بعضې په زنګونونو باندې تیریږی

دپل صراط د تیریدو مسافت: دَ آخرت دَ کالونو په اعتبار دَ پل صراط مسافت درې زره کاله دې په یو روایت کښې دا هم بیان کړې شوی دی چه په دوزخ باندې اووه پلونه دی اودَ هرپل په مینځ کښې دَ اویاؤ کالو دَمسافت هومره فاصله ده او هریو پل دَ توری دَمخ نه زیات تیره دې

په پل صراط تیریدونکې د مؤمنانو اته قسمه ډلې تیریدل: ① دَ دې دَ پاسه تیریدونکې رومبې ډله به دَ سترګو دَ رپ په شان تیره شی

② دویمه به دَ بجلئی دَ پرق په شان تیره شی

③ دریمه ډله به دَ تیزې هوا په شان تیره شی

④ څلورمه ډله به دَ مرغو دَ تیزئی په شان تیره شی

⑤ پنځمه ډله به دَ اسونو په شان په منډه تیریږی

⑥ شپږمه ډله به دَ انسان دَ منډې وهلو په شان تیریږی.

⑦ اوومه ډله به دَ پیدل تلونکو خلقو په شان تیره شی

⑧ دَدې ټولو په آخره کښې به یوه ډله باقی پاتې شی کله چه هغوی ته دَ تیریدو دَ پاره اووئیلې شی نوخپلې خپې به په پل صراط باندې ایږدی خو دَهغوی خپې به ړچیږی بیا به هغوی په زنګونونو باندې روان شی اودَ دوزخ دَ اور بخیری به دَ هغوی خپو نه اورسیږی. بیا به دوی په خیټه باندې رابنکلو سره دَ لاسونو په ذریعه پل سره اونخلی او اور به هم هغوی پورې اونخلی بیا دَ اور نه دَ بچ کیدو دَپاره په خیټه باندې رابنکونکې لاړشی تردې چه دَ دوزخ نه به واوړی. تیریدونه پس چه واپس دَ دوزخ طرف ته ګوری اووائی به کوم الله چه مونږ ته دَدې نه خلاصې راکړو هغه مونږ سره صرف دَ فضل اوکرم معامله کړې ده هغه ترنته پورې چا سره دَداسې فضل معامله نه ده کړې. والله أعلم.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۵۶۱] دقیامت په سخته ورځ به د هر چا سره حساب کیږی

۵۵۶۱-(¹)[۱۳] [۱] «عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] جَاءَ رَجُلٌ فَقَعَدَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

---

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة الأنبياء (رقم-۳۱۶۵) واحمد فی المسند:۶/۲۸۰

وَسَلَّمَ - ۳فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّ لِي مَمْلُوكِينَ يَكْذِبُونَنِي، وَيَخُونُونَنِي وَيَعْصُونَنِي، ۴وَأَشْتِمُهُمْ وَأَضْرِبُهُمْ، فَكَيْفَ أَنَا مِنْهُمْ، ۵فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يُحْسَبُ مَا خَانُوكَ وَعَصَوْكَ وَكَذَبُوكَ، ۶وَعِقَابُكَ إِيَّاهُمْ، فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ،

ترجمه: ۱د مؤمنانو مور عائشه صديقه رضي الله عنها وايي ۲يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت كې يو سړی راغې كينا ستی ۳او عرض يې وكړو يارسول الله: ځما غلامان دي چې ماته دروغ وايي ځما په مال كې خيانت كوي او ځما نافرماني كوي ۴نو زه د تاديب او تنبيه له مخې هغوئ ته بدرد وايم او هغوئ وهم نو د دوئ په وجه به د قيامت په ورځ الله ﷻ ما سره څه سلوك كوي يعنی آيا زما نه به هغوئ ته د بدرد ويلو او وهلو ټكولو حساب اخستل وي او د دې څيزونو په وجه به زما مواخذه كيږي ۵حضور ﷺ ورته وفرمايل هركله چې د قيامت ورځ شی او د هرسړي د يويو عمل او يويو شي پوښتنه وي نو هغه غلامانو چې ستا په مال كې كوم خيانت كړی وي ستا نافرماني يې كړې وي او تاته يې دروغ ويلي وي د دې ټولو به حساب كيږي ۶د غه شان چې تا كومه سزا وركړې وي : هغه به هم حساب كيږي او كه ستا وركول شوي سزا د رائج ضابطه اخلاق او قانون او د عام عادت او معمول مطابق د هغوئ د جرائمو په قدر ثابت شي نو ستاسو معامله به برابر برابر وي چې تا ته به نه څه ثواب وي او نه څه عذاب ځكه چې په دې صورت كې به ونيل كيږي چې تا هغوئ سره د حالاتو مطابق او مباح معامله كړې ده چې په هغه به ته د څه مواخذې او عذاب مستوجب نه يې

حل اللغات:- ① مَمْلُوكِينَ: غلامان. ② يَخُونُونَنِي: خيانت كوی ما سره. ③ أَشْتِمُهُمْ: كنځل ورته كوم. بد رد ورته وايم.

۱وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ دُونَ ذَنْبِهِمْ كَانَ فَضْلًا لَكَ، ۲وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوبِهِمْ، اقْتُصَّ لَهُمْ مِنْكَ الْفَضْلُ. ۳فَتَنَحَّى الرَّجُلُ، وَجَعَلَ يَهْتِفُ وَيَبْكِي، ۴فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَا تَقْرَأُ قَوْلَ اللّٰهِ تَعَالَى: ﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ﴾ [الأنبياء: ۴۷]. ۵فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! مَا أَجِدُ لِي وَلِهَؤُلَاءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ، أُشْهِدُكَ أَنَّهُمْ كُلَّهُمْ أَحْرَارٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱او كه تا هغوئ ته سزا وركړې وي او د هغوئ د جرائمو نه كمه ثابته شي نو هغه به ستا زائد حق وي يعنی ستا هغوئ ته د جرائمو نه كمه سزا وركول په هغوئ به ستا د پاره يو داسې حق واجب كړي كه ته غواړې نو د هغه په عوض كې به تاته انعام دركول شي كيني نه ۲او كه ستا وركړې سزا د هغوئ د جرائمو نه زياته وي نوبيابه د هغوئ د پاره ستا نه د هغه زياته بدله اخستل كيږي يعنی الله ﷻ به دافيصله كوي چې تاخپلو غلامانو ته د هغوئ د جرائمو نه زياته سزا وركړې وه چې د هغه تاته هيڅ حق نه وو نو

اوس ته خپلو هغه غلامانو ته د هغه زياتي بدله ورکړه ④ نوپه دې ارشاداوريدوسره هغه سړي يو طرفته شو ⑤ اوپه ژړا سرشونو حضورﷺ دا ارشاد مؤکد او ثابت کولو د پاره وفرمايل آيا ته په قرآن کريم کې د اللهﷻ دا ارشاد نه وايې چې وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَىٰ بِنَا حَاسِبِينَ يعنى اللهﷻ فرمايي د قيامت په ورځ به مونږ د عدل وانصاف ميزان ودروو چې د هغه په ذريعه به د ټولو اعمال ټيک ټيک وزن شي نو په هيڅا به ظلم نه کېږي يعنى د چا چې څه حق وي هغه به يقيناً هغه ته ورکول شي او که د چا عمل د اوري رائي د داني برابر هم وي نو هغه نه به صرف نظر نشي کولی بلکه مونږ به هغه هم هلته حاضر کړو او مونږ حساب آخستلو له کافي يو يعنى زمونږ وزن او حساب نه به وروسته د حساب کتاب او د چا د مدافعي د چا حاکم مخکې د خپلي دعوي پيش کولو ضرورت نه وي ځکه چې زمونږ نه زيات عدل او انصاف کونکی بل هيڅوک نشته او هغه وخت به زمونږ فيصله بالکل آخري فيصله وي چې په هغه چاته د شک شبهي کولو مونږ ګنجائش نه پريږدو ⑥ هغه سړی دې خبري اوريدوسره عرض وکړو يارسول الله! زه د خپل ځان او خپلو غلامانو په حق کې دهغوئ د جدائي نه ښه بله څه خبره نه وينم يعنى په دې صورت کې ځما خيال دی چې د قيامت د محاسبي او مواخذي نه بچ کيدو او جواب ورکولو نه د محفوظ کيدو له خاطره ځما او ځما د دې غلامانو دواړو په حق کې د ټولو نه ښه خبره داده چې هغوئ زما نه جدا شي په دې طور چې زه هغوئ ته آزادي ورکړم ⑦ نو زه تاسو شاهدان جوړوم چې هغه ټول غلامان آزاد دي (ترمذي)

حل اللغات:- ④ تَنَحّٰى: يو طرف ته شو. ⑤ يَهْتِفُ: په تيز آواز سره ئې وئيل ⑥ الْقِسْطَ: انصاف. ⑦ خَرْدَلٍ: أورى. غوښت. ⑧ أَحْرَارٌ: آزاد.

تسهيلات:

قوله: فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ:

دغلامانو نافرماني اود سزا د برابري صورت: مطلب دادې چه ستاد غلامانو جرم اوستاد سزا حساب به لګولې شي چه دواړه برابر دي که کم يا زيات. که چرې دواړه برابر شو نو نه به په تاباندې څه نقصان وي اونه به تاته ثواب ملاويږي ځکه چه نه د هغه جرم زيات دې اونه ستا سزا زياته ده اوکه چرې ستا سزا د هغوی د جرمونو نه زياته شوه نوبيابه په تاباندې نقصان وي. اوکه چرې د هغوی جرم ستا د سزا نه زيات شو نود هغه غلامانو راتيول به کيږي اوتاته به ثواب ملاويږي هغوی سره د معافئي او آسانئي کولو به تاته ثواب حاصليږي بلکه هغوی سره د معافئي معامله کول مباح دي اود دې په کولو کښې په تا باندې هيڅ حرج نشته دي.

قوله: وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ دُونَ ذُنُوبِهِمْ كَانَ فَضْلاً لَكَ:

د غلامانو د سزا د کموالی صورت: فضل هغه څیز ته وائی چه دَ واجب حق نه زیات وی یعنی ستا دغه غلامانو ته کمه سزا ورکول به په آخرت کښې ستا دَپاره دَ اجر او انعام سبب وی دَ اجر او ثواب نه حسن او ثواب، قربت او نیزدیکت اودَ درجې او مرتبې اوچتوالې مراد دې باقی دَ حدیث الباب حاصل دادې چه کوم سرې دَخپلو غلامانو او لاندې خلقو په مینځ کښې معامله په ښه شان سره ته اورسوی هغه به دَ اجر او ثواب حقدار وی اودَ دې برعکس معامله کولو باندې به انسان دَ الله تعالی په نیز مواخذې سره مخ کیږی ځکه چه په هغه ورځ به تله دَ عدل قائمیږی په چا باندې به ظلم نه شی کولې

قوله: مَا أَجِدُ لِي وَلِهَؤُلَاءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ، أُشْهِدُكَ أَنَّهُمْ كُلَّهُمْ أَحْرَارٌ:

د غلامانو آزادولو دوه وجوهات: ① کله چه غلامان زما په ملکیت کښې نه وی نو مانه به بیا دَهغوی په حق کښې کوتاهی هم نه کیږی.

② غلامان ئې ځکه آزاد کړل چه دَ مخکینو گناهونو کفاره شی.

[۵۵۶۲] دَآسان حساب او سخت حساب مطلب

۵۵۶۳-()[۱۳] ① «وَعَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ فِي بَعْضِ صَلَاتِهِ: ② "اَللّٰهُمَّ حَاسِبْنِي حِسَابًا يَسِيرًا" قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ! مَا الْحِسَابُ الْيَسِيرُ؟ ③ قَالَ: "أَنْ يَنْظُرَ فِي كِتَابِهِ فَيَتَجَاوَزُ اللهُ عَنْهُ، ④ إِنَّهُ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَوْمَئِذٍ يَا عَائِشَةُ هَلَكَ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضی الله عنها وایي ماد رسول الله ﷺ نه په بعضې مونځو کې دادعا واوریده: ② اَللّٰهُمَّ حَاسِبْنِي حِسَابًا يَسِيرًا اې الله! ځما د اعمالو حساب اسانه کړي بي بي عائشه رضی الله عنها وایي ماچي دا واوریدل نوعرض مي وکی اې د الله نبي! د آسانه حساب نه څه مطلب دی او د دې به څه صورت وي ③ حضور ﷺ وفرمایل د آسانه حساب به داصورت وي چې بنده به خپل نامه اعمال ویني او بیابه الله ﷻ هغه ته معافي وکړي ④ او اې عائشې رضی الله عنها حقیقت دادی چې په هغه ورځ د کوم سړي سره حساب کې مناقشه جگړه وشي نو بس پوهه شه چې هغه برباد شو یعنی هغه د عذاب نه بچ کیدی نشي. (احمد)

حل اللغات: - ① نُوقِشَ: سخت تپوسونه اوشی،

تسهيلات:

قوله: إِنَّهُ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَوْمَئِذٍ يَا عَائِشَةُ هَلَكَ:

دبعض په مصداق کښې درې اقوال: ① د دې څخه فرض مونځ مراد دې.

② د دې څخه نفل مونځ مراد دې.

[۱] اخرجه احمد فی المسند: ۶/۴۸

③ د دې څخه د مونځ بعضې ارکان مراد دی یعنی دا دعا حضورپاك په یوه حصه یعنی د قیام په شروع کښې یا په رکوع کښې یا په قومه کښې یا په سجده کښې غوښتې وه. باقي د حضورپاك دا دعا غوښتل خو د امت د تعلیم دپاره وه چه مسلمانانو له پکاردی چه هغوی دي د الله تعالی نه د آسان حساب دعاغواړی

قوله مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ

دمناقشه لغوی معنی: د مناقشه لغوی معنی جانچ پړتال کولو سره حساب اخستل دی یعنی د پیسې پیسې حساب اخستل دی

دمناقشه اصطلاحی تعریف: په اصطلاح کښې مناقشه دا ده چه د هریو عمل او د هرعمل د یو یو جزء پوره پوره حساب اوشی نو د تولو نه گران حساب هم دغه دې هم دې ته حساب مناقشه وئیلی شی په دې حساب کښې هیڅ یو بنده هم پوره شان سره کامیابیدې نه شی ځوك چه د الله د فضل اوکرم نه محروم پاتې شو نوهغه به د اسې حساب مناقشه سره مخ کیږی او د اسې کس به عذاب کښې د راګیریدو نه بچ کیدې نه شی

په حساب یسیر اومناقشه کښې فرق: حساب یسیر دې ته وائی چه جرم معاف کړې شی او د بدعملونو معافی اوشی او حساب مناقشه دادې چه د جرم اقرارپرې کول او جرح کول او تپوس پښتنه کول الله پاك دې مونږ سره حساب یسیر اوکړی آمین

[۵۵۶۲] د قیامت ورځ به په مؤمن باندې آسانه وی

۵۵۶۲ - ()[۱][۱] «وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [۲] أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۳] أَخْبِرْنِي مَنْ يَقْوَى عَلَى الْقِيَامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، الَّذِي قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [المطففين: ۶]؟ [۴] فَقَالَ: يُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتَّى يَكُونَ عَلَيْهِ كَالصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ».

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعید خدري ﷺ نه روایت دی [۲] هغه یوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او هغه اوویل [۳] یارسول الله ماته دا وښایې چې د قیامت په ورځ چې د هغه په باره کې الله ﷻ بزرګ وبرتر فرمایي يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِينَ په کومه ورځ چې ټول خلق به یویو د جهان د پروردګار په مخکې اودریږي نو کوم سړي ته به دحساب د پاره د الله ﷻ په مخکې د اودریدو تاب وي [۴] حضور ﷺ وفرمایل د قیامت ورځ به مؤمن د پاره آسانه شي ددې پورې چې هغه ورځ به په هغه د فرض مونځ د آدائیګی د وخت په قدر پاتې شي

حل اللغات:- ① يَقْوٰي: مضبوط به وی. طاقت به لری. ② يُخَفَّفُ: آسانه به کړې شی.

[۱]) اخرجه البیهقی فی البعث والنشور

تسهيلات:

قوله: يُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتَّى يَكُونَ عَلَيْهِ كَالصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ:

دالله تعالى په دربار کښې د قيام مختلف مقدارونه: ① په بعضو خلقو به دا تخفيف کم او کيف دواړو اعتبارو سره وی يعنی واقعةً هم وختونه مختصر هم شی او دا سړي به هغه مختصر محسوسوی

② دَ بعضو دَ پاره به دَدغه ورځې وختونه مختصر کيږی خونه ورځ به هم اوږده وی مګر هغه سړي به دا مختصر محسوسوی. لکه څنګه چه کله سړې په راحت کښې وی نو وختونه ورته مختصر ښکاری لکه چه دا ورځ په کيف کښې مختصر ده او کم کښې مختصر نه ده

③ په بعضو به په کم کښې مختصر وی په کيف کښې به اوږده وی يعنی دَ عذاب دَ وجې نه به هغه دا ډيره اوږده محسوسوی ګنی دَ اصل په اعتبار سره به دا ورځ دَ پنځوسو زرو کالو وی لکه چه قرآن کښې دی ﴿فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ۝﴾ [سورت معارج: ۴]. دَ زرو کالو ذکر هم دي

بهرحال مختلفو احوالو اودَ مختلفو اعمالودَ وجې نه به په دغه ورځ کښې اختلاف وی

[٥٥٦٤] د قيامت سخته اوږده ورځ به په مومن باندې د فرض مونځ برابر وی

۵۵۶۳-()[۱۵] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: [۲] «سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ ﴿يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ﴾ [المعارج: ۴] [۳] مَا طُولُ هَذَا الْيَوْمِ؟ [۴] فَقَالَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ [۵] إِنَّهُ لَيُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتَّى يَكُونَ أَهْوَنَ عَلَيْهِ مِنَ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ يُصَلِّيهَا فِي الدُّنْيَا» ". رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي كِتَابِ (الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعيد خدري ﷺ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ نه د قيامت د ورځې په باره کې پوښتنه وشوه چې د پنځوسو زرو کالو برابر به وي [۳] د دې اوږدوالی به څومره وي يعنی هرکله چې دا ورځ دومره زياته اوږده وي نو د خلقو به څه حال وي آيا هغوئ به حساب کتاب او خپله فيصله اوريدو د پاره په هغه ورځ دريدی شي [۴] حضور ﷺ په دي اوريدو سره وفرمايل په هغه ذات مي دي قسم وي چې د هغه قبضه کې ځما ساه ده [۵] هغه ورځ به کامل مسلمان د پاره د هغه فرض مونځ د وخت نه هم زياته آسانه شي کوم چې هغه په دنيا کې کولي دا دواړه روايتونه بيهقي کتاب البعث والنشور کې نقل کړی دی.

تسهيلات: نوټ: ددې حديث د مضمون تشريح د مشکاة دحديث نمبر(۵۵۶۳) په تسهيل کښې تيره شوه.

[1]) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۱/ ۳۲٤ واحمد فی المسند: ۷۵/۳

[۵۵٦۵] بعضي خلق به بې حسابه بې كتابه جنت ته داخليږي

۵۵٦۵ـ (١) [١٦] ١ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - عَنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ قَالَ: "«يُحْشَرُ النَّاسُ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ٣ فَيُنَادِي مُنَادٍ يَقُولُ: أَيْنَ الَّذِينَ كَانَتْ تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ؟ ٤ فَيَقُومُونَ، وَهُمْ قَلِيلٌ، فَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ، ٥ ثُمَّ يُؤْمَرُ بِسَائِرِ النَّاسِ إِلَى الْحِسَابِ»". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ١ او بي بي اسماء بنت زيد ابن سكن ﷞ د رسول الله ﷺ نه روايت كوي ٢ چې رسول الله ﷺ وفرمايل د قيامت په ورځ به خلق يو فراخ او اوار ميدان كې جمع شي ٣ بيا به يو اعلان كونكى اعلان وكړي چيرته دي هغه خلق چې د هغوئ اړخونه به د بسترو او د خوب د ځايونو نه جدا وو ٤ دا اعلان اوريدو سره اهل محشر نه به ډير لږ خلق چې اهل اسلام كې به وي را پاڅيږي يعنى د مجمع نه راوتلو سره بهر به راشي او د حساب كتاب مرحله تيرولو نه بغير به جنت ته لاړ شي ٥ بيا به باقي خلقو نه د حساب اخستو حكم وشي دا روايت امام بيهقي ﷫ په شعب الايمان كې نقل كړى دى.

حل اللغات:- ① صَعِيدٍ: هواره زمكه، ② الْمَضَاجِعِ: دخوب ځايونه، بسترې،

تسهيلات:

قوله: أَيْنَ الَّذِينَ كَانَتْ تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ؟.... فَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ:

بغيرحسابه جنت ته داخليدونكي تهجد گزار:

د الله تعالى بعضي بندگان به بلا حساب كتابه جنت ته داخليږي. په هغوى كښې تهجد گذار، په الله تعالى باندې بهروسه كونكى وغيره شامل دى.

---

[1]) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان

[۴]بَابُ الحَوْضِ وَالشَّفَاعَةِ]

دَ حوض كوثر او دَ شفاعت بيان

خلاصة الباب

فيه أربعون حديثاً مشتملة على إحدى عشر مسئلة:

① ذكرالحوض وصفاته: ١، ٢، ٣، ٢٣، ٢٥، ٣٧.

② ذكرالواردين على الحوض والممنوعين عنه: ۴، ٢۴، ٢٥.

③ ذكر الشفاعة الكبرى تفصيلاً: ٥، ۶، ٨، ٣٨.

④ ذكرمن لهم الشفاعة؟: ٧، ٢٩، ٣٠.

⑤ أقسام الشافعين سوى النبي ﷺ : ٩، ١١، ٣١، ٣٢، ٣۴، ۴٠.

⑥ النجاة بقبول الشفاعة: ٥، ۶، ١٠، ١١، ١٢، ١٣ ، ١۴ ، ١۶، ١٧، ١٨، ٣٣، ٣٩.

⑦ النجاة بفضل الله تعالى بغيرواسطة الشفاعة: ١٢، ١٥، ١٨، ٢٠.

⑧ طريق فرحة أهل الجنة وخذلان أهل النار: ٢١، ٢٢.

⑨ مقامات الشفاعة: ٢۶.

⑩ ذكرالمقام المحمود: ٥، ٢٧.

⑪ ذكر الصراط والمرور عليه وهواحد مقامات الشفاعة: ١١، ١٣، ١۴، ٢٠، ٢۶، ٢٨، ٣۶.

دحوض كوثرتعارف: حوض مطلقاً هغه تالاب ته وائى په كوم كښې چې اوبه را جمع شوى وى خودلته د حوض څخه كوثرمراد دې.

په حوض كوثرد اوبو څكولو كيفيت: دَقيامت په ورځ چه كله خلق دَقبرونونه اوچتيږى اوميدان محشرته راشى هغه وخت به سخته تنده لګيدلې وى. دَحضورپاك امتيان به دهغوى حوض ته راځى او حضورپاك به په هغوى باندې د كوثر اوبه په خپلو لاسونو مباركو باندې څكوى. ښى طرف ته به صديق اكبر ﷺ ولاړ وى او ګس طرف ته به عمر فاروق ﷺ ولاړ وى په مينځ كښې به نبى مكرم وى او اوبه به په خلقو باندې څكوى. داحوض كوثر به دَميدان محشر وى دويم حوض كوثر به حضورپاك ته په جنت كښې ملاويږى دكوم اوبه چه به دَ نهر په صورت كښې دَ جنتيانو په كورونو كښې جارى وى اوكافران او بدعقيده خلق به حوض كوثرته نيزدې نه شى راتلې.

دشفاعة لغوى معنى: شفاعت دَ سفارش په معنى كښې دې يعنى ديوحاجت مند دپاره هغه چا سوال كول چاته چې د حاجت مند حاجت وى.

د شفاعت شرعی تعریف: دَالله تعالی په مخکښې دَ چا دَ ګناهونو دَمعافئی سفارش کول.

دشفاعت کولو شرطونه:

① **دمشفوع له ایمان:** دَالله تعالی په وړاندې دَ یو کافر سفارش نه شی کیدې اونه به دغه سفارش قبلیږی

② **دالله تعالی د طرفه دسفارش اجازت:** دَ شفاعت دَپاره دَ الله تعالی دَ طرف نه اجازت ضروری دې دَ اجازت نه بغیرخوك دَ چا شفاعت نه شی کولې دَقریشوکافرانو چه به دَ بتانودَپاره کوم شفاعت ثابتول غوښتل هغه شفاعت قهریه او شفاعت غالبه وودَ کوم چه په سختئی سره الله تعالی په قرآن کښې نفی فرمائیلې ده. لیکن په دې سره دَجائز شفاعت نفی نه کیږی.

دَ شفاعت قسمونه:

① **شفاعت کبری:** دَ دې شفاعت تعلق دَتولو انسانانو سره دې. رسول الله ﷺ به الله تعالی ته فرمائی چه میدان محشرکښې خلق تنګ شوی دی دَ هغوی حساب کتاب دې شروع کړې شی. حضورپاك به په مقام محمود کښې دَ الله تعالی په مخکښې سجده لګوی اوعجیبه محامدبه بیانوی. الله تعالی به اعلان اوفرمائی چه دَسجدې نه سراوچت کړه غواړه درکولې به شی. شفاعت کوه شفاعت به قبلولې شی. په دې باندې به حضورپاك اوفرمائی چه اې الله حساب کتاب شروع کړه. الله تعالی به اوفرمائی ته څه زه درځم دغه شان به دَشفاعت کبریٰ مرحله مکمل شی.

② **شفاعت صغری:** حضورپاك به دَخپل امت باره کښې شفاعت صغریٰ کوی دَدې دیرزیات قسمونه دی. خوتول هم دَ شفاعت صغریٰ صورتونه دی.

دشفاعت صغری صورتونه:

① هرنبی به په دخپل امت دپاره شفاعت کوی.

② عالمان به شفاعت کوی.

③ حافظان د قرآن پاک به د خپل خاندان د لسو ګناهګارانو دپاره شفاعت کوی.

④ شهیدان به شفاعت کوی.

⑤ قرآن پاک به د خپلو قاریانو دپاره شفاعت کوی.

⑥ روژه به د روژه دارو دپاره شفاعت کوی.وغیره

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۵٦٦]دَ حوض کوثر احوال

۵۵٦٦-()[۱] ۱ عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«بَيْنَا أَنَا أَسِيرُ فِي الْجَنَّةِ إِذَا أَنَا بِنَهَرٍ ۳ حَافَتَاهُ قِبَابُ الدُّرِّ الْمُجَوَّفِ، ۴ قُلْتُ: مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ؟ ۵ قَالَ: هَذَا الْكَوْثَرُ الَّذِي أَعْطَاكَ رَبُّكَ، ۶ فَإِذَا طِينُهُ مِسْكٌ أَذْفَرُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت انس ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ ما د معراج په شپه د جنت سیل کولو ناڅاپه زه یو نهر باندې تیر شوم ۳ چې د هغه دواړو طرفونو باندې د ملغلرو ګنبدونه وو ۴ ما پوښتنه وکړه اې جبرائیل ﷤ داڅه دی؟ ۵ هغوئ راته اوویل دا حوض کوثر دی چې تاسو ته ستاسو پروردګار عطا کړی دی ۶ بیا چې ما ولیدل نو د هغه خاوره د مشك په شان خوشبوداره وه . (بخاري)

حل اللغات:- ① حَافَتَاهُ: أي جانباه وطرفاه، دواړه طرفونه دنهر، ② قِبَابُ: دَدې مفرد قبة دې. ګنبدته وائي. ③ الدُّرِّ: ملغلرې، ④ الْمُجَوَّفِ: جوف خیټې ته وائی دلته هغه ملغلرې ته ونیلې شوې دې چه دَ دننه نه خالي او ډډ وی، ⑤ أَذْفَرُ: خوشبوئی به ئې ډیره تیزه وی.

تسهیلات:

قوله: إِذَا أَنَا بِنَهَرٍ حَافَتَاهُ قِبَابُ الدُّرِّ الْمُجَوَّفِ:

دحوض کوثر عمارت: دَخیمې په شان ګول عمارت وی یعنی دَ حوض کوثر دَنهر په غاړو باندې به دَ مرغلرو داسې ګنبدونه جوړوی چه دننه به په کښې دَ اوسیدو او دَ خوند اومزې ټول سامان موجود وی.

[۵۵٦۷]د حوض کوثر د اوبو دهغې خوش بوئی او دهغې د ګلاسونو ذکر

۵۵٦۷-()[۲] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ، وَزَوَايَاهُ سَوَاءٌ، مَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ، ۳ وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ، ۴ وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ، ۵ مَنْ يَشْرَبُ مِنْهَا فَلَا يَظْمَأُ أَبَدًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت عبد الله بن عمرو ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ زما حوض یعنی حوض کوثر د یومیاشت د مسافت په قدر اوږد دی او د هغه څلور واړه غاړې برابرې دي یعنی طول اوعرض کې هغه مربع دی د هغه اوبه د پیئو نه زیاتې سپینې ۳ او د هغه بوی د مشکو نه زیات خوشبودار دی ۴ او د هغه ګلاسونه د خپل چمك دمك

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب فی الحوض (رقم-۶۵۸۱) واحمد فی المسند: ۳/۱٦۴

[۲]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب فی الحوض (رقم-۶۵۷۹) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب إثبات حوض نبینا صلی الله علیه وسلم وصفاته (رقم-۲۷ - (۲۲۹۲) واحمد فی المسند: ۳/۳۸۴

او کثرت او زياتي د اعتبار نه د آسمان د ستورو په شان دی [۵] او کوم سړی چې د هغه اوبه اوڅکي هغه بيا هيڅکله نه تږی کيږي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① زَوَايَاهُ: د زاوية جمع ده، اطراف، غاړې. ② كِيزَانُ: ګلاسونه.

تسهيلات:

قوله: حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ

دحوض کوثر ښت والې: په دې کښې دَ حوض کوثر وسعت بيان کړې شوې دې چه دَ حوض کوثر دَ پلنوالی او اوږدوالی داحال دې چه که دَ هغې دَ يوې غاړې نه بلې غاړې ته څوک لاړ شي نو تلونکې به په يوه مياشت کښې دا فاصله پوره کړی.

قوله: وَزَوَايَاهُ سَوَاءٌ

دحوض کوثر مربع کيدل: دَ دې ګوټونه برابر دی يعنی حوض کوثر مربع دې. اوږدوالې پلنوالې او ژوروالې ئې يو شان دې دَدې هر يو ګوټ زاويه قائمه دې.

قوله: مَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ، وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ، وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ:

دحوض کوثر بعضې خصوصيات: ① دَدې حوض اوبه دَ پيئو نه هم زياتې سپينې دی
② دَ دې خوشبوئی دَ خالص مشك نه هم ښکلې ده.
③ دَدې دَ اوبو لوښی به پرق پروق کښې دَ آسمان دَ ستورو په شان دی
④ په شمير کښې دَ ستورو نه زيات دی.

قوله: مَنْ يَشْرَبُ مِنْهَا فَلَا يَظْمَأُ أَبَدًا:

دحشر څخه روسته دتږه: دَ حوض کوثر نه دَ اوبو څکولونه پس به دَهميشه دَ پاره تنده نه لګی. چونکه دَ قبرونو نه پاڅيدونکی مسلمانان به تږی وی په دې وجه به دَ حوض کوثر اوبه اول د تندې ماتولو دَپاره څکلې شی.

اشکال: چه کله دَ حوض کوثر په اوبوسره دَهميشه دَپاره تنده ختمه شی نوبيا په جنت کښې دَ اوبو نهر يا دَشاتو يا دَ پيئو يا دَ شرابو دَ نهرخه ضرورت دې؟

داشکال جواب: دَ حوض کوثر په اوبوسره به تنده ختمه شی. بيا چه کومې اوبه وی نو کيدې شی چه صرف دَخوند دَحاصلولو دَپاره وی او دَ خوند په توګه به ئې جنتيان څکی.

[۵۵۶۸] د حوض کوثر اوږدوالی او د هغې نور خصوصيات

۵۵۶۸-()[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «إِنَّ حَوْضِي أَبْعَدُ مِنْ أَيْلَةَ مِنْ عَدَنٍ، [۳] لَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ الثَّلْجِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ بِاللَّبَنِ، [۴] وَلَآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ

---

[1]) اخرجه مسلم فی كتاب الطهارة/باب استحباب إطالة الغرة والتحجيل فی الوضوء(رقم-۳۶ - (۲۴۷) والترمذی فی كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۳۴۴۵)وابن ماجه فی كتاب الزهد/باب صفة أمة محمد صلى الله عليه وسلم (رقم-)(۴۲۸۲) واحمد فی المسند: ۴۲۴/۴

النُّجُومِ، ⑤ وَإِنِّي لَأَصُدُّ النَّاسَ عَنْهُ كَمَا يَصُدُّ الرَّجُلُ إِبِلَ النَّاسِ عَنْ حَوْضِهِ". ⑥ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! أَتَعْرِفُنَا يَوْمَئِذٍ؟ ⑦ قَالَ: "نَعَمْ لَكُمْ سِيمَاءُ لَيْسَتْ لِأَحَدٍ مِنَ الْأُمَمِ، ⑧ تَرِدُونَ عَلَيَّ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوءِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② خما د حوض يعنى د حوضِ كوثر د دوارو سرونو د منځ فاصله دا يله او د عدن درمياني فاصلې نه هم زياته ده ③ او بلاشبه د دې حوض اوبه د واورې نه هم زياتې سپينې او دعسلو (شهد) نه هم زياتې خوږې دي چې په هغه كې پنې يو خاي شوي وي ④ او د دې آبخور ګلاسونه د آسمان دستورو نه هم زيات دي ⑤ او يقيناً زه به د نورو امتونو خلق دې حوض ته راتلو نه داسې منع كوم او تښتوم ځرنګه چې يو سړى د خلقو اوښان خپل حوض ته راتلو نه منع كوي او دا منع كول به په دې وجه وي چې امتِ محمدي سره دې فضيلت او خصوصيت كې نور خلق شريك نه وي او د دې امت خلق د نورو امتونو د خلقو نه ممتاز او منفرد وي ⑥ په دې اوريدو سره صحابه ؤ رضي الله عنهم عرض وكړو يا رسول الله! آيا تاسو به هغه وخت مونږ وپيژنئ؟ يعنى د ټول مخلوق دومره زبردست ازدهام ګنه ګونه كې آيا دا به ستاسو دپاره ممكنه وي چې خپل امت او د نورو امتونو خلقو په منځ كې فرق وكړې او هغه به كوم علامه وي چې د هغه په ليدو سره به تاسو خپل امت پيژندو سره حوض كوثر ته راپريږدئ او غير امتونه به هلته راتلو نه منع كوئ ⑦ حضور ﷺ وفرمايل هو زه به تاسو ډيرې آسانۍ سره وپيژنم دراصل ستاسو به يو خاص نښانې وي چې هغه نه به د نورو امتونو خلق محروم وي ⑧ او هغه علامه به داوي چې هركله تاسو زما طرف ته راځئ نو هغه وخت به ستاسو مخونه او ستاسو لاس پښې د اودس د نورانيت په سبب روښانه او ځلانده (ښائسته) وي. (مسلم)

حل اللغات: - ① أَيْلَةَ: دَ شام دَ ملك دَ يوښار نوم دى. ② عَدَن: په يمن كښې د بحراحمر په غاړه د يو ځاي نوم دې. ③ الثَّلْج: واوره، ④ أَحْلَى: ډيرې خوږې، ⑤ أَصُدُّ: زه به منع كوم. ⑥ سِيمَاءُ: نښه، علامت. ⑦ تَرِدُونَ: تاسو به راځئ. راتيريږئ به. ⑧ غُرًّا: روښانه، ځليدونكى. ⑨ مُحَجَّلِينَ: دَ ځناور په خپو لاسونوباندې چه كوم سپينه نښه وى هغې ته تحجيل وائى دلته دَ اودس دَ اندامونو پرق پروق مراد دې.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ حَوْضِي أَبْعَدُ مِنْ أَيْلَةَ مِنْ عَدَنٍ:

دايله محل وقوع: دَشام دَ ملك په ساحل كښې د يو ښار نوم دې او نن صبا دَ اسرائيل په قبضه كښې دې دكوم چه جديد وران شوې نوم ايلات دې دَبحر احمر يعنى بحيرهٔ قلزم په شمالى سر باندې واقع دې.

قوله: مِنْ عَدَنٍ:

دعدن محل وقوع: دا د بحر احمر په جنوبی غاړه باندې واقع دې دا يو مشهور د جزيرې په شان دښار نوم دې چه په يوه زمانه کښې د يمن بندرگاه وو "أصد" د بندولو په معنی کښې دې او "الناس" نه مراد د نورو امتونو خلق دي.

۵۵۰۰-(۱) [۱] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ عَنْ أَنَسٍ، [۲] قَالَ: "«تُرَى فِيهِ أَبَارِيقُ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ كَعَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ»".

ترجمه: [۱] او د مسلم په يوبل روايت کې چې حضرت انس رضی الله عنه نه منقول دی داسې دی [۲] چې حضور ﷺ وفرمايل په دې حوض کې به د سوني چاندي سرو زرو او سپينو زرو ګلاسونه وي چې د خپل چمک دمک او تعداد په اعتبار سره به د آسمان د ستورو په شان ښکاره کېږي

حل اللغات: - ① أَبَارِيقُ: د ابريق جمع ده. د اوبو څکلو لوښی. ګلاسونه.

۵۵۰۱-(۲) [۱] وَفِي أُخْرَى لَهُ عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: سُئِلَ عَنْ شَرَابِهِ، [۲] فَقَالَ: "«أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ [۳] يَغُتُّ، فِيهِ مِيزَابَانِ يَمُدَّانِهِ مِنَ الْجَنَّةِ: [۴] أَحَدُهُمَا مِنْ ذَهَبٍ وَالْآخَرُ مِنْ وَرِقٍ»".

ترجمه: [۱] او د مسلم په يوبل روايت کې د حضرت ثوبان رضی الله عنه نه داسې منقول دی چې هغوئ اوويل د حضور ﷺ نه د دې حوض د اوبو په باره کې پوښتنه وشوه [۲] نو حضور ﷺ وفرمايل د دې او به د پيئونه زياتې سپينې او د عسلو (شهد) نه زياتې شيرينې خوږې دي [۳] د دې حوض ډکولو د پاره په دې کې دوه زورداري ناوی رابهيږي چې د جنت د نهر نه راځي چې د هغه نوم هم کوثر دی [۴] په هغه کې يوه پرناله ناوه د سوني ده او دويمه د چاندي

حل اللغات: - ① أَحْلَى: ډيرې خوږې. ② يَغُتُّ: د فَرَّ يَفِرُّ او مَدَّ يَمُدُّ دواړو په وزن باندې ونيلی کيږی. په زور سره د اوبو راغورزيدل. لکه آبشار. ③ مِيزَابَانِ: د ميزاب جمع ده. ناوې او پرنالې ته وائی ④ يَمُدَّانِهِ: رابهيږی به. راوځی به. ⑤ وَرِقٍ: چاندی. سپين زر

تسهيلات:

د بعضې جملو وضاحت:

① يَغُتُّ: يعنی په تيزه او په زور سره به په دې حوض کښې دوه ناوې د جنت نه راپريوځی اودا راپريوتل به مسلسل وی

---

[۱] اخرجه البخاری فی كتاب الرقاق/باب فی الحوض (رقم-۶۵۸۰) ومسلم فی كتاب الفضائل/باب إثبات حوض نبينا صلى الله عليه وسلم وصفاته ۴۳ (۲۳۰۳) والترمذی فی كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول إذا ودع إنسانًا (رقم ۳٤٤٢) وابن ماجه فی كتاب الزهد/باب ذكر الحوض (رقم-۴۳۰۵)

[۲] اخرجه مسلم فی كتاب الفضائل/باب إثبات حوض نبينا صلى الله عليه وسلم وصفاته (رقم-۳۷ - (۲۳۰۱) وابن ماجه فی كتاب الزهد/باب ذكر الحوض (رقم-۴۳۰٤) واحمد فی المسند: ۲۵۷/۱

④مِنْ ذَهَبٍ:دَ سرو زرو او سپینوزرو سره دَ اوبو دَ زینت طرف ته اشاره ده یا کیدې شی چه دَ ناوو رنګ بیان کړې شوې وی. دَ شاتو ناوه دَ سرو زرو او دَ پیئو ناوه، دَ سپینو زرو به وی

[۵۵۷۱]بې دینه مرتد خلق به دَحوض کوثر نه لرې ساتلې شی

۵۵۷۱-()[۳] [۱]وَعَنْ سَهْلٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ:قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲]"«إِنِّي فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ، [۳]مَنْ مَرَّ عَلَيَّ شَرِبَ، وَمَنْ شَرِبَ لَمْ يَظْمَأْ أَبَدًا، [۴]لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ أَقْوَامٌ أَعْرِفُهُمْ وَيَعْرِفُونَنِي، [۵]ثُمَّ يُحَالُ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ، [۶]فَأَقُولُ: إِنَّهُمْ مِنِّي، فَيُقَالُ: إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ؟ [۷]فَأَقُولُ: سُحْقًا سُحْقًا لِمَنْ غَيَّرَ بَعْدِي»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱]او حضرت سهل بن سعد ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲]زه به حوض کوثر باندې یم یعنی هلته به ستاسو د ټولو نه مخکې رسیدو سره ستاسو استقبال کوم [۳]کوم چې څما په خوا کې تیریږي هغه به د دې حوض اوبه څکي او څوک چې د دې اوبه اوڅکي هغه به هیڅکله تږی نشی [۴]هلته به ماته څما د امت نه څه داسې خلق هم راشي چې زه به یې پیژنم او هغوئ به ما وپیژني [۵]خوبیابه څما او د هغوئ ترمنځه څه شی حائل شي چې هغوئ به څما نه او د حوض کوثر نه لري کړي [۶]په دې لیدو سره به زه وایم چې داخلق خو څما خپل دی یعنی داخلق څما د امت افراد دي یا دا هغه خلق دي چې په ښکاره څما صحابیان پاتې شوي دي بیا دوئ ماته راتلو نه ولې منع کولی شي د دې په جواب کې به ماته وښودل شي چې تاسو ته معلومه نه ده دوئ ستاسو نه وروسته څه څه نوي خبري پیدا کړي دی [۷]په دې اوریدو سره به زه وایم داخلق دې هلاک شي د الله ﷻ د رحمت نه دي لرې شی چې څما د وفات نه وروسته په دین او سنت کې تبدیلي وکړه (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①فَرَطُكُمْ:فرط پیش رو ته وائی، مخکښې د انتظام صحیح کولو دپاره تلونکې سړې. ②سُحْقًا: هلاک دې شی. ③غَيَّرَ: چه بدل ئې کړو.

تسهیلات:

قوله:لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ أَقْوَامٌ أَعْرِفُهُمْ وَيَعْرِفُونَنِي:

د پیژندګلو وجه:نبی ﷺ خوبه ئې څکه پیژنی چې دا به هغه خلقو وی کوم چې د نبی ﷺ د وفات څخه روسته مرتدشوی وی.اویا به ئې د غرالمحجلین په وجه پیژنی.که ددې څخه بدعتیان مراد شی.اونبی ﷺ به څکه پیژنی چې دوی ته الله تعالی کوم مقام اوشان

---

[۳] اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب الصراط جسر جهنم (رقم-۶۵۷۳) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب إثبات حوض نبینا صلی الله علیه وسلم وصفاته (رقم-۲۶ - (۲۲۹۰) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب ذکر الحوض (رقم-۴۳۰۴) واحمد فی المسند: ۲۵۷/۱

ورکړې وی هغه به دبل هیڅ چا نه وی.

قوله: إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ؟:

د محدثينو په مصداق كښې دوه احتمالات: ① دا به هغه خلق وی چه دَحضورپاک په زمانه كښې ئى اسلام راوړې وو بيا دَهغوى دَ وفات نه پس مرتد شو هغوى به دَحوض كوثر نه منع كولې شى.

② دې څخه مراد هغه بدعتيان خلق دى چه په بدعت مكفره كښې اخته شوى وو.

[۵۵۷۲] دَحساب شروع كولودپاره پيغمبرانوته خواست

۵۵۷۲-()[۵] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «يُحْبَسُ الْمُؤْمِنُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُهَمُّوا بِذَلِكَ، [۳] فَيَقُولُونَ: لَوِ اسْتَشْفَعْنَا إِلَى رَبِّنَا فَيُرِيحُنَا مِنْ مَكَانِنَا! [۴] فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ: [۵] أَنْتَ آدَمُ أَبُو النَّاسِ، خَلَقَكَ اللَّهُ بِيَدِهِ، وَأَسْكَنَكَ جَنَّتَهُ، [۶] وَأَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهُ، وَعَلَّمَكَ أَسْمَاءَ كُلِّ شَيْءٍ، [۷] اشْفَعْ لَنَا عِنْدَ رَبِّكَ حَتَّى يُرِيحَنَا مِنْ مَكَانِنَا هَذَا. [۸] فَيَقُولُ: لَسْتُ هُنَاكُمْ - وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي أَصَابَ: أَكْلَهُ مِنَ الشَّجَرَةِ وَقَدْ نُهِيَ عَنْهَا - [۹] وَلَكِنِ ائْتُوا نُوحًا أَوَّلَ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللَّهُ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ،

ترجمه: [۱] وحضرت انس رضی الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] دَ قيامت په ورځ به ميدانِ حشر كې مؤمنين منع كول كيږى يعنى ټول به په يوداسې ځاي كې محصور (بند سي) چې هيڅ سړى به هم څه قسم نقل او حركت نشي كولى هر سړى به د سكتې په شان كيفيت كې حصار وي ددي پورې چې ټول خلق به د هغه محصور كيدو په وجه په سخت فكر او تردد كې مبتلاشي [۳] بيابه هغوئ خپلو كې تذكره كوي چې كاشكى آرمان مونږ ته يو داسې سړى حاصل شي چې زمونږ پروردگار ته زمونږ سفارش وكړي او مونږ ته د دې سختئ او پريشانئ نه خلاصون راكړي [۴] نو بيابه څه خلق د ټولو نمايندګي كولو سره حضرت آدم عليه السلام ته راشي [۵] او هغوئ ته به وايي چې تاسو آدم عليه السلام يئ د ټولو خلقو پلار يئ الله تعالىٰ تاسو بغير څه واسطي او وسيلي خپل لاس سره يعنى خپل قدرتِ كامله سره پيدا كړى تاسو ته يي د جنت سكونت (استوګنه) دركړله [۶] په خپلو فرښتو يي د تحيه سجده تاسو ته وكړله او تاسو ته يي د هرشي نوم و خودى [۷] نو تاسو خپل پروردګار ته چې تاسو ته يي دومره فضيلتونه او اعزازات دركړي دي زمونږ سفارش وكړئ چې هغه مونږ ددي سخت هولناك او پريشان كن ځاي نه ويستلو سره راحت او اطمينان راكړي [۸] حضرت آدم عليه السلام به دې اوريدو سره به وايي چې زه د دې مرتبي لائق نه يم يعنى زه دا مرتبه درجه نه لرم چې نن ورځ باركاه كبريائي كې د شفاعت كولو جرئت

---

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار (رقم-۶۵۶۵) ومسلم في كتاب الإيمان/باب أدنى أهل الجنة منزلة فيها (رقم-۳۲۲ - (۱۹۳) والترمذي في كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الشفاعة (رقم-۲۴۳۴) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب ذكر الشفاعة (رقم-۴۳۱۲) واحمد في المسند: ۱۴۴

وکړم بیا به حضرت آدم علیه السلام د خپل هغه خطا ذکر وکی چې هغوئ د غنمو د بوټي خوړلو په صورت کې کړی وه حالانکه هغه بوټی ونې ته نزدې ورتلو نه منع شوی وو ⑨دي نه وروسته به هغه اوواني تاسو نوح علیه السلام ته ورشئ ځکه چې هغه اول نبي دي چې الله تعالی زمکې والاؤته لیږلي دي ،

۱فَيَأْتُونَ نُوحًا فَيَقُولُ: لَسْتُ هُنَاكُمْ - ۲وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي أَصَابَ: سُؤَالَهُ رَبَّهُ بِغَيْرِ عِلْمٍ - ۳وَلَكِنِ ائْتُوا إِبْرَاهِيمَ خَلِيلَ الرَّحْمَنِ. ۴قَالَ: فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ ۵فَيَقُولُ: إِنِّي لَسْتُ هُنَاكُمْ - ۶وَيَذْكُرُ ثَلَاثَ كِذْبَاتٍ كَذَبَهُنَّ - ۷وَلَكِنِ ائْتُوا مُوسَى عَبْدًا آتَاهُ اللَّهُ التَّوْرَاةَ، وَكَلَّمَهُ وَقَرَّبَهُ نَجِيًّا.

توجمه: ۱نوخلګ به نوح علیه السلام ته ورشي او هغوئ ته به دشفاعت د پاره درخواست وکی حضرت نوح علیه السلام به جواب ورکړي چې زه د دې مرتبې درجې لائق نه یم ۲او هغوئ به د خپل هغه خطا غلطۍ ذکر وکړي چې هغوئ په ناپوهي کې د الله ﷻ نه د خپل ځوی د غرقیدو نه د بچ کیدو د پاره د درخواست کولو په صورت کې کړی ۳وه بیابه هغه مشوره ورکړي چې تاسو خلق ابراهیم علیه السلام ته ورشئ چې د الله ﷻ خلیل او دوست دی ۴حضور ﷺ وفرمایل هغه خلق به دي خبري اورید وسره حضرت ابراهیم علیه السلام خلیل الله ته راشي او هغوئ ته به دشفاعت د پاره درخواست وکړي ۵حضرت ابراهیم علیه السلام به جواب ورکړي زه د دې لائق نه یم ۶او هغه به په دنیا کې درې ځله د خپل دروغ ویلو ذکر وکړي ۷بیابه مشوره ورکړي چې تاسو خلق موسیٰ ته ورشئ هغه د الله ﷻ داسې بنده دی چې الله ﷻ ورته خپل عظیم الشان کتاب تورات عطا کړی دی او د بني اسرائیلو ټول انبیاء یې د هغوئ تابع جوړ کړل او براه راست خپلې هم کلامۍ سره یې مشرف کړی دی او خپل کمال قُرب عطا کولو سره خپل محرم راز یې جوړ کړی دی

۱قَالَ: فَيَأْتُونَ مُوسَى فَيَقُولُ: إِنِّي لَسْتُ هُنَاكُمْ - ۲وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي أَصَابَ - قَتْلَهُ النَّفْسَ - ۳وَلَكِنِ ائْتُوا عِيسَى عَبْدَ اللَّهِ وَرَسُولَهُ وَرُوحَ اللَّهِ وَكَلِمَتَهُ ۴قَالَ: فَيَأْتُونَ عِيسَى فَيَقُولُ: لَسْتُ هُنَاكُمْ ۵وَلَكِنِ ائْتُوا مُحَمَّدًا عَبْدًا غَفَرَ اللَّهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ،

توجمه: ۱حضور ﷺ وفرمایل هغه خلق به دي خبري اورید وسره حضرت موسیٰ علیه السلام ته راشي او شفاعت د پاره به ورته درخواست وکړي حضرت موسیٰ علیه السلام به جواب ورکړي چې زه د دې مرتبې لائق نه یم ۲او د خپل خطا ذکر به وکړي چې یو قبطي قتلولو په صورت کې ځني سرزد شوی وه یعنی هغوئ په قهر راتلو سره یو قبطي یې په سوك وهلی وو چې په هغه سره مړسو ۳بیابه هغه مشوره ورکړي چې تاسو عیسیٰ علیه السلام ته ورشئ چې د الله ﷻ بنده او رسول دی هغه سراسر روحانی دی چې د جسماني مادي نه بغیر محض د الله ﷻ په قدرت سره پیدا شوی وو او د نورو د جسماني حیات سبب به جوړیدی په

دي طور چې مړی به يې ژوندی کول او هغه د الله ﷻ کلمه ده (چې يو کلمه کن سره پيداشوی وو) [۴] حضور ﷺ وفرمايل نو هغه خلق به په دې اوريدو سره حضرت عيسی علیه السلام ته راشي او هغوئ ته به دشفاعت د پاره درخواست وکړي حضرت عيسی علیه السلام به جواب ورکړي چې زه د دې مرتبې لائق نه يم [۵] البته تاسو خلق حضرت محمد مصطفی ﷺ ته ورشئ چې د الله ﷻ داسې بنده دی چې مخکني وروستني ټول ګناهونه يې الله ﷻ بخښلي دي هغوئ به يقيناً ستاسو خلق شفاعت وکړي

[۱] قَالَ: فَيَأْتُونِي [۲] فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ، فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ، [۳] فَإِذَا رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا، [۴] فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَدَعَنِي فَيَقُولُ: ارْفَعْ مُحَمَّدُ، [۵] وَقُلْ تُسْمَعْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، وَسَلْ تُعْطَهْ، [۶] قَالَ: فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأُثْنِي عَلَى رَبِّي بِثَنَاءٍ وَتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ [۷] ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا، [۸] فَأَخْرُجُ، فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ، [۹] ثُمَّ أَعُودُ الثَّانِيَةَ فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ. [۱۰] فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ، فَإِذَا رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَدَعَنِي، ثُمَّ يَقُولُ: "ارْفَعْ مُحَمَّدُ، وَقُلْ تُسْمَعْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، وَسَلْ تُعْطَهْ".

ترجمه: [۱] حضور ﷺ وفرمايل بيا به خلق د شفاعت درخواست سره ماته راشي او زه به د هغوئ د شفاعت د پاره تيارشم [۲] او دې مقصد د پاره به د رب العزت درته رسيدو سره د هغه بارګاه کې د پيش کيدو اجازت طلب کړم الله ﷻ به ماته خپله بارګاه کې د پيش کيدو اجازت عطاکړي [۳] زه چې د هغه په حضور کې رسيدو سره هغه ووينم نو د هغه د هيبت او خوف نه او د هغه تعظيم کولو د پاره به ورته په سجده پريوځم [۴] او الله ﷻ چې څومره وخت مناسب ګڼي هغومره وخت به ما په سجده پريږدي بيا به الله ﷻ وفرمايي چې اې محمد! سر پورته کړه [۵] څه چې وئيل غواړې هغه اووئيلو ستاخبره به اوريدل کيږي ته چې د چا په حق کې غواړې شفاعت وکړه ستا شفاعت به قبول شي او څه چې غواړې وغواړه دربه يې کړم [۶] حضور ﷺ وفرمايل په دې اوريدو سره زه به خپل سر پورته کړم او هغه حمد وتعريف سره چې پروردګار به يې ماته وښايي د هغه حمد وثناء به بيان کړم [۷] بيا به زه شفاعت کوم او زما د پاره به د شفاعت يو حد مقرر شي [۸] دې نه وروسته به زه د درګاه رب العزت نه بهر راووځم او هغه متعين جماعت به د دوزخ نه راايستلو سره په جنت کې داخل کړم [۹] بيا به د نورو جماعتونو په حق کې شفاعت د پاره به زه دوباره د رب العزت په در حاضر کيدو سره د هغه په خدمت کې د پيش کيدو اجازت طلب کړم [۱۰] ماته به د هغه بارګاه کې د پيش کيدو اجازت راکړې شي او هرکله چې زه د هغه په حضور کې رسيدو سره هغه ووينم نو په سجده به پريوځم او الله ﷻ چې د څومره غواړي زه به په سجده پروت يم بيا به وفرمايي اې محمد! خپل سر پورته کړه څه چې وئيل غواړې اووئيلو ستا خبره به اوريدل کيږي شفاعت کوه قبول به شي وغواړه دربه يې کړم

[۱] قَالَ: فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأُثْنِي عَلَى رَبِّي بِثَنَاءٍ وَتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ، [۲] ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا، فَأَخْرُجُ، فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ، [۳] حَتَّى مَا يَبْقَى فِي النَّارِ إِلَّا مَنْ قَدْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ، أَيْ: وَجَبَ عَلَيْهِ الْخُلُودُ، [۴] ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: ﴿عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا﴾ [الإسراء: ۷۹] [۵] قَالَ: " وَهَذَا الْمَقَامُ الْمَحْمُودُ الَّذِي وُعِدَهُ نَبِيُّكُمْ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ وفرمايل په دي اوريدو سره به زه خپل سر پورته کړم او هغه حمد او تعريف سره چې پروردګار به يې ماته وښايي د هغه حمد او ثناء به بيان کړم [۲] بيا به زه شفاعت کوم او زما د پاره به د شفاعت يو حد مقرر شي دي نه وروسته به زه درګاه رب العزت نه بهر را ووځم او هغه متعين جماعت به دوزخ نه راايستلو سره په جنت کې به يې داخل کړم [۳] دي پورې چې په دوزخ کې د هغه چا نه علاوه هيڅوك باقي پاتې نشي کوم چې قرآن هغوئ منع کړي وي (قتاده رحمه الله فرمائي) بس هغه خلق به په دوزخ کې باقي پاتې شي کوم چې د قرآن کريم د حکم په موجب هميشه هميشه د پاره د عذاب مستحق ګرځول شوي دي او هغه کفار دي [۴] بيا حضور ﷺ په استشهاد کښې د قرآن کريم دا آيت تلاوت کی عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا اميد دی چې ستاسو رب به تاسو ته مقام محمود درکړی [۵] او بيا حضور ﷺ وفرمايل دا هغه مقام محمود دی چې د هغه وعده الله ﷻ ستاسو نبي سره کړيده. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① يَهُمُّوا: غمونه اوفکرونو به کوی. ② اسْتَشْفَعْنَا: شفاعت اوغواړو مونږ. ③ يُرِيحُنَا: راحت او خلاصون به راکړی مونږته. ④ أَصَابَ: رسيدلې وو (کړې ده). ⑤ نَجِيًّا: رازدار. ⑥ يَحُدُّ: حد او تعيين به اوشي. محدود به کړی ⑦ الْخُلُودُ: دهميشه هميشه. ⑧ مَقَامًا مَحْمُودًا: دا يو خاص مقام اومرتبه ده چه زمونږ نبی عليه السلام ته به ملاويږی.

تسهيلات:

قوله: لَسْتُ هُنَاكُمْ.

دمذکوره جملې مفهوم: يعنی زه دَمقام دَ شفاعت نه لرې يم ته چه څنګه زماباره کښې ددې کاردَپاره خيال کوې زه دَ دغه مقام دَپاره نه يم دا زمانه علاوه دَبل چا کار دې.

قوله: وَلَكِنِ ائْتُوا نُوحًا أَوَّلَ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللَّهُ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ:

اشکال: دَحضرت نوح عليه السلام نه مخکښې ډيرزيات انبياء تيرشوی دی نو هغوی ته اول نبی څنګه اووئيلې شو؟

د اشکال جواب: ① دَ کافرانودَ قوم طرف ته دَ مقابلې او دعوت سره اول نبی حضرت نوح عليه السلام وو چه الله تعالی رسول جوړولوسره ليږلې وو دهغوی دَ زمانې نه مخکښې کفر نه وو دَ کافرانو قوم طرف ته هغوی راتلونکی اول نبی وو.

④اولو العزم نبی دَهغوی نه مخکښې څوك نه وو. دَ اولو العزم په اعتبارسره ورته اول نبی اوفرمائیلې شو.

قوله: ثَلَاثَ كِذْبَاتٍ:

د ثلاث څخه مراد: ⓵اني سقيم: طرف ته اشاره ده. یعنی کله چې ابراهیم علیه السلام څخه د قوم خلقو مطالبه وکړه چې ولې میلې ته نه ځې نودوی ورته وئیلی وو چې زه بیمار یم. دلته دا توریه وه چې زه ستاسو دبتانو دعبادت څخه بیماریږم. په ما باندې ثقالت راځی اوما ته روحانی تکلیف ملاویږی.

② "بل فعله کبیرهم" طرف ته اشاره ده یعنی کله چې ابراهیم علیه السلام بتان مات کړل او مشرکانو ده څخه پښتنه کړه چې دا بتان چا مات کړی دی نودوی ورته اوفرمائیل چې دا بتان دې غټ بت مات کړی دی حالانکه بتان خو ابراهیم علیه السلام مات کړی وو. په دې جواب کښې ابراهیم هغوی ته دهغوی غلطی په ګوته کول غوښتل چې د دې د خُلې څخه په خپله دا جواب راوځی چې دا خو بتان دی ماتول نشی کولې نودې به ورته اووائی چې تاسو دهغه بتانو عبادت کوئ چې تاسو په خپله هم د هغوی د عجز اقرار کوئ.

③ "هذه أختي" طرف ته اشاره ده. یعنی ابراهیم علیه السلام چې کله یوملک ته ورداخل شو اودهغې ملک د بادشاه دا قانون وو چې کله به یوه مسافره ښځه دهغه ملک ته داخله شوه نود هغې څخه به ئې خپل نفسانی خواهش پوره کولوخوکه هغې سره به نارینه وو اوهغه نارینه به د هغه محرم یعنی پلار یا روور وو. نوبیا به ئې ورته تعرض نه کولو. په دغه موقع ابراهیم علیه السلام سره ساره بی بی وه نوابراهیم علیه السلام ورته د توریه په شکل کښې اوفرمائل چې دا زما خور ده یعنی زما اسلامی خور ده. دې دپاره چې د ظالم بادشاه د ظلم څخه بچ شی.

په توریه باندې د کذب اطلاق: دادَ توریه په توګه کلام وو دروغ نه وو. دَعربو په متل کښې توریه ته چا دروغ نه دی وئیلی البته په ظاهری الفاظو کښې داسې ښکاری چه دروغ دی. دَدې ظاهر په اعتبار سره په دې باندې دَ دروغو اطلاق کړې شوې دې.

دتوریه تعریف: توریه دې ته وائی چې متکلم مخاطب ته کومه خبره کوی نومخاطب ترې نزدې اومتبادره معنی مراد واخلی او متکلم ترې لرې معنی مراد واخلی. لکه د هجرت په واقعه کښې چې کلی د ابوبکررضی الله عنه څخه تپوس اوشوچې دا تا سره څوک دې نوهغوی ورته جواب ورکړو چې دا دلیل دې ماته لار ښائی یعنی په هغه زمانه کښې به چې څوک ناآشنا ځائې ته تلل نویوکس به ئې په مزدوری باندې اونیولوچې ماته به ته لاره ښائې نوهغه ته به ئې دلیل وئیل نوپه دې جواب کښې ابوبکر رضی الله عنه د آخرت

او جنت لاره مراد اخستې وه او مخاطب ترې نزدې او متبادره معنی مراد اخستې وه دې نه توریه وائی.

قوله: لَسْتُ هُنَاكُمْ:

د عیسی علیه السلام د شفاعت څخه عذر پیش کول: یعنی حضرت عیسی علیه السلام به فرمائی دازما کار نه دې څکه چه زه خو خلقو دَ الله تعالی په مقابله کښې راوستې او درولې یم او ماته ابن الله وئیلې شوې دی. اوس زه ویرېږم هم او حیاء هم راځی په دې وجه دَ الله تعالی په وړاندې نه شم ورتلې. تاسو محمد ﷺ له لاړشئی څکه چه الله تعالی دَهغوی وړاندې روستو تولې خطاګانې معاف کړی دی.

قوله: ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا:

په شفاعت کښې تحدید: یعنی په شفاعت کښې به تحدید او تعین وی مثلاً دا تحدید به وی چه دَزناکارو شفاعت اوکړه دَ شرابیانو شفاعت اوکړه دَ فلانکی فلانکی شفاعت قبول دې او هغه تاسو اوکړئی دې نه علاوه سفارش مه کوئی. دا تحدید دې.

قوله: حَتَّى مَا يَبْقَى فِي النَّارِ إِلَّا مَنْ قَدْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ:

د محبوس القرآن څخه مراد: یعنی قرآن دا مخلد فی النار ګرځولې وی. ددې څخه کافران مراد دی چې دهغوی په باره کښې قران پاک فرمائیلی دی چې دوی به په جهنم کښې همیشه وی. «خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا».

[۵۵۷۳] دمختلفو پیغمبرانو د سفارش کولو څخه معذرت

۵۵۷۳-()[۲] ١ وَعَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ " إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ مَاجَ النَّاسُ بَعْضُهُمْ فِي بَعْضٍ، ٣ فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ: اشْفَعْ إِلَى رَبِّكَ. ٤ فَيَقُولُ: لَسْتُ لَهَا وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِإِبْرَاهِيمَ فَإِنَّهُ خَلِيلُ الرَّحْمَنِ، ٥ فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ، فَيَقُولُ: لَسْتُ لَهَا، ٦ وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِمُوسَى فَإِنَّهُ كَلِيمُ اللهِ، فَيَأْتُونَ مُوسَى - عَلَيْهِ السَّلَامُ - ٧ فَيَقُولُ: لَسْتُ لَهَا، وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِعِيسَى فَإِنَّهُ رُوحُ اللهِ وَكَلِمَتُهُ،

ترجمه: ١ او حضرت انس رضی الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ هرکله چې د قیامت ورځ شی نو په میدان حشر کې به خلق یوبل سره د اضطراب او افرا تفرې په حالت کې وي یعنی د هغه ځاي سختي ګرمي او هولناکی نه بیتا به کیدو سره اخوا دیخوا به تښتي راتښتي او په خپلو کې به صلاح مشوره کوي چې دي هولناکی نه د خلاصون لار راوایستل شي ٣ نو هغوئ به حضرت آدم ته راسی او ورته به عرض وکړي چې تاسو خپل پرورد ګار ته شفاعت وکئ چې زمونږ د حساب کتاب حکم جاري کی او مونږ ته اجر او

---

[1]) اخرجه البخاري فی کتاب التوحید/باب کلام الرب عز وجل یوم القیامة مع الأنبیاء وغیرهم (رقم-۷۵۱۰) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب أدنی أهل الجنة منزلةً فیها (رقم-۳۲۶ - (۱۹۳)

ثواب يا عذاب راكولو سره زمونږ معامله يو طرف ته كړي ۴ حضرت آدم علیه السلام به جواب وركړي چې زه د شفاعت اهل نه يم البته تاسو خلق ابراهيم ته ورشئ هغه د الله دوست دى او ستاسو شفاعت كولى شي ۵ نو هغه خلق به حضرت ابراهيم ته ورشي او حضرت ابراهيم به هم دا جواب وركړي چې زه د شفاعت اهل نه يم ۶ البته تاسو خلق حضرت موسٰى ته ورشئ هغه د الله كليم دى او ستاسو شفاعت كولى شي هغه خلق به حضرت موسٰى ته ورشي ۷ او حضرت موسٰى به هم داجواب وركړي چې زه د شفاعت اهل نه يم البته تاسو خلق حضرت عيسٰى ته ورشئ هغه د الله ﷻ روح او د هغه كلمه ده او ستاسو شفاعت كولى شي

حل اللغات: - ① مَاجَ: يوبل كښې ورننوتل يعني داضطراب او افرا تفرى حالت كښې به وى،

۱ فَيَأْتُونَ عِيسَى، فَيَقُولُ: لَسْتُ لَهَا، ۲ وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِمُحَمَّدٍ، فَيَأْتُونِي فَأَقُولُ: أَنَا لَهَا ۳ فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي، فَيُؤْذَنُ لِي، ۴ وَيُلْهِمُنِي مَحَامِدَ أَحْمَدُهُ بِهَا لَا تَحْضُرُنِي الْآنَ، ۵ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ، ۶ وَأَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا، فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ! ارْفَعْ رَأْسَكَ، ۷ وَقُلْ تُسْمَعْ، وَسَلْ تُعْطَهْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، ۸ فَأَقُولُ يَا رَبِّ! أُمَّتِي أُمَّتِي. ۹ فَيُقَالُ: انْطَلِقْ، فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ شَعِيرَةٍ مِنْ إِيمَانٍ، ۱۰ فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ، ثُمَّ أَعُودُ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ، ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا،

ترجمه: ۱ هغه خلق به حضرت عيسٰى ته ورشي حضرت عيسٰى به هم دا جواب وركړي چې زه د شفاعت اهل نه يم ۲ تاسو حضرت محمد ﷺ ته ورشئ هغه ستاسو شفاعت كولى شي حضور ﷺ وفرمايل بيابه خلق ماته راشي او ماته به د شفاعت درخواست وكړي زه به ورته وايم هو بې شكه زه دشفاعت اهل يم چې داكار كولى شم د بل چا د وس خبره نه ده ۳ بيابه زه بارګاه رب العزت كې د پيش كيدو اجازت طلب كړم ماته به د پيش كيدو اجازت راكړې شي ۴ او په دې سره به الله ﷻ ځما په زړه كې د خپل حمد وثناء الفاظ واچوي ۵ چې د هغه په ذريعه به هغه وخت زه د هغه حمد وثناء اووايم او هغه حمد وثناء چې به په كومو الفاظو او كوم اسلوب كې وي دا وخت ماته معلومه نه ده ۶ بهرحال زه چې د هغه بارګاه كې پيش شم او هغه ووينم نو په سجده به ورته پريوځم او هغه حمد وثناء به يې بيان كړم بيابه ماته اوويل شي اې محمد! خپل سر پورته كړه ۷ څه چې وئيل غواړې اووئيلو ستا خبره به اوريدى شى څه چې غواړې وغواړه زه به يې دركړم كوم شفاعت چې كول غواړې وكړه زه به يې قبول كړم ۸ زه به سر د سجدې نه اوچتولو وروسته يا سجده كې عرض وكړم چې اې ځما پروردګاره! ځما امت وبخښې ځما په امت باندې رحم وكړې يا دامطلب دى چې اې ځما پروردګاره! زه د خپل امت په باره كې شفاعت كوم ۹ ماته به اوويل شي چې څه هر هغه سړى د دوزخ نه راوباسه چې د هغه په زړه كې د وربشې برابرهم ايمان وى ۱۰ نو زه به لاړشم او د پروردګار د حكم مطابق به عمل

وکړم دي نه وروسته به بیا بارګاه رب العزت کې حاضر شم اوپه هغه الفاظو کې د الله ﷻ حمد وثناء بیانولو سره په سجده به پریوځم

حل اللغات:- ④يُلْهِمُنِي: الهام به اوکړی ماته، وابه چوی ماته، ④مَحَامِدَ: حمدونه او ثناګاني، ④شَعِيرَةٍ: اوربشي، ⑤أَخْرِجْ: پرېږو به اوځم،

۱ فَيُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ! ارْفَعْ رَأْسَكَ، وَقُلْ تُسْمَعْ، وَسَلْ تُعْطَهْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، ۲ فَأَقُولُ: يَا رَبِّ! أُمَّتِي أُمَّتِي. ۳ فَيُقَالُ: انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ أَوْ خَرْدَلَةٍ مِنْ إِيمَانٍ، ۴ فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ، ثُمَّ أَعُودُ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ، ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا، ۵ فَيُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ! ارْفَعْ رَأْسَكَ، وَقُلْ تُسْمَعْ، وَسَلْ تُعْطَهْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، ۶ فَأَقُولُ: يَا رَبِّ! أُمَّتِي أُمَّتِي، ۷ فَيُقَالُ: انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ أَدْنَى أَدْنَى أَدْنَى مِثْقَالِ حَبَّةِ خَرْدَلَةٍ مِنْ إِيمَانٍ، فَأَخْرِجْهُ مِنَ النَّارِ،

ترجمه: ۱ بیابه ماته اوویل شي اې محمد! خپل سر پورته کړه څه چې وئیل غواړې اوونیلو ستا خبره به اوریدی شي څه چې غواړې وغواړه زه به یې درکړم او کو شفاعت چې کول غواړې وکړه زه به یې قبول کړم ۲ زه به عرض وکړم اې څما پروردګاره! څما امت وبخښې څما په امت رحم وکړي ۳ ماته به اوویل شي چې څه هرهغه سړی د دوزخ نه را اوباسه چې د هغه په زړه کې د ذرې یا د اورې رائې د دانې برابرهم ایمان دی ۴ بیابه زه لاړشم او د پروردګار د حکم مطابق به عمل وکړم دې نه وروسته به بیا زه بارګاه رب العزت کې حاضر شم اوپه هغه الفاظو کې به د الله ﷻ حمد وثناء ویلو سره په سجده ورته پریوځم ۵ بیابه ماته اوویل شي اې محمد! خپل سر پورته کړه څه چې وایې اوونیلو ستا خبره به اوریدل کیږي څه چې غواړې وغواړه زه به یې درکړم او کوم شفاعت چې کول غواړې وکړه زه به یې قبول کړم ۶ زه به عرض وکړم چې اې ربه څما امت وبخښې څما په امت رحم وکړي ۷ ماته به اوویل شي چې لاړ شه او هرهغه سړی د دوزخ نه رااوباسه چې د هغه په زړه کې د اورې رائې د ادنی نه ادنی ادني داني برابر هم ایمان دی

حل اللغات:- ⑥خَرْدَلَةٍ: د اورې دانه، غوښت،

۱ فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ، ثُمَّ أَعُودُ الرَّابِعَةَ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ، ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا، ۲ فَيُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ! ارْفَعْ رَأْسَكَ، وَقُلْ تُسْمَعْ، وَسَلْ تُعْطَهْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، ۳ فَأَقُولُ: يَا رَبِّ! ائْذَنْ لِي فِيمَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ. ۴ قَالَ: لَيْسَ ذَلِكَ لَكَ، وَلَكِنْ وَعِزَّتِي وَجَلَالِي وَكِبْرِيَائِي وَعَظَمَتِي لَأُخْرِجَنَّ مِنْهَا مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ نو زه به لاړشم او د پروردګار د حکم مطابق به عمل وکړم دې نه وروسته به زه په څلورم ځل بارګاه رب العزت کې حاضر شم اوپه هغه الفاظو کې به د الله ﷻ حمد وثناء کولو سره په سجده به ورته پریوځم ۲ بیا به زما نه پوښتنه وشي اې محمد خپل سر پورته کړه څه چې وئیل غواړې اوونیلو ستا خبره به اوریدل کیږي څه چې غواړې وغواړه زه به یې درکړم او کوم شفاعت کول چې غواړې زه به یې قبول کړم ۳ زه به عرض وکړم اې

خما ربه اوس ماته د هغه سري د شفاعت اجازت هم راكړه چې هغه لا اله الا الله ويلي وي ۴ پروردګار به وفرمايي چې نه د دي تا سره هيڅ تعلق نشته بلكه په خپل عزت او جلال او په خپل ذاتي او صفاتي عظمت او لوئي مې دي قسم وي هغه سرى به زه په خپله د دوزخ نه راوباسم چې هغه لا اله الا الله ويلي وي. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: فَأَقُولُ: يَارَبِّ! أُمَّتِي أُمَّتِي:

دامتي په تکرار کښې دوه وجوهات: ① دامتي لفظ دتاکيد دپاره مکرر راوړلې شوې دې ② دَ مخکې اوروستى امت اراده په کښې شوې ده يعنى اې ربه زما اولنې امت هم اوبخې او روستنې امت هم اوبخې. "أي يارب ارحمهم واغفرلهم أولهم وآخرهم".

[٥٥٧٤] دَشفاعت دَ تولو نه زيات مستحق څوک دي؟

٥٥٧٤-(١)[٧] ١ «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ٢ "أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ أَوْ نَفْسِهِ» ". (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه: ١ او حضرت ابوهريره ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ٢ د قيامت په ورځ به خما شفاعت د پاره خوش نصيبه سرى هغه وي چې هغه د زړه په خلوص سره يا دايي وفرمايل چې خلوصِ نفس سره لااله الا الله ويلي وي (بخارى ومسلم)

حل اللغات:- ① أَسْعَدُ: ډير خوش نصيبه، ډير نيک بخت.

تسهيلات: **قوله:** مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ أَوْ نَفْسِهِ:

دنبى عليه السلام د شفاعت حقدار: يعنى په خلوص دَ زړه او مکمل توحيد سره کلمه ويونکې سړې دَنبى مکرم دَ شفاعت دَ تولو نه زيات مستحق او اسعد او نصيب والا سړې اوګرځولې شو.

[٥٥٧٥] دَحضور ﷺ د شفاعت تفصيل

٥٥٧٥-(٢)[٨] ١ وَعَنْهُ، قَالَ: «أُتِيَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِلَحْمٍ ٢ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ، وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ، ٣ فَنَهَسَ مِنْهَا نَهْسَةً، ثُمَّ قَالَ: ٤ "أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ، ٥ وَتَدْنُو الشَّمْسُ، فَيَبْلُغُ النَّاسَ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا لَا يُطِيقُونَ، ٦ فَيَقُولُ النَّاسُ: أَلَا تَنْظُرُونَ مَنْ يَشْفَعُ لَكُمْ؟ فَيَأْتُونَ آدَمَ".

---

[١]) اخرجه البخارى فى كتاب العلم/باب الحرص على الحديث (رقم-٩٩) واحمد فى المسند: ٢/٣٧٣

[٢]) اخرجه البخارى فى كتاب تفسير القرآن/باب {ذرية من حملنا مع نوح إنه كان عبداً شكوراً} [الإسراء: ٣] (رقم-٤٧١٢) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب أدنى أهل الجنة منزلةً فيها (رقم-٣٢٧ - (١٩٤)) والترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى أي اللحم كان أحب إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-١٨٣٧) وابن ماجه فى كتاب الأطعمة/باب أطايب اللحم (رقم-٣٣٠٧) واحمد فى المسند: ٢/٤٣٥

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ بیان کوي یوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې پخه کړي غوښه راوړل شوه [۲] دهغه نه د ورون غوښه حضور ﷺ ته پیش شوه چې حضور ﷺ ته ډیره خوښه او مرغوبه وه [۳] حضور ﷺ د هغې څخه په غاښونو غوښه اوشوکوله او بیا ئې وفرمایل [۴] زه به د قیامت په ورځ هرکله چې خلق د دواړو جهانونو د پروردګار فیصله اوریدوپه انتظار کې ولاړ وي د ټولو خلقو سرداریم [۵] په هغه ورځ به نمر د خلقو سرونو ته ډیر نژدې وي او د خلقو حالت به د مسلسل ودریدو د ګرمي د تاو او سختی او د هغه خاي دهولناك ماحول د اثر نه دومره غمناك وي چې هغوئ به همت بائیللي وي یعنی صبر او استقامت باندې به قادر نه وي [۶] او د ډیري پریشانی په عالم کې به یوبل ته وایي چې آخر تاسو یوداسي سړی ولی نه تلاش کوئ چې ستاسو پروردګار ته ستاسو سفارش وکړي او هغه تاسو ته د دې کرب واذیت تکلیف د حالت نه نجات درکړي نو خلق به حضرت آدم ته راشي

حل اللغات: - ① نَهَسَ: غاښونو سره اوشوکوله، ② الْكَرْبِ: اضطراب او د سختئ حالت.

[۱] وَذَكَرَ حَدِيثَ الشَّفَاعَةِ [۲] وَقَالَ: فَأَنْطَلِقُ فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ، فَأَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّي [۳] ثُمَّ يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَيَّ مِنْ مَحَامِدِهِ وَحُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا لَمْ يَفْتَحْهُ عَلَى أَحَدٍ قَبْلِي، [۴] ثُمَّ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ! ارْفَعْ رَأْسَكَ، وَسَلْ تُعْطَهْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأَقُولُ: أُمَّتِي يَارَبِّ، أُمَّتِي يَارَبِّ، أُمَّتِي يَارَبِّ،

ترجمه: [۱] دې نه وروسته حضرت ابوهریره ﷺ یا خپله حضور ﷺ د شفاعت په سلسله کې د حدیث هغه اجزاء بیان کړل چې مخکې په یوحدیث کې بیان شوي دي چې خلق به یوبل پسې ټول انبیاء ته ورتلو سره د شفاعت درخواست وکړي او هغوئ ټول به جواب ورکړي چې مونږ د دې کار اهلیت نه لرو بیابه هغه خلق د شفاعت درخواست اخستو سره ماته راشي [۲] دې ذکرکولو نه وروسته حضور ﷺ وفرمایل زه به د خلقو نه روانیدو سره د عرش لاندې راشم او هلته به بارګاه رب العزت کې د خپل پروردګار مخکې په سجده پریوځم [۳] بیابه الله ﷻ په ما د خپل حمد او بهترینې ثناء هغه الفاظ او طرز وطریقه منکشف کړي چې زما نه مخکې به هغه په هیچا نه وي منکشف کړي یعنی هغه موقع د پاره ځما په زړه کې به د خپل حمد وثناء هغه الفاظ او د اداب حضوري هغه طریقې القاء کړي چې زما نه مخکې به یي په بل چا نه وي القاء کړي بلکه هغه وخت نه مخکې ماته به هم د هغه څه علم نه وي څرنګه چې مخکې په یوحدیث کې دې طرف ته اشاره شوي ده [۴] بیابه پروردګار وفرمایي اې محمد! خپل سر پورته کړه غواړه در به یي کړم که شفاعت کول غواړې نو قبول به یي کړم په دې اوریدو سره به زه خپل سر پورته کړم او عرض به وکړم اې ځما پروردګاره! ځما امت وبخښې

حل اللغات: - ③ أَقَعُ: پریوبه ځم.

[۱] فَيُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ! أَدْخِلْ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ مِنَ الْبَابِ الْأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ، [۲] وَهُمْ شُرَكَاءُ النَّاسِ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الْأَبْوَابِ". [۳] ثُمَّ قَالَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَهَجَرَ".» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بیابه راته اوویل شي اې محمده! ته د خپل امت نه هغه خلق چې حساب ځني نه اخستل کیږي او بغیر حساب نه د جنت مستحق دی د جنت د ښي طرف دروازي نه په جنت کې داخل کړه [۲] او هغه خلق به د هغه دروازي نه علاوه د نورو طرفونو د دروازو د استعمال په حق کې هم دخلقو سره شریك دی [۳] دې نه وروسته حضور ﷺ وفرمایل قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کې ځما ساه ده د جنت د دروازو د هري دروازي دواړو تمبو دمنځ فاصله دومره ده څومره چې دمکي او هجر مقام په منځ کې ده. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ④ مَصَارِيع: د مصراع جمع ده د دروازې چوکاټ ته وائی. ⑤ هَجَرَ: دَ بحرین دَ یوښارنوم دې کوم ته چه احساء وائی.

تسهیلات:

نوټ: د حدیث د مختلفو جملووضاحت په مختلفو احادیثوکښې تیرشوې دې د دوباره ذکر کولو ضروت نشته.

[۵۵۷۶] پل صراط سره د صله رحمی اودریدل

۵۵۷۶ - ( ) [۹] [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - فِي حَدِيثِ الشَّفَاعَةِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] قَالَ: «وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ [۳] فَتَقُومَانِ جَنَبَتَيِ الصِّرَاطِ يَمِينًا وَشِمَالًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] وحضرت حذیفه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه د شفاعت د سلسلې تفصیلي حدیث نقل کولو سره بیان وکړو [۲] چې حضور ﷺ بیا وروسته داهم وفرمایل چې امانت او رحم یعنی قرابتداري به ولیږل شي [۳] او هغوئ به دواړه د پل صراط ښي او ګڅ طرف ته اودریږي. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ

د ارسال مفهوم: امانتونو اوصله رحمی به اولیږلې شی هغوی به دَ پل صراط نه چاپیره اودریږی دې دَپاره چه دَ صله ماتونکو نه خپل حق واخلی او صله یوځائی کونکو اوامانت داروخلقو باندې ګواهی ورکړی چه هغوی زمونږ حق اداکړې دې. او په صله ماتونکواو خیانت کونکو باندې دا ګواهی ورکړی چه دوی زمونږ حق نه دې ادا کړې

[۱]) اخرجه مسلم في كتاب الإيمان/باب أدنى أهل الجنة منزلة فيها (رقم-۳۲۹ - (۱۹۵)

[۵۵۷۷] د حضوراكرم ﷺ په شفاعت به الله پاك هغه خوشحاله كړي

۵۵۷۷-()[۱۰] [۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- [۲] أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- تَلَا قَوْلَ اللهِ تَعَالَى فِي إِبْرَاهِيمَ [۳] ﴿رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي﴾ [إبراهيم: ۳۶] [۴] وَقَالَ عِيسَى: ﴿إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ﴾ [المائدة: ۱۱۸] [۵] فَرَفَعَ يَدَيْهِ، فَقَالَ: "اللَّهُمَّ أُمَّتِي أُمَّتِي". وَبَكَى،

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله بن عمرو بن عاص رضي الله عنهما روايت كوي [۲] يوه ورځ رسول الله ﷺ په خپل مجلس كې د خلقو په مخكې د حضرت ابراهيم عليه السلام په باره كې دا بيانولو د پاره چې هغه به د قيامت په ورځ د خپل امت متعلق بارگاه رب ذو الجلال كې څه عرض كوي دا آيت يي اووئيلو [۳] رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي او د آيت بقيه حصه داده وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ او د پوره آيت ترجمه داده چې اې پروردگاره! دا بتان د ډيرو خلقو د گمراهۍ سبب جوړشوي دي نو په دي په خلقو كې چې كومو څما اطاعت قبول كى يعني توحيد اخلاص او توكل يي اختيار كى هغه څما خپل او څما تابعدار دى او چاچې څما نافرماني كړي ده نو ته معاف كونكې او رحم كونكې يې [۴] بيا حضور ﷺ په دې سلسله كې د حضرت عيسىٰ عليه السلام متعلق دا آيت اووئيلو چې په هغه كې دابيان دى چې هغه به د قيامت په ورځ د خپل امت په حق كې كوم عرض كوى إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ او د آيت بقيه حصه داده وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ او د پوره آيت ترجمه داده كه ته دوئ په عذاب كې مبتلا كړې نو بهرحال دوئ ستا بندگان دي يعني ته د دوئ مطلق مالك يې دوئ ستا د حكم خلاف څه كولى شي او دوئ په عذاب كې مبتلا كولو نه تاڅوك منع كولى شي؟ او كه ته دوئ وبخښې نو بيشكه ته غالب او د حكمت خاوند يې يعني په تا هيڅوك غالب نشته ته چې څه غواړې حكم كولى شې هيڅوك ستا د حكم د پس پشت غورځولو طاقت نه لري بيا داچې ستا حكمت او دانائې كې هم ذره برابر شك نشته ته د هريوه په باره كې هغه حكم كوې چې د هغه هغه مستحق دى او هرشي ته هغه ځاي وركوي چې د هغه هغه لائق دى [۵] دې نه وروسته حضور ﷺ خپل دواړه لاسونه پورته كړل او دعائې وكړه اې پروردگاره! څما امت وبخښې څما په امت رحم وكړې او دا دعا كولو سره حضور ﷺ په ژړا شو

[۱] فَقَالَ اللهُ تَعَالَى: "يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ، [۲] وَرَبُّكَ أَعْلَمُ، فَسَلْهُ مَا يُبْكِيهِ؟ [۳] فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ، فَسَأَلَهُ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِمَا قَالَ، [۴] فَقَالَ اللهُ لِجِبْرِيلَ: اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ فَقُلْ: إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِي أُمَّتِكَ وَلَا نَسُوءُكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

) اخرجه مسلم في كتاب الإيمان/باب دعاء النبي صلى الله عليه وسلم لأمته. وبكاءه شفقة عليهم (رقم -۳٤۶ - (۲۰۲)

ترجمه: [۱] نو سمد ستي الله ﷻ حضرت جبرائیل علیه السلام ته حکم وکړي چې محمد ته ورشه [۲] او حالانکه اې جبرائیل علیه السلام ستا پروردګار ته ښه معلومه ده هغه ته د هیڅ څه معلومولو ضرورت نشته خو د محمد ﷺ د دلاسي او د پروردګار د مهرباني او توجه د اظهار له خاطره د هغه نه پوښتنه وکړه چې ته ولې ژاړي [۳] دا حکم اوریدو سره حضرت جبرائیل علیه السلام حضور ﷺ ته راغې او د ژړا پوښتنه یې ترینه وکړه حضور ﷺ په دي الفاظو کې ورته وښودل چې د خپل امت په باره کې خوف خداوندي په ما خورشوي دي بیا حضرت جبرائیل علیه السلام د الله تعالی په دربار کښې حاضر شو او صورتِ حال یې عرض کړ [۴] بیا ورته الله ﷻ وفرمایل چې محمد ته ورشه او ورته اوئیلو هرکله چې وخت راشي نو مونږ به یقیناً تا د امت په باره کې راضي او خوشحاله کړو [۵] تا به هیڅ کله غمجن نه کړو (مسلم)

حل اللغات: - ① سَنُرْضِيكَ: مونږ به تا راضی اوخوشحاله کړو. ② لَانَسُوْءُكَ: مونږ به تا نه خفه کوو

تسهیلات:

قوله: تَلَاقَوْلَ اللّٰهِ تَعَالٰى.....قَالَ عِيسٰى: ﴿إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ﴾

د قال ماضی صیغې راوړلو کښې دوه توجیهات: ① دلته راوی د قرآن پاک آیت چې څنګه دي هم هغه شان نقل کړي دي اوهلته د الله تعالی اوعیسی علیه السلام مکالمه به د قیامت په ورځ کیږی خو الله تعالی د ماضی صیغه یعنی قال راوړې ده په دې کښې بلاغی نکته دا چې دا مکالمه به داسې په یقین سره کیږی لکه څنګه چې په تیره شوې زمانه کښې یو واقعه شوې وی

② یعنی حضورپاک دَ عیسٰی علیه السلام قول هم اولوستلو دلته قال عیسٰی په معنی دَ قول عیسٰی دې او "قَالَ يَقُولُ قَوْلًا وَقِيلًا وَقَالًا" مصادر راځی نو دلته قال مصدری معنی کښې دې چه په معنی د قول دې "أي تلا النبي قول ابراهيم وتلا قول عيسى" نو دا په قول دَ ابراهیم علیه السلام باندې عطف دې

[۵۵۷۸] دَ قیامت اوشفاعت متعلق لوروضاحت

> ۵۵۷۸ - (۱)[۱۱] [۱] «وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [۲] أَنَّ نَاسًا قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ [۳] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "نَعَمْ، هَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ بِالظَّهِيرَةِ صَحْوًا لَيْسَ مَعَهَا سَحَابٌ؟ [۴] وَهَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ صَحْوًا لَيْسَ فِيهَا سَحَابٌ؟". [۵] قَالُوا: لَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ، قَالَ: "مَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا،

---

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب معرفة طریق الرؤیة (رقم-۲۹۹ - (۱۸۲)

ترجمه: [۱] او حضرت ابو سعيد خدري ﷜ نه روايت دى [۲] يوه ورځ مجلس نبوي کې ځني خلقو اوويل يارسول الله! آيا د قيامت په ورځ به مونږ خپل پروردګار وينو؟ [۳] رسول الله ﷺ وفرمايل هو وينئ به بې بيا حضور ﷺ د ديدار الهي ثبوت واضح کولو د پاره خلقو نه پوښتنه وکړه آيا تاسو د غرمې په وخت چې آسمان باندې د وريځې تکړه هم نه وي نمر ليدو کې څه تکليف محسوسوئ؟ [۴] او دڅوارلسمې شپې د سپوږمي په ليدو کې کله چې صفا وي او څه وريځ نه وي تاسو څه تکليف محسوسوي؟ [۵] خلقو عرض وکړو هيڅ کله نه يارسول الله! وي فرمايل نو بيا د قيامت په ورځ به تاسو د الله ﷻ په ليدو کې هم څه تکليف نه محسوسوئ مګر څرنګه چې تاسو ددې دواړو يعنې د نمر او سپوږمۍ د هريو په ليدو کې څومره تکليف محسوسوي

حل اللغات: - ① الظَّهِيرَةِ: غرمه، ② صَحْوًا: چه ښه صفا وى، ③ سَحَابٌ: وريځ. ④ الْبَدْرِ: د څوارلسمې شپې سپوږمئ.

[۱] إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ: [۲] لِيَتَّبِعْ كُلُّ أُمَّةٍ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ: [۳] فَلَا يَبْقَى أَحَدٌ كَانَ يَعْبُدُ غَيْرَ اللَّهِ مِنَ الْأَصْنَامِ وَالْأَنْصَابِ إِلَّا يَتَسَاقَطُونَ فِي النَّارِ [۴] حَتَّى إِذَا لَمْ يَبْقَ إِلَّا مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللَّهَ مِنْ بَرٍّ وَفَاجِرٍ [۵] أَتَاهُمْ رَبُّ الْعَالَمِينَ [۶] قَالَ: فَمَاذَا تَنْظُرُونَ؟ يَتَّبِعُ كُلُّ أُمَّةٍ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ. [۷] قَالُوا: يَا رَبَّنَا فَارَقْنَا النَّاسَ فِي الدُّنْيَا أَفْقَرَ مَا كُنَّا إِلَيْهِمْ وَلَمْ نُصَاحِبْهُمْ».

ترجمه: [۱] دې نه وروسته حضور ﷺ وفرمايل هر کله چې د قيامت ورځ شي او ټول مخلوق ميدان حشر کې جمع شي نو يو اعلان کونکى به اعلان وکړي [۲] چې کومې طبقې به دنيا کې د کوم شي عبادت کوى هغوئ دې په هغه پسې شي [۳] نو کومو خلقو چې د الله ﷻ په ځاي د بتانو او انصابو عبادت کوى په هغوئ کې به يو هم بچ نشي او ټول به په دوزخ کې واچول شي څکه چې انصاب او بتان به چې د هغه عبادت کيدى په دوزخ کې وغورځول شي نو هغوئ سره به د هغوئ عبادت کونکى هم په دوزخ کې واچول شي [۴] ددې پورې چې د هغه خلقو نه ماسوا هيڅوک موجود به پاتې نشي چې د الله ﷻ عبادت يې کولو که هغه نيک وي يابد [۵] نو د ټول جهانونو پروردګار به هغوئ ته راشي [۶] او ورته وبه فرمايي تاسو د چا منتظرياست هره طبقه دې هغه شى پسې ځي چې د هغه يې عبادت کوى نو بيا دلته څه ته ولاړ يئ تاسو هم ولې نه ځئ [۷] هغه خلق به جواب ورکړي چې زمونږ پروردګار مونږ په دنيا کې د هغه خلقو نه چې په دنيا کې د غير الله عبادت کوى او اوس خپلو معبودانو پسې دوزخ ته ځي پوره طور سره جدائي اختيار کړي ده حالانکه مونږ خپل دنياوي ضرورتونو کې د دې خلقو د مدد او اعانت ضرورت مند وو ليکن مونږ هيڅ کله د هغوئ صحبت او هم نشيني خوښه نه کړله او نه مو کله د هغوئ اتباع وکړله بلکه هميشه د هغوئ مد مقابل وو او صرف ستا د رضا له خاطره

هغوئ سره مو جنگ او جدال کوی اوس چې مونږ د هغوئ هیڅ قسم ضرورتمند هم نه یو او د هغه ټولو منزل هم دوزخ دی نو مونږ به د هغوئ سره څرنګه څو

حل اللغات: ⑤الْأَنْصَابِ: درګاهونه. چرته چه بتان اودرولې شوی وی

قوله فَلَا يَبْقَى أَحَدٌ كَانَ يَعْبُدُ غَيْرَ اللّٰهِ مِنَ الْأَصْنَامِ وَالْأَنْصَابِ:

"الْأَنْصَابِ" هغه مقامات دی چرته چه مشرکان په بتانو باندې خیزونه اچوی کوم ته چه تهان وائی داسې ځایونو کښې به هغه خلقو کله کاڼړی لګول کله به ئی ونه اودرولې دې ته په آسانو الفاظو کښې یادګارونه وئیلې شی.

قوله أَتَاهُمْ رَبُّ الْعَالَمِينَ:

دالله تعالى په حق كښې د اتيان معنى: دا متشابه الفاظ دی. دَ سلف په نیز دَدې هم دغه ظاهری ترجمه کیږی مګر دَ "مايليق بشانه" تعبیرکوی. متشابهاتو کښې داسې تاویل کول جائز نه دی په کوم سره چه دَهغې ظاهری معنی فوت کیږی. مثلاً دَ "يد" ترجمه قدرت سره کول د احنافو په نیز جائز نه ده.

٥٥٧٥-( ) ①وَفِي رِوَايَةِ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: (فَيَقُولُونَ: هٰذَا مَكَانُنَا حَتّٰى يَأْتِيَنَا رَبُّنَا، فَإِذَا جَاءَ رَبُّنَا وَفِي رِوَايَةِ أَبِي سَعِيدٍ «فَيَقُولُ هَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ آيَةٌ تَعْرِفُونَهُ؟ ③فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ، ④فَلَا يَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ لِلّٰهِ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِهِ إِلَّا أَذِنَ اللّٰهُ لَهُ بِالسُّجُودِ، ⑤وَلَا يَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ اتِّقَاءً وَرِيَاءً إِلَّا جَعَلَ اللّٰهُ ظَهْرَهُ طَبَقَةً وَاحِدَةً ⑥كُلَّمَا أَرَادَ أَنْ يَسْجُدَ خَرَّ عَلَى قَفَاهُ، ⑦ثُمَّ يُضْرَبُ الْجِسْرُ عَلَى جَهَنَّمَ، وَتَحِلُّ الشَّفَاعَةُ».

ترجمه: ①او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه په روایت کې دلته نقل شوي دي چې هغه خلق چې د الله تعالی عبادت یې کولو هغوئ به دا وایي چې مونږ ددې ځای نه دهغه پورې نه ځو د خوپوري چې زمونږ پروردګار مونږ ته را نشي یعنی د خوپوري چې هغه په مونږ داسې تجلي ونه فرمايي چې د هغه په سبب مونږ هغه وپیژنو چې دا زمونږ پروردګار دی او هرکله چې زمونږ پروردګار د خپل تجلي او صفاتو د اظهار په صورت کې چې د هغه په سبب مونږ د هغه د پیژندو صلاحیت لرو مونږ ته راشي نو مونږ به یي په ښه شان وپیژنو ②او دحضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه د روایت الفاظ دادي چې الله تعالی به د هغوئ نه پوښتنه وکړي آیا ستاسو او ستاسو د پروردګار په منځ کې هغه نښه شته چې د هغه په ذریعه تاسو هغه وپیژنئ ③هغوئ به وايي هو هغه نښه شته بیا به د الله تعالی ساق کولاؤ شي«ساق دالله صفت دی کما یلیق بشانه پښتو ترجمه یې په پنډی کول ناروادی» او په دي موقع به الله تعالی هرهغه سړي ته د سجدې اجازت او توفیق عطا کړي چې په دنیا کې

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب التوحید/باب قول الله تعالی: {وجوه يومئذ ناضرة إلى ربها ناظرة} [القيامة: ٢٣] (رقم-٧٤٣٩) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب معرفة طريق الرؤية (رقم-٣٠٢ - (١٨٣)) واحمد فی المسند:٢/٥٣٤

چې په دنیا کې به یې په خپله سجده کوله د چادخوف یاریاکاري د پاره نه وه ۴ وچاچې د چا د خوف نه یا خلقوته د ښودني او آوروني د پاره الله ﷻ ته سجده کوله الله ﷻ به د هغه ملا (شا) یوه پوره تخته جوړه کړي یعنی د هغه د شا او ملا د هډوکو جوړ به بالکل ختم کړي او د هغه پوره شا به یوه تخته جوړه کړي چې هغه ټیټیدي نشي او نه سجده کولي شي ۵ نو هغه به سجدي ته تلو د پاره خکته کیدل وغواړي نو نسکور به راولویږي ۶ بیابه په دوزخ برسیره د هغه په منځ کې پُلِ صراط کیښودل شي او د شفاعت اجازت به ورکړي شي

حل اللغات:- ① طَبَقَةً: تخته، ② خَرَّ: راوبه غورځیږي، ③ الْجِسْرُ: پُل چه پُل صراط ورته وائي.

١ وَيَقُولُونَ: اللَّهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ، ٢ فَيَمُرُّ الْمُؤْمِنُونَ كَطَرْفِ الْعَيْنِ وَكَالْبَرْقِ، ٣ وَكَالرِّيحِ وَكَالطَّيْرِ، وَكَأَجَاوِيدِ الْخَيْلِ وَالرِّكَابِ، ٤ فَنَاجٍ مُسَلَّمٌ، ٥ وَمَخْدُوشٌ مُرْسَلٌ، ٦ وَمَكْدُوسٌ فِي نَارِ جَهَنَّمَ، ٧ حَتَّى إِذَا خَلَصَ الْمُؤْمِنُونَ مِنَ النَّارِ، ٨ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنْ أَحَدٍ مِنْكُمْ بِأَشَدَّ مُنَاشَدَةً فِي الْحَقِّ - وَقَدْ تَبَيَّنَ لَكُمْ - مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لِلَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ فِي النَّارِ، ٩ يَقُولُونَ: رَبَّنَا كَانُوا يَصُومُونَ مَعَنَا، وَيُصَلُّونَ، وَيَحُجُّونَ.

ترجمه: ١ نو ټول انبیاء علیهم السلام به د خپل خپل امتونو په حق کې طلب استقامت او سلامتیا د پاره دا دعا کوي چې اې الله! دوئ پُلِ صراط باندې سلامتیا سره تیر کړئ دوی په دوزخ کې د لویدو نه محفوظ کړي ٢ نو مسلمانان خلق به پُلِ صراط باندې داسې تیر شي چې بعضې به د سترګي په رپ کې تیر شي بعضې دبجلۍ د پړك په شان تیر شي ٣ بعضې به د هوا په شان تیر شي بعضې به د مارغانو د آلوتو په شان تیر شي او بعضې به د تیز رو او خوش رفتار اسونو په شان او بعضې به د اوښ د چال په شان تیر شي ٤ نو په هغوئ کې به څه مسلمانان خو هغه وي چې د دوزخ د اور نه به بالکل سلامتیا او نجات بیا مومي یعنی د پُلِ صراط برسیره نه دتیریدو په وخت به هغوئ ته هیڅ ضررونه رسیږي ٥ او څه مسلمانان به هغه وي چې د زخم خوړلو سره به وځي او د دوزخ نه به نجات بیا مومي ٦ او څه مسلمانان به هغه وي چې پاره پاره ټکړي ټکړي به شي او دوزخ ته به ورډیکه شي ٧ ددي پورې چې هرکله مؤمن د دوزخ د اور نه نجات بیا مومي ٨ نو قسم دی په هغه ذات چې د هغه د قدرت په لاس کې ځما ساه ده په تاسو کې به هرسړی د ظاهر او ثابت شده حق حصول کې دومره شدید جد وجهد او سختي نه کوي څومره سخت کوشش چې به مؤمن د قیامت په ورځ د خپلو ورونو د نجات دپاره د الله تعالی په حضور کې کوي ٩ هغوئ به وایي اې زموږ ربه دوي په دنیاکې زموږسره روژې نیولې اومونځونه یې کول اوحجونه یې کول ،

حل اللغات:- ③ الْبَرْقِ: بجلی ⑤ أَجَاوِيدِ: دَ أجواد جمع ده او اجواد دَجواد جمع ده ښکلي اس ته وائي. ⑥ نَاجٍ: نجات به ئې اوشي. خلاص به شي ⑦ مَخْدُوشٌ: دَخدش نه دې زخمي کیدل او شلیدل.

⑧مُرْسَلْ: پريخودونکی. خلاصيدونکی. ⑨مَكْدُوسٌ: دَ كدس نه دې ديكه به وركولې شي چه دوزخ كښې پريوځي، ⑩مُنَاشَدَةً: سخت كوشش اومحنت. په سفارش كښې ډير كوشش كول.

[١]فَيَقَالُ لَهُمْ: أَخْرِجُوا مَنْ عَرَفْتُمْ، فَتُحَرَّمُ صُوَرُهُمْ عَلَى النَّارِ، [٢]فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا، [٣]ثُمَّ يَقُولُونَ: رَبَّنَا مَا بَقِيَ فِيهَا أَحَدٌ مِمَّنْ أَمَرْتَنَا بِهِ، [۴]فَيَقُولُ: ارْجِعُوا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ دِينَارٍ مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوهُ، [۵]فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا. [٦]ثُمَّ يَقُولُ: ارْجِعُوا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ نِصْفِ دِينَارٍ مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوهُ، [٧]فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا،

توجمه: [١]نودوي ته به و وئيل شي چې ځئ ورشئ او كوم خلق چې تاسو پيژنئ. هغوى د دوزخ څخه را وكاږئ د دوزخ اور به د هغوئ په صورتونو حرام شوي وي [٢]نو هغه مؤمنان به ډيرخلق د دوزخ نه را وكاږي [٣]بيابه وايي چې اې زمونږ پروردگاره: د كومو خلقو چې تا د دوزخ نه دايستلو حكم كړى وو يعنى اهلِ صلوة اهلِ زكوٰة اهلِ حج وغيره په هغوئ كې اوس دوزخ كې څوك باقي نه دى پاتې شوى [۴]الله ﷻ به فرمايي بنه بيا ورشئ او هرهغه سړى هم دوزخ نه را وكاږئ چې د هغه په زړه كې تاسو د دينار برابر هم نيكي پيدا كړى [۵]نو مؤمنان به لاړ شي او ډير خلق به دوزخ نه را وكاږي [٦]دي نه وروسته به بيا الله ﷻ هغوئ ته وفرمايي اوس هرهغه سړى دوزخ نه را وكاږئ چې د هغه په زړه كې د نيم دينار برابرهم نيكي پيدا كړئ [٧]نو هغه مومنان به لاړ شي او ډير خلق به دوزخ نه را وكاږي

[١]ثُمَّ يَقُولُ: ارْجِعُوا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ [٢]فَأَخْرِجُوهُ، فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا، [٣]ثُمَّ يَقُولُونَ: رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِيهَا خَيْرًا، [۴]فَيَقُولُ اللهُ: شُفِعَتِ الْمَلَائِكَةُ، وَشُفِعَ النَّبِيُّونَ، وَشُفِعَ الْمُؤْمِنُونَ، [۵]وَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ، [٦]فَيَقْبِضُ قَبْضَةً مِنَ النَّارِ فَيُخْرِجُ مِنْهَا قَوْمًا لَمْ يَعْمَلُوا خَيْرًا قَطُّ [٧]قَدْ عَادُوا حُمَمًا، فَيُلْقِيهِمْ فِي نَهْرٍ فِي أَفْوَاهِ الْجَنَّةِ يُقَالُ لَهُ نَهْرُ الْحَيَاةِ،

توجمه: [١]بيابه الله ﷻ حكم وكړي چې لاړشئ اوس هرهغه سړى دوزخ نه را وكاږئ چې د هغه په زړه كې تاسو د نيكي له قسمه ذره برابرهم څه شى بيا مومي [٢]نو هغه مؤمنان به لاړ شي او ډير خلق به دوزخ نه را وكاږي [٣]او وايي به چې پروردگاره! مونږ په دوزخ كې نيكي كونكى باقي نه دى پرينبنى يعنى اوس په دوزخ كې داسې هيڅوك باقي نه دى پاتې شوى چې د هغه په زړه كې د اصل ايمان نه علاوه د ادنى نه ادنى درجې او ذره برابر بلكه د ذرې نه هم كم ترچې څه نيكي وي كه د هغه نيكي تعلق اعمالو سره وي يا د زړه دافعالو سره [۴]الله ﷻ به فرمايي چې دفرښتو شفاعت قبول كړل شو او دپيغمبرانو هم شفاعت قبول كړل شو اود مؤمنانو هم شفاعت قبول كړل شو او د هغه ټولو د شفاعت تعلق دهغه خلقو سره وو چې د هغوئ اعمالنامه كې څه ناڅه نيكي ضرور ده كه هغه نيكي د ذرې برابر يا د هغه نه هم كمتروي [۵]او دغه شان اوس څه داسې ذات باقي نه دى

پاتې شوي چې خپله خبر رسولو يا خبر رسونکي نه د سفارش او شفاعت په ذريعه دچاسره رحم او مروت او مهرباني اود همدردی معامله وکړي ليکن اوس د ارحم الراحمين ذات باقي دی چې د هغه رحمت د هغه کرم او د هغه مهرباني هريوه باندې شوی اوکيدونکی ده او د هغه د رحمت او مهربانۍ د اثراتو په مقابله کې د هر چا رحمت او مهرباني هيڅ هم نده [۶] او دي فرمايلو سره به الله ﷻ ددوزخ نه خپل موټ ډکولو سره هغه خلق را وکاږي چې هغوئ کله هم څه وړه يا لويه نيکي نه وي کړي [۷] خلق به په دوزخ کې د سوزيدو په وجه سکاره شوي وي نو هغوئ به په هغه نهر کې واچوي چې د جنت د دروازو مخې ته دی او هغه ته نهر حيات وايي

حل اللغات: - ⑪ قَبْضَةً: موټي، لپه، ⑫ حُمَمًا: سکاره شوی،

[۱] فَيَخْرُجُونَ كَمَا تَخْرُجُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ، [۲] فَيَخْرُجُونَ كَاللُّؤْلُؤِ، فِي رِقَابِهِمُ الْخَوَاتِمُ، [۳] فَيَقُولُ أَهْلُ الْجَنَّةِ: هَؤُلَاءِ عُتَقَاءُ الرَّحْمٰنِ، [۴] أَدْخَلَهُمُ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ عَمَلٍ عَمِلُوهُ وَلَا خَيْرٍ قَدَّمُوهُ، [۵] فَيُقَالُ لَهُمْ: لَكُمْ مَا رَأَيْتُمْ وَمِثْلُهُ مَعَهُ» .مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بيابه هغه خلق هغه نهر نه داسې تروتازه راوځي لکه دا نه چې د سيلاب په خځلو کې زرغونه شي ، يعنی څرنګه چې سيلابی خزله کې پرته دانه ډير ښه اوشنه معلوميږي دغه شان داخلق به هم په هغه نهر کې غوپه ورکولو نه وروسته ډير تيزۍ سره بهتر جسماني حالت کې به واپس راشي او ښه تروتازه او توانا به معلوميږي [۲] او داخلق به د هغه نهر نه دملغلري (ملغلري) په شان صاف شفاف بهر را وځي د هغوئ په څټونو کې به مهرونه لګيدلي وي [۳] هرکله چې اهلِ جنت داخلق امتيازي علامو سره ويني نو وايي به چې داهغه خوش نصيبه خلق دي چې خپله د الله رحمٰن آزارکرده دی [۴] الله ﷻ دوی د خپل خاص فضل وکرم لاندې د دې امر با وجود په جنت کې داخل کړی دی چې نه دوئ په دنيا کې څه نيك عمل کړی وو او نه دوئ کم نه کم د افعالِ قلب په صورت کې څه نيکي کولو سره مخکې ليږلي وه [۵] او بيابه د الله ﷻ د طرف نه دی آزادشده خلقوته اوويل شي چې جنت کې تاسو څه وينئ يعنی ستاسو دنظرترحده پورې چې کوم اعلی نه اعلی نعمتونه درته په نظر راځي نه صرف دا نه بلکه د دې په شان نور ډير نعمتونه هم تول ستاسو دپاره دي . (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ⑬ الحِبَّةُ: دَ حبوب نه دې دَ دانې په معنی کښې دي ⑭ حَمِيل: خځله، ⑮ السَّيْل: سيلاب. ⑯ الخَوَاتِمُ: دَ خاتم جمع ده او خاتم ګوتمې ته وائی مهر ته هم وائی.

تسهيلات:

قوله: فَيَمُرُّ الْمُؤْمِنُونَ كَطَرْفِ الْعَيْنِ...... وَكَأَجَاوِيدِ الْخَيْلِ وَالرِّكَابِ

دخپلو عملونو په اعتبار سره به پل صراط تيريدل: دلته د صفت اضافت دَ موصوف طرف

ته دي "اي کالخيل الجواد" هر سړي به د خپلو اعمالو په اعتبار سره په پل صراط باندې تيريږي د هر رفتار جدا جدا تشبيه ده څوک به تيز وي او څوک به سست.

قوله: وَمَخْدُوشٌ مُرْسَلٌ:

په زخمي حالت کښې د جهنم څخه وتل: بعضې مسلمانان به په داسې حالت کښې د جهنم څخه اوځي چې زخمي شوي به وي خو بيا هم د جهنم څخه به راؤويستلی شي.

قوله: وَمَكْدُوسٌ فِي نَارِ جَهَنَّمَ:

د مکدوس معنی: دا لفظ شين سره مکدوش هم وئيلې شوې دې دواړه الفاظو يو معنی ده چه سخت زغلوونکې، دفع کول، زخمي کول او ټکړه ټکړه کولو سره دوزخ کښې د غورزولو په معنی کښې دې.

د دويم روايت لفظ او معنی: په يو روايت کښې د "مکروس" لفظ هم راغلې دې د کوم معنی چه داده چه د دواړو لاسونو نه اوتړلې شي يو د بل د پاسه په دوزخ کښې ورا وغورزولې شي.

قوله: مَا مِنْ أَحَدٍ مِنْكُمْ بِأَشَدَّ مُنَاشَدَةً فِي الْحَقِّ

د مذکوره جملې مفهوم: يعنی په خدائی قسم چه تاسو کښې يو کس هم په خپل واضح او ثابت شوی حق کښې دومره سخت کوشش او سختی نه وی څومره سخت محنت او کوشش چه به مؤمن د قيامت په ورځ د الله تعالی په مخکښې د خپلو مسلمانانو رونړو د خلاصی د پاره کوی. يعنی بنه مطالبه مناظره او سفارش به کوی او وائی به اې الله دوی د دوزخ نه راؤباسه.

قوله: رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِيهَا خَيْرًا،

ټول ګناهګاران مسلمانان د جهنم څخه راويستل: يعنی مونږ په دوزخ کښې څوک داسې سړې پرينخودو په چاکښې چه د رتئ برابر خير ايمان اونيک عمل وی ټول مو راويستی دی.

قوله: فَيَخْرُجُونَ كَمَا تَخْرُجُ الْحِبَّةُ

د حبة په معنی کښې درې اقوال: ① خبة دې دانه ته بقلة حمقاء هم وائی. دا سيلاب سره يوه توره دانه راځی او په يوه شپه ورځ کښې د هغې بوټې ډير زر راټوکيږی.

② علامه کسائی وئيلی دی چه دا دانه د ګل ريحان يعنی د تخم ملنګه تخم دې.

③ نورو شارحينو دې دا دانه ته يو صحرائی بې نسب دانه ګرځولې ده. "هی بذر الصحراء" دا قول زيات واضح دې.

د حبة سره د تشبيه وجه: دا داسې عجيبه دانه ده که کانړې وی او که لرګی وی او که هرڅه هم وی په هغې باندې پريوتلو سره په يو شپه ورځ کښې د دې بوټې راټوکيږی. نو لکه څنګه چه دا دانې ډير زر بوټې راټوکوی دغه شان به په هغه نهر کښې دوزخيان خلق ډير

زر په ښائسته شکل کښې راټوکيږي

قوله: فِي حَمِيلِ السَّيْلِ:

دحميل السيل څخه مراد: دادَ محمول په معنی کښې دي يعنې سيلاب دَ خس او خشاك سره دا دانه دَ صحراء نه راؤچتوي راوړي ئي لکه څنګه چه دَدې بوټې ښائسته وي دغه شان به دَ هغه نهر نه سوزيدلي دوزخيان په ښائسته شکلونو کښې دَمرغلرو په شان راؤځي او تروتازه به وي.

قوله: فَيَخْرُجُونَ كَاللُّؤْلُؤِ، فِي رِقَابِهِمُ الْخَوَاتِمُ:

دخواتيم په مصداق کښې دوه اقوال: ① يعنې څه علامات به وي په کوم سره چه به دَهغوي پيژندګلو کيږي مثلاً مهرونه به لګيدلي وي وغيره وغيره.

② صاحب تحرير ليکلي دي چه دلته دَ خواتم نه دَ سرو زرو او سپينو زرو هغه څيزونه مراد دي کوم چه به دَهغوي په ستونو کښې زوړندولې شي په کوم سره چه به دَهغوي پيژندګلو کيږي. بهرحال که دَ سرو زرو او سپينو زرو تعويذونه مراد واخستې شي نو ډير به ښه وي.

[۵۵۸۰] ذره برابر ايمان لرونکي خلق به هم د دوزخ نه راايستلو سره په جنت کې داخل شي

> ۵۵۸۰-()[۱۲] ① وَعَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ ③ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجُوهُ ④ فَيَخْرُجُونَ قَدِ امْتَحَشُوا، وَعَادُوا حُمَمًا، ⑤ فَيُلْقَوْنَ فِي نَهْرِ الْحَيَاةِ، ⑥ فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ، ⑦ أَلَمْ تَرَوْا أَنَّهَا تَخْرُجُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ② هر کله چې جنتيان جنت ته او دوزخيان دوزخ ته ورسول شي او هرسړي د خپل عمل مطابق په جنت يا دوزخ کې خپل ځاي ته ورشي ③ نو الله تعالی به انبياوو ته ياشفاعت کونکو ته او زياته صحيح خبره داده چې فرشتو ته وفرمايي د چا په زړه کې چې د اوري (رائي) د داني برابر هم ايمان ايمان يعنې نيکي او خير وي نو هغه د دوزخ نه را وکاږئ ④ نو هغه خلق به دوزخ نه راوايستل شي او هغه وخت به د هغوئ داحالت وي چې هغوئ به سوزيدو سره د ايرو په شان شوي وي ⑤ بيا به هغوئ نهر حيات کې واچول شي ⑥ نو هغوئ به هغه نهر نه دومره تروتازه راوځي څرنګه چې د سيلاب خځله کې د وښو دانه زرغونيږي ⑦ آيا تاسو نه دي ليدلي چې هغه دانه څرنګه رانغښتل شوی زيړه راوځي يعنې څومره زياته تروتازه او

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار (رقم-۶۵۶۰) ومسلم في كتاب الإيمان/باب إثبات الشفاعة وإخراج الموحدين من النار (رقم-۳۰۴ - (۱۸۴)

خومره زر بهر راوځي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① حَبَّةٍ: دَ حبوب نه دې دَ دانې په معنی کښې دې. ② خَرْدَلٍ: د أوری دانه، غوښت. ③ امْتَحَشُوا: سکاره شوی، بالکل سوزیدلی. ④ صَفْرَاءَ: دَ زیړ رنګ بوټې. ⑤ مُلْتَوِيَةً: تازه راکوګ شوې بوټې

تسهيلات:

قوله: مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجُوهُ:

دخردل څخه مراد: دَ أوری دانې ته خردل وائی دا دَ شرشم تخم ته هم وائی. زیت خردل دَ شرشمو تیلوته وائی.

[۵۵۸۱] دَپل صراط او دَ شفاعت نور تفصيل

۵۵۸۱ -()[۱۳] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - ② أَنَّ النَّاسَ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! ③ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ ④ فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ أَبِي سَعِيدٍ غَيْرَ كَشْفِ السَّاقِ، ⑤ «وَقَالَ: يُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ جَهَنَّمَ، ⑥ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يَجُوزُ مِنَ الرُّسُلِ بِأُمَّتِهِ، ⑦ وَلَا يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ إِلَّا الرُّسُلُ، ⑧ وَكَلَامُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ: اللّٰهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ،

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی ② یوه ورځ خلقو پوښتنه وکړه یارسول ③ د قیامت په ورځ به مونږ خپل پروردګار وینو؟ ④ دې نه وروسته حضرت ابوهریره رضی الله عنه د مضمون د اعتبار نه هغه حدیث بیان کړ کوم چې وروسته حضرت ابوسعید رضی الله عنه نه نقل شوې دې که څه هم دواړو روایتونو کې د الفاظو اختلاف دی خو حضرت ابوهریره رضی الله عنه د پنډۍ خلاصولو ذکر ونه کړی ⑤ او بیایې اوویل چې حضور ﷺ وفرمایل هرکله چې د دوزخ سرپیره پل صراط ودرول شي ⑥ نو تولو رسولانو کې به پردې پل برسیره دخپل امت سره تیریدونکی د تولو نه مخکې رسول زه یم ⑦ او هغه وخت به د رسولانو نه علاوه هیڅ سړی هم په ژبې نسره د خبرې کولو جرات نشي کولي ⑧ نور رسولان به هم صرف دومره قدري وایي چې اې الله! سلامتیا سره مو وساتې

① وَفِي جَهَنَّمَ كَلَالِيبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ، ② لَا يَعْلَمُ قَدْرَ عِظَمِهَا إِلَّا اللّٰهُ، تَخْطَفُ النَّاسَ بِأَعْمَالِهِمْ، ③ فَمِنْهُمْ مَنْ يُوبَقُ بِعَمَلِهِ، ④ وَمِنْهُمْ مَنْ يُخَرْدَلُ ثُمَّ يَنْجُو، ⑤ حَتَّى إِذَا فَرَغَ اللّٰهُ مِنَ الْقَضَاءِ بَيْنَ عِبَادِهِ، ⑥ وَأَرَادَ أَنْ يُخْرِجَ مِنَ النَّارِ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُخْرِجَهُ مِمَّنْ كَانَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، ⑦ أَمَرَ الْمَلَائِكَةَ أَنْ يُخْرِجُوا مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللّٰهَ، فَيُخْرِجُونَهُمْ وَيَعْرِفُونَهُمْ بِآثَارِ السُّجُودِ، ⑧ وَحَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالَى عَلَى النَّارِ أَنْ تَأْكُلَ أَثَرَ السُّجُودِ، فَكُلُّ ابْنِ آدَمَ تَأْكُلُهُ النَّارُ إِلَّا أَثَرَ السُّجُودِ، ⑨ فَيَخْرُجُونَ مِنَ النَّارِ قَدِ امْتَحَشُوا، ⑩ فَيُصَبُّ عَلَيْهِمْ مَاءُ الْحَيَاةِ، فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ،

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب الصراط جسر جهنم (رقم-۶۵۷۳) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب معرفة طریق الرؤیة (رقم-۲۹۹ - (۱۸۲) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب ذکر البعث (رقم-۴۲۸۰) واحمد فی المسند: ۲/۲۹۳

ترجمه: ⑴ او د دې پُل دواړه طرف ته به جهنم کې د سعدان د ازغو په شان چنګکان وي ⑵ د هغه چنګکانو اوږدوالی د الله ﷻ نه سوا هيچاته معلوم نه دی هغه چنګکان به خلقو سره د هغوئ د خراب عمل په سبب مبتلي اوراابنکي به يي ⑶ نو هغه په خلقوکي بعضې خوبه هغه وي چې د خپلو اعمالوپه بدله کې به هلاك شي يعنی دوزخ کې به ولويږي او هميشه هميشه د پاره به په عذاب کې مبتلا وي لکه کافر ⑷ او بعضې به هغه وي چې د هغه ازغو د نيولو په وجه به ټکړې ټکړې شي بيابه نجات بيا مومي يعنی د چنګکانو لګيدو په وجه به د هغوئ چنګکانو د جسم غوښې په ځاي پريشي او ټول بدن به يي خراب طور سره زخمي شی اوبيا به هغوئ په دې حالت کې په څه ناڅه طور پل باندې تيريږي يا که په دوزخ کې ولويږي نو هلته به څه موده پورې د خپلو ګناهونو سزا خوړلو نه وروسته آخر هميشه هميشه د پاره نجات بيا مومي دا د ګنهګار فاسق مسلمانانو حال بيان شوي دي ⑸ بيا چې الله ﷻ د خپلو بنده ګانو د فيصلې نه فارغه شي چې د خپل خپل عمل د اعتبار نه څوك چې د جنت مستحق وي هغه به جنت ته وليږل شي او څوك چې د دوزخ مستحق وي هغه به په دوزخ کې واچول شي او چې ددوزخ نه دچا دراايستلو اراده يي وي يعنی چې کومو خلقو د لا اله الا الله محمد رسول الله ګواهي ورکړي وي په هغوئ کې چې څوك غواړي چې دوزخ نه يي وکاږي ⑹ نو فرشتو ته به حکم وکړي چې داخلق دي دوزخ نه وايستل شي چې الله ﷻ يي معبود منی او د هغه نه علاوه د بل چا په معبوديت يي ايمان نه لرلو نو فرشتې به هغه خلق د دوزخ نه وکاږي او د هغوئ په تنديانو به د سجدې د نښو په ذريعه د هغوئ شناخت کوي ⑺ او الله ﷻ د دوزخ په اور حرام کړی دي چې هغه د سجدو نښه وخوري ⑻ ځکه د دوزخ اور به د ابن آدم انسان ټول جسم وخوري يعنی وسوزي خو د سجدو نښه به نه خوري بهرحال هغه خلق به دوزخ نه په دې حالت کې بهر راوستل شي چې هغوئ به په اور کې شوزيدلو سره تور شوی وي ⑼ نو په هغوئ باندې به آب حيات واچول شي او هغوئ به د هغه د اوبو د اثر نه داسې تروتازه شي څرنګه چې د سيلاب خځله کې دانه يو دَم زرغونيږي

⑴ وَيَبْقَى رَجُلٌ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، وَهُوَ آخِرُ أَهْلِ النَّارِ دُخُولًا الْجَنَّةَ، ⑵ مُقْبِلٌ بِوَجْهِهِ قِبَلَ النَّارِ، فَيَقُولُ يَارَبِّ اصْرِفْ وَجْهِي عَنِ النَّارِ، ⑶ فَإِنَّهُ وَقَدْ قَشَبَنِي رِيحُهَا، وَأَحْرَقَنِي ذَكَاؤُهَا. ⑷ فَيَقُولُ: هَلْ عَسَيْتَ إِنْ أَفْعَلَ ذَلِكَ أَنْ تَسْأَلَ غَيْرَ ذَلِكَ؟ ⑸ فَيَقُولُ: لَا وَعِزَّتِكَ، فَيُعْطِي اللهَ مَا شَاءَ مِنْ عَهْدٍ وَمِيثَاقٍ، ⑹ فَيَصْرِفُ اللهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ، فَإِذَا أَقْبَلَ بِهِ عَلَى الْجَنَّةِ رَأَى بَهْجَتَهَا، ⑺ سَكَتَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَسْكُتَ، ⑻ ثُمَّ قَالَ: يَارَبِّ قَدِّمْنِي عِنْدَ بَابِ الْجَنَّةِ،

ترجمه: ⑴ او هغه وخت به يوه دلچسپه واقعه داهم وي چې، يو سړی چې دوزخيانو نه به په جنت کې داخليدونکی سړی وي د جنت او دوزخ په منځ کې به ولاړ وساتل شي اودابه آخري سړی وي ددوزخيانو نه چې جنت ته به داخليږي ⑵ د هغه مخ به دوزخ طرف ته وي

هغه به عرض وکړي اې خما پروردګاره! بس دومره کرم راباندې وکړه چې خما مخ د دوزخ طرف نه وګرځوه ۳ د دوزخ د اور بدبويي زه په سخت اذيت کې مبتلا کړی يم او د هغه د شعلو تيزی او ګرمۍ ما برباد وي ۴ الله ﷻ به ورته فرمايي که زه داسې وکړم يعنی ستا مخ دوزخ طرف نه وګرځوم نو بياکيدی شي چې ته نور څه غوښتل شروع کړې ۵ هغه سړی به عرض وکړي خما دي ستا په عزت قسم وي نور هيڅ به نه غواړم بيا به هغه څه نور عهد وپيمان کوي څه چې الله ﷻ غواړي ۶ او الله ﷻ به د هغه مخ دوزخ طرف نه وګرځوي هرکله چې د هغه مخ دوزخ طرف نه جنت طرف ته وګرځول شي او د جنت زيبائش آرائش او تروتازګي ووينې ۷ نو مخکې خو به هغه وقته پورې خاموش ولاړ ګوري د خوپوري چې الله ﷻ غواړي بيا به عرض وکړي اې خما پروردګاره! ما د جنت دروازې ته ورسوې

۱ فَيَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ الْعُهُودَ وَالْمِيثَاقَ ۲ أَنْ لَا تَسْأَلَ غَيْرَ الَّذِي كُنْتَ سَأَلْتَ. ۳ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ لَا أَكُونُ أَشْقَى خَلْقِكَ. ۴ فَيَقُولُ: فَمَا عَسَيْتَ إِنْ أُعْطِيتُ ذَلِكَ أَنْ تَسْأَلَ غَيْرَهُ ۵ فَيَقُولُ: لَا وَعِزَّتِكَ لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَ ذَلِكَ، فَيُعْطِي رَبَّهُ مَا شَاءَ مِنْ عَهْدٍ وَمِيثَاقٍ، ۶ فَيُقَدِّمُهُ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ، فَإِذَا بَلَغَ بَابَهَا فَرَأَى زَهْرَتَهَا وَمَا فِيهَا مِنَ النَّضْرَةِ وَالسُّرُورِ، ۷ فَسَكَتَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَسْكُتَ، فَيَقُولُ: يَا رَبِّ أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ،

ترجمه: ۱ الله ﷻ به ورته فرمائي آيا تا دا لوظ او اقرار نه وو کړی ۲ چې ته به د خپل دي درخواست نه علاوه چې خما مخ دوزخ طرف نه وګرځوه بل څه درخواست نه پيش کوي ۳ هغه به زاری کوي اې خما پروردګاره! ته خپل مخلوق کې د ټولو نه زيات بدنصيبه مامه جوړوي چې ستا داټول مخلوق خو په جنت کې دی او زه دومره بدنصيبه يم د جنت دروازې ته مې ورسوې ۴ نو الله به ورته وفرمايي بيا نزدې يې که تاته دا څيزونه درکول شي چې بيا به دبل شي سوال کوي، ۵ نو هغه بنده به وايي چې ياستا په عزت مې دي قسم وي زه ستا نه ددې نه علاوه دبل شي سوال نه کوم بيا به هغه څه نور عهد وپيمان کوي څه چې الله ﷻ غواړي ۶ خو کله چې هغه د جنت دروازې ته ورشي او د جنت چمك دمك برك پروق او په هغه کې دننه څيزونه لکه عالي شان محلات د عيش وعشرت اسباب حور وغلمان او په جنت کې د اوسيدونکو شان وشوکت ووينې ۷ نو مخکې خو تر هغه وقته پورې خاموش ولاړ ګوری به د خوپوري چې الله ﷻ غواړي بيا به عرض وکړي اې خما پروردګاره! ما جنت ته دننه ورسوې

۱ فَيَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: وَيْلَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ! ۲ أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ الْعُهُودَ وَالْمِيثَاقَ أَنْ لَا تَسْأَلَ غَيْرَ الَّذِي أُعْطِيتَ. ۳ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ لَا تَجْعَلْنِي أَشْقَى خَلْقِكَ، ۴ فَلَا يَزَالُ يَدْعُو حَتَّى يَضْحَكَ اللهُ مِنْهُ، ۵ فَإِذَا ضَحِكَ أَذِنَ لَهُ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ، ۶ فَيَقُولُ: تَمَنَّ، فَيَتَمَنَّى حَتَّى إِذَا انْقَطَعَتْ أُمْنِيَّتُهُ ۷ قَالَ اللهُ تَعَالَى: تَمَنَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا، ۸ أَقْبَلَ يُذَكِّرُهُ رَبُّهُ، حَتَّى إِذَا انْتَهَتْ بِهِ الْأَمَانِيُّ ۹ قَالَ اللهُ: لَكَ ذَلِكَ وَمِثْلُهُ مَعَهُ». ۱۰ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي سَعِيدٍ

-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: "قَالَ اللّٰهُ: لَكَ ذٰلِكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] الله ﷻ به ورته فرمايي اې ابن آدم! افسوس ته خومره وعده ماتونکی او وعده هيرونکی يې [۲] آيا تا وعده نه وه کړې چې دې وعدې نه علاوه چې ستا د خواهش مطابق منظور شوې وه څه بل درخواست به نه پيش کوې [۳] هغه به عرض وکړي اې خما پروردګاره! بيشکه ما اقرار کړی وو ليکن هرکله چې ما ستا شان عفو او ستا بې انتهاء رحمت طرف ته وکتل او په دې خبره مې غور وکړو چې خپله تا خپل کلام مجيد کې فرمايلی دی: لَا تَايْئَسُوا مِن رَّوْحِ اللّٰهِ نو ماته معلومه شوه چې زه د هغه کافرو په شان نه يم چې ستا د رحمت نه نا اميده شوي دي زه ستا د کرم او ستا د وسعت رحمت هره لمحه اميد لرونکی يم نو ستا د رحمت لمن تينګه نيولو سره عرض کوم چې ما په خپل مخلوق کې د ټولو نه زيات بد نصيب مه جوړوې [۴] غرض دا چې هغه به دغه شان زارۍ کوي ددې پورې چې الله ﷻ به د هغه منت زارۍ او طلب صادق ليدو سره هغه نه راضي شي [۵] او هرکله چې الله ﷻ ځنې راضي شي نو هغه ته به په جنت کې د داخليدو اجازت ورکول شي [۶] او ورته به وفرمايي ته که څه نور خواهش او ارزو لرې هغه ښکاره کړه او څه چې غواړې او غواړه نو هغه به په خلاص زړه سره خپلې ارزوګانې بيان کړي او هرکله چې دآخرې نه آخرې ارزو يې هم پوره شي [۷] نو الله ﷻ به ورته فرمايي د فلانې فلانې څيز خواهش ولې نه ظاهروې [۸] ګويا پروردګار به هغه ته ورياد ول وغواړې چې تا فلانی فلانی څيزخو ونه غوښتی دا څيزونه هم وغواړه نن زه تاته هرشی عطاکوم ددې پورې چې هغه ارزوګانې به هم پوره شي [۹] نو الله ﷻ به ورته فرمايي چې نه صرف دا ټول څيزونه چې ستا خواهش باندې تاته عطا شوي دي ستا د پاره دی بلکه د فضل له مخه داسې نور نعمتونه هم تاته عطا کېږي [۱۰] او د حضرت ابوسعيد رضی الله عنه په روايت کې داسې دي چې الله ﷻ به ورته فرمايي نه صرف دا ټول څيزونه ستا د پاره دی بلکه دې سره لس چنده نور نعمتونه هم تاته درکړې کېږي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① كَلَالِيبُ: دَدې مفرد كَلُّوبٌ دې. د اوسپنې کونډه سيخ، ② شَوْكٌ: ازغي، ③ السَّعْدَانُ: د اوښانو د خوراک يوه ازغی داره اونه ده لکه کيکر، ④ تَخْطَفُ: تختوی به ئې، راکاږی به ئې، ⑤ يُوبَقُ: هلاک به شی (دابه کافران وی)، ⑥ يُخَرْدَلُ: د اوری د دانې برابر به ئې ذره ذره کړی (دا به فاسقان وی)، ⑦ امْتَحَشُوا: سکاره شوی، بالکل سوزيدلی، ⑧ يُصَبُّ: وابه روليې شی، ⑨ حَمِيلُ: خخلي، ⑩ السَّيْلُ: سيلاب، ⑪ قَشَبَنِي: په تکليف کړې يم زه، ⑫ ذَكَاؤُهَا: شغلې د أور، ⑬ مِيثَاقُ: کلکه او پخه وعده، ⑭ بَهْجَتَهَا: ښائست او ترو تازګی دجنت، ⑮ زَهْرَتَهَا: پرق پروق او ځلا او ښائست دجنت، ⑯ النَّضْرَةُ: ترو تازګی، خوشحالی، ⑰ مَا أَغْدَرَكَ: دَ تعجب صيغه ده يعنی ته خومره غدار او دهوکه باز ئې.

تسهيلات:

د حديث د بعضې مشكلو جملو وضاحت:

① كَلَالِيبُ: دا د او سپنې هغه سيخ او راډ ته وائي د كوم سر چه راتاؤ شوې وي د كوم په ذريعه چه خلق د تندور نه روټئي راؤباسي يا غوښه زورندوي او ورتوئي. دې ته كنډې هم وائي په اردو كښې د دې ترجمه "آنکڑے" سره كړې شوې ده دې ته خمدار ازغي هم وائي.

② شَوْكِ السَّعْدَانِ: سعدان يو بوټې دې دا اوښان په ډير شوق سره خورى. په دې كښې د ښځو د سينو د څوكې په شان ازغي وي چه ډيرزيات مضبوط او سخت وي. دلته هم د هغه ازغو ذكر دې ته په عربى كښې حسكة او حسيكة هم وائي.

③ قَشَبَنِي: يعنى ماته د دوزخ ګرمائش او بدبوئى دومره زيات تكليف رسولې دې په كوم سره چه زما رنګ بدل شو او د مخ څرمن مې بدله شوه.

④ هَلْ عَسَيْتَ: يعنى آيا د دې امكان نشته چه كه چرې زه تاسو د دغه حالت نه راؤباسم نو تاسو به بل څه مطالبه كول شروع كړئى؟

⑤ فَيُعْطِي اللَّهَ: يعنى الله تعالى سره به پخه وعده او كړى چه بيا به مطالبه نه كوم.

⑥ مَا أَغْدَرَكَ: يوه نسخه كښې "ماأغدرك" ذال سره دې يعنى كوم يو څيز ته په بار بار سوال كولو او وعده ماتولو كښې معذور او صاحب عذر جوړ كړې؟

⑦ أَقْبَلَ يُذَكِّرُهُ: يعنى الله تعالى به د هغه طرف ته متوجه كيدو سره هغه ته ياد كړى چه فلانكې فلانكې څيز اوغواړه مطلب دادې چه الله تعالى به د هغه په زړه كښې د دغه څيزونو د غوښتلو جذبه القاء كړى او د الهام په ذريعه سره به هغه د غوښتلو طرف ته متوجه كړى چه فلانكې فلانكې څيز اوغواړه.

[۵۵۸۲] جنت كښې د ټولو نه آخر كښې د داخليدو نكى سړى ذكر

۵۵۸۲-(۱)[۱۴] ① «وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "آخِرُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ رَجُلٌ، يَمْشِي مَرَّةً، وَيَكْبُو مَرَّةً، ② وَتَسْفَعُهُ النَّارُ مَرَّةً، فَإِذَا جَاوَزَهَا الْتَفَتَ إِلَيْهَا فَقَالَ: تَبَارَكَ الَّذِي نَجَّانِي مِنْكِ، ③ لَقَدْ أَعْطَانِي اللَّهُ شَيْئًا مَا أَعْطَاهُ أَحَدًا مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ، فَتُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ فَلِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا ④ وَأَشْرَبَ مِنْ مِنْ مَائِهَا فَيَقُولُ اللَّهُ: يَا ابْنَ آدَمَ لَعَلِّي إِنْ أَعْطَيْتُكَهَا سَأَلْتَنِي غَيْرَهَا؟ ⑤ فَيَقُولُ: لَا يَا رَبِّ، وَيُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا، وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ؛ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ ⑥ فَيُدْنِيهِ مِنْهَا؛ فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا، وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا، ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَى، ⑦ فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ! أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ لِأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا، وَأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا، لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا،

---

(۱) اخرجه مسلم في كتاب الإيمان/باب آخر أهل النار خروجًا (رقم-۳۱۰ - (۱۸۷) واحمد فى المسند:۱/۴۱۱

ترجمه: ١ او حضرت ابن مسعود ﷺ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل په جنت کې به د ټولو نه په آخر کې داخلیدونکی هغه سړی وي چې هغه دوزخ نه وتلو سره روان شي نو یو قدم به مخکې تلی وي چې په دویم قدم به پړمخي لاندي را ولویږي ٢ او په دریم قدم به د دوزخ اور د هغه د جسم بعضې اعضاء وسوزي او د هغه د څمړې رنګ به بدل شي بیا چې هغه دغه شان لویدو سوزیدو او د دوزخ د ګرمۍ او تاو نه مخکې تیریږي نو تاویدو سره دوزخ طرف ته به وګوري او وایي به د الله ذات بزرګ او برتر دی چې الله ﷻ ماته ستا نه نجات راکی ٣ قسم په الله خما پروردګار ماته هغه شی راکړی دی چې هغه مخکې وروسته هیچاته نه دی ورکړي بیا د هغه د نظر مخکې به یوه و نه ودرول شي چې د هغه لاندي به د اوبو چینه وي هغه چې هغه ونې او چشمې ته وګوري نو عرض به وکړي اې خما پروردګاره! مادې ونې ته نزدې کړي چې زه د دې سایه (سورې) حاصله کړم ٤ او د هغه د چشمې نه اوبه اوڅکم الله ﷻ به ورته فرمایي اې ابن آدم که زه ستا دا ارزو پوره کړم نو کیدی شي چې ته زما نه نور څه غوښتل شروع کې ٥ هغه به عرض وکړي اې خما پروردګاره! داسې به نه کیږي دې نه وروسته به هغه الله ﷻ سره د دې خبرې عهد وکړي چې هغه به دې نه علاوه نور هیڅ نه غواړي نو هغه سړی به یو داسې شیویني چې هغه به بې صبره کوي څکه د هغه پروردګار به هغه معذور ګڼلو سره هغه ته معافي وکړي ٦ او هغه به هغه ونې ته ورسوي هغه سړی چې د هغه ونې سایي کې کیني او د هغه چشمې نه اوبه اوڅکي بیابه هغه ته نور زیات مخکې کیدو د پاره د هغه د نظر مخکې یوه بله و نه ودرول شي چې د مخکنۍ ونې نه به زیاته ښه وي ٧ هغه سړی چې هغه و نه ویني نو وایي به اې خما پروردګاره! مادې ونې ته ورسوئ چې د هغه سایه (سورې) حاصل کړم او د هغه د چشمې نه اوبه اوڅکم او زه به اوس د دې ونې نه علاوه ستا نه نور هیڅ نه غواړم

١ فَيَقُوْلُ: يَا ابْنَ آدَمَ! أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا؟ ٢ فَيَقُوْلُ: لَعَلِّي إِنْ أَدْنَيْتُكَ مِنْهَا تَسْأَلُنِي غَيْرَهَا؟ ٣ فَيُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا، وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ، ٤ فَيُدْنِيهِ مِنْهَا ; فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا، وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا، ٥ ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ عِنْدَ بَابِ الْجَنَّةِ هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَيَيْنِ، ٦ فَيَقُوْلُ: أَيْ رَبِّ! أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ فَلِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا وَأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا، لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا،

ترجمه: ١ حق تعالٰی به هغه ته وفرمایي اې ابن آدم! آیا تا ما سره دا وعده نه وه کړې چې ته به د مخکنۍ ونې نه علاوه نور هیڅ زما نه نه غواړې ٢ دې نه وروسته به ورته الله ﷻ فرمایي که زه تا دې ونې ته هم ورسوم نو کیدی شي چې ته زما نه نور څه غوښتل شروع کړې ٣ هغه به د الله ﷻ سره د دې خبرې عهد وکړي چې هغه به د دې نه علاوه نور هیڅ نه غواړي نو د هغه پروردګار به هغه معذوره ګڼلو سره هغه ته معافي وکړي څکه چې هغه

به يو داسي شی ووينې چې هغه به بې صبره کړي ۴ او بيا به الله ﷻ هغه هغه ونې ته ورسوي هغه سرى به د هغه ونې لاندې کينې او د هغه د چشمې اوبه به اوڅکي ۵ او دريمه و نه به د هغه مخکې ودرول شي چې د جنت دروازې ته به نزدې او د مخکنى دوارو و نو نه به زياته ښه وي ۶ هغه سرى به هغه و نه ليدو سره وايي اې ځما پروردګاره! ما دې ونې ته ورسوي چې د دې سايه (سورې) حاصله کړم او د دې د چشمې نه اوبه اوڅکم

۱ فَيَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ! أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا؟ ۲ قَالَ: بَلَى يَا رَبِّ هَذِهِ لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا، وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ، ۳ فَيُدْنِيهِ مِنْهَا، فَإِذَا أَدْنَاهُ مِنْهَا سَمِعَ أَصْوَاتَ أَهْلِ الْجَنَّةِ، ۴ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ! أَدْخِلْنِيهَا، ۵ فَيَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ مَا يَصْرِينِي مِنْكَ؟ ۶ أَيُرْضِيكَ إِنْ أَعْطَيْتُكَ الدُّنْيَا وَمِثْلَهَا مَعَهَا، ۷ قَالَ: أَيْ رَبِّ! أَتَسْتَهْزِءُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ؟

ترجمه: ۱ حق تعالى به ورته فرمايي اې ابن آدم! آيا تا ما سره دا وعده نه وه کړي چې د هغه نه علاوه به زما نه نور څه نه غواړې ۲ هغه به عرض وکړي هو بيشکه ما وعده اقرار کړى وو ليکن اوس دا ځما آخرى سوال دى دې نه علاوه به نور څه نه غواړم نو د هغه پروردګار به هغه معذور ګڼلو سره هغه معاف کړي ځکه چې هغه سرى به داسې شى ووينې چې هغه به بې صبره کړي ۳ بيا به الله ﷻ هغه ونې ته ورسوي او د هغه غوږ ته به داسې دلچسپي او خوندوري خبرې راشي چې جنتيان به يې خپلو بيبيانو او دخپلو دوستانو سره کوي ۴ نو هغه سرى به بې اختياره کيدو سره عرض وکړي چې اې ځما پروردګاره! اوس ما جنت ته ورسوي ۵ الله ﷻ به ورته فرمايي اې ابن آدم: آيا څه داسې شى هم شته چې ستا دبار بار خواهش او ارزو کولو نه ماخلاص کړي ۶ آيا ته به په دې هم خوشحاله شي که نه چې زه تاته په جنت کې د ټولې دنيا د مسافت برابر او دهغه په اندازه نورهم ځاى درکړم ۷ هغه سرى به د انتهائي درجې خوشحالې او مسرت په حالت کې وايي چې پروردګاره آيا ته ما سره مذاق ټوقې کوي حالانکه ته خو د ټولو جهانونو پروردګار يې

۱ فَضَحِكَ ابْنُ مَسْعُودٍ، فَقَالَ: أَلَا تَسْأَلُونِي مِمَّا أَضْحَكُ؟ ۲ فَقَالُوا: مِمَّ تَضْحَكُ؟ ۳ فَقَالَ: هَكَذَا ضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۴ فَقَالُوا: مِمَّ تَضْحَكُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ ۵ قَالَ: مِنْ ضَحِكِ رَبِّ الْعَالَمِينَ حِينَ قَالَ: أَتَسْتَهْزِءُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ؟ ۶ فَيَقُولُ: إِنِّي لَا أَسْتَهْزِءُ مِنْكَ، وَلَكِنِّي عَلَى مَا أَشَاءُ قَادِرٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ د حديث دا الفاظ بيانولو نه وروسته حضرت ابن مسعود ؓ وخندل او بيا حديث اوريدونکو ته يې اوويل آيا تاسو دا پوښتنه نه کوئ چې ما ولې وخندل؟ ۲ خلقو اوويل هو او وايې تاسو ولې وخندل؟ ۳ نو وې فرمايل چې په دې موقع حضور ﷺ خندلې وه ۴ او هرکله چې صحابه و ؓ پوښتنه وکړه چې يارسول الله تاسو ولې وخندل؟

۵نو حضور ﷺ ورته وفرمايل ما په دې وجه وخندل چې هركله هغه سړى وايي چې پروردګاره چيرته ته خوبه ما سره توقې نه کوې حالانکه ته د ټولو جهانونو پروردګار يې نو بيابه پروردګار عالم په دې وخاندي ۶بهر حال الله ﷻ به د هغه سړي داخبره اوريده سره و فرمايي چې نه زه تا سره مذاق نه کوم او ښه پوهيږم چې ته د دې عطا مستحق نه يې ليکن دا هرڅه ځکه تاته درکوم چې زه څه غواړم کولی شم چې د هرشي مالك او مختار او قادر مطلق زه يم دا روايت مسلم نقل کړی دی.

حل اللغات: - ①بَكْو: کمابکو پرمخ پريوتو ته وائي. ②تَسْفَعُهُ: راګيرکړی ده لره (شغلې د أور) ③ يَصْرِيكَ: صرى يصرى صرى، ضرب يضرب نه منع کولوپه معنى کښې دې.

تسهيلات:

قوله: وَرَبُّهُ يَعْذُرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَالَا صَبْرَلَهُ عَلَيْهِ:

الله تعالى بنده لره معذوره ګنړل: يعنى دَعظيم نعمتونو مخې ته دَ دغه سړي بې صبره کيدل به الله تعالى ته معلوم وي په دې وجه الله تعالى به بار بار په مخالفت او بيا سوال کولوباندې دې معذور او مجبورګڼړي.

قوله: يَاابْنَ آدَمَ مَايَصْرِينِي مِنْكَ؟:

دمذکوره جملې مطلب: هم دَدې نه بيع "مصراة" په معنى دَ حبس اللبن فى الضرع دې. په يوه نسخه کښې "مايصريك منى" دې دَ معنى په اعتبارسره دا زيات واضح دې دواړه نسخې صحيح دى مطلب دادې چه اې بنيادمه! هغه کوم يوڅيزدې چه ستا دَ بار بار سوالونو کولو اومطالباتو نه زما ځان خلاص کړي؟ دادَ الله تعالى دَ طرف نه دَ ډيرزيات شفقت اظهاردې.

۵۶۰۵-()[۱]وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-نَحْوَهُ،[۲]إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ(فَيَقُولُ: يَاابْنَ آدَمَ مَايَصْرِينِي مِنْكَ؟) إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ، وَزَادَ فِيهِ:[۳]((وَيُذَكِّرُهُ اللَّهُ: سَلْ كَذَا وَكَذَا، حَتَّى إِذَا انْقَطَعَتْ بِهِ الْأَمَانِيُّ[۴]قَالَ اللَّهُ: هُوَلَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ،[۵]قَالَ: ثُمَّ يَدْخُلُ بَيْتَهُ، فَتَدْخُلُ عَلَيْهِ زَوْجَتَاهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ[۶]فَيَقُولَانِ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَاكَ لَنَا وَأَحْيَانَا لَكَ.[۷]قَالَ: فَيَقُولُ: مَا أُعْطِيَ أَحَدٌ مِثْلَ مَا أُعْطِيتُ)).

ترجمه: [۱]او په مسلم کې يوبل روايت حضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه نه دغه شان الفاظو کې منقول دى [۲]ليکن هغه روايت کې د فيقول ياابن أدم مايصرينى منك نه ترآخر پورې الفاظ خو نشته البته دا الفاظ نور نقل شوي دي [۳]چې بيا به الله ﷻ هغه سړي ته ورياد کړي او ورته به وښايي چې فلانى فلاني څيزوغواړه او هرکله چې هغه ټول څيزونه وغواړي او د

) اخرجه مسلم فى کتاب الإيمان/باب أدنى أهل الجنة منزلة فيها (رقم-۳۱۱ - (۱۸۸)

هغه ارزوګاني ختمي شي [۴]نو الله ﷻ به ورته وفرمايي چې نه صرف دا ټول څيزونه چې تـايي خـواهش کـړی دی بلکـه د دې لـس چنـده نـور څيزونـه هـم تاتـه درکـړي کېـږي [۵]حضور ﷺ وفرمايل دي نه وروسته به هغه سړی په جنت کې خپل کور کې داخل شي هلته به هغه ته دحورو نه د هغه دوه بيبياني راشي [۶]او وايي به ټول تعريف الله بزرګ او برترلره دی چې هغه دي عاليشان محل کې چې دلته د عيش او راحت نه ماسوا نه څه غم او فکر شته او نه د مرګ خوف شته ته يي زمونږ د پاره او مونږ يو ستا د پاره پيدا کړي [۷]يو حضور ﷺ وفرمايل هغه سړی به د ډيري خوشحالۍ نه وايي چې دلته د ټولو نه زيات خوش نصيبه زه يم څکه چې څومره ورکړه ماته شوي ده دومره بل هيچاته نه ده شوی دا خبره بـه هغـه پـه دي بنـاء کـوي چـې هغـه وقتـه پـورې بـه هغـه تـه نـورو تـه د حاصليدونکو نعمتونو علم نه وي هغه به داګنې چې دلته د ټولو نه زيات نعمتونه بس په ما شوي دی او ترټولو زيات په نعمتونو کي پټ بنده بس زه يم .

حل اللغات:- ① تَصْرِیْنِي :صری يصری صری، ضرب يضرب نه منع کولو په معنی کښې دې.

② اَلْحُوْرِ الْعِیْنِ : غټو سترګو والا حُورې،

تسهيلات:

قوله: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَحْيَاكَ لَنَا وَأَحْيَانَا لَكَ

حورې اود الله تعالی تعريف: دوارو خايونو کښې أحياك دَتخليق او پيدا کولو پـه معنی کښې دې يعنی ته ئې زمونږ دَپاره او مونږ يو ستادَ پاره پيدا کړو.

[۵۵۸٤]دَ دوزخ نه جنت ته د تلونکو جنتيا نولقب به جهنمی وی

٥٥٨٤-()[١٥][۱]«وَعَنْ أَنَسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ:[۲]"لَيُصِيبَنَّ أَقْوَامًا سَفْعٌ مِنَ النَّارِ بِذُنُوبٍ أَصَابُوهَا عُقُوبَةً،[۳]ثُمَّ يُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِهِ وَرَحْمَتِهِ،[۴]فَيُقَالُ لَهُمْ: الْجَهَنَّمِيُّونَ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱]او حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲]د مسلمانانو څه ډلي به داسې وي چې هغوئ به د هغوئ د ګناهونو پـه بدل کې د دوزخ د اور شعلي سُوزي او دهغوئ حُليې به بدلي کړي [۳]بيابه الله ﷻ د خپل خاص فضل وکرم او رحمت لاندي هغوئ ته دوزخ نه خلاصون ورکولو سره جنت ته به يي ورسوي [۴]و هغه خلقو ته به جهنميان وئيل کېږي . (بخاري)

حل اللغات:- ① سَفْعٌ: دَ اور شعلې،

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار (رقم-٦٥٥٩)

تسهيلات:

دبعضې جملو وضاحت:

① سَفْعٌ: دا فاعل واقع دې يعنى داسې به ډيرې دلې وى چالره چه به دَ خپلو ګناهونو په وجه دَ دوزخ دَ اور شغلې سوزوى.

② الْجَهَنَّمِيُّونَ: دا لقب به دَتکليف ورکولو په توګه نه وى بلکه دَتذکرۀ خلاص من النار او تذکرۀ احسان دَ الله تعالى په توګه به وى.

[۵۵۸۵] د حضور ﷺ په شفاعت سره د اور نه جنت ته د تللو نکو لقب

۵۵۸۵-()[۱٦] ①وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"يَخْرُجُ أَقْوَامٌ مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَةِ مُحَمَّدٍ، فَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ ③وَيُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيِّينَ» ". ④رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَفِي رِوَايَةٍ: "«يَخْرُجُ قَوْمٌ مِنْ أُمَّتِي مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَتِي، يُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيِّينَ» ".

ترجمه: ①او حضرت عمران بن حصين ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②ډير خلق به د محمد ﷺ د شفاعت په نتيجه کې دوزخ نه ويستلو سره په جنت کې به داخل شي ③او د هغوئ نوم به جهنمي کينبودل شي. ④(بخاري) او په يوه روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمايل ځما په امت کې به ډير خلق ځما د شفاعت په نتيجه کې دوزخ نه ويستل شي او د هغوئ نوم به جهنمي کينبودل شي.

تسهيلات:

نوټ: دحديث دترجمې ځخه مطلب واضح دې ځکه په شرح کنبې ځه ضرورت نشته.

[۵۵۸٦] هغه سړی چه د ټولو نه په آخر کې به جنت ته ځي

۵۵۸٦-()[۱۷] ①«وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا، وَآخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا، ③رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ حَبْوًا، ④فَيَقُولُ اللّٰهُ: اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ، فَيَأْتِيهَا، فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهَا مَلْأَى ⑤فَيَقُولُ: يَا رَبِّ! وَجَدْتُهَا مَلْأَى، ⑥فَيَقُولُ اللّٰهُ: اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ، فَإِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا،

ترجمه: ①او حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②زه يقينا هغه سړی پيژنم چې د ټولو نه په آخر کې به دوزخ نه ويستل شي او د ټولو نه په آخر کې به جنت ته ورسول شي ③دا به يو داسې سړی وي چې په ځږ پوسو سره به د دوزخ نه بهر

---

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار (رقم-٦٥٦٦) والترمذى فى كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-٢٦٠٠)وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب ذكر الشفاعة (رقم-٤٣١٥) واحمد فى المسند:١٣٣/٣

[۲]) اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار(رقم-٦٥٧١) والترمذى فى كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-٢٥٩٥)

راووخي [۴] الله ﷻ به هغه ته فرمايي څه او په جنت کې داخل شه هغه سړی چې هلته جنت ته دننه يا د جنت دروازې ته ورشي نو هغه ته به جنت داسې حال کې ښکاره شي چې ګويا هغه بالکل ډک شوي دي او په هغه کې مزيد د چا د پاره ګنجائش نشته [۵] نو هغه سړی به عرض وکړي اې خما پروردګاره! دا جنت خو بالکل ډک شوي دي دلته خو زما د پاره هيڅ ځاي په نظر نه راځي [٦] الله ﷻ به ورته فرمايي ته ورشه او جنت کې داخل شه هلته ستا د پاره د دنيا د مسافت برابر او د هغه نه لس چنده مزيد ستا د پاره مخصوص شوي دي

حل اللغات:- ① حَبْوًا: په زنګونانو سره تلل.

[۱] فَيَقُولُ: أَتَسْخَرُ مِنِّي - أَوْ تَضْحَكُ مِنِّي - [۲] وَأَنْتَ الْمَلِكُ؟. [۳] وَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ، [۴] وَكَانَ يُقَالُ: ذَلِكَ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] هغه سړی به د انتهائي درجه تعجب په حالت کې وايي اې پروردګاره! آيا ته ما سره مذاق کوي؟ يا دا به وايي ته ما سره خندا کوي [۲] حالانکه ته خو د بادشاهانو هم بادشاه يې [۳] حضرت ابن مسعود ﷺ وايي ما وليدل چې رسول الله ﷺ دا خبره فرمايلو سره وخندل ددې پورې چې مخکني غاښونه يې ښکاره شوه [۴] او وئيل کيږي چې دا سړی به په جنتيانو کې د ټولو نه د لا ندې درجې سړی وي. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: تَضْحَكُ مِنِّي - وَأَنْتَ الْمَلِكُ؟:

دبنده الله تعالى دالله تعالى په اعلان حيرانيدل: يعنی ته بادشاه على الإطلاق ئې او بادشاه مذاق اوتوقې نه کوی. ته مونږ پورې توقې کوې چه په جنت کښې دَ خپې دَ کيخودو ځائې نشته دې اوته دَ لس چنده زيات خبره کوې.

[۵۵۸۷] آخری جنت ته تلونکی سړی سره دَالله تعالى د رحمت معامله

۵۵۸۸-()[۱۸] [۱] «وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ، وَآخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا، [۳] رَجُلٌ يُؤْتَى بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ: [۴] اعْرِضُوا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ، وَارْفَعُوا عَنْهُ كِبَارَهَا، [۵] فَتُعْرَضُ عَلَيْهِ صِغَارُ ذُنُوبِهِ، [٦] فَيُقَالُ: عَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا، كَذَا وَكَذَا؟ وَعَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا، كَذَا وَكَذَا؟

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] زه يقينا هغه سړی پيژنم چې د ټولو نه په آخر کې به په جنت کې داخل شي او د ټولو نه په آخر کې به دوزخ نه را ويستل شي [۳] دا به يو داسې سړی وي چې هغه به د قيامت په ورځ هرکله چې د

[۱]) اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب أدنى أهل الجنة منزلةً فيها (رقم-۳۱۴ - (۱۹۰) والترمذى فى كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۵۹٦)

پروردگار حضور کې پیش شي نو فرشتو ته به اوویل شي [۳]چې د ده کوچني گناهونو باندې مشتمل فرد جرم لاا وس په ده مه ښکاره کوئ [۵]نو د هغه وړو وړو گناهونو فرد جرم به د هغه مخې ته شي [٦]او بیا به هغه ته اوویل شي وښایه تا په فلاني فلاني ورځ فلاني فلانی خراب کار کړی وو او په فلاني فلاني ورځ دي طاعت ترک کړی وو

[۱]فَيَقُولُ: نَعَمْ، لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنْكِرَ [۲]وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ كِبَارِ ذُنُوبِهِ أَنْ تُعْرَضَ عَلَيْهِ. [۳]فَقَالَ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ حَسَنَةً. [۴]فَيَقُولُ: رَبِّ قَدْ عَمِلْتُ أَشْيَاءَ لَا أَرَاهَا هَاهُنَا". [۵]وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]هغه به اقرار وکړي چې هو ما په فلاني فلاني ورځ داسې داسې کړی وو او د خپلو هغه گناهونو نه به انکار نشي کولی [۲]ځکه چې هغه به د خپلو لویو لویو گناهونو خوف کې مبتلا وي او سوچ به کوئ که چیرته د هغه د لوی گناهونو فردِ جرم مخې ته راشي نو بیا به د ډیري سختې پوښتنې او مواخذې سره مخ کیدل راځي [۳]نو هغه ته به اوویل شي چې ځه مونږ نه صرف ته معاف کړي بلکه زمونږ د خصوصي رحمت او کمالِ فضل وکرم لاندې تاته د هري بدۍ په بدله کې یوه نیکي درکړې کیږي [۴]هغه سړی به وایي اې ځما پروردگاره! ما نور هم خراب کارونه یعنی لوی گناهونه کړي وو چې ما ته دلته فردِ جرم کې په نظر نه راځي [۵]حضرت ابوذر ﷺ وایي ما ولیدل چې رسول الله ﷺ دا بیانولو سره وخندل ددې پورې چې دحضور ﷺ دمخ غاښونه مبارک ښکاره شول. (مسلم)

حل اللغات:- ① مُشْفِقٌ: ویریدونکې،

تسهیلات:

قوله: رَبِّ قَدْ عَمِلْتُ أَشْيَاءَ لَا أَرَاهَا هَاهُنَا:

دبنده حرص او لالچ: یعنی زما څه لوئې گناهونه وو هغه دلته نه ښکاري. کله چه دَ وړو گناهونو په وجه دومره نعمت ملاؤ شو نو په لویو گناهونو باندې به خومره انعام ملاویږي. رښتیادی چه کله دَ الله تعالی رحمت جوش اووهی نو دَ ابلیس به هم طمع پیدا شی چه کیدې شی چه ماته هم څه معافی ملاؤ شی.

[۵۵۸۸] دَ دوزخ نه راویستلی شوی دَ یو سړی واقعه

۵۵۸۸-()[۱۹] [۱]«وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲]"يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ أَرْبَعَةٌ، فَيُعْرَضُونَ عَلَى اللهِ، [۳]ثُمَّ يُؤْمَرُ بِهِمْ إِلَى النَّارِ، [۴]فَيَلْتَفِتُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ! لَقَدْ كُنْتُ أَرْجُو إِذْ أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا أَنْ لَا تُعِيدَنِي فِيهَا" [۵]قَالَ: (فَيُنْجِيهِ اللهُ مِنْهَا)». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او حضرت انس ﷺ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲]په آخر کې

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان /باب أدنی أهل الجنة منزلةً فیها (رقم-۳۲۱ - (۱۹۲) واحمد فی المسند: ۲۸۵/۳

دوزخ نه كوم خلق چې وايستل شي په هغوئ كې به څلور سړي هغه وي چې هغوئ دوزخ نه ويستل شي او د الله ﷻ په حضور كې به پيش شي [۳] نو د هغوئ په باره كې به دا حكم وي چې هغوئ دې دوزخ ته وليږل شي [۴] دې نه وروسته چې هغوئ دوزخ ته بوتلل شي نو په هغوئ كې به يو سړى راګرځيدو سره ډير حسرت سره وايي اې خما پروردګاره! ما خو دا اميد لرلو چې هركله ته ما د دوزخ نه راوباسې نو دوباره به ما هلته نه ليږې [۵] حضور ﷺ وفرمايل الله ﷻ چې داخبره واورې نو هغه ته به د دوزخ نه نجات وركړي. (مسلم)

حل اللغات: - ① فَيَلْتَفِتُ: نو او به ګورى اخوا ديخوا.

تسهيلات:

قوله: أَيْ رَبِّ! لَقَدْ كُنْتُ أَرْجُو إِذْ أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا أَنْ لَا تُعِيدَنِي فِيهَا:

د بنده دالله تعالى په دربار كښې غواست: يعنى چه كله الله تعالى هغه سړى ته دوباره دوزخ ته دَتلو حكم وركړى. نو يو دوزخى به په عجيبه عاجزانه انداز كښې اووائى چه زما خو خيال وو چه كله تا زه راويستلم نو دوباره به مې نه ورليږې. په دې باندې به الله تعالى اوفرمائى چه دا يو امتحان او ازميښت وو. څه جنت كښې اوسيږه. دلته دَيو سړه دَدې مكالمه ذكر دې ګنې دا معامله به څلورو واړو سره وى څكه چه كافرخو چرته دَ دوزخ نه ويستلې نه شى. چه دغه څلور راوويستل نو دا به مسلمانان وى كله چه راؤوتل نو بس راؤوتل.

[۵۵۸۹] دَمؤمن څخه دَپل صراط تپوس

۵۵۸۹-(¹)[۲۰] [۱] «وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "يَخْلُصُ الْمُؤْمِنُونَ مِنَ النَّارِ، [۳] فَيُحْبَسُونَ عَلَى قَنْطَرَةٍ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، [۴] فَيُقْتَصُّ لِبَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ مَظَالِمُ كَانَتْ بَيْنَهُمْ فِي الدُّنْيَا، [۵] حَتَّى إِذَا هُذِّبُوا وَنُقُّوا أُذِنَ لَهُمْ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ، [۶] فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ [۷] لَأَحَدُهُمْ أَهْدَى بِمَنْزِلِهِ فِي الْجَنَّةِ مِنْهُ بِمَنْزِلِهِ كَانَ لَهُ فِي الدُّنْيَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعيد رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هركله چې اهلِ ايمانو ته ددوزخ نه خلاصون حاصل شي [۳] نو هغوئ به جنت ته رسولو نه مخكې په دې پُل حصار شي كوم چې د جنت او دوزخ په منځ كې به وي [۴] او بيا به هغوئ ته د هر يو بل نه د هغوئ د حقوقو او مطالباتو بدله وركول شي چې په دنياكي هغوئ په يو بل لرله نو كوم سړى چې دنيا كې په خپله ذمه د چا حق لرې او د هغه د آدائيګى نه مخكې مړ شي نو په دې موقع به د هغه نه هغه حق حقدار ته وركول شي [۵] د دې پورې چې هركله هغه خلق د هرقسم ګناه نه بالكل پاك صاف شى نو هغوئ ته به په جنت كې د داخليدو اجازت

¹) اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب القصاص يوم القيامة " (رقم-۶۵۳۵) واحمد فى المسند: ۱۳/۳

ورکول شي ⑥نو قسم دی په هغه ذات چې د هغه د قدرت په لاس کې د محمد ساه ده ⑦هرکله چې هغه خلق په جنت کې داخل شي نو په هغوئ کې به هرسړی خپل هغه مکان چې هغه د پاره په جنت کې مخصوص وي د خپل دنيا د مکان نه زيات ښه پيژني (بخاري)

حل اللغات: - ①قَنْطَرَةٍ: پل. ②هُذِّبُوا: پاک به کړې شی. ③نُقُّوا:صفا به کړې شی

تسهيلات:

قوله: فَيُحْبَسُونَ عَلَى قَنْطَرَةٍ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ:

نوټ: دې تفصيل دمشکاة د حديث نمبر(۵۵۸۹) په تسهيل کښې تيرشوې دې

قوله: لَأَحَدُهُمْ أَهْدَى بِمَنْزِلِهِ فِي الْجَنَّةِ مِنْهُ بِمَنْزِلِهِ كَانَ لَهُ فِي الدُّنْيَا:

په جنت کښې د خپل جنت معلوميدل: يعنی دَ پل صراط نه دَ تيريدو نه پس به مؤمن سړې ته خپل دَ جنت مکان داسې معلوم وی لکه څنګه چه په دنيا کښې هغه ته خپل مکان معلوم وو دا به دَهغه سړی دَ ايمان دَ نور کمال وی لکه څنګه چه په دنيا کښې هغه ته دَ هدايت نور حاصل شوې وو. دغه شان به مؤمن په دغه نور سره دَ جنت مکان په آسانئ سره معلومولې شی

[۵۵۹۰] دَهرسړی دَپاره په جنت او دوزخ کښې خاص خاص ځايونه مقرردی

۵۵۹۰-()[۲۱] ①«وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"لَا يَدْخُلُ أَحَدٌ الْجَنَّةَ إِلَّا أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ لَوْ أَسَاءَ; ③لِيَزْدَادَ شُكْرًا، ④وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ إِلَّا أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ لَوْ أَحْسَنَ; ⑤لِيَكُونَ عَلَيْهِ حَسْرَةً»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②کوم سړی چې د جنت مستحق ګرځول شوی وي ترهغه وقته پورې به په جنت کې نه داخليږي د خوپورې چې هغه ته په دوزخ کې هغه ځاي ونه ښودل شي کوم چې د هغه ټيکانه وي که هغه بدکارونه کولي يعنی هغه ته هغه ځاي ښودلو سره ورته ويلی به شي که تا په دنيا کې خراب کارونه کولي نو په دوزخ کې به دا ستا ځاي وو ③او دا به ځکه وي چې هغه په دنيا کې بدکار نه د بچ کيدو او دوزخ ته د تلو په ځاي په جنت کې داخليدو باندې زيات نه زيات شکر اداء کې ④او کوم سړی چې د دوزخ د عذاب مستحق ګرځول شوی وي تر هغه وقته پورې به په دوزخ کې نه شي اچولی ترڅو پورې چې هغه ته په جنت کې هغه ځاي ونه ښودل شي کوم چې د هغه د پاره مخصوص وو که هغه نيک کار کولي يعنی هغه ته هغه ځاي ښودلو سره ورته به اوويل شي که ته په دنيا کې د بدی په لار باندې نه تلاي او نيک کار دي کولي نو په جنت کې به تاته دا مقام درکړي شوی وو ⑤او داسې به ځکه وي

---

(١) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار (رقم-۶۵۶۹) واحمد في المسند:۲/۵۴۱

چې هغه زیات نه زیات حسرت او ندامت کې مبتلا شي. (بخاري)

حل اللغات:- ① مَقْعَدَهُ: ځائ د ناستې یعنی د اوسیدو دهغه، ② أَسَاءَ: بدکارونه او ګناهونه ئې کړی وی.

تسهیلات:

قوله مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ

جنتی او دوزخی ته د دوزخ او جنت ځایونه څودل کیدل: هریو ته به دَهغه نه دَ پاتې کیدو والا مقام اولاً په قبر کښې او ثانیًا په قیامت کښې څودلې کیږی. په دې صورت کښې به مطلب دا شی چه دوزخی په دوزخ کښې دَ داخلیدو نه مخکښې به هغه ته دَهغه دَ جنت والا مقام خودلې کیږی او جنتی ته به په جنت کښې دَ داخلیدو نه مخکښې دَ هغه دَ دوزخ والا مقام څودلې کیږی.

[۵۵۹۱] کله چه مرګ هم مرګ ته حواله کړې شی

۵۵۹۱-() [۳۲] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "إِذَا صَارَ أَهْلُ الْجَنَّةِ إِلَى الْجَنَّةِ، وَأَهْلُ النَّارِ إِلَى النَّارِ، ③ جِيءَ بِالْمَوْتِ حَتَّى يُجْعَلَ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، ثُمَّ يُذْبَحُ، ④ ثُمَّ يُنَادِي مُنَادٍ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ; ⑤ فَيَزْدَادُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَرَحًا إِلَى فَرَحِهِمْ، وَيَزْدَادُ أَهْلُ النَّارِ حُزْنًا إِلَى حُزْنِهِمْ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ فرمایي ② هرکله چې جنتي په جنت کې او دوزخي په دوزخ کې خپل خپل ځاي ته لاړ شی ③ نو مرګ به راوستل شي او بعضې روایتونو کې داسې دي چې مرګ به د یو پسه په شکل کې راوستل شي او د جنت او دوزخ په منځ کې به اچولو سره ذبح شی ④ بیا به اعلان کونکی اعلان وکړي چې اې جنتیانو! واورئ اوس د مرګ هیڅ وجود پاتې نه شو کوم سرې چې چیرته او په کوم حالت کې دی په هغه به هیڅکله د مرګ سایه (سورې) نه راځي هریوه ته د همیشه همیشه ژوند حاصل شو دی او اې دوزخیانو! تاسو هم واورئ اوس د مرګ څه وجود پاتې نه شو ⑤ دا اعلان اوریدو سره د اهل جنت د خوشحالۍ به څه انتها پاتې نشي او د اهل دوزخ به د غم او رنج په دریاب کې نور زیات غرق شي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① فَرَحًا: خوشحالی. ② حُزْنًا: غم او خفګان

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار(رقم-۶۵۴۸) ومسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب النار یدخلها الجبارون والجنة یدخلها الضعفاء (رقم-۴۳ - (۲۸۵۰) والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی خلود أهل الجنة وأهل النار (رقم-۲۵۵۷)وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب صفة النار (رقم-۴۳۲۷) واحمد فی المسند:۱۱۸/۲

تسهيلات:

قوله: جِيءَ بِالْمَوْتِ حَتَّى يُجْعَلَ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، ثُمَّ يُذْبَحَ:

دمرگ ذبح کیدل: یعنی مرگ به حاضر کړې شي او په یو روایت کښې دی چه «إنه يؤتى به على صورة كبش أملح ليتقينوا غاية اليقين والعرفان» یعنی مرگ به دَ گډ په شکل کښې راوستلې شي کوم چه به املح (تور او سپین) وي او هغه به ذبح کړې شي چنانچه جنتیان اودوزخیان به هغې لره کتو سره یقین اوکړي چه اوس به مرگ نه راځي.

مرگ د گډورۍ په شکل کښې د راوستو حکمت: امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه مرگ دَگډ په شکل کښې دَ راوستو حکمت دادې چه دا اشاره ده دې خبرې طرف ته چه دَ حضرت ابراهیم علیه السلام دَ ځوئی په بدله کښې دا ذبح کړې شوې وو په دې وجه دَ هغې په مناسبت سره به ورته دلته هم دَ گډ شکل ورکولې شي. باقي دَ گډ شکل به املح دَ اهل جنت او اهل دوزخ دَ مشابهت دَ وجې نه وي ځکه چه دَ دوزخ والا به دَ کوئلې په شان تور او جنت والا به سپین نوراني وي. (التعليق الصبيح: ۲۴۵/۶).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۵۹۲] حوض کوثر ته دَ ټولو نه مخکښې راتلونکی به غریب مهاجرین وي

۵۵۹۲-()[۲۳] ① عَنْ ثَوْبَانَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- «عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "حَوْضِي مِنْ عَدَنٍ إِلَى عَمَّانَ الْبَلْقَاءِ، ③ مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، ④ وَأَكْوَابُهُ عَدَدُ نُجُومِ السَّمَاءِ، ⑤ مَنْ شَرِبَ مِنْهُ شَرْبَةً لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا، ⑥ أَوَّلُ النَّاسِ وُرُودًا فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ الشُّعْثُ رُءُوسًا، الدُّنْسُ ثِيَابًا، ⑦ الَّذِينَ لَا يَنْكِحُونَ الْمُتَنَعِّمَاتِ، ⑧ وَلَا يُفْتَحُ لَهُمُ السُّدَدُ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① حضرت ثوبان رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي رسول الله ﷺ وفرمایل ② ځما د حوض کوثر اوږدوالی (طول) د عدن او عمانِ بلقاء د درمیاني فاصلې په قدر دی ③ د هغه اوبه د سیدو نه زیاتي سپیني او د عسلو (شهد) نه زیاتي خوږي دي ④ د هغه گلاسونه یعنی د اوبو د څکلو لوښي به د آسمان د ستورو نه زیات وي ⑤ کوم سړی چې یو وار هم د هغه اوبه اوڅکي بیا به هیڅ کله ورته تنده نه راځي ⑥ دي حوض ته اوبو څکلو د پاره د ټولو نه مخکې راتلونکي به فقراء مهاجرین وي هغه فقراء مهاجرین چې په دي دنیا کې د خپل فقر او افلاس په وجه پریشانه حال او شلیدلي کپړو کې په نظر راځي ⑦ که مالداره کورنی جینکو د پاره د نکاح پیغام ولیږي نو هغوئ سره د نکاح کولو قابل

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صفة أواني الحوض (رقم-۲۴۴۴) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب ذكر الحوض (رقم-۴۳۰۳) واحمد في المسند: ۲۷۵/۵

به ونه ګنهل شي⑧ او د چا د پاره چې د کورونو دروازې نشي خلاصې دا روايت احمد ترمذي او ابن ماجه نقل کړى دى او ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دى.

حل اللغات: - ① عَدَن: په يمن کښې د بحراحمر په غاړه د يو ځائ نوم دې ② عُمَّانَ الْبَلْقَاء: دَ شام علاقه دمشق سره نيزدې دَ يو پخواني ښارنوم دې ③ أَكْوَابُهُ: د کوب جمع ده د اوبو څکلو لوښي. ګلاسونه. ④ الشُّعْث: دَدې مفرد أشعث دې کوم چه خيرنو ګډو وډو ويښتو ته وائي ⑤ الدُّنُس: دَدې مفرد دنس دې خيرنو خيچنو کپړو ته وائي ⑥ الْمُتَنَعِّمَات: نيازبيني ښکلي او په ناز او نعمتونو کښې پاللې شوې ښځې. ⑦ السُّدَد: دَدې مفرد سدة دې دروازې ته وائي

تسهيلات: قوله: حَوْضِي مِنْ عَدَنٍ إِلَى عُمَّانَ الْبَلْقَاءِ:

په درې مقاماتو دعمان اطلاق: ① دعمان بحراحمر سره دې چه اول دَ شام حصه وه او س د اردن دارالخلافه ده

② عمان په شام کښې واقع دې دَيو علاقې نوم دې کومه چه کلي والا علاقه ده

③ عمان بحرين کښې دې. بلقاء چه کوم مقام دې دادَ شام علاقه دمشق سره نيزدې دَ يو پخواني ښارنوم دې

دعمان څخه مراد: دې حديث کښې دَعمان نه بلقاء شام مراد دې. هم په دې وجه دَدې طرف ته اضافت کړې شوې دې دې دپاره چه دَعمان اردن اوعمان بحرين نه احتراز اوشي په دې حديث کښې دمختلفو ځايونونوم اخستو سره دَ حوض کوثردَ اوږدوالي اوپلنوالي تمثيل بيان کړې شوې دې. اودَمختلفو مقاماتو نوم اخستې شوې دې دې دَپاره چه کوم سړې په کوم مقام باندې پوهيږي هغه دې هم دَ هغې دَ طول اوعرض نه اندازه اولګوي په حديث کښې هيڅ تحديد تعيين اومخصوص کول مقصود نه دى

قوله الَّذِينَ لَا يَنْكِحُونَ الْمُتَنَعِّمَاتِ ⑧ وَلَا يُفْتَحُ لَهُمُ السُّدَدُ:

دغريبانانوخلقو فضيلت: مطلب دادې چه دَدې فقيرانو طرف ته څوك نظر او توجو نه کوي که چرې په دروازه کښې هم ولاړوي نودَ هغوى دَپاره دروازه نه شي کولاوولې اونه دَهغوى د نکاح پيغام څوك اوري دا دَ دنيا فقيران دى مګر دَ آخرت بادشاهان دى دَدوى په شان په يو درويش باندې ټول دنيادار قربان شه

[۵۵۹۲] په حوض کوثرباندې دَراتلونکو خلقوبه څه شمير نه وي

٥٥٩٣-(١)[٢٣] ①«وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ- رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا، فَقَالَ: ③ " مَا أَنْتُمْ جُزْءٌ مِنْ مِائَةِ أَلْفِ جُزْءٍ مِمَّنْ يَرِدُ عَلَى الْحَوْضِ "، ④ قِيلَ: كَمْ كُنْتُمْ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: سَبْعَمِائَةٍ أَوْ ثَمَانِمِائَةٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

---

١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب السنة باب فى الحوض (رقم-٤٧٤٦) واحمد فى المسند: ٤/٣٦٦

ترجمه: ۱ او حضرت زید بن ارقم ﷺ وایي په یوه سفر کې مونږ خلق د رسول الله ﷺ سره ملګري وو ۲ په یو ځاي کې زمونږ پړاو وشو هلته حضور ﷺ موجود صحابه ﷺ ته وفرمایل ۳ په آخرت کې چې کوم خلق ځما حوض کوثر ته ماته راځي د هغوئ د تعداد د اعتبار نه تاسو د لاک جزؤنو نه یو جزء هم نه یئ ۴ حضرت زید بن ارقم ﷺ نه پوښتنه وشوه چې په هغه موقع د خلقو تعداد څه وو؟ هغه اوویل اووه سوه یا اته سوه (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: مَا أَنْتُمْ جُزْءٌ مِنْ مِائَةِ أَلْفِ جُزْءٍ مِمَّنْ يَرِدُ عَلَيَّ الْحَوْضَ:

د مذکوره عدد څخه مراد: په حدیث کښې دَ مذکوره عدد نه مراد تحدید او تعین نه دې بلکه په حوض کوثر باندې دَ راتلونکو دَ خلقو کثرت او ډیروالې بیانول مقصود دی

قوله: أَوْ ثَمَانِمِائَةٍ

په کلمه د ''او'' کښې احتمالات: ① "او" دَ شک دَپاره دې یعنی چه حضرت زید بن ارقم ﷺ ته په دې کښې تردد شوې وی چې نبی ﷺ الف جزء یاد کړې دې او که ثمان مأة ئې یاد کړې دې.

② "او" دَ "بل" په معنی کښې دې یعنی اول کښې صحابی د مأة عدد یاد کړو او بیا ئې په بل سره ترقی وکړه چې نه بلکه اته سوه شمار به وی.

[۵۵۹۴] هر نبي ته به یو حوض عطاء وي

٥٥٩٤-()[٢٥] وَعَنْ سَمُرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوْضًا، ٣ وَإِنَّهُمْ لَيَتَبَاهَوْنَ أَيُّهُمْ أَكْثَرُ وَارِدَةً، ٤ وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ وَارِدَةً» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت سمره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ په آخرت کې به هر یو نبي ته حوض ورکړي شي او هر امت به د خپل خپل نبي ﷺ حوض ته راتلو سره اوبه څکي ۳ ټول انبیاء به په خپلو کې په دې فخر کوي چې د چا په حوض زیات کسان (افراد) راځي ۴ او زه امید لرم چې د ټولو نه زیات شړی به ځما حوض ته راځي (ترمذي) او وایي دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: - ① يَتَبَاهَوْنَ: په یو بل به فخر کوی.

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة الحوض (رقم-۲۴۴۳)

تسهيلات:

قوله وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ وَارِدَةً:

دامت دزياتوالي په اعتبار سره د نبي عليه السلام فوقيت: دنبي عليه السلم د امت د خلقو شمار به زيات وي نو په حوض كوثرته راتلونكي به هم زيات وي نو ددې څخه معلومه شوه چې نبي عليه السلام ته به د ټولو څخه زيات شرف او اعزاز حاصل وي او پاتې شوه د نبي عليه السلام دا خبره چې زه اميد كوم چې د ټولو پيغمبرانو څخه به زما امت زيات وي نو دا خبره خو يقيني ده خو نبي عليه السلام دعاجزۍ په طور اوفرمائيل چې زه اميد كوم

[۵۵۹۵] ميدان محشر كښې د حضورپاك ﷺ د ملاقات ځايونه

۵۵۹۵-()[۲۶] [۱] «وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] سَأَلْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يَشْفَعَ لِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [۳] فَقَالَ: " أَنَا فَاعِلٌ "، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ فَأَيْنَ أَطْلُبُكَ؟ [۴] قَالَ: " اطْلُبْنِي أَوَّلَ مَا تَطْلُبُنِي عَلَى الصِّرَاطِ " [۵] قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عَلَى الصِّرَاطِ؟ قَالَ: " فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْمِيزَانِ " [۶] قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عِنْدَ الْمِيزَانِ؟ [۷] قَالَ: " فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْحَوْضِ، فَإِنِّي لَا أُخْطِئُ هَذِهِ الثَّلَاثَ الْمَوَاطِنَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي [۲] يوه ورځ ما حضور ﷺ ته درخواست وكو چې تاسو به د قيامت په ورځ د عام شفاعت نه علاوه خاص طور سره جدا هم ځما شفاعت وفرمايي [۳] حضور ﷺ وفرمايل ښه دی زه به شفاعت كوم ماعرض وكړو تاسو به كوم ځاي تلاش كوم او تاسو به كوم ځاي پيدا اكرم [۴] حضور ﷺ وفرمايل د ټولو نه مخكې ما په پُلِ صراط تلاش كوه [۵] ماعرض وكړو كه په پُلِ صراط مو پيدا نه كې وي فرمايل بيا د ميزان سره مي تلاش كوی [۶] ماعرض وكړو كه ميزان سره هم بيانه شي پيدا [۷] وي فرمايل كه دي دواړو ځايونو كې مي پيدا نه كې نو بيا حوض باندې ما تلاش كوه زه به ددې دريو ځايونه نه چيرته هم نه ځم دا حديث امام ترمذي ﷫ نقل كړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی

تسهيلات:

قوله: اطْلُبْنِي أَوَّلَ مَا تَطْلُبُنِي عَلَى الصِّرَاطِ":

په دری ځايونو كښې دنبي عليه السلام د موجودګۍ وجه: درې مقامات او ځايونه داسې دی چه دلته به مسلمانان پريشانه كيږی په دې وجه به حضورپاك په دغه مقاماتو كښې

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی شان الصراط (رقم-۲۴۳۳) واحمد فی المسند: ۱۷۸/۳

په يو مقام باندې ضرور موجود وي يا به دغه دريواړو ځايونو ته نبي كريم ﷺ وار په وار راځي دې د پاره چه چاته څه مشكل پيښيږي نو چه د هغه مشكل د نبي كريم ﷺ د شفاعت په وجه سره آسان كړې شي.

اشكال د مشكاة په حديث نمبر(۵۵۲۰) كښې تيرشوى دى چې په درې مقاماتو كښې به څوك هم څوك نه يادوى. اودلته په دې حديث كښې نبي ﷺ فرمائي چې په دې درې مقاماتو كښې ما تلاش كوه.نودا حديث د هغې سره معارض دې.

داشكال جواب: هغه حديث په غائبينو باندې محمول دې مطلب دادې چه په هغه ورځ به په دغه دريو موقعو باندې څوك خپل غائبين خپلوان نه يادوى او د حضرت انس رضي الله عنه حديث په حاضرينو باندې محمول دې.

[۵۵۹٦] د مقام محمود او د كرسۍ ذكر

۵۵۹٦-()[۲۷] ⓵«وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: ⓶قِيلَ لَهُ: مَا الْمَقَامُ الْمَحْمُودُ؟ ⓷قَالَ: " ذٰلِكَ يَوْمَ يَنْزِلُ اللّٰهُ تَعَالَى عَلَى كُرْسِيِّهِ ⓸فَيَئِطُّ كَمَا يَئِطُّ الرَّحْلُ الْجَدِيدُ بِرَاكِبِهِ مِنْ تَضَايُقِهِ بِهِ، ⓹هُوَ كَسَعَةِ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، ⓺وَيُجَاءُ بِكُمْ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا، ⓻فَيَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُكْسَى إِبْرَاهِيمُ،

توجمه: ⓵او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت كوي ⓶چې رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې مقام محمود او ددې اهميت او خصوصيت څه دى چې د هغه په آيت كې ستاسو سره وعده شوى ده: عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا نو ⓷حضور ﷺ وفرمايل په هغه ورځ هركله چې دا مقام محمود به ماته راكړې كېږي الله ﷻ به خپلې كرسۍ باندې نزول وفرمايي ⓸او هغه كرسۍ به چرچر كوي څرنګه چې د نوي چمړې تنګ زين چرچر كوي ⓹او د هغه كرسۍ كشاده ګي او وسعت دومره دى څومره چې د زمكې او آسمان درمياني فضاء ده ⓺بيا به تاسو ټول خپې آبلې پښې بربنډ او بې ختنې ميدان حشر ته راوستل شي ⓻او په هغه ورځ د ټولو نه مخكښې كوم سړي ته چې به لباس واغوستل شي هغه به حضرت ابراهيم وي

حل اللغات:- ⓵يَئِطُّ: أَطّ يئط أطّا واطيطا په نوې كرسۍ باندې د كيناستو په وخت د چنګارى آواز ته وائي ⓶الرَّحْلُ: كيجاوه. ⓷تَضَايُقِهِ: د تنګوالى په وجه. ⓸حُفَاةً: خپې آبله خپې. ⓹عُرَاةً: بربنډ بدن. ⓺غُرْلًا: ناسنته. ⓻يُكْسَى: د كُسَى يَكْسُو نه د اغوستولو په معنى كښې دې.

⓵يَقُولُ اللّٰهُ تَعَالَى: اكْسُوا خَلِيلِي ; ⓶فَيُؤْتَى بِرَيْطَتَيْنِ بَيْضَاوَيْنِ مِنْ رِيَاطِ الْجَنَّةِ، ⓷ثُمَّ أُكْسَى عَلَى أَثَرِهِ، ⓸ثُمَّ أَقُومُ عَنْ يَمِينِ اللّٰهِ مَقَامًا ⓹يَغْبِطُنِي الْأَوَّلُونَ وَالْآخِرُونَ» ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

[1]) اخرجه الدارمى فى السنن رقم الحديث ۲۸۰۰

ترجمه: [۱] الله ﷻ به فرشتو ته حکم وکړي چې خما دوست ته لباس واغوندوئ [۲] او د جنت د څادرونو نه د ملائم کتان يو قسم نرمی اعلی کپړي دوه سپين څادرونه راوړلو سره حضرت ابراهيم ﷺ ته به واغوستل شي [۳] هغوئ نه وروسته به ماته لباس واغوستل شي [۴] او بيا به زه د الله ﷻ په ښي طرف ودريږم [۵] او په دي اعزاز پيدا کولو باندې به مخکنی او وروستني خلق په ما رشك کوي (يعني ماته به پسخيږي) (دارمي)

حل اللغات: -⑧ بِرَيْطَتَيْنِ: ريطة د کتان او د تاسري څادر ته وائی ⑨ أَثَرِهِ: هغه پسې، دهغه نه وروسته. ⑩ يَغْبِطُنِي: په ما به رشک کوی، پسخيږی به

تسهيلات:

قوله: اكْسُوا خَلِيلِي، فَيُؤْتَى بِرَيْطَتَيْنِ بَيْضَاوَيْنِ مِنْ رِيَاطِ الْجَنَّةِ:

ابراهيم ته د ټولو څخه اول جنتی جامې اغوستل: حضرت ابراهيم ﷺ ته به د ټولو نه مخکښې کپړې ځکه اغوستلې شی چه نمرود په اورکښې د اچولو په وخت د هغه کپړې کوزې کړې وې. حضورپاك نه مخکښې ورته ځکه واچولې شوې چه دهغوی نيکه دې هم دغه داحترام تقاضا ده

[۵۵۹۷] پُل صراط باندې د ايمان والو د پيژندلو نښه

٥٥٩٧-()[٣٨] [۱] وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "شِعَارُ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى الصِّرَاطِ: رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ» ". [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت مغيره بن شعبه ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به پُلِ صراط باندې تيريدو په وخت د اهلِ ايمانو علامه دا الفاظ وي ربّ سلم سلم پروردګاره! مونږ بچ کی پروردګاره مونږ بچ کی [۳] دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلې يې دی چې داحديث غريب دی

حل اللغات: -① شِعَارُ: خاص نښه او علامت. ② سَلِّمْ سَلِّمْ: مونږ ته سلامتيا راکړې. مونږ بچ کړې.

تسهيلات:

قوله: شِعَارُ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى الصِّرَاطِ: رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ:

دشعار تعريف: "شعار" هغه علامت ته وائی چه فوجيان ئی په خپل مينځ کښې د يو بل د پيژندګلو دپاره استعمالوي دې دپاره چه څوك دښمن راشی نو چه هغه اونيولې شی کوم ته چه په عام اصطلاح کښې د شپې نام شب او د جوابِ شب (کود ورډ) وائی.

دمؤمنانو څخه مراد: دمؤمنانو نه مراد د نورو امتونو مؤمنين دی په هغه ورځ به د ټولو

) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی شأن الصراط (رقم-۲۴۳۲)

ژبه عربي وی لهذا انبياء به هم "سلم،سلم" فرمائي خو رسول كريم ﷺ به "يارب أمتي،يارب أمتي" فرمائي

دپيغمبرانو او غير پيغمبرانو په رب سلم کښې فرق: دَ انبياؤ كرامو "رب سلم سلم" فرمائيل به دَ خپل امت دَ شفاعت په توګه باندې وی او دَ مؤمنانو "رب سلم" فرمائيل به دَ خپل ځان دپاره دَ دعا په توګه وی. دارنګ دَ پل صراط دَ تيريدو په وخت به دَ نورو امتونو دَ مؤمنانو پيژند ګلو "رب سلم سلم" سره کيږي خو دَ امت محمديه دَ مؤمنانو پيژند ګلو به "لا إله إلا أنت" سره کيږی

اشکال: په زير بحث حديث کښې د مسلمانانو شعار "رب سلم سلم" وی او ابن مردويه رحمه الله دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه مرفوعًا نقل کړی دی چه هغه وخت به دَ ايمان والو شعار "لا إله إلا الله وعلى الله فليتوكل المؤمنون" وی او په بل روايت کښې دی چه دَ قيامت دَ ورځې په هيبت او په تيارو کښې به دَ ايمان والو شعار "لا إله إلا أنت" وی

داشکال جواب: دَمؤمنانو مختلف طبقاتو مختلف علامات وی. په دې سره به په رواياتو کښې تطبيق هم اوشی.

[۵۵۹۸] دَ ګناه کبيره شفاعت به صرف ددې امت دپاره وی

۵۵۹۸-(¹)[۲۹] ① «وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "شَفَاعَتِي لِأَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ أُمَّتِي». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② دَ ګناه کبيره کونکو په حق کې ځما شفاعت صرف ځما د امت د خلقو د پاره مخصوص به وي (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: - ① أَهْلِ الْكَبَائِرِ: کبيره ګناه کونکی

۵۵۹۹-(²) ① وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ جَابِرٍ.

ترجمه: ① او ابن ماجه دا روايت د حضرت جابر رضي الله عنه نه نقل کړی دی

تسهيلات:

قوله: شَفَاعَتِي لِأَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ أُمَّتِي:

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب السنة/باب في الشفاعة (رقم-۴۷۳۹) والترمذي في كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۴۳۵)واحمد في المسند:۲۱۳/۳

²) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الزهد/باب ذكر الشفاعة (رقم-۴۳۱۰)

د امت محمدی د پاره د شفاعت تخصیص: دَ کبیره ګناهونو نه دَمعافئی دَپاره زما شفاعت زما دَ امت دَپاره خاص دې دَ نورو امتونودَ خلقو دَپاره نشته.

د شفاعت دوه قسمونه: ① امام طیبی رحمه الله فرمائی یو شفاعت د ګناهګارانو دپاره دې چې دوی د جهنم دعذاب څخه بچ کړی.

② دویم شفاعت دنیکانو خلقو د رفع درجاتو دپاره دې چې د هغوی په درجو کښې اوچتوالې اوشی.

[۵۶۰۰] دَ محدود شمار په ځائې د نبی علیه السلام شفاعت کول غوره کول

۵٦٠٠-()[٣٠] [١] وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "أَتَانِي آتٍ مِنْ عِنْدِ رَبِّي، [٣] فَخَيَّرَنِي بَيْنَ أَنْ يُدْخِلَ نِصْفَ أُمَّتِي الْجَنَّةَ وَبَيْنَ الشَّفَاعَةِ، [٤] فَاخْتَرْتُ الشَّفَاعَةَ، [٥] وَهِيَ لِمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [٢] د الله تعالیٰ دطرف نه یوه فرشته ماته راغله [٣] او هغه د بارګاه رب العزت د طرف نه ماته په دې دوو خبرو کې د يوې خبرې اختيارولو واک راکی چې یا خو ځما نیم امت دی په جنت کې داخل شي یا د ټولو په حق کې د شفاعت حق ماته حاصل شي [٤] نو ما د خپل امت په حق کې د شفاعت حق حاصلولو اختيار حاصل کی چې بلا استثنی ټول مؤمنان مسلمانان ددي نه فيضاب شي او هيڅوك هم محروم پاتې نشي [٥] نو ځما شفاعت ځما په امت کې دهرهغه سړي د پاره فيصله کړل شوي دي چې هغه په داسې حال کې خپل ځان الله تعالیٰ ته سپارلی وي چې د الله تعالیٰ سره په شرك کې مبتلا شوي نه وي حاصل داچې د قيامت په ورځ ټول اهل ایمان ته د حضور صلی الله علیه وسلم شفاعت نصيب کيدل يقيني دي. (ترمذي ابن ماجه)

تسهیلات:

قوله فَاخْتَرْتُ الشَّفَاعَةَ:

دامت دزیاتوالی په اعتبارسره د نبی علیه السلام فوقیت: دنبی علیه السلم د امت د خلقو شمار به زیات وی نو په حوض کوثرته راتلونکی به هم زیات وی نو ددې څخه معلومه شوه چې نبی علیه السلام ته به د ټولو څخه زیات شرف او اعزاز حاصل وی اوپاتې شوه د نبی علیه السلام دا خبره چې زه امید کوم چې د ټولو پیغمبرانو څخه به زما امت زیات وی نودا خبره خو یقینی ده خو نبی علیه السلام دعاجزی په طور اوفرمائیل چې زه امید کوم

[١] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-٢٤٤١) وابن ماجه فی كتاب الزهد/باب ذكر الشفاعة (رقم-٤٣١١) واحمد فی المسند: ٢٣/٦

[۵۶۰۱] دبنوتميم قبيلې د افرادو څخه د زياتو ګناهګارانو شفاعت

۵۶۰۱-()[۳۱] [۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي الْجَدْعَاءِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] "يَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِشَفَاعَةِ رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَكْثَرُ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله بن ابي جدعاء رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] څما د امت د يو بزرګ او صالح سړي په شفاعت سره به د بني تميم د سړو د تعداد نه هم زيات خلق په جنت کې داخل شي (ترمذي دارمي ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله: يَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِشَفَاعَةِ رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَكْثَرُ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ:

د رجل په مصداق کښې درې اقوال:

① رجل څخه حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه مراد دې لکه د حسن بصری رحمه الله نه هم مرسلاً روايت امام ترمذی رحمه الله ذکر کړې دې.

② دې څخه حضرت اويس قرني رضي الله عنه مراد دې ځکه چه په يو بل حديث کښې د رسول الله ﷺ ارشاد مبارك دې چه زما په امت کښې يو سړې دې کوم ته چه اويس بن عبد الله قرني وئيلې شي هغه به د قيامت په ورځ د قبيله ربيعه او مضر برابر خلقو سفارش کوی

③ بعضو وئيلی رسول الله ﷺ چه کله د دغه سړی د نوم ذکر اونه فرمائيلو نو اوس د هغې تعين مشکل دې. لهذا دې نه هر يو نيك سړې مراد کيدې شي داقول زين العرب د حديث مفهوم سره ډير نيزدې ګرځولي دې. په حديث شريف کښې چه دا فرمائيلې شوی دی قلت من هذا؟ قالوا: هذا ابن ابی الجذعاء. دې نه راوی مراد دې

[۵۶۰۲] د عام شفاعت ذکر

۵۶۰۲-()[۳۲] [۱] «وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "إِنَّ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَشْفَعُ لِلْفِئَامِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ لِلْقَبِيلَةِ، [۳] وَمِنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ لِلْعُصْبَةِ، [۴] وَمِنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ لِلرَّجُلِ، حَتَّى يَدْخُلُوا الْجَنَّةَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو سعيد رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] څما په امت کې چې کومو خلقو ته به د شفاعت حق او اذن حاصل وي لکه علماء شهداء او

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۴۳۸) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب ذکر الشفاعة (رقم-۴۳۱۶) واحمد فی المسند:۳/۴۶۹

[2]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۴۴۰) واحمد فی المسند:۳/۲۰۰

صالحین په هغوئ کښې به څوك خو د خپل متعلقینو د څو جماعتونو شفاعت کوي [۳] څوك به د يو قبيلې د خلقو برابر د خپلو متعلقينو شفاعت كوي [۴] او څوك به د خپل متعلق صرف د يو سړي سفارش كوي غرض دغه شان د هر يو د شفاعت په نتيجه كښې به ټول امت په جنت كښې داخل شي. (ترمذي)

حل اللغات: - ① لِلْفِئَامِ: جماعت، قبائل يعنى ډيرې قبيلې، (قبيله هغې خاندان ته وائى چه نيكه ئې يو وى ② لِلْعُصْبَةِ: دَ لسو نه ترڅلويښتو پورې كسانو ته عصبه وائى

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَشْفَعُ لِلْفِئَامِ: الخ

د نيكانو خلقو شفاعت: دَ دويم حديث نه معلومه شوه چه دَ قيامت په ورځ به ډيرنيكان خلق دَ الله تعالى په اجازت سره سفارش كوى. دَ بعض په سفارش سره به ډيرې ډلې جنت كښې داخليږى دَ بعضو په سفارش يوه قبيله، يوجماعت اودَ بعضو په شفاعت به يوسړې په جنت كښې داخليږى غرض دا چه الله تعالى به دَ دې امت په خلقو باندې دَ خصوصى فضل معامله فرمائى اودغه شان به ډيرزيات خلق جنت كښې داخليږى. ([1])

[۵۶۰۲] جنت كښې بغير د حساب نه د داخليدونكو تعداد

۵۶۰۳- ([2]) [۳۳] [۱] «وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَعَدَنِي [۳] أَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي أَرْبَعُمِائَةِ أَلْفٍ بِلَا حِسَابٍ". [۴] فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: زِدْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، [۵] قَالَ وَهَكَذَا، فَحَثَا بِكَفَّيْهِ وَجَمَعَهُمَا، [۶] فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: زِدْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: وَهَكَذَا، [۷] فَقَالَ عُمَرُ: دَعْنَا يَا أَبَا بَكْرٍ!

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷜ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله ﷻ ما سره دا وعده كړي ده [۳] چې هغه به څما د امت نه څلور لاكه سړي د حساب كتاب نه بغير اود مواخذې او په عذاب كې داخته كولو نه بغير په جنت كې داخل كړي [۴] حضرت ابوبكر ﷜ دا ارشاد اوريدو سره عرض وكړو يارسول الله! زمونږ په دې تعداد كې اضافه وكړي يعنى الله ﷻ نه دې تعداد كې اضافې د پاره درخواست وكړئ يا داچې پروردګار ستاسو سره د كوم شي وعده كړي ده هغه زياتولو سره بيان كړئ ځكه چې تاسو رحمت خداوندې باندې اعتماد كولو سره مونږ ته چې څومره زيات نه زيات بيان كړي الله ﷻ به هغه پوره كړي [۵] حضور ﷺ وفرمايل نبه دى دومره نور زيات، په دې ويلو سره حضور ﷺ دواړه لاسونه يوځاې كولو سره لپه جوړكړل [۶] حضرت ابوبكر ﷜ بيا عرض وكړو يارسول الله!

---

۱) تحفة الاحوذى ۱۱۰/۷. مرقاة ۵۶۶/۹ الكوكب الدرى ۲۸۳/۳.

۲) اخرجه البغوى فى شرح السنة رقم الحديث ۴۳۳۵ واحمد فى المسند: ۱۶۵/۳

زمونږ په دي تعداد او مقدار کې نوره اضافه وکړي بيا حضور ﷺ لپه جوړولو سره اوويل چې ښه دومره نور زيات ۲حضرت عمر ﷺ هم په هغه مجلس کې موجود وو هغه محسوس کړه او وي وئيل چې حضرت ابوبکر ﷺ بس اوس مونږ په خپل حال پريږدئ يعنې دومره زيات رعايت مه کوئ چې مونږ د الله ﷻ په کرم او عنايت باندې اعتماد وکو او کينو او د عذاب خداوندي د خوف نه دومره بې فکره شو چې عمل کول پريږدو

حل اللغات:- ①حَثَا: لپه ئې ډکه کړه، ②دَعْنَا: پريږده مونږ.

۱فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ: وَمَا عَلَيْكَ أَنْ يُدْخِلَنَا اللهُ كُلَّنَا الْجَنَّةَ؟ ۲فَقَالَ عُمَرُ: إِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ إِنْ شَاءَ أَنْ يُدْخِلَ خَلْقَهُ الْجَنَّةَ بِكَفٍّ وَاحِدٍ فَعَلَ، ۳فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَدَقَ عُمَرُ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ۱حضرت ابوبکر ﷺ په دي اوريدو سره اوويل که الله ﷻ مونږ ټول بې حسابه او بغير مواخذي جنت ته وليږي نو په دي کې ستا څه نقصان دی ۲حضرت عمر ﷺ جواب ورکړو که الله ﷻ خپل ټول مخلوق په جنت کې داخلول واغواړي نو کولی شي چې په يوی لپی مودا خل کړی بيا بار بار د اضافي درخواست کولو څه ضرورت دی ۳نو رسول الله ﷺ د حضرت عمر ﷺ خبره اوريدو سره وفرمايل چې عمر ﷺ بالکل رښتيا اوويل دا روايت بغوي ﷫ په شرح السنه کې نقل کړی دی.

حل اللغات:- ③کَفٌّ: لپه، موټې.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ: زِدْنَا يَارَسُولَ اللهِ:

دابوبکر په امت باندې شفقت: دَحضرت ابوبکر ﷺ همدردی او دَ جنت دَحرص جذبه دومره زياته وه چه حضورپاك ته ئې اوفرمائيل چه تاسو په الله تعالی باندې نور زياتوالې اوکړئ څکه چه تاسوبه سفارش کوئی نو الله تعالی به زياتوالې کوی بل طرف ته دَ الله تعالی دَ طرف نه دَدې وسيع شفاعت په صورت کښې دَ شمير په ځائې باندې په لاسونو لپې ډکولو وو حضورپاك هم لپې ډکولو سره دَ الله تعالی دَ فعل نقل اوخودلو. په دې باندې صديق اکبر ﷺ دَ نورو زياتولو درخواست اوکړو. حضورپاك نوره اضافه اوکړه

دعمر رضی الله عنه په نبی عليه السلام شفقت: په دې باندې ابوبکر ﷺ دَ نور زياتوالی درخواست اوکړونو حضرت عمر ﷺ اوفرمائيل ابوبکر بس کړه. که الله تعالی اوغواړی نو يوه لپه کښې ټول مخلوق جنت کښې داخلولې شی حضورپاك دَ حضرت ابوبکر ﷺ په سفارش باندې اضافه هم اوکړه اوبيائی دَ حضرت عمر ﷺ دَ رائې تائيد اوفرمائيلو نودَ دواړو زړه ساتنه اوشوه.

[٥٦٠٤] ګناهګار خلق به څرنګه د خپل شفاعت درخواست کوی؟

٥٦٠٣-(١)[٣٣] [١] وَعَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "يُصَفُّ أَهْلُ النَّارِ، فَيَمُرُّ بِهِمُ الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، [٣] فَيَقُولُ الرَّجُلُ مِنْهُمْ: يَا فُلَانُ أَمَا تَعْرِفُنِي؟ [٤] أَنَا الَّذِي سَقَيْتُكَ شَرْبَةً. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: أَنَا الَّذِي وَهَبْتُ لَكَ وَضُوءًا، [٥] فَيَشْفَعُ لَهُ فَيُدْخِلُهُ الْجَنَّةَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] چې په اهلِ ايمانو کې چې کوم خلق د خپلو ګناهونو په سبب دوزخي ګرځول شوي دي هغوئ به د اهلِ جنت يعنی علماوو اخيار و صلحاؤ او ابرابرو په لاره کې صف تړلی ودرول شي څرنګه چې په دې دنيا کې فقير او سائل د ورکونکوانتظار کې په لار کې ولاړ وي او بيا چې يو جنتي د هغوئ مخې ته تيريږي [٣] نو په هغه دوزخيانو کې به يو سړی د هغه جنتي نوم اخستو سره وايي اې فلانيه! آيا ته مانه پيژني [٤] زه هغه سړی يم چې يو وار مې په تا اوبه څکلي وې په هغوئ کې به يو سړی دا وايي چې زه هغه سړی يم چه يو وار مې اودس د پاره تاته اوبه درکړي وې [٥] هغه جنتي به په دې اوريدو سره د هغه شفاعت کوي او هغه به په جنت کې داخل کړي (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① سَقَيْتُكَ: په تا مې اوبه څکلي وې. ② وَهَبْتُ: درکړې مې وې، ③ وَضُوءًا: د اودس اوبه.

تسهيلات:

قوله. فَيَشْفَعُ لَهُ فَيُدْخِلُهُ الْجَنَّةَ:

دنيکانو خلقو د خپلو محسنينو د پاره سفارش: دَ حديث الباب نه معلوميږی چه که چرې ګناهګار سړې دَ پرهيزګارو، عالمانو او صالحانو خلقو امداد يا خدمت کوی نو ګناهګار ته به په آخرت کښې دَ هغه دا عمل دَ شفاعت دَپاره فائده ورکړی

نيکانو سره د احسان کولو ترغيب: امام مظهر رحمه الله فرمائی چه دَ دې حديث په ذريعه لکه چه د دې امر ترغيب ورکړې شوې دې چه خپلو مسلمانانو رونړو اوخصوصاً دَ نيکانو بزرګانو کسانو سره دَ حسن سلوك. دَ مروت او احسان رويه اختيارول پکاردی ځکه چه د هغوی صحبت په دنيا کښې دَ بنائست او په آخرت کښې دَ نور او بخښنې دَ حصول ذريعه ده دَدې حديث نه داهم معلومه شوه چه هيڅ يوه وړه نيکی سپکه ګنړل او پريخودل نه دی پکار او يوه ګناه هم وړه ګنړل نه دی پکار. اکثر واړه اعمال هم دَ شفاعت سبب جوړيږی کما قال الشاعر "لاتحقرن صغيرة إن الجبال من الحصی".

---

[١]) اخرجه ابن ماجه فی السنن كتاب الأدب/باب فضل صدقة الماء. (رقم-٣٦٨٥)

[۵٦۰۵]دوه دوزخیانو سره د الله د رحمت عجیبه معامله

۵٦۰۵ - ()[۳۵]۱«وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲" إِنَّ رَجُلَيْنِ مِمَّنْ دَخَلَ النَّارَ اشْتَدَّ صِيَاحُهُمَا، ۳فَقَالَ الرَّبُّ تَعَالَى: أَخْرِجُوهُمَا. ۴فَقَالَ لَهُمَا: لِأَيِّ شَيْءٍ اشْتَدَّ صِيَاحُكُمَا؟ ۵قَالَا: فَعَلْنَا ذَلِكَ لِتَرْحَمَنَا. ٦قَالَ: (فَإِنَّ رَحْمَتِي لَكُمَا أَنْ تَنْطَلِقَا فَتُلْقِيَا أَنْفُسَكُمَا حَيْثُ كُنْتُمَا مِنَ النَّارِ،

ترجمه: ۱او حضرت ابوهریره ﷛ نه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل ۲هل ایمانو کې چې کوم خلق د خپلو ګناهونو په بدله کې په دوزخ کې داخل شوي دي په هغوئ کې به دوه سړي ډیر زیات شور کوي یعنی ژړا انګولا او آه وفریاد به کوي او چغې به وهي ۳نو پروردګار به د دوزخ فرشتو ته حکم وکړي چې دا دواړه بهر رااوباسي ۴او هرکله چې هغوئ بهر شي نو هغوئ ته به وفرمایي چې تاسو ولې دومره چغې وهی؟ ۵هغوئ به وایي مونږ ځکه چغې وهلې چې ستا رحمت زمونږ طرف ته متوجه شي او مونږ ته نبه معلومه ده چې ته هغه سړی خوښوي چې ستا مخکې ژړا زاری کوي او آه وفریاد وکړي ٦الله ﷻ به ورته وفرمایي ستاسو په حق کې ځما رحمت دادی چې تاسو واپس لاړشئ او په دوزخ کې چې چیرته وئ هلته پراته اوسئ

حل اللغات:- ①صِيَاحُهُمَا: چغې ستاسو دواړو، ②تَنْطَلِقَا: واپس شئ دواړه.

۱فَيُلْقِي أَحَدُهُمَا نَفْسَهُ، ۲فَيَجْعَلُهَا اللَّهُ عَلَيْهِ بَرْدًا وَسَلَامًا، ۳وَيَقُومُ الْآخَرُ فَلَا يُلْقِي نَفْسَهُ، ۴فَيَقُولُ لَهُ الرَّبُّ تَعَالَى: مَا مَنَعَكَ أَنْ تُلْقِيَ نَفْسَكَ كَمَا أَلْقَى صَاحِبُكَ؟ ۵فَيَقُولُ: رَبِّ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا تُعِيدَنِي فِيهَا بَعْدَ مَا أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا. ٦فَيَقُولُ لَهُ الرَّبُّ تَعَالَى: لَكَ رَجَاؤُكَ. فَيُدْخَلَانِ جَمِيعًا الْجَنَّةَ بِرَحْمَةِ اللَّهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱په هغوئ کې یو سړی خو به په دي اوریدو سره کامل اطاعت او د رضائي الهي طلب کې واپس راشي ۲او ځان به د دوزخ په اور کې واچوي او الله ﷻ به په هغه اور داسې یخ کړي څرنګه چې حضرت ابراهیم ﷤ د پاره یې اور ګل وګلزار جوړ کړی وو ۳او دویم سړی به په دي معامله کې ځان بالکل بي بس پیدا کولو سره او د الله ﷻ په لطف وکرم باندې کامل یقین لرلو سره هلته به ولاړ وي او ځان به په اور کې نه غورځوي ۴الله ﷻ به د هغه نه پوښتنه وکړي تا ځان په اورکې ولې وانه چوی حال دا چې ستا ملګري ځما دحکم په اوریدو سره ځان په اور کې واچوی ۵هغه به عرض وکړي اې پروردګاره! زه خو په دي امیبهر ولاړ یم چې تا زه د دوزخ نه راویستم نو اوس به مې دوباره هلته نه لیږې ٦الله ﷻ به ورته فرمایي تا چې کوم امید قائم کړی دی هغه ستا په حق کې پوره کېږي نو هغه دواړه سړیان به د الله ﷻ د رحمت او مهربانۍ په صدقه کې یوځای په جنت کې داخل شي. (ترمذي)

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۵۹۹)

تسهیلات:

نوټ د حدیث مضمون آسان دي د تشریح څخه ضرورت نشته

[٥٦٠٦] پُل صراط باندې د تیریدو نکو احوال

٥٦٠٦ -(¹)[٣٦] [١] «وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "يَرِدُ النَّاسُ النَّارَ، ثُمَّ يَصْدُرُونَ مِنْهُ بِأَعْمَالِهِمْ، [٣] فَأَوَّلُهُمْ كَلَمْحِ الْبَرْقِ، [٤] ثُمَّ كَالرِّيحِ، [٥] ثُمَّ كَحُضْرِ الْفَرَسِ، ثُمَّ كَالرَّاكِبِ فِي رَحْلِهِ، [٦] ثُمَّ كَشَدِّ الرَّجُلِ، ثُمَّ كَمَشْيِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن مسعود ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] خلق یعنی اهل ایمان به پُل صراط باندې د تیریدو په وخت چې په دوزخ برسیره به اینبودل شوی دي اور باندې حاضر شي یعنی هغه به خپلو سترگو سره ویني او بیابه د خپلو خپلو اعمالو مطابق دهغه نه نجات بیا مومي او پُل صراط به آسانی سره یا په تندي پرمخي عبور کړي [٣] نو په هغوئ کې به اول او د ټولو نه افضل خلق هغه وي چې پل صراط باندې به د بجلی د پړک په شان تیر شي [٤] بیابه هغه خلق وي چې د هوا د څپې په شان به تیر شي [٥] بیابه هغه خلق وي چې د آس د رفتار په شان بیابه هغه خلق وي چې د اوښ د سور په شان [٦] بیابه هغه خلق وي چې د سړي د زغلیدو په شان بیابه هغه خلق وي چې د سړي د معمول مطابق پیاده تلو په شان به تیر شي دا روایت ترمذي رحمه الله او دارمي رحمه الله نقل کړی دی

حل اللغات: - ① لَمْحِ الْبَرْقِ: د بجلئ برق، ② حُضْرِ الْفَرَسِ: د اس په رفتار، ③ شَدِّ الرَّجُلِ: زغلیدل د سړی. منډې وهل.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٥٦٠٧] د حوض کوثر د دواړو غاړو په مینځ کې فاصله

٥٦٠٧ -(²)[٣٧] [١] «عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] "إِنَّ أَمَامَكُمْ حَوْضِي، [٣] مَا بَيْنَ جَنْبَيْهِ كَمَا بَيْنَ جَرْبَاءَ وَأَذْرُحَ». [٤] قَالَ بَعْضُ الرُّوَاةِ: هُمَا قَرْيَتَانِ بِالشَّامِ، بَيْنَهُمَا مَسِيرَةُ ثَلَاثِ لَيَالٍ. [٥] وَفِي رِوَايَةٍ: («فِيهِ أَبَارِيقُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ، مَنْ وَرَدَهُ فَشَرِبَ مِنْهُ لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عمر ﷺ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] ستاسو مخکې د قیامت په ورځ ځما حوض کوثر بنکاره کیدونکی دی [٣] چې د هغه د دواړو

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة مریم (رقم-٣١٥٩) واحمد فی المسند: ١/٤٣٣

²) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب فی الحوض (رقم-٦٥٧٧) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب إثبات حوض نبینا صلی الله علیه وسلم وصفاته (رقم-٣٤ - (٢٢٩٩) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب ذکر الحوض (رقم-٤٣٠٣)

غاړو درمیاني فاصله دومره ده څومره چې د جرباء او اذرح په منځ کې فاصله ده ۴ د یو راوي وینا ده چې جَرباء او اذرح ملك شام کې دوه قریې دي چې د هغه په منځ کې د دریو ورځو مسافت دی ۵ او په یوه حدیث کې دا الفاظ هم دي چې د دې حوض دواړو غاړو باندې ګلاسونه پراته دي چې د برینښ او کثرت د اعتبار نه د آسمان د ستورو په شان به وي کوم سړی چې دي حوض ته راشي او اوبه تری نه اوڅکي بیابه هیڅ کله نه تږی کیږي (بخاری و مسلم)

حل اللغات:- ① جَرْبَاءَوَأَذْرُحَ: دا دواړه په ملك شام کې دوه کلي دی ② أَبَارِيْقُ: د اوبو څکلو لوښی.

تسهیلات:

قوله: مَابَيْنَ جَنْبَيْهِ كَمَابَيْنَ جَرْبَاءَوَأَذْرُحَ:

دحوض کوثروسعت: په دې حدیث کښې دَحوض وسعت بیانول مقصود دی محققینو لیکلی دی چه جرباء دَ یو کلی نوم دې چه اذرح سره بالکل نیزدې واقع دې

قوله: هُمَاقَرْيَتَانِ بِالشَّامِ بَيْنَهُمَامَسِيْرَةُثَلَاثِ لَيَالِيَ:

د درې شپود فاصلې د قول عدم صحت: باقي دَ دغه دواړو په مینځ کښې دَ دریو ورځو دَمسافت وینا صحیح نه ده بلکه تحقیق دادې چه دَدې حدیث دَ یو راوی په وهم کښې دَ اخته کیدو په وجه دا الفاظ نقل نه شو دکوم نه چه دَ حوض کوثر وسعت بیانول مقصود وو والله اعلم

[۵٦٠٨] د شفاعت او د پل صراط تذکره

۵٦٠٨()-۵٦٠٩-()[۳۸] ١ «وَعَنْ حُذَيْفَةَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ " يَجْمَعُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى النَّاسَ، ٣ فَيَقُومُ الْمُؤْمِنُونَ، حَتَّى تُزْلَفَ لَهُمُ الْجَنَّةُ، ٤ فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ: يَا أَبَانَا اسْتَفْتِحْ لَنَا الْجَنَّةَ، ٥ فَيَقُولُ: وَهَلْ أَخْرَجَكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا خَطِيئَةُ أَبِيكُمْ؟ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ، ٦ اذْهَبُوا إِلَى ابْنِي إِبْرَاهِيمَ خَلِيلِ اللَّهِ"

ترجمه: ١ او حضرت حذیفه ﷛ او حضرت ابوهریره ﷛ بیان وکړو چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د قیامت په ورځ به برکت والا او بلند قدر پروردګار په میدانِ حشر کې خلق جمع کړي ٣ او بیابه تول مؤمنان د حساب کتاب او آخري فیصلې په انتظار کې ولاړ وي چې جنت ته هغوئ نزدې شي ٤ نو د هر امت خاص خاص مومنان به حضرت آدم ﷤ ته

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار(رقم-۶۵۶۵) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب أدنی أهل الجنة منزلةً فیها(رقم-۳۲۹ - (۱۹۵) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب ذکر الشفاعة (رقم-۴۳۱۲)

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار(رقم-۶۵۶۵) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب أدنی أهل الجنة منزلةً فیها(رقم-۳۲۹ - (۱۹۵) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب ذکر الشفاعة (رقم-۴۳۱۲)

راشي او ورته به وايي اې زمونږ باباجانه ! زمونږ د پاره جنت خلاص کړه چې مونږ خپل آبدي آرامګاه کې داخل شو ۵ حضرت آدم علیه السلام به هغوئ ته جواب ورکړي آیا تاسو ته نه ده معلومه چې تاسو د جنت نه ستاسو د پلار ګناه ویستلي وئ نو داکار یعنی ستاسو په حق کې شفاعت کول او د جنت خلاصولو اهل زه نه یم ۶ تاسو خلق ځما ځوی ابراهیم ته ورشئ چې د الله دوست او د الله په رسولانو کې افضل او د خاتم الانبیاء جدِ اعلیٰ دی

حل اللغات:- ① تُزْلَفُ: نزدې به کړې شي.

۱ قَالَ: "فَيَقُولُ إِبْرَاهِيمُ: لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ، ۲ إِنَّمَا كُنْتُ خَلِيلًا مِنْ وَرَاءَ وَرَاءَ، ۳ اعْمَدُوا إِلَى مُوسَى الَّذِي كَلَّمَهُ اللّٰهُ تَكْلِيمًا، ۴ فَيَأْتُونَ مُوسَى فَيَقُولُ: لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ، ۵ اذْهَبُوا إِلَى عِيسَى كَلِمَةِ اللّٰهِ وَرُوحِهِ، ۶ فَيَقُولُ عِيسَى: لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ، فَيَأْتُونَ مُحَمَّدًا - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۷ فَيَقُومُ فَيُؤْذَنُ لَهُ، ۸ وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ، فَيَقُومَانِ جَنَبَتَيِ الصِّرَاطِ يَمِينًا وَشِمَالًا، فَيَمُرُّ أَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ".

ترجمه: ۱ حضور ﷺ وفرمایل خلق په دي اوریدو سره د حضرت ابراهیم علیه السلام په خدمت کې به حاضر شي او هغوی ته به هغه عرض وکړي کوم چې هغوئ حضرت آدم علیه السلام ته کړی وو حضرت ابراهیم به هم هغه جواب ورکړي چې زه د دې کار اهل نه یم ۲ زه د الله جل جلاله دوست دنن نه مخکې مخکې وم ۳ تاسو خلق موسیٰ علیه السلام ته ورشئ چې الله جل جلاله هم کلامي سره مشرف کړي دي ۴ خلق به د حضرت موسیٰ په خدمت کې حاضر شي هغه به هم دا جواب ورکړي چې زه د دې کار اهل نه یم ۵ تاسو خلق عیسیٰ علیه السلام ته ورشئ چې د الله کلمه او د هغه روح دی خلق به د حضرت عیسیٰ په خدمت کې حاضر شي ۶ حضرت به هم دا جواب ورکړي چې زه د دې کار اهل نه یم آخر هغه به داخبره واضحه شي چې د شفاعت انحصار صرف خاتم الانبیاء محمد ﷺ باندې دی نو بارګاه رب العزت کې د ټولو نه زیات قرب او عزت حضور ته حاصل دی او ټول انبیاء اورسولانو کې د ټولو نه زیات ممتاز او مشهور د حضور ذات مبارك دی نو هغه خلق به حضرت محمد ﷺ ته راشي ۷ او حضرت محمد ﷺ به د عرش الهي ښي طرف ته ودریدو سره ټول نوع انساني ته د میدانِ حشر سختیو او پریشانیو نه د راحت ورکولو شفاعت کولو اجازت طلب کړي حضور ته به اجازت ورکړي شي او څرنګه چې مخکې تیر شو حضور ﷺ به بارګاه رب العزت کې پیش کیدو سره په سجده پریوځي بیابه حکمِ خداوندي باندې سر پورته کړي او عرض به وکړي ۸ بیا چې د حساب کتاب مرحله تیره شي او ټول خلق پل صراط باندې پوریوځي نو امانت او رحم (صله رحمي) ته به صورت ورکولو سره راوستل شي او دا دواړه به خپل حق او انصاف غوښتلو د پاره د پل صراط ښي اوچَپ دواړه طرف ته اودریږي بیابه پل صراط نه د خلقو تیریدل شروع شي نو یوه طبقه چې په تاسو ټولو کې

به افضله وي او د تولو نه به مخکښ تیره شي د بجلۍ په شان به ډیري تیزۍ سره پل صراط باندې پوريوځي

حل اللغات:- ② خَلِيلًا: دوست، ③ وَرَاءَ وَرَاءَ: ددې نه مخکښې مخکښې. «د زیاتې زمانې څخه کنایه ده» ④ الْبَرْقِ: بجلي.

> ① قَالَ: قُلْتُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، أَيُّ شَيْءٍ كَمَرِّ الْبَرْقِ؟ ② قَالَ: (أَلَمْ تَرَوْا إِلَى الْبَرْقِ كَيْفَ يَمُرُّ وَيَرْجِعُ فِي طَرْفَةِ عَيْنٍ، ③ ثُمَّ كَمَرِّ الرِّيحِ، ثُمَّ كَمَرِّ الطَّيْرِ، وَشَدِّ الرِّجَالِ، ④ تَجْرِي بِهِمْ أَعْمَالُهُمْ، ⑤ وَنَبِيُّكُمْ قَائِمٌ عَلَى الصِّرَاطِ يَقُولُ: يَا رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ، ⑥ حَتَّى تَعْجِزَ أَعْمَالُ الْعِبَادِ، حَتَّى يَجِيءَ الرَّجُلُ فَلَا يَسْتَطِيعُ السَّيْرَ إِلَّا زَحْفًا.

ترجمه: ① حضرت ابو هریره رضي الله عنه وایي دي خبري اورېدو سره ماعرض وکړو یارسول الله په تاسو دې ځما مور پلار قربان وي د بجلۍ په شان د تیریدو صورت به څه وي؟ ② حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل آیا ته نه وینې چې د بریښنا چمك څرنګه تیریږي او د سترګو په رپ کې واپس راشي مطلب دادی چې هغه خلق به پُلِ صراط باندې بس داسې تیر شي لکه د سترګو په رپ کې ③ بیا څه خلق به د مارغانو په شان او څه خلق به د سړو د منډې یا پیاده تلونکو په شان تیر شي ④ او هغوئ به د هغوئ د اعمالو طاقت او نورانیت او پاکیزګي په مخکې بوځي یعنې د چا اعمال چې د کومې درجې وي د هغه د تیریدو رفتار به هم د هغه درجې وي او هغه وخت چې هرکله مسلمانان پل صراط باندې تیریږي ⑤ ستاسو نبي به پل صراط باندې ولاړ وي وایي به اې پروردګاره! دوئ سلامتیا سره تیر کړې دوی په دوزخ کې بې دلویدو نه محفوظ کړي ⑥ بیا به د څه بنده ګانو اعمال عاجزه وي یعنې د کومو بنده ګانو اعمال چې ناقص او کمتروي یا داسې اعمال نه لري چې د هغه په بناء پل صراط باندې تیریدو کې هغوئ ته مدد ورکړي نو هغه خلق به پل باندې د تیریدو په وخت سخت قسم پریشانیو کې ګیر وي ددې پورې چې یو سړی به د خپل زیات خراب اعمالو د خرابې په وجه تلو باندې قادر نه وي په ځکیدلو یا په ګونډو به راځي

حل اللغات:- ⑤ طَرْفَةِ عَيْنٍ: د سترګو رپ، ⑥ شَدِّ الرِّجَالِ: زغلیدل د سړي. منډې وهل. ⑦ تَعْجِزَ: عاجز وی، ناقص او کمتر وی. ⑧ زَحْفًا: په ګونډو باندې تلل، خږپوسو باندې تلل.

> ① وَقَالَ: "وَفِي حَافَتَيِ الصِّرَاطِ كَلَالِيبُ مُعَلَّقَةٌ مَأْمُورَةٌ، ② تَأْخُذُ مَنْ أُمِرَتْ بِهِ، فَمَخْدُوشٌ نَاجٍ، وَمُكَرْدَسٌ فِي النَّارِ". ③ وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ إِنَّ قَعْرَ جَهَنَّمَ لَسَبْعِينَ خَرِيفًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ددې نه وروسته حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل او د پُلِ صراط دواړه طرف ته به (کونډې) چنګکان وي او هغه چنګکانو ته به د الله جل جلاله د طرف نه دا حکم وشي چې هرهغه سړی

راونيسي كوم چې د نيولو قابل گرځول شوي دي [۲] نو هغه چنگكان به داسې خلق رانيسي او بيا هغوئ کې به څه خلق خو د هغه چنگكانو مصيبت زغملو سره او زخمي كيدو سره د دوزخ د اور نه نجات خلاصون بيا مومي او څه خلق به لاس پښې ترلي په دوزخ کې وغورځول شي [۳] قسم دی په هغه ذات چې د هغه قبضه کې د ابوهريره رضي الله عنه ساه ده د دوزخ ژوروالی د اويا کاله د مسافت د لاري برابر دی. (مسلم)

حل اللغات: - ⑨ حَافَتَي: أي جانباه وطرفاه، دواړه طرفونه دنهر. ⑩ كَلَالِيبُ: دا دي مفرد كَلُّوبٌ دې د اوسپنې كونډه سيخ. ⑪ مُعَلَّقَةٌ: رازوړند به وی، ⑫ مَخْدُوشٌ: دَ خدش نه دې زخمي كيدل او شليدل ⑬ نَاجٍ: نجات به ئې اوشي، خلاص به شي، ⑭ مُكَرْدَسٌ: دَ كردس نه دې ديكه به وركولې شي (چه دوزخ كښې پريوځي). ⑮ قَعْرَ: ژوروالې، ⑯ خَرِيفًا: خريف دَ خزان موسم ته وائی دلته ترې كال مراد دې

تسهيلات:

قوله: إِنَّمَا كُنْتُ خَلِيلًا مِنْ وَرَاءَ وَرَاءَ:

دوراء الوراء مفهوم: يعنی نن الله تعالی په غضب كښې دې زه نيزدې نه شم ورتلې بيشكه دَ الله تعالی خليل اودوست وو ليكن هغه زمانه ډيره مخكښې وه دَ نن نه ده نن شاته شاته دوستی ده مخې ته دَ ورتلو همت نشته دې

نوټ: دحديث د نورو جملو وضاحت وړاندې د حديث نمبر (۵۵۷) په تسهيل كښې تيرشوي دې

دوزخ نه دراوتونكو خلقو د تازگئ او خوشحالئ مثال

۵۵۸-(۱)[۳۹] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲] يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ قَوْمٌ بِالشَّفَاعَةِ كَأَنَّهُمُ الثَّعَارِيرُ [۳] قُلْنَا مَا الثَّعَارِيرُ [۴] قَالَ إِنَّهُ الضَّغَابِيسُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] هغه خلق چې د شفاعت په بناء د دوزخ نه ويستل كيږي د هغوئ مثال به داسې وی لكه چې هغوئ ثعارير دی [۳] مونږ عرض وكړو يارسول الله! ثعارير نه څه مراد دی [۴] حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل هغه واړه بادرنگ خني مراد دی (بخاري مسلم) يعنی لكه څرنگه چې هغه واړه بادرنگ دغوټي نه راوتلو سره څومره تازه وي دوي به هم دغه شان تازه وي.

حل اللغات: - ① الثَّعَارِيرُ: دا دي مفرد ثُعْرُورٌ دي، بادرنگ ته وائی. ② الضَّغَابِيسُ: بادرنگ.

---

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق، باب صفة الجنة والنار رقم الحديث ۶۵۵۸

تسهيلات:

قوله: يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ قَوْمٌ بِالشَّفَاعَةِ كَأَنَّهُمُ الثَّعَارِيرُ:

د ثعارير مطلب: چي بادرنګ بنه شنه تازه وی اود دې دپاسه مزيدار غوړوالې وی په دې وجه چه کله دوزخيان د دوزخ نه راوويستلې شی په نهرحيات کښې واچولې شی نوهغوی به اوپرقيږی اوبنائسته به شی چه دبادرنګ په شان به تك شنه اوتازه شی

د قيامت په ورځ به دري قسمه خلق شفاعت کوی

-- ()[۴۰] ① وَعَنْ عُثْمَانَ ابْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② يَشْفَعُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةٌ ③ الْاَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْعُلَمَاءُ ثُمَّ الشُّهَدَاءُ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه: ① او حضرت عثمان ابن عفان ﷺ وايي ② د قيامت په ورځ به دري قسمه خلق شفاعت کوي ③ اول انبياء بيا باعمله علماء او بيا شهداء. (ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله: يَشْفَعُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةٌ الْاَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْعُلَمَاءُ ثُمَّ الشُّهَدَاءُ:

د دري قسمه هستيانو اعزازی شفاعت:

① انبياء کرام به د ګناهګارانو دپاره شفاعت کوی.

② علماء کرام به د ګناهګارانو دپاره شفاعت کوی.

③ شهيدان به د ګناهګارانو دپاره شفاعت کوی.

---

[1] اخرجه ابن ماجة، کتاب الزهد، باب ذکر الشفاعة رقم الحديث ۴۳۱۳

[۵] بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا]

دَ جنت او اهل جنت دَ صفاتو بیان

خلاصة الباب

فيه أحد و أربعون حديثاً مشتملة على اثنى عشرة مسئلة:

① ذكر نعيم الجنة عموماً: ۱۔
② ذكر سوق الجنة: ۷، ۳۴، ۳۵۔
③ صفات درجات الجنة: ۶، ۱۶، ۲۰، ۲۱۔
④ ذكر رضوان الله تعالى في الجنة: ۱۴۔
⑤ ذكر أنهار الجنة: ۱۶، ۲۹، ۳۸۔
⑥ ذكر أبواب الجنة: ۱۷، ۳۳۔
⑦ ذكر أشجار الجنة: ۴، ۱۹۔
⑧ ذكر سدرة المنتهى: ۲۸۔
⑨ عدم النوم في الجنة: ۴۱۔
⑩ صفة نعيم الجنة على الخصوص: ۲، ۳، ۴، ۵، ۷، ۱۸، ۲۲، ۲۵، ۳۰، ۳۱، ۳۹، ۴۰۔
⑪ ذكر أزواج أهل الجنة وقولهم : ۳، ۲۳، ۲۴، ۳۶، ۳۷، ۳۹ ۔

د جنت معنی: جنت دَ باغ په معنی کښې دې. جیم اونون مشدددی په دې کښې دَ ستر اوپټوالی معنی ده. هم دغې نه جن او جنات دی. هم دَدې نه جنین اوجنون دې. هم ددې نه جنان په معنی دَ زړه کښې دې

د جنت په وجه تسمیه کښې دوه اقوال. ① جنت الله تعالی دَ خلقودَ سترگونه پټ ساتلې دې دې دَپاره چه دَ غیب په پرده کښې پاتې شی او په دې باندې ایمان بالغیب قائم اودائم پاتې شی

② جنت الله تعالی په باغونو او ونوکښې پټ کړې دې ځکه ورته جنت وائی.

دجنت اودوزخ وجود: جنت او دوزخ دواړه الله تعالی تیارکړی دی دَحشر اونشر اوحساب او کتاب نه پس به کامیاب انسان جنت ته ځی اوناکام به دوزخ ته ځی. لکه چه جنت دَ راحتونودَ مجموعې نوم دې او دوزخ دَ زحمتونودَ مجموعې نوم دې. جنت دَ الله تعالی دَ محبوبانودَپاره دَ میلمستیاخائی دې اودوزخ دَ مغضوبین دَپاره قید خانه ده.

دانسان د ترغیب دپاره دجنتی نعمتونو ذکر کول: انسان چونکه په طبعی توګه باندې هم

په دې خیز کښې رغبت لری کوم چه محسوس او مادی او طبعی وی. ددې وجې نه الله تعالیٰ دَ انسان د ترغیب دَپاره خپلې رضا او خوشحالئی سره دَ جنت مادی نعمتونه پیش کړی دی. کوم باندې چه انسانی طبیعت ډیر زر پوهېږی مثلاً چه دوی ته اووئیلې شی چه تاسو ته به حورې ملاویږی غلامان به ملاویږی دَ انارو منړو او انګورو باغ به ملاویږی دَ پیئوشاتو شرابو او صفااوبونهرونه به ملاویږی نو په دې باندې انسان ډیر زر پوهیږی ددې په مقابله کښې دَ الله تعالیٰ رضا اوخوشحالی په دغه شان جذباتی انداز کښې په پوهه کښې نه راځی. الاماشاء الله.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۶۱۲] د جنت ذکر

٥٦١٢- [١] ①عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِينَ ③ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ. ④ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ: ﴿فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ﴾ [السجدة: ١٧]». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② الله تعالیٰ فرمايي ما خپل نیك بنده ګانو د پاره هغه شی تیار کړی دی ③چې تر ننه پورې نه یوې سترګې هغه شان شی لیدلی دی نه یو غوږ هغه شان خوبي اوریدلي ده او نه د یو انسان په زړه کې د هغه د ماهیت تصور پورې راغلی دی ④که تاسو د دې خبري تصدیق کول غواړئ نو دا آیت اووایئ: فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ. (بخاري مسلم) هیڅ سړي ته نه ده معلومه چې کوم بندګان شب بیداري کوي او د الله تعالیٰ په لار کې خپل مال خرڅ کوي د هغوئ د پاره څه شی پټ ایښودل شوي دي چې د سترګو د یخ والي سبب دی.

حل اللغات:- ①أَعْدَدْتُ: أَيْ: هَيَّأْتُ: تیار کړی مې دی ②لَا خَطَرَ: أَيْ: وَقَعَ: نه دي راغلې. نه دي تیرشوي (په تصورکښې نه دی راغلي) ③بَشَرٍ: هیڅ یو انسان ④أُخْفِيَ: پټ ساتلې شوې دې. ⑤ قُرَّةِ: ددې دوه معانې دی یو: بِمَعْنَى الْبَرْدِ: یخوالې (څکه د خوشحالئ په وخت د سترګو اوښکې یخې وی دې نه مراد د سترګو خوندونه او مزې دی.) او دویمه بِمَعْنَى الْقَرَارِ: په یو ځائې باندې قرار او اطمینان ساتل (یعنی سترګې به اخوا دیخوا نه مائل کیږی). ⑨أَعْيُنٍ: د عین جمع ده، سترګې.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب ما جاء فی صفة الجنة وأنها مخلوقة (رقم-٣٢٤٤) ومسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها (رقم-٢ - (٢٨٢٤) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة السجدة (رقم-٣١٩٧) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب صفة الجنة (رقم-٤٣٣٠) واحمد فی المسند:٣١٥/٢

تسهيلات:

د حديث د بعضې جملو وضاحت:

① مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ: يعني يوې سترګې د هغه نعمت ذات په محسوس توګه نه دې ليدلې بلکه د هغه حسين صورت پټ دی.

② وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ: يعني نه يو غوږ د دې حقيقی صفت اوريدلې دې او نه د هغه خائی ښکلې آوازونه غوږونو ته رسيدلی دی.

③ وَلَا خَطَرَ: يعني نه د دې اصلی ماهيت او د عيش او عشرت تصور د چا په زړه کښې تيرشوې دې. مطلب دا چه په دنيا کښې د جنت د اصل نعمتونو پورې نه څوک رسيدلې دې او نه په دې باندې د چا احاطه شوې ده. او د رسيدو نه پس به ټول هرڅه په کامياب انسانانو باندې ښکاره شي.

④ قُرَّةِ أَعْيُنٍ: يعني د سترګو کوم يخوالې چه الله تعالى د جنت والو د پاره تيار کړې دې دا صرف نه د سترګو يخوالې دې بلکه دا يخوالې په جنت کښې د هر قسم عيش و عشرت خوند او مزونه کنايه ده. لکه چه جنت ته رسيدونکو ته به په زړه او ځان سره قرار حاصل شي

[۵۶۱۲] د جنت فضيلت

۵۶۱۳-[۲] () ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«مَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ② په جنت کې د يوې کوړې برابرهم ځاي په دنيا کې او څه چې په دنيا کې وي دې ټولو نه ښه دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① مَوْضِعُ: أي مِقْدَارُ مَوْضِعِهِ: يعني د يوې کوړې برابر ځائی يا د يو چابك په اندازه ځائی به د دنيا او څه چه په دنيا کښې دی نه بهتروی (يا د دې نه مراد معمولی مقدار طرف ته اشاره ده). ② سَوْطٍ: چابک. کوړه.

تسهيلات:

قوله: مَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا:

جنت د عظمت او قيمت وجه: د دې وجه داده چه د جنت هر يو نعمت د هميشه د پاره دې او د دنيا هر نعمت فانی دې نو فانی نعمت د دائمی او باقی پاتې کيدونکی نعمت مقابله چرته

---

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب الحور العين. وصفتهن يحار فيها الطرف. شديدة سواد العين. شديدة بياض العين " (رقم-۲۷۹۶) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة المائدة (رقم-۳۰۶۳)

کولې شي. حضرت لبید رضی الله عنه ښه فرمائیلي دي:

الاکل شيء ما خلا الله باطل　　وکل نعیم لا محالة زائل

دَجنت نه مراد دَ الله تعالی رضامندي او خوشحالي ده جنت دَ الله تعالی دَ رضوان مجموعه ده. کله چه دَ الله تعالی رضا حاصله شي نو دَ باقي نعمتونو به څه وایئی دَ جنت نعمتونه او دَهغې حاصلول الله تعالی الفوزالکبیر گرځولی دی لکه ﴿ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ﴾

د جنت طبقات او درجات:

① جنت الماوی　② دارالمقام　③ دارالسلام　④ دارالخلد

⑤ جنة النعیم　⑥ جنة الفردوس　⑦ جنة عدن　⑧ طوبی

[۵٦۱٤] د جنت د حورو تعریف

۵۶۱۳-[۳] (١) ①وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «غَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، ③وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا ④وَلَمَلَأَتْ مَا بَيْنَهُمَا رِيحًا، ⑤وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② په سهار کې او په ماښام کې یووار د الله جل جلاله په لار کې وتل دنیا او د دنیا د ټولو څیزونو نه ښه دی ③ او که د جنتیانو نه د ښځه یعنی یوه حوره زمکي طرف ته یونظر سره وګوري نو د مشرق او مغرب په منځ کې یعنی د دنیا دي یوګوټ نه بل ګوټ پورې ټول څیزونه به روښانه او منور کړي ④ او د مشرق نه واخله مغرب پورې به ټوله فضاء د خوشبو نه ډکه کړي ⑤ او د هغه د سر یو څادر د دې دنیا او د دنیا د ټولو څیزونو نه ښه دی. (بخاري)

حل اللغات:- ① غَدْوَةٌ: أَيْ: مَرَّةٌ مِنْ ذَهَابِ أَوَّلِ النَّهَارِ: د سحر په وخت کښې تلل. ② رَوْحَةٌ: أَيْ: مَرَّةٌ مِنْ رَوَاحِ آخِرِ النَّهَارِ: د ماښام په وخت کښې تلل. ③ اطَّلَعَتْ: أَيْ: أَشْرَفَتْ وَطَالَعَتْ: او چته راښکاره شي، ④ لَأَضَاءَتْ: رڼرا به کړی، روښانه به کړی، ⑤ لَمَلَأَتْ: ډک به ئې کړی، ⑥ رِيحًا: أَيْ: طِيبًا: د باد نه مراد خوشبوئی ده. ⑦ نَصِيفُهَا: أَيْ: وَخِمَارُهَا: لوپټه (د جنتی ښځې).

تسهیلات:

قوله: وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا:

دحورې دسر دلوپټې د دنیا وما فیها څخه غوره والې: یعنی په سرچه کومه وره شان لوپټه وی هغه به دَدنیا او ما فیها نه بهتر او افضل وی په پوره بدن باندې خوره شوې لوپټه خوبه ډیره اعلی وی. دَدنیا څیزونه به فانی وی دا لوپټه باقی ده په دې وجه بهتر ده.

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار (رقم-٦٥٦٨) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب فضل الغدوة والروحة فی سبیل الله (رقم-١١٢ - (١٨٨٠) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: فضل غدوة فی سبیل الله عز وجل (رقم-٣١١٨) واحمد فی المسند:٣/٢٦٤

دَجنتی ښځو دَحسن کتلو دَپاره به سترګي هم داسې ورکولې شي چه دغه شعاګانې برداشت کړې شي

[۵۶۱۵] دجنت ديوې وني ذکر

۵۶۱۵ - [۳] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقْطَعُهَا، [۳] وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ أَوْ تَغْرُبُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] و حضرت ابوهريره ﷺ وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په جنت کې يوه و نه ده چې د هغه نوم طوبٰی ده که يو سوار د هغه ونې سايه (سورې) کې سل کاله روان وي بياهم د هغه مسافت به ختم نشي [۳] اوپه جنت کې ستاسو د ليندی کمان برابر ځاي د هغه ټولو ځيزونو نه ښه او برتر دی چې په هغه نمر راخيژي يا لويږي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① يَسِيرُ: روان شی، مزل اوکړی. ② لَايَقْطَعُهَا: ختم به ئې نه کړی. ③ قَابَ: بِمَعْنَى الْقَدْرِ: دالفظ قاب هم دې او سقيب هم دې. قاد هم دې قيد هم دې دټولو معنی مقدار اواندازه ده يوه ښبه ده چه دې سره د مسافت دمقدار پته لګی. ④ قَوْسِ: لينده، کمان.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقْطَعُهَا:

دجنتی ونې نوم: يعنی دومره لويه ونه به وی چه تيز زغليدونکې په اس سور دَدې په سوری کښې سل کالوپورې سفرکوی بيابه هم دَ دغه ونې سورې ختم نه شی. وئيلی شی چه دابه دَطوبیٰ ونه وی دَ کومې يو يو ښاخ به دَ هرجنتی کورته رسيږی.

قوله: وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ أَوْ تَغْرُبُ:

دجنت د لندې برابرد ځائې د دنيا وما فيها څخه غوره والې: "ای مقدارقوس" دکمان يعنی لندې برابر ځائی مراد دې. دومره ځائی دَ دنيا او مافيها نه څکه بهتردې چه دا دائمی دې اودنيا فانی ده.

[۵۶۱۶] دجنت خيمه

۵۶۱۶ - [۵] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «إِنَّ لِلْمُؤْمِنِ فِي الْجَنَّةِ لَخَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ وَاحِدَةٍ مُجَوَّفَةٍ، [۳] عَرْضُهَا - وَفِي رِوَايَةٍ طُولُهَا - سِتُّونَ مِيلًا، [۴] فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا

---

¹) اخرجه البخاری فی كتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار (رقم-۶۵۵۲) ومسلم فی كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب إن فی الجنة شجرة يسير الراكب فی ظلها مائة عام لا يقطعها (رقم-۶ - (۲۸۲۶) والترمذی فی كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الواقعة (رقم-۳۲۹۲) واحمد فی المسند: ۲/۲۵۷

¹) اخرجه البخاری فی كتاب بدء الخلق/باب ما جاء فی صفة الجنة وأنها مخلوقة (رقم-۳۲٤۳) ومسلم فی كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب فی صفة خيام الجنة وما للمؤمنين فيها من الأهلين (رقم-۲۳ - (۲۸۳۸) والترمذی فی كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صفة غرف الجنة (رقم-۲۵۲۸) واحمد فی المسند: ٤/٤۰۰

أَهْلُ مَا يَرَوْنَ الْآخَرِينَ، [۵] يَطُوفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُ، [۶] وَجَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا، وَجَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ، آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا، [۷] وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَبَيْنَ أَنْ يَنْظُرُوا إِلَى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَاءُ الْكِبْرِيَاءِ فِي جَنَّةِ عَدْنٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو موسی ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] مؤمن ته چې په جنت کې کومه خيمه حاصله شي هغه به پوره يوه منځ خالي ملغلره (موتي) وي [۳] چې د هغه عرض پلنوالی يوبل روايت کې دی او د هغه طول اوږدوالی به د شپيته ميله مسافت په قدر وي [۴] د دې خيمې هرګوټ کې به د هغه مؤمن اهلِ خانه کوروالا وي او د يوګوټ سرې به د دويم ګوټ سرې نشي ليدی دي [۵] ټول اهلِ خانه ته به مؤمن ځي راځي [۶] د مؤمن د پاره به دوه جنتونه د چاندي وي چې د هغه جنتونو لوښي مکانات او محلات او د خانه داري نور ضروري او آرائشي سامان تخت کرسۍ ميز پالنګ جهار فانوس ترمه چې وني وغيره ټول به د چاندي وي او دوه جنتونه به د سرو زرو سوني وي چې د هغه جنتونو لوښي وغيره به هم د سوني وي [۷] او جنت العدن کې به د جنتيانو او دپروردګار د طرف نه د هغوئ ليدو په منځ کې د ذات باري تعالی د عظمت او بزرګۍ او پردي نه علاوه بل هيڅ شی حائل نه وي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① لُؤْلُؤَةٍ: ملغلرې ته وائی کوم چه ګول وی. ددې عمارت چه به ډير زړه راښکونکې وی اوخيمه به ئې مزيداره وی. ② مُجَوَّفَةٍ: منځ به ئې خالي وی. دد به وی (يعنی دا ټوله خيمه به يوه ملغلره وی) ③ زَاوِيَةٍ: ګوټ، ④ يَطُوفُ: أَيْ يَدُورُ عَلَى خِيَمِهِمْ: يعنی مؤمنان به خپل کور والو لـه ځی او راځی معلوميږی چه په دې اهل وعيال کنبې به دَ مؤمنانو بيبيانې هم وی ⑤ رِدَاءُ الْكِبْرِيَاءِ: د لويئ څادر (دا د الله تعالی د عظمت څخه کنايه ده) ⑥ جَنَّةِ عَدْنٍ: دا دجنت نوم دې معنی ئې ده جَنَّةِ إِقَامَةٍ وَخُلُودٍ: هميشه د اوسيدو جنت.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ لِلْمُؤْمِنِ فِي الْجَنَّةِ لَخَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ وَاحِدَةٍ مُجَوَّفَةٍ:

دجنتي دپاره ديوې ملغلرې څخه جوړشوې کور: يعنی ډيرې مرغلرې به يو ځائی کولو سره يو مکان نه وی جوړ کړې شوې په کوم کنبې چه جوړ راځی بلکه يولوئی مرغلره به وی ګول به وی دَ دننه نه به دده وی. ډير په طريقه به وی. دکوم نه چه به زړه راښکونکې اوبې مثاله مکان تيار کړې شوی وی.

قوله: عَرْضُهَا - وَفِي رِوَايَةٍ طُولُهَا - سِتُّونَ مِيلًا:

دجنتي خيمې ټهوالي: يعنی دَدې خيمې پلنوالې او اوږدوالې به دومره زيات وی که اوږدوالې په شپيته ميله باندې مشتمل وی نودَې نه اندازه لګولې شی چه دَدې خيمې پلنوالې به څومره وی او که پلنوالې شپيته ميله وی نودَې نه اندازه لګولې شی چه دَدې

خيمې اوږدوالې به څومره زيات وی. بهرحال د روايت په دې اختلاف کښې هيڅ مشکل نشته دې اصل مقصد خو د دغه خيمې پلنوالې او اوږدوالې بيانول دی.

قوله: وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَبَيْنَ أَنْ يَنْظُرُوا إِلَى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَاءُ الْكِبْرِيَاءِ فِي جَنَّةِ عَدْنٍ:

د خپل کور څخه د الله تعالى په ديدار مشرف کيدل: په دې جمله کښې ما نافيه ده يعنې چرته چه په دې خيمه کښې د مؤمنانو د استوګنې ځائې وی د هغه ځائې نه به د الله تعالى په ديدار کښې صرف پردهٔ کبريائی حجاب وی دې نه علاوه به بل هيڅ رکاوټ اوبنديز نه وی اودا نورانی پرده به هم حجاب نه جوړيږی بس هم ديدار اوديدار به وی.

[۵۶۱۷] د جنت درجات

۵۶۱۷-[۲] () [۱] وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، [۳] وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا دَرَجَةً، [۴] مِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ الْأَرْبَعَةُ، [۵] وَمِنْ فَوْقِهَا يَكُونُ الْعَرْشُ، [۶] فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ» " [۷] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَلَمْ أَجِدْهُ فِي (الصَّحِيحَيْنِ) وَلَا فِي (كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ).

ترجمه: [۱] او حضرت عباده بن صامت ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د جنت سل درجې دي په هغه کې د هر دوو درجو په منځ کې دومره فاصله ده څومره چې د زمکې او آسمان په منځ کې ده [۳] او فردوس صورةً او معنى او د خپلو درجاتو د بلندی د اعتبار نه د ټولو جنتونو نه اعلى او برتر دی [۴] او د دې فردوس نه د بهشت څلور نهرونه وځي [۵] او د فردوس برسيره عرشِ الٰهي دی [۶] نو هرکله چې تاسو د الله ﷻ نه جنت غواړئ نو جنت الفردوس ځنې غواړئ چې د ټولو څخه اعلى او برتر دی [۷] دا روايت ترمذي ﷫ نقل کړی دی او ما دا حديث نه خو صحيحينو کې پيدا کړي دی او نه کتاب حميدي کې.

حل اللغات:- ① الْفِرْدَوْسُ: دا د جنت نوم دې دا د ټولونه افضل جنت دې، د عرش فرش د جنت الفردوس چت دې يعنې عرش د جنت الفردوس د چت د پاسه دې ② تُفَجَّرُ: أَيْ تُشَقَّقُ وَتَجْرِي: راوځی. رابهيږی.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ:

د سلو په تعداد کښې دوه اقوال: ① د سلو په هندسه کښې تحديد پيش نظر نه دې بلکه دې نه کثرت مراد دې. د دې تائيد په سنن بيهقى کښې د حضرت عائشه ﷞ د دې مرفوع حديث نه هم کيږی په کوم کښې چه د جنت درجاتو شمير د قرآن د آياتونو برابر بيان کړې دې. د روايت الفاظ دا دی: عدد درج الجنة عدد اى القرآن فمن دخل الجنة من اهل القرآن فليس فوقه درجة.

---

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى صفة درجات الجنة (رقم-۲۵۳۱) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب صفة الجنة (رقم-۴۳۳۱)

④ دا هم ممکن دی چه دَ دې نه دَ سلو مخصوص هندسه مراد وی اودَ دې په ذریعه دَ جنت دَ ډیرو درجونه هغه سل درجې بیانول مقصود وی دَ کوم په هرو دوو درجو مینځ کښې دومره فاصله وی څومره چه دَ زمکې او آسمان په مینځ کښې فاصله ده. نوداسې کیدې شی چه دَ جنت نورې ډیرې درجې وی دَ کومو په مینځ کښې چه فاصله یا یاخودَ دې فاصله نه کمه وی یا دې نه زیاته وی چنانچه په مسند فردوس کښې دَحضرت ابوهریره ﷺ مرفوع روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دې په جنت کښې څه درجې داسې دی کوموته چه به هم هغه خلق رسیږی چه په دنیاکښې دَ الله تعالی په خاطر غم اوخفګانم او پریشانو کښې اخته وی.

قوله: مِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ الْأَرْبَعَةُ:

دجنت څلور نهرونه: دَ جنت الفردوس دَ لاندې نه څلور نهرونه بهیږی چه په ټولو جنتونو کښې به چلیږی. ① دَ اوبو نهر ② دَ شاتو نهر ③ دَ شرابو نهر ④ اودَ پیئونهر دَدې څلور مشهورو نهرونو باره کښې الله تعالی داسې ارشاد فرمائیلی دې. ﴿فِيهَآ أَنْهَٰرٌ مِّن مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ وَأَنْهَٰرٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُۥ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى﴾

ترجمه: په جنت کښې ډیرنهرونه دَ داسې اوبودی په کوم کښې چه به لړشان بدلون نه وی اوډیرنهرونه دَ پیئو دی دَ کوم خوندچه به لږ شان هم بدل نه وی اوډیر نهرونه دَ شرابودی چه خپلو څکونکو ته به ډیرزیات خوندمعلومیږی اوډیر نهرونه دَ شاتودی چه بالکل صفااوسوتره به وی. دَ جنت الفردوس نه پاس دَ رحمن عرش دې دَ دې دَ پاره نبی کریم ﷺ خپل امت ته دَ دې خبرې تاکید فرمائی چه دَ الله تعالی نه دَ جنت الفردوس سوال کوئی دې دَ پاره چه تاسو ته دَ ټولونه اعلی او افضل جنت حاصل شی. [مرقاة المفاتیح ۵۸۳،۵۹۸/۹ کتاب الفتن باب صفة الجنة تحفة الاحوذی ۱۹۸/۷].

نوردوې قسمه نهرونه: ① تسنیم دا خوږې اوبه دی چه دَ جنت په هوا کښې به جاری وی.
② زنجبیل او سلسبیل. دادَ ګرم مزاج اوبه دی لکه قهوه اوچائی وغیره
③ کافور دَدې چینې او نهر مزاج یخ اومزیدار وی لکه چه یخ شربتونه وی. قرآن کریم کښې د دې تذکره په سورة دهرکښې شوې ده.

نوټ:

دحدیث دنوروجملووضاحت وړاندې د مختلفو احادیثو په تسهیل کښې تیرشوې دې.

[۵۶۱۸] د جنت د بازار ذکر

۵۶۱۸–[۲] () [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ، [۳] فَتَهُبُّ رِيحُ الشَّمَالِ فَتَحْثُو فِي وُجُوهِهِمْ وَثِيَابِهِمْ، [۴] فَيَزْدَادُونَ حُسْنًا وَجَمَالًا، [۵] فَيَرْجِعُونَ إِلَى أَهْلِيهِمْ وَقَدِ ازْدَادُوا حُسْنًا وَجَمَالًا، [۶] فَيَقُولُ لَهُمْ أَهْلُوهُمْ: وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا. [۷] فَيَقُولُونَ: أَنْتُمْ وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په جنت کښې يو بازار دی چې په هغه کښې هره جمعه خلق جمع کېږي [۳] او هلته به شمالي هوا وچليږي چې د جنتيانو په مخونو او کپړو قسم قسم خوشبوئي وغورځوي [۴] چې هغه سره به هلته د موجوده جنتيانو حسن وجمال کښې اضافه کېږي [۵] او هرکله چې هغه خلق ډير زيات حسين او جميل جوړيدو سره هغه بازار نه خپلو کورونو ته واپس راشي [۶] نو د هغوئ کور والا به هغوئ ته وايي چې قسم په الله زمونږ نه جدا کيدو سره تاسو خپل حسن وجمال څومره زيات کړی دی [۷] د دې په جواب کښې به هغوئ وايي او قسم په الله زمونږ د ورغيو نه وروسته تاسو هم خپل حسن وجمال زيات کړی دی (مسلم)

حل اللغات:- ① سُوقًا: بازار. ② فَتَهُبُّ: أَيْ فَتَأْتِي: راځي به، رالوځي به. ③ رِيحُ الشَّمَالِ: شمالي هوا په دې هوا کښې د باران اثرات وی. ④ فَتَحْثُو: أَيْ تَنْثُرُ: شيندی به، چرکاؤ کوی به (يعنی دا شمالی هوا به د خلقو په مخونو باندې مشك اوعنبر او خوشبو چرکاو کوی. دې عمل ته تاسو د خوشبو سپرې ونيلې شئ

تسهيلات:

قوله إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ:

د بازار څخه مراد: د بازار نه مراد د حسن او جمال پيدا کيدل او د دې د زياتيدلو مرکز دې چرته چه به جنتيان هره جمعه راجمع کيږی او د هغوی په حسن او ښائست کښې به زياتوالي کيږی

قوله وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا:

دالله تعالی په ديدار سره په حسن کښې زياتوالي، دا حسن او جمال هم د دغه مشك اوعنبر او د خوشبود سپرې د وجې نه زياتيږی په دې بازار حسن کښې به خپل يوراز هم وی په کوم سره چه به د ټولو خلقو حسن زياتيږی. بل طرف ته به په کورونو کښې د بيبيانو حسن هم زياتيږی نو دواړه به يو بل ته د ښائست او ښکلې کيدو داد او شاباسې ورکوی.

() اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعيمها واهلها/باب فی سوق الجنة وما ينالون فيها من النعيم والجمال (رقم-۱۳-(۲۸۳۳) واحمد فی المسند:۳/۲۸٤

[۵۶۱۹]د جنت د نعمتونو ذکر

۵۶۱۹-[۸] ( ) ۱وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲" «إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، ۳ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ كَأَشَدِّ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً، ۴قُلُوبُهُمْ عَلَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، لَا اخْتِلَافَ بَيْنَهُمْ وَلَا تَبَاغُضَ، ۵لِكُلِّ امْرِءٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ، ۶يُرَى مُخُّ سُوقِهِنَّ مِنْ وَرَاءِ الْعَظْمِ وَاللَّحْمِ مِنَ الْحُسْنِ،

توجمه: ۱او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲کوم خلق چې به په جنت کې مخکې داخل شي يعنی انبياء عليهم السلام هغوئ به د څوارلسمي شپې د سپوږمۍ په شان روښانه او منور وي ۳او هغوئ نه وروسته چې کوم خلق داخليږي يعنی علماء اولياء شهداء او صلحاء هغوئ به د هغه ستوري په شان روښانه او ځلانده (ښائسته) وي کوم چې آسمان باندې ډير تيز ځليږي او د نمر سپوږمۍ نه کم ليکن د نورو ستورو نه به زيات روښانه وي ۴د ټولو جنتيانو زړونه به د يو جنتي د زړه په شان وي يعنی د هغوئ په منځ کې به داسې باهمي ربط او اتفاق وي چې هغوئ ټول به يو زړه او يوځاي وي نه خو هغوئ کې به څه باهمي اختلاف وي او نه به هغوئ يوبل سره څه بغض او عداوت لري ۵په هغوئ کې به هريوسړي د پاره د حور عين نه دوه دوه بيبياني وي ۶چې دومره زياتې حسيني جميلې صاف شفافې به وي چې د هغوئ د پنډيو د هډوکي نلۍ به د هډوکي او غوښې نه بهر په نظر راځي

حل اللغات:- ①زُمْرَةٍ: أَيْ أَوَّلَ جَمَاعَةٍ: يعنی رومبۍ جماعت، ②كَوْكَبٍ: ستوري. ③دُرِّيٍّ: أَيْ: شَدِيدُ الْإِنَارَةِ: ډير تيز ځليدونکې، ④إِضَاءَةً: روښانه، رڼرا ورکونکې ⑤تَبَاغُضَ: يوبل سره بغض کول. ⑥الْحُورِ: وَهُوَ الْبَيَاضُ الْخَالِصُ: حور خالص سپينوالی ته وائي يعنی د سپين ښائسته بدن والا ښځې. ⑦الْعِينِ: أَيْ: حِسَانُ الْأَعْيَانِ: غټو سترګو والا، ښائسته سترګو والا ⑧مُخُّ: مغز، منځ. ⑨سُوقِهِنَّ: د ساق جمع ده، پنډۍ ته وائي، مراد ترې د پنډۍ هډوکې دي

۱يُسَبِّحُونَ اللّٰهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا، لَا يَسْقَمُونَ، ۲وَلَا يَبُولُونَ، وَلَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَتْفُلُونَ، وَلَا يَمْتَخِطُونَ، ۳آنِيَتُهُمُ الذَّهَبُ وَالْفِضَّةُ، وَأَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ، ۴وَوَقُودُ مَجَامِرِهِمُ الْأَلُوَّةُ، وَرَشْحُهُمُ الْمِسْكُ، ۵عَلَى خُلُقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، ۶عَلَى صُورَةِ أَبِيهِمْ آدَمَ سِتُّونَ ذِرَاعًا فِي السَّمَاءِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:- ۱ټول جنتيان به سهار ماښام يعنی هروخت الله تعالیٰ يادوي نه به هغوئ بيمار کيږي ۲نه به لوی متيازې کوي نه به توکي او نه به پوزه سوڼ کوي ۳د هغوئ لوښي به د

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب ما جاء في صفة الجنة وأنها مخلوقة (رقم-۳۲۴۵) ومسلم في كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب في سوق الجنة وما ينالون فيها من النعيم والجمال (رقم-۱۵ - (۲۸۳۴) والترمذي في كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۵۲۲) واحمد في المسند:۱۶/۳

سوني چاندي وي د هغوئ ږمونځ به د سوني وي ⁅۴⁆ او د هغوئ د انگيټيو خشاك به عود. وي د هغوئ خوله به د مشك په شان خوشبوداره وي ⁅۵⁆ او ټول جنتيان به د يوسړي په شان د عادت او سيرت وي يعني ټول به يوشان طور سره خوش خلق نرم طبع او يوبل سره زور ربط او تعلق لرونكى وي ⁅۶⁆ او ټول به شكل وصورت كې د خپل پلار آدم په شان وي او شپيته گزه اوږد قد به لري (بخاري مسلم)

حل اللغات:-⑩ بُكْرَةً: سحر، د ورځ شروع (مراد ترې ورځ ده). ⑪ عَشِيًّا: مانښام (مراد ترې شپه ده). يعني بكرة وعشيًا كښې ذكر دجزء مراد ترې كُل دې صرف د سحر او مانښام وخت نه دې مراد بلكه هميشوالې مراد دې ⑫ لَايَسْقَمُوْنَ: د سَقِمَ يَسْقَمُ نه. أي لَايَمْرَضُونَ: نه به بيمارېږي، او نه به بوډاگان كيږي او نه به زړيږي. ⑬ لَايَبُولُوْنَ: أَيْ مِنْ قُبُلٍ: نه به تشې متيازې كوي. ⑭ لَايَتَغَوَّطُوْنَ: أَيْ مِنْ دُبُرٍ: نه به ډك اودس ماتې كوي. ⑮ لَايَتْفُلُوْنَ: أَيْ لَايَبْزُقُوْنَ: لاړې به نه تهوكى. تفل د توكانړو په معنى كښې دې يعني د خلې تولې گندگئ مثلاً بلغم اوخراشكى وغيره هيڅ به نه وي. ⑯ لَايَمْتَخِطُوْنَ: نه به پوزه سونړ كوي، دَمخاط نه دې دَ پوزې گندگى وغيره ته وائى ⑰ أَمْشَاطُهُمْ: د مُشط جمع ده، گمنز ته وائى. ⑱ وَقُوْدُ: أَيْ: مَايُوْقَدُ: په واؤ باندې زبر دې په اوركښې سوزيدونكى خشاك ته وائى. ⑲ مَجَامِرُهُمْ: دَ مجمر جمع ده انگيټئ ته وائى ⑳ الْأَلُوَّةُ: هُوَالْعُوْدُالْهِنْدِيُّ: عود ته وائى دې ته اگرهم وئيلى شى اگربتئى چه دَ خوشبودَپاره سوزولې شى دا دَ "اَلُوَّةُ" يو مصنوعى نمونه ده دَدې ترجمه لوبان هم ده. ㉑ رَشْحُهُمْ: أَيْ عَرَقُهُمْ: خوله مراد ده دا بدبو داره نه بلكه خوشبوداره دَمشك اوعنبرپه شان به وى. ㉒ الْمِسْكُ: مشك، ㉓ خُلُقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ: كه د خاء پيښ شى نو مراد ترې اخلاق دى يعنى د يو سړى په شان اخلاق به ئې وى. اوكه په خاء زبر شى نو د تخليق په معنى كښې دې. وَالْمَعْنَى أَنَّهُمْ أَتْرَابٌ فِي سِنٍّ وَاحِدٍ: يعنى همزولي او هم عمر به وى

تسهيلات:

قوله: يُرَى مُخُّ سُوقِهِنَّ مِنْ وَرَاءِ الْعَظْمِ وَاللَّحْمِ مِنَ الْحُسْنِ:

دجنت دحورو ښائست: يعنى دا حورې به دومره ښائسته صفا اوتازه وى چه دَ اوياؤ جوړونه اوبيا دَ غوښې او بيا په هډوكو كښې، دننه به دَهغوى دَ پنډو دَبدن مازغه ښكارى په دې كښې دَ ښائست سره سره دې طرف ته هم اشاره ده چه دې حورو ته په كتوسره به هيڅ كدورت او نفرت نه پيدا كيږى بلكه رغبت به ورته پيدا كيږى.

دجنتى حوروپه دليا كښې مثال: الله تعالى دَ جنت دَ حورو په دې صفت باندې په دنياكښې دَ يوكب نسل پيدا كړې دې كوم ته چه شيشه كب وائى. دې كب ته چه دَ بهرنه خوك كتونكې گورى نودَهغه په خيټه كښې كولمې وغيره ټول هرڅه ښكارى.

قوله: يُسَبِّحُوْنَ اللّٰهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا:

د جنتيانو دتسبيح حيثيت: په جنت كښې چه خلق كوم عبادت يا تسبيح كوى دا دَامور

تکلیفیه نه نه دی بلکه یو طبعی عمل به وی لکه څنګه چه په سا اخستلو کښې چه تکلیف نه وی دا تسبیحات به هم دغه شان وی.

قوله: عَلَى خُلُقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، عَلَى صُورَةِ أَبِيهِمْ آدَمَ سِتُّونَ ذِرَاعًا فِي السَّمَاءِ:

د جنتیانو به یو عمر او یو قد کښې کیدل: په خاء کښې چرې ضمه وی نو دا به د اخلاق په معنی کښې وی د کوم تذکره چه دې نه مخکښې شوې ده. په دې وجه ملا علی قاری رحمه الله فرمائی دلته په خاء باندې زبر ډیر مناسب دې کوم چه د تخلیق په معنی کښې دې. مطلب به داشی چه ټول جنتیان به په یو عمر کښې وی یعنی د ۳۰ او ۳۳ کالو په عمر کښې به وی. دا جنتیان به د خپل نیکه حضرت آدم علیه السلام په صورت کښې وی یعنی د هغوی د قد و قامت په شان ۶۰ ګزه اوچت قد به لری. دغه شان د حدیث آخری جمله د حدیث د ړومبې جملې "علی خلق رجل واحد" په وضاحت او تفسیر جوړ شی.

[۵۶۲۰] اهل جنتو ته به د ورو لویو بولو حاجت نه وی

٥٦٣٠-[٩] ()[١] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[٢] «إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُونَ فِيهَا وَيَشْرَبُونَ،[٣] وَلَا يَتْفُلُونَ، وَلَا يَبُولُونَ، وَلَا يَتَغَوَّطُونَ، وَلَا يَتَمَخَّطُونَ[٤]» قَالُوا: فَمَا بَالُ الطَّعَامِ؟[٥] قَالَ: "جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ،[٦] يُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالتَّحْمِيدَ كَمَا تُلْهَمُونَ النَّفَسَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

توجمه: [١] او حضرت جابر رضی الله عنه وایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] جنتي خلق به په جنت کې ښه خوري څکي [٣] لیکن نه به توکي نه به متیازې کوي او نه به غټ اودس ماتي او نه به پوزه سوڼ کوي [٤] په دي اوریدو سره بعضې صحابه ؤ رضی الله عنهم عرض وکړو هرکله چې جنتي خلق متیازې نه کوي نو بیا د خوراك فضله څه شوه او د هغه د اخراج به څه صورت وي [٥] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل د خوراك فضله به ډرکار او خوله پسینه شي چې د مشکو د خوشبو په شان به وي [٦] او د جنتیانو په زړونو کې به تسبیح او تحمید یعنی د سبحان الله الحمدلله ورد او ذکر الهي داسې واچول شي چې هغه به د هغوئ عادت او معمول جوړ شي لکه جاري ساه ده. (مسلم)

حل اللغات: - ① جُشَاءٌ: أَيْ صَوْتٌ مَعَ رِيحٍ يَخْرُجُ مِنَ الْفَمِ عِنْدَ الشِّبَعِ: یعنی په خوراک د مړیدو نه پس هغه هوا چه آواز سره د خلې نه اوځی کوم ته چه اډرقی وئیلې شی په جنت کښې به دغه اډرقی هم خوشبودار وی. ② رَشْحٌ: أَيْ عَرَقٌ: خوله. ③ يُلْهَمُونَ: الهام به اوکړې شی، وابه چولې شی ورته به زړه کښې.

---

[١] اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب فی صفات الجنة وأهلها وتسبیحهم فیها بکرةً وعشیا (رقم-١٨-(٢٨٣٥)) واحمد فی المسند:٣/٣٤٩

تسهيلات:

قوله: جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ:

دجنتيانوه خولې خوشبوئي: دَ جنتيانو دَپاره به په جنت كښې خوراك اوڅښاك وى ليكن هلته به متيازې وغيره نه وى بلكه دغه ټوله فضله به دَ اډرقې يا خوله جوړيدو سره ختميږى.

دانسانى فضلې خارجيدو مختلف صورتونه: اوس دَ اډرقى او خولې صورت يا خو به دَ اشخاص اودَ اوقات په اعتبار سره په جدا جدا توګه باندې راځى

① بعضې اوقات يا دَبعضې خلقو فضله به هوا جوړيدو سره دَ اډرقى په صورت كښې اوځى

② بعضې وختونو كښې دَ بعض خلقو فضله به خوله جوړيدو سره دَ بدن ويښتو دَ بيخ دَ سورو په ذريعه اوځى

③ دَ بعضې خوراك فاضل ماده خو به دَ اډرقى په صورت كښې خارجيږى لكه څنګه چه دَ ساه دَ تلو راتلو سلسله بغيردَ څه تكليف نه جارى وى

قوله: يُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالتَّحْمِيدَ كَمَا تُلْهَمُونَ النَّفَسَ:

دساه اخستوپشان دتسبيح اوتهليل ورد كول: تسبيح او تحميد اودَ الله تعالى دَ ذكر كلمات دَ جنتيانو په ژبه باندې جارى وى يا دا مراد دې لكه څنګه چه دَمعمول مطابق دَ ساه تلو راتلو دَ وجې نه تاسو ته څه تكليف او پريشانى نه وى اوتاسو څه بوج نه محسوسوئى هم دغه شان به مسلسل تسبيح او تهليل جارى كيدو دَ وجې نه جنتيان هيڅ بوج او پرشانى نه محسوسوى.

[۵۶۲۱] داهل جنتو دائمي عيش وشباب

۵۶۲۱- [۱۰] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«مَنْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ يَنْعَمُ وَلَا يَبْأَسُ، ③ وَلَا تَبْلَى ثِيَابُهُ، وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷜ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كوم سړى چې په جنت كې داخليږي عيش وعشرت كې به وي نه به ورسره فكر وغم وي ③ و نه به يې كپړي خيرنيږي او نه به يې ځواني فنا كيږي. (مسلم)

حل اللغات:- ① يَنْعَمُ: أَنْ يَتَنَعَّمَ: په نعمتونو يعنى په عيش اوعشرت كښې به وى. ② لَا يَبْأَسُ: أَيْ لَا يَفْتَقِرُ وَلَا يَهْتَمُّ: يعنى جنتيان به نه په څه غم كښې وى اونه به په څه اولګه تنده كښې راګيروى. ③ لَا

(۱) اخرجه مسلم فى كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب فى صفات الجنة وأهلها وتسبيحهم فيها بكرةً وعشيا (رقم-۲۱ - (۲۸۳۶) والترمذى فى كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى صفة الجنة ونعيمها (رقم-۲۵۲۶) واحمد فى المسند:۳/۹۵

تَبْلَى :دا د بلی یبلی سمع نه دي، أَيْ: لَا تَخْلَقُ ثِيَابُهُ: د کپړو زړیدل اوشلیدل مراددی چه داسې به نه کیږي ④لَا يَفْنَى :أَيْ لَا يَذْهَبُ: نه به فناء کیږي یعنی نه به ختمیږي ⑤شَبَابُهُ: شباب خوانۍ ته وائي

تسهیلات:

قوله: يَنْعَمُ وَلَا يَبْأَسُ، وَلَا تَبْلَى ثِيَابُهُ، وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُ:

دجنتیانودرې خصوصیات:

① همیشه دپاره به نعمتونو کښې مشغول وی چرته به هم ناامیده نشي

② همیشه دپاره به دهغوی جامو پاکې وی زړې به نشي.

③ همیشه دپاره به دهغوی خوانی باقی وی بوډاګان به نشي.

[۵۶۳۳] [۵۶۳۳] په جنت کې به همیشه حیات او خواني او خوشحالي وي

۵۶۳۳()- ۵۶۳۳-()[۱] ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②" «يُنَادِي مُنَادٍ: إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا، ③وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا، ④وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوا فَلَا تَهْرَمُوا أَبَدًا، ⑤وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوا فَلَا تَبْأَسُوا أَبَدًا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت ابوسعید خدري ﷺ او حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ②په جنت کې به یو اعلان کونکی دا اعلان وکړي چې اې جنتیانو! تاسو صحت او تندرستۍ سره اوسئ تاسو ته به هیڅ کله بیماري نه لاحق کیږي ③تاسو همیشه همیشه ژوندي او سلامت اوسئ مرګ به هیڅ کله تاسو ته نه راځي ④تاسو همیشه ځلمي اوسئ بوډاتوب به هیڅکله درته نه راځي ⑤او تاسو د عیش وعشرت ژوند تیروئ هیڅ قسم فکر وغم او رنج والم ودرد به درته نه رسیږي. (مسلم)

حل اللغات:- ①مُنَادٍ: اعلان کونکې فرشته، ②تَصِحُّوا: أَيْ تَكُونُوا صَحِيحِي الْبَدَنِ: صحت او تندرستۍ والا شئ. ③فَلَا تَسْقَمُوا: أَيْ: فَلَا تَمْرَضُوا: تاسو به نه بیماریږئ، ④تَحْيَوْا: أَيْ تَكُونُوا أَحْيَاءً: همیشه به ژوندي یئ ⑤تَشِبُّوا: أَيْ تَدُومُوا شَبَابًا: همیشه به خوانان او ځلمي یئ. ⑥فَلَا تَهْرَمُوا: أَيْ لَا تَشِيبُوا: بوډاګان کیږئ به نه. ⑦تَنْعَمُوا: په نعمتونو یعني په عیش اوعشرت کښې به یئ. ⑧فَلَا تَبْأَسُوا: یعنی جنتیان به نه په څه غم کښې وی اونه به په څه اولګه تنده کښې راګیروی.

---

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب فی دوام نعیم أهل الجنة وقوله تعالى: {ونودوا أن تلكم الجنة أورثتموها بما كنتم تعملون} [الأعراف: ۴۳] (رقم-۲۲ - (۲۸۳۷) والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة الجنة ونعیمها (رقم-۲۵۲۶) واحمد فی المسند:۹۵/۳

[۲]) اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب فی دوام نعیم أهل الجنة وقوله تعالى: {ونودوا أن تلكم الجنة أورثتموها بما كنتم تعملون} [الأعراف: ۴۳] (رقم-۲۲ - (۲۸۳۷) والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة الجنة ونعیمها (رقم-۲۵۲۶) واحمد فی المسند:۹۵/۳

تسهیلات:

قوله يُنَادِي مُنَادٍ: إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا،

په جنت کښې نه ناجوړه کیدل: جنت د الله تعالی دنعمتونوځائې دې هلته به بیماری او رنځوری نه وی بلکه همیشه دپاره به صحت مند وی

قوله وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا،:

د مرګ ختمې اعلان: لکه څنګه چې مخکښې په یوبل حدیث کښې تیرشوی دی چې دقیامت په د فیصلې څخه روسته به مرګ د یوګدوری «دګډبچې» په صورت کښې راوستې شی نو اوذبح به کړې شی اوبیا به اعلان اوشی چې اې جنتیانو همیشه دپاره ژونددې مرګ ختم شو اوجهنمیاتوته به اووئیلی شی چې اې دوذخیانو همیشه دپاره ژونددې مرګ ختم شو

[٥٦٢٤] د جنت دبالاخانو اوسیدونکي

٥٦٢٤-[٣] ()[1] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ "«إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ الْغُرَفِ مِنْ فَوْقِهِمْ ۳ كَمَا تَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ الْغَابِرَ فِي الْأُفُقِ، مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ لِتَفَاضُلِ مَا بَيْنَهُمْ ۴" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تِلْكَ مَنَازِلُ الْأَنْبِيَاءِ لَا يَبْلُغُهَا غَيْرُهُمْ، ۵ قَالَ: " بَلَى وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ رِجَالٌ آمَنُوا بِاللَّهِ وَصَدَّقُوا الْمُرْسَلِينَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ و حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ جنتیان به خپل پورته بالاخاني والا خلق داسې وینې ۳ څرنګه چې تاسو خلق هغه روښانه ستوري وینئ چې د آسمان مشرقي یا مغربي افق کې وي او د هغه د بلندی او خوشنمائي تعلق به فرق مراتب سره وي چې د اهل جنت په منځ کې به پیدا کولی شي ۴ صحابه ؤ رضی الله عنهم عرض وکړو یارسول الله! دا بالاخاني برسیره ښائسته محلات به آیا د انبیاوو مکانات وي چې هغه ته به د انبیاوو نه ماسوا د بل چا رسائي نه وي ۵ حضور ﷺ وفرمایل ولې نه قسم دی په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې ځما ساه ده هغه بلند وبالا محلات او بالاخانو ته به د هغه خلقو هم رسائي وي چې چې الله ﷻ باندې ایمان راوړی او د رسولانو تصدیق وکړي «بخاري مسلم»

حل اللغات:- ① يَتَرَاءَوْنَ: أَيْ: يَنْظُرُونَ: یعنی اهل جنت به دخپل ځان نه پورته بالاخانوته داسې ګوری لکه څنګه چه تاسو روښانه ستورو ته ګورئ. ② الْغُرَفُ: د غُرْفَة جمع ده، وَهِيَ بَيْتٌ يُبْنَى فَوْقَ

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب ما جاء فی صفة الجنة وأنها مخلوقة (رقم -(رقم-٣٢٥٦) ومسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب ترائی أهل الجنة أهل الغرف. کما یری الکوکب فی السماء (رقم-١١ - (٢٨٣١) والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی ترائی أهل الجنة فی الغرف (رقم-٢٥٥٦) واحمد فی المسند:٣٣٥/٢

الدَّار: دکور دپاسه کمره یعنی بالاخانه، خو دلته ددې نه مراد محلات (بنګلې) دی. ③ الدُّرِّيَّ: أَيْ: شَدِيدُ الْإِنَارَة: ډیر تیز ځلیدونکې (ځکه چه بالکل صفا رنګ او رڼا والا به وی او ښکاره به ښکاری). ④ الْغَابِرَ: أَيِ الْبَاقِيَ: باقی باتې کیدونکې یعنی هغه ستورې چه د راختونه پس دوبیږی نه، بلکه باقی پاتې وی. ⑤ الْأُفُق: د آفاق جمع ده، أَيْ أَطْرَافِ السَّمَاءِ: د آسمان کنارې او اطرافو ته وائی. ⑥ مَنَازِلُ: د منزل جمع ده، د اوسیدو ځایونه (محلات او بالاخانې د جنت مراد دی).

تسهیلات:

قوله: بَلَى وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ رِجَالٌ آمَنُوا بِاللهِ وَصَدَّقُوا الْمُرْسَلِينَ:

هیره پیغمبرانو ته اوچتې درجې ملاویدل: یعنی حضورپاک د صحابه کرامو ﷺ په جواب کښې اوفرمائیل چه نه نه. دا مقام صرف انبیاء کرامو علیهم السلام سره خاص نه دې چه د هغوی نه بغیربه بل څوک هلته نه شی رسیدلې بلکه چه کومو خلقو په الله تعالی باندې ایمان راوړلې اود انبیاء کرامو تصدیق ئی کړې وی هغوی به هم دغه مقاماتو ته رسیږی اود دغه نعمتونو نه به خوندونه اخلی.

[٥٦٢٥] د څو جنتیانو ذکر

٥٦٢٥-()[٣] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ ③ أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷺ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② په جنت کې به د داسې خلقو ډیرجماعتونه داخلیږي ③ چې دهغوئ زړونه به د مارغانو په شان وي. (مسلم)

حل اللغات:- ① أَفْئِدَتُهُمْ: أَيْ: قُلُوبُهُمْ: زړونه دهغوی (یعنی دجنتیانو).

تسهیلات:

قوله: يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ:

د افئدة الطیر په مفهوم کښې دوه اقوال: ① یعنی جنت ته به داسې ډیرمخلوقات ورځی دچا زړونه چه به په توکل اویقین کښې به دهغوی زړونه د مرغود زړونو په شان متوکل شی ② دا تشبیه د الله تعالی د ویرې د وجې په نرمئ کښې د مرغود زړونو په شان نرم وی. مرغئ چه لږه شان ویره اووینی اوتختی.

---

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب یدخل الجنة اقوام أفئدتهم مثل أفئدة الطیر(رقم-٢٧ - ٢٨٤٠) واحمد فی المسند:٢/٣٣١

[۵٦۳٦] د حق تعالی خوشنودي

۳-()[۳] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يَقُولُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ ③ يَقُولُونَ: لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ، وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ. ④ فَيَقُولُ: هَلْ رَضِيتُمْ؟

ترجمه: ① او حضرت ابو سعید خدري ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② الله ﷻ به جنتيان مخاطب کولو سره اواز ورکړي اې جنتيانو! ③ نو جنتيان به دا اواز اوريدو سره جواب ورکړي اې زمونږ پروردګاره! مونږ حاضر يو ستا په خدمت کې موجود يو او ټول ترخير ستا په قبضه او اراده کې دي چې چاته غواړې ورکړه کوې ④ الله ﷻ به فرمايي زه يوښتنه کول غواړم چې آيا تاسو د جنت انعام پيداکيدو سره زما نه راضي او خوشحاله شوئ .

حل اللغات:- ① لَبَّيْكَ: زه حاضريم. ② سَعْدَيْكَ: اوستا تابعداري ته تيار يم.

① فَيَقُولُونَ: وَمَا لَنَا لَا نَرْضَى يَا رَبِّ ② وَقَدْ أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ؟ ③ فَيَقُولُ: أَلَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ؟ ④ فَيَقُولُونَ: يَا رَبِّ وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذٰلِكَ؟ ⑤ فَيَقُولُ: أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① هغوئ به عرض وکړي چې هو مونږ به ستا نه راضي او خوشحاله ولې نه يو ② تاخو مونږ ته هغه لوی نه لوی نعمت او سرفرازي ورکړه کړي ده چې نور مخلوق ته دي نه دی ورکړي نو ددی نه بهتر نعمتونه بل کوم دی ③ نو الله ﷻ به فرمايي آيا زه تاسي ته ددي نه بل بهترين نعمت درنکړم ؟ ④ نو جنتيان به عرض وکړي اې پروردګاره ددي نه به بل کوم بهترين نعمت وي . ⑤ نو الله ﷻ به وفرمايي بل لوی نعمت دا دی چې ما خپل رضا په تاسي خوره کړه زه ستاسو نه راضي اوخوشحاله يم اوبيا به ستاسو نه هيڅ کله ناراضه نه يم . ظاهره ده چې دا به داهل جنتو پحقله کی دټولو نه دلوی سرفرازی بشارت (خوشخبری) وی چې دهغوئ پروردګار هميشه هميشه دهغوی نه راضي او خوشحاله وی دی سعادت او نعمت نه لوی سعادت او نعمت نورڅه کيدی شي حقيقت خو دا دی چې دحق تعالی څه لږ رضا او خوشنودی هم دپوره رضا او خوشنودی دپوره جنت او دجنت دټولو نعمتونو اوسعادتونو نه زياته ده ، څه چې هغه رضا او خوشنودی مستقل توګه سره او هميشه دپاره حاصله شي ، خپله الله ﷻ فرمايي ورضوان من الله اکبر ، نوهر صاحب

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار(رقم-۶۵۴۹) ومسلم فی کتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب إحلال الرضوان على أهل الجنة فلا يسخط عليهم أبدًا (رقم-۹ - (۲۸۲۹) والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۵۵۵)

ایمان له التجاء کول پکار دی ، اللهم ارض عنا وارضنا منك ، اې الله مونږ نه راسی او مونږ دخان نه راضی کړی.

حل اللغات: -③فَلَا أَسْخَطُ: أَيْ لَا أَغْضَبُ: نه به خفه کیږم، نه به غصه کیږم

تسهیلات:

قوله: أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا:

جنتیانو ته د الله تعالی د رضا سند ملاویدل، په دنیا کښې یوکس ډیرکوشش کوی چې الله تعالی ترې راضی شی نو الله تعالی دهغه څخه راضی وی خو ناګهانه یوه ګناه دا سې اوکړی چې هغه د الله تعالی د خفګان سبب اوګرځی او هغه د رضا په خفګان بلکه بعضې وخت کښې په غصه بدله شی.لیکن په جنت کښې به داسې نه وی بلکه جنتیان چې کله جنت ته لاړشی نو الله تعالی به ترې همیشه دپاره راضی وی کله به ترې هم خفه اوناراض نشی.دا ډیر لوئی اعزاز دې. ارشاد عالی دې ﴿وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ﴾ یعنی دالله تعالی رضا ډیرلوې اعزاز اونعمت دې.

[٥٦٣٧] د معمولي جنتي مرتبه

٥٦٣٧-()[٥] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ②قَالَ: "«إِنَّ أَدْنَى مَقْعَدِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ أَنْ يَقُولَ لَهُ: ③تَمَنَّ، فَيَتَمَنَّى وَيَتَمَنَّى. ④فَيَقُولُ لَهُ: هَلْ تَمَنَّيْتَ؟ ⑤فَيَقُولُ: نَعَمْ، فَيَقُولُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①و حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل② په تاسو کې چې کوم سړی د ټولو نه د ادنی درجې او کمتر مقام جنتي وي د هغه به دا مرتبه وي چې الله تعالی به هغه ته فرمايي ③کوم خواهش چې لري هغه بیان کړه او څه چې غواړې وغواړه هغه به خپلې ارزوګاني او خواهشونه ظاهر کړي او بار بار به یې ښکاره کوي یعنی هغه چې څومره خواهشات لري بیانوی به یې او څومره چې غوښتی شی غواړي به یې ④الله تعالی به د هغه ارزوګاني او خواهشات اوریدو سره فرمايي آیا تا خپلې ارزوګاني بیان کړي او خپل زړه کې چې دی کوم خواهش لرلو هغه هرڅه دي ظاهر کړل ⑤هغه به عرض وکړی چې هو ماچې څه غوښتی شو او ومې غوښتل او خپله یوه یوه ارزومې بیان کړله الله تعالی به ورته فرمايي تا چې کومې ارزوګاني بیان کړي او څه چې دي وغوښتل، نه صرف هغه، بلکه هغومره تاته مزید درکړي شو. (مسلم)

حل اللغات: - ①أَدْنَى: أَيْ: أَقَلُّ مَرْتَبَةً: په مقام او مرتبه کښې دټولو نه کم، ②مَقْعَدِ: د اوسیدو ځائې اومقام، ③تَمَنَّ: خواهش ښکاره کړه،مطالبه اوکړه.

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب معرفة طریق الرؤیة (رقم-٣٠١ - (١٨٢) واحمد فی المسند: ٣١٥/٢

تسهيلات:

نوټ: دحديث مضمون آسان دې ځکه تشريح ته څه ضرورت نشته.

[۵۶۲۸] هغه څلور دريابونه چه د هغه سرچشمه په جنت کې ده

۵۶۳۸-()[۳] ⓵ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⓶ «سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ وَالْفُرَاتُ وَالنِّيلُ كُلٌّ مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: ⓵ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې حضور ﷺ وفرمايل ⓶ سيحان جيحان فُرات او نيل د دې ټولو دريابونو تعلق د جنت د نهرونو او چينو سره دی. (مسلم)

حل اللغات: - ⓵ سَيْحَانُ: د النَّهر نه دي، وَهُوَ جَرْيُ الْمَاءِ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ: په زمکه باندې د اوبو بهيدو ته وائي. دا په شام کښې يو نهر دې. ⓶ جَيْحَانُ: په شام کښې د يو نهر نوم دې. ⓷ الْفُرَاتُ: دا په کوفه کښې بغداد سره نيزدې يو نهر دې. ⓸ النِّيلُ: دا په مصر کښې يو نهر دې.

تسهيلات:

قوله: سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ وَالْفُرَاتُ وَالنِّيلُ كُلٌّ مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ:

د دريائې جيحون محل وقوع: د دريائې جيحون او دريائې سيحون په تعين کښې اختلاف دې. په زير بحث حديث کښې سيحان او جيحان دَ دوو درياب‌ونوچه کوم نومونه راغلی دی دا دواړه درياب‌ونه په بلاد عواصم کښې مصيصه او طرطوس په مينځ کښې واقع دی. اودَ جيحون او سيحون په نوم باندې مشهوردی. دواړه درياب‌ونه دَ شام په زمکه کښې واقع دی او بحيرهٔ روم کښې راپريوځی.

قوله: مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ"

د څلورو درياب‌ونو د جنت څخه کيدو کښې دوه اقوال: ⓵ په زمکه کښې بهيدونکی دَ دې څلورو نهرونو اصل ماده اومرکز په جنت کښې بهيدونکی څلور نهرونه دی کوم چه دَعرش نه لاندې سدرة المنتهی نه جاري کيږي او په جنتونو کښې بهيږي. بيا هم دَ دغې اوبه دنياته راغلې اوجيحون اوسيحون اونيل اوفرات په نومونوباندې مشهورشو هم په دې وجه دې ته انهارالجنة وئيلې شوی دی

⓶ يعنی دا څلورنهرونه په فوائد کښې دَ جنت دَ څلورو نهرونو مشابه دی هم په دې وجه دې ته "انهارالجنة" اووئيلې شو.

---

[1]) اخرجه مسلم فی كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب ما فی الدنيا من أنهار الجنة (رقم-۲۶ - (۲۸۳۹))واحمد فی المسند:۲/۴۴۰

[۵۶۲۹] د دوزخ او جنت وسعت

۵۶۲۹-()[۱۷] [۱] وَعَنْ عُتْبَةَ بْنِ غَزْوَانَ قَالَ: [۲] «ذُكِرَ لَنَا أَنَّ الْحَجَرَ يُلْقَى مِنْ شَفَةِ جَهَنَّمَ فَيَهْوِي فِيهَا سَبْعِينَ خَرِيفًا لَا يُدْرِكُ لَهَا قَعْرًا، [۳] وَاللهِ لَتُمْلَأَنَّ، [۴] وَلَقَدْ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ مَا بَيْنَ مِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ مَسِيرَةُ أَرْبَعِينَ سَنَةً، [۵] وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَيْهَا يَوْمٌ وَهُوَ كَظِيظٌ مِنَ الزِّحَامِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: [۱] او حضرت عتبه بن غزوان ﷺ وایي [۲] زمونږ مخکښ دا ذکر وشو یعني حضور ﷺ نه دا روایت نقل شو چې حضور ﷺ وفرمایل که د دوزخ برسیره غاړي نه یو کاڼی راوغورځول شي نو هغه به اویا کاله پورې لاندې رغړیدو سره ځي او د دوزخ بیخ ته به ونه رسیږی [۳] قسم په الله دوزخ دومره ژور او د وسیع کیدو باوجود به د کافرو نه پوره ډك شي [۴] او حضرت عتبه ﷺ وایي زمونږ مخکښ د حضور ﷺ دا ارشاد گرامي هم ذکر شو چې د جنت د یوې دروازې د دواړو بازوګانو په مینځ کې د څلويښت کاله د مسافت فاصله ده [۵] او یوه ورځ به داسې وي چې جنت به د دومره وسعت او کشادګۍ باوجود د خلقو نه ډك شي. (مسلم)

حل اللغات:- ① شَفَةِ: أَيْ مِنْ طَرَفِهَا: شونډې ته وائی، دلته ترې د جنت غاړه مراد ده. ② فَيَهْوِي: أَيْ: فَيَسْقُطُ الْحَجَرُ وَيَنْزِلُ: راغورزیږی به او راروان به وی، ③ خَرِيفًا: أَيْ: سَنَةً: خریف دَ خزان موسم ته وائی دلته ترې کال مراد دې. ④ قَعْرًا: بیخ، لاندې سطح، ⑤ مَصَارِيعِ: أَيْ: مَا بَيْنَ طَرَفَيْ بَابٍ مِنْ أَبْوَابِهَا: د دروازې دواړه طرف ته بازوګان مراد دی. ⑥ مَسِيرَةُ: فاصله، مسافت، ⑦ كَظِيظٌ: فعیل دې په معنی د مفعول سره، أَيْ مَمْلُوءٌ: ډک کړې شوې به وی، ⑧ الزِّحَامِ: أَيِ الْكَثْرَةِ: زیات وسعت او فراخ والې.

تسهیلات:

قوله: وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَيْهَا يَوْمٌ وَهُوَ كَظِيظٌ مِنَ الزِّحَامِ:

د لفظ کظیظ توضیح او د حدیث مقصد: دَ یو څیز دومره ډکیدل چه ساه اخستل ئی ګران شی دې ته کظیظ وائی. مراد زیات ډکیدل دی. دلته دا خودل مقصود دی چه دَ جنت دَ دروازې تنبې به دَ دومره کولاؤوالی باوجود یوه ورځ به په دې باندې داسې هم راځی چه دَ خلقو دَ ډیروالی دَ وجې نه به دا دروازه دومره ډکه شوې وی چه په دې کښې به دَ خلقو ساه اخستل ګران شی او دَ کظیظ صورت به پیدا شی.

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق (رقم-۱٤ - (۲۹۶۷) واحمد فی المسند: ۳۷۱/۲

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۶۳۰] د جنت د تعمیر ذکر

۵۶۳۰-()[۸] ①عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قُلْتُ: «يَا رَسُولَ اللهِ، ②مِمَّ خُلِقَ الْخَلْقُ؟ قَالَ: "مِنَ الْمَاءِ". ③قُلْنَا: الْجَنَّةُ مَا بِنَاؤُهَا؟ ④قَالَ: "لَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ وَلَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ، وَمِلَاطُهَا الْمِسْكُ الْأَذْفَرُ، ⑤وَحَصْبَاؤُهَا اللُّؤْلُؤُ وَالْيَاقُوتُ، وَتُرْبَتُهَا الزَّعْفَرَانُ، ⑥مَنْ يَدْخُلْهَا يَنْعَمْ وَلَا يَبْأَسْ، ⑦وَيَخْلُدُ وَلَا يَمُوتُ، ⑧وَلَا يَبْلَى ثِيَابُهُمْ، وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي ما عرض وکړو يارسول الله! ②مخلوق د کوم شي نه پيدا شوي دي حضور ﷺ وفرمايل د اوبو نه ③بيا مونږ پوښتنه وکړه چې جنت د څه شي نه جوړ دی؟ يعنې د دې عمارت د کاني يا خښتې دي يا د خاورې يا د لرګي وغيره ④وې فرمايل د جنت تعمير د خښتو دی او خښتې هم داسې دي چې يوه خښته د سونې سروزرو ده او يوه خښته د چاندي ده د دې ختـه يـا مصـاله چې دهغـه نـه خـښتې جوړيږي د تيز خوشبوداره مشک ده ⑤ د دې شګي په رنګ او چمک کې دملغلرې او ياقوت په شان دی او ددې خاوره دزعفران په شان زيړه اوخوشبو داره ده ⑥کوم سړی چې په جنت کې داخل شي عيش وعشرت کې بـه وي هـيڅ کله بـه رنج او فکر نـه وينـي ⑦هميشه به ژوندی وي مري به نه ⑧ نه به يې لباس زړيږي او نه به بوسيده کيږي او نـه بـه يـې ځواني فناء کيږي.
(احمد ترمذي دارمي)

حل اللغات:- ① لَبِنَةٌ: خښته، ② مِلَاطُهَا: أَيْ مَا بَيْنَ اللَّبِنَتَيْنِ مَوْضِعُ النُّورَةِ: ختـه، مصالحه، دَدوو خښتو دَيو ځاى کولو دَپاره چه کومه خته اومصالحه استعمالولې شی هغې ته ملاط وئيلې شوې دي ③ الْمِسْكُ الْأَذْفَرُ: أَيِ الشَّدِيدُ الرِّيحِ: تيز خوشبودار مشک، او عنبر پلستر شوې دې ④ حَصْبَاؤُهَا: شګې (نرئ شګې کومې چه په نهرونو کښې وی، دا دَښائست او دول دَپاره وی دا په پرق پروق کښې دَ ملغلرو په شان وی.) ⑤ تُرْبَتُهَا: خاوره د جنت، ⑥ الزَّعْفَرَانُ: أَيِ النَّاعِمُ الْأَصْفَرُ الطَّيِّبُ الرِّيحِ: دا زيړ رنګ خوشبو ده. ⑦ يَنْعَمْ: په نعمتونو او عيش او عشرت کښې به وی. ⑧ لَا يَبْأَسُ: يعنې جنتيان به نه په څه غم کښې وی اونه به په څه اولګه تنده کښې راګيروی ⑨ يَخْلُدُ: أَيْ يَدُومُ: هميشه اوسيدل به وی (واپس تلل به نه وی.) ⑩ لَا يَبْلَى: دا دَ بَلِيَ يَبْلَى سمع نه دې، أَيْ: لَا يَخْلَقُ ثِيَابُهُ: دَ کپړو زړيدل اوشليدل مراددی چه داسې به نه کيږی ⑪ لَا يَفْنَى: أَيْ لَا يَذْهَبُ: نه به فناء کيږی يعنې نه به ختميږی.

تسهيلات:

قوله: مِمَّ خُلِقَ الْخَلْقُ؟ قَالَ: "مِنَ الْمَاءِ:

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صفة الجنة ونعيمها (رقم-۲۵۲۶) واحمد فی المسند: ۳۰۵/۲

د کائنات د تخليق ابتداء: يعنی دهرڅيز اصل او ماده د اوبونه دي. د کائنات دتخليق ابتداء څنګه اوشوه؟ په دې سلسله کښې خود تولونه مخکښې هغه حديث دې کوم چه په ابن ماجه وغيره کښې دې «کان الله وليس معه شئ» يعنی صرف هم د الله تعالی ذات وو نور هيڅ نه وو.

د کائنات د تخليق مراحل: ① تورات سفر اول کښې پوروايت دې چه الله تعالی يوه شنه مرغلره پيدا کړه او په هغې باندې ئې د هيبت نظر واچولو نوهغه ويلی شوه اوددې نه اوبه راپيدا شوې. په قرآن کښې دا صورت حال داسې بيان کړې شوې دې ﴿ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ ﴾ يعنی پورته عرش وو لاندې اوبه وې.

② دې نه پس الله تعالی په دې اوبو باندې د هيبت رعب اودبدبه نظر واچولو په کوم سره چه اوبه راڅوټکيدې او سوزيدو سره لوګې راوچت شو. د دغه لوګی نه الله تعالی آسمان پيدا کړو ﴿ ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ ﴾ هم د دغه حقيقت طرف ته اشاره ده.

③ د اوبو سوزيدو نه پس لاندې د ځګ په شکل کښې بيخ پاتې شو چه د بيت الله په مقام باندې راوچته شوې غونډئی وه هم د دغه لاندې ناست خيری نه الله تعالی زمکې پيدا کړې. ﴿ وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَلِكَ دَحَاهَا ﴾ هم د دغه کيفيت طرف ته اشاره ده.

[٥٦٢١] د جنت ونې

٥٦٢١-()[م] [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«مَا فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةٌ إِلَّا وَسَاقُهَا مِنْ ذَهَبٍ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په جنت کې چې کومه و نه هم ده د هغه تنه د سوني سروزرو ده. (ترمذي)

حل اللغات:- ① سَاقُهَا: ساق پنډئ ته وائی دلته ترې د اونې تنه مراد ده.

تسهيلات:

قوله: مَا فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةٌ إِلَّا وَسَاقُهَا مِنْ ذَهَبٍ :

دجنت د ونو کيفيت: دجنت دهری ونی تنه دسرو زرو ده،البته دهغه ونوڅانګی دمختلفو قسمونو دی ، دڅا دسونی دی ، دڅا دچاندی دی،ځينی څانګی دياقوتو او زمرودو دي ، يا دموتی (ملغلری) وغيره او هره څانګه قسم قسم غوټيو (شګوفو) سره مرصع او مزين ده ،اوپه هغه قسم قسم ميوی لګيدلی دی،او دجنت دټولو و نو لاندی نهرونه جاری دی.

[١]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صفة شجر الجنة (رقم-٢٥٢٥)

[۵۶۲۲] د جنت درجات

۵۶۳۲-()[۲۰] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ مِائَةُ عَامٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو هریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په جنت کې به سل درجې وي او د هر دوو درجو په منځ کې د سل کاله مسافت فاصله ده دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی

تسهیلات: قوله: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ:

د درجو څخه مراد: دَ درجونه مراد اوچتې مرتبې دی چه جنتیانوته به دَ هغوی دَ اعمالو او نیکو په اعتبار سره ملاویږی لکه چه الله تعالی ارشاد فرمائیلي دي ﴿هُمْ دَرَجَاتٌ عِنْدَ اللهِ﴾ یعنی جنتیانوته به دَ خپلو خپلو اعمالو مطابق درجې ملاویږی دَ کوم جنتی چه نیک اعمال څومره زیات وی هغه ته به هم دومره دَ جنت مرتبې حاصلي وی

۵۶۳۳-()[۲۱] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ، [۳] لَوْ أَنَّ الْعَالَمِينَ اجْتَمَعُوا فِي إِحْدَاهُنَّ لَوَسِعَتْهُمْ». [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعید خدري ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په جنت کې سل درجې دي [۳] که د ټول عالم خلق په هغه یوه درجه کې هم جمع شي نو هغه به دټولو دپاره کافي وي [۴] دا روایت ترمذي رحمه الله نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: - ① الْعَالَمِينَ: أَيْ خَلْقَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ: د اول نه تر آخره پورې ټول مخلوق مراد دي.
② لَوَسِعَتْهُمْ: أَيْ لَكَفَتْهُمْ: ټولو دپاره به کافی شی (یعنی ډیر زیات فراخه دي).

تسهیلات:

نوټ: ددې حدیث د مضمون تشریح د مشکاة د حدیث نمبر (۵۶۱۷) په تسهیل کښې ذکر شوې ده.

[۵۶۲۴] د جنت فرش

۵۶۳۴-()[۲۲] [۱] وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿وَفُرُشٍ مَرْفُوعَةٍ﴾ [الواقعة: ۳۴] قَالَ: [۲] "ارْتِفَاعُهَا لَكَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ مَسِيرَةَ خَمْسِمِائَةِ سَنَةٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

---

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة درجات الجنة (رقم-۲۵۲۹)

[2] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی صفة نساء أهل الجنة (رقم-۲۵۳۵) واحمد فی المسند:۳/۲۹

[3] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة ثیاب أهل الجنة (رقم-۲۵٤۰) واحمد فی المسند:۳/۷۵

ترجمه: [١] او حضرت ابوسعید خدري ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ د الله ﷻ د دې ارشاد: وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ او اوچت لوړ فرشونه او تختونه به وي د دې په تفسیر کې فرمایلي دي [٢] چې د هغه تختونو بلندي به دومره وي څومره چې د آسمان او زمکې په منځ کې مسافت دی یعنی د پنځه سوه کاله لار ، دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات:- ① اِرْتِفَاعُهَا: اوچتوالي د درجو دجنت، ② مَسِيرَةَ: فاصله، مسافت.

تسهیلات:

قوله: اِرْتِفَاعُهَا لَكَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ مَسِيرَةَ خَمْسِمِائَةِ سَنَةٍ:

د فرش اوچتیدو او پورته کیدو صورت: دَ فرش نه قالین او بستري وغیره مراد دی. دَدې دَ اوچتیدو او پورته کیدو صورت به داوی چه دَ ښکته درجې خلق دَ پورته درجو بالاخانو ته کله ګوری نودَهغه ځائی فرشونه اودَهغې په مینځ کښې به دومره فاصله وی چه دَ پنځو سوو کالو پورې به وی.

[٥٦٣٥] د جنتیانو ځلیدونکي مخونه

٥٦٣٥-()[٣٣] [١] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْءُ وُجُوهِهِمْ عَلَى مِثْلِ ضَوْءِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، [٣] وَالزُّمْرَةُ الثَّانِيَةُ عَلَى أَحْسَنِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ، [٤] لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ، [٥] عَلَى كُلِّ زَوْجَةٍ سَبْعُونَ حُلَّةً، [٦] يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَائِهَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

ترجمه: [١] او حضرت ابوسعید خدري ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د قیامت په ورځ به په جنت کې چې کوم خلق د ټولو نه مخکې داخل شي یعنی انبیاء علیهم السلام د هغوئ مخونه به دخوارلسمي شپې د سپوږمۍ په شان روښانه او ځلانده (ښائسته) وي [٣] او د دویم جماعت خلق به چې د انبیاؤ نه وروسته به جنت کې داخلیږي هغه اولیاء او صلحاء دي د هغوئ مخونه به د آسمان د هغه ستورو په شان روښانه او ځلانده(ښائسته) وي کوم چې د ټولو نه زیات چمك کوي [٤] او په هغه جنتیانو کې به دهرسړي د پاره دوه ښځې وي [٥] او د هري ښځي په جسم به د لباس اویا جوړی وي [٦] او هغه دواړي ښځي به دومره صافي شفافي حسینی او جمیلي وي چې د هغوئ د پنډیو دننه نلی به د اویا جوړو لاندي نه په نظر راځي . (ترمذي)

حل اللغات:- ① زُمْرَةٍ: أَيْ أَوَّلُ جَمَاعَةٍ: یعنی رومبی جماعت، ② ضَوْءُ: رڼا ، ښائست، ③ لَيْلَةَ الْبَدْرِ: د څوارلسمي شپې سپوږمۍ، ④ حُلَّةً: جوړې، جامې، ⑤ مُخُّ: مغز، منځ (یعنی د هډوکی په مینځ کښې نلي) ⑥ سَاقِهَا: د ساق پنډئ ته وائی مراد تري د پنډئ هډوکي دي.

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب فی صفة نساء أهل الجنة (رقم-٢٥٣٥)

تسهیلات:

قوله: لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ:

د دوو بیبیانو د تخصیص وجه: مطلب دادې چه دَ جنتی بیبیانې خو به زیاتې وی مګر په دغه بیبیانو کښې به دوه بیبیانې داسې لطافت والا وی چه اویا جوړې به ئی اغوستې وی لهذا حدیث الباب دَ هغه روایت خلاف نه دې په کوم کښې چه دی چه ادنی جنتی ته به اویا بیبیانې ملاویږی. لهذا په هغه حدیث کښې دَ ټولو بیبیانو ذکر دې او په حدیث الباب کښې دَ لطافت والا خاصو دوو بیبیانو ذکر دې.

[۵٦٣٦] د جنتیانو د مردانه قوت ذکر

٥٦٣٦-()[۲۳] ①وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②" «يُعْطَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ قُوَّةَ كَذَا وَكَذَا مِنَ الْجِمَاعِ ③" قِيلَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَوَيُطِيقُ ذَلِكَ؟ ④قَالَ: " يُعْطَى قُوَّةَ مِائَةٍ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ②په جنت کې مؤمن ته د جنسي اختلاط دومره دومره قوت ورکړي شي ③عرض وشو یارسول الله آیا یوسړی به دومره ښځو سره د جنسي اختلاط (مباشرت) طاقت لرلو شي ④حضور ﷺ ورته وفرمایل په جنت کې به یوسړي ته د سلو سړو قوت ورکول شي او هرکله چې هغه ته دومره زیات مردانه قوت حاصل وي نو بیا به هغه ځو ځو ښځو سره د جنسي اختلاط طاقت ولي نه لري (ترمذي)

حل اللغات:- ①قُوَّةَ كَذَا وَكَذَا: وَهُوَ كِنَايَةٌ عَنْ جِمَاعِ عِدَّةٍ مِنَ النِّسَاءِ: دومره دومره طاقت دجماع به ورته ورکړې شی. دا کنایه ده ددې نه چه دا جنتی به په جنت کښې په یو وخت کښې د ډیرو ښځو سره جماع کولې شی

تسهیلات:

قوله: يُعْطَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ قُوَّةَ كَذَا وَكَذَا مِنَ الْجِمَاعِ:

په جنتی کښې سل مله د جماع کولو طاقت: چه جنتیانوته به دَ خپلو بیبیانو سره دَ کوروالی کولو ډیر طاقت ورکولې شی بیا به په جماع سره کمزوری هم نه راځی دغه شان په جماع کښې به منی هم نه خارجیږی ځکه چه دا ګندګی ده لکه چه په جنت کښې به متیازې وغیره نه وی دغه شان به دَ منی خروج هم نه وی صرف هوا به خارجیږی او دَ دغه هوا په اخراج کښې به خوند دَ منی نه هم زیات وی. دارنګ جنتیانوته به دَ سلو سړو دَ

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة جماع أهل الجنة (رقم-٢٥٣٦)

طاقت په اندازه دَ جماع طاقت ورکولې شي. دغه شان دَ دغه طاقت دَ برداشت او کنټرول کولو به هم قوت ورکولې شي یا به ورته دَ سل څل جماع کولو طاقت ورکولې شي. چنانچه په یو وخت کښې دَ ډیرو ښځو سره دَ جماع کولو په صورت کښې به جنتی ته هیڅ کمزوری نه محسوسیږی.

[٥٦٣٧]د جنت د اشیاوو ذکر

٥٦٣٧-()[٣٥] [١]وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٢]قَالَ: "«لَوْ أَنَّ مَا يُقِلُّ ظُفُرٌ مِمَّا فِي الْجَنَّةِ بَدَا [٣]لَتَزَخْرَفَتْ لَهُ مَا بَيْنَ خَوَافِقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، [٤]وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَ فَبَدَا أَسَاوِرُهُ لَطَمَسَ ضَوْؤُهُ ضَوْءَ الشَّمْسِ [٥]كَمَا تَطْمِسُ الشَّمْسُ ضَوْءَ النُّجُومِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١]او حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي [٢]چې حضور ﷺ وفرمایل د جنت د څیزونو (یعني د زینت او آرائش د اشیاوو) نه که د نوك برابر هم څه شی دنیا ته راشي [٣]نو د آسمان او زمکې د اطرافو او جوانبو پورې به د دنیاپه هر شی کې رونق بیا مومي [٤]او حقیقت دادی که په جنتیانو کې یو سړی دنیا طرف ته تا وکړي یعنی وګوري او د هغه دلاسونو کړې ښکاره شي نو د هغه چمك دمك به د نمر رڼا پست کړي څرنګه چې نمر د ستورو رڼا پست کوي [٥]دا روایت ترمذي رحمه الله نقل کړی دی او ویلې یې دی چې داحدیث غریب دی.

حل اللغات:- ① مَا يُقِلُّ: أَيْ: يَحْمِلُهُ: دا دَ اقلال نه دې دَ اوچتولو پورته کولو اودَ راښکاره کولو په معنی کښې دې. ② ظُفُرٌ: جمع ده، ددې واحد ظُفُرٌ راځي، نوکونانو ته وائی (خو دلته ترې مراد د نوك په اندازه مقدار دی). ③ بَدَا: أَيْ: ظَهَرَ: راښکاره شی، ④ تَزَخْرَفَتْ: أَيْ: تَزَيَّنَتْ: ښائسته به ئې کړی. او به ځلیږی، ⑤ خَوَافِقِ: أَيْ أَطْرَافِهَا: دا جمع ده دَدې مفرد خافقة دې. دَ طرف اوغاړې په معنی کښې دې. ⑥ اطَّلَعَ: أَيْ: أَشْرَفَ: راښکاره شی، سر راوچتولو سره اوګوری، ⑦ أَسَاوِرُهُ: دا جمع الجمع ده کوم چه دَ أَسْوِرَة جمع ده او أَسْوِرَة دَ سوار جمع ده. سوار بنګړی او په لاس کښې اچونکې کړې ته وائی. ⑧ طَمَسَ: أَيْ: مَحَاثُورَةٌ: دَ یو څیز رڼا اوپرق پروق تتولو اوختمولو ته طمس وائی.

تسهیلات:

دحدیث دبعضې جملووضاحت:

①**ظُفُرٌ:** یعنی دَ جنت دَ نعمتونونه که چرته دَ یونوك برابر (یعنی چه نوك هغه اوچتولې شي)څه څیز راوچت کړې شی اودنیاته راښکاره کړې شی نوټوله دنیا به روښانه کړی.

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة جماع أهل الجنة (رقم-٢٥٣٨) واحمد فی المسند:١٦٩/١

④ خَوَافِق: مطلب دا چه دَجنت یو معمولي شان نعمت سره زمکه او آسمان ټول اطراف ښائسته شي

⑤ أَسَاوِرَةٌ: دَ فارس بادشاه به دا اچول دَ جنت بادشاه به ئی هم اچوی. نن صبا دَدي نمونه دَ ګهړئ په صورت کښې دي

⑥ طَمَسَ: مطلب دا چه دَ جنتی بنګړی یو پړق که چرته دنیا ته رانبکاره کړي شی نودَ دنیا ټولې رڼراګانې به ختمې شي نو دَ باقی نعمتونو به څه حال وی؟

[۵٦٢٨] د جنت د مردانو ذکر

٥٣٨-(١)[٣٠] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«أَهْلُ الْجَنَّةِ جُرْدٌ مُرْدٌ كُحْلَى، [٣] لَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ، وَلَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چی رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] جنتیان به بغیر وینښتانو خوانان وي او د هغوئ سترګي به توري وي [٣] او د هغوئ شباب به هیڅ کله نه فناء کیږي او نه به د هغوئ کپړي هیڅکله زړیږي. (ترمذي دارمي)

حل اللغات: - ① جُرْدٌ: دا جمع ده، ددې مفرد أَجْرَد راځي. وَهُوَالَّذِي لَا شَعْرَ عَلَى جَسَدِهِ: هغه کس چه په بدن ئې هیڅ ویښته نه وی (ددې ضد أَشْعَرُ راځي). ② مُرْدٌ: دا جمع ده. ددې مفرد أَمْرَدَ راځي. وَهُوَ غُلَامٌ لَا شَعْرَ عَلَى ذَقْنِهِ: هغه هلک چه په زنه ئې ویښته نه وی یعنی ږیره ئې نه وی. ③ كُحْلَى: دا د فعلی نه په معنی د فعیل سره دي. أَيْ: مَكْحُوْلٌ: وَهُوَ عَيْنٌ فِي أَجْفَانِهَا سَوَادٌ خِلْقَةً: دَ تورو سترګو والا ښائسته خوان مراد دي دَ چا سترګي چه خلقةً توري وی. ④ لَا يَفْنَى: أَيْ لَا يَذْهَبُ: نه به فناء کیږی یعنی نه به ختمیږی ⑤ لَا تَبْلَى: دا دَ بلی یبلی سمع نه دي، أَيْ: لَا يَخْلَقُ ثِيَابُهُ: دَ کپړو زړیدل او شلیدل مراددی چه داسې به نه کیږی

تسهیلات:

قوله: أَهْلُ الْجَنَّةِ جُرْدٌ مُرْدٌ كُحْلَى، [٣] لَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ، وَلَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ:

نوټ: د جرد اومرد وضاحت په حل اللغات کښې شوې دي اود حدیث د باقی جملو تشریح د مشکاة د حدیث نمبر (۵٦٣١) په تسهیل کښې ذکرشوې ده

[۵٦٣٩] د جنتیانو د بدنونو صفات

٥٣٩-(١)[٢٧] [١] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«يَدْخُلُ

---

(١) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی صفة ثیاب أهل الجنة (رقم-٢٥٣٩) واحمد فی المسند: ٢٤٣/٥

(٢) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی سن أهل الجنة (رقم-٢٥٤٥) واحمد فی المسند: ٢٤٣/٥

أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ جُرْدًا مُرْدًا ۳ مُكَحَّلِينَ أَبْنَاءَ ثَلَاثِينَ - أَوْثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ سَنَةً» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت معاذ بن جبل ؓ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ جنتیان به په جنت کې داسې داخلیږي چې د هغوئ بدن به د ویښتانو نه صاف وي بې ږیري ځلمي به وي ۳ د هغوئ سترګې به تکې توري وي او د دیرش یا دریو دیرش کاله عمر به یې وي (ترمذي)

حل اللغات: - ددې حدیث ګران لغات د حدیث نمبر(۵۳۸۰) په مشکلولغاتو کښې حل شو.

تسهیلات:

قوله: أَوْثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ:

د جنتیانو عمر: دا اوډ شك دپاره دې. د راوی په دې کښې شك دې چه حضورپاك ۳۰ کاله فرمائیلې وو یا ۳۳ کاله ئې فرمائیلې وو. بهرحال کوم چه هم وی دا عمر د ډیرې ځوانئ عمر وی اوډ مخ دا نظاره ډیره ښکلې زړه راښکونکې وی.

[٥٦٤٠] د سدرة المنتهٰی ذکر

۵۳۰-()[۲۸] ۱ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَتْ: ۲ «سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَذُكِرَ لَهُ سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى قَالَ: ۳ يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّ الْفَنَنِ مِنْهَا مِائَةَ سَنَةٍ، ۴ أَوْ يَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا مِائَةُ رَاكِبٍ - شَكَّ الرَّاوِي - ۵ فِيهَا فَرَاشُ الذَّهَبِ، كَأَنَّ " ثَمَرَهَا الْقِلَالُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ۱ او بی بی اسماء بنت ابي بکر ؓ وایي ۲ هغه وخت چې د رسول الله ﷺ مخکې د سدرة المنتهٰی ذکر وشو نو ما د حضور ﷺ نه واوریدل ۳ چې سدرة المنتهٰی یوه داسې و نه ده چې یو تیز رفتار سوار د هغه د ښاخونو په سایه (سورې) کې به سل کاله پورې ځي ۴ یا دایي وفرمایل د هغه په سایه (سورې) کې په یو وخت سل سواره دَم اخلي ۵ په دې و نه باندې به د سرو زرو ملخان وي ګویا د دې میوې د منګو برابر وي دا روایت ترمذي ﷫ نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: - ① الْفَنَنِ : دا مفرد دې ددې جمع أَفْنَانٌ راځی، أَيِ الْغُصْنُ: ښاخ او څانګې ته وائی. ② يَسْتَظِلُّ : سورې به حاصلوی (یعنی سوری ته به راتلې شی). ③ فَرَاشُ : مفرد دې، ددې جمع فَرَاشَة ده، وَهِيَ الَّتِي تَطِيرُ وَتَتَهَافَتُ فِي السِّرَاجِ: وړه شان مرغئ ده چه الوځی اوپه ډیوه کښې ځان راغورځوی پتنګ ورته وائی. ④ الْقِلَالُ: دا جمع ده، ددې مفرد قُلَّة راځی. چاټئ یا منګی ته وائی.

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة ثمار أهل الجنة (رقم-۲۵٤۱)

تسهيلات: قوله: وَذُكِرَ لَهُ سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰى:

د سدرة څخه مراد: دَ بيرې ونې ته وائي. په اووم آسمان باندې دَ عرش الهي ښي طرف ته داعظيم الشان ونه قائم ده ددې پاڼې دَ هاتهي دَ غوږونو هومره لوئې دی اوددې ميوه دَ غټو منګو برابرده.

د سدرة المنتهى وجه تسميه: دَ انتهاء په معنى کښې دې څکه چه په دې ونه باندې دَ ښکته مخلوق انتهاء کيږی او دغه شان دَ پورته مخلوق انتهاء هم کيږی. نه دَ پورته مخلوق ښکته راتلې شي اونه دَ ښکته مخلوق پورته تلې شي. دَ هرنظام هرعلم اوعمل او هرکار دَپاره دا ونه حد فاصل او انتهاء ده په دې وجه دا سدرة المنتهى ده.

قوله: فِيهَا فَرَاشُ الذَّهَبِ:

دفراش الذهب په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دادَ فراشة جمع ده. فاء باندې زبر دې پتنګ ته وائي. مطلب دادې چه په دې ونه کښې به دَ سرو زرو پتنګان وی چه دَ سرو زرو په شان به پرقيږی

② کيدې شي چه دَ فراش الذهب نه مراد دَ فرښتو يوقسم وی دکومو وزرې چه به دَ سرو زرو په شان پرقيږی دَ هغې طرف ته اشاره ده دَ الله تعالى په دې فرمان کښې چه ﴿ إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى ﴾.

[٥٦٤١] د حوض کوثر ذکر

٥٦٤١ - ( ) [٣] ١ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا الْكَوْثَرُ؟ ٢ قَالَ: " ذَاكَ نَهْرٌ أَعْطَانِيهِ اللَّهُ - يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ - ٣ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، ٤ فِيهِ طَيْرٌ أَعْنَاقُهَا كَأَعْنَاقِ الْجُزُرِ ٥ " قَالَ عُمَرُ: إِنَّ هَذِهِ لَنَاعِمَةٌ، ٦ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " أَكَلَتُهَا أَنْعَمُ مِنْهَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې درسول الله ﷺ نه د کوثر په باره کې پوښتنه وشوه چې هغه څه شي دی؟ ٢ نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې هغه يونهر دی چې الله تعالى ماته راکړی دی يعنی په جنت کې زما د پاره مخصوص دی ٣ د دې نهر اوبه د پيئو نه زياتي سپيني او د عسلو (شهد) نه زياتي شيريني خوږې دي ٤ په دې کې داسې پرندې مارغان دی چې د هغوئ څټونه د اوښانو د څټونو په شان اوږده دي ٥ حضرت عمر رضي الله عنه په دې اوريدو سره عرض وکړو چې هغه مارغان خو به ډير چاغ او تندرست وي ٦ حضور ﷺ ورته وفرمايل د هغه مارغانو خوړونکی يعنی جنتي خلق به د هغه مارغانو

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى صفة طير الجنة (رقم-٢٥٤٢) وابن ماجه في كتاب الجنائز ، باب ما جاء فيما يقال عند المريض إذا حضر (رقم-١٤٥٠)

نه هم زيات توانا او خوشحال وي. (ترمذی)

حل اللغات:- ① الْكَوْثَرُ: په جنت کښې د يو خاص نهر نوم دې. ② أَحْلَى: ډيرې خوږې دی. ③ الْجُزُرُ: داجمع ده اودَدې مفرد جَزُور دې اوښ ته وائی. ④ لَنَاعِمَةٌ: يعنی دا مرغۍ به چاقې ډکې او ډيرې مزيدارې وی. ⑤ أَنْعَمُ: زيات طاقتور، څرب او خوشحاله به وی.

تسهيلات:

د بعضې جملو وضاحت:

① كَأَعْنَاقِ الْجُزُرِ: اعناق غاړو او ستونوته وائی. يعنی دَ دغه مرغو ستونه به دَ اوښانو دَ ستونو په شان اوږده وی. پخپله به هم دَ اوښانو په شان لوئی وی.

② أَكَلَتُهَا: دَ دريواړو حروفو فتحات سره جمع ده دَدې مفرد آكل دې. مطلب دادې چه دا مرغئی خو به سره دَدې چه چاقې ډکې اوښه مزيدارې وی مګر دَدوی خوړونکی جنتيان به دَدوی نه هم ښه صحت مند خوشحاله اوتازه وی.

اشكال: په جنت کښې دومره چاقې مرغئی وی دغه شان دَ بيرې ميوه دَ منګی برابر اودَ انګورو دانې هم دَمنګو برابر وی نودَدنيا دا انسان به دا څنګه خوری او په دې کښې به څه خوند اومزه وی؟

داشكال جواب: دَهغه ځائی انسانان به هم ښه تازه تکړه او جسامت والا وی هغوی به په آسانئ سره دا انکور خوړلې شی. دَدې حديث نه دې جواب طرف ته اشاره کيدې شی.

[٥٦٤٢] جنتيا نوته هرهغه شی حاصليږي د کوم چه هغوئ خواهش وکړي

٥٦٤٢-(١)[٣٠] ①وَعَنْ بُرَيْدَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- ②«أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنْ خَيْلٍ؟ ③قَالَ: "إِنِ اللَّهُ أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ ④فَلَا تَشَاءُ أَنْ تُحْمَلَ فِيهَا عَلَى فَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ يَطِيرُ بِكَ فِي الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْتَ إِلَّا فَعَلْتَ"

ترجمه: ① او حضرت بريده ﷺ نه روايت دی ② يو سړي پوښتنه وکړه يا رسول الله! آيا په جنت کې به آسونه وي؟ ③ حضور ﷺ ورته وفرمايل که الله ﷻ ته په جنت کې داخل کړي ④ او تا په آس د سورلۍ خواهش ښکاره کې نو ته به په جنت کې د سروياقوتو په آس سپور شی او ته چې په جنت کې چيرته غواړې چې هغه آس په برق رفتاري سره وزغلي نوهغه آس به برق رفتاری سره وزغلوي او ګويا الوتو سره به تابوځي

① وَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ② هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنْ إِبِلٍ؟ فَإِنِّي أُحِبُّ الْإِبِلَ. ③ قَالَ: فَلَمْ يَقُلْ لَهُ مَا قَالَ لِصَاحِبِهِ، ④ فَقَالَ: "إِنْ يُدْخِلْكَ اللَّهُ الْجَنَّةَ يَكُنْ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ وَلَذَّتْ عَيْنُكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[١] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صفة خيل الجنة (رقم-٢٥٤٤) واحمد فی المسند:٣٥٢/٥

ترجمه: ۱ دي نه وروسته حضور ﷺ نه يو بل سړي پوښتنه وکړه هغه اوويل يارسول الله ۲ آيا په جنت کې به اوښان هم وي؟ ځکه چې اوښان ښما خوښ دي ۳ حضرت بريده ؓ وايي حضور ﷺ هغه سړي ته هغه جواب ورنه کړ کوم چې حضور ﷺ د هغه ملګري ته ورکړې وو يعنې څرنګه چې حضور ﷺ مخکښي سړي ته جواب ورکړې وو هغه شان يې دې سړي ته داجواب ورنه کړ ۴ چې که الله ﷻ ته په جنت کې داخل کړي او ته په اوښ باندې د سوريدو خواهش ښکاره کړې نو..... الخ بلکه بطريق قاعده کُليه حضور ﷺ وفرمايل که الله ﷻ ته په جنت کې داخل کړي نو هغه به تاته هرهغه شي درکړي کوم چې ستا زړه غواړي او ستا سترګه يې خوښوي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ: کوم څه چه ستا زړه غواړي. ② وَلَذَّتْ عَيْنُكَ: او کوم څه چه ستا سترګه ئې خوښوي.

تسهيلات:

قوله: فَلَا تَشَاءُ أَنْ تُحْمَلَ فِيهَا عَلَى فَرَسٍ.... فِي الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْتَ إِلَّا فَعَلْتَ"

د فعلت په صيغه کښې دوه احتمالات: ① دا معروف لوستلې شي په دې صورت کښې به معنی دا شي چه په جنت کښې خو به خپله مدعا ورکولې شي

② دا مجهول لوستلې شي. په دې صورت کښې به ترجمه داسې شي چه ستاسو دپاره به داسې کولې شي يعني ستاسو دَ خواهش مطابق به هغه اس تيار درکولې شي

قوله: إِنْ يُدْخِلْكَ اللَّهُ الْجَنَّةَ يَكُنْ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ وَلَذَّتْ عَيْنُكَ:

په جنتي نعمتونود سترګو يخوالې واتلل: د دې جملې تائيد دَ قرآن کريم آيت ﴿وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ﴾ نه هم کيږي چه په جنت کښې به جنتيان دکوم څيز خواهش کوي هغه به په جنت کښې مخې ته راځي په خله دَ غوښتو به هم ضرورت نه وي دغه شان دَ ميوو شوکولودپاره به جنتيانو ته هيڅ قسم تکليف نه وي بلکه هغه دَ ميوو ښاخونه به پخپله راټيټيږي او ميوې به ئې مخې ته وي. کمافي القرآن ﴿وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَالُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا﴾.

[۵۳۳] په جنت کښې داسونو موجودوالې

٥٣٣-()[٣] ۱ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ ۲ «أَتَى النَّبِيَّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-أَعْرَابِيٌّ ۳ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أُحِبُّ الْخَيْلَ، أَفِي الْجَنَّةِ خَيْلٌ؟ ۴ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "إِنْ أُدْخِلْتَ الْجَنَّةَ أُتِيتَ بِفَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ لَهُ جَنَاحَانِ، ۵ فَحُمِلْتَ عَلَيْهِ، ثُمَّ طَارَ بِكَ حَيْثُ شِئْتَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ،

ترجمه: ۱ او حضرت ابوايوب انصاري ؓ وايي ۲ دَ رسول الله ﷺ په خدمت کې يو

[1]) اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صفة خيل الجنة (رقم-٢٥٤٤) واحمد في المسند:٥/٣٤٧

باندچي (كليوال) راغې ۞و عرض يې وکړو يارسول الله! خما اسونه ډير خوښ دي آيا په جنت کې به اسونه هم وي؟ ۞رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که په جنت کې داخل شوې نو تاته به د ياقوتو يو اس درکول شي چې د هغه به دوه وزرونه وي ۞بيا به ته په هغه اس سپور شې او ته چې چيرته تلل غواړې هغه آس به تا الوځولو سره بوځي دا روايت ترمذي نقل کړی دی

حل اللغات:- ① جَنَاحَانِ: د جناح تثنيه ده، وزرو ته وائي. ② حُمِلْتَ: أي رَكِبْتَ: ور سور به شې ته.

۞وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، وَأَبُو سَوْرَةَ الرَّاوِي يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، ۞وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يَقُولُ: أَبُوسَوْرَةَ هَذَا مُنْكَرُ الْحَدِيثِ، يَرْوِي مَنَاكِيرَ.

ترجمه: ۞او ويلي يې دي چې د دې حديث اسناد قوي نه دي او ابو سوره چې د دې حديث راوي دی په څه سبب په فن حديث کې يا اسناد حديث کې ضعيف شميرلی شي ۞او ما د حضرت محمد بن اسماعيل بخاري رحمه الله نه دا اوريدلي دي چې ابو سوره منکر الحديث دی هغه منکر حديثونه روايت کوي.

حل اللغات:- ③ طَارَ: وابه لوځي.

تسهيلات: نوټ: د دې حديث د مضمون وضاحت د مشکاة د حديث نمبر(٥٣٢) په تسهيل کښې ذکر شوې دې.

[٥٦٤٤] جنتيانو کې د أمت محمديه تناسب

٥٣٣-()[٣٢] ۞وَعَنْ بُرَيْدَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۞"«أَهْلُ الْجَنَّةِ عِشْرُونَ وَمِائَةُ صَفٍّ، ۞ثَمَانُونَ مِنْهَا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ، ۞وَأَرْبَعُونَ مِنْ سَائِرِ الْأُمَمِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ)

ترجمه: ۞او حضرت بريده رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۞د جنتيانو به يو سل شل صفونه وي ۞په هغه کې به اتيا صفونه د دې امت يعنې مسلمانانو وي ۞او څلويښت صفونه به د نورو امتونو د خلقو وي دا روايت ترمذي رحمه الله او دارمي او بيهقي په کتاب البعث والنشور کې نقل کړی دی.

تسهيلات:

قوله: أَهْلُ الْجَنَّةِ عِشْرُونَ وَمِائَةُ صَفٍّ:

تعارض: په دې حديث کښې دَ اهل محشر د جنتيانو ۱۲۰ صفتونو ذکر دې په کوم کښې چه دَ دې امت دَ ۸۰ صفتونو بيان دې چه دوچند زيات دی. په بل حديث کښې دَ نصف

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صف أهل الجنة (رقم-٢٥٤٦) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب صفة أمة محمد صلى الله عليه وسلم (رقم-٤٢٨٩) واحمد في المسند:٣٥٥/٥

اهل جنت ذکر دې دا واضح تعارض دې.

دااشکال جواب: د وحی په ذریعه د یوتناسب ذکر وو بیا دَالله تعالی په نوره مهربانئی سره اضافه اوشوه نود نصف نه زیات شو. اوس اعتراض پاتې نه شو.

[۵۶۴۵] د جنت د هغه دروازې وسعت چه په هغه به اهل اسلام داخليږي

۵۶۳۵-(¹)[۳۳] ۱ وَعَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«بَابُ أُمَّتِي الَّذِينَ يَدْخُلُونَ مِنْهُ الْجَنَّةَ عَرْضُهُ مَسِيرَةُ الرَّاكِبِ الْمُجَوِّدِ ثَلَاثًا، ۳ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَيُضْغَطُونَ عَلَيْهِ، ۴ حَتَّى تَكَادُ مَنَاكِبُهُمْ تَزُولُ» ". ۵ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ ضَعِيفٌ، وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ فَلَمْ يَعْرِفْهُ، وَقَالَ: يَخْلُدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ يَرْوِي الْمَنَاكِيرَ.

ترجمه: ۱ او حضرت سالم تابعي رحمه الله خپل پلار محترم حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه نقل کوي هغه بیان وکړو چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ د جنت په کومه دروازه چې به خما امت داخليږي د هغه پلنوالي د هغه سورو د منډو دمسافت په قدر به وي چې آس تیز زغلول نبه پیژني ۳ بیا به هم هغه خلق یعنی خما د امت جنتیان به په هغه دروازه داخلیدو په وخت ډیره تنګي محسوسوي ۴ دې پورې چې د هغوئ اوږې به یوبل سره جنګيږي یعنی باوجود د دې چې هغه دروازه به دومره پلنه وي خوهرکله چې اهلِ اسلام هجوم درهجوم ګڼه ګوڼه کې دننه داخليږي نو هغه دروازه به هم تنګه معلوميږي او هغه خلق به د یوبل اوږو سره جنګيږي په ډیر مشکل سره به تر دروازې تیریږي ۵ دا روایت ترمذي رحمه الله نقل کړی دی او ویلي یې دي داحدیث ضعیف دی او ما د حضرت محمد بن اسماعیل بخاري رحمه الله نه اوریدلي دي چې د دې حدیث راوي منکر روایتونه بیانوي.

حل اللغات:- ① الرَّاكِبِ الْمُجَوِّدِ: دا د تجوید نه اسم فاعل دې، وَهُوَ الْمُحْسِنُ: یعنی هغه شهسوار چه هغه د اس زغلولو کښې ماهر وی. ② لَيُضْغَطُونَ: أَيْ: لَيُعْصَرُونَ وَيُضَيَّقُونَ: تنګی به محسوس کړی رش به جوړ شی ③ تَكَادُ: أَيْ: تَقْرُبُ: نزدې ده ④ مَنَاكِبُهُمْ: د منکب جمع ده. اوګو ته وائی ⑤ تَزُولُ: أَيْ تَنْقَطِعُ: یوبل سره لګیدلو ته وائی (یعنی د ډیرې ګڼړې او رش په وجه به د یوبل سره لګی).

تسهیلات:

قوله بَابُ أُمَّتِي الَّذِينَ يَدْخُلُونَ مِنْهُ الْجَنَّةَ عَرْضُهُ مَسِيرَةُ الرَّاكِبِ الْمُجَوِّدِ ثَلَاثًا:

د ثلاثا څخه مراد: دلته د دریو نه د دریو کالو مسافت مراد دې،

اشکال: په حدیث الباب کښې د دواړو چوکاټونو په مینځ کښې د فاصلې مقدار درې کاله خودلې شوی دی او په یوبل روایت کښې ددې فاصلې مقدار څلویښت کاله خودلې شوې

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة أبواب الجنة (رقم-۲۵۴۸)

دي دا ښکاره تعارض دي

د اشکال دوه جوابونه: ① د درې ځخه کثرت مراد دي معين عدد مراد نه دي.

② اول حضورپاك ته د وحي په ذريعه د دغه دروازو پلنوالي کم خودلې شوې وی کوم چه حضورپاك د دريو کالو د مسافت په فاصلې سره تعبيرکړو او بيا روستو د زيات نه زيات پلنوالی علم حضورپاك ته ورکړې شو کوم چه حضورپاك څلوېښتو کالو سره تعبيرکړو

[٥٦٤٦] د جنت يو بازار

٥٦٣٥-()[٣٣] ١ وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ "«إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا مَا فِيهَا شِرًى وَلَا بَيْعٌ ٣ إِلَّا الصُّوَرَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ، ٤ فَإِذَا اشْتَهَى الرَّجُلُ صُورَةً دَخَلَ فِيهَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او حضرت علي رضی الله عنه وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ په جنت کې يو بازار دی چې په هغه کې به خريد وفروخت اخستل او خرخول نه وي ٣ بلکه هلته به د سړو او ښځو قسم قسم حسين وجميل صورتونه په نظر راځي ٤ څوك چې که سړی وي يا ښځه هلته کوم صورت خوښ کړي په هغه کې به ځاي شي او د هغه صورت به شي دا حديث ترمذي رحمه الله نقل کړی دی او ويلې يې دی چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: - ① سُوقًا: أَيْ: مُجْتَمَعًا: بازار (د خلقو د راجمع کيدو يو ځائې به وی). ② الصُّوَرَ: أَيِ التَّمَاثِيلَ الْمُخْتَلِفَةَ: تصويران به وی. قسما قسم شکلونه به وی.

تسهيلات:

قوله فَإِذَا اشْتَهَى الرَّجُلُ صُورَةً دَخَلَ فِيهَا:

د جنتيانو په مختلفو صورتونوکښې مشتکل کيدل: د دې په شان حديث مخکښې تيرشوې دي هلته صرف د سړو د صورتونو ذکر وو او دلته د سړو او ښځو دواړو د صورتونو ذکر دې مقصود د دواړو يو دې چه د جنتيانو ښائست زياتولو د پاره به دا بازار قائمولې شی

[٥٦٤٧] ديدار الهي او د جنت بازار

٥٦٣٦-()[٣٥] ١ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّهُ لَقِيَ أَبَا هُرَيْرَةَ، ٢ فَقَالَ لَهُ أَبُو هُرَيْرَةَ: أَسْأَلُ اللَّهَ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ. ٣ فَقَالَ سَعِيدٌ: أَفِيهَا سُوقٌ؟ ٤ قَالَ: نَعَمْ، أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في سوق الجنة (رقم-٢٥٥٠) واحمد فی المسند: ١٥٦/١

[2]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في سوق الجنة (رقم-٢٥٤٩) وابن ماجه فی كتاب الزهد/باب صفة الجنة (رقم-٤٣٣١)

ترجمه: ۱او حضرت سعید بن مسیب تابعي رحمه الله نه روایت دی یوه ورځ په بازار کې حضرت ابوهریره رضي الله عنه سره د هغه ملاقات وشو ۲نو حضرت ابوهریره رضي الله عنه اوویل زه د الله تعالیٰ نه دعا غوارم چې څرنګه نن د مدیني بازار کې زمونږ دواړو ملاقات شوي دي دغه شان د جنت بازار کې هم مونږ دواړه یو خای کړي ۳حضرت سعید رحمه الله په دي اوریدو سره اوویل آیا په جنت کې به بازار وي حالانکه بازار خو د خرید وفروخت ضرورت پوره کولو د پاره وي او ښکاره ده چې په جنت کې دا ضرورت نه پیښیږي ۴حضرت ابوهریره رضي الله عنه وفرمایل هو په جنت کې به بازار هم وي خو د هغه خاي بازار به د دنیاوي بازار په شان ضرورت پوره کولو د پاره نه وي ماته رسول الله ﷺ خو دلي وو

۱«إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلُوهَا نَزَلُوا فِيهَا بِفَضْلِ أَعْمَالِهِمْ، ۲ثُمَّ يُؤْذَنُ لَهُمْ فِي مِقْدَارِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا، فَيَزُورُونَ رَبَّهُمْ، ۳وَيُبْرِزُ لَهُمْ عَرْشَهُ، وَيَتَبَدَّى لَهُمْ فِي رَوْضَةٍ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، ۴فَتُوضَعُ لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُورٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ لُؤْلُؤٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ يَاقُوتٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ زَبَرْجَدٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ ذَهَبٍ، ۵وَمَنَابِرُ مِنْ فِضَّةٍ، وَيَجْلِسُ أَدْنَاهُمْ - وَمَا فِيهِمْ دَنِيءٌ - عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ وَالْكَافُورِ، ۶مَا يَرَوْنَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَرَاسِيِّ بِأَفْضَلَ مِنْهُمْ مَجْلِسًا».

ترجمه: ۱هرکله چې جنتي خلق په جنت کې داخل شي نو د خپلو خپلو اعمالو د فضیلت او برتری د لحاظ سره د جنت منزلونو او درجو کې به داخلیږي یعنی د چا اعمال چې څومره زیات او اعلیٰ وي به هغه اعتبار سره به هغه ته بلند تر او ډیرښه مکانات او منازل حاصلیږي ۲بیا هغوئ ته به د دنیاوي ورځو د اعتبار نه د جمعي په ورځ اجازت ورکول شي او هغوئ ټول به په هغه ورځ د خپل پروردګار زیارت کوي ۳پروردګار به د هغوئ مخکې خپل عرش ظاهر کړي او جنتیانو ته به دخپل دیدار کولو د پاره د جنت یو لوی باغ کې جلوه وفرمایي ۴نو د پروردګار زیارت له به راتلونکو جنتیانو د پاره په هغه باغ کې د مختلفو درجاتو منبر یعنی د نور منبر ، د ملغلرو منبر د یاقوتو منبر د سوني منبر او د چاندي منبر کیښودل شي چې په هغه به هغه جنتیان د خپلو اعمالو او افعالو او مراتبو او درجاتو د فرق په اعتبار سره کیني ۵چې کوم جنتي د کومي درجي او مرتبي وي د هغه مطابق هغه منبرونو نه یو منبر به هغه د پاره مخصوص وي او هغه جنتیانو کې چې کوم جنتي د ادنی مرتبي او درجي وي یعنی صرف د مرتبي د اعتبار نه ادنی نه چې به هغوئ کې به څوك معمولي او ذلیل وي هغه به د مشکو او کافورو په غونډیو کیني څرنګه چې په دنیا کې هم قاعده ده چې عامو اجتماعاتو کې د اوچت حیثیت خلق کرسیو او اوچتو ځایونو باندې کیني او کم حیثیته خلق په زمکه او فرش باندې کیني ۶لیکن غونډیو باندې ناست خلق به دا نه محسوسوي چې منبر او کرسو باندې ناست خلق د ځاي او نشستګاه د اعتبار نه دهغوئ نه برتر او افضل دی

حل اللغات:- ① نَزَلُوا: داخلیږی به ② فَيَزُورُونَ: زیارت به کوی (دخپل رب). ③ يُبْرِزُ: أَي: يُظْهِرُ: ښکاره

به کړي (عرش). ⑦ تَتَدَّي : أَيْ: يَظْهَرُ وَيَتَجَلَّى: راښکاره به شي. جلوه به اوکړي. ⑧ دَنِيءٌ : د کمې مرتبې والا. ⑨ كُثْبَانٍ: دا د کَثِيب جمع ده. غونډئ او ډهيرئ ته وائي (کوم چه يو ځائې ته راجمع کړې شوي وي) ⑥ الكَافُورِ: هُوَ نَبْتٌ طَيِّبٌ: دا يوه خوشبوداره ونې نه په خاص طريقې سره جوړيږي ⑧ الكَرَاسِيِّ : أَيْ: المَنَابِرِ: دکرسئ جمع ده. يعنې کرسئ ګانې اومنبرونه.

① قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَهَلْ نَرَى رَبَّنَا؟ ② قَالَ: نَعَمْ، هَلْ تَتَمَارَوْنَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ؟ ③ قُلْنَا: لَا، قَالَ: "كَذَلِكَ لَا تَتَمَارَوْنَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ، ④ وَلَا يَبْقَى فِي ذَلِكَ الْمَجْلِسِ رَجُلٌ إِلَّا حَاضَرَهُ اللَّهُ مُحَاضَرَةً ⑤ حَتَّى يَقُولَ لِلرَّجُلِ مِنْهُمْ: يَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ، أَتَذْكُرُ يَوْمَ قُلْتَ كَذَا وَكَذَا؟ ⑥ يُذَكِّرُهُ بِبَعْضِ غَدَرَاتِهِ فِي الدُّنْيَا. ⑦ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ أَفَلَمْ تَغْفِرْ لِي؟ ⑧ فَيَقُولُ: بَلَى، فَبِسَعَةِ مَغْفِرَتِي بَلَغْتَ مَنْزِلَتَكَ هَذِهِ.

ترجمه: ① حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي ما عرض وکړو يارسول الله! آيا مونږ به په هغه ورځ خپل پروردګار وينو؟ ② حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل هو يقينًا آيا تاسو د ورځې نمر او دړنا په شپه کې د شپې سپوږمۍ ليدو کې څه شک کوئ؟ ③ مونږ عرض وکړو هيڅ کله نه نو وي فرمايل دغه شان به تاسو ته په هغه ورځ د خپل پروردګار په ليدو کې څه شبهه نه وي ④ او د ديدارِ الهي هغه مجلس کې به هيڅ سړی داسې باقي پاتې نشي چې هغه نه پروردګار تول حجابات اوچتولو سره براه راست ورسره هم کلام نشي ⑤ دې پورې چې الله تعالی به حاضرينو کې يويو سړي مخاطَب کولو سره ورته وفرمايي اې فلان ابن فلان! آيا تاته هغه ورځ ياده ده کله چې تا داسې ويلي وو يعنې خپلې ژبې نه دې داسې الفاظ ويستلي وو چې شرعًا ناجائز وو ⑥ هغه سړي به دې خبرې اوريدو سره توقف وکي او د خپل کړي ګناهونو اظهار کې به تأمُل وکړي نو پروردګار به هغه ته څه هغه عهد شکنۍ وریاده کړي چې هغه په دنيا کې کړي وه يعنې هغه ته به د هغه په دنيا کې کړي ګناهونه ورياد کړي چې د هغه په کولو کې عهد ربوبيت ماتول لازميږي ⑦ بيابه هغه سړی عرض وکړي اې زما پروردګاره! آيا تا زما هغه ګناهونه بخښلي نه دي يعنې زما په جنت کې داخليدل آيا د دې خبري علامه نه ده چې ما کوم ګناهونه کړي وه تا هغه بخښلي دي؟ ⑧ الله تعالی به ورته وفرمايي بيشکه ما ستا هغه ګناهونه بخښلي دي او ته نن زما د وسعت فضل په برکت دې مرتبې ته رسيدلی يې

حل اللغات:- ⑨ هَلْ تَتَمَارَوْنَ : أَيْ: هَلْ تَشُكُّونَ: آيا تاسو څه شک کوئ. ⑩ غَدَرَاتِهِ: د غَدْرَةٌ جمع ده، وَهُوَ تَرْكُ الْوَفَاءِ: بې وفايئ ته وائي يعنې عهد نه پوره کول خودلته ترې نافرمانئ کول مراد ده.

① فَبَيْنَا هُمْ عَلَى ذَلِكَ غَشِيَتْهُمْ سَحَابَةٌ مِنْ فَوْقِهِمْ، ② فَأَمْطَرَتْ عَلَيْهِمْ طِيبًا لَمْ يَجِدُوا مِثْلَ رِيحِهِ شَيْئًا قَطُّ، ③ وَيَقُولُ رَبُّنَا: قُومُوا إِلَى مَا أَعْدَدْتُ لَكُمْ مِنَ الْكَرَامَةِ ④ فَخُذُوا مَا اشْتَهَيْتُمْ، ⑤ فَنَأْتِي سُوقًا قَدْ حَفَّتْ بِهِ الْمَلَائِكَةُ، ⑥ فِيهَا مَا لَمْ تَنْظُرِ الْعُيُونُ إِلَى مِثْلِهِ، وَلَمْ تَسْمَعِ الْآذَانُ، وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى الْقُلُوبِ، ⑦ فَيُحْمَلُ لَنَا مَا اشْتَهَيْنَا، لَيْسَ يُبَاعُ فِيهَا وَلَا يُشْتَرَى،

ترجمه: [۱] بيا به هغه خلق په هغه حالت او هغه ځاي باندې وي چې يوه وريځ به راتلو سره په هغوئ وغورېږي [۲] او په هغوئ به داسې خوشبو ووروي چې هغوئ به هغه شان خوشبو هيڅ کله په څه شي کې نه وي پيدا کړي [۳] دي نه وروسته به زمونږ پروردګار وفرمايي خلقو! لاړشئ او هغه شي طرف ته راشئ چې مونږ د عظمت او بزرګۍ له قسمه ستاسو دپاره تيار کړي دي [۴] او تاسو د خپلې خوښې او خواهش مطابق چې څه غواړئ واخلئ [۵] حضور ﷺ وفرمايل په دې اوريدو سره به جنتيان خلق هغه بازار ته ورشي چې فرشتې به ترې نه چاپيره وي [۶] په هغه بازار کې به داسې داسې څيزونه موجود وي چې هغه شان څيزونه به نه يوې سترګې ليدلي وي نه به يو غوږ اوريدلي وي او نه به د چا په زړه کې د هغه تصور راغلی وي [۷] بيا به هغه بازار نه اوچتولو سره مونږ ته هغه څيزونه راکول شي د کوم چې مونږ خواهش کوو حالانکه په هغه بازار کې به د خريد وفروخت په شان هيڅ معامله نه وي بلکه هغه بازار به دراصل جنتيانو ته د هغوئ د خوښې شی ورکولو مرکز وي

حل اللغات:- ① غَشِيَتْهُمْ: أَيْ: غَطَّتْهُمْ: چه دوی به پټ کړي يعنی په دوی به را خوره شي. ② سَحَابَةٌ: وريځ. ③ حَفَّتْ: أَيْ: أَحَاطَتْ: چاپيره به وی. ④ لَمْ يَخْطُرْ: أَيْ: لَمْ يَمُرَّ: نه راځی. نه تيرېږی ((دهغې څه ماهيت او تصور)).

[۱] وَفِي ذَلِكَ السُّوقِ يَلْقَى أَهْلُ الْجَنَّةِ بَعْضُهُمْ بَعْضًا". [۲] قَالَ: "فَيُقْبِلُ الرَّجُلُ ذُو الْمَنْزِلَةِ الْمُرْتَفِعَةِ، فَيَلْقَى مَنْ هُوَ دُونَهُ - [۳] وَمَا فِيهِمْ دَنِيءٌ - [۴] فَيَرُوعُهُ مَا يَرَى عَلَيْهِ مِنَ اللِّبَاسِ، [۵] فَمَا يَنْقَضِي آخِرُ حَدِيثِهِ حَتَّى يَتَخَيَّلَ عَلَيْهِ مَا هُوَ أَحْسَنُ فِيهِ، وَذَلِكَ أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَحْزَنَ فِيهَا،

ترجمه: [۱] او هغه بازار کې به ټول جنتي خلق په خپلو کې يوبل سره ملاقات کوي [۲] حضور ﷺ وفرمايل په هغه بازار کې به خپلو کې د ملاقاتونو په وخت به يوبلند مرتبه سړی يوداسې سړي طرف ته متوجه شي او هغه سره به ملاقات کوي چې مرتبه کې به د هغه نه کمتر وي [۳] ليکن په جنتيانو کې به د چا اعلى کيدل او د چا کمتر کيدل صرف د مرتبې او درجې د اعتبار نه وي دانه چې څوک به معمولي او ذليل خيال کولی شي ګويا ذاتي اعتبار نه خو ټول جنتيان به بلند حيثيت او بلند عزت وي خو په دنيا کې د اختيارونکي اعمال او افعال له نسبت نه څه خلق به د اعلى مرتبې وي او څه خلق به د هغوئ نه د کمې مرتبې [۴] بهرحال هغه بلند مرتبه سړي ته به هغه لباس خوښ نشی کوم چې د کمتر درجې هغه سړي اغوستی ويني [۵] او د هغه دواړو سلسله ګفتګو يا د هغوئ د خيالاتو سلسله به لاختمه شوي نه وي چې هغه بلند مرتبه سړی به محسوس کړي چې څما د مخاطب لباس خو څما د لباس نه هم ښه دی او د دې کمتر درجې سړي جسم باندې به د اعلى لباس ښکاره کيدل به ځکه وي چې په جنت کې به هيچاته د غمجن کيدو موقع نشي ورکولی

حل اللغات:- ⑮ فَيُقْبِلُ: دا د إقْبَالٍ نه دي، أَيْ: فَيَجِيءُ وَيَتَوَجَّهُ: رابه شي، متوجه به شي. ⑯ ذُو الْمَنْزِلَةِ الْمُرْتَفِعَةِ: د اوچتې مرتبې والا جنتي. ⑰ فَيَرُوعُهُ: أَيْ: يُعْجِبُ الرَّجُلَ: نو په دغه ادنی جنتي به تعجب اوكړي. ⑱ يَتَخَيَّلَ: أَيْ: يَتَصَوَّرَ: خيال او تصور به كوي. ⑲ يَحْزَنَ: أَيْ: يَغْتَمَّ: چه خفه او غمجن شي.

[١] ثُمَّ نَنْصَرِفُ إِلَى مَنَازِلِنَا، [٢] فَيَتَلَقَّانَا أَزْوَاجُنَا، فَيَقُلْنَ: مَرْحَبًا وَأَهْلًا، [٣] لَقَدْ جِئْتَ وَإِنَّ بِكَ مِنَ الْجَمَالِ أَفْضَلَ مِمَّا فَارَقْتَنَا عَلَيْهِ، [٤] فَيَقُولُ: إِنَّا جَالَسْنَا الْيَوْمَ رَبَّنَا الْجَبَّارَ، [٥] وَيَحِقُّنَا أَنْ نَنْقَلِبَ بِمِثْلِ مَا انْقَلَبْنَا» ". [٦] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] حضور ﷺ وفرمايل دي نه وروسته به مونږ ټول جنتيان خپل خپل محلاتو او مكاناتو طرف ته واپس راشو [٢] او هلته به زمونږ ښځې يعنی د دنيا ښځې او د جنت حورې زمونږ سره يوځاى شي نو مرحبا پخير راغلئ پخير راغلی ويلو سره به زمونږ استقبال كوي [٣] او هره ښځه به خپل خاوند ته وايي چې ته په داسې حال كې واپس راغلی يې چې دا وخت ستا حسن وجمال د هغه حسن وجمال نه څه ډيرزيات دی چې زمونږ نه د تلو په وخت كې په تاكې وو [٤] نو مونږ به خپلو بيبيانو ته وايو چې نن مونږ دخپل پروردګار سره د هم نشينئ عزت حاصل كړی دی چې د جسم وبدن او د حسن وجمال هره كمې ښه پوره كونكې دې [٥] نو مونږ خپل دې شان سره د واپس راتلو لائق يو كوم شان سره چې مونږ راغلي يو ځكه چې كوم سړي ته د هغه ذات هم نشيني حاصله شي چې ټول ترحسن وجمال د هغه د نور پرېوتو عكس دی نو هغه سړی به زيات نه زيات ښيا مومي [٦] دا روايت ترمذي او ابن ماجه روايت كړی دی او ترمذي ويلي دي چې داحديث غريب دی.

حل اللغات:- ⑳ مَرْحَبًا وَأَهْلًا: پخير راغلی دې اوخپل د كور خلقو ته راغلې. ㉑ يَحِقُّنَا: مونږ لائق يو. مونږ سره مناسب دی.

تسهيلات:

نوټ: په حديث كښې مشكل لغات دی دهغې وضاحت د حل اللغات په عنوان سره شوې دې اوباقي مضمون آسان دې د تشريح څه ضرورت نشته

[٥٦٤٨] تقسيم په جنتيانو كې د اولاد خواهش

٥٦٣٨-(١) [٣٦] [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] " «أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ الَّذِي لَهُ ثَمَانُونَ أَلْفَ خَادِمٍ [٣] وَاثْنَتَانِ وَسَبْعُونَ زَوْجَةً، [٤] وَتُنْصَبُ لَهُ قُبَّةٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ وَزَبَرْجَدٍ وَيَاقُوتٍ [٥] كَمَا بَيْنَ الْجَابِيَةِ إِلَى صَنْعَاءَ» ".

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ما لأدنى أهل الجنة من الكرامة (رقم-٢٥٦٢) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب صفة الجنة (رقم-٤٣٣٨) واحمد في المسند: وابوداود في/٧٦

ترجمه: ١ او حضرت ابوسعید رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ په جنتيانو کې چې د ټولو نه کمه مرتبه کوم سړی وي د هغه به اتيا زره خادمان ٣ او دوو اويا ٧٢ ښځې وي چې په هغه کې به دوه ښځې د دنيا د ښځو نه او اويا ښځې د جنت د حورو نه وي ٤ او دده دپاره به يوه خيمه ودرول شي چې هغه به د ملغلرې زبرجدو او ياقوتو څخه جوړه وي يا داچې دې خيزونو نه به مرصع او مزين وي

حل اللغات:- ① أدْنَى: کمې مرتبې والا، ② تُنْصَبُ: أي: يُضْرَبُ: اودرولې به شی، جوړولې به شی. ③ قُبَّةٌ: خيمه، ④ الجَابِيَةِ: وَهِيَ مَدِينَةٌ بِالشَّامِ: په شام کښې د يوښار نوم دې، ⑤ صَنْعَاءَ: وَهِيَ بَلْدَةٌ بِالْيَمَنِ: په يمن کښې ديو کلي نوم دې.

١ وَبِهَذَا الْإِسْنَادِ، قَالَ: ٢ " «وَمَنْ مَاتَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ ٣ يُرَدُّونَ بَنِي ثَلَاثِينَ فِي الْجَنَّةِ، ٤ لَا يَزِيدُونَ عَلَيْهَا أَبَدًا، وَكَذَلِكَ أَهْلُ النَّارِ» ".

ترجمه: ١ او په دې اسنادو سره حضرت ابوسعيد رضی الله عنه نه نقل کيدونکی يو روايت کې دی چې حضور ﷺ وفرمايل ٢ هغه خلق چې هغوئ په جنت کې داخل شي په دنيا کې خواه لږ عمر کې مړ شي يا ډير عمر کې ٣ په جنت کې به د ديرش ديرش کالو کيدو سره داخليږي ٤ او هغوئ به هيڅ کله دې عمر نه نه زياتيږي دا معامله به د دوزخيانو هم وي

١ وَبِهَذَا الْإِسْنَادِ، قَالَ: ٢ " «إِنَّ عَلَيْهِمُ التِّيجَانَ، ٣ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ مِنْهَا لَتُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ» ".

ترجمه: ١ او دې اسنادو سره په يوه روايت کې دادي ٢ چې حضور ﷺ وفرمايل د جنتيانو په سرونو چې به کوم تاج وي ٣ د هغه د ټولو نه معمولي ملغلره به داسې وي چې مشرق نه مغرب پورې به روښانه او منور کړي

حل اللغات:- ⑥ التِّيجَانَ: د تَاجٌ جمع ده، تاج ته وائی (کوم چه به بادشاهانو به په سرکولو).

١ وَبِهَذَا الْإِسْنَادِ، قَالَ: ٢ " «الْمُؤْمِنُ إِذَا اشْتَهَى الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ ٣ كَانَ حَمْلُهُ وَوَضْعُهُ وَسِنُّهُ فِي سَاعَةٍ كَمَا يَشْتَهِي» "

ترجمه: ١ او دې اسنادو سره په يوه روايت کې دادی چې حضور ﷺ وفرمايل ٢ که بالفرض يو مسلمان په جنت کې د اولاد خواهشمند شی ٣ نو د هغه خواهش به داسې پوره شي چې د بچي حمل کيدل د هغه بيا موميدل د هغه انتهائي درجه عمر يعنی ديرش کاله ته رسيدل هرڅه به يو ساعت کې و شي

١ وَقَالَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: ٢ «إِذَا اشْتَهَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ الْوَلَدَ كَانَ فِي سَاعَةٍ، وَلَكِنْ لَا يَشْتَهِي». ٣ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ الرَّابِعَةَ، وَالدَّارِمِيُّ الْأَخِيرَةَ.

ترجمه: ١ او حضرت اسحاق بن ابراهيم رحمه الله د دې آخري روايت په باره کې وايي ٢ که يومومن په جنت کې د اولاد خواهشمند شی نو د هغه خواهش به يوساعت کې پوره شي

ليكن حقيقت دادى چې داسې خواهش به هيڅوك نه كوي ③دا روايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دى ابن ماجه څلورم روايت نقل كړى دى او دارمي صرف دا آخري حصه چې دا سحٰق نه منقول ده نقل كړي ده.

تسهيلات:

قوله: وَمَنْ مَاتَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ ③يُرَدُّونَ بَنِي ثَلَاثِينَ فِي الْجَنَّةِ:

په تيرکاله عمر مقرر کولو کښې حکمت: دَ جنتيانو عمرونه به ديرش يا درې ديرش كاله وى. دغه شان دَ دوزخيانو عمرونه به هم ديرش يا درې ديرش كاله وى. دَ دوى ديرش كاله عمر مقرر كول كيدې شى چه دَدې وجې وى چه كوم دَ آرام او راحت مستحق وى هغوى ته پوره راحت اوخوشحالى نصيب شى او څوك چه دَ عذاب مستحق وى هغوى ته پوره عذاب ملاؤ شى. لهذا څنګه چه به جنتيان خپل دې عمر سره آرام او راحت سره پوره خوشحالى اوچتوى دغه به شان دوزخيان دارالبوار كښې هميشه هميشه خپل ټول عمر سره دَ عذاب اودَ سختئى پورا تكليف زغمى او عذاب به څكى.

[٥٦٤٩]د حورو سندري

٥٦٣٩-()[٢٧] ①وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②"«إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَمُجْتَمَعًا لِلْحُورِ الْعِينِ، ③يَرْفَعْنَ بِأَصْوَاتٍ لَمْ تَسْمَعِ الْخَلَائِقُ مِثْلَهَا، ④يَقُلْنَ: نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَبِيدُ، وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْأَسُ، ⑤وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ، ⑥طُوبَى لِمَنْ كَانَ لَنَا وَكُنَّا لَهُ»". (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه: ①او حضرت علي ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②په جنت كې به د حور عين د اجتماع يوځاي وي چيرته چې به حوري سير وتفريح او يوي بلې سره يوځاي كيدو د پاره جمع كېږي ③او هلته به په اوچت اواز سره سندري وايي د هغوئ اوازونه به دومره دلكش او حسين وي چې مخلوقاتو كې به هيڅ كله داسې اواز چا نه وي اوريدلی هغه ④حوري به داسې سندري وايي مونږ ته هميشه ژوند حاصل دی مونږ ته به هيڅ كله مرګ نه راځي مونږ عيش وآرام سره اوسيدونكي يو مونږ به هيڅ كله سختي او پريشاني نه وينو ⑤مونږ د خپل پروردګار يا خپلو خاوندانو نه راضي او خوشحاله يو مونږ هيڅ كله ناراضه كيږو نه ⑥هرهغه سړي د پاره مبارك بادي ده چې په جنت كې زمونږ د پاره دی او مونږ دهغه د پاره يو. (ترمذي)

حل اللغات:- ① لَمُجْتَمَعًا: أَيْ: مَوْضِعًا لِلِاجْتِمَاعِ: د را يوځاي كيدو او يوبل سره د ملاويدو ځاي. ② الْخَالِدَاتُ: أَيِ الدَّائِمَاتُ: هميشه اوسيدونكى. ③ فَلَا نَبِيدُ: د بَادَ نه دي په معنى د هَلَكَ سره. أَيْ: فَلَا نَفْنَى:

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كلام الحور العين (رقم-٢٥٦٤) واحمد فى المسند:١/١٥٦

مونږ به کله هم نه فنا کیږو. ④ النَّاعِمَاتُ : أَيِ الْمُتَنَعِّمَاتُ: مونږ په نعمتونو کښې اوپه عیش وعشرت سره اوسیدونکی یو. ⑤ فَلَا نَبْأَسُ: أَيْ: فَلَا نَصِيرُ فَقِيرَاتٍ وَمُحْتَاجَاتٍ: یعنی مونږ به هیڅ کله فقیران او محتاجان کیږو نه، اونه به په مونږه خه لوږه تنده راځی. ⑥ الرَّاضِيَاتُ: أَيْ: عَنْ رَبِّنَا: مونږ خوشحاله یو د خپل پروردګار نه (یا دخپلو خاوندانو نه) ⑦ فَلَا نَسْخَطُ: مونږبه هیڅ کله په هیڅ حالت کښې نه خفه کیږو. ⑧ طُوبَى: مَعْنَاهُ فَرَحٌ: خوشحالي او خیر دې وی.

تسهیلات:

دحورو سندرې: دَ دې حدیث شریف نه معلومه شوه چه په جنت کښې یوخاص ځائی کوم ځائی کښې چه حورې جمع کیږی او په اوچت آوازسره نغمې اوسندرې وائی په داسې خوندناك او ښکلې آواز سره سندرې وائی چه داسې آواز به چرې چا اوریدلې نه وی دَهغوی نغمه به دا وی مونږ دَ همیشه اوسیدو والابنځې یو مقصددادې چه انسان له په دنیاکښې داسې اعمال کول پکاردی په کوم سره چه الله تعالی اودَ هغه رسول ﷺ خوشحاله وی دې دَ پاره چه دَ جنت اودَ دې دَ نعمتونونه فائده اوچته کړې شی.

[۵۶۵۰] د جنت دریاب او نهرونه

۵۶۵۰-(¹)[۳۸] [۱] وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَحْرَ الْمَاءِ، وَبَحْرَ الْعَسَلِ، وَبَحْرَ اللَّبَنِ، وَبَحْرَ الْخَمْرِ، [۳] ثُمَّ تَشَقَّقُ الْأَنْهَارُ بَعْدُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حکیم ابن معاویه رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په جنت کې د اوبو دریاب دی او دعسلو (شهد) دریاب دی او د پیئو دریاب دی او د شرابو دریاب دی [۳] او بیا په جنت کې د جنتیانو داخلیدو نه وروسته به هغه دریابونو نه نور نهرونه وځي (ترمذي)

حل اللغات: - ① بَحْرٌ: دریاب. نهر. ② تَشَقَّقُ: أَيْ: تَفْتَرِقُ الْأَنْهَارُ: راجدا کیږی به. رابهیږی به.

۵۶۵۱-(²) وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ مُعَاوِيَةَ.

ترجمه: دارمي دا روایت معاویه نه نقل کړی دی

تسهیلات: نوټ: په جنت کښې دنهرونوتفصیل دمشکاة د حدیث نمبر (۵۶۲۸) په تسهیل کښې ذکر شوې دي.

---

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة أنهار الجنة (رقم-۲۵۷۱) واحمد فی المسند:۵/۵

²) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ۲۸۳۶

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۶۵۲] د جنت د حورو ذکر

۵۶۵۲-( ) [۳۹] [۱] عَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«إِنَّ الرَّجُلَ فِي الْجَنَّةِ لَيَتَّكِئُ فِي الْجَنَّةِ سَبْعِينَ مَسْنَدًا قَبْلَ أَنْ يَتَحَوَّلَ، [۳] ثُمَّ تَأْتِيهِ امْرَأَةٌ فَتَضْرِبُ عَلَى مَنْكِبِهِ، [۴] فَيَنْظُرُ وَجْهَهُ فِي خَدِّهَا أَصْفَى مِنَ الْمِرْآةِ، [۵] وَإِنَّ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ عَلَيْهَا تُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ،

ترجمه: [۱] حضرت ابو سعيد رضي الله عنه د حضور ﷺ نه نقل كوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] جنتي سړی به په جنت كې د اويا مسندونو تكيه لګولو سره به ناست وي مخكې دي نه چې يو اړخ نه دويم اړخ بدل كړي [۳] بيا به د جنت د ښځو نه يوه ښځه هغه ته راشي او هغه خپل خان طرف ته متوجه او مائل كولو د پاره به هغه په وږه وټكوي [۴] هغه سړی به هغه طرف ته متوجه شي او د هغه رخسارونوكي به چې د آئيني نه به زيات صاف او روښانه وي خپل مخ ووينې [۵] او حقيقت دادی چې د هغه ښځي په زيور يا تاج كې لګيدلی يوه معمولي شان ملغلره به هم دومره قيمتي او نظر برينبوونكی وي كه هغه دنيا ته راشي نو مشرق نه تر مغرب پورې هرشی به روښانه او منور كړي

حل اللغات:- ① لَيَتَّكِئُ: أَيْ: لَيَعْتَمِدُ: ډډه او تكيه به لګوی، ② مَسْنَدًا: ګدياني. تكيه ګاني. بالختونه ③ يَتَحَوَّلَ: أَيْ: مِنْ شِقٍّ إِلَى آخَرَ: چه اړخ بدل كړی، ④ خَدِّهَا: رخسار او اننګی دهغې (جنتی ښځې)، ⑤ أَصْفَى: أَيْ: أَنْوَرُ: ډير صفا او روښانه، ⑥ تُضِيءُ: أَيْ: تُنَوِّرُ: روښانه كوی.

[۱] تُسَلِّمُ عَلَيْهِ، فَيَرُدُّ السَّلَامَ وَيَسْأَلُهَا: مَنْ أَنْتِ؟ [۲] تَقُولُ: أَنَا مِنَ الْمَزِيدِ، وَإِنَّهُ لَيَكُونُ عَلَيْهَا سَبْعُونَ ثَوْبًا، [۳] فَيَنْفُذُهَا بَصَرُهُ حَتَّى يَرَى مُخَّ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ ذَلِكَ، [۴] وَإِنَّ عَلَيْهَا مِنَ التِّيجَانِ أَنَّ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ مِنْهَا لَتُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] بهرحال هغه ښځه به هغه سړي ته سلام وكړي او سړی به د هغه د سلام جواب وركړي او پوښتنه به تری نه وكړي چې ته څوك يې [۲] هغه به ورته وايي چې زه د مزيد نه يم او صورت حال به داوي چې د هغه ښځي په جسم به اويا رنګ په رنګ د كپړو (تـه درته) لباسونه وي [۳] او د هغه سړي نظر به د هغه ښځي د لباس نه هم پارسي يعنی هغه به د لباس لاندي پټي ښځي د حسن وجمال او د هغه د جسم د نزاكت نظاره كوي ددي پورې چې هغه سړی به د هغه ښځي د پنډيو نلی هم د لباس د لاندي نه ويني ګويا د هغه نظر به دومره تيز اوصاف وي چې هيڅ شی به د هغه مخكې ليدو نه بنديز نه جوړيږي [۴] او د هغه ښځي په سربه داسي تاجونه ايښي وي چې دهغه تاجونو معمولي شان ملغلره به هم داسې وي كه هغه دنياته راشي نو مشرق نه مغربه پورې هرشی به روښانه او منور كړي. (احمد)

---

[۱]) اخرجه احمد في المسند: ۷۵/۳

حل اللغات: - ⑦ الْمَزِيدِ: أي فَضْلٌ عَلَى فَضْلٍ: دمهربانئ دپاسه نوره مهرباني ⑧ لَتَنْفُذُهَا: نظر د سرئ به تري بل طرف ته اوځي (يعني د جنتي ښځې د بدن حسن، لطافت او باريکئ به داسې وي چه نظر به ترې بل طرف ته اوځي ⑨ مُخٌ: مغز، منځ (يعني د هډوکي په مينځ کښې مغز اوونلي) ⑩ التِّيجَانُ: د تَاجٌ جمع ده، تاج ته وائي (کوم چه به بادشاهانو په سر کولو).

تسهيلات:

قوله: فَيَنْظُرُ وَجْهَهُ فِي خَدِّهَا أَصْفَى مِنَ الْمِرْآةِ:

دجنتي حورې په مخ کښې دخاوند مخ ښکاريدل: يعني دَ جنت دَ حورو بدنى لطافت به دومره زيات وي چه دَ خاوند مخ به دَهغې دَ آئينه په شان اننګى کښې منعکس کيدو سره به ئې خاوندوينى.

رأيت الخال في خد فقلت الخال افسانا   فما كانا وما كان لعين كان انسانا

[۵۶۵۲] په جنت کې د زراعت خواهش او د هغه تکميل

> ۵۶۵۲-()[۴۰] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- ②أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَحَدَّثُ -وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ-: ③«إِنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ. ④فَقَالَ لَهُ: أَلَسْتَ فِيمَا شِئْتَ؟ ⑤قَالَ: بَلَى، وَلَكِنْ أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ، ⑥فَبَذَرَ، فَبَادَرَ الطَّرْفَ نَبَاتُهُ وَاسْتِوَاؤُهُ وَاسْتِحْصَادُهُ، ⑦فَكَانَ أَمْثَالَ الْجِبَالِ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره ﷛ نه روايت دى ②يوه ورځ رسول الله ﷺ سره يو باندچي (کليوال) مسلمان ناست وو او حضور ﷺ داحديث ارشاد فرمايلي ③چې په جنتيانو کې به يو سړى دخپل پروردګار نه د کر (زراعت کولو) اجازت طلب کړي ④الله ﷻ به ورته فرمايي څه چې ته غواړې هغه موجود نه دي يعنى هرکله چې دلته د هرجنس هرهغه شى موجود دى چې د هغه تاته خواهش وي نو بيا د کر کروندي کولو څه ضرورت دى ⑤هغه سړى به عرض وکړي بيشکه دلته هرڅه موجود دي ليکن ځما خواهش دادى چې زه زميندارى کرکرونده وکړم حضور ﷺ وفرمايل بهرحال هغه سړي ته به د زميندارۍ کولو اجازت ورکول شي ⑥او هغه به په زمکه کې تخم وکړي او د سترګو رپ کې به سبزه زرغونه شي ⑦او هرکله چې فصل پخيدو سره وريبل شي او د غر برابر انبار ولګيږي

حل اللغات: - ① الْبَادِيَةِ: کلي، ځنګل، بانډه. ② الزَّرْعِ: زميندارى، کرونده. ③ فَبَذَرَ: أي رَمَى الْبَذْرَ فِي أَرْضِ الْجَنَّةِ: يعنى دجنت په زمکه به تخم اوکرى. ④ فَبَادَرَ الطَّرْفَ: أَيْ فَسَابَقَهُ: د سترګو په رپ کښې يعنى په لږ ساعت کښې به سبزه او شينکئ راوتوکيږى. ⑤ نَبَاتُهُ: زرغونه او سبزه. ⑥ اسْتِوَاؤُهُ: پوخوالى ته برابريدل. د فصل ريبلو حد ته رسيدل. ⑦ اسْتِحْصَادُهُ: ريبل او کټ کول د فصل (يعنى دا هرڅه به د سترګو په رپ کښې کيږى).

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب كراء الأرض بالذهب والفضة (رقم-۲۳۴۸) واحمد في المسند:۲/۵۱۱

[۱] فَيَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: دُونَكَ يَا ابْنَ آدَمَ [۲] فَإِنَّهُ لَا يُشْبِعُكَ شَيْءٌ". [۳] فَقَالَ الْأَعْرَابِيُّ: وَاللَّهِ لَا تَجِدُهُ إِلَّا قُرَشِيًّا أَوْ أَنْصَارِيًّا، فَإِنَّهُمْ أَصْحَابُ زَرْعٍ! [۴] وَأَمَّا نَحْنُ فَلَسْنَا بِأَصْحَابِ زَرْعٍ، فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] نو الله جل جلاله به هغه سړي ته فرمايي اې ابن آدم وګوره ستا خواهش پوره شو [۲] حقيقت دادی چې ستا د حرص خيټه هيڅ شی نشي ډکولی [۳] راوي وايي په دي حديث اوريدو سره هغه باندچي (کليوال) چې دحضور سره ناست وو هغه اوويل قسم په الله هغه سړی به يقيناً يا خو قريشي وي يا انصاري يعنی په جنت کې د کرکروندي کولو خواهش لرونکي سړی ياخوبه د مکي والو نه وي يا مديني والو نه څکه چې داخلق کرکرونده کوي [۴] او هر چې مونږ دصحرا خلق يو دی کرکرونده سره زمونږ هيڅ واسطه نشته مونږ جنګلونو کې اوښ بزه (چيلئ) څرولو سره او محنت مزدوري کولو سره پښي او کجوري باندې ګذاره کوو د دې څيزونو نه علاوه مونږ ته د بل شي خواهش نشته د هغه باندچي (کليوال) داخبره اوريدو سره حضور ﷺ وخندل (بخاري)

حل اللغات: -⑧ دُونَكَ: أَيْ خُذْ مَا تَمَنَّيْتَهُ: اوګوره. واخله څه چه ستا خواهش وو پوره شو (دا به ورته د توبيخ اوتنبيه دپاره اوفرمائی). ⑨ لَا يُشْبِعُكَ: ستا خيټه نه شی ډکولي.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ:

په جنت کښې د زميندارۍ د خواهش اظهار: دَ حديث الباب حاصل دادې چه په جنت کښې به دَ بې شميره نعمتونو باوجود انسان دَ زميندارئی خپل خواهش ښکاره کوی ددې نه معلومه شوه چه حرص او ترک قناعت دَ انسان په جبلت کښې داخل دې کوم چه به په جنت کښې دَ خوند په توګه اودَ نعمتونو د زياتوالی په صورت کښې باقی پاتې وی

[۵۶۵۴] په جنت کښې به خوب نه وي

۵۶۵۵ -( ) [۳۱] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] أَيَنَامُ أَهْلُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: "النَّوْمُ أَخُو الْمَوْتِ، [۳] وَلَا يَمُوتُ أَهْلُ الْجَنَّةِ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي يو سړی د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه [۲] آيا جنتيان به اوده کيږي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل خوب يعنی اوده کيدل د مرګ ورور دی [۳] او ښکاره ده چې جنتيان به نه مري او هرکله چې هغوئ نه مري نو اوده کيږي به هم نه دا روايت بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړی دی

( ) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۴۷۴۵

تسهيلات:

قوله وَلَا يَمُوتُ أَهْلُ الْجَنَّةِ

په جنت کښې د خوب نشتوالې، هرکله چه جنتيان به په جنت کښې مری نه نو هغوی به په جنت کښې خوب هم نه کوی دا جواب دَ دليل برهانی په توګه ورکړې شوې دې کوم چه ذهن ته ښه پريوځی که چرې اجمالی جواب ئی ورکړې وې نو هغه به ذهن ته ښه نه پريوتلو

[۶] بَابُ رُؤْيَةِ اللّٰهِ تَعَالیٰ]

د ديدارالهي بيان

خلاصة الباب:

فيه تسعة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① إثبات رؤية الله تعالى بالمثال: ۱، ۴۔

② إثبات الرؤية بكتاب الله تعالى: ۲، ۳، ۸۔

③ عظمة رؤية الله تعالى: ۳، ۴، ۹۔

④ رؤية الله تعالى في الدنيا نفياً وإثباتاً: ۵، ۶، ۷، ۸۔

د الله تعالي د ليدو په امکان اوعدم امکان کښې دوه مذاهب:

① د اهل اهواء، خوارج اومعتزله دا عقيده ده چه په قيامت او عالم آخرت کښې څوک دَالله تعالی ديدارنشی کولې

② دَ اهل سنت والجماعت متفقه عقيده ده چه په قيامت او عالم آخرت کښې به مؤمنان دَالله تعالی ديدارکوی اودا نه شرعًا محال دی اونه عقلاً محال دی. لهذا بلاوجه دَالله تعالی دَ ديدارنه انکارمکابره اومجادله ده.

په رؤيت باری تعالی باندې اشکال، که چرته څوك دا سوال اوکری چه دَ انسانی سترګې دَپاره ضروری دی چه دَ ليدونکی څيز وجود وی چه په هغې باندې نظراونخلی. اوداهم ضروری دی چه دَ ليدونکی څيز دَپاره جهت اوطرف وی چه سترګې دَهغې دَپاره متوجه شی اوداهم ضروری دی چه هغه ليدونکی څيز په يوخاص مقام اومکان باندې موجودوی دې دَپاره چه هغه په نظرکښې راګيرکړې شی اودا ټول څيزونه دَالله تعالی دَ الوهيت اوقديمی صفت منافی دی. لهذا ديدارالهی ممکن نه دې

د اشکال جواب؛ الله تعالی قادرمطلق ذات دې دَهغه دَپاره داهيڅ ګران نه دی چه هغه دَ سر دَ دې موجوده سترګو په بصارت کښې داسې بصارت پيداکری لکه څنګه بصيرت

چه الله تعالى په زړه کښې دننه پيدا کړې دې. بيا دَ سترګو هم دَ دغه بصيرت په وجه دا انسان دَ جسماني وجود نه بغير بل دَ مکان او جهت دَ تعين نه بغير هم په دې سترګو سره دَ يو څيز پيژندګلو کوی نو په دې کښې استحاله نشته دې

داول فريق اول دليل: ① معتزله او خوارج په رؤيت باری تعالى باندې دَ قرآن کريم دَدې آيت نه استدلال کوی ﴿لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ﴾ دَهغوی په نيزدَدې آيت تعلق دنيا او آخرت دواړو سره دې لهذا په قيامت کښې به هم ديدارنه وی.

د اول فريق داول دليل درې جوابونه: ① په مذکوره آيت کښې احاطه دَنفی ده چه په الله تعالى باندې دَ نظر احاطه نه شی کيدې. کتل خو بل څيزدې او احاطه او ادراك بل څيزدې

② په مذکوره آيت کې دَ ديدار دَنفی تعلق دنيا سره دې چه په دنياکې داسې نه شی کيدې

③ په ﴿لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ﴾ والا دَنفی آيت کښې دَ څو احتمالاتو ګنجائش شته خو دَ ديدار دَ اثبات آيت ﴿إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ صريح دې په دې کښې احتمالات نشته دې

داول فريق دويم عقلی دليل: ② معتزله او خوارج عقل هم په خپل استدلال کښې استعمالوی وائی چه دَسترګو په وړاندې دَ وجود موجود کيدل ضروری دی او الله تعالى دَ بدن او بدنی حوادثاتو نه پاك دې په دې وجه دَهغه ليدل محال دی.

داول فريق د عقلی دليل جواب: دَ رؤيت دَپاره که جسامت ضروری دې نو کيدې شی چه دا دَ دنيا دَ بصارت دَپاره وی. دَآخرت په بصارت کښې به يو نوې قوت راځی بل دَ رؤيت دَپاره جهت او طرف ضروری څيزنه دې. دَهرطرف نه هم رؤيت کيدې شی لکه څنګه چه علم دَ هر جهت نه راځی دَدې دَپاره دَ هيڅ جهت ضرورت نشته دې. دَ هرطرف نه علم راځی دغه شان کله چه الله تعالى چاته ګوری نو دَهغې دَپاره هم دَ جهت کيدل ضروری نه دی لهذا داعقلی تصور صحيح نه دې چه دَالله تعالى دَ ديدار دَ پاره جهت او مکان کيدل ضروری دی

د دويم فريق دلائل: ① اهل سنت والجماعت دَ الله تعالى دَ ديدار په اثبات کښې دَ قرآن کريم آيت ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ ۝ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ په توګه دَ استدلال پيش کوی

② دَ قرآن کريم دَاآيت هم د دوی مستدل دې ﴿لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ﴾ يعنی کوموخلقو چه نيك کارونه کړی دی دَهغوی دَپاره حسنٰی يعنی جنت هم دې او څه زيات هم دی دا زيات هم دَالله تعالى ديداردې

③ اهل سنت دَدې آيت نه هم استدلال کوی ﴿كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ﴾ طرزدَ استدلال داسې دې چه کافران به دَ ديدارنه دَ سزا په توګه منع کړې شی لهذا مؤمنانو ته به دا سزا نه وی بلکه ديدار به وی.

④ عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ عِيَانًا» ".(١)

⑤ عَنْ صُهَيْبٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " «إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ؟ فَيَقُولُونَ: أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا؟ أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ؟

قَالَ: " فَيُرْفَعُ الْحِجَابُ، فَيَنْظُرُونَ إِلَى وَجْهِ اللهِ، فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ " ثُمَّ تَلَا ((لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ)) [يونس:٢٦]»(٢)

دَرؤيت باري تعالى قسمونه اومقامات: ① دَحساب كتاب په وخت به دَالله تعالى يو عام ديدار كيږي كوم چه به په ميدان محشر كښې وي. په دې كښې به ټول مخلوقات شامل وى كه هغه مسلمان وى او كه غير مسلمان، دَنفى تعلق دغه ديدار سره نه دې. بيا به هيڅ كله ديدار نه كيږي. دَنفى تعلق دَميدان محشر نه پس ديدار سره كيدې شى.

② دويم ديدار به په جنت كښې كيږي دا مسلمانانو سره خاص دې چه يو ځل نه بلكه باربار به كيږي. دَدې ثبوت په قرآن اوحديث كښې دې. دغه شان راجح قول دادې چه جنتي ښځې به هم دَالله تعالى په ديدار كښې شامل وى. هم دغه شان دَ راجح قول مطابق فرښتې او جنات به هم په جنت كښې دَ الله تعالى دَ ديدارنه خوند اخلى. په دنيا كښې دَالله تعالى ديدار سره دَدې چه ممكن دې مگرغيرواقع دې. كوم سړې چه په دنيا كښې دَالله تعالى دديدار دعوى كوى هغه به گمراه شى.

په شب معراج كښې دالله تعالى په رؤيت كښې مذاهب:

① دحضرت عائشه صديقه حضرت ابن مسعود اوحضرت ابو هريره رضي الله عنهم رائې داده چې د معراج به شپه نبى عليه السلام ته د الله تعالى ديدار نه وو شوې.

② دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما حضرت انس رضي الله عنه او دَ جمهور صحابه كرامو دارائې ده چه ديدار سوې وو اوهم دغه راجح دى. دَ حضرت ابو ذرغفارى رضي الله عنه نه دَ ديدار نفى او اثبات دواړه نقل دى

③ دعلامه طيبى رحمه الله په نيز توقف بهتر دې

---

(١) اخرجه البخاري فى كتاب التوحيد/باب قول الله تعالى: {وجوه يومئذ ناضرة إلى ربها ناظرة} [القيامة: ٢٣] (رقم-٧٤٣٥) ومسلم فى كتاب المساجد/باب فضل صلاتى الصبح والعصر. والمحافظة عليهما (رقم-٢١١ - (٦٣٣) والترمذى فى كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى رؤية الرب تبارك وتعالى (رقم-٢٥٥١) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فيما أنكرت الجهمية (رقم-١٧٧) واحمد فى المسند:١٦/٣

(٢) اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب إثبات رؤية المؤمنين فى الآخرة ربهم سبحانه وتعالى (رقم-٢٩٧ - (١٨١) والترمذى فى كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى رؤية الرب تبارك وتعالى (رقم-٢٥٥٢) واحمد فى المسند:١٥/٦

د رؤيت دليل: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- «+مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأٰى - وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً أُخْرٰى_[النجم: ۱۱-۱۳] قَالَ: رَآهُ بِفُؤَادِهِ مَرَّتَيْنِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ قَالَ: «رَأٰى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ، قَالَ عِكْرِمَةُ: قُلْتُ: أَلَيْسَ اللّٰهُ يَقُوْلُ: لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ_[الأنعام: ۱۰۳] قَالَ: وَيْحَكَ! ذَاكَ إِذَا تَجَلّٰى بِنُوْرِهِ الَّذِي هُوَ نُوْرُهُ، وَقَدْ رَأٰى رَبَّهُ مَرَّتَيْنِ.»([1])

يعنى حضرت ابن عباس ﷺ د الله ﷻ د دې ارشاد مَاكَذَبَ الْفُؤَادُ مَارَاٰى وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى او د محمد زړه غلط ونه وئيل د هغه شي بابت کې چې هغوئ په خپلو سترګو سره اوليدلو يعنى ذات اقدس تعالى او حقيقت دادى چې هغوئ پروردګار يووار بل وليدې د دې په تفسير کې وايي چې حضور ﷺ پروردګار د خپل زړه په سترګو سره دوه ځله اوليدلو (مسلم) او د ترمذي روايت کې داسې دي چې حضرت ابن عباس ﷺ د مذکوره آيت تفسير کې اوويل چې محمد ﷺ خپل پروردګار اوليدلو حضرت عکرمه ﷺ وايي ما دې خبرې اوريدو سره خپل اشکال ظاهر کى او حضرت ابن عباس ﷺ ته مې اوويل چې قرآن کريم کې د خپل ذات په باره کې الله ﷻ فرمايلي دي. لَاتُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ وَهُوَيُدْرِكُ الْاَبْصَارَ بيا تاسو څرنګه وايئ چې حضور ﷺ الله ﷻ ليدلى دى حضرت ابن عباس ﷺ د حضرت عکرمه ﷺ د دې اشکال په جواب کې اوويل په تا افسوس دى چې ته په خبره پوه نه شوې حقيقت دادى چې دا مفهوم چې تا د دې آيت په ذريعه پيش کړى دى هغه وخت د پاره دى هرکله چې الله ﷻ خپله تجلي ښکاره کړي او خپل هغه نور سره ښکاره شي کوم چې د هغه د ذات خاص نور دى او په دې کې څه شک نشته چې حضور ﷺ خپل پروردګار دوه ځله اوليدلو.

د عدم رؤيت دليل: عَنْ أَبِي ذَرٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ؟ قَالَ: "نُوْرٌ أَنّٰى أَرَاهُ»"([2]) يعنى هغه خو يوه تجلى ده زه هغه چرته ليدلې شم؟

د تجلياتو الهى دوه قسمونه: ① تجليات "قاهرة للبصر" يعنى هغه تجليات چې د هغې په موجودګئ کښې سرې د الله تعالى ديدارنشى کولې

② تجليات "غيرقاهرة للبصر" يعنى هغه تجليات چې د هغې په موجودګئ کښې سرې د الله تعالى ديدارنشى کولې

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب فى قوله عليه السلام: «نور أنى أراه» . وفى قوله: «رأيت نوراً» (رقم-۲۹۱ - ۱۷۸)والترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة والنجم (رقم-۳۲۷۹)

[2]) اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب فى قوله عليه السلام: «نور أنى أراه» . وفى قوله: «رأيت نوراً» (رقم-۲۹۱ - ۱۷۸) والترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة والنجم (رقم-۳۲۸۲)

د رؤیت او عدم رؤیت په دلائلو کښې تطبیق: په دې دواړه قسمه روایاتو کښې تطبیق په تقسیم سره کیدې شی د کوم ذکر چې مونږ په اول کښې اوکړل چې دعدم رؤیت تعلق دهغه تجلیاتو سره دې چې ،،قاهرةللبصر،، وی او د ثبوت رؤیت تعلق دهغه تجلیاتو سره دې چې غیرقاهرةللبصر وی.

نوحضرت عائشه رضي الله عنها په معراج کښې دَ دیدارکوم انکارکړې دې نوهغه دَالله تعالی دَ ذات دیدار اودَهغه خاص تجلیاتو انکاردې دَ کومې طرف ته چه په یوحدیث کښې داسې اشاره کړې شوې ده.

اود حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه چې دَ کوم دیدار اثبات کړې دې هغه جدا انوارات او تجلیات دی دکوم ثبوت چې په دې حدیث کښې دې.

د خوب په حالت کښې د نبی علیه السلام دیدار: حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله اوفرمائیل چه ماپه خوب کښې سل ځل دَالله تعالی دیدارکړې دې. دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله متعلق هم داسې وئیلی شی چه هغوی فرمائی ما الله تعالی په خوب کښې اولیدلو نوما تپوس اوکړو چه کوم یوعمل ستاسو دَتولونه ډیرخوښ دې. الله تعالی اوفرمائیل چه دَ قرآن تلاوت. امام صاحب رحمه الله پوښتنه اوکړه چه معانی اومطلب پوهیدلوسره یا دَدې نه بغیر؟ وئی فرمائیل که په معنی پوهیدلوسره وی اوکه دَدې نه بغیروی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۶۵۵]کولاؤ سترګوسره د الله جل جلاله دیدارکول

۵۶۵۵-([1])[۱] ۱عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲" «إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ عِيَانًا» ". ۳وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: «كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ

ترجمه: ۱او حضرت جریر بن عبد الله رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ۲هغه وخت راتلونکی دی چې په قیامت کې به تاسو خپل پروردګار خپلو کولاؤ سترګو سره وویني ۳په یوه روایت کې حضرت جریر دا بیان وکړو چې یوه ورځ مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو چې حضور صلی الله علیه وسلم د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ته وکتل

حل اللغات:- ① عِيَانًا: أَيْ جِهَارًا: بالکل ښکاره، أی رَفْعُ الْحِجَابِ بَيْنَ الرَّائِي وَالْمَرْئِيِّ: چه د رائی او مرئی په مینځ کښې هیڅ پرده اوحجاب نه وی.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب التوحید/باب قول الله تعالی: {وجوه يومئذ ناضرة إلى ربها ناظرة} [القيامة: ۲۳] (رقم-۷۴۳۵) ومسلم فی کتاب المساجد/باب فضل صلاتی الصبح والعصر. والمحافظة عليهما (رقم-۲۱۱ - (۶۳۳) والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی رؤية الرب تبارک وتعالی (رقم-۲۵۵۱) وابن ماجه فی کتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فيما أنكرت الجهمية (رقم-۱۷۷) واحمد فی المسند:۱۶/۳

١ فَقَالَ: "إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ لَا تُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ، ٢ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا ٣" ثُمَّ قَرَأَ: ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا﴾ [طه: ١٣٠]». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او وې فرمايل تاسو به خپل پروردګار داسې وويني څرنګه چې دا سپوږمۍ وينئ او د سپوږمۍ په ليدو کې به تاسو څه بنديز او پريشاني نه محسوسوئ ٢ که تاسو کولی شي نو تاسو هغه مونځ چې د نمر راختو نه مخکې دی يعنی د سهار مونځ او هغه مونځ چې د نمر غرقيدو نه مخکې دی يعنی د مازيګر مونځ مه پريږدئ او ضرور دا کوئ ٣ بيا حضور ﷺ دا آيت تلاوت کې: وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا او د خپل پروردګار حمد او پاکي بيانوئ يعنی مونځ کوئ د نمر ختو نه مخکې او د نمر غرق يدو نه مخکې. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① لَا تُضَامُونَ: لَا تَشُكُّونَ: تاسو هيڅ شک نه کوئ (د څوارلسمې شپې په سپوږمۍ ليدلو کښې). ② لَا تُغْلَبُوا: أَيْ لَا تَصِيرُوا مَغْلُوبِينَ: که تاسو مغلوبه او کمزوری کيږئ نه يعنی که ستاسو نه کيدې شي.

تسهيلات:

قوله: إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ لَا تُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ:

دتضامون په اعراب کښې دوه احتمالات: ① د تاء په ضمې سره نقل دې او هم دغه زيات مشهور دې. په دې صورت کښې به معنی دا وی چه د پروردګار په ديدار کښې به په تاسو ظلم نه کيږی چه څوك دې ګوری او څوك به محروم پاتې وی. يا د هغه په ديدارکښې به تاسو په يو بل باندې زياتې اوکړئی چه د يو بل د کتو نه انکاراوکړئی او يو بل دروغ ګنړئی لکه څنګه چه د سپوږمئی په اوله شپه وی

② د تاء په فتحې سره هم نقل کړې شوې دې په دې صورت کښې به معنی دا شی چه د الله تعالی د ديدار په وخت به د هيڅ قسم ګنړې ګونړې سره نه مخ کيږی بلکه هر سړې به په خپل خپل ځائې پاتې کيدو سره ډير په تسلئې او سکون د الله تعالی ديدار کوی.

قوله: فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا:

دسحر او مازيګر د مونځونو اهميت: دلته د فاء څخه معلوميږی چې د دې دواړو مونځود الله تعالی د ديدار په حاصلولوکښې خاص اثردې يعنی که تاسوطاقت لرئ يعنی کوشش کوئ چې دا دواړه مونځونه په پابندۍ سره کوئ نود الله تعالی ديدار به درته حاصل شي.

د سحر او مابنام د مونځونو دتخصيص وجه: د سحر او مازيګر مونځونه ځکه خاص کړې شو چه د سحر د مونځ وخت د آرام او استراحت وی اود مازيګر د مونځ په وخت کښې د کار

روزګار د راغونډولو وخت وی په دې وجه د دې دواړو مونځونو د فوت کيدو انديښنه وی او ودې په اداکولو کښې مشقت او مجاهده ده په دې وجه ئې د دې دواړو مونځونو تخصيص اوکړو

[۵۶۵۶] ديدار الٰهي د ټولو نه لوی نعمت دی

۵۶۵۶-()[۲] [۱]وَعَنْ صُهَيْبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲]قَالَ: "«إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ [۳]يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ؟ [۴]فَيَقُولُونَ: أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا؟ [۵]أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ؟

ترجمه: [۱]او حضرت صهيب رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي [۲]حضور ﷺ وفرمايل هرکله چې ټول جنتيان په جنت کې خپل خپل ځاي ته ورشي [۳]نو الله تعالیٰ به وفرمايي څه چې تاسو ته عطا شوي دي د هغه نه زيات څه نور تاسو زما نه غواړئ [۴]په دې اوريدو سره به جنتيان عرض وکړي اې زمونږ پروردګاره! آيا تا زمونږ مخونه روښانه او منور کړي نه دي [۵]آيا تا مونږ په جنت کې داخل کړي نه يو آيا تا مونږ ته د دوزخ د اور نه نجات خلاصون نه دی راکړی دومره لويو نعمتونو نه زيات بل کوم نعمت کيدی شي چې مونږ دې ستا نه مزيد وغواړو

[۱]قَالَ: "فَيُرْفَعُ الْحِجَابُ، فَيَنْظُرُونَ إِلَى وَجْهِ اللَّهِ، [۲]فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ [۳]" ثُمَّ تَلَا: ﴿لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ﴾ [يونس: ۲۶] » رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]حضور ﷺ وفرمايل بيا به حجاب پرده پورته شي او جنتيان به ذات اقدس تعالیٰ طرف ته وګوري چې د صورت او جسم او جهت او مقام د قيود او شرائطو نه پاک او منزه دی [۲]او هغه وخت به معلومه شي چې جنتيانو ته داسې هيڅ نعمت عطای شوی نه دی چې پروردګار طرف ته د هغه د ليدو نه زيات ښه او خوښ (غوريز) وي [۳]بيا حضور ﷺ دا آيت اوتيلو للذين احسنوا الحسنیٰ وزيادة کومو خلقو چې ښه کارونه کړي دي د هغوئ جزاء هم ښه ده يعنی جنت او د هغه نه زيات يعنی د خصوصي انعام په طور ديدار الٰهي به هغوئ ته نصيب وي (مسلم)

حل اللغات:- ① الْحِجَابُ: پرده (نوراني جلوې دی چه دخلقو د نظرونو دمخې نه به لرې شی) ② الْحُسْنَى: أي الْمَثُوبَةُ الْحُسْنَى: ښائسته ثواب او بدله يعنی جنت ③ زِيَادَةٌ: زياتی ثواب چه هغه د الله تعالی ديدار دي

---

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الإيمان/باب إثبات رؤية المؤمنين فی الآخرة ربهم سبحانه وتعالی (رقم-۲۹۷ - (۱۸۱) والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی رؤية الرب تبارک وتعالی (رقم-۲۵۵۲) واحمد فی المسند: ۱۵/۶

تسهیلات:

قوله: فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ:

په جنتی نعمتونو کښې د دیدار الهی عظمت: کوم وخت جنتیانو ته ټول نعمتونه ورکړې شي او د الله تعالی په فرمائیلو سره چه تاسو بل څه نعمت غواړئی نو جنتیان به سوچ کوی چه اوس لا کوم نعمت باقی پاتې دې چه زمونږ د اعمالو د اصل بدلې او جزاء نه زیات دې بیا چه کله الله تعالی پرې خپل دیدار اوکړی نو ورته به اوفرمائی چه گورئی دا هغه لوئی نعمت دې کوم چه ما تاسو ته درکول غوښتل اودا نعمت ستاسو د عمل او اصل بدلې اوجزاء نه زیات دې د الله تعالی دیدار د ټولو نعمتونو نه زیات دې او په دې به جنتیان هم پوهه شی څکه لکه څنگه چه په دنیا کښې حاصلیدونکی ټول ذاتی او روحانی مراتب او د درجو اوچتوالې او لوئی والې د الله تعالی په ذات باندې ختمیږی دغه شان په آخرت کښې حاصلیدونکو د ټولو نعمتونو او سعادتونو په انتهاء کښې به د الله تعالی دیدار وی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۶۵۷] د جنتیانو مرتبې

٥٦٥٧-()[٣] ١ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً لَمَنْ يَنْظُرُ إِلَى جِنَانِهِ وَأَزْوَاجِهِ وَنَعِيمِهِ وَخَدَمِهِ وَسُرُرِهِ ٣ مَسِيرَةَ أَلْفِ سَنَةٍ، ٤ وَأَكْرَمُهُمْ عَلَى اللّٰهِ مَنْ يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهِ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً ٥» ثُمَّ قَرَأَ ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ [القيامة: ٢٢]». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ په جنتیانو کې د قدر او مرتبې د اعتبار نه ادنی سړی به هغه وي چې خپل باغات خپلو ښځو خپلو نعمتونو خپلو خدمتگارو اود خپلې ناستې استراحت کولو تخت او کرسۍ باندې به نظر لري ٣ چې د یو زر کال مسافت په قدر رقبه کې به خواره وي یعنی د جنت لامحدود وسعت کې هغه ادنی سړی به هم دومره نوازلی شي چې د هغه د ملکیت او تسلط څیزونه به د یوهزار کاله مسافت په قدر وسیع رقبه کې خواره وي او هغه به خپل څیزونو ته کتلو کتلو سره خوشحالیږي ٤ او د الله ﷻ په نز دد لویې مرتبې او قدر سړی به هغه وي چې سهار او مابنام د خپل پروردگار د ذات اقدس د دیدار سعادت حاصلوي ٥ بیا حضور ﷺ دا آیت تلاوت کې وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ډیر مخونه به په هغه ورځ تروتازه او خوشحاله وي د خپل پروردگار دیدار کونکي به وي (ترمذي)

[١] اخرجه احمد فی السنن ٢/٦٤ والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب منه (رقم-٢٥٥٣)

حل اللغات:- ① مَنْزِلَةً: درجه، مرتبه، ② جِنَانِهِ: أَيْ بَسَاتِيْنِهِ: باغونه، ③ نَعِيْمِهِ: نعمتونه او عيش وعشرت، ④ سُرُرِهِ: تختونه (د استراحت او آرام كولو د عيش وعشرت تختونه او كرسئ به وي، ⑤ غُدْوَةً: أَيْ صَبَاحًا: سحر، ⑥ عَشِيَّةً: أَيْ مَسَاءً: مابنام، ⑦ نَاضِرَةٌ: أَيْ نَاعِمَةٌ: تر وتازه او خوشحاله به وي (يعنى دنعمتونو او دعيش وعشرت دخوشحالئ آثار به پرې ښكارى)، ⑧ نَاظِرَةٌ: ديدار كونكى به وى د الله تعالى

تسهيلات:

قوله وَأَكْرَمُهُمْ عَلَى اللهِ مَنْ يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهِ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً:

دالله تعالى ديدار د مرتبو په اعتبار: په جنت كښې به دَ الله تعالى ديدار دَ مرتبو په اندازه وى چاته به په هفته كښې يو ځل، چاته روزانه سحر مابنام، په دې وجه اووئيلې شو چه دَ مازيگر اوسحر په مونځونو كښې دې دوام اختياركړې شى دې دَپاره چه دَ الله تعالى ديدار هره ورځ نصيب شى. يا دَ دې يو مطلب داهم كيدې شى چه دَ الله تعالى په ديدار باندې سحر مابنام مشرف كيدونكې به دَ لوئى مرتبې والا كس وى

[۵۶۵۸] ديدار الهي كښې به د هيڅ قسم مزاحمت خند نه وي

۵۶۵۸-()[۳] ①وَعَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قُلْتُ: «يَا رَسُولَ اللهِ! ②أَكُلُّنَا يَرَى رَبَّهُ مُخْلِيًا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ ③قَالَ: "بَلَى". ④قَالَ: قُلْتُ: وَمَا آيَةُ ذَلِكَ فِي خَلْقِهِ؟ ⑤قَالَ: "يَا أَبَا رَزِينٍ، أَلَيْسَ كُلُّكُمْ يَرَى الْقَمَرَ لَيْلَةَ بَدْرٍ مُخْلِيًا بِهِ؟" قَالَ: بَلَى. ⑥قَالَ: "فَإِنَّمَا هُوَ خَلْقٌ مِنْ خَلْقِ اللهِ، وَاللهُ أَجَلُّ وَأَعْظَمُ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①و حضرت ابو رزين عقيلي رضي الله عنه وايي ما عرض وكړو يارسول الله ② آيا د قيامت په ورځ به په مونږ كې هرسړى بلا مزاحمت غير ځان له خپل پروردګار وينې ③حضور ﷺ وفرمايل هو ④ ابورزين رضي الله عنه وايي ما بيا ځني پوښتنه وكړه آيا د پروردګار د ديدار دنياوي مخلوق كې څه مثال شته؟ ⑤حضور ﷺ وفرمايل اې ابو رزين آيا تاسو كې هرسړى په څوارلسمه شپه كې سپوږمۍ بلا مزاحمت غير تنها نه وينې؟ ما عرض وكړو بيشكه وينى يې ⑥نو حضور ﷺ وفرمايل سپوږمۍ خو دي نه علاوه نور هيڅ نه ده چې هغه د پروردګار د مخلوق نه يو مخلوق دى او پروردګار ډير بزرګ او برتر دى يعنى هركله چې سپوږمۍ چې د پروردګار يو مخلوق دى هر سړى يې بلا مزاحمت بغير څه تكليف او ركاوټ ليدى شى نو هركله چې بزرګ او برتر الله جل جلاله په چا خپل ديدار كول غواړي نو هغه به هرسړى بلامزاحمت او ركاوټ ولي نشي ليدى (ابوداؤد)

[1] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب السنة/باب فى الرؤية (رقم-۴۷۳۱) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فيما أنكرت الجهمية (رقم-۱۸۰)

حل اللغات:- ① مُخْلِيًا : أَيْ خَالِيًا بِرَبِّهٖ: د تخليه نه دي يعني دخپل رب په ديدار کولو کښې به ورته هيڅ څيز مخې ته حائل او مزاحم نه وي بالکل صفا به ورته خپل رب ښکاري چه هيڅ شک به ئې پکښې نه وي ② أَجَلّ : أَيْ أَكْمَلُ مَرْتَبَةً: ډيرې لوئې مرتبې والا ، لوئې شان والا.

تسهيلات:

قوله: أَلَيْسَ كُلُّكُمْ يَرَى الْقَمَرَ لَيْلَةَ بَدْرٍ مُخْلِيًا بِهٖ

دالله تعالى په ديدار کښې عدم مزاحمت: يعنی دَدې ديدار مثال دَ نمر او سپوږمئی ليدل دی کله چه دا دواړه دَالله تعالى په مخلوقاتو کښې مخلوق دې او تاسو بې دَتکلف نه او بغيردَ مزاحمت نه په آسانئی سره دې ته کتلې شئی نو الله تعالى خو رب العالمين دې ډير لوئی دې دَهغه په ديدارکښې څه تکليف اوڅه مزاحمت کيدې شی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۶۵۹] په شپه د معراج کې د حضور ﷺ ديدار الٰهي

۵۶۵۹-( )[۵] عَنْ أَبِي ذَرٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ؟ ۳ قَالَ: "نُورٌ أَنّٰى أَرَاهُ"» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوذر رضی الله عنه وايي ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه ۲ آيا تاسو په شپ معراج کې خپل پروردګار ليدلی دی؟ ۳ حضور ﷺ وفرمايل پروردګار خو يونور دی زه هغه څرنګه ليدی سم. (مسلم)

حل اللغات:- ① نُورٌ: وَهُوَ الَّذِي ظَاهِرٌ بِنَفْسِهٖ، وَمُظْهِرٌ لِغَيْرِهٖ: رڼا چه په خپله هم روښانه وي او نور څيزونه ئې هم روښانه کړې وی ② أَنّٰى : أَيْ كَيْفَ: څرنګه؟ ③ أَرَاهُ: أَيْ أُبْصِرُهُ: ليدلې ئې شم.

تسهيلات:

قوله: نُورٌ أَنّٰى أَرَاهُ:

په مذکوره جمله کښې درې احتمالات: ① که چرې أَنّٰى اراه شی نودابه دَديدار دَ يوقسم نفی شی چه ذات اوتجليات يوخاص قسم به مراد وی
② که چرې إِنّي اراه شی نوبيابه دادَ يوبل قسم دَ تجلی اثبات شی
③ که چرې نُوْرَانِيٌّ أَرَاهُ شی نوبيابه هم اثبات کيږی ديداربه ثابت شی.

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الإيمان/باب فی قوله عليه السلام: «نور أنى أراه» . وفی قوله: «رأيت نوراً» (رقم-۲۹۱ - (۱۷۸) والترمذی فی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب: ومن سورة والنجم (رقم-۳۲۸۲)

[۵۶۶۰] حضور ﷺ ته دیدار الٰهي سره متعلق د یو آیت تفسیر

۵۶۶۰ - ()[۲] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - «﴿مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى - وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى﴾ [النجم: ۱۱-۱۳] ② قَالَ: رَآهُ بِفُؤَادِهِ مَرَّتَيْنِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس ﷺ د الله ﷻ د دي ارشاد مَاكَذَبَ الْفُؤَادُ مَارَاٰى وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ② او د محمد زړه غلط ونه وئیل د هغه شي بابت کې چې هغوئ په خپلو سترګو سره اولیدلو یعنی ذات اقدس تعالی او حقیقت دادی چې هغوئ پروردګار یووار بل ولیدي د دې په تفسیر کې وایي چې حضور ﷺ پروردګار د خپل زړه په سترګو سره دوه خله اولیدلو (مسلم)

③ وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ قَالَ: «رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ» ④ قَالَ عِكْرِمَةُ: قُلْتُ: أَلَيْسَ اللّٰهُ يَقُولُ: ﴿لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ﴾ [الأنعام: ۱۰۳] ⑤ قَالَ: وَيْحَكَ! ذَاكَ إِذَا تَجَلَّى بِنُورِهِ الَّذِي هُوَ نُورُهُ، ⑥ وَقَدْ رَأَى رَبَّهُ مَرَّتَيْنِ.»

ترجمه: ③ او د ترمذي روایت کې داسې دي چې حضرت ابن عباس ﷺ د مذکوره آیت تفسیر کې اوویل چې محمد ﷺ خپل پروردګار اولیدلو ④ حضرت عکرمه ﷺ وایي ما دي خبري اورید وسره خپل اشکال ظاهر کی او حضرت ابن عباس ﷺ ته مې اوویل چې قرآن کریم کې د خپل ذات په باره کې الله ﷻ فرمایلي دي لَاتُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ بیا تاسو څرنګه وایئ چې حضور ﷺ الله ﷻ لیدلی دی ⑤ حضرت ابن عباس ﷺ د حضرت عکرمه ﷺ د دې اشکال په جواب کې اوویل په تا افسوس دی چې ته په خبره پوه نه شوې حقیقت دادی چې دا مفهوم چې تا د دې آیت په ذریعه پیش کړی دی هغه وخت د پاره دی هرکله چې الله ﷻ خپله تجلي ښکاره کړي او خپل هغه نور سره ښکاره شي کوم چې د هغه د ذات خاص نور دی ⑥ او په دې کې څه شک نشته چې حضور ﷺ خپل پروردګار دوه خله اولیدلو

حل اللغات: - ① اَلْفُؤَادُ: زړه. ② نَزْلَةً اُخْرٰى: دوباره ③ وَيْحَكَ: دا کلمه د زجر ده. د افسوس په طور د رحم د پاره استعمالیږی یعنی افسوس دې په تا باندې (چه ته په خبره پوهه نه شوې). ④ تَجَلّٰى: ښکاره ئې کړل انوارات خپل

تسهیلات:

قوله: رَآهُ بِفُؤَادِهِ مَرَّتَيْنِ:

په زړه سره د دیدار کولو مفهوم: یعنی په زړه سره ئې دیدار او کړو او دوه ځل ئې او کړو

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الایمان/باب فی قوله علیه السلام: «نور انی اراه» . وفی قوله: «رأیت نورا» (رقم-۲۹۱-(۱۷۸) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة والنجم (رقم-۳۲۷۹)

يو ځل سدرة المنتهٰی سره او دويم ځل عرش عظيم سره
په زړه سره دَ ديدار کولو مطلب دادې چه الله تعالى دَحضورپاك په زړه کښې دننه دکتلو هغه طاقت پيدا کړو کوم چه په سترګو کښې پيدا کړي وو نودَ زړه په سترګو حضورپاك الله تعالى اوليدلو علم اوتصور مراد نه دې کتل مراد دی. دَ سورت نجم په آياتونو کښې نور د الله تعالى د ديدار په امکان اوعدم امکان کښې دتفصيل د دې باب په اول کښې ذکرشوي دې.

[٥٦٦١]آيا حضور ﷺ په شب معراج کې الله ﷻ ليدلی وو

٥٦٦١-(١) [٧] ①وَعَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: «لَقِيَ ابْنُ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - كَعْبًا بِعَرَفَةَ، ②فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ، فَكَبَّرَ حَتَّى جَاوَبَتْهُ الْجِبَالُ. ③فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: إِنَّا بَنُو هَاشِمٍ ④فَقَالَ كَعْبٌ: إِنَّ اللّٰهَ قَسَمَ رُؤْيَتَهُ وَكَلَامَهُ بَيْنَ مُحَمَّدٍ وَمُوسَى، ⑤فَكَلَّمَ مُوسَى مَرَّتَيْنِ، وَرَآهُ مُحَمَّدٌ مَرَّتَيْنِ

ترجمه: ①او حضرت شعبي رحمه الله وايي د عرفي په ورځ په ميدان عرفات کې حضرت ابن عباس رضي الله عنه حضرت کعب احبار رضي الله عنه سره ملاقات وکی ②او هغه نه يي پوښتنه وکړه چې آيا په دنيا کې د حق تعالى ديدار ممکن دی؟ حضرت کعب رضي الله عنه دا پوښتنه دومره عجيب او غريب وګڼله چې د ډيري حيرانتيا نه هغه د الله اکبر نعره ووهله او د هغه د دې زور داري نعري دبازګشت نه غرونه وکړنګيدل ③حضرت ابن عباس رضي الله عنه ورته او ويل مونږ د هاشم اولاد يو ④حضرت کعب رضي الله عنه ورته او ويل ښه ستا د پوښتني مقصد اوس ځما پوهه کې راغي نو واوره؛ الله ﷻ خپل ديدار او خپل کلام د حضرت محمد ﷺ او حضرت موسٰی عليه السلام په منځ کې تقسيم کی يعني يو يي خپل کلام سره مشرف کی او يوه ته يي د خپل ديدار سعادت ورکړي ⑤نو الله ﷻ دوه ځله دموسٰی عليه السلام سره کلام وکی يووار خو وادي ايمن کې او دويم ځل کوه طور باندې او حضرت محمد ﷺ شب معراج کې دوه ځله الله ﷻ اوليدلو

①قَالَ مَسْرُوقٌ: فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ، ②فَقُلْتُ: رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ؟ ③فَقَالَتْ: لَقَدْ تَكَلَّمْتَ بِشَيْءٍ. قَفَّ لَهُ شَعْرِي، ④قُلْتُ: رُوَيْدًا، ثُمَّ قَرَأْتُ: ﴿لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى﴾ [النجم: ١٨] ⑤فَقَالَتْ: أَيْنَ تَذْهَبُ بِكَ؟ ⑥إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ. ⑦مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ أَوْ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُمِرَ بِهِ ⑧أَوْ يَعْلَمُ الْخَمْسَ الَّتِي قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾ [لقمان: ٣٤] ⑨فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ،

ترجمه: ①حضرت مسروق رحمه الله چې د حديث راوي دی او هغه نه حضرت شعبي رحمه الله دا روايت نقل کوي وايي چې د عرفات ميدان کې د حضرت کعب رضي الله عنه او حضرت ابن عباس

[١] اخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن/باب سورة والنجم (رقم-٤٨٥٥) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة والنجم (رقم-٣٢٧٨)

رضی اللہ عنہ په منځ کښې کیدونکي خبري اتري اوریدو سره زه دبي بي عائشي رضی اللہ عنہا په خدمت کښې حاضر شوم [۲] او هغه ته مې عرض وکړو آیا حضرت محمد ﷺ خپل پروردګار لیدلی دی؟ [۳] بي بي عائشه رضی اللہ عنہا جواب راکړو اې مسروق تا دداسې خبري پوښتنه کړېده چې هغه سره ځما په جسم ویښته ودریدل یعنی ځما اعتقاد دادی چې د الله جل جلالہ ذات دې نه پاك او منزه دی چې هغه دې چاته په نظر راشي ځکه ځما په نزد دنیا کښې د هغه د دیدار واقع کیدل محال دی اوس تا دا پوښتنه وکړه نو د هغه د پاك ذات د عظمت او خوف نه ځما د جسم ویښته ودریدل [۴] ما عرض وکړو لږ د توقف نه کار واخلئ ځما دې پوښتني سره دومره پریشانه کیږئ مه او مه دومره زر د دیدارِ الٰهي نه انکار کوئ زه غواړم چې تاسو ځما خبره پوره طور سره واورئ بیا ما د دیدارِ الٰهي ثبوت کښې دا آیت اووئیلو لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ګویا حضرت مسروق رحمہ اللہ د دې آیت په ذریعه دا ښکاره کړه چې ځما په نزد آیت کښې لوی نښي نه مراد حضور ﷺ ته د سر په سترګو یا د زړه په سترګو دیدارِ الٰهي حاصلیدل دي چې د پروردګار په عظمت شان یا د حضور ﷺ تعظیم وتکریم باندې دلالت کوي [۵] بي بي عائشه رضی اللہ عنہا په دې اوریدو سره وفرمایل اې مسروق! دا آیتونه تاکوم خوا بوځي یعنی درست مطلب باندې نه پوهیږې د دې آیتونو مطلب حضور ﷺ ته دیدارِ الٰهي حاصلیدل نه دی [۶] بلکه لوی نښي نه مراد حضرت جبرائیل علیہ السلام دی چې حضور ﷺ هغه د هغه په اصل صورت کښې اولیدلو [۷] کوم سړی چې په تاسو کښې دا وایي چې حضرت محمد ﷺ شبِ معراج کښې خپل پروردګار لیدلی دی یا دا وایي چې حضور ﷺ د هغه څیزونو نه څه پټ کړی دی چې د هغه د اظهار هغوئ ته حکم ورکول شوی وو [۸] یا دا وایي چې حضور ﷺ د هغه پنځه غیبي خبرو علم لرلو چې د هغه په باره کښې الله جل جلالہ د قرآن آیت اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ الخ کښې ارشاد فرمایلی دی [۹] نو بلاشبه هغه په حضرت محمد ﷺ دیر لوی تهمت بهتان وتړی

حل اللغات:- ① جَاوَبَتَهُ: په غرونو کښې آواز راوتمبیدو ② قُفَّ لَهُ شَعْرِي: أَيْ قَامَ مِنَ الْفَزَعِ: د ویرې د وجې نه مې ویښته اودریدل. ویښته مې زیګ زیګ شول. ③ رُوَيْدًا: أَيْ ارْفُقِي وَأَمْهِلِي: لږ صبر اوکړه. نرمي راسره اوکړه ④ الغَيْثَ: باران. ⑤ الفِرْيَةَ: أَيِ الْكَذِبَ: بهتان. دروغ.

[۱] وَلٰكِنَّهُ رَأٰى جِبْرِيلَ، لَمْ يَرَهُ فِي صُورَتِهِ إِلَّا مَرَّتَيْنِ: مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى، وَمَرَّةً فِي أَجْيَادٍ [۲] لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الْأُفُقَ». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَرَوَى الشَّيْخَانِ مَعَ زِيَادَةٍ وَاخْتِلَافٍ، [۴] وَفِي رِوَايَتِهِمَا: قَالَ: «قُلْتُ لِعَائِشَةَ: فَأَيْنَ قَوْلُهُ: ﴿ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى - فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنٰى﴾ [النجم: ٨-٩] [۵] قَالَتْ: ذَاكَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ، كَانَ يَأْتِيهِ فِي صُورَةِ الرَّجُلِ، [۶] وَإِنَّهُ أَتَاهُ هٰذِهِ الْمَرَّةَ فِي صُورَتِهِ الَّتِي هِيَ صُورَتُهُ، فَسَدَّ الْأُفُقَ.»

ترجمه: [۱] او هر چې د دې آيت مطلب دی چې تا ويلی دی نو د دې مراد ددي نه علاوه نور هيڅ نه دی چې حضور ﷺ حضرت جبرائيل د هغه اصل صورت کې يوو ار خو سدرة المنتهٰی سره نژدې ليدلي دي ځرنګه چې دي آيت: لَقَدْرَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰی عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰی کې فرمايل شوي دي او يوو ار د مکې په نواح اجياد کې [۲] او حضور ﷺ حضرت جبرائيل د هغه اصل صورت کې داسې اوليدلو چې د هغه شپږ سوه وزر وه او هغه پوره افق ګير کړی وو [۳] دا روايت ترمذي رحمه الله دې الفاظو کې او بخاري او مسلم څه مزيد او مختلف الفاظو سره نقل کړی دی [۴] او د بخاري او مسلم په يوه روايت کې داسې دي چې مسروق رحمه الله بي بي عائشه رضي الله عنها ته اوويل که حضور ﷺ الله جل جلاله نه دی ليدلی نو بيا د الله جل جلاله د دې ارشاد محمل او مصداق څه دی: ثُمَّ دَنٰی فَتَدَلّٰی فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْاَدْنٰی [۵] بي بي عائشه رضي الله عنها جواب ورکړو د دې ټولو ضميرونو مرجع حضرت جبرائيل عليه السلام دی چې عام طور سره به حضور ﷺ ته په انساني شکل کې او هغه به هم اکثره د يو صحابي حضرت دحيه کلبي رضي الله عنه په صورت کې راتلو [۶] او دا ځل د مکې نواح اجياد کې په خپل هغه صورت کې راغلی وو کوم چې د هغه اصل صورت دی او هغه پوره اُفق ګير کړی وو.

حل اللغات:-① سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰی: سدره د بيرې ونې ته وائی او منتهی د اووم آسمان دپاسه د يوځائې نوم دې هلته د بيرې دغه ونه ده. ② أَجْيَادٍ: مَوْضِعٌ مَعْرُوفٌ بِأَسْفَلِ مَكَّةَ: دمکې نه ښکته يو مشهور ځائې دې. ⑧ جَنَاحٍ: وزر. ⑨ سَدَّ: پټ کړې ئې وو، ګيرکړې ئې وو ⑩ الْأُفُقَ: د آفاق جمع ده، أَيْ أَطْرَافِ السَّمَاءِ: د آسمان کنارې او اطرافو ته وائی. ⑪ دَنَا: نژدې شو. ⑫ فَتَدَلّٰی: پس ښه نژدې شو. ⑬ قَابَ: نو شو په مقدار. ⑭ قَوْسَيْنِ: د ليندې د دوارو لرګو په اندازه

تسهيلات:

قوله: فَقُلْتُ: رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ؟:

دمسروق اشکال: دَ حديث په تشريح کښې صرف آياتونه مبارك، دَهغې ضمائر، يو اشکال اودَ هغې جواب اوګورئی. آياتونه دادی: ﴿ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰی ۞ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰی ۞ فَاَوْحٰی اِلٰی عَبْدِهٖ مَا اَوْحٰی ۞ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰی۞﴾ په دې آياتونو کښې ﴿دَنَا﴾ او ﴿فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ﴾ کښې دَ ضمائر مرجع الله تعالی دې دَ کوم چه ظاهری قرينه دَ ﴿ فَاَوْحٰی ﴾ ضمير دې. دَدې مرجع په بنياد باندې حضرت مسروق رحمه الله اشکال اوکړو

د اشکال جواب: حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها د دې اشکال جواب دا ورکړو چه دَدې افعالو دَ ضمير مرجع هدو الله دې نه بلکه حضرت جبرائيل عليه السلام دې.

قوله: وَلٰكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ، لَمْ يَرَهُ فِي صُورَتِهِ إِلَّا مَرَّتَيْنِ: مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى، وَمَرَّةً فِي أَجْيَادٍ:

اشکال: حضرت عائشه رضی الله عنها ددې لاندې د یو بل سوال جواب ورکړو سوال دا شو چه حضورپاك به حضرت جبرائیل علیه السلام ته برابر کتل نو په شپه د معراج د هغه کتلو لره په دومره اهتمام سره د بیانولو څه ضرورت وو؟

داشکال جواب: حضرت جبرائیل علیه السلام به اکثر حضورپاك له په انسانی شکل کښې راتللو په خپل اصل شکل کښې صرف دوه ځل راغلې وو یو ځل په مقام اجیاد کښې دویم ځل سدرة المنتهی سره په دې وجه په خصوصیت سره ئې د حضرت جبرائیل علیه السلام د رؤیت ذکراوکړو

[۵۶۶۲] د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه تفسیر او تحقیق

۵۶۶۲-()[۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - فِي قَوْلِهِ: ﴿فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنٰى﴾ [النجم: ۹] وَفِي قَوْلِهِ: ﴿مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى﴾ [النجم: ۱۱] وَفِي قَوْلِهِ: ﴿رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى﴾ [النجم: ۱۸] [۲] قَالَ فِيهَا كُلِّهَا: رَأَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د الله جل جلاله دې ارشاد فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنٰى او د الله جل جلاله د دې ارشاد مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأٰى او د الله جل جلاله د دې ارشاد لَقَدْ رَأٰى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى [۲] د دې ټولو آیتونو په تفسیر کې لیکي چې حضور صلی الله علیه وسلم حضرت جبرائیل علیه السلام د هغه اصل صورت کې اولیدلو چې د هغه شپږ سوه وزري وې بخاري . مسلم

[۱] وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ قَالَ: ﴿مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى﴾ [النجم: ۱۱] [۲] قَالَ: «رَأَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جِبْرِيلَ فِي حُلَّةٍ مِنْ رَفْرَفٍ، قَدْ مَلَأَ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ.» [۳] وَلَهُ وَلِلْبُخَارِيِّ فِي قَوْلِهِ: ﴿لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى﴾ [النجم: ۱۸] قَالَ: [۴] رَأَى رَفْرَفًا أَخْضَرَ سَدَّ أُفُقَ السَّمَاءِ.

ترجمه: [۱] او د ترمذي روایت کې داسې دی چې حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د الله جل جلاله د دې ارشاد مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأٰى په تفسیر کې اوویل [۲] حضور صلی الله علیه وسلم حضرت جبرائیل علیه السلام اولیدلو چې د شنو کپړو جوړه یې اغوستې وه او اودآسمان او د زمکې په منځ کې فضاء ترینه معموره وه [۳] او د بخاري په یوبل روایت کې داسې دي چې حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د الله جل جلاله ارشاد وَلَقَدْ رَأٰى مِنْ اٰيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى په تفسیر کې اوویل [۴] چې حضور صلی الله علیه وسلم جامه سبز پوش یعنی حضرت جبرائیل اولیدلو چې پوره آسماني أفق یې ګیر کړي وو

) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب {فکان قاب قوسین أو أدنی} [النجم. ۹] «حیث الوتر من القوس» (رقم-۴۸۵۶) ومسلم فی کتاب الإیمان/فی ذکر سدرة المنتهی (رقم ۲۸۱ - (۱۷۴) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة (رقم-۳۲۸۳)

۵۶۶۳ -(¹) [۱]وَسُئِلَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنْ قَوْلِهِ تَعَالٰى: ﴿إِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ [القيامة: ۲۳] [۲]فَقِيلَ: قَوْمٌ يَقُولُونَ: إِلٰى ثَوَابِهِ. [۳]فَقَالَ مَالِكٌ: كَذَبُوا، [۴]فَأَيْنَ هُمْ عَنْ قَوْلِهِ تَعَالٰى: ﴿كَلَّا إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَمَحْجُوبُونَ﴾ [المطففين: ۱۵]

ترجمه: [۱]او د امام مالک بن انس ﷺ نه د الله ﷻ د ارشاد اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ په باره کې پوښتنه وشوه [۲]او هغوئ ته اوویل شوه چې څه خلق یعنی معتزله او د هغوئ همنوا نور اهلِ بدعت وايي چې په دې آیت کې الله ﷻ طرف ته دکتلو نه مراد د الله ﷻ ذات لیدل نه دي بلکه د هغه ثواب لیدل مراد دی [۳]نو امام مالک ﷫ وفرمایل هغه خلق دروغجن دي [۴]آخر د هغوئ پوهه چیرته لاړه هغوئ د الله ﷻ دا ارشاد کَلَّا اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُوْنَ ولې نه ویني چې الله تعالی کافرانو ته پیغورورکړیدي

[۱]قَالَ مَالِكٌ: النَّاسُ يَنْظُرُونَ إِلَى اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَعْيُنِهِمْ، [۲]وَقَالَ: لَوْ لَمْ يَرَ الْمُؤْمِنُونَ رَبَّهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ [۳]لَمْ يُعَيِّرِ اللّٰهُ الْكُفَّارَ بِالْحِجَابِ [۴]فَقَالَ: ﴿كَلَّا إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَمَحْجُوبُونَ﴾ [المطففين: ۱۵]. رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه [۱]بیا امام مالک وفرمایل په دې کې څه شک نشته چې مسلمانان خلق به الله ﷻ خپلو سترګو سره ویني [۲]او وې فرمایل که داخبره وې چې اهلِ ایمان به د قیامت په ورځ خپل پروردګار نه ویني [۳]نو الله ﷻ به کفاروته د دیدارِ الٰهي نه د محرومۍ عار نه ورکولې [۴]و دابه یې نه فرمایل چې کَلَّا اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُوْنَ داروایت بغوي ﷫ شرح السنه کې نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① حُلَّةٌ: جامې. ② رَفْرَفٌ: ددې جمع رُفُوف راځي. ښائسته نرمې جامې. زیرې جامې ③ مَلَأٌ: ډکه کړې وه. ④ سَدَّ: پټ کړې ئې وو. ګیرکړې ئې وو ⑤ الْأُفُق: د آفاق جمع ده. أَيْ أَطْرَافُ السَّمَاءِ: د آسمان کنارې او اطرافو ته وائی ⑥ لَمَحْجُوبُوْنَ: أَيْ لَا يَرَوْنَ اللّٰهَ سُبْحَانَهُ: دوی به په پردو کښې پټ وی الله تعالی به نه وینی (اولکه څنګه چه دالله دیدار کول زیادت من الله دې په ثواب کښې لکه. ﴿لِلَّذِيْنَ أَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ﴾ دغسې دیدار نه محروم کیدل سخت عذاب دې) ⑦ لَمْ يُعَيِّرْ: عار یعنی شرم به ئې نه ورکولې (د محروم کیدو نه به ئې نه ویرول)

تسهيلات:

نوټ:د الله تعالی د دیداربارہ کښې تفصیل د مشکاة د حدیث نمبر(۵۶۶۱) په تسهیل کښې ذکرشوې دې

¹) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۱۵/ ۲۳۹

[٥٦٦٤] د ديدار الهي كيفيت

٥٢٣٣-()[٩] ١ وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ "«بَيْنَا أَهْلُ الْجَنَّةِ فِي نَعِيمِهِمْ إِذْ سَطَعَ لَهُمْ نُورٌ، ٣ فَرَفَعُوا رُءُوسَهُمْ، فَإِذَا الرَّبُّ قَدْ أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ مِنْ فَوْقِهِمْ، ٤ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ، ٥ قَالَ وَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ﴾ [يس: ٥٨]

ترجمه: ١ او حضرت جابر ﷛ د رسول الله ﷺ نه نقل كوي حضور ﷺ وفرمايل ٢ هركله چې جنتيان خپلو خاصو نعمتونو نه لذت او كيف اوچتولو كې مشغول شي نو اچانك به د هغوئ مخكې يوعظيم نور راشي ٣ هغوئ به دي نور ليدو د پاره خپل سرونه پورته كړي نو څه به ويني چې د هغوئ سرييره پروردګار جلوه ګردی ٤ او پروردګار به هغوئ ته فرمايي اې جنتيانو! السلام عليكم ٥ او دا يعنى هغه وخت د پروردګار جنتيانو ته سلام كول قرآن كريم كې د دې ارشاد: سَلَامٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ الرَّحِيمِ نه ثابت دی

حل اللغات:- ① سَطَعَ: أَيْ سَنَحَ وَلَمَعَ: رانښكاره به شي، اوبه خليږي. ② أَشْرَفَ: أَيْ تَجَلَّى: رانښكاره به شي يعنى خپله تجلي به رانښكاره كړي.

١ قَالَ: فَيَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَيَنْظُرُونَ إِلَيْهِ ٢ فَلَا يَلْتَفِتُونَ إِلَى شَيْءٍ مِنَ النَّعِيمِ ٣ مَا دَامُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ، ٤ حَتَّى يَحْتَجِبَ عَنْهُمْ وَيَبْقَى نُورُهُ وَبَرَكَتُهُ عَلَيْهِمْ فِي دِيَارِهِمْ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ حضور ﷺ وفرمايل بيابه الله ﷻ جنتيانو طرف ته ګوري او جنتيان به الله ﷻ طرف ته ګوري ٢ او هغوئ به د ديدار الهي كې دومره محو شي چې هغه وخت به د جنت نعمتونو كې هيڅ شي طرف ته توجه نه كوي ٣ د دې پورې چې پروردګار به د هغوئ د نظرونو نه مخفي شي او د هغه نور به باقي پاتې شي (ابن ماجه)

حل اللغات:- ③ فَلَا يَلْتَفِتُونَ: هيڅ توجه به نه وركوی، نه به ګوری. ④ يَحْتَجِبَ: أَيْ بِإِيقَاعِ الْحِجَابِ عَلَيْهِمْ: پټ به شي يعنى په جنتيانو به د خپلو تجلياتو پردې واچوی

تسهيلات: قوله: قَالَ: فَيَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَيَنْظُرُونَ إِلَيْهِ ٢ فَلَا يَلْتَفِتُونَ إِلَى شَيْءٍ مِنَ النَّعِيمِ:

په جنت كښې د الله تعالى د ديدار بار بار حاصليدل: د حديث الباب حاصل دادې چه تر كومې پورې الله تعالى خپل ديدار وركول غواړی هم دومره وخت به ښكاری بيا به الله تعالى د جنتيانو مخې ته حجاب يعنى پرده راولی ليكن د هغه د جلوې نورانيت او د هغه د ديدار نه حاصليدونكې حالت او مزه به باقي وی بيابه الله تعالى د جنتيانو د پاره داسې صورت حال پيدا كړی چه جنتيان به بيا د خپل جنت په نعمتونو كښې مشغول شی بيا به هغوی د نوی سر نه د الله تعالى د ديدار خواهش مند شی بيا به ورته الله تعالى دوباره ديدار اوكړی د كوم په وجه چه به د جنتيانو انعامات نور هم ډير شی اوهم دغه سلسله به روانه وی

) اخرجه ابن ما جه في السنن كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم /باب فيما أنكرت الجهمية (رقم-١٨٤)

[۷] بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا]

د دوزخ او دوزخيا نو بيان

خلاصة الباب

فيه تسعة وعشرون حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① بيان شدة حرارة النار: ۱، ۲ ۳، ۴، ۵، ۹.

② ذكر من يلقى ف النار : ۵، ۲۸، ۲۹.

③ أحوال جهنم: ۲، ۱۷، ۲۴.

④ أحوال أهل النارعذاباً: ۳، ۴، ۷، ۸، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۶.

⑤ بعض مقامات جهنم خصوصاً: ۱۳، ۲۵.

⑥ شدة أحوال جهنم : ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۸، ۱۹، ۲۷.

⑦ التخويف عن النار بالشدة: ۲۳.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٥٦٦٥] د دوزخ د اور گرمي

٥٦٦٥-(۱)[۱] ۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ۲ «نَارُكُمْ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ ۳» قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً! ۴ قَالَ: " فُضِّلَتْ عَلَيْهِنَّ بِتِسْعَةٍ وَسِتِّينَ جُزْءًا، ۵ كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا ". » مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَاللَّفْظُ لِلْبُخَارِيِّ.

ترجمه: ۱ حضرت ابو هريره ﷺ نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ ستاسو د دنيا اور د دوزخ د اور د اويا حصو نه يوه حصه ده ۳ عرض وشو يارسول الله د دنيا دا اورهم عذاب وركولو د پاره كافي وو بيا دي نه د زيات حرارت لرونكي اور پيدا كولو څه ضرورت وو ۴ حضور ﷺ وفرمايل د دوزخ اور د دنيا د اور نه يوكم اويا ۶۹ حصې زياتي شوي دي ۵ او دى يوكم اويا حصو كې هره حصه ستاسو د دنيا د اور برابره ده دا روايت بخاري او مسلم نقل كړى دى ليكن دلته مذكوره الفاظ د بخاري دى

حل اللغات: - ① كَافِيَةً: كافي وو ،دا د دنيا اور،.

[1]) اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب صفة النار، وأنها مخلوقة " (رقم-٣٢٦٥) ومسلم في كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب في شدة حر نار جهنم وبعد قعرها وما تأخذ من المعذبين (رقم-٣٠ - (٢٨٤٣) والترمذي في كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن ناركم هذه جزء من سبعين جزءاً من نار جهنم (رقم-٢٥٨٩) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب صفةالنار (رقم-٤٣١٨) واحمد في المسند:٣١٣/٢ ومالك في الموطا في كتاب جهنم باب ما جاء في صفة جهنم (رقم-١)

۱ وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ: " «نَارُكُمُ الَّتِي يُوقِدُ ابْنُ آدَمَ» ". ۲ وَفِيهَا: " عَلَيْهَا "، " وَكُلُّهَا " بَدَلَ: " عَلَيْهِنَّ "، وَ" كُلُّهُنَّ ".

ترجمه: ۱ او د صحيح مسلم روايت داسې دی چې حضور ﷺ وفرمايل ستاسو د دنيا دا اور چې ابن آدم انسان يې بلوي د دوزخ د اور اويا حصو نه يوه حصه ده ۲ او د مسلم په يوه روايت کې عليهن او کلهنّ په ځاي د عليها او کلها الفاظ دي.

حل اللغات: -۲ يُوقِدُ: اور بلوی

تسهيلات:

قوله: نَارُكُمْ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ:

دجنهم د اور د دنياوی اور په مقابله کښې شدت: يعنی دَ دنيا دَ اور ګرمائش دَ دوزخ دَ اور دَ ګرمائش په نسبت اويايم جز دې. دَ دوزخ اور په ګرمائش کښې يوکم اويا درجې زيات دي. ممکن ده چه دَ اويا ذکر دَتکثير په توګه وی يعنی دَ دوزخ دَ اور حرارت دَحساب نه بهر اوډير زيات هم وی. چونکه دَ دوزخ په اور الله تعالی خپل نافرمانه بنديګانو ته عذاب ورکوی اودَ دنيا په اور سره انسان ته عذاب ورکوی نو په دواړوکښې دا فرق شو ګنی دَ سوزولودَپاره خودَدنيا دا اورهم کافی اوشافی دې. وړاندې په حديث کې هم دغه بيان دي

قوله: إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً:

دعذاب په شدت کښې نکته: يعنی چه په يوه درجه کښې هم وی بياهم دَ سوزولودَپاره دَدنيا اور کافی وو بيا دَ اوياؤ درجو دَ زياتولو څه ضرورت وو؟ دَدې په جواب کښې حضورپاك اوفرمائيل چه دَ دوزخ دَ اورحرارت ځکه زيات کړې شوچه په دې سره الله تعالی عذاب ورکوی.

[۵٦٦٦]د دوزخ راوستلوذکر

٥٦٦٦-(¹)[۲] ۱ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ، ۳ مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن مسعود ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د قيامت په ورځ به دوزخ د هغه ځاي نه چيرته چې الله ﷻ هغه پيدا کړی دی راوستی شی د هغه به اويا زره واګي (قيزي) وي ۳ او هري واګي باندې به اويا زره فرشتي مقرري وي چې هغه به راښکلو سره راولي (مسلم)

حل اللغات: - ۱ زِمَامٍ: وَهُوَ مَا يُشَدُّ بِهِ: واګې، په کوم سره چه به تړلې شوې وی. ۲ يَجُرُّونَهَا: أَيْ يَسْحَبُونَهَا: راکاږی به ئې(فرشتې به دا جهنم راکاږی).

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب فی شدة حر نار جهنم وبعد قعرها وما تأخذ من المعذبين (رقم-۲۹ -(۲۸٤۲) والترمذی فی کتاب صفة جهنم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صفة النار (رقم-۲۵۷۳)

تسهيلات:

قوله: يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا:

د جهنم د حفاظت دپاره د فرشتو تقرری: دَ قيامت پـه ورځ بـه ميـدان محـشرته دوزخ راوستلې شـی نـو دې بـه پـه كافرانوبانـدې سـخت غـضبناك وی پـه دې وجه فرښتې پـه قابوكښې راوستلودپاره دې ته اويازره واګې اچوی اوهرې واګې سره به اويا زره فرښتې وی لكه چه څلور اربـه لـس كـم سـل كرورړه فرښتې بـه پـه حفاظت بانـدې مـامورروی دَدې دپاره هسې نه چه په غصه اوغضب كښې راتلوسره دوزخ ټول انسانان په يوځل ستلوسره صفانه كړی

[٥٦٦٧] د دوزخ د ټولو نه سپك لږ عذاب

٥٦٦٧-()[٣] ① وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا مَنْ لَهُ نَعْلَانِ وَشِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ، ③ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ كَمَا يَغْلِي الْمِرْجَلُ، ④ مَا يُرَى أَنَّ أَحَدًا أَشَدُّ مِنْهُ عَذَابًا، وَإِنَّهُ لَأَهْوَنُهُمْ عَذَابًا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: ① او حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② حقيقت دی چې په دوزخيانو كې كوم سړی د ټولو نه سپك عذاب كې مبتلا وي هغه تـه بـه د اور دوه څپلې واچول شي چې د هغه برسيره به د اور دوه تسمې وي يعنی د هغه چپلو تلی بـه هـم د اور وي چې د پښو برسيره حصه بانـدې وي ③ او د هغـه دوارو چپلو د تلو او تـسمو د حرارت نه به د هغه دماغ داسې جوش وهي څرنګه چې ديګ جوش وهي ④ هغه سړی بـه د نورو دوزخيانو د حالت او كيفيت نه ناخبره وي ځكه دا خيال به كوي چې د هغـه نـه زيات په عذاب كې مبتلا هيڅوك نشته ⑤ حالانكه هغه به د ټولو نه سپك عذاب كې مبتلا وي

حل اللغات:- ① أَهْوَنَ: أَيْ أَيْسَرُ: آسان، سپك. ② نَعْلَانِ: د نعل تثنيه ده. چپلو يعنی پيزار ته وائی ③ شِرَاكَانِ: دوه تسمې ④ يَغْلِي: أَيْ يَفُورُ: جوشيږی او خوټكيږی به. ⑤ الْمِرْجَلُ: أَيْ: قِدْرٌ: كټوئ. ديګچې

تسهيلات:

قوله: إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا مَنْ لَهُ نَعْلَانِ وَشِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ:

د كم عذاب والا جهنمی د عذاب كيفيت: په آخرت كښې چه كوم سړی ته سپك عذاب وی هغه ته به دَ اور دوه څپلئی واچولې شی دكوم په وجه چه به دَ هغه دماغ خوټكيږی او جوش به وهی هغه سړې به دا خيال كوی چه دَټولو نه زيات عذاب هم هغه ته وركولې

[1] اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار (رقم-٦٥٦١و٦٥٦٢) ومسلم في كتاب الإيمان/باب أهون أهل النار عذابًا (رقم-٣٦٢ - (٢١٢) واحمد في المسند:٧٨/٣

شی حالانکه هغه ته به دَ ټولو نه سپك عذاب ورکولې کیږی. دَ اهل علم په نیز به دا سرې ابوطالب وی چه دَحضورپاك دَ شفاعت دَ دعا په برکت سره به ورته سپك عذاب ورکولې شی لکه چه په وړاندې روایت کښې راځی. بل دَ اور څپلئی خو به یا دَ سروټکو نه جوړې وی یا به په اور باندې ګرمې کړې شوې وی. اول معنی راجح ده. دَدې نه معلومه شوه چه دَ داسې سړی په خپو کښې به صرف اور وی باقی بدن کښې به نه وی.

[٥٦٦٨]په دوزخ کې د ټولو نه کم عذاب به ابوطالب ته وي

٥٦٦٨-()[٣] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ «أَهْوَنُ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا أَبُو طَالِبٍ، ٣ وَهُوَ مُنْتَعِلٌ بِنَعْلَيْنِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ و حضرت ابن عباس ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ په دوزخيانو کې د ټولو نه کم عذاب به ابوطالب ته وي ٣ هغه به د اور څپلي اچولي وي چې په هغه سره به يې دماغ جوش وهي. (بخاري)

حل اللغات:- ① مُنْتَعِلٌ: د باب تفعيل نه يا د باب افعال نه دي، أي مُتَلَبِّسٌ: اغوستې به ئې وی

تسهیلات:

قوله أَهْوَنُ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا أَبُو طَالِبٍ، ٣ وَهُوَ مُنْتَعِلٌ بِنَعْلَيْنِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ :

دنبی علیه السلام په مدد او حفاظت کښې دابو طالب کردار: ابوطالب دَ حضورپاك سکه تره وو هغوی دَ رسول الله ﷺ ډیر زیات خدمت او حمایت کړې وو. دَ الله تعالی تکوینی فیصله وه او دا حکمت هم وو چه ابوطالب دَ حضورپاك او قریشو په مینځ کښې دَ رابطې کار اوکړی او دَ ډهال په توګه باندې کردار اداکړی. قریشو به په حضورپاك باندې یودم لاس نه شو اوچتولې خکه چه ابوطالب دَهغوی په مذهب باندې وو. اسلام ئی دَ زړه نه پیژندلو مګر ایمان ئی رانوړلو په آخر وخت کښې یوځل دَ اسلام اقرار اوکړو مګر ابوجهل لعین منع کړو. چنانچه دَ ابوطالب دَ بدن ظاهری حصې سره دَ حضورپاك بدن مبارك لګیدلې وو په دې وجه به دَ هغه په ظاهری بدن باندې به دَ دوزخ اور نه شی اچولې البته دَهغه دَ خپو لاندې به دوه سکروټکې کیخودې شی یا به ورته دَ اور څپلئی اچولې شی په کوم سره چه به دَهغوی مازغه خوټکیږی. دَدې حدیث نه معلومه شوه چه ابوطالب مسلمان شوې نه وو. دویمه خبره دا معلومه شوه چه په دوزخ کښې به دَعذاب په اعتبار سره فرق وی چاته به زیات وی او چاته کم.

---

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب أهون أهل النار عذابًا (رقم-٣٦٢ - (٢١٢) واحمد فی المسند:١/٢٩٠

[٥٦٦٩] يو دوزخي يو جنتي

٥٦٦٩ - ( ) [٥] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«يُؤْتَى بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ۳ فَيُصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً، ۴ ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: يَا ابْنَ آدَمَ، هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ، هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ؟ ۵ فَيَقُولُ: لَا وَاللَّهِ يَا رَبِّ. ۶ وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ النَّاسِ بُؤْسًا فِي الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَيُصْبَغُ صَبْغَةً فِي الْجَنَّةِ،

ترجمه: ۱ او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د قيامت په ورځ به په دوزخيانو کې يو داسي سړی راوستل شي چې په دنيا کې د ټولو نه زيات په عيش او ارام کې ژوند تيروی او هغه عيش او ارام نه به مست کيدو سره ظلم زور کې ډير زيات شوی وو ۳ بيا به هغه ته په دوزخ کې يوه غوپه ورکول شي يعني په دوزخ کې به غرق شي خرنګه چې کپړه رنګ کې غوپه کولی شي ۴ او ورته به اوويل شي چې اې ابن آدم آيا ته په دنيا کې څه راحت ليدلی وو او څه عيش وعشرت دي کړی وو هغه دوزخي به په دوزخ کې د اچولو د ويرې نه دومره وارخطاشي چې د دنيا هغه ټول ناز ونعم او ټول آسائش او راحت به هير کړي کوم چې ده ته هغه حاصل وو او داسې به ښکاره کړي لکه چې هغه ته په دنيا کې هيڅ راحت او نعمت نصيب شوی نه وو ۵ نو هغه به وايي چې نه ای خما پروردګاره! قسم په الله ما ته هيڅ راحت او نعمت نصيب شوی نه وو ۶ د غه شان جنتيانو نه به يو داسي سړی راوستل شي چې په دنيا کې د ټولو نه زيات غم او الم او مشقت او کلفت برداشت کونکی وو بيا به هغه ته په جنت کې يوه غوپه ورکول شي

حل اللغات: - ① بِأَنْعَمِ: أَيْ أَشَدُّهُمْ تَنَعُّمًا: چه ډير په نعمتونو او عيش وعشرت کښې به وو ② فَيُصْبَغُ. أَيْ يُغْمَسُ: غوپه به ورته ورکړی شي (په اور د جهنم کښې)

۱ فَيُقَالُ لَهُ: يَا ابْنَ آدَمَ، هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ؟ وَهَلْ مَرَّ بِكَ شِدَّةٌ قَطُّ؟ ۲ فَيَقُولُ: لَا وَاللَّهِ يَا رَبِّ، مَا مَرَّ بِي بُؤْسٌ قَطُّ، وَلَا رَأَيْتُ شِدَّةً قَطُّ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او ورته به اوويل شي چې اې بني ادمه! آيا تا په دنيا کې څه غم پوزته کړی وو او څه مشقت او کلفت تکليف سره مخ شوی وي؟ ۲ هغه جنتي به د جنت نعمتونه او راحتونه ليدو سره د دنيا ټول رنج وغم کلفت او مشقت هير کړي او جواب به ورکړي چې نه اې خما پروردګاره! قسم په الله ما په دنيا کې هيڅ کله رنج وغم نه وو ليدی او هيڅ مشقت او تکليف مې نه وو تير کړی (مسلم)

حل اللغات: - ③ بُؤْسًا: أَيْ شِدَّةً وَمَشَقَّةً: محتاج چه ډير مشقتونه او تکليفونه به ئې برداشت کول د غريبئ او د محتاجئ په وجه

تسهيلات: نوټ: د مذکوره حديث په مفهوم کښې څخه مشکل نشته

---

[1]) اخرجه مسلم في كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب صبغ أنعم أهل الدنيا فى النار وصبغ أشدهم بؤسًا فى الجنة (رقم-٥٥ - (٢٨٠٧) واحمد فى المسند:٣/٢٠٣

[۵٦۷۰] د شرك خلاف اشتباه خبرداري وركول

٥٦٧٠-()[۲] ①وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ②" «يَقُولُ اللهُ لِأَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ: ③لَوْ أَنَّ لَكَ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ؟ ④فَيَقُولُ: نَعَمْ، ⑤فَيَقُولُ أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ هَذَا وَأَنْتَ فِي صُلْبِ آدَمَ ⑥أَنْ لَا تُشْرِكَ بِي شَيْئًا، فَأَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تُشْرِكَ بِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت انس ﷜ د رسول الله ﷺ نه روايت كوي چې حضور ﷺ وفرمايل ②الله ﷻ به د قيامت په ورځ دوزخيانو نه يو سړي ته چې د ټولو نه به كم عذاب كېږي وي وفرمايي ③كه تا سره دزمكې د مخ د ځيزونو نه څه داسې شى وى چې ته يې په خپله فديه كې وركړې او دهغه په عوض كې د دوزخ د عذاب نه خواه هرڅومره لږ وي خلاصون پيدا كړې نو آيا تابه داسې كړي وه ④هغه دوزخي به وايي چې هو زه به د دنيا د حاصل شوي د لوى نه لوى شى په بدله كې وركولو سره دوزخ نه به خلاصون وغواړم ⑤الله ﷻ به ورته فرمايي اې بدنصيبه انسانه! ما خو هغه وخت هركله چې ته د آدم په شا كې وې په دې بدله كې دخه شى وركولو نه هم آسانه شى ستا د پاره مقرر كړى وو ⑥او هغه داچې ته ما سره څه شى مه شريكوه خو ته د هغه نه واوړيدى او ځما د احكامو څه پابندي دې ونه كړه ددې پورې چې د بتانو وغيره د پرستش او تعظيم په ذريعه ځما شريك دې وګرځوى نو اوس زه د دوزخ د هغه عذاب په بدله كې هيڅ شى نه قبلوم كه ته د دنيا ټول ځيزونه راوړې (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① تَفْتَدِي: دا د اِفْتِدَاء نه دې، بِمَعْنَى إِعْطَاء: دخان خلاصى دپاره فديه او معاوضه وركول ② أَرَدْتُ: أَيْ طَلَبْتُ: د اراده نه مراد مطالبه كول او حكم كول دى، يعنى ما ستا نه مطالبه كړې وه. اوحكم مې درته كړې وو ③ أَهْوَنَ: اى بِأَسْهَلَ: آسان. ④ صُلْبِ: شا، ملا. ⑤ فَأَبَيْتَ: انكار دې اوكړو يعنى زما دحكم نه دې مخ واړولو

تسهيلات:

قوله: فَيَقُولُ أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ هَذَا.....أَنْ لَا تُشْرِكَ بِي شَيْئًا، فَأَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تُشْرِكَ بِي:

د ارادې څخه مراد دى: دَ حديث ظاهرى الفاظ خودَ اراده دَپاره دى مګر په دې سره حكم وركول مراد دى چه ما تاته دَدې نه آسان حكم دركړې وو كوم وخت چه ته دَ آدم ﷺ په شا كښې وې مګر تا اونه منلو علامه طيبى ﷫ فرمائى دَ "عهدالست" طرف ته اشاره ده.

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب أحاديث الأنبياء/باب خلق آدم صلوات الله عليه وذريته (رقم-۳۳۳٤) ومسلم فى كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب طلب الكافر الفداء بملء الأرض ذهبًا (رقم-٥١ - (۲۸۰۵)

[۵۶۷۱] په عذاب کې تفاوت او درجات

۵۶۷۱ - (۱) [۱] وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ، [۳] وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، [۴] وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى حُجْزَتِهِ، [۵] وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى تَرْقُوَتِهِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت سمره بن جندب ﷺ نه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] دوزخيانو نه به څه خلق هغه وي چې د هغوئ دواړو پنړکو پورې به اور وي [۳] او څه خلق به هغه وي چې د هغوئ دواړو زنګنونو پورې به اور وي [۴] ځنې خلق به هغه وي چې د هغوئ دملا پورې به اور وي او څه خلق به هغه وي چې د هغوئ ترخټ او غاړې پورې به اور وي (مسلم)

حل اللغات:- ① تَأْخُذُهُ: چه نيسی به ئې، رسيږی به ورته (اور). ② كَعْبَيْهِ: دكعب تثنيه ده. يعنی دواړو ګيټو پورې. ③ رُكْبَتَيْهِ: د ركبة تثنيه ده يعنی دواړو کوندو پورې. ④ حُجْزَتِهِ: أَيْ مَعْقِدِ إِزَارِهِ: د لنګ ترلو ځائې يعنی بدې پورې (حجزة نرئ ملا ته وائی). ⑤ تَرْقُوَتِهِ: أَيْ إِلَى حَلْقِهِ: د حلق يعنی مرئ پورې (ترقوة د مرئ غوټې ته وائی).

تسهيلات:

قوله: مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ:

دګناهونوپه اعتبارسره دجهنميانود عذاب شدت: په آخرت کښې به خلقو ته دهغوی دخرابو عقيدو او خرابو اعمالو په اندازه سره عذاب ورکولې شی دچا چه څومره لويه ګناه وی هغه به په هغه هومره عذاب کښې راګيروی

[۵۶۷۲] د دوزخيانو جسم

۵۶۷۲ - (۲) [۸] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَا بَيْنَ مَنْكِبَيِ الْكَافِرِ فِي النَّارِ مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ لِلرَّاكِبِ الْمُسْرِعِ»". [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: "«ضِرْسُ الْكَافِرِ مِثْلُ أُحُدٍ، وَغِلَظُ جِلْدِهِ مَسِيرَةُ ثَلَاثٍ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ، [۴] وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ: "«اشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا» فِي بَابِ (تَعْجِيلِ الصَّلَاةِ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په دوزخ کې به د کافر جسم دومره غټ او چاغ شی چې د هغه د دواړو اوږو په منځ کې درمياني فاصله به

[۱]) اخرجه مسلم فی كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب فی شدة حر نار جهنم وبعد قعرها وما تأخذ من المعذبين (رقم-۳۳ - (۲۸۴۵) والنسائی فی كتاب الإيمان وشرائعه/باب زيادة الإيمان (رقم-۵۰۱۰) وابن ماجه فی كتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب باب فی الإيمان (رقم-۶۰) واحمد فی المسند:۱۰/۵

[۲]) اخرجه البخاری فی كتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار(رقم-۶۵۵۱) ومسلم فی كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب النار يدخلها الجبارون والجنة يدخلها الضعفاء (رقم-۴۵ - (۲۸۵۲) واحمد فی المسند:۳۲۸/۲

د تیز رفتار سواري د دریو ورځو د مسافت برابر وي [۲] او په یوه روایت کښې داسې دي چې په دوزخ کښې به د کافر غابښ د اُحد دغره برابر وي. (مسلم) [۳] او په ((باب تعجیل الصلوٰة)) کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت کښې ذکر دی چې اور خپل رب ته شکایت (ګیله) وکړو

حل اللغات:- ① الْمُسْرِعِ: تیز رفتار. ② ضِرْسُ : د داړې غابښ. ③ غلَظُ : أي عِظَمُهُ: سختوالي. پیړوالي

تسهیلات:

قوله: ضِرْسُ الْكَافِرِ مِثْلُ أُحُدٍ، وَغِلَظُ جِلْدِهِ مَسِيرَةُ ثَلَاثٍ:

جهنم کښې د کافرانو د جسامت غټوالي: د دې حدیث نه معلومیږي چه په قیامت کښې به دَ کافرانو بدنونه ډیر زیات غټ شی. د دې نه وړاندې دَ جنت متعلق احادیثو کښې دا ذکر شو چه دَ اهل جنت بدنونه به هم په جنت کښې غټ شی د دې اصل وجه داده چه په قیامت کښې به دَ الله تعالی په صفاتو کښې د کمال او ترقئی ظهور او شی په دې وجه به دَ اهل جنت او اهل دوزخ بدنونه په کمال باندې راشی لکه چه دَ الله تعالی صفت دَ تخلیق به په کمال باندې راشی. دا به دَ هغې نتیجه وی.

اشکال: په دې حدیث کښې دَ کافرانو دَ بدن غټیدو بیان دې خو په یو بل حدیث کښې دی چه دَ قیامت په ورځ به دَ کبرژنو خلقو بدنونه دَ میږو په شان واړه اوذلیل شی. دا تعارض دې د دې څه جواب دې؟

داشکال جواب: دَ بدن دا خوریدل او چاقیدل به په دوزخ کښې دننه وی دې دَ پاره چه اور ته پوره خوراك ملاؤ شی. او دَ بدن دَ وړوکی کیدو اوذلت اورسوا کیدل به په میدان محشر کښې وی نو څه تعارض پاتې نه شو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵٦٧۳] د دوزخ د اور ذکر

۵٦٧۳-()[۹] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«أُوقِدَ عَلَى النَّارِ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى احْمَرَّتْ، [۳] ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى ابْيَضَّتْ، [۴] ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى اسْوَدَّتْ، [۵] فَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] د دوزخ اور یو زر کاله بل شو ددې پورې چې هغه سره سور شو [۳] بیا زر کاله نور بل

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة جهنم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن نارکم هذه جزء من سبعین جزءًا من نار جهنم (رقم-۲۵۹۰) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب صفة النار (رقم-۴۳۲۰)

شو ددي پورې چې هغه سپين شو ④بيا زر کاله بل شو ددي پورې چې تور شو نو ⑤اوس د دوزخ اور بالکل تك تور دی چې درنړا نوم هم پکښي نشته. (ترمذي)

حل اللغات:- ①أُوقِدَ: بل کړې شو أور. ②احْمَرَّتْ: د راحمرار نه دې، سور والى ته وائى. ③اسْوَدَّتْ: تک تور شو. ④مُظْلِمَةٌ: تياره،

تسهيلات:

قوله: أُوقِدَ عَلَى النَّارِ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى احْمَرَّتْ:

داوس مخله د جهنم د موجودوالى دليل: اورچه کله دَ ډيروخت پورې بليږی نوددې نه دَ لوګی اميزش ختميږی او هغه سپين شی. دَ لوګی دَ اميزش په وخت اور سور وی بيا دَ زيات وخت پورې بليدودَ وجې نه تور شی. دَدې حديث نه معلومه شوه چه دوزخ دَ اوس نه تيار دې. معتزله وائی چه اوسه پورې لا تيارنه دې. اهل سنت والجماعة وائی چه "اعدت للكافرين" آيت ښائی چه تياردې معتزله بيکاره دی. بهرحال دَ دوزخ اور دَ دريوزرو کالو پورې ګرم کړې شوې دې. اول سور شو بيا سپين شو اوبيا تور شو

[٥٦٧٤] د کافر دوزخي جسامت

٥٦٧٤-()[١٠] ①وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ- صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"«ضِرْسُ الْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِثْلُ أُحُدٍ، ③وَفَخِذُهُ مِثْلُ الْبَيْضَاءِ، ④وَمَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ مَسِيرَةُ ثَلَاثٍ مِثْلُ الرَّبَذَةِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②د قيامت په ورځ به په دوزخ کې د کافر غاښ د أحد د غره برابر ③او د هغه ورنونه به د بيضاء غر برابر وي ④او په دوزخ کې د هغه د ناستي ځاي به د دريو ورځو د مسافت په قدر وي څرنګه چې ربذه ده. (ترمذي)

حل اللغات:- ①ضِرْسٌ: د داړې غاښ. ②الْبَيْضَاءُ: هُوَ اسْمُ جَبَلٍ: د يو غر نوم دې. ③مَقْعَدُهُ: أَيْ مَوْضِعُ قُعُودِهِ: د کيناستلو ځاي. ④الرَّبَذَةُ: قَرْيَةٌ مَعْرُوفَةٌ قُرْبَ الْمَدِينَةِ: مديني ته نزدې د يو کلي نوم دې چه په درې ميله فاصله کښې دې. يعنی دکيناستوځائی به دومره زيات راګيروی څومره چه دَ مديني نه دَ ربذه پورې دَ دريوورځو مسافت دې.

تسهيلات:

نوټ: د کافرانو د جسامت د غټوالی باره کښې تشريح د مشکاة د حديث نمبر (٥٦٧٣) په تسهيل کښې تيره شوې ده.

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في عظم أهل النار (رقم-٢٥٧٨)

۵۶۷۵-(۱)[۵] ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ «إِنَّ غِلَظَ جِلْدِ الْكَافِرِ اثْنَانِ وَأَرْبَعُونَ ذِرَاعًا، ۳ وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُدٍ، ۴ وَإِنَّ مَجْلِسَهُ مِنْ جَهَنَّمَ مَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د كافر دوزخي څرمن به دوه څلويښت ۴۲ لاسه پيړه وي ۳ د هغه غاښ به د احد غره برابر وي ۴ او په دوزخ کې د هغه د ناستې ځاى به د مكې او مدينې د درمياني فاصلې برابر وي. (ترمذي)

حل اللغات: - ① غِلَظَ: أَيْ عِظَمُهُ: سختوالي، پيړوالي ② ذِرَاعًا: مِنْ طَرَفِ الْمِرْفَقِ إِلَى طَرَفِ الْأُصْبُعِ الْوُسْطَى: د څنګلې د هډوكى نه تر د مينځ ګوتې پورې اوږد والى ته ذراع وائى. دې ته شرعى ګز هم وائى ③ ضِرْسَهُ: د داړې غاښ.

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ مَجْلِسَهُ مِنْ جَهَنَّمَ مَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ:

اشكال: په دې حديث كښې دَ مجلس په ځائى دَ مكې او مدينې فاصله اوخودلې شوه او د مشكاة په حديث نمبر (۵۶۷۳) حديث كښې مدينه او ربذه فاصله خودلې شوې ده.

داشكال جواب: دَ كافرانو دَ عذاب دَ تفاوت سره به په بدنونو كښې تفاوت راځى په دې وجه دا فرق دې.

۵۶۷۶-(۱)[۶] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ «إِنَّ الْكَافِرَ لَيُسْحَبُ لِسَانُهُ الْفَرْسَخَ وَالْفَرْسَخَيْنِ ۳ يَتَوَطَّأُهُ النَّاسُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ۱ و حضرت ابن عمر ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ۲ كافر به په دوزخ كې خپله ژبه دري دري او شپږ شپږ فرسخه يونيم ميل يا دوه ميله پورې راښكي ۳ او خلق به هغه خپلو پښو سره پامال كوي يعنى په هغه ژبې به ګرځي (احمد ترمذي) او ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دى.

حل اللغات: - ① لَيُسْحَبُ: أَيْ يُجَرُّ: راكاږى به. ② الْفَرْسَخَ: دا د مسافت په لحاظ سره يو خاص مقدار دي ③ يَتَوَطَّأُهُ: أَيْ يَطَئُونَهُ بِأَقْدَامِهِمْ: په خپو كښې به ئې پامال كوى يعنى خلق به پرې دپاسه ګرځى راګرځى.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْكَافِرَ لَيُسْحَبُ لِسَانُهُ الْفَرْسَخَ وَالْفَرْسَخَيْنِ يَتَوَطَّأُهُ النَّاسُ:

دكافرد ژبې راوتل: كافر به هنريږى اوهنريدل به ئى هم دَ سپى په شان ژبه راوباسى نودَ

[۱]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى عظم أهل النار (رقم-۲۵۷۷)
[۲]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى عظم أهل النار (رقم-۲۵۸۰) واحمد فى المسند:۲/۹۲

هغه ژبه به درې ميله بهر زوړند وی او دوزخيان خلق به مندې وهلوسره دَ هغه په ژبه باندې خيژی. ددې نه مقصود کافرانوته دَ ذلت او دردناك عذاب ورکول دی.

[٥٦٧٧] د دوزخ غر

٥٦٧٧-()[٣] [١]وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-عَنْ رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ:[٢]" «الصَّعُودُ جَبَلٌ مِنْ نَارٍ يُتَصَعَّدُ فِيهِ سَبْعِينَ خَرِيفًا [٣]وَيُهْوَى بِهِ كَذَلِكَ فِيهِ أَبَدًا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١]او حضرت ابو سعيد د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢]صَعُود چې د هغه ذکر د قرآن مجيد دې آيت سارهقه صعودًا کې دي دوزخ کې يو غر دی چې په هغه به کافر اويا کاله پورې خيژول کيږی . [٣]او دهغه خاي نه به دغه شان اويا کاله پورې به ګويا راغورځول کيږي او برابر دا سلسله به جاري وي يعنی کافر دوزخي به هميشه په هغه غر باندې خيژول کيږی او راغورځول کيږي (ترمذي)

حل اللغات:- ①الصَّعُودُ: پورته ختلو ته وائی، ددې ضد هُبُوط راځی. صعود په جهنم کښې د يو غر نوم دې ② خَرِيفًا: أَيْ: سَنَةً: خريف دَ خزان موسم ته وائی. دلته ترې کال مراد دې ③ يُهْوَى: أَيْ يُكَلَّفُ: دا کافر به مکلف وی يعنی لګيا به وی (دا سلسله به جاری وی چه غورزولې به شی هميشه دپاره به دې کښې)

تسهيلات:

قوله: الصَّعُودُ جَبَلٌ مِنْ نَارٍ يُتَصَعَّدُ فِيهِ سَبْعِينَ خَرِيفًا :

دصعود څخه مراد: په جهنم کښې دَ يوغر نوم دې لکه چه قرآن پاك کښې دی ﴿ سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا ﴾ (المدثر ١٧) دَ دغه غر په څوکه به کافر دَ اوياؤ کالو پورې خيژولې شی او دَ اوياؤ کالو پورې به راغورزولې شی او مسلسل به دا سلسله جاری وی.

[٥٦٧٨] د دوزخيا نو غذا

٥٦٧٨-()[٣] [١]وَعَنْهُ، «عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[٢]قَالَ فِي قَوْلِهِ: ﴿كَالْمُهْلِ﴾ [الكهف:٢٩] [٣]أَيْ كَعَكَرِ الزَّيْتِ، فَإِذَا قُرِّبَ إِلَى وَجْهِهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١]او حضرت ابوهريره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي [٢]چې رسول کريم ﷺ د الله تعالی ارشاد يعنی دي آيت إِنَّ شَجَرَةَ الزَّقُّومِ طَعَامُ الْأَثِيمِ كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ کې د لفظ مهل وضاحت کولو سره وفرمايل [٣]چې هغه به د زيتون د خيري په شان يوشی وي هرکله

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة جهنم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صفة قعر جهنم (رقم-٢٥٧٦) واحمد فی المسند:٧٥/٣

[2]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة جهنم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صفة شراب أهل النار (رقم-٢٥٨٤) واحمد فی المسند: ٧٠/٣ و ٧١

چې دا مهل د دوزخي خولې ته نزدې يووړل شي نو د ګرمۍ نه به د هغه د خولې څرمن په هغه کې راولويږي (ترمذي)

حل اللغات:- ① اَلْمُهْلِ: تيل څڅې. د تيلو سخا خيرې. ② عَكَرِ الزَّيْتِ: أَيْ دُرْدِيّهِ: د زيتونو د تيلو په ويخ کښې ناست خيرى ته وائي. تيل څڅې. ③ سَقَطَتْ: راوبه غورځيږي. ④ فَرْوَةُ: أَيْ جِلْدُهُ: څرمن

تسهيلات: قوله: فَإِذَا قُرِّبَ إِلَى وَجْهِهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيهِ :

په حديث کښې د آيت قرآني استشهاد: فَرْوَةُ: دمخ څرمن ته فروه وائى دَ مخ څرمن مراد ده په حديث نمبر ۱۶ کښې فروة رأسه لفظ هم راغلى دې ددې نه دَ سر اوتندى څرمن مراد ده په دې حديث کښې دَ قرآن پاک آيت ﴿وَاِنْ يَّسْتَغِيْثُوْا يُغَاثُوْا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوْهَ﴾ طرف ته اشاره ده

[۵٦۷۹] د ګرمو اوبو عذاب

۵٦۷۹-()[۱۵] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «إِنَّ الْحَمِيمَ لَيُصَبُّ عَلَى رُءُوسِهِمْ فَيَنْفُذُ الْحَمِيمُ حَتَّى يَخْلُصَ إِلَى جَوْفِهِ، [۳] فَيَسْلُتُ مَا فِي جَوْفِهِ [۴] حَتَّى يَمْرُقَ مِنْ قَدَمَيْهِ، [۵] وَهُوَ الصَّهْرُ، ثُمَّ يُعَادُ كَمَا كَانَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] و حضرت ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] هرکله چې د دوزخيانو په سرباندې ګرمې اوبه واچول شي نو هغه ګرمې اوبه به خکته تللو سره خيټې ته ورسيږي [۳] او هغه څيزونه به پريشي کوم چې په خيټه کې وي يعنى کولمې وغيره [۴] ددې پورې چې هغه ګرمې اوبه به په خيټه کې دننه څيزونه پريکولو او ويلې کولو سره د پښو په لار بهر راووځي [۵] او د صهر هم دا معنى ده او بيا به هغه دوزخې چې هغه سره د ګرمو اوبو دا عمل شوى وي هغه شان به شي څرنګه چې مخکې وو (ترمذي)

حل اللغات - ① اَلْحَمِيمُ: ډيرې ګرمې اوبه. ② يُصَبُّ: أَيْ يُكَبُّ: اړولې به شى. ③ فَيَنْفُذُ: دا د نُفوذ نه دې. وهو التأثير والدخول في الشيء: په يو څيز کښې تاثير کول او په هغې کښې داخليدلو ته نفوذ وائى يعنى دا اوبه به دومره ګرمې وى چه په سر باندې اړولو سره به خيټې پورې او بيا تر څپو پورې به هر څيز ويلې کړى او په څپو به ترې بهر راوځى، ④ يَخْلُصَ: أَيْ يَصِلَ: اوبه رسيږى. ⑤ جَوْفِهِ: د خيټې مينځ. ⑥ فَيَسْلُتُ: د نصرينصر نه دې دَ "قطع يعنى د پرې کولو په معنى کښې دې ⑦ يَمْرُقَ: أَيْ يَخْرُجَ. د وتلو په معنى کښې دې ⑧ اَلصَّهْرُ: بِمَعْنَى الإِذَابَةِ: ددې معنى هم د نفوذ په شان ده يعنى په بر څيز کښې تاثير کول او په هغې کښې د اخليدل

(۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صفة شراب أهل النار (رقم-۲۵۸۲) واحمد في المسند: ۲/۳۷٤

تسهيلات:

قوله: فَيَسْلُتُ مَا فِي جَوْفِهِ [۳] حَتَّى يَمْرُقَ مِنْ قَدَمَيْهِ،

په قدميه کښې دوه احتمالات:

① په حقيقت کښې دَ قدمين څخه دا ګندګي راوځي

② دَ قدميه څخه دبر مراد دې دا زيات واضح دې.

قوله: وَهُوَ الصَّهْرُ:

دصهر څخه مراد: په دې جمله کښې دې آيت طرف ته اشاره ده ﴿يُصْهَرُ بِهِ مَا فِي بُطُونِهِمْ وَالْجُلُودُ﴾ يعنې په ګرمو اوبو سره به ټول څيزونه سخاشي دمشکاة حديث نمبر (٥٦٨٠) کښې ددې تسهيل موجود دې.

[٥٦٨٠] د دوزخيانو د څکلو اوبه

٥٦٨٠-()[٣] [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] فِي قَوْلِهِ: ﴿يُسْقَى مِنْ مَاءٍ صَدِيدٍ يَتَجَرَّعُهُ﴾ [إبراهيم: ١٦] قَالَ: [۳] "يُقَرَّبُ إِلَى فِيهِ فَيَكْرَهُهُ، [٤] فَإِذَا أُدْنِيَ مِنْهُ شَوَى وَجْهَهُ، وَوَقَعَتْ فَرْوَةُ رَأْسِهِ، [٥] فَإِذَا شَرِبَهُ قَطَّعَ أَمْعَاءَهُ، حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ دُبُرِهِ، [٦] يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ﴾ [محمد: ١٥]، [۷] وَيَقُولُ: ﴿وَإِنْ يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ﴾ [الكهف: ٢٩] ".» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي [۲] چې حضور ﷺ د الله ﷻ د دې ارشاد يُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ يَتَجَرَّعُهُ وضاحت کولو سره وفرمايل [۳] هرکله چې هغه اوبه د هغه دوزخي خولي ته نزدې راوړل شي نو هغه به پوزه تروه کړي [٤] او بيا چې هغه اوبه د هغه په خوله کې واچول شي نو د هغه د خولي غوښه به وښوروي او د هغه د سر څرمن به ولويږي [٥] او هرکله چې هغه دوزخي هغه اوبه اوڅکي او هغه اوبه يې خيټه ته ورسيږي نو کولمي به يې ټکړي ټکړي کړي تردې چې هغه به دده د دبري دخوا نه ووځي [٦] لکه چې الله ﷻ فرمايي. وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ دغه شان قرآن کريم کې يوبل ځاي کې يې دا سې فرمايلي دي. وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ (ترمذي)

حل اللغات:- ① صَدِيدٍ: الْجُرْحِ مَاؤُهُ الرَّقِيقُ الْمُخْتَلِطُ بِالدَّمِ السَّائِلِ مِنْهُ: د زخم اوبه چه وينې سره ګډ وي شوې وي هغې ته صديد وائي. يعنې پيپ. نو. وينې زوې ② يَتَجَرَّعُهُ: أَيْ يَشْرَبُهُ جُرْعَةً بَعْدَ جُرْعَةٍ: په ګوټ ګوټ به ئې څکي. ③ شَوَى: أَيْ أَحْرَقَ: وريت به ئې کړي يعنې اوبه ئې سوزوي. ④ فَرْوَةُ: أَيْ

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة جهنم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة شراب أهل النار (رقم-٢٥٨٤) واحمد فی المسند: ٢٦٥/٥

جِلْدَةٌ: څرمن ⑤قَطَعَ: ټکرې ټکرې به کړی. ⑥أَمْعَاءَهُ: امعاء، کولمو ته وائی یعنی د هغه کولمې ⑦يَسْتَغِيثُوا أَيْ يَطْلُبُوا الْغِيَاثَ بِالْمَاءِ: اوبه اوغواړی. ⑧الْمُهْلِ: تیل چټ، د تیلو سخا خیرې.

تسهیلات

قوله يُسْقَى مِنْ مَاءٍ صَدِيدٍ يَتَجَرَّعُهُ

دصدید څخه مراد: صدید- کچه وینې او نرې پیپ ته وائی کله چه دوزخیان دَ تندې دَ وجې نه اوبه غواړی نودَ څکلو دَپاره به هم دغه اوبه وی نو کله به په دوزخیانو باندې صدید څکولې شی اوکله به حمیم څکولې شی مقصود عذاب ورکول دی

[٥٦٨١] د دوزخ چار دیواري

٥٦٨١ -(¹)[٤] ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②قَالَ: " «لِسُرَادِقِ النَّارِ أَرْبَعَةُ جُدُرٍ ③كُثُفُ كُلِّ جِدَارٍ أَرْبَعِينَ سَنَةً» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي ②چې حضور ﷺ وفرمایل د دوزخ داحاطې د پاره به چار دیواري وي ③چې د هغه نه د هر دیوال پلنوالی به د څلویښت کاله د مسافت برابر وي (ترمذي)

حل اللغات - ①لِسُرَادِقِ: ددې جمع سُرَادِقَاتٌ راځی. وَهُوَ كُلُّ مَا أَحَاطَ بِشَيْءٍ: احاطه کونکی څیز ته سرادق وائی (لکه دیوال. خیمه یا شپول وغیره) ②جُدُرٍ: د جِدَارٍ جمع ده. دیوال ته وائی ③كُثُفُ: أَيْ غِلَظُ: د کثافت نه دَ دیوال پلنوالې او پیړوالې مراد دې

تسهیلات:

نوټ: په حدیث کښې ګران لغات دی اود هغې حل د حل اللغات د عنوان لاندې اوشو

٥٦٨٢ -(²)[١٠] ①وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «لَوْ أَنَّ دَلْوًا مِنْ غَسَّاقٍ يُهَرَاقُ فِي الدُّنْيَا ③لَأَنْتَنَ أَهْلَ الدُّنْيَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابوسعید رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ②د دوزخیانو د زخمونو نه چې کومې ژړې اوبه بهیږي یعنی خرابه وینه او نو که د هغه یوه بوقه د کولو سره په دنیا کې توی شی ③نو یقیناً ټول دنیا والا به بدبویه شي (ترمذي)

حل اللغات - ①دَلْوًا: بوقه. بالټ. ②غَسَّاقٍ: وینې او نوونو ته غساق وائی دې نه دَ دوزخیانو د بدن دننه چه کومه ګندګی وی هغه مراد دی ③يُهَرَاقُ: أَيْ يُصَبُّ: وارولې شی. راتوې کړې شی.

---

¹) اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صفة شراب أهل النار (رقم-٢٥٨٤) واحمد في المسند:٢٩/٣

²) اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صفة شراب أهل النار (رقم-٢٥٨٤) واحمد في المسند:٢٨/٢

③لَأَنْتَنَ: بد بويه او سخا به كړي، دَ يوځيز دَ سخاكيدونه پس چه كوم سخت سخا بوئى راوچتيږي هغې ته نتن وائي. د نتن ضد فَوّح راځي يعنى پاك او خوشبودار.

تسهيلات:

قوله: لَوْأَنَّ دَلْوًا مِنْ غَسَّاقٍ يُهَرَاقُ فِي الدُّنْيَا لَأَنْتَنَ أَهْلَ الدُّنْيَا:

د جهنميانو په يوه بوقه پيپ باندې دنيا بدبويداره كيدل: مطلب دا چه دَدې په وجه سره به ټول دَ دنيا خلق په سخت خراب بوئى كښې راګيريږي. په دې حديث كښې دَ قرآن پاك دې آيت ﴿هَذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ۝ وَآخَرُ مِنْ شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ ۝﴾ طرف ته اشاره ده.

٥٦٨٣-( ) [٩] ①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - ②أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ: ﴿اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ﴾ [آل عمران: ١٠٢] ③قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّومِ قُطِرَتْ فِي دَارِ الدُّنْيَا لَأَفْسَدَتْ ④عَلَى أَهْلِ الْأَرْضِ مَعَايِشَهُمْ، ⑤فَكَيْفَ بِمَنْ يَكُونُ طَعَامَهُ»"؟!. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ①او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى ②يوه ورځ رسول الله ﷺ دا آيت اِتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ تلاوت كړ ③بيا يې وفرمايل كه د دوزخ د زقوم ونې يوه قطره هم د دې دنيا كور كې وڅڅيږي نو يقيناً د دنيا والو د ژوند سامان به خراب كړي ④بيا سوچ وكړئ د هغه سړي به څه حال وي چې د هغه خوراك دا زقوم وي دا روايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دى.

حل اللغات: - ①قَطْرَةً: څاڅكي، ②الزَّقُّومِ: أَيْ شَجَرٍ يَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ: دجهنم په مينځ كښې يوه اونه ده هغې ته زقوم وائي. الزَّقُّومُ شَجَرَةٌ خَبِيثَةٌ مُرَّةٌ كَرِيهَةُ الطَّعْمِ وَالرَّائِحَةِ: زقوم يوه بې خونده، ترخه او بدبوداره اونه ده چه جهنمى له به ددې دخوړلو نه كركه ورځي. ③مَعَايِشَهُمْ: د مَعِيشَةٌ جمع ده، د ژوند اسباب او سامان ته وائي يعنى د خوراك څكاك څيزونه.

تسهيلات:

قوله: لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّومِ قُطِرَتْ فِي دَارِ الدُّنْيَا لَأَفْسَدَتْ عَلَى أَهْلِ الْأَرْضِ مَعَايِشَهُمْ:

نوټ: د مشكاة حديث نمبر (٥٦٨٢) په تشريح كښې چې څه دى هم هغه تشريح دلته هم مراد دې صرف هلته د عساق ذكر وو او دلته د زقوم ذكر دې.

---

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى صفة شراب أهل النار (رقم-٢٥٨٥) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب صفة النار (رقم-٤٣٢٥) واحمد فى المسند: ٣٠١/١

[٥٦٨٤] د دوزخيانو د خولې بدهيئتي

٥٦٨٣-(١)[٢٠] ١ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- «عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٢ قَالَ: ﴿وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ﴾ [المؤمنون: ١٠٣] قَالَ: ٣ "تَشْوِيهِ النَّارُ فَتَقَلَّصُ شَفَتُهُ الْعُلْيَا حَتَّى تَبْلُغَ وَسْطَ رَأْسِهِ، ٤ وَتَسْتَرْخِي شَفَتُهُ السُّفْلَى حَتَّى تَضْرِبَ سُرَّتَهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت ابو سعيد د رسول الله ﷺ نه روايت كوي ٢ چې رسول الله ﷺ د ﴿وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ﴾ آيت په تفسير كښې وفرمايل ٣ د دوزخ اور به د كافر د خولې غونبه پخه كړي چې هغه سره به د هغه برسيره شونډه پورته وخيژي ددې پورې چې د سر درمياني حصې ته به ورسيږي ٤ او لاندې شونډه به وزړيږي ددې پورې چې نامه ناف پورې به ورسي (ترمذي)

حل اللغات:- ① كَالِحُونَ: أي عَابِسُونَ: بد مخي (شكلونه به ئې مسخ شوي وي) ② تَشْوِيهِ: أي تَحْرِقُ: اوبه سوزوي. ③ فَتَقَلَّصُ: أي تَنْقَبِضُ: راټولنجې به شي ④ شَفَتُهُ: شونډه د جهنمي. ⑤ تَسْتَرْخِي: أي تَسْتَرِيلُ: رازوړنده به شي. ⑥ تَضْرِبَ: أي تَقْرُبُ: اوبه رسيږي. ⑦ سُرَّتَهُ: سرة نامه يعنى ناف ته وائي

تسهيلات:

قوله وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ:

د كالحون په تفسير كښې درې اقوال:

① د كوم سړي شونډې چه پورته شي او د هغه غابښونه ښكاره شي هغه سړي ته كالح وائي

② دا د غه دوزخيانو شونډې به اوچتې شوي وي

③ د چا غابښونه چه به په بدرنګه انداز كښې رابښكاره شوي وي دغه كالحون دي

[٥٦٨٥] دوزخي به په ويښو ژاړي

٥٦٨٥-(٢)[٢١] ١ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ٢ "«يَا أَيُّهَا النَّاسُ ابْكُوا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِيعُوا فَتَبَاكَوْا، ٣ فَإِنَّ أَهْلَ النَّارِ يَبْكُونَ فِي النَّارِ حَتَّى تَسِيلَ دُمُوعُهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ كَأَنَّهَا جَدَاوِلُ، ٤ حَتَّى تَنْقَطِعَ الدُّمُوعُ فَتَسِيلَ الدِّمَاءُ، ٥ فَتَقَرَّحَ الْعُيُونُ، ٦ فَلَوْ أَنَّ سُفُنًا أُزْجِيَتْ فِيهَا لَجَرَتْ» ". رَوَاهُ (فِي شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: ١ او حضرت انس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت كوي چې حضور ﷺ وفرمايل ٢ اې خلقو! د الله ﷻ د خوف نه وژاړئ او ژړل اختياري شي نه دى ځكه كه تاسو له ژړا نه راځي نو په تكلف سره وژاړئ يعنى د هغه احوال تصور وكړئ كوم چې خوف خداوندي نه [illegible]

---

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى صفة طعام أهل النار (رقم-٢٥٨٧) واحمد فى المسند: ٨٨/٣ [illegible]

[2]) اخرجه ابن ماجة رقم الحديث [illegible] (٦٢٦٤-رقم) [illegible] (٥٨٥٢-رقم)

ژړا راولي او رقت يعنی زړه نرموي [۳] حقيقت دادی چې دوزخيان به په جهنم کې ژاړي او د هغوئ اوښکې به ډېر ژړيدو سره د هغوئ په مخو داسې رابهيږي ګويا هغه نالی دي [۴] او هرکله چې د هغوئ اوښکې ختمې شي نو وينې بهيدل به شروع شي [۵] او سترګې به د وينو نه ډکې شي [٦] د هغوئ د سترګو نه بهيدونکې وينه خون او د اوښکو زياتې به د دې درجې وي که د هغوئ د سترګو په سيلاب کې کشتی پرېښودل شي نو يقيناً هغه به رواني شی دا روايت بغوي رحمه الله خپلو اسنادو سره شرح السنه کې نقل کړی دی

حل اللغات - ① ابْكُوا: د بَكَى يَبْكِي نه د امر صيغه ده. الله تعالی به ورته اووائی اوژاړئ ② فَتَبَاكَوْا: د باب تَفَاعُل نه امر دې. په تکلف سره ژړل يعنی د ژړا شکل جوړول ③ جَدَاوِلُ: دا د جَدْوَل جمع ده. وَهُوَ النَّهْرُ الصَّغِيرُ: وړونالولختوته وائی. ④ تَتَقَرَّحَ: د باب تفعل نه د مضارع صيغه ده. زخم ته وائی. دلته ترې مراد راوتل او بهيدل دی أَيْ فَتَقْرَحَ: يعنی راوبه خی ⑤ أُزْجِيَتْ: دا د إِزْجَاء باب افعال نه دې. أَيْ أُرْسِلَتْ: پرېخودلې شی. روانه کړې شی. ⑥ لَجَرَتْ: نو روانه به شی

تسهيلات:

قوله فَتَقَرَّحَ الْعُيُونُ، فَلَوْ أَنَّ سُفُنًا أُزْجِيَتْ فِيهَا لَجَرَتْ:

د جهنميانو دسترګو څخه د اوښکو بهيدل: فَتَقَرَّحَ: قرح زخم ته وائی دا په اصل کښې فتتقرح وو يوه تاء محذوف ده په دې صورت کښې به العيون دَدې فاعل شی يعنی سترګې به ئې زخمی شی او که چرې دا دَ باب فتح نه دَمضارع صيغه ده نو العيون به دَدې مفعول به شی يعنی دا وينې به سترګې زخمی کړی

[۵٦۸٦] د دوزخيانو حالت

۵٦۸٦-(١)[۲۲] [١] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «يُلْقَى عَلَى أَهْلِ النَّارِ الْجُوعُ، فَيَعْدِلُ مَا هُمْ فِيهِ مِنَ الْعَذَابِ، [۳] فَيَسْتَغِيثُونَ، فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ: (مِنْ ضَرِيعٍ، [۴] لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِنْ جُوعٍ، [۵] فَيَسْتَغِيثُونَ بِالطَّعَامِ، فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ ذِي غُصَّةٍ، [٦] فَيَذْكُرُونَ أَنَّهُمْ كَانُوا يُجِيزُونَ الْغُصَصَ فِي الدُّنْيَا بِالشَّرَابِ،

ترجمه: [١] او حضرت ابودرداء رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] دوزخيانو باندې به لوږه داسې مسلطه شي چې د هغه لوږې اذيت تکليف به د هغه عذاب برابر وي چې په هغه کې هغه دوزخي د مخکې نه ګرفتار وي [۳] نو هغوئ د لوږې د تکليف نه بې تابه کيدو سره فرياد به کوي او د هغوئ فريادرسي به د ضريع (ازغيداري وني) خوړلو په ذريعه کولی شي [۴] چې نه به يې غټوي چاغوی او نه به يې لوږه دفع کوي [۵] بيا به هغوئ

---

۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صفة طعام أهل النار (رقم ۲۵۸٦)

مخکنی خوراك او حاصلیدو سره په دویم ځل فریاد کوي او دا ځل به د هغوئ فریاد رسي په ستوني کې د منبتونکي طعام په ذریعه کولی شي [٦] دا وخت به هغوئ ته دا رایادیږي چې په دنیا کې د طعام خوړلو په وخت د هغوئ په ستوني کې چې به څه شي ونښتی.

حل اللغات - ① الْجُوعُ: سخته لوږه، ② فَيَعْدِلُ: أَيْ فَيُسَاوِي: برابر به وی (یعنی دا د اولوږې عذاب به داُور دعذاب په شان وی). ③ ضَرِيعٍ: وَهُوَنَبْتٌ بِالْحِجَازِ: په حجاز کښې د یو بوټی نوم دې، دا ازغی دار تریخ او بې خونده بوټې دې، ددې نه څناور هم ځان ساتی که څناور دا اوخوری نو مړ کیږی، دلته ددې نه مراد جهنمی ازغی داره ترخه اونه ده. ④ لَايُسْمِنُ: أَيْ لَايُشْبِعُ: نه به مړول کوی، نه به څه فائده ورکوی، ⑤ لَايُغْنِي: أَيْ وَلَايَدْفَعُ: نه به لرې کوی (څه درد او تکلیف). ⑥ ذِي غُصَّةٍ: أَيْ مِمَّا يَنْشَبُ فِي الْحَلْقِ: په حلق یعنی مرئ کښې اینختونکې خوراک، ډیر ستغ خوراک، ⑦ يُجِيزُونَ: أَيْ يُسِيغُونَ: چه تیر ئې کړی (بلکه په حلق کښې به ئې اونخلی) ⑧ الْغُصَصَ: د غُصّة جمع ده، وَهِيَ مَا اعْتَرَضَ فِي الْحَلْقِ: په مرئی کښې د یو څیز انختو ته غُصص وائی.

[١] فَيَسْتَغِيثُونَ بِالشَّرَابِ [٢] فَيُرْفَعُ إِلَيْهِمُ الْحَمِيمُ بِكَلَالِيبِ الْحَدِيدِ، [٣] فَإِذَا دَنَتْ مِنْ وُجُوهِهِمْ شَوَتْ وُجُوهَهُمْ، [٤] فَإِذَا دَخَلَتْ بُطُونَهُمْ قَطَّعَتْ مَا فِي بُطُونِهِمْ، [٥] يَقُولُونَ: ادْعُوا خَزَنَةَ جَهَنَّمَ، [٦] فَيَقُولُونَ: ﴿أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا بَلَى قَالُوا فَادْعُوا وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ﴾ [غافر: ٥٠] قَالَ: [٧] فَيَقُولُونَ: ادْعُوا مَالِكًا، [٨] فَيَقُولُونَ: ﴿يَامَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ﴾ [الزخرف: ٧٧] [٩] قَالَ: " فَيُجِيبُهُمْ ﴿إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ﴾ [الزخرف: ٧٧]

ترجمه: [١] نو هغوئ به د څښونکي شي سره لاندي کی نو هغوئ به خپل ستوني کې منبتی خوراك خکته کولو د پاره د څه څښونکي شي التجاء درخواست وکړي [٢] نو هغوئ ته به تیزي ګرمي اوبه ورکول شي چې د انبورونو په ذریعه به نیولو سره به وړپورته کړل شي یعنی کوم لوښو کې چې هغه تیزي ګرمي اوبه وي د آنبورونو په ذریعه به نیولو سره هغه اوچتولی شي او پورته کونکی به یا فرشتي وي یا براه راست به هغه اوچتولو سره د دوزخیانو خولي سره ولګوي [٣] او هرکله چې د ګرمو اوبو هغه لوښي د هغوئ خولي ته ورسیږی نو د هغوئ د مخونو غوښه به پخه کړي [٤] او هرکله چې د هغه لوښو دننه شی چې هغوئ ته به دڅکلو د پاره ورکولی شي لکه نو ژړی اوبه وغیره د هغوئ په خیټه کې داخل شي نو د خیټي دننه څیزونه یعنی کولمي وغیره به ټکړي ټکړي کړي [٥] نو په دي صورت حال سره به بي تابه کیدو سره هغه دوزخیان به جهنم باندې مقررو فرشتو ته وایي اې د دوزخ محافظانو! الله ﷻ نه دعا وغواړئ چې کم نه کم دیوې ورځي د پاره په مونږ مسلط داعذاب سپك کړي [٦] د دوزخ محافظان به ورته وایي چې اوس مونږ ته د دعا د پاره وایئ آیا د الله رسولان خدائي معجزو او واضح دلیلونو سره تاسو ته نه وو راغلی او

تاسو ته يې دانه وئيل چې د کفر او سر کشي لار پريښودو سره د الله ﷻ د اطاعت او فرمانبرداري لار اختيار کړئ چې صبا په آخرت کې د دوزخ د سخت عذاب نه محفوظ شئ هغوئ به ورته وايي بيشکه د الله رسولان مونږ ته راغلي وه او د هغوئ تعليمات مونږ ته رسيدلي وه ليکن های آفسوس مونږ گمراهي کې مبتلا وو او د ايمان او سلامتيا لار مو اختيار نه کړه د دوزخ محافظان به ورته وايي بيا تاسو خپله دعا وغواړئ او خپله معامله درسته کړئ مونږ ستاسو شفاعت نه شو کولی او د کافرانو دعا د زيان کاري او بې فائده گۍ نه علاوه نور هيڅ نه ده نو هغوئ به يقين وکړي چې مونږ ته د خداوندي عذاب نه خلاصون حاصليدونکی نه دی بيا مرگ دي ولي ونه غواړو [۷] نو هغوئ به خپلو کې وايي چې د جنت داروغه مالك ته د مدد درخواست وکړئ نو [۸] بيا به هغوئ التجاء وکړي اې مالكه! خپل پروردگار نه دعا وغواړه چې هغه مونږ ته مرگ راکړي چې مونږ آرام پيدا کړو [۹] حضور ﷺ وفرمايل د دوزخيانو التجاء اوريدو سره مالك به خپل يا د پروردگار د طرف نه جواب ورکړي چې دي دوزخ نه د نجات يا د مرگ خيال پريږدئ تاسو به هميشه هميشه دلته او په دې عذاب کې گرفتار يئ

حل اللغات:- ⑨ الْحَمِيمُ: وَهُوَ الْمَاءُ الْحَارُّ الشَّدِيدُ: ډيرې سختې گرمې اوبه. ⑩ كَلَالِيبَ: انبورونه. پلاسونه (چه په دې سره به د گرمو اوبو لوښي نيولې شوي وي)، ⑪ شَوَتْ: أَيْ أَحْرَقَتْ: وريت به نې کړي يعني اوبه ئې سوزوي. ⑫ خَزَنَةُ: دجهنم داروغه، د جهنم دربانانې او نگرانی کونکې فرشتې. ⑬ الْبَيِّنَاتِ: ښکاره او واضح آياتونه. معجزې او دلائل. ⑭ ضَلَالٍ: أَيْ فِي ضَيَاعٍ: فضول به وي يعني فائده به نه ورکوي. ⑮ مَالِكًا: د جهنم په نگرانانو فرشتو کښې يوه سرداره فرشته ده. ⑯ مَاكِثُونَ: أَيْ مَكَثًا مُخَلَّدًا: هميشه اوسيدونکي،

[۱] قَالَ الْأَعْمَشُ: نُبِّئْتُ أَنَّ بَيْنَ دُعَائِهِمْ وَإِجَابَةِ مَالِكٍ إِيَّاهُمْ أَلْفَ عَامٍ [۲] قَالَ: فَيَقُولُونَ: ادْعُوا رَبَّكُمْ، فَلَا أَحَدَ خَيْرٌ مِنْ رَبِّكُمْ، [۳] فَيَقُولُونَ: ﴿رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ - رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ﴾ [المؤمنون: ۱۰۶-۱۰۷] [۴] " قَالَ: " فَيُجِيبُهُمْ: ﴿اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ﴾ [المؤمنون: ۱۰۸] قَالَ: [۵] " فَعِنْدَ ذَلِكَ يَئِسُوا مِنْ كُلِّ خَيْرٍ، [۶] وَعِنْدَ ذَلِكَ يَأْخُذُونَ فِي الزَّفِيرِ وَالْحَسْرَةِ وَالْوَيْلِ» ". [۷] قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ: وَالنَّاسُ لَا يَرْفَعُونَ هَذَا الْحَدِيثَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت اعمش رحمه الله چې د دې حديث راوي دی وايي بعضې صحابه رضی الله عنهم بطريق مرفوع يا موقوف ماته بيان وکړو چې مالك ته د دې دوزخيانو التجاء او د مالك د طرف نه جواب ورکولو په منځ کې به د زر کاله وقفه وي يعني هغه دوزخيان به مالك ته التجاء کولو نه وروسته يو زر کاله پورې د جواب انتظار کوي او په دې دوران کې به هم عذاب کې مبتلا وي [۲] حضور ﷺ وفرمايل بيا به هغه دوزخيان خپلو کې وايي چې اوس مونږ ته براه راست خپل پروردگار ته د نجات خلاصون التجاء کول پکار دی ځکه چې هغه قادر

مطلق رحيم وكريم او غفار دى زمونږ په حق كې خير او بهتري كونكى دى پروردګار نه بهتر بل څوك نشته ۞تو هغوئ به التجاء وكړي چې اې پروردګاره! زمونږ بدبختي مونږ ګير كړلو او په دې كې شك نشته چې مونږ د توحيد د لارې نه ګمراه شوي وو اې پروردګاره! مونږ ته ددوزخ او دې عذاب نه خلاصون راكړې كه مونږ دې نه وروسته هم كفر او شرك طرف ته راشو نو خپل ځان باندې به ظلم كونكي ۞يو الله ﷻ به هغوئ ته جواب وركړي چخې شئ كمبختو! د سپو په شان ذليل او خوار اوسئ او په دې دوزخ كې پراته اوسئ او د خلاصون په باره كې ما سره هيڅ خبره مه كوئ ستاسو خلاصون هيڅ كله كيدې نشي ۞حضور ﷺ وفرمايل آخر هغه دوزخيان به دهر خير نه نا اميده شي ۞او بيا به حسرت او ژړا فرياد شروع كړي ۞حضرت عبد الله بن عبد الرحمن رحمه الله چې د دې حديث راوي دى وايي چې علماؤدا حديث مرفوع نه ګرځوي ليكن ترمذي داحديث مرفوع نقل كړى دى ځكه چې د روايت د ابتداء نه معلوميږي

حل اللغات:- ⑰شِقْوَتُنَا: أي هَلَكَتُنَا: شقاوت بد بختئ او هلاكت ته وائى ددې ضد سعادت راځى يعنى نيک بختى. ⑱اخْسَئُوا: أي ذِلُّوا وَانْزَجِرُوا: د سپي د شړلو اورټلو دپاره په عربى كښې د اِخْسَأْ لفظ استعمالولې شي. يعنى ګرې شئ اوس مونږ سره خبرې مه كوئ ⑲يَئِسُوا: أي قَنَطُوا: نا اُميده به شي. ⑳الزَّفِيرِ: أَوَّلُ صَوْتِ الْحِمَارِ: د خر د چغې شروع آواز ته زفير وائي او د خر د چغې ختميدو آواز ته شهيق وائى (يعنى جهنميان به د خرو په شان چغې وهل شروع كړى). ㉑الْحَسْرَةِ: أي النَّدَامَةِ: نا اُميدى. ㉒الْوَيْلِ: أي الْهَلَاكِ وَالْعُقُوبَةِ: ويل يا هلاكت او عذاب ته وائي يا داپه جهنم كې يوه كنده ده

تسهيلات:

نوټ: په حديث كښې د ګرانو ټكو وضاحت د حل اللغات په عنوان سره اوشواوباقى د حديث مضمون اسان دې

[۵۶۸۷] حضور ﷺ خپل امت د دوزخ نه پوره طور سره آګاه كړى دى

۵۶۸۷-(۱)[۲۲] ۞وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ۞ «أَنْذَرْتُكُمُ النَّارَ أَنْذَرْتُكُمُ النَّارَ» ۞فَمَا زَالَ يَقُولُهَا حَتَّى لَوْ كَانَ فِي مَقَامِي هَذَا سَمِعَهُ أَهْلُ السُّوقِ، ۞وَحَتَّى سَقَطَتْ خَمِيصَةٌ كَانَتْ عَلَيْهِ عِنْدَ رِجْلَيْهِ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۞او حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه وايي يوه ورځ ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ۞اې خلقو! ما تاسو د دوزخ د عذاب نه ويرولئ، ما تاسو د دوزخ د عذاب نه ويرولئ، ۞حضور ﷺ دا الفاظ بار بار فرمايل او د يو عجيب كيفيت په عالم كې تالى وهلو سره دومره اوچت اواز سره يې فرمايل كه حضور ﷺ دا ځاى تشريف فرماواى چيرته چې دا

(۱) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ۲۸۱۲ واحمد في المسند:۲۶۸

وخت زه ناست يم نو يقيناً د حضور ﷺ اواز به بازار والاو اوريدى [۴] ددي پورې چې د هغه ټالى وهلو په وجه د حضور ﷺ کمبله چې په اوږه يې پرته وه په پښو کې رالويدلى وه

حل اللغات:- ① أَنْذَرْتُكُمْ: يعنى دَ دوزخ دَاورنه ماتاسو اوويرولئ ،يعنى تاسو مې خبر کړئ چه د جهنم اور ډير سخت دې په هغې کښې قسم قسم عذابونه دى وغيره لهذا تاسو دهغې نه ځان بچ کړئ، ② فَمَازَالَ يَقُولُهَا: أَيْ يُكَرِّرُ الْكَلِمَةَ الْمَذْكُورَةَ: يعنى بار بار به ئې دغه کلمه په اوچت آواز سره وئيله ③ خَمِيصَةٌ: وَهِيَ ثَوْبٌ: يو قسم جامې يادَ وړئ نقش دار ځادرته وائى يعنى شرئ.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى لَوْكَانَ فِي مَقَامِي هَذَا سَمِعَهُ أَهْلُ السُّوقِ:

په ويرولو کښې د نبى عليه السلام مقام: يعنى حضورپاك به الفاظ داسې په زور زور سره اداکول چه زما په دغه ځائى باندې تاسو وئى نو ستاسو آوازبه دَ بازارپورې رسيدلو

[۵٦٨٨] د دوزخيانو د ترلو زنجير

٥٦٨٨-()[۲۳] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«لَوْ أَنَّ رَصَاصَةً مِثْلَ هَذِهِ -[۳] وَأَشَارَ إِلَى مِثْلِ الْجُمْجُمَةِ- [۴] أُرْسِلَتْ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ وَهِيَ مَسِيرَةُ خَمْسِمِائَةِ سَنَةٍ [۵] لَبَلَغَتِ الْأَرْضَ قَبْلَ اللَّيْلِ، [٦] وَلَوْ أَنَّهَا أُرْسِلَتْ مِنْ رَأْسِ السِّلْسِلَةِ، [۷] لَسَارَتْ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ قَبْلَ أَنْ تَبْلُغَ أَصْلَهَا أَوْ قَعْرَهَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله بن عمرو بن عاص ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] که د سکي يوه گوله داسې وي [۳] او حضور ﷺ د سر طرف ته اشاره وکړه چې د کاسې په شان وي يعنى دسکي هغه گوله د کاسي په شان گول او ددرنيدو په وجه ډيره تيزي سره رغريدونکې وي [۴] د آسمان نه زمکې طرف ته وغورځول شي چې د هغه درمياني فاصله د پنځه سوه کاله دمسافت برابر ده [۵] نو يقيناً هغه گوله به يوه شپه تيريدو نه مخکې يعنى ډيره مختصره موده کې زمکې ته راورسيږي [٦] ليکن که هغه گوله د زنجير د سر نه پريښودل شي نو څلويښت کاله پورې مسلسل ورځ او شپه رغريدو باوجود د هغه زنجير د ويخ يعنى د هغه آخري سره پورې يادايي وفرمايل د هغه تل ته به ونه رسيږي (ترمذي)

حل اللغات:- ① رَصَاصَةٌ: أَيْ قِطْعَةٌ مِنَ الرَّصَاصِ: د سيسې يوه گوله. ② الْجُمْجُمَةَ: وَهِيَ قَدَحٌ صَغِيرٌ: د سر برابر وړوه کاسه. ③ السِّلْسِلَةِ: زنځير. ④ أَصْلَهَا: آخرى سر. بيخ. ⑤ قَعْرَهَا: بيخ. تل

( ) اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۵۸۸) واحمد في المسند:۱۹۷/۲

تسهيلات:

قوله: لَوْ أَنَّ رَصَاصَةً... أُرْسِلَتْ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ وَهِيَ مَسِيرَةُ خَمْسِمِائَةِ سَنَةٍ،

د جهنم ژوروالي: دَ سيسه يو ګوله چه دَ سر او ګوپړئ په شان وي هغه که دَ آسمان نه دَ زمکې طرف ته راپريخودې شي نو په ډير کم وخت کښې به زمکې ته راورسيږي حالانکه دَ زمکې او آسمان په مينځ کښې دَ پنځو سوو کالو فاصله ده. ليکن که چرې هم دغه ګوله دَ دوزخيانو دَ زنځيرونو په يو سر پورې اوتړلې شي اوبيا ښکته راپريخودې شي نو دا زنځير دومره اوږد دې اودَ دوزخ ژوروالې دومره زيات دې چه څلويښت کاله پس به دا ګوله لاندې تلو سره اورسيږي.

[٥٦٨٩] د دوزخ هَبهَب ناله

٥٦٨٩- ()[٢٥] [١] وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] "«إِنَّ فِي جَهَنَّمَ لَوَادِيًا يُقَالُ لَهُ: هَبْهَبُ، [٣] يَسْكُنُهُ كُلُّ جَبَّارٍ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوبرده تابعي رحمه الله خپل پلار حضرت ابوموسى اشعري رضي الله عنه نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په دوزخ کې يوه ناله ده چې د هغه نوم هبهب دی [٣] په دي ناله کې هرهغه سړی ساتلی شي چې متکبر سر کش د حق نه لري او مخلوق باندې سختي کونکی وي. (دارمي)

حل اللغات:- ① وَادِيًا: هُوَ مُفْرَجٌ بَيْنَ جِبَالٍ: د غرونو په مينځ کښې کهلاؤ فضا ته وائي يعنی کنده ② هَبْهَبُ: أي السَّرِيْعُ: د جهنم کندې ته وائي، ددې معنی ده ډيره جلتی او تادی کول. دا عذاب به هم په مجرمانو باندې ډير زر په جلتئ سره واقع کيږي او ډير په تيزئ سره به مجرمانو ته عذاب ورکوی څکه ورته هبهب وائي ③ جَبَّارٍ: أي مُتَكَبِّرٍ: سرکشه. تکبر کونکي

تسهيلات:

قوله: إِنَّ فِي جَهَنَّمَ لَوَادِيًا يُقَالُ لَهُ: هَبْهَبُ، يَسْكُنُهُ كُلُّ جَبَّارٍ:

د جهنم کنده: په دوزخ کښې يوه وادی ده په دې کښې به دَ دنيا بدمعاشان ډاکوان لوفران جوارګرو غيره قسم خلق اچولې شي اوهم په دې کښې به اوسيږي. ددې نوم هبهب دې. الله تعالى دې په دې کښې هغوی واچوی چاچه په هغه معصومانو طالبانو او طالباتو باندې ظلمونه اوکړل.

[١]) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ٢٨١٦

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۶۹۰]په جهنم کښې د جهنمیا نو بدنونه غټیدل

۵۶۹۰-()[۳۶] ①عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُمَا- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ②قَالَ: "«يَعْظُمُ أَهْلُ النَّارِ فِي النَّارِ ③حَتَّى إِنَّ بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِ أَحَدِهِمْ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيرَةَ سَبْعِمِائَةِ عَامٍ، ④وَإِنَّ غِلَظَ جِلْدِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُدٍ»".

ترجمه: ①حضرت ابن عمر ﷠ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي ②چې حضور ﷺ وفرمایل په دوزخ کې به د دوزخیانو بدن ډیر غټ شي چې هغه سره به هغوئ ته عذاب هم زيات معلومیږي ③ دي پورې چې د يو دوزخي د غوږ د پوستکي نه د هغه د اوږي پورې فاصله د اووه سوه کاله د مسافت برابر وي ④د هغه د څرمي پنډ والی به اویا ګزه وي ⑤او د هغه غاښ به د احد د غره برابر وي.

حل اللغات:- ①يَعْظُمُ: أَيْ تَكْبُرُ جُثَّتُهُمْ: بدن به ئې ډير غټ شي. ②شَحْمَةِ: د غوږ پوستکې. پوڅکئ يعنى د غوږ نرمه غوښه، ③غِلَظَ: أَيْ عِظَمُهُ: سختوالي، پيړوالي ④ذِرَاعًا: مِنْ طَرَفِ الْمِرْفَقِ إِلَى طَرَفِ الْأَصْبَعِ الْوُسْطَى: د څنګلي د هډوکي نه تر د مينځ ګوتې پورې اوږد والی ته ذراع وائی. دې ته شرعی ګز هم وائی. ⑤ضِرْسَهُ: د داړې غاښ.

تسهیلات:

توله: يَعْظُمُ أَهْلُ النَّارِ فِي النَّارِ حَتَّى إِنَّ بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِ أَحَدِهِمْ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيرَةَ سَبْعِمِائَةِ عَامٍ

اشکال: په دې حديث کښې دَ دوزخيانو دَ څرمن باره کښې اوخودلې شو چه هغه به اويا ګزه پيړه وی حالانکه دَ دې نه مخکښې فصل اول په آخره کښې دَحضرت ابوهريره ﷠ په روايت کښې دی «وغلظ جلده مسيرة ثلاث» چه دَهغوی څرمن به دَ دريو ورځو په مسافت سره پيړه وی نو په ظاهره په دواړو رايتونو کښې تعارض دې؟

د اشکال څلور جوابونه:

① دا په مختلف حالاتو باندې محمول دی.

② دا دَ پوهه کولو دَپاره مختلفې اندازې بيان کړې شوی دی.

③ دادَ دوزخيانو مختلف کيدو باندې محمول دی چه بعضې دوزخيانوته به دَ دريو ورځو دَمسافت په اندازه څرمن ورلګولې شی او بعضو ته دَ اويا ګزه پورې پيړه لګولې شی.

④ دا تفاوت دکافرانودَ تفاوت دَ وجې نه دې چه دَ بعضې کافرانو قد به دَ دريو ورځو دَ مسافت په اندازه وی او دَ بعضو کافرانو قد به دَ اووه سوو مسافت په اندازه وی.

---

[۱]) اخرجه احمد فی المسند: ۲/۲۶

[٥٦٩١] د دوزخ ماران او لړمان

٥٦٩١-()[٢٧] ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " إِنَّ فِي النَّارِ حَيَّاتٍ كَأَمْثَالِ الْبُخْتِ، ③ تَلْسَعُ إِحْدَاهُنَّ اللَّسْعَةَ فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِينَ خَرِيفًا، ④ وَإِنَّ فِي النَّارِ عَقَارِبَ كَأَمْثَالِ الْبِغَالِ الْمُؤْكَفَةِ، ⑤ تَلْسَعُ إِحْدَاهُنَّ اللَّسْعَةَ فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِينَ خَرِيفًا". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① و حضرت عبد الله بن حارث بن جزء رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ② په دوزخ كې د بختي اوښ برابر غټ غټ ماران دي ③ په هغه كې يو مار هم چې څوك يو وار وچيچي نو د هغه دچيچلو په شدت كې به څلويښت كاله پورې مبتلا وي ④ دغه شان په دوزخ كې چې كوم لړمانان دي هغه د پالان تړلي غاترو په شان دي ⑤ او هغه نه چې يو لړم يو وار څوك وچيچي هغه به د هغه د زهرو او درد په شدت كې څلويښت كاله پورې مبتلا وي دا دواړه روايتونه احمد نقل كړي دي.

حل اللغات: - ① حَيَّاتٍ: د حية جمع ده، ماران. ② الْبُخْتِ: ددې مفرد بُخْتِيّ راځي، الإبل الخراسانية: خراساني يعنې غير عربي اوښ. ③ اللَّسْعَةَ: أي اللَّدْغَةَ: يو ځل چيچل. ④ حَمْوَتَهَا: أي أثر سُمِّهَا: د چيچلو يا د زهرو اثر، دَ حموة نه تيزوالى او دَ تېك وركولو سوزيدوته وائى. يعنې دَ څلويښتو كالو پورې به دَدې درد اثرباقي وي. ⑤ عَقَارِبَ: د عقرب جمع ده، لړم ته وائي. ⑥ الْبِغَالِ: قچر قچر د خرو نه غټ او د اسونو نه واړه وي. ⑦ الْمُؤْكَفَةِ: دَ إكاف نه دې. دَاسم مفعول صيغه ده يعنې كجاوې اچونكې قچر.

تسهيلات:

نوټ: دَحديث كښې د ګرانو معاني په حل اللغات كښې اوشو

[٥٦٩٢] سپوږمى او لمر به اورته حواله شي

٥٦٩٢-()[٢٨] ① وَعَنِ الْحَسَنِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ ② حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ③ "«الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ثَوْرَانِ مُكَوَّرَانِ فِي النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". ④ فَقَالَ الْحَسَنُ: وَمَا ذَنْبُهُمَا؟ ⑤ فَقَالَ: أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! فَسَكَتَ الْحَسَنُ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ).

ترجمه: ① و حضرت حسن بصري رحمه الله وايي ② حضرت ابو هريره رضي الله عنه مونږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حديث بيان كړ ③ چې د قيامت په ورځ به نمر او سپوږمۍ د پنير د دوو ټكړو په شان د دوزخ په اور كې واچول شي ④ حضرت حسن رحمه الله وايي ما دا حديث اوريدو سره د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه پوښتنه وكړه چې آخر نمر او سپوږمۍ څه ګناه كړيده چې څوك به اور ته حواله شي ⑤ حضرت ابوهريره رضي الله عنه جواب راكړو ماچي څه بيان كړل دا د

---

[١]) اخرجه احمد في المسند: ٤/١٩١

[٢]) لم اجده

رسول الله ﷺ حدیث دی حسن بصري ﷫ دي خبري اوریدو سره خاموش شو داروایت بیهقي په کتاب البعث والنشور کې نقل کړی دی

حل اللغات:- ① ثَوْرَانِ: ثوران تثنیه ده دَدې مفرد ثور دې. دَ پنیر تکړې ته وئیلی شوی دی. ② مُكَوَّرَانِ: مکوران هم دَ مکور تثنیه ده دَ اینغختلو په معنی کښې دې

تسهیلات:

قوله: الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ثَوْرَانِ مُكَوَّرَانِ فِي النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د نمر او سپوږمئی په جهنم کښې د دوپیدلو وجه: یعنی نمر او سپوږمئی به دَ پنیر دَ ټکړو په شان راغونډولو سره په دوزخ کښې اچولې شي. دې دَپاره چه دَ دې په ذریعه دَ اور په تیزوالی کښې دَ خشاك په توګه اضافه اوکړې شي اودَدې دَپاره هم چه دَدې دواړو عبادتونه به کیدل نو عابد او معبود دواړه به په دوزخ کښې وی اوچه کافران ذلیل شي بل دې دواړو دَ دنیا اووه طبق روښانه کړی دی بنه مشهور شوی دی لهذا دَدې مشهورتیا څه سزا تیرول پکار دی. هسې دا حدیث ضعیف هم دې.

[۵۶۹۲] شقي څوك دی؟

> ۵۶۹۳-()[۳۹] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ②«لَا يَدْخُلُ النَّارَ إِلَّا شَقِيٌّ". ③قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَنِ الشَّقِيُّ؟ ④قَالَ: " مَنْ لَمْ يَعْمَلْ لِلَّهِ بِطَاعَةٍ، ⑤وَلَمْ يَتْرُكْ لَهُ مَعْصِيَةً» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهریره ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ②په دوزخ کې به هغه سړی اچول کېږي چې شقي یعنی بدبخت وي ③پوښتنه وشوه یارسول الله شقي څوك دی؟ ④حضور ﷺ وفرمایل شقي هغه دی چې نه خو د الله ﷻ د رضا او خوشنودي له خاطره فرض او واجب او طاعات اختیاروي ⑤او نه د الله ﷻ رضا او خوشنودي د پاره یعنی د هغه د خوف نه ګناه او معصیت ترك کوي. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① شَقِيٌّ: بد بخت. ددې ضد سعید راځی یعنی نیک بخت

تسهیلات: قوله: لَا يَدْخُلُ النَّارَ إِلَّا شَقِيٌّ:

په دخول النار کښې دوه احتمالات: ① که چرې په دوزخ کښې دَ داخلیدو نه مراد مطلقًا دخول وی نو بیا "شقی" نه مراد مطلقًا بدکار دې که هغه کافر وی او که فاسق مسلمان ② که چرې دَ دخول نه مراد دائمی دخول وی نو بیا به دَ شقی نه مراد کافر وی کما فی القرآن ﴿ لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى ۝ الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّى ۝﴾ (مرقاة ۱۰/ ۳۷۰)

---

[۱]) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الزهد/باب ما يرجى من رحمة الله يوم القيامة (رقم-۴۲۹۸) واحمد في المسند:۲/۳۴۹

[۸] بَابُ خَلْقِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ

د جنت او دوزخ د تخلیق بیان

خلاصة الباب

فيه اربعة احاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① ذكر أهل النار والجنة: ۱، ۲.

② ذكر تخليق النار والجنة: ۳.

③ تمثيل الجنة والنار للنبي ﷺ في الدنيا: ۴.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٥٦٩٤] د جنت او دوزخ شکایت

۵۶۹۵-()[۱] ①عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"«تَحَاجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ ③فَقَالَتِ النَّارُ: أُوثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِينَ وَالْمُتَجَبِّرِينَ، ④وَقَالَتِ الْجَنَّةُ: فَمَا لِي لَا يَدْخُلُنِي إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ وَغِرَّتُهُمْ. ⑤قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى لِلْجَنَّةِ: إِنَّمَا أَنْتِ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي،

توجمه: ①حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②جنت او دوزخ په خپلو کې بحث او تکرار وکړ ③دوزخ دا اوويل چې زه سر کشو متکبرو او ظالمانو د پاره جوړ شوې يم ④او جنت اوويل زه خپل په باره کې څه اووايم په ماکې به هم هغه خلق داخليږي کوم چې ضعيف او کمزوري د خلقو په نظر کې راغلي وي او ساده سيده او دهوکه کې راتلونکې وي ⑤په دې اوريدو سره الله ﷻ جنت ته وفرمايل ته خما د رحمت د اظهار ذريعه او خما د کرم ځاې يې زه چې خپلو بنده ګانو کې څوک خپل رحمت سره نوازل غوارم دهغه د پاره تا ذريعه جوړوم

حل اللغات:- ① تَحَاجَّتْ: أي تَخَاصَمَتْ: يوبل سره ئې جګړه يعنې بحث مباحثه ئې اوکړه. او مناظره اوتکرارئې اوکړو ② أُوثِرْتُ: أي اخْتِرْتُ: ماله اختيار راکړې شوې دې يعنې زه مسلط کړې شوې يم. ③ الْمُتَجَبِّرِينَ: متکبره او سرکش خلق. ④ وَسَقَطُهُمْ: أي أَرْذَلُهُمْ: سپک او معمولي خلق چه خلق ورته په سپک نظر سره ګوري. ⑤ وَغِرَّتُهُمْ: ددنيا په کارونو کښې ناپوهه او غافله خلق.

①وَقَالَ لِلنَّارِ: إِنَّمَا أَنْتِ عَذَابِي أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي ②وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْكُمَا مِلْؤُهَا ③فَأَمَّا النَّارُ فَلَا تَمْتَلِئُ حَتَّى يَضَعَ اللّٰهُ رِجْلَهُ. ④تَقُولُ قَطْ قَطْ قَطْ، فَهُنَالِكَ تَمْتَلِئُ ⑤وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ، ⑥فَلَا يَظْلِمُ اللّٰهُ

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن/باب قوله: {وتقول هل من مزيد} [ق: ۳۰] (رقم-۴۸۵۰) ومسلم في كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب النار يدخلها الجبارون والجنة يدخلها الضعفاء (رقم-۳۶ - (۲۸۴۶))والترمذي في كتاب صفة الجنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في احتجاج الجنة والنار (رقم-۲۵۶۱) واحمد في المسند: ۳۱۴/۲

مِنْ خَلْقِهِ أَحَدًا، ⑦وَأَمَّا الْجَنَّةُ فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يُنْشِئُ لَهَا خَلْقًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او دوزخ ته يې وفرمايل ته څما د عذاب د محل او مظهر كيدو نه علاوه نور هيڅ نه يې زه چې خپلو بنده ګانو كې چاته عذاب وركول غوارم هغه د پاره تا ذريعه جوړوم ②او زه به تاسو دواړه د خلقو نه ډك كړم ③البته دوزخ سره خو به دا معامله وي چې هغه به هغه وقته پوره نه ډكيږي د څوپورې چې په هغه الله ﷻ خپله پښه كيږدي ④هركله چې الله ﷻ خپله پښه پرې كيږدي نو دوزخ به نعري كړي چې بس بس هغه وخت به دوزخ د الله ﷻ په قدرت سره ډك شي ⑤او د هغه حصې به يوې بلې ته نزدې كړي نو هغه به راټول شي ⑥مطلب دا چې الله ﷻ په خپل مخلوق كې په هيڅ باندې ظلم نه كوي ⑦او د جنت معامله خوبه داوي چې د هغه ډكيدو د پاره به الله ﷻ نوي خلق پيدا كړي.
(بخاري مسلم)

حل اللغات: -⑨قَطْ قَطْ قَطْ: كه په سكون د طاء سره شي نو معنى ئې ده: أَيْ: كَفَى كَفَى: بس بس. يعنى كافى شو. اوكه په كسرې د طاء سره شى نو معنى ئې ده: أَيْ حَسْبِي حَسْبِي: بس دې بس كافى دې ⑤يُزْوَى: أَي يُضَمُّ وَيُجْمَعُ: يعنى د دوزخ حصې به رانيزدې كړې شي نوهغه به راغونډ شي. ⑧يُنْشِئُ: پيدا به كړى.

تسهيلات:

قوله: تَحَاجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ:

د جنت او جهنم يوبل سره مكالمه: حجت بازى اوكړه او په يوبل باندې خپله لوئى بيان كړه خو زياته واضح خبره داده چه د دواړوطرفونه دا د يوقسم شكايت اظهاردې. دوزخ اووئيل چه زه ولې صرف بدمعاشانو سركشو كافران شيطانانو سره خاص كړې شوې يم؟ هرملعون ولې زما ګاوندى دې؟ جنت اووئيل چه ته څه شكايت كوې اوستاشكايت څه دې. ماته لږ شان اوګوره هربې نامې مفلس غريب غيرمعروف زما ګاونډيان دى. د دې دواړوداخبرې اترې او شكايت اوريدوسره الله تعالى اوفرمائيل تاسو دواړه زما د جمال اوجلال مظهريئى. تاسو دواړه برابريئى. صرف دومره خبره ده چه تاسو كښې يوسره زما عدل اوانصاف تړلې دې كوم چه دوزخ دې اودويم سره زما انعام اواكرام او فضل احسان تړلې دې كوم چه جنت دې.

قوله: وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْكُمَا مِلْؤُهَا:

د الله تعالى د جنت او جهنم د ډكولووعده: يعنى زما په ذمه دا وعده ده چه زه به دواړه ډكوم. د جنت د پاره خو به يونوې مخلوق پيدا كولې شى ځكه چه دابه د الله تعالى انعام اواحسان وى اودوزخ د پاره به نوې مخلوق نه شى پيدا كولې ځكه چه بغيرد څه وجې نه به دوزخ كښې څوك نه شى اچولې. په دې وجه به په دوزخ باندې الله تعالى د خپل قدرت قدم ايږدى نو دوزخ به اقرار كوى چه زه ډك شوم كافى دى كافى دى.

قوله: وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ، فَلَا يَظْلِمُ اللّٰهُ مِنْ خَلْقِهِ أَحَدًا:

دالله تعالى د طرفه په ظلم نه كيدل: يعنى الله تعالى به دَ دوزخ ډكولو دَپاره نوې مخلوق نه پيدا كوى ځكه چه بغيردَ گناه څوك دوزخ كښې اچول په ظاهرى صورت كښې دَ ظلم برابر دى. الله تعالى خودَ ظلم نه پاك دې. په دې وجه به دَ دوزخ په خله باندې الله تعالى دَخپل قدرت قدم كيږدى نودوزخ به دَ خپل ډكيدو اقرار كوى اودغه شان دوزخ سره چه كومه دَ ډكيدو وعده كړې شوې ده هغه به پوره شى.

[٥٦٩٥]دوزخ او جنت به ډك شي

٥٦٩٥-()[٢] ١وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٢قَالَ: «لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ يُلْقَى فِيهَا ٣وَتَقُولُ: هَلْ مِنْ مَزِيدٍ؟ ٤حَتَّى يَضَعَ رَبُّ الْعِزَّةِ فِيهَا قَدَمَهُ. ٥فَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ ٦فَتَقُولُ: قَطْ قَطْ، بِعِزَّتِكَ وَكَرَمِكَ، ٧وَلَا يَزَالُ فِي الْجَنَّةِ فَضْلٌ حَتَّى يُنْشِئَ اللّٰهُ لَهَا خَلْقًا فَيُسْكِنَهُمْ فَضْلَ الْجَنَّةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
٨وَذَكَرَ حَدِيثَ أَنَسٍ: «حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ» فِي (كِتَابِ الرِّقَاقِ).

ترجمه: ١او حضرت انس رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ نه روايت كوي ٢چې حضور ﷺ وفرمايل په دوزخ كې به مسلسل خلق اچول كېږي ٣او هغه به وايي چې څه نور هم شته يعنى تراوسه پورې خما خيټه ډكه شوى نه ده ماته نور خلق پكار دي ٤آخر الله عز وجل به په هغه خپله پښه كيږدي ٥نو د دوزخ حصې به يوې بلې ته نزدې راشي چې په هغه سره به دوزخ راټول شي ٦بيا به هغه وايي بس بس ستا په عزت او كرم مې دې قسم وي زه ډك شوم ٧دغه شان په جنت كې به وسعت وي يعنى د جنتيانو جنت ته د رسيدو با وجود به د هغه محلات او مكانات خالي وي ددې پورې چې الله ﷻ به د جنت هغه خالي محلاتو او مكاناتو ډكولو د پاره نوي مخلوق پيدا كړي چې په هغه كې به آباد شي. (بخاري مسلم)
٨او حديث دانس رضی اللہ عنہ حُفَّتِ النَّارُ بِالْمَكَارِهِ په كتاب الرقاق كې ذكرشوي دي.

حل اللغات:- ① فَيُزْوَى: أَيْ يُضَمُّ وَيُجْمَعُ: يعنى دَ دوزخ حصې به رانيزدې كړې شى نوهغه به راغونډه شى ② فَيُسْكِنُهُمْ: د إسكان نه دې. د اوسيدلو په معنى كښې دې ③ حُفَّتْ: أَيْ أُحَاطَهَا: پټ كړې نې دې. راگير كړې نې دې. ④ الْمَكَارِهِ: د كُرْه جمع ده. مكاره مكروه او ناخوښه ته وائى دلته ترې مراد تكاليف شرعيه دى چه هغې سره بدن ته تكليف او مشقت رسيږى مثلا يخنئ يا بيمارئ كښې اوبو سره اودس كول دى چه دا په انسان بد لگى.

( ) اخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن/باب قوله: {وتقول هل من مزيد} [ق: ٣٠] (رقم-٤٨٤٨) ومسلم في كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب النار يدخلها الجبارون والجنة يدخلها الضعفاء (رقم-٣٧ - (٢٨٤٨) واحمد في المسند:١٣/٣

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۶۹۶] جنت د نفس په مکروهاتو او دوزخ د نفس په خواهشاتو کې پټ شوي دي

۵۶۹۶-(۱)[۳] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ قَالَ: [۲] «لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ الْجَنَّةَ قَالَ لِجِبْرِيلَ: [۳] اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا [۴] فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا، وَإِلَى مَا أَعَدَّ اللّٰهُ لِأَهْلِهَا فِيهَا، ثُمَّ جَاءَ [۵] فَقَالَ: أَيْ رَبِّ وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا، [۶] ثُمَّ حَفَّهَا بِالْمَكَارِهِ، ثُمَّ قَالَ: يَا جِبْرِيلُ، اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا، [۷] فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا، ثُمَّ جَاءَ [۸] فَقَالَ: أَيْ رَبِّ وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لَا يَدْخُلَهَا أَحَدٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره ﷺ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] الله ﷻ چې جنت جوړ کړ [۳] نو حضرت جبرائیل علیه السلام ته یې وفرمایل لاړ شه او جنت طرف ته نظر وکه او ګوره چې ما څومره ښه څومره نازك او دیده زیب شی جوړ کړی دی [۴] نو هغه لاړل جنت او د هغه ټول څیزونه یې چې الله ﷻ جنتیانو د پاره جوړ کړي دي ولیدل [۵] نو واپس راتلو سره یې عرض وکړو اې پروردګاره! ستا په عزت مې دې قسم وي تا دومره اعلی او نفیس جنت جوړ کړی دی او داسې داسې نعمتونو او خوبیانو سره دې معمور کړی دی چې څوك هم د هغه په باره کې واوري هغه به په هغه کې د داخلې یقینًا خواهش کوي بیا الله ﷻ د جنت څلور طرف ته د هغه څیزونو احاطه قائمه کړه کوم چې نفس ته ناخوښ دی او وې فرمایل اې جبرائیله! لاړ شه جنت دوباره وګوره نو هغه لاړشی او جنت یې ددې اضافي سره چې څلور طرفه د احاطې په صورت کې شوې وه په لیدو سره واپس راغې نو عرض یې وکړو اې پروردګاره! ستا په عزت مې دې قسم وي ما ته ویره ده او س شاید څوك هم په جنت کې د داخلیدو خواهش ونکړي ځکه چې د هغه چاپیره د نفس د مکروهاتو کومه احاطه قائمه شوې ده د هغه عبور کولو د پاره به نفساني خواهشات وژل راځي او ښکاره ده چې انسان نفساني خواهشات وژلو سره جنت ته رسیدل به مشکل وګڼي

[۱] قَالَ: فَلَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ النَّارَ قَالَ: يَا جِبْرِيلُ، اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا، [۲] قَالَ فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ: [۳] أَيْ رَبِّ وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ فَيَدْخُلُهَا، [۴] فَحَفَّهَا بِالشَّهَوَاتِ، [۵] ثُمَّ قَالَ: يَا جِبْرِيلُ، اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا، [۶] قَالَ: فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ: [۷] أَيْ رَبِّ! وَعِزَّتِكَ [۸] لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ وفرمایل دغه شان الله ﷻ چې دوزخ جوړ کړی نو جبرائیل ته یې حکم

[1]) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب السنة /باب فی خلق الجنة والنار (رقم-۴۷۴۴) والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء حفت الجنة بالمکاره وحفت النار بالشهوات (رقم-۲۵۶۰) والنسائی فی کتاب الأیمان والنذور /باب الحلف بعزة الله تعالی (رقم-۳۷۶۳) واحمد فی المسند: ۳۳۲/۲

وركړو چې لاړ شه دوزخ وګوره چې ماخومره خطرناك او خراب شي جوړ كړي دي [۲] حضور ﷺ وفرمايل نو جبرائيل لاړشي او دوزخ كتلو سره واپس راغي [۳] نو عرض يې وكړو اې ربه! ستا په عزت او جلال مې قسم څوك چې د دوزخ په باره كې واوري هغه به د ويرې نه د هغه نه لرې اوسي او هغه ته د تلو كوشش به نه كوي [٤] بيا الله ﷻ د دوزخ څلور طرفه د نفس د خواهشاتو او د دنيا د لذاتو احاطه قائمه كړه [٥] او جبرائيل ته يې وفرمايل اې جبرائيل! لاړ شه دوزخ دوباره وګوره [٦] حضور ﷺ وفرمايل نو حضرت جبرائيل لاړشي او دوزخ يې د هغه د احاطې داضافې ليدو سره واپس راغي [۷] نو عرض يې وكړو اې پروردګاره! ستا په عزت او جلال مې دې قسم وي [۸] ماته ويره ده چې اوس به شايد څوك هم باقي بچ نشي چې دوزخ ته به لاړ نشي ځكه چې د كوم نفسي خواهشاتو او دنياوي لذاتو د دوزخ څلور طرف ته احاطه قائمه شوي ده هغه دومره دلكش او دومره زيات مزيدارده چې د نفس طبيعت پيروي كونكوكې به هيڅوك داسې نه وي چې هغه خواهشاتو او لذاتو طرف ته مائل نشي او د هغه په نتيجه كې دوزخ ته لاړ نشي. (ابوداؤد ترمذي نسائي)

حل اللغات:- ① الشَّهَوَاتِ: نفساني خواهشات.

تسهيلات:

قوله: لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ الْجَنَّةَ قَالَ لِجِبْرِيلَ: اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا:

د مكاره څخه مراد دی: په شرعي توګه باندې دَمكاره نه مراد هغه شرعي امور مراد دي دكوم دَ كولو يا نه كولو چه شريعت حكم وركړې دې كوم چه دَامور تكليفيه ته دي دكوم پابندي چه ضروري ده. دَ مكاره نه مثلاً مطلب داهم دې چه په سخته يخنئ كښې اودس كولوسره مونځ اوكړې شي يا په سخته ګرمئ كښې روژه اوساتلې شي. دَدې مشكلاتو نه تيريدو سره مخكښې دَ خوشحالو والا جنت دې كوم چه په دې مشكلاتو كښې پټ دې. دغه شان دَ شريعت نه آزاديدوسره دَ شراب او كباب نه تيريدوسره مخكښې دوزخ دې كوم چه په دغه خوشحالو كښې پټ دې. دَ حديث هم دغه مطلب دې چه جنت په مشكلاتوسره اودوزخ په خواهشاتو سره راګير كړې شوې دې.

[٥٦٩٧] حضور ﷺ ته د جنت او دوزخ مشاهده

٥٦٩٧-()[۳] [۱] عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- صَلَّى لَنَا يَوْمًا الصَّلَاةَ، [۳] ثُمَّ رَقِيَ الْمِنْبَرَ، فَأَشَارَ بِيَدِهِ قِبَلَ قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: [٤] "قَدْ أُرِيتُ الْآنَ مُنْذُ صَلَّيْتُ لَكُمُ الصَّلَاةَ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ مُمَثَّلَتَيْنِ فِي قِبَلِ هَذَا الْجِدَارِ، [٥] فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ"». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[1]) اخرجه البخاري في كتاب صلاة الجماعة والإمامة/باب رفع البصر إلى الإمام في الصلاة (رقم-٧٤٩)

ترجمه: [۱] د حضرت انس رضی الله عنه بیان دی [۲] یوه ورځ رسول الله ﷺ مونږ ته مونځ راکړی [۳] بیا منبرته وختی او د مسجد قبلې طرف ته خپل لاس مبارك سره اشاره کولو سره یې وفرمایل [۴] چې اوس ما تاسو ته مونځ درکړی نو ماته د دې دیوال مخ طرف کې جنت او دوزخ وښودل شوه [۵] واقعه داده چې ماخومره ښه شی او څومره خراب شی نن لیدلی دی داسې ښه او خراب شی مې دې نه مخکې هیڅ کله نه دی لیدلی. (بخاري)

حل اللغات:- ① رَقِيَ: أَيْ صَعِدَ: اوختلو، ② مُمَثَّلَتَيْنِ: أَيْ مُصَوَّرَتَيْنِ: تصویر جوړ شوې.

تسهيلات:

قوله: صَلَّى لَنَا يَوْمًا الصَّلَاةَ، ثُمَّ رَقِيَ الْمِنْبَرَ، فَأَشَارَ بِيَدِهِ قِبَلَ قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ:

اشكال: جنت اودوزخ خو ډیر وسیع اوعریض دې دا د جمات په محدود دیوال کښې حضورپاك څنګه اولیدلو؟

داشکال دوه جوابونه: ① حضورپاك د دیوال طرف ته مخامخ حصه کښې په اصل حالت کښې جنت او دوزخ اولیدل. د مانځه په حالت کښې به حضورپاك ته انکشاف تامه کیدلو. د حدیث الفاظ ددې مطلب سره ډیر نیزدې دی.

② د یوڅیز عکس د هغه څیز نه ډیر ورکوټې وی دلته د عکس ذکر دې د اصل ذکر نه دې. د نن صبا میډیا اوکمپیوټر په دور کښې دا سوال بې معنې دې.

قوله: فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ:

دمذکوره جملې مطلب: یعنی په دې دنیاکښې چه یوانسان کوم ښه څیز لیدلې شی د جنت نظاره د هغې نه ډیره زیاته ښکلې وه او په دې دنیاکښې که څو د خراب نه د خراب منظر نظاره کولې شی نو د دوزخ نظاره د هغې نه ډیره زیاته خرابه اوبده وه.

[۹] بَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ وَذِكْرِ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ

د پیدائش ابتداء او دا نبیاء علیهم السلام و د ذکر بیان

● خلاصة الباب:

فيه ثمانية وثلاثون حديثاً مشتملة على ست عشرة مسئلة:

① ذكر بد الخلق: عموماً وخصوصاً: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۵، ۳۶۔

② ذكر آدم عليه السلام: ۴، ۵، ۳۳، ۳۷، ۳۸۔

③ ذكر إبراهيم عليه السلام: ۶، ۷، ۸، ۱۶، ۱۸۔

④ ذكر موسى عليه السلام: ۹، ۱۱، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۳۹۔

⑤ ذكر أيوب عليه السلام: ۱۰۔

⑥ ذكر يونس عليه السلام: ۱۲، ۱۹۔

⑦ ذكر خضر عليه السلام: ۱۳، ۱۴۔

⑧ ذكر عيسى عليه السلام: ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۲۴، ۲۵۔

⑨ ذكر داؤد عليه السلام: ۳، ۳۱۔

⑩ ذكر سليمان عليه السلام: ۲۱، ۲۲۔

⑪ ذكر زكريا عليه السلام: ۲۳۔

⑫ ذكر لوط عليه السلام: ۸۔

⑬ ذكر يوسف عليه السلام: ۸۔

⑭ ذكر مريم وآسية وعائشة رضى الله عنهن (طردا): ۲۶۔

⑮ ذكر جبريل عليه السلام وبعض الملائكة: ۱۶، ۳۰، : ۳۱، ۳۲، ۳۳، ۳۴،

⑯ ذكر عدد الأنبياء عليهم السلام: ۳۸۔

د کائناتو تخلیق او ددې شروع : په اول کښې الله تعالی وو او هغه سره هیڅ نور څیزنه وو. بیا الله تعالی په خپل قدرت سره یو شنه مرغلره پیدا کړه او هغې ته ئې د غضب په نظر سره او کتل هغه ویلې شوه په کوم سره چه اوبه پیدا شوې ﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَآءِ﴾ کښې هم دې کیفیت طرف ته اشاره ده. بیا الله تعالی اوبوته د رعب او جلال په نظر سره او کتل نو اوبه او خوټکیدې او اوچې شوې. ښکته خیرې شان پاتې شو پورته لوګې اوچت شو هم د دغه لوګی نه الله تعالی آسمانونه جوړ کړل. ﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰٓ إِلَى السَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ﴾ کښې هم دې حقیقت طرف ته اشاره ده. بیا الله تعالی زمکه هواره کړه ﴿وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَآ﴾ کښې هم دا پس منظر بیان کړې شوې دې.

دزمکې آسمانونو او ددې د آرائش په پیدائش کې ترتیب: دَ زمکو پیدائش رومبې دې مګر خوریدل روستو دی او دَ آسمانونو تخلیق دَزمکې دَ تخلیق نه پس دې. مګر ښکلا او ښائست دَ زمکې دَ ښائسته کولو نه وړاندې دې ځکه چه قاعده ده چه دَ چت صفائی او ښائسته کول اول کیږی دَ فرش روستو کیږی. "بدائع الزهور في وقائع الدهور" نومې کتاب کښې تول تفصیلات دی. اشعة اللعمات کښې هم شیخ عبد الحق رحمه الله مکمل تفصیل لیکلې دې.

په حدوث عالم د اهل حق اجماع: دَ بنی آدم دَتخلیق شروع دَحضرت آدم علیه السلام نه اوشوه. دَټولو اهل حق په دې باندې اتفاق دی چه دا عالم حادث دې یعنی اول نه وو بیا الله تعالی دې ته وجود ورکړو. لوح او قلم ئې پیدا کړل، زمکه او آسمان ئې جوړ کړل، په زمکه باندې ئې غرونه اودرول، عرش او کرسئی ئې پیدا کړل، فرښتې پیریان او انسانان ئې پیدا کړل، بیا به یو وخت دَقیامت داسې راځی چه دا ټول به فنا کیږی او صرف دَالله تعالی ذات به باقی پاتې کیږی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۶۹۸] مخکې د الله جل جلاله نه ماسوا هیڅ نه وه

۵۶۹۸-()[۱] [۱] «عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: إِنِّي كُنْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] إِذْ جَاءَهُ قَوْمٌ، [۳] فَقَالَ: "اقْبَلُوا الْبُشْرَى يَا بَنِي تَمِيمٍ!" [۴] قَالُوا: بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا، [۵] فَدَخَلَ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ، [۶] فَقَالَ: "اقْبَلُوا الْبُشْرَى يَا أَهْلَ الْيَمَنِ إِذْ لَمْ يَقْبَلْهَا بَنُو تَمِيمٍ!". [۷] قَالُوا: قَبِلْنَا، جِئْنَاكَ لِنَتَفَقَّهَ فِي الدِّينِ، [۸] وَلِنَسْأَلَكَ عَنْ أَوَّلِ هَذَا الْأَمْرِ مَا كَانَ؟

ترجمه: [۱] حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه وایي یوه ورځ زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وم [۲] چې د مشهوري او عظیمي قبیلي بنو تمیم څه خلق د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شول [۳] حضور صلی الله علیه وسلم هغوئ ته وفرمایل اې د بنو تمیم خلقو! بشارت حاصل کئ [۴] هغوئ اوویل تاسو خو د دین د تعلیماتو په صورت کې بشارت مونږ ته راکړیدي اوس څه سامان راته عطا کئ [۵] بیا څه وخت وروسته د یمن خلق د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شول [۶] حضور صلی الله علیه وسلم هغوئ ته وفرمایل اې د یمن خلقو! بشارت حاصل کئ د بنو تمیم خلقو خو بشارت حاصل نه کی [۷] یمن والو عرض وکړو یارسول الله! مونږ بشارت حاصل کی [۸] او مونږ د دې دپاره ستاسو په خدمت کې حاضر شوي یو چې ستاسو نه دیني

[۱]) ضاخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب ما جاء في قول الله تعالى: {وهو الذي يبدأ الخلق ثم يعيده وهو أهون عليه} [الروم: ۲۷] (رقم-۳۱۹۰) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في ثقيف وبني حنيفة (رقم-۳۹۵۱) واحمد في المسند: ۴/۴۲۶

معلومات او ديني شعور او فهم حاصل كړو نو مونږ ستاسو نه د ابتدائي پيدائش او مبداء عالم په باره كې پوښتنه كول غواړو چې د دې كائناتو په وجود كې د راتلو او د مخلوقاتو د پيدائش نه مخكې څه شى موجود وو؟

حل اللغات:- ① الْبُشْرَى: أَيِ الْبِشَارَةُ: خوشخبرى، زيرى،

① قَالَ: كَانَ اللهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ قَبْلَهُ، ② وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ، ③ ثُمَّ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ، وَكَتَبَ فِي الذِّكْرِ كُلَّ شَيْءٍ، ④ ثُمَّ أَتَانِي رَجُلٌ قَالَ: يَا عِمْرَانُ! أَدْرِكْ نَاقَتَكَ فَقَدْ ذَهَبَتْ، ⑤ فَانْطَلَقْتُ أَطْلُبُهَا، ⑥ وَاللهِ لَوَدِدْتُ أَنَّهَا قَدْ ذَهَبَتْ وَلَمْ أَقُمْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضور ﷺ ورته وفرمايل صرف د الله ﷻ ذات موجود وو په ازل كې هغه سره او د هغه نه مخكې هيڅ شى موجود نه وو ② او د هغه عرش په اوبو وو ③ بيا الله ﷻ آسمان او زمكه پيدا كړل او لوح محفوظ كې هرڅه وليكل ④ د حديث راوي حضرت عمران ابن حصين وايي ما د حضور ﷺ ارشاد گرامي بس دي پوزې اوريدلى وو چې يو سړى ماته راغې او هغه اوويل چې عمرانه! لاړ شه او خپله اوښه تلاش كه ⑤ نو زه دخپلې اوښې په تلاش كې ووتم ⑥ او اوس زه د الله قسم اخستو سره وايم اوارمان كوم چې كاشكې زه هغه وخت د مجلس نبوي نه نه وې ولاړ شوى خواه كه څما اوښه وركه شوى هم واي. (بخاري)

حل اللغات:- ② أَدْرِكْ: أَيِ الْحَقْهَا: تلاش كړه، اوگوره، ③ لَوَدِدْتُ: أَيْ لَتَمَنَّيْتُ: خوښه گڼړم، ارمان كوم.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ: "اقْبَلُوا الْبُشْرَى يَا بَنِي تَمِيمٍ!" قَالُوا: بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا:

د يمنيانو بشارت قبلول او د بنو تميم نه قبلول: حضورپاك دَ بنوتميم په راتلو باندې هغوى ته دا زيرې وركړو چه تفقه في الدين اوعلمى سوچ اوفكر حاصل كړئي اوبيا دَهغې په نتيجه كښې دَ جنت نعمتونه اودَعلم اوعمل زيرې قبول كړئى. چونكه دَهغوى پوره نظر اومكمل خيال په دنيا باندې وو په دې وجه ئى اووئيل چه زيرې خوتاسو راكړو اوس مونږ ته مال راكړئى. كيدې شى چه هغوى دَ حضورپاك ظاهرى الفاظ "البشرى" نه دنيا اوګڼړله څكه چه نظرئى هم په فانى دنياباندې لګيدلې وو اودَ هميشه والى دَ آخرت نه غافل وو. بيا دا زيرې اهل يمن قبول كړو اودَ تخليق كائنات دَ شروع باره كښې تپوس اوكړو.

د بعضې مشكلو جملو وضاحت:

① **كَانَ اللهُ:** يعنى الله تعالى دَ ازل الازال نه وو اودَ ابدالاباد پورې به وى. دَ كائنات خالق هم دغه ذات دې. بهرحال نودَ الله تعالى نه مخكښې هيڅ هم نه وو.

② عَلَى الْمَاءِ: دَدي تشريح او تفصيل دې نه مخکښې ليکلې شوې دې دامراد نه دې چه دَ اوبو په مخ باندې عرش کيخودې شوې وو بلکه پورته عرش اوبنکته اوبه وې نورهيڅ نه وو

③ وَكَتَبَ فِي الذِّكْرِ: دَذکر نه لوح محفوظ مراد دې اوکتب په معنی اثبت دې يعنی هرڅه ئې په لوح محفوظ کښې اوليکل

④ وَاللهِ: دَا جمله قسميه ده. "اي اقسم بالله" يعنی زما دې په الله قسم وی

[٥٦٩٩]د نبی عليه السلام يو جامع تقرير

٥٦٩٩ -()[٢] ①وَعَنْ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ②«قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَقَامًا، ③فَأَخْبَرَنَا عَنْ بَدْءِ الْخَلْقِ حَتَّى دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ مَنَازِلَهُمْ، وَأَهْلُ النَّارِ مَنَازِلَهُمْ، ④حَفِظَ ذَلِكَ مَنْ حَفِظَهُ، ⑤وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①او امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وايي ②يوه ورځ حضور ﷺ خطبه ورکولو د پاره زمونږ په مخکښې اودريدلو ③حضور ﷺ د هغه خطبې په دوران کښې ابتداء پيدائش نه (د قيامت په ورځ) جنت او دوزخ کښې دداخليدو پورې ټول احوال او کوائف ذکر کړل ④کوم سړی چې داخبرې ياد وساتلې هغه ته يادې دې ⑤او کوم سړي چې هيرې کړې هغه هيرې کړلو . (بخاري)

حل اللغات:- ① بَدْءِ الْخَلْقِ: د مخلوق د پيدا کولو ابتداء.

تسهيلات:

قوله: حَفِظَ ذَلِكَ مَنْ حَفِظَهُ، وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ:

دمجلس د خبرو يادول: دَحضرت عمر رضی الله عنه مطلب دا وو چه حضورپاك په هغه ورځ هم په يو مجلس کښې دَ ټولو مخلوقاتو دَ مبداء، معاش او دَ معاد ټول احوال په تفصيل سره بيان کړل دغه هغه خلقو ياد کړل چا چه دَ ياد ساتلو کوشش اوکړو او هغوی ته الله تعالی دَ ياد ساتلو توفيق ورکړو او هغه خلقو دغه خبرې هيرې کړلې چا چه دَ ياد ساتلو کوشش اونه کړو حالانکه دَ ياد ساتلو او دَعمل کولو لائق وو. داسې مجلسونه بيا چاته نصيب کيږی.

---

١) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق /باب ما جاء فی قول الله تعالی: {وهو الذی يبدأ الخلق ثم يعيده وهو أهون عليه} [الروم: ٢٧] (رقم-٣١٩٢) وابوداود فی کتاب الترجل /باب ذکر الفتن ودلائلها (رقم-٤٢٤٠) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء ما أخبر النبی صلی الله عليه وسلم أصحابه بما هو کائن إلی يوم القيامة (رقم-٢١٩١) واحمد فی المسند:٣٨٥/٥

[٥٧٠٠] د الله جل جلاله رحمت د هغه په غضب سبقت وړی دی

٥٧٠٠-(١)[٣] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [٢] "«إِنَّ اللهَ تَعَالَى كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ الْخَلْقَ: [٣] إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي ; [٤] فَهُوَ مَكْتُوبٌ عِنْدَهُ فَوْقَ الْعَرْشِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل [٢] چې الله جل جلاله د مخلوق يعنی زمکې آسمان پيدا کولو نه مخکې يو کتاب وليکلی [٣] په هغه کې درج دی چې ځما رحمت ځما په غضب سبقت وړی دی [٤] او هغه کتاب يا مذکوره عبارت د الله جل جلاله سره په عرش برسيره ليکلی موجود دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① كِتَابًا: د کتاب نه مراد مکتوب دې او هغه لوح محفوظ دې. ② سَبَقَتْ: أي غلبت: مخکښې شوې او غالب شوې دې.

تسهيلات: **قوله:** إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي:

د سبقت غضبی په مفهوم کښې دوه اقوال:

① يو دا چه رحمت دَ اول نه وو دکوم په برکت سره چه کائنات جوړ شو او هم رحمت په رحمت باندې موجود وو. بيا چه چا سرکشی شروع کړه دَهغوی دَپاره دَ غضب ظهور اوشو. دَحديث هم دغه مطلب دې چه په غضب باندې رحمت ته سبقت حاصل وو.

② دويم مفهوم دا دې چه دَ الله تعالى رحمت دَ هغه دَ غضب نه ډير وسيع دې او په دې باندې سبقت او وړانديوالي اوړلې دې. هم دَدغه وسعت تقاضا ده چه دَ جنت طبقات دَ دوزخ دَ طبقاتو نه زيات دی او په کائنات باندې رحمت محيط او راګيرونکې دې.

[٥٧٠١] ملائکه جنات او دانسان دجوهر تخليق

٥٧٠١-(٢)[٣] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- عَنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٢] قَالَ: «خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُورٍ [٣] وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ [٤] وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي [٢] چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل فرشتي د نور نه پيدا شوي دي [٣] جنات يي د اور د شغلي نه پيدا کړي دي چې په هغه کې دود ګډ وي [٤] او آدم د هغه شي نه پيدا شوي دي چې تاسو ته بنودل شوي دي. (مسلم)

[1]) اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب ما جاء في قول الله تعالى: {وهو الذي يبدأ الخلق ثم يعيده وهو أهون عليه} [الروم: ٢٧] (رقم-٣١٩٤) ومسلم في كتاب التوبة/باب في سعة رحمة الله تعالى وأنها سبقت غضبه (رقم-١٤ - (٢٧٥١) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٥٤٣) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب ما يرجى من رحمة الله يوم القيامة (رقم-٤٢٩٥) واحمد في المسند: ٤٦٦/٢

[2]) اخرجه مسلم في كتاب الزهد والرقائق/باب في أحاديث متفرقة (رقم-٦٠ - (٢٩٩٦) واحمد في المسند: ١٦٨/٦

حل اللغات:- ①مِنْ نُورٍ: يعنى فرښتې دَيوقسم نورنه جوړې شوى دى. دادَ الله تعالى نورنه دې يوبل نوردې. ②الْجَانُّ: دَ لفظ جان معنى يا خو جن اوجنات ده يا دَ جناتو دَ اصل او دَدوى دَپلار نوم جان دې. دَ كوم نه چه دَ جناتو نسل خورشوى دې. ③مَارِجٍ: أَيْ لَهَبٍ: د اور شغلې چه اور هم وى او لوګې پکښې هم وى. ④وُصِفَ لَكُمْ: أَيْ مِمَّا بَيَّنَهُ اللَّهُ لَكُمْ: كوم چه تاسو ته الله تعالى پوره وضاحت سره بيان كړى دى.

تسهيلات:

قوله: وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ:

د جان څخه مراد: يعنى حضرت آدم ﷺ چه دَ كوم څيزنه پيداكړې شو هغه په قرآن پاك كښې الله تعالى بيان كړې دې. آيت دادې ﴿خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ﴾ يعنى دَخاورې نه پيداكړې دې. په دې حديث كښې په بريليانوباندې سخت رددې بلكه دَهغوى خيالى او بناوټى عمارت په زمكه راګذارشوې دې. ځكه چه دلته دَ فرښتودَتخليق نسبت دَنورطرف ته كړې شوې دې اودانسان دَ تخليق نسبت دَخاورې طرف ته كړې شوې دې. لهذا خاوره او نور دَ يوبل مقابل شو اوس اوښايئ چه دَ دغه مشركانو اوبدعتيانو هغه دَ دروغوعقيده چرته لاړه؟ داخلق تور زړه اوبدبخته دى چه قرآن هم په خاطركښې نه راولى اواحاديثوته هم نه ګورى بلكه خپل دَدورغو اجتهادد ځان نه جوړوى اود كفر فتوې لګوى.

[۵۷۰۲] د صورت آدم په باره كښې د شيطان اظهار خيال

٥٧٠٢-()[٥] ①وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ②" «لَمَّا صَوَّرَ اللَّهُ آدَمَ فِي الْجَنَّةِ تَرَكَهُ مَا شَاءَ أَنْ يَتْرُكَهُ، ③فَجَعَلَ إِبْلِيسُ يُطِيفُ بِهِ يَنْظُرُ مَا هُوَ، ④فَلَمَّا رَآهُ أَجْوَفَ عَرَفَ أَنَّهُ خُلِقَ خَلْقًا لَا يَتَمَالَكُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت انس ﷺ نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②هركله چې الله ﷻ په جنت كې د آدم جسم وصورت يې جوړكى نو داجسم يې چې د څوپورې غوښتل په جنت كې وساتى ③په دې موده كې ابليس به ددې جسم و صورت چاپيره چكر لګوى او غور به يې كولو چې داڅه شى دى او څرنګه دى يعنى هغه دا مشاهده كول غوښتل چې الله ﷻ د دې جسم خاكې صورت كې د خپلو بنده ګانو چې كوم نوې مخلوق پيداكول غوارې د هغوئ حيثيت او حقيقت به څه وي ④او هركله چې هغه وليدل چې داخاكې صورت ددننه نه خالې دى نو پوهه شو چې دايوداسې مخلوق پيداشوې دې چې غير مضبوط به وي. (مسلم)

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب خلق الإنسان خلقًا لا يتمالك (رقم-١١١ - (٢٦١١) واحمد فى المسند:٣/٢٢٩

حل اللغات:- ① صَوَّرَ: شكل او صورت ئې جوړ كړو د آدم عليه السلام ، ② تَرَكَهُ: پرې ئې خودلو يعني اوئې ساتلو په جنت كښې، ③ يُطِيفُ: أي اسْتَدَارَ حَوْلَهُ: طواف نه مراد ګير چاپيره ګرځيدل دى. ④ أَجْوَفَ: چه دننه خالي وى يعنى مينځ كښې ئې ده وى (زه به پكښې خپلې وسوسې اچوم)، ⑤ لَا يَتَمَالَكُ: أي لَا قُوَّةَ وَلَا ثَبَاتَ: چه مضبوط او ثابت قدم به نه وى، په خپل ځان به ئې هم قابو نه وى، مختلف حالتونو والا.

تسهيلات:

قوله: لَمَّا صَوَّرَ اللّٰهُ آدَمَ فِي الْجَنَّةِ تَرَكَهُ مَا شَاءَ أَنْ يَتْرُكَهُ:

د آدم عليه السلام د خلقت مختلف مراحل:

دَحضرت آدم عليه السلام داصورت دَ څو مرحلونه تيريدوسره جوړكړې شوې دې. اول خاوره بيا خته جوړه كړه بيائى اوچه كړه بيائى سانچه جوړه كړه اودَ قالب په شكل كښې وه. ابليس به په دې مرحله كښې تلو راتلو اوكتل به ئې.

[٥٧٠٢] ختنه سنت ابراهمي ده

٥٧٠٣-()[٢] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«اخْتَتَنَ إِبْرَاهِيمُ النَّبِيُّ وَهُوَ ابْنُ ثَمَانِينَ سَنَةً بِالْقَدُومِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] و حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] حضرت ابراهيم عليه السلام د اتيا كالو په عمر كې قدوم سره خپله ختنه وكړله يعنى ځان يې سنت كى. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① اخْتَتَنَ: سنت ئې كړو ځان، ② الْقَدُومِ د دال ضمه غير مشدد: آلَةُ النَّجَّارِ: ترخذ. دا يوه آله ده كوم سره چه تركانړان لرګي تراشي. اوكه قَدُّوم كښې دال مشدد شى نو دا په شام كښې د يو ځائې نوم دې.

تسهيلات: قوله: اخْتَتَنَ إِبْرَاهِيمُ النَّبِيُّ وَهُوَ ابْنُ ثَمَانِينَ سَنَةً بِالْقَدُومِ:

د قدوم په معنى كښې دوه احتمالات:

① كه قدوم مشدد اووئيلې شى نودَې مصداق دَ يوځائى نوم دې

② كه چرې قدوم غيرمشدد اووئيلې شى نودا تيشئ ته وائى.

حضرت ابراهيم عليه السلام دَ الله تعالى په حكم سره په بوداوالى كښې تيشئى واخستله او په مقام قدوم كښې خپل ځان سنت كړو.

فائده: دَ سنت كولو شروع حضرت ابراهيم عليه السلام كړې ده او اوس دا دَ اهل اسلام دَپاره شعار او سنت دې.

---

[١]) اخرجه البخاري فى كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {واتخذ الله إبراهيم خليلًا} [النساء: ١٢٥] (رقم-٣٣٥٦) ومسلم فى كتاب الفضائل/باب من فضائل إبراهيم الخليل صلى الله عليه وسلم (رقم-١٥١ - (٢٣٧٠) واحمد فى المسند:٣٢٢/٢

[۵۷۰۴] د حضرت ابراهيم عليه السلام دري دروغ

۵۷۰۴-() [۴] [۱]وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ إِلَّا ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ: [۳]ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِي ذَاتِ اللَّهِ. [۴]قَوْلُهُ: ﴿إِنِّي سَقِيمٌ﴾ [الصافات: ۸۹] [۵]وَقَوْلُهُ ﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا﴾ [الأنبياء: ۶۳]، [۶]وَقَالَ: بَيْنَا هُوَ ذَاتَ يَوْمٍ وَسَارَةُ، إِذْ أَتَى عَلَى جَبَّارٍ مِنَ الْجَبَابِرَةِ، [۷]فَقِيلَ لَهُ: إِنَّ هَاهُنَا رَجُلًا مَعَهُ امْرَأَةٌ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ [۸]فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ، فَسَأَلَهُ عَنْهَا: مَنْ هَذِهِ؟ قَالَ: أُخْتِي.

ترجمه: [۱]او حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل [۲]حضرت ابراهيم عليه السلام هيڅ کله دروغ نه وه ويلي علاوه د دريو دروغو نه [۳]او په هغه کې يې هم دوه دروغ د الله تعالی دپاره ويلي وه [۴]په هغه کې يو خو د هغوئ دا وئيل وه چې نن زه ناجوړه شان يم [۵]دويم يې دا وئيل وه چې دا کار لوی بت کړی دی [۶]او حضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل د حضرت ابراهيم عليه السلام د ژبې نه چې کوم دريم دروغ وتلي وه هغه د هغوئ دا وئيل وه چې دا خما خور ده او دا د هغه وخت واقعه ده هرکله چې حضرت ابراهيم عليه السلام او د هغوئ ښځه بي بي ساره رضي الله عنها هجرت کولو سره د شام ملك طرف ته تلل چې د هغوئ تيريدل د يو لوی ظالم او جابر حاکم په زمکه وشوه [۷]هغه حاکم ته وښودل شوه چې دلته دې زمکې ته يو سړی راغلی دی چې د هغه سره يوه ډيره حسينه او جميله ښائسته ښځه ده [۸]هغه حاکم په دې اوريدو سره يو کس د حضرت ابراهيم عليه السلام د بللو د پاره وليږی کوم وخت چې حضرت ابراهيم عليه السلام هغه حاکم ته ورسيدی نو هغه ځني پوښتنه وکړه چې تا سره دا ښځه څوك ده او ستا څه ده؟ حضرت ابراهيم جواب ورکړو چې هغه خما خور ده

حل اللغات: - ① جَبَّارٍ: أَيْ: ظَالِمٌ: ظالم او جابر،

[۱]فَأَتَى سَارَةَ، فَقَالَ لَهَا: إِنَّ هَذَا الْجَبَّارَ إِنْ يَعْلَمْ أَنَّكِ امْرَأَتِي [۲]يَغْلِبْنِي عَلَيْكِ، [۳]فَإِنْ سَأَلَكِ فَأَخْبِرِيهِ أَنَّكِ أُخْتِي [۴]لِأَنَّكِ أُخْتِي فِي الْإِسْلَامِ [۵]لَيْسَ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ مُؤْمِنٌ غَيْرِي وَغَيْرُكِ، [۶]فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا، فَأُتِيَ بِهَا، [۷]قَامَ إِبْرَاهِيمُ يُصَلِّي، [۸]فَلَمَّا دَخَلَتْ عَلَيْهِ، ذَهَبَ يَتَنَاوَلُهَا بِيَدِهِ. [۹]فَأُخِذَ- وَيُرْوَى فَغُطَّ- [۱۰]حَتَّى رَكَضَ بِرِجْلِهِ، فَقَالَ: ادْعِي اللَّهَ لِي وَلَا أَضُرُّكِ، فَدَعَتِ اللَّهَ فَأُطْلِقَ، ثُمَّ تَنَاوَلَهَا الثَّانِيَةَ، فَأُخِذَ مِثْلَهَا أَوْ أَشَدَّ،

ترجمه: [۱]بيا هغوئ بي بي ساره رضي الله عنها ته واپس راتلو سره هغه ته يې د هغه جابر حاکم د خرابې ارادې نه د بچ کيدو تدبير و خودی او ورته ويې وئيل که هغه ظالم حاکم ته دا معلومه شي چې ته خما ښځه يې نو تا به زما نه په زبردستۍ سره واخلي [۲]نو که هغه ستا او خما د تعلق په باره کې در نه پوښتنه وکړي نو هغه ته اووئيلو چې ته خما خور يې [۴]او

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {واتخذ الله إبراهيم خليلًا} [النساء: ۱۲۵](رقم-۳۳۵۸) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب من فضائل إبراهيم الخليل صلى الله عليه وسلم (رقم-۱۵۴ - (۲۳۷۱) والترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الشفاعة (رقم-۲۴۳۴) واحمد فی المسند: ۲۸۱/۱

په دې کې څه شبهه هم نشته چې ته د دین د رشتي په اعتبار ځما خوریي نو ځان ځما خوربښودلو سره د دیني اخوت نیت وکړه [۵] او دانیت به ځکه هم صحیح وي چې په دې زمکه باندې ځما او ستا نه علاوه یو بل مؤمن څوك نشته [۶] نو هغه ظالم یو کس لیږلو سره بي بي ساره رضی الله عنها طلب کړه بي بي ساره رضی الله عنها هغه ته بوتلل شوه [۷] او حضرت ابراهیم علیه السلام خپلې قیامګاه کې مونځ کولو د پاره اودریدلو [۸] بي بي ساره رضی الله عنها چې هغه ظالم ته ورسیده نو د هغه حسن وجمال لیدو سره هغه د هوښه اووتلو او د هغه نه یې پوښتنه او تحقیق کولو بغیر چې هغه حضرت ابراهیم علیه السلام سره څه رشته لري یا د پوښتني کولو او د بي بي ساره رضی الله عنها د دې ویلو باوجود چې هغه د حضرت ابراهیم خورده هغه په هغه باندې لاس اچول او د هغه عفت او عصمت پاکدامني د خپل هوس نښه جوړول او غوښتل [۹] خو الله جل جلاله د بي بي ساره رضی الله عنها مدد وکړ او هغه ظالم ونیول شو په یو روایت کې د فأُخذ په ځاي یا دې لفظ سره مزید فَغُطَّ لفظ هم نقل شوي دي [۱۰] بهرحال هغه د عتاب خداوندي ګرفت کې راتلو نه وروسته زمکه باندې پښې وهل شروع کړل یعنی ځرنګه چې یو آسیب زده یا میرګي مرض کې مبتلا سړی زمکه باندې په زور زور سره پښې تکوي دغه شان هغه هم خپلې پښې تکولې

بیا هغه بي بي ساره رضی الله عنها ته اوویل زه د خپلې بدې ارادې نه منع کیږم ته الله جل جلاله نه دعا وغواړه چې ماته دې مصیبت نه خلاصون راکړي ځما درسره وعده ده چې زه به تاته هیڅ نقصان نه رسوم یعنی تا سره به څه بد عملي نه کوم نو بي بي ساره رضی الله عنها دعاوکړه او هغه ظالم خلاصون پیدا کې لیکن هغه دوباره دست درازي کول او غوښتل نو بیا د مخکې په شان بلکه د هغه نه زیات سخت عتاب خداوندي کې ونیول شو هغه

حل اللغات:- ② يَتَنَاوَلُهَا: أَيْ: يَأْخُذُهَا وَيَمَسُّهَا: لاس سره نیول. لاس ورته اوړل، ③ فَأُخِذَ: أَيْ: حُبِسَ نَفَسُهُ وَضُبِطَ: اونیولې شو یعنی ساه ئې بنده او خفه کړې شوه، ④ فَغُطَّ: أَيْ: خُنِقَ: یعنی خراړې شروع کړو ⑤ رَكَضَ: أَيْ: ضَرَبَ: لتې وهل. خپې په زمکه باندې ترپول لکه ځنګه چه د مرګ راتلو په حالت کښې کیږي. ⑥ فَأُطْلِقَ: نو هغه خلاص کړې شو (مصیبت ترې لرې شو).

[۱] فَقَالَ: ادْعِي اللَّهَ لِي وَلَا أَضُرُّكِ، [۲] فَدَعَتِ اللَّهَ فَأُطْلِقَ، [۳] فَدَعَا بَعْضَ حَجَبَتِهِ، فَقَالَ: إِنَّكَ لَمْ تَأْتِنِي بِإِنْسَانٍ، إِنَّمَا أَتَيْتَنِي بِشَيْطَانٍ، [۴] فَأَخْدَمَهَا هَاجَرَ [۵] فَأَتَتْهُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي [۶] فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ مَهْيَمْ؟ [۷] قَالَتْ: رَدَّ اللَّهُ كَيْدَ الْكَافِرِ فِي نَحْرِهِ، وَأَخْدَمَ هَاجَرَ". [۸] قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: تِلْكَ أُمُّكُمْ يَا بَنِي مَاءِ السَّمَاءِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بیا بي بي ساره رضی الله عنها ته درخواست وکړ چې الله جل جلاله نه دعا وغواړه چې ما دې مصیبت نه خلاص کړي اوس زه د زړه په صدق سره یقین درکوم چې تاته به هیڅ نقصان نه رسوم [۲] بي بي ساري رضی الله عنها د الله جل جلاله څخه دعا وغوښتله او هغه ظالم خلاصون پیدا کې [۳] دې نه وروسته هغه ظالم خپلو پهره دارانو کې څوك راوبللې او هغه ته یې اوویل چې

تاماتـه انسان نـه دی راوستلی چې زه بانـدې قـابو پيـدا کـم بلکـه تـا خـو څـوك جـن ماتـه راوستلی دی چې په هغه باندې قابو پيداکيدو په ځاي زه برعکس مصيبت کې مبتليږم دا خو تـا زما د پـاره د مرگ سامان فراهم کړی دی ④بيا هغه د بي بي ساره رضي الله عنها د پـاره هاجره نوم يوه منځه هم ورکړه او هغه يي واپس وليږله ⑤بي بي ساره رضي الله عنها چې حضرت ابراهيم عليه السلام ته واپس ورسيدله نو هغوئ په مـا نځـه کې مشغول وو ځکه چې د څوپـوري هغوئ ته د هغه ظالم د پنجي نه د بي بي ساره رضي الله عنها د خلاصون خبر نه وو شوی هغوئ بدستور مـا نځه کې الله جل جلاله طرف ته متوجه وه او د بي بي ساره رضي الله عنها دعفت او عافيت سره د واپس راتلو دعاګاني يي کولو ⑥حضرت ابراهيم چې هغه وليده نو مـا نځه کې د خپـل لاس په اشاري سره ځني پوښتنه وکړه چې څه حال دی او په تاباندې څه تير شو ⑦بي بي ساره رضي الله عنها اوويل الله جل جلاله د هغه کافر بده اراده د هغه سيني تـه واپس کړلـه يعنی هغه زه د خپل هوس نښه جوړولو د پاره چې د کومي بدنيتي اظهار وکی هغه برعکس د هغه په غاړه کې راتله ماته خوهغه هيڅ نقصان ونه رسول شو خپلـه عـذاب خداوندي کې ضرور ونښتی او هغه دخدمت د پـاره هـاجره هـم راکـړي ده ⑧حضرت ابـوهريره رضي الله عنه داحديث بيانولو نه وروسته اوويـل اې د آسمان د اوبو ځامنو! دغه هاجره بي بي رضي الله عنها ستاسو د تولو مور ده. (بخاري مسلم)

حل اللغات:-⑥ حَجَبَةٍ: د حَاجِب جمع ده، دربان او پهره دار ته وائی. ⑧ فَأَوْمَأَ: أَيْ: أَشَارَ: اشاره اوکړه ابراهيم عليه السلام ⑨ مَهْيَمْ: أَيْ: مَاشَأْنُكِ: ستا څه حال دې؟ يعنی څه درباندې تير شو؟ ⑩ كَيْدَ: بدچال او مکر. فريب. ⑪ نَحْرِهِ: أَيْ: عَلَى صَدْرِهِ: مرئ ته يعنی سيني تـه ⑫ بَنِي مَاءِ السَّمَاءِ: د آسمان د اوبو اولاد. ددې نه د عرب خلق مراد دی ځکه چه هم عرب به دَ اوبو په لټون کښې تل راتلل اوچرته چه به اوبه ملاويدې هم هلته به ئی ډيره اچوله.

تسهيلات:

قوله: لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ إِلَّا ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ:

دکذبات لغوی تحقيق: ابو البقاء بغوی رحمه الله فرمائی چه ذال مفتوح لوستل ډير بهتر دی. اودَدې واحد کذبة دَ ذال په سکون سره دې اودا (ضيعة وضيعات) په شان نه دې ځکه هغه هم ساکن الاوسط دی مگر په جمع کښې به هم دا ساکن لوستلې کيږی (۱)

قوله: ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِي ذَاتِ اللهِ:

دالله تعالی دپاره کذبات ثلاثه: يعنی دَدريو کذبات نه دوه کذبات خالص دَ الله تعالی دَپاره وو نوهم دغه شان کذب ثالث ئی هم دَ الله تعالی دَپاره ونيلې وو مگر چونکه ذاتی

(۱) للامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۹/۴۴۵.

نفع ته هم متضمن وو اومقصد ئی دَ خپلې بی بی پاکوالې بچ کول وو په دې وجه دَدې اړخ اعتبارکولو سره صرف کذب اول اوثانی باره کښې ئی تصریح اوفرمائیله چه هغې ته خالص لوجه الله اووئیلې شو.[1]

خو دَدې روایت په بل طریق کښې تصریح ده چه دریواړه کذبات ئی دَالله تعالی دَپاره وئیلی وو چنانچه دَهشام بن حسان رحمه الله په روایت کښې دی «إن إبراهيم لم يكذب قط إلا ثلاث كذبات، كل ذلك في ذات الله».[2]

قوله: إِنِّي سَقِيمٌ:

① **اولنی کذب:** حضرت ابراهیم علیه السلام دَ اختر دَ پاره دَ قوم سره تللونه معذرت کړې وو اوفرمائیلې وو ﴿إِنِّي سَقِيمٌ﴾ زه بیمار یم حالانکه بیمار نه وو.

د کذب په مفهوم کښې څلور توجیهات: ① دَ سقم اطلاق په خپل نفس باندې صورتًا وو حقیقتًا نه وو اومقصدئی دا وو «إني سقيم القلب في الخروج معكم» یعنی زما زړه تاسو سره دَ وتلو دَپاره تیارنه دې چه تاسو به هلته دَ کفریه اوشرکیه اعمالو ارتکاب کوئی.[3]

② سقیم دلته «سقيم الحجة» په معنی کښې دې اودَ ابراهیم علیه السلام مقصد دا وو چه «اني سقيم الحجة في الخروج معكم»[4] زه سقیم الحجه یم زما سره ستاسو دَ تلودَپاره هیڅ دلیل نشته دکوم په بنیاد چه زه تاسو سره لاړشم. که چرې ابراهیم علیه السلام دَ نه تلو حقیقت دا وینا کولو سره خودلې وې چه تاسو به دَاختر په میلوکښې دَ شرکیه شغلونو ارتکاب کوئی اوزه دغه شرک کبیره گناه گنړم نوښکاره خبره وه چه خلق به غصه کیدل اوحالات به یوناځاپه دَهغوی په حق کښې خرابیدل.

③ په دې کښې یو احتمال دادې چه سقیم دَ فعیل په وزن باندې اسم فاعل په معنی کښې وی اواسم فاعل دَمستقبل په معنی کښې په کثرت سره استعمالیږی. په دې صورت کښې به ﴿إِنِّي سَقِيمٌ﴾ دَ سأسقم په معنی کښې شی مطلب به داشی چه زه په راتلونکی وخت کښې بیماریدونکې یم. سړې بهر حال بیماریږی خو.[5]

دا هم کیدې شی چه دَسقم نه مرگ مراد وی دَمرگ نه مفر نه وې کوم یووخت هم راتلې شی. په دې صورت کښې به دَ سقیم نه دَ حضرت ابراهیم علیه السلام مقصد دا شی چه زما مرگ

---

[1] فتح الباري: ۴۸۲/۸عمدة القاري: ۲۴۳/۱۵شرح مسلم للإمام النووي: ۱۲۵/۱۵المطبعة المصرية بالأزهر.
[2] أخرجه البزار في مسنده: ۳۰۵/۱۷(۱۰۰۵۴)مكتبة العلوم والحكم المدينة المنورة.
[3] فتح الباري: ۴۸۲/۸.
[4] فتح الباري: ۴۸۲/۸.
[5] فتح الباري: ۴۸۲/۸شرح مسلم للنووي: ۱۲۵/۱۵المطبعة المصرية بالأزهر.

کوم یو وخت هم راتلې شی زه راتلونکی وخت کښې مرکیدونکې یم.(۱)

④ دَ سړی طبیعت اومزاج چه هروخت په اعتدال باندې وی داسې ډیر کم کیږی. اکثر په طبیعت اومزاج کښې اعتدال نه وی. کیدې شی دَ ابراهیم علیه السلام طبیعت په اعتدال باندې نه وو اودَمزاج دَ اعتدال نه وتلو کیفیت هغه په سقم سره تعبیر کړې وی.(۲)

قوله: بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا:

② **دویم کذب**: دا دَدویم کذب واقعه ده. کله چه خلق دَ اخترډَمیلې دَپاره لاړل نوابراهیم علیه السلام بت خانې ته لاړو تبرئی اوچت کړو او بتان ئی ټکړې ټکړې کړه او تبر ئی دَ غټ بت په اوږه باندې زوړند کړو. خلق چه راغله وئی کتل نو ټول بتان په سجده پراته وو نوهغوی سخت پریشانه شو او دَ غم اوغصې نه تاویدل. هغوی ابراهیم علیه السلام نه تپوس اوکړو نو هغوی دَغټ بت طرف ته اشاره کولو سره اوفرمائیل ﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا﴾ داخودَ دغه غټ بت کار دې. دَ بتانودَ ماتولو عمل خو ابراهیم علیه السلام پخپله کړې وو بیا دَدغه عمل نسبت دَ غټ بت طرف ته کولو څه مطلب دې؟

دبت ته د ماتولو په نسبت کولو کښې درې توجیهات: ① دَفعل نسبت څنګه دَ هغې دَ فاعل طرف ته راګرځی هم دغه شان دَ دې په وجه دَمحرك طرف ته هم راګرځی. دَبتانو عبادت به کیدلو دَهغې تعظیم به کیدلو اودَ ټولونه زیات تعظیم به دَ دغه غټ بت کیدلو. ابراهیم علیه السلام به چه دغه بتانو ته کتل نوخفه کیدلو به. خاص کر دَ دغه غټ بت طرف ته په کتلو سره به ډیر سخت خفه کیدلو او غصه کیدلو به چه دَ ټولو نه زیات تعظیم هم دَ ده کولې شی. چونکه دغه لوئی بت دَ دې واقعه سبب اومحرك وو په دې وجه ابراهیم علیه السلام دَبتانو ماتولو نسبت دغه لوئی بت طرف ته کولو سره اوفرمائیل ﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا﴾

دویمه توجیه: دَ ﴿إِنِّي سَقِيمٌ﴾ په شان ﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا﴾ کښې هم دا توریه ده اودا قول دَ ﴿إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ﴾ سره مشروط دې او تقدیری عبارت دادې چه (إن كانوا ينطقون فقد فعله كبيرهم هذا) مطلب دا چه که چرې دوی ژوندې دې اودَ وینا صلاحیت لری نوبیا خودې غټ دا کار کړې دې ګنی بیا بل چا دا حرکت کړې دې.(۳)

سبحان الله څه ښکلې تعریض دې. ابراهیم علیه السلام ته معلومه وه چه دَ دغه بتانودَحقیقت نه دا مشرکان هم خبر دې چه هغه بې حس او بې حرکته دی اودَدوی نه دَ یوعمل صادر کیدل ممکن نه دی په دې وجه ئی تعریض کولو سره اوفرمائیل چه کله دَدوی نه دَ یوکار کیدلو

---

(۱) فتح الباري: ۴۸۲/۸ إرشادالساري: ۲۸۲/۷ شرح مسلم للنوی: ۱۲۵/۱۵ المطبعة المصرية بالأزهر.
(۲) إرشادالساري: ۲۸۲/۷.
(۳) فتح الباري: ۴۸۲/۸.

امکان معدو م دي نوزما نه علاوه دا کار بل څوك کولي شي هم ما خو کړې دي نولکه چه ابراهیم علیه السلام دَ تعریض شاته دَدې عمل نسبت خپل ځان طرف ته کړې دې

د مذکوره توجیه وضاحت د مثال په رڼړا کښې: علامه زمخشری رحمه الله په یو مثال سره ددې وضاحت کړې دې چه دوه سړی دی یو سړې ښکلې خط لیکونکې دې اوبل کس په لیك لوست دَ سره پوهیږی نه خطاط یو خط اولیکلو هغه بل سړې تپوس کوی چه دا چالیکلې دې؟ خطاط جواب ورکړو چه هم تا خو لیکلې دې نو په دې جواب کښې دا خودل مقصود نه دی چه په حقیقت کښې دا هم تا لیکلې دې بلکه مخاطب پورې ټوقه مسخره کولو سره دَ تعریض شاته دغه خط لیکل هم خپل طرف ته منسوب کول مقصود دی. لکه چه په دې جملې سره دَخپل ذات طرف ته دَدې تحریر دَ نسبت نفی نه ده بلکه اثبات مقصود دې. هم دغه شان حضرت ابراهیم علیه السلام هم دَ بتانو ماتولو نسبت هم دَخپل ذات دَپاره ثابت وئیلې دې چه دَ تپوس څه ضرورت دې کله چه دَدغه غټ نه دَ دې عمل دَ صادر کیدل نه کیدونکې خبره ده نو بیازما نه علاوه دا کار بل دَ چا کیدې شی [۱]

③ **دریمه توجیه:** امام کسائی رحمه الله دا توجیه کوی چه (بل فعله) باندې به ئی وقف کولو اودا به ئی مستقل جمله ګنړله او (کبیرهم هذا) به ئی په (بل فعله) باندې دَ وقف کولو نه پس لوستلو په دې صورت کښې (کبیرهم هذا) به جمله مستانفه شی اوتقدیری عبارت به داسې شی (فعله من فعله، وکبیرهم هذا) یعنی دا کار چه چاکړې دې نو کړې دې اودَدې بتانو مشر دادې. حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائیل چه دا توجیه دَتکلف نه خالی نه ده [۲]

قوله: مَنْ هَذِهِ؟ قَالَ: أُخْتِي:

دریم کذب: یوه ورځ حضرت ابراهیم علیه السلام اوبی بی ساره (دواړه په سفر کښې وو) چه دَ یوظالم بادشاه په خواکې تیریدل یعنی دَهغه ملك ته اورسیدل. بادشاه ته اطلاع ورکړې شوه چه دلته یو سړې راغلې دې یو روایت کښې (هذا رجل) الفاظ دی یعنی دا سړې دې ده سره یوه ښائسته ښځه ده. بادشاه دَ ابراهیم علیه السلام دَ (راغوښتلو دَپاره) پیغام اولیګلو اودَهغه نه ئی تپوس اوکړو دا ښځه څوك ده؟

قوله: إِذْ أَتَى عَلَى جَبَّارٍ مِنَ الْجَبَابِرَةِ،

دجابر بادشاه په نوم کښې اقوال: ابن هشام رحمه الله اوسهیلی رحمه الله وائی دَ هغه نوم عمرو بن امرء القیس بن سبا وو اوداد مصر حاکم وو. [۳]

---

[۱]) إرشادالساري: ۲۸۲/۷.

[۲]) فتح الباري: ٤۸۲/۸.

[۳]) فتح الباري: ٤۸۳/۸، إرشادالساري: ۲۸۳/۷.

④ ابن قتيبه رحمه الله وائی چه دَ هغه نوم صادق وو اودَ اردن بادشاه وو. (١)
⑤ علامه ابن اثير رحمه الله فرمائی دَهغه نوم سنان بن علوان بن عبيد بن عريج بن عملاق بن لاود بن سام بن نوح وو. (٢)

قوله: إِنَّ هَاهُنَا رَجُلًا مَعَهُ امْرَأَةٌ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ:

د ساره بی بی تعارف کښې دوه اقوال: ① په يو روايت کښې دی چه ساره دَملك حران بادشاه هاران لور وه. کله چه ابراهيم عليه السلام دَ خپل قوم دَ زمکې نه هجرت کولو سره حران ته تشريف يوړو نو ساره سره ئې نکاح اوکړه. (٣)
② ابن قتيبه رحمه الله وئيلی چه ساره په اصل کښې دَ حضرت ابراهيم عليه السلام خورزه وه اودا څه ناجائز خبره نه وه ځکه چه دَهغه وخت په شريعت کښې خورزې سره نکاح کول جائز وو. (٤)
ليکن ښکاره خبره ده چه دَدې قول مستبعد اوخلاف واقع کيدو کښې څه شك دې. بعض حضراتو وئيلی دادَ هغوی دَ تره لور وه. (٥)

قوله: قَالَ: أُخْتِي:

ساره بی بی ته خور وئيل: ابراهيم عليه السلام جواب ورکړو چه دا زما خور ده. بيا حضرت ابراهيم عليه السلام حضرت ساره له راغلو وئې وئيل اې ساره دې وخت کښې په مخ دَ زمکې زما نه اوستانه بل هيڅوك مومن نشته دې. اودې ظالم بادشاه زمانه تپوس کړې دې چه دا ښځه څوك ده نوما ده ته اوخودل چه دا زما خور ده لهذا ته ما دروغژن نه کړې يعنی هم دغه ورته وايه چه ته زما خور ئې.

په رواياتو کښې تعارض: په دې روايت کښې تصريح ده چه بادشاه اول دَ ابراهيم عليه السلام نه دَ ساره باره کښې تپوس اوکړو نوهغه جواب ورکړو چه ساره زما خور ده او بيا حضرت ابراهيم عليه السلام ساره له راغلو ورته ئې وصيت اوکړو چه ته زما تصديق اوکړه
په يو بل روايت کښې بادشاه سره دَملاقات ذکر روسته دې او ساره ته وصيت کولو مخکښې وارد شوی دی. چنانچه دَهشام بن حسان رحمه الله روايت دې چه حضرت ابراهيم عليه السلام ساره رضي الله عنها ته اوفرمائيل (إن هذا الجبار إن يعلم أنك امرأتي، يغلبني عليك، فإن سألك فأخبريه أنك أختي، وإنك أختي في الإسلام فلما دخل أرضه رآها بعض أهل الجبار، فأتاه فقال: لقد قدم أرضك امرءة لا

---

(١) فتح الباري: ٤٨٣/٨؛ إرشاد الساري: ٢٨٣/٧.
(٢) الكامل في التاريخ: ٧٧/١؛ إرشاد الساري: ٢٨٣/٧.
(٣) فتح الباري: ٤٨٣/٨
(٤) المرجع السابق.
(٥) المرجع السابق.

ينبغي أن تكون إلالك، فأرسل إليها) (١)

یعني که دغه جابر بادشاه ته معلومه شوه چه ته زما ښځه یئی نو هغه به تا په خپله قبضه کښې واخلی په دې وجه که هغه تانه تپوس اوکړی نوورته وایه زه دَابراهیم خور یم ښکاره خبره ده چه ته زما دینی خور یئی، چنانچه ابراهیم علیه السلام دَ بادشاه په مملکت کښې داخل شو نودَ هغه پیژندونکو ملګرو ساره اولیدله او راغله بادشاه ته ئی اووئیل چه ستا په مملکت کښې یوه داسې ښځه راغلې ده چه صرف هم ستا دَ شان لائقه ده لهذا ته هغه راؤغواړه.

په روایاتو کښې تطبیق: په دواړو روایتونو کښې به تطبیق داسې اوشی چه ابراهیم علیه السلام ته به احساس شوې وی چه دَبادشاه دَطرف نه به دَ ساره مطالبه کیږی په دې وجه ئی دَ اول نه ساره ته وصیت اوکړو. بیا چه کله دَهغه دَ ګمان مطابق دَمطالبې واقعه پیښه شوه نودَهغه وصیت اعاده ئی اوکړه. (٢)

قوله: لَيْسَ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ مُؤْمِنٌ غَيْرِي وَغَيْرُكِ.

اشکال: حضرت لوط علیه السلام خو هم ایمان راوړلې وو بلکه هغه په خپله نبی هم وو نوبیا ابراهیم علیه السلام ولې اوفرمائیل چه زما اوستا نه بغیر په دې زمکه باندې څوك مومن نشته؟

د اشکال جواب: حضرت لوط علیه السلام دَحضرت ابراهیم علیه السلام سره په دې سفر کښې نه وو هغه به خپل کلی کښې وو. او ابراهیم علیه السلام دَ دغه مخصص علاقې په اعتبار سره دا خبره کړې وه چه دلته زما اوستا نه علاوه بل څوك مومن نشته. (٣)

اشکال: ساره بی بی خود ابراهیم علیه السلام رفیق حیات وه خور ئې نه وه نو بیا ولې ابراهیم علیه السلام دا دروغ اوئیل؟

د کذب په نسبت کښې درې توجیهات: ① دَبادشاه عادت وو چه هغه به صرف دَ خلقو ښځې غصب کولې خوئیندو سره به ئی غرض نه لرلو په دې وجه ابراهیم علیه السلام دَ توریه نه کار اخستو سره هغه خور ظاهره کړه ښکاره خبره ده چه دا کذب نه وو ځکه چه ساره دَهغه دینی خور وه. (٤)

② کیدې شی دَحضرت ابراهیم علیه السلام مقصد (أهون البليتين) اختیارولو سره (أضر البليتين) دفع کول وو چه دَ ساره دَ غصب کولو اراده خو بهرحال بادشاه کړې وه لهذا که چرې هغه ته

---

(١) صحيح مسلم: ٢٦٦/٢باب من فضائل إبراهيم الخليل رقم: ٢٣٧١ والسنن الكبرى للبيهقي: ٥٩٩/٧كتاب الخلع والطلاق باب الرجل يقول لامرأته: يا أختي يريدالأخوة في الإسلام رقم: ١٥١٤٤.

(٢) فتح الباري: ٤٨٤/٨.

(٣) فتح الباري: ٤٨٤/٨.

(٤) فتح الباري: ٤٨٣/٨عمدة القاري: ٣٤٤/١٥.

معلومه شوه چه ساره دَ ده ښځه ده نو بادشاه به په غيرت كښې راتلو سره يا خو ما قتل كړي يا به مې قيد كړي. دَدې په خلاف كه بادشاه ته اووئيلې شي چه ابراهيم دَ هغې رور دې نو دَ غيرت دا غلبه به په ځائې دَ بادشاه په رور (ابراهيم عليه السلام) باندې شي. په دې صورت كښې به بادشاه ته دَ رور پرواه نه وي او دَ بادشاه دَ طرف نه به دَ نقصان انديښنه پاتې نه شي.(۱)

③ دَدې جابر بادشاه په دين كښې دَ خور او رور نكاح نه صرف جائز وه بلكه دَ نورو په مقابله كښې دَ خور سره دَ رور دَ نكاح حق زيات هم وو. چنانچه عبدبن حميد رحمه الله په خپل تفسير كښې دَ وهب بن منبه روايت نقل كړې دې: (من دين الملك أن الأخ أحق بأن تكون أخته زوجته من غيره، فلذلك قال هي أختي اعتماداعلى ما يعتقده الجبار فلا ينازعه فيها) نو حضرت ابراهيم عليه السلام اوفرمائيل چه دا زما خور ده او مقصد ئې دا وو چه كله بادشاه ته معلومه شي چه ساره دَ هغه خور ده نو هغه به دَ خپلې عقيدې دَ وجې نه به دَ ساره په معامله كښې دَ انختلو كوشش نه كوي او مونږ به په مصيبت كښې دَ راګيريدو نه بچ شو.(۲)

په دريمه توجيه اعتراض: په دې باندې اشكال كيږي چه كه چرې دا روايت ثابت وي نو بيا ابراهيم عليه السلام (هي أختي) باندې دَ اكتفاء كولو په ځائې به ئې تصريح كوله چه (أختي وأنا زوجها) يعنې دا زما خور ده او زه دَدې خاوند يم.

داعتراض جواب: شراح حديث دَدې دا جواب وركړې دې چه بادشاه دَ واده په ځائې دَ غصب نيت لرلو. دا تصريح به په هغه صورت كښې فائده منده وه چه كله دَ بادشاه اراده دَ واده وه.(۳)

د توريه اوتعريض تعريف: توريه يا تعريض داسې ذوه معنَى كلام ته وائي چه دَ يو ټيك او صحيح مقصد دَپاره اووئيلې شي. دَ متكلم مراد خو صحيح وي ليكن مخاطب په هغې باندې پوهه نه شي. دَ علم بديع او معانى په اصطلاح كښې دې اسلوب كلام ته تعريض او توريه وغيره سره يادولې شي. خو كه مخاطب په دماغو باندې زور واچوي او دَ غور او فكر نه كار واخلي نو هغه دَمتكلم مراد باندې پوهيدې شي.(۴)

(۱) فتح الباري: ۴۸۳/۸ إرشادالساري: ۳۸۳/۷ قال ابن حجر رحمة الله عليه: اختلف في السبب الذي حمل إبراهيم على هذه الوصية مع أن ذلک يريد اغتصابها على نفسها أختا كانت أو زوجة. فقيل: كان من دين ذلک الملک أن لا يتعرض إلا لذوات الأزواج. كذا قيل. ويحتاج إلى تتمة. وهو أن إبراهيم اراد دفع أعظم الضررين بارتكاب أخفهما. وذلک أنّ اغتصاب الملک واقع لا محالة. لكن إن علم أن لها زوجا في الحياة حملته الغيرة على قتله وإعدامه أو حبسه وإضراره. بخلاف ما إذا علم أن لها أختا. فإن الغيرة حينئذ تكون من قبل الأخ خاصة. لا من قبل الملک فلا يبالي به.

(۲) فتح الباري: ۴۸۴/۸.

(۳) فتح الباري: ۴۸۴/۸.

(۴) فتح الباري: ۴۸۲/۸.

په مواقع ثلاثه کښې توریه اوتعریض: ابراهیم علیه السلام په دریواړو مواقعو کښې توریه اوتعریض کړې دې. په دې کښې په یوه موقع باندې هم دَهغه مخې ته ذاتي غرض او دنیاوی مفاد نه وو صرف دَ حمایت او دین دَ نصرت دَپاره په دریواړو مواقع باندې دَ توریه او تعریض لار خپله کړې ده. چنانچه دَ شفاعت په حدیث کښې تصریح ده چه رسول الله ﷺ فرمائیلي «مامنها کذبة إلاما حل بها عن دین الله»[1] یعنی دَ ابراهیم علیه السلام دریواړه کذبات نه هر یو صرف دَ الله تعالی دَدین دَ مدافعت او حمایت دَپاره اووئیلې شو.

اشکال: هرکله دَدریواړو نه په یو باندې هم حقیقتاً دَ دروغو اطلاق نه کیږی نو بیا په حدیث کښې دې ته کذبات سره تعبیر کولو سره ولې بیان کړې شو.

داشکال جوابونه: ① حافظ ابن حجر رحمه الله دَدې دا جواب ورکړې دې چونکه توریه ظاهراً او صورتاً کذب معلومیږی په دې وجه دَ ظاهر اعتبار کولو سره حدیث کښې په دې باندې دَ کذب اطلاق کړې شوې دې.[2]

② که دریواړو کلامونو ته دروغ هم اووئیلې شی نو دَ ظالم ظلم دفع کولو دَپاره دروغ وئیل جائز بلکه بعض صورتونو کښې واجب کیږی. اوحقیقت دا دې چه حضور پاك دَدې کلام په ذریعه باندې په دې تنبیه کړې ده چه دا دروغ په هغه دروغو کښې شامل نه دی کوم چه کذب مذموم دې.[3]

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَ فقهاؤ په دې خبره باندې اتفاق دې چه بعض مقاماتو کښې دروغ وئیل واجب کیږی. دَ مثال په توګه که یو ظالم یو سړی سره موجود ودیعت غصب کول غواړی او مطالبه اوکړی نو صاحب ودیعت باندې واجب دی چه دروغ اووائی. داسې اووائی چه ماته معلومه نه ده چه هغه څیز چرته کیخودې شوې.[4]

قوله: ذَهَبَ يَتَنَا وَلُهَا بِيَدِهٖ فَأُخِذَ:

د ساره بی بی د ظالم بادشاه نه حفاظت: بادشاه ساره (په زور) راؤغوښتله. کله چه هغه بادشاه ته اورسیدله نو هغه په دې باندې لاس اچول غوښتل نو ناڅاپی راګیر کړې شو (اودَهغه لاس شل شو) وئی وئیل اې ښځې ته زما دَپاره دَ الله تعالی نه دعا اوکړه (چه زما لاس جوړشی نو) زه به تا نه تنګوم. ساره دعا اوکړه نو دَهغه لاس خلاص کړې شو (یعنی ښه شو) لیکن هغه بیا (بده اراده سره) لاس وراندې کړو نو بیا هم هغه آفت په نوره زیاته

---

[1] رواه الترمذی فی جامعه فی باب ومن سورة بنی إسرائیل رقم:۳۱۴۸ شرح النووی للإمام مسلم: ۱۲۴/۱۵ المطبعة المصریة بالأزهر.
[2] فتح الباری:۴۸۲/۸ إرشاد الساری: ۲۸۱/۷.
[3] شرح مسلم للإمام النووی: ۱۲۴/۱۵.
[4] عمدة القاری: ۳۴۳/۱۵.

سختئی سره دَ هغه لاس اونیولو (یعنی لاس ئی شل شو یا دَدې نه هم سخته سزا ورکړې شوه) بیائی اووئیل اې ښځې ته ماته دعا اوکړه زه به تا نه تنګوم. ساره دعا اوکړه نود هغه لاس بیا جوړ شو. بیا هغه دَ خپلو خدمتګارانو نه یوه ډله راؤغوښتله او ورته ئی اووئیل (إنکم لم تأتونی بإنسان إنما أتیتمونی بشیطان) یعنی تاسو ماله انسان نه بلکه یو پیرې راوړلې راغلې یئی.

قوله: إِنَّمَا أَتَيْتَنِي بِشَيْطَانٍ

ساره ته د شيطانة وئيلو وجه: په نورو روایاتو کښې ثابتیږی چه جابر بادشاه کله هم بده اراده اوکړه هرځل باندې هغه ته مختلف سزا ورکړې شوه. کله به دَ هغه مرئی خفه کولې شوه نو دَ سختئی دَ وجې نه اودَتکلیف نه به ئی په زمکه ګیټئی مرلې او کله به په زمکه باندې راخلاصولې شو.(۱) داقسم خارق الامر واقعات دَدې زمانې خلق متمرد او سرکش جنات طرف ته منسوب کوی په دې وجه دَ ساره په نسبت هم هغه اووئیل چه دا چرته سرکشه جن دې. دَ شیطان نه دلته جن مراد دې.(۲)

قوله: فَأَخْدَمَهَا هَاجَرَ:

ساره بی بی ته د بی بی هاجره هبه کول: جابر بادشاه هاجره ساره ته حواله کړه چه دَدې خدمت کوه. ساره ابراهیم علیه السلام له راغله ابراهیم علیه السلام په هغه وخت ولاړ وو مونځ ئی کولو. ابراهیم علیه السلام (هم په مانځه کښې) دَلاس په اشاره کولو سره تپوس اوکړو څه خبر دې؟. حضرت ساره رضی الله عنها دَحضرت اسحاق علیه السلام مور بی بی ده.(۳)

هاجره بی بی اود مصر دبادشاه لور کیدل: مولانا حفظ الرحمن سیوهاروی دَحضرت ابراهیم علیه السلام حضرت ساره رضی الله عنها او بادشاه (فرعون مصر) دَدې واقعې سره متعلق وارد شوی روایاتو نقل کولو سره لیکلی دی چه دَدې ټولو روایاتونه دومره په یقینی توګه سره معلومیږی چه حضرت ابراهیم علیه السلام خپلې بی بی حضرت ساره رضی الله عنها او دَخپل رور ځوئی حضرت لوط علیه السلام سره مصر ته تشریف یوړو. دا هغه زمانه وه چه کله دَ مصر حکومت دَ یوداسې خاندان په لاس کښې وو چه سامی قوم سره ئی تعلق لرلو اودغه شان حضرت ابراهیم علیه السلام سره په نسبی سلسله کښې تړلې شوې وو. دلته په رسیدو سره دَ حضرت ابراهیم علیه السلام او فرعون مصر په مینځ کښې ضرور داسې واقعه پیښه شوه په کوم سره چه دَهغه یقین اوشو چه حضرت ابراهیم علیه السلام اودَهغه خاندان دَالله تعالی مقبول او برګزیده خاندان دې. دَدې په کتلو سره هغه دَ حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت ساره رضی الله عنها ډیر اعزاز

(۱) فتح الباری: ۸/۴۸۴.
(۲) فتح الباری: ۸/۴۸۵ عمدة القاری: ۱۵/۳۴۴.
(۳) اللمع الصبیح بشرح الجامع الصحیح: ۹/۴۴۵ الکنز المتواری: ۱۳/۲۸۴.

او اکرام اوکړو او هغوی ته ئی هرقسم مال او اسباب ورکړو او صرف په دې باندې صبر نه شو بلکه خپله پخوانئی خانداني رشته دَ مضبوط کولو او مستحکم کولو دَپاره خپله لور هاجره هم دَهغه په زوجیت کښې ورکړه چه دَهغه زمانې دَ رسم او رواج په اعتبار سره دَ رومېې او مشرې ښځې خدمتګاره اوګرځي.(۱)

قوله: فَأَتَتْهُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ مَهْيَمْ؟:

دمهيم لفظ تحقيق: په اکثرو نسخو کښې دا لفظ هم دغه شان ضبط شوې دې. بعض نسخو کښې مهيا او مهين ضبط شوې دې. په دريواړو صورتونو کښې دا حرف استفهام دې او هم په يوه معنی کښې دې. يعنی (ماحالك؟وماشأنك،وماالخبر؟)(۲) وئيلی شی چه دَ ټولو نه اول دا لفظ حضرت ابراهيم عليه السلام استعمال کړې. (۳)

قوله: تِلْكَ أُمُّكُمْ يَا بَنِي مَاءِ السَّمَاءِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

عربو ته بنوماء السماء وئيلو بيان: (قال أبوهريرة: تِلْكَ أُمُّكُمْ يَا بَنِي مَاءِ السَّمَاءِ......) حضرت ابوهريره رضي الله عنه مذکوره روايت بيانولو سره په آخره کښې دَهاجره رضي الله عنها طرف ته اشاره کولو سره اوفرمائيل دَ آسمان دَ اوبو والو هم دغه (هاجره) ستاسو مور وه.

عربوته ماء السماء وئيلو کښې درې توجيهات:

① دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه مخاطب عرب وو. دَ عربو دَ زمکې زياته حصه په ځنګلاتو او بيابانونو باندې مشتمل وه او دَهغوی وخت تيريدل به دَ باران په اوبو سره وو په دې وجه ئی هغوی ته بنی ماء السماء اووئيل. (۴)

② يوقول دادې چه ماء السماء نه دَزمزم اوبه مراد دی. الله تعالی دَحضرت هاجره رضي الله عنها دَ پاره دَ زمکې نه دَ زمزم چينه جاری کړه او په دې سره ئی دَحضرت اسماعيل عليه السلام تربيت اوپالنه اوکړه. اکثر عرب دَحضرت اسماعيل عليه السلام دَ نسل نه دی په دې مناسبت سره هغوی ته بنو ماء السماء اووئيلې شو.(۵)

③ يو احتمال دا هم دې چه دَماء السماء نه مراد عامر وی چه دَ اوس اوخزرج نيکه وو اوعامر ته به ماء السماء په دې وجه وئيلې کيدو چه کله به هم قحط راتلو نو هغه به په خپل مال سره دَخلقو امداد کولو يعنی دَهغه مال به دَ باران په شان کيدلو په دې وجه

(۱) قصص القرآن: ۱۶۲/۱دارالإشاعة.
(۲) عمدة القاري: ۳۴٤/۱۵فتح الباري: ۴۸۵/۸.
(۳) المصدرالسابق.
(۴) شرح النووي: ۱۲۵/۱۵عمدة القاري: ۳٤٤/۱۵.
(۵) أعلام الحديث للخطابي: ۱۵۳۸/۳عمدة القاري: ۳۴۵/۱۵.

عامر ته ماء السماء وئیلې کیدو.(۱) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا قول هم په دې وجه باندې دې چه عرب ټول په ټول د حضرت اسماعیل علیه السلام اولاد نه دی.(۲)

[۵۷۰۵] د درې پیغمبرانو د عظمت بیان

۵۷۰۵-(۳)[۸] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «نَحْنُ أَحَقُّ بِالشَّكِّ مِنْ إِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ: ﴿رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى﴾ [البقرة: ۲۶۰] [۳] وَيَرْحَمُ اللَّهُ لُوطًا، لَقَدْ كَانَ يَأْوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ، [۴] وَلَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ طُولَ مَا لَبِثَ يُوسُفُ لَأَجَبْتُ الدَّاعِيَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] مونږ د حضرت ابراهیم نه د زیات شك کولو لائق یو هرکله چې هغوئ ویلي وه: رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى اې پروردګاره! ماته وښایې چې ته مړی څرنګه ژوندی کوې؟ [۳] او الله تعالی دې په حضرت لوط علیه السلام رحم وکړي چې د رکن شدید پناه نیول یې غوښتل [۴] او که زه قیدخانه کې دومره اوږدې مودې پورې وی، څومره موده چې حضرت یوسف علیه السلام وو نو ما به یقینًا د بلونکي دعوت قبول کړی وای. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① يَأْوِي: پناه ئې اخستله. ② رُكْنٍ شَدِيدٍ: أَيْ عَشِيرَةٍ قَوِيَّةٍ: مضبوط خاندان. ③ لَبِثْتُ: وخت مې تیر کړې وې، ④ السِّجْنِ: جهیل، قیدخانه، ⑤ لَأَجَبْتُ: خامخا به مې قبول کړې وې، ⑥ الدَّاعِيَ: دعوت ورکونکې، رابلونکې.

تسهیلات:

قوله: «نَحْنُ أَحَقُّ بِالشَّكِّ مِنْ إِبْرَاهِيمَ:

دحدیث پس منظر: دحضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی چه مونږ د ابراهیم علیه السلام په مقابله کښې د ډیر شك مستحق یو. کوم وخت چه ابراهیم علیه السلام عرض کړې وو ﴿رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى﴾. دَدې حدیث پس منظر دادې چه کله د سورت بقره آیت ﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى﴾ نازل شو نوبعض صحابه کرامو اووئیل (شك إبراهيم ولم يشك نبينا) نورسول الله صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو (نحن أحق بالشك من إبراهيم).

د احق بالشک په مفهوم کښې درې اقوال: ① امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دې جملې سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم منشاء دا وه چه د ابراهیم علیه السلام په زړه کښې شك او تردد پیداکیدل محال وو ځکه چه د انبیاء کرام په زړونو کښې کله هم شك او شبه نه پیداکیږی. اوفرض کړه که

---

(۱) إرشادالساری: ۲۸۵/۷فتح الباری: ۴۸۶/۸عمدة القاری: ۳۴۵/۱۵.

(۲) فتح الباری: ۴۸۶/۸.

(۳) اخرجه البخاری فی کتاب أحاديث الأنبياء/باب قوله عز وجل: {ونبئهم عن ضيف إبراهيم إذ دخلوا عليه} [الحجر: ۵۲](رقم-۳۳۷۲) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب من فضائل إبراهيم الخليل صلى الله عليه وسلم (رقم-۱۵۲ - (۱۵۱) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الصبر على البلاء (رقم-۴۰۲۶) واحمد فی المسند:۳۲۶/۲

تسلیم کړې شی چه دَ انبیاء په زړونو کښې شکوك پیدا کیدې شی نو دَ ابراهیم علیه السلام نه زیات زه مستحق ووم چه ماته شك پیدا شوې وې. هرکله چه ماته دَ الله تعالی په قدرت علی احیاء الموتی باندې شك اوتردد کله هم نه دې پیدا شوې نو ابراهیم علیه السلام ته خو په طریقه اولی شك نه دې شوې.[۱]

④ علامه کرمانی رحمه الله فرمائیلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا جمله تواضعًا فرمائیلې ده.[۲]

③ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دَ بعض اهل لغت په نیز أفعل وزن نفی المعنی عن الشیئین دَپاره راځی. دَ قرآن مجید آیت مبارك دې: ﴿أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ﴾ دَدې مطلب دادې چه دواړه فریقین دَ خیرنه محروم دی. دغه شان که څوك اووائی (الشيطان خير من فلان) نو دَدې مطلب دا وی چه په دواړو کښې خیر نشته دې. نو دَحدیث دَ مذکوره جملې مطلب دادې چه مونږ تولو انبیاء کرامو ته کله هم شك نه دې پیدا شوې.[۳]

لیکن علامه قسطلانی رحمه الله په دې باندې رد کولو سره فرمائی چه دا توجیه دَ محققینو په نیز غیرمعروف ده. والله اعلم.[۴]

قوله: وَيَرْحَمُ اللَّهُ لُوطًا، لَقَدْ كَانَ يَأْوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ،

د مذکوره جملې مفهوم: په دې جمله کښې هم دَ حضورپاك په حضرت لوط علیه السلام باندې اعتراض کول مقصود نه دی بلکه دَهغوی دَ تنگ والی او پریشانتیا دَ یو کیفیت بیان دې چه قوم لوط هغوی دومره تنگ کړل چه هغه په دې وینا کولو باندې مجبوره شو چه افسوس چرته یوه مضبوطه قلعه وه یا ماسره څه ښکاره طاقت وې چه دَدې قوم مقابله مې کړې وه. په دې مجبورتیا کښې دَ حضرت لوط علیه السلام خیال دَمادی طاقت طرف ته لاړو گنی دَ یونبی دَپاره دَ الله تعالی ذات دَ ټولو نه زیات مضبوط اومحفوظ قلعه ده دې نه بغیربل څه مضبوطه قلعه کیدې شی؟

قوله: وَلَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ طُولَ مَا لَبِثَ يُوسُفُ لَأَجَبْتُ الدَّاعِيَ:

د یوسف علیه السلام عظمت: امام محی السنة رحمه الله فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت یوسف دَ صبر اوتحمل غوندې عظیم اوصاف سره متصف کړې دې دکوم وجه چه داده چه کله یو گناهگار سړی ته دَ قید اوبند تکلیفونه برداشت کولو سره دَ آزادئی پروانه ملاویږی نوهغه کوشش کوی چه زر نه زر هغه دَ دغه قیدنه بهراوځی نو یو بې گناه سړې به یقینًا دَ دغه رومبی سړی په نسبت ډیر زیات دَدې خبرې کوشش کوی چه

---

[۱] إرشادالساري: ۳۰۶/۷.
[۲] شرح الکرماني: ۴۳/۱۷.
[۳] فتح الباري: ۵۰۹/۸.
[۴] إرشادالساري: ۳۰۶/۷.

هغه دَ دې قيد نه بهرکړې شي. ليکن حضرت يوسف عليه السلام سره دَ بې ګناه کيدو هم دَ آزادئی پروانه ملاويدونه پس تادی اونه کړه بلکه پيغام رسونکی ته ئی اوئيل لاړشه اول دَ بادشاه نه دَهغه ښځو دَحال پوښتنه اوکړه نو راشه چا چه خپل لاسونه پرې کړې وو. دَحضرت يوسف ه مقصد په دې خبره باندې حجت قائمول وو چه بادشاه هغه دَ يوې اوږدې مودې پورې بې ځايه په قيدکښې ساتلوسره دَ ډير ظلم او بې انصافئی سلوك کړې دې.

د نبی علیه السلام ه قول توجیه: بل دَ نبی کريم ﷺ دَ حضرت يوسف عليه السلام پـه شـان کـښې دَتعريف جملې ارشاد کول علی سبيل التواضع وو داسې هيڅ کله نه وه چه که حضورپاك وې نو دَ تادئی مظاهره به ئی کوله ځکه چه تواضع يو داسې وصف نه دې چه يو عظيم حقير يا يو رفيع وضيع يا دَيو صاحب حق، حق باطل کوی بلکه تواضع يـو داسـې محمـود صفت دې دَ کوم په وجه چه انسان ته يو اضافی فضيلت شرافت او منزلت حاصليږی.(¹)

[۵۷۰٦] حضرت موسٰی عليه السلام او ايذاء بني اسرائيل

٥٧٠٦-(²) [٩] ①وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِنَّ مُوسَى كَانَ رَجُلًا حَيِيًّا سِتِّيرًا، ③لَا يُرَى مِنْ جِلْدِهِ شَيْءٌ اسْتِحْيَاءً، ④فَآذَاهُ مَنْ آذَاهُ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، ⑤فَقَالُوا: مَا تَسَتَّرَ هَذَا التَّسَتُّرَ إِلَّا مِنْ عَيْبٍ بِجِلْدِهِ: ⑥إِمَّا بَرَصٌ أَوْ أُدْرَةٌ، ⑦وَإِنَّ اللهَ أَرَادَ أَنْ يُبَرِّئَهُ، ⑧فَخَلَا يَوْمًا وَحْدَهُ يَغْتَسِلُ، فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلَى حَجَرٍ،

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ②موسٰی عليه السلام يوډير شرم کونکی او د سختي پردي اهتول کونکی وو. د شرم او حياء باندې دومره غلبه وه چې پوره بدن به يي هروخت پټ شاتی ③او د هغه د جسم د ځرمن هيڅ حصه به هم نه ښکاره کيدله ④يووار د بني اسرائيلو څه خلقو هغه ته تکليف رسول وغوښتل ⑤نو هغوئ مشهوره کړه چې موسٰی عليه السلام خپل جسم دومره احتياط سره ځکه پټ شاتي چې د هغه جسم کې څه عيب دی ⑥يا خوورته برص برګي مرض دی يائي خصيتين پړسيدلي دي هرکله چې داخبره ډيره خوره شوه ⑦نو الله تعالىٰ اراده وفرمايله چې کوم عيب موسٰی باندې لګولی شي هغه نه هغه محفوظ او مامون وساتي او د هغه بي عيبي ښکاره او ثابته کړي ⑧نو يوه ورځ چې موسٰی يوپټ ځاي ته د لمبيدو د پاره لاړشي او خپلي کپړي خکته کولو سره په يوکاني يي کيښوې

حل اللغات:- ① حَيِيًّا: د مبالغې صيغه ده، أَيْ مُسْتَحْيِيًا: حياناک، ډيره حيا کونکې، ② سِتِّيرًا: أَيْ: مَسْتُورٌ.

¹) إرشادالساري: ۷/۳۰۷-۳۰۶.

²) اخرجه البخاري في كتاب الغسل /باب من اغتسل عريانًا وحده في الخلوة، ومن تستر فالتستر أفضل (رقم-۲۷۸) ومسلم في كتاب الفضائل/باب من فضائل موسى صلى الله عليه وسلم (رقم-۱۵٦ - (۳۳۹) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الأحزاب (رقم-۳۲۲۱) واحمد في المسند:۲/۵۱٤

خان پټ ساتونکې، ③بَرَصٌ: برګې مرض، ④أُدْرَةٌ: أي نَفْخَةٌ بِالْخُصْيَةِ: چه هګۍ ئې پړسيدلې وي.
⑤خَلَا: أي: انْفَرَدَ: خانله شو يعنى يو اخې شو دخلقو نه،

[١] فَفَرَّ الْحَجَرُ بِثَوْبِهِ [٢] فَجَمَحَ مُوسَى فِي إِثْرِهِ يَقُولُ: ثَوْبِي يَا حَجَرُ! ثَوْبِي يَا حَجَرُ! [٣] حَتَّى انْتَهَى إِلَى مَلَإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، [٤] فَرَأَوْهُ عُرْيَانًا أَحْسَنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ [٥] وَقَالُوا: وَاللَّهِ مَا بِمُوسَى مِنْ بَأْسٍ، وَأَخَذَ ثَوْبَهُ، [٦] وَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا، [٧] فَوَاللَّهِ إِنَّ بِالْحَجَرِ لَنَدَبًا مِنْ أَثَرِ ضَرْبِهِ "ثَلَاثًا أَوْ أَرْبَعًا أَوْ خَمْسًا»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] نو هغه کاڼي د هغه کپړه سره وتښتيدى [٢] موسى دا واقعه ليدو سره د ډيرې حيرانۍ او پريشانۍ په عالم کې هغه کاڼى پسې دې ويلو سره وزغستل چې اې کاڼړيه! خما کپړې راکړه اې کاڼړيه! خما کپړې راکړه [٣] ددې پورې چې مخکې مخکې هغه کاڼى او ورپسې ورپسې حضرت موسى عليه السلام زغستل چې د بني اسرائيلو يو هجوم ته ورسيدى [٤] هجوم ګنې چې د حضرت موسى عليه السلام بربنډ جسم اوليدلو نو هغه يې د الله ﷻ په مخلوق کې يو بهترين او د بې عيبه جسم انسان اوليدلو [٥] بيا هغوئ په يو اواز اوويل قسم په الله د موسى بدن د هرعيب او نقصان نه پاك دى [٦] او موسى عليه السلام د کاڼړي نه جامې واخستلې او موسى عليه السلام کاڼى په همسا سره وهل شروع کړل [٧] قسم په الله د موسى د وهلو په وجه په هغه کاڼي باندې نښې شوې وې درې نښې يا څلورنښې يا پنځه نښې (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑥فَرَّ: اوتختيدو، ⑦فَجَمَحَ: أي: ذَهَبَ: د فتح يفتح نه په جلتئ سره تللو او تيزې منډې وهلو ته وائي. يعنى کاڼړى پسې په جلتئ روان شو، ⑧إِثْرِهِ: أي: فِي عَقِبِ الْحَجَرِ: په هغې کاڼړى پسې. ⑨مَلَأٌ: سرداران، غټان د قوم، ⑩طَفِقَ: أي: شَرَعَ: شروع شو (يعنى کاڼړې وهلو باندې شروع شو). ⑪لَنَدَبًا: أي: أَثَرًا وَعَلَامَةً: اثر او نښه، تازه په تازه زخم ته وائي په دې کښې د معجزه ظهور شوې دې.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مُوسَى كَانَ رَجُلًا حَيِيًّا سِتِّيرًا:

په حييا او ستيرا کښې مبالغه:

سِتِّيرًا: په سين باندې زبر دې د "فقيرا" په وزن باندې دې ملاعلى قاري رحمه الله ليکلى دى چه ظاهر دادى دا لفظ د سين کسره او تاء مشدده سره دې دا په ساتر کښې مبالغه ده يعنى ډير زيات پردې والا وو. هم د دې پرده او حياء د وجې نه د هغه قوم بنى اسرائيل اووئيل دې مونږ سره بربنډ ځکه نه لامبى چه د ده په بدن کښې څه قبيح عيب دې. بل طرف ته د الله تعالى عادت مبارکه دې چه انبياء کرام هغه کامل رجال پيدا کړى دى او د هربدنى قبيح عيب نه ئې هغوى پاك ساتلى دى.

قوله: وَإِنَّ اللّٰهَ أَرَادَ أَنْ يُبَرِّئَهُ:

د بیمارۍ څخه د موسی علیه السلام براءت: په همزه باندې ضمه ده دال ساکن دې او په راء باندې زبر دې. په خصيتين کښې د پړسوب يوه بيماري وی کوم ته چه "أُدْرَةٌ" وائی. قوم هم د دې الزام اولګولو نو الله تعالی حضرت موسی علیه السلام د دې عيب نه پاکول غوښتل نو دا واقعه پيښه شوه کومه چه په دې حديث کښې ده.

[۵۷۰۷] د حضرت ايوب علیه السلام يوه واقعه

۵۷۰۷-()[۱۰] [۱]وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]" «بَيْنَا أَيُّوبُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا، [۳]فَخَرَّ عَلَيْهِ جَرَادٌ مِنْ ذَهَبٍ، [۴]فَجَعَلَ أَيُّوبُ يَحْثِي فِي ثَوْبِهِ، [۵]فَنَادَاهُ رَبُّهُ: يَا أَيُّوبُ أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرَى؟ [۶]قَالَ: بَلَى وَعِزَّتِكَ، [۷]وَلَكِنْ لَا غِنَى عَنْ بَرَكَتِكَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲]حضرت ايوب چې د اوږدې او سخت ترينې ناجوړۍ آزمائش او امتحان کې سرخرويه شو او صحت او عافيت يې نصيب شو نو د بيمارۍ څخه د روغيدو غسل يې وکړو او د هغه د بيمارۍ څخه د روغيدو غسل په دوران کې هغه بربنډ لامبل [۳]چې الله جل جلاله د هغه په کور د سروزرو ملخانو ورول شروع کړل [۴]او هغه د سروزرو ملخان په هغه برسيره يعنی ښي اوچپ طرف ته غورځيدل حضرت ايوب هغه ملخان راټولولو سره خپلو کپړو کې اېښودل شروع کړل [۵]د سروزرو ملخانو سره د هغه دا مشغوليت ليدو سره د هغه پروردګار هغه مخاطب کولو سره ورته وفرمايل اې ايوب علیه السلام! کوم شی چې ته وينې آيا مونږ ته دې نه بې نيازه کړې نه يې [۶]حضرت ايوب علیه السلام عرض وکړو بيشکه ستا په عزت مې دې قسم وي تا زه د دې شي نه بې پروا کړې يم [۷]ليکن ستا د نعمت د کثرت او ستا د رحمت د فراخي نه هيڅ کله بې نيازي نشته. (بخاري)

حل اللغات: - ① فَخَرَّ: أَيْ: فَسَقَطَ: راپريوتل، راوغورزيدل، ② جَرَادٌ: مُلخان، ③ يَحْثِي: أَيْ يَجْمَعُهُ: راجمع کول ئې، راټولول ئې.

تسهيلات:

قوله: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «بَيْنَا أَيُّوبُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا:

په بربنډ لامبلو کې درې احتمالات:

① هغوی به لنګ اچولې وو

② د هغوی په بدن باندې څه کپړه نه وو او د غه شان په بربنډه باندې لامبل د حضرت موسی علیه السلام او حضرت ايوب علیه السلام په زمانه کښې جائز وو.

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الغسل /باب من اغتسل عريانًا وحده في الخلوة، ومن تستر فالتستر أفضل (رقم-۲۷۹)

③ بربنډي لامبل ليکن چرته په يو پټ ځائ کښې نوډدې په شرعی جوازکښې څه قباحت هم نشته دي.

قوله: يَاأَيُّوبُ أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرَى

دالله تعالى د خطاب انداز: چه کله حضرت ايوب عليه السلام غسل اوکړو نوالله تعالى دَ هغه نه نبي اوکس طرف ته دَ سرو زرو ملخان راورول شروع کړه. چنانچه حضرت ايوب عليه السلام هغه راغونډولوسره په خپل لنګ يا کپړه کښې اچول نو الله تعالى وحى نازل کړه چه ما ته دَدې نه بې پرواه کړې. داخطاب دَ خفګان او عتاب په توګه نه وو بلکه دَ شفقت او محبت دَ اظهار په توګه وو. په دې باندې حضرت ايوب عليه السلام عرض اوکړو چه دَ الله تعالى قسم چه زه دَ ډير مالداره کيدو باوجود هم ستا ورکړه اوستا دَنعمت دَ کثرت او ستادَ رحمت دَ زياتوالى نه هيڅ کله بې پرواه کيږم نه او ستا دَ رحمت او برکت په لټون کښې يم.

[۵۷۰۸] يو نبي دبل نبي په مقابله کې زياتولوسره د پيش کولو ممانعت

٥٧٠٨-()[٤] ①وَعَنْهُ، قَالَ: «اسْتَبَّ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَرَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ. ②فَقَالَ الْمُسْلِمُ: وَالَّذِي اصْطَفَى مُحَمَّدًا عَلَى الْعَالَمِينَ. ③فَقَالَ الْيَهُودِيُّ: وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَى الْعَالَمِينَ. ④فَرَفَعَ الْمُسْلِمُ يَدَهُ عِنْدَ ذَلِكَ ⑤فَلَطَمَ وَجْهَ الْيَهُودِيِّ، ⑥فَذَهَبَ الْيَهُودِيُّ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ⑦فَأَخْبَرَهُ بِمَا كَانَ مِنْ أَمْرِهِ وَأَمْرِ الْمُسْلِمِ، ⑧فَدَعَا النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الْمُسْلِمَ فَسَأَلَهُ عَنْ ذَلِكَ،

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي په يوه موقع د يو مسلمان او يو يهودي په منځ کې بدکلامي وشوه ②مسلمان اوويل په هغه الله قسم چې هغه حضرت محمد صلى الله عليه وسلم يې د ټول جهان په په خلقوکي بنه ګرځولي دی ③د دې په جواب کې يهودي دا اوويل په هغه الله مې دي قسم وي چې حضرت موسى يې د ټول جهان په خلقوکي د ټولو نه بنه ګرځولی دی ④په دې هغه مسلمان په قهر کې راتلو سره په هغه يهودي يې لاس پورته کی ⑤او په مخ يې څپيړه ورکړه ⑥يهودي شکايت سره رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ورغلی ⑦او د حضور صلى الله عليه وسلم مخکې يې خپله او د مسلمان پوره واقعه بيان کړله ⑧رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه مسلمان طلب کی او هغه نه يې د صورتِ حال تحقيق وکی هغه د يهودي دَ بيان کرده واقعې ترديد ونه کړی بلکه حضور صلى الله عليه وسلم ته يې هغه واقعې خبره بيان کړله

حل اللغات:- ① اسْتَبَّ: يوبل ته ئې کنځل کول، بد رد ئې وئيل. ② اصْطَفَى: غوره کړې ئې دې، ③ فَلَطَمَ: أَيْ ضَرَبَهُ بِكَفِّهِ: په سپيړه ئې اووهلو.

[1] اخرجه البخاري فى كتاب أحاديث الأنبياء/باب وفاة موسى وذكره بعد (رقم-٣٤٠٧) ومسلم فى كتاب الفضائل/باب من فضائل موسى صلى الله عليه وسلم (رقم-١٦٠ - (٢٣٧٣) وابوداود فى كتاب السنة/باب فى التخيير بين الأنبياء عليهم الصلاة والسلام (رقم-٤٦٧١) واحمد فى المسند: ٢/٢٦٤

[۱] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "لَا تُخَيِّرُونِي عَلَى مُوسَى، [۲] فَإِنَّ النَّاسَ يُصْعَقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [۳] فَأَصْعَقُ مَعَهُمْ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُفِيقُ [۴] فَإِذَا مُوسَى بَاطِشٌ بِجَانِبِ الْعَرْشِ، [۵] فَلَا أَدْرِي كَانَ فِيمَنْ صَعِقَ فَأَفَاقَ قَبْلِي، [۶] أَوْ كَانَ فِيمَنِ اسْتَثْنَى اللَّهُ؟»".

ترجمه: [۱] رسول الله ﷺ د فريقينو بيانات اوريدو سره وفرمايل ماته په موسی فضيلت مه راکوئ [۲] کله چې د قيامت په ورځ به شپيلۍ پوکلو باندې ټول خلق بيهوشه شي [۳] نو هغوئ سره به زه هم بيهوشه شم بيا د ټولو نه مخکې په هوش کې راتلونکی سړی به زه يم [۴] ليکن زه چې په هوش کې راشم نو وبه وينم چې موسی علیه السلام د عرش پايه نيولی ولاړ دی [۵] او زه نشم ويلی چې آيا هغه وخت به داوي چې موسی علیه السلام به بيهوشه کيدونکو په خلقوکي شامل وي او د هغه بيهوشي به زما نه مخکې ختمه شوي وي [۶] يا دابه وي چې الله ﷻ هغه مستثنٰی ګرځولی وي او هغه بيهوشه کيدو نکو په خلقوکي نه وي

حل اللغات:-③ لَاتُخَيِّرُونِي: د تَخْيِيرِ نه دې، په معنی د اِصْطِفَاء سره، أي لَاتُفَضِّلُونِي: ما مه غوره کوئ يعنی فضيلت مه راکوئ ماته، ⑤ يُصْعَقُونَ: إِذَا أَصَابَهُ فَزَعٌ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ: د ويرې په حالت کښې بې هوشی راتلو ته صَعِق وائی. ⑥ يُفِيقُ: د إِفَاقَةٌ نه دې، د بې هوشئ نه په هوش کښې راتلو ته وائی. ⑦ بَاطِشٌ: أي آخِذٌ: نيونکې به وی.

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ: "[۲] «فَلَا أَدْرِي أَحُوسِبَ بِصَعْقَةِ يَوْمِ الطُّورِ، أَوْ بُعِثَ قَبْلِي؟ [۳] وَلَا أَقُولُ أَنَّ أَحَدًا أَفْضَلَ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى»".

ترجمه: [۱] په يوه روايت کې دا الفاظ دي [۲] او زه نشم ويلی چې آيا هغه وقته داوي چې طور باندې د موسٰی بيهوشي به د قيامت په ورځ د دې بيهوشي حساب کې شمير شی يا دابه وي چې بيهوشه کيدو نکو کې به هغه هم شامل وي خو هغه به ځما نه مخکې په هوش کښې راغلی وي [۳] بيا حضور ﷺ وفرمايل او زه خو داهم نه وايم چې يو سړی د يونس ابن متٰی نه افضل دی.

حل اللغات:-⑧ يُونُسَ بْنِ مَتَّى: هِيَ اسْمُ أُمِّ يُونُسَ: مَتّٰی د يونس علیه السلام د مور نوم دې، بعضې علماء وائی دا ئې د پلار نوم وو.

۵۷۰۹-() [۱] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [۲] قَالَ: («لَا تُخَيِّرُوا بَيْنَ الْأَنْبِيَاءِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۳] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي هُرَيْرَةَ: "«لَا تُفَضِّلُوا بَيْنَ أَنْبِيَاءِ اللَّهِ»".

ترجمه: [۱] او د حضرت ابو سعيد په روايت کې داسې دي [۲] چې حضور ﷺ د دواړو بياناتو اوريدو سره وفرمايل تاسو انبياوو کې يو ته په بل ترجيح مه ورکوئ. (بخاري،

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل /باب من فضائل موسی صلی الله علیه وسلم (رقم-۱۶۳ - (۲۳۷۴) وابوداود فی کتاب السنة/باب فی التخيير بين الأنبياء عليهم الصلاة والسلام (رقم-۴۶۶۸)

مسلم، [۳] او د حضرت ابوهريره ﷺ د روايت الفاظ داسې دي چې تاسو د الله ﷺ په نبيانو کې يو ته په بل فضيلت مه ورکوئ.

حل اللغات:- ① لَا تُخَيِّرُوا: أَيْ: لَا تُفَضِّلُوا: فضيلت مه ورکوئ.

تسهيلات:

قوله: لَا تُخَيِّرُوا بَيْنَ الْأَنْبِيَاءِ:

يونبي لره په بل د فضيلت ورکولو حکم: په انبياء کرامو کښې يونبي ته په بل نبي باندې داسې فضيلت ورکول جائز نه دی ځنګه چه دَ يو نبي په شان کښې تنقيص راتلې شي. دا تنقيص حرام او کفر دي. بل په خصوصی توګه باندې دَ يو نبي نوم اخستو سره دَ هغه په مقابله کښې دَ بل نوم اخستو سره په هغه باندې فضيلت او ترجيح ورکول مناسب نه دی. او په اجمالی توګه باندې يونبي افضل ګرځول جائز دی. مثلاً که څوك داسې او وائي چه حضرت محمد ﷺ دَ ټولو انبياء کرامو نه افضل دي.

په زير بحث حديث کښې د حضرت اشرف علی تهانوی ﷫ تحقيق: دَ زير بحث حديث په تشريح کښې حضرت مولانا اشرف علی تهانوی ﷫ په خپل ملفوظات کښې فرمائيلی چه فرض کړه په يو ځائی کښې ټول انبياء کرام راجمع شوی دی ټول مخامخ وی او دغه وخت يو سړې مخامخ يو نبي ته په بل نبي باندې دَ فضيلت ورکولو جرأت کولو سره خودې اوښائي؟ که چرې داسې نه شی کولې نو بيا په غائبانه توګه باندې هم نه دی کول پکار. رسول الله ﷺ چه دا دَ خفګان اظهار کړې دې نو دا هم دغه دَ مقابلې او خصومت صورت وو. دَ جګړې صورت وو دکوم نه چه دَ تحقير صورت راوتلې شو. نو حضورپاك منع کړل. بيا چه حضورپاك خپل فضيلت په يونبي باندې دَ بيانولو کوم ممانعت کړې دې دا دَ هغه وخت خبره وه کوم وخت چه دَ الله تعالی دَ طرف نه دَ مطلق فضيلت وحی نه وه راغلې. روستو بيا دَ حضورپاك دَ مطلق فضيلت وحی راغله لهذا اوس حضورپاك دَ يونبي په مقابله کښې هم افضل او اشرف ګرځول صحيح دی. دې نه پس که حضورپاك دَ خپل فضيلت ورکولو نه منع کړې وی نو دا به دَحضورپاك په تواضع باندې حمل کولې شی. په دې حديث کښې دَحضرت موسی ﷺ جزئی فضيلت دې کلی نه دې.

[۵۷۱۰] د حضرت يونس ﷺ متعلق يوهدايت

۵۷۱۰-()[۱۳] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَا يَنْبَغِي

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {واتخذ الله إبراهيم خليلًا} [النساء: ۱۲۵] (رقم-۳۳۶۵) ومسلم في كتاب الفضائل/باب في ذكر يونس عليه السلام، وقول النبي صلى الله عليه وسلم ولا ينبغي لعبد أن يقول أنا خير من يونس بن متىء (رقم-۱۶۶ - (۲۳۷۶) وابوداود في كتاب السنة/باب في التخيير بين الأنبياء عليهم الصلاة والسلام (رقم-۴۶۶۹)

لِعَبْدٍ أَنْ يَقُولَ: إِنِّي خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
[٣] وَفِي رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ قَالَ: «قَالَ: أَنَا خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى فَقَدْ كَذَبَ».

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] دا هيڅ کله مناسب نه دی چې يو سړی دا اووائي چې زه د يونس عليه السلام ابن متّی نه ښه يم. (بخاري مسلم) [٣] او د بخاري په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمايل کوم سړی چې دا اووائي چې زه د يونس ابن متّی نه ښه يم نو هغه يقينًا دروغجن دی.

تسهيلات:

قوله: مَا يَنْبَغِي لِعَبْدٍ أَنْ يَقُولَ: إِنِّي خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى:

د انا خير من يونس په مفهوم کښې دوه اقوال:

يعنې په اصل نبوت کښې خو ټول انبياء کرام يوشان اوبرابر دی په دې کښې خو هيڅ تفاضل نشته دې. او په درجاتو کښې تفاوت اوفرق شته. اوس که يو سړې "اناخيرمن يونس" وائی نودَې دوه مطلبونه کيدې شی:

① چه هغه سړې حضورپاك دَ حضرت يونس عليه السلام نه افضل ښائی حالانکه په نفس نبوت کښې مساوات دي لهذا دغه سړی دروغ اووئيل.

② اوکه چرې دا سړې په اناخير سره دا خپل ځان دَ حضرت يونس عليه السلام نه افضل ښائی اوپخپله نبی نه دې نودا دروغژن کذاب دې اوکذب په معنی دکفر دې دا سړې کافر شو.

د حضرت يونس عليه السلام د تخصيص وجه: دَ فضيلت په دې ميدان کښې دَحضرت يونس عليه السلام دَ تخصيص وجه داده چه هغوی باندې يوازميښت اوامتحان راغلې وو چه دَ الله تعالی دَ خاص حکم دَ راتلو دَ انتظار نه مخکښې دَ ښار اوخلقو نه جدا کيدو سره اووتلو په کوم باندې چه الله تعالی ناراض شو دَ کوم په وجه سره چه هغوی دَ اولوالعزم پيغمبرانو فهرست کښې پاتې نه شو نوممکن ده چه دَ چا په زړه کښې دا خيال راشی چه حضرت يونس عليه السلام نه په هريو نبی باندې فوقيت او فضيلت ورکولې شی. په دې وجه حضورپاك په خاص توګه منع کړل.

قوله: أَنَا خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى فَقَدْ كَذَبَ:

په متی نوم کې دوه احتمالات: ① متی دَ حضرت يونس عليه السلام دَ پلار نوم وو
② متی دَهغوی دَ مور نوم وو.

[۵۷۱۱] د حضرت خضر علیہ السلام ذکر

۵۷۱۱-(۱) [۳] [۱] وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِنَّ الْغُلَامَ الَّذِي قَتَلَهُ الْخَضِرُ طُبِعَ كَافِرًا، [۳] وَلَوْ عَاشَ لَأَرْهَقَ أَبَوَيْهِ طُغْيَانًا وَكُفْرًا»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابي ابن کعب رضی الله عنه وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] حضرت خضر علیہ السلام چې کوم هلك وژلی وو هغه د کفر طبیعت اخستو سره پيدا شوی وو [۳] که هغه هلك ژوندی پاتې شوی وی نو يقيناً خپل مور وپلار به يې کفر او سرکشي کې مبتلا کړی وه. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① الْخَضِرُ: سر سبز، شنو وخو ته وائی. ② طُبِعَ: أَيْ: خُلِقَ: پيداشوي وو په طبيعت د کفر باندې. ③ عَاشَ: ژوندې پاتې شوې وې. ④ لَأَرْهَقَ: أَيْ: لَكَلَّفَهُمَا: مبتلا کړی به ئې وې. ⑤ طُغْيَانًا: سرکشي.

تسهيلات: **قوله:** إِنَّ الْغُلَامَ الَّذِي قَتَلَهُ الْخَضِرُ طُبِعَ كَافِرًا:

د خضر د مقتول غلام ازلي کفر: يعنی پيدائشی توګه باندې فطری او طبعی کافر وو سره دَدې چه هرماشوم په اسلام باندې پيدا کيږی مګر غلام خضر. دَ الله تعالی دَ قدرت کامله دَمستثنيات نه وو چه الله تعالی داسې هم کولې شي. وائی چه دَحضرت موسی علیہ السلام په اعتراض باندې حضرت خضر علیہ السلام دَ دغه غلام دَ اوګې نه څرمن رابسکله نولاندې ليکلې شوی وو "هذاكافرمطبوعاً" يعنی دا پيدائشی او طبعی کافر دې.

[۵۷۱۲] د خضر وجه تسمیه

۵۷۱۲-(۲) [۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«إِنَّمَا سُمِّيَ الْخَضِرُ لِأَنَّهُ جَلَسَ عَلَى فَرْوَةٍ بَيْضَاءَ [۳] فَإِذَا هِيَ تَهْتَزُّ مِنْ خَلْفِهِ خَضْرَاءَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] د حضرت خضر نوم خضر يعنی سرسبز وشاداب په دي وجه مشهور شو چې هغه يووچ او بنجر داګه زمکه باندې يا بالکل وچووبنو باندې کيناستی [۳] اچانك هغه زمکي يا وچ وابنو کې هغه پسي سبزه شينکی پيدا شي.

حل اللغات:- ① فَرْوَةٍ: أَي الْهَشِيمُ الْيَابِسُ: اوچ وابنه، ② تَهْتَزُّ: تَتَحَرَّكُ: خوزيدل (يعنی وابنه د شينوالی په وجه خوزيدل).

---

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب من فضائل الخضر علیه السلام (رقم-۱۷۲ - (۲۳۸۰) وابوداود فی کتاب السنة/باب فی القدر (رقم-۴۷۰۵) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة الکهف (رقم-۳۱۵۰)

[۲]) اخرجه البخاری فی کتاب أحادیث الأنبیاء/باب حدیث الخضر مع موسی علیهما السلام (رقم-۳۴۰۲) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة الکهف (رقم-۳۱۵۱)

[۵۷۱۲] حضرت موسیٰ علیه السلام او د مرګ فرشته

۵۷۱۲-(۱)[۱۵] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«جَاءَ مَلَكُ الْمَوْتِ إِلَى مُوسَى ابْنِ عِمْرَانَ، [۳] فَقَالَ لَهُ: أَجِبْ رَبَّكَ". [۴] قَالَ: "فَلَطَمَ مُوسَى عَيْنَ مَلَكِ الْمَوْتِ فَفَقَأَهَا". [۵] قَالَ: "فَرَجَعَ الْمَلَكُ إِلَى اللَّهِ، [۶] فَقَالَ: إِنَّكَ أَرْسَلْتَنِي إِلَى عَبْدٍ لَكَ لَا يُرِيدُ الْمَوْتَ، وَقَدْ فَقَأَ عَيْنِي" [۷] قَالَ: "فَرَدَّ اللَّهُ إِلَيْهِ عَيْنَهُ، وَقَالَ: ارْجِعْ إِلَى عَبْدِي فَقُلْ: الْحَيَاةَ تُرِيدُ؟

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] هرکله چې دحضرت موسیٰ ابن عمران علیه السلام د مرګ وخت نزدې شو نو هغه ته د مرګ فرشته عزرائیل راغې [۳] او ورته يي اوويل د خپل پروردګار د طرف نه د اجل پيغام قبول کړې يعنې ستاسو د روح قبض کيدو وخت راغلی دی واصل الی الله کيدو د پاره تيار سئ [۴] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل حضرت موسیٰ په دي اوريدو سره د مرګ فرشته په څپيړه ووهله چې په هغه سره د هغه سترګه وچاودله [۵] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل د مرګ فرشته دربار الهي ته لاړه [۶] او عرض يي وکړو اې ربه! تا زه روح قبض کولو د پاره يوداسي بنده ته وليږلم چې مرګ نه غواړي او دا چې هغه څپيړي سره خما سترګه هم وايستله [۷] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل الله جل جلاله د مرګ د فرشتي دا شکايت اوريدوسره د هغه سترګه درسته کړه او حکم يي ورکی خما بنده موسیٰ علیه السلام ته دوباره ورشه او خما دا پيغام ورته ورسوه چې آيا ته اوږد عمر غواړې؟

حل اللغات:- ① أَجِبْ: أَيْ: بِقَبُولِ الْمَوْتِ: داجل يعنی دمرګ پيغام قبول کړه. ② فَلَطَمَ: أَيْ: ضَرَبَهَا بِبَاطِنِ كَفِّهِ: په څپيړه ئې اووهلو، د لاس په تلی باندې ئې اووهلو. ③ فَفَقَأَهَا: أَيْ: فَشَقَّهَا: اوچاوْدله سترګه (يعنی ړنده شوه).

[۱] فَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْحَيَاةَ فَضَعْ يَدَكَ عَلَى مَتْنِ ثَوْرٍ، [۲] فَمَا تَوَارَتْ يَدُكَ مِنْ شَعْرِهِ فَإِنَّكَ تَعِيشُ بِهَا سَنَةً، [۳] قَالَ: ثُمَّ مَهْ؟، قَالَ: ثُمَّ تَمُوتُ. [۴] قَالَ: فَالْآنَ مِنْ قَرِيبٍ، [۵] رَبِّ أَدْنِنِي مِنَ الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ رَمْيَةً بِحَجَرٍ". [۶] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۷] " وَاللَّهِ لَوْ أَنِّي عِنْدَهُ لَأَرَيْتُكُمْ قَبْرَهُ [۸] إِلَى جَنْبِ الطَّرِيقِ عِنْدَ الْكَثِيبِ الْأَحْمَرِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] که اوږد عمر غواړې نو د يو غوائي په شا خپل يولاس يا دواړه لاسونه کيږده [۲] ستاد يولاس يا دواړو لاسونو لاندې چې څومره ويښته راشي په هغه کې به د هر ويښته په عوض کې ستا په ژوند کې د يو کال اضافه وشي فرشته دوباره حاضريدو سره [۳] حضرت موسیٰ ته يي د الله جل جلاله داپيغام واوروی نو هغوئ اوويل چې دي طويل اوږد

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب أحاديث الأنبياء/باب وفاة موسى وذكره بعد (رقم-۳٤۰۷) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب من فضائل موسى صلى الله عليه وسلم (رقم-۱۵۸ - (۲۳۷۲)) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳٦٤۹) والنسائی فی کتاب الجنائز/باب أرواح المؤمنين (رقم-۲۰۷۹) واحمد فی المسند: ۳۱۵/۲

ژوند نه وروسته به بيا څه وي؟ فرښتي ورته د الله ﷻ د طرف نه دا جواب ورکړو چې آخر بیاهم مرګ دی ۴ نو حضرت موسیٰ اوویل که د طویل ژوند هم آخري نتیجه مرګ دی نو بیا هغه دي نن ولي را نشي زه دا وخت یعنی اوس د مرګ په غیږ کې ورتلو ته تیاریم ۵ لیکن څما دا دعا ضرور ده چې رب کریم دفن کولو د پاره ما ارض مقدس یعنی بیت المقدس ته نزدې کړي که څه هم د یو ویشتل شوي کاڼي په قدر وي ۶ دي نه وروسته رسول الله ﷺ صحابه ﷺ مخاطب کولو سره ورته وفرمایل ۷ قسم په الله! که زه بیت المقدس ته نزدې وای نو تاسو ته به مې د حضرت موسیٰ علیه السلام د قبر نښه خو دلي وی ۸ چې د یوې لارې په غاړه سرې غونډۍ ته نزدې دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ۴ فَضَغَ: نو کیږده، ۵ مَتْنِ:أَيْ: عَلَى ظَهْرِ:شا، ملا. ۶ ثَوْرٍ:أَيْ بَقَرَةٍ: غوا، غوئی. ۶ تَوَارَتْ :أَیْ غَطَتْ: راګیر کړی، ۸ ثُمَّ مَهْ؟:أَيْ: ثُمَّ مَاذَا يَكُونُ: بیا به څه وی (یعنی ددې دومره اوږد ژوند نه پس به بیا هم ژوند وی که مرګ به وی؟) ۹ الْمُقَدَّسَةِ: ددې نه مراد یا بیت المقدس دې یا دشام په ټوله زمکه باندې ددې اطلاق کیږی. ۱۰ رَمْيَةً بِحَجَرٍ: ویشتلې شوې کاڼې. ۱۱ الْكَثِيبِ الْأَحْمَرِ: أَيْ التَّلِّ الْمُسْتَطِيلِ الْمُجْتَمِعِ مِنَ الرَّمْلِ: چرته چه ډیرې شګې راجمع شوې وی یعنی سره غونډۍ.

تسهيلات:

قوله: فَلَطَمَ مُوسَى عَيْنَ مَلَكِ الْمَوْتِ فَفَقَأَهَا:

فرشتي ته څپیړه ورکول: څپیړه وهلو ته لطم وائی یعنی موسیٰ علیه السلام دمرګ فرښته په څپیړه اووهله. اوس دلته یو سوال اوجواب ته اوګورئ:

فرشتي ته د څپیړې ورکولو جواز درې وجوهات: ۱ یوناپیژندګلو انسان حضرت موسیٰ علیه السلام ته اوونیل چه زه ستا روح اخستلو له راغلې یم. دا خو یوه دړهکه وه چه زه تاقتل کوم. نودا عمل هم دَ حضرت موسیٰ علیه السلام دَ غصې سبب شو.

۲ یو انسان دا دعویٰ کوی چه زه دَ روح قبض کولو قدرت لرم داهم خلاف واقعه امر وو په دې وجه هم حضرت موسیٰ علیه السلام ته غصه ورغله او دَ حفاظت په توګه هغوی یو بې ادب انسان ته دَ سزا په توګه څپیړه ورکړه. چونکه اصول دادی چه کله یوه فرښته دَ انسان په شکل کښې وی نو انسانی اثرات په هغې باندې مرتب کیږی لهذا په دغه څپیړه باندې دَ دغه سرې سترګه راؤوتله.

۳ دا فرښته په انسانی شکل کښې حضرت موسیٰ علیه السلام له راغلې وه. یو نقصان خودلته دا اوشو چه هغه دَ حضرت موسیٰ علیه السلام خلوت خانه کښې دَ داخلیدو دپاره څه اجازت اونه غوښتلو داکار هم دَ موسیٰ علیه السلام دَ غصې سبب جوړ شو.

د موسی علیه السلام په حق کښې فیصله: دې دَ الله تعالی بنده اوس هم دا اونه خودل چه زه

فرښته یم اونیغ الله تعالی له شکایت کولو ‌دَپاره لاړو. الله تعالی حضرت موسٰی علیه السلام په حق باندې اوګرځولو او دَ اوږد عمر پیشکش ئی ورته اوکړو خوچه کله په آخره کښې بیا هم مرګ راتلل وو نوحضرت موسٰی علیه السلام دَ الله تعالی حکم ته لبیك اووئیل اومرګ ئی قبول کړو.

قوله: رَبِّ أَدْنِنِي مِنَ الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ:

د موسی علیه السلام دخواهش وجه: بیت المقدس مراد دې. بیت المقدس دَ انبیاء بنی اسرائیلو قبله وه اومقدس زمکه وه ځنګه چه دَ عربو دَپاره مکه مکرمه ده په دې وجه حضرت موسٰی علیه السلام خواهش اوکړو.

قوله: رَمْيَةً بِحَجَرٍ:

د مذکوره جملې مفهوم: یعنی انسان چه کاڼې اولی نو هغه دومره لرې نه ځی مګر بیا هم څه نا څه لرې ځی او په تللو کښې تیز هم وی. حضرت موسٰی علیه السلام هم دغه شوق ښکاره کړو چه څه نا څه دَ ارض مقدسه طرف ته زر زر وړاندې لاړ شم.

[٥٧١٤] دانبیاوو حُلیې

٥٧٢٣-() [٢] [١] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] «عُرِضَ عَلَيَّ الْأَنْبِيَاءُ [٣] فَإِذَا مُوسَى ضَرْبٌ مِنَ الرِّجَالِ، كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ، [٤] وَرَأَيْتُ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ لَهُ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ، [٥] وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا صَاحِبُكُمْ - يَعْنِي نَفْسَهُ - [٦] وَرَأَيْتُ جِبْرِيلَ، فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا دِحْيَةُ بْنُ خَلِيفَةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] چې انبیاء خما مخې ته راوستل شوه [٣] نو ما ولیدل چې موسٰی د سپك بدن والادی لکه چې هغه د قبیله بنو شنوءة یو سړی وي [٤] او ما عیسٰی ابن مریم اولیدلو نو هغه خما په لیدلو په خلقوکي د عروه ابن مسعود ډیر مشابه په نظر راغې [٥] او ما ابراهیم علیه السلام اولیدلو نو کوم خلق چې مالیدلی دی په هغوئ کې ستاسو دوست یعنی ما سره هغه ډیر مشابه په نظر راغې [٦] او ماجبرائیل علیه السلام اولیدلو نو هغه په لیدلو په خلقوکي د حیه ابن خلیفه سره ډیر مشابه په نظر راغې. (مسلم)

حل اللغات:- ① عُرِضَ: أَيْ أُظْهِرَ لَدَيَّ: زما مخې ته راوستلې شو، پیش کړې شو، ② ضَرْبٌ: أَيْ: نَوْعٌ: یو قسم، ③ ضَرْبٌ مِنَ الرِّجَالِ: أَيْ: خَفِيفُ اللَّحْمِ: د سړو یو قسم، چالاک او د سپک بدن والا سړې مراد دې. ④ شَنُوءَةَ: وَهِيَ قَبِيلَةٌ مَعْرُوفَةٌ: بنو شنوءة یوه مشهوره قبیله ده، (چه د خیری او فساد نه پاک وی هغې ته شنوءة وائی دوی ته هم شنوءة ځکه وئیلې شو چه دا قبیله د حسب اونسب په لحاظ

[١] اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب الإسراء برسول الله صلی الله علیه وسلم إلی السماوات، وفرض الصلوات (رقم- ٢٧١ - (١٦٧))

پاکه وه، اوښه سيرت او ښه اداب ئي لرل. ⑤ شَبَهًا: أَيْ نَظِيرًا: مشابه. يوشان. ⑥ دِحْيَةُ بْنُ خَلِيفَةَ: دا يو صحابي دې، د شکل نه ډير ښائسته وو.

تسهيلات:

قوله: عُرِضَ عَلَيَّ الْأَنْبِيَاءُ:

د نبي عليه السلام د انبياؤ سره ملاقات: حديث الباب کښې دَ معراج دَ شپې دَ واقعې ذکرکړې شوې دې. په شپه دَمعراج په مسجد اقصیٰ کښې دننه يا په آسمانونو باندې دَ حضورپاك دَ انبياؤ کرامو اصلي صورتونو سره ملاقات اوکړې شو. نو حضورپاك دغه انبياء کرام دَ خپل صحابه کرامو ﷺ په شکل او صورت باندې اوکتل نو په هغوی کښې ئي حضرت موسیٰ عليه السلام دَ سپك بدن والا دَ قبيلهٔ شنوءة دَ خلقو په شان اوګرخولو. دې قبيلې دَ يمن دَزمکې سره تعلق لرلو اوحضرت عيسیٰ عليه السلام ئي دَ خپل صحابي عروه بن مسعود رضي الله عنه په شان اوخودلو اودَ حضرت ابراهيم عليه السلام دَ مشابهت دَپاره ئي خپل ذات مبارك پيش کړو. دَدې نه ثابته شوه چه دَ حضرت ابراهيم عليه السلام اودَ رسول الله ﷺ په خپل مينځ کښې ښه مشابهت وو. دَحضرت جبرائيل عليه السلام باره کښې ئي اوخودل چه دې دَ دحيه بن خليفه رضي الله عنه په شان وو او بعضې رواياتو کښې دحيه کلبي رضي الله عنه ذکر دې دواړه نومونه هم دَ يو صحابي دی.

٥٧٠٥-()[٢][١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] «رَأَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي مُوسَى، رَجُلًا آدَمَ طُوَالًا، [٣] جَعْدًا كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ، [٤] وَرَأَيْتُ عِيسَى رَجُلًا مَرْبُوعَ الْخَلْقِ، [٥] إِلَى الْحُمْرَةِ وَالْبَيَاضِ، سَبْطَ الرَّأْسِ، [٦] وَرَأَيْتُ مَالِكًا خَازِنَ النَّارِ، وَالدَّجَّالَ [٧] فِي آيَاتٍ أَرَاهُنَّ اللَّهُ إِيَّاهُ، [٨] فَلَا تَكُنْ فِي مِرْيَةٍ مِنْ لِقَائِهِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] و حضرت ابن عباس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢] ما په شبِ معراج کې موسیٰ عليه السلام اوليدلو هغه غنم رنګه او رډ قدوالا دنګ سړي وو [٣] وېښته يې ولول وه او د جسم او بدن د اعتبار نه د قبيله شنوءة د يو سړي په شان په نظر راتلو [٤] او ما عيسیٰ عليه السلام اوليدلو هغه خلقي طور سره د متوسط قدوقامت والاوو نه ډير دنګ نه ډير لنډي نه ډير پنډ [٥] او نه نرې رنګ يې سور سپين وو څرنګه چې د حضور ﷺ د جسم مبارك رنګ وو او د هغه د سر وېښته سيده يعنی ولول نه وه [٦] او ما د دوزخ مالك او دجال هم وليدل [٧] او د حضور ﷺ د دې ټولو ليدل د قدرت الهي د هغه نښو او علاماتو په ضمن کې وو چې الله ﷻ حضور ته شب معراج کې وښودل

[١]) اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب إذا قال أحدكم: آمين والملائكة في السماء، آمين [ص:١١٤] فوافقت إحداهما الأخرى، غفر له ما تقدم من ذنبه (رقم-٣٢٣٩) ومسلم في كتاب الإيمان/باب الإسراء برسول الله صلى الله عليه وسلم إلى السماوات، وفرض الصلوات (رقم-٢٦٧ - (١٦٥) واحمد في المسند: ٢٤٥/١

[۸] ځکه اې د دې حديث ويونکو او اوريدونکو په دې امر کې څه شک شبهه مه کوه چې حضور ﷺ دا ټول وليدل او ملاقات يې ورسره وشو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① أُسْرِيَ بِي: چه بوتلې شوم، (په شپه دمعراج)، ② آدَمَ: أَيْ: أَسْمَرَ: غنم رنګې، ③ طُوَالًا: دا په طول کښې مبالغه ده، أَيْ: طَوِيلًا: يعنى ډير اوږد، ④ جَعْدًا: أي غَيْرُ مُسْتَرْسِلِ الشَّعْرِ: چه ويښته ئې رازوړند نيغ نه وى، يعنى ګلګوچى ويښتو والا، ول ول ويښتو والا. ⑤ مَرْبُوعَ الْخَلْقِ: أَيْ: مُتَوَسِّطًا: درميانه صورت والا (يعنى نه ډير اوږد نه لنډ، نه ډير کمزورې نه ډير څرب، ددې نه د طبيعت اومزاج اعتدال طرف ته هم اشاره ده). ⑥ سَبْطَ الرَّأْسِ: مُسْتَرْسِلَ شَعْرِ الرَّأْسِ: چه د سر ويښه ئې رازوړند وى (دا په صفت دجمال باندې دلالت کوى). ⑦ مَالِكًا خَازِنَ النَّارِ: د جهنم نګرانه فرشتې ته مالک او خازن وائى. ⑧ آيَاتٍ: أَيْ: مَعَ عَلَامَاتٍ: آيات د آية جمع ده، نښې او علامت ته وائى. ⑨ أَرَاهُنَّ: چه اوښې ښودلې دغه نښې نبى ﷺ ته، ⑩ مِرْيَةٍ: أَي فِي شَكٍّ: شک.

تسهيلات:

قوله: وَرَأَيْتُ مَالِكًا خَازِنَ النَّارِ وَالدَّجَّالَ فِي آيَاتٍ أَرَاهُنَّ اللَّهُ إِيَّاهُ:

دمذکوره جملې قائل: دا جمله دَحضورپاک کلام نه دې دَحضورپاک کلام دې نه پس دَ "فلا تکن" څخه شروع کيږى يعنى داکوم څه چه حضورپاک اوليدل دادَ هغه نښاناتو اوعلاماتو څخه وو کوم چه الله تعالى دَمعراج په شپه حضورپاک ته خودلې وو.

[۵۷۱٦] په شب معراج کې انبياوو سره ملاقات او د حضور ﷺ د شرابو پيالې قبلولو نه انکار

> ٥٧١٦-(¹) [١١] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي لَقِيتُ مُوسَى ـ [٣] فَنَعَتَهُ: فَإِذَا رَجُلٌ مُضْطَرِبٌ، رَجِلُ الشَّعْرِ، كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ، [٤] وَلَقِيتُ عِيسَى رَبْعَةً أَحْمَرَ كَأَنَّمَا خَرَجَ مِنْ دِيمَاسٍ ـ يَعْنِي الْحَمَّامَ ـ [٥] وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ وَأَنَا أَشْبَهُ وَلَدِهِ بِهِ » [٦] قَالَ: « فَأُتِيتُ بِإِنَاءَيْنِ: أَحَدُهُمَا لَبَنٌ وَالْآخَرُ فِيهِ خَمْرٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢] ما د معراج په شپه کې حضرت موسىٰ سره ملاقات وکړ [٣] دې نه وروسته حضور ﷺ د حضرت موسىٰ خصوصيات بيانولو سره وفرمايل چې هغه يو مضطرب سړى په نظر راغې د هغه د سر ويښته ول ول وه نه بالکل سيده او داسې لګيدى لکه چې هغه د قبيله شنوءة يو سړى وي [٤] حضرت عيسىٰ ﷺ سره هم ځما ملاقات وشو هغه درميانه قد او د سور رنګ والاوو او داسې لګيدى چې اوس لمبيدو سره د حمام نه راوتلى وي [٥] وماحضرت ابراهيم ﷺ

¹) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {وهل أتاك حديث موسى} [طه: ٩] {وكلم الله موسى تكليمًا} [النساء: ١٦٤] (رقم-٣٣٩٤) ومسلم في كتاب الإيمان/باب الإسراء برسول الله صلى الله عليه وسلم إلى السماوات، وفرض الصلوات (رقم-٢٧٢ - (١٦٨)) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة بني إسرائيل (رقم-٣١٣٠)

هم وليدلو اوزه دده په اولاد كې دده سره ډيرزيات مشابه وم ،[۶] حضور ﷺ وفرمايل بيا ځما مخكې دوه پيالي پيشي شوي يوه پياله كې پئي وي او په بلي كې شراب

حل اللغات:- ① فَنَعَتَهُ: أي: فَوَصَفَ مُوسَى: صفات ئې بيان كړل د موسى ﷺ. ② مُضْطَرِبٌ: أي مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ: يعنى دَ دَ الله تعالى دَ ويرې نه رچيدونكې وو، يا چست چالاك بدن واالا سړې وو. ③ رَجِلُ الشَّعْرِ: په جيم باندې كسره ده يعنى دَ هغه دَ سر ويښتو پيچ خوړلو سره راتاو شوى وو، ګلګوچې ويښته ئې وو. ④ رَبْعَةٌ: أي: مُتَوَسِّطًا: درميانه بدن والا (يعنى نه ډير اوږد نه لنډ، نه ډير كمزورې نه ډير خرب، ددې نه د طبيعت اومزاج اعتدال طرف ته هم اشاره ده). ⑤ دِيمَاسٍ: أي الْحَمَّامُ: حمام يعنى غسل خانه،

[۱] فَقِيلَ لِي: خُذْ أَيَّهُمَا شِئْتَ. فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ فَشَرِبْتُهُ، [۲] فَقِيلَ لِي: هُدِيتَ الْفِطْرَةَ، [۳] أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ماته اوويل شوه چې په دې كې كومه دې خوښه وي هغه واخله كه شراب خوښوي كه پئي ما د پيئو پياله واخسته او ومې څكله [۲] بيا ماته اوويل شوه يعنى فرشتو اوويل چې تاسو ته د فطرت لار وښودل شوه يعنى الله جَلَّ جَلَالُهُ تاسو ته د اسلام د دين هغه لار وښودله چې په اصل كې انساني فطرت دى او په هغه هرسړى پيدا كيږي [۳] پوهه شئ كه تاسو هغه وخت شراب څكلي وي نو ستاسو امت به ګمراه شوى وى. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑥ هُدِيتَ: أي هَدَاكَ اللّٰهُ إِلَى الْفِطْرَةِ: اوښودله تاته الله تعالى لار د دين اسلام، لار د انساني فطرت. ⑦ الْفِطْرَةَ: طبيعت، ⑧ غَوَتْ: أي: ضَلَّتْ: ګمراه شوې به وو.

تسهيلات:

قوله فَإِذَا رَجُلٌ مُضْطَرِبٌ:

دمضطرب په معنى كښې درې احتمالات: دَدې جملې مختلف معانى بيان كړې شوې دى.

① بعضې وئيلى دى چه دلته دَ مضطرب نه مراد كمه غوښه ده. نومطلب به داشى چه موسى ﷺ مانده كونتته دكمې غوښې بدن والا وو.

② بعضې حضراتو وئيلى دى چه دلته دَ مضطرب نه مراد اوږد قد دې. يعنى دَموسى ﷺ قد اوږد وو.

③ بعضې حضراتو وئيلى دى چه دلته دَمضطرب نه مراد دَ ويرې نه رچيدونكې دې. په رواياتو كښې راځى چه حضرت موسى ﷺ به دَ مونځ او دَ الله تعالى دَ عبادت په وخت دَ الله دَ ويرې نه رچيدلو.

قوله رَجِلُ الشَّعْرِ:

په رجل الشعر كښې لغات: ① "رجل" دَ جيم زبر، زير اوجزم دريواړه شان نقل دي.

درجل الشعرپه مصداق کښې دوه اقوال: ① دَدې لفظ اطلاق په هغه ویښتو باندې کیږی چه نه بالکل نیغ وی اونه گورگوچی وی بلکه چه په ویښتو کښې لږ لږشان خم او تاؤ وی. ② ملاعلی قاری رحمه الله دالیکلی دی چه دا ویناکول زیات موزون دی چه دَ رجل نه مراد داسې ویښته دی په کوم کښې چه خموالې غالب وی چه دې نه مخکښې روایت "جعد" سره تعارض لازم نه شی.

اشکال: په دې روایت کښې دَحضرت موسیٰ علیه السلام رنګ سور خودلې شوې دې او دې نه مخکښې روایت کښې دَهغه رنګ سپین خودلې شوې دې نو په دې دواړو کښې تعارض راغلو؟

جواب: په دې دواړو کښې هیڅ تعارض نشته ځکه چه دَ موسیٰ علیه السلام اصل رنګ سورچه سپین ته مائل وو اوکله به سرخی غالب راتله چه په غصه او جلالی شان کښې به وو اوچه کله به خوشحال وو نو سپینوالې به غالب وو.

قوله: مِنْ دِيمَاسٍ يَعْنِي الْحَمَّامَ:

دمذکوره جملې مفهوم: دَدې وضاحت الحمام سره کړې شوې دې معنی به داسې جوړیږی لکه چه هغوی اوس لامبلو سره دَ حمام نه راوتلې وی. دَدې په ذریعه حضورپاك په اصل کښې دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ رنګ دَ ښائست دَ بدن تازه والې او آبادوالې اودَ مخ مبارك رونړوالی طرف ته اشاره اوکړه.

قوله: فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ فَشَرِبْتُهُ:

په خوب کښې د پیؤ ځکلوتعبیر: زما مخې ته دوه پیالئی راوړلې شوې په هغې کښې په یو کښې پیئی او دویمه کښې شراب وو. په دې دواړوکښې دَ یوې دَاختیارولو دَپاره اوونیلې شو نومادَ پیئوپیالئی اختیارکړه. اوس دَدې دوو شیئونو دَ پیش کولو ځه مقصد وو دې دَپاره چه په فرښتو باندې دَ رسول الله ﷺ عظمت او فضیلت ښکاره شی چه حضورپاك په هرحال کښې هغه خوښوی کوم چه دَ ښیګړې او بهترئی ضامن وی اوکوم ځیز کښې بدی اوخرابی وی حضورپاك هغه نه خوښوی. په دې وجه ئی تعبیر اوکړو چه په دې عالم سفلی کښې پیئی یو داسې ځیز دې چه پاك صفا، خالص او مزیدار کیدو سره سره دَ ماشوم دَپاره دَ شروع خوراك هم جوړیږی. دې نه معلومیږی چه دَ پیئو ځکل اودَ هغې په خوب کښې لیدل دَعلم او هدایت طرف ته اشاره ده.

قوله: أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ:

په خوب کښې د شرابوځکلو ځخه د نبی علیه السلام حفاظت: یعنی که شراب دې اختیار کړې وې نو ستاسو امت به ګمراه شوې وو یعنی که حضورپاك صرف شراب نیولې وې

نو دَ حضورپاك امت به په څه نا څه درجه کښې دَدې ګمراهئ ښکار کیدلو او که چرې رسول الله ﷺ شراب څکلې وې نو شراب به دَدې امت دَپاره حلال شوې وې. چونکه په شرابو کښې دَ بدنئ اثرات موجود وو اودَ حضورپاك ذات مبارك په هرقسم بدنئ کښې دَاخته کیدو نه بالکل محفوظ دې بلکه دَحضورپاك دَ پاره خو په بدنئ کښې پریوتلو تصور هم نه شي کیدلې. په دې وجه غویت ئې اونه وئیل بلکه "غوت امتك" ئې اووئیل. دَ حدیث الباب نه معلومه شوه چه دَ مقتدیٰ استقامت دَمتبعین دَ استقامت ذریعه او سبب جوړیږی. ځکه چه دَمقتدیٰ حیثیت هم هغه دې چه په اندامونوکښې کوم دَ زړه حیثیت دې. والله اعلم.

[۵۷۱۷]انبیاء ددې د نیا نه درخصتیدو وروسته هم اعمال خیر کوی

۵۷۱۷-()[۴] [۱]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ[۲]: «سِرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ، [۳]فَمَرَرْنَا بِوَادٍ، فَقَالَ: "أَيُّ وَادٍ هَذَا؟" [۴]"فَقَالُوا وَادِي الْأَزْرَقِ. [۵]فَقَالَ: "كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى مُوسَى" فَذَكَرَ مِنْ لَوْنِهِ وَشَعْرِهِ شَيْئًا، [۶]وَاضِعًا أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ، [۷]لَهُ جُؤَارٌ إِلَى اللَّهِ بِالتَّلْبِيَةِ، مَارًّا بِهَذَا الْوَادِي".

ترجمه: [۱]او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي [۲]په یو سفر کې چې د مکي او مدیني په منځ کې وو مونږ درسول الله ﷺ سره ملګري وو [۳]مونږ چې په یو جنګل تیریدو نو حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې دا کوم جنګل دی؟ [۴]مونږ عرض وکړو دا وادي ازرق دی [۵]حضور ﷺ په دې اوریدو سره وفرمایل ګویا زه موسیٰ علیه السلام وینم بیا حضور ﷺ د حضرت موسیٰ علیه السلام د رنګ او ویښتانو څه ذکر وکی چې هغه غنم رنګه او ویښته یي خمدار ول ول دي [۶]و سلسله کلام جاري ساتلو سره مخکې یي وفرمایل چې هغه خپلي ګوتي غوږونو کې ورکړي دي څرنګه چې مؤذن خپل اواز اوچتولو د پاره آذان کولو په وخت خپلي ګوتي غوږونو کې ورکوي [۷]او په ژړا زارۍ په اوچتا اواز د خپل پروردګار په حضور کې لبیك لبیك ویلو سره حرم طرف ته ځي

حل اللغات:- ① فَمَرَرْنَا: نو تیرشو مونږ. ② الْأَزْرَقِ: وَهُوَ مَوْضِعٌ بَيْنَ الْحَرَمَيْنِ: د مکې او مدینې په مینځ کښې د یوځائې او وادی نوم دې (د زیات سرسبز او شینوالی په وجه ورته ازرق وائی. ③ جُؤَارٌ: په اوچت آواز او په زارئ سره تلبیه ونیلو په معنی کښې ده. ④ مَارًّا: تلونکې.

[۱]قَالَ: ثُمَّ سِرْنَا حَتَّى أَتَيْنَا عَلَى ثَنِيَّةٍ. [۲]فَقَالَ: "أَيُّ ثَنِيَّةٍ هَذِهِ؟" قَالُوا: هَرْشَى - أَوْ لِفْتُ - [۳]فَقَالَ: "كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى يُونُسَ عَلَى نَاقَةٍ حَمْرَاءَ، عَلَيْهِ جُبَّةُ صُوفٍ، [۴]خِطَامُ نَاقَتِهِ خُلْبَةٌ، مَارًّا بِهَذَا الْوَادِي مُلَبِّيًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: [۱]حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي دي نه وروسته دهغه ځاي نه تیریدو سره مونږ په مخکې لاړو او یوغوندي ته ورسیدونو [۲]حضور ﷺ پوښتنه وکړه دا کوم غرا وغوندي

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الایمان/باب الإسراء برسول الله صلى الله عليه وسلم إلى السماوات. وفرض الصلوات (رقم-۲۶۹ - (۱۶۶)) واحمد فی المسند:۲/۲۱۵

ده خلقو وښـودل داهرشـی دی یالفت غر دی [۳]حضور ﷺ په دي اوريـدو سره وفرمايل كويـا زه يـونس عليه السلام ويـنم چې پـه سـره اوښـه بانـدې سـپور دی اود غټـي وړي جبـه يـې اغوستي ده [۴]د هغه د اوښي مهار د خرماو درسی دي او هغه لبيك لبيك ويلو سره دي غونډي نه تيريږي. (مسلم)

حل اللغات:- ⑤ثَنِيَّةٍ: أَيْ: عَقَبَةٍ وَهِيَ طَرِيقٌ عَالٍ فِي الْجَبَلِ أَوْبَيْنَ الْجَبَلَيْنِ: په غر دپاسه يا د دوه غرونو په مينځ كښې اوچتې لار ته ثنيه وائي يعنی غونډۍ، ⑥هَرْشَى أَوْلِفْتُ: ثَنِيَّةٌ بِقُرْبِ الْجُحْفَةِ: جحفه سره نزدې د يوې غونډۍ نوم دې، هَرْشَى او لِفْتُ ورته وائي. ⑦خِطَامُ: أَيْ: زِمَامٌ: د اوښې په پوزه كښې اچولې شوې پيزوان اوجلب ته خطام او زمام وئيلی شی يعنی پيزوان يا واګې. ⑧خُلْبَةٌ: د كهجورې د پټ نه جوړې شوې رسئی ته خلبة وائی.

تسهيلات:

قوله: مَا أَرَّا بِهٰذَا الْوَادِي مُلَبِّيًا:

په عالم برزخ كښې د نيكانو خلقو عبادت كول: يعنی تلبيه وئيلوسره وړاندې روان وو. دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَمرګ نه پس په عالم برزخ كښې هم نيكان خلق عبادت كوی. سره دَدې چه په عبادت باندې به ثواب نه ملاويږی ځكه چه هغه دَ عمل ځائی نه دې ليكن نيكان خلق دَ شوق پوره كولودَپاره اودَ تسلئ اوسكون حاصلولو دَپاره دَ خوند په عبادت كښې مشغول اوسيږی. دَ انبياء كرام او شهداء وجودونه چونكه په قبرونو كښې محفوظ وی په دې وجه دَهغوی باره كښې خو څه اشكال نشته دې. دغه شان كه دَ نورو اولياء كرامووجودونه محفوظ وی نو هغوی به هم دغه شان په عبادت كښې مشغول وی.

[۵۷۱۸]د حضرت داود عليه السلام ذكر

۵۷۱۸-()[۲۰][۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«خُفِّفَ عَلَى دَاوُدَ الْقُرْآنُ، [۳]فَكَانَ يَأْمُرُ بِدَوَابِّهِ فَتُسْرَجُ، فَيَقْرَأُ الْقُرْآنَ قَبْلَ أَنْ تُسْرَجَ دَوَابُّهُ، [۴]وَلَا يَأْكُلُ إِلَّا مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د حضور ﷺ نه روايت كوي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲]حضرت داود عليه السلام باندې د زبور تلاوت آسان شوی وو [۳]هغه به خپلو ځاروو باندې د زين تړلو حكم كوی او مخكې دې نه چې د زين تړلو كار پوره شي هغه به د پوره زبور تلاوت مكمل كوی [۴]او حضرت داود عليه السلام به د خپل لاس د محنت روټئ خوړله.(بخاري)

---

[۱]) اخرجه البخاری فی كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {وآتينا داود زبوراً} " (رقم-۳۴۱۷)واحمد فی المسند:۲/۳۱۴

حل اللغات:- ① خُفِّفَ: أَيْ: سُهِّلَ وَيُسِّرَ: آسان شوي وو. ② بِدَوَابِّهِ: أَيْ لِرَكُوبِهِ: په خاروود سوريدو دپاره ③ فَتُسْرَجَ: أَيْ فَيُشْرَعُ فِي سَرْجِهَا: دخاروو د زين او گديانو برابرول به شروع شو. ④ عَمَلِ يَدَيْهِ: په لاس باندې كار او محنت مزدوري كولو سره روزى گټل.

تسهيلات:

قوله: فَيَقْرَأُ الْقُرْآنَ:

د قرآن څخه مراد: قرآن په معنى دَ مقرؤ دې كوم چه دَ لوستلې شوى په معنى كښې دې. قرآن مراد نه دې بلكه دې نه مراد دَ زبور لوستل دى. په دومره مختصر وخت كښې پوره زبور وئيل دَمعجزه په توګه وو لكه څنګه چه دَ طى الارض عمل وى دغه شان خارق عادت طى الوقت هم وى. دَ معراج شپه دَ حضورپاك دَ پاره طى الوقت شوې وو.

[۵۷۱۹] په يوه قضيه كې د حضرت داود عليه السلام او حضرت سليمان عليه السلام جدا جدا فيصلې

۵۷۱۹ - (¹) [۲۱] ① وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«كَانَتِ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا، ③ جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا، ④ فَقَالَتْ صَاحِبَتُهَا: إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ. ⑤ وَقَالَتِ الْأُخْرَى: إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ، ⑥ فَتَحَاكَمَتَا إِلَى دَاوُدَ، فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى، ⑦ فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ، فَأَخْبَرَتَاهُ، ⑧ فَقَالَ: ائْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَكُمَا ⑨ فَقَالَتِ الصُّغْرَى: لَا تَفْعَلْ، يَرْحَمُكَ اللَّهُ، هُوَ ابْنُهَا، ⑩ فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه نقل كوي چې حضور صلى الله عليه وسلم د حضرت داود د زماني داقصه بيان كړله ② چې دوه ښځې وي او هغوئ دواړو سره يويو هلك وو ③ يوه ورځ يو شرمخ راغې او هغوئ كې د يوي ښځي هلك يې اوچتولو سره يووړلو اوس دواړو ښځو خپلو كې جګړه شروع كړه ④ يوي وئيل چې شرمخ ستاخوى يووړلو او ⑤ دويمي اوويل چې نه ستا خوى يې يووړلو ⑥ آخر دواړو خپله مقدمه حضرت داود عليه السلام ته ورسول حضرت د دواړو بيانات اوريدو سره موجود هلك د لوى عمر ښځي ته وركى ⑦ بيا هغه دواړي ښځي حضرت سليمان عليه السلام ته راغي او خپله پوره قضيه او د حضرت داود فيصله يې ورته بيان كړله او هغوئ حضرت سليمان عليه السلام ته د خپلي فيصلي كولو اوويل ⑧ حضرت سليمان د صورت واقعه په باريكي باندې پوهيدو سره خپلو خادمانو ته اوويل چې لږ چاړه راوړئ زه دا هلك په منځ دوه ټكري كولو سره په دې دواړو يې تقسيموم ⑨ د كم عمر ښځي چې دافيصله واوريده نو زهيره شوه او هغې اوويل الله جل جلاله دې په تاسو رحم وكړي داسې مه كوئ هلك د لوى عمر ښځي ته وركړئ ⑩ د دې په اوريدو سره حضرت سليمان عليه السلام د كم عمر ښځي په حق كې فيصله وكړله او د هغې خوى يې

¹) اخرجه البخارى فى كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {ووهبنا لداود سليمان نعم العبد إنه أواب} الراجع المنيب " (رقم-۳۴۲۷) ومسلم فى كتاب الأقضية/باب بيان اختلاف المجتهدين (رقم-۲۰ - (۱۷۲۰) والنسائى فى كتاب آداب القضاة/باب حكم الحاكم بعلمه (رقم-۵۴۰۲) واحمد فى المسند:۳۲۲/۲

هغې ته ورکې. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① **فَتَحَاكَمَتَا** : أَيْ: فَرَفَعَتَا الْحُكُومَةَ: دواړو زنانو مقدمه پيش کړه. ② **السِّكِّين** : چاړه. ③ **أَشُقُّهُ**: أَيْ: أَنَاأَقْطَعُ الْوَلَدَ: نيموم دا ماشوم يعنى دوه حصې کوم ئې.

تسهيلات:

قوله: كَانَتِ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا:

د داؤدعليه السلام د عدالت يوه عجيبه واقعه: يعنى دَحضرت داؤد عليه السلام په زمانه کښې دوه ښځې يوځائې چرته روانې وې ممکن ده چه دا دواړه خپلمينځ کښې ملګرې وې اوداهم ممکن ده چه دواړه په خپل مينځ کښې بنې وې. دا جګړه دَحضرت داؤد عليه السلام په زمانه کښې پيښه شوې وه. دَيوې دَ غيږ نه دَ هغې ماشوم ليوه اوچت کړو يوړو. اوس خپل مينځ کښې جګړه پيدا شوه چه دکومې يوې بچې اوړلې دې اودَ کومې يوې پاتې شوې دې. يوه دَ ډير عمروه او بله دکم عمر وه. دَ ډير عمروالا ښځې ونيل کوم ماشوم ئې چه اوړلې دې هغه ستادې اوکوم چه باقى دې هغه زما دې او په هغې باندې قبضه اوکړه.

دا مقدمه دَ حضرت داؤد عليه السلام په عدالت کښې پيش کړې شوه. چونکه په دواړو کښې يوې سره هم ګواه نه وو اودواړه دعويدارې وې نوحضرت داؤد عليه السلام قبضه ته کتلوسره فيصله دَ صاحب يد په حق کښې ورکړه يا دَ بل څه دليل په بنيادباندې دَ مشرې په حق کښې فيصله اوشوه. مګر دا خبره ده چه دافيصله حضرت داؤد عليه السلام دَ اجتهاد په بنياد باندې کړې وه آسمانى وحى نه وه او اصل حق دَ کشرې وو مشره قابض وه. حضرت سليمان عليه السلام په حکمت او نفسياتى توګه په دې جګړه باندې دَ پوهيدلو کوشش اوکړو او وئې هم پيژندله او فيصله ئې دَ کشرې په حق کښې اوکړه. معلومه شوه چه قاضى له دَ ظاهرى دلائلو سره باطنى عواملو جائزه اخستل هم ضرورى دى دې دَپاره چه حق ته اورسيږى.

اشکال: حضرت داؤد عليه السلام دَمشرې په حق کښې عدالتى فيصله کړې وه اوحضرت سليمان عليه السلام دغه فيصله ماتولوسره دَ کشرې په حق کښې فيصله اوفرمائيله. دا څنګه جائز وه سره ددې چه دَ يوقاضى فيصله په خالص اجتهاد باندې وى بياهم دَ اصول قضاء لاندې نافذ شوې فيصله فسخ کيدې نه شى دلته داسې ولې اوشو. حالانکه دادَ يونبى نافذ کړې شوې فيصله وه؟

داشکال دوه جوابونه: ① دَ حضرت داؤد عليه السلام په شريعت کښې داګنجائش وو چه دَ يو عدالت فيصله په دويم عدالت کښې دَ نوى سر دَتحقيق نه پس کالعدم ګرځولې کيدې شوه لکه چه دادَهغوى دَ شريعت خپله معامله وه زمونږ په شريعت کښې داسې نه شى کيدې.
② دَحضرت داؤد عليه السلام دَ طرف نه دايوه فتوىٰ وه قضاء نه وه.

[۵۷۲۰] د حضرت سليمان عليه السلام يوه واقعه

۵۷۲۰-(۱) [۲۲] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«قَالَ سُلَيْمَانُ: لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى تِسْعِينَ امْرَأَةً -وَفِي رِوَايَةٍ: بِمِائَةِ امْرَأَةٍ ③ كُلُّهُنَّ تَأْتِي بِفَارِسٍ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ ④ فَقَالَ لَهُ الْمَلَكُ: قُلْ إِنْ شَاءَ اللهُ. فَلَمْ يَقُلْ وَنَسِيَ، ⑤ فَطَافَ عَلَيْهِنَّ، فَلَمْ تَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ جَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ، ⑥ وَايْمُ الَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْ قَالَ: إِنْ شَاءَ اللهُ، لَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللهِ فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② يوه ورځ حضرت سليمان دا اوويل يعنی دا عزم او اراده يي وکړله چې نن شپه به زه خپلو نوي بيبيانو سره او په يوه روايت کې دادی چې خپلو سلو ښځو سره به مباشرت کوم ③ او په هغوئ کې به هرې ښځې نه يو سوار بهادر مرد پيدا شي چې د الله ﷻ په لار کې به جهاد کوي ④ هغوئ د دې عزم او ارادې په وخت که څه هم نيک مقصد د پاره وه انشاء الله ونه وئيل ځکه هغه فرشتې چې رسته طرف ته وي يا حضرت جبرائيل يا يو بلې فرشتې هغه ته اوويل چې انشاء الله اووائې ليکن حضرت سليمان عليه السلام نه انشاء الله وئيل هير شو ⑤ بيا هغه د خپلې ارادې مطابق هغه ټولو بيبيانو سره مباشرت وکی او په هغوئ کې صرف د يوې ښځې نه علاوه بله هيڅ يوه حامله نه شوه او هغه هم نيم هلك يعنی ناقص الخلقت بچی راوړی ⑥ حضور ﷺ فرمايي قسم دی په هغه پاك ذات چې د هغه د قدرت په لاس کې د محمد ساه ده سليمان که انشاء الله ويلي وې نو يقيناً د هرې ښځې نه به يې يو يو ځوی پيدا شوی وو او هغوئ ټولو به د الله ﷻ په لار کې جهاد کوی او سوار بهادر مرد به ثابت شوی وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① لَأَطُوفَنَّ: أَيْ لَأَدُورَنَّ وَهٰذَا كِنَايَةٌ عَنِ الْجِمَاعِ: زه به ورځم، ددې نه مراد جماع ده. ② بِفَارِسٍ: شهسوار، مجاهد، ③ الْمَلَكُ: فرشته، دملک نه مراد يا جبرئيل عليه السلام دی، يا مؤكل فرشته ده. ④ فَلَمْ تَحْمِلْ: أَيْ: لَمْ تَحْمِلْ: حامله يعنی د اولاد اميدواره نه شوه. ⑤ بِشِقٍّ: أَيْ بِنِصْفِهِ، أَوْ بَعْضِهِ: نيمه يا بعضې حصه د سړی، ⑥ وَايْمُ: هُوَ اسْمٌ وُضِعَ لِلْقَسَمِ: دا لفظ د قسم دپاره وضع شوې دې يعنی ددې نه مراد قسم دې. ⑦ فُرْسَانًا: شهسواران، بهادر مجاهدين.

تسهيلات:

قوله: قَالَ سُلَيْمَانُ: لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى تِسْعِينَ امْرَأَةً:

سليمان عليه السلام ته د انشاء الله نه وئيلو تنبيه ورکول: يعنی په يوه شپه کښې به سلو

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب من طلب الولد للجهاد (رقم-۲۸۱۹) ومسلم في كتاب الأيمان/باب الاستثناء (رقم-۲۵ - (۱۶۵٤) والترمذي في كتاب النذور والأيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الاستثناء في اليمين (رقم-۱۵۳۲) (رقم-۱۵۳۱) والنسائي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أنس بن مالك رضي الله عنه (رقم-۳۸۳۱)

بيبيانو سره جماع کوم، دې دپاره چه سل مجاهدين پيداشي اودَ الله تعالى په لار کښې جهاد او کړي. فرښتې وئيل ان شاء الله اووايه مګر هغه اونه وئيلې شو. نو يوناقص بچې پيدا شو اودې نه علاوه نور هيڅ رانغله. هغه خادمې اوچت کړو او په تخت سليمان باندې کيخودو. سليمان عليه السلام ته تنبيه اوشوه. دا حديث دَقرآن دَ آيت ﴿ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ ﴾ بهترين تفسير دې.

[۵۷۲۱] کمالې دا نبياو سنت ده

۵۷۲۱-()[۲۳] ① وَعَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ ②: "«كَانَ زَكَرِيَّا نَجَّارًا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② حضرت زکريا عليه السلام نجار وو. (مسلم)

حل اللغات:- ① نَجَّارًا: ترکاڼ (چه د لرګو نه څيزونه جوړوی).

تسهيلات: قوله: كَانَ زَكَرِيَّا نَجَّارًا:

دحلال کسب مسنونيت: حضرت زکريا عليه السلام دَ لوهارئی کار کولو. دَدې نه معلومه شوه چه دَمحنت اومشقت په ذريعه حلال رزق حاصلول دَ انبياء کرامو سنت دی. دا دَتوکل منافی نه دی. هم دغه شان په يو حديث مبارك کښې دی: «الکاسب حبيب الله» هم په دې وجه هر يو نبی خپل دَژوند تيرولو طريقه دَخپل لاس ګټه جوړه کړې. نبوت يو نبی خپله ذريعه دَ معاش نه ده جوړه کړې. امام غزالی رحمه الله دَعبادت لس قسمونه ليکلی دی په دې کښې يوحلال رزق ګټل هم دی.

[۵۷۲۲] حضرت عيسیٰ عليه السلام او د حضور صلى الله عليه وسلم خپل مينځ کښې نزديکت

۵۷۲۲-()[۲۴] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«أَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ فِي الْأُولَى وَالْآخِرَةِ، ③ الْأَنْبِيَاءُ إِخْوَةٌ مِنْ عَلَّاتٍ، وَأُمَّهَاتُهُمْ شَتَّى، ④ وَدِينُهُمْ وَاحِدٌ، وَلَيْسَ بَيْنَنَا نَبِيٌّ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② په دنيا او په آخرت کې (يا آغاز او انجام کې) حضرت عيسیٰ عليه السلام ته د ټولو نه زيات نزدې او تعلق دارزه يم ③ او ټول انبياء خپلو کې ميرنې ورونه دي چې د هغوئ پلار يو دی او مندې يې جدا جدا دي ④ د دې ټول اصل دين يو دی او زمونږ يعنی ځما او د عيسیٰ په منځ کې هيڅ

[1]) اخرجه مسلم کتاب الفضائل/باب فی فضائل زکرياء عليه السلام (رقم-۱۶۹ - (۲۳۷۹) وابن ماجه فی کتاب التجارات /باب الصناعات (رقم-۲۱۵۰) واحمد فی المسند:۲/۲۹۶

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب: لا يظلم المسلم المسلم ولا يسلمه (رقم-۲۴۴۲، ۲۴۴۳) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب فضائل عيسى عليه السلام (رقم-۱۴۵ - (۲۳۶۵)

نبي نشته. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① أَوْلَى النَّاسِ: أي: أَقْرَبُهُمْ: نزدې او تعلقدار. ② عَلَّاتٍ: أي: هُمْ إِخْوَةٌ مِنْ أَبٍ وَاحِدٍ: چه پلار ئې يو وى او مياندې ئې جدا جدا وى يعنى ميرنى رونړه، ③ شَتَّى: جدا جدا، مختلف.

تسهيلات:

قوله: أَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِعِيسَى:

د نبينا او عيسى عليهما السلام په مينځ كښې د قرب شپږ صورتونه: يعنى په انسانانو كښې دَ قرب په اعتبارسره زه حضرت عيسىٰ عليه السلام سره دَ ټولو نه زيات نيزدې يم. دا قرب په څو اعتبارو سره دې.

① حضرت عيسىٰ عليه السلام په آخره كښې دَ رسول الله ﷺ خليفه وى.

② حضورپاك حضرت عيسىٰ سره دَ زمانې په اعتبار دَټولو نه زيات نيزدې دې دَ دواړو په مينځ كښې څوك نبى نشته دې اوصرف دَ شپږو سوو كالو فاصله ده.

③ بعضې رواياتو كښې راغلى دى چه په جنت كښې به دَ حضرت عيسىٰ عليه السلام والده حضرت مريم عليها السلام دَ حضورپاك په زوجيت كښې راځى. بهرحال دا قرب په دنيا كښې هم دې اوپه آخرت كښې به هم وى.

④ حضرت عيسىٰ عليه السلام دَ حضورپاك دَبعثت خصوصى بشارت وركړې دې.

⑤ دَ حضرت عيسىٰ عليه السلام دين دَ رسول الله ﷺ دين سره متصل دې.

⑥ حضرت عيسىٰ عليه السلام كله وفات شى نودَ حضورپاك په اړخ كښې به خښيږى.

قوله: الْأَنْبِيَاءُ أُخْوَةٌ مِنْ عَلَّاتٍ، وَأُمَّهَاتُهُمْ شَتَّى:

د پيغمبرانود علاتى رشتې وضاحت: يعنى ټول انبياء كرام په خپل مينځ كښې ميرنى رونړه دى. مئيندې جدا جدا دى اوپلار دَ ټولو يودې. داكلام په تشبيه باندې محمول دې لهذا دَ پلار نه مراد دَدې ټولو انبياء كرامو دين او توحيد دې په كوم چه ټول متفق اومتحد راغلى دى. "ودينهم واحد" كښې هم دا حقيقت واضح كړې شوې دې. اودَ مئيندونه مراد دَ انبياء كرامو جدا جدا شريعتونه دى چه په هره زمانه كښې جدا دى.

[۵۷۲۲] د حضرت عيسىٰ عليه السلام فضيلت

۵۷۲۲- ([1]) [۲۵] ① وَعَنْهُ، قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «كُلُّ بَنِي آدَمَ يَطْعَنُ الشَّيْطَانُ فِي جَنْبَيْهِ بِإِصْبَعَيْهِ حِينَ يُولَدُ ③ غَيْرَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَهَبَ يَطْعَنُ فَطَعَنَ فِي الْحِجَابِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب بدء الخلق/باب صفة إبليس وجنوده (رقم-۳۲۸۶) ومسلم فى كتاب الفضائل/باب فضائل عيسى عليه السلام (رقم-۱۴۷ - (۲۳۶۶)

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] کله چې يو انسان پيدا کېږي نو شيطان د هغه دواړو تشو کې په ګوتو. سره نوکاره ورکوي [۳] ليکن عيسٰی علیه السلام دي نه محفوظ پاتې شوي دي هغه د هغه تشي کې هم نوکاره ورکول وغوښتل خو هغه صرف پردي ته نوکاره ورکړه. «بخاري مسلم»

حل اللغات:- ① يَطْعَنُ: أي يَمَسُّهُ وَيُصِيبُهُ: نوکاره لګوی، څکوندی ئې، ② فِي جَنْبَيْهِ: دواړه طرفونه د ماشوم، يعنی تشی.

تسهيلات:

قوله: كُلُّ بَنِي آدَمَ يَطْعَنُ الشَّيْطَانُ فِي جَنْبَيْهِ بِأُصْبُعَيْهِ حِينَ يُولَدُ:

دپيدائش په وخت د شيطان نوکاره لګول: دې نه مراد دَ آدم علیه السلام اولاد دي که نران وی او که ښځې. چونکه دَ شيطان انسان سره دَ زړه عداوت دي کمافی القرآن: ﴿إِنَّ الشَّيْطَٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ﴾ په دې وجه شيطان دَ ماشوم دَ پيدا کيدو په وخت هم انسان پسې لګی. په دې وجه ماشوم دَ پيدا کيدو په وخت دَ شيطان په وهلو سره فوری ژاړی.

قوله: غَيْرَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَهَبَ يَطْعَنُ فَطَعَنَ فِي الْحِجَابِ:

دعيسى عليه السلام دَ شيطان دَ طعن نه حفاظت: په حديث الباب کښې ذکر شوی "حجاب" نه مراد هغه جهلئی ده په کومه کښې چه ماشوم دَ پيدا کيدو په وخت رانغښتې وی. کوم وخت ئې چه دَ حضرت عيسٰی علیه السلام په تشی باندې نوکاره لګول غوښتل نودَ هغه ګوتې حضرت عيسٰی علیه السلام ته اونه رسيدلې او په هغه جهلئی کښې اونختلې. دغه شان حضرت عيسٰی علیه السلام دَ شيطان دَ تکليف نه محفوظ پاتې شو. دَ دغه شان نوکارې نه ټول انبياء کرام محفوظ دی.

[۵۷۲٤] دباکماله ښځوذکر

۵۷۲۳ - (۱)[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «كَمَلَ مِنَ الرِّجَالِ كَثِيرٌ [۳] وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ، وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ، [۴] وَفَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوموسٰی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] په سړو کې خو ډير باکماله پيدا شوه لکه انبياء خلفاء علماء او اولياء الله

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى {وضرب الله مثلا للذين آمنوا امرأة فرعون} [التحريم: ۱۱]- إلى قوله - {وكانت من القانتين} [التحريم: ۱۲] (رقم-۳٤۱۱) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالى عنهم/باب فضائل خديجة أم المؤمنين رضی الله تعالى عنها (رقم-۷۰ - (۲٤۳۱) والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل الثريد (رقم-۱۸۳٤) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة/باب فضل الثريد، على الطعام (رقم-۳۲۸۰) واحمد فی المسند: ۳۹٤/٤

[۳]لیکن په ښځو کې یو څوته با کمال کیدل نصیب شوه او هغه بي بي مریم بنت عمران وه بي بي آسیه زوجه دفرعون ده [۴]او تولو ښځو باندې عائشې ﷞ ته هغه فضیلت حاصل دی څرنګه چې نورو طعامونو باندې ثرید وره شوې روټۍ ته (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①كَمُلَ: أي: صَارَ كَامِلًا: کامل شو یعنی مرتبې دکمال ته اورسیدل. ②الثَّرِيد: په خوروا کښې ماته کړې روټۍ ته ثرید وائی.

[۱]وَذُكِرَ حَدِيثُ أَنَسٍ: "يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ". وَحَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ: "أَيُّ النَّاسِ أَكْرَمُ" وَحَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ: "الْكَرِيمُ ابْنُ الْكَرِيمِ". [۲]فِي (بَابِ الْمُفَاخَرَةِ وَالْعَصَبِيَّةِ).

ترجمه:[۱]او د حضرت انس ﷛ روایت یا خیر البریه الخ او د حضرت ابو هریره ﷛ روایت ای الناس اکرم الخ او د حضرت ابن عمر ﷛ روایت: الکریم ابن الکریم الخ[۲]په باب المفاخرة والعصبیه کې نقل شوي دي.

حل اللغات:-③خَيْرَ الْبَرِيَّةِ: د اوچې په مخلوق کښې د ټولو نه غوره (دې نه مراد ابراهیم ﷤ دې. ④ الْكَرِيمُ ابْنُ الْكَرِيمِ: ددې نه مراد یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم علیهم السلام دی.

تسهیلات.

قوله: وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ:

اشکال: په حصول کمال کښې حضرت مریم علیها السلام او حضرت آسیه ﷞ ته اول درجه ورکړې شوې ده نو د حضرت فاطمه الزهراء ﷞ حضرت عائشه ﷞ او حضرت خدیجه ﷞ هغه اوچت مقام چرته لاړو؟

د اشکال جواب: دلته د امم سابقه د ښځو د تکمیل کمالات ذکر دي. د امت محمدیه د ښځو د شان بیان په ابواب المناقب کښې راتلونکې دې هلته ان شاء الله په تفصیل سره خبره کیږی لږ شان انتظار اوکړئ

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۷۲۵]د الله ﷻ په باره کې یو سوال

۵۷۲۵-(۱)[۲۰][۱]«عَنْ أَبِي رَزِينٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ[۲]: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيْنَ كَانَ رَبُّنَا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ خَلْقَهُ؟ [۳]قَالَ: "كَانَ فِي عَمَاءٍ، مَا تَحْتَهُ هَوَاءٌ، وَمَا فَوْقَهُ هَوَاءٌ، [۴]وَخَلَقَ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ» ". [۵]رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: قَالَ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ: الْعَمَاءُ أَيْ: لَيْسَ مَعَهُ شَيْءٌ.

ترجمه:[۱]او د حضرت ابورزین ﷛ بیان دی [۲]ما عرض وکړو یارسول الله! زمونږ پروردګار د مخلوقاتو پیدا کولو نه مخکې کوم ځای وو [۳]حضور ﷺ وفرمایل عماء کې

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة هود (رقم-۳۱۰۹)وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فی ذکر الخوارج (رقم-۱۷۲)

وو نه د هغه نه لاندې هوا وه او نه د هغه برسيره [۴]هغه خپل عرش اوبو باندې پيدا کې [۵]دا روايت امام ترمذي نقل کړی دی او يزيد ابن هارون وضاحت کړی دی چې عماء نه مراد دادی چې هغه سره هيڅ شی نه وو.

حل اللغات:- ① **عَمَاءٍ:** اوريځ ته وائی خو دلته ترې مراد عدم دې يعنی صرف الله تعالی وو بل هيڅ نه وو.

تسهيلات: قوله: كَانَ فِي عَمَاءٍ، مَا تَحْتَهُ هَوَاءٌ، وَمَا فَوْقَهُ هَوَاءٌ،

د مذکوره جملې په مفهوم کښې څلور اقوال:

① دَعماء مفهوم دلته عدم او ليس معه شئ دې يعنی الله تعالی وو او هغه سره نور هيڅ څيز نه وو. مطلب دا چه الله تعالی په خپل ذات محضه کښې وو دَ هغه دَ صفاتو ظهور تر دغه وخته نه وو شوې لکه چه يوه پټه خزانه وه.

② حضرات صوفيه دَعمآء مفهوم داسې بيان کړې دې. "العمآء هی الحضرة الاحدية" يعنی دَ عماء نه مراد دَ الله تعالی واحدلاشريك ذات دې.

③ په يوه نسخه او يو روايت کښې عمًى قصرسره دې کوم چه دَ پټوالی په معنی کښې دې دَ کوم مطلب چه دادې چه دَ الله تعالی ذات چرته وو ترهغه ځائی پورې نه دَ بنيادم نه دَ چا عقل رسيدلو اونه دَ يودانا سوچ هلته رسيدلې شو.

④ علامه ازهری فرمائی چه مونږ په دې ظاهری الفاظو باندې ايمان راوړو اودَدې کيفيت اودَدې بيخ ته دَ رسيدو کوشش نه کوو لکه چه دا الفاظ دَ متشابهات دَ قبيل نه دی.

قوله: مَا تَحْتَهُ هَوَاءٌ:

دمذکوره جملې مفهوم: په دې جمله کښې مانافيه ده يعنی هم په دې عمآء کښې نه لاندې هوا وه او نه پورته هوا وه. دې جمله سره داخودل مقصود دی چه اوريځ چرته وی هلته هوا وی کله چه ښکته پورته دَ هوا نفی اوکړې شوه نودا اوخودلې شو چه دَ عمآء نه مراد اوريځ نه ده بلکه دا دَ ليس معه شئ په معنی کښې دې. دې دَپاره چه دَ الله تعالی دَ پاره جهت ثابت نه وی په کوم سره چه حدوث لازم راځی.

قوله: عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ:

په اوبو باندې د عرش کيدو مطلب: دَدې مطلب دانه دې چه دَ الله تعالی عرش دَ اوبو دَ پاسه کيخودې شوې وو بلکه مطلب دادې چه لاندې اوبه وې او پورته په فضاء کښې عرش وو نور هيڅ هم نه وو.

[۵۷۲۶] دآسمانونو ذکر

۵۷۲۶-(¹) [۲۸] [۱] «وَعَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. [۲] أَنَّهُ كَانَ جَالِسًا فِي الْبَطْحَاءِ فِي عِصَابَةٍ وَرَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جَالِسٌ فِيهِمْ، [۳] فَمَرَّتْ سَحَابَةٌ، فَنَظَرُوا إِلَيْهَا، [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا تُسَمُّونَ هَذِهِ؟ ": [۵] قَالُوا: السَّحَابَ. [۶] قَالَ: " وَالْمُزْنَ؟ " قَالُوا: وَالْمُزْنَ. [۷] قَالَ: " وَالْعَنَانَ ". قَالُوا وَالْعَنَانَ. [۸] قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا بُعْدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ؟ ". [۹] قَالُوا: لَا نَدْرِي

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس ﷛ ابن عبد المطلب وايي [۲] هغه يوه ورځ بطحائي مکه کې يو ځاي محصب کې د خلقو يو جماعت سره ناست وو او رسول الله ﷺ هم په هغوئ کې تشريف فرماوو [۳] اچانک د وريځي يوه ټکړه تيره شوه خلقو هغه طرف ته کتل [۴] رسول الله ﷺ هغوئ نه پوښتنه وکړه تاسو دي وريځ ته څه وايئ [۵] هغوئ جواب ورکړو چې سحاب [۶] حضور ﷺ ورته وفرمايل او دي ته مزن هم وايي هغوئ اوويل چې هو مزن هم ورته وايو [۷] بيا حضور ﷺ وفرمايل او دي ته عنان هم وايي دوي اوويل چې عنان هم ورته وايو [۸] دي نه وروسته حضور ﷺ وفرمايل آيا تاسو خلقو ته معلومه ده چې: آسمان او زمکي په منځ کې څومره فاصله ده او هغه څومره اوږده ده [۹] هغوئ جواب ورکړو مونږ ته معلومه نه ده

حل اللغات:- ① عِصَابَةٍ: أَيْ جَمَاعَةٍ: جماعت، ډله. ② سَحَابَةٌ: د وريځي ټکړه. ③ الْمُزْنَ: هُوَالْغَيْمُ: د وريځي دويم نوم دي. يا سپيني وريځ ته مُزن وائي. ④ الْعَنَانَ: په وزن د سَحَاب باندې د عَنّ نه ماخوذ دي. أَيْ ظَهَرَ: ښکاره. دلته د عنان نه مراد وريځ ده يعني وريځ ته عنان هم وائي

[۱] قَالَ: " إِنَّ بُعْدَ مَا بَيْنَهُمَا إِمَّا وَاحِدَةٌ وَإِمَّا اثْنَتَانِ أَوْ ثَلَاثٌ وَسَبْعُونَ سَنَةً، [۲] وَالسَّمَاءُ الَّتِي فَوْقَهَا كَذَلِكَ " حَتَّى عَدَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ. [۳] ثُمَّ فَوْقَ السَّمَاءِ السَّابِعَةِ بَحْرٌ، بَيْنَ أَعْلَاهُ وَأَسْفَلِهِ كَمَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلَى سَمَاءٍ، [۴] ثُمَّ فَوْقَ ذَلِكَ ثَمَانِيَةُ أَوْعَالٍ، [۵] بَيْنَ أَظْلَافِهِنَّ وَوَرِكِهِنَّ مِثْلُ مَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلَى سَمَاءٍ، [۶] ثُمَّ عَلَى ظُهُورِهِنَّ " الْعَرْشُ "، [۷] بَيْنَ أَسْفَلِهِ وَأَعْلَاهُ مَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلَى سَمَاءٍ، [۸] ثُمَّ اللهُ فَوْقَ ذَلِكَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ ورته وفرمايل د زمکي او آسمان په منځ کې فاصله يا خو يو اويا کاله يا دوه اويا کاله يا دريو اويا کاله د مسافت په قدر ده [۲] او دي مخکني آسمان برسيره دويم آسمان دی او د دې دواړو په منځ کې هم دومره فاصله ده ان تردی چې اوه آسمانونه يې وشميرل [۳] بيا د اووم آسمان برسيره سمندردی چې د دواړو ترمنځ يعني پورته او وخکته لکه د دوه اسمانونو ترمنځ فاصله ده [۴] او بيا د هغه برسيره اوعال دی [۵] چې د هغوی پښو او د کوناتو ترمنځ هم د دو آسمانونو ترمنځ فاصلي په اندازه فاصله ده

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب السنة/باب في الجهمية (رقم-۴۷۲۳) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ومن سورة الحاقة (رقم-۳۳۲۰) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فيما أنكرت الجهمية (رقم-۱۹۳) واحمد في المسند: ۲۰۶/۱

٦ دهغوی برسیره د الله ﷻ عرش دی ٧ چې دهغه د پورتني اولاندیني ترمنځ د دو آسمانونو ترمنځ دفاصلې په اندازه فاصله ده ٨ او بیا ترهغه پورته دالله ﷻ ذات دي. دا حدیث ترمذی او ابوداود روایت کړیدی.

حل اللغات:- ⑤ أَوْعَالٌ: دا د وَعْل جمع ده، وَهُوَالْعَنْزُالْوَحْشِيُّ: وحشي یعنی غرسنی چیلۍ ته وائی. ⑥ أَظْلَافِهِنَّ: د ظِلف جمع ده، د چیلو یا د غواګانو د نوکانو لاندې غوښې ته وائی. ⑦ وُرَكِهِنَّ: أَيْ مَافَوْقَ الْفَخِذِ: د پتونانو نه پورته حصه یعنی کوناتې.

تسهیلات:

قوله: أَنَّهُ كَانَ جَالِسًا فِي الْبَطْحَاءِ فِي عِصَابَةٍ:

دکافرانو په عام مجلس کښې د کیناستو جواز: دغه وخت حضرت عباس رضي الله عنه مسلمان شوې نه وو. کوم وخت چه حضورپاك دَ سماوی نظام عجائبات بیانول. چونکه دامجمع هم په عمومی توګه باندې په کافرانو باندې مشتمل وه نو حضرت عباس رضي الله عنه دَهغه وخت اوریدلې شوې حدیث روستو بیان کړو.

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① مَا تُسَمُّونَ هَذِهِ؟": قَالُوا: السَّحَابَ. قَالَ: "وَالْمُزْنَ؟" قَالُوا: وَالْمُزْنَ: یعنی سحاب ته تاسو مزن اوعنان هم وایئ؟ ټولو وئیل او. "اماواحدةاو" داشك دَ راوی دې

② إِنَّ بُعْدَ مَا بَيْنَهُمَا إِمَّا وَاحِدَةٌ وَإِمَّا اثْنَتَانِ أَوْثَلَاثٌ وَسَبْعُونَ سَنَةً:

اودَ اویا ذکردَتکثیردَپاره دې څه تعیین نه دې ځکه چه دا ډیرزیات احادیث دی دا تصریح موجود ده چه دَ هرو دوو آسمانونو په مینځ کښې دَ پنځو سوو کالو مسافت دې. لهذا دلته دا عدد په تکثیر باندې محمول دې نو څه تعارض نشته دې.

③ ثُمَّ فَوْقَ السَّمَاءِ السَّابِعَةِ بَحْرٌ: یو سمندردې دکوم دَ پاسه او لاندې مسافت هم دغه شان دَ پنځو سوو کالودې.

قوله: ثُمَّ فَوْقَ ذَلِكَ ثَمَانِيَةُ أَوْعَالٍ:

د لفظ اوعال معنی او تحقیق: أَوْعَالٍ دَ وعل جمع ده غریزې چیلی ته وعل وائی دَدې مؤنث ته اروية وائی دکوم ذکر چه په نورو روایتونو کښې راغلې دې. دې ځناور ته په پښتو کښې "غرخه" وائی. دَ ډیر مضبوط بدن وی داسې ښکاری لکه چه په خپو کښې مقناطیس لګیدلې وی چه غرونو سره انخلی اوداسې مشکل ځایونو کښې ګرځی چرته چه مرغئی تلې شی. دَ غوا نه لږ شان وړوکې وی دَ چیلی نه لوئی وی. په سرباندې اوږده اوږده دوه ښکرې وی په منډه کښې دَ هوا په شان وی. دلته په حدیث کښې بعینه هم دغه ځناور مراد نه دې بلکه فرښتې مراد دی چه دَ دغه حیوان په شکل کښې وی.

قوله: ثُمَّ اللّٰهُ فَوْقَ ذٰلِكَ:

په متشابه الفاظو کښې د سلف صالحینو عقیده: دَ نصوص قرآنیه او حدیثیه نه واضح اشارې ملاویږی بلکه تصریحات دی چه الله تعالی په آسمانونو باندې دې دلته هم دغه تفصیل دې مگر دا متشابه الفاظ دی. دکوم باره کښې چه امام مالک رحمه الله فرمائیلی "الاستواء معلوم والکیفیة مجهولة والسؤال عنه بدعة" دَ سلف صالحین عقیده ده چه "مایلیق بشانه" کوم چه دَ الله تعالی دَ شان مناسب دی زمونږ په هغې باندې ایمان دې. بهرحال په دې حدیث کښې دَ الله تعالی دَ عظیم شان بیان کړې شوې دې.

[٥٧٢٧] د عرش الهي ذکر

٥٧٢٧ - ()[٢٩] ١ «وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ ٢: أَتَى رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَعْرَابِيٌّ، ٣ فَقَالَ: جُهِدَتِ الْأَنْفُسُ، وَجَاعَ الْعِيَالُ، وَنُهِكَتِ الْأَمْوَالُ، وَهَلَكَتِ الْأَغْنَامُ، ٤ فَاسْتَسْقِ اللّٰهَ لَنَا، ٥ فَإِنَّا نَسْتَشْفِعُ بِكَ عَلَى اللّٰهِ، وَنَسْتَشْفِعُ بِاللّٰهِ عَلَيْكَ. ٦ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سُبْحَانَ اللّٰهِ، سُبْحَانَ اللّٰهِ". ٧ فَمَا زَالَ يُسَبِّحُ حَتَّى عُرِفَ ذٰلِكَ فِي وُجُوهِ الصَّحَابَةِ،

ترجمه: ١ او د جبیر ابن مطعم رضي الله عنه بیان دی ٢ یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې یو باندچي (کلیوال) راغې ٣ او هغه اوویل یا رسول الله په مونږ د وچ کالی په وجه انساني جانونه د قحط ښکار کېږي بال بچ او مال وجائیداد مو بربادیږي او څاروي مو هلاکیږي ٤ تو تاسو د الله جل جلاله نه زمونږ د پاره باران وغواړئ ٥ مونږ د الله جل جلاله په حضور کښې تاسو وسیله جوړوو او الله جل جلاله تاسو ته شفیع گرځوو ٦ حضور صلی الله علیه وسلم په دې اوریدو سره وفرمایل د الله جل جلاله ذات پاك او منزه دی د الله جل جلاله ذات پاك او منزه دی ٧ حضور صلی الله علیه وسلم بار بار د تسبیح دا الفاظ فرمایل ددې پورې چې د حضور صلی الله علیه وسلم د صحابه و رضي الله عنهم د مخونو رنګ بدل شو

حل اللغات:- ① جُهِدَتْ: أي الْمَشَقَّةُ: تکلیف او مشقت ته وائی، دلته ترې مراد د وَس او طاقت نه زیات بوج اچول دی. ② الْأَنْفُسُ: انسانی جانونه یعنی انسانان (یعنی انسانی ځانونه دَ اوچ کالئ دَ وجې هلاکیږی). ③ وَجَاعَ الْعِيَالُ: بال بچ مو اوږی ترې شو. ④ نُهِكَتْ: أي نَقَصَتْ: کمیږی، یعنی خرابیږی. ⑤ الْأَمْوَالُ: هغه مالونه کوم چه باران سره زیاتیږی (هغه د باران نه کیدو په وجه بربادیږی). ⑥ الْأَغْنَامُ: جمع د غنم ده، گډې، چیلئ وغیره. ⑦ نَسْتَشْفِعُ: أي: نَطْلُبُ الشَّفَاعَةَ: سفارش غوارو، وسیله پیش کوو.

١ ثُمَّ قَالَ: "وَيْحَكَ إِنَّهُ لَا يُسْتَشْفَعُ بِاللّٰهِ عَلَى أَحَدٍ، شَأْنُ اللّٰهِ أَعْظَمُ مِنْ ذٰلِكَ، ٢ وَيْحَكَ أَتَدْرِي مَا اللّٰهُ؟ ٣ إِنَّ عَرْشَهُ عَلَى سَمَاوَاتِهِ هٰكَذَا" ٤ وَقَالَ بِأَصَابِعِهِ مِثْلَ الْقُبَّةِ عَلَيْهِ" ٥ وَإِنَّهُ لَيَئِطُّ بِهِ أَطِيطَ الرَّحْلِ بِالرَّاكِبِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب السنة/باب فی الجهمية (رقم-٤٧٢٦) والنسائی فی کتاب الاستسقاء/باب رفع الإمام يديه عند مسألة إمساك المطر (رقم-١٥٢٨) واحمد فی المسند:٢٥٦/٣

ترجمه: ① بیا حضور ﷺ وفرمایل اې سړیه! په تا افسوس دی په حقیقت کې الله ﷻ چاته شفیع نشي مقرر کیدی او نه هغه وسیله جوړیدی شی ② په تا آفسوس تاته معلومه نه ده چې د الله ﷻ عظمت او جلالت څه دی ③ حقیقت دادی چې د هغه عرش د هغه آسمانونه داسې راګیر کړي دي ④ په دي ویلو سره حضور ﷺ د خپلو ګوتو څخه یوه قبه جوړه کړه یعنی حضور ﷺ لاس د ګنبد صورت کې جوړولو سره و خودی چې څرنګه دي ګنبد د لاس تلی ګیر کړی دی دغه شان د الله ﷻ عرش زمکه خو زمکه ټول آسمانونو پورې خپل لاندي ګیر کړی دی ⑤ او هغه عرش دومره وسیع او عریض کیدو باوجود داسې چرچر کوي څرنګه چې د اوبښ پالان کته یا د آس زین د دروند سوار لاندې چرچر کوي. (ابوداؤد)

حل اللغات:-⑧ وَيْحَكَ: يَعْنِي وَيْلَكَ: ویح او ویل دواړه په معنی د تباهئ راځی خو په ویح کښې معنی د شفقت ده د زلت او رسوایئ نه د بچ کیدو، او ویل خیرې دی په معنی دهلاکت. ⑨ الْقُبَّةِ: ګنبد (یعنی عرش د ګنبد په شان راګیر کړی دی). ⑩ لَيَئِطُّ: أَيْ يَرْتَعِدُ مِمَّا يَرْكَبُهُ: رېږي او چرچر کوی دخپل سوریدونکی د جلال او هیبت په وجه. ⑪ أَطِيطَ الرَّحْلِ: په شان د چرچر کولو د کیجاوې یا د زین (یعنی څنګه چه د سوریدونکی په وجه زین یا کجاوه چغار کوی).

تسهیلات:

قوله: فَإِنَّا نَسْتَشْفِعُ بِكَ عَلَى اللهِ، وَنَسْتَشْفِعُ بِاللهِ عَلَيْكَ:

د مذکوره جملې په وئیلو نبی علیه السلام خفګان: نَسْتَشْفِعُ بِاللهِ عَلَيْكَ: یعنی دَ الله تعالی په وړاندې تاسو شفیع مقررکوو چه تاسو داسې اوکړئی. په دې جمله کښې چونکه دَ الله تعالی دَ لوئی شان بې ادبی وه په دې وجه حضورپاك خفه شو او باربارئی سبحان الله اووئیلو. او دَ الله تعالی تقدس ئی بیان کړو. بیادې څخه روسته رسول الله ﷺ دَ الله تعالی دَ شان ډیرزیات عظمت بیان کړو.

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

② مَا اللهُ: یعنی پیژنئی هم چه دَ الله تعالی عظمت اوشان څومره لوئی دې؟

③ إِنَّ عَرْشَهُ: یعنی دَ الله تعالی عرش په ټولو آسمانونوباندې داسې احاطه کوونکې دې لکه څنګه چه یو ګنبد په څه څیزباندې محیط یعنی راګیر کړې وی.

④ هَكَذَا: رسول الله ﷺ دَ ګوتونه دَدغه ګنبد اودَ هغه احاطه مشاهداتی صورت داسې بیان کړو مثلاً چه دَ یو لاس تلې لاندې وی اودَ بل لاس ګوتې دَ ګنبد په شکل کښې دَ بره نه په دې باندې محیط وی اوپوره تلې ئی راګیر کړې وی.

قوله: وَإِنَّهُ لَيَئِطُّ بِهِ أَطِيطَ الرَّحْلِ بِالرَّاكِبِ:

دعرش درونـدوالي: دا چراری تـه وائـی نـوې کجاوه یا نـوې کټ او پالنګ بانـدې کیناستو سره داسې قسم آواز هغه وخت راوځی کله چه دَ ناست سړی وزن دَ یر زیات وی. دلته حضورپاك اول دَ عرش وسعت او عظمت بیان کړو اودې نه پس ئی دَهغې عجز تنګی اوکمزوری بیـان کړه چه دَ الله تعالی دَعظمت پـه وړانـدې دَدې نـه دَ چراری آواز راوځی داټول متشابهات دی. دَ سلف صالحین عقیده داده "ما یلیق بشانه" یعنی کوم چه دَالله تعالی دَ شان سره مناسب وی زمونږ په هغې باندې ایمان دې.

[٥٧٢٨] هغه فرېښتې چه عرش الهي يې پورته کړی دی

٥٧٢٨-(١) [٣٠] ١ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ "«أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ عَنْ مَلَكٍ مِنْ مَلَائِكَةِ اللّٰهِ مِنْ حَمَلَةِ الْعَرْشِ، ٣ أَنَّ مَا بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِهِ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيرَةُ سَبْعِمِائَةِ عَامٍ»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت جابر ابن عبد الله ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢ ماته د الله ﷻ د طرف نه دا اجازت حاصل شوی ده چې زه د الله ﷻ د فرشتو نه د يوې فرشتې حال بيان کړم کومو چې عرش پورته کړی دی ٣ د هغه فرشتې د غوږ د نرمۍ نه د هغه د اوږې پورې درمياني فاصله د اووه سوه کاله د مسافت برابر ده . ابوداود

حل اللغات:- ① حَمَلَةِ الْعَرْشِ: عرش پورته کونکی فرشتې. ② شَحْمَةِ: د غوږونو رازوړندې نرمې غوښې ته وائی يعنی نرم ګوش، د غوږ پوڅکۍ.

تسهيلات:

نوټ: د حديث مضمون د ترجمې څخه حل کيږي.

[٥٧٢٩] ديدار الهي او حضرت جبرائيل عليه السلام

٥٧٢٩-(٢) [٣١] ١ «وَعَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ٢ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لِجِبْرِيلَ: ٣ "هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ، ٤ فَانْتَفَضَ جِبْرِيلُ وَقَالَ: ٥ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ بَيْنِي وَبَيْنَهُ سَبْعِينَ حِجَابًا مِنْ نُورٍ، ٦ لَوْ دَنَوْتُ مِنْ بَعْضِهَا لَاحْتَرَقْتُ»". هٰكَذَا فِي الْمَصَابِيحِ.

ترجمه: ١ او حضرت زراره ابن اوفی نه روايت دی ٢ چی رسول الله ﷺ د حضرت جبرائيل عليه السلام نه پوښتنه وکړه ٣ آيا تا خپل پروردګار ليدلی دی؟ ٤ حضرت جبرائيل په دې اوريدو سره په رپيدوشو بيا يې اوويل ٥ اې محمد! زما او د الله ﷻ په منځ کې د نور اويا پردې دي ٦ که زه هغه پردو نه يوې پردې ته نزدې يوه ګوته برابر هم ور مخکې شم نو اوبه سوزم

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب السنة/باب فی الجهمية (رقم-٤٧٢٧)
(٢) مصابيح السنة ٣٠/٤ حديث رقم:٤٤٥٧

په مصابیح کې روایت دغه شان دی.

حل اللغات:- ① فَانْتَفَضَ :أَيْ: ارْتَعَدَ: ډیرسخت په رپیدو شو. ② حِجَابًا: پردې ‹د نُور پردې›. ③ دَنَوْتُ: أَيْ: قَرُبْتُ: ورنژدې شم. ④ لَاحْتَرَقْتُ: او به سوزم.

۵۷۳۰-()[١]وَرَوَاهُ أَبُو نُعَيْمٍ فِي "الْحِلْيَةِ" عَنْ أَنَسٍ[٢]إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: "فَانْتَفَضَ جِبْرِيلُ".

ترجمه: [١] البته ابونعیم خپل کتاب حلیه کې دا روایت دحضرت انس رضي الله عنه نه نقل کړی دی [٢] خود ابونعیم نقل کړه روایت کې فانتفض د حضرت جبرائیل علیه السلام د رپیدو الفاظ نشته.

تسهیلات:

قوله: يَا مُحَمَّدُ إِنَّ بَيْنِي وَبَيْنَهُ سَبْعِينَ حِجَابًا مِنْ نُورٍ:

د سبعین عدد مقصد: داعدد دَ تکثیرخودلودَپاره دې دَتحدیداوتعین دَپاره نه دې. دَ عدد انتخاب هم دَ شارع علیه السلام په خوښه دې. په یوروایت کښې دَ اویاؤزرو حجاباتوذکردې.

د حجاب څخه مراد: داخبره یادلرئی چه داپردې دَ نوردی چه دکتونکودَپاره حجاب اومانع دی اودَ الله تعالی دَپاره حجاب اومانع نه دی. ځکه چه محجوب مغلوب وی او الله تعالی به مغلوب نه محجوب بلکه الله تعالی غالب دې نو حاجب دې.

[۵۷۳۱] د حضرت اسرافیل علیه السلام ذکر

۵۷۳۱-()[٢٢][١]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢]«إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ إِسْرَافِيلَ، مُنْذُ يَوْمَ خَلَقَهُ [٣] صَافًّا قَدَمَيْهِ لَا يَرْفَعُ بَصَرَهُ، [٤] بَيْنَهُ وَبَيْنَ الرَّبِّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى سَبْعُونَ نُورًا، [٥] مَا فِيهَا مِنْ نُورٍ يَدْنُو إِلَّا احْتَرَقَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وایي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] الله تعالی چې کوم وخت حضرت اسرافیل علیه السلام پیدا کی [٣] هغه د هغه وخت نه خپلې دواړې پښې صف بسته کړې بالکل تیار ولاړ دی نظر نه پورته کوي [٤] د هغه او بزرګ وبرتر پروردګار په منځ کې د نور اویا پردې حائلې دي [٥] که اسرافیل علیه السلام بفرضِ محال د هغه نور د پردوڅخه یوې پردې ته نژدې شي نو وبه سوزي دا روایت ترمذي رحمه الله نقل کړی دی او ویلي یي دي چې داحدیث صحیح دی.

حل اللغات:- ① صَافًّا قَدَمَيْهِ: أَيْ وَاقِفًا: ولاړ دې په قدمونو ‹یعنی حکم منلو ته تابعدار ولاړ دې›، ② يَدْنُو: أَيْ: يَقْرُبُ: و رنژدې شی ‹جبرئیل علیه السلام›.

تسهیلات: قوله: خَلَقَ إِسْرَافِيلَ........صَافًّا قَدَمَيْهِ لَا يَرْفَعُ بَصَرَهُ:

داسرافیل علیه السلام شپیلۍ پوک وهلو دپاره تیار اوسیدل: یعنی دَ کله نه چه حضرت

---

[١]) ابو نعیم فی الحلیة

[٢]) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۱۵۷

اسرافيل علیه السلام پیدا شوي دي نو دَ هغه وخت نه دواړه قدمونه ترلې تيار ولاړ دي اخوا ديخوا نه ګوري بلکه په شپيلئ باندې نظر ورخښ کړې دي چه کله به دَ الله تعالی دَ طرف نه دَ شپيلئ دَ پوکولو حکم ملاويږي او هغه په دې باندې عمل اوکړي.

د حديث نه دري مستنبط شوي مسئلې:

① دَدې حديث نه يوه خبره دا معلومه شوه چه فرښتو کښې خومره ډير اطاعت دې.

② دويمه خبره دا معلومه شوه چه دَ قيامت دَ قائم کيدو لمحه دَ الله تعالی نه علاوه دَ ټول مخلوق نه خومره پټه ساتلې شوې ده.

③ دريمه خبره دا معلومه شوه چه دَالله تعالی انوارات او تجليات قاهره ته نيزدې، مقرب فرښتې هم نه شي تلې.

[۵۷۳۲] دانسان فضيلت

۵۷۳۲–() [۳۳] ①وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ وَذُرِّيَّتَهُ، ③قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ: يَا رَبِّ، ④خَلَقْتَهُمْ يَأْكُلُونَ وَيَشْرَبُونَ وَيَنْكِحُونَ وَيَرْكَبُونَ، ⑤فَاجْعَلْ لَهُمُ الدُّنْيَا وَلَنَا الْآخِرَةَ. ⑥قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: لَا أَجْعَلُ مَنْ خَلَقْتُهُ بِيَدَيَّ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي ⑦كَمَنْ قُلْتُ لَهُ: كُنْ فَكَانَ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ①او دحضرت جابر رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ②هر کله چې الله تعالی آدم او د هغه اولاد پيدا کړل ③نو فرشتو عرض وکړو اې ربه! تا خوداسې مخلوق پيدا کی ④چې خوري څکي واده کوزده کوي او قسم قسم سورلو باندې سپريږي ⑤نو زمونږ درخواست دی چې د دنيا نعمتونه دې مخلوق ته ورکړه او د آخرت ټول نعمتونه مونږ ته مرحمت کړه ⑥الله تعالی ورته وفرمايل کوم مخلوق چې ما په خپل لاس سره پيدا کی او په هغه کې مې خپل روح واچوی ⑦هغه د هغه مخلوق پشان نه دې کوم ته چې ما کُن اوويل نو هغه پيدا شو دا روايت بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړی دی.

حل اللغات:- ①بِيَدَيَّ: په خپلو دواړو لاسونو سره. ②نَفَخْتُ: پوک مې وهلو، وامې چولو. ③كُنْ: موجود شه. ④فَكَانَ: نو موجود شو.

تسهيلات:

قوله: يَا رَبِّ، خَلَقْتَهُمْ يَأْكُلُونَ وَيَشْرَبُونَ وَيَنْكِحُونَ وَيَرْكَبُونَ:

د الله تعالی په دربار کښې دفرشتو غواست: فرښتو اووئيل چه په دنيا کښې بنيادمانو مزې اوکړې په دې وجه دَهغوی دَپاره دې هم دنيا مختص کړې شي او زمونږ دَپاره دې آخرت مختص کړې شي دې دَپاره چه مونږ په يوځان جهان کښې دَدې نعمتونو نه

---

¹) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۱۷۲

خوندونه واخلو.

قوله: قَالَ اللّٰهُ لَا أَجْعَلُ مَنْ خَلَقْتُهُ بِيَدَيَّ:

په انساني تخليق د الله تعالى خاص كردار: الله تعالى فرښتو ته په جواب كښې اوفرمائيل چه زه به داسې نه كوم. بنى آدم ماپه خپلو لاسونو جوړكړې دې دَده په تخليق كښې څومرحلې لګيدلى دى لكه چه ډير محنتونه پرې شوى دى اوتاسو خو صرف په لفظ "كن" سره جوړې كړې. لهذا تاسو دواړه برابركيدې نه شئى. دَدې حديث نه دَ بنى آدم لوئى فضيلت ثابتيږى. هم په دې وجه ده ته اشرف المخلوقات وئيلې شوې دې. چونكه فرښتې يومعصوم مخلوق دې دَدوى دَ دوزخ دَ سزا هيڅ خطره نشته دې. دَدوى په مقابله كښې دَ انسانانو نه خو به دوزخ هم ډكول وى. انسان امور تكليفيه په اوامر او نواهى باندې دَعمل كولوڅومره مكلف دې. لهذا الغنم بالغرم والخراج بالضمان دَ اصول لاندې دَ انسان مقام دَ فرښتو نه جدا اوځان له دې.

په فرشتو باندې د انسان فضيلت: دَ جمهورو مسلك دادې چه عام مسلمان دَعام فرښتونه غوره دې اوخاص مسلمان دَ خاص فرښتونه غوره دې. دَعام مسلمانانونه دكامل درجې مسلمان مراددې لكه خلفاء راشدين صحابه كرام علماء او اولياء دى. هركس اوناكس دَ فرښتونه غوره نه دې. اودَ خاص مسلمانانونه انبياء كرام مراددى اودَ خاص فرښتو نه جبرائيل ميكائيل اسرافيل اوعزرائيل وغيره مراد دى.

نوټ: دزيربحث حديث د مضمون نور تفصيل په راروان حديث نمبر(۵۷۳۳) كښې راروان دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۷۳۳] فريښتوباندې دانسان فضيلت

۵۷۳۳-()[۳۳] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«الْمُؤْمِنُ أَكْرَمُ عَلَى اللّٰهِ مِنْ بَعْضِ مَلَائِكَتِهِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② د كاملي درجي مؤمن يعنى انبياء او اولياء د الله جل جلاله په نزد د هغه د بعضو فرشتو نه افضل او برتر دى. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① الْمُؤْمِنُ: أَيِ الْكَامِلُ: د مؤمن نه مراد كامل ايمان والا مؤمن مراد دې. ② أَكْرَمُ: زيات عزت والا، افضل.

[1] اخرجه ابن ماجه فى كتاب الفتن/باب المسلمون فى ذمة الله عز وجل (رقم-۳۹۴۷)

تسهیلات:

قوله: الْمُؤْمِنُ أَكْرَمُ عَلَى اللهِ مِنْ بَعْضِ مَلَائِكَتِهِ:

د حدیث په مطلب کښې څلور اقوال: ① دَمؤمن نه دکامل درجې عام مؤمنان مراد دی. اودَ بعضې ملائکو نه عام فرښتې مراددی.

② شیخ محی رحمه الله په السنة کښې ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾ لاندې لیکلی دی چه بهتردادی چه داسې اووئیلې شی چه عام مؤمنین دَعام فرښتونه افضل دی اوخاص مؤمنین دَ خاص فرښتونه افضل دی.

③ علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دَمؤمنین نه عام مؤمنین مراد دی اودَ فرښتونه هم عام فرښتې مراددی.

④ ملاعلی قاری رحمه الله دَدغه ټولو اقوالو دَنقل کولونه پس خپله فیصله داسې اورولې ده چه "ولایخفی ان المراد بخواص المؤمنین الرسل والانبیاء وبخواص الملائکة نحوجبرئیل ومیکائیل واسرافیل وبعوام المؤمنین الکمل من الاولیاء کالخلفاء وسائر العلماء وبعوام الملائکة سائرهم وهذا التفصیل اولیٰ من اجمال بعضهم"

[۵۷۲٤] د مخلوقاتو د پیدائش ورځ

٥٧٢٤-() [د-٣] ١ وَعَنْهُ، قَالَ: أَخَذَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِيَدِي فَقَالَ: ٢ "«خَلَقَ اللهُ التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ، ٣ وَخَلَقَ فِيهَا الْجِبَالَ يَوْمَ الْأَحَدِ، ٤ وَخَلَقَ الشَّجَرَةَ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ، ٥ وَخَلَقَ الْمَكْرُوهَ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ، ٦ وَخَلَقَ النُّورَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ، ٧ وَبَثَّ فِيهَا الدَّوَابَّ يَوْمَ الْخَمِيسِ، ٨ وَخَلَقَ آدَمَ بَعْدَ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فِي آخِرِ الْخَلْقِ ٩ وَآخِرِ سَاعَةٍ مِنَ النَّهَارِ فِيمَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَى اللَّيْلِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي یوه ورځ حضور صلی الله علیه وسلم زما لاس په نیولو سره راته وفرمایل ٢ خبر یي چې الله جل جلاله ټوله دنیا چې شپږ ورځو کې پیدا کړه نوکوم شی یي په کومه ورځ پیدا کړی دی نو واوره د بعضې څیزونو متعلق درته زه ښایم چې الله جل جلاله خاوره زمکه د هفتې په ورځ یعنی د شنبې په ورځ پیدا کړه ٣ او په زمکه یي غرونه د اتوار یعنی یکشنبه په ورځ پیدا کړل ٤ ونې یې د پیر یعنی دوشنبې په ورځ پیدا کړې بدې ٥ او خراب څیزونه یې د سه شنبې په ورځ پیدا کړل ٦ رڼا او روښني یې د چهارشنبې په ورځ پیدا کړل ٧ حیوانات یې په زمکه کې د زیارت یعنی په پنجشنبه پیدا کړل ٨ او آدم یې د جمعې په ورځ دمازیګر نه وروسته پیدا کړی ٩ او دا آخري پیدائش یې د ورځې بالکل په آخري حصه کې د مازیګر نه وروسته شپې پورې په منځ کې په عمل کې راوستی. (مسلم)

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب صفة القیامة والجنة والنار/باب ابتداء الخلق وخلق آدم علیه السلام (رقم-۲۷ - (۲۷۸۹)

حل اللغات:- ① التُّرْبَةَ: أَيْ: التُّرَابَ وَهُوَ الْأَرْضُ: دخاورې نه مراد زمکه ده. ② الْمَكْرُوهَ: أَيْ: جُنَّةً: هر بدودارخرابو څيزونو. ③ آخِرَ الْخَلْقِ: آخرى پيدائش.

تسهيلات: قوله: خَلَقَ اللهُ التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ:

دمخلوق د پيدائش ورځ: په دې حديث کښې په صريح عبارت سره دتخليق کائنات تفصيل خودلې شوې دې چه کوم مخلوق په کومه ورځ پيدا شوې؟

اشکال: دَ کائنات دتخليق شروع دَ اتوارد ورځې نه شوې او خاتمه ئې په جمعه باندې شوې. حالانکه په دې حديث کښې هفته دَ تخليق رومبې ورځ ګرځولې شوې ده؟

د اشکال جواب: دَ هفتې نه دَدې هغه آخرى حصه مرادده چه په اصولى توګه دَ اتوار شپه پريوځى نو په حقيقت کښې دَ کائنات شروع دَ اتوار په ورځ شوې او په جمعه باندې خاتمه شوې.

[۵۷۳۵] د ځمکې او آسمان ذکر

٥٧٣٥-()[٣٦] ① «وَعَنْهُ، قَالَ: بَيْنَمَا نَبِيُّ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-جَالِسٌ وَأَصْحَابُهُ ② إِذْ أَتَى عَلَيْهِمْ سَحَابٌ، فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ③ "هَلْ تَدْرُونَ مَا هَذَا؟". ④ قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. ⑤ قَالَ: "هَذِهِ الْعَنَانُ هَذِهِ رَوَايَا الْأَرْضِ، ⑥ يَسُوقُهَا اللهُ إِلَى قَوْمٍ لَا يَشْكُرُونَهُ، وَلَا يَدْعُونَهُ". ⑦ ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَكُمْ؟" ⑧ قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. ⑨ قَالَ: "فَإِنَّهَا الرَّقِيعُ، سَقْفٌ مَحْفُوظٌ، وَمَوْجٌ مَكْفُوفٌ".

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ او صحابه کرام رضي الله عنهم ناست وه ② چې د وريځې يوه ټکړه تيره شوه ③ حضور ﷺ د وريځې هغه ټکړې ته اشاره کولو سره صحابه رضي الله عنهم نه پوښتنه وکړه پيژنې چې دا څه شى دى؟ ④ صحابه ؤ رضي الله عنهم د خپل عادت مطابق جواب ورکړو الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي ⑤ حضور ﷺ وفرمايل دا عنان يعنى وريځ ده او دا وريځ د ځمکې روايا اوبه کونکې دى ⑥ چې الله ﷻ يې هغه خلقو طرف ته شړي چې نه يې شکر اداء کوي او نه يې يادوي ⑦ بيا يې وفرمايل پوهيږې چې ستاسو برسيره کوم آسمان دى هغه څه شى دى ⑧ صحابه ؤ رضي الله عنهم جواب ورکړو الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي ⑨ حضور ﷺ وفرمايل ستاسو برسيره شى رقيع دى چې يو محفوظ چت او نه غورځيدونکى موج دى

حل اللغات:- ① الْعَنَانُ: په وزن د سَحَاب باندې د عَنَّ نه ماخوذ دې. أَيْ: ظَهَرَ: ښکاره، دلته د عنان نه مراد وريځ ده يعنى وريځ ته عنان هم وائى. ② رَوَايَا: ددې واحد رَاوِيَةٌ راځى، اوبه راوړونکى يا اوبه راؤښکونکى اوښ ته وائى کوم سره چه پټى اوبه کولې شى، دلته د روايا نه مراد باران

[1]) اخرجه وابوداود فى السنن رقم الحديث ۴۷۲۳ والترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الحديد (رقم-۳۲۹۸) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فيما أنكرت الجهمية (رقم-۱۹۳) واحمد فى المسند: ۲۰۶/۱

ورونكي وريځې دی چه هغې سره لګه د اوبو په شان پټې او به کيږي. ③ تَسُوقُهَا: أَيْ: يَجُرُّهَا: شړی دا وريځې، راكاږی دي وريځو لره (الله تعالى). ④ الرَّقِيعُ: ددې جمع أَرْقِعَةٌ راځي، وَهُوَ اسْمٌ لِسَمَاءِ الدُّنْيَا: د دنيا آسمان يعنى كوم چه ښكاری دې ته رقيع وائی، يا ددې نه مراد هر آسمان دې. ⑤ مَوْجٌ: د اوبو چپه ⑥ مَكْفُوفٌ: أَيْ مَمْنُوعٌ مِنَ الِاسْتِرْسَالِ: د راغورځيدو نه بند كړې شوې او محفوظ ساتلي شوې دې (حالانكه بغير ستنو ولاړ دې).

[۱] ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهَا؟" [۲] قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۳] قَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهَا خَمْسُمِائَةِ عَامٍ" ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَ ذَلِكَ؟". [۴] قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: [۵] "سَمَاءَيْنِ بُعْدُ مَا بَيْنَهُمَا خَمْسُمِائَةِ سَنَةٍ". [۶] ثُمَّ قَالَ كَذَلِكَ حَتَّى عَدَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ "[۷] مَا بَيْنَ كُلِّ سَمَاءَيْنِ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ" [۸] ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَ ذَلِكَ؟" [۹] قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ [۱۰] قَالَ: "إِنَّ فَوْقَ ذَلِكَ الْعَرْشُ، وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَاءِ بُعْدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءَيْنِ".

ترجمه: [۱] بيايي وفرمايل پوهيږئ چې ستاسو او د آسمان په منځ كې څومره فاصله ده؟ [۲] صحابه ﷺ جواب وركړ الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي [۳] حضور ﷺ وفرمايل چې ستاسي او د آسمان په منځ كې د پنځه سوه كاله مسافت په قدر فاصله ده [۴] بيايي وفرمايل خبر يي چې د آسمان برسيره څه دي صحابه ﷺ جواب وركړو الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي [۵] حضور ﷺ وفرمايل ددي آسمان نه علاوه بيا اوچت او لاندي دوه آسمانونه دي او د هغه دوو آسمانونو په منځ كې هم د پنځه سوه كاله مسافت دی [۶] دغه شان حضور ﷺ يوبل پسي د هر آسمان ذكر وكړ ددي پورې چې د اوو آسمانونو په باره كې وښودل [۷] چې په هغه كې د هر آسمان نه دويم آسمان پورې فاصله هغه ده كومه چې د زمكې او آسمان په منځ كې ده يعنى د پنځه سوه كاله د مسافت په قدر [۸] دي نه وروسته يي وفرمايل معلومه ده درته چې دآخري آسمان برسيره څه دی؟ [۹] صحابه ﷺ جواب وركړو الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي [۱۰] حضور ﷺ وفرمايل ددي اووم او آخري آسمان برسيره عرش دی او دهغه عرش او د هغه نه دلاندي آسمان په منځ كې هغه فاصله ده كومه چې د دوو آسمانونو په منځ كې ده

حل اللغات: - ⑤ سَمَاءَيْنِ: د سماء تثنيه ده يعنى دوه آسمانونه.

[۱] ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا الَّذِي تَحْتَكُمْ؟" [۲] قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۳] قَالَ: "إِنَّهَا الْأَرْضُ". ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا تَحْتَ ذَلِكَ؟". [۴] قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۵] قَالَ: "إِنَّ تَحْتَهَا أَرْضًا أُخْرَى، بَيْنَهُمَا مَسِيرَةُ خَمْسِمِائَةِ سَنَةٍ". [۶] حَتَّى عَدَّ سَبْعَ أَرَضِينَ وَبَيْنَ كُلِّ أَرْضَيْنِ مَسِيرَةُ خَمْسِمِائَةِ سَنَةٍ". [۷] ثُمَّ قَالَ: "وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ [۸] لَوْ أَنَّكُمْ دَلَّيْتُمْ بِحَبْلٍ إِلَى الْأَرْضِ السُّفْلَى لَهَبَطَ عَلَى اللهِ" [۹] ثُمَّ قَرَأَ: ﴿هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ [الحديد: ۳] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① بيا يي وفرمايل پوهيږئ ستاسو لاندي څه دي ② صحابه وُ ﷺ عرض وكړو الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي ③ حضور ﷺ وفرمايل د ټولو برسيره زمكه ده بيا يي وفرمايل پوهيږئ د هغه لاندي څه دى ④ صحابه وُ ﷺ عرض وكړو الله ﷻ او دهغه رسول ښه پوهيږي ⑤ حضور ﷺ وفرمايل د هغه لاندي يوه بله زمكه ده او د دې دواړو زمكو په منځ كې پنځه سوه كاله د مسافت په قدر فاصله ده ⑥ دغه شان حضور ﷺ اووه زمكي وشميرلي او وي ښودله چې په دي كې د هري زمكي نه دويمي زمكي پورې درميانه فاصله د پنځه سوه كاله د مسافت په قدر ده ⑦ بيا يي وفرمايل قسم دى په هغه ذات چې د هغه د قدرت په لاس كې د محمد ساه ده ⑧ كه تاسو د ټولو نه لاندي زمكي ته رسۍ وځړوئ نو په الله ﷻ باندې به ورخكته شي ⑨ دي نه وروسته حضور ﷺ د خپل دي ارشاد د دليل په طور دا آيت اووئيلو: هُوَالْأَوَّلُ وَالْأٰخِرُوَالظَّاهِرُوَالْبَاطِنُ وَهُوَبِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ترجمه: هغه الله اول قديم دى چې د هغه د پاره هيڅ ابتداء نشته او آخر باقي دى چې د هغه د پاره څه انتهاء او اختتام نشته او د خپل صفاتو د اعتبار نه ظاهر دى او د خپل ذات د اعتبار نه باطن دى او د دواړو جهانو ټول كلي او جزئي څيزونه پيژني چې د هغه علم ډير كامل او اكمل دى او د يويو شي هره هره ګوشه ګوټ باندې محيط دى. دا روايت احمد رحمه الله او ترمذي رحمه الله نقل كړى دى

حل اللغات: -⑧دَلَّيْتُمْ: أَيْ أَرْسَلْتُمْ: تاسو راوليږئ، راوغورځوئ، ⑨حَبْل: رسۍ، پړې،

① وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: قِرَاءَةُ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْآيَةَ تَدُلُّ عَلَى ② أَنَّهُ أَرَادَ: لَهَبَطَ عَلَى عِلْمِ اللهِ وَقُدْرَتِهِ وَسُلْطَانِهِ، ③ وَعِلْمُ اللهِ وَقُدْرَتُهُ وَسُلْطَانُهُ فِي كُلِّ مَكَانٍ، وَهُوَ عَلَى الْعَرْشِ، ④ كَمَا وَصَفَ نَفْسَهُ فِي كِتَابِهِ.

ترجمه: ① او ترمذي رحمه الله ويلي دي چې د رسول الله ﷺ خپل ارشاد نه وروسته دا آيت وئيل په دي دلالت كوي ② چې د الله ﷻ برسيره د رسۍ د خكته كيدو نه مراد دادى چې هغه رسى به د الله ﷻ په علم ورخكته شي ③ ځكه چې دهغه علم او د هغه قدرت او د هغه حكومت په هرځاي كې دى او هغه بذات خود په عرش باندې دي ④ څرنګه چې خپله هغه په خپل كتاب كې خپل وصف بيان كړى دى.

حل اللغات: -⑩لَهَبَطَ: أَيْ لَنَزَلَ: نو راښكته به شي.

تسهيلات: قوله: هَذِهِ الْعَنَانُ هَذِهِ رَوَايَا الْأَرْضِ:

د لفظ روايا معنى او وجه تسميه: رسول الله ﷺ دَ سحاب دويم نوم اوخودلو چه العنان دې بيا ئې دَ هغې كار اوخودلو چه دا "روايا الارض" دي. دادَ رواية جمع ده دا هغه اوښ ته وائى دكوم په ذريعه چه زمكې ته اوبه وركولې شي. دغه اوريځوته روايا ځكه اووئيلې شو چه دا هم دَ رواية اوښ په شان اوبه راښكوسره دَ يوځائى نه بل ځائى ته اوړي.

قوله: يَسُوقُهَا اللّٰهُ إِلَى قَوْمٍ لَا يَشْكُرُونَهُ، وَلَا يَدْعُونَهُ:

د الله تعالی مشر کانو ته روزی ور کول: یعنی دا اوریځې دَهغه خلقو طرف ته هم اوبه منتقل کولو سره اوری کوم خلق چه دَ الله تعالی دَنعمتونو شکرنه اداکوی بلکه داسې ناشکری کوی چه دَ اوبو نسبت دَ غیرالله طرف ته کوی. کله په شرك کښې پرېوتلو سره غیرالله ته آوازونه کوی کله الله تعالی پرېخودو سره بتانو پسې منډې وهی. ددې معاصی تقاضا خودا وه چه په دوی باندې اوبه دانه بندکړې شي لیکن دَ الله تعالی درستخوان عام دې هغه رحمان دې او ربوبیت عامه او تربیت عام دَهغه په لاس کښې دې هغه رب العالمین دې په دې وجه په ټولو باندې خوراك کوی.

قوله: مَوْجٌ مَكْفُوفٌ:

آسمان د زوړند و اوبو چپه: یعنی دا آسمان یوزبردست موج دې مګر دَ راپرېوتلونه محفوظ دې دَ اوبو غورزونکونه وهونکې سمندر دې مګر اوبه رابهیږی نه. بندې اومحفوظ دی لکه چه دا آسمان یوموج دې کوم چه په هوا کښې معلق یعنی زوړند دې.

قوله: لَوْ أَنَّكُمْ دَلَّيْتُمْ بِحَبْلٍ إِلَى الْأَرْضِ السُّفْلَى لَهَبَطَ عَلَى اللّٰهِ:

د لهبط علی الله په مفهوم کښې دوه اقوال: یعنی دَ انسان دَ اوسیدو دَ زمکې نه علاوه لاندې شپږ زمکې نورې دی چه داسې قطع په قطع دی که دَ پورته نه څوك رسئی بنکته راګذارکړی نو هغه به نیغه لاړه شي او الله تعالی ته به اورسی.

① څنګه چې پورته په آسمانونو کښې دَالله تعالی ذات موجود دې دغه شان لاندې هم دَ الله تعالی حکم اودَهغه علم دې. داسې نه ده چه پورته خودَ الله تعالی حکم چلیږی او بنکته په سفلیات کښې دَ بل چاحکم نافذ وی کوم چه دَ الله تعالی دَ اختیارنه بهر دې.

② لکه څنګه چه حضور پاك ته پورته په آسمانونو کښې معراج شوې دغه شان بنکته په اووه زمکو کښې دَ سمندر نه لاندې دَ حضرت یونس علیه السلام معراج شوې. قرآن کریم کښې هم دغه عموم قدرت او شمول الوهیت طرف ته دې آیت کښې اشاره ده. ﴿وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَٰهٌ﴾.

[۵۷۳٦] د حضرت آدم علیه السلام قد

۵۷۳٦-(¹)[۳۷] ① وَعَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ ②: «كَانَ طُولُ آدَمَ سِتِّينَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِ أَذْرُعٍ عَرْضًا» "

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② دَ حضرت آدم قد شپیته لاسه اوږد او اووه لاسه پلن وو.

¹) اخرجه احمد في المسند: ۲/۵۳۵

تسهیلات: قوله: كَانَ طُولُ آدَمَ سِتِّينَ ذِرَاعًا:

د ذراع مقدار: هغه مقدار ته وئیلی شی چه دَ لاس دَ مینځ دَ ګوتې دَ سر نه دَ متې دَ څنګلې پورې وی. دَ شرعی ګز اطلاق هم په دې باندې کیږی.

اشکال: دَحضرت آدم علیه السلام قد ته چه شپیته لاسه وئیلې شوی دې دَدې نه دَ چا لاس مراد دې؟

د اشکال جواب: زیاته صحیح خبره داده چه دَ حضرت آدم علیه السلام لاس مراد نه دې بلکه زمونږ دَ زمانې دَ موجوده خلقو لاس مراد دې ځکه چه دَ حضرت آدم علیه السلام قد دَ موجوده خلقو په اعتبار سره شپیته لاسه اوږد وو.

[٥٧٣٧] دا انبیاوو تعداد

٥٧٣٧-()[٢٨] [١] «وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قُلْتُ [٢]: يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيُّ الْأَنْبِيَاءِ كَانَ أَوَّلَ؟ [٣] قَالَ: "آدَمُ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَنَبِيٌّ كَانَ؟ [٤] قَالَ: "نَعَمْ نَبِيٌّ مُكَلَّمٌ". [٥] قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَمِ الْمُرْسَلُونَ؟ [٦] قَالَ: "ثَلَاثُمِائَةٍ وَبِضْعَةَ عَشَرَ جَمًّا غَفِيرًا" [٧] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ أَبُو ذَرٍّ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَمْ وَفَاءُ عِدَّةِ الْأَنْبِيَاءِ [٨] قَالَ: "مِائَةُ أَلْفٍ وَأَرْبَعَةٌ وَعِشْرُونَ أَلْفًا، الرُّسُلُ مِنْ ذَلِكَ ثَلَاثُمِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ جَمًّا غَفِيرًا»[1].

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي ما عرض وکړو [٢] یارسول الله! د ټولو نه مخکې نبي څوك دی؟ [٣] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل حضرت آدم ما بیا پوښتنه وکړه آیا حضرت آدم نبي وو؟ [٤] وي فرمایل هو نبي وو هغه ته الله رب العٰلمین سره شرف تکلم وتخاطب حاصل شوي دي [٥] دې نه وروسته ما پوښتنه وکړه یارسول الله! انبیاوو کې رسولان څومره تیر شوی دي؟ [٦] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل کافي تعداد کې دري سوه لس نه به څه زیات تعداد کې وي [٧] او په یوه روایت کې د ابوامامه تابعي رحمه الله نه دا الفاظ منقول دي چې حضرت ابوذر رضی الله عنه اوویل ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړو یارسول الله! د ټولو انبیاوو تعداد که رسول وي یا غیر رسول څومره دی؟ [٨] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل یولاك څلورویشت زره په دي کې رسولان دري شوه پنځلس دي چې کافي لوی تعداد دی.

حل اللغات:- ① مُكَلَّمٌ: خبرې ورسره کړې شوی دی، ② جَمًّا: دا د جُمُوماو جَمَّةٌ نه ماخوذ دی، وَهُوَ الِاجْتِمَاعُ وَالْكَثْرَةُ: لوئې جماعت اوډلې ته وائی. ③ غَفِيرًا: دا د غَفْر نه ماخوذ دی، وَهُوَ التَّغْطِيَةُ وَالسَّتْرُ: پټوالی او پردې ته وائی. ④ كَمْ وَفَاءُ: أَيْ كَمْ كَمَالُ: پوره تعداد ئې څومره دې؟

تسهیلات:

قوله: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَمْ وَفَاءُ عِدَّةِ الْأَنْبِيَاءِ قَالَ: "مِائَةُ أَلْفٍ وَأَرْبَعَةٌ وَعِشْرُونَ أَلْفًا:

د انبیاء کرامو په تعداد کښې د احتیاط ځکه کار اخستل: دَ انبیاء کرامو په تعداد کښې دَ احتیاط نه کار اخستل ضروری دی. بعضې حضراتو دَ نبی اوولی کیدو کښې اختلاف شوی دې نو په حتمی عدد ذکرکولو سره خطره ده چه چرته یو غیرنبی، دَ انبیاءکرامو په

[1]) اخرجه احمد فی المسند: ١٧٨/٥

صف کښې داخل نه شی اویو ربښتونی نبی بهرنه شی. په دې وجه دانبیاء کرامو تعداد سره کم وزیات لفظ لګول پکاردی. مثلاً کم وزیات یولک څلیریش زره وئیل پکاردی. د حضرت خضر، ذوالقرنین او لقمان حکیم په نبی کیدو اونه کیدو کښې اختلاف دې په دې وجه احتیاط ضروری دې.

[۵۷۳۸] خبر د لیدو پشان نه دې

٥٧٣٨-() [٣٩] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ- صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] " «لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ، [٣] إِنَّ اللهَ تَعَالَى أَخْبَرَ مُوسَى بِمَا صَنَعَ قَوْمُهُ فِي الْعِجْلِ، فَلَمْ يُلْقِ الْأَلْوَاحَ، [٤] فَلَمَّا عَايَنَ مَا صَنَعُوا أَلْقَى الْأَلْوَاحَ فَانْكَسَرَتْ» ". رَوَى الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [٢] د څه شي په باره کې اوریدل هغه په سترګو سره د لیدو برابر کیدي نشي [٣] الله جل جلاله حضرت موسی علیه السلام ته د هغه د قوم د هغه عمل په باره کې خبر ورکی چې هغوئ د ګیلګي پرستي په صورت کې کړی وو نو هغه د قهر نه تختي ونه غورځولي [٤] لیکن کوم وخت چې خپل قوم ته راغي او خپلو سترګوسره یي د قوم هغه عمل اولیدلو نو دومره غضب ناك شو چې تختې یي وغورځولي او هغه ماتې شوي دا دري سره حدیثونه احمد نقل کړي دی.

حل اللغات:- ① الْخَبَرُ: اوریدلې شوې خبره، ② الْمُعَايَنَةِ: په سترګو سره لیدل. ③ الْعِجْلِ: سخي، ④ فَلَمْ يُلْقِ: اوئي نه غورځول، ⑤ الْأَلْوَاحَ: د لوح جمع ده، تختې (چه په هغې باندې هدایات ربانی لیکلې شوی وو). ⑥ عَايَنَ: په سترګو ئې اولیدل. ⑦ فَانْكَسَرَتْ: نو ماتې شوې تختې.

تسهیلات: قوله: لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ:

د لیس الخبر کالمعاینه مطلب: یعنی پخپلو سترګوسره دکتلو یو طبعی اثروی ګنی د ربښتیاؤ په اعتبارسره دالله تعالی په خبر ورکولو کښې څه شك کیدې شو مګرد خبر په وخت په حضرت موسیٰ علیه السلام باندې هغه اثر اونه شو کوم اثرچه په خپلو سترګود لیدلو نه پس اوشو. هم په دې وجه اووئیلې شو شنیده کے بود مانند دیده. حضرت موسیٰ علیه السلام د تحقیر تذلیل او توهین دپاره تختنې نه وې غورزولې بلکه د الله تعالی د دین د غیرت په بنیادباندې په زوره په زمکه باندې کیخودې په کوم سره چه هغه ماتې شوې. حضرت موسیٰ علیه السلام په کوه طورباندې معراج له تلې وو. هلته هغوی ته په تختوباندې لیکلې شوې تورات ملاؤ شو اوهم په هغه ځائی کښې الله تعالی اوخودل چه ستاقوم سامری د سخی په عبادت باندې لګولوسره ګمراه کړې دې. هلته دومره غصه ورنغله مګر چه کله ئی په خپلو سترګو اولیدل نو د غصې په سختوالی کښې ئی تورات په زوره په زمکه کیخودو په کوم سره چه دهغې تختنې ماتې شوې.

---

(١) اخرجه احمد فی المسند: ٢٧١/١

[۲۹] كِتَابُ الْمَنَاقِبِ]

دمناقبو(فضائلو) بیان

اشکال: سوال: ما دکتاب الفتن په شروع کښې دې طرف ته اشاره کړې وه چه بعضې شارحينو اعتراض کړې دې چه صاحب مشکوة دَ کتاب الفتن دَ عنوان لاندې فضائل اومناقب څنګه درج کړی دی؟

داشکال جواب: دکوم ځائی پورې دَ فتن احادیث وی دَهغه ځائی پورې کتاب الفتن شامل دې وړاندې فتن نشته دې بلکه دې نه پس فضائل شروع دی. هلته داهم لیکلې شوی وو چه دَ بعضې شارحینووینا ده چه دلته دکتاب المناقب عنوان وو مګر دکاتبینونه چا دکتاب الفضائل په ځائی باب الفضائل لیکلې دې.

قوله: المناقب:

دمناقب تحقیق: المناقب جمع ده دَدې مفرد منقبة دې. اخلاق حمیده او افعال مرضیه اوصاف عالیه کمالیه باندې دَ منقبت اطلاق کیږي. دَدې ځائی نه تر آخره پورې په ټولو احادیثو کښې هم دغه اوصاف بیانیږی. دَحضورپاك دَمناقب نه واخله تر خلفاء راشدین او ټول صحابه او صحابیات، اهل بیت اوعشره مبشره ﷺ اومختلف قبائل اودَدې امت دَمناقب پورې ټول مناقب دَ دې کتاب المناقب لاندې راځی اوپوره معامله به آسانه شی.

[۱] بَابُ فَضَائِلِ سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ صَلَوَاتُ اللّٰهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ]

د سید المرسلین حضرت محمد ﷺ د فضائلو او مناقبو بیان

خلاصة الباب:

فيه خسمة وثلاثون حديثاً مشتملة على أحد وخمسين فضيلة:

① شرافة نسب نبينا عليه السلام: ۱، ۲، ۱۸.
② كون نبينا عليه السلام سيد ولد آدم: ۳، ۲۱.
③ كون نبينا عليه السلام أول من ينشق عنه القبر: ۳، ۲۱، ۲۵.
④ كون نبينا عليه السلام أول شافع: ۳، ۶، ۹، ۱۵.
⑤ كون نبينا عليه السلام أول مشفع: ۱۲، ۲۲، ۲۴، ۲۵.
⑥ كون نبينا عليه السلام أكثر الناس تبعاً: ۴.
⑦ كون نبينا عليه السلام أول من يقرع ويفتح باب الجنة: ۴، ۵، ۲۲، ۲۵.
⑧ كون نبينا عليه السلام كثيرة المصدقين: ۶.
⑨ كون نبينا عليه السلام خاتم النبيين : ۷، ۱۰، ۲۰، ۲۴،

⑰ كون نبينا عليه السلام هو حبيب الله: ۱۳، ۲۲.
⑱ كون نبينا عليه السلام أكرم الأولين والآخرين : ۲۲.
⑲ كون نبينا عليه السلام قائد المرسلين: ۲۴، ۲۵، ۲۸.
⑳ كون نبينا عليه السلام خطيب الناس: ۲۵، ۲۸.
㉑ كون نبينا عليه السلام متمماً لمكارم الأخلاق: ۳۰.
㉒ كون نبينا عليه السلام ولي إبراهيم عليه السلام: ۲۹.
㉓ كون نبينا عليه السلام أكرم ولد آدم عليه السلام: ۲۲، ۲۵.
㉔ كون نبينا عليه السلام يكسى له الحلة من حلل الجنة: ۲۶.
㉕ كون نبينا عليه السلام يقوم في المقام المحمود يوم القيامة: ۲۶، ۲۷.
㉖ كون نبينا عليه السلام ثقيل على الناس في الوزن: ۳۴.
㉗ كون نبينا عليه السلام صاحب الخصوصيات في بعض الأحكام: ۳۵.
㉘ كون مولد نبينا عليه السلام مكة: ۳۱
㉙ كون مهجر نبينا عليه السلام مدينة: ۳۱
㊿ كون ملك نبينا عليه السلام الشام : ۳۱
51 كون أمة نبينا عليه السلام الحمادين: ۳۱.

دَرسول پاک ﷺ فضائل: صاحب مشکوة رحمه الله دَحضورپاک دَ فضائلو سره متعلق یوځو احادیث دَدې عنوان لاندې درج کړی دی ګنی د نبی ﷺ ذات هغه شخصیت دې چې په هره زمانه کښې د امت عالمانو د نبی ﷺ سره د یو تعلق پیدا کولو په غرض د هغوی په سیرت کتابونه لیکلی دی او روسته به هم دا سلسله جاری وی

د غیر مسلمو په نظر کښې زمونږ پیغمبر: خپل مسلمانان خو لا څه کوئ په غیر مسلمو کښې هغه منصف مزاجه خلق چې تعصب په کښې نه وی د نبی ﷺ په تعریف کښې بخل نه کوی. یوانګریز (هنډرډ من) یعنی په انسانی تاریخ کښې د سل عظیمو شخصیاتو ذکر، خو د دې کتاب ئې د تاریخ په لحاظ سره نه دې مقرر کړې چې څوک اول تیرشوې وی دهغه ذکر ئې اول کړې وی د زمانې په لحاظ سره چې څوک د هغه نه پس تیرشوې وو دهغه ذکرئې کړې دې بلکه د دې کتاب ترتیب ئې د عظمت په اعتبار سره مقرر کړې دې چې د مصنف په نظرکښې څوک د ټولو څه د لوړ مقام خاوند وو نو دهغه سیرت ئې اول لیکلې دې او دغه شان ورپسې څه،نود حیرانتیا خبره دا ده چې هغوی په خپل کتاب

کښې د ټولو څخه اول د نبی علیه السلام ذکر کړې دې او د خپل پیغمبر حضرت عیسی علیه السلام ذکر ئې روسته کړې دې. نوچا عیسائی تری تپوس اوکړو چې د مسلمانانو پیغمبر دې اول ولې ذکر کړې دې هغوی ورته په جواب کښې اووئیل چې د مسلمانانو د پیغمبر دتحریک په نتیجه کښې چې په دنیا کښې کوم انقلاب راغلې دې هغه انقلاب د چا د عوت اوتحریک په نتیجه کښې نه دې راغلې ځکه مې د ټولو څخه اول د مسلمانان د پیغمبرذکر کړې دې.

پنځه اولو العزم پیغمبران: ① دَعلماء کرامو په دې باندې اتفاق دې چه حضورپاک سیدالبشراو سیدولد آدم دې.

② دَحضورپاك نه پس دَحضرت ابراهيم خليل الله علیه السلام مقام دې

③ اوبیادَحضرت موسیٰ علیه السلام مقام دې.

④ بیا دَ حضرت نوح علیه السلام مقام دې

⑤ بیا دحضرت عیسی علیه السلام مرتبه ده.

دا پنځه اولوالعزم انبیاءکرام دی دَدوی نه پس دَتعین دَپاره چه څه نه دی وئیلی نوموږ هم څه نه وایو.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۷۳۹] د حضور صلی الله علیه وسلم خاندانی او نسبی فضل اوشرف

٥٧٣٩-()[۱] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «بُعِثْتُ مِنْ خَيْرِ قُرُونِ بَنِي آدَمَ قَرْنًا فَقَرْنًا، ③ حَتّٰى كُنْتُ مِنَ الْقَرْنِ الَّذِي كُنْتُ فِيهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① و حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② زه یوبل پسې د هرقرن د بني آدمو ښه طبقو کې منتقل کولی شوم ③ ددي پورې چې زه دي موجوده قرن کې پیدا شوم (بخاري)

حل اللغات:- ① بُعِثْتُ: أي: وُلِدْتُ: پیدا کولې شوم، منتقل کولې شوم. ② قُرُونِ: دَ قرن جمع ده دَدې اطلاق په زمانه باندې هم کیږی اودَ انسانانو په یوه طبقه باندې هم کیږی. سل کاله، څلوېښت کاله او اتیا کالو باندې هم دَ قرن اطلاق کیږی. دلته دَ مختلف زمانو مختلف طبقې مراد دی.

تسهیلات:

قوله: بُعِثْتُ مِنْ خَيْرِ قُرُونِ بَنِي آدَمَ قَرْنًا فَقَرْنًا:

دنبی علیه السلام په خیرالقرون کښې بعثت: حضورپاك فرمائی زه په انسانی طبقاتو کښې دَ بهترین طبقو نه راتیرشوې راغلې یم. په کومه طبقه کښې چه پلاران اونیکونه

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب صفة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۳۵۵۷) واحمد فی المسند: ۳۷۳/۲

وو هغه بهترین طبقې وې د چا د ذات او خانداني شرافت وطني عزت او عظمت، تهذیب او متانت، قوت فیصله او بهادري او شجاعت مشهور او معروف وو. زه او هغه خلق د معاشرې بهترین افراد شمیرلې کیدل.

[۵۷٤۰] د حضور ﷺ برګزیدګي

۵۷٤۰-() [۲] ۱ وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ۲ «إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفَى كِنَانَةَ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ، ۳ وَاصْطَفَى قُرَيْشًا مِنْ كِنَانَةَ، ۴ وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ، ۵ وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ. ۶ وَفِي رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ: «إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفَى مِنْ وَلَدِ إِبْرَاهِيمَ إِسْمَاعِيلَ، ۷ وَاصْطَفَى مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ بَنِي كِنَانَةَ».

ترجمه: ۱ او حضرت واثله ابن اسقع رضي الله عنه وايي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ۲ حقيقت دادى چې الله جل جلاله د حضرت اسمٰعيل عليه السلام د اولاد نه كنانه چڼ كړل ۳ او د دې كنانه د اولاد نه يي قريش منتخب كړل ۴ او د قريشو د اولاد نه يي بني هاشم چڼ كړل ۵ او د بني هاشمو كې يي زه چڼ كړم. (مسلم)

۶ او د ترمذي رحمه الله په يوه روايت كې دا الفاظ هم دي چې الله جل جلاله د ابراهيم په اولاد كې اسمٰعيل برګزيده كي ۷ او د اسمٰعيل اولاد كې يي بني كنانه برګزيده كړل.

حل اللغات:- ① اِصْطَفَى: منتخب ئې كړو، چونړ ئې كړو. ② كِنَانَةَ: د خزيمه ځوې دې او د قبيلې نيكه دې (دده د اولاد قبيله دده په نوم مشهوره شوه).

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفَى كِنَانَةَ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ:

د حضور پاک صلى الله عليه وسلم نسب نامه: ملاعلي قاري د رسول الله ﷺ نسب نامه د عدنان پورې ليكلې ده او فرمائيلي دي چه د دې نه زيات بيانول صحيح نه دي. (يعنې په دې كښې اختلاف دې) چنانچه هغه فرمائي: "هُوَ أَبُو الْقَاسِمِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ هَاشِمِ بْنِ عَبْدِ مَنَافِ بْنِ قُصَيِّ بْنِ كِلَابِ بْنِ مُرَّةَ بْنِ كَعْبِ بْنِ لُؤَيِّ بْنِ غَالِبِ بْنِ فِهْرِ بْنِ مَالِكِ بْنِ النَّضْرِ بْنِ كِنَانَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ مُدْرِكَةَ بْنِ إِلْيَاسَ بْنِ النَّضْرِ بْنِ نِزَارِ بْنِ مَعْدِ بْنِ عَدْنَانَ. وَلَا يَصِحُّ حِفْظُ النَّسَبِ فَوْقَ عَدْنَانَ اه." (مرقات).

قوله: مِنْ وَلَدِ إِبْرَاهِيمَ:

دابراهيم عليه السلام دوه ځامن او دهغوى د اولاد سلسله: د حضرت ابراهيم عليه السلام دوه ځامن وو يو حضرت اسحاق عليه السلام وو د انبياء بني اسرائيل سلسله هم د دوى نه روانه شوې

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الفضائل/باب فضل نسب النبى صلى الله عليه وسلم، وتسليم الحجر عليه قبل النبوة (رقم-۱ - (۲۲۷۶) والترمذى فى كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى فضل النبى صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۶۰۵) واحمد فى المسند: ۱۰۷/٤

ده. دويم حضرت اسماعيل عليه السلام وو حضورپاك هم دَدوى په اولاد كښې راغلې دې اوصرف هم حضورپاك در يتيم نبى وو. چنانچه الله تعالى دَ حضرت اسماعيل عليه السلام په اولاد كښې كنانه منتخب كړو اودَ كنانه په اولاد كښې قريش خوښ كړل اودَ قريش په اولاد كښې بنوهاشم خوښ كړو اودَ بنوهاشم نه حضرت محمد ﷺ خوښ كړو او هغوى ئې سيد الاولين والآخرين جوړ كړل.

[۵۷٤۱] د قيامت په ورځ د حضور ﷺ سرداري

٥٧٤١-(١) [٣] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٣] وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ، [٤] وَأَوَّلُ شَافِعٍ، وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [٢] د قيامت په ورځ به زه د ټول اولاد آدم سرداريم [٣] او د ټولو نه مخكې به د قبر نه زه را پاڅيږم [٤] او د ټولو نه مخكې به زه شفاعت كوم او د ټولو نه مخكې ځما شفاعت به قبليږي. (مسلم)

حل اللغات:- ① سَيِّدُ: سردار اومشر چه دَ خپل قوم نه د خير په كارونو او په صفات حميده كښې وړاندې شوې وى، يا داچه په مشكل وخت كښې خلق دده طرف ته رجوع كوى. ② يَنْشَقُّ: أَيْ: يُبْعَثُ: قبريه ئې شليږي يعنى قبرنه به راپاڅولې شى. ③ شَافِعٍ: شفارس كونكې، ④ مُشَفَّعٍ: چه شفارس به ئې قبليږي.

تسهيلات: قوله: أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د نبى عليه السلام څلور خصوصيات: په دې حديث كښې د نبى عليه السلام د خصوصياتو څخه د څلورو خصوصياتو ذكردې.

① د ټولوانسانانو سردارى.

② د ټولوڅخه اول دقبرڅخه راوژندى كيدل.

③ د ټولوڅخه اول شفاعت كونكې.

④ د ټولوڅخه اول د شفاعت اجازت موندونكې.

[۵۷٤۲] دامت محمديه تعداد به د ټولو نه زيات وي

٥٧٤٢-(٢) [٣] [١] وَعَنْ أَنَسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «أَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ تَبَعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٣] وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يَقْرَعُ بَابَ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الفضائل/باب تفضيل نبينا صلى الله عليه وسلم على جميع الخلائق (رقم-٣ - (٢٢٧٨) وابوداود فى كتاب السنة/باب فى التخيير بين الأنبياء عليهم الصلاة والسلام (رقم-٤٦٧٣) والترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦١٥) واحمد فى المسند: ٢/٣

[2]) اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب فى قول النبى صلى الله عليه وسلم: «انا أول الناس يشفع فى الجنة وأنا أكثر الأنبياء تبعًا» (رقم-٣٣١ - (١٩٦)

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷛ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به د پيغمبرانو نه چې د كوم پيغمبر د منونكو تعداد د ټولو نه زيات وي هغه به زه يم [۳] او د جنت دروازه چې د ټولو نه مخكې كوم سړى ټكوي هغه به هم زه يم. مسلم،

حل اللغات:- ① تَبَعًا: د تَابِع جمع ده، أي: أَتْبَاعًا: تابعداری كونكى، متبعين. ② يَقْرَعُ: أي: يَدُقُّ وَيَسْتَفْتِحُ: ټكوى به، كهلاوهى به.

تسهیلات:

قوله: أَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ تَبَعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

په قيامت كې د نبى عليه السلام د امت كثرت: يعنى په قيامت كښې به متبعين او پيروكار دَ ټولونه زيات دَ حضورپاك وى ځكه چه دَ رسول الله ﷺ معجزه قرآن دې اوقرآن دَ عالم دَپاره دَ هدايت ذريعه دې نوتركومې پورې چه كائنات باقى دې قرآن باقى دې. په كوم سره چه به خلق دَ اسلام طرف ته راځى.

دَرسول الله ﷺ ۳۲ مختلف خصوصيات: دَدې باب په دې احاديثوكښې دَ محبوب كبريا مختلف خصوصيات بيان كړې شوى دى. مناسب معلوميږى چه دغه خصوصيات هم دلته يوځائى اوليكلې شى دې دَپاره چه په يادولوكښې آسانى وى. دَ راتلونكى حديث نمبر۹ توضيح هم دا ده.

① حضورپاك دَ ټولونه په ښه طبقه كښې تشريف راوړې.
② دَ ټولو انسانانو سردار شو.
③ دَ حضورپاك متبعين به دَ ټولونه زيات وى.
④ حضورپاك به دَ ټولونه اول دَ خپل قبرنه پاسيږى.
⑤ دَ ټولونه اول شفاعت به حضورپاك كوى.
⑥ دَټولونه اول به دَ جنت دروازه حضورپاك كولاووى.
⑦ حضورپاك خاتم النبيين دې.
⑧ حضورپاك ته دَ قرآن پاك په شكل كښې دائمى معجزه وركړې شوه.
⑨ حضورپاك ته داسې رعب اودبدبه وركړې شوه دَ كوم نه چه به دَ يومياشت په مسافت سره دښمن په رعب كښې پريوتلو.
⑩ پوره زمكه دَ حضورپاك دَپاره جمات جوړكړې شو.
⑪ خاوره ئې دَ حضورپاك دَپاره دَ طهارت دَ تيمم ذريعه جوړه كړه.
⑫ حضورپاك دَ پوره دنيادَ انسانانودَپاره نبى جوړولوسره راؤليګلو.
⑬ حضورپاك ته جوامع الكلم وركړې شو.

⑭ دَغنیمت مال دَ حضورپاك دَ پاره حلال كړې شو.

⑮ حضور پاك ته دَ زمكې دَ خزانو كنجیانې وركړې شوې.

⑯ ټوله زمكه راغونډه كړې شوه او حضورپاك ته اوخودلې شوه.

⑰ دَ كوم ځائې پورې چه حضورپاك اوكتل دَهغه ځائې پورې به ئې حكومت اودین خورېږي.

⑱ حضورپاك ته سرې اوسپینې دواړه قسم خزانې وركړې شوې یعنی دَ فارس اوروم فتح.

⑲ په عام قحط اودَدښمن په عمومي غلبه به دَحضورپاك امت نه تباه كیږي.

⑳ حضورپاك ئې دَعربودَپاره دَ پناه ځائې جوړولوسره اولیګلو.

㉑ دَټولو نه وړاندې حضورپاك ته دَ نبوت انوارات وركړل.

㉒ حضورپاك دَحضرت ابراهیم علیه السلام دَدعاپه نتیجه كښې نبی جوړ كړې راغلې.

㉓ دَحضرت عیسیٰ علیه السلام دَ بشارت په نتیجه كښې راغلو.

㉔ ټول انبیاء كرام اوټول مخلوق به دَ قیامت په ورځ دَ حضورپاك دَجهنډې لاندې راجمع كیږي.

㉕ حضورپاك حبیب الله جوړشوې دې.

㉖ په میدان محشركښې به صرف حضورپاك خطیب وی.

㉗ په قیامت كښې به دَټول مخلوق دَپاره حضورپاك مبشروی.

㉘ په محشركښې به ښه تازه تكړه اوښائسته یوزرخادمان حضورپاك سره وی.

㉙ حضورپاك ته به دَقیامت په ورځ جنتی لباس دَ كرامت اغوستلوسره دَ عرش په خواكې مقام وركولې شی.

㉚ حضورپاك ته به په جنت كښې مقام وسیله ملاویږی.

㉛ حضورپاك ته به خصوصی حوض كوثرملاویږی.

㉜ دَحضورپاك وړاندې روستوټولې خطاګانې معاف شوی دی.

㉝ حضورپاك ته دَ ساختی مونځ وركړې شو.

㉞ كه پوره مخلوق یوطرف ته وی اوحضورپاك بل طرف ته وی نودَحضورپاك وزن به زیات وی.

....

[۵۷۴۳] د جنت دروازه به د ټولو نه مخکې حضور د پاره خلاصه شي

۵۷۴۳-() [۵] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]«آتِي بَابَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَأَسْتَفْتِحُ، [۳]فَيَقُولُ الْخَازِنُ: مَنْ أَنْتَ؟ فَأَقُولُ مُحَمَّدٌ. [۴]فَيَقُولُ: بِكَ أُمِرْتُ أَنْ لَا أَفْتَحَ لِأَحَدٍ قَبْلَكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او حضرت انس ﷛ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲]هر کله چې د قيامت په ورځ د جنت دروازې باندې راشم او هغه به خلاصول غواړم [۳]نو د جنت نګهبان به زما نه پوښتنه وکړي چې تاسو څوك يئ زه به ورته وايم چې زه محمد يم [۴]بيا به نګهبان اووائي چې ماته حکم راکول شوي دي چې ستاسو نه مخکې هيچا د پاره دروازه نه کړم خلاصه. (مسلم)

حل اللغات:- ① فَأَسْتَفْتِحُ: أَيْ: أَطْلُبُ فَتْحَهُ: خلاصول اوبيرته کول به غواړم. ② الْخَازِنُ: دجنت نګرانه فرشته (چونکه جنت دالله تعالى يوه خزانه ده په دې وجه ددې ذمه وارې فرشتې ته خازن اووئيلې شو).

تسهيلات:

قوله: بِكَ أُمِرْتُ أَنْ لَا أَفْتَحَ لِأَحَدٍ قَبْلَكَ:

د نبى عليه السلام دپاره د جنت دروازه بيرته كول: هسې خو د نبى ﷺ بې شميره خصوصيات دى يو خصوصيت په كښې دا هم دې چې د ټولو څخه اول به جنت ته نبى ﷺ داخليږي. اود جنت داروغه رضوان به ورته اووائى چې ماته دا حکم شوې دې چې د جنت دروازه به ستاسو څخه علاوه بل چا دپاره نه کولاوهم.

[۵۷۴۴] د ټولو نه مخکې به حضور ﷺ شفاعت کوي

۵۷۴۴-() [۶] [۱]وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]«أَنَا أَوَّلُ شَفِيعٍ فِي الْجَنَّةِ [۳]لَمْ يُصَدَّقْ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ مَا صُدِّقْتُ، [۴]وَإِنَّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيًّا مَا صَدَّقَهُ مِنْ أُمَّتِهِ إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او حضرت انس ﷛ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲]په جنت کې به د ټولو نه مخکې سفارش کونکى زه يم يعنى خپل امت جنت کې د داخلولو يا د اهل جنت د مراتبو درجات د ترقي سفارش به د ټولو نه مخکې زه کوم [۳]په انبياوو کې چې څومره تصديق ځما شوي دي دومره د بل هيڅ نبي نه دى شوى يعنى ځما د نبوت او رسالت تصديق کونکو اوپه ماباندې دايمان راوړونکو اوايمان لرونکو تعداد د ټولو نه زيات دى دغه شان د ټولو امتونو په مقابله کې ځما د امت تعداد دټولو نه لوى دى [۴]او حقيقت دادى چې انبياوو کې يو نبي داسې هم تيرشوي دي چې د هغه تصديق صرف يوه سړي

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب فى قول النبى صلى الله عليه وسلم: «أنا أول الناس يشفع فى الجنة وأنا أكثر الأنبياء تبعًا» (رقم-۳۳۳ - (۱۹۷) واحمد فى المسند:۳/۱۳۶

[2]) اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب فى قول النبى صلى الله عليه وسلم: «أنا أول الناس يشفع فى الجنة وأنا أكثر الأنبياء تبعًا» (رقم-۳۳۲ - (۱۹۶) واحمد فى المسند:۳/۱۴۰

کړی دی . مسلم

حل اللغات:- ① شَفِيعٍ: أي شَافِعٍ: شفارس کونکي (دخپل امت د گناهگارانو شفارس به کوی چه جنت ته داخل شی) ② لَمْ يُصَدَّقْ : چه تصديق ئې نه دې شوې يعنی ايمان پرې نه دې راوړلې شوې.

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① فِي الْجَنَّةِ: دلته دَ فی حرف دَتعليل دَپاره دې. ای اول شفيع لاجل الجنة ای لدخولها.

② مَا صُدِّقْتُ: دلته مامصدريه دې ای مقدار تصديقی يعنی څومره تصديق چه زما شوې دومره دَ يونبی نه دې شوې.

③ لَمْ يُصَدَّقْ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ مَا صُدِّقْتُ:

د نبی عليه السلام د زياتو مصدقينو وجه : دَدې اصل وجه داده چه دَ باقی پيغمبرانو معجزات دَ وخت وې چه کله به نبی دَدنيانه رخصت کيدونو دَهغې نه پس به دَهدايت سامان نه پاتې کيدو ليکن حضورپاك ته دَ قرآن معجزه ورکړې شوه چه دَقيامت پورې به باقی پاتې وی. په دې وجه به دَ حضورپاك منونکی زيات وی.

[۵۷۴۵] حضور ﷺ خاتم النبيين دی

۵۷۴۵-()[۱] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «مَثَلِي وَمَثَلُ الْأَنْبِيَاءِ كَمَثَلِ قَصْرٍ أُحْسِنَ بُنْيَانُهُ ③ تُرِكَ فِيهِ مَوْضِعُ لَبِنَةٍ، ④ فَطَافَ بِهِ النُّظَّارُ، يَتَعَجَّبُونَ مِنْ حُسْنِ بِنَائِهِ، ⑤ إِلَّا مَوْضِعَ تِلْكَ اللَّبِنَةِ، فَكُنْتُ أَنَا سَدَدْتُ مَوْضِعَ اللَّبِنَةِ، ⑥ خُتِمَ بِيَ الْبُنْيَانُ وَخُتِمَ بِيَ الرُّسُلُ ⑦ وَفِي رِوَايَةٍ: فَأَنَا اللَّبِنَةُ، وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② زما او د نورو ټولو انبياوو مثال د هغه محل په شان دی چې د هغه در و ديوار ډير شاندار او ښه وي ③ ليکن په هغه ديوال کې د يوې خښتې ځاي خالي پاتې شوی وي ④ او هرکله چې خلق د هغه محل چاپيره ګرځيدو سره د عمارت شان وشوکت اود در و ديوار خوشنمائي به هغوئ حيرت کې واچوي ⑤ خو د يوې خښتې په قدر هغه خالي ځاي ليدو سره هغوئ ته به تعجب وي نو د هغه خښتې ځاي ډکونکی زه يم د هغه عمارت تکميل زما ذات دی ⑥ او د انبياوو او رسولانو د سلسلې اختتام په ماشوي دي ⑦ او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې زه هغه خښته يم چې د هغه ځاي خالي اينبودل شوی وو او زه د نبيانو

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب خاتم النبيين صلی الله عليه وسلم (رقم-۳۵۳۵) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب ذکر کونه صلی الله عليه وسلم خاتم النبيين (رقم-۲۱ - (۲۲۸۶) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۱۳) واحمد فی المسند:۱۴۵/۵

سلسله اختتام ته رسونکی یم . (مسلم)

حل اللغات:- ①قَصْرٍ: أي: بِنَـاءٍ مُرْتَفِعٍ: یو عـالی شان محل، ②لَبِنَـةٍ: خښته، ③فَطَـافَ: أي: دَارَ: ګیر چاپیره تري ګرځی، ننداره او نظاره ئې کوی. ④النُّظَّـارُ: ننداره او نظاره کونکی، ⑤سَـدَدْتُ: بندوم به زه (دغه خالی ځائې ځکه چه نبی ﷺ آخری نبی دې) ⑥خُتِمَ: ختم کړې شوې دې (په ما باندې محل او سلسله د پیغمبرانو).

تسهیلات:

قوله: مَثَلِي وَمَثَلُ الْأَنْبِيَاءِ كَمَثَلِ قَصْرٍ أُحْسِنَ بُنْيَانُهُ:

د حضور پاک دَ ختم نبوت مثال: دَ حدیث حاصل دادې چه حضورپاك دَخپل نبوت اختتام دَ یو مثال سره بیان کړې دې. لکه چه نبوت یو نورانی محل دې حضرات انبیاء کرام دَ دې نورانی خښتې او رسول کریم ﷺ دَ دغه نورانی محل آخری خښته ده په کوم چه دَ عمارت پوره والې دَ بنائست دَ نبوت په اعتبار سره اوشو. داحدیث په ختم نبوت باندې واضح دلیل دې چه دَ حضور پاك په زمانه کښې یا دَ حضورپاك نه پس به بل هیڅ یو نبی نه راځی.

امام طیبی رحمه الله فرمائی چه مخکینی ټول انبیاء او رسولانو ته دَ یو داسې مضبوط او شاندار عمارت سره تشبیه ورکړې شوه دکوم په دیوال کښې چه صرف دُ یوې خښتې برابر ځائې خالی پرېخودې شوې وو. دغه ځائې زمونږ نبی کریم ﷺ راتلو سره پوره کړو بیا دَ نبوت دروازه دَهمیشه دَپاره بنده شوه.

[٥٧٤٦] حضور ﷺ خاتم النبيين دی

٥٧٤٦-() [٨] ①وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«مَا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا قَدْ أُعْطِيَ مِنَ الْآيَاتِ مَا مِثْلُهُ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ، ③وَإِنَّمَا كَانَ الَّذِي أُوتِيتُ وَحْيًا أَوْحَى اللهُ إِلَيَّ، ④وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ تَابِعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: ①او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ②انبیاوو کې هریونبي ته دمعجزاتو نه دومره ورکول شوي چې په هغه انسان ایمان راوړل شي ③او کومه معجزه چې ماته حاصله شوه هغه د الله ﷻ وحي ده چې هغه ز ماطرف ته رالیږلي ده او همیشه باقي پاتې کیدونکي ده ④په دي بناء ځما یقین دی چې د قیامت په ورځ به ځما د منونکو تعداد د ټولو انبیاوو د منونکو د تعداد نه زیات وي.

حل اللغات:- ①أُعْطِيَ: ورکړې شوی دی. ②الْآيَاتِ: أي: الْمُعْجِزَاتِ: معجزې، د عام عادت خلاف

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب فضائل القرآن/باب: کیف نزل الوحي. وأول ما نزل (رقم-٤٩٨١) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم إلى جميع الناس. ونسخ الملل بملته (رقم-٢٣٩ - (١٥٢) واحمد فی المسند: ٣٤١/٢

کارونه (چه د پیغمبر نه بغیر دهغې ظهور نه کیږی). ③ وَحْيًا: أَيْ: كَلَامًا مُنَزَّلًا عَلَيَّ: دوحی نه مراد قرآن دې کوم چه د جبرئیل علیه السلام په ذریعه په نبی علیه السلام باندې نازل شوې دې.

تسهیلات:

قوله: مِنْ نَبِيٍّ:

د من نبی ترکیبی حالت: دلته لفظ من زائده دې کوم چه علامه روح المعانی رحمه الله د سیف خطیب په نوم سره یادوی دې د پاره چه ادب په ځائی وی او بې ادبی نه وی ځکه چه دخطیب توره خو په کتو کښې توره ده مګر دکار توره نه ده دغه شان دا حرف دې.

قوله: مِنَ الْآيَاتِ:

د آیات نه مراد: د آیات نه معجزات مراد دی یعنی هرنبی له د هغه د نبی کیدو د دعوی د اثبات د پاره الله تعالی "مافوق العادة" معجزات ورکړی دی.

قوله: مَا مِثْلُهُ:

د مذکوره جملې ترکیب: ما موصوله ده کوم چه د "المقدار الذی" په معنی کښې دې. دې نه پس مثله مبتدا دې او "امن علیه البشر" د دې خبر دې. مبتدا او خبر ملاویدلو سره صله ده د موصول، موصول خپلې صله سره ملاؤ شو د اعطی د پاره مفعول ثانی دې تقدیری عبارت داسې دې یعنی "لیس نبی من الانبیاء الاقد اعطاه الله تعالی من المعجزات الدالة علی نبوته المقدار الذی من صفته انه اذا شوهد اضطر الشاهد الی الایمان به". (مرقات بتغییر یسیر)

قوله: وَإِنَّمَا كَانَ الَّذِي أُوتِيتُ وَحْيًا أَوْحَى اللّٰهُ إِلَيَّ:

قرآن د نبی علیه السلام یوه نه ختمیدونکی معجزه: د حدیث مطلب دادې چه الله تعالی نورو انبیاء کرام علیهم السلام ته هم په دومره مقدار کښې معجزات ورکړی دی په څومره چه خلقو ایمان راوړلې دې یعنی هغه معجزات پخې او دائمی نه وې بلکه چه کله خلقو اوکتلو او په هغې باندې ایمان راوړلو نو معجزه ختمه شوه یا د زیات نه زیات د هغه نبی د ژوندون پورې هغه معجزه باقی پاتې وه لکه ید بیضاء، د موسی علیه السلام همسا، د عیسی علیه السلام دم، د صالح علیه السلام اوښه وغیره دا معجزات د هغه انبیاء کرامو په دنیا کښې د موجودګئی پورې باقی وې بیا ختمې شوې. حضور پاك اوفرمائیل ماته چه کومه معجزه راکړې شوې ده هغه لوستونکې وحی ده کومه چه د قرآن کریم په صورت کښې ده دا معجزه هیڅ کله ختمیدونکې نه ده بلکه دائمی معجزه ده. په دې به خلق ایمان راوړی لهٰذا زما متبعین اوزما د امت خلق به د ټولو نه زیات وی ځکه چه دعوت هم عام دې معجزه هم زنده تابنده کتاب الله دې.

قوله: مَا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا قَدْ أُعْطِيَ مِنَ الْآيَاتِ مَا مِثْلُهُ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ:

د معجزاتو پس منظر: الله تعالى معجزات دزمانې مطابق هرنبي ته ورکړی دی. دکوم نبي په زمانه کښې معاشره اوماحول باندې کوم څيز حاوی اوقابض وو دهغې دماتولو دپاره به نبي ته معجزه ورکړې کيدله.

① دحضرت موسٰی علیہ السلام په زمانه کښې جادو چليدو نودهغوی معجزات يدبيضاء اوعصاء هغه مات کړل.

② دحضرت عيسٰی علیہ السلام په زمانه کښې دطب ډير زور وو نوهغوی ته داحياء اموات وغيره معجزه ورکړې شوه کوم چه طب عاجز کړو.

③ دحضرت صالح علیہ السلام په زمانه کښې پوره نظام دکانړوتراشلوباندې قائم وه نوهغه ته ئې معجزه هم ديوکانړی پيدا شوې اوښې په شکل کښې ورکړه.

د قرآن د مقابلې څخه د فصحاء او بلغاؤ عاجز کيدل: درسول الله ﷺ په زمانه کښې عربيت اودهغې دعالمي فصاحت اوبلاغت دترقئي آسمان ته رسيدلې وو لهذا الله تعالى هغوی ته دقرآن عظيم په شکل کښې هغه فصيح او بليغ کتاب ورکړو کوم چه دعربو دفصحاء دفصاحت لوئي لوئي پولونه په زمکه راګذار کړل اوخاورو سره ئې خاورې کړل. دقريشو کافران کوم چه دفصاحت او بلاغت عالمي دعويدار وو دقرآن پاك ديووړوکی شان سورت مقابله اونه کړې شوه. قرآن پاك هغوی ته يو ځل نه بلکه څو څوځل دمقابله چيلنج ورکړو مګر هغوی زباني مقابله اونه کړې شوه او ميدانونوته راکوز شو په تورو سره ئې مقابله اوکړه ستونه ئې پرې کړل ښځې کونډې کړې بچې يتيمان کړل مګر زباني مقابله ئې اونه کړې شوه. دا ددې خبرې واضح دليل وو چه داد انسان جوړکړې شوې کلام نه دې بلکه درب العالمين کلام دې دکوم دمثال راوړلو نه چه انسان عاجز دې. چنانچه دعربو فصحاؤ سره هغه حروف دفصاحت اوبلاغت اومورنئي ژبې ټول اسباب موجود وو مګر بيانئي هم دغه شان کلام رانوړلې شو. هم په دې تناظر کښې چا وئيلي:

ماتحد اکم به خير الانام   رکب مما ترکبوا الکلام

يعني محمد ﷺ چه په کوم کلام سره تاسو چيلنج کړی يئې هغه کلام هم دغه حروفو نه جوړ دې دکوم نه چه تاسو کلام جوړوئې.

په سورة الكوثر سره د عربو فصحاؤ ته د مقابلې اعلان: يوځل حضرت علي رضی اللہ عنہ دسورت کوثر آيت ﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ۝﴾ ليکلوسره دبيت الله په پرده باندې زوړند کړو اوچيلنج ئې اوکړو چه دې سره داسې مناسب کلام راوړئې اوليکئ چه په لفظي اومعنوی اعتبارسره

مقصود حاصل شي. د عربو فصحاء نه يو بودا سړی ډير سوچ اوفكر نه پس دَماتي خوړلو اعتراف كولو سره اووئيل "والله ماهذا قول البشر" بودا دَ حقيقت اعتراف كولوسره لفاظي خو اوكړه مګر په معنوی اعتبار سره دَ سورت كوثر حقيقت په سوچ كښې هم رانه وستې شو.

[٥٧٤٧] د حضور ﷺ خصائص

٥٧٤٧-(١) [١] ١ وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي ٣: نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ، ٤ وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا ٥ فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَلْيُصَلِّ، ٦ وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ وَلَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي، ٧ وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ، ٨ وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ٢ ماته پنځه داسې څيزونه عطا شوي دي چې زما نه مخكې هيڅ نبي او رسول ته نه دي وركړي شوي ٣ يوخو ماته د هغه رعب په ذريعه نصرت راكړې شوې دې چې د يوې مياشتې د مسافت په لرې والې باندې اثر انداز كېږي ٤ دويم دا چې زمكه زما د پاره مسجد او پاكونكې ګرځول شوې ده ٥ څما د امت هرهغه سړی چې په هغه مونځ واجب وي د مونځ وخت وررباندې راشي كه اوبه نه وي نو تيمم كولو سره دي مونځ وكړي ٦ دريم زما د پاره مال غنيمت حلال وګرځول شو چې زما نه مخكې هيچا د پاره حلال نه وو ٧ څلورم زه د شفاعت عظمٰى عامې مرتبې باندې مشرف شوي يم ٨ او پنځم زما نه مخكې هرنبي خاص طور سره خپل قوم ته ليږل شوی وو حال دا چې زه دزمكې د مخ ټولو خلقو طرف ته راليږل شوی يم. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① نُصِرْتُ: أَيْ: نَصَرَنِي رَبِّي عَلَى أَعْدَائِي: مدد كړې شوې دې زما يعنې زما رب زما د دشمنانو په خلاف زما مدد او نصرت كړې دې. ② الرُّعْبُ: أَيْ بِخَوْفِ الْعَدُوِّ مِنِّي: رُعب داب يعنې زما ددشمن په زړه كښې ئې زما رعب او ويره اچولې ده. ③ مَسْجِدًا: ځاى د مونځ، ④ طَهُورًا: پاكونكې. ددې نه مراد تيمم دې چه پاكې خاورې سره تيمم صرف زما په شريعت كښې جائز دې. مانه مخكښې په هيڅ يو شريعت كښې تيمم جائز نه وو. ⑤ الْغَنَائِمُ: وَهِيَ الْأَمْوَالُ الْمَأْخُوذَةُ مِنَ الْكُفَّارِ: كوم مال چه د كافرانو نه واخستلې شي هغې ته وائي يعنې غنيمتونه.

تسهيلات:

د بعضې مشكلو جملو وضاحت:

① أُعْطِيتُ خَمْسًا: په حديث الباب كښې دَ پنځو عدد دَ حصر دَپاره نه دي بلكه مطلب دادې

---

[١] اخرجه البخاري في كتاب التيمم (رقم-٣٣٥) ومسلم في كتاب المساجد/باب ومواضع الصلاة (رقم-٣ - (٥٢١) والنسائي في كتاب الغسل والتيمم/باب التيمم بالصعيد (رقم-٤٣٢)

چه دا پينځه خصوصيات داسې دي چه زما نه علاوه بل چاته نه دي ملاؤ شوي.

③ طَهُورًا: بعضې حضراتودَدې مطلب دا هم بيان کړې دې چه دَ مخکينو امتونودَپاره ترهغه وخته پورې په يوځائې دَ مونځ کولو اجازت نه وو شوې ترکومې پورې چه به دَ هغه ځائې دَ پاکيدو يقين نه کيدلو خودَ امت محمديه دَ پاره چه ترکومې پورې دَ ناپاکه کيدو يقين نه وي په هرځائې کښې دَمونځ کولو اجازت دې بغيردَ بعضې مقاماتو نه چه هلته هم دَ څه عارضې دَ وجې نه دَ مونځ کولو اجازت نشته دکوم تفصيل چه تيرشوې دې.

④ نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ: دَ "رعب" معنى فزع او ويره ده يعنى چه کوم دښمن ماسره جنګ کولو دَپاره راشي دغه وخت هغوى زمانه دَ يوې مياشتې په مسافت باندې لرې وي چه زما رعب په هغوى باندې خور شي او هغوى زما نوم اوريدو سره په ړچيدو شي. اودَ ويرې دَ وجې نه تختي اوکه چرته هغوى جنګ هم کوي نو مرعوب کيدو سره ئې کوي.

④ وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا: مطلب دا چه مخکينو امتونوته دَ عبادت دَپاره دَ مخصوص مقاماتو نه علاوه چرته دَ مونځ کولو اجازت نه وو ليکن الله پاك دَ امت محمديه دَ آسانئې دَپاره حمام، قصاب خانه اومقبرې نه علاوه هر ځائې کښې دَمونځ کولو اجازت ورکړې دې.

⑤ وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ: په مخکينو اديانوکښې مال غنيمت دَ نبي سره دَ چا دَپاره هم حلال نه وو بلکه دَغنيمت مال به په يو اوچت ځائې باندې کيخودې شو که په هغې کښې به لږ شان غبن وو نو غيبي اور به هغه نه خوړلو اوکه غبن به نه وو نوغيبي اور به هغه خوړلو. خو زمونږ په شريعت کښې دَ غنيمت مال دَامت محمديه دَپاره حلال دې اودَ نبي کريم ﷺ دَ پاره هم خمس او صفي اخستل جائز دي. ملاعلى قاري رحمه الله فرمائي په هغه زمانه کښې دَ غنيمت مال سوزولو کښې داحکمت وو چه دَ خلقو په جهادکښې نيت صحيح پاتې شي او په جهادکښې دَ اخلاص مرتبه باقي پاتې وي.

⑥ وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ: الف لام عهدى دې يعنى ماته عام شفاعت راکړې شو داسې بل يو نبي ته نه دې حاصل.

⑦ وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً: اوزما راليږل دَ ټولو خلقو دَپاره اودَ قيامت پورې دي اودَ مخکينو انبياء کرامو بعثت دَ خاص کسانو خاص علاقې او خاص زمانې دَ پاره وو.

۵۷۳۸-() [۱۰] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ②: «فُضِّلْتُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ: ③أُعْطِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ، ④وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ، ⑤وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ، ⑥وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا، ⑦وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً، ⑧وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّونَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1]) اخرجه مسلم في كتاب المساجد/باب ومواضع الصلاة (رقم-۵ - (۵۲۳) واحمد في المسند:۴۱۲/۲

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢] ماته د شپږ مخصوص څيزونو په ذريعه نورو انبياوو باندې فضيلت راکول شوي دي [٣] ماته جامع کلمات راکړي شو [٤] د دښمنانو په زړه کې د رعب اچولو په ذريعه ماته فتح او نصرت راکړي شو [٥] مال غنيمت زما د پاره حلال شو [٦] ټوله زمکه زما د پاره مسجد او پاکونکې وګرځول شوه [٧] ټول مخلوق د پاره زه نبي راوليږل شوم [٨] او د نبوت او رسالت سلسله په ما ختمه شوه . (مسلم)

حل اللغات:- ① فُضِّلْتُ: فضيلت راکړې شوې دې ماته، ② جَوَامِعَ الْكَلِمِ: هِيَ الْكَلِمَاتُ الْيَسِيرَةُ الْمَعَانِيَ الْكَثِيرَةَ: چه الفاظ ئې کم وي خو معانی ئې ډيرزيات وي، يعنی الفاظو ئې کم وي خو دَ دين حکمتونه، احکام او دَ هدايت خبرې، مذهبي اودنياوی امورو سره متعلق نور څيزونه پکښې ډير وي. ③ كَافَّةً: ټولو دپاره (په دې کښې جن وانس، ملائک، حيوانات او جمادات ټول شامل دی).

تسهيلات:

قوله: أُعْطِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ:

د جوامع الکلم نه مراد: دې نه مراد دَ دين حکمتونه، احکام او دَ هدايت خبرې، مذهبی اودنياوی امورو سره متعلق نور څيزونه دَ بيانولو ماته يو مخصوص اسلوب راکړې شو يعنی ماته دَ الفاظو دَ مختصرکولو طاقت راکړې شوې دې چه زه په کمو الفاظو کښې دَجامع،مانع معانی اظهارکوم اودَدې اسلوب خصوصيت دادې چه «إنما الأعمال بالنيات، الدين نصيحة» دَدې په شان ډيرزيات احاديث دی په کوم کښې چه جملې خو ورې وی مګر ټول شريعت او طريقت په هغې کښې پروت وی. دا رنګ په شرح السنه کښې ونيلی شوی دی چه دَ جوامع الکلم نه مراد قرآن کريم دې. الله پاک په خپل لطف اوکرم سره په الفاظو کښې بې شميره معانی او احکام جمع کړی دی.

قوله: وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً:

د خلق نه مراد: "خلق" نه مراد ټول مخلوق دې که هغه ساه والا وی اوکه بې ساه والا وی. که عاقل وی اوکه غيرعاقل په ټولو باندې دَ رسول الله مبارک دَنبوت احکام نافذ کيږی. اودا جدا خبره ده چه احکام دَ هر مخلوق دَپاره جدا جدا دی.

[٥٧٤٩] حضور ﷺ د پاره د خزانو چابيانې

٥٧٤٩ - ( )[١] [١] وَعَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ [٢]: «بُعِثْتُ بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ، [٣] وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ، [٤] وَبَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي أُتِيتُ بِمَفَاتِيحِ خَزَائِنِ الْأَرْضِ فَوُضِعَتْ فِي يَدِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير/باب قول النبی صلی الله عليه وسلم: «نصرت بالرعب مسيرة شهر» (رقم-٢٩٧٧) ومسلم فی کتاب المساجد/باب ومواضع الصلاة (رقم-٦ - (٥٢٣) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: وجوب الجهاد (رقم-٣٠٨٧) واحمد فی المسند:٢/٣٧١.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] زه جامع كلماتو سره مبعوث شوى يم [۳] د رعب په ذريعه ماته نصرت راكړي شوي دي [۴] او يوه ورځ هركله چې زه اوده وم نو ما په خوب كې وليدل چې د زمكې د خزانو چابياني ماته راكولو د پاره راوړل شوي او څما په مخكې پيش شوي. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: وَبَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي أُتِيتُ بِمَفَاتِيحِ خَزَائِنِ الْأَرْضِ:

د بمفاتيح خزائن الارض په مفهوم كښې دوه اقوال: ① دَدې كلام نه مقصود دادې چه دا ټولې علاقې به فتح كيږى زما متبعين صحابه او تابعين به دا علاقې فتح كوى اوخزانې به حاصلوى.

② دا چه دَ دغه مفتوحه علاقو معدنيات به دوى ته ملاويږى. چنانچه دا پيشنګوئي رښتيا ثابته شوه اودَ مشرق اومغرب اكثر علاقې دَحضرت عمر رضي الله عنه اوحضرت عثمان رضي الله عنه په دور كښې اودَدې نه پس دَ تابعينو دَ خلفاؤ په لاسونوكښې راغلې. نن صباهم دَمعدنيات اكثرخزانې دَمسلمانانوپه لاس كښې دى اوكه چرې مسلمان حكمرانان جهاد اوكړى نوټولې خزانې به دَهغوى لاسونوته راشي اودَ مشرق اومغرب بلكه دَ ټولې دنيا مالكان به جوړشي. راتلونكې روايت او نور يوځو رواياتو تشريح اوتوضيح هم دغه شان ده.

[۵۷۵۰] امت محمديه د پاره خصوصي عنايات ربّاني

۵۷۵۰-(۱) [۳] [۱] وَعَنْ ثَوْبَانَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِنَّ اللهَ زَوَى لِيَ الْأَرْضَ، [۳] فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا، [۴] وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا، [۵] وَأُعْطِيتُ الْكَنْزَيْنِ: الْأَحْمَرَ وَالْأَبْيَضَ، [۶] وَإِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي أَنْ لَا يُهْلِكَهَا بِسَنَةٍ عَامَّةٍ، [۷] وَأَنْ لَا يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحَ بَيْضَتَهُمْ،

ترجمه: [۱] او حضرت ثوبان رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] الله جل جلاله زما د پاره ټوله زمكه راغونډه كړه يعنى هغه راټولولو سره د يو تلى (هتهيلى) يي برابر كړه او بيايي ماته و خودى [۳] نو ما مخ د زمكې د مشرق نه مغرب پورې اوليدلو [۴] او زه په يقين سره ويلى شم چې څما امت به ډير نزدې په مخ د زمكې د هغه ټولو علاقو بادشاهي سره سرفراز شي چې راټولولو سره ماته ښودل شويدي [۵] او دا هم حقيقت دى چې ماته سرخ وسفيد سرې او سپينې دوه خزانې راكړي شوى وى دى [۶] او ماځپل پروردګار ته التجاء

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب هلاک هذه الأمة بعضهم ببعض (رقم-۱۹ - (۲۸۸۹) وابوداود فى كتاب الترجل /باب ذكر الفتن ودلائلها (رقم-۴۲۵۲) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى سؤال النبى صلى الله عليه وسلم ثلاثًا فى أمته (رقم-۲۱۷۶) وابن ماجه فى كتاب الفتن/باب ما يكون من الفتن (رقم-۳۹۵۲)واحمد فى المسند:۲۷۸/۵

وکړه چې څما د امت خلق عام قحط سره مه وژنه يعنی داسې قحط مه پـه مسلط کـوه چې په هغه کې مبتلا کيدو سره پوره امت هلاك شي ⑦او داچې څما امت باندې د مسلمانانو نه علاوه څوك غير مسلم مسلط مه کړې چې د هغوئ اجتماعيت او د ملي نظام پـه مرکز قبضه وکړي

حل اللغات:- ①زَوَىٰ:أَيْ: جَمَعَ: راټوله کړې ئې ده، ②سَيَبْلُغُ: اوبه رسيږی، حاصل به کړی، ③الْكَنْزَيْنِ: د كنز تثنيه ده، دوه خزانې، ④الْأَحْمَرَ: سور (ددې نه مراد د کسری خزانې دی چه دهغوی زيات تر استعمال سره زردی). ⑤الْأَبْيَضَ: سپين (ددې نه مراد د قيصر خزانې دی چه دهغوی اکثر استعمال سپين زر دی).

①وَإِنَّ رَبِّي قَالَ ②: يَا مُحَمَّدُ إِنِّي إِذَا قَضَيْتُ قَضَاءً فَإِنَّهُ لَا يُرَدُّ، ③وَإِنِّي أَعْطَيْتُكَ لِأُمَّتِكَ أَنْ لَا أُهْلِكَهُمْ بِسَنَةٍ عَامَّةٍ، ④وَأَنْ لَا أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحَ بَيْضَتَهُمْ، ⑤وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ بِأَقْطَارِهَا ⑥حَتَّى يَكُونَ بَعْضُهُمْ يُهْلِكُ بَعْضًا، وَيَسْبِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او څما رب وفرمايل ②اې محمده! هرکله چې زه د يوې خبرې فيصله وکړم نو هغه بدليدی نشی ③او زه ستا د امت په حق کې تاته خپل دا عهد او فيصله درکوم چې مسلمانان به نه خو عام قحط کې هلاك کړم ④او نه به خپله د هغوئ نه علاوه څه بل دښمن باندې مسلط کړم چې د هغوئ اجتماعيت او د ملي نظام پـه مرکز قبضه وکړي ⑤که څه هم هغه مسلمانانو باندې په مخ د زمکې غير مسلم دښمن راجمع کيدو سره حمله آور شي ⑥خو داچې ستا د امت خلق به خپلو کې يو بل قتلوي او يو بل به د قيد وبند تکليفونو کې اچوي. (مسلم)

حل اللغات:- ⑥بِسَنَةٍ: أَيْ: بِقَحْطٍ: قحط سالی، اوچ کالی. ⑦عَامَّةٍ: أَيْ: شَائِعٍ لِجَمِيعِ بِلَادِ الْمُسْلِمِينَ: عام قحط چه د مسلمانانو ټول ښارونه پکښې اخته شی، او تباهئ سبب جوړ شی. ⑧فَيَسْتَبِيحَ: أَيْ يَسْتَأْصِلَهُمْ: چه د بيخه ټول هلاک کړی (حلال ګڼړلو سره تباه کول مراد دی.) ⑨بَيْضَتَهُمْ: أَيْ: مُجْتَمَعَهُمْ مَوْضِعَ سُلْطَانِهِمْ: د بيضة نه مراد د بادشاهت او سلطنت ځائې مراد دې يعنی مرکز د مسلمانانو او مرکز د دين دمسلمانانو. ⑩بِأَقْطَارِهَا: د قُطر جمع ده، أَيْ: بِأَطْرَافِهَا: اطراف او اړخونه د زمکې مراد دی ⑪يَسْبِي: أَيْ: يَأْسِرُ: قيد کړی يو بل لره.

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

①زَوَىٰ: دَ زمکې دَ راغونډولو او مشرق اومغرب خودلونه مراد هم دغه فتوحات دی. دسرو اوسپينو خزانونه مراد سره زر اوسپين زر دی.

②بَيْضَتَهُمْ: بيضه مرکزی مقام تـه وائی. مرکزيت اجتماعيت او انتظامی ملی نظام مراددې چه دا به دښمن ذره ذره کولې نه شی.

④وَإِنِّي أَعْطَيْتُكَ لِأُمَّتِكَ أَنْ لَا أُهْلِكَهُمْ بِسَنَةٍ عَامَّةٍ:

دامت محمدی د حفاظت دپاره د دوؤ څیزونو وعده:

په دې حديث كښې الله تعالى دَحضورپاك دَامت حفاظت اودَامن اوسلامتيادَپاره دَ دوه څيزونو وعده فرمائيلې ده.

① لَا أُهْلِكَهُمْ بِسَنَةٍ عَامَّةٍ: چه عام اولګه تنده او اوچ كالئ سره به دا امت نه شي هلاك كولې.

② لَا أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا: چه دَاسلام دښمنان به په دوى باندې داسې نه شي مسلط كولې چه دَدوى مركزيت او دَ سلطنت بنياد ختم كړى سره دَدې چه دَټولې دنيا دښمنان راجمع شي. اوكه په خپل مينځ كښې اوجنګيږى او دَ بهر نه دښمن راشي اودَهغوى مركزيت ختمول غوارى نوهغه يوه جدا خبره ده. په دې حديث سره معلومه شوه چه دې امت ته دَ خپل مينځ اختلاف او نفاق نقصان رسولې شي كوم چه دَ پوره دنياكافران نه شي وررسولې.

[۵۷۵۱]د خپل امت په حق کې د حضور ﷺ هغه دعا چه قبوله نه شوه

۵۷۵۱-()[۳]①وَعَنْ سَعْدٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-②«أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-مَرَّ بِمَسْجِدِ بَنِي مُعَاوِيَةَ، ③دَخَلَ فَرَكَعَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّيْنَا مَعَهُ، ④وَدَعَا رَبَّهُ طَوِيلًا، ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ: ⑤سَأَلْتُ رَبِّي ثَلَاثًا، فَأَعْطَانِي ثِنْتَيْنِ، وَمَنَعَنِي وَاحِدَةً، ⑥سَأَلْتُ رَبِّي أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالسَّنَةِ، ⑦فَأَعْطَانِيهَا، وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالْغَرَقِ فَأَعْطَانِيهَا، ⑧وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يَجْعَلَ بَأْسَهُمْ بَيْنَهُمْ فَمَنَعَنِيهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت سعد ﷺ بيان كوي يوه ورځ رسول الله ﷺ د انصارو ②د يوي قبيلي بني معاويه د مسجد نه نزدې تير شو ③نو دننه مسجد ته يي تشريف راوړى او هلته يي دوه ركعاته مونځ وكى په دې ما نځه كې حضور ﷺ سره مونږ هم شريك وو ④د ما نځه نه وروسته حضور ﷺ خپل پروردګار نه ډيره اوږده دعا وغوښتله يعنى ډير وخته پورې دعا كې مصروف وو بيا چې مونځ او دعا نه فارغه شو نو مونږ ته متوجه كيدو سره يي وفرمايل ⑤مانن خپله دعاكي دخپل پروردګار نه دري څيزونه غوښتلي وه په هغه كې دوه څيزونه خوماته عطاسو او د يوشي منع وشوه ⑥د يو شي درخواست ما داكړى وو چې ځما امت دعام قحط په وجه هلاك نشي او ځما دا درخواست قبول شو ⑦اوما درخواست وكړو چې زماامت په غرقيدو سره مه هلاك كوه يعنى څرنګه چې د فرعون قوم دريائي نيل كې غرق كيدو سره هلاك شو يا د نوح قوم د اوبو په طوفان كې مبتلا كيدو سره نيست ونابود شو دغه شان ځما امت په دي اوبو كي غرق يده سره هلاك نشي او ځما دا درخواست هم قبول شو ⑧دريم درخواست داوو چې ځما د امت خلق په

[1]) اخرجه مسلم فی كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب هلاک هذه الأمة بعضهم ببعض (رقم-۲۱ - (۲۸۹۰) واحمد فی المسند:۱۸۲/۱

خپلو کې دست وګريبان په جنګ نه وي يعنی مسلمان د مسلمان سره دي په جنګ نه وي او په خپلو کې دي د يوبل خلاف محاذ آرائي نه کوي ليکن څما دا درخواست قبول نه شو. (مسلم)

حل اللغات:- ① الْغَرَقِ: ددې نه عام غرقيدل مراد دی چه په يوخل ټول په غرق شی لکه فرعونيان يا قوم د نوح علیہ السلام چه هلاک شوی وو. ② بأسهم: أي: حربهم: خپل مينځ کښې د يوبل سره جنګ جګړې کول.

تسهيلات:

قوله: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَرَّ بِمَسْجِدِ بَنِي مُعَاوِيَةَ:

د نبی علیه السلام درې دعاګانې غوښتل: بنومعاويه دَ انصار مدينه دَ يوې قبيلې نوم دې. رسول الله ﷺ يوه ورځ دغه قبيلې ته تشريف يوړو. دَهغوی په جمات کښې حضورپاك دَتحية المسجد دوه رکعته نفل اوکړل او صحابه کرامو ﷺ هم څان څانله دَتحية المسجد نوافل اوکړل. بيا رسول الله ﷺ سلام ګرځولو سره يو اوږده دعا اوکړه. الله تعالی رسول الله ﷺ ته دَ دوو خبرومتعلق دَ دعا غوښتلو اجازت ورکړو اوهغه دعاګانې قبولې شوې. خودَ دريمې خبرې متعلق دَ دعا غوښتلو اجازت ئې ورنه کړو. دې نه معلومه شوه چه بعضې وخت به دَ انبياء کرامو دعا هم نه قبليدله کيدې شی چه دَ نه قبليدو نه مراد په هغه وخت فوری نه قبليدل وی.

اشکال: دَ حضورپاك دَامت په حق کښې دوه دعاګانې قبولې شوې يو په قحط کالئی کښې دَ اخته کيدو نه بچ کيدل اودويمه دَ غرقيدو نه بچ کيدل ليکن مونږ خو ګورو چه خلق په قحط کالئی کښې راګيرېږی اودغه شان په سيلاب وغيره کښې غرقيږی هم نودا دَ حديث الباب خلاف دی؟

د اشکال جواب: دَ حضورپاك دَ دعا دَقبليدو مطلب دادې چه پوره امت به په اجتماعی توګه باندې په قحط او غرقيدو کښې نه راګيرېږی. په دې وجه بعضې ځايونو کښې دَ قحط او دَ غرقيدو وجې نه هلاکيدل په انفرادی توګه باندې دی لهذا هيڅ اشکال باقی پاتې نه شو.

[٥٧٥٢] په تورات کې د حضور ﷺ د اوصافو ذکر

٥٧٥٢-(١) [٣] ①وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ②: لَقِيتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قُلْتُ③: أَخْبِرْنِي عَنْ صِفَةِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي التَّوْرَاةِ، ④قَالَ: أَجَلْ، وَاللّٰهِ إِنَّهُ لَمَوْصُوفٌ فِي التَّوْرَاةِ بِبَعْضِ صِفَتِهِ فِي الْقُرْآنِ⑤: ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا﴾ [الأحزاب: ٤٥] ⑥وَحِرْزًا لِلْأُمِّيِّينَ،

[١] اخرجه البخاری فی کتاب البيوع/باب کراهية السخب فی السوق (رقم-٢١٢٥) [illegible] مسند: ١٧٤/٢

توجمه: [۱] او حضرت عطاء ابن یسار مشهور جلیل القدر تابعي وايي [۲] زه د حضرت عبد الله بن عمرو ابن العاص رضي الله عنه په ملاقات مشرف شوم هغوئ ته مي عرض وکړو [۳] چې (د یهودیانو آسماني کتاب) په تورات کې د رسول الله ﷺ د کومو صفاتو او خصوصیاتو ذکر دی د هغه په باره کې ماته څه ښایي [۴] حضرت عبد الله رضي الله عنه وفرمایل ضرور به درته وښایم قسم په الله په تورات کې د حضور ﷺ د بعضې هغه صفاتو او خصوصیاتو ذکر دی چې په قرآن کریم کې مذکور دی [۵] الله جل جلاله چې په تورات کې د حضور ﷺ کوم صفات او خصوصیات ذکر کړي دي هغه په خپله ژبه او خپل اسلوب کې داسې بیا کیدی شي چې اې نبي ! مونږ ته د اهل ایمانو شاهد د اجر وانعام خوشخبري ورکونکی د عذاب وعتاب نه بیرونکی [٦] او امیانو ته پناه ورکونکی جوړولو سره لیږلی يي.

حل اللغات:- ① أَجَلْ: هُوَحَرْفٌ يُصَدَّقُ بِهَا الْخَبَرُخَاصَّةً: په د ې سره د یوخاص خبرې تصدیق کولی شی، ددې معنی ده: أَيْ: نَعَمْ أُخْبِرُكَ: ښه بیانوم درته، ② شَاهِدًا: ګواه (په خپل امت باندې)، یا مشاهده کونکې د قدرتونو د الله تعالی، ③ مُبَشِّرًا: أَيْ: لِلْمُؤْمِنِينَ بِالْمَثُوبَةِ: زیرې ورکونکې (مسلمانانو ته د ثواب د نیکو اعمالو). ④ نَذِيرًا: أَيْ: مُنْذِرًا وَمُخَوِّفًا لِلْكَافِرِينَ بِالْعُقُوبَةِ: ویرونکې (کافرانو لره په عذاب سره). ⑤ حِرْزًا: أَيْ: حِصْنًا: پناه ورکونکې، بچ کونکې. محافظ. ⑥ لِلْأُمِّيِّينَ: انپړه چه نه لیکل کولې شی اونه په لیکلو پوهیږی (اکثر عرب دغسې وو ځکه ورته امیان اووئیلی شو، یا ام القرٰی ته منسوب کیدوپه وجه، یا په دې وجه چه پیغمبر دهغوی اُمی وو ځکه ورته امیان اووئیلی شو).

[۱] أَنْتَ عَبْدِي وَرَسُولِي، سَمَّيْتُكَ الْمُتَوَكِّلَ، [۲] لَيْسَ بِفَظٍّ وَلَا غَلِيظٍ وَلَا سَخَّابٍ فِي الْأَسْوَاقِ، [۳] وَلَا يَدْفَعُ بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ، وَلٰكِنْ يَعْفُو وَيَغْفِرُ، [۴] وَلَنْ يَقْبِضَهُ اللهُ حَتّٰى يُقِيمَ بِهِ الْمِلَّةَ الْعَوْجَاءَ بِأَنْ يَقُولُوا: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، [۵] وَيَفْتَحُ بِهَا أَعْيُنًا عُمْيًا وَآذَانًا صُمًّا وَقُلُوبًا غُلْفًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

توجمه: [۱] اې محمد ! ته ځما بنده يي چې د عبودیت او بندګي هغه خاص مرتبه خاص تاته حاصله ده چې بل چاته نصیب نه ده ته بنده ګانو طرف ته لیږل شوي ځما خاص رسول يي ما ستا نوم متوکل ایښی دی یعنی تاته د توکل او اعتماد هغه دولت عطا شوي دي چې بل چاته نه دی حاصل په دي بناء ته خپل معاملاتو او مهماتو کې خپل طاقت او صلاحیت باندې د اعتماد کولو په ځای صرف ځما ذات او ځما حکم باندې بهروسه لره [۲] نه خوته بدخویه يي نه سخت ګیرا ونه سخت زړه يي او نه بازارونو کې شور کونکی يي [۳] په تورات کې داهم بیان شوي دي چې هغه محمد به په بدی سره بدي نه لري کوي یعنی هغه به څان سره بدي کونکی نه بدل انتقام نه اخلي او هغه ته به سزا نه ورکوي بلکه معافي به ورته کوي او احسان به ورباندې کوي چې بدي کونکي د پاره به دعائي مغفرت

کوي ۴ او الله ﷻ به د محمد روح هغه وخته پورې نه قبض کوي ترڅو پورې چې د هغوئ په ذريعه کَج رو او ګمراه قوم په سيده لار رانه ولي داسې چې د قوم خلق به اعتراف او اقرار وکړي چې الله ﷻ نه ماسوا بل معبود نشته ۵ او ترهغه وخته پورې به د هغوئ روح نه قبض کېږي د څوپورې چې د الله ﷻ د کلمه طيبه لااله الا الله په ذريعه ړندي سترګي کاڼه غوږونه او بې حِس زړونه درست نه کړي دا روايت بخاري د عطاء ابن يسار نه نقل کړی دی،

حل اللغات:-⑦الْمُتَوَكِّلَ: ډير زيات توکل او اعتماد کونکې (په الله تعالى باندې). ⑧لَيْسَ بِفَظٍّ: أي لَيْسَ بِسَيِّءِ الْخُلُقِ أَوِالْقَوْلِ: بد اخلاقه او بد ژبانه نه ئې، ⑨غَلِيظٍ: أي غَلِيظِ الْقَلْبِ: سخت زړه، يا بدخويه، بدکاره، ⑩سَخَّابٍ: أي: صَيَّاحٍ: چغې وهونکې، شور کونکې، ⑪يُقِيمَ: قائم کړی، نيغ کړی (يعنی په سمه لارئې کړی). ⑫الْمِلَّةَ: قوم، امت (ملت ابراهيمی مراد دې) ⑬الْعَوْجَاءَ: کَج رو، ګمراه او بې دينه خلق، ⑭أَعْيُنًا: د عين جمع ده، سترګې، ⑮عُمْيًا: د أَعْمَى جمع ده، ړندې، نابينا. ⑯آذَانًا: د أُذُنٍ جمع ده، غوږونه، ⑰صُمًّا: د أَصَمّ جمع ده، کڼې، ⑱قُلُوبًا: د قلب جمع ده، زړونه، ⑲غُلْفًا: د أَغْلَف جمع ده، پرده.

٥٧٥٧- ١ وَكَذَا الدَّارِمِيُّ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ سَلَامٍ، نَحْوَهُ. ٢ وَذَكَرَ حَدِيثَ أَبِي هُرَيْرَةَ: نَحْنُ الْآخِرُونَ فِي بَابِ الْجُمُعَةِ.

ترجمه: ١ او داحديث دارمي هم د عطاء ابن يسار نه نقل کړی دی البته دارمي کې د عطاء ابن يسار داروايت د عبد الله ابن عمرو ابن العاص په ځاي عبد الله ابن سلام ؓ نه منقول دی ٢ او د حضرت ابوهريره ؓ هغه روايت چې د حضور ﷺ د فضائلو متعلق دی او د هغه ابتداء نحن الآخرون الفاظو نه کېږي باب الجمعه کې نقل شوي دي.

حل اللغات:- ①الْآخِرُونَ: ډېولو نه آخر کښې يعنی روسته راتلونکی (په دنيا کښې).

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت،

① وَحِرْزًا: يعنی حضورپاك الله تعالى دَ عربودَپاره دَ پناه ځائی جوړکړو مضبوط جوړکړو په کوم کښې چه دَ شيطان دَ اغوا يا عجم دَ غلبه نه عرب خلق محفوظ پاتې شي.

② وَلَا سَخَّابٍ: بازارونوکښې دَ بداخلاقئی دَ وجې نه چغې صورې وهلو په معنی کښې دې. دې کښې ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ﴾ طرف ته اشاره ده.

③ الْمِلَّةَ الْعَوْجَاءَ: دَملت ابراهيمی هغه صورت مراد دې کوم چه دَ مکې مشرکانو کوګ جوړکړي وو. رسول الله ﷺ هغه نيغ کړو اودَدين اسلام په شکل کښې پيش کړو. والحمدلله علی ذلك.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٥٧٥٤] د مسلمانانو د پاره د حضور ﷺ درې دعاګانې

٥٧٥٥-() [٥] [۱] عَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَاةً، [۲] فَأَطَالَهَا. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ أَصَلَّيْتَ صَلَاةً لَمْ تَكُنْ تُصَلِّيهَا، [۳] قَالَ: (أَجَلْ، إِنَّهَا صَلَاةُ رَغْبَةٍ وَرَهْبَةٍ، [۴] وَإِنِّي سَأَلْتُ اللهَ فِيهَا ثَلَاثًا فَأَعْطَانِي اثْنَتَيْنِ وَمَنَعَنِي وَاحِدَةً، [۵] سَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِسَنَةٍ فَأَعْطَانِيهَا،

ترجمه: [۱] حضرت خباب بن ارت ؓ وايي يوه ورځ رسول الله ﷺ مونږ ته مونځ راكړ [۲] او هغه يې خلاف معمول كافي اوږد كړ مونږ ما نځه نه فارغيدو نه وروسته عرض وكړو يارسول الله! نن خو تاسو دومره اوږد مونځ راكړ چې دومره خو هيڅ كله نه وو راكړى [۳] وي فرمايل هو دا مونځ ډير زيات اوږد په دي وجه شو چې دا د اميد وخواهش اود خوف ودهشت مونځ وو يعني د دې ما نځه په دوران كې الله ﷻ نه مې څه دعاګاني غوښتلي او چيرته چې د هغه دعاګانو د قبوليت اميد وو هلته د عدم قبوليت نه قبليدو خوف هم وو ځكه زه ډير زيات خشوع وخضوع او عرض والتجا كې مصروف وم چې هغه سره پوره مونځ ډير طويل اوږد شو [۴] حقيقت دادى چې ما ما نځه كې د دريو خبرو التجاء وكړه درخواست مې وكړي هغه كې دوه ماته راكړي شوي او يوه نه انكار وشو [۵] ما الله ﷻ ته يوه التجاء خو دا كړي وه چې هغه ځما امت په عام قحط يا داسې څه آفت او بلاكې مبتلا نه كړي چې هغه سره پوره امت تباه او هلاك شي ځما دا التجاء پوره شوه

حل اللغات:- ① رَغْبَةٍ: أَيْ: رَجَاءٍ: اميد ، خواهش (د ثواب) ② رَهْبَةٍ: أَيْ: خَوْفٍ: ويره (د الله تعالى نه، يا د عذاب دهغه نه).

[۱] وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ غَيْرِهِمْ، [۲] فَأَعْطَانِيهَا [۳] وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُذِيقَ بَعْضَهُمْ بَأْسَ بَعْضٍ فَمَنَعَنِيهَا» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] دويمه التجاء دا وه چې مسلمانانو باندې څه داسې غير مسلم دښمن مسلط نشي چې خپل اسلام او مسلم دښمني كې هغوئ نيست ونابود كړي [۲] ځما دا التجاء هم پوره شوه [۳] ما دريمه التجاء دا كړي وه چې مسلمانان خپلو كې يوبل ته هلاكت او عقوبت كې مخ نشي يعني د هغوئ باهمي اتحاد هميشه جوړوي. هغوئ د يوبل خلاف محاذ آرا نه وي او خپلو كې جنګ دنګړي كولو سره خپل ملي طاقت كمزوري نه كړي ليكن ځما دا التجاء قبوله نه شوه. (ترمذي نسائي)

---

[۱]) اخرجه النسائى فى السنن كتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب إحياء الليل (رقم-١٦٣٨) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى سؤال النبى صلى الله عليه وسلم ثلاثًا فى أمته (رقم-٢١٧٥) واحمد فى المسند:١٠٩/٥

حل اللغات:-③لَا يُذِيقَ: چه اونه څکي يعنی اخته او مبتلا نه شی د يوبل سره، ④بَأْسَ: أَيْ: حَرْب: جنګ، اختلاف.

تسهيلات:

قوله: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-صَلَاةً، فَأَطَالَهَا:

د فَأَطَالَهَا په مفهوم کښې درې اقوال:

① رسول الله ﷺ يا خودَ مونځ ټول ارکان اوږده اوکړه.

② يا دَ مونځ نه پس په سجده کښې ئی دعا اوږده کړه.

③ يا دَ مونځ نه پس ئی دعا اوږده کړه.

قوله: قَالَ: أَجَلْ، إِنَّهَا صَلَاةُ رَغْبَةٍ وَرَهْبَةٍ:

د اميد او ويرې په وخت کښې مونځ اوږدول: دَدې مطلب دادې چه په نورو مونځونو کښې اميد غالب وی يا دَ الله تعالی ويره مګر دا داسې مونځ وو چه په دې کښې اميد اودَ الله تعالی ويره دواړه په کامل توګه باندې جمع وو. لهذا چه کله داسې مونځ حاصل شی نو ښه اوږد کول پکار دی دې دَپاره چه ويرې او اميد کمال دَ ډير وخته پورې باقی پاتې شی.

قوله: إِنَّهَا صَلَاةُ رَغْبَةٍ وَرَهْبَةٍ:

د ويرې او اميد څخه دوه مطلبونه:

① دَ ويرې او اميد نه مراد دَ خپل امت متعلق ويره او اميد دې ګنی رسول کريم ﷺ ته دَ خپل محبوبيت او مقبوليت کامل يقين وو.

② رسول کريم ﷺ کومه دعا اوغوښتله دَ هغه دعا دَ قبليدو اميد ئی وو اودَ نه قبليدو ويره ئی وه. چنانچه هم دغه شان اوشو چه دوه دعاګانې قبولې شوې اودَ يوې نه منع کړې شو.

قوله: سَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِسَنَةٍ:

د سنة څخه مراد اود دعا مقصد: "سنة" نه مراد عام قحط دې او په دې کښې عام وباء هم داخله ده. دَ رسول الله ﷺ دَ دعا مقصد دا وو چه قحط سره زما امت دَمخ دَ زمکې نه ختم نه کړې شی.

قوله: عَدُوًّا مِنْ غَيْرِهِمْ:

د "غيرهم" څخه مراد: ددې نه مراد کافران دی چه کافران په مسلمانانو باندې داسې مه مسلط کوې چه هغوی مسلمانان په مکمل توګه باندې هلاك کړی. لهذا دَدې نه دَ مسلمانانو خپل مينځ کښې دښمنی مراد نه ده څکه چه په دې سره مجموعی هلاکت نه واقع کيږی. (مرقات: ۱۱/۵۶)

[۵۷۵۵] مسلمانان دريو څيزونو نه محفوظ ساتل شوي دي

۵۷۵۵ -(١) [٤] ١ وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ أَجَارَكُمْ مِنْ ثَلَاثِ خِلَالٍ ٣: أَنْ لَا يَدْعُوَ عَلَيْكُمْ نَبِيُّكُمْ فَتَهْلَكُوا جَمِيعًا، ٤ وَأَنْ لَا يَظْهَرَ أَهْلُ الْبَاطِلِ عَلَى أَهْلِ الْحَقِّ ٥ وَأَلَّا تَجْتَمِعُوا عَلَى ضَلَالَةٍ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢ مسلمانانو الله جل جلاله تاسو دريو څيزونو نه محفوظ کړي يې ٣ يو خو داچې ستاسو نبي ستاسو د پاره بد دعا نه کوي چې هغه سره تاسو هلاك شئ څرنګه چې مخکې بعضې انبياء بد دعا کولو سره خپل قوم هلاك او برباد کې ٤ دويم داچې باطل او ګمراه خلق به اهل حقو باندې غالب نه وي ٥ دريم داچې ځما ټول امت به ګمراهئ باندې نه جمع کېږي.(ابوداؤد)

حل اللغات:- ① أَجَارَكُمْ: أَيْ: حَفِظَكُمْ: محفوظ ئې کړئ تاسو، ② خِلَالٍ: أَيْ: خِصَالٍ: خوئې، خصلت، صفت، ③ فَتَهْلَكُوا: نو هلاک به شئ. ④ لَا يُظْهَرَ: أَيْ: لَا يَغْلِبَ: غالب نه شي، زور آور نه شي.

تسهيلات:

قوله: وَأَنْ لَا يَظْهَرَ أَهْلُ الْبَاطِلِ عَلَى أَهْلِ الْحَقِّ:

د اهل باطل په اهل حق باندې د نه غالب کيدلو مطلب: يعنی اهل باطل په اهل حق باندې داسې غالب نه شی راتلې چه اهل حق دَ بيخه ختم کړې شی. اهل حق به هميشه قائم اودائم وی سره دَدې چه مغلوب وی مګر دَ اسلام شمع به هميشه روښانه وی:

نورِ حق ہے کفر کی حرکت پہ خندہ زن — پھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائے گا

حاسد حسد کی آگ میں خود ہی جلا کرے — وہ شمع کیا بجھے جسے روشن خدا کرے

يعنی دَ اسلام نور حق دې او دَ کفر په دې حرکت باندې سړی ته خندا ورځی په پوکو باندې دَ اسلام دا چراغ مړه کيدې نه شی. او حاسد به دَ خپل حسد په اور کښې هم پخپله سوزيږی او هغه شمع به څوك مړه کړی کومه چه الله تعالی روښانه کړی يعنی دَ اسلام مقابله هيڅوك نه شی کولې.

[۵۷۵٦] دښمن خلاف متحد وي

۵۷۵٦ -(٢) [٥] ١ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ٢: «لَنْ يَجْمَعَ اللَّهُ عَلَى هَذِهِ الْأُمَّةِ سَيْفَيْنِ: ٣ سَيْفًا مِنْهَا وَسَيْفًا مِنْ عَدُوِّهَا» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت عوف ابن مالك رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢ الله جل جلاله به

---

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ذکر الفتن ودلائلها (رقم-٤٢٥٣)

(٢) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب ارتفاع الفتنة فی الملاحم (رقم-٤٣٠١) واحمد فی المسند:٥٧٤٦

د دې امت خلاف دوه توري نه يوځاي کوي [۳] يوه توره خو خپله د مسلمانانو او دويمه توره د هغوئ د دښمنانو. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① سَيْفَيْنِ: د سيف تثنيه ده، توري.

تسهيلات:

قوله: لَنْ يَجْمَعَ اللهُ عَلَى هَذِهِ الْأُمَّةِ سَيْفَيْنِ:

د مذکوره جملې مطلب: يعنې په يو وخت به په دې امت باندې دوه توري نه يوځائې کيږي. که چرې دښمن سره جنګ او جهاد فی سبيل الله وی نوخپل مينځ کښې به جنګ نه وی (او که چرې د منافقانو يوه ډله دښمن سره ملاؤشی نوبيا به دوه توري په يوځائی جمع کيږي) او که چرې دښمن سره جنګ او جهادنه وی نوبيا به خپل مينځ کښې جنګيږي لکه چه يو جاهلی شاعر او وئيل:

واحياناً على بكر اخينا اذا مالم نجد الا اخانا

دَدې حديث نه مسلمانانو ته دا تعليم ملاويږي چه جهاد مقدس دَهميشه دَپاره جاري ساتل پکار دی ګنی خپل مينځ کښې به جنګيږي.

[۵۷۵۷] د حضور ﷺ نسلي او نسبي فضيلت

۵۷۵۷-()[۸] [۱] «وَعَنِ الْعَبَّاسِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، [۲] أَنَّهُ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَكَأَنَّهُ سَمِعَ شَيْئًا. [۳] فَقَامَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ (مَنْ أَنَا؟) [۴] فَقَالُوا: أَنْتَ رَسُولُ اللهِ. [۵] فَقَالَ: أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، [۶] إِنَّ اللهَ خَلَقَ الْخَلْقَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ، [۷] ثُمَّ جَعَلَهُمْ فِرْقَتَيْنِ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ فِرْقَةً،

ترجمه: [۱] او حضرت عباس رضی الله عنه نه روايت کوي [۲] چې هغوئ يوه ورځ د کفارو نه د حضور ﷺ په شان کې بدګوئي کول واوريدل نو د افسوس او قهر نه ډك د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو او وي وئيل چې کفار دا بکواس کوي که الله تعالی ته په مکه کې يو سړی خپل نبي او رسول جوړول غوښتل نو د هغه ښار لوی لوی صاحب دولت وثروت او د اوچتې درجې سرداران پرينښودلو سره د محمد انتخاب يې ولې وکړو حضور ﷺ چې دا واوريدل نو واضحه کولو د پاره چې د نسلي او نسبي او د خانداني عظمت او عزت د اعتبار نه د حضور ﷺ شان څه دی او مرتبه نبوت باندې فائز کيدو د پاره د نورو په مقابله کې د حضور ﷺ حيثيت او اهميت څه دی [۳] منبر باندې ودريدو سره وي فرمايل تاسو خلقو ته معلومه ده چې زه څوك يم؟ [۴] صحابه و رضی الله عنهم عرض وکړو ته د الله

¹) اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في فضل النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۳٦۰۷) واحمد في المسند؛

رسول يي حضور ﷺ وفرمايل هو زه د الله ﷻ رسول يم ليكن خما نسلي او نسبي او خانداني عظمت څه دى په دي پوهيدو د پاره ⑤ واورئ زه د عبد الله بن عبد المطلب خوى محمد يم او عبد المطلب هغه هستي ده چې په عربو كې ډير بزرگ ومعزز ډير شريف پاكباز او انتهائي درجه مشهور ومعروف وو ⑥ حقيقت دادى چې الله ﷻ مخلوق جنات او انسانان پيدا كړل نو زه يي په دي مخلوق كې بهترين مخلوق نوع انساني كې پيدا اكړم ⑦ بيا د دې بهترين مخلوق نوع انساني الله ﷻ دوه طبقي كړي يو عرب او دويم عجم او زه يي دي دواړو طبقو نه بهترين طبقه عربو كې پيدا اكړم

حل اللغات:- ① الْخَلْقَ: دَ دي نه انسانان او جنات مراددى. ② فِرْقَتَيْنِ: د فرقة تثنيه ده، دوه ډلې، ددې نه مراد عجم او عرب دى.

① ثُمَّ جَعَلَهُمْ قَبَائِلَ ② فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ قَبِيلَةً، ③ ثُمَّ جَعَلَهُمْ بُيُوتًا فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ بَيْتًا، ④ فَأَنَا خَيْرُهُمْ نَفْسًا وَخَيْرُهُمْ بَيْتًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① بيا الله ﷻ دابهترينه طبقه عرب قبائل قبائل كړل يعنى داطبقه يي مختلفو قبيلو او قومونو كې تقسيم كړه ② او زه يي دي قبائلو نه بهترين قبيله (قريش) كې پيدا كړم ③ بيا الله ﷻ د دې قبيله قريش مختلفي كورني جوړي كړي اوخه په دغه كورونيو كې د ټولو نه ښه كورنئ بنوهاشم كې پيدا اكړم ④ او زه په دي ټول نوع انساني او ټول اهل عرب كې د ذات او حسب د اعتبار نه هم د ټولو نه ښه او اعلى يم او د خاندان او كورنۍ د اعتبار نه هم د ټولو نه اوچت يم. (ترمذي)

حل اللغات:- ③ قَبَائِلَ: د قبيلة جمع ده، قبيلې، خاندانونه، ④ بُيُوتًا: أَيْ: بُطُونًا: كورنئ، خاندانونه.

تسهيلات:

د بعضي مشكلو جملو وضاحت:

① خَلَقَ الْخَلْقَ: د خلق مصدر دې د مخلوق په معنى كښې استعمال شوې دې.

② خَيْرِهِمْ: يعنى دَ جنات او انسان نه ئې زه په بهترين مخلوق كښې پيدا اكړم كوم چه انسانان دى. دې نه معلومه شوه چه انسان دَ جنات نه افضل دې.

③ فِي خَيْرِهِمْ: دَدغه بهترفرقې نه مراد عرب دى. معلومه شوه چه عرب دَ عجم نه افضل دى ځكه چه دَحضورپاك خاندان دې.

④ جَعَلَهُمْ: يعنى عرب الله تعالى په قبيلو قبيلو كښې تقسيم كړل.

⑤ بَيْتًا: يعنى زه ئې په ټولو كښې په ښكلې اوبهتر كورنئى كښې پيدا اكړم چه دَ بنوهاشم كورنئى ده. لهذا زه په حسب نسب كښې دَ ټولو نه اعلى او اوچت يم نوزما تره عباس هم په نسلى اونسبى اعتبارسره دَ ټولو نه ښكلې پيدا اكړې.

قوله: ثُمَّ جَعَلَهُمْ قَبَائِلَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ قَبِيلَةً:

د قبائل په تقسیم کښې څو الفاظ او د هغې وضاحت:

① شعوب داد ټولو نه لوئی دی. ② بیا قبائل ③ بیا عماره ④ بیا بطن ⑤ بیا فخذ ⑥ بیا فصیله. چنانچه خزیمه شعب دی. کنانه قبیله ده، قریش عماره دی، قصی بطن دې، بنوهاشم فخذ دې او بنوعباس فصیله دې.

[۵۷۵۸] د نبی علیه السلام د نبوت آغاز

۵۷۵۸-(١) [۴] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ قَالُوا: «يَا رَسُولَ اللهِ! مَتَى وَجَبَتْ لَكَ النُّبُوَّةُ؟ ٣ قَالَ: وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوحِ وَالْجَسَدِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهریره ﷜ وايي ٢ يوه ورځ صحابه ﷺ پوښتنه وکړه یارسول الله! نبوت د پاره تاسو کوم وخت منتخب شوئ؟ ٣ رسول الله ﷺ وفرمایل هغه وخت چې آدم د روح او بدن په منځ کې وو. (ترمذي)

حل اللغات:- ① وَجَبَتْ: أَيْ ثَبَتَتْ: ثابت شو، انتخاب اوشو.

تسهیلات:

قوله: مَتَى وَجَبَتْ لَكَ النُّبُوَّةُ:

د حضور پاک ﷺ د نبوت ابتداء: سائل سوال اوکړو یا رسول الله ﷺ د کوم وخت نه ستاسو نبوت شروع شوې وو؟ حضورپاک اوفرمائیل چه زه هغه وخت نبی جوړ شوې ووم چه آدم ﷤ لا دَ بدن اوروح په مینځ کښې وو یعنی تردغه وخته پورې دَ هغه په بدن کښې روح نه وو اچولې شوې.

اشکال: په دنیا کښې دَ ظهور په اعتبار سره دَ رسول الله ﷺ دَ ټولو نه په آخر کښې ظهور شوې دې او دَ نبوت منصب چه کله انبیاء کرامو ته ورکړې کیدې شو نو هغه وخت په عالم ارواح کښې ټولو انبیاء کرامو په یو ځائی نبی جوړ کړې شو. نو دلته په دې حدیث کښې دَ دې جمله څه مطلب دې چه زه نبی ووم او آدم دَ روح او جسد په مینځ کښې وو یعنی دَ پیدائش په مراحل کښې وو؟

د اشکال جواب: په عالم ارواح کښې نبوت خو ټولو ته په یو ځائی ملاؤ شو لیکن دَ نبوت انوارات او دَ دې برکات او تجلیات پر یو تلو سلسله حضورپاک سره په عالم ارواح کښې هغه وخت شروع شوه چه کوم وخت لا حضرت آدم ﷤ پیدا شوې هم نه وو. په دې اعتبار سره حضور اکرم ﷺ په افاضهٔ برکات نبوت کښې دَ ټولو نه اول نبی دې او دَ نبوت دَ ظهور

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فی فضل النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۳۶۰۹)

په اعتبارسره هغوی د ټولو نه آخری نبی دې. هم په دې اعتبارسره بعضې رواياتو کښې دی چه هرنبی په خپله خپله زمانه کښې د حضوراکرم ﷺ د نور نبوت نه استفاده کړې ده.

[۵۷۵۹] حضور ﷺ او ختم نبوت

۵۷۵۹-(¹) [۲۰] [۱] وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ [۲] «إِنِّي عِنْدَ اللّٰهِ مَكْتُوبٌ: خَاتَمُ النَّبِيِّينَ، [۳] وَإِنَّ آدَمَ لَمُنْجَدِلٌ فِي طِينَتِهِ، [۴] وَسَأُخْبِرُكُمْ بِأَوَّلِ أَمْرِي، دَعْوَةُ إِبْرَاهِيمَ، وَبِشَارَةُ عِيسَى، [۵] وَرُؤْيَا أُمِّي الَّتِي رَأَتْ حِينَ وَضَعَتْنِي [۶] وَقَدْ خَرَجَ لَهَا نُورٌ أَضَاءَ لَهَا مِنْهُ قُصُورُ الشَّامِ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] او حضرت عرباض ابن ساريه ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت کوي حضور ﷺ وفرمايل [۲] زه د الله ﷻ په نز د هغه وخت نه خاتم النبيين ليکل شوی يم [۳] هرکله چې آدم خپلي اخښلي شوي خټه خاوره کې پروت وو [۴] او زه تاسو ته ښايم خما مخکنی امر د حضرت ابراهيم دعاده د حضرت عيسٰی ﷺ بشارت دی [۵] او خما د مور خوب دی چې هغه خما د پيدائش په وخت ليدلی وو [۶] حقيقت دادی چې خما د مور مخې ته يونور ښکاره شوی وو چې په هغه سره دي ته د شام محلات روښانه شوی وو دا روايت بغوي خپل اسنادو سره شرح السنه کې نقل کړی دی

حل اللغات:- ① مَكْتُوبٌ: ليکلې شوې وو، ② لَمُنْجَدِلٌ: أَيْ: وَالْحَالُ أَنَّهُ لَسَاقِطٌ وَمُلْقًى: په زمکه باندې پروت وو. ③ طِينَتِهِ: أَيْ: خِلْقَتِهِ: په خپله خټه کښې، يعنی دخپل پيدائش په اخښلې شوې خټه کښې پروت وو (روح پکښې لا نه وو اچولې شوې). ④ دَعْوَةُ: دعا، ⑤ بِشَارَةُ: زيرې، ⑥ رُؤْيَا: خوب، ⑦ وَضَعَتْنِي: زما د زيږولو په وخت، ⑧ أَضَاءَ: أَيْ: تَبَيَّنَ: ښکاره او روښانه ئې کړل. ⑨ قُصُورُ: د قصر جمع ده، محلات، بنګلې.

۵۷۶۰-(²) [۱] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، [۲] عَنْ أَبِي أُمَامَةَ مِنْ قَوْلِهِ: (سَأُخْبِرُكُمْ) إِلَخ.

ترجمه: [۱] او امام احمد ﷫ [۲] دا روايت سَأُخْبِرُكُمْ نه ترآخرپوري د ابو امامه ﷺ نه نقل کړی دی.

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ آدَمَ لَمُنْجَدِلٌ فِي طِينَتِهِ:

د منجدل مفهوم: يعنی په زمکه باندې راغورزيدلې شوې پروت وو. دَدې نه په زمکه باندې بې ساه پروت کيدل مراد دی.

¹) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۳۶۲۶
²) اخرجه احمد فی المسند: ۱۲۷/۴

قوله: وَرُؤْيَا أُمِّي الَّتِي رَأَتْ حِينَ وَضَعَتْنِي:

د رؤیت په مراد کښې دوه احتمالات:

① دَ دې نه دَ خوب حالت هم مراد اخستې شي. مطلب به دا شي چه دَ حضورپاک دَ پیدا کیدو نه څه وړاندې حضرت آمنه بی بی په خوب کښې یوه فرښته لیدلې وه چه وئیل ئې ته اووایه چه زه دا بچې (کوم چه زما په خیټه کښې دې) دَ هرحسد کونکی نه دَالله تعالی په پناه کښې ورکوم.

② دَدې جملې نه دَ بیدارئی حالت هم مراد اخستې شي. دَدې مطلب به داشي لکه څنګه چه بعضې رواياتو کښې راغلی دی چه حضرت آمنه بی بی دَحضورپاک دَ ولادت په وخت دَ بیدارئی په حالت کښې دَخپل بدن نه یونور جدا کیدونکې اولیدلو چه دَ شام محلات ئې روښانه کړل. دَدې نه دا خودل مقصودوو چه پیدا کیدونکې داماشوم به راتلونکی وخت کښې داعلاقې فتح کوي.

[۵۷۶۱] د حضور ﷺ خصائص

٥٧٦١-(١) [٣] ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ، ③وَبِيَدِي لِوَاءُ الْحَمْدِ وَلَا فَخْرَ. ④وَمَا مِنْ نَبِيٍّ يَوْمَئِذٍ آدَمُ فَمَنْ سِوَاهُ إِلَّا تَحْتَ لِوَائِي؟ ⑤وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابو سعید ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ②د قیامت په ورځ به زه د ټولو بني آدمو سرداريم او زه داخبره د فخر په طور نه کوم ③د قیامت په ورځ به مقام محمودکې د حمد جنډه څما په لاس کې وي او زه داخبره د فخر په طور نه کوم ④په هغه ورځ هرنبي که هغه آدم وي يا بل څوك داسې به نه وي چې څما دبيرغ لاندې را نشي ⑤او د قیامت په ورځ به د ټولو نه مخکې قبر چاودلو سره را پاڅيږم او زه دا خبره د فخر په طور نه کوم بلکه د شکر په طور يي کوم. (ترمذي)

حل اللغات:- ①سَيِّدٌ: سردار اومشر چه دَ خپل قوم نه د خير په کارونو او په صفات حميده کښې وړاندې شوې وی، یا داچه په مشکل وخت کښې خلق دده طرف ته رجوع کوی. ②لَا فَخْرَ: فخرنه کوم، دفخر په طورئې نه وائم (بلکه دالله تعالی دَ فضل اونعمت ښکاره کولو په طور ئې وائم.
③لِوَاءُ: أي العَلَمُ: جهنډا ، ④تَنْشَقُّ: چوی به، شلیږی به.

تسهیلات: قوله: أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ:

دا زه چه څه وایم د دَ فخر په توګه نه وایم بلکه دَالله تعالی فضل شمیرلو سره او تحدیث بالنعمة او دَمامور به دَ تبلیغ دَ وجې نه وائم.

---

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦١٦) وابن ماجه في كتاب الجنائز/باب ما جاء في عيادة المريض (رقم-١٤٤٠) واحمد في المسند:٢/٣

د أنا سید ولد اٰدم وئیلو وجه:

چې د امت د نبی علیه السلام عظمت په زړونو کښې پیدا شی نو نبی علیه السلام خپل مقام او مرتبه بیان کړه دا څه د تکبر په غرض نه وه.

قوله: بِيَدِي لِوَاءُ الْحَمْدِ:

د لواء الحمد په مراد کښې درې اقوال:

① امام طیبی رحمه الله فرمائی چه دَ لواء الحمد نه مراد شهرت دې چه په هغه ورځ به دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ امتیازی شان شهرت کیږی.

② که چرې دَدې جهنډې نه مراد حقیقتًا جهنډا مراد وی نو بیا به مطلب داشی چه په هغه ورځ به ټول انبیاء کرام زما دَ جهنډې لاندې جمع کیدو سره دَ الله تعالی حمد بیانوی او زه به دَهغوی امام یم.

③ اوکه چرې دَ جنهډې نه مراد دَ الله تعالی حمد وی نو مطلب به داشی چه په هغه ورځ به ټول انبیاء زما په حمد ښودنې او زما دَ طرف نه ښودلې شوې حمد باندې به دَ الله تعالی حمد کوی. یعنی کله چه دا جهنډا زما لاس ته راشی نو الله تعالی به دَ حضورپاك زړه داسې کولاؤ کړی چه حضورپاك به دَ الله تعالی داسې تعریف کوی چه بل څوك به داسې تعریف نه شی کولې. په دې وجه دَ حضورپاك نوم مبارك محمد او احمد دې. حضورپاك دَ مقام محمود صاحب دې او دَ حضورپاك امت ته حمادین وائی. حضورپاك به دَ الله تعالی دَ تعریف په ذریعه دَ شفاعت دروازه کولاووی.

قوله: وَمَا وَمَا مِنْ نَبِيٍّ يَوْمَئِذٍ آدَمُ فَمَنْ سِوَاهُ إِلَّا تَحْتَ لِوَائِي:

د نبی علیه السلام د جنډې لاندې د ټولو خلقو راجمع کیدل: دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ جهنډې لاندې به صرف عام خلق نه وی بلکه ټول انبیاء کرام او رسولان به هم دَ حضورپاك دَ جهنډې لاندې جمع کیږی. دَ حضورپاك دَ شفاعت طلبګار او دَ حضورپاك تابع به وی.

[۵۷۶۲] حضور صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله حبیب دی

٥٧٦٢-(١) [٢٢] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ②: «جَلَسَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③ فَخَرَجَ، حَتّٰى إِذَا دَنَا مِنْهُمْ سَمِعَهُمْ يَتَذَاكَرُونَ، ④ قَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّ اللّٰهَ اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا، ⑤ وَقَالَ آخَرُ: مُوسَى كَلَّمَهُ اللّٰهُ تَكْلِيمًا، ⑥ وَقَالَ آخَرُ: فَعِيسَى كَلِمَةُ اللّٰهِ وَرُوحُهُ، ⑦ قَالَ آخَرُ: آدَمُ اصْطَفَاهُ اللّٰهُ، ⑧ فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللّٰهِ

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي ② یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم څني صحابه رضی الله عنهم په مسجد نبوي کې ناست وه په خپلو کې خبري کولي ③ حضور صلی الله علیه وسلم د خپلي حجري مبارکي

[١]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب (رقم-٣٦١٦) والدارمی فی السنن رقم الحدیث ٤٧

نه راووتلو او هرکله چه هغوئ ته نزدې ورسیدی نو د هغوئ خبرې یې په غوږ کې وې ۴ حضور ﷺ یو صحابي ﷺ نه دا واوریدل چې الله ﷻ حضرت ابراهیم خپل خلیل وګرځوی ۵ دویم صحابي اوویل چې حضرت موسیٰ الله ﷻ د تکلم شرف د خبرو کولو په شرافت سره ونوازی ۶ یوبل صحابي اوویل چې حضرت عیسیٰ د الله ﷻ کلمه او د هغه روح دی یعنی هغه د نظام قدرت د مروجه اسبابو او ذرائعو نه بغیر محض د الله ﷻ په کلمه کُن سره پیدا شو دشیر خواري یعنی پئي رودلو زمانه کې خلقو سره یې خبرې وکړې او الله ﷻ روح الامین جبرائیل د هغوئ مور بي بي ته ولیږی په هغې کې یې و پوکل چې د هغه نتیجه کې دوئ پیدا شو دې نه علاوه د دوئ د روحانیت نور ډیر آثار او کرشمې ښکاره شوې ددې پورې چې مړی به یې ژوندی کول ۷ یو صحابي ﷺ دا اوویل چې الله ﷻ حضرت آدم برګزیده کړې یعنی داول انسان کیدو د پاره هغه یې منتخب کې هغه ته یې د ټولو څیزونو نومونه وښودل او د هغه مخکې یې په فرشتو باندې سجده وکړله ۸ بهرحال صحابه ؤ ﷺ د خپلو خبرو په دوران کې د نبیانو د خصوصي اوصافو په تعجب سره ذکر کوی چې حضور ﷺ د هغوئ مجلس ته ورسیدی

۱ وَقَالَ: (قَدْ سَمِعْتُ كَلَامَكُمْ وَعَجَبَكُمْ أَنَّ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلُ اللّٰهِ وَهُوَ كَذٰلِكَ، ۲ وَمُوسَى نَجِيُّ اللّٰهِ وَهُوَ كَذٰلِكَ ۳ وَعِيسَى رُوحُهُ وَكَلِمَتُهُ وَهُوَ كَذٰلِكَ، ۴ وَآدَمُ اصْطَفَاهُ اللّٰهُ وَهُوَ كَذٰلِكَ، ۵ أَلَا وَأَنَا حَبِيبُ اللّٰهِ وَلَا فَخْرَ، ۶ وَأَنَا حَامِلُ لِوَاءِ الْحَمْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، تَحْتَهُ آدَمُ فَمَنْ دُونَهُ وَلَا فَخْرَ، ۷ وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ، ۸ وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يُحَرِّكُ حَلَقَ الْجَنَّةِ فَيَفْتَحُ اللّٰهُ لِي فَيُدْخِلُنِيهَا ۹ وَمَعِي فُقَرَاءُ الْمُؤْمِنِينَ وَلَا فَخْرَ، ۱۰ وَأَنَا أَكْرَمُ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ عَلَى اللّٰهِ وَلَا فَخْرَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ او وې فرمایل ما ستاسو خبرې اوریدلې دې تاسو ته تعجب دی چې حضرت ابراهیم د الله ﷻ خلیل یعنی دوست دی نو بیشکه د هغوئ داشان دی ۲ تاسو ته تعجب دی چې موسي علیه السلام نجي الله دي چې الله ﷻ بالذات خبرې ورسره کړې وې نو بیشکه داهم د هغوئ شان دی ۳ او تاسي ته تعجب دی چې حضرت عیسیٰ علیه السلام د الله ﷻ کلمه او د هغه روح دی نو بیشکه داهم د هغوئ شان دی ۴ تاسو ته تعجب دی چې حضرت آدم الله پاك برګزیده کی نو بیشکه داسې ده او دا د هغوئ شان دی ۵ لیکن تاسو ته معلومیدل پکار دی چې زه د الله ﷻ حبیب یم او زه داخبره د فخر په طور نه کوم ۶ د قیامت په ورځ به د حمد جنډه زما په لاس کې وي چې د هغه لاندې به آدم علیه السلام او نور ټول نبیان او رسولان وي او زه داخبره د فخر په طور نه کوم ۷ د قیامت په ورځ به د ټولو نه مخکنی شفاعت کونکی زه یم اود ټولو نه مخکې به زما شفاعت قبلیږي او زه داخبره د فخر په طور نه کوم ۸ د جنت دروازه ټکونکی د ټولو نه مخکنی سړی به زه یم الله ﷻ به فرشتو ته د حکم په ذریعه د جنت دروازه زما د پاره خلاصه کړي او د ټولو نه به مخکې ما په

جنت کې داخل کړي [۹] هغه وخت به ما سره مؤمن فقراء وي او زه داخبره د فخر په طور نه کوم [۱۰] او بلاشبه په ټولو مخکینو او وروستنيو کې که هغوئ انبياء وي يا نور خلق د ټولو نه افضل او اکرم زه يم او زه داخبره د فخر په طور نه کوم بلکه د شکر په طور يې کوم. (ترمذي دارمي)

حل اللغات:- ① دَنَا: نزدې شو، ② يَتَذَاكَرُونَ: خبرې ئې کولې په خپل مينځ کښې، ③ خَلِيلًا: دوست. ④ تَكْلِيمًا: أَيْ: بِلَا وَاسِطَةِ كِتَابٍ: خبرې ورسره شوې وې بغير د واسطې دکتاب نه، يا بغير د پردې نه. ⑤ كَلِمَةُ اللهِ: دالله کلمه (يعنی په کلمه د کُن سره پيدا شوې دې). ⑥ اصْطَفَاهُ: غوره کړې ئې دې آدم عليه السلام. ⑦ عَجَبَكُمْ: تعجب دې تاسو ته، ⑧ حَبِيبُ اللهِ: أَيْ: مُحِبُّهُ وَمَحْبُوبُهُ: چه الله ورسره محبت کوی او هغه ته محبوب وی. ⑨ حَامِلُ: پورته کونکې، ⑩ فَمَنْ دُونَهُ: څوک چه د آدم عليه السلام نه علاوه دی يعنی نور انبياء کرام عليهم السلام. ⑪ يُحَرِّكُ: خوځوی به، ټکوی به. ⑫ حَلَقَ: د حَلْقَة جمع ده، وَهِيَ هُنَا حَلْقَةُ بَابِ الْجَنَّةِ: ددې نه مراد د جنت د دروازې د ځنځير کړئ دی. ⑬ أَكْرَمُ: ډير عزت والا، افضل ترين.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللهَ اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا:

په حبيب او خليل کښې درې فرقونه:

① دَ حبيب الله دا صفت دَ ټولو صفاتونه زيات جامع دې څکه چه حبيب په معنی دَمحبوب دې او څوك چه محبوب وی هغه خليل هم وی ، مکلم هم وی او مشرف او معظم هم وی.

② خليل دَ طالب په درجه کښې وی يعنی سالك اومريد وی او حبيب دَ مطلوب او مراد په درجه کښې وی.

③ خليل دَ مغفرت اميد او طمع په درجه کښې وی اومحبوب دَ مغفرت يقين په درجه کښې وی. "وهذا واضح في القرآن" گورئی دَ خليل باره کښې دا سې دی ﴿ وَالَّذِيْٓ أَطْمَعُ أَنْ يَّغْفِرَ لِيْ خَطِيْٓئَتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴾ بل طرف ته دَ حبيب باره کښې دادی ﴿لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾ په دواړو کښې لوئی فرق دې "وانا حبيب الله" کښې دَدې ټول حقائق طرف ته اشاره ده.

[۵۷٦۳] دامت محمدي خصوصيت

۵۷٦۳-(1) [۲۳] [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [۲]: نَحْنُ الْآخِرُونَ، [۳] وَنَحْنُ السَّابِقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [۴] وَإِنِّي قَائِلٌ قَوْلًا غَيْرَ فَخْرٍ: [۵] إِبْرَاهِيمُ خَلِيلُ اللهِ وَمُوسَى صَفِيُّ اللهِ، [٦] وَأَنَا حَبِيبُ اللهِ، وَمَعِي لِوَاءُ الْحَمْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [۷] وَإِنَّ اللهَ وَعَدَنِي فِي أُمَّتِي وَأَجَارَهُمْ مِنْ

[1]) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ۵۴ واحمد في المسند:۲/۲۴۳

ثَلَاثٍ⑧: لَا يَعُمُّهُمْ بِسَنَةٍ،⑨وَلَا يَسْتَأْصِلُهُمْ عَدُوٌّ،⑩وَلَا يَجْمَعُهُمْ عَلَى ضَلَالَةٍ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت عمرو بن قیس رضي الله عنه نه روایت دی ②چې رسول کریم ﷺ وفرمایل په دنیا کې د ظهور او وجود د اعتبار نه مونږ په آخر کې یو ③لیکن د قیامت په ورځ به جنت کې داخلیدو او اعلٰی مراتبو او درجاتو د اعتبار نه مونږ اول یو ④او زه تاسو ته یوه خبره کوم او د دې خبرې کولو نه د فخر اظهار مقصود نه دی بلکه د یوحقیقت اظهار مقصود دی ⑤او هغه دادی چې ابراهیم خو د الله ﷻ خلیل دی موسٰی د الله ﷻ برگزیده دی ⑥او زه د الله ﷻ حبیب یم چې په دنیا او آخرت کې ځما حیثیت د محب هم دی او د محبوب هم او د قیامت په ورځ به مقام محمود کې د حمد جنډه ما سره وي چې ځما دا حمد او محمد کیدو علامه به وي ⑦او الله ﷻ ځما امت ته د خیر کثیر عطا کولو او درې څیزونو نه د بچ کولو وعده فرمایلې ده ⑧یو خودا چې مسلمانان به عام قحط کې نه مبتلا کوي ⑨دویم داچې هیڅ دښمن به د هغوئ بیخ کني نشي کولی یعني دښمنان اسلام به ټول مسلمانان نیست ونابود نشي کولی ⑩او دریم داچې ټول مسلمانان به یوې گمراهۍ باندې اتفاق نه کوي یعنی دا به ممکنه نه وي چې ټوله اسلامي دنیا دی یوې داسې خبرې باندې اتفاق وکړي کومه چې د گمراهۍ باعث وي. (دارمي)

حل اللغات:- ①الْآخِرُونَ: روستو راتلونکی (په اعتبار د ظهور سره). ②السَّابِقُونَ: دټولو نه مخکښې تلونکی (جنت ته). ③صَفِيٌّ: أَيْ مُخْتَارٌ: غوره کړې شوې (په کلام د الله سره). ④أَجَارَهُمْ: أَيْ أَنْقَذَهُمْ: بچ ئې کړل هغوی (یعنی امت د نبی عليه السلام). ⑤بِسَنَةٍ: أَيْ بِقَحْطٍ: قحط سالی، اوچ کالی. ⑨لَا يَسْتَأْصِلُهُمْ: أَيْ: وَلَا يُهْلِكُهُمْ بِالْكُلِّيَّةِ: چه د بیخه ټول هلاک کړی. (حلال گڼرلو سره تباه کول مراددی.)

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

①نَحْنُ الْآخِرُونَ: یعنی دنیاته دَظهوراوراتلوپه اعتبارسره مونږ دَ ټولونه په آخره کښې راغلې یو لیکن په قیامت کښې دَ جنت دَ داخلیدو په اعتبارسره به مونږ دَټولونه اول داخلیږو.

② وَعَدَنِي: یعنی خیرکثیر او بیشمیره نعمتونو وعده کړې ده.

قوله: وَأَجَارَهُمْ:

دریو آفتونو څخه د امت محمدی حفاظت:

یعنی دَ دریوخصلتونو اودریوآفتونو نه الله تعالی زما امت په امن کښې ساتلې دې.

① دَعام اوچ کالئی نه به نه تباه کیږی.

② دښمن به ټول هلاکولې نه شی.

③ په گمراهئی باندې به ټول نه راجمع کیږی. دې نه امت اجابت مراد دې. امت دعوت یعنی کافرانو سره داوعده نه ده.

[۵۷٦٤] حضور ﷺ قائد المرسلين او خاتم النبيين دى

۵۷٦۳-() [۳۳] ① وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «أَنَا قَائِدُ الْمُرْسَلِينَ وَلَا فَخْرَ، ③ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ وَلَا فَخْرَ، ④ وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ وَمُشَفَّعٍ وَلَا فَخْرَ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷜ روایت کوي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ② د قیامت په ورځ به زه د ټولو نبیانو او رسولانو قائد یم چې ټول نبیان اورسولان به د حشر په میدان کې راتلو د پاره په ماپسې راځي او زه داخبره د فخر په طور نه کوم ③ او زه آخری پیغبریم خو فخرېږي نه کوم ④ شفاعت کونکی د ټولو نه مخکنی سړی به زه یم او د ټولو نه مخکې به ځما شفاعت قبلیږي او زه داخبره د فخر په طور نه کوم. (دارمي)

حل اللغات:- ① قَائِدُ: أَيْ مُقَدَّمُهُمْ: مخکښې مخکښې تلونکې (دچا چه اقتداء کولې شي).

[۵۷٦۵] د قیامت په ورځ د حضور ﷺ عظمت او برتري

۵۷٦۵-() [۳۵] ① وَعَنْ أَنَسٍ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② «أَنَا أَوَّلُ النَّاسِ خُرُوجًا إِذَا بُعِثُوا، ③ وَأَنَا قَائِدُهُمْ إِذَا وَفَدُوا، ④ وَأَنَا خَطِيبُهُمْ إِذَا أَنْصَتُوا، ⑤ وَأَنَا مُسْتَشْفِعُهُمْ إِذَا حُبِسُوا، ⑥ وَأَنَا مُبَشِّرُهُمْ إِذَا أَيِسُوا الْكَرَامَةُ، ⑦ وَالْمَفَاتِيحُ يَوْمَئِذٍ بِيَدِي، وَلِوَاءُ الْحَمْدِ يَوْمَئِذٍ بِيَدِي، ⑧ وَأَنَا أَكْرَمُ وَلَدِ آدَمَ عَلَى رَبِّي، ⑨ يَطُوفُ عَلَيَّ أَلْفُ خَادِمٍ كَأَنَّهُمْ بَيْضٌ مَكْنُونٌ، أَوْ لُؤْلُؤٌ مَنْثُورٌ» ⑩ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، قَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او حضرت انس ﷜ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ② د قیامت په ورځ چې خلق را ژوندی کولو سره را پاځي نو د ټولو نه مخکې به دقبر نه زه راوځم ③ هرکله چې خلق بارګاه خداوندي کې پیش شي نو د هغوئ قیادت به زه کوم ④ هرکله چې ټول خلق به خاموش وي نو ځما ژبه به د ټولو ترجماني کوي ⑤ او هرکله چې خلق موقف کې حصار شي نو د هغوئ د خلاصون د پاره به شفاعت او سفارش زه کوم ⑥ هرکله چې خلقو باندې نا امیدي او مایوسي خوره شوي وي نو اهلِ ایمانوته به د مغفرت او رحمت بشارت ورکونکی زه یم ⑦ د قیامت په ورځ به د شرف او کرامت او د جنت چابیاني ځما په لاس کې وي ⑧ په هغه ورځ به د پروردګار په نز د آدم ځامنو کې د ټولو نه بزرګ او اشرف ځما ذات وي ⑨ ځما مخکې او وروسته به په زرګونو خادمان ګرځي راګرځي لکه چې هغوئ ساتل شوي اګی یا خوري وري ملغلري دي ⑩ دا روایت ترمذي او دارمي نقل کړی دی او ترمذي ویلي دي چې دا حدیث غریب دی.

۱) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ٤٩
۲) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٣٦١٠)

حل اللغات:- ① إِذَا بُعِثُوا: أَيْ: مِنْ قُبُورِهِمْ: چه راپورته کولې به شي خلق د خپلو قبرونو نه. ② وَفَدُوا: أَيْ إِذَا قَدِمُوا: کله چه خلق پيش کيږي (خپل رب ته). ③ مُسْتَشْفِعُهُمْ: د خلقو سفارش کونکې، ④ حُبِسُوا: چه خلق ايسار کړې شي، ⑤ أَيِسُوا: أَيْ إِذَا غَلَبَ عَلَيْهِمُ الْيَأْسُ: کله چه خلق نااُميده شي، مايوسه شي. ⑥ الْكَرَامَةُ: شرف او عزت، ⑦ بَيْضٌ: هګۍ، ⑧ مَكْنُونٌ: أَيْ: مَصُونٌ عَنِ الْغُبَارِ: محفوظ ساتلې شوې (چه دوړه يا خاوره پرې اونه لګی)، ⑨ لُؤْلُؤٌ: ملغلرې، ⑩ مَنْثُورٌ: خورې ورې، شيندلې شوې.

تسهيلات:

قوله: وَأَنَا خَطِيبُهُمْ إِذَا أَنْصَتُوا:

دمذکوره جملې مفهوم: دې سره دَ شفاعت کبرىٰ طرف ته اشاره ده چه حضورپاك به هلته دَ الله تعالى ښه تعريف کوى او بيابه دَ شفاعت کبرىٰ درخواست کوى. بل په ميدان محشر کښې به ټول انسان دَ خبرو کولو نه خاموش وى. دَالله تعالى په مخکښې به په چاکښې دَ وينا کولو همت نه وى. هغه وخت به حضورپاك کلام کوى او دَ شفاعت دپاره به حمد اوثنا کوى او دَمغفرت زيرې به ورکوى.

[۵۷٦٦] حضور ﷺ به د عرش الٰهي رسته طرف ته ولاړ وي

۵۷٦٦-(¹) [۲٦] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ [۲]: «فَأُكْسَى حُلَّةً مِنْ حُلَلِ الْجَنَّةِ، [۳] ثُمَّ أَقُومُ عَنْ يَمِينِ الْعَرْشِ [۴] لَيْسَ أَحَدٌ مِنَ الْخَلَائِقِ يَقُومُ ذَلِكَ الْمَقَامَ غَيْرِي») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. [۵] وَفِي رِوَايَةِ (جَامِعِ الْأُصُولِ): («وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ فَأُكْسَى»).

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به ماته د جنت د جوړو نه يوه جوړه واغوستل شي [۳] او بيابه زه د عرش ښي طرف ته ودريږم [۴] چې هلته به ځما نه ماسوا مخلوق کې بل هيڅوك ولاړ نه وي [۵] او د جامع الاصول روايت کې چې دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه منقول دى داسې دى چې حضور ﷺ وفرمايل د ټولو نه مخکې به ځما قبر کولاؤ شي او زه به بهر راووځم بيابه ماته يوه جنتي جوړه واغوستل شي الخ.

حل اللغات:- ① فَأُكْسَى: راوابه غوستلې شى ماته، ② حُلَّةٌ: جوړه، ③ الْخَلَائِقُ: مخلوق، ④ تُشَقُّ: اوبه چوى، اوبه شليږى.

[۵۷٦٧] حضور ﷺ د پاره وسيله طلب کوئ

۵۷٦٧-(²) [۲۷] [۱] وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ [۲]: («سَلُوا اللهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ») [۳] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا الْوَسِيلَةُ؟ [۴] قَالَ: (أَعْلَى دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ لَا يَنَالُهَا إِلَّا رَجُلٌ [۵] وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳٦۱۱)

[2]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳٦۱۲) واحمد فى المسند:۲٦۵/۲

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲]مسلمانانو زما د پاره د الله جل جلاله نه وسيله غواړئ [۳]صحابه رضی الله عنهم په دې اوريدو سره عرض وکړو يارسول الله! دا وسيله څه شی دی؟ [۴]حضور ﷺ ورته وفرمايل د جنت د ټولو نه د لوی درجې نوم دی چې صرف يو سړي ته به حاصليږي [۵]او زه اميد لرم چې هغه سړی زه يم. (ترمذي)

حل اللغات: -① الْوَسِيلَةَ: هِيَ مَا يُتَوَصَّلُ بِهِ إِلَى الشَّيْءِ وَيُتَقَرَّبُ بِهِ: يو څيز ته د رسيدلو او نزدې کيدلو ذريعه.

تسهيلات:

قوله: سَلُوا اللَّهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ:

دوسيلې د مقام په دعا کښې حکمت: مقام محمود اووسيله دواړه يو څيز دې دَاذان نه پس په دعاکښې دَ وسيله ذکر دې. حضورپاك دَ تواضع په انداز کښې کلام فرمائيلې دې ګنی مقام محمود اووسيله دَ حضورپاك دَپاره مختص کړې شوی دی. په دې دعا کښې دَامت دَپاره دَ ثواب ګټلو بهترين موقع ده. دَ "ارجو"لفظ بعضې شارحينو حضراتو دَ "اتيقن" په معنی کښې اخستې دې يعنی زما دا يقين دې چه دا مقام به ماته ملاويږي.

[۵۷۶۸] حضور ﷺ به د تمامو انبياوو امام وي

۵۷۶۸-(۱) [۲۸] [۱]وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ [۲]: «إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ [۳]كُنْتُ إِمَامَ النَّبِيِّينَ وَخَطِيبَهُمْ، [۴]وَصَاحِبَ شَفَاعَتِهِمْ غَيْرَ فَخْرٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابي ابن کعب رضی الله عنه رسول الله ﷺ نه روايت کوي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲]هرکله چې د قيامت ورځ شی [۳]نو زه به مقام محمود کې ولاړ يم او د ټولو انبياوو امام اوپيشوا به جوړ شم هرکله چې په هغوئ کې هيڅوك به ويلو باندې قادر نه وي نو زه به د هغوئ ترجماني کوم [۴]او د ټولو شفاعت او سفارش به کوم او زه داخبره د فخر په طور نه کوم. (ترمذي)

حل اللغات: - ① إِمَامَ النَّبِيِّينَ: د انبياؤ امام او پيشوا.

[۵۷۶۹] حضرت ابراهيم عليه السلام او حضور ﷺ

۵۷۶۹-(۲) [۲۹] [۱]وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]«إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ وُلَاةً مِنَ النَّبِيِّينَ، [۳]وَإِنَّ وَلِيِّيَ أَبِي وَخَلِيلُ رَبِّي. [۴]ثُمَّ قَرَأَ: إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۶۱۲) واحمد فی المسند:۵/۱۳۷

[۲]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة آل عمران (رقم-۲۹۹۵) واحمد فی المسند:۱/۴۰۱

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن مسعود ﷛ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] د هر پيغمبر به د پيغمبرانو نه يو رفيق او ولي وي [۳] او پيغمبرانو کې چې کوم پيغمبر څما رفيق او ولي دی هغه څما پلار او د پروردګار خليل حضرت ابراهيم ﷤ دی [۴] دي نه وروسته حضور ﷺ د خپل دي قول د دليل په طور دا آيت اوويلو: إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ ترجمه بلاشبه په ټولو په خلقو کې زيات خصوصيت لرونکی د حضرت ابراهيم سره البته هغه خلق وه چې هغوئ د هغه په زمانه کې د هغه اتباع کړي وه او دا نبي ﷺ دی او هغه خلق دي چې ايمان يې راوړی او الله ﷻ د ايمان والاو حامي او کارساز دی. (ترمذي

حل اللغات:- ① وُلَاةً: دا دَ وَلِيّ جمع ده دَ دوست په معنی کښې دې يعنی احباب محبوبين او ټول نيزدې خلق.

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ وَلِيِّيَ أَبِي وَخَلِيلُ رَبِّي:

د أبي مصداق: دا نسخه صحيح ده او دَ ابی نه حضرت ابراهيم ﷤ مراد دې بعضې نسخو کښې دَ ربی لفظ دې هغه نسخه صحيح نه ده ځکه چه دَ رب معنی به دلته صحيح نه شي.

[۵۷۷۰] د حضور ﷺ د بعثت مقصد

> ۵۷۷۰-(۱) [۳۰] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ قَالَ [۲]: «(إِنَّ اللّٰهَ بَعَثَنِي لِتَمَامِ مَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ، [۳] وَكَمَالِ مَحَاسِنِ الْأَفْعَالِ» رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷛ نه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] الله ﷻ زه ځکه راليږلی يم چې د ښو اخلاقو تکميل وکړم [۳] او ښه کارونه پوره کړم. (شرح السنه)

حل اللغات:- ① مَكَارِم: دَ مَكْرُمَة جمع ده، يعنی خوښ کړې شوې. ② الْأَخْلَاق: جمع د خلق ده يعنی عادت، خوئی او خصلت. ③ مَحَاسِن: دا د حَسَن جمع ده خلاف القياس، ښه کارونه مراد دی.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ بَعَثَنِي لِتَمَامِ مَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ:

د رسول الله د مبعوث کيدو مقصد: مطلب دا چه مخکينو انبياء کرامو به خلقوته دَ ښه عادتو خودلودَپاره تشريف راوړلو مګر مونږ دَ اعلی درجې دَ اخلاقو خودلودَپاره راغلی يو. ابن الملک ﷫ ددې جملې په تشريح کښې فرمائی چه الله تعالی زه پيغمبر جوړ کړې يم او دَ پوره عالم طرف ته ئې ددې مقصد دَپاره راليږلې يم چه زما په ذريعه دَ خپلو بنديګانو مکارم اخلاق او محاسن افعال مکمل کړی.

[۱] اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۳۶۲۲

مکارم اخلاق لس څیزونه : الله تعالی ته چه دکوم کس نیك بختی منظور وی نو هغه ته دا اخلاق نصیب کوی. کله دا اوصاف په پلار کښې موندلې شی په ځوئی کښې نه وی او کله په ځوئی کښې لیدلې شی او پلار کښې نه وی. کله په غلام کښې وی او په آقا کښې نه وی دا تقسیم دَ الله تعالی دَ طرف نه دې چاله چه غواړی ورنصیب ئی کړی هغه لس څیزوه دادی:

① صدق الحديث، ② صدق اليأس، ③ إعطاء السائل، ④ والمكافاة بالصنائع (دَ خو بدله په خو سره ورکول) ⑤ وحفظ الأمانة ⑥ وصلة الرحم ⑦ والتذمم للجار (ګاونډی سره ښه سلوك كول) ⑧ والتذمم للصاحب (ملګری سره ښه سلوك كول) ⑨ وإقراء الضيف (میلمستیا کول) او حیا کول ⑩ والتذمم أن يراعى ذمامه أي زمامه (دَ مسلمان دَ حرمت خيال ساتل) (مرقاة: ۱۱/۶۶).

د الله تعالی د ښیګړې علامات: حضرت عائشه ﷞ فرمائی چه الله تعالی دَ چا سره ښیګړه کول غواړې هغه ته صدق مقال، اکل حلال، دَ سوال کونکو جاجت پوره کول، دَ امانت حفاظت کول، حیاء او شرم، ګاونډیانو سره ښه سلوك، دَ میلمنو میلمستیا کول، دَ مشرانو عزت کول، په کشرانو شفقت کول، دَ مورپلار خدمت کول ورنصیب کوی. او هم دغه دَ اخلاق محمدیه کرشمه ده. (مرقاة ایضاً)

[۵۷۷۱] په تورات کې د حضور ﷺ او د امت محمدي د اوصافو ذکر

۵۷۷۱-()[۳] [۱]وَعَنْ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، [۲]يَحْكِي عَنِ التَّوْرَاةِ قَالَ: نَجِدُ مَكْتُوبًا مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ عَبْدِيَ الْمُخْتَارُ، [۳]لَا فَظٌّ وَلَا غَلِيظٌ، وَلَا سَخَّابٌ فِي الْأَسْوَاقِ، [۴]وَلَا يَجْزِي بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ، وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَغْفِرُ، [۵]مَوْلِدُهُ بِمَكَّةَ، وَهِجْرَتُهُ بِطِيبَةَ، وَمُلْكُهُ بِالشَّامِ، [۶]وَأُمَّتُهُ الْحَمَّادُونَ، يَحْمَدُونَ اللّٰهَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ، [۷]يَحْمَدُونَ اللّٰهَ فِي كُلِّ مَنْزِلَةٍ، وَيُكَبِّرُونَهُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ،

ترجمه: [۱]او حضرت کعب احبار ﷫ چې یوجلیل القدر تابعي دی او مسلمانیدو نه مخکې زبردست یهودي عالم وو [۲]د تورات په حوالي سره نقل کوي چې ما په تورات کې دالیکلي پیداکړي دي محمد د الله رسول او د هغه برګزیده بنده به وي [۳]هغه به نه ترش خویه وي او نه سخت ګو نه به بازارونو کې شورکونکی وي [۴]او نه به د بدۍ بدله بدۍ سره اخستونکی بلکه معاف کونکی او بخښونکی به وي [۵]د هغوئ د پیدائش ځاي به مکه وي او د هغوئ د هجرت ځاي به طیبه مدینه وي او د هغوئ د حکومت ځاي به د شام ملك وي [۶]د هغه امت به دالله ډیر زیات حمد او تعریف کونکی [۷]او شکر کونکی وي چې په هرحالت کې غم و خوشحالي فراخي او تنګي کې به د الله ﷻ حمد وثناء او

[۱]) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ۸

شکر ادا کوي هغه خلق چې چيرته هم خکته کېږي يا حصار ېږي د الله ﷻ شکر به په ځاي راوړي او چيرته هم چې خيژي نو الله اکبر به وايي

حل اللغات:- ① عَبْدِيْ: أَيْ الْخَاصُّ: خاص بنده، ② الْمُخْتَارُ: دا د اسم مفعول صيغه ده. أَيْ الْمُصْطَفَى: غوره کړې شوي برگزيده بنده، ③ لَافَظٌ: اى أَنَّهُ لَيْسَ قَبِيحَ الْخُلُقِ: بد زبانه او بد خويه به نه وی. ④ لَاغَلِيظٌ: أَيْ سَيِّئَ الْخُلُقِ: سخت خويه، سخت زړه، ⑤ لَاسَخَّابٌ: أَيْ: صَيَّاحٌ: چغې وهونکې، شور کونکې، ⑥ لَايَجْزِيْ: بدله نه اخلى، ⑦ يَعْفُو: معاف کونکې، ⑧ يَغْفِرُ: بخښونکې، ⑨ طِيبَةُ: أَيْ الْمَدِينَةِ: مدينه طيبه، ⑩ الْحَمَّادُونَ: أَيْ الْبَالِغُونَ فِي الْحَمْدِ: د الله تعالى ډير زيات حمد اوثنا کونکى، ⑪ السَّرَّاءِ: أَيْ فِي حَالَةِ السُّرُورِ: خوشحالى، ⑫ الضَّرَّاءِ: أَيْ فِي حَالَةِ الضَّرَرِ: د تکليف اودغم په وخت، ⑬ شَرَفٍ: أَيْ مَكَانٍ مُرْتَفِعٍ: اوچت ځائې.

[۱] رُعَاةٌ لِلشَّمْسِ، يُصَلُّونَ الصَّلَاةَ إِذَا جَاءَ وَقْتُهَا، [۲] يَتَأَزَّرُونَ عَلَى أَنْصَافِهِمْ وَيَتَوَضَّئُونَ عَلَى أَطْرَافِهِمْ، [۳] مُنَادِيهِمْ يُنَادِي فِي جَوِّ السَّمَاءِ، [۴] صَفُّهُمْ فِي الْقِتَالِ وَصَفُّهُمْ فِي الصَّلَاةِ سَوَاءٌ، [۵] لَهُمْ بِاللَّيْلِ دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحْلِ. [٦] هَذَا لَفْظُ (الْمَصَابِيحِ). وَرَوَى الدَّارِمِيُّ مَعَ تَغْيِيرٍ يَسِيرٍ.

ترجمه: [۱] او د نمر لحاظ به ساتي هرکله چې د ما نځه وخت شي مونځ به کوي [۲] خپل ملا (شا) باندې يعنى په نامه برسيره به پرتوغانبن تړي يعنى د ستر پوشي به ډير زيات خيال ساتي د جسم اعضاوو باندې به اودس کوي يعنى لاس پښې او مخ به منځي او پوره اودس به کوي [۳] د هغوئ منادي کونکى به د زمکې او آسمان په منځ کې منادي کوي يعنى مؤذن به يو اوچت ځاي لکه مناره وغيره باندې او ودريدو سره آذان ورکوي [۴] په جنګ کې اوپه ما نځه کې د هغوئ صف به يو شان وي يعنى هغوئ به د اسلام د دښمنانو خلاف د جنګ په ميدان کې هم د صف بندي اصولو او قواعدو پابندي کوي او با جماعت مونځ اداء کولو د پاره هم خپل صفونه سيده کوي [۵] د شپې به د خپل نفس اود شيطان د سرکوبي د پاره د عبادت په وخت د هغوئ اواز پست وي يعنى تسبيح وتهليل او ذکر او تلاوت به په خکته (هلکى) اواز سره کوي څرنګه چې د عسلو (شهد) د مچئ اواز وي [٦] دا د مصابيح الفاظ دي او دارمي په څه لږ تغير سره نقل کړى دى .

حل اللغات:- ⑭ رُعَاةٌ: د رَاعٍ جمع ده، أَيْ مُرَاعُونَ: رعايت اولحاظ ساتونکى. ⑮ يَتَأَزَّرُونَ: أَيْ يَشُدُّونَ آزَارَهُمْ: لنګونه به تړى، ⑯ أَنْصَافِهِمْ: أَيْ: عَلَى أَوْسَاطِهِمْ: په منځ يعنى په نامه باندې به تړى يا داچه د نيمې پنډئ پورې به وى. ⑰ أَطْرَافِهِمْ: أَيْ عَلَى أَمَاكِنِ الْوُضُوءِ: د بدن طرفونه يعنى د اودس په اندامونو باندې، ⑱ جَوِّ السَّمَاءِ: أَيْ: فِي مَكَانٍ مُرْتَفِعٍ: اوچت ځائې يا مناره، ⑲ دَوِيٌّ: أَيْ صَوْتٌ خَفِيٌّ: بنګار، پټ يعنى رو آواز (يعنى ذکر تسبيح يا دعا وغيره په رو آواز سره کوى).

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① **كَعْبٍ**: داکعب احبار تابعي دې دَ تورات ډېر لوئې عالم وو دَهغوی ګواهي يو مستند حيثيت لری کوم چه دَ حضورپاك دَ نبوت اوصفات دَ پاره يو تائيد دې.

② **مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ**: دادَحضوپاك عام مشهورنوم دې. اګرچه په پخوانو کتابونو او آسمانونو کښې دَ حضورپاك نوم احمد ﷺ سره ډير مشهوردې.

③ **الْمُخْتَارُ**: الله تعالى حضورپاك خوښ کړې دې اومنتخب کړې دې. دَ مختارکل معنی داشوه چه حضوپاك دَ ټول کائنات خوښ کړې شوې دې. بريليان دَدې معنی غلطه کوی کوم چه دَهغوی دَ غلطې عقيده عکاس دې.

قوله: مَوْلِدُهُ بِمَكَّةَ، وَهِجْرَتُهُ بِطِيبَةَ:

دسيرت النبی ﷺ مختصر خاکه: عام الفيل ۲۹ اګست ۵۷۰عيسوی کښې پيداشوې. ۴۰ کاله وړاندې دَنبوت زمانه په مکه کښې تيره شوه بيا ۱۳کاله دورنبوت هم په مکه کښې تيرشو. ۵۳کالوپه عمرکښې مدينې منورې ته هجرت اوکړو. لس کاله ئی په مدينه کښې جهادمقدس اوکړو. په ۸هجری کښې مکه فتح شوه. ۹هجری کښې دَجزيرة العرب عام خلق په اسلام کښې داخل شو. په لسم هجری باندې حضورپاك په حجة الوداع باندې يونيم لاکه صحابه کراموسره مدينې ته واپس لاړو ۱۲ربيع الاول ۱۰هجری کښې ۶۳ کالوپه عمرکښې دَحضور پاك انتقال اوشو. دَحضورپاك په سرمبارك او ږيره مبارکه کښې صرف ۲۰ويښته سپين وو. دَحضرت عائشه صديقه ﵂ په حجره کښې دفن کړې شو او ترننه پورې هم په دغه حجره کښې په مسجدنبوی کښې دننه په آرام پروت دې. په اړخ کښې حضرت ابوبکر اوعمر ﵄ په رفاقت کښې موجوددی.

قوله: وَمُلْكُهُ بِالشَّامِ:

د اسلامی خلافت پيشنګوئی: دَهغوی ملکی اوخلافتی استحکام به په شام کښې وی يعنی اصل حکومت خو به په مدينه کښې وی مګر دَدې استحکام او مضبوطيابه په شام کښې وی. په دې کښې دې طرف ته اشاره ده چه دَ شام په زمکه کښې به لوئی جهادوی اودَهغې په نتيجه کښې به اسلامی خلافت مضبوط وی. چنانچه هم داسې اوشو يعنی دَ نبوت اثار او برکات اودَ اعلی کلمة الله په حق کښې به مشهورې نغمې او ترانې په شام کښې ښکاره کيږی.

د بعضې نورو مشکلو جملو وضاحت:

① **شَرَفٍ**: يعنی په هراوچت مقام باندې دَ تکبيرنعره اوچتيږی. دادَ جهادپه ميدان کښې په

خاص تو گه کیږی او انشاء الله کیږی به.

④ رُعَاةٌ لِلشَّمْسِ: یعنی دَ مونځونودَ وختونو پابندی به کوی. نمرته په کتلوسره به دَ مانځه وخت معلوموی لکه چه دَ نمرپېژندنکی به وی.

⑤ يُنَادِي فِي جَوِّ السَّمَاءِ: یعنی دَهغوی اذان کونکی به په اوچت او لوړمقاماتوباندې اودریدوسره اذان کوی. په چتونو اومناروباندې ختلوسره به دَ مونځ په وختونوکښې اذان کوی. په فضاء کښې به دَهغوی اذانونه راتاویږی لکه چه په فضاګانوکښې اذان کیږی.

⑥ فِي الْقِتَالِ: یعنی څنګه چه دَ مانځه صفونه تړلوسره مونځ کوی هم دغه شان به دَ جهادپه میدان کښې هم صف بندی کوی.

⑦ دَوِيّ النَّحْلِ: یعنی دَ شپې په وخت دَتهجد په مونځونوکښې به دَالله تعالی په ذکراو تلاوت کښې داسې بنړیږی لکه دَ شاتودَ مچو آوازکښې چه وی.

[۵۷۷۲] حضرت عیسی علیه السلام به دَرسول الله ﷺ په اړخ کښې خښیږی

۵۷۷۲–()[۳۲] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ، قَالَ، مَكْتُوبٌ فِي التَّوْرَاةِ: صِفَةُ مُحَمَّدٍ [۲] وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ يُدْفَنُ مَعَهُ. [۳] قَالَ أَبُو مَوْدُودٍ: وَقَدْ بَقِيَ فِي الْبَيْتِ مَوْضِعُ قَبْرٍ، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله بن سلام رضی الله عنه وايي په تورات کې د حضرت محمد اوصاف ذکر دی [۲] و داهم لیکل شوي دي چې عیسیٰ ابن مریم به د حضور حجره اقدس کې دفن شی [۳] د حضرت ابو مودود رحمه الله چې د دې حدیث یوراوي دی بیان دی چې دبي بي عائشي رضی الله عنها حجره مبارکه کې چیرته چې حضور ﷺ زمکه کې لاندې آرام فرمادي د یو قبر ځاي باقي دی. (ترمذي)

حل اللغات:- ① يُدْفَنُ: دفن کولې به شی.

تسهیلات:

قوله: مَكْتُوبٌ فِي التَّوْرَاةِ: صِفَةُ مُحَمَّدٍ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ يُدْفَنُ مَعَهُ:

دَرسول الله ﷺ او دحضرت عیسی علیه السلام د مدفن پیشنګوئی: یعنی دَ حضرت عائشه رضی الله عنها په هجره کښې دَ حضورپاك په مقبره کښې به خښیږی. دَ رسول الله ﷺ دَ قدمونو مبارکو نه شاطرف ته صدیق اکبر رضی الله عنه دې. دَ صدیق رضی الله عنه په اړخ کښې شاته حضرت عمر رضی الله عنه دې او دَ حضرت عمر رضی الله عنه په اړخ کښې شاطرف ته دَ یوقبر ځائی خالی دې هم هلته به حضرت عیسیٰ علیه السلام خښیږی.

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ۳۶۱۷

چنانچه کله چه حضرت عیسیٰ حج کوی نو دَ مکې او مدینې په مینځ کښې به دَ هغوی انتقال کیږی دَ هغه ځائې نه به هغوی مدینې منورې ته راوړلې شی او هلته به دفن کولې شی. لکه چه دَ دوو نبیانو په مینځ کښې به دوه شیخین وی تصوراتی نقشه داسې کیدې شی. حضرت محمد ﷺ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه او حضرت عیسیٰ علیه السلام.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۷۷۳] انبیاوو او آسمان والو باندې د حضور ﷺ د فضیلت دلیل

۵۷۷۳-()[۲۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ [۲]: إِنَّ اللهَ تَعَالَى فَضَّلَ مُحَمَّدًا رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى الْأَنْبِيَاءِ وَعَلَى أَهْلِ السَّمَاءِ. [۳] فَقَالُوا: يَا أَبَا عَبَّاسٍ) ! بِمَ فَضَّلَهُ عَلَى أَهْلِ السَّمَاءِ؟ [۴] قَالَ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ لِأَهْلِ السَّمَاءِ: ﴿وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَهٌ مِنْ دُونِهِ فَذَلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ كَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ﴾ [الأنبياء:۲۹]

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت هغوئ یو وخت په خپل مجلس کې وفرمایل [۲] الله جل جلاله حضرت محمد ﷺ ته په ټول انبیاء او اهل آسمان فرشتو باندې فضیلت عطا کړې دې [۳] د مجلس حاضرینو په دې اوریدو سره پوښتنه وکړه اې ابوعباس رضی الله عنه «دا د ابن عباس رضی الله عنه کنیه ده» اهلِ آسمان باندې حضور ﷺ ته الله جل جلاله څرنګه فضیلت ورکړې دی [۴] حضرت ابن عباس رضی الله عنه اوویل الله جل جلاله اهل آسمان ته خو داسې خطاب وفرمایې: وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَهٌ مِنْ دُونِهِ فَذَلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ كَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ. ترجمه: فرشتو کې چې څوک دا اووائې چې د الله جل جلاله نه ماسوا زه معبود یم نو مونږ به هغه ته د جهنم سزا ورکړو او ظالمانو ته مونږ دغه شان سزا ورکوو ګویا دې خطاب کې نه صرف دا چې د ډیر سخت آنداز او رعب او دبدبې اظهار دی بلکه د سخت عذاب خبر هم ورکول شو

[۱] وَقَالَ اللهُ تَعَالَى لِمُحَمَّدٍ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا - لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾ [الفتح:۱-۲] [۲] قَالُوا: وَمَا فَضْلُهُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ؟ [۳] قَالَ: قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ فَيُضِلُّ اللهُ مَنْ يَشَاءُ﴾ [إبراهيم: ۴] الْآيَةَ، [۴] وَقَالَ اللهُ تَعَالَى لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ﴾ [سبأ: ۲۸] [۵] فَأَرْسَلَهُ إِلَى الْجِنِّ وَالْإِنْسِ.

ترجمه: [۱] او هر کله چې حضور ﷺ ته خطاب وفرمایل شو نو ډیر ملائمت مهربانې او د کرم او عنایت آنداز اختیار وفرمایل شو نو حضرت محمد ﷺ ته الله جل جلاله داسې وفرمایل إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ ترجمه: ای محمد مونږ ستا د پاره د

[1]) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ۴۶

عظمتونو او برکتونو دروازي پوره طور سره خلاص دی (لکه د مکي فتح کیدل) او داخکه دی چي الله ﷻ ستاسو مخکني او وروستني ټول ګناهونه معاف کړي. [۲] خلقو عرض وکړو ښه دا وښايي چي حضور ﷺ ته په ټولو نبيانو الله ﷻ څه طور سره فضيلت ورکړی دی [۳] حضرت ابن عباس رضی الله عنه اوویل الله ﷻ د نورو انبیاوو په نسبت داسي وفرمایل: وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَاءُ الآية. ترجمه: مونږ هرنبي د هغه د قوم ژبي سره ولیږی چي هغه د قوم مخکي د الله ﷻ احکام او قوانين بيان کړي او الله ﷻ چي څوك غواړي ګمراه کوي يي. الخ [۴] او الله ﷻ د حضرت محمد ﷺ په باره کي دا وفرمایل وَمَا أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ ترجمه: اي محمد! مونږ ته د ټولو خلقو د پاره رسول راليږلی يي [۵] نو الله ﷻ حضور ﷺ د جنّ او انسان دواړو پیغمبر جوړولو سره راليږلی دی.

حل اللغات:- ① فَتْحًا: فتح، کامیابی، ② مُبِينًا: ښکاره، واضحه (لکه فتح مکه). ③ مَا تَقَدَّمَ: مخکني (ګناهونه)، ④ مَا تَأَخَّرَ: روستني (ګناهونه). ⑤ فَيُضِلُّ: ګمراه کوی.

تسهیلات:

قوله: وَمَا أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ:

دَ رسول الله ﷺ دَ پوره کائنات دَ پاره نبی جوړیدل: دا ارشاد په اصل کښي دَ اهل کتاب دَ هغه قول تردید دي چه هغوی به وئیل چه حضورپاك صرف دَ اهل عرب دَپاره راليږلي شوي دي. په دې آیت سره ئی دَ هغوی تردید اوکړو چه حضورپاك صرف دَ اهل عرب دَپاره نه بلکه دَ پوره کائنات دَ پاره نبی جوړکړي شوي او راليږلي شوي دي. او حديث الباب دَ رسول الله ﷺ په ټولو عرشيانو او فرشيانو باندي په فضيلت دلالت کوی.

[۵۷۷٤] حضور ﷺ خپل نبوت څرنګه وپیژندی

۵۷۷٤-(¹) [۳۳] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! كَيْفَ عَلِمْتَ أَنَّكَ نَبِيٌّ حَتّٰى اسْتَيْقَنْتَ؟ [۳] فَقَالَ: "يَا أَبَا ذَرٍّ! أَتَانِي مَلَكَانِ وَأَنَا بِبَعْضِ بَطْحَاءِ مَكَّةَ، [۴] فَوَقَعَ أَحَدُهُمَا إِلَى الْأَرْضِ، وَكَانَ الْآخَرُ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، [۵] فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: أَهُوَ هُوَ؟ [۶] قَالَ: نَعَمْ. [۷] قَالَ: فَزِنْهُ بِرَجُلٍ، [۸] فَوُزِنْتُ بِهِ فَوَزَنْتُهُ،

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه وايي [۲] مايو ځل عرض وکړو يارسول الله! تاسو ته څرنګه معلومه شوه چي تاسو نبي يي او بيا تاسو ته د خپل نبوت يقين څرنګه وشو؟ [۳] حضور ﷺ وفرمايل اي ابوذره! زه بطحائي مکه کي يوځاي کي وم ماته دوه فرشتي راغي په هغه کي [۴] يوه فرشته د زمکي او آسمان په منځ کي وه [۵] بيا په هغوی کي يوي

¹) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ١٤

زما طرف ته اشاره کولو سره خپل ملګري فرشتي ته اوويل دا هغه سړی دی چې د هغه په باره کې الله ﷻ مونږ ته خو دلي دي چې ځما يو پيغمبر دی هغه ته ورشئ ٦ هغه فرشتي جواب ورکړو هو دا هغه سړی دی ٧ بيا مخکني فرشتي دويمې فرشتي ته اوويل چې د دې پيغمبر د امت نه ديو سړی سره دَي وتلی (وزن کرنا) ٨ نو زه يې ديو سړي سره وتللم او زه د هغه سړي نه دروند شوم

حل اللغات:- ① اسْتَيْقَنْتَ: أَيْ بَلَغَ عِلْمُكَ غَايَتَهُ الَّتِي هِيَ الْيَقِينُ: چه يقيني طور سره تاته علم اوشو (چه تاسو نبي يئ). ② بَطْحَاء: دمکې شګلوړه زمکه. ③ فَوَقَعَ: أَيْ فَنَزَلَ: نازل شو. ④ أَهُوَ هُوَ؟: دا په موضع د هذا کنبې واقع دې، يعنی آيا دا هغه سړې دې چاته چه د ورتلو الله تعالی حکم ورکړې دې. ⑤ فَزِنْهُ: زن صيغه د امر ده، يعنی وزن کړئ دا پيغمبر ﷺ.

> ١ ثُمَّ قَالَ: زِنْهُ بِعَشَرَةٍ، ٢ فَوَزَنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ، ٣ ثُمَّ قَالَ: زِنْهُ بِمِائَةٍ، فَوَزَنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ، ٤ ثُمَّ قَالَ زِنْهُ بِأَلْفٍ، فَوَزَنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ، ٥ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَنْتَثِرُونَ عَلَيَّ مِنْ خِفَّةِ الْمِيزَانِ. ٦ قَالَ: فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: ٧ لَوْ وَزَنْتَهُ بِأُمَّتِهِ لَرَجَحَهَا» "رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ بيا هغه فرشتي اوويل اوس يې لس سړو سره وتلئ ٢ نو لس سړو سره يې وتللم نود هغه لس سړو نه هم دروند شوم ٣ بيا هغه فرشتي اوويـل سلو سړو سره يـې وتلي نو سلو سړو سره يې وتللم اود هغه سلو نه هم دروند شوم ٤ بياد زرو سړو سره وتلل شوم او هغوئ نه هم دروند شوم ٥ او ګويا اوس هم زه هغه زر سړي وينم چې هغوئ دترازوپه کومه پله کې وو هغه ځما په مقابله کې دومره سپك وختل او دومره پورته شوه چې ماته داسې ولګيده لکه چې اوس به ټول په ما راوغورځيږي ٦ دي نه وروسته هغه دواړو فرشتو کې يوې دويمې ته اوويل ٧ که ته دوئ د دوئ دټول امت سره هم وتلي بيابه هم يقيناً د ټول امت په مقابله کې دروند وي دا دواړه روايتونه دارمي نقل کړی دی.

حل اللغات:- ⑥ يَنْتَثِرُونَ: أَيْ يَتَسَاقَطُونَ: راغورزيدل. ⑦ خِفَّةِ الْمِيزَانِ: سپکه تله، ⑧ لَرَجَحَهَا: راجح يعنی درنه به وي.

تسهيلات:

قوله: فَوَزَنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ، كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَنْتَثِرُونَ عَلَيَّ مِنْ خِفَّةِ الْمِيزَانِ:

رسول الله ﷺ دټولو انبياؤ دکمالاتو مجموعه: يعنی ماته په وخت دَوزن داسې ښکاريده چه دَهغوی دَ تلې دَ چابړی نه په ماباندې خلق راګذاريدل ځکه چه دَهغوی چابړې سپك وو پورته زنګيدله. زما چابړې درندوو نولکه چه هغوی دَ بره نه په ما راپريوتل هغه چا څه ښه فرمائيلی دی:

جہاں کے سارے کمالات ایک تجھ میں ہیں　　　تیرا کمال کسی میں نہیں مگر دو چار

يعنى دَ ټول جهان چه كمالات دى هغه ټول صرف په تاكښې يوازې دى مگر ستا كمال په هيچاكښې نشته سوا دَ دوه څلورونه.

[۵۷۷۵] حضور ﷺ باندې په هرحالت كې قرباني فرض وه

۵۷۷۵-()[۳۵] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«كُتِبَ عَلَيَّ النَّحْرُ وَلَمْ يُكْتَبْ عَلَيْكُمْ، [۳] وَأُمِرْتُ بِصَلَاةِ الْفَجْرِ وَلَمْ تُؤْمَرُوا بِهَا» " رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په ما په هرحالت كې قرباني فرض شوي ده كه زه مالي استطاعت لرم يا نه لرم او حال دا چې تاسو باندې داسې فرض نه ده بلكه داسې حالت كې پهره داردي فرض ده كله چې تاسو مالي استطاعت لرئ [۳] او ماته د چاشت مونځ حكم د وجوب په طور شوي دي حال دا چې تاسو ته نه دى شوى بلكه دا مونځ يي ستاسو دپاره صرف سنت گرځولى دى. (دار قطني)

حل اللغات:- ① النَّحْرُ: قرباني.

تسهيلات:

قوله: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُتِبَ عَلَيَّ النَّحْرُ وَلَمْ يُكْتَبْ عَلَيْكُمْ:

په رسول الله ﷺ دقربانۍ فرضيت: كُتِبَ دَفرض كولو په معنى كښې دې يعنى كه زه مالداريم او كه مالدارنه يم په هرحالت كښې په ما قربانى فرض ده. اوتاسو امت والاكه چرې مالدار نه وى نو په تاسوباندې فرض نه ده اودَ ساختى وخت مونځ په ما واجب دې او په تاسو واجب نه دې.

اشكال: حضورپاك دَ ساختى وخت دَمونځ پابندى نه ده كړې بيادَ فرض كيدوڅه مطلب دې؟

د اشكال جواب: په حضورپاك باندې يوځل دَ ساختى وخت مونځ فرض وو چه حضورپاك اداكړو دَ هميشه دَپاره فرض نه وو او په امت باندې هم فرض نه وو صرف سنت دې.

---

[۱]) اخرجه الدارقطنى فى السنن رقم الحديث ۴۲ من باب الصيد

[۲]بَابُ أَسْمَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِفَاتِهِ]

د نبي کریم ﷺ اسماء مبارکه او د صفاتو بیان

خلاصة الباب

فيه خمسة وعشرون حديثاً مشتملة على اربع مسائل و على سبع خمسين صفةً و اسماً:

① أسماء النبي صلى الله عليه وسلم: ۱ ، ۲، ۳۔

② صفات النبي صلى الله عليه وسلم:۴، ۷، ۸،۹ ، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴،۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰،۲۱،۲۲،۲۳،۲۵

③ ذکرخاتم النبوة: ۴، ۵، ۶، ۱۶۔

④ ذكر نعت النبي ﷺ في التورة : ۲۴۔

په باب کښې د صفاتو څخه مراد: په دې باب کښې د نبی ﷺ په صفاتو کښې د اول قسم یعنی دَحضورپاك حلیه مبارکه پیش کولې شی اودې نه پس به دَحضور پاك دَ اخلاقو بیان راځی.

په سابقه کتابونو کښې د نبی علیه السلام نوم: دَرسول الله ﷺ مبارك نومونه سل دی مګر دَحضورپاك ذاتی نوم کوم چه ئی نیکه عبد المطلب کیخودې وو هغه محمد ﷺ دې. هم دغه ډیرمشهوردې البته په پخوانو دینونو او کتابونو کښې اودغه شان په آسمانی فرښتو کښې دَ حضورپاك ډیرمشهورنوم احمد دې.

په عربو کښې دَمحمد نوم کیخودو رواج ډیرکم وو بلکه دَنشت برابروو. دَحضورپاك دَنیکه نه پوښتنه هم اوکړې شوه چه تاسو دانوم ولې کیخودو؟ نوهغوی اوفرمائیل چه ما غوښتل چه دکائنات ذره ذره زمادَدې بچی تعریف اومدح اوکړی اودې دَټولو محمود جوړشی یعنی تعریف کړې شوې جوړشی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۷۷۶]اسماء نبوي ﷺ

۵۷۷۶ -() [۱]⑴عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " ⑵«إِنَّ لِي أَسْمَاءً: أَنَا مُحَمَّدٌ، وَأَنَا أَحْمَدُ، وَأَنَا الْمَاحِي الَّذِي يَمْحُو اللّٰهُ بِي الْكُفْرَ، ⑶وَأَنَا الْحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى قَدَمِي، ⑷وَأَنَا الْعَاقِبُ الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب ما جاء في أسماء رسول الله صلى الله عليه وسلم " (رقم-۳۵۳۲) ومسلم في كتاب الفضائل/باب في أسمائه صلى الله عليه وسلم (رقم-۱۲٤ - (۲۳٥٤) والترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في أسماء النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۲۸٤۰) ومالک في الموطا في كتاب أسماء النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۱)واحمد في المسند: ٤/۴۰۷

ترجمه: ۱ حضرت جبیر ابن مطعم رضی الله عنه وایي ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل ۲ چې ځما متعدد نومونه دي په هغه کې ځما مشهور نومونه محمد دی او احمد دي اوزه ماحي یم چې الله تعالیٰ ځما په ذریعه کفر ختموي ۳ ځما نوم حاشر هم دی چې خلق به ځما په نقش قدم پورته شي ۴ او ځما نوم عاقب هم دی یعنی هغه سړی چې د هغه نه وروسته بل نبي نشته. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① مُحَمَّدٌ: دا اسم مفعول دې د تحمیدنه، وَهُوَ الْمُبَالَغَةُ فِي الْحَمْدِ: په حمد کښې مبالغه مراد ده، یعنی ډیر زیات حمد کونکې. ② أَحْمَدُ: دا د حمد نه د اسم تفضیل صیغه ده، د مبالغې په وجه ددې متعلق حذف شوې دې، أَيْ أَحْمَدُ مِنْ كُلِّ حَامِدٍ: دهر حمد کونکی نه زیات حمد کونکې، ③ الْمَاحِي: باطل ختمونکې، ورانونکې (تیارې دکفر اود شرک لره). ④ الْحَاشِرُ: أَيْ ذُو الْحَشْرِ: جمع کونکې. ⑤ عَلَى قَدَمِي: أَيْ عَلَى أَثَرِي: زما په نقش قدم باندې. ⑥ الْعَاقِبُ: دټولو نه آخری (یعنی آخری نبی).

تسهیلات:

قوله: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ لِي أَسْمَاءً:

د حضور پاک صلی الله علیه وسلم د عظمت یو دلیل: دَ حضورپاک دَنومونو زیاتیدل دَ حضورپاک دَعظمت او اوصاف حمیده دکثرت دلیل دې. دَ رسول الله ﷺ یونوم اسم ذاتی دې کوم چه محمد ﷺ دې کوم چه دَ حضورپاک نیکه کیخودې دې. باقی ټول صفاتی نومونه دی چه ټول سل نومونه معروف اومشهوردی.

د بعضې مشکلو الفاظو وضاحت:

① الْحَاشِرُ: یعنی دَ ټولو نه مخکښې به حضورپاک دَ قبر نه اوچتیږی. دَ حضورپاک په نقش قدم باندې به نور خلق راوچتیږی او میدان حشرکښې به یوځائی کیږی.

② الْعَاقِبُ: دَدې مطلب دادې چه حضورپاک خاتم النبیین دې دَ حضورپاک نه پس به بل نبی نه راځی. حضرت عیسیٰ علیه السلام به دَ حضورپاک امتی جوړیدو سره راځی دې نه علاوه دعویٰ کونکې به دروغژن اودجال وی.

[۵۷۷۴] د نبی علیه السلام مختلف نومونه

۵۷۷۴-()[۲] ۱ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ ۲: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ـ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ يُسَمِّي لَنَا نَفْسَهُ أَسْمَاءً، ۳ فَقَالَ: "أَنَا مُحَمَّدٌ، وَأَحْمَدُ، وَالْمُقَفِّي، ۴ وَالْحَاشِرُ، وَنَبِيُّ التَّوْبَةِ، وَنَبِيُّ الرَّحْمَةِ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوموسیٰ اشعري رضی الله عنه وایي ۲ چې رسول الله ﷺ به زمونږ مخکې د

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب فی أسمائه صلی الله علیه وسلم (رقم-۱۲۶ - (۲۳۵۵) واحمد فی المسند: ۴/۳۹۵

خپل ذات مبارك متعدد نومونه بيانول ۳ يوه ورځ حضور ﷺ وفرمايل زه احمد يم زه محمد يم زه مُقَفِّي يم ټول پيغمبرانو نه وروسته راتلونكى يم ۴ زه حاشر يم يعنى د قيامت په ورځ ټول خلق جمع كونكى يم زه د توبي نبي يم او زه د رحمت نبي يم . (مسلم)

حل اللغات:- ① الْمُقَفِّي: دا د قَفّا نه دې، په معنى د آخر سره، يعنى خاتم النبيين دې، چه دهغه اتباع كولې شى يعنى خلق دهغه په نقش قدم روان وى. ② نَبِيُّ التَّوْبَةِ: د توبې نبى (نبى ﷺ ډير زيات رجوع كونكې وو الله تعالى ته). ③ نَبِيُّ الرَّحْمَةِ: د رحمت نبى (نبى ﷺ په خپل امت ډير مهربان وو).

تسهيلات:

قوله: نَبِيُّ التَّوْبَةِ، وَنَبِيُّ الرَّحْمَةِ:

د نبى الرحمه او د نبى التوبه مطلب: مطلب دا چه دَحضورپاك په لاس مبارك باندې ډيرو خلقو توبه كړې ده يا مطلب دا دې چه حضورپاك په شپه او ورځ كښې ډير استغفاركونكې او توبه كونكې وو. دَمسجدنبوى په محرابى ديوال باندې هغې سره نبى السيف هم ليكلې دې او نبى الملاحم هم دَحضورپاك په نومونو كښې يو نوم دې. يعنى دَ سختو جنګونو والا نبى او دَتورو والا نبى.

[۵۷۷۸] حضور ﷺ او د كافرو كنځل

۵۷۷۸-(¹) [۳] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " أَلَا تَعْجَبُونَ كَيْفَ يَصْرِفُ اللّٰهُ عَنِّي شَتْمَ قُرَيْشٍ وَلَعْنَهُمْ؟ ۳ يَشْتُمُونَ مُذَمَّمًا، وَيَلْعَنُونَ مُذَمَّمًا، وَأَنَا مُحَمَّدٌ» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ وحضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ يوه ورځ صحابه رضي الله عنهم ته وفرمايل ۲ آيا تاسو ته په دې حيرت نه دى چې الله جل جلاله زه د قريش مكه د كنځلو او لعنتونو نه څرنګه محفوظ كړى يم ۳ هغوئ مذمم ته كنځل كوي او مذمم باندې لعنت ليږي حال دا چې زه محمد يم .بخارى

حل اللغات:- ① يَصْرِفُ اللّٰهُ: اړوى الله پاك، ② مُذَمَّمًا: بدى بيان كړې شوې.

تسهيلات:

قوله: يَشْتُمُونَ مُذَمَّمًا، وَيَلْعَنُونَ مُذَمَّمًا، وَأَنَا مُحَمَّدٌ:

د حديث پس منظر: قريش چونكه عربى باندې پوهيدل او دَ محمد معنى دا ده چه هغه سړې كوم چه ډير زيات تعريف كړې شوې وى. كله چه به قريشو كنځلې كولې نو دَ

¹) اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب ما جاء في أسماء رسول الله صلى الله عليه وسلم " (رقم-۳۵۳۳) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: الإبانة والإفصاح بالكلمة الملفوظ بها إذا قصد بها لما لا يحتمل معناها لم توجب شيئًا ولم تثبت حكمًا (رقم-۳۴۳۸) واحمد في المسند:۲/۲۴۴

حضور پاك نوم اخستلو سره لكه چه اول به ئى تعريف كيدلو بيابه كنځلې راتلې. داځيزد قريشو كافرانو محسوس كړو په دې وجه هغوى فيصله اوكړه چه محمد ته به بيا مذمم وايو په دې نوم به ورته كنځلې كوو. چنانچه هغوى به مذمم وئيلو سره كنځلې كولې. حضور پاك اوفرمائيل چه الله تعالى اوغوښتل چه په لفظى توګه باندې هم دحضور پاك نوم مبارك سره كنځلې اونه انخلى، په دې وجه هغوى اوس مذمم ته كنځلې كوى مذمم ځوك دې زه خو محمد يم.

[۵۷۷۹] مخ مبارك وېښته مبارك او د نبوت د مهر ذكر

۵۷۷۹-(١) [١] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ [٢]: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَدْ شَمِطَ مُقَدَّمُ رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ، [٣] وَكَانَ إِذَا ادَّهَنَ لَمْ يَتَبَيَّنْ، [٤] وَإِذَا شَعِثَ رَأْسُهُ تَبَيَّنَ، [٥] وَكَانَ كَثِيرَ شَعْرِ اللِّحْيَةِ، [٦] فَقَالَ رَجُلٌ: وَجْهُهُ مِثْلُ السَّيْفِ؟ [٧] قَالَ: لَا بَلْ كَانَ مِثْلَ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ، [٨] وَكَانَ مُسْتَدِيرًا، [٩] وَرَأَيْتُ الْخَاتَمَ عِنْدَ كَتِفِهِ [١٠] مِثْلَ بَيْضَةِ الْحَمَامَةِ يُشْبِهُ جَسَدَهُ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر ابن سمره رضي الله عنه وايي [٢] د رسول الله ﷺ د سر او ږيرې مباركې مخكنى حصه كې څه وېښته سپين شوي وه [٣] هركله به يې چې وېښتانو باندې تيل ولګول نو هغه سفيدې سپين والى به نه ښكاره كيدى [۴] البته د سر مبارك وېښته چې به خواره وه نو دا سفيد به ښكاره كيدله [۵] او د حضور ﷺ ږيره مباركه كې ډيرزيات وېښته وه [٦] كوم وخت چې حضرت جابر رضي الله عنه د حضور ﷺ د احليه شريف بيان كړه نو يوه سړي اوويل چې د حضور ﷺ مخ مبارك چمك دمك كې د توري په شان وو [٧] حضرت جابر رضي الله عنه اوويل نه بلكه د نمر سپوږمۍ په شان وو [٨] او ګردې والى په كښې وو [٩] او ما د حضور ﷺ مهر نبوت اوليدلو چې اوږې ته نزدې وو [١٠] او د كونترې د هګۍ په شان ګول وو د هغه رنګ د حضور ﷺ د جسم مبارك درنګ په شان وو مسلم

حل اللغات:- ① شَمِطَ: أَيْ: شَابَ: سپين شوى وو. ② ادَّهَنَ: تيل به ئې اولګول. ③ لَمْ يَتَبَيَّنْ: أَيْ: لَمْ يَظْهَرْ: نه به ښكاريدل (سپين وېښته). ④ شَعِثَ: أَيْ: تَفَرَّقَ: اوچيدو سره د وېښتو ګډوډوالى ته شعث وائى. ⑤ مُسْتَدِيرًا: أَيْ: مَائِلًا إِلَى التَّدْوِيرِ: ګولائى ته مائل وو (يعنى مكمل ګول نه وو). ⑥ الْخَاتَمَ: اى خَاتَمُ النُّبُوَّةِ: مهر نبوت. ⑦ بَيْضَةِ: هګۍ. ⑧ الْحَمَامَةِ: كونتره.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ رَجُلٌ: وَجْهُهُ مِثْلُ السَّيْفِ؟ قَالَ: لَا بَلْ كَانَ مِثْلَ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ:

د رسول الله ﷺ مخ مبارك د توري پشان د روښانه كيدلو مطلب: چونكه توره كښې پرق

---

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الفضائل/باب شيبه صلى الله عليه وسلم (رقم-١٠٩ - (٢٣٤٤)) والترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٣٦) واحمد فى المسند:٥/٩٠

سره اوړدوالی اوپلنوالي وی نودا احتمال پیداشو چه کیدې شی دَحضورپاك مخ مبارك داسې وو. دَدې جواب حضرت جابر ﷺ ورکړو چه داسې نه بلکه دَحضورپاك مخ مبارك دَ سپوږمئی په شان سپین اودَ نمر په شان روښانه وو.

قوله: وَرَأَيْتُ الْخَاتَمَ عِنْدَ كَتِفِهِ مِثْلَ بَيْضَةِ الْحَمَامَةِ يُشْبِهُ جَسَدَهُ:

دمهر نبوت د غوښې رنګ: یعنی دَ مهرنبوت غوښه دَ بدن دَغوښې په شان وه دَدې مطلب دادې چه دَ نبوت دَ مهر دَ غوښې رنګ هم هغه شان وو کوم چه دَعام بدن رنګ وو.

د نوعمر صحابی د رسول الله ﷺ حلیه مبارکې بیانولو توجیه: حضرت جابربن سمرة ﷺ نوعمر صحابی دې اودَحضورپاك دَ حلیه مبارکه هم وړوکی صحابی بیان کړې ده. بزرګانو صحابه کرامو داجرأت نه شوکولې دکوم اعتراف چه حضرت عمروبن العاص ﷺ دَخپل وفات په وخت کښې کړې وو چه ما کله هم په ډك نظر دَحضورپاك دیدار اونه کړو ادب او رعب په مینځ کښې وو.

[۵۷۸۰]مهر نبوت کوم ځای وو؟

۵۷۸۰-() [۵] ①وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَرْجَسَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ②: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَكَلْتُ مَعَهُ خُبْزًا وَلَحْمًا -③أَوْقَالَ: ثَرِيدًا -④ثُمَّ دُرْتُ خَلْفَهُ، فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ عِنْدَ نَاغِضِ كَتِفِهِ الْيُسْرَى،⑤جُمْعًا، عَلَيْهِ خِيلَانٌ كَأَمْثَالِ الثَّآلِيلِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت عبد الله ابن سرجس ﷺ وایي ②ما د رسول الله ﷺ د زیارت ملاقات او هغوئ سره د طعام خوړلو شرف حاصل کی طعام روټۍ او غوښه وه ③یا هغه دا اوویل ثرید وو (یعني روټۍ په ښوروا کې وړه شوي وه ④بیا زه د حضور ﷺ شا طرف ته راغلم او مهرِ نبوت مي اولیدلو چې د حضور ﷺ د دواړو اوږو په منځ کې د ګسي اوږې نرم هډوکی باندې وو ⑤او د هیئت د اعتبار نه د موټي په شان وو او په هغه د زخو په شان تِل ننښي وي. (مسلم)

حل اللغات:- ①دُرْتُ: راتاؤ شوم، راغلم، ②نَاغِضِ: أي عَظْمٌ رَقِيقٌ: نرم هډوکي، ③جُمْعًا: هُوَأَنْ تَجْمَعَ الْأَصَابِعَ وَتَضُمَّهَا: دلاس ګوتې چه بند کړې شی هغې ته وائی یعنی موټې، ④خِيلَانٌ: د خَال جمع ده، وَهِيَ نُقْطَةٌ تَضْرِبُ إِلَى السَّوَادِ: تور والی ته مائل داغونه، ⑤الثَّآلِيلِ: د ثُؤلُول جمع ده، په بدن باندې یوقسم تور ټاکی راخیجی هغه مراد دی په فارسی کښې ورته زَخ او پښتو کښې ورته زخې وائی. (اردو کښې ورته تِل وائی).

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب إثبات خاتم النبوة، وصفته، ومحله من جسده صلی الله علیه وسلم (رقم-۱۱۲-(۲۳۴۶) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی خاتم النبوة (رقم-۳۶۴۳) واحمد فی المسند:۸۲/۵

تسهيلات:

قوله: فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتِمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ عِنْدَ نَاغِضِ كَتِفِهِ الْيُسْرَى:

په مهر نبوت باندی ليکل شوی الفاظ: دَ ختم نبوت دامهردَ رسول الله ﷺ دَشا دَ کسې اوګې لاندې وو. دَ نبوت ملاويدونه پس دا پيدا شوې وو. دا دَ غوښې يوه ګول ټکړه وه دکوم باره کښې چه په پخوانو آسمانی کتابونوکښې دَ وخت پيغمبرانو عليهم السلام په تفصيل سره خودنه کړې وه. اودَ حضورپاك دَ نبوت علامت ئی ګرځولې وو. په دې وجه به حضورپاك دا هرکتونکی ته خودلو او پټولوئی نه. په دې باندې ليکلې شوی وو "وحدلاشريك له توجه حيث كنت فانك منصور" دَحضورپاك وفات سره مهرنبوت په بدن مبارك کښې دننه ډوب شو لاړو.

قوله: جُمْعًا، عَلَيْهِ خِيلَانٌ كَأَمْثَالِ الثَّآلِيلِ:

دمهر نبوت مقدار او کيفيت: دَ لاس دَ موټی په شان دامهروو داتشبيه په هئيت اوکيفيت کښې ده په حجم کښې نه ده. په حجم کښې دامهر دَتيتر يا کونترې دَ هګئی برابر وو. داخبره ياده لرنی چه هرکتونکی دَدغه مهرساخت په يوه اندازه سره خودلې دې. په دې وجه مختلف الفاظ راغلی دی. بعضې دَتيتردَهګئی بعضې دکونترې دَ هګئی بعضې دَ منړې دَ دانې بعضې دَ غوټې برابر دَدې مهرساخت خودلې دې. اوبعضو دَ لاس دَ موټی برابر خودلې دې داټولې اندازې دی دې ته تعارض نه شی وئيلې. هريوخپله اندازه کړې اوخودلې دې.

[٥٧٨١]په بچو شفقت

٥٧٨١-(١) [٢] ١ وَعَنْ أُمِّ خَالِدٍ بِنْتِ خَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ٢ «أُتِيَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِثِيَابٍ ٣ فِيهَا خَمِيصَةٌ سَوْدَاءُ صَغِيرَةٌ، ٤ فَقَالَ: (ائْتُونِي بِأُمِّ خَالِدٍ) ٥ فَأُتِيَ بِهَا تُحْمَلُ، ٦ فَأَخَذَ الْخَمِيصَةَ بِيَدِهِ، فَأَلْبَسَهَا. ٧ قَالَ: (أَبْلِي وَأَخْلِقِي، ثُمَّ أَبْلِي وَأَخْلِقِي) ٨ وَكَانَ فِيهَا عَلَمٌ أَخْضَرُ أَوْ أَصْفَرُ. ٩ فَقَالَ: (يَا أُمَّ خَالِدٍ هَذَا سِنَاهْ) ١٠ وَهِيَ بِالْحَبَشِيَّةِ: حَسَنَةٌ.

ترجمه: ١ او د خالد ابن سعيد لور اُم خالدَ وايي ٢ يوه ورځ رسول الله ﷺ ته په هديه کې څه کپړې راغلي ٣ په هغه کې يو وړه کمبله هم وه ٤ حضور ﷺ وفرمايل ام خالد ماته راولئ ٥ نو ام خالدَ چې بچی وه اوچتولو سره حضور ﷺ ته راوستل شوه ٦ حضور ﷺ هغه کمبله پورته کړه او خپل لاس مبارك سره يې ام خالد ته وروا غوستله ٧ او بيا څرنګه چې د حضور ﷺ عادت وو چې کله به چا نوي کپړه اغوستله نو حضور ﷺ به ورته دعا کوله ام خالد ته يې دا دعا وکړله داکپړه زړه کئ او بيايې زړه کئ يعنی الله ﷻ دې ستا

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير /باب من تکلم بالفارسية والرطانة (رقم-٣٠٧١)

عمر درازکړي او بار بار دي ستا کپړه استعمالول او ډیره کپړه اغوستل نصیب شي ⑧هغه کمبل کې شني یا ژړي نښې جوړې شوې وې ⑨حضور ﷺ وفرمايل ام خالد ! داکپړه خو ډیره اعلی ده ⑩او لفظ سناه چې د هغه ترجمه ډیره ښه شویده د حبشي ژبې لفظ دی چې د هغه معنی د ښه او بهترینې دي

حل اللغات:- ①خَمِيصَةٌ: كِسَاءٌأَسْوَدُمُرَبَّعٌ: تور څلور ګوټه پېړ څادر، شړئ، کمبل. ②تُخْلِقُ: أَيْ: مَحْمُولَةٌ: یعنی اوچته ئې په غیږه کښې راوستله (ځکه چه ماشومه وه). ③أَبْلِي: دا د إِبْلَاءِ نه دې، وَهُوَجَعْلُ الثَّوْبِ خَلَقًا: جامې زړول مراد دی. ④أَخْلِقِي: د إِخْلَاقِ نه دې، ددې معنی هم کپړه زړول دی، دا دواړه الفاظ د تاکید دپاره راوړلی شوی دی (مطلب ئې د ډیر عمر دعا کول دی). ⑤عَلَمٌ: نښې، ⑥أَخْضَرُ: شنې، ⑦سِنَاهْ: أَيْ: حَسَنٌ: ډیر ښه.

①قَالَتْ: فَذَهَبْتُ أَلْعَبُ بِخَاتَمِ النُّبُوَّةِ، ②فَزَبَرَنِي أَبِي، ③فَقَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (دَعْهَا»): رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①ام خالد وايي بيا زه د حضور ﷺ شا مبارکې طرف ته لاړم او د ماشومتوب د ناپوهۍ په بناء مهر نبوت سره مې لوبې کولې ②خما پلار چې دا وليدل نو زه يې ورټلم او منع کړم ③رسول الله ﷺ ورته وفرمايل پريږده چې لوبې کوي دا مه منع کوه . بخاري.

حل اللغات:- ⑧فَزَبَرَنِي: أَيْ: زَجَرَنِي وَهَدَّدَنِي وَنَهَانِي عَنْ ذٰلِكَ: زه ئې اورټلم او منع ئې کړم.

تسهیلات:

د بعضې مشکلو الفاظو وضاحت:

①أُمِّ خَالِدٍ: دا وړه ماشومه وه.

②تُحْمَلُ: یعنی دَ وړوکوالی دَ وجې نه به اوچتولې شوه.

③الْخَمِيصَةَ: دَ وړئی نه جوړشوې وړوکی شان ښائسته یعنی څادر ته وائی په کوم کښې چه ګلونه وی. لکه چه وئیلی شوی دی:

لبست الخميصة ابغي الخبيصة   وانشنت شصي في كل شيصة

④سِنَاهْ: یعنی حضورپاك دَ حبشه والا لغت استعمال کړو کوم چه دَ سناه لفظ وو دکوم ترجمه چه حسن وو یعنی ډیرښائسته.

⑤فَزَبَرَنِي: یعنی دَ بې ادبئی دَ ویرې نه زه پلار رامنع کړم بلکه رټلوسره ئی رامنع کړم.

[۵۷۸۲] د حضور ﷺ د قدوقامت وغیره ذکر

۵۷۸۲-(¹) [۷] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ ۲: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ، وَلَا بِالْقَصِيرِ، ۳ وَلَيْسَ بِالْأَبْيَضِ الْأَمْهَقِ، وَلَا بِالْآدَمِ، ۴ وَلَيْسَ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ، وَلَا بِالسَّبْطِ، ۵ بَعَثَهُ اللَّهُ عَلَى رَأْسِ أَرْبَعِينَ سَنَةً ۶ فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ، وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ، ۷ وَتَوَفَّاهُ اللَّهُ عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً ۸ وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ شَعْرَةً بَيْضَاءَ»

توجمه: ۱ او حضرت انس رضي الله عنه وايي ۲ د رسول الله ﷺ قدمبارك نه خو ډير اوږد وو او نه مندري ۳ رنګ مبارك يي نه بالكل سپين وو نه بالكل ګندمي يعنى مائل به سياهي ۴ د سر مبارك ويښته يي نه بالكل خمدار او نه بالكل سيده وو ۵ او الله جل جلاله هغه وخت راولاېږى يعنى منصبِ رسالت باندې فائز کی کله چې د دوې عمر پوره څلويښت کاله شو ۶ بيا حضور ﷺ لس كاله مكه معظمه كې قيام وكى اولس كاله په مدينه منوره كې ۷ او الله جل جلاله حضور ﷺ ته د شپيتو كالو په عمر كې وفات وركى ۸ تر هغه وخت د حضور ﷺ د سرمبارك اوږيري كې صرف شل ويښته سپين وه

حل اللغات:- ① الْبَائِنِ: أَيْ: الْبَاعِدِ عَنْ حَدِّ الِاعْتِدَالِ: دَ حدنه زيات، ② الْقَصِيرِ: أَيْ: الْمُتَرَدِّدِ: لنډ (يعنى نبى عليه السلام نه ډير زيات اوږد وو نه لنډ بلكه د لنډ والى په نسبت اوږدوالى ته زيات مائل ووكوم چه د سړو دپاره حسن دي)، ③ الْأَبْيَضِ الْأَمْهَقِ: أَيْ: الَّذِي بَيَاضُهُ خَالِصٌ: خالص سپين، تک سپين لكه واوره يا پئ، ④ بِالْآدَمِ: غنم رنګې، ⑤ الْجَعْدِ الْقَطَطِ: قَطَط د جَعْد دپاره تاكيد دې، يعنى ډير ګول ګوچى ويښته، ⑥ بِالسَّبْطِ: وَهُوَ الشَّعْرُ الْمُنْبَسِطُ الْمُسْتَرْسِلُ: رازوړند بالكل نيغ ويښته.

۱ وَفِي رِوَايَةٍ يَصِفُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ ۲: «كَانَ رَبْعَةً مِنَ الْقَوْمِ، لَيْسَ بِالطَّوِيلِ، وَلَا بِالْقَصِيرِ، أَزْهَرَ اللَّوْنِ». ۳ وَقَالَ: كَانَ «شَعْرُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ»، ۴ وَفِي رِوَايَةٍ: بَيْنَ أُذُنَيْهِ وَعَاتِقِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

توجمه: ۱ په يوبل روايت كې حضرت انس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ اوصاف بيانولو سره دا اوويل ۲ چې حضور ﷺ په خلقوكي ميانه قدوو نه دنګ وو نه مندري د حضور ﷺ رنګ صاف وو خلانده (ښائسته) وو ۳ حضرت انس رضي الله عنه داهم بيان وكړو چې د حضور ﷺ د سرمبارك ويښته دغوږونو ترنيمايي پورې وو ۴ او په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې د حضور ﷺ د سرمبارك ويښته د غوږونو او اوږود منځه پورې اوږده وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑦ رَبْعَةً مِنَ الْقَوْمِ: أَيْ: مُتَوَسِّطًا: درميانه بدن والا (يعنى نه ډير اوږد نه لنډ، نه ډير

¹) اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب صفة النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۵۴۸) ومسلم في كتاب الفضائل/باب في صفة النبي صلى الله عليه وسلم، ومبعثه، وسنه (رقم-۱۱۳ - (۲۳۴۷) والنسائي في كتاب الزينة/باب اتخاذ الشعر (رقم-۵۰۶۱) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۳۷) ومالك في الموطا في كتاب صفة النبي صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صفة النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۱)

کمزوري نه ډير خرب، ددې نه د طبيعت اومزاج اعتدال طرف ته هم اشاره ده. ⑧ أَزْهَرَ اللَّوْنِ: أَيْ نَيِّرَ اللَّوْنِ وَحَسَنَهُ: صفا رنګ والا يعنى ښائسته او خلانده وو. ⑨ أَنْصَافَ أُذُنَيْهِ: د غوږونو نيمائی يعنى د مينځ پورې،

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ، قَالَ «كَانَ ضَخْمَ الرَّأْسِ وَالْقَدَمَيْنِ» [۲] لَمْ أَرَ بَعْدَهُ وَلَا قَبْلَهُ مِثْلَهُ، [۳] وَكَانَ سَبْطَ الْكَفَّيْنِ» [۴] وَفِي أُخْرَى لَهُ، قَالَ: كَانَ شَثْنَ الْقَدَمَيْنِ وَالْكَفَّيْنِ.

ترجمه: [۱] او په يوه روايت کې چې بخاري نقل کړې دی داسې دی چې حضرت انس رضي الله عنه بيان وکړو د حضور ﷺ سر مبارك غټ وو او پښې د غوښې نه ډکې وې [۲] ما د حضور ﷺ په شان وجيه او ښائسته انسان نه خو د حضور ﷺ نه مخکې ليدلی دی او نه د حضور ﷺ نه وروسته [۳] او د حضور ﷺ د لاس مبارك ورغوی فراخ وو [۴] د بخاري په يوه روايت کې دي حضرت انس رضي الله عنه بيان وکړو د حضور ﷺ دواړي متې (بازو) او ورغوی هوار او دغوښې نه ډك وو.

حل اللغات:- ⑩ ضَخْمَ الرَّأْسِ: أَيْ: عَظِيمَهُ: غټ سر والا (په عربو کښې دا صفت ممدوح ګڼړلې کيدو چه غټ سر په عظمت اوسعادت د انسان باندې دلالت کوی او داسې انسان د رياست او سيادت قابل وی). ⑪ سَبْطَ الْكَفَّيْنِ: فراخه ورغوی يعنی د لاس تلی ئې فراخه او د غوښې نه ډک وو. ⑫ شَثْنَ الْقَدَمَيْنِ: أَيْ: غَلِيظَ الْأَطْرَافِ: خپې مبارکې ئې د غوښې نه ډکې او مضبوطې وې.

تسهيلات:

قوله: بَعَثَهُ اللهُ عَلَى رَأْسِ أَرْبَعِينَ سَنَةً فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ، وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ:

د حضور پاک صلی الله عليه وسلم په وصال کښې د رواياتو اختلاف او تطبيق:

يعنی دَ څلويښتو کالو په عمرکښې ورته نبوت ملاؤ شو اودَ نبوت زمانه په مکه کښې لس کاله وه او په مدينه کښې هم لس کاله خودلې شوې ده. دَ شپيتو کالو په عمر کښې دَ حضورپاك وصال شوې دې. په دې روايت کښې په مکه مکرمه کښې دَ حضورپاك قيام دَ نبوت ملاويدونه پس لس کاله خودلې شوې دې دَ کوم په رڼاکښې چه دَ وصال عمر ۶۰ کاله جوړيږی مګر په نورو صحيح او واضح رواياتو کښې دَ مکې مکرمې قيام دَ نبوت نه پس ديارلس کاله خودلې شوې دې دغه شان ټول عمر ۶۳ کاله جوړيږی. امام بخاری رحمه الله وغيره علماؤ هم دا راجح او صحيح ګرځولې دې. زير بحث روايت کښې دَ دهائی ذکرکړې شوې دې اوکُسور پريخودلې شوی دی. عرب په خپلو محاوروکښې هم داسې کوی. بعضې رواياتو کښې دَ حضورپاك ټول عمر ۶۵ کاله خودلې شوې دې نو په دې کښې دَ ولادت او وفات دوه کاله شمير کړې شوی دی. صحيح هم هغه روايت دې په کوم کښې چه ۶۳ کاله ذکر دی په کوم کښې چه په مکه کښې ديارلس کاله او مدينه کښې لس کاله موده خودلې شوې ده. دغه شان ټول عمر ۶۳ کاله کيږی.

قوله: شَثْنَ الْقَدَمَيْنِ:

د رسول الله ﷺ دلاسونو او د خپو بناوټ: يعني دَ حضورپاك خپې اولاسونه دواړه دَ غوښې نه ډك او سخت مضبوط وو داهم په عربو كښې محمود او ممدوح وو مگر په سړو كښې نه چه په ښځو كښې. دَ ښځو دَپاره شاعروائي:

وتعطو برخص غير شثن كأنها اساريع ظبي اومساويك اسحل

دَ خپو لاسونو دَ اطراف سختيدل دَ تخليق په اعتبارسره وو نه چه دا زاګه وو دَ زګوالي خونفي ده. مضبوط لاسونه او مضبوط قدمونه مراد دي. "اي غليظ الاطراف من شَثُن بالضم والكسر اذاغلظ" (مرقات) لكه "سبط الكفين او شثن الكفين" معنى هم يوه ده.

۵۷۸۳-(١) [٨] [١] وَعَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَرْبُوعًا، بَعِيدَ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ، [٣] لَهُ شَعْرٌ بَلَغَ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ، [٤] رَأَيْتُهُ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ، لَمْ أَرَ شَيْئًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
[٥] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ، قَالَ: «مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِي لِمَّةٍ أَحْسَنَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٦] شَعْرُهُ يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ، [٧] بَعِيدُ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ».

توجمه: [١] او حضرت براء رضي الله عنه وايي [٢] رسول الله ﷺ ميانه قد وو او د دواړو اوږو په منځ كې كافي كشادګي وه دي نه داهم ثابته شوه چې د حضور ﷺ سينه مباركه ډيره پلنه وه [٣] د حضور ﷺ د سرمبارك ويښته د غوږونو د نرميو پورې وو [٤] او ما حضور ﷺ سور لباس كې چې د يمني كپړي تهبند (لنګ) او څادر باندې مشتمل وو اوليدلو په دې كې څه مبالغه نشته چې ما د حضور ﷺ نه زيات حسين هيڅ شى نه دى ليدلى. (بخاري مسلم) [٥] او د مسلم په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې حضرت براء رضي الله عنه اوويل ما هيڅ ويښتانو والا سړى سورلباس كې د رسول الله ﷺ نه زيات حسين او وجيه نه دى ليد لى [٦] د حضور ﷺ د سرمبارك ويښته د اوږو پورې وه [٧] د حضور ﷺ د دواړو اوږو په منځ كې كافي كشادګي وه او د حضور ﷺ قد نه ډير دنګ او نه مندري وو.

حل اللغات:- ① مَرْبُوعًا: أَيْ: مُتَوَسِّطًا: درميانه قد والا (يعنى نه ډير اوږد وو نه ډير لنډ وو). ② شَحْمَةَ: د غوږونو نرمه غوښه. پوخه كن. ③ حُلَّةٍ: څادر. ④ ذِي لِمَّةٍ: غټو ويښتانو والا (لِمّه هغه ويښتو ته وائي چه اوږو ته رسيدلي وي).

---

[١] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب صفة النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-٣٥٥١) ومسلم في كتاب الفضائل/باب في صفة النبي صلى الله عليه وسلم وأنه كان أحسن الناس وجهًا (رقم-٩١ - ٢٣٣٧) وابوداود في كتاب اللباس/باب في الرخصة في ذلك (رقم-٤٠٧٢) والترمذي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صفة النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-٣٦٣٥) والنسائي في كتاب الزينة/باب اتخاذ الجمة (رقم-٥٢٣٢) وابن ماجه في كتاب اللباس. باب لبس الأحمر للرجال (رقم-٣٥٩٩) واحمد في المسند: ٤/ ٣٠٠

تسهیلات:

قوله: بَعِيدُ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ:

د رسول الله ﷺ د اوګو په مینځ کښې فاصله: یعنی اوګې ئې په فاصله باندې وې دَ کوم نه چه دَ سینې دَ کولاؤ والی پته لګیده کوم چه ممدوح دی. دَ حضورپاك دَ ویښتو مبارك مکمل تحقیق دې نه مخکښې کتاب اللباس کښې شوې دې.

قوله: كَانَ مَرْبُوعًا:

د رسول الله ﷺ د ویښتو قسمونه: مطلب دا چه دَ رسول کریم ﷺ قد مبارك دَ درمیانه نه لږ شان اوږد وو. دَ رسول الله ﷺ ویښته مبارك درې قسمه وو:

① وفره: دَ غوږونو نرمئی پورې.

② لمه: دَ غوږونو او اوږو دَمینځ پورې.

③ جمه: دَ اوږو پورې.

دَ رسول الله ﷺ دَ زلفو مبارکو په روایاتو کښې تطبیق: دَ رسول الله ﷺ دَ زلفو مبارکو باره کښې مختلف روایات دی. په دغه روایتونو کښې به داسې تطبیق ورکولې شي چه کله به حضور پاك خپلو ویښتو مبارکو کښې تیل لګول او ګمنزول به ئې نو په هغه وخت کښې به دَ حضورپاك ویښته اوږدیدل اودَ اوږو پورې به رسیدل اوکه چرې ګمنز یا تیل وغیره به ئې نه لګول نوهغه به راغونډ شو اودَ غوږونو دَ نرمئی پورې یا دَدې نه لږ شان ښکته به رسیدل یا حضورپاك ته دَ جهادی مصروفیاتو دَ وجې نه دَ ویښتو صحیح کولو موقع نه ملاویدله نو ویښته به ئې اوږدیدو سره اوږو ته رسیدل بیا چه به کله حضورپاك ویښته مبارك صحیح کول نو واړه کیدل به.بهرحال په دې روایتونو کښې هیڅ تعارض نشته.

قوله: رَأَيْتُهُ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ:

د حلة حمراء مطلب: "حلة" نه مراد دادې چه دَ حضورپاك په مبارك بدن باندې چه دَ کومې کپړې لنګ او څادر وو په هغې کښې سرې کرښې وې. دغه شان په کومو احادیثو کښې چه دَ شین لباس ذکر دې دَ هغې نه هم شین کرښو والا څادر مراد دې.

[۵۷۸٤] دَ حضورپاك ﷺ حلیه مبارکه

۵۷۸۴-(۱) [۹] ①وَعَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ②: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ضَلِيعَ الْفَمِ، ③أَشْكَلَ الْعَيْنَيْنِ، مَنْهُوشَ الْعَقِبَيْنِ. ④قِيلَ لِسِمَاكٍ: مَا ضَلِيعُ الْفَمِ؟ قَالَ: عَظِيمُ الْفَمِ ⑤قِيلَ: مَا أَشْكَلُ الْعَيْنَيْنِ؟ قَالَ: طَوِيلُ شَقِّ الْعَيْنِ. ⑥قِيلَ: مَا مَنْهُوشُ الْعَقِبَيْنِ؟ قَالَ: قَلِيلُ لَحْمِ الْعَقِبِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب فی صفة فم النبی صلی الله علیه وسلم وعینیه وعقبیه (رقم-۹۷ - (۲۳۳۹) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۶٤۷) واحمد فی المسند:۱۰۳/۵

ترجمه: [۱] او حضرت سماك رحمه الله ابن حرب د حضرت جابر ابن سمره رضي الله عنه نه روايت كوي هغه اوويل [۲] رسول الله صلى الله عليه وسلم كشاده دهن وو [۳] ستركوكي يي سُرخي وه او پوندي يي كمي غوښي والا وي [۴] راوي وايي چې حضرت سماك رحمه الله نه پوښتنه وشوه چې ضليع الفم نه څه مراد دى؟ نو هغه اوويل لوى خولي والا [۵] هغه نه پوښتنه وشوه چې دأشكل العين څه معنى ده؟ نو جواب يي وركى د دې معنى ده د ستركو دائري لوى والي [۶] بيا څني پوښتنه وشوه چې د منهوش العقبين څه معنى ده؟ نو جواب يي وركى هغه پوندي چې غوښي يي كمي وي. (مسلم)

حل اللغات:- ① ضَلِيعَ الفَمِ: أَيْ: وَسِيعَهُ: فراخه خوله، (دا كنايه ده د زيات فصاحت او بلاغت نه). ② أَشْكَلَ العَيْنَيْنِ: الأَشْكَلُ: مَا فِيهِ حُمْرَةٌ وَبَيَاضٌ: كومو ستركو كښې چه سور والې او سپينوالې مخلوط وى هغې ته وائى، يعنى سرخى مائل سپينوالې، ③ مَنْهُوسَ العَقِبَيْنِ: أى قلِيلَ لَحْمُ العَقِبِ: چه پوندو كښې ئې غوښه كمه وى. ④ شَقِّ العَيْنِ: د ستركو دائره او ګولائى.

تسهيلات:

قوله: أَشْكَلَ العَيْنَيْنِ:

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ستركو مباركو كيفيت: يعنى چه غټې ستركې وى او سپينوالې ئى ښه ډير سپين وى او تور والې ئى ښه ډير تور وى او په سپينوالى كښې سرې كرخې روانې وى چه دَ ډير زيات ښائست علامت دې. سماك راوى چه كوم دَ اشكل العينين تفسير كړې دې عام شارحينو دا غلط ګرځولې دې او دَ ستركو دَ غټ والى دَپاره دا تفسير صحيح دې.

٥٧٨٥-(١) [١٠] [١] وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] كَانَ أَبْيَضَ [۳] مَلِيحًا [۴] مُقَصَّدًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوطفيل رضي الله عنه وايي ما رسول الله صلى الله عليه وسلم اوليدلو [۲] چې سپين خوش رنګ وو [۳] او متوسط القامت [۴] او متناسب الاعضاء والا وو. (مسلم)

حل اللغات:- ① مَلِيحًا: مالګين رنګ والا (يعنى ملاحت والا خوش رنګه). ② مُقَصَّدًا: أَيْ: مُتَوَسِّطًا مُعْتَدِلًا: درميانه قد والا (يعنى نه ډير اوږد وو نه ډير لنډ وو).

تسهيلات:

قوله: مقصداً: يعنى دَ كمى زياتى نه څان له كيدو سره دَحضورپاك قدمبارك متوسط اومعتدل وو. دې نه وړاندې دَ ربعة القوم چه كوم لفظ دې دَهغې معنى او دَ مقصد معنى هم يوه ده.

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الفضائل/باب كان النبى صلى الله عليه وسلم أبيض مليح الوجه (رقم-٩٩ - (٢٣٤٠) وابوداود فى كتاب الأدب/باب فى هدى الرجل (رقم-٤٨٦٤) واحمد فى المسند:٥/٤٥٤

قوله: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-كَانَ أَبْيَضَ مَلِيحًا:

د رسول الله ﷺ حسن مبارک: يوتك سپين وى هغه دومره ښائسته نه ښکاري سپينوالى سره چه دَملاحت والا نمکين رنګ وى هغه ډير زيات ښائست وى. دلته هم دغه خودل مقصود دى. په يوحديث کښې رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي "انا مليح واخي يوسف صبيح"

[۵۷۸۶] حضور ﷺ خضاب نه دى استعمال کړى؟

۵۷۸۶-() [۲] [۱] وَعَنْ ثَابِتٍ، قَالَ: «سُئِلَ أَنَسٌ عَنْ خِضَابِ رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] فَقَالَ: إِنَّهُ لَمْ يَبْلُغْ مَا يَخْضِبُ، [۳] لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتِهِ فِي لِحْيَتِهِ» - [۴] وَفِي رِوَايَةٍ: لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتٍ كُنَّ فِي رَأْسِهِ فَعَلْتُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۵] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ، قَالَ: «إِنَّمَا كَانَ الْبَيَاضُ فِي عَنْفَقَتِهِ، وَفِي الصُّدْغَيْنِ وَفِي الرَّأْسِ نَبْذٌ».

ترجمه: [۱] او حضرت ثابت رحمه الله وايي چې حضرت انس رضي الله عنه نه د رسول الله ﷺ د خضاب په باره کې د ريافت وشو [۲] نو هغه وفرمايل د حضور ﷺ عمر دومره چيرته وو چې خضاب يي استعمال کړى وى [۳] که ما د حضور ﷺ د ږيري مبارکي سپين ويښتان شميرل غوښتل نو يقيناً شميرلى مي شوه [۴] په يوه روايت کې دا الفاظ دي که ما د حضور ﷺ د سرمبارك سپين ويښتان شميرل غوښتلئ نو شميرلى مي شوه. (بخاري مسلم) [۵] او په يوه روايت کې داهم دي چې حضرت انس رضي الله عنه اوويل د ويښتانو سپين والى د حضور ﷺ د ږيري مبارکي لاندي حصه کې اوپه اننګو کښې او د سر مبارک په څه حصه کښې وو.

حل اللغات:- ① أَنْ أَعُدَّ: أَيْ: أُحْصِيَ: چه اوښې شمارم، ② شَمَطَاتِهِ: أَيْ: شَعَرَاتِهِ الْبِيضَ: سپين ويښته (دَ بوډاوالى دَ وجې نه په سر او ږيره کښې چه کوم يوڅو سپين ويښته ښکاره کيږى هغې ته شمطات وائى). ③ عَنْفَقَتِهِ: أَيْ: شَعْرِ النَّابِتِ تَحْتَ شَفَتِهِ السُّفْلَى وَفَوْقَ الذَّقْنِ: د شونډې لاندې او ځني نه پورته چه کوم لږشان ويښته وى هغې ته عنفقة وائى. ④ الصُّدْغَيْنِ: أَيْ: الشَّعْرُ الْمُتَدَلِّي عَلَى مَا بَيْنَ الْعَيْنِ وَالْأُذُنِ: د غوږونو او ستر ګو تر مينځه چه کوم ويښته وى هغې ته صدغين وائى. ⑤ نَبْذٌ: أَيْ: شَيْءٌ يَسِيرٌ مِنْ شَيْبٍ: لږشان سپين ويښته.

تسهيلات:

قوله: إِنَّهُ لَمْ يَبْلُغْ مَا يَخْضِبُ:

د رسول الله ﷺ د بوډاوالى کيفيت: دې نه مخکښې حديث کښې دَلو لفظ دَ شرط دَپاره دې دَ دې جزاء فعلت دې. حضرت انس رضي الله عنه دا خودل غوارى چه دَ حضورپاك بوډاوالي

---

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب اللباس/باب ما يذكر فى الشيب رقم-۵۸۹۵) ومسلم فى كتاب الفضائل/باب شيبه صلى الله عليه وسلم (رقم-۱۰۴ - (۲۳۴۱) واحمد فى المسند: ۲۲۷/۳

ذې حد ته نه وو رسيدلې چه ټول ويښته ئې سپين شوی وو او حضورپاك د خضاب يعنی وسمې محتاج شوې وی.

[۵۷۸۷] د نبی علیه السلام د ورغو نرم والې

۵۷۸۷-(۱) [۳] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ، قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَزْهَرَ اللَّوْنِ، [۳] كَانَ عَرَقُهُ اللُّؤْلُؤَ، [۴] إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ، [۵] وَمَا مَسِسْتُ دِيبَاجَةً وَلَا حَرِيرًا أَلْيَنَ مِنْ كَفِّ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۶] وَلَا شَمَمْتُ مِسْكًا وَلَا عَنْبَرَةً أَطْيَبَ مِنْ رَائِحَةِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د بريښيدونكي رنګ والاوو [۳] او د خولې (پسينې) مباركي قطري يې بريښې او صفائي كې د ملغلرې په شان وې [۴] حضور ﷺ چې به په لار روان وو نو مخ طرف ته خكته كيدو سره به تللو [۵] او ما هيڅ ديباج او حرير اطلس او وريښم هم د رسول الله ﷺ د ورغيو نه زيات نرم نه دی پيدا كړی [۶] او نه ما څه داسې مشك او عنبر بوی كړی دی چې په هغه كې د رسول الله ﷺ د بدن مبارك د خوشبوئي نه زياته خوشبوئي وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① عَرَقُهُ: خوله (پسينه). ② اللُّؤْلُؤَ: ملغلرې. ③ تَكَفَّأَ: أَيْ: تَمَايَلَ إِلَى قُدَّامٍ: مخې طرف ته به معمولی شان مائل وو. ④ دِيبَاجَةً: وَهُوَ نَوْعٌ مِنَ الْحَرِيرِ: يو قسم پير ريښم دی. ⑤ حَرِيرًا: أَيْ: مُطْلَقًا: عام ريښم، هرقسم ريښم. ⑥ أَلْيَنَ: ډير نرم. ⑦ لَا شَمَمْتُ: نه دی بوئی كړی ما. ⑧ عَنْبَرَةً: يو قسم قيمتی خوشبو ده.

تسهیلات:

نوټ: په حديث كښې مشكل لغات دی او دهغې وضاحت په حل اللغات كښې اوشو. د مزيد تشريح ضرورت نشته.

[۵۷۸۸] خوله (پسينه) مباركه

۵۷۸۸-(۲) [۳] [۱] وَعَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَأْتِيهَا، فَيَقِيلُ عِنْدَهَا. فَتَبْسُطُ نِطَعًا فَيَقِيلُ عَلَيْهِ، [۳] وَكَانَ كَثِيرَ الْعَرَقِ، فَكَانَتْ تَجْمَعُ عَرَقَهُ فَتَجْعَلُهُ فِي الطِّيبِ. [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أُمَّ سُلَيْمٍ! مَا هٰذَا؟" [۵] قَالَتْ: عَرَقُكَ نَجْعَلُهُ فِي طِيبِنَا وَهُوَ مِنْ أَطْيَبِ الطِّيبِ».

ترجمه: [۱] او بي بي ام سليم رضی الله عنها نه روايت دی [۲] چې رسول الله ﷺ به هغه كره راتلو او قيلوله به يې كوله يعنی د غرمې په وخت هغه كره به يې آرام كولو د پاره تشريف راوړی ام سليم رضی الله عنها به حضور ﷺ د پاره د څرمې بستره غوړوله [۳] او حضور ﷺ به په هغه ارام

---

[۱]) اخرجه البخاری فی كتاب المناقب/باب صفة النبی صلی الله عليه وسلم (رقم-۳۵۶۱) ومسلم فی كتاب الفضائل/باب طيب رائحة النبی صلی الله عليه وسلم ولين مسه والتبرك بمسحه (رقم-۸۲ - (۲۳۳۰) واحمد فی المسند: ۲۲۸/۳

[۲]) اخرجه البخاری فی كتاب الاستئذان/باب من زار قومًا فقال عندهم (رقم-۶۲۸۱) ومسلم فی كتاب الفضائل/باب طيب عرق النبی صلی الله عليه وسلم والتبرك به (رقم-۸۳ - (۲۳۳۱) واحمد فی المسند: ۱۳۶/۳

کوی حضور ﷺ باندې به خوله پسینه ډیره راتله [ځکه چې حضور ﷺ کثیر الحیاء وو] ام سلیم به د حضور ﷺ خوله پسینه جمع کولو سره خپلو عطرو کې یوځای کوله ۳ یوه ورځ حضور ﷺ هغه خوله جمع کولو باندې ولیده نو پوښتنه یې ترینه وکړه ام سلیم دا ته څه کوې؟ ۵ ام سلیم ﷺ اوویل دا ستاسو خوله مبارکه ده چې مونږ یې په خپلو خوشبویو کې ګډوو اودا د ټولو خوشبویو نه زیاته خوشبوداره ده

حل اللغات:- ① فَيَقِيلُ : دا د قَيْلُولَةِ نه دي، وَهِيَ الإِسْتِرَاحَةُ عِنْدَ الْهَجِيرَةِ: دغرمې په وخت معمولي شان څملاستل یا خوب کولو ته قیلوله وائی. ② فَتَبْسُطُ : أَيْ: تَفْرُشُ: خوروله به (أم سلیم). ③ نِطَعًا : أي: بِسَاطٌ مِنَ الْأَدِيمِ: د څرمن دسترخوان (دلته دَ څرمن بستره مراد ده). ④ الْعَرَقِ: خوله.

۱ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَتْ: ۲ يَا رَسُولَ اللّٰهِ! نَرْجُو بَرَكَتَهُ لِصِبْيَانِنَا ۳ قَالَ: "أَصَبْتِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې ام سلیم ﷺ اوویل ۲ یارسول الله! دا خوله مبارکه مونږ خپلو بچو د پاره د برکت باعث ګڼو یعنی ستاسو خوله مبارکه مونږ د خپلو بچو په بدن او مخ مږو او یقین لرو چې هغه بچی به د دې خولې مبارکې په برکت د آفاتو او بلاګانو نه محفوظ وي ۳ حضور ﷺ وفرمایل تاصحیح اوویل او ښه دې وکړل. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑤ أَصَبْتِ: أَيْ: فَعَلْتِ الصَّوَابَ: ښه دې اوکړل.

تسهیلات:

قوله: أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَأْتِيهَا، فَيَقِيلُ عِنْدَهَا:

حضور پاک صلی الله علیه وسلم سره د ام سلیم او ام حرام رشته: ام سلیم ﷺ دَ حضورپاك رضاعی خاله یا پهوپهی وه. ام حرام ﷺ هم دغه شان رشته داره ده. لهذا دا دواړه ښځې دَ حضورپاك محارم نه دی.

اشکال: ام سلیم ﷺ او ام حرام ﷺ دَ رسول الله ﷺ رضاعی تروریانې څنګه شوې چه حضورپاك خو په مدینه کښې دَ چا پیئ نه دی څکلی اودا انصاری ښځې دَمدینه منوره دی؟

د اشکال جواب: کیدې شی چه دې دواړو ښځو خواجه عبدالله سره پیئ څکلې وی نو دادَ حضورپاك تروریانې شوې یا حضرت آمنه سره ئی پیئی څکلې وی نوبیا هم دَ حضورپاك تروریانې شوې. خواجه عبدالله او حضرت آمنه مدینه منوره کښې اوسیدل او ام سلیم ﷺ او ام حرام ﷺ مدینه کښې دَ بنونجار ښځې دی بنونجار دَ حضورپاك نیکانه ده. علامه طیبی ﷺ دا توجیه کولو سره اوفرمائیل چه یوشارح دَدې اهم نکتې طرف ته اشاره نه ده کړې زه الله تعالی په دې قیمتی مرغلره سره کامیاب کړم اوپه دې باندې پوهیدل ئی رانصیب کړل.

[۵۷۸۹] دبچوسره مینه

۵۷۸۹-() [۳] [۱] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ [۲]: «صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَاةَ الْأُولَى، [۳] ثُمَّ خَرَجَ إِلَى أَهْلِهِ وَخَرَجْتُ مَعَهُ، فَاسْتَقْبَلَهُ وِلْدَانٌ، [۴] فَجَعَلَ يَمْسَحُ خَدَّيْ أَحَدِهِمْ وَاحِدًا وَاحِدًا، [۵] وَأَمَّا أَنَا فَمَسَحَ خَدِّي، [۶] فَوَجَدْتُ لِيَدِهِ بَرْدًا أَوْ رِيحًا كَأَنَّمَا أَخْرَجَهَا مِنْ جُؤْنَةِ عَطَّارٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ابن سمره ﷛ وايي [۲] يو وخت ما رسول الله ﷺ سره د ماپښين مونځ وکی [۳] ما نځه نه وروسته حضور ﷺ خپل کورته تلو د پاره مسجد نه بهر راووتلو او حضور ﷺ سره زه هم بهر راغلم اتفاقا د حضور ﷺ مخې ته څه بچي راغلل [۴] حضور ﷺ میني کولو د پاره د هربچي په رخسارونو لاس راتير کړو [۵] او بيا څما په رخسارونو يي لاس راتير کړو [۶] هغه وخت ما د حضور ﷺ د لاس مبارک داسې يخ والی او خوشبو محسوسه کړله لکه چې حضور ﷺ اوس د عطرو د شيشې نه خپل لاس را اوخکلي وي. (مسلم)

حل اللغات:- ① وِلْدَانٌ: د وَلِيد جمع ده، وَهُوَ الصَّبِيُّ: ورو ماشومانو ته وائي. ② خَدَّيْ: رخسارونه، مخونه، ③ بَرْدًا: أَيْ: رَاحَةً: يخوالي يعنی راحت، تسلي اوسکون، ④ رِيحًا: أَيْ: رَائِحَةً طَيِّبَةً: خوشبوئي، ⑤ جُؤْنَةِ: أَيْ: سَلِّيهِ أَوْ حُقَّتِهِ: شيشه يا بوتل کوم کښې عطر اچولې شوې وی. ⑥ عَطَّارٍ: عطر خرخونکي.

[۱] وَذَكَرَ حَدِيثَ جَابِرٍ: "سَمُّوا بِاسْمِي" فِي "بَابِ الْأَسَامِي". [۲] وَحَدِيثَ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ: نَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ فِي "بَابِ أَحْكَامِ الْمِيَاهِ".

ترجمه: [۱] او د حضرت جابر روايت سموا باسمي الخ باب الاسامي کې [۲] او د حضرت سائب بن يزيد روايت: نظرت الى خاتم النبوة الخ باب احکام المياه کې نقل شوي دي صاحب مصابيح دا دواړه روايتونه په هغه باب کې نقل کړي وه .

تسهيلات:

قوله: فَجَعَلَ يَمْسَحُ خَدَّيْ أَحَدِهِمْ وَاحِدًا وَاحِدًا، وَأَمَّا أَنَا فَمَسَحَ خَدِّي:

حضرت جابر ﷛ فضيلت: دغه شان حضرت جابر ﷛ خپل فضيلت ثابتول غواړی چه نورو ماشومانو ته ئی په يويو اننګی باندې لاس مبارک راښکلو اوزما په دواړو اننګو باندې ئی لاس راښکلو او په يوبل حديث کښې دې تصريح موجود ده .

قوله: بَرْدًا أَوْ رِيحًا.

د ،،او،، په کلمه کښې دوه احتمالات: ① دَ "أو" کلمه په معنى دَ واؤ ده

---

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل /باب طيب رائحة النبي صلى الله عليه وسلم ولين مسه والتبرک بمسحه (رقم-۸۰ - (۲۳۲۹)

④ د او کلمه د بل په معنی ده.
یعنی یخوالې او خوشبو یا یخوالې بلکه خوشبودا معنی شوه.
قوله: فَوَجَدْتُ لِيَدِهِ بَرْدًا أَوْ رِيحًا كَأَنَّمَا أَخْرَجَهَا مِنْ جُؤْنَةِ عَطَّارٍ:
د رسول الله ﷺ د بدن مبارک خوشبوئی: په جیم باندې ضمه ده اودې نه پس همزه ساکن ده. علامه نووی فرمائی چه داخوشبوئی دحضورپاك د بدن مبارك وه سره ددې چه حضورپاك به عطرهم په کثرت سره استعمالول مګر داخوشبوئی دحضورپاك ذاتی خوشبوئی وه. یعنی کله چه به حضورپاك دخپل لستوڼی نه لاس مبارك راویستلو نو په هغې کښې به یخوالې هم وو او خوشبوئی هم دا دواړه څیزونه ذاتی وو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۷۹۰] د نبی علیه السلام د بدن بناوټ

۵۷۹۰-() [۱۵] ①عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ②: «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَيْسَ بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ، ③ضَخْمَ الرَّأْسِ وَاللِّحْيَةِ، ④شَثْنَ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ، ⑤مُشْرَبًا حُمْرَةً، ⑥ضَخْمَ الْكَرَادِيسِ، ⑦طَوِيلَ الْمَسْرُبَةِ، ⑧إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ تَكَفُّؤًا كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ، ⑨لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ①حضرت علي ابن ابي طالب ﷺ وايي ②رسول الله ﷺ نه اوږد قد والا وو نه پست قد مندري بلکه درمیانه قد والا وو ③غټ سر او ګڼې ږیرې والا وو ④د لاسونو تلی او پښې یې غوښنې وې ⑤رنګ یې سور او سپین وو ⑥د هډوکو جوړونه یې غټ وه ⑦او د سینې نه نامه پورې د ویښتانو یوه اوږده کرښه وه ⑧کوم وخت چې به حضور ﷺ روان وو نو د مخ طرف ته به ښکته روان وو لکه چې حضور ﷺ د اوچت ځائې څخه ښکته ځائې راځي ⑨حقیقت دادی چې ما د حضور ﷺ په شان هیڅ سړی نه د حضور ﷺ نه مخکې لیدلی دی او نه د حضور ﷺ نه وروسته په حضور ﷺ دې زمونږ ټولو سره د الله ﷻ رحمت او سلامتي وي دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یي دي چې داحدیث حسن صحیح دی.

حل اللغات:- ① ضَخْمَ الرَّأْسِ: أَيْ: عَظِيمَهُ: غټ سر والا (په عربو کښې دا صفت ممدوح ګڼرلې کیدو چه غټ سر په عظمت اوسعادت د انسان باندې دلالت کوی او داسې انسان د ریاست او سیادت قابل وی). ② شَثْنَ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ: أَيْ: أَنَّهُمَا يَمِيلَانِ إِلَى الْغِلَظِ وَالْقِصَرِ: د لاسونو تلی او خپې مبارکې ئې د غوښې نه ډک وو (چه لاسونه یا خپې غوښنې وی نو لندوالی ته مائل ښکاری په قِصر کښې

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب (رقم-۳۶۳۷) واحمد في المسند: ۹۶/۱

دي طرف ته اشاره ده. ③ مُشْرَبًا حُمْرَةً: أَيْ مَخْلُوطًا لَوْنُهُ بِالْحُمْرَةِ: دهغوی څه قدرې سپین بدن باندې سرخي څکولې شوې وه یعنی دَ سور او سپین رنګ مرکب وو (کوم چه ډیر ښائسته رنګ دې). ④ الْكَرَادِيسِ: د كُرْدُوسٍ جمع ده، وَهُوَ كُلُّ عَظْمَيْنِ الْتَقَيَا فِي مَفْصِلٍ: هرهغه هډوکی ته وائی چه بل هډوکی سره په یو جوړ باندې جمع کیږی. (یعنی دهغوی دَ هډوکو جوړونه پیړ وو). ⑤ الْمَسْرُبَةَ: د سینې نه نامه پورې د ویښتو کرښه وه. ⑥ يَنْحَطُّ: أَيْ: يَسْقُطُ: د اوچتوالی نه ښکته طرف ته کوزیدو ته وائی. ⑦ صَبَبٍ: أَيْ: مَوْضِعٍ عَالٍ: د زمکې اوچت ځائې.

تسهیلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① مُشْرَبًا حُمْرَةً: دَ دوو مختلفو رنګونو آمیزش او ګډوډوالی ته تشریب وائی لکه چه په یو رنګ باندې بل رنګ څکولې شوې وی.

② مِنْ صَبَبٍ: مطلب دا لکه چه حضورپاك دَ اوچت ځائی نه لاندې طرف ته راکوزیږی دادَ تکفاء تفسیردې. کشتئی چه کله تیټیدو سره وړاندې چلیږی هغې ته تکفأ وائی.

[۵۷۹۱] دَرسول الله ﷺ جامع صفتونه

۵۷۹۱-() [۲] [۱] وَعَنْهُ، [۲] «كَانَ إِذَا وَصَفَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: لَمْ يَكُنْ بِالطَّوِيلِ الْمُمَّغِطِ، وَلَا بِالْقَصِيرِ الْمُتَرَدِّدِ، وَكَانَ رَبْعَةً مِنَ الْقَوْمِ، [۳] وَلَمْ يَكُنْ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ وَلَا بِالسَّبِطِ، كَانَ جَعْدًا رَجِلًا، [۴] وَلَمْ يَكُنْ بِالْمُطَهَّمِ وَلَا بِالْمُكَلْثَمِ، وَكَانَ فِي الْوَجْهِ تَدْوِيرٌ، [۵] أَبْيَضُ مُشْرَبٌ، [۶] أَدْعَجُ الْعَيْنَيْنِ، [۷] أَهْدَبُ الْأَشْفَارِ، [۸] جَلِيلُ الْمُشَاشِ وَالْكَتَدِ، [۹] أَجْرَدُ، ذُو مَسْرُبَةٍ،

ترجمه: [۱] او دحضرت علي بن ابي طالب رضی الله عنه نه روایت دی [۲] کله چې به هغوئ د رسول الله ﷺ اوصاف بیانول نو وئیل به یې حضور ﷺ نه ډیر اوږد وو او نه ډیر مندری بلکه میانه قد په خلقوکي وو [۳] دَ حضور ﷺ ویښتان نه ډیر ولول وه نه بالکل سیده وه بلکه څه لږ وَل خوړلو سره وه [۴] مخ یې نه بالکل ګول او دروند وو او نه یې بارخوګان پړسیدلي وه بلکه پوره مخ اورخسار یې یوشان او برابر وو او تندی یې بلند وو مخ مبارک یې څه قدر ګولائي کې وو [۵] رنګ یې سور سپین وو [٦] سترګي یې توري وي [۷] بانوګان یې اوږده اوږده وه [۸] دبندونو هډوکي یې راپورته او د اوږو درمیانه حصه یې چیرته چې د دواړو اوږو هډوکي یوځاي کېږي مضبوط او غوښن وه [۹] په جسم مبارک یې ویښتان نه وه صرف د ویښتانو یوه کرښه وه چې سینې نه نامه پورې تللي وه

حل اللغات: ① الْمُمَّغِطِ: د باب انفعال نه د مَغَطَ نه دې، وَهُوَ الْمَدُّ: اوږدوالی ته وائی. ② الْمُتَرَدِّدِ: دَحدنه زیات وړوکی قد والا ته وائی لکه چه بعضې اعضاء بعضې نورو کښې ددننه کیږی. ③

¹) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٣٨)

بِالْمُطَهَّمِ: دا لفظ دَ اضداد نه دې دَ زياتې غوښې والا چاق ته هم وائى اوكمې غوښې والا كمزورى ته هم وائى. پرسيدلې مخ ته هم وائى. ③ بِالْمُكَلْثَمِ: أَيِ: الْمُدَوَّرُ وَجْهُهُ غَايَةَ التَّدْوِيرِ: بيخى ډير گولائى او غونډ مخ والا (يعنى بالكل گول مخ ئې نه وو بلكه څه گولائى پكښې وه). ⑤ مُشْرَبٌ: أَيْ: مَخْلُوطٌ بِحُمْرَةٍ: سپينوالى پرې څكولې شوې وو يعنى سور والى سره سپينوالې ورگډ شوې وو. ⑥ أَدْعَجُ الْعَيْنَيْنِ: أَيْ: أَسْوَدُ الْعَيْنَيْنِ مَعَ سِعَتِهِمَا: يعنى غټې غټې سترگې وې ډيرې تورې وې دې سره سپينوالې ورگډ شوې وو. ⑦ أَهْدَبُ الْأَشْفَارِ: أَيْ: طَوِيلُ شَعْرِ الْأَجْفَانِ: اهدب دَ اوږد او گڼ په معنى كښې دې اشفار د شُفُر جمع ده، دَ سترگو بڼړو ته وائى يعنى دَ سترگو ويښته ئې اوږده اوگڼ وو. ⑧ جَلِيلُ الْمُشَاشِ: أَيْ عَظِيمُ رُءُوسِ الْعِظَامِ: جليل: دَ غټ په معنى كښې دې. مشاش: هډوكى ته وائى (يعنى دَ هډوكو سرونه او جوړ ونه ئې غټ او مضبوط وو اودَ غوښې نه ډك وو). ⑨ الْكَتَدِ: هُوَ مُجْتَمَعُ الْكَتِفَيْنِ: دَ دواوړ اوگو په مينځ كښې چه كومه حصه وى هغې ته كتد وئيلې شوې دې يعنى اوگه ئې هم مضبوطه او غوښنه وه (دې ته كاهل هم وائى). ⑩ أَجْرَدُ: أَيِ: الَّذِي لَيْسَ عَلَى بَدَنِهِ شَعْرٌ: يعنى عام بدن باندې زيات ويښته نه وو. ⑪ ذُومَسْرُبَةٍ: دَ مرئ دَ غوټې نه ترنامه پورې دَ ويښتو يوه ښائسته غوندې كرښه وه هغې ته مسربة وئيلې شوې دې.

[۱] شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ، [۲] إِذَا مَشَى يَتَقَلَّعُ كَأَنَّمَا يَمْشِي فِي صَبَبٍ، [۳] وَإِذَا الْتَفَتَ الْتَفَتَ مَعًا، [۴] بَيْنَ كَتِفَيْهِ خَاتَمُ النُّبُوَّةِ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ، [۵] أَجْوَدُ النَّاسِ صَدْرًا، [۶] وَأَصْدَقُ النَّاسِ لَهْجَةً، [۷] وَأَلْيَنُهُمْ عَرِيكَةً، وَأَكْرَمُهُمْ عَشِيرَةً، [۸] مَنْ رَآهُ بَدِيهَةً هَابَهُ، وَمَنْ خَالَطَهُ مَعْرِفَةً أَحَبَّهُ، [۹] يَقُولُ نَاعِتُهُ: لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] لاس او پښې يې ډك يعنى غوښن وه [۲] په لار چې به تللو نو قوت سره به يې قدم پورته كوى لكه چې د بلندۍ نه راكوزيږي [۳] هركله چې به ښي يا چَپ طرف ته متوجه كيدى نو پوره جسم سره به متوجه كيدى [۴] او د حضور ﷺ د دواړو اوږو په منځ كې مُهرِ نبوت وو او حضور ﷺ خاتم النبيين وو [۵] حضور ﷺ ټولو په خلقوكي د ټولو نه زيات د زړه سخي [۶] او د ژبې ډير رېښتنى وو د طبيعت ډير نرم [۷] او د ټولو نه معزز او مكرم انسان وو [۸] كوم سړى چې به په مخكني ځل اوليدلو نو هيبت به باندې راتلو او كوم سړى چې به حضور ﷺ سره واقفيت او ميل جول لرلو نو ډير محبت به يې ورسره كوى [۹] د حضور ﷺ داصفات او خصوصيات بيانونكى حضرت علي ؓ وايي چې د حضور ﷺ په شان هيڅ سړى ما د حضور ﷺ نه نه مخكې ليدلى دى او نه د حضور ﷺ نه وروسته مي ليدلى دى د الله رحمت او سلامتيا دې وي په حضور ﷺ. (ترمذي)

حل اللغات: - ② يَتَقَلَّعُ: أَيْ: يَرْفَعُ رِجْلَيْهِ مِنَ الْأَرْضِ رَفْعًا بَائِنًا بِقُوَّةٍ: يعنى دَ تگ په وخت به حضور پاك په چستۍ سره په زمكه قدم اوچتولو سره تللو. دَ ښځو او سستو خلقو په شان چېړې راښكلو سره نه تللو. ③ الْتَفَتَ مَعًا: أَى يُقْبِلُ جَمِيعًا: پوره نظر او مخ تاوولو سره به ئې كتل يا دا مطلب چه پوره

په متوجه كيدلو. ⑬ أَجْوَدُ النَّاسِ: ددې دوه معاني دی يا دا چه أي: أَوْسَعُهُمْ قَلْبًا: لوئي زړه والا وو سينه ئې فراخه وه، يا دا چه: أَنَّهُ أَسْخَى النَّاسِ قَلْبًا: زړه ئې ډير زيات سخی وو ⑮ صَدْرًا: سينې ته وائی خو دلته صدر په معنی د قلب سره دې يعنی زړه، ⑯ لَهْجَةً: أي: لِسَانًا: ژبه، ⑰ وَأَلْيَنُهُمْ: زيات نرم، خوش طبع، ⑱ عَرِيكَةً: أي: جَانِبًا وَطَبِيعَةً: طبيعت مزاج او اړخ ته وائی. ⑲ عَشِيرَةً: أي: قَبِيلَةً: خاندان، په يو روايت كښې عِشْرَةً: دې، أي: مُعَاشَرَةً وَمُصَاحَبَةً: په معنی د ژوند تيرولو او معاشرت كولو. ⑳ بَدِيهَةً: أي: فُجَاءَةً وَبَغْتَةً: ناڅاپه، اچانک، ㉑ هَابَهُ: أي: خَافَهُ: دا د هيبت نه دې ويريدلو ته وائی. ㉒ خَالَطَهُ: د اختلاط نه دې، يو ځائې ژوند تيرولو ته وائی. ㉓ نَاعِتُهُ: أي: وَاصِفُهُ: صفت بيانونكې، تعريف كونكې.

تسهيلات:

د بعضې مشكلو جملو وضاحت:

① جَعْدًا رَجِلًا: يعنی معمولی ګورګوچی پيچدار وينښته ئې وو.

② أَبْيَضُ مُشْرَبٌ: يعنی د هغوی رنګ سپين وو كوم ته چه سور رنګ ورګډولې شوې وو يا سپين سور بخن وو.

③ شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ: مطلب دادې چه د حضورپاك د هډوكو سرونه او جوړ غټ او مضبوط او د غوښې نه ډك وو لكه چه د زنګونونو اومړوندونو د هډوكو جوړ چه وی.

④ ذُو مَسْرُبَةٍ: په وړوكوالی كښې د شرح صدر نه پس د فرښتې د ګنډلو په نشان باندې د وينښتو كرښه جوړه شوې وه د هغې ذكر دې.

⑤ يَتَقَلَّعُ: هم په دې كيفيت كښې يتكفأ كيفيت هم پيدا كيږی دكوم ذكرچه اول شوې دې.

⑥ اِلْتَفَتَ مَعًا: يعنی د كبرژنوخلقو په شان به ئې د ستركو په ګوټونو سره نه كتل بلكه چه كوم طرف ته به ئې كتل پوره نظر او مخ تاوولو سره به ئې كتل.

⑦ هَابَهُ: يعنی حضورپاك ته الله تعالی چه كوم قدرتی رعب او دبدبه وركړې وه د هغې د وجې نه به نوې راتلونكې سړې ويريدلو.

قوله: وَمَنْ خَالَطَهُ مَعْرِفَةً أَحَبَّهُ، يَقُولُ نَاعِتُهُ: لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د متعلقينو د عاشق كيدو او زياتيدو وجه: يعنی د نيزدې نه كتلوسره په واقف كيدو باندې به د حضورپاك عاشق كيدو. عاقلانو حكيمانو وئيلی دی چه د كوم سړی ظاهری اوباطنی ژوندون يوشان وی اودواړه كولاؤ شوې كتاب وی هيڅ يو اړخ پټ اومخفی نه وی نود داسې سړی متعلقين د هغه نه جدا كيږی نه بلكه نور هم عاشقان كيږی. د رسول الله ﷺ د ژوند هراړخ لكه د كولاؤ كتاب په شان واضح وو په دې وجه چاچه حضورپاك

د نيزدې نه ليدلې قبول کړې نوبيا هغه سرې هم د حضرت شوې دې د بدن تکړې به نې الوتلې مګر هغه به شاته کيدو نه دَدې برعکس اکثر اوبيشتر د هغه سړې نه خلق دهو که خورې د کوم چه يو اړخ ښکلې ښکاره وي مګر نور اړخونه ئې پټ وي. نن صبا غلط قسم خلق هم دغه شان وي که د دنيا په حواله سره هرڅومره غټ جوړشوې وي يا د دين په حواله سره لوئې جوړشوې وي.

[۵۷۹۲] د حضور ﷺ د جسم خوشبويه کذرګاه معطر کوله

۵۷۹۲-() [۱۷] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ، [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمْ يَسْلُكْ طَرِيقًا فَيَتْبَعُهُ أَحَدٌ [۳] إِلَّا عَرَفَ أَنَّهُ قَدْ سَلَكَهُ، مِنْ طِيبِ عَرْفِهِ - أَوْ قَالَ: مِنْ رِيحِ عَرَقِهِ» - رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دی [۲] رسول الله ﷺ چې به په يوه لار تير شو نو حضور ﷺ نه وروسته چې به يو سړې هغه لاري باندې تيريدی [۳] هغه به د حضور ﷺ د جسم مبارك خوشبو يا دائي اوويل د حضور ﷺ د خولې (پسينې) مبارکې خوشبو نه معلوموله چې حضور ﷺ په دې لار تشريف وړی دی. (دارمي)

تسهيلات:

قوله: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسْلُكْ طَرِيقًا فَيَتْبَعُهُ أَحَدٌ إِلَّا عَرَفَ أَنَّهُ قَدْ سَلَكَهُ:

د حضور پاک صلی الله عليه وسلم ذاتی قدرتی خوشبوئی: يعنې د حضورپاك قدرتي خوشبوئي به د حضورپاك پته ورکوله. دا د حضورپاك د بدن مبارك ذاتي خوشبوئي وه. دې سره سره به حضورپاك ډيره خوشبوئي هم استعمالوله. بهرحال د حضورپاك مبارك معطريدن به د حضورپاك د طرف خبرداري کولو. (اشعارص ۱۴۳)

[۵۷۹۳] د حضور ﷺ وجود مبارك د نمر په شان وو

۵۷۹۳-() [۱۸] [۱] وَعَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، قَالَ [۲]: قُلْتُ لِلرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ: [۳] «صِفِي لَنَا رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] قَالَتْ: يَا بُنَيَّ لَوْ رَأَيْتَهُ رَأَيْتَ الشَّمْسَ طَالِعَةً» . رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] د محمد ابن عمار ابن ياسر رضي الله عنه صاحبزاده ابوعبيده رحمه الله وايې [۲] چې ما د معوذ ابن عفراء رضي الله عنه لور بي بي ربيع صحابيه رضي الله عنها ته اوويل [۳] چې تاسو څما مخکې د رسول الله ﷺ وصف بيان کړئ [۴] نو هغې اوويل څما ځويه! که تا حضور ﷺ ليدلی وې نو داسې به دې ګڼل لکه چې بريښيدونکې نمر دې ليدلی دی. (دارمي)

حل اللغات:- ① صِفِي: د وَصَفَ نه د امر مخاطب صيغه ده، أي: انْعَتِي: صفت اوکړه، وصف بيان کړه ماته. ② طَالِعَةً: راختلې، ښکاره.

---

[۱]) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ۶۶
[۲]) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ۶۰

تسهيلات:

قوله: يَابُنَيَّ لَوْ رَأَيْتَهُ رَأَيْتَ الشَّمْسَ طَالِعَةً:

د رسول الله ﷺ د مخ مبارک ځلا او ښکلا: يعنى دَحضور پاك مخ مبارك به داسې پرقيدلو زلقيدلو لکه چه نمر په نصف النهار کښې پرقيږي. بعضې صحابه كرام دَحضور پاك مخ مبارك دَ سپوږمۍ په شان خودلي دي. هريو دَخپل انداز مطابق خودلې دي. دې سره که دَرسول الله ﷺ دَ تورو زلفو مبارك ذکر او کړې شي نو بيا به څه وايې.

[٥٧٩٤] د مخ مبارک دومره ښايست چه سپوږمۍ ځني هم شرميږي

> ٥٧٩٣ -(١) [٤] ١ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ ٢: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي لَيْلَةٍ إِضْحِيَانٍ، ٣ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَإِلَى الْقَمَرِ، ٤ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ، ٥ فَإِذَا هُوَ أَحْسَنُ عِنْدِي مِنَ الْقَمَرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت جابر ابن سمره ﷺ وايي ٢ يو وخت ما د سپوږمۍ په رڼا کې حضور ته کتل ٣ او صورت دا وو چې کله به مې د حضور ﷺ جمال عالمتاب ته کتل او کله سپوږمۍ ته ٤ هغه وخت د حضور ﷺ په جسم مبارك د هغه کپړي لباس وو چې په هغه کې سري او سپيني کرښې وي ٥ حقيقت دادی چې خما په نزد د حضور ﷺ حسن او جمال د سپوږمۍ نه ډېر زيات وو. (ترمذي ودارمي)

حل اللغات:- ① إِضْحِيَانٍ: دا د ضَحْو نه دي، أَيْ: مُقْمِرَةٍ: د سپوږمۍ والا شپه، روښانه شپه، يا دا معنى چه أَيْ: لَيْلَةٌ مُضِيئَةٌ لَا غَيْمَ فِيهَا: داسې شپه چه وريځ پکښې نه وی بالکل صفا او روښانه وی. ② حُلَّةٌ حَمْرَاءُ: د کپړو جوړا چه قميص او پرتوګ ئې د يو قسم کپړې وی.

تسهيلات:

قوله: وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ:

د حلة حمراء څخه مراد: حُلَّةٌ: جامو ته وائی په کوم کښې په کومه کښې چې سور والې وی خو سره جوړه اچول منع دی دلته دَحمراء نه سره جوړه مراد نه ده بلکه داسې کپړا مراد ده په کومه کښې چه سرې کرښې وی زمکه ئې سره نه وی.

قوله: أَحْسَنُ عِنْدِي:

د عندی مطلب او معنی: دَعندی مطلب دانه دې چه زما په نيز داسې وو او دَ نورو خلقو په نيز داسې نه وو بلکه مطلب دادې چه حضرت جابر ﷺ دَخپل ذاتی جذباتو اظهار کړې دې او عقيدت ښکاره کولو دَپاره ئې داسې وئيلی دی. دې نه ئې څه منفی اړخ مقصود نه

---

(١) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء فى الرخصة فى لبس الحمرة للرجال (رقم-٢٨١١) والدارمى فى السنن رقم الحديث ٥٧

دي. حضرت حسان رضي الله عنه وئیلی دي:

واحسن منك لم ترقط عيني — واجمل منك لم تلد النسآء
خلقت مبرأ من كل عيب — كانك قد خلقت كما تشآء
يا صاحب الجمال ويا سيد البشر — من وجهك المنير لقد نور القمر
لا يمكن الثناء كما كان حقه — بعد از خدا بزرگ توئی قصہ مختصر

اوریدلی شوی دی چه ابوعلي سینا دَ حضورپاك دَ سیرت متعلق یو کتاب لیکلې دې په هغې کښې لیکلی دی چه دَ حسن تناسب دَ اعضاء نوم دې اوحضوراکرم ﷺ په مکمل توګه باندې متناسب الاعضاء وو. دَحضرت آدم علیه السلام نه واخله ترحضوراکرم ﷺ پورې هیڅ یو سړې متناسب الاعضاء نه دې پیدا شوې اونه به دَ قیامت پورې پیدا شي. لهذا حسن اوجمال کښې حضورپاك بې مثال وو.

[۵۷۹۵]د حضور ﷺ رفتار

۵۷۹۵-()[۲۰] [۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ[۲]: «مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳]كَأَنَّ الشَّمْسَ تَجْرِي فِي وَجْهِهِ. [۴]وَمَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَسْرَعَ فِي مَشْيِهِ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَأَنَّمَا الْأَرْضُ تُطْوَى لَهُ، [۵]إِنَّا لَنُجْهِدُ أَنْفُسَنَا وَإِنَّهُ لَغَيْرُ مُكْتَرِثٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

توجمه: [۱]او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایې [۲]چې ما د رسول الله ﷺ نه زیات حسین او جمیل هیڅ شی نه دی لیدلی داسې معلومېده [۳]لکه چې یونمر دی چې د حضور ﷺ د مخ مبارك نه جلوه ریز کېږي [۴]او ما د رسول الله ﷺ نه زیات تیز رفتار خوك نه دی لیدلی کوم وخت چې به حضور ﷺ تلی نو داسې به معلومیده چې د حضور ﷺ مخکې زمکه راټولېږي [۵]حقیقت دادی چې مونږ خوبه سخت جدوجهد او کوشش کوی لیکن حضور ﷺ به په خپل بې نیاز تګ تللو . (ترمذي)

حل اللغات:- ①أَسْرَعَ: تیز رفتار(سره ددې چه وقار اوسکون سره به وو). ②تُطْوَى: أَيْ تُزْوَى وَتُجْمَعُ: راټولیده. راغونديدله به (زمکه، په طور د خرق عادت یوه معجزه وه). ③لَنُجْهِدُ: دا د إِجْهَادٍ، یا د جُهْدٍ نه دې. هُوَحَمْلُ عَلَى الشَّيْءِ فَوْقَ طَاقَتِهِ: په یوځیز باندې د وس او طاقت نه زیات بوج اچولو ته وائي. یعنی مونږ به سره د کوشش نه تیز تلو. ④غَيْرُمُكْتَرِثٍ: دکثرت نه دې دَ زیات تیز تللو نفی ده. أي غَيْرُ مُسْرِعٍ: یعنی حضور پاك ﷺ به د تیز تللو کوشش نه کولو.

تسهیلات:

نوټ: د حدیث د جملووضاحت په نورو احادیثو کښې شوې دې.

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۴۸) واحمد فی المسند:۲/۳۵۰

[۵۷۹٦] د حضور ﷺ پنډۍ، سترګې او خندا

۵۷۹٦ -(¹) [۲۱] [۱] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: [۲] «كَانَ فِي سَاقَيْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حُمُوشَةٌ، [۳] وَكَانَ لَا يَضْحَكُ إِلَّا تَبَسُّمًا، [۴] وَكُنْتُ إِذَا نَظَرْتُ إِلَيْهِ قُلْتُ: أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ، وَلَيْسَ بِأَكْحَلَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ابن سمره ﷺ وايي [۲] د رسول الله ﷺ پنډۍ سپکي او نازکي وي [۳] او حضور ﷺ به عام طور سره نه خندل بلکه مسکی کیدو به [۴] او ماچي به حضور ﷺ طرف ته کتل نو په زړه کې به مي وئيل چې حضور ﷺ رانجه لګولي دي حالانکه حضور ﷺ به رانجه سرمه نه وه لګولي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① حُمُوشَةٌ: أَيْ: دِقَّةٌ وَلَطَافَةٌ مُنَاسِبَةٌ: نازک والي او لطافت چه ټول اندامونه په مناسب او ښائسته انداز کښې وی، دې ته حموشة وائی. ② تَبَسُّمًا: وَهُوَ مُقَدِّمَةُ الضَّحِكِ: دخندلو په شروع کښې چه کومه مُسکا وی هغې ته تبسم وائی. ③ أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ: رانجه لګولې شوې سترګې.

تسهيلات:

قوله: إِذَا نَظَرْتُ إِلَيْهِ قُلْتُ: أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ، وَلَيْسَ بِأَكْحَلَ:

د رسول الله ﷺ د سترګو مبارکو قدرتی توروالي: يعنی په کتلو کښې به ښکاريدې چه حضورپاك رانجه استعمال کړی دی حالانکه داسې به نه وه دَ حضورپاك سترګې مبارکې پيدائشی توګه باندې ښکلې وې. دغه شان حضورپاك سنت کړې شوې پيدا شوې وو اونوم کټ شوې پيدا شوې وو. دا دَحضورپاك بعضې خصوصيات وو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۷۹۷] د حضور ﷺ غاښونه مبارک

۵۷۹۷ -(²) [۲۲] [۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ [۲]: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَفْلَجَ الثَّنِيَّتَيْنِ، [۳] إِذَا تَكَلَّمَ رُئِيَ كَالنُّورِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ ثَنَايَاهُ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عباس ﷺ وايي [۲] د حضور ﷺ مخکني دوه غاښونه مبا رك کولاؤ وو [۳] هرکله چې حضور ﷺ به خبري کولي نو داسې به محسوسېده چې د حضور ﷺ د هغه دوه غاښونو د منځ نه نور وځي. (دارمي)

حل اللغات:- ① أَفْلَجَ الثَّنِيَّتَيْنِ: أَيْ فُرْجَةٌ مَا بَيْنَ الثَّنَايَا وَالرَّبَاعِيَاتِ: د غاښونو په مينځ کښې خالی خايونه مراد دی. ② رُئِيَ: أَيْ: أُبْصِرَ: ښکاريدل به.

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی صفة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۳۶۴۵) واحمد فی المسند:۹۷/۵

²) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ۵۸ والبغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۳۶۴۴

تسهیلات:

نوټ: د حدیث د مشکلولغاتو حل د حل اللغات په عنوان سره شوي دي باقي د حدیث مفهوم آسان دي.

[۵۷۹۸] د حضور ﷺ خوشدلی د مخ نه معلومېده

۵۷۹۸-() [۲۳] [۱] وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ [۲]: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا سُرَّ اسْتَنَارَ وَجْهُهُ، [۳] حَتَّى كَأَنَّ وَجْهَهُ قِطْعَةُ قَمَرٍ، [۴] وَكُنَّا نَعْرِفُ ذٰلِكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت کعب ابن مالک رضی الله عنه وایي [۲] رسول الله ﷺ چې به خوشحاله وو نو مخ مبارك به یې روښانه وو [۳] او داسې به معلومېدی چې د حضور ﷺ مخ مبارك د سپوږمۍ ټکړه ده [۴] او د دې شي نه به مونږ د حضور ﷺ آندروني کیفیت پېژندی. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① سُرَّ: أَيْ: فَرِحَ: خوشحاله به وو. ② اسْتَنَارَ: روښانه به وو، ځلیدو به.

تسهیلات:

قوله: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا سُرَّ اسْتَنَارَ وَجْهُهُ:

دخوشحالۍ په وخت کښې د نبی علیه السلام د مخ کیفیت: دَ رسول الله ﷺ دَ زړه خوشحالي به دَ مخ مبارك نه ښکاره کیدله په کوم سره چه به ئې مخ مبارك پرقیدلو.

[۵۷۹۹] د حضور ﷺ د صفاتو او خصوصیاتو په تورات کې ذکر

۵۷۹۹-() [۲۴] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ، [۲] «أَنَّ غُلَامًا يَهُودِيًّا كَانَ يَخْدُمُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَمَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعُودُهُ، [۳] فَوَجَدَ أَبَاهُ عِنْدَ رَأْسِهِ يَقْرَأُ التَّوْرَاةَ، [۴] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۵] "يَا يَهُودِيُّ أَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ الَّذِي أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلَى مُوسَى، هَلْ تَجِدُ فِي التَّوْرَاةِ نَعْتِي وَصِفَتِي وَمَخْرَجِي؟". [۶] قَالَ: لَا،

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی [۲] یو یهودي هلك چې د رسول الله ﷺ خدمت به یې کوی ناجوړه شو نو رسول الله ﷺ د هغه پوښتني ته د هغه کورته تشریف یووړلو [۳] حضور ﷺ ولېدی چې پلار ورته سرته ناست دی د تورات څه حصه وایي څرنګه چې مسلمانانو کې د زکندن په وخت سورة یٰسین وئیل کیږي [۴] رسول الله ﷺ په دې لېدو

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب حديث كعب بن مالك. وقول الله عز وجل: {وعلى الثلاثة الذين خلفوا} [التوبة: ۱۱۸] (رقم-۴۴۱۸) ومسلم في كتاب التوبة/باب حديث توبة كعب بن مالك وصاحبيه (رقم-۵۳ - (۲۷۶۹) واحمد في المسند: ۴۵۹/۳

[2]) اخرجه البيهقي في دلائل النبوة

سره هغه نه پوښتنه وکړه ⑤ زه تاته په هغه الله ﷻ قسم درکولو سره پوښتنه درنه کوم چې هغه موسیٰ علیه السلام باندې تورات نازل کې رېښتيا رېښتيا اووئيلو آيا تـه پـه دې تـورات کې ځما تعريف وتوصيف او ځما د وطن نـه د وتلو ذکر پيدا کوی؟ ⑥ هغـه يهـودي جـواب ورکړو نه

حل اللغات:- ① يَعُوْدُهٗ: د عيادت نه دې يعنی تپوس پوښتنه به ئې کوله. ② أَنْشُدُكَ: أَيْ: أُقْسِمُ عَلَيْكَ: زه قسم درکوم تاتـه. ③ نَعْتِي: أَيْ: بِاعْتِبَارِ ذَاتِي وَخَلْقِي: زمـا صفت زمـا د ذات او صـورت پـه اعتبارسره، ④ وَصِفَتِي: أَيْ: بِاعْتِبَارِ أَفْعَالِي وَأَحْوَالِي: زمـا صفت زمـا د سيـرت يعنـی د احوالـو اوافعالو په اعتبار سره. ⑤ وَمَخْرَجِي: أَيْ: مَكَانَ خُرُوجِي: زما د ويستلو په اعتبارسره (ددې نه مراد يا خروج مکانی دې يعنی مکه، يا خروج زمانی دې يعنی ولادت او بعثت يا هجرت).

① قَالَ الْفَتَى: بَلَى وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ! ② إِنَّا نَجِدُ لَكَ فِي التَّوْرَاةِ نَعْتَكَ وَوَصْفَكَ وَمَخْرَجَكَ، ③ وَإِنِّي أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ. ④ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِأَصْحَابِهِ: ⑤ " أَقِيمُوا هٰذَا مِنْ عِنْدِ رَأْسِهِ، ⑥ وَلُوا أَخَاكُمْ» " رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ ".

ترجمه: ① لـيکن هغه هلك اووئيل هو يا رسول الله! قسم په الله ﷻ ② په دې تورات کې مونږ ستاسو تعريف او توصيف او ستاسو د وتلو ذکر پيدا کړيدي ③ او زه يقيني طور سره د دې امر ګواهي ورکوم چې الله ﷻ نه ماسوا بل معبود نشته او د دې امر هم ګواهي کوم چې تاسو بلاشبه د الله ﷻ رسـول يئ ④ حـضور ﷺ د هغـه هلـك رشـتيـا وينا او د هغـه اظهارِايمان واسلام لپدو سره خپلو صحابه وُ ﷺ ته وفرمايل ⑤ چې د ده پـلار د ده د سر نه ولاړ کړي ⑥ او تاسو د خپل ددې ديني ورور واليـان جوړ شئ او کـه دا هلك وفـات شي نو بيا د ده د کفن دفن او جنازي امور تاسو سرانجام کئ دا روايت بيهقي رحمه الله دلائل النبوت کې ذکر کړی دی.

تسهيلات:

قوله: أَقِيمُوا هٰذَا مِنْ عِنْدِ رَأْسِهِ، وَلُوا أَخَاكُمْ:

د ولی ذمه واری: ولی دَ ولايت اومشری پوره کولو په معنی کښې دې يعنی دا مسلمان شوې دې اوس خپل زور په قبضه کښې واخلئ. دې اوس سنبال کړئ، پوښتنه ئې اوکړئ اوکه چرې دې وفات شی نو په اسلامی طريقه باندې دَ ده کفن دفن اوکړئ. دَ يهوديانو نه ئې لرې کړئ. دَدې حديث نه معلومه شوه چه يهود ځومره دروغ وائی او شرميږی نه. ځوئی دَ بيمارئی په حالت کښې پلار دروغ ګڼړی.

[۵۸۰۰] د حضور ﷺ بعثت د رحمت خداوندي ظهور دی

۵۸۰۰-() [۲۵] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنَّهُ قَالَ ۲: "«إِنَّمَا أَنَا رَحْمَةٌ مُهْدَاةٌ»". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت كوي حضور ﷺ وفرمايل ۲ حقيقت دادی چې زه د الله جل جلاله هديه كړل شوی رحمت يم دا روايت دارمي او شعب الايمان كښې بيهقي نقل كړی دی.

حل اللغات:- ① رَحْمَةٌ مُهْدَاةٌ: أَيْ: رَحْمَةٌ لِلْعَالَمِينَ أَهْدَاهَا اللّٰهُ إِلَيْهِمْ: داسې رحمت چه دَ الله تعالى دَ طرف نه دَتحفې په توګه راليګلې شوې وی.

تسهيلات:

قوله: رَحْمَةٌ مُهْدَاةٌ:

نبی عليه السلام د الله تعالی د رحمت نمونه: دَالله تعالى دَ طرف نه دَتحفې په توګه راليګلې شوې رحمت. لهذا څوك چه ماقبلوی هغه به دَ الله تعالى دَ رحمت په سوری كښې راځی. په دې روايت كښې دَ يوځو الفاظو اضافه هم شوې ده هغه الفاظ دادی. "بُعِثْتُ بِرَفْعِ قَوْمٍ وَخَفْضِ آخَرِينَ" يعنی څوك چه ماقبلوی هغه به دَترقئی آسمان ته رسيږی او څوك چه مخالفت كوی هغه به دَ ذلت په كندوكښې ورپريوځی.

---

[1] اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ۱۵ والبيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۱۴۴۶

[۳] بَابٌ فِي أَخْلَاقِهِ وَشَمَائِلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضور ﷺ د اخلاقو او عاداتو بیان

خلاصة الباب:

فيه خمسة وثلاثون حديثاً مشتملة على نحو خمسن و أربعين خلقا:

① عدم الزجر النبي صلى الله عليه وسلم أحداً لنفسه: ۱، ۱۹۔
② ضحک النبي صلى الله عليه وسلم فی محل الغضب: ۲، ۳۔
③ عدم خوف النبي صلى الله عليه وسلم من أحد: ۴۔
④ ذکرجود النبي صلى الله عليه وسلم: ۵، ۶، ۷۔
⑤ ذكر تواضع النبي صلى الله عليه وسلم مع الناس : ۸، ۹، ۱۰ ، ۳۳۔
⑥ عدم كون النبي صلى الله عليه وسلم فاحشاً: ۱۱، ۲۰، ۳۲۔
⑦ عدم كون النبي صلى الله عليه وسلم لعاناً: ۱۱
⑧ عدم كون النبي صلى الله عليه وسلم ساباً: ۱۱، ۱۲۔
⑨ كون النبي صلى الله عليه وسلم حيياً: ۱۳۔
⑩ عدم كون النبي صلى الله عليه وسلم صاحب ضحک تام: ۱۴۔
⑪ عدم كون النبي صلى الله عليه وسلم يسرد الكلام : ۱۵، ۲۷، ۲۸۔
⑫ كون النبي صلى الله عليه وسلم عاملاً أعمال البيت: ۱۶، ۲۶۔
⑬ كون النبي صلى الله عليه وسلم آخذاً بالأيسر: ۱۷۔
⑭ عدم كون النبي صلى الله عليه وسلم منتقماً لنفسه: ۱۷۔
⑮ عدم كون النبي صلى الله عليه وسلم ضارب أحد : ۱۸۔
⑯ عدم كون النبي صلى الله عليه وسلم متفحشاً: ۲۰۔
⑰ عدم كون النبي صلى الله عليه وسلم سخاباً في الأسواق: ۳۲۔
⑱ عدم كون النبي صلى الله عليه وسلم جازي السيئة بالسيئة: ۲۰۔
⑲ كون النبي صلى الله عليه وسلم عافاً وصالحاً: ۲۰۔
⑳ كون النبي صلى الله عليه وسلم عائداً للمرضى: ۲۱
㉑ كون النبي صلى الله حليه وسلم تابعاً للجنازة: ۲۱
㉒ كون النبي صلى الله عليه وسلم مجيباً لدعوة المملوك: ۲۱

د اخلاق لغوی معنی: اخلاق جمع ده دَدې مفرد خلق دې کوم چه طبعی خصلت اوباطنی وصف ته وائی. دکوم لاندې چه دَحضورپاك اوصاف حميده داخل دی.

دشمائل لغوی معنی: شمائل جمع ده دَدې مفرد شمال دې. په شین کسره ده اودَدې اطلاق په اخلاقو باندې هم کیږی. او په سیرت باندې هم کیږی. که چرې دَسیرت په معنی کښې واخستې شی نودَ یوې نوې معنې اومفهوم دَپاره به عنوان راپیداشی کوم چه به ډیر ښه وی.

د نبی علیه السلام د اخلاقو بیان: دَدې باب څخه وړاندې ابوابو کښې دَرسول الله ﷺ دَ جسماني اوشکل وشباهت ظاهري اوصاف بیان کړې شوي دي. دَدې باب په احادیثو کښې به دَ حضورپاك دَباطني اوصافو او خصلتونو بیان کیږي. یوځو باطني اوصاف دادي مثلاً بهادري، سخاوت، رحمت اوشفقت، مروت او محبت، عاجزي اوتحمل اوحیاء وغیره اوصاف مراددي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۸۰۱] بې مثاله حُسن خُلق

۵۸۰۱- () [۱] ۱ «عَنْ أَنَسٍ قَالَ ۲: خَدَمْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَشْرَ سِنِينَ ۳ فَمَا قَالَ لِي أُفٍّ وَلَا لِمَ صَنَعْتَ وَلَا أَلَّا صَنَعْتَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس ﷺ وایې ۲ ما د رسول الله ﷺ لس کاله خدمت وکی په دې پوره موده کې ۳ حضور ﷺ ماته هیڅ کله اُف قدر هم ونه کړی او نه چېرې حضور ﷺ دا وفرمایل چې تا داکار ولې وکړو او دا کار دې ولې ونه کړی. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① أُفٍّ: وَهِيَ كَلِمَةُ تَبَرُّمٍ: دا کلمه د ناخوښئ او د ملامتیا د اظهار دپاره استعمالیږي. ② لِمَ صَنَعْتَ: تا دا کار ولې کړې دې؟.

تسهیلات:

قوله: خَدَمْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَشْرَ سِنِينَ فَمَا قَالَ لِي أُفٍّ:

د لفظ اف تحقیق: أُفٍّ دا کلمه دَهمزه پېښ سره وئیل هم جائز دی زیر سره هم جائز ده او زبرسره هم جائز ده. فاء باندې شدهم دې او سکون هم دې. علامه نووي ﷫ په دې کښې لس لغات بیان کړی دی. دا کلمه دَانسان دَ خلې نه هغه وخت اوځی کله چه هغه د یوناخوښ کړې شوی یا څه تکلیف ورکونکی صورت حال سره مخ کیږي.

د حدیث پس منظر: رسول الله ﷺ چه کله دَ مکې نه مدینې ته هجرت اوکړو نوحضرت ام سلیم ﷺ خپل ځوئی حضرت انس ﷺ دَ حضورپاك خدمت کښې راوستو پیش ئی کړو اووئی فرمائیل "خویدمك فأدعُ له" دا ستاسو وړوکې شان خادم دې دا قبول کړه اووه دَپاره دعا اوکړئی. دَحضرت انس ﷺ عمر په هغه وخت اته یا لس کاله وو. هغه تر لسو کالو پورې دَ حضورپاك خدمت اوکړو.

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب حسن الخلق والسخاء. وما يكره من البخل (رقم-۶۰۳۸) ومسلم في كتاب الفضائل/باب كان رسول الله صلى الله عليه وسلم أحسن الناس خلقًا (رقم-۵۱ - (۲۳۰۹) وابوداود في كتاب الأدب/باب في الحلم وأخلاق النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۴۷۷۴) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في خلق النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۲۰۱۵)

قوله: فَمَا قَالَ لِي أُفٍّ وَلَا لِمَ صَنَعْتَ وَلَا أَلَّا صَنَعْتَ:

دَ رسول الله ﷺ د اخلاقو او دَ شفقت منظر: حضرت انس خپل خدمت او دَ رسول الله ﷺ دَ شفقت منظر وړاندې کوی چه دَ لسو کالو دَ اوږدې مودې په خدمت کښې حضورپاك زه نه چرته رټلې يم نه ئې راباندې چرته غصه کړې بلکه أف پورې راته نه دی کړی او نه ئې رانه داسې تپوس پوښتنه کړې چه داکاردې ولې کړې اودادې ولې نه دې کړې؟ په دې کښې چه يو طرف ته دَ نبی مکرم دَ اخلاق اوچته نمونه مخې ته راځی نوبل طرف ته دَحضرت انس ﷺ دَ ښه کارکردګئی اوخدمت طريقه هم معلوميږی چه کله دَ داسې رټنې اوغصې موقع نه ده راغلې.

ملاعلی قاری ﷫ ليکی چه دَدې غصې اورټنې او تپوس پوښتنې نه کولوتعلق دَ حضورپاك ذاتی خدمت او آداب سره دې ګنی په شرعی امورو کښې که چرې څه غلطی کيدله نو په هغې باندې کله هم حضورپاك خاموشی نه ده اختيار کړې.

[۵۸۰۲] شفقت او مروت

۵۸۰۲-() [۲] [۱] وَعَنْهُ قَالَ [۲]: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ خُلُقًا [۳] فَأَرْسَلَنِي يَوْمًا لِحَاجَةٍ [۴] فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا أَذْهَبُ [۵] وَفِي نَفْسِي أَنْ أَذْهَبَ لِمَا أَمَرَنِي بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۶] فَخَرَجْتُ حَتَّى أَمُرَّ عَلَى صِبْيَانٍ وَهُمْ يَلْعَبُونَ فِي السُّوقِ [۷] فَإِذَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَدْ قَبَضَ بِقَفَايَ مِنْ وَرَائِي [۸] قَالَ فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ يَضْحَكُ

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايې [۲] رسول الله ﷺ د اخلاقو او عاداتو دخوبي په اعتبارسره د ټولو خلقو نه زيات وو [۳] يوه ورځ داسې وشوه چې حضور ﷺ څه کار د پاره خما ليږل وغوښتل [۴] ما حضور ﷺ ته داسې اوويل قسم په الله چې زه نه ځم [۵] ليکن په زړه کې مي داوو چې رسول الله ﷺ کوم حکم راکړی دی د هغه د تعميل د پاره به ضرور ځم [۶] نو زه روان شوم په بازارکې يو ځاي و ړ و لوبي کولې زه هلته حصار شوم [۷] ناڅانك رسول الله ﷺ هلته راغې او د وروسته نه يې خما څټ اونيولو ما چې شا ته [۸] حضور ﷺ ته وکتل نو حضور ﷺ خندل

حل اللغات:- ① خُلُقًا: أَيْ عِشْرَةً: اخلاق اوښه عادات، ② أَمُرُّ: اى مَرَرْتُ فِي طَرِيقِي: روان ووم، تيريدم ③ قَبَضَ: أَيْ أَخَذَ: اونې نيولو ④ بِقَفَايَ: اى مُؤَخَّرُ الْعُنُقِ: د مرئ شا طرف يعنی څټ.

[۱] فَقَالَ: يَا أُنَيْسُ ذَهَبْتَ حَيْثُ أَمَرْتُكَ. [۲] قُلْتُ: نَعَمْ، أَنَا أَذْهَبُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بيا حضور ﷺ راته وفرمايل يا أنيس! ته هلته تللي يې که نه چيرته چې ماليږلي وې؟ [۲] ماعرض وکړو چې هو يارسول الله! زه اوس ځم. مسلم

---

[1]) اخرجه مسلم في كتاب الفضائل/باب كان رسول الله صلى الله عليه وسلم أحسن الناس خلقًا (رقم-۵۴ - ۲۳۱۰) وابوداود في كتاب الأدب/باب في الحلم وأخلاق النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۴۷۷۳)

تسهيلات:

قوله: فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا أَذْهَبُ وَفِي نَفْسِي أَنْ......... رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حديث وضاحت: حضرت انس ﷺ په ژبه سره داكلمات اداكړل مګر دهغوی دزړه اراده دتللووه. دويمه جمله "وفي نفسي" په دې باندې دال دې يعنی زما په زړه كښې وو چه زه به ځم. اوس دحضرت انس ﷺ په قول اوفعل باندې هيڅ اعتراض نشته دې.

قوله: فَإِذَا رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَدْ قَبَضَ بِقَفَاىَ مِنْ وَرَائِي:

دنبی عليه السلام د انس څخه د عدم خفګان وجه: كوم وخت چه دامعامله پيښه شوې وه كيدې شي چه هغه وړوكې هم وو اونابالغ هم وو غيرمكلف هم وو او په خدمت كښې نوې هم وو تجربه ئې هم نه وه. په دې وجه حضورپاك دَ خفګان اظهاراونه كړو بلكه دَ زړه دَ خوشحالولو دپاره ئې هغه دَ ستې دَ طرف نه اونيولو او په مسكی كيدوسره دَ شفقت په توګه ئې هغه دَ تصغيرپه صيغه اُنيس سره يادكړو.

[۵۸۰۳] بې مثاله تحمل او خوش اخلاقي

۵۸۰۳-() [۳] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: «كُنْتُ أَمْشِي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] وَعَلَيْهِ بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيظُ الْحَاشِيَةِ [۳] فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِيٌّ فَجَبَذَهُ بِرِدَائِهِ جَبْذَةً شَدِيدَةً وَرَجَعَ نَبِيُّ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-فِي نَحْرِ الْأَعْرَابِيِّ [۴] حَتَّى نَظَرْتُ إِلَى صَفْحَةِ عَاتِقِ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَدْ أَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ الْبُرْدِ مِنْ شِدَّةِ جَبْذَتِهِ،

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي يوه ورځ زه درسول الله ﷺ سره روان وم [۲] هغه وخت د رسول الله ﷺ په جسم مبارك د يمن د نجران ښار جوړي شوي كرښي دار څادر وو چې د هغه غاړي د غټو وريښمو وي [۳] اچانك په لار كې يو بانډچي (كليوال) حضور ﷺ سره يوځاي شو او هغه ځان ته متوجه كولو د پاره د حضور ﷺ څادر نيولو سره دومره په زور سره راښكلو چې رسول الله ﷺ راښكلو سره د هغه سيني سره نږدې ولګيدلو [۴] ما نظر اوچتولو سره د رسول الله ﷺ غاړه مباركي ته وكتل نو د هغه بانډچي (كليوال) دومره زور سره څادر راښكلو سره د رسول الله ﷺ غاړه مباركي باندې د څادر د غاړو نښه راله

حل اللغات:- ① بُرْدٌ: أي: ثَوْبٌ مُخَطَّطٌ: كرښې دار څادر، ② نَجْرَانِيٌّ: نجران طرف ته منسوب دې، يا په يمن كښې يوښار دې يا دا دحجاز، شام او يمن په يمن كښې واقع د يو ځائې نوم دې. ③ غَلِيظٌ: غټ يا پير ريښم، ④ الْحَاشِيَةِ: أي الطَّرَفِ: غاړې، باډرې، ⑤ فَجَبَذَهُ: دا لفظ جبذ دې يا دا د جذب نه مقلوب دې، په زور سره او جټكې سره راښكلو ته وائی. ⑥ نَحْرِ: أي: فِي صَدْرِهِ: سينه (د بانډيچی

[1]) اخرجه البخاري في كتاب فرض الخمس/باب ما كان النبي صلى الله عليه وسلم يعطي المؤلفة قلوبهم وغيرهم من الخمس ونحوه (رقم-۳۱۴۹) ومسلم في كتاب الزكاة/باب إعطاء من سأل بفحش وغلظة (رقم-۱۲۸ - (۱۰۵۷) وابن ماجه في كتاب اللباس، كتاب الطب/باب لباس رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۵۵۳) واحمد في المسند: ۲۲۳/۴

⑦صَفْحَةِ: ښکاره کلاو طرف، مخامخ طرف (کوم چه اوګې طرف ته وی). ⑧عَاتِقِ: غاړه، مرئ.
⑨أَثَّرَتْ بِهَا: نښه ئې جوړه کړه په څټ د نبي ﷺ باندې.

[۱]ثُمَّ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ، مُرْلِي مِنْ مَالِ اللّٰهِ الَّذِي عِنْدَكَ، [۲]فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳]ثُمَّ ضَحِكَ، ثُمَّ أَمَرَلَهُ بِعَطَاءٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱]بيا هغه باندې (کليوال) اوويل اې محمد! ستاسو سره چې د الله ﷻ کوم مال دی د هغه نه ماته څه راکړه [۲]حضور ﷺ مخکې خو حيرانتيا سره هغه ته وکتل [۳]بيا د مهربانۍ له مخه مسکې شو او هغه ته يې د څه ورکولو حکم يې وکړو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑩عَطَاءٍ: ورکړه.

تسهيلات:

قوله: فَجَبَذَهُ بِرِدَائِهِ جَبْذَةً شَدِيدَةً وَرَجَعَ نَبِيُّ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي نَحْرِ الْأَعْرَابِيِّ:

د رسول الله ﷺ د تکليف برداشت کولو توجيه: يعنې حضورپاك د دغه رابنکلود وجې نه دکلي وال سينې اومرئی ته نيزدې شو. کيدې شي دا څو داسې کلي وال وو چه دمؤلفة القلوب نه وو په دې وجه حضورپاك دهغه دا تکليف ورکول برداشت کړه اودې خلاف ئې څه کاروائي اونه کړه. حضورپاك دلويو اخلاقو مظاهره اوکړه.

[۵۸۰۴]د حضور ﷺ اکمليت او جامعيت

۵۸۰۴-(¹) [۳][۱]وَعَنْهُ، قَالَ: [۲]«كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَحْسَنَ النَّاسِ وَأَجْوَدَ النَّاسِ وَأَشْجَعَ النَّاسِ، [۳]وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ ذَاتَ لَيْلَةٍ [۴]فَانْطَلَقَ النَّاسُ قِبَلَ الصَّوْتِ [۵]فَاسْتَقْبَلَهُمُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۶]قَدْ سَبَقَ النَّاسَ إِلَى الصَّوْتِ [۷]وَهُوَ يَقُولُ لَمْ تُرَاعُوا لَمْ تُرَاعُوا [۸]وَهُوَ عَلَى فَرَسٍ لِأَبِي طَلْحَةَ عُرْيٍ مَا عَلَيْهِ سَرْجٌ وَفِي عُنُقِهِ سَيْفٌ [۹]فَقَالَ لَقَدْ وَجَدْتُهُ بَحْرًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱]او حضرت انس ﷺ وايي [۲]چې رسول الله ﷺ حسن وجمال فضل وکمال صفات حميده او اخلاق فاضله کې د ټولو خلقو نه زيات زړه ور او بهادر وو [۳]د يوې شپې واقعه ده د مديني خلقو يوطرف نه د غل ډاکو ياخه دښمن اوازه اوريدو سره پريشانه او خو فزده شو او يوبل ته اوازونه ورکول يي شروع کړل [۴]بيا څه خلق جمع کيدو سره دهغه اواز طرف ته ورغلل [۵]هلته يي خپل مخې ته رسول الله ﷺ موجود پيدا کې [۶]حقيقت دادی چې حضور ﷺ د ټولو نه مخکې د کور نه وتلی وو او تن تنها په يوازې تن دهغه اواز طرف ته ورغلی وو [۷]حضور ﷺ هغه ټولو خلقو ته اطمينان تسلي ورکولو سره وفرمايل ويريږي مه ويريږي مه هيڅ خطره نشته [۸]حضور ﷺ هغه وخت د

¹) اخرجه البخارى فى كتاب الأدب/باب حسن الخلق والسخاء. وما يكره من البخل (رقم-۶۰۳۳) ومسلم فى كتاب الفضائل/باب فى شجاعة النبى عليه السلام وتقدمه للحرب (رقم-۴۸ - (۲۳۰۷)

ابو طلحه ﷛ په آس سپور وو چې د آس شا توره وه يعنى بې زينه وو او د حضور ﷺ په غاړه کې توره وه ⑨ بيا حضور ﷺ وفرمايل ما خو دا آس د درياب په شان تيز بيامونده. بخاري ومسلم

حل اللغات:- ① أَجْوَدَ: أَيْ أَكْثَرَهُمْ سَخَاوَةً: ډير زيات سخي، ② أَشْجَعَ: أَيْ: قُوَّةً وَقَلْبًا: ډير زيات بهادر (د بدني قوت او د زړه ورتيا په اعتبارسره)، ③ فَزِعَ: أَيْ خَافَ: اويريدل خلق، ④ فَانْطَلَقَ: روان شو خلق، ⑤ سَبَقَ: مخکښې تلې وو، ⑥ لَمْ تُرَاعُوا: د رَوْع نه ماخوذ دې، په معنى د فَزَع او خَوْف سره، أَيْ لَمْ تَخَافُوا: مه ويريږئ. ⑦ عُرْيٍ: شا ئې خالى وه (يعنى څه گدئ يا زين پرې نه وو)، ⑧ سَرْجٌ: زين، ⑨ بَحْرًا: أَيْ سَرِيعَ الْجَرْيِ: بحر سمندر ته وائى، دلته ترې تيز تلل مراد دى.

تسهيلات:

قوله: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ......وَأَشْجَعَ النَّاسِ:

د رسول الله ﷺ بهارى: د ټولو خلقونه رسول الله ﷺ ډير بهادر وو په دې وجه خو حضرت خالد ﷛ او نورو لويو لويو مشهورو بهادرانو حضورپاك د ځپل ځان نه زيات بهادر گنړلو سره نبى تسليم كړو. كه چرې حضورپاك د هغوى نه زيات بهادر نه وې نو هغوى هيڅ كله هم حضورپاك نبى منلو ته تيارنه وو ځكه چه بهادر سړې د بزدل سړى تابعدارى نه كوى.

د بعضې مشكلو جملو وضاحت:

① فَزِعَ: يعنى اهل مدينه د دغه افواه د وجې نه سخت اوويريدل چه دښمن ناځاپې په مدينه باندې حمله اوكړه د څه شور آوازونه هم راؤچت شوى وو

② لَمْ تُرَاعُوا: په يوه نسخه كښې "لن تراعوا" الفاظ دى.

په عربى كښې د لم او لن استعمال: لم جازمه جحد د پاره دې دې سره مبالغه مقصود ده اولن هم د نفى د تاكيد د پاره دې. په عربى محاوره كښې لم او لن دواړه د لا په معنى كښې راځى مقصود دادې چه بالكل مه ويريږئى هيڅ خطره نشته. "اي لاتراعوالاتراعوا" "عري" يعنى د زين نه بغيرخالى شا اس باندې سور شو.

قوله: فَقَالَ لَقَدْ وَجَدْتُهُ بَحْرًا:

د حديث نه مستنبط مسائل: ① يعنى ما دا اس په تگ كښې د سمندر په شان محسوس كړو د مبالغه په توگه د تشبيه سره داسې وئيل جائزدى.

② د دې حديث نه دا ثابت شو چه د يوڅيز په كمال باندې د هغې تعريف كول جائز دى.

③ د دې حديث نه داهم ثابت شو كه د دښمن د طرف نه معمولى شان كش كړپ هم محسوس شى نومسلمان له پكاردى چه يك تنها وردانگلو سره د دغه خطرې د ختمولو د پاره سبقت اوكړى نه دا چه خپله سينه ښائى او دښمن د وژلو د پاره راغوارى.

[۵۸۰۵] هیڅ کله یې یو سائل ته انکار نه دی کړی

۵۸۰۵-() [۵] ۱ وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: ۲ «مَا سُئِلَ رَسُولُ اللهِ شَيْئًا قَطُّ فَقَالَ: لَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر ﷛ وايي ۲ داسې هيڅ کله نه دي شوي چې رسول الله ﷺ نه چا سوال کړی وي او حضور ﷺ هغه ته انکار کړی وي بخاری ومسلم .

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ: لَا: يعنی حضورپاك دَ يو سوال کونکی په سوال باندې چرته دَ لا کلمه دَ انکاردَپاره نه ده استعمال کړې.

اشکال: ډيرې زياتې موقعې داسې هم راغلی دی چرته چه رسول الله ﷺ دَ لا کلمه استعمال کړې ده. قرآن پاك کښې ﴿لَآ أَجِدُ مَآ أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ﴾ الفاظ موجود دی دَ کوم چه دې حديث سره په ظاهره تعارض معلوميږی؟

د اشکال جواب: ابن حجر﷫ دَدې سوال جواب داسې ورکړې دې سائل ته دَ ورکولودَپاره چه کوم څه دَ حضورپاك په اختيارکښې وو دَانکار نه بغيربه ئې ورکول اوکه چرې په اختيارکښې به ئې څه نه وو بيابه هم حضورپاك انکارنه کولو بلکه په ښه طريقه سره به ئې جواب ورکولو. خلاصه داچه کله دَ حضورپاك په اختيارکښې څه نه وی اوانکاربه ئې کولو هغه انکار دلته مراد نه دې بلکه حالت دَ اختيار دَ انکارنفی ده. فرزدق ډير ښه فرمائيلی دی:

ما قال لا قط الا في تشهده   لولا التشهد لكانت لائه نعم

[۵۸۰۶] دعطاء او بخشش کمال

۵۸۰۶-() [۶] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ، ۲ «أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ ۳ فَأَتَى قَوْمَهُ فَقَالَ أَيْ قَوْمِ أَسْلِمُوا ۴ فَوَاللهِ إِنَّ مُحَمَّدًا لَيُعْطِي عَطَاءً مَا يَخَافُ الْفَقْرَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس ﷛ وايي ۲ يو سړی د حضور ﷺ نه دومره بزي (چيلۍ) وغوښتې چې د غرونو درمياني شله يې ډکه کړې وه نو حضور ﷺ هغومره بزي (چيلۍ) ورکړلو ۳ دې نه وروسته هغه سړی خپل قوم ته راغی او ورته يې اوويل اې خما د قوم خلقو! اسلام قبول کړئ ۴ قسم په الله محمد دومره ورکوي چې دفقر او افلاس نه هم نه ويريږي. (مسلم)

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب حسن الخلق والسخاء، وما يكره من البخل (رقم-۶۰۳۴) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب ما سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم شيئًا قط فقال لا وكثرة عطائه (رقم-۵۶ - (۲۳۱۱)

[۲]) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب ما سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم شيئًا قط فقال لا وكثرة عطائه (رقم-۵۸ - (۲۳۱۲) واحمد فی المسند: ۱۰۸/۳

تسهيلات:

قوله: أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ:

د رسول الله ﷺ په ملکيت کښې د ډيرو چيلو کيدلو ثبوت: مطلب دادې چه دغه سړى ته رسول الله ﷺ دومره ډيرې چيلئى ورکړې په کوم سره چه دَ دوو غرونو په مينځ کښې ټول ځنګل ډک شوې وو اودا ټولې چيلئى دَ رسول کريم ﷺ ملکيت وو ځکه چه په غزوه حنين کښې رسول الله ﷺ ته دَ خمس په توګه دومره زياتې چيلئى ملاؤ شوې وې.

فَوَاللّٰهِ إِنَّ مُحَمَّدًا لَيُعْطِي عَطَاءً مَا يَخَافُ الْفَقْرَ:

قوله: د رسول الله ﷺ مالداري او سخاوت: بعضې رواياتو کښې راځى چه سوال کونکى دومره ډيرې چيلئى ليدلو سره رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه تاسو خو ډير مالداره شوى يئى چه دا دومره ډيرې چيلئى يوازې ستاسو په ملکيت کښې دى. نو حضورپاك هغه ته اوفرمائيل چه ته ئى واخله ما تاله درکړې. دَ حضورپاك دې کولاؤ زړه او سخاوت لره کتلوسره دَ هغه يقين پيدا شو چه حضورپاك خو دَ توکل، قناعت، زهد او استغناء دکمال درجې باندې فائز دې. نو هغه واپس خپل قوم ته لاړو خلقوته ئى په اخلاص سره تلقين اوکړو چه که چرې تاسو اعلى اخلاق، اقدار اودَ انسانى کردار عظمت حاصلول غواړئ نودَ محمدرسول الله ﷺ په دين کښې داخل شئى او دَ اسلام په حلقه کښې راشئ اودَ هغې منونکى جوړشئى کوم چه دَ سوال کونکى سوال داسې پوره کوى چه دَ خپل ضرورت نه بې پرواه شى او ټول هرڅه ورکړى. دَخپلې غريبئى او محتاجئ پرواه نه لرى.

[۵۸۰۷] خُلق نبوي ﷺ

۵۸۰۷ -(١) [۷] ١ «وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، بَيْنَمَا هُوَ يَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ مَقْفَلَهُ مِنْ حُنَيْنٍ ٢ فَعَلِقَتِ الْأَعْرَابُ يَسْأَلُونَهُ حَتَّى اضْطَرُّوهُ إِلَى سَمُرَةٍ ٣ فَخَطِفَتْ رِدَاءَهُ ٤ فَوَقَفَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٥ فَقَالَ أَعْطُونِي رِدَائِي ٦ لَوْ كَانَ لِي عَدَدَ هَذِهِ الْعِضَاهِ نَعَمٌ لَقَسَمْتُهُ بَيْنَكُمْ ٧ ثُمَّ لَا تَجِدُونِي بَخِيلًا وَلَا كَذُوبًا وَلَا جَبَانًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت جبير ابن مطعم رضي الله عنه د هغه وخت واقعه بيانوي هركله چې هغه رسول كريم ﷺ سره د غزوه حنين نه واپس راتلو ٢ نو په لار كې يومقام باندې څه غريب بانډچي (كليوال) خلق حضور ﷺ پوري ونښتل او د غنيمت مال يې ځني غوښتى ٣ او دي حده پورې ورپسې ولګيدل چې حضور ﷺ يې د كيكر يوې ونې تـه بوتللوسره مجبوره كړي هلته د حضور ﷺ څادر د كيكر په ازغيو كې ونښتى. ٤ حضور ﷺ په ډيري

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الجهاد والسير/باب الشجاعة فى الحرب والجبن (رقم-٢٨٢١) والنسائى فى كتاب الهبة/باب هبة المشاع (رقم-٣٦٨٨) ومالك فى الموطا كتاب الجهاد/باب ما جاء فى الغلول (رقم-٢٢) واحمد فى المسند: ٨٢/٤

بي بسي. سره حصار شو او وي فرمايل ⑤را اوري خما څادر خو راکړئ ⑥که چيرته ما سره د دې خاردارو ونو برابرهم چوپائي يعنی بزي (چيلئ) او اوښان وغيره وی نو ما به هغه ټول په تاسو تقسيم کړی وی ⑦او تاسو به پوهه شوي وي چې زه بخيل نه يم نه دروغ وعده کونکی يم او نه کمزوری زړه والايم. (بخاري)

حل اللغات:- ①مَقْفَلَهُ: دا د قَفَلَ نه مصدرميمی دې يا اسم زمان دې په معنی د رَجَعَ سره، أَيْ: عِنْدَ رُجُوعِهِ أَوْوَقْتَ رُجُوعِهِ: د واپسئ په وخت. ②فَعَلِقَتِ: أَيْ نَشِبَتِ أَوْطَفِقَتْ: ورپورې وينختل، شروع شو. ③الْأَعْرَابُ: باندچيان، کلی وال خلق، ④اضْطَرُّوهُ: أَيْ: أَلْجَئُوهُ: مجبوره ئې کړو نبی ﷺ، ⑤سَمُرَةٍ: أَيْ: شَجَرَةِ طَلْحٍ: دکيکر اونه (ازغی داره ترښه ونه ده). ⑥فَخَطِفَتْ: أَيْ أَخَذَتِ: اوئې نيولو، وينختلو، ⑦الْعِضَاهِ: ددې مفرد عِضَاهَةٌ يا عِضَةٌ (په حذف د هاء سره) ازغی داره اونه، د کيکر اونه، ⑧نَعَمٌ: څاروی، ګډې بزې وغيره، ⑨كَذُوبًا: دروغجن، دروغ وعده کونکې، ⑩جَبَانًا: بزدله، کمزوری زړه والا.

تسهيلات:

د بعضې مشکلو الفاظو وضاحت:

① **مَقْفَلَهُ:** دَ غزوه نه واپس کيدل او دکور طرف ته واپس کيدو ته قفلة اوقفول وائی هم دَدې نه مقفلة په معنی دَ قفلة دې.

② **حُنَيْنٍ:** مکې مکرمې سره نيزدې يو وادئی نوم دې. دلته دَ فتح مکه نه پس يوزبردست جنګ شوې وو.

③ **نَعَمٌ:** حيوانات او څناوروته وائی.

قوله: لَوْكَانَ لِي عَدَدَ هَذِهِ الْعِضَاهِ نَعَمٌ لَقَسَمْتُهُ بَيْنَكُمْ:

د العضاه مصداق او تفسير: دَ جهاؤ مضبوطې ونې ته عضاه وئيلې شوې دې دې ته شجرة الطرفاء هم وائی دَ ځنګل دَ يوې مضبوطې ونې نوم دې. کوم ته چه په اردوکښې دَ جهاؤ ونه وائی. دَحضرت بنوری ﷫ دکلام نه معلوميږی چه دادَ غُز ونه ده. شارحين دې ته دَ کيکر يو قسم وائی هيڅ تعين اونه شو.

[۵۸۰۸] د الله د مخلوق په حقله شفقت او همدردي

۵۸۰۸ -(¹) [۸] ①وَعَنْ أَنَسٍ، قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا صَلَّى الْغَدَاةَ ②جَاءَ خَدَمُ الْمَدِينَةِ بِآنِيَتِهِمْ فِيهَا الْمَاءُ ③فَمَا يَأْتُونَ إِنَاءً إِلَّا غَمَسَ يَدَهُ فِيهَا ④فَرُبَّمَا جَاءُوهُ بِالْغَدَاةِ الْبَارِدَةِ فَيَغْمِسُ يَدَهُ فِيهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت انس ﷛ وايي رسول الله ﷺ چې به د سهار د ما نځه نه فارغه شو

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب قرب النبی علیه السلام من الناس وتبرکهم به (رقم-۷٤ - (۲۳۲٤)) واحمد فی المسند:۱۳۷/۳

[۲] نو داهل مديني خدّام يعنى منځي او غلامانو به خپلو خپلو لوښو کې اوبه اخستو سره رسيدل چې د حضور ﷺ لاس مبارك د بركته عافيت او بيماريو نه شفاء حاصله کړي [۳] نو کوم سړی چې به د اوبو لوښي سره راتلو حضور ﷺ به د هغه د خوشحالولو او هغه ته خپل بركت رسولو د پاره هغه لوښي کې خپل لاس مبارك اچوی [۴] اکثره به داسې کيدل چې خلق به د يخنۍ په موسم کې سهار سهار خپل لوښي سره راتلل او حضور ﷺ به په ډيرې خوشحالۍ سره خپل لاس مبارك هغه لوښو کې اچولو.

حل اللغات: - ① الْغَدَاةُ: أي: الْفَجْرُ: دسحر مونځ، ② غُمَسَ: داخلولو به ئې، غوپه کولو به ئې. ③ الْبَارِدَةِ: يخنی، د يخنۍ موسم.

تسهيلات:

قوله: جَاءَ خَدَمُ الْمَدِينَةِ بِآنِيَتِهِمْ فِيهَا الْمَاءُ:

د نبوي اخلاقو يوه نمونه: په مدينه منوره کښې د اوبو کمې وو. دکورونو خادمانو چه به کله اوبه ډکولې نو په اوبو کښې دَ بركت په غرض هغوی خپل لوښي په قطار کښې کيخودل دې دپاره چه حضورپاك دَسحردَ مونځ نه پس په دې لوښو کښې دَ بركت دپاره خپل لاس مبارك اووهی. حضورپاك هغه غلام ګنړلو سره چرته هيرکړې نه دې اونه دَاوږدقطاردَ وجې نه څه بوج محسوس کړې اونه ئی دَسختې يخنئی دَ وجې نه انكاركړې دې. داد اخلاق نبوی اوچته نمونه ده.

[۵۸۰۹] غريب اوپريشانه حال خلقو سره د حضور ﷺ معامله

۵۸۰۹-() [۹] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: «كَانَتْ أَمَةٌ مِنْ إِمَاءِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ [۲] تَأْخُذُ بِيَدِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَتَنْطَلِقُ بِهِ حَيْثُ شَاءَتْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي د مديني والاو منځو کې د يوې منځې دامعامله وه چې کله به هغه ته څه پريشاني لاحق شوه [۲] نو د رسول الله ﷺ لاس مبارك به يې اونيولو او چيرته چې به د هغه زړه غوښته حضور ﷺ به يې بوتلو. (بخاري)

حل اللغات: - ① أَمَةٌ: ددې جمع إِمَاءٌ راځي: أَيْ: جَارِيَةٌ: وينزه.

تسهيلات:

قوله: كَانَتْ أَمَةٌ مِنْ إِمَاءِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ تَأْخُذُ بِيَدِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

په مذكوره حديث كښې دوه توجيهات: ① ملاعلى قارى رحمه الله دا پوره حديث په فرضي كلام باندې محمول کړې دې چه فرض کړه که چرې يوې وينځې هم دَ حضورپاك لاس مبارك نيولې وې اوچرته ئی هم بوتلو نودَ حسن خلق دَوجې نه به حضورپاك هغې سره تلو.

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب الكبر (رقم-۶۰۷۲)

② دا حديث او راتلونکې دويم حديث دَ دوارو تعلق يو داسې ښځې سره دې چه دَ عقل په اعتبار سره معدوم العقل وه. هغې به قسم قسم خبرې او اورېدې قصې حضورپاك ته اورولې او حضورپاك به دَ حسن خلق دَ وجې نه دَهغې تولې خبرې په ولاړه ولاړه اورېدې. راتلونکی حديث کښې دی "في عقلها شئ" دغه شان دا حديث په فرضی کلام باندې حمل کولو نه بهتر دا دی چه دا په حقيقت باندې مبنی وی او قصه هم دَ هغه بې عقل ښځې وی. دکوم نه چه دَ حضورپاك دَ اوچتو اخلاقو پته لګی.

۵۸۱۰-(¹) [۱۰] [۱]وَعَنْهُ، «أَنَّ امْرَأَةً كَانَتْ فِي عَقْلِهَا شَيْءٌ، [۲]فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي إِلَيْكَ حَاجَةً [۳]فَقَالَ يَا أُمَّ فُلَانٍ انْظُرِي أَيَّ السِّكَكِ شِئْتِ حَتَّى أَقْضِيَ لَكِ حَاجَتَكِ [۴]فَخَلَا مَعَهَا فِي بَعْضِ الطُّرُقِ حَتَّى فَرَغَتْ مِنْ حَاجَتِهَا» .رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او حضرت انس ﷺ وايي په مدينه کې يوه ښځه وه چې د هغه په دماغ کې څه خلل وو [۲]هغه يوه ورځ اوويل يارسول الله ستاسو سره ځما څه کار دی چې د خلقو نه د پټ ويلو دی [۳]حضور ﷺ ورته وفرمايل د فلانی موري! ته چې کومه کوڅه د خلقو د نظرونو نه محفوظ ګڼې او ګوره زه تا سره هلته تلو ته تيارېم ستا چې څه کار وي زه به يې ضرور وکړم يعنی ته چې کوم تنها مقام کې ما سره خبره کول غواړې زه به هلته تلو سره ستا خبره واورم [۴]نو حضور ﷺ هغه سره يوې کوڅې ته تشريف يووړلو او هلته تنهايې کې هغه ښځې چې څه وئيل اوريدل وو هغه اوويل واوريدل. (مسلم)

حل اللغات:- ① عَقْلِهَا شَيْءٌ: په عقل او دماغ کښې ئې څه خلل يا ليونتوب وو. ② السِّكَكِ: د سِكَّةٍ جمع ده، ③ فَخَلَا: أَيْ: مَضَى: ځانله شو، لاړلو. ④ الطُّرُقِ: د طريق جمع ده، لاره.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي إِلَيْكَ حَاجَةً:

د ليونۍ ښځې مطالبه منل: دَ ليونئی ښځې په فرمائش باندې هغې سره تلل او دَهغې ګډې وډې خبرې اوريدل دَ نبوی اخلاقو يوه اوچته نمونه ده. خلق داسې ښځې سره نيزدې تيريدو نه او دَهغې طرف ته خيال کولو سره شرم محسوس کوی، او دَشان نه ئی خلاف ګڼړی مګر حضورپاك دَهغې داستان اوری.

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب قرب النبی عليه السلام من الناس وتبرکهم به (رقم-۷۶ - (۲۳۲۶) وابوداود فی کتاب الأدب/باب فی الجلوس فی الطرقات (رقم-۴۸۱۸) واحمد فی المسند: ۱۱۹/۳

[۵۸۱۱] د حضور ﷺ اوصاف حميده

۵۸۱۱-(۱) [۶] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ ۲: «لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاحِشًا وَلَا لَعَّانًا وَلَا سَبَّابًا ۳ كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْمَعْتَبَةِ مَا لَهُ تَرِبَ جَبِينُهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس رضي الله عنه وايي ۲ رسول الله ﷺ نه خو فحش ګو وو نه لعنت کونکی نه بد کلامه وو ۳ کله چې به چاته په قهر شو نو بس دومره قدري به يې فرمايل ده ته څه شوي دي چې ده داخبره وکړه ياد اکاريې وکړو د ده تندی دي په خاوره ککړ شي. (بخاري)

حل اللغات:- ① فَاحِشًا: أَيْ: ذَا الْفُحْشِ فِي أَقْوَالِهِ وَأَفْعَالِهِ: د بې حيايئ کارونه يا خبرې کونکې، ② لَعَّانًا: لعنت کونکې، ③ سَبَّابًا: کنځل کونکې، ④ الْمَعْتَبَةِ: بِمَعْنَى الْمَلَامَةِ وَالْعِتَابِ: ملامتيا او زورونه (يعنی غصه). ⑤ مَالَهُ: څه شوی دی ده لره، دا کار ئې ولې اوکړو؟. ⑥ تَرِبَ جَبِينُهُ: ددې دوه مطلبه دی، بِمَعْنَى رَغِمَ أَنْفُكَ: چه دده پوزه دې په خاوره کښې ککړه شی. يا بِمَعْنَى سَجَدَ لِلّٰهِ وَجْهُكَ: چه دده مخ دې الله ته په سجده پريوځی.

تسهيلات:

قوله: لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-فَاحِشًا:

د فحش معنی:- أي أتيا بالفحش من الفعل" يعنی په څه کار کښې يا چاته جواب ورکولو کښې دَ حد نه زيات تجاوز کول او وراندې کيدل. اکثر دَ فحش اطلاق دَ جماع والا ښکاره خبرو باندې کيږی. بعضې خلق ډير فحش خبرې کونکی وی او بعضې خلق ډير حيادار وی. تردې چه دَ تشو متيازو يا غټو متيازو ذکر هم په قضاء حاجت سره کوی.

قوله: لَعَّانًا وَلَا سَبَّابًا: دَدې دوارو نه مقصود دَ رسول کريم ﷺ نه دَ لعنت او دَ سب نفی کول دی. دَ لعنت لغوی معنی ده محروم کول، ذليل کول، کنځلې کول.

د لعنت معنی: ① دَ لعنت نسبت که چرې دَ الله تعالی طرف ته وی نو مطلب ئې دا وی چه دَ پروردګار چا لره دَ خپل رحمت نه محروم کول.

② اوکه دَدې لفظ نسبت دَ بنده طرف ته وی نو مراد ترې بد وئيل اودَ الله تعالی دَ رحمت نه لرې کيدلو او دَمحرومتيا بددعا کول وی.

د لعنت وئيلو د جواز صورتونه: ① لعنت په هغه سړی باندې کولې شی دَ چا باره کښې چه پوره يقين وی چه هغه دَ کفر په حالت کښې مړ شوې دې لکه ابوجهل عتبه شيبه وغيره.

② دغه شان په څه بدئی کښې اخته خلقو باندې عمومی په توګه باندې لعنت وئيل چه په کافرانو يا ظالمانو يا سودخورو وغيره باندې دې دَ الله تعالی لعنت وی دا حرام نه دی.

---

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب ولم يكن النبي صلى الله عليه وسلم فاحشًا ولا متفحشًا (رقم-۶۰۳۱) واحمد في المسند: ۱۵۸/۳

لعنت ویونکو ته د رسول الله ﷺ جواب: چا چه به حضورپاك سخت غصه کولو نو حضورپاك به دَ زیات نه زیات هغه ته دا فرمائیل چه ستا پوزه دې په خاوروکښې ککړه وی اودا جمله ذومعنی ده یو خو بددعا ده چه هغه سړې که پوزه راکاږی مګر هغه دې کامیاب نه شی او دویم دا چه دا په دعا باندې محمول کړې شی چه الله پاك دې هغه ته دَ سجدې توفیق ورکړی څکه چه سجده کولوسره پوزه خاورو کښې ککړیږی.

[۵۸۱۲] دخپلودښمنانو په حق کې به یې هم بد دعا نه کوله

۵۸۱۳-() [۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: «قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ادْعُ عَلَى الْمُشْرِكِينَ [۲] قَالَ: إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا، [۳] وَإِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې حضور ﷺ ته عرض وشو یارسول الله! د خپلو دښمنانو کافرو په حق کې بددعا وکړه چې هلاك شي او ویخ یي ووځي [۲] نو وې فرمایل زه لعنت کونکی نه یم رالیږل شوی [۳] بلکه زه خو رحمت جوړولو سره رالیږل شوی یم. (مسلم)

حل اللغات:- ① ادْعُ: ددعا په صله کښې چه کله علی راشی په معنی د خیرو او بددعا سره وی دلته هم په معنی د بددعا سره دی.

تسهیلات:

قوله: قَالَ: إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا، وَإِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً:

دَ رسول الله ﷺ رحمت خاص او عامه: دَ رسول الله ﷺ رحمت خاص خو په مسلمانانو باندې هسې هم دې البته په کافرانو باندې هم دَهغوی رحمت عامه دې. هغه دا چه دَ رسول الله ﷺ دَ برکت نه په دنیاکښې په کافرانو باندې دَعذاب نه راتلو وعده کړې شوې ده لکه چه دَ الله تعالی ارشاد دې ﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ ﴾.

دَ حدیث الباب مطلب: امام طیبی رحمه الله فرمائی چه دَ حدیث الباب مطلب دادې چه زه دَدې دَ پاره نه یم راغلې چه خلق دَ الله تعالی دَ رحمت نه لرې کړم. زه دَدې دَ پاره راغلې یم چه دَ الله تعالی نازل کړې شوی هدایاتو او تعلیماتو سره خلق الله تعالی ته رانیزدې کړم. دَ چا خلاف بددعا کول یا په چا باندې لعنت کول زما دَ شان نه ډیر لری دی او زما دَ حال سره غیر مناسب دی.

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب النهی عن لعن الدواب وغیرها (رقم-۸۷ - (۲۵۹۹)

[۵۸۱۳] د حضور ﷺ شرم او حياء

۵۸۱۳-() [۳] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا [۲] فَإِذَا رَأَى شَيْئًا -يَكْرَهُهُ [۳] عَرَفْنَاهُ فِي وَجْهِهِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ په پرده كې د پيغلو جينكو نه هم زيات حيادار وو [۲] هركله چې به څه خلاف مزاج خبره طعبي طور سره ناخوښه يا غير شرعي كيدو په وجه پيښه شوه [۳] نو مونږ به د حضور ﷺ د مخ مبارك نه د حضور ﷺ ناخوښي محسوسوله. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① الْعَذْرَاءِ: أَيِ: الْبِكْرِ: پيغله جينئ، ② خِدْرِهَا: أَيْ فِي سِتْرِهَا: په خپله پرده كښې، پرونى كښې.

تسهيلات:

قوله: كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا:

په نبي عليه السلام د ناوې څخه زياته حيا: خدر په اصل كښې هغه پردې ته وائي په كومه كښې چه داسې پيغله جينئ كينولې شي دَ چا واده چه نيزدې وی. په عام توګه داسې جينئ ډيره شرميږي تردې چه دَ خپل كور والو خلقو سره هم په ښكاره خبره نه شي كولې. دَ رسول الله ﷺ شرم دَ داسې جينئ نه هم زيات وو. دارنګ حياء چونكه دَ انسان يو خاص كالې دې په دې وجه چه څومره ايمان كلك وی حياء هم هغه هومره زياته وی.

قوله: فَإِذَا رَأَى شَيْئًا يَكْرَهُهُ عَرَفْنَاهُ فِي وَجْهِهِ:

د نبي عليه السلام د شرم په وجه مخ متغير كيدل: دَدې حاصل دادې چه كله به دَ حضورپاك په وړاندې دَ داسې څيز ذكر كيدلو چه دَ حضورپاك به په طبعي توګه ناخوښه وو نو حضورپاك به په خلې څه اظهار نه كولو بلكه دَ ناخوښئ دَ وجې نه به ئې اثر په مخ مبارك كښې فوری ښكاره كيدو اومتغيركيدو به او دَ دغه تغير نه به صحابه كرامو دَ حضورپاك ناخوښي محسوسوله. امام نووی رحمه الله فرمائي چه دَ حضورپاك دَ مزاج مبارك به كومه خبره خلاف راپيښه شوه دَ حياء دَ غلبې دَ وجې نه به حضورپاك دَهغې اظهار په خلې سره نه كولو بلكه دَ هغې اثرات به دَ حضورپاك په مخ مبارك باندې ښكاره كيدل. نو صحابه كرامو به دَ رسول الله ﷺ دَ مخ مبارك نه ناخوښي او خفګان محسوسولو.

[۱] اخرجه البخاری فی كتاب المناقب/باب صفة النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۵۶۲) ومسلم فی كتاب الفضائل/باب كثرة حيائه صلى الله عليه وسلم (رقم-۶۷ - (۲۳۲۰) وابن ماجه فی كتاب الزهد/باب الحياء (رقم-۴۱۸۰) واحمد فی المسند:۳/۷۹

[۵۸۱٤] حضور ﷺ به خوله خلاصولو سره نه خندل

۵۸۱۴-(') [۳] ①«وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُسْتَجْمِعًا قَطُّ ضَاحِكًا ② حَتَّى أَرَى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ، ③ وَإِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي ما رسول الله ﷺ هيڅ کله په داسې خندا نه دی ليدلی چې د حضور ﷺ توله خوله خلاصه شوي وي ② او ماته د حضور ﷺ حلق تالو په نظر راغلی وي ③ د حضور ﷺ خندا بس مسکا پورې محدوده وه. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① مُسْتَجْمِعًا ضَاحِكًا: يعنی په مکمل توګه پوره خله کولاوولو سره په کوم کښې چه حلق اوډ تالو ژبه ښکاره شی داسې حضورپاك کله نه وو خندلی. ② لَهَوَاتِهِ: دا د لَهَاة جمع ده، وَهِيَ لَحْمَةٌ مُشْرِفَةٌ عَلَى أَقْصَى الْفَمِ مِنْ سَقْفِهِ: په تالو کښې چه پورته د غوښې کومه ټکړه رازوړنده وی هغې ته لهواة وائی يعنی د تالو ژبه.

تسهيلات:

قوله: مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُسْتَجْمِعًا قَطُّ ضَاحِكًا:

د خندا درې درجې: دخندا يوڅو درجې دی:

① **تبسم:** رسول الله ﷺ به هميشه تبسم فرمائيلو. دا د حضورپاك اکثر معمول راغلې دې.

② **ضحک:** حضورپاك به کله کله ضحك هم فرمائيلو په کوم سره چه به د حضورپاك د غاړې غاښونه نواجذ ښکاريدل مګر دا عام معمول نه وو کله کله به داسې کيدل.

③ **قهقهه:** حضورپاك کله داسې په تيزه نه دی خندلی. زير بحث حديث کښې چه د کومې خندا نفی ده دې نه مراد هم دغه تيزه خندا ده. په حديث کښې دَدې تائيد هم ملاويږی څکه چه حلق صرف د تيزې خندا په وخت ښکاره کيدې شی. په تبسم اوضحك کښې نه ښکاره کيږی.

[۵۸۱۵] د حضور ﷺ د ګفتګو بهترين انداز

۵۸۱۵-(') [۵] ①وَعَنْهَا، قَالَتْ: «إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيثَ ② كَسَرْدِكُمْ ③ كَانَ يُحَدِّثُ حَدِيثًا لَوْ عَدَّهُ الْعَادُّ لَأَحْصَاهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي حضور ﷺ به په تيزي تيزي او مسلسل خبري نه

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة الاستسقاء /باب التعوذ عند رؤية الريح والغيم، والفرح بالمطر (رقم-۱۵ - (۸۹۹) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب التبسم والضحک(رقم-۶۰۸۹) (رقم-۶۰۹۲) واحمد فی المسند:۶/۶۶

[۲] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب صفة النبی صلی الله عليه وسلم (رقم-۳۵۶۸) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل أبی هريرة الدوسی رضی الله عنه (رقم-۱۶۰ - (۲۴۹۳) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی کلام النبی صلی الله عليه وسلم (رقم-۳۶۳۹) واحمد فی المسند:۶/۱۱۸

کولي ۲ خنکه چې تاسو خلق مسلسل لګيا يئ ۳ حضور ﷺ به په قلاره قلاره خبري کولي که چا شميرلې نو شميرلې يې شوې بخاري ومسلم

حل اللغات:- ① لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيثَ: أَيْ: لَمْ يَكُنْ يُتَابِعُ الْكَلَامَ: تيز تيز او مسلسل خبرو اترو کولو ته سرد الحديث ونيلې شوې دې يعنی نبی کريم ﷺ به زر زر خبرې نه کولې. ② الْعَادُّ: شمير کونکې، ③ لَأَحْصَاهُ: نو شميرلې ئې شوې.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيثَ كَسَرْدِكُمْ:

د رسول الله ﷺ د خبرو انداز: دَ حضورپاك دَکلام انداز داسې نه وو بلکه حضورپاك به په مزه مزه داسې واضح کلام کولو که چرته چا شميرلې نو شميرلې شوې لکه چه دَ مبارکې خلې نه به مرغلرې رژيدلې.

[۵۸۱٦] حضورپاك به دَ کور کار هم کولو

۵۸۱۶-() [۳] ۱ وَعَنِ الْأَسْوَدِ، قَالَ: «سَأَلْتُ عَائِشَةَ ۲ مَا كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَصْنَعُ فِي بَيْتِهِ ۳ قَالَتْ: كَانَ يَكُونُ فِي مَهْنَةِ أَهْلِهِ يَعْنِي خِدْمَةَ أَهْلِهِ ۴ فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ» . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت اسود رحمه الله وايې يوه ورځ ما دبي بي عائشې رضي الله عنها نه پوښتنه وکړه ۲ چې رسول الله ﷺ به په کورکې څه څه کار کوی ۳ نو هغې وفرمايل حضور ﷺ به خپل کورکې خانګې کارکوی. ۴ او کله چې به د مانځه وخت راغې نو د ما نځه د پاره به پاڅيدو او هغه وخت به يې ټول کار پريښودې وی اود کوروالاوو سره به يې هيڅ مطلب نه لرلو. (بخاري)

حل اللغات:- ① يَصْنَعُ: کار به ئې کولو. ② مَهْنَةِ: أَيِ الْخِدْمَةُ: دکور کار او خدمت.

تسهيلات:

قوله: كَانَ يَكُونُ فِي مَهْنَةِ أَهْلِهِ:

دنبی عليه السلام د کور خلقو سره د کور په کار کښې مدد کول: مهنة خدمت اودکورکار ته وائی. يعنی حضورپاك به دَ کور په کارکښې لګيا وو ليکن چه کله به دَ مونځ دَ پاره اذان کيدلو نوفوری به جمات ته تللو او په کورکښې به نه ښکاريدو.

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب صلاة الجماعة والإمامة/باب: من کان فی حاجة أهله فأقيمت الصلاة فخرج (رقم-۶۷۶) وابوداود فی کتاب الأدب/باب فی التجاوز فی الأمر (رقم-۴۷۸۵) والترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۴۸۹) واحمد فی المسند: ۴۹/۶

[۵۸۱۷] هيڅ کله يې د چا نه بدل نه اخستى

۵۸۱۷-() [۱۷] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَيْنَ أَمْرَيْنِ قَطُّ ۲ إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا ۳ فَإِنْ كَانَ إِثْمًا كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ، ۴ وَمَا انْتَقَمَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِنَفْسِهِ فِي شَيْءٍ قَطُّ ۵ إِلَّا أَنْ يُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللهِ فَيَنْتَقِمُ اللهُ بِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه ﷞ وايي رسول الله ﷺ ته به چې کله هم دوه کارونو کې د يو کار کولو اختيار ورکول شو ۲ نو حضور ﷺ به همېشه هغه کار کوی کوم چې به آسانه وو ترڅو چې به هغه د ګناه کار نه وو ۳ که کار به د ګناه موجب وو نو حضور ﷺ به د هغه نه د ټولو نه لرې اوسيدونکې سړی وو ۴ او حضور ﷺ خپل ذات د پاره هيڅ کله د څه خبري بدل نه اخستی ۵ خو که څه خبره به داسې وه چې الله ﷻ حرامه کړې وه نو بيا حضور ﷺ به د الله ﷻ د حکم پيشِ نظر د هغه سزا ورکوله . (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① خُيِّرَ: اختيار به ورکړې شو. ② أَبْعَدَ: لرې کيدلو به. ③ وَمَا انْتَقَمَ: أَيْ: مَا غَاضَبَ: انتقام اوبدله به ئې نه اخستله، غصه کيدلو به نه. ④ أَنْ يُنْتَهَكَ: أَيْ يُرْتَكَبُ: مرتکب به شو، او به ئې کړو. ⑤ حُرْمَةُ اللهِ: أَيْ: مَا حَرَّمَ اللهُ فِعْلَهُ: کوم کار چه الله تعالى حرام کړې وی.

تسهيلات:

قوله: مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللهِ:

د رسول الله ﷺ په اختيار باندې اشکال: دَ رسول الله ﷺ دَ خطاء نه معصوم کيدل دَ نص نه ثابت دی په دې وجه دَ يوې ګناه نسبت دَ حضورپاك طرف ته کيدې نه شي. دَدې وجهې نه دَ الله تعالى دَ طرف نه به حضورپاك ته دَ داسې دوو څيزونو نه دَ يو څيز دَ خوښولو اختيار څنګه ورکړې کيدو؟ په کوم کښې چه به يو څيز دَ ګناه سبب جوړيدو؟.

د اشکال جواب: حديث کښې دَ اثم نه مراد هغه څيز دې چه پخپله خو ګناه نه وی ليکن هغه په يوه درجه کښې ګناه ته دَ رسولو احتمال لري. دَ مثال په توګه الله تعالى حضورپاك ته دَ دنياوی ژوند تيرولو دَپاره دَ بادشاه په شان دَ ژوند تيرولو يا ساده ژوند تيرولو اختيار ورکړې وو نو رسول کريم ﷺ دَ بادشاهئى دَ ژوند په ځائى ساده ژوند تيرول اختيار کړل.

قوله: وَمَا انْتَقَمَ رَسُولُ اللهِ لِنَفْسِهِ:

د رسول الله ﷺ د انتقام نه اخستلو مطلب: رسول الله ﷺ به دَ خپل ذات باره کښې دَ چانه

[1]) اخرجه البخاري فى كتاب المناقب/باب صفة النبى صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۵۶۰) ومسلم فى كتاب الفضائل/باب مباعدته صلى الله عليه وسلم للآثام واختياره من المباح. أسهله وانتقامه لله عند انتهاک حرماته (رقم-۷۷ - (۲۳۲۷) وابوداود فى كتاب الأدب/باب فى التجاوز فى الأمر (رقم-۴۷۸۵) ومالک فى الموطا كتاب حسن الخلق/باب ما جاء فى حسن الخلق (رقم-۲) واحمد فى المسند:۳۲/۶

بدله نه اخستله. دَدې جملې مراد دادې چه حضورپاك به كله دَ يو جرم يا غلطئ سزا دَ خپل ذات دَ بدلې اخستلو يا دَ خپل طبعي خواهش دَ پوره كولو دَپاره نه وركوله يا چا چه به حضورپاك ته تكليف وركولو نو حضورپاك به دَ هغه نه بدله نه اخستله بلكه معاف كولو به ئې.

[۵۸۱۸] حضور ﷺ هيڅ كله څوك نه دي وهلي

۵۸۱۸-() [۱۸] ۞ وَعَنْهَا، قَالَتْ ۞ «مَا ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- شَيْئًا قَطُّ بِيَدِهِ وَلَا امْرَأَةً وَلَا خَادِمًا ۞ إِلَّا أَنْ يُجَاهِدَ فِي سَبِيلِ اللهِ ۞ وَمَا نِيلَ مِنْهُ شَيْءٌ قَطُّ فَيَنْتَقِمُ مِنْ صَاحِبِهِ ۞ إِلَّا أَنْ يُنْتَهَكَ شَيْءٌ مِنْ مَحَارِمِ اللهِ فَيَنْتَقِمُ لِلهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۞ او بي بي عائشه ؓ وايي ۞ حضور ﷺ هيڅ كله څه شي يعنې يو سړي يې په خپل لاس سره نه دي وهلي ښځه او خادم هم نه، ۞ علاوه د هغه صورت نه چې حضور ﷺ به د الله ﷻ په لار كې جهاد كوی ۞ او هيڅ كله داسې نه دي شوي چې د يو سړي د طرف نه حضور ﷺ ته څه تكليف رسيدلى وي او حضور ﷺ د هغه تكليف رسونكي نه انتقام بدل اخستى وي ۞ خو كه د الله ﷻ دحرام كړى څه شي ارتكاب به كيدى نو حضور ﷺ به د الله ﷻ د حكم د تعميل د پاره د هغه سزا وركوله. (مسلم)

حل اللغات:- ① يُجَاهِدَ: جهاد به ئې كولو. ② وَمَا نِيلَ: أَيْ مَا أُصِيبَ مِنْهُ: كوم چه رسيدلې وى حضور ﷺ ته.

تسهيلات:

قوله: وَلَا امْرَأَةً وَلَا خَادِمًا:

د ښځې او د خادم ذكر كولو وجه: دَ دې دواړو ذكر دَ شان دَ اهتمام په وجه كړې شوې دې. چونكه په كور كښې دې دواړه سره زيات تعلق وى دَدې دواړو دَ تاديب زيات حاجت پيښيږى په دې وجه به حضورپاك په خادم يا وينځه باندې هم دَزياتې سختئ والا معامله نه كوله نودكور خلقو سره خو به ئې په اوله درجه كښې ښه سلوك فرمائيلو او رسول الله ﷺ به خادم او وينځه نه وهله او نه به ئې رټنه وركوله.

قوله: إِلَّا أَنْ يُجَاهِدَ فِي سَبِيلِ اللهِ:

په جهاد كښې نرمى نه كول: دَ الله تعالى په لار كښې دَ الله دښمنانو سره جهاد كيږى. په دې وجه به هغه وخت كښې رسول الله ﷺ دَ چا سره دَمعافئ معامله نه كوله لكه چه يو دَ الله دښمن ابى بن خلف په غزوه احد كښې حضورپاك په خپل لاس قتل كړو. دارنګ دَ

---

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الفضائل/باب مباعدته صلى الله عليه وسلم للآثام واختياره من المباح. أسهله وانتقامه لله عند انتهاك حرماته (رقم-۷۹ - (۲۳۲۸) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ ضرب النساء (رقم-۱۹۸٤)

الله تعالى په لار کښې دَ جهاد اطلاق صرف دَ الله په دښمنانو باندې نه کيږي بلکه په حدود او تعزيراتو باندې هم دَ جهاد اطلاق کيږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۸۱۹] خادمانو سره د حضور ﷺ سلوک

۵۸۱۹-() [۱۹] [۱]«عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: خَدَمْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] وَأَنَا ابْنُ ثَمَانِ سِنِينَ خَدَمْتُهُ عَشْرَ سِنِينَ [۳] فَمَا لَامَنِي عَلَى شَيْءٍ قَطُّ أَتَى فِيهِ عَلَى يَدَيَّ، [۴] فَإِنْ لَامَنِي لَائِمٌ مِنْ أَهْلِهِ قَالَ دَعُوهُ [۵] فَإِنَّهُ لَوْ قُضِيَ شَيْءٌ كَانَ». [٦] هَذَا لَفْظُ الْمَصَابِيحِ، وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ مَعَ تَغْيِيرٍ يَسِيرٍ.

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ وايي کوم وخت چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې پيش شوم [۲] نو هغه وخت ځما عمر اته کاله وو دهغه وخت نه مسلسل لس کاله پورې ما د حضور ﷺ دخدمت فرائض سرته رسول چې په مدينه کې د حضور ﷺ کُل مُدَت قيام دى په دې پوره موده کې [۳] داسې هيڅ کله نه دى شوى چې ځما د لاس نه څه شى ضائع شوى وي او حضور ﷺ زه ملامت کړى يم [۴] که د حضور ﷺ د اهلِ بيتو نه به چا د څه شي په ضائع کيدو زه ملامت کولم نو حضور ﷺ به ورته فرمايل دى پريږدئ مه يې ملامت کوئ [۵] حقيقت دادى چې کومه خبره کيدونکي وي هغه ضرور کيږي [٦] د روايت دا الفاظ د مصابيح دى او بيهقي هم د دې روايت څه الفاظ تغير او تبدل سره شعب الايمان کې نقل کړي دى .

حل اللغات:- ① فَمَا لَامَنِي: ملامته کړې ئې نه يم، غصه شوې راته نه دې. ② أَتَى فِيهِ: دا د مجهول صيغه ده، أَيْ: أُهْلِكَ وَأُتْلِفَ: هلاک به شو، ضائع به شو. ③ دَعُوهُ: أَيْ: اتْرُكُوهُ: پريږدئ دې.

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① ثَمَانِ سِنِينَ: دې نه معلوميږي چه حضرت ام سليم ﷺ انصاريه کوم وخت چه حضرت انس ﷺ دَ خادم په توګه دَ حضورپاك په خدمت کښې پيش کړې وو هغه وخت دَحضرت انس ﷺ عمراته کاله وو.

② عَشْرَ سِنِينَ: يعنى تر لسو کالو پورې ما دَحضورپاك خدمت کړې دې اودَ حضورپاك هم دومره عمرپه مدينه منوره کښې تيرشوې دې.

③ أَتَى فِيهِ: دادَمجهول صيغه ده دَ ضائع کيدواوهلاك کيدو په معنى کښې دې يعنى کوم څيزچه به زمادَلاس نه ضائع کيږي دا دَ شئ صفت واقع شوې دې.

[۱]) اخرجه احمد فى المسند: ۳/۲۳۱ والبيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۸۰۷۰

④ يَدَيَّ: تثنيه ده دواړه لاسونه مراد دي. يعني داسې کله نه دي شوي چه زماد دواړو لاسونونه څه څيزضائع شوې وي او حضورپاك زه ملامت کولوسره رټلې يم. نورو خلقو چه به ملامت کولم نو حضور پاك به فرمائيل چه دې پريږدئی.

⑤ لَوْقُضِيَ شَيْءٌ كَانَ: يعني د الله تعالى په تقدير کښې چه کومه فيصله شوې وي هغه به خامخا کيږي. د راتلونکی وخت د پاره چه کومه خبره کيدونکې وی هغه خامخا کيږي.

[۵۸۲۰] د حضور ﷺ اوصاف حميده

۵۸۲۰-() [۲۰] ① وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ ②: «لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا ③ وَلَا سَخَّابًا فِي الْأَسْوَاقِ ④ وَلَا يَجْزِي بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَصْفَحُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه ﷞ وايي ② رسول الله ﷺ نه خو خلقي او طبعي طور سره فحش گو وو او نه يي قصداً فحش گوي کوله گويا په هيڅ حالت کې حضور ﷺ نه فحش گوئي نه ده شوی ③ او نه بازارونو کې شور کونکی وو ځرنګه چې عام طور سره د خلقو عادت وي ④ او نه به يې د بدی بدله بدی سره آخستله بلکه بدي کونکی به يې په زړه سره معاف کوی او په ظاهر کې به يې هم هغه سره د عفو او درگذر معامله کوله او دغه شان حضور ﷺ به د حق تعالى په دې ارشاد عمل کوی فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ.

(ترمذی)

حل اللغات:- ① فَاحِشًا: أَيْ: ذَا الْفُحْشِ فِي أَقْوَالِهِ وَأَفْعَالِهِ: د بې حيايئ کارونه يا خبرې کونکې، ② مُتَفَحِّشًا: أَيْ: مُتَكَلِّفًا: يعني فحش کلام کولو کښې به ئې تکلف هم نه کولو چه قصداً او تکلفاً فحش کلام اختيار کړی. ③ وَلَا سَخَّابًا: أَيْ: صَيَّاحًا: چغې سورې وهونکې، ④ وَلَا يَجْزِي: بدله به ئې نه اخستله، ⑤ يَعْفُو: أَيْ: فِي الْبَاطِنِ: معاف کولو به ئې په بنکاره، ⑥ يَصْفَحُ: أَيْ يُعْرِضُ فِي الظَّاهِرِ: درگذر به ئې کولو، معاف کولو به ئې په بنکاره هم.

تسهيلات:

قوله: لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا:

په فاحش او متفحش کښې فرق: په فاحش او متفاحش کښې فرق: فحش هغه خبرې يا عمل ته وائی کوم چې ډيرزيات قبيح وی بيا په فاحش او متفاحش کښې دا فرق دې چې فاحش هغه چا ته وائی چې فحش وينا کوی او متفاحش هغه چاته وائی چې په فحش وينا کولو کښې تکلف او مبالغه کوی. او کوم فحش چې شريعت منع کړی دی هغه وائی.

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی خلق النبی صلى الله عليه وسلم (رقم-۲۰۱۶) وابن ماجه فی كتاب الزهد/باب البراءة من الكبر والتواضع (رقم-۴۱۷۸) واحمد فی المسند: ۱۷۴/۶

[٥٨٢١] حضور ﷺ کي تواضع او انکساری

٥٨٢١ - (١) [٢١] [١] وَعَنْ أَنَسٍ يُحَدِّثُ «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] أَنَّهُ كَانَ يَعُودُ الْمَرِيضَ، [٣] وَيَتْبَعُ الْجِنَازَةَ، وَيُجِيبُ دَعْوَةَ الْمَمْلُوكِ، [٤] وَيَرْكَبُ الْحِمَارَ، [٥] وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَوْمَ خَيْبَرَ عَلَى حِمَارٍ خِطَامُهُ لِيفٌ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷺ په يوه موقع د رسول الله ﷺ متعلق د بهترين اخلاق وعادات ذکر کولو سره بيان وکړو [٢] چې حضور ﷺ به د بيمار پوښتنه کوله [٣] جنازي سره به تللو د مملوك او غلام دعوت به يي قبلوی [٤] او په خره باندې سوريدو کې يي هم څه تکلف نه محسوسوی [٥] د غزوه خيبر په ورځ ما حضور ﷺ په يو خره باندې سپور اوليدلو چې د هغه واګې د کجورو د پوستکي وي دا روايت ابن ماجه او شعب الايمان کې بيهقي نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① يَعُودُ: د عيادت نه دي يعنى تپوس پوښتنه به ئې کوله. ② يَتْبَعُ الْجِنَازَةَ: أَيْ يَعْقُبُ وَيُشَيِّعُ: په جنازې په شاته تللو ③ يُجِيبُ: قبلولو به ئې. ④ وَيَرْكَبُ: سوريدلو به، سورلی به ئې کوله. ⑤ خِطَامُهُ: أَيْ زِمَامُهُ: واګې، لګام. ⑥ لِيفٌ: د کجورو د ونې پوستکی، ميزری. يعنی دَ واګې رسئی دکېجورې دَ پوستکی او پاڼونه جوړه وه.

تسهيلات:

قوله: وَيَرْكَبُ الْحِمَارَ وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَوْمَ خَيْبَرَ عَلَى حِمَارٍ خِطَامُهُ لِيفٌ:

د حضور پاک صلى الله عليه وسلم په خر باندې د سورلۍ کولو حکمتونه:

يعنی دَغزوه خيبرپه موقع باندې خرباندې سور وو. حضورپاك دَ تواضع په توګه په خرباندې سورلی کړې ده.

① په دې کښې خويو حضرت عيسى ﷺ سره په انکسارئی کښې مشابهت راغلو څکه چه حضرت عيسىٰ ﷺ هميشه په خرباندې سورلی کړې وه.

② دويمه خبره چه دا جائزشی چه دَخرسورلی جائزده. په دې وجه دَخر خوله پاکه ګرځولې شوې ده. دادَخرهم فائده شوه.

د خر څخه مراد: : دلته داخبره يادساتل پکاردی چه دغه خرونه دَعربستان لوئی سپين خره مراددی چه اس سره نيزدې وی. دَافغانستان خره هم دغه شان دَ اوږدقدوالاوی. دې نه هغه خرمرادنه دې کوم چه وړوکې وی په کوم چه سوريدل هم دَ شرم سبب ګنړلې شی. حضورپاك سره به دويم کس هم سور وو. دَدې نه معلوميږی چه دا غټ خرو و.

---

(١) اخرجه ابن ما جه فی السنن کتاب الزهد/باب البراءة من الکبر والتواضع (رقم-٤١٧٨)

[۵۸۲۲] خپلې څپلې به يې په خپله ګنډلې

۵۸۲۲-() [۲۲] [۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ [۲]: كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَخْصِفُ نَعْلَهُ [۳] وَيَخِيطُ ثَوْبَهُ وَيَعْمَلُ فِي بَيْتِهِ كَمَا يَعْمَلُ أَحَدُكُمْ فِي بَيْتِهِ [۴] وَقَالَتْ كَانَ بَشَرًا مِنَ الْبَشَرِ [۵] يَفْلِي ثَوْبَهُ وَيَحْلُبُ شَاتَهُ وَيَخْدُمُ نَفْسَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷺ وايي [۲] رسول الله ﷺ به خپلي چوتي په خپله ګنډلی خپله نوي يا زړه کپړه به يې [۳] خپله ګنډله او د خپل کور کار به يې داسې کوی څرنګه چې په تاسو کې يوسړی خپل کورکي کار کوی [۴] او بي بي عائشې ﷺ مزيد وفرمايل حضور ﷺ يو داسې انسان وو څرنګه چې نور انسانان وي [۵] حضور ﷺ به خپلو کپړو کې سپږې خپله کتلې د خپلې بزې (چيلۍ) پئې به يې خپله لوشلې او خپل خدمت به يې خپله کوی يعنی خپل ذاتي کار به يې خپله کوي بل چاته به يې کولو د پاره ډېر کم ويل. (ترمذي)

حل اللغات:- ① يَخْصِفُ: أَيْ: يَخْرُزُ وَيَرْقَعُ: ګنډلې به ئې، جوړولې به ئې. ② يَخِيطُ: ګنډلې به ئې. ③ بَشَرًا: سړی، انسان. ④ يَفْلِي: أَيْ: يَنْظُرُ: کتلې به ئې، فلى يفلى تفلية دَ باب تفعيل نه او تفلى يتفلى تفليا دَ باب تفعل نه په کپړو او سر وغيره کښې سپږې تلاش کولو په معنى کښې دې. دې دَپاره هغه اخواکړې شی. ⑤ يَحْلُبُ: لوشلې به ئې.

تسهيلات:

قوله: وَقَالَتْ كَانَ بَشَرًا مِنَ الْبَشَرِ يَفْلِي ثَوْبَهُ وَيَحْلُبُ شَاتَهُ:

په رسول الله ﷺ باندې د بشری عوارضو راتلل: حضرت عائشه ﷺ هم دغه خودل غواړی چه هغوی انسان وو دَ فرښتو اوجناتونه نه وو. لهذا په هغوی باندې بشری عوارض راتلل. په دې حديث سره دَبريليانو په مخونو باندې يوه زبردسته علمی څپيړه پريوځی. مګر افسوس که هغوی پوهه شی. دکافرانو خيال ووچه که هغه "محمد" دَ الله تعالى رسول وې نوهغه به دَعامو انسانانو په شان په وړو وړو کارونو کښې نه مشغول کيدو بلکه دَ بادشاهانو په شان به ئی دَ وړو کارونونه ځان ساتلو لکه چه په آيت کښې دی ﴿ مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ فِي الْأَسْوَاقِ ﴾ دَدې په جواب کښې حضرت عائشه ﷺ اوفرمائيل يوانسان وو اودَ تواضع په توګه حضورپاك دَانسانانو په شان کارونه کول. دَتکبر نه پاك وو او بشر وو. ﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ﴾ (خلاصه طيبی)

[۱] أخرجه احمد فی المسند: ۱۶۷/۶

قوله: يَقْلِي ثَوْبَهُ:

اشکال: مواهب لدنیه کښې لیکلی دی چه د حضورپاك په بدن یا کپړو کښې کله هم سپږې نه دی شوی بیا دلته د لټولو څه مطلب دې؟ دغه شان امام فخرالدین رازی لیکلی دی د حضورپاك په بدن باندې چرته مچ نه دې ناست او نه چرته ماشی حضورپاك په بدن باندې چیچلې دې دلته دا د سپږو ذکر څنګه دې؟

د اشکال جواب: حضورپاك د بشری اظهار په غرض سره په توګه د تواضع په خپلو کپړو کښې سپږې لټولې دی. دا صرف د تلاش او لټون د حده پورې وو. تلاش کولو سره دا نه لازم کیږی چه په هغې کښې سپږې موجود وې. شیخ عبدالحق رحمه الله اشعة اللمعات کښې لیکلی دی سره د دې چه د حضورپاك په بدن کښې کله هم سپږې نه دی شوی نو چونکه د دې موذی ځیزونو د بدن نه علاوه په کپړو پورې د بهرنه لګیدل ممکن وو په دې وجه حضورپاك د لټولو کوشش کړې دې.

[۵۸۲۳] د حضور ﷺ عوامي تعلق

۵۸۲۳ -() [۲۳] [۱] وَعَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ [۲]: دَخَلَ نَفَرٌ عَلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ [۳] فَقَالُوا لَهُ حَدِّثْنَا أَحَادِيثَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] قَالَ: «كُنْتُ جَارَهُ فَكَانَ إِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ بَعَثَ إِلَيَّ فَكَتَبْتُهُ لَهُ [۵] فَكَانَ إِذَا ذَكَرْنَا الدُّنْيَا ذَكَرَهَا مَعَنَا، [۶] وَإِذَا ذَكَرْنَا الْآخِرَةَ ذَكَرَهَا مَعَنَا، [۷] وَإِذَا ذَكَرْنَا الطَّعَامَ ذَكَرَهُ مَعَنَا فَكُلُّ هٰذَا أُحَدِّثُكُمْ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت خارجه ابن زید ابن ثابت وایي [۲] یوه ورځ د خلقو یو جماعت ځما والد محترم حضرت زید ابن ثابت رضی الله عنه ته راغې [۳] او ورته یې اوویل زمونږ مخکې د رسول الله ﷺ هغه حدیثونه بیان کړئ چې د حضور ﷺ خوش خلقي او عامو خلقو سره د حضور ﷺ بهترین او خوشګوار تعلقات سره د حضور ﷺ بهترین او خوشګوار تعلقات ظاهر وي [۴] حضرت زید رضی الله عنه ورته اوویل زه د حضور ﷺ بالکل ګاونډ کې اوسیدم حضور ﷺ باندې چې کله به وحي نازلیدل نو زه به یې راغوښتلم زه به په خدمت کې حاضریدم او د حضور ﷺ حکم سره وحي به مې لیکله [۵] د حضور ﷺ عادت مبارك دا وو چې کله به مونږ د دنیا د خرابیو یا د دنیا د مزرعة الأخرة کیدو د اعتبار نه د دې د خوبیو ذکر کوی نو حضور ﷺ به زمونږ سره دي دنیاوي ذکر کې شاملیدی [۶] او کله چې به مونږ د آخرت ذکر کوی نو حضور ﷺ به هم مونږ سره د آخرت ذکر کوی [۷] او کله چې به مونږ د خوراك څکاك ذکر کوی نو حضور ﷺ به هم زمونږ سره د هغه ذکر کوی دا ټولې خبرې زه تاسو خلقو ته د رسول الله ﷺ ښایم. (ترمذي)

[1]) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ۳۶۷۹

حل اللغات:- ① نَفَرٌ: أَيْ: جَمَاعَةٌ: جماعت، ولـه (د نفر اطلاق د دريو سرو نه تر لس سرو پورې جماعت باندې کيږي)، ② جَارَهُ: گاونډی د نبی عليه السلام.

تسهيلات:

قوله: وَعَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: دَخَلَ نَفَرٌ عَلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ:

د حضرت خارجه تعارف او د فقهاء سبعه نومونه: خارجه بن زيد بن ثابت جليل القدر تابعي دې انصاری دې مدنی دې دَحضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه زمانه ئې ليدلې ده. دَخپل پلار نه ئې دَ حضورپاك احاديث اوريدلی دی. دَمدينې منورې دَ فقهاء سبعه نه يو دې. دَ فقهاء سبعه نومونه دادی. شاعروئيلی دی:

الا كل من لا يقتدی بأئمة	فقسمته ضيزی من الحق خارجه
فخذهم عبيدالله عروة قاسم	سعيدُ ابوبكر سليمان خارجه

قوله: فَكَانَ إِذَا ذَكَرْنَا الدُّنْيَا ذَكَرَهَا مَعَنَا:

د رسول الله ﷺ كمال بشريت: حضورپاك دَهر مجلس خيال ساتلې دې او انسانانو سره ئې عمومی تعلق ساتلې دې او هم دغه كمال بشريت وو. داسې خشكی نه وه چه په هر مجلس كښې هم خپله خبره روانه كړې ده اوهډو دَ چائی اوريدلی نه دی بلكه په حضورپاك كښې جامع كمال اوجمال وو.

[٥٨٢٤] مصافحه او مواجهه او په مجلس كې د ناستې طريقه

٥٨٢٤-(¹) [٣٣] ① وَعَنْ أَنَسٍ، ② «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا صَافَحَ الرَّجُلَ ③ لَمْ يَنْزِعْ يَدَهُ مِنْ يَدِهِ حَتَّى يَكُونَ هُوَ الَّذِي يَنْزِعُ يَدَهُ، ④ وَلَا يَصْرِفُ وَجْهَهُ عَنْ وَجْهِهِ حَتَّى يَكُونَ هُوَ الَّذِي يَصْرِفُ وَجْهَهُ عَنْ وَجْهِهِ ⑤ وَلَمْ يُرَ مُقَدِّمًا رُكْبَتَيْهِ بَيْنَ يَدَيْ جَلِيسٍ لَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① و حضرت انس رضي الله عنه وايې ② رسول الله ﷺ چې به يو سړي سره مصافحه او ملاقات کوی ③ نو خپل لاس مبارك به يې ترهغه وقته پورې نه ايسته کوی د څو پورې چې هغه سړي به خپل لاس نه وو جدا كړی ④ او حضور ﷺ به خپل مخ مبارك د هغه سړي د مخ نه دهغی پورې نه اړه وې د څو پورې چې هغه سړی به خپل مخ د حضور ﷺ د مخ مبارك نه وای اخوا كړی ⑤ او حضور ﷺ هيڅ كله چا په دې حال كې نه دی ليدلی چې حضور ﷺ خپلې گوندې مباركې تر خپل هم نشين مخكې كولو سره ناست وي (ترمذي)

حل اللغات:- ① صَافَحَ: مصافحه به ئې كوله. لاس به ئې وركولو ② لَمْ يَنْزِعْ: أَيْ لَمْ يُخَلِّصْ وَلَمْ يَفُكَّ: نه

¹) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٩٠) وابن ماجه فی كتاب الأدب/باب إكرام الرجل جليسه (رقم-٣٧١٦)

به ئې خلاصولو لاس خپل. ③لَايَصْرِفُ: نه به ئې اړولو. ④جَلِيسٍ: أَيْ: مُجَالِسٍ لَهُ: هم نشين. خواكښې ناست كس.

تسهيلات: قوله: كَانَ إِذَا صَافَحَ الرَّجُلَ لَمْ يَنْزِعْ يَدَهُ مِنْ يَدِهِ:

د اوچتو اخلاقو يوه اعلى نمونه: يعنې دَ مصافحه په وخت حضورپاك خپل لاس مبارك دَمصافحه كونكې دَ لاس نه پخپله رابښكلو سره نه دې جدا كړې تركومې پورې چه هغه سړى خپل لاس پخپله نه دې اخوا كړې. دغه شان دَمصافحه په وخت يا عام دَخبرو اترو په وخت تركومې چه بل سړى مخ نه دې اړولې ترهغه وخته پورې حضورپاك دَ مروت او حسن خلق دَ وجې نه خپل مخ مبارك نه دې اړولې. دَ اخلاق مروت تواضع او انكسارئى دا يوه اعلى نمونه ده.

قوله: وَلَمْ يُرَ مُقَدِّمًا رُكْبَتَهُ بَيْنَ يَدَيْ جَلِيسٍ لَهُ:

د عربو خپې خورول عيب گنړل: يعنې دَ حضورپاك عام مجلس كښې عام عادت هم دغه وو چه دَخلقو په مخكښې به ئې خپې نه خورولې څكه چه دا دكبرژنو خلقو عادت او علامت دې. دلته دَ زنگونودَ خوررولو الفاظ دى بعضې شارحينو دَ ركبتين نه رجلين مراد اخستې دى دا ډير واضح او آسان مطلب دې. دَ زنگونو خورول په پوهه كښې نه راځى. عرب خلقو به خپلې مخې ته خپې خورول او اوږدول ډير لوئى عيب گنړلو. دَ بيت الله طرفته خو به ئى خپې اوږدولې ليكن دَانسان طرف ته په خپو خورولوبه ئى جگړې كولې. بهرحال دَ حضورپاك په عام مجالسوكښې عام عادت هم دغه وو كه چرې په خاص مجلس كې به ئى كله كله خپې خورولې نودې سره څه تعارض نه دې اونه څه فرق پريوځى.

[۵۸۲۵] د نبى عليه السلام څه څيز نه ذخيره كول

۵۸۲۵-() [۲۵] [۱] وَعَنْهُ، [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ لَا يَدَّخِرُ شَيْئًا لِغَدٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ فرمايى [۲] چې نبى كريم ﷺ به هيڅ شى صبا دپاره نه ذخيره كوى

حل اللغات:- ①لَايَدَّخِرُ: أَيْ: لَايُبْقِي: ذخيره كول به ئې نه، باقى به ئې نه ساتل. ②لِغَدٍ: دصبا دپاره.

تسهيلات:

قوله: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ لَا يَدَّخِرُ شَيْئًا لِغَدٍ:

د نبى عليه السلام څه څيز نه ذخيره كول: يعنې دَخپل ذات دَپاره ئى چرې هم دَ صبادَپاره ذخيره نه ده ساتلې. دا دَحضورپاك ذاتى معامله وه هم دَدې تذكره په دې حديث كښې ده. دَدې برعكس حضورپاك دَخپلو ازواج مطهرات دَپاره ذخيره ساتلې ده. دَ بعضې دپاره

[۱]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى معيشة النبى صلى الله عليه وسلم وأهله (رقم-۲۳۶۲)

نی دَ یو کال پورې انتظام کړې دې مګر په خپله باره کښې حضورپاك په توكل باندې عمل كړې دې.

[٥٨٢٦] د حضور ﷺ د كم كوني ذكر

٥٨٢٦-(١) [٣٦] ١ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: ٢ كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - طَوِيلَ الصَّمْتِ. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ١ او حضرت جابر ابن سمره رضي الله عنه وايي ٢ رسول الله ﷺ به زيات ترخاموشي اختياروله دا روايت بغوي رحمه الله په شرح السنه كې نقل كړى دى.

حل اللغات:- ① طَوِيلَ الصَّمْتِ: أَيْ كَثِيرَ السُّكُوتِ: اكثر به خاموش وو.

تسهيلات:

قوله: كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - طَوِيلَ الصَّمْتِ:

د خاموشۍ فضيلتونه: مطلب دا چه كمې خبرې دَ حضورپاك صفت وو. كه چرته څه ضروري خبره به كول وو نو كوله به ئې ګنې خاموش به وو. بخارى، مسلم او نورو محدثينو يو روايت نقل كړې دې چه «من كان يؤمن بالله واليوم الاخرة فليقل خيراً اوليسكت» يعنې كوم سړې چه په الله تعالى او په ورځ دَ آخرت باندې ايمان لرى هغه له پكار دى چه يا خودې ښه خبره دَ خلې اوباسى ګنې خاموش دې پاتې شى.

[٥٨٢٧] د حضور ﷺ د ګفتګو انداز

٥٨٢٧-(٢) [٣٧] ١ وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ ٢: «كَانَ فِي كَلَامِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَرْتِيلٌ وَتَرْسِيلٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت جابر رضي الله عنه وايي ٢ د رسول الله ﷺ د الفاظو په ادائيګى كې به د ترتيل او ترسيل لحاظ وو. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① تَرْتِيلٌ: أَيْ تَبْيِينٌ فِي قِرَاءَتِهِ: خبرې به ئې واضحه واضحه كولې (يا دا چه د قرآن تلاوت به ئې په ترتيل سره كوو چه حروف او حركات به ئې صفا اداكول). ② تَرْسِيلٌ: أَيْ تَمَهُّلٌ فِي تَحْدِيثِهِ: خبرې به ئې په مزه مزه كولې (زر زر به ئې نه كولې).

تسهيلات:

قوله: كَانَ فِي كَلَامِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَرْتِيلٌ وَتَرْسِيلٌ:

په ترتيل او ترسيل كښې فرق: ① تَرْتِيلٌ: حروف اوحركات ښكاره كول اوپه مزه مزه

---

[1]) اخرجه احمد فى المسند: ٥/٨٦

[2]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب الهدى فى الكلام (رقم-٤٨٣٨)

ونیلوته ترتیل وائی چه دَسرد الکلام برعکس وی دکوم تذکره چه دې ورسره حدیث کښې ده. کوم چه ممدوح نه ده. دَترتیل تعلق دَ قرآن کریم لوستلوسره دې. ﴿ وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ﴾
② تَرسِيل:دا دَ ترسل نه دې په مزه مزه خبرې کولوته وائی. علماؤلیکلی دی چه دا دواړه الفاظ دَمعنی په اعتبارسره یوشان دی. البته دَ ترسیل تعلق عام خبرواوتروسره دې اودَترتیل تعلق دَقرآن پاك لوستلوسره دې. دې ورسره حدیث کښې "بینه فصل"کوم لفظ چه راغلې دې هم په دې معنی کښې دې جداجدا واضحه کلام به وو په کوم چه به هریوکس پوهیدلو.

٥٨٢٨-(¹) [٢٨]① وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ②: «مَا كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَسْرُدُ سَرْدَكُمْ هٰذَا ③وَلٰكِنَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ بِكَلَامٍ بَيْنَهُ فَصْلٌ④ يَحْفَظُهُ مَنْ جَلَسَ إِلَيْهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①او بي بي عائشه رضي الله عنها بیان وکړو ②دَ رسول الله ﷺ گفتگو به داسې نه وه څرنګه چې تاسو خلق مسلسل خبرې کوئ ③کله چې به حضور ﷺ گفتگو کوله نو یویو حرف او جمله به یې داسې په قلاره قلاره اداء کوله ④چې کوم سړی به حضور ﷺ سره ناست وو نو پوره گفتگو خبرې اترې به یې په ښه شان یادولای شوی . (ترمذي)

حل اللغات:- ①يَسْرُدُ: زر زر پرله پسې لګاتاراو مسلسل خبرې کولو ته وائی. ②فَصْلٌ:أَيْ فَرْقٌ: جدائی (یعنی هره خبره به ئې جدا جدا وه). ③يَحْفَظُهُ: یادولې به ئې شوې دغه خبرې

تسهیلات:

قوله:وَلٰكِنَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ بِكَلَامٍ بَيْنَهُ فَصْلٌ:

دَ خبرو اترو آداب: په حدیث الباب کښې دَ خبرو اترو آداب بیان کړې شوی دی چه دَ حضورپاك خبرې اترې به دَ تصنع او تکلف نه پاکې بغیردَ قافیه او ردیف نه وې چه هرکس به پرې په پوهیدو او یادولې به ئې. نه به الفاظ نیمیدل چه انسان پرې نه پوهیږی او نه به په شوخوند سره بناوټی انداز وو بلکه حضورپاك به ښه ساده جامع مانع په ښکلی انداز کښې خبرې اترې کولې.

[٥٨٢٩]په شوندو مبارکو به یې اکثره مسکاوه

٥٨٢٩-(²) [٢٩]① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ، قَالَ②: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

---

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی کلام النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-٣٦٣٩) واحمد فی المسند:٢٥٧/٦

²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی بشاشة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-٣٦٤١) واحمد فی المسند:١١٢/٣

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن حارث ابن جزء رضي الله عنه وايي [۲] ما د رسول الله ﷺ نه زيات مسكى كيدونكى هيڅوك نه دى ليدلى . (ترمذي)

[۵۸۳۰] دوحي كثرت انتظار

۵۸۳۰-()[۳۰] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ، قَالَ [۲]: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا جَلَسَ يَتَحَدَّثُ [۳] يُكْثِرُ أَنْ يَرْفَعَ طَرْفَهُ إِلَى السَّمَاءِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله بن سلام رضي الله عنه وايي [۲] رسول الله ﷺ چې به خبرو كولو ته كيناستي [۳] نو اكثره به يې نظر آسمان طرف ته پورته كوى. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① طَرْفَهُ: أَيْ نَظْرَهُ: نظر خپل (يعنى آسمان طرف ته به ئې كتل).

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۸۳۱] د اهل وعيال په حقله شفقت او محبت

۵۸۳۱-()[۳۱] [۱] عَنْ عَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: [۲] «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا كَانَ أَرْحَمَ بِالْعِيَالِ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] وَكَانَ إِبْرَاهِيمُ ابْنُهُ مُسْتَرْضَعًا فِي عَوَالِي الْمَدِينَةِ [۴] فَكَانَ يَنْطَلِقُ وَنَحْنُ مَعَهُ [۵] فَيَدْخُلُ الْبَيْتَ وَإِنَّهُ لَيُدَّخَنُ [۶] وَكَانَ ظِئْرُهُ قَيْنًا [۷] فَيَأْخُذُهُ فَيُقَبِّلُهُ ثُمَّ يَرْجِعُ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن سعيد د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت كوي هغوئ اوويل [۲] ما هيڅوك درسول الله ﷺ نه زيات خپل اهل وعيال باندې مهربانه او مشفق نه دى ليدلى [۳] د حضور ﷺ دخوئ ابراهيم رضي الله عنه د مدينې په پورتني اطرافو كې په يو كوركي كفالت كيدې [۴] او حضور ﷺ به اكثره د خپل خوى ليدو او خيرت معلومولو د پاره هغه محلې ته ورتلى مونږ به هم د حضور ﷺ سره وو [۵] حضور ﷺ هلته رسيدو سره د دائي كورته به يې تشريف راوړى او هلته په هغه كوركي به لوګى وو [۶] ځكه چې د دائي خاوند لوهارو او دهغه د بهټى لوګې به په كوركي خلور طرف ته وو [۷] خو حضور ﷺ به د خوى په محبت كې هغه لوګى نه ډك كورته ورتلى بيا ابراهيم رضي الله عنه به يې په غېږه مباركه كې اخستى مينه محبت به يې ورسره كوى او حال چال معلومولو سره خپل كورته واپس راغي

حل اللغات:- ① أَرْحَمَ بِالْعِيَالِ: ډير زيات مهربانه وو په اهل وعيال باندې. ② مُسْتَرْضَعًا: پرورش ئې كيدلو (ددغې دائنې ښځې نوم أم بردة دي). ③ عَوَالِي الْمَدِينَةِ: أَيْ الْقُرَى: عوالى د عالية جمع ده دمدينې نه پورته طرف ته كلى مراد دى. ④ يَنْطَلِقُ: تلو به. ⑤ لَيُدَّخَنُ: ډير لوګى به وو. ⑥ ظِئْرُهُ: خاوند ددغې دائنې، (كومه ښځه چه پردى بچى ته پئ وركوى نو دهغې خاوند ددغه بچى دپاره

() اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب الهدى فى الكلام (رقم-۴۸۳۷)

[۲] اخرجه مسلم فى كتاب الفضائل/باب رحمته صلى الله عليه وسلم الصبيان والعيال وتواضعه وفضل ذلك (رقم-۶۳-۲۳۱۶) واحمد فى المسند: ۱۱۲/۳

ظئر جوړيږي يعني رضاعي پلار، خود ظئر اطلاق په مذکر مؤنث دواړو باندې کيږي. ⑥قَيْنًا :أي الحَدَّادُ: لوهار، آهينګر (دې لوهار نوم براء بن أوس الانصاري او أبوسمين القين ئې لقب وو).

[۱] قَالَ عَمْرٌو: فَلَمَّا تُوُفِّيَ إِبْرَاهِيمُ [۲] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ إِبْرَاهِيمَ ابْنِي [۳] وَإِنَّهُ مَاتَ فِي الثَّدْيِ [۴] وَإِنَّ لَهُ لَظِئْرَيْنِ تُكْمِلَانِ رَضَاعَهُ فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت عمرو د حضرت انس رضي الله عنه نه نقل کولو سره بيان وکړو چې کوم وخت حضرت ابراهيم رضي الله عنه وفات شو [۲] نو رسول الله ﷺ وفرمايل ابراهيم خما ځوی دی [۳] هغه په سينه کې يعنې شير خوارګۍ د پيئو څکلو زمانه کې وفات شو [۴] د هغه د پاره دوې تيې ورکونکي مقرري شوي دي چې په جنت کې د هغه د شيرخوارګۍ موده پوره کوي. (مسلم)

حل اللغات: -⑧الثَّدْيِ: سينې ته وائي خو دا کنايه ده د رضاعت يا د پيئونه، ⑨لَظِئْرَيْنِ: د ظئر تثنيه ده، يعنې پئ ورکونکې دوه ښځې، ⑩تُكْمِلَانِ: د باب افعال نه دې يا د باب تفعيل نه دې. أي: تُوَفِّيَانِ وَتُتِمَّانِ: يعنې پوره کوی به (موده د پئيو).

تسهيلات:

قوله: وَكَانَ إِبْرَاهِيمُ ابْنُهُ مُسْتَرْضَعًا فِي عَوَالِي الْمَدِينَةِ:

د حديث پس منظر: حضورپاك چه کله دَدنيا بادشاهانو ته دعوتي خطونه ليکلي وو په هغوی کښې دَمصرعيسائی بادشاه مقوقس په نوم باندې هم يوخط وو. مقوقس حضورپاك ته دَتحفې په توګه يو اس او يوه وينځه راليګلې وه. دَدغه وينځې نوم ماريه قبطيه وه. دَهغې نه په مدينه منوره کښې يوبچې پيداشودَ کوم نوم چه ابراهيم رضي الله عنه وو. دَ پيئو ورکولو دَپاره حضورپاك خپل دا ځوئی ابراهيم رضي الله عنه عوالی مدينه کښې يولوهارکره ديره کړو. دَ لوهار ښځه دايه کيدوسره په حضرت ابراهيم رضي الله عنه باندې پيئی څکل. رسول الله ﷺ به کله کله دَ خپل دغه ځوئی دَ ليدودَپاره هلته تشريف اوړلو. مکان تنګ وو په نغری کښې به لرګی سوزيدل په دې وجه به لوګی وو. حضورپاك به دا ټول مشقت برداشت کولو او په ځوئی باندې به ئی شفقت فرمائيلو اوهلته به تللو. اوولس اتلس مياشتې پس حضرت ابراهيم رضي الله عنه وفات شو.

د بعضې مشکلو الفاظو وضاحت:

①عَوَالِي: دَمدينې اطراف ته وئيلې شی. بعضې عوالی څلورميله بعضې شپږ ميله اوبعضې عوالی اته ميله فاصله باندې وو.

②ظِئْرٌ: په دې کښې ښځه اوسړې برابر دی. که چرې يوه ښځه دَ چابچی له پيئی ورکوی اوهغه ظئرجوړيږی نودَ دغه ښځې خاوند هم دَدغه بچی رضاعی پلارجوړيږی. په عربی کښې په دې باندې هم دَظئراطلاق کيږی. دلته هم دغه شان شوی دی.

④ قَيْنًا: کیدي شي چه دَ لوګی دَ زیاتوالی وجه خودلې شی څکه چه لوهارانو سره او سپنه ګرمیږی نو اور ورته لګولې شي.

⑤ فِي الثَّدْيِ: یعنی چه دَ رضاعت په موده کښې دننه مړشو پیټی څکلو سره مړشو. حضرت ابراهیم ﷺ دَ اوولس اتلسو میاشتو په عمر کښې وفات شوې وو. په دې وجه په جنت کښې دَهغه دَپاره دَ دوو دایانو انتظام اوکړې شو.

[۵۸۳۲] د حضور ﷺ حُسن اخلاق او یو یهودي

۵۸۳۲ـ() [۳۲] ① وَعَنْ عَلِيٍّ، ② «أَنَّ يَهُودِيًّا كَانَ يُقَالُ لَهُ فُلَانٌ حَبْرٌ ③ كَانَ لَهُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - دَنَانِيرُ ④ فَتَقَاضَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ يَا يَهُودِيُّ مَا عِنْدِي مَا أُعْطِيكَ ⑤ قَالَ: فَإِنِّي لَا أُفَارِقُكَ يَا مُحَمَّدُ حَتَّى تُعْطِيَنِي، ⑥ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذًا أَجْلِسُ مَعَكَ، ⑦ فَجَلَسَ مَعَهُ فَصَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ الْآخِرَةَ وَالْغَدَاةَ

ترجمه: ① حضرت علي کرم الله وجهه راوي دی ② په مدینه کې د فلاني نوم یو یهودي عالم وو ③ د هغه څو دیناره په حضور ﷺ باندې قرض وو ④ یوه ورځ هغه یهودي راغې رسول الله ﷺ نه یې د هغه دینارو تقاضه وکړله حضور ﷺ هغه ته وفرمایل اې یهودي! تاته درکولو د پاره دا وخت ما سره هیڅ شی نشته یعنی نه خو ما سره دینار شته چې ستا قرض اداء کړم او نه څه داسې شی شته چې د هغه دینارونو په بدله کې درکولو سره ستا مطالبه پوره کړم ⑤ یهودي اوویل اې محمده! زه تر هغه وقته پورې ستا نه نه لرې کېږم ترڅو پورې چې څما قرض اداء نکړې ⑥ حضور ﷺ جواب ورکړو ښه دی چې هرکله داخبره ده چې د څوپورې زه ستا قرض اداء نه کړم ته ما نه پرېږدې او زما نه څې نو بیا زه تا سره کینم د څوپورې چې ته ونه وایې ستا د مخ نه به نه اخواته کېږم ⑦ او په دې فرمایلو سره حضور ﷺ هغه سره کینا ستی او په هغه ځای کې د یهودي په مخکې رسول الله ﷺ د ماپښین مازیګر ماښام ماسخوتن او بیا د راتلونکي سهار مونځ وکی

حل اللغات:- ① فُلَانٌ: دا د یهودی د نوم نه کنایه ده. ② حَبْرٌ: ددې جمع احبار راځی، أَيْ: عَالِمٌ مِنْ عُلَمَاءِ الْيَهُودِ: د یهودیانو عالم. ③ فَتَقَاضَى: أَيْ: فَطَالَبَهُ: مطالبه ئې ترې اوکړه. ④ لَا أُفَارِقُكَ: زه ستانه نه جدا کیږم.

① وَكَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَهَدَّدُونَهُ وَيَتَوَعَّدُونَهُ ② فَفَطِنَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا الَّذِي يَصْنَعُونَ بِهِ، ③ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ يَهُودِيٌّ يَحْبِسُكَ؟ ④ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَنَعَنِي رَبِّي أَنْ أَظْلِمَ مُعَاهِدًا وَغَيْرَهُ ⑤ فَلَمَّا تَرَجَّلَ النَّهَارُ قَالَ الْيَهُودِيُّ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ، ⑥ وَشَطْرُ مَالِي فِي سَبِيلِ اللّٰهِ،

[1]) اخرجه البیهقی فی دلائل النبوة ۶/ ۲۸۰

ترجمه: [۱]صحابه وو رضي الله عنهم داصورت حال لیدو سره سخت قهر کې شوه او بار بار به یې هغه یهودي ویرولو او دهمکی به یې ورکوله او ورته به یې وئیل که ته خپلي ګستاخي نه نه منع کېږي او حضور ﷺ دغه شان پابند ساتي نو مونږ به مجبوراً تا د دغه ځاي نه وغورځوو یاقتل به دي کړو [۲]لیکن حضور ﷺ چې ولیدل چې صحابه رضي الله عنهم هغه یهودي بیروی او دهمکی ورکوي نو حضور ﷺ هغوئ په سختي سره منعه کړل یا غضبناك نظر سره هغوئ طرف ته کتلو سره ګویا واضحه یې کړله چې ستاسو داعمل ماته بالکل خوښ نه دی [۳]صحابه وو رضي الله عنهم د حضور ﷺ د ناخوښي لیدلو سره د معذرت انداز کې عرض وکړو یا رسول الله دي یویهودي کیدو سره تاسو یې پابند کړي یي او دلته په ناستي باندې یې مجبوره کړي یې مونږ د ده داګستاخانه حرکت څرنګه برداشت کړو [۴]حضور ﷺ ورته وفرمایل آیا تاسو ته نه ده معلومه چې الله جل جلاله زه منع کړی یم چې په هغه سړي ظلم وکړم چې هغه سره وعده شوی ده هغه چې هرڅوك وي [۵]هرکله چې ورځ راوختله نو هغه یهودي د حضور ﷺ کردار او اخلاق لیدو سره بې ساخته اوویل زه شاهدي اداکوم چې الله نه ماسوا بل معبود نشته او شاهدي اداکوم چې یقیناً ته د الله جل جلاله رسول یې [٦]یا هغه اوویل یارسول الله زه د قبول اسلام د توفیق پیداکیدو په شکرانه کې او د الله جل جلاله د طرف نه د نور زیات اجر او انعام امید کې د خپل مال وزرنیمه حصه د الله جل جلاله په لار کې صدقه کوم تاسو او دلته موجود ټولو صحابه رضي الله عنهم ته دي معلومه وي

حل اللغات:-⑤-یَتَهَدَّدُونَهُ: ویرولو ئې یهودی، (یعنی رټلو ئې چه منع شي) ⑥وَیَتَوَعَّدُونَهُ: دهمکیاني ئې ورکولې (مثلا چه اوبه دې باسو، مړ به دې کړو وغیره). ⑦فَفَطِنَ: أَيْ: فَعَلِمَ: معلومه شوه، پته ورته اولګیده، ⑧مُعَاهِدًا: چاسره چه عهد یا لوظ شوې وی (لکه ذمی یا مستأمن). ⑨تَرَجَّلَ النَّهَارُ: أَيْ: ارْتَفَعَ: راوختلو صبا یعنی صبا شو. ⑩شَطْرُ: أَيْ: نِصْفُهُ: نیمه حصه،

[۱]وَأَمَا وَاللّٰهِ مَا فَعَلْتُ بِكَ الَّذِي فَعَلْتُ لَكَ إِلَّا لِأَنْظُرَ إِلَى نَعْتِكَ فِي التَّوْرَاةِ: [۲]مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ مَوْلِدُهُ بِمَكَّةَ وَمُهَاجَرُهُ بِطَيْبَةَ وَمُلْكُهُ بِالشَّامِ [۳]لَيْسَ بِفَظٍّ وَلَا غَلِيظٍ وَلَا سَخَّابٍ فِي الْأَسْوَاقِ [۴]وَلَا مُتَزَيٍّ بِالْفُحْشِ وَلَا قَوْلِ الْخَنَا [۵]أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ [٦]وَهٰذَا مَالِي فَاحْكُمْ فِيهِ بِمَا أَرَاكَ اللّٰهُ وَكَانَ الْيَهُودِيُّ كَثِيرَ الْمَالِ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

ترجمه: [۱]قسم په الله ماچي دا وخت ستاسو سره کومه سخته رویه اختیار کړه د هغه سبب ددي نه علاوه نورهیڅ نه وو چې ما په تاسو کې هغه اوصاف آزمائیل غوښتل د کومو ذکر چې په تورات کې موجود دی [۲]او په تورات کې هغه اوصاف داسې مذکور دي چې د هغه نوم مبارك به محمد وي د عبد الله ځوی به وي پیدائش به یې په مکه کې وي مدینه طیبه ته به هجرت کوي د هغوئ د مملکت سرحدونه به ملك شام او د هغه ګردونواح پورې خواره وي [۳]هغه به نه بدزبانه وي نه به سنګدل وي نه به بازارونو کې

شور کونکي وي ④نه به فحش اختيارونکي وي او نه به بيهوده خبره کونکي وي ⑤هغه په تورات کې مذکوره داخبر اورولو نه وروسته يو وار بيا کلمه شهادت اوويل چې زه ګواهي کوم چې د الله ﷻ نه ماسوا بل معبود نشته او داچي يقينًا تاسو د الله ﷻ رسول ياست. ⑥اي د الله رسوله! دا څما مال حاضر دی تاسو د الله ﷻ د حکم په رڼا کې د دې متعلق چې څه مناسب ګڼئ فيصله وفرمايئ د راوي بيان دی چې هغه يهودي ډېر مال دار وو او الله ﷻ په هغه مال سره د هغه حال او قال آنجام هم ښه کی دا روايت بيهقي دلائل النبوة کې نقل کړی دی .

حل اللغات:- ⑪ نَعتِكَ: أَي: وَصْفُكَ: صفات ستا ، ⑫ بِفَظٍّ: أَي: سَيّئِ اللِّسَانِ: بد زبانه، بد کلامه. ⑬ غَلِيظٍ: سخت خويه، سخت طبيعته، ⑭ سَخَّابٍ: أَي: صَيَّاحٍ: چغي سورې وهونکې. ⑮ وَلَا مُتَزَيِّنٍ: أَي: مُتَّصِفٍ: ښائسته کړې شوې، موصوف يا مشهورشوې، ⑯ وَلَا قَوَّالٍ الخَنَا: أَي: الفُحشِ وَالخُشُونَةِ: يعني د قول اوژبې په توګه فحش اوقبيح خبرې اترې کونکې.

تسهيلات:

د بعضې مشکلو الفاظو وضاحت:

① دَنَانِيرُ: د تصغيراوتقليل د پاره دالفظ راغلې دې يعني يوڅودينار وو معمولی شان قرض وو.

② مَا عِندِي: هغه وخت حضور پاك سره دا رقم نه وو کيدې شی چه د دې د اداکولو وخت اوس لانه وو راغلې. يهودی د وخت نه وړاندې مطالبه اوکړه اوداسې معلوميږی چه يو صحابی سره هم څه نه وی.

③ أَجلِسُ مَعَكَ: په ظاهره داسې معلوميږی چه دغه يهودی حضورپاك په مسجدنبوی کښې کينولو اوپخپله هم ورسره کيناستو.

④ وَالغَدَاةَ: دې نه مراد د سحرمونځ دې نو د پوره پنځومونځونو د وختونو پورې ئې حضورپاك حصارکړې وو.

⑤ يَتَوَعَّدُونَهُ: دره کې او رټلوته وائی.

⑥ وَغَيرَهُ: داتعميم بعدتخصيص دې چه زه نه په يومعاهدباندې ظلم کوم اونه د دې نه علاوه په چا باندې ظلم کوم زما رب زه د ظلم نه منع کړې يم.

⑦ تَرَجَّلَ النَّهَارُ: د ورځې راختلو او د نمر اوچتيدلوته وائی.

⑧ بِفَظٍّ: په زبانی توګه به بداخلاق نه وی. غليظ: د زړه په اعتبار سره به سخت زړه نه وی.

⑨ سَخَّابٍ: په بازارونو کښې به چغې وهونکی نه وی.

⑩مُتَزَيِّ: یعنی په عملی توګه به دَفحش ارتکاب کونکی نه وی.

⑪قَوْلِ الْخَنَا: په دې حدیث کښې دَحضورپاك دَهغه اخلاقو ظهوراوشو دکوم چه تصورنه شی کیدې. هغه چاربنتیا وئیلی:

نفسی الفداي لمن اخلاقه شهدت	بانه خیر مولود من البشر
لم یخلق الرحمان مثل محمد	ابدًا وعلمی انه لا یخلق
فاق النبیین فی خلق وفی خلق	ولم یدانوه فی علم ولا کرم

[۵۸۲۳]غریب او بې کسه خلقو سره حُسن سلوک

۵۸۲۳-()[۲۳]①وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ②: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُكْثِرُ الذِّكْرَ ③وَيُقِلُّ اللَّغْوَ④وَيُطِيلُ الصَّلَاةَ وَيُقْصِرُ الْخُطْبَةَ⑤وَلَا يَأْنَفُ أَنْ يَمْشِيَ مَعَ الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ فَيَقْضِيَ لَهُ الْحَاجَةَ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت عبدالله ابن ابي اوفى وايې ②رسول الله ﷺ به په ذکر کې زيات مشغول وو ③لغو (فضول) خبري به يې نه کولي ④مونځ به يې طويل او خطبه به يې مختصره ويله ⑤او کُنډې او مسکين سره په تلو کې به يې څه عار نه محسوسوی او د هغوئ کار به يې کوی. (نسائي ودارمي)

حل اللغات:- ①وَيُقِلُّ اللَّغْوَ: علماؤ ليکلی دی چه دَ قلت اطلاق په عدم باندې هم کيږی دلته هم دغه عدم اومعدوم مراد اخستې شوې دې. یعنی حضورپاك به دَ لغو اوفضول کارونو طرف ته بالکل التفات نه کولو. ②وَلَا يَأْنَفُ: د أَنَفَة نه دې، أَيْ: لَا يَسْتَكْبِرُ: ناخوښه او مکروه ګڼرلو ته وائی یعنی تکبر به ئې نه کولو. ③الْأَرْمَلَةِ: ددې واحد أَرْمَلُ يا أَرْمَلَةُ راځی، أی الْمَسَاكِينُ: فقير اومحتاجه ښځې او سړو دواړو دپاره استعماليږی.

تسهیلات: قوله: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُكْثِرُ الذِّكْرَ:

د نبی علیه السلام کثرت ذکر: دې نه مراد هرهغه عمل دې چه دَالله تعالی یادسره متعلق وی. دَ رسول الله ﷺ دَ ژوند هره لمحه دَالله تعالی په ذکرباندې مشتمل وه.

قوله: وَيُقِلُّ اللَّغْوَ:

دلغو څه مراد: دې نه مرادهرهغه عمل دې په کوم کښې چه نه دَ دنیاڅه فائده وی اونه دآخرت څه فائده وی بلکه هغه عمل دَ الله تعالی دَذکرنه علاوه صرف دنیاسره متعلق وی امام غزالی دَ بې مقصد اوبې مصلحت منطقی تالیفاتو متعلق فرمائیلی دی "ضیعت قطعة من العمر العزیز فی تألیف البسیط والوسیط والوجیز" بهر حال دَ ذکرحقیقی په مقابله کښې دَ نورو امورو هم دغه حیثیت دې.

() اخرجه النسائي في السنن كتاب الجمعة /باب ما يستحب من تقصير الخطبة (رقم-١٤١٤)

[٥٨٣٤] د مكي قريشو د حضور ﷺ تكذيب ولي كوى

٥٨٣٤-() [٣٣] [١] وَعَن عَلِيٍّ، [٢] «أَنَّ أَبَا جَهلٍ قَالَ لِلنَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ-: [٣] إِنَّا لَا نُكَذِّبُكَ وَلَكِن نُكَذِّبُ بِمَا جِئتَ لَهُ [٤] فَأَنزَلَ اللهُ تَعَالَى فِيهِم: ﴿فَإِنَّهُم لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللهِ يَجحَدُونَ﴾ [الأنعام: ٣٣]». رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت علي كرم الله وجهه نه روايت دى [٢] چې ابوجهل رسول الله ﷺ ته دا اوويل [٣] اې محمد! مونږ يعنى د مكي قريش تا دروغجن نه ګڼو ځكه چې ستا صدق ګوئي په مونږ ښه ښكاره ده او نه مونږ ته چيرته په دروغ ويلو ليدلى يې ځكه ته په خپلو او غيرو ټولو كې په صدق او امانت سره مشهور يې مونږ خو هغه شي ته دروغ وايو كوم چې تا راوړى دى [٤] نو الله ﷻ د دې مكي د قريشو يعنى ابوجهل وغيره په حق كې دا ايت نازل كى: فَإِنَّهُم لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللهِ يَجحَدُونَ پس يقينا دوي تا ته دروغجن نه وايي بلكه دا ظالمان خو د الله دآيتونو نه انكاركوي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① يَجحَدُونَ: أي أَنكَرَهُ مَعَ عِلمِهِ: انكار كوى سره د پوهې نه.

تسهيلات:

قوله: وَلَكِن نُكَذِّبُ بِمَا جِئتَ لَهُ:

د حديث مفهوم: حديث الباب كښې دى چه دَ ابوجهل نبى كريم ﷺ ته دا وينا چه زمونږ اختلاف تاسو سره دَ دين او شريعت دَ وجې نه دې په څه دنياوى معامله كښې نه دې ځكه چه په دنياوى معامله كښې خو مونږ تاته صادق او امين وايو. اختلاف صرف ستاسو دَ راوړلې شوى شريعت دَ وجې نه دې. كه چرې تاسو دا شريعت پريږدئى نو زمونږ اختلاف به ختم شي. ليكن ابوجهل په دې خبره باندې پوهه نه شو چه كله نبى عليه السلام دَ دنيا په معاملاتو كښې دروغ نه وائى نو په الله باندې به څنګه دروغ اووائى.

قوله: فَأَنزَلَ اللهُ تَعَالَى فِيهِم: فَإِنَّهُم لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ: يعنى دا كافران تاتو ته دروغژن نه وائى بلكه ظالمان د الله تعالى د آياتونو څخه انكار كوى.

دَ مذكوره آيت تفسير:

﴿فَإِنَّهُم لَا يُكَذِّبُونَكَ﴾ يعنى داكفارپه حقيقت كښې تاسوته دروغژن نهٔ وائى بلكه دالله ﷻ آيتونو ته ددروغ‌نسبت كوي! ددې واقعه په روايت دسُدى سره تفسير مظهرى داسې نقل كړيده چه يوځل دقُريشو دكُفارو ددوؤ سردارانو اوخنس بن شريق اوابوجهل خپل منځ كښې سره مُلاقات اوشو-اخنس ابى جهل نه تپوس اوكړو چه اې ابوالحكم: اوس بالكل يواځې يو، څوك دريمګړې زمونږ ددواړو خبره نهٔ آورى،اوس راته دااووايه چه دمحمدبن عبدالله ﷺ په باره كښې دڅه خيال دې، صحيح صحيح راته اووايه چه رشتينې ئې ګڼړې

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الأنعام (رقم-٣٠٦٤)

او که دروغژن؟ [په عربو کښې به ابوجهل دابوالحکم په نوم یادیدو خو هر کله چه اسلام او مسلمانانو سره ئې ضد اودشمنی کوله په دغې وجه هغه به بیادابی جهل په نوم یادیدلو] ابوجهل په قسم سره ورته اووئیل چه ماته محمد ﷺ څکه رشتینې ښکاری چه ټول عمرئې چرې دروغ نه دی وئیلی البته دانه شو برداشت کولې چه دقریشو دقبیلې په یوخاندان، بنی قصی کښې ټولې خوبۍ اوکمالات راجمع شی اوباقی قریش خالی لاس پاتې شی، جنډه دبنی قصی په لاس ده، په حرم کښې حاجیانو باندې د اوبو څکولو ډیرمقصودی انتظام دوئ سره دې، دبیت الله شریف دروانچیان دوئی دی اوکُنجی دوئ سره په لاس کښې ده، نوکه دااومنو چه پیغمبری دهم دوئ سره وی نوروقریشو سره به څه پاتې شی.

یوبل روایت دناجیه ابن کعب نه داسې منقول دې چه یوځل ابوجهل، رسول الله ﷺ ته پخپله داسې اووئیل چه مونږ په تاسوباندې ددروغو ګمان نه لرو اونه درته ددروغو نسبت کوو، البته هغه کتاب یادین ته په دروغه وایو، کوم چه تاسوراوړې دې [مظهری] (۱)

ددې روایتونوپه بنا، دآیت حقیقی مطلب هم داسې اغستې شی چه داکُفار، تاسوته نسبت د دروغونه کوی بلکه دالله ﷻ آیتونه ته ددروغونسبت کوی، اودامطلب ئې هم کیدې شی چه دا کُفار، اګرچه دوئ په ښکاره درسول کریم ﷺ تکذیب کوی مګر په حقیقت کښې درسول کریم ﷺ د دروغژن کولو انجام هم دا راوځی چې دوئ دالله ﷻ اودهغه آیتونونه ددروغونسبت کوي، څنګه چه په یوحدیث شریف کښې هم راغلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: څوک چه ماته زیان تکلیف رارسوی هغه په حقیقت کښې الله ﷻ ته دزیان تکلیف رسولوپه حُکم کښې دې. (۲)

[۵۸۳۵] حضور ﷺ د ځان د پاره دولت مندي خوښه نه کړه

۵۸۳۵ - (۳) [۳۵] ① وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «يَا عَائِشَةُ لَوْ شِئْتُ لَسَارَتْ مَعِي جِبَالُ الذَّهَبِ ③ جَاءَنِي مَلَكٌ وَإِنَّ حُجْزَتَهُ لَتُسَاوِي الْكَعْبَةَ، ④ فَقَالَ: إِنَّ رَبَّكَ يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ وَيَقُولُ إِنْ شِئْتَ نَبِيًّا عَبْدًا وَإِنْ شِئْتَ نَبِيًّا مَلِكًا ⑤ فَنَظَرْتُ إِلَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ⑥ فَأَشَارَ إِلَيَّ أَنْ ضَعْ نَفْسَكَ».

ترجمه: ① او بی بی عائشه ﷺ وایې یوه ورځ رسول الله ﷺ ماته وفرمایل ② اې عائشې ﷺ که زه وغواړم او خپل پروردګار نه ځان د پاره د دنیا مال ومنال طلب کړم نو یقینًا ماته به د سروزرو غرونه راکړي ③ زه تاته د یوې ورځې خبره کوم ماته یوه فرشته راغله چې دومره غټه وه چې د هغه ملا (شا) د کعبې برابره وه ④ هغه ماته اووېل چې ستاسو پروردګار په تاسو سلام وایي او فرمایي چې ته بنده پیغمبر جوړیدل غواړې که بادشاه پیغمبر جوړیدل منظور دي؟ یعنی تاسو ته د دواړو خبر اختیار درکول کېږي که داسې

۱) التفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة ج ۳، ص ۲۳۲، وتفسیر البغوی تحت هٰذه الآیة ج ۳، ص ۱۲۸، ۱۳۹

۲) شعب الإيمان للبيهقي رابع عشر، باب في حب النبي صلى الله عليه وسلم رقم الحديث: ۱۵۱۱

۳) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ۳۶۸۳

پیغمبر جوړ شي چې د عجزو بې چارګي تنګي او د فقر ومشقت ژوند تيروئ يا د بادشاهي او دولتمندۍ ژوند؟ ٥ما پدي اوريدو سره دجبرائيل طرف ته سواليه انداز کې وکتل او ګويا د هغه نه مي مشوره طلب کړه چې ته اووئيلو زما د پاره به کوم صورت ښه وي؟ ٦نو هغه اوويل خپل نفس پست کړه يعنی د فقر محتاجۍ ژوند اختيار کړه نه چې د عيش وراحت ژوند.

حل اللغات:- ① لَسَارَتْ: روان شوی به وي. ② حُجْزَتَهُ: أَيْ: مَعْقِدَ إِزَارِهِ: د لنګ د تړلو ځائې (يعنی شا). ③ ضَعْ: أَي حُطَّ: ښکته کړه، محتاجه کړه.

٥٨٣٦ـ() ١وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ: ٢" «فَالْتَفَتَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ٣كَالْمُسْتَشِيرِ لَهُ فَأَشَارَ جِبْرِيلُ بِيَدِهِ أَنْ تَوَاضَعْ، ٤فَقُلْتُ: نَبِيًّا عَبْدًا. ٥قَالَتْ: فَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ لَا يَأْكُلُ مُتَّكِئًا ٦يَقُولُ آكُلُ كَمَا يَأْكُلُ الْعَبْدُ وَأَجْلِسُ كَمَا يَجْلِسُ الْعَبْدُ» رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ١او دحضرت ابن عباس ﷺ په روايت کې دا دي ٢چې حضور ﷺ دالله ﷻ ذکر شوی پيغام آوريدو سره جبرائيل ﷺ ته متوجه شو، ٣او مشوره طلب آندازکې هغه طرف ته وکتل، نو جبرائيل په خپل لاس سره زمکې طرف ته اشاره کولو سره وښودل، چې پستی او انکساری اختيار کړه، ٤نو حضور ﷺ وفرمايل ما اوويل چې يقينا زه بنده پيغمبر جوړيدل غواړم، ٥بی بی عائشې ﷺ بيان وکړو چې ددي نه وروسته حضور ﷺ هيڅ کله ښنګ لګولو سره طعام نه دي خوړلي، ٦او فرمايل يې زه داسې طعام خورم، څرنګه چې غلام يې خوری، او داسې کينم څرنګه چې غلام کينی، دا روايت بغوی په شرح السنة کې نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① فَالْتَفَتَ: متوجه شو. ② كَالْمُسْتَشِيرِ: په شان د مشوره غوښتونکی. ③ تَوَاضَعْ: أَيْ: اخْتَرِ الْفَقْرَ وَالْعُبُودِيَّةَ: عاجزی اختيارکړه يعنی محتاجی او بندګی اختيار کړه. ④ مُتَّكِئًا: أَي الْمَيْلَ إِلَى أَحَدِ الْجَانِبَيْنِ: په يوطرف کيدل يعنی ډډه لګولو سره کيناستل.

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ: إِنَّ رَبَّكَ يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ وَيَقُولُ إِنْ شِئْتَ نَبِيًّا عَبْدًا وَإِنْ شِئْتَ نَبِيًّا مَلِكًا:

نبی علیه السلام ته د دوه څيزونو اختيار ورکول: ① که چرې حضورپاك داغواړی چه نبوت سره بادشاهی هم وی نو الله تعالی به داسې اوکړی.

② اوکه چرې غواړی چه نبوت اوعبديت دې وی نوداهم دَهغوی اختياردی.

حضورپاك د حضرت جبرائيل ﷺ په مشوره نبوت اوعبديت اختيارکړو اوبادشاهت ئې منع کړو. دا په فقيرئې کښې بادشاهی ده.

(الحمد لله ! يوولسم جلد ختم شو.)

---

[١] اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ٣٦٨٤